فتح الهدایة

مع متن

هدایة

د اول ځل لپاره په آسانه معیاري پښتو
د هدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبیب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربیه

صداقت کتب خانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهداية

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج	پر فقهي او ضروري معلوماتو	تعيين د قول راجح
د متن بشپړ اعراب	مشتمله يوه جامع مقدمه	د هري جملې تر خنګ ژباړه
صرفي تحقيق		د عنواناتو اضافه
د لغاتو حل		صورت د مسئلې

يوولسم ټوک

فصل في البيع تا كتاب الرّهن (مكمل)

ژباړه او ترتيب:
مولوى حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت كتب خانه - كندهار

فهرس

كِتَابُ الرَّهْنِ



فَصْلٌ فِي الْبَيْعِ

دا فصل په (بيان دا احكامو د) بيع كې دى

تشريح: مخكې ذكر سوه چې "كتاب الكراهية" پر څو فصلونو مشتمل دى چې له هغوى څخه فصل الأكل والشرب... فصل في الاستبراء وغيره يې مخكې بيان كړل او دا مذكوره "فصل في البيع" له هغوى څخه آخري فصل دى او دا فصل يې له فصل في الأكل والشرب وغيره څخه ځكه وروسته كړى دى چې د مخكېني فصلونو احكام بلا واسطه دانسان دجسم سره متعلق دي او د دغه فصل احكام بالواسطه متعلق دي. لهذا دا كثرت اتصال پر بناء دأكل او شرب وغيره فصلونه مخكې بيان كړل سوي دي.

د خوشايو وغيره بيع

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِبَيْعِ السِّرْقِينِ فرمايي: او پروا نسته د خوشايو په بيع كې وَيُكْرَهُ بَيْعُ الْعَذِرَةِ او د غايطه موادو بيع مكروه ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ بَيْعُ السِّرْقِينِ أَيْضًا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د خوشايو بيع هم جائز نه ده لِأَنَّهُ نَجِسُ الْعَيْنِ ځكه چې هغوى نجس العين دي فَشَابَهَ الْعَذِرَةَ نو هغوى د غايطه موادو په څېر سوه وَجِلْدَ الْمَيْتَةِ قَبْلَ الدِّبَاغِ او د مردار څاروي تر دباغت مخكې والا څرمن په څېر سوه [يعني هغه څرمن چې پخ كړل سوې او رنګ كړل سوې نه وي] وَلَنَا: أَنَّهُ مُنْتَفَعٌ بِهِ زموږ دليل دا دى: چې له خوشايو څخه نفع اخيستل كيږي لِأَنَّهُ يُلْقَى فِي الْأَرَاضِي لِاسْتِكْثَارِ الرِّيعِ ځكه هغوى په ځمكو كې اچول كيږي د پيداوار اضافه كولو لپاره فَكَانَ مَالًا نو هغه مال سو وَالْمَالُ مَحَلٌّ لِلْبَيْعِ او مال د بيع محل دى بِخِلَافِ الْعَذِرَةِ په خلاف د غايطه موادو لِأَنَّهُ لَا يُنْتَفَعُ بِهَا إِلَّا مَخْلُوطًا ځكه له هغوى څخه نفع نه اخيستل كيږي مګر په داسې حال كې چې هغوى مخلوط [دبل شي سره ګډ كړل سوي] وي وَيَجُوزُ بَيْعُ الْمَخْلُوطِ او د مخلوط بيع جائز ده هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ مُحَمَّدٍ او همدا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي وَهُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح

ده وَكَذَا يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِالْمَخْلُوطِ لَا بِغَيْرِ الْمَخْلُوطِ فِي الصَّحِيحِ همدارنګه په مخلوط سره نفع اخيستل جائز دي، نه په غير مخلوط سره د صحيح قول مطابق وَالْمَخْلُوطُ بِمَنْزِلَةِ زَيْتٍ خَالَطَتْهُ النَّجَاسَةُ او مخلوط د هغه زيتون تېلو په څېر دی چي نجاست په ګډ سوی وي.

اللغات: ﴿السِّرْقِين﴾ او السَّرْقِين: د څارويو فضله ته وايي يعني خوشايي، خرشينه او داسي نور، ﴿جِلد﴾ څرمن (څرمنه)، پوست. ﴿الميتة﴾ مردار، مردار سوی (يعني هغه حيوان چي په خپل مرګ مړ سوی وي. الْمَيْتَةُ مِنَ الْحَيَوَانِ مَا مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ) (مصباح). ﴿عَذِرة﴾ الغائط للانسان. د انسان ګندګي، غايطه مواد، ډکي متيازي، ﴿استكثار﴾ د استفعال د باب مصدر دی: اضافه کول، زياتول، ﴿ريع﴾ فصل، پيداوار، غله. ﴿زيت﴾ زيتون تېل (روغن)، مطلق تېلو (روغنو) ته هم وايي.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د احنافو په نېز د خوشايو، خرشينو او داسي نورو بيع (خرخول او رانيول) جائز دي خو د غايطه موادو بيع مکروه ده. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي څرنګه د غايطه موادو بيع صحيح نه ده، همداسي د خوشايو وغيره بيع هم صحيح نه ده؛ ځکه چي خوشايي وغيره نجس العين وي، لهذا خوشايي د غايطه موادو او د مردار د څرمني په څېر سوه. او د غايطه موادو او د داسي څرمني بيع جائز نه ده د نجس العين کېدلو په وجه. نو همداسي به د خوشايو وغيره بيع هم جائز نه وي.

- زموږ دليل دا دی چي خوشايي وغيره قابل انتفاع شی دي (نفع ځني اخيستل کيږي) او د فصل او پيداوار د غټېدو او لوېدو لپاره په ځمکه کي اچول کيږي، نو هغوی د مال په درجه کي سوه، او مال محل د بيع دی. لهذا د خوشايو بيع به هم صحيح وي.

او پاته سوه د غايطه موادو مسئله نو د خالص غائطو بيع که څه هم مکروه ده. لېکن کله چي د هغوی سره خاوري يا ايرې يا کاد وغيره يو ځای کړل سي، نو په دې صورت کي د هغوی بيع هم صحيح کيږي؛ ځکه چي اوس هغوی مخلوط سوه او د مخلوط بيع صحيح ده. همداسي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی او همدا صحيح قول دی. او دا داسي ده لکه د زيتون په تېلو چي يو نجاست ګډ سي، نو له هغوی څخه فايده اخيستل ګنجايش لري، څه حرج پکښي نه وي.

يادونه: له خالص غايطه موادو څخه نفع اخيستل جائز دي، نو د هغوی بيع به هم جائز وي. (مجمع الانهر ج: ٢. ص: ٥٢٤)

د مینځې د بیع یو صورت (او د دې وضاحت چې په معاملاتو کې د یوه کس قول معتبر دی)

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کې] فرمایي وَمَنْ عَلِمَ بِجَارِيَةٍ أَنَّهَا لِرَجُلٍ او څوک چې په یو مینځې خبر سو چې هغه د فلانکي سړي [مینځه] ده فَرَأَىٰ آخَرَ يَبِيعُهَا وَقَالَ بیا دا خبر کس بل څوک ولیدی چې هغه مینځه خرڅوي او داسې وايي وَكَّلَنِيْ صَاحِبُهَا بِبَيْعِهَا چې د دې مینځې مالک زه د هغې د خرڅولو وکیل جوړ کړی یم فَإِنَّهُ يَسَعُهُ أَنْ يَبْتَاعَهَا وَيَطَؤُهَا نو ده [سامع] لره جائز دي چې دا مینځه رانیسي او وطي ور سره وکړي لِأَنَّهُ أَخْبَرَ بِخَبَرٍ صَحِيْحٍ لَا مُنَازِعَ لَهُ ځکه چې خرڅونکي [بائع] یو صحیح خبر ورکړی دی چې د هغه هیڅ معارض نسته [یعني د هغه د قول او خبر هیڅ معارض نسته] وَقَوْلُ الْوَاحِدِ فِي الْمُعَامَلَاتِ مَقْبُوْلٌ عَلَىٰ أَيِّ وَصْفٍ كَانَ او په معاملاتو کې د یوه کس قول معتبر دی برابره ده هغه په هر وصف سره وي لِمَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ مخکې ذکر کړی وَكَذَا إِذَا قَالَ: اشْتَرَيْتُهَا مِنْهُ او همدارنګه کله چې بائع ووايي: دا مینځه ما د هغې له مالک څخه رانیولې ده أَوْ وَهَبَهَا لِيْ یا هغه ما ته هبه کړې ده أَوْ تَصَدَّقَ بِهَا عَلَيَّ یا هغه پر ما صدقه کړې ده [ما ته يې په صدقه کې راکړې ده. نو هم به يې قول منل کيږي] لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَهٰذَا إِذَا كَانَ ثِقَةً او دا [د هغه قول منل] په هغه صورت کې دي کله چې هغه [مُخبِر (بائع)] ثقه وي [یعني د اعتماد وړ او باوري کس وي] وَكَذَا إِذَا كَانَ غَيْرَ ثِقَةٍ وَأَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ صَادِقٌ او همدارنګه کله چې هغه غیر ثقه [بې باوره] وي خو د سامع غالب ګومان دا وي چې هغه رښتونی دی [نو هم دا‌غه حکم دی چې قول به يې منل کیږي] لِأَنَّ عَدَالَةَ الْمُخْبِرِ فِي الْمُعَامَلَاتِ غَيْرُ لَازِمَةٍ لِلْحَاجَةِ ځکه چې د حاجت [ضرورت] پر بناء په معاملاتو کې د خبر ورکونکي کس عادل والی ضروري نه دی عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سوه وَإِنْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ كَاذِبٌ او که د سامع غالب ګومان دا وي چې هغه درواغجن دی لَمْ يَسَعْ لَهُ أَنْ يَتَعَرَّضَ لِشَيْءٍ مِنْ ذٰلِكَ نو ده لره جائز نه دي چې له دې څخه یو شي ته تعرّض [او دخل اندازي پکښې] وکړي [یعني چې مینځه رانیسي او وطي وغیره وکړي] لِأَنَّ أَكْبَرَ الرَّأْيِ يُقَامُ مَقَامَ الْيَقِيْنِ ځکه چې غالب ګومان د یقین پر ځای دریږي [یه بله وینا دا چې غالب ګومان د یقین قائم مقام او د هغه په درجه کې دی].

اللغات: ﴿جاريـة﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چې لـه هغوی څخه يې يوه معنى ده: مينځه. ﴿يسعه﴾ د سمع د باب مضارع ده. وَسِعَ يَسَعُ سَعَةً: ګنجايش کېدل. په يو شي کې تنګي نه کېدل (پراخي ګنجايش پکښې راتلل). مراد: ځني جائز کېدل دي. ځکه د يو کار د جائز کېدلو مطلب همدا دی چې په هغه کې تنګي نه کېدل بلکې پراخي او ګنجايش پکښې راتلل (معجم وسيط). ﴿ثقة﴾ مراد: معتمد او باوري کس. قابلِ اعتماد کس. ﴿يتعرّض﴾ تعرض کول. کار په لرل. په پسې کېدل. (دخل اندازي کول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د يو مينځې په هکله يو سړي ته مثلاً زيد ته دا معلومه وي چې دا د خالد مينځه ده او بيا زيد ويني چې بل څوک مثلاً حامد هغه مينځه په بازار کې خرڅوي او زيد چې پوښتنه ځني وکړه نو هغه وويل چې خالد زه خپل د دغه مينځې د خرڅولو وکيل جوړ کړی يم. نو اوس زيد (سامع) لره د دغه مينځې رانيول او وطي وغيره ورسره کول جائز دي؛ ځکه د معاملاتو په باب کې د يوه کس (فرد واحد) قول او خبر معتبر دی (نو حامد صحيح خبر ورکړی دی). برابره ده هغه يو کس آزاد وي او که غلام. عادل وي او که غير عادل. مسلمان وي او که غير مسلمان: ځکه چې معاملات د مختلفو خلکو سره کول کيږي. لهذا که په دې کې د اسلام او عادل والي وغيره قيدونه ولګول سي. نو حرج به لازم سي. والحرج مدفوع في الشرع.

وكذا إلخ: فرمايي که بائع (حامد) د وَكَّلَنِيْ پر ځای إِشْتَرَيْتُهَا ووايي (چې ما دا مينځه له خالد څخه رانيولې ده). نو هم د دې مينځې رانيول او نفع ځني اخيستل جائز دي: لأنه أخبر بخبر صحيح.

وهذا إلخ: فرمايي که چيري مُخبر (خبر ورکونکی) ثقه او معتمد کس وي. نو د هغه د خبر او قول په منلو کې خو هيڅ حرج نسته. لېکن که هغه ثقه نه وي. خو دده (سامع) غالب ګومان دا وي چې هغه رښتونی دی. نو په دې وخت کې به هم د هغه خبر منل کيږي: ځکه چې د ضرورت پر بناء د حرج دفع کولو په خاطر په معاملاتو کې د مُخبر عادل والی مشروط او لازم نه دی ګرځول سوی.

لېکن که دده په غالب ګومان کې مُخبر رښتونی نه وي بلکې درواغجن وي، نو بيا دا جائز نه دي چې خبر يې ومني مينځه رانيسي او وطي ورسره وکړي: ځکه دلته دده په غالب ګومان کې خبر ورکونکی کس درواغجن دی. او ظن غالب د يقين درجه حاصله ده. او د مُخبر د يقيني درواغجن کېدو په صورت کې د هغه قول نه منل کيږي. نو په غالب ګومان کې د هغه د درواغجن کېدو په صورت کې به هم د هغه قول نه منل کيږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَكَذَا إِذَا لَمْ يَعْلَمْ أَنَّهَا لِفُلَانٍ او همدارنګه کله چې هغه [سامع] په دې خبر نه وي چې دا د فلانکي مينځه ده وَلٰكِنْ أَخْبَرَهُ صَاحِبُ الْيَدِ أَنَّهَا لِفُلَانٍ خو قبضې والا [بائع] دا خبر ورکړي چې دا د فلانکي ده وَأَنَّهُ وَكَّلَهُ بِبَيْعِهَا او دا چې هغه فلانکي دئ [يعني زه] د دې مينځې د خرڅولو وکيل جوړ کړی يم أَوِ اشْتَرَاهَا مِنْهُ يا ده [يعني ما] دا مينځه له هغه څخه رانيولې ده وَالْمُخْبِرُ ثِقَةٌ او دا خبر ورکونکی [بائع] ثقه وي قُبِلَ قَوْلُهُ نو قول [خبره] به يې منل کيږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ ثِقَةً او که هغه ثقه نه وي يُعْتَبَرُ أَكْبَرُ رَأْيِهِ نو د خپل غالب ګومان اعتبار به کيږي لِأَنَّ إِخْبَارَهُ حُجَّةٌ فِي حَقِّهِ ځکه چې د هغه [قبضې والا بائع] خبر ورکول [چې زه وکيل بالبيع يم يا ما دا مينځه ځنې رانيولې ده] د هغه په خپل حق کې حجت دی وَإِنْ لَمْ يُخْبِرْهُ صَاحِبُ الْيَدِ بِشَيْءٍ او که قبضې والا دئ په هيڅ شي خبر نه کړي فَإِنْ كَانَ عَرَفَهَا لِلْأَوَّلِ نو که دئ [سامع] دا مينځه پيژني چې دا د اول [يعني د فلانکي] ده لَمْ يَشْتَرِهَا حَتّٰى يَعْلَمَ انْتِقَالَهَا إِلٰى مِلْكِ الثَّانِيْ نو دئ به تر هغه وخته دا نه رانيسي تر دې چې خبر سي په منتقل کيدلو د مينځې د دې دويم کس [قبضې والا] ملکيت ته [يعني تر هغه وخته چې دا ورته معلومه سي چې دا مينځه د قبضې والا بائع ملکيت ته څنګه راغلې ده] لِأَنَّ يَدَ الْأَوَّلِ دَلِيْلُ مِلْكِهِ ځکه چې د اول [فلانکي] قبضه د هغه د ملکيت دليل ده وَإِنْ كَانَ لَا يَعْرِفُ ذٰلِكَ او که سامع دا نه پيژني [چې مينځه د هغه فلانکي ده] لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَهَا نو ده ته جائز دي چې مينځه رانيسي وَإِنْ كَانَ ذُو الْيَدِ فَاسِقًا که څه هم دا قبضې والا [بائع] فاسق وي لِأَنَّ يَدَ الْفَاسِقِ دَلِيْلُ الْمِلْكِ فِي حَقِّ الْفَاسِقِ وَالْعَدْلِ ځکه چې د فاسق قبضه د فاسق او عادل [دواړو] په حق کې د ملکيت دليل ده وَلَمْ يُعَارِضْهُ مُعَارِضٌ او د هغه هيڅ معارض نسته وَلَا مُعْتَبَرَ بِأَكْبَرِ الرَّأْيِ عِنْدَ وُجُوْدِ الدَّلِيْلِ الظَّاهِرِ او د ظاهري دليل د موجودوالي په وخت کې ظن غالب لره اعتبار نسته إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ مِثْلُهُ لَا يَمْلِكُ مِثْلَ ذٰلِكَ مګر دا چې دغه رقم کس [بائع] د داسي شي نه سي مالک کيدلای فَحِيْنَئِذٍ يُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يَتَنَزَّهَ نو په هغې وخت کې ده لره مستحب دي چې [له داسي شي او مينځې] څخه پرهېز وکړي وَمَعَ ذٰلِكَ لَوِ اشْتَرَاهَا خو که د دې باوجود

هغه دا رانیسي يُرْجَى أَنْ يَكُوْنَ فِيْ سَعَةٍ مِنْ ذٰلِكَ نو په دې کې د ګنجائش [جائز کېدلو] اُمید سته لِاعْتِمَادِهِ الدَّلِيْلَ الشَّرْعِيَّ ځکه چې هغه پر شرعي دلیل [قبضه] اعتماد کړی دی.

تشریح: د مذکوره عبارت حاصل دا دی چې په اول صورت کې یعنې چې کله سامع (زید) ته دا معلومه وي چې دا د فلانکي (خالد) مینځه ده، نو ده ته د مینځې د رانیولو او د وطي کولو اختیار سته. لیکن که ده ته معلومه نه وي چې دا د فلانکي مینځه ده، خو دا مینځه چې د چا په قبضه کې ده (مثلاً حامد)، هغه دا خبر ورکړی چې دا د فلانکي مینځه ده او هغه زه ددې د خرڅولو وکیل جوړ کړی یم. یا ما دا مینځه له هغه شخصه رانیولې ده، نو فرمايي چې که دا قابض مُخبِر (حامد) ثقه وي، نو د هغه قول معتبر دی منل کیږي به، یعنې سامع (زید) لره ددې مینځې رانیول جائز دي، او که مُخبِر ثقه نه وي، نو بیا ظن غالب لره اعتبار دی، که چیرې د سامع په ظن غالب کې هغه ریښتونی وي، نو مینځه دې رانیسي، کنې احتیاط به کوي او نه دې یې رانیسي، لنډه دا چې د غالب ګومان اعتبار به کیږي.

سوال: دلته د غالب ګومان اعتبار ولې سوی دی؟.

جواب: مُخبِر (بائع) چې د خپل ځان په باره کې کوم خبر ورکړی دی چې زه د دې مالک نه یم بلکې فلانکۍ (خالد) یې مالک دی، د ده دا خبر او قول خو معتبر او حجت دی، لیکن د فلانکي (خالد) په باره کې چې ده کوم خبر ورکړی دی چې هغه زه ددې مینځې د خرڅولو وکیل جوړ کړی یم دا خبر حجت نه دی؛ نو ځکه مو ظن غالب لره اعتبار ورکړی دی، همدا خبره مصنف رَحِمَهُ الله داسې کړې ده چې د مُخبِر خبر د هغه په خپل حق کې حجت دی.

وإن لم يُخْبِرْهُ إلخ: فرمايي که بائع هیڅ خبر ورنه کړي لیکن مشتري (سامع) ته معلومه وي چې دا مینځه د فلانکي کس (خالد) ده، نو تر څو چې مشتري ته دا ښه ښکاره نه سي چې له فلانکي شخصه دا مینځه د بائع لاس ته څنګه راغلې ده، تر هغه وخت دې یې نه رانیسي؛ ځکه کله چې ده ته دا معلومه ده چې پر دغه مینځې د فلانکي کس (خالد) قبضه وه، نو دا دلیل ددې خبرې دی چې صرف همدا فلانکی د هغې مالک دی نو اوس د بل چا ملکیت ته د راتللو لپاره هم څه دلیل او سبب پکار دی.

او که مشتري ته دا معلومه نه وي او نه بائع ددې خبر ورکړي، نو مشتري هغه رانیولای سي، که څه هم بائع (قابض) فاسق وي؛ ځکه بائع (چې د هغه په قبضه کې مینځه ده) د هغه قبضه ددې خبرې دلیل ده چې همدا دئ د هغې مالک دی، برابره ده هغه فاسق وي او که عادل. او بل دا چې ددې یو معارض هم نسته.

سوال: د غالب ګومان دلته ولې اعتبار نه دی سوی؟.

جواب: ځکه تر غالب ګومان قوي دلیل چې هغه ته دلیلِ ظاهر ویل سوي دي دلته موجود دی، یعنې قبضه د ملکیت دلیل موجوده ده، نو ځکه غالب ګومان لره به اعتبار نه وي.

يادونه: لأن يد الفاسق...في حق الفاسق والعدل إلخ: په ښکاره له دغه عبارت څخه دا معلومیږي چې کله قبضه د فاسق ده نو هغه د ملکیت دلیل ده. برابره ده مشتري (رانیونکی) عادل وي او که فاسق، لېکن دلته د مقام تقاضا دا ده چې قبضه برابره ده د فاسق وي او که د عادل، هغه د ملکیت دلیل ده. په همدې وجه علامه عیني رَحِمَهُ الله ویلي دي چې دا عبارت داسې کېدل پکار وه: "لأن يد المتصرف دليل الملك في حق الفاسق والعادل".

إلا أن يكون مثله إلخ: فرمايي خو که بائع داسې شی خرڅوي چې د انسان زړه ته نه لویږي چې هغه دې د دغه شي مالک وي، مثلاً یو غریب کس ډېر قېمتي موتړ خرڅوي، یا مثلاً یو جاهل لا علمه کس عربي کتاب خرڅوي، نو دا ظاهراً د غلا دلیل دی، په داسې وخت کې مستحب دا ده چې نه یې رانیسي، ځکه تنزّه او احتیاط په همدې کې دی، خو که بیا هم هغه دا شی رانیسي چې ډېر ارزانه وغیره دی، نو څه حرج نسته؛ ځکه په دې صورتونو کې د دلیلِ شرعي یعني د ظاهراً قبضې اعتبار کیږي، او هغه دلته موجوده ده (چې ظاهراً پر دغه شي د هغه قبضه ده)، نو ځکه رانیول هم صحیح دي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ كَانَ الَّذِيْ أَتَاهُ بِهَا عَبْدًا أَوْ أَمَةً او که هغه څوک چې و ده ته یې مینځه راوستې ده غلام یا مینځه وي لَمْ يَقْبَلْهَا وَلَمْ يَشْتَرِهَا حَتَّى يَسْأَلَ نو نه به یې قبلوي او نه به یې رانیسي تر دې چې پوښتنه [تحقیق] وکړي لِأَنَّ الْمَمْلُوْكَ لَا مِلْكَ لَهُ ځکه چې مملوک کس [غلام] لره ملکیت نسته فَيُعْلَمُ أَنَّ الْمِلْكَ فِيهَا لِغَيْرِهِ نو معلومیږي چې په دې مینځه کې د بل چا ملکیت دی فَإِنْ أَخْبَرَهُ أَنَّ مَوْلَاهُ أَذِنَ لَهُ بیا که دا غلام [یا مینځه] دا خبر ورکړي چې د ده مالک و ده ته [یعني ما ته] اجازت راکړی دی وَهُوَ ثِقَةٌ اودئ [خبر ورکونکی غلام] ثقه وي قُبِلَ نو قول به یې منل کیږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ ثِقَةً او که ثقه نه وي يُعْتَبَرُ أَكْبَرُ الرَّأْيِ نو د غالب ګومان اعتبار به کیږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ رَأْيٌ او که [په دې باره کې] ده لره هیڅ رایه نه وي [چې هغه رېښتونی دی. که نه...] لَمْ يَشْتَرِهَا نو بیا دې هغه مینځه نه رانیسي لِقِيَامِ الْحَاجِرِ د مانع د موجود والي په وجه فَلَا بُدَّ مِنْ دَلِيْلٍ نو ځکه چاره نسته له یو دلیل څخه [یعني د یو دلیل موجودېدل ضروري دي چې په هغه سره حقیقت معلوم سي چې دا د چا مینځه ده].

اللغات: ﴿حاجر﴾ د نصر له بابه د فاعل صیغه ده: مانع، منع کونکی.

تشریح: مسئله: دا ده که مینځې یا غلام د ځان سره د خرڅلاو لپاره یوه مینځه راوستې وي بازار یا منډۍ وغیره ته، نو دا خبره خو ښکاره ده چې مملوک د دې مینځې مالک کېدلای نه سي، بلکې دا د یو

مال چا ملکيت دی. لهذا له تحقيق او پلټنې څخه بغير به هيڅ تصرف نه پکښې کيږي. نه دي يې رانيسي او نه دي بغير له تحقيقه داسې مينځه په هديه کې قبلوي. ها! که دا غلام يا مينځه مشتري ته ووايي چي: زما مالک ما ته د دغه تصرف اجازت راکړی دی او دا خبر ورکونکی غلام يا مينځه ثقه او د اعتماد وړ وي. نو قول يې منل کېدای سي، لېکن که ثقه نه وي. نو د ظن غالب اعتبار به کيږي. او که د مشتري هيڅ رايه مقرره نه سي بلکې په شک کې وي. نو بيا دي يې نه رانيسي: ځکه چي مانع موجو دی او هغه د بائع رقيق کېدل دي. نو تر څو چي هيڅ دليل ترلاسه نه سي. نه دي يې رانيسي.

د خاوند تر مرگ وروسته ښځې ته د ثلاثاً طلاق د خبر رسېدلو حکم

قال [امام محمد رحمه الله په جامع صغير کې] فرمايي وَلَوْأَنَّ امْرَأَةً أَخْبَرَهَا ثِقَةٌ أَنَّ زَوْجَهَا الْغَائِبَ مَاتَ عَنْهَا او که چيري ښځې ته يو ثقه کس دا خبر ورکړي چي د هغې [يعني ستا] غائب خاوند مړ سو أَوْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا يا هغې ته يې درې طلاقه ورکړل أَوْكَانَ غَيْرَثِقَةٍ وَأَتَاهَا بِكِتَابٍ مِنْ زَوْجِهَا بِالطَّلَاقِ يا دا خبر ورکونکی کس غيرِ ثقه وي خو د خاوند له طرفه هغې ته د طلاق خط [طلاقنامه] راوړي وَلَا تَدْرِيْ أَنَّهُ كِتَابُهُ أَمْ لَا او دا ښځه په دې نه پوهيږي چي دا د هغه ازما د خاوندا خط دی. که نه إِلَّا أَنَّ أَكْبَرَ رَأْيِهَا أَنَّهُ حَقٌّ خو د هغې غالب گومان دا وي چي دا رښتيا دی يَعْنِيْ بَعْدَ التَّحَرِّيْ يعني له تحري [غور او فکر کولو] څخه وروسته فَلَا بَأْسَ بِأَنْ تَعْتَدَّ ثُمَّ تَتَزَوَّجَ نو بيا پروا نسته په دې کي چي دا ښځه عده تېره کړي بيا [د بل چا سره] واده وکړي لِأَنَّ الْقَاطِعَ طَارِئٌ ځکه چي دلته [د نکاح] قطع کونکی شی عارضي دی [چي هغه مرگ يا طلاق دی] وَلَا مُنَازِعَ او هيڅ معارض هم نسته وَكَذَا لَوْ قَالَتْ لِرَجُلٍ: طَلَّقَنِيْ زَوْجِيْ وَانْقَضَتْ عِدَّتِيْ او همدارنگه که يوه ښځه يو سړي ته ووايي: چي زما خاوند ما ته طلاق راکړی او زما عده تېره سوه [لهذا اوس ته زما سره واده او نکاح وکړه!] فَلَا بَأْسَ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا نو هيڅ پروا نسته په دې کي چي د هغې سره نکاح وکړي [ځکه د هغې د قول هيڅ معارض نسته.

لېکن دا حکم هلته دی چي کله د ده غالب گومان دا وي چي هغه رښتونې ده] وَكَذَا إِذَا قَالَتِ الْمُطَلَّقَةُ الثَّلَاثَ: انْقَضَتْ عِدَّتِيْ او همدارنگه که په درېو طلاقو طلاقه سوې ښځه ووايي: چي زما عده تېره سوه وَتَزَوَّجْتُ بِزَوْجٍ آخَرَ وَدَخَلَ بِيْ او بيا ما د بل خاوند سره نکاح [هم] وکړه او هغه په ما دخول وکړی ثُمَّ طَلَّقَنِيْ وَانْقَضَتْ عِدَّتِيْ بيا هغه ما ته طلاق راکړی او زما دا عده [هم] تېره سوه [په لنډه توگه دا چي ما حلاله وکړه. نو اوس

دي اول خاوند زما سره نكاح وكړي [فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَتَزَوَّجَهَا الزَّوْجُ الْأَوَّلُ نو پروا نسته په دې كې چې اولنی خاوند دهغې سره نكاح وكړي [ځكه چې دلته هم دهغې د قول او خبر هيڅ معارض او منازع نسته] وَكَذَا لَوْ قَالَتْ جَارِيَةٌ او همدارنګه كه يو مينځه ووايي كُنْتُ أَمَةَ فُلَانٍ فَأَعْتَقَنِيْ زه د فلانكي مينځه وم بيا هغه زه آزاده كړم [نو دهغې قول هم معتبر او دمنلو قابل دی او دهغې سره نكاح كول جائز دي] لِأَنَّ الْقَاطِعَ طَارِئٌ ځكه چې قاطع عارضي دی [نو ځكه دلته هم د فرد واحد قول معتبر منل سوی دی. او د شهادت نصاب او عدالت ضروري نه دی ګرځول سوی].

اللغات: ﴿قاطع﴾ د فتح د باب فاعل دی: غوڅونكی. ختمونكی. له منځه وړونكی. ﴿طارئ﴾ د فتح د باب فاعل دی. د دې لفظ څو معناوي دي: عارضي (عارضېدونكی) او وروسته واقع كېدونكی (وروسته راتلونكی) او نا څاپه واقع كېدونكی. (دلته د عارضي او وروسته واقع كېدونكی په معنیٰ سره دی. ځكه دلته هغه د مقارن ضد دی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د يو ښځي خاوند غائب وو. يو ثقه يعني معتبر او معتمد كس هغې ته خبر وركړی چې ستا خاوند مړ سو يا ستا خاوند خو تا ته درې طلاقه دركړل. يا دا خبر وركونكی كس (مُخبِر) خو ثقه نه وي ليكن د خاوند له طرفه د طلاق نامې خط ښځي ته پېښ كړي او ښځي ته نه معلومېږي چې دا د هغه خط دی كه نه. ليكن له تحرّي او فكر څخه وروسته د هغې ظنِ غالب دا سي چې مُخبِر رېښتونی دی، نو هغې لره جائز دي چې د هغه پر خبره اعتبار او باور وكړي او عده تېره كړي او خپل دويمه نكاح وكړي: ځكه په مذكوره صورت كې د نكاح قاطع (د نكاح ختمونكی) يو عارضېدونكی شی دی چې هغه مرګ يا طلاق دی، او قاطع مقارن او متصل نه دی. او د طاري او عارضي شيانو په هكله د يوه ثقه كس قول هم معتبر دی. او بل دا چې دلته د مُخبِر د خبري هيڅ معارض نسته (يعني د خاوند د نه مړ كېدلو يا طلاق نه وركولو بل خبر او دا سي نور).

سوال: د دې څه مطلب دی چې دا قاطع طاري دی، نه مقارن.

جواب: قاطع پر دوه قسمه دی: ① طاري، ② مقارن. د طاري مطلب دا دی چې دا له مخكي څخه د عقد قاطع نه دی بلكي وروسته عارض سوی او واقع سوی دی. او د مقارن مطلب دا دی چې د عقد قاطع له مخكي څخه موجود وي. ګواكي عقد له سره فاسد دی. او اُصول دا دی لكه اوس چې مورږ ذكر كړه چې د طاري قاطع په هكله يو ثقه هم معتبر دی يا يو غير ثقه چې د هغه په هكله ظنِ غالب دا وي چې رېښتونی دی. او د قاطع مقارن په هكله د شهادت نصاب مع عدالت ضروري دی (يعني دوه سړيان يا يو سړی او دوې ښځي چې هغه به هم عادلان وي). او يوازې د يوه كس قول په دې هكله معتبر نه دی.

وكذا الوقالت إلخ: له دې ځايه تر آخره عبارت آسانه دی. نوري تشريح ته اړتيا نه لري.

د قاطع مقارن بيان او حکم

وَلَوْ أَخْبَرَهَا مُخْبِرٌ أَنَّ أَصْلَ النِّكَاحِ كَانَ فَاسِدًا او كه يو خبر وركونكى كس ښځي ته دا خبر وركړي چي اصل نكاح فاسده وه [چي د فلانكي سړي سره ستا نكاح صحيح تړل سوې نه وه بلكي فاسده وه] أَوْ كَانَ الزَّوْجُ حِيْنَ تَزَوَّجَهَا مُرْتَدًا يا خاوند چي كله د هغې [يعني ستا] سره نكاح كړې وه هغه مرتد وو أَوْ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ يا د هغې [يعني يا ستا] رضاعي ورور وو لَمْ يُقْبَلْ قَوْلُهُ نو د هغه قول به نه منل كيږي حَتَّى يَشْهَدَ بِذٰلِكَ رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ تر دې چي په دې باره كي دوه سړيان يا يو سړى او دوې ښځي گواهي وركړي وَكَذَا إِذَا أَخْبَرَهُ مُخْبِرٌ أَنَّكَ تَزَوَّجْتَهَا وَهِيَ مُرْتَدَّةٌ او همدارنگه كه يو مُخبر سړي ته دا خبر وركړي چي تا په داسي حال كي د هغه ښځي سره نكاح كړې وه چي هغه مرتده وه أَوْ أُخْتُكَ مِنَ الرَّضَاعَةِ يا ستا رضاعي خور وه لَمْ يَتَزَوَّجْ بِأُخْتِهَا نو دا سړى به د هغې د خور سره نكاح نه كوي [ځكه چي د دغه مُخبر كس قول معتبر نه دى، نو هغه ښځه يې له نكاح څخه نه ده وتلې، لهٰذا كه د هغې د خور سره نكاح وكړي نو جامع بين الأختين به سي] أَوْ أَرْبَعٍ سِوَاهَا او نه له هغې څخه بغيرو د څلورو ښځو سره [يا په بله وينا دا چي نه له هغې څخه بغير د څلورمي ښځي سره. مطلب دا چي هغه ښځه يې له نكاح څخه نه ده وتلې، نو اوس كه دئ له هغې څخه بغير د نورو څلورو ښځو سره نكاح وكړي. نو په خپل نكاح كي به د پنځو ښځو جمع كونكى سي؛ ځكه چي د دې مُخبر كس قول معتبر نه دى تر هغه وخته...] حَتَّى يَشْهَدَ بِذٰلِكَ عَدْلَانِ تر دې چي په دې باره كي دوه عادله كسان گواهي وركړي لِأَنَّهُ أَخْبَرَ بِفَسَادٍ مُقَارِنٍ ځكه چي هغه د داسي فساد [يعني د عقدِ نكاح د داسي فاسدېدلو] خبر وركړى دى كوم چي [د عقد نكاح سره] مقارن دى وَالْإِقْدَامُ عَلَى الْعَقْدِ يَدُلُّ عَلَى صِحَّتِهِ وَإِنْكَارِ فَسَادِهِ او پر عقد نكاح [د هغه] اقدام كول د عقد پر صحيح كېدلو او د هغه د فاسدېدلو پر انكار دلالت كوي [يعني ده چي اول د هغه ښځي سره پر نكاح اقدام او وراندېتوب كړى دى، دا پر دې دلالت كوي چي ده په نېز د هغې سره د ده نكاح صحيح وه او فاسده نه وه] فَثَبَتَ الْمُنَازِعُ بِالظَّاهِرِ نو په ظاهري توگه منازع ثابت سو.

اللغات: ﴿مقارن﴾ د مقارن له بابه د اسم فاعل صيغه ده: متصل، جوخت، يو د بل سره يو ځاى.

تشريح: په عبارت كي څو صورتونه ذكر سوه. په دې ټولو صورتونو كي د نكاح قاطع طاري نه دى بلكي مقارن دى. چي د هغه اُصول مخكي ذكر سو يعني په قاطعِ مقارن كي نصابِ شهادت مع عدالت شرط دى. نو تر څو چي دوه عادله كسان يا يو عادل كس او دوې عادلي ښځي د دغه خبري گواهي ورنه

کړي. ترهغه به د مُخبِر قول نه منل کيږي او نه به يې د قول وطرف ته توجّه کيږي، او دلته منازع او معارض هم موجود دی؛ ځکه که داسي خبره وای نو پر نکاح به اقدام نه کېدلای، بلکي دا اقدام پر دې خبره دلالت کوي چي نکاح صحيح ده او فساد طاري دی، او مُخبِر دا ويل غواړي چي له سره فساد سته، يعني فساد مقارن دی، نو ځکه نصاب شهادت مع عدالت شرط دی.

يادونه: لم يتزوّج بأختها إلخ: ځکه که د مُخبِر قول معتبره وای، نو نکاح به له سره ختم سوې وای. بيا به د هغې د خور سره په نکاح کولو کي څه حرج نه وای. همدارنگه که قول يې معتبر وای. نو له هغې څخه بغير د څلورو ښځو سره به نکاح جائز وای، خو معتبر نه دی، نو ځکه له هغې څخه بغير د نورو څلورو ښځو سره د هغه نکاح صحيح نه ده، بلکي د دريو سره صحيح ده.

د قاطع طاري بيان او حکم

بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الْمَنْكُوحَةُ صَغِيرَةً په خلاف د هغه صورت کله چي منکوحه کوچنۍ وي فَأَخْبَرَ الزَّوْجُ أَنَّهَا ارْتَضَعَتْ مِنْ أُمِّهِ أَوْ أُخْتِهِ بيا خاوند ته دا خبر ورکول سي چي هغې [يعني ستا کوچنۍ منکوحې] د هغه د مور [يعني ستا د مور] يا خور شيدې رودلي دي حَيْثُ يُقْبَلُ قَوْلُ الْوَاحِدِ فِيهِ نو په دې باره کي به د يوه کس قول منل کيږي لِأَنَّ الْقَاطِعَ طَارِئٌ ځکه چي دلته [د نکاح] قطع کونکی طاري دی وَالْإِقْدَامُ الْأَوَّلُ لَا يَدُلُّ عَلَى انْعِدَامِهِ او اولنی اقدام د رضاعت پر نشتوالي دلالت نه کوي فَلَمْ يَثْبُتِ الْمُنَازِعُ نو منازع ثابت نه سو فَافْتَرَقَا لهذا دواړه مسئلې سره جلا سوې وَعَلَى هَذَا الْحَرْفِ يَدُورُ الْفَرْقُ او پر همدغه نکته د فرق دار ومدار دی وَلَوْ كَانَتْ جَارِيَةٌ صَغِيرَةٌ لَا تُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهَا فِي يَدِ رَجُلٍ يَدَّعِي أَنَّهَا لَهُ او که يو کوچنۍ مينځه کوم چي د خپل ځان په هکله تعبير [ځان ښوونه] نه سي کولای د داسي سړي په قبضه کي وه چي هغه دعوىٰ کوله دا زما مينځه ده فَلَمَّا كَبُرَتْ لَقِيَهَا رَجُلٌ فِي بَلَدٍ آخَرَ فَقَالَتْ: أَنَا حُرَّةُ الْأَصْلِ بيا چي کله هغه غټه سوه [او] په يو بل ښار کي د هغې سره يو سړی مخامخ سو نو هغې وويل: چي زه له اصله آزاده يم لَمْ يَسَعْهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا نو هغه سړي لره جائز نه دي چي د هغې سره نکاح وکړي لِتَحَقُّقِ الْمُنَازِعِ وَهُوَ ذُو الْيَدِ ځکه چي منازع يعني قبضې والا [قابض] موجود دی [کوم چي دعوىٰ کوي چي دا زما مينځه ده] بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي [څه] مخکي تېر سو.

اللغات: ﴿ارتضعت﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: تی رودل. شیدې رودل.

﴿طارئ﴾ د فتح د باب فاعل دی: عارضېدونکی. وروسته واقع کېدنکی (وروسته راتلونکی). ﴿حرف﴾ د دې لفظ یوه معنیٰ ده: نکته. طرز او طریقه. ﴿لقیها﴾ د سمع د باب ماضي ده: ملاقات کول. لیدل مخامخ کېدل او استقبال کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د یو سړي په نکاح کي یوه کوچنۍ شیدې رودونکې نجلۍ وي (چي د هغې نکاح په هسدې کوچنیوالي کي ور سره تړل سوې وي). او خاوند ته یو څوک راسي او خبر ور کړي چي هغې خوستا د مور یا خور شیدې رودلي دي. نو په دې هکله د دغه یوه کس قول معتبر دی: ځکه چي دلته د نکاح قاطع طاري دی. او په مخکینیو صورتونو کي مقارن وو (کما هو الظاهر). نو دلته هیڅ منازع او معارض نسته. په خلاف د اول صورت چي هلته معارض موجود وو.

والإقدام إلخ: فرمايي داسي هم نه سي کېدلای چي پر نکاح اقدام کول د انعدمِ رضاعت (شیدې نه رودلو) دلیل ومنل سي (یعني دغه خاوند چي اول د دې کوچنۍ نجلۍ پر نکاح اقدام کړی دی. دا د دې خبري دلیل نه سي کېدلای چي هغه دده لپاره حلاله وه او هغې دده د مور یا خور شیدې یې رودلي نه وې): ځکه کله چي د نکاح تړلو په وخت کي د رضاعت (شیدې رودلو) علم نه وو. نو ګواکي قدام صحیح سو او کله چي اقدام صحیح سو. نو هغه منازع نه سي جوړېدای او د خبرِ واحد په منلو کي مانع هم نه سي جوړېدای. لهذا مخکنۍ مسئله او دا مسئله دواړې سره جلا سوې. او پر همدې نکته د فرق دار ومدار دی او په همدغه نکته او طریقه سره د فرق پته معلومېږي. یعني کله چي د چا د قول او خبر منازع وي نو قولِ واحد (د یوه کس قول) معتبر نه دی. او کله چي منازع نه وي. نو قول واحد معتبر دی. منل کېږي به.

ولوکانت جارية إلخ: اوس ذکر سوه چي که دیُو چا د قول معارض وي. نو بیا به یې قول نه منلِ کېږي. لهذا که د یو کس په قبضه کي دومره کوچنۍ مینځه وي چي د خپل ځان ترجماني او اظهار نه سي کولای. او دا کس وایي چي دا زما مینځه ده. بیا چي کله هغه مینځه غټه سي. نو یو چا ته داسي وایي چي زه له سره آزاده یم. مینځه بالکل نه یم. نو د دې مینځي قول معتبر نه دی: ځکه قبضه د هغې د قول معارض موجوده ده. یا په بله وینا دا مینځه چي د چا په قبضه کي ده کوم چي د هغې د مینځي والي دعویٰ کوي. هغه موجود دی. لهذا د هغې دا وینا چي زه حرة الاصل یم صحیح نه ده. نو ځکه شرعي شهادت پېشول ضروري دي. او پا ته سو مخکینی صورت یعني کله چي مینځه ووایي چي زه د فلانکي مینځه یم او هغه زه آزاده کړې یم (کنتُ أمة لفلان فأعتقني). نو قول معتبر او مقبول وو: ځکه چي

هيڅ معارض موجود نه وو (نو ځکه ديوه قول قول معتبر سوی وو. او شرعي شهادت لازم سوی نه وو). او دلته معارض موجود دی. لهذا په دواړو مسئلو کي فرق ښکاره سو.

له شراب خرڅونکي مسلمان څخه د خپل قرض اخيستلو حکم

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ الْمُسْلِمُ خَمْرًا فرمايي: او کله چي مسلمان شراب خرڅ کړي وَأَخَذَ ثَمَنَهَا او د هغوی قيمت واخلي وَعَلَيْهِ دَيْنٌ حال دا چي پر هغه قرض باندي وي فَإِنَّهُ يُكْرَهُ لِصَاحِبِ الدَّيْنِ أَنْ يَأْخُذَ مِنْهُ نو د قرض مالک (قرضخواه) لره دا مکروه دي چي له دغه مسلمان څخه خپل قرض واخلي وَإِنْ كَانَ الْبَائِعُ نَصْرَانِيًّا او که بائع (خرڅونکی) نصراني وي فَلَا بَأْسَ بِهِ نو بيا په دې کي څه پروا نسته وَالْفَرْقُ أَنَّ الْبَيْعَ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ قَدْ بَطَلَ او (په دواړو صورتونو کي) فرق دا دی چي په اول صورت کي بيع باطله ده لِأَنَّ الْخَمْرَ لَيْسَ بِمَالٍ مُتَقَوِّمٍ فِي حَقِّ الْمُسْلِمِ ځکه د مسلمان په حق کي شراب متقوم (قيمتداره) مال نه دی فَبَقِيَ الثَّمَنُ عَلَى مِلْكِ الْمُشْتَرِي لهذا (په اول صورت کي) ثمن د مشتري پر ملکيت پاته سوه فَلَا يَحِلُّ أَخْذُهُ مِنَ الْبَائِعِ نو ځکه له بائع (مسلمان) څخه د هغه اخيستل روا نه دي وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي صَحَّ الْبَيْعُ او په دويم صورت کي بيع صحيح ده لِأَنَّهُ مَالٌ مُتَقَوِّمٌ فِي حَقِّ الذِّمِّيِّ ځکه چي شراب د ذمي په حق کي متقوم مال دی فَمَلَكَهُ الْبَائِعُ نو بائع (ذمي) د هغه (ثمن) مالک سو فَيَحِلُّ الْأَخْذُ مِنْهُ نو ځکه له بائع څخه اخيستل هم روا دي.

اللغات: ﴿خمر﴾ شراب. ﴿دَين﴾ قرض، پور.

تشريح: د عبارت مختصره حاصل دا دی چي د مسلمان په حق کي شراب متقوم مال نه دی او د غير مسلمان (نصراني وغيره) په حق کي متقوم مال دی، لهذا که ديو کس پر بل چا قرض باندي وي او هغه مقروض شراب خرڅ کړي او د شرابو په ثمن د دغه کس قرض اداء کوي، نو د دې دوه صورتونه دي: دا بائع (خرڅونکی) به مسلمان وي يا به غير مسلمان يعني نصراني وغيره وي. که چيري غير مسلمان وي، نو څرنګه چي هغه د شرابو د ثمن مالک سوی دی. نو ځکه قرضخواه لره جائز دي چي له هغه څخه خپل قرض واخلي. او که بائع مسلمان وي. نو اخيستل ورته جائز نه دي. ځکه چي مسلمان خپله د دې ثمن مالک سوی نه دی بلکي ثمن د مشتري په ملکيت کي پاته دی او مشتري يې مالک دی. نو ځکه دې قرضخواه ته له مسلمان بائع څخه د هغه اخيستل روا نه دي.

د احتكار (ذخيره اندوزى) حكم

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي] وَيُكْرَهُ الِاحْتِكَارُ فِي أَقْوَاتِ الْآدَمِيِّينَ وَالْبَهَائِمِ فرمايي: او مكروه دى احتكار [ذخيره كول او زېرمه كول] په خوراكي توكو [او غلو] كي د انسانانو او څارويو إِذَا كَانَ ذَلِكَ فِي بَلَدٍ يَضُرُّ الِاحْتِكَارُ بِأَهْلِهِ [په دې شرط] كله چي دا په داسي ښار كي وسي چي د هغه ښار خلكو ته احتكار ضرر [نقصان] كوي وَكَذَلِكَ التَّلَقِّي او همدارنګه تلقى فَأَمَّا إِذَا كَانَ لَا يَضُرُّ لېكن كه هغه ضرر نه كوي [يعني د هغه ښار خلكو ته نقصان نه كوي] فَلَا بَأْسَ بِهِ نو څه پروا پكښي نسته وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ او اصل په دې باره كي د نبي كريم ﷺ دا فرمان دى الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ چي راوړونكى نصيبور [بنه نصيب او رزق لرونكى] دى او ذخيره كونكى [راګرځونكى] لعنتي [رټل سوى] دى وَلِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْعَامَّةِ او ځكه چي د دې سره د عوامو [عامو خلكو] حق متعلق دى وَفِي الِامْتِنَاعِ عَنِ الْبَيْعِ إِبْطَالُ حَقِّهِمْ وَتَضْيِيقُ الْأَمْرِ عَلَيْهِمْ نو [د خوراكي توكو] له بيع څخه په منع كېدو كي د عوامو د حق باطلول او پر هغو د معاملې تنګول سته فَيُكْرَهُ إِذَا كَانَ يَضُرُّ بِهِمْ ذَلِكَ نو ځكه مكروه به وي كله چي دا [احتكار وغيره] هغو ته ضرر كوي بِأَنْ كَانَتِ الْبَلْدَةُ صَغِيرَةً په دې توګه چي ښار كوچنى وي بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَضُرَّ په خلاف د هغه صورت كله چي دا ضرر نه كوي بِأَنْ كَانَ الْمِصْرُ كَبِيرًا په دې توګه چي ښار غټ وي لِأَنَّهُ حَابِسٌ مِلْكَهُ مِنْ غَيْرِ إِضْرَارٍ بِغَيْرِهِ ځكه [په دې صورت كي] هغه د خپل ملكيت راګرځونكى [ذخيره كونكى] دى بغير له ضرر رسولو و بل چاته وَكَذَلِكَ التَّلَقِّي عَلَى هَذَا التَّفْصِيلِ او همدارنګه تلقي هم پر دغه تفصيل ده لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❷ نَهَى عَنْ تَلَقِّي الْجَلَبِ وَعَنْ تَلَقِّي الرُّكْبَانِ ځكه چي نبي ﷺ له تلقي جلب او تلقي ركبان څخه منع كړې ده قَالُوا: هَذَا إِذَا لَمْ يُلَبِّسِ الْمُتَلَقِّي عَلَى التُّجَّارِ سِعْرَ الْبَلْدَةِ مشائخو رَحِمَهُمُ الله فرمايلي دي: چي دا [حكم] په هغه صورت كي دى كله چي تلقي كونكى كس

---

❶ تخريج: أخرجه ابن ماجة في كتاب التجارات، باب الحكرة والجلب، حديث رقم:۲۱۵۳.

❷ تخريج: أخرجه مسلم في كتاب البيوع، باب تحريم تلقي الجلب، حديث رقم:۱۶.

پر تاجرانو د ښار نرخ پټ نه کړي فَإِنْ لَبَّسَ لېکن هغه نرخ هم پټ کړي فَهُوَ مَكْرُوهٌ فِي الْوَجْهَيْنِ نو دا په دواړو صورتونو کي مکروه دي لِأَنَّهُ غَادِرٌ بِهِمْ ځکه چي هغه د تاجرانو سره فرېب [او خيانت] کونکی دی.

اللغات: ﴿أقوات﴾ جمع د قُوْت ده: د خوړلو شيان. خوراکي توکي. او د قُوْت د لفظ بله معنیٰ ده: د ګزارې خوراک. ﴿الاحتكار﴾ د افتعال د باب اسم مصدر دی: ذخيره کول. زېر مه کول. احتکار دې ته وايي چي انسان غله (يعني غنم. وربجي) او داسي نور په دې نيت د ځان سره ذخيره کړي چي کله ګراني جوړه سي. نو بيا به يې خرڅ کړم. داسي کس ته محتکر وايي. ﴿التلقي﴾ د تفعل د باب اسم مصدر دی: ملاقي کېدل. ملاو يېدل. تلقي دې ته وايي چي. کله ښار ته قافله را روانه وي کوم چي يې غله او خوراکي توکي را اخيستي وي او يو ښاري کس ژر له ښاره بهر مخ ته ورسي د هغو سره ملاقي سي او دا شيان ځني رانيسي او د ګټي ترلاسه کولو په غرض يې ښار ته راوړي. داسي کس ته متلقي وايي. تلقي جَلَب او تلقي رُکبان: د دواړو مراد بالکل سره نژدې دی او دا دواړه په يوه حديث کي نه بلکي په دوو جلا حديثونو کي ذکر سوي دي چي د تشريح په آخر کي به يې وضاحت وکړو. تلقي رُکبان دې ته وايي چي څوک له ښاره بهر خاص د قافلې والا (کوم چي ښار ته را روانه وي) سره ملاقي سي او په مذکوره نيت غله يا بل سامان ځني رانيسي او تلقي جلب عام دی که د قافلې والا سره ملاقي سي يا له ښاره بهر چي کوم صحرايي علاقې يا نور ځايونه دي چي له هغوی څخه دغه ښار ته غله وغيره راځي هلته ولاړ سي او په مذکوره نيت غله وغيره ځني رانيسي. ﴿جَلَب﴾ (بفتح اللام) هغه څه چي له بل ځايه راوړل سوي وي. هغه د تجارت سامان. اوښان وغيره چي له بل ښار او بلي علاقې څخه راوړل سي. ﴿الرُّكْبَان﴾ جمع د راکب ده: سپاره کسان. قافلې والا. ﴿جالب﴾ د نصر له بابه د اسم فاعل صيغه ده: جلبونکی. راوړونکی. له جالب څخه هغه کس مراد دی کوم چي خپل ښار ته له بهر څخه غله راوړي او خرڅوي يې وي نو هغه مرزوق دی. ځکه چي خلکو ته په دې سره نفع رسيږي. نو هغه ته د مسلمانانو د دعاء برکات رسيږي. ﴿مرزوق﴾ د نصر له بابه اسم مفعول دی: نصيبور. ښه نصيب او بخت والا. ښه حصې والا (معجم الوسيط). ﴿ملعون﴾ د فتح له بابه اسم مفعول دی: لعنت پر سوی. ملعون پر دوه قسمه دی: ① د الله جل جلاله له رحمت څخه لېري کېدل. دا قسم فقط د کفارو لپاره خاص دی. ② له نېکانو او د صالحينو له مقام څخه لېري کېدل. دلته په عبارت کي همدا معنیٰ مراد ده: ځکه د اهلِ حق په نېز د ګناه کبيره په کولو سره بنده له ايمانه نه وځي (اشرف الهدايه). ﴿التجار﴾ جمع د تَاجِر ده: کاروبار او تجارت کونکي. ﴿سعر﴾ نرخ. رېټ. ﴿لبّس﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: حقيقت پټول. په يو شي کي ابهام کول. ﴿غادر﴾ د فاعل صيغه ده. له ضرب. نصر او سمع ټولو څخه راځي. د دې لفظ يوه معنیٰ ده: فرېب او غدر کونکی. خيانت او دوکه کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که يو ښار کوچنی وي آبادي يې لږ وي چې احتکار وغيره د هغه ښار اوسېدونکو ته تاوان رسوي، نو په دې صورت کې نه د انسانانو د غلې احتکار جائز دی او نه د څاربو د وابنو وغيره احتکار جائز دی بلکې مکروه تحريمي دی. او د کراهت وجه يې دا ده چې نبي کريم ﷺ جالب ته مرزوق ويلي دي. لېکن محتکرين ملعون ګرځولی دی.

او عقلي دليل دا دی چې د غلې سره د عوامو حق متعلق دی. لهذا د هغه په راګرځولو او ذخيره کولو سره عوامو ته نقصان رسېږي، نو ځکه دا صورت جائز نه دی.

لېکن که څوک په يو لوی غټ ښار کې احتکار وکړي چې په هغه سره ښاريانو ته ضرر نه رسيږي. نو بيا په داسې کولو کې څه حرج نسته؛ ځکه د احتکار د مکروه والي اصل علت ضرر دی.

لېکن کله چې د ښاريانو لپاره احتکار مُضر نه وي. نو بيا که څوک غله ذخيره کړي نو هغه د خپل ملکيت ذخيره کونکی او راګرځونکی دی او د خپل ملکيت په راګرځولو کې څه حرج نسته.

وكذا التلقي إلخ: فرمايي چې په تلقي جلب وغيره کې هم دا غه تفصيل دی چې که تلقی د ښاريانو لپاره مضر وي. نو مکروه ده. کنې مکروه نه ده. د تلقي ممانعت هم په حديث سره ثابت دی کوم چې په عبارت ذکر سو.

مشائخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي چې مذکوره تفصيل هغه وخت دی کله چې دا متلقي کس له قافلې والا څخه د ښار نرخ پټ نه کړي بلکې د ښار نرخ ورو ښيي. او که د ښار نرخ پټ کړي او په چل ول او دوکه سره په کم نرخ غله څنې واخلي. نو دا په هر صورت کې مکروه دي. برابره ده تلقي د ښار لپاره مضر وي او که نه وي؛ ځکه چې اوس دا متلقي کس دوکه باز او فرېبکاره دی.

مصنف رَحِمَهُ الله چې کوم حديث نقل کړی دی. دا په اصل کې دوه حديثونه دي. اول حديث "نهى عن تلقي الجلب" دا جلا دی چې هغه مسلم روايت کړی دی او دويم "نهى عن تلقي الركبان" جلا حديث دی. دا متفق عليه دی او مطلب د دواړو يو دی. (احسن الهدايه)

احتکار په کومو شيانو کې کيږي (د فقهاؤ قولونه)

وَتَخْصِيصُ الْاِحْتِكَارِ بِالْأَقْوَاتِ كَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتِّبْنِ وَالْقَتِّ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ او د احتکار خاصول د خوراکي توکو [غلو] سره لکه غنم، اوربشې، پرور، وابنه دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ [1]: كُلُّ مَا أَضَرَّ بِالْعَامَّةِ حَبْسُهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: هر هغه شی چې د هغه

[1] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله. قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وكره احتكار قوت البشر، كتبن وعنب ولوز. (فوت) المهائم، وقال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله: والتقييد بقوت البشر قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ومحمد رَحِمَهُ الله وعليه الفتوى. كذا في الكافي (رد المحتار ج:٥، ص:٢٨٢)؛ [القول الراجح ج:٢، ص:٣٠٤]

راګرځول [ذخيره كول] عوامو ته ضرر كوي فَهُوَ احْتِكَارٌ نو دا احتكار دى وَإِنْ كَانَ ذَهَبًا أَوْ فِضَّةً أَوْ ثَوْبًا كه څه هم هغه سره زر يا سپين زر يا كپړه وي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ قَالَ: لَا احْتِكَارَ فِي الثِّيَابِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دى چې هغه فرمايلي دي: په كپړو كي احتكار نشته فَأَبُو يُوسُفَ اِعْتَبَرَ حَقِيقَةَ الضَّرَرِ نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د حقيقي ضرر اعتبار كړى دى إِذْ هُوَ الْمُؤَثِّرُ فِي الْكَرَاهَةِ ځكه چې همهغه په كراهت [مكروه كېدلو] كي اثر كونكي دى وَأَبُو حَنِيفَةَ اعْتَبَرَ الضَّرَرَ الْمَعْهُودَ الْمُتَعَارَفَ او امام صاحب رَحِمَهُ الله د معهود او عرفي ضرر اعتبار كړى دى.

اللغات: ﴿تبن﴾ پرور، ﴿قت﴾ د دې لفظ څو معناوي دى چې له هغوى څخه يوه معنىٰ دا: شپيشتي هغه كه وچې وي او كه تازه (حاشيه)، خو په معجم كي ليكل سوي دي: الفصفصة اليابسة (معجم الوسيط). ﴿معهود﴾ د سمع د باب مفعول دى: معلوم، مشهور او معروف. ﴿متعارف﴾ د تفاعل د باب اسم مفعول دى: په عُرف كي مشهوره او پېژندل سوى، په عرف كي رواج. د عُرف مطابق.

تشريح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول مطابق احتكار فقط د انسانانو او څارويو په غذا كي كيږي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول دا دى چې هر هغه شى چې د هغه په راګرځولو او ذخيره كولو سره عوامو ته ضرر رسيږي، نو هغه احتكار دى، برابره ده هغه كه هر شى وي. د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دا دى چې په كپړو كي احتكار نه كيږي: ځكه چې د بدن وده او د بدن ولاړه په غذا سره ده. نه په كپړو سره.

خلاصه د كلام دا چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د حقيقي ضرر اعتبار كړى دى برابره ده هغه په هر شي كي وي، او امام صاحب رَحِمَهُ الله د معهود او متعارف ضرر اعتبار كړى دى او هغه د غذاګانو او خوراكي توكو په راګرځولو كي دى.

د احتكار (ذخيره اندوزي) د مودت بيان

ثُمَّ الْمُدَّةُ إِذَا قَصُرَتْ بيا كه [د ذخيره كولو او راګرځولو] مودت كم وي لَا يَكُونُ احْتِكَارًا نو دا احتكار نه دى لِعَدَمِ الضَّرَرِ د ضرر د نشتوالي په وجه وَإِذَا طَالَتْ او كه ډېر مودت وي يَكُونُ احْتِكَارًا مَكْرُوهًا نو دا مكروه احتكار دى لِتَحَقُّقِ الضَّرَرِ د ضرر ثابتېدلو په وجه ثُمَّ قِيلَ: هِيَ مُقَدَّرَةٌ بِأَرْبَعِينَ يَوْمًا بيا ويل سوي دي: چې دا مودت په څلوېښتو ورځو سره اندازه كړى سوى دى لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ

وَالسَّلَامُ ❶: «مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ لَيْلَةً د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: څوک چې څلوېښت شپې احتکار وکړي فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللهِ وَبَرِئَ اللهُ مِنْهُ» نو هغه له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه بري دی او الله جَلَّ جَلَالُهُ له هغه څخه بري دی وَقِيلَ: بِالشَّهْرِ او ويل سوي دي: چې [د احتکار مودت] په يوې مياشتې سره [مقدر دی] لِأَنَّ مَا دُونَهُ قَلِيلٌ عَاجِلٌ ځکه تر يوې مياشتې کم مودت لږ [او] ببړنی دی وَالشَّهْرُ وَمَا فَوْقَهُ كَثِيرٌ آجِلٌ او يوه مياشته او تر هغې زيات مودت زيات [او] ځنډنی دی وَقَدْ مَرَّ فِي غَيْرِ مَوْضِعٍ او دا بحث څو ځايه تېر سوی دی وَيَقَعُ التَّفَاوُتُ فِي الْمَأْثَمِ بَيْنَ أَنْ يَتَرَبَّصَ الْعِزَّةَ وَبَيْنَ أَنْ يَتَرَبَّصَ الْقَحْطَ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ او په ګناه کي تفاوت واقع کيږي په مينځ د دې کي چې څوک د ګرانۍ [ګرانښت] انتظار کوي او په مينځ د دې کي چې (العياذ بالله) د وچکالۍ انتظار کوي [يعني د ګرانۍ او وچکالۍ واقع کېدلو په غرض د احتکار او انتظار کونکو کسانو تر مينځ د ګناه په اعتبار سره فرق او توپير دی. ځکه د وچکالۍ په غرض د احتکار کونکي کس ګناه زياته ده] وَقِيلَ: الْمُدَّةُ لِلْمُعَاقَبَةِ فِي الدُّنْيَا او ويل سوي دي: چې مودت په دنيا کي د سزا ورکولو لپاره دی أَمَّا يَأْثَمُ وَإِنْ قَلَّتِ الْمُدَّةُ لېکن نو هغه [د آخرت په اعتبار سره] خامخا ګناهکاره کيږي که څه هم مودت کم وي وَالْحَاصِلُ أَنَّ التِّجَارَةَ فِي الطَّعَامِ غَيْرُ مَحْمُودَةٍ خلاصه دا چې د غلې تجارت ښه نه دی.

اللغات: ﴿قصرت﴾ د كرُم ماضي ده: كمېدل. لنډېدل. لږېدل. ﴿ضرر﴾ نقصان. تاوان. ﴿مقدرة﴾ د تفعيل د باب مؤنث مفعول دی: ټاکل سوی. اندازه کړی سوی. متعين. ﴿مأثم﴾ مصدر ميمي دی: ګناه. ﴿يتربص﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: انتظار کول. درنګ کول. ايسارېدل. تم کېدل. ﴿العزة﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ ده: ګراني. د شيانو نرخ لوړېدنه. ﴿عاجل﴾ بېړه کونکی. اوسنی. فوراً. ژر. (مراد ځني لنډ وخت دی). ﴿آجل﴾ وروستنی. ځنډنی. (مراد ځني ډېر وخت دی).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که څوک د معمولي وخت مثلاً د يو څو ورځو لپاره احتکار وکړي (غله ذخيره کړي). نو ځرنګه چې په دې صورت کي د خلکو ضرر نسته؛ لهذا داسي صورت مکروه نه دی. خو که د احتکار مودت يوه مياشته يا تر دې زيات وي. نو دا مکروه دي؛ ځکه په دې کي د خلکو ضرر دی او مخکي ذکر سوه چې د کراهت مدار پر همدې ضرر او نقصان دی.

---

❶ تخريج: أخرجه الحاكم في المستدرك، كتاب البيوع، حديث رقم: ٢١٦٥.

ثـم قيـل إلخ: فرمايي چي د احتکار د مودت په هکله يو قول دا دی چي تر څلوېښتو ورځو پوري احتکار مکروه دی او تر هغه کم صحيح دی؛ ځکه په حديث کي تر دغومره ورځو پوري د غلې راګرځونکي په هکله وعيد راغلی دی.

دويم قول دا دی چي يوه مياشته يا تر دې زياتي ورځي احتکار کول مکروه دي؛ ځکه په عامه توګه خلک د يوې مياشتي مودت کثير او آجل (ځنډنی) ګڼي او تر دې کم قليل او عاجل ګڼي.

وروسته فرمايي چي په کتاب الصلاة او کتاب السلم وغيره کي په دې هکله بحث تېر سوی دی.

ويقع التفاوت إلخ: د دې حاصل دا دی چي څوک د ګرانۍ واقع کېدلو په انتظار کي احتکار کوي او بل څوک د وچکالۍ واقع کېدلو په انتظار کي احتکار کوي، نو په داسي دوو کسانو کي د ګناه په اعتبار سره هم تفاوت دی؛ ځکه ښکاره خبره ده کوم څوک چي د وچکالۍ انتظار کوي چي پر اُمت به کله وچکالي راسي، د هغه ګناه تر داسي کس ډېره زياته ده کوم چي فقط د ګرانۍ په انتظار ناست وي؛ ځکه د وچکالۍ منتظر خو ګواکي د خلکو مرګ او قتل ته آماده دی، او د نفس قتل د مال له قتل څخه غټه ګناه ده (په بله وينا دا چي د نفس اخيستل د مال له اخيستو څخه لويه ګناه ده).

وقيل إلخ: فرمايي د مودت په هکله يو قول دا دی چي مودت صرف د دنياوي سزا لپاره دی. يعني که په اسلامي هيواد کي څوک احتکار کوي، نو امام او قاضي به د احتکار مودت ته ګوري او د هغه مطابق به سزا ورکوي، کنې ګناه خو په هر حال کي پر هغه سته، مودت برابره ده کم وي او که زيات وي. لهذا غوره همدا ده چي انسان له غلې څخه بغير د يو بل شي تجارت وکړي؛ ځکه په دې کي عموماً نيت خرابيږي او د احتکار پلان ته زړه مائله کيږي.

يادونه: احتکار هغه وخت مکروه دی کله چي د عامو خلکو لپاره مضر وي. او د غلې تجارت هغه وخت ښه او محمود نه دی کله چي په دې سره د تاجر نيت د احتکار وي، کنې دا ښه او محمود دی؛ ځکه چي کسب کونکی د الله جل جلاله دوست دی. (سکب الانهر ج: ۲، ص: ۴۷۸)

د خپل جايداد غله ذخيره کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنِ احْتَكَرَ غَلَّةَ ضَيْعَتِهِ فرمايي: او څوک چي د خپل ځمکي غله [پيداوار] ذخيره کړي أَوْ مَا جَلَبَهُ مِنْ بَلَدٍ آخَرَ يا هغه غله ذخيره کړي کوم چي يې له بل ښاره راوړې وي فَلَيْسَ بِمُحْتَكِرٍ نو هغه احتکار کونکی نه دی أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّهِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ حَقُّ الْعَامَّةِ کوم چي اول [يعني د خپل ځمکي غله ذخيره کول] دي نو ځکه چي هغه خالص د ده خپل حق دی چي د هغه سره د عوامو

حق متعلق نه دی أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ أَنْ لَا يَزْرَعَ آيا ته نه ګورې چې هغه ته دا اختيار سته چې خپله غله ونه کرې فَكَذٰلِكَ لَهُ أَنْ لَا يَبِيْعَ نو همداسې به دا اختيار هم ورته وي چې خرڅه يې نه کړي وَأَمَّا الثَّانِيْ فَالْمَذْكُوْرُ قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او کوم چې دويم [يعني له بل ښاره راوړل سوې غله ذخيره کول] دې نو دا ذکر سوی حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ حَقَّ الْعَامَّةِ إِنَّمَا يَتَعَلَّقُ بِمَا جُمِعَ فِي الْمِصْرِ وَجُلِبَ إِلَىٰ فِنَائِهَا ځکه د عوامو حق د هغه غلې سره متعلق دی کوم چې په ښار کې جمع کړل سي. او د ښار اطرافو ته راوړل سي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ: يُكْرَهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا هم مکروه دي لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا زموږ د روايت کړه حديث د مطلقوالي په وجه وَقَالَ مُحَمَّدٌ: كُلُّ مَا يُجْلَبُ مِنْهُ إِلَى الْمِصْرِ فِي الْغَالِبِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: هر هغه ځاى چې له هغه ځخه غالباً [عموماً] ښار ته غله راوړل کيږي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ فِنَاءِ الْمِصْرِ نو هغه د ښار د اطرافو په درجه کې دی يَحْرُمُ الْاِحْتِكَارُ فِيْهِ [نو] په هغه غله کې احتکار کول مکروه دي [کوم چې له داسې ځای ځخه راوړل سوې وي] لِتَعَلُّقِ حَقِّ الْعَامَّةِ بِهِ ځکه چې د هغه غلې سره د عوامو حق متعلق دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْبَلَدُ بَعِيْدًا لَمْ تَجْرِ الْعَادَةُ بِالْحَمْلِ مِنْهُ إِلَى الْمِصْرِ په خلاف د هغه صورت کله چې ښار ګوټی ليرې وي چې له هغه ځخه وښار ته د غلې راوړلو عادت [رواج] جاري نه وي لِأَنَّهُ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ حَقُّ الْعَامَّةِ ځکه چې د هغه سره د عوامو حق متعلق نه دی.

اللغات: ﴿الضيعة﴾ پيداوار والا ځمکه. غله داره ځمکه. ﴿جلب﴾ د نصر د باب ماضي ده: له بل ځايه راوړل. ﴿فِنَاء﴾ (بكسر الفاء): د کور اطرافو والا خالي ځمکه او خالي ميدان. يعني د کور په اطرافو کې چې کومې خالي ځمکې وي په اصل کې فِنَاء هغه ته وايي. دلته د ښار اطرف ځنې مراد دي. او فَنَاء (بفتح الفاء): پنا کېدلو او هلاکېدلو ته وايي.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې کله د احتکار مکروه کېدلو وجه د عوامُ النّاس ضرر دی. نو که څوک د خپلې ځمکې غله يا د يو بل ښار ځخه راوړل سوې غله راوګرځوي (ذخيره يې کړي). نو دا صورتونه له کراهت ځخه خالي دي: ځکه په دې دواړو صورتونو کې د ذخيره کړل سوي غلې سره د عوامو حق

متعلق نه دی، او بل دا چي څرنګه سړي ته دا حق سته چي خپله غله نه وکري، نو همداسي به ده ته دا اختيار هم وي چي هغه خرڅه نه کړي.

خو دا دويم صورت چي له بل ښار څخه د راوړل سوې غلې احتکار کول په دې باره کي مذکوره قول صرف د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی؛ ځکه د هغه په نېز د هغه غلې سره د عوامو حق متعلق کيږي کوم چي په ښار کي جمع کول کيږي او هلته خرڅول کيږي که په هغه کي څوک احتکار وکړي، نو دا مکروه دي، لېکن که له يو بل عليحده ښار څخه راوړل سي او ذخير کړل سي نو مکروه نه دي (او صاحب د احسن الهدايې رَحِمَهُ الله د دغه عبارت "بما جمع في المصر وجلب إلى فنائها" تشريح داسي کړې ده چي: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه غلې سره د خلکو حق متعلق کيږي کوم چي له يو خاص ښار څخه رانيول سي او د هغه په فنا کي ذخيره کړل سي. والله اعلم).

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي څرنګه په حديث کي مطلقاً "الْمُحْتَكِرُ مَلْعُوْنٌ" ويل سوي دي، نو ځکه دا احتکار مذکوره (دويم) صورت هم مکروه دی.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي که له يو داسي ځايه غله راوړي او ذخيره يې کړي چي په عامه توګه له هغه ځايه دغه ښار ته غله راځي، نو هغه د ښار د فناء په حکم کي دی، لهذا دا صورت مکروه دی. لېکن که د يو بل ليري ښار څخه غله راوړي او ذخيره يې کړي چي عموماً له هغه ښاره د دې ښار خلک غله نه راوړي، نو دا صورت مکروه نه دی؛ ځکه په دې صورت کي د ذخيره کړل سوي غلې سره د عوامو حق متعلق نه دی. (احسن الهدايه)

د باچا له طرفه د ريټ او نرخ د ټاکل کېدلو حکم

قَالَ: وَلَا يَنْبَغِيْ لِلسُّلْطَانِ أَنْ يُسَعِّرَعَلَى النَّاسِ فرمايي: او باچا ته پکار نه دي چي پر خلکو نرخ وټاکي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ. ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي «لَا تُسَعِّرُوا [1] فَإِنَّ اللهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِقُ» تاسي نرخ مه ټاکئ ځکه الله تعالیٰ نرخ ټاکونکی، قبضه کونکی، پراخي راوستونکی او روزي رسونکی دی وَلِأَنَّ الثَّمَنَ حَقُّ الْعَاقِدِ او ځکه چي ثمن د عقد کونکي حق دی فَإِلَيْهِ تَقْدِيْرُهُ نو د ثمن اندازه کول [ټاکل] به وهمده ته [حواله] وي فَلَا يَنْبَغِيْ لِلْإِمَامِ أَنْ يَتَعَرَّضَ لِحَقِّهِ نو ځکه باچا ته پکار نه دي چي د ده په حق کي داخل اندازي وکړي إِلَّا إِذَا تَعَلَّقَ بِهِ دَفْعُ ضَرَرِ

الْعَامَةِ مګر دا چي کله چي د دې [نرخ ټاکلو] سره له عوامو څخه د ضرر دفع کول متعلق وي عَلىٰ مَا نُبَيِّنُ چي دا به [څه وروسته] موږ بيان کړو وَإِذَا رُفِعَ إِلَى الْقَاضِيْ هٰذَا الْأَمْرُ او کله چي قاضي ته دا معامله پېش کړل سي [يعني قاضي ته دا شکايت ورسيږي چي فلانی کس احتکار کوي] يَأْمُرُ الْمُحْتَكِرَ بِبَيْعِ مَا فَضَلَ عَنْ قُوْتِهِ وَقُوْتِ أَهْلِهِ نو قاضي به هغه احتکار کونکی کس امر کوي په خرڅولو سره د هغه [ټوله] غلې کوم چي د ده او د ده د کورنی له خوراکې څخه اضافه سي عَلىٰ اِعْتِبَارِ السَّعَةِ فِيْ ذٰلِكَ په دې باره کي د ګنجايش کېدلو په اعتبار سره [يعني څه چي د ځان او کورنی لپاره غله او خوراکه راګرځول او ذخيره کول ګنجايش لري] وَيَنْهَاهُ عَنِ الْاِحْتِكَارِ او هغه به له احتکار څخه منع کوي فَإِنْ رُفِعَ إِلَيْهِ مَرَّةً أُخْرىٰ او که قاضي ته بيا دا معامله پېش کړل سي حَبَسَهُ نو قاضي به هغه احتکار کونکي کس بندي کوي وَعَزَّرَهُ عَلىٰ مَا يَرىٰ او هغه ته به سزا ورکوي څومره [او کومه] سزا چي قاضي مناسب وګڼي زَجْرًا لَهُ هغه ته د تنبيه ورکولو [او د هغه د منع کولو] لپاره وَدَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنِ النَّاسِ او له خلکو څخه د ضرر دفع کولو لپاره.

اللغات: ﴿يسعر﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: نرخ ټاکل (نرخ ايښودل)، ربېټ متعينول. ﴿القابض﴾ د الله ﷻ له نومونو څخه يو نوم دی: په خپل قبضه کي نيونکی. برلاسی. ﴿باسط﴾ دا هم د الله ﷻ له نومونو څخه يو نوم دی: پراخونکی او پراخي راوستونکی. ﴿تقدير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ټاکل. مقرر کول. اندازه کول. ﴿عزر﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: سزا ورکول. رټل او غندل. ﴿زجرًا﴾ د نصر د باب مصدر دی: تنبيه ورکول. له بدی څخه منع کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د وخت باچا او واکمن لره مناسب نه دي چي د شيانو لپاره يو ولاړ او دربدلی نرخ متعين کړي؛ ځکه په حديث کي له دې څخه منع سوې ده چي هر شی د الله ﷻ په تصرف کي دی. له خپل ځانه په هغه کي کمي بيشي کول مناسب نه دي. او بل دا چي ثمن د عاقد حق دی. لهذا د هغه ټوله ذمه واری به هم د عاقد پر ذمه وي، باچا يا بل کس لره به په هغه کي د دخل اندازي کولو اختيار نه وي. خو که عاقد زيات ثمن متعين کړي او په ګران قيمت سره خپل شيان خرڅوي. نو څرنګه چي په دې کي د عوامو ضرر دی. نو ځکه د ضرر دفع کولو لپاره دي باچا په

هغه کې دخل اندازي وکړي او د شیانو لپاره دې یو متعین رېټ مقرر کړي. د دې لپاره چې عوام له ضرر او نقصانه خوندي کړل سي.

إذا رفع إلخ: د دې حاصل دا دی که یو څوک احتکار کوي او خلک قاضي ته ولاړ سي او د هغه شکایت وکړي، نو د قاضي ذمه واري دا ده چې اول هغه کس په مینه او نرمي سره پوه کړي او هغه ته حکم وکړي چې د خپل ځان او کورنۍ لپاره د غذا او خوراکې له راګرځولو څخه وروسته نور پاته غله خرڅه کړي او د آینده لپاره له احتکار څخه منع سي. لېکن که بیا هم هغه منع نه سي او قاضي ته بیا د هغه شکایت ورسیږي، نو اوس دې قاضي هغه بندي کړي او د خپل رایې مطابق دې مناسبه سزا ورکړي. د دې لپاره چې دا قید او تعزیر د دغه کس لپاره زجر او تنبیه سي چې هغه منع سي او خلک له ضرر او نقصانه هم وساتل سي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

فَإِنْ كَانَ أَرْبَابُ الطَّعَامِ يَتَحَكَّمُونَ وَيَتَعَدَّوْنَ عَنِ الْقِيمَةِ تَعَدِّيًا فَاحِشًا بیا که چیري د غلې مالکان [غله فروشان] تحکّم کوي او له قیمت څخه ډېر زیات تېری کوي وَعَجَزَ الْقَاضِيْ عَنْ صِيَانَةِ حُقُوقِ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا بِالتَّسْعِيرِ او قاضي د مسلمانانو د حقونو له حفاظت څخه عاجزه سي مګر په نرخ ټاکلو سره[چې صرف په نرخ ټاکلو سره د هغوی د حقوقو حفاظت کیږي] فَحِينَئِذٍ لَا بَأْسَ بِهِ بِمَشُورَةٍ مِنْ أَهْلِ الرَّأْيِ وَالْبَصِيرَةِ نو په دې وخت کي څه حرج نسته په نرخ ټاکولو کي د رایې او بصیرت والا خلکو په مشوره سره فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ وَتَعَدّٰى رَجُلٌ عَنْ ذٰلِكَ وَبَاعَ بِأَكْثَرَ مِنْهُ بیا کله چې قاضي داسي وکړي او یو سړی له دې څخه تېری وکړي او تر هغه [ټاکل سوي نرخ] په زیات قیمت خرڅول وکړي أَجَازَهُ الْقَاضِيْ نو قاضي به د هغه بیع جائز ګرځوي [یعني ماتوي به یې نه] وَهٰذَا ظَاهِرٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خو دا ښکاره ده لِأَنَّهُ لَا يَرَى الْحَجْرَ عَلَى الْحُرِّ ځکه هغه پر آزاد کس بندیز [او منع] کول جائز نه ګڼي وَكَذَا عِنْدَهُمَا او همداسي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز [هم ښکاره ده] إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ الْحَجْرُ عَلٰى قَوْمٍ بِأَعْيَانِهِمْ مګر دا چې بندیز پر مُعیّن قوم وي وَمَنْ بَاعَ مِنْهُمْ بِمَا قَدَّرَهُ الْإِمَامُ او له دوی [غله فروشانو] څخه چې کوم یو د امام پر ټاکل سوي نرخ خرڅول وکړي صَحَّ نو صحیح دي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُكْرَهٍ عَلَى الْبَيْعِ ځکه هغه پر بیع مجبور کړی سوی نه دی هَلْ يَبِيْعُ الْقَاضِيْ عَلٰى

الْمُحْتَكِرِ طَعَامَهُ مِنْ غَيْرِ رِضَاهُ [او] آیا قاضي د احتکار کونکي له رضا څخه بغیر د هغه غله خرڅولای سي قِيْلَ: هُوَ عَلَى الاِخْتِلَافِ الَّذِيْ عُرِفَ فِيْ بَيْعِ مَالِ الْمَدْيُوْنِ [نو په دې اړه] ویل سوي دي: چي دا پر هاغه اختلاف دي کوم چي د مقروض کس د مال د بیع په هکله پېژندل سوی دی وَقِيْلَ: يَبِيْعُ بِالاِتِّفَاقِ او ویل سوي دي: چي بالاتفاق به یې خرڅوي لِأَنَّ أَبَا حَنِيْفَةَ يَرَى الْحَجْرَ لِدَفْعِ ضَرَرٍ عَامٍّ ځکه چي امام صاحب رَحِمَهُ الله د عام ضرر دفع کولو لپاره بندیز روا ګڼي وَهٰذَا كَذٰلِكَ او دا همداسي ده.

اللغات: ﴿أرباب﴾ جمع د رَبٌّ ده، دا لفظ بغیر له اضافته خو صرف د الله ﷻ لپاره خاص دی خو په اضافت سره یې پر بل چا هم اطلاق کیږي لکه دلته چي طعام ته مضاف سوی دی، د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه یې یوه معنیٰ ده: مالک، خاوند. ﴿تعدّیا فاحشا﴾ ډېر زیات تجاوز (تېری)، مطلب یې دا دی چي په دوچنده قیمت سره یې خرڅوي. ﴿الحَجر﴾ د نصر د باب مصدر دی: منع کول، ممانعت، بندیز لګول.

تشریح: **مسئله**: دا ده که غله فروشان تجاوز کوي او ډېر زیات قیمت اخلي (مثلاً د ۵۰۰ پر غلې ۱۰۰۰ غواړي) او حالت دومره کړکېچن وي چي له نرخ ټاکلو څخه بغیر په بله توګه قاضي د مسلمانانو د حقوقو حفاظت نه سي کولای، نو اوس هغه ته پکار دي چي په دې اړه د ماهرینو او پوهانو سره مشوره وکړي او د شیانو لپاره یو معلوم نرخ او رېټ متعیّن کړي.

او که د نرخ تر متعیّنولو وروسته بیا هم یو کس زیات قیمت اخلي یعني په زیات قیمت خرڅول کوي (کوم چي مجهول کس وي او قاضي ته معلوم نه وي)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قاضي دي د هغه بیع فسخ او ماته نه ګرځوي بلکي هغه دي صحیح ګرځوي، په داسي کولو کي څه حرج نسته، ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله پر آزاد کس د بندیز لګولو او جبر کولو قائل نه دی، او همدا حکم دلته د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم دی، ځکه صاحبین رَحِمَهُمَا الله خو پر معلوم کس او معلوم جماعت باندي بندیز لګول جائز ګڼي، او دلته هغه زیات قیمت اخیستونکی کس مجهول دی، نو ځکه د هغه په هکله به حجر نه کیږي.

ومن باع إلخ: فرمایي کوم څوک چي د امام او قاضي پر ټاکل سوي رېټ خرڅول کوي، دا هم صحیح ده، ځکه چي هغه په دغه رېټ سره پابند او مکلف ګرځول سوی دی، پر بیع نه دی مجبوره کړی سوی، لهذا د هغه بیع صحیح ده.

وهل يبيع إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي که يو کس غله ذخيره کړي وي او د ځان سره يې راګرځولې وي، آيا اوس قاضي د هغه له اجازت نه بغير دا غله خرڅولای سي.

فرمايي په دې هکله دوه قولونه دي: (۱) څرنګه چي د مقروض (پور وړي) د مال په هکله د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی، همداسي دلته هم د دې حضراتو اختلاف دی. يعني که يو څوک مقروض وي قرضونه پرې باندي وي او د هغه سره دومره مال (سامان) وي چي د خلکو (قرضخواهانو) قرضونه په اداء کېدلای سي، لېکن بيا يې هم هغه نه اداء کوي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قاضي په جبر او زور سره د هغه مال نه سي خرڅولای، خو صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که د مقروض سره مال وي او بيا يې هم هغه نه خرڅوي او قرض نه اداء کوي، نو قاضي هغه خرڅولای سي: ځکه کله چي د مال باوجود هم هغه قرض نه اداء کوي نو ګواکي قرضخواهانو ته ضرر رسوي. لهذا د هغه مال به خرڅول کيږي او د قرضخواهانو قرضونه به په اداء کول کيږي.

(۲) دويم قول دا دی چي دلته بالاتفاق قاضي لره جائز دي چي د دغه محتکر مال خرڅ کړي: ځکه هغه عوامو ته ضرر او تاوان رسوي، او د ضرر عام ليري کولو په وخت کي امام صاحب هم د حجر او بنديز قائل دی، نو ځکه د محتکر له خوښې او اجازت څخه بغير به د هغه مال خرڅول جائز وي. (احسن الهدايه)

يادونه (۱): بغير له ضرور ته نرخ او رېټ ټاکل مکروه دي. (شامي ج: ۵. ص: ۲۵۶)

يادونه (۲): د ظلم و زياتوب په وخت کي پر قاضي نرخ ټاکل واجب دي. (پورتنی حواله)

د فتنې او بغاوت په ورځو کي د وسلې (اسلحې) خرڅولو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ بَيْعُ السِّلَاحِ فِي أَيَّامِ الْفِتْنَةِ فرمايي: او د فتنې په ورځو کي وسله خرڅول مکروه دي مَعْنَاهُ مِمَّنْ يُعْرَفُ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ د دې مطلب دا دی چي پر داسي کس اخرڅول مکروه دي ا چي د هغه په هکله دا معلومه وي چي له فتنه ګرو څخه دی لِأَنَّهُ تَسْبِيبٌ إِلَى الْمَعْصِيَةِ ځکه چي دا د معصيت سبب جوړېدل دي [يعني پر فتنه ګرو وسله خرڅول معصيت او فتنې ته لاره هوارول او د هغه سبب ګرځېدل دي] وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي السِّيَرِ او په کتاب السير کي مونږ د دې بيان کړی دی وَإِنْ كَانَ لَا يُعْرَفُ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ او که دا معلومه نه وي چي هغه له فتنه ګرو څخه دی لَا بَأْسَ بِذَٰلِكَ نو بيا په دې کي څه حرج نسته لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنْ لَا يَسْتَعْمِلَهُ فِي الْفِتْنَةِ ځکه [په دې صورت کي] دا احتمال سته چي هغه

به يې په فتنه کې استعمال نه کړي فَلَا يُكْرَهُ بِالشَّكِّ نو [صرف] د شک په وجه به هغه نه مکروه کيږي قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِبَيْعِ الْعَصِيرِ مِمَّنْ يُعْلَمُ أَنَّهُ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا او د انګور د رَسْ [اوبو] په خرڅولو کې څه پروا نشته پر داسې کس چې د هغه په هکله دا معلومه وي چې شراب ځنې جوړوي لِأَنَّ الْمَعْصِيَةَ لَا تُقَامُ بِعَيْنِهِ بَلْ بَعْدَ تَغْيِيرِهِ ځکه چې معصيت په عين رَسْ [اوبو] سره نه قايميږي بلکې د هغه تر متغير کېدو وروسته قايميږي بِخِلَافِ بَيْعِ السِّلَاحِ فِي أَيَّامِ الْفِتْنَةِ په خلاف د فتنې په ورځو کې د وسلې خرڅولو لِأَنَّ الْمَعْصِيَةَ تَقُومُ بِعَيْنِهِ ځکه چې معصيت په عين وسله سره قايميږي.

اللغات: ﴿تسبيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سبب جوړول، سبب جوړېدل (سبب ګرځېدل)، ﴿معصية﴾ ګناه، نافرماني، ﴿عصير﴾ د انګورو نچوړل سوي اوبه، چې هغه ته د انګورو رسْ، د انګورو ځوښا (شېره) هم وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله د يو عادل امام او باچا په خلاف ځيني بد انجامه خلک په ناحقه بغاوت او سرکښي وکړي او فتنه وفساد جوړ کړي، نو په دې وخت کې پر داسې کس کوم چې له دې باغيانو څخه وي وسله خرڅول مکروه دي؛ ځکه په دې وخت کې پر هغه خرڅول اعانت على المعصية دی او د ګناه سبب جوړېدل دي او الله تعالىٰ له "تعاون على الإثم" څخه منع کړې ده، فرمايي ﴿وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾، صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله وايي چې په مورد په كِتَابُ السِّيَر کې په دې هلکه پوره بحث کړی دی.

خو که معلومه سي چې رانيونکی کس (مشتري) له باغيانو او فتنه ګرو څخه نه دی، نو بيا پر هغه وسله خرڅول څه پروا نه لري؛ ځکه کېدای سي چې هغه دا په بغاوت کې استعمال نه کړي، لهذا محض د شک پر بنياد دا بيع نه مکروه کيږي.

دويمه مسئله دا ده چې که د يو سړي په هکله دا يقيني معلومه وي چې هغه شراب جوړوي او خرڅوي يا يې خپله چيښي، که پر داسې سړي د انګورو اوبه او شېره خرڅه کړل سي، نو په دې کې هم څه حرج او پروا نشته؛ ځکه د انګورو له اوبو څخه سمدستي (براه راست) شراب نه جوړيږي، بلکې هغه ګرسول کيږي، وچول کيږي مطلب دا چې له څو پړاوونو څخه تيريږي بيا شراب ځنې جوړيږي، لهذا کله چې دلته معصيت خاص د انګورو په اوبو (عين عصير) سره نه قايميږي، نو ځکه دا به په تعاون على الإثم کې داخل نه وي او بيع به يې صحيح وي.

او وسله داسي نه ده؛ ځکه د فتنې او فساد په زمانه کې خاص په همدې وسله (عینِ وسله) سره معصیت قایمیږي چې همدا وسله د وژلو، زخمي کولو او وحشت خپرولو آله ده. نو ځکه په داسي وخت کي پر فتنه ګر او باغي کس وسله خرخول مکروه دي.

داسي خلکو ته کور په کرایه ورکول چې هغوی یو غیرِ شرعي کار پکښې کوي (حکم او تفصیل)

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کي] فرمایي وَمَنْ آجَرَ بَيْتًا لِيُتَّخَذَ فِيهِ بَيْتُ نَارٍ أَوْ كَنِيسَةٌ أَوْ بِيْعَةٌ او څوک چي کور په کرایه ورکړي د دې لپاره چي په هغه کي [د مجوسیانو] اُور خانه جوړه کړل سي یا [د یهودو] کلیسا یا [یا د عیسایانو کلیسا] ګرجا أَوْ يُبَاعُ فِيهِ الْخَمْرُ یا [د دې لپاره چي] په هغه کي شراب خرخول کیږي بِالسَّوَادِ په کلي [صحرایي سیمه او علاقه] کي [یعني دا کور له ښاره بهر په صحرایي علاقه کي وي] فَلَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي څه پروا نسته وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دی وَقَالَا: ۞ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُكْرِيَهُ لِشَيْءٍ مِنْ ذٰلِكَ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي له دغو څخه د یوه شي لپاره هم کور په کرایه ورکول جائز نه دي لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ عَلَى الْمَعْصِيَةِ ځکه چي دا پر ګناه مدد ورسره کول دي وَلَهُ: أَنَّ الْإِجَارَةَ تَرِدُ عَلَى مَنْفَعَةِ الْبَيْتِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي اجاره د کور پر منفعت واردیږي وَلِهٰذَا تَجِبُ الْأُجْرَةُ بِمُجَرَّدِ التَّسْلِيمِ په همدې وجه محض [د کور] په ورسپارلو سره کرایه واجبیږي وَلَا مَعْصِيَةَ فِيهِ او خپله په اجاره کي هیڅ معصیت نسته وَإِنَّمَا الْمَعْصِيَةُ بِفِعْلِ الْمُسْتَأْجِرِ ځکه معصیت خو د هغه کس په فعل کي دی کوم چي په کرایه نیونکی دی [یعني کوم چي د کلیسا یا د شراب وغیره جوړولو په نیت کور او ځای په کرایه نیسي. معصیت خو د هغه په دې کړنه کي دی] وَهُوَ مُخْتَارٌ فِيهِ او هغه په دې [یعني د معصیت کولو یا نه کولو په] باره کي اختیارمن دی فَقُطِعَ نِسْبَتُهُ عَنْهُ نو د فعل [معصیت] نسبت له هغه [په کرایه ورکونکي او اجارې] څخه ختم سو وَإِنَّمَا قَيَّدَهُ بِالسَّوَادِ او دا صورت یې ځکه په کلي [صحرایي علاقه] سره مقید کړی

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، لأن قولهما معمول عليه، و (أيضاً) قولهما مبني على الاحتياط. ومنع هذه الإجارة مظنة التهمة. قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري رَحِمَهُ الله: ولو آجر نفسه من ذمي ليعصر له فيتخذ خمراً يكره... (خلاصه ج:۴، ص:۳۴۶). وقال العلامة الشبلي رَحِمَهُ الله في الحاشية: قال فخر الإسلام: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله قياس، وقولهما استحسان وهكذا في رد المحتار (ج:۵، ص:۲۷۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۰۶]

دی لِأَنَّهُمْ لَا يُمَكَّنُوْنَ مِنْ اتِّخَاذِ الْبِيَعِ وَالْكَنَائِسِ وَإِظْهَارِ بَيْعِ الْخُمُوْرِ وَالْخَنَازِيْرِ فِي الْأَمْصَارِ ځکه په ښارو کي کفارو ته قدرت نه ورکول کيږي [يا قادر نه دي] د ګرجاوو او کليساوو د جوړولو او د شرابو او خنزيرانو د خرڅولو لِظُهُوْرِ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ فِيْهَا ځکه چي په ښارو کي اسلام ښکاره [غالب] وي بِخِلَافِ السَّوَادِ په خلاف د کلي [صحرايي علاقې] قَالُوْا: هٰذَا كَانَ فِي سَوَادِ الْكُوْفَةِ مشايخو رَحِمَهُمُ الله فرمايلي دي: دا [حکم] صرف د کوفې د کلو [صحرايي سيمو] په هکله وو لِأَنَّ غَالِبَ أَهْلِهَا أَهْلُ الذِّمَّةِ ځکه چي د هغه زياتره اوسېدونکي ذميان وه أَمَّا فِي سَوَادِنَا فَأَعْلَامُ الْإِسْلَامِ فِيهَا ظَاهِرَةٌ پاته سوه زموږ کلي نو په هغوی کي د اسلام نښي [شعائر] ښکاره دي فَلَا يُمَكَّنُوْنَ فِيْهَا أَيْضًا نو ځکه په هغوی کي به هم کفارو (ذميانو) ته قدرت نه ورکول کيږي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿كَنِيْسَة﴾ د يهوديانو کليسا (عبادت خانه)، او ځيني وخت يې د عيسايانو پر کليسا هم اطلاق کيږي. ﴿بِيْعَة﴾ ګرجا، د عيسايانو (نصاراوو) کليسا، د کافرانو عبادت خانه. ﴿سواد﴾ د ښار اطراف، د صحرا کلي او صحرايي علاقه کوم چي د ښار په اطرافو کي وي.

تشريح: صورتِ د مسئلې: دا دی چي د ښار په اطرافو کي يا په بله وينا دا چي له ښاره بهر په صحرايي علاقه کي که مسلمان کس يو مجوسي ته خپل کور په کرايه ورکړي چي په هغه کي خپل د عبادت لپاره اُورخانه جوړه کړي. يا يهودي ته يې ورکړي چي خپل کليسا پکښې جوړه کړي. يا عيسايانو (نصارىٰ وو) ته يې ورکړي چي خپل کليسا (ګرجا) پکښې جوړه کړي. يا يو سړي ته يې ورکړي چي هغه خپل شراب خانه پکښې جوړه کړي (او دا ټوله په صحرا يعني په داسي علاقه او کلي کي وي کوم چي له ښاره بهر وي). نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دې کي څه حرج نسته. خو صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي دا اعانت على المعصية دی او په قرآن کي له تعاون على الإثم څخه منع سوې ده. نو ځکه د مذکوره يوه شي لپاره هم کور په کرايه ورکول جائز نه دي.

له أن الإجارة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د اجارې مقصد د کور منفعت او فايده ده؛ ځکه محض په کرايه ورکولو سره د کور نفع او کرايه شروع کيږي. برابره ده څوک پکښې اوسيږي، که نه. لهذا په نفسِ اجاره کي څه معصيت نسته. نو دا به جائز وي. معصيت خو د هغه خلکو په افعالو کي وي کوم چي کور په کرايه نيسي، او هغه خلک خود مختاره دي برابره ده معصيت کوي، که يې نه کوي. نو د يو چا فعل د بل چا (مُؤجر او اجارې) وطرف ته منسوب کول او هغه باطل ګرځول

صحيح نه دي (په بله وينا دا چي مستأجر خپله فاعل مختار دی. نو کوم څه چي د فاعل مختار اثر دی. د هغه نسبت د بل چا وطرف ته نه کيږي لکه څرنګه چي همدا أصول دی).

يادونه: خو په دغه دليل کي دا شبهه سته چي پر باغي کس د وسلې خرڅولو په مسئله او په دې مسئله کي هيڅ فرق نسته، ځکه د معصيت قايمېدل چي څرنګه د وسلې په بيع کي سته. همداسي دلته هم سته، فتدبّر.

وإنما قيده بالسواد إلخ: فرمايي د سَواد يعني د صحراء د کلي او علاقې د قيد لګولو وجه دا ده چي په ښارونو کي اسلام او د اسلامي شعائرو رواج او غلبه وي او د ښار په هر ګوټ کي د اسلامي شعائرو آوازه پورته وي، نو ځکه په ښارونو کي د کفري شعائرو اجازت نسته. خو په صحرايي کلو او علاقو کي د اسلامي شعائرو غلبه کمه وي، نو ځکه هلته مشرکين وغيره په آساني سره خپل عبادت خانه، شراب خانه وغيره جوړولای سي. (او زموږ په اوسني وخت کي خو معامله د دې برعکس ده چي په ښار کي خود کفري شعائرو بازار ګرم وي لېکن په صحرايي علاقو کي د بازار په نسبت د اسلام او اسلامي شعائرو زياته پابندي کيږي).

خو مشايخو د دې غوره وضاحت کړی دی، هغوی فرمايي چي د سَواد قيد صرف د کوفې ښار په حق کي وو، چي د هغه وخت د کوفې د ښار په صحرايي علاقو کي اکثره اوسېدونکي ذميان وه، لېکن د کوفې څخه بغير په نورو ښارو کي په دې هکله ښار او صحرايي علاقې ټوله سره برابره دي، نو ځکه د ښارو په څېر په صحرايي علاقو کي هم د دې اجازت نسته، همدا غوره او مختاره قول دی او همدا شمس الائمه او داسي نورو اختيار کړی دی.

د ذمي شراب په أجرت له يوه ځای څخه بل ځای ته وړل

قَالَ: وَمَنْ حَمَلَ لِذِمِّيٍّ خَمْرًا فرمايي: او څوک چي [په أجرت] د ذمي لپاره شراب يوسي فَإِنَّهُ يَطِيبُ لَهُ الْأَجْرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه لپاره أجرت [اخيستل] حلال دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُكْرَهُ لَهُ ذَٰلِكَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د هغه لپاره دا مکروه دي لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ عَلَى الْمَعْصِيَةِ ځکه دا پر معصيت مدد ورسره کول دي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] لَعَنَ فِي الْخَمْرِ عَشْرًا او په صحيح روايت سره ثابت دي چي نبي کريم ﷺ د شرابو په هکله پر لسو کسانو لعنت کړی دی حَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَ إِلَيْهِ [چي يو له هغوی څخه] د شرابو وړونکی

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الأشربة، باب في ... الخمر، الحديث رقم: ٣٦٧٤.

[دی] او [بل] چا ته چي شراب وروړل کيږي لَهُ: أَنَّ الْمَعْصِيَةَ فِي شُرْبِهَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي معصيت د شرابو په څښلو [خوړلو] کي دی وَهُوَ فِعْلُ فَاعِلٍ مُخْتَارٍ او دا [څښل د شرابو] د اختيارمن فاعل فعل دی [يعني هغه د شرابو څښلو په هکله خود مختاره دی] وَلَيْسَ الشُّرْبُ مِنْ ضَرُورَاتِ الْحَمْلِ او د شرابو څښل د وړلو د لوازماتو څخه نه دي [يعني د شرابو له وړلو څخه دا نه لازميږي چي هغه به يې څښي هم] وَلَا يُقْصَدُ بِهِ او نه په وړلو سره هغه مراد ول کيږي [په بله وينا دا چي نه د وړنکي دا مقصد وي چي زه به يې هم څښم. بلکي د هغه مقصد أجرت وي] وَالْحَدِيثُ مَحْمُولٌ عَلَى الْحَمْلِ الْمَقْرُونِ بِقَصْدِ الْمَعْصِيَةِ او [مذکوره] حديث پر هغه وړلو حمل کړی سوی دی کوم چي د معصيت د ارادې سره متصل وي [يعني چي د څښلو وغيره په نيت سره شراب يووسي].

اللغات: ﴿حمل﴾ د ضرب ماضي ده: پورته کول او وړل، بارول. ﴿يطيب﴾ د ضرب مضارع ده: حلال کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز که مسلمان د يو ذمي کس شراب يووسي، نو دغه مسلمان ته له هغه ذمي څخه خپل أجرت او مزدوري اخيستل جائز دي، خو صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي دا اعانت على المعصيت دی او په حديث کي چي د شرابو په هکله کوم لس خلک ملعونين ګرځول سوي دي، له هغوی څخه يو د شرابو حامل (وړونکی) هم دی. لهذا د دې وجوهاتو پر بناء به د شرابو أجرت مکروه وي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي اصل اعتبار معصيت لره دی او معصيت د شرابو په څښلو کي دی، نه په وړلو کي، او څښل د فاعلِ مختار فعل دی. لهذا هغه د بل چا يعني د حامل وطرف ته نه سي منسوب کول کېدای. همدارنګه د حامل مقصد خپل أجرت دی، نه شراب څښل، لهذا د شرابو په أجرت کي به کراهت نه وي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د پېش کړده حديث جواب دا دی چي حامل هغه وخت په ملعونينو کي شامليږي چي د شراب څښلو په قصد حمالي وکړي. خو که هغه د أجرت تر لاسه کولو په خاطر حمالي کوي. نو په وعيد کي نه داخليږي.

د مکې مبارکې کورونه او ځمکې خرڅول یا په اجرت ورکول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِبَيْعِ بِنَاءِ بُيُوْتِ مَكَّةَ فرمايي: او پروا نشته د مکې مکرمې د کورو د بناء په خرڅولو کې وَيُكْرَهُ بَيْعُ أَرْضِهَا خو د مکې ځمکه خرڅول مکروه دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا ۞: لَا بَأْسَ بِبَيْعِ أَرْضِهَا أَيْضًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د مکې د ځمکې په خرڅولو کې هم پروا نشته وَهٰذَا رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه [هم] يو روايت دی لِأَنَّهَا مَمْلُوْكَةٌ لَهُمْ ځکه چې د مکې ځمکه د همدوی [اهلِ مکه] لپاره ده لِظُهُوْرِ الْاِخْتِصَاصِ الشَّرْعِيِّ بِهَا ځکه د مکې په ځمکه کې شرعي اختصاص [توارث] ښکاره دی [له شرعي اختصاص څخه مراد په ځمکه کې وراثت جاري کېدل (يو بل ته په ميراث کې پاتېدل) او په موارېثو کې تقسيمول دي] فَصَارَ كَالْبِنَاءِ نو [د مکې د ځمکې] بيع د بناء [د بيع] غوندې شوه وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د نبي کريم ﷺ دا فرمان دی أَلَا إِنَّ مَكَّةَ حَرَامٌ لَا تُبَاعُ رِبَاعُهَا وَلَا تُوْرَثُ خبردار! مکه مکرمه حرامه ده چې د هغې احاطه د ځمکې به نه خرڅول کېږي او نه به ميراث کېږي [يعني نه به په ميراث کې تقسيمول کېږي.

وَلِأَنَّهَا حُرَّةٌ مُحْتَرَمَةٌ او ځکه چې مکه يو محترمه ځمکه ده [حُرَّة هغه ځمکې ته وايي چې توري ښېرې پکښې وي او که حُرَّة (بضم الحاء) سي نو د حُرَّة يو معنیٰ ده آزاده او بله معنیٰ يې ده کريم (کثير الخير او غوره) لکه په حاشيه کې چې هم دا معنیٰ مذکوره ده. نو بيا د دې جملې ولأنها... معنیٰ ده: او ځکه چې د مکې ځمکه آزاده يې ډېره غوره) او محترمه ده] لِأَنَّهَا فِنَاءُ الْكَعْبَةِ ځکه چې د مکې ځمکه د کعبې فناء [اطراف] دي وَقَدْ ظَهَرَ أَثَرُ التَّعْظِيْمِ فِيْهَا او د مکې په ځمکه کې د تعظيم اثر ښکاره سوی دی حَتّٰى لَا يُنَفَّرَ صَيْدُهَا همدا وجه ده چې نه به د مکې ښکاره ترهول کېږي وَلَا يُخْتَلٰى خَلَاهَا او نه به يې وابنه رېبل کېږي وَلَا يُعْضَدُ شَوْكُهَا او نه به يې اغزي ماتول کېږي فَكَذَا فِيْ حَقِّ الْبَيْعِ نو همداسې به د بيع په حق کې هم [د تعظيم اثر ښکاره کېږي] بِخِلَافِ الْبِنَاءِ په خلاف د بناء [يعني د مکې په ځمکه کې جوړ سوی کور او ځای] لِأَنَّهُ خَالِصُ مِلْكِ الْبَانِيْ ځکه

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، قال العلامة ...
العيني وبه يفتى (مجمع الأنهر ج:۴، ص:۲۱۲) ...
نكير وهو من أقوى الحجج (تبيين الحقائق ج ...)

❶ تخريج: أخرجه دار قطني في ...

چي هغه خالص د جوړونکي کس ملکيت دی وَيُكْرَهُ إِجَارَتُهَا أَيْضًا او د مکې ځمکه په اجاره [په اُجرت او کرايه] ورکول هم مکروه دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❷: «مَنْ آجَرَ أَرْضَ مَكَّةَ فَكَأَنَّمَا أَكَلَ الرِّبَا» ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چي د مکې ځمکه په اجاره ورکړي نو ګواکي هغه سود وخوړی وَلِأَنَّ أَرَاضِيَ مَكَّةَ تُسَمَّى السَّوَائِبَ ❸ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ او ځکه چي د مکې ځمکي به د نبي ﷺ په زمانه کي په "سوائب" سره نومول کېدې مَنِ احْتَاجَ إِلَيْهَا سَكَنَهَا څوک چي به ورته محتاجه وو هغه به پکښي اوسېدی وَمَنِ اسْتَغْنَى عَنْهَا او څوک چي به ځني مستغني سو [يعني احتياج او ضرورت به يې ختم سو] أُسْكِنَ غَيْرُهُ نو بيا به هغه بل څوک [پکښي] اوسوی [يعني بيا به يې دا د مکې مبارکي ځمکه او ځای بل چا ته پرېښوودی].

لغات: ﴿بناء﴾ جوړ سوي شه. جوړ سوی ځای. ودانې. ﴿رِبَاع﴾ جمع د رَبْعٌ ده (لکه سِهَام چي جمع د سَهْمٌ ده) د رَبْعٌ څو معناوي دي: ① ديو قوم هغه ځای چي ورته راځي او پر او پکښي کوي. ② کور. ③ د کور شا خوا (ځمکي). او نوري معناوي يې هم نقل سوي دي (معجم الوسيط). ﴿حرّة﴾ د دې وضاحت په ترجمه کي وسو. ﴿محترمة﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث اسم مفعول صيغه ده: د احترام او درناوي وړ. داسي څه چي د هغه خيال ساتل پر انسان لازم وي. ﴿ينفر﴾ د تفعيل د باب د مضارع ده. تنفير: د دې باب يوه معنیٰ ده: ترهول او بېرول. تنګول. ﴿لا يُختلى﴾ د افتعال له بابه د نفي مجهول صيغه ده: د دې باب يوه معنیٰ ده: پرېکول. رېبل. ﴿خَلَاهَا﴾ الخَلَى: وابنه. وچ وي او که لانده (معجم الوسيط). ﴿سوائب﴾ جمع د سَائِبَةٌ ده. د دغه لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې دوې معناوي دا دي: ① داسي شی چي پر هغه د هيچا ولايت نه وي، همدارنګه هغه مال چي مالک خپل قبضه ځني ختمه کړي خو د بل چا په ملکيت کي يې هم ور نه کړي، ② او ابن فارس ويلي دي چي هغه څه ته هم وايي چي د هغه په باره کي نهي وارد سوي وي او له هغه څخه منع سوې وي. ﴿استغنى﴾ د استفعال د باب ماضي ده: مستغني کېدل. بې پروا کېدل (يو شي ته احتياج نه لرل).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د مکې د ښار بناء يعني د مکې په ځمکه کي جوړ سوي ځايونه (يعني کورونه، عمارتونه وغيره) بالاتفاق خرڅول کېدای سي. لېکن د مکې د ځمکو په هکله اختلاف دی. امام صاحب رَحِمَهُ الله د هغه بيع مکروه ګرځوي. او صاحبين رَحِمَهُمَا الله د بناء په څېر د هغه بيع هم جائز ګڼي او د امام صاحب رَحِمَهُ الله هم يو روايت داسي دی.

❷ تخريج: أخرجه دار قطني نحوه في كتاب البيوع، حديث رقم: ۲۹۶۶.
❸ تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب البيوع، حديث رقم: ۳۰۰۰.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د مکې خلګ چي څرنګه د بناء مالکان دي، همداسي د ځمکي يې هم مالک دي، او د بناء بيع دوی ته جائز ده، لهذا د ځمکي بيع به هم ورته جائز وي.

همدارنګه د مکې مبارکې په ځمکه کي اختصاص شرعي ثابت دی، له اختصاص شرعي څخه مراد وراثت جاري کېدل دي، او په وراثت کي هم د بيع په څېر ملکيت (ديوه کس له طرفه بل چا ته) منتقل کيږي.

لهذا کله چي اختصاص شرعي جائز دي. نو بيع به هم جائز وي. ځکه دواړه هَم معنیٰ (په يوه معنی) سره دي.

د امام صاحب دليل: هغه حديث دی کوم چي په عبارت کي ذکر سو چي په هغه کي د مکې حرمت او د مکې د ځمکي حرمت او په هغه کي د وراثت نه جارېدلو حکم بيان سوی دی.

عقلي دليل دا دی چي مکه د کعبې په فناء کي داخله ده او دا ښکاره خبره ده چي کعبه (بيت الله) قابل احترام او ممنوع البيع ده، لهذا مکه کوم چي د مکې په فناء کي داخله ده هغه هم قابلِ احترام ده او په هغه کي هم د کعبې د تعظيم اثر ښکاره سوی دی، همدا وجه ده چي څوک نه د مکې په ښکار پسې کېدلای سي او نه د هغه وابنه رېبلای سي تر دې چي ځوزان يې هم نه سي کښېلای. لهذا کله چي په دې ټولو شيانو کي د تعظيم اثر ښکاره دی. نو په بيع کي به يې هم تعظيم کيږي او د تعظيم په خاطر به د مکې د ځمکو خرڅول جائز نه وي.

بخلاف البناء إلخ: فرمايي چي د بناء مسئله د دې برعکس ده؛ ځکه بناء خالص د باني (جوړونکي) حق ده، نو ځکه د هغه خرڅول به جائز وي، او پاته سوه ځمکه پر هغه قياسول صحيح نه دي.

ويكره إجارتها إلخ: فرمايي د مکې مکرّمې ځمکه په اُجرت ورکول مکروه دي؛ ځکه په حديث کي له دې څخه منع سوې ده او داسي کس سود خور ګرځول سوی دی، او بل دا چي د نبي کريم ﷺ په زمانه کي د مکې ځمکو ته سَوَائِب ويل کېده، سَوَائِب جمع د سَائِبَةٌ ده، مراد يې داسي شی دی چي هيڅ مالک يې نه وي او هر څوک له هغه څخه نفع اخيستلای سي. همدا وجه ده چي د نبي ﷺ په زمانه کي هلته ضرورت مند خلګ اوسېدل او د چا ضرورت چي به ختم سو، هغه به نقل سو او د مکې ځای به يې بل ضرورت مند ته پرېښووی، معلومه سوه چي هغه په اجاره ورکول صحيح نه دي. (احسن الهدايه)

دوکاندار ته په قرض درهم وغيره ايښوول او بيا د خپلې خوښې مطابق شيان ځني وړل

وَمَنْ وَضَعَ دِرْهَمًا عِنْدَ بَقَّالٍ يَأْخُذُ مِنْهُ مَا شَاءَ او څوک چي ديو دوکاندار سره درهم کښېږدي [پر دې شرط] چي دئ به له هغه [دوکاندار] څخه اخلي هغه څه چي خوښه يې وي يُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ نو داسي کول د ده لپاره مکروه دي لِأَنَّهُ مَلَّكَهُ قَرْضًا جَرَّ بِهِ نَفْعًا ځکه چي ده هغه دوکاندار مالک جوړ کړی د

داسي قرض چي په هغه سره ده نفع حاصله کړه وَهُوَأَنْ يَأْخُذَ مِنْهُ مَا شَاءَ حَالًا فَحَالًا او نفع دا ده چي دئ له هغه شخه وقتاً فوقتاً څه چي يې خوښه وي هغه اخلي وَنَهَى رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا او نبي کريم ﷺ له داسي قرض شخه منع کړې ده کوم چي نفع را کش کړي وَيَنْبَغِي أَنْ يَسْتَوْدِعَهُ او پکار دا ده چي په وديعت [امانت] کي يې ورته کښيږدي ثُمَّ يَأْخُذَ مِنْهُ مَا شَاءَ جُزْءًا فَجُزْءًا بيا دي له هغه [دوکاندار] شخه څه چي يې خوښه وي لږ، لږ اخلي لِأَنَّهُ وَدِيْعَةٌ ځکه چي دا وديعت دی وَلَيْسَ بِقَرْضٍ او قرض نه دی حَتّٰی لَوْ هَلَكَ همدا وجه ده که درهم ضايع سي لَا شَيْءَ عَلَى الْآخِذِ نو پر اخيستونکي [دوکاندار] هيڅ شی نسته.

اللغات: ﴿بقال﴾ په اصل کي سبزي فروش ته وايي، خو بيا دا لفظ عام سو او د مالکي مسالې وغيره پر خرڅونکي يې هم اطلاق وسو. ﴿يستودع﴾ د استفعال د باب مضارع ده: و چا ته خپل مال او شی په امانت اينبوول، امانتاً پرېښوول. ﴿وديعة﴾ امانت، په امانت اينبوول سوي شه.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که څوک مثلاً يو درهم هغه دوکاندار ته کښيږدي چي له هغه شخه سبزيجات راوړي، د دې لپاره چي له هغه شخه به وقتاً فوقتاً د خپل خوښي مطابق شيان وړي (يعني د درهم اينبولو په وخت کي دغه شرط ولګوي چي زه به يو وخت نه بل وخت ستا شخه لږ، لږ دا شيان وړم)، نو دا صورت مکروه دی؛ ځکه چي د هغه دا درهم د دوکاندار سره قرض دی او داسي قرض دی چي هغه ته د دې نفع حاصليږي، او نفع دا ده چي هغه د دې درهم اينبولو په ذريعه له دوکاندار شخه وقتاً فوقتاً شيان وړي، لنډه دا چي دا نفع ده او په حديث کي له داسي قرض شخه منع سوې ده چي په هغه سره قرض ورکونکي ته نفع حاصليږي، نو ځکه دا صورت مکروه دی.

وينبغي إلخ: فرمايي غوره صورت دا دی چي دوکاندار ته درهم وديعتاً (امانتاً) کښيږدي او په هغه وخت کي دي د شه اخيستلو صراحت نه کوي (يعني مذکور شرط دي نه لګوي) او بيا دي له دوکاندار شخه شيان وړي، نو دا صورت مکروه نه دی؛ ځکه اوس دا درهم امانت دي، نه قرض (او امانت په "کل قرض جرّ نفعا" کي داخل نه دی). همدا وجه ده که په دې صورت کي درهم له دوکاندار شخه ضايع سي، نو پر هغه ضمان (تاوان) نه لازميږي، ځکه مخکي ذکر سوه چي د وديعت ضمان نه واجبيږي، خو د قرض ضمان واجبيږي.



مَسَائِلُ مُتَفَرِّقَةٌ

بېلابېلي مسئلې

تشريح: تر دې عنوان لاندې د مخکنيو بابونو او فصلونو سره متعلق بېلابېلې مسئلې بيانول کېږي، لکه مخکې چې هم دا خبره څو ځله ذکر سوې دي.

په قرآن مجيد کې تعشير او د نښاناتو لګولو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ التَّعْشِيرُ وَالنَّقْطُ فِي الْمُصْحَفِ فرمايي: او مکروه دي تعشير [پر هرو لسو آيتونو علامت (نښه) لګول] او نقطې لګول په قرآن کريم کې لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ: جَرِّدُوا الْقُرْآنَ د ابن مسعود ﷺ د فرمان په وجه: چې تاسي قرآن [له غيرِ قرآن څخه] خالي کړئ! وَيُرْوَى: جَرِّدُوا الْمَصَاحِفَ او روايت سوی دی: چې تاسي قرآنونه [له غيرِ قرآن څخه] خالي کړئ! [يعنې په بل روايت کې د القرآن پر ځای د مصاحف لفظ راغلی دی] وَفِي التَّعْشِيرِ وَالنَّقْطِ تَرْكُ التَّجْرِيدِ او په تعشير او نقطې لګولو کې [د قرآن] خالي کولو پرېښوول سته وَلِأَنَّ التَّعْشِيرَ يُخِلُّ بِحِفْظِ الْآيِ او ځکه چې تعشير د آيتونو په يادښت کې خلل اچوي وَالنَّقْطُ بِحِفْظِ الْإِعْرَابِ او نقطې پر لګول د اعراب په يادښت کې خلل اچوي اتِّكَالًا عَلَيْهِ پر هغوی د اعتماد [بروسه] کولو په وجه فَيُكْرَهُ نو ځکه دا به مکروه وي قَالُوا: فِي زَمَانِنَا لَا بُدَّ لِلْعَجَمِ مِنْ دَلَالَةٍ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چې زموږ په زمانه کې د عجمو لپاره څه دلالت [نښه او علامت] ضروري دی فَتَرْكُ ذَٰلِكَ إِخْلَالٌ بِالْحِفْظِ وَهِجْرَانٌ لِلْقُرْآنِ نو د دې [تعشير او نقطو] پرېښوول [د قرآن] په يادښت کې خلل اچونکې دي او د قرآن پرېښوولو سبب دي فَيَكُونُ حَسَنًا نو ځکه دا به ښه [مستحسن] وي.

اللغات: ﴿تعشير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: تر هرو لسو آيتو وروسته علامت (نښه) لګول. ﴿النَّقْط﴾ د نصر د باب مصدر دی: پر لفظ نقطې (ټکي) لګول. ﴿الْمُصْحَف﴾ او مَصْحَف: وقايه لرونکی کتاب، مراد څني قرآن کريم وي، جمع: مَصَاحِف. ﴿جرِّدُوا﴾ د تفعيل له بابه د جمع مذکر امرِ

حاضر صیغه ده: خالي کول، خالي پرېښوول. ﴿یخل﴾ د افعال د باب مضارع ده: خلل اچول (نقصان رسول).

تشریح: د مذکوره عبارت حاصل دی چي موږ ته د قرآن د تجرید حکم سوي. یعني قرآن له غیر قرآن څخه خالي کړئ! (مطلب دا چي کوم شه له قرآن څخه نه وي هغه مه ورسره لیکئ وغیره). په همدې وجه په اولني دور کي دا حکم وو چي پر قرآن کریم نقطې او اعراب لګول، یا پر هرو لسو آیتونو علامت او نښان لګول او له رکوع تاکل دا مکروه دي؛ ځکه هغه وخت د دوی (عربو) لپاره دا شیان مُخل وه چي دوی به پر دې نښاناتو وغیره اعتماد وکړي او په دې توګه به د قرآن یادښل پر ېښودي یا دا به د قرآن په یادولو کي مخل سي.

لېکن وروسته مشایخو ویل چي زموږ په زمانو کي خصوصاً د عجمو لپاره اعراب او نقطې لګول ضروري دي؛ ځکه له دې څخه بغیر قرآن نه سي ویلای، نو د دوی په حق کي اعراب وغیره لیکل ضروري دي، همداسي تعشیر او نور نښانات لګول مستحسن دي، همدا وجه ده چي د نن سبا په نسخو کي د دې اهتمام سوی دی (ځکه د زمان او مکان په اختلاف سره احکام هم مختلف کېږي).

د قرآن ښایسته کولو وغیره حکم او مسجد ته د ذمیانو داخلېدلو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِتَحْلِيَةِ الْمُصْحَفِ فرمایي: او څه پروا نسته د قرآن په ښکلي کولو کي لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْظِيمِهِ ځکه په دې کي د قرآن تعظیم سته وَصَارَ كَنَقْشِ الْمَسْجِدِ وَتَزْيِينِهِ بِمَاءِ الذَّهَبِ او دا داسي سوه لکه د مسجد نقش ونګار او [لکه] مسجد د سرو زرو په اوبو سره ښایسته کول وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ او موږ مخکي د دې یادونه کړې ده قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَدْخُلَ أَهْلُ الذِّمَّةِ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ فرمایي: او څه پروا نسته په دې کي چي داخل سي ذمیان مسجد حرام ته وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُكْرَهُ ذٰلِكَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي: دا مکروه دي وَقَالَ مَالِكٌ: يُكْرَهُ فِي كُلِّ مَسْجِدٍ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي چي: په هر مسجد کي مکروه دي لِلشَّافِعِيِّ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا﴾ [التوبة: ۲۸] د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل د الله تعالیٰ دا فرمان دی: مشرکان نجس دي نو هغوی دي مسجد حرام ته نه نږدې کېږي وروسته د دوی تر دغه کال وَلِأَنَّ الْكَافِرَ لَا يَخْلُو عَنْ جَنَابَةٍ او ځکه چي کافر له جنابت څخه نه خالي کېږي لِأَنَّهُ لَا يَغْتَسِلُ اغْتِسَالًا يُخْرِجُهُ عَنْهَا ځکه هغه داسي غسل نه کوي چي له جنابته یې وباسي وَالْجُنُبُ يُجَنَّبُ الْمَسْجِدَ او

جنب کس له مسجد څخه لیري کول کیږي [یعني له مسجد څخه د هغه د لیري تېرېدلو حکم سوی دی] وَبِهٰذَا يَحْتَجُّ مَالِكٌ او په همدې [د امام شافعي په دلیل سره] امام مالک رَحِمَهُ الله دلیل نیسي وَالتَّعْلِيْلُ بِالنَّجَاسَةِ عَامٌّ او په نجاست سره علت بیانول [چې مشرکان نجس دي] عام دی فَيَنْتَظِمُ الْمَسَاجِدَ كُلَّهَا نو ځکه ټولو مسجدونو لره به شامل وي وَلَنَا مَا رُوِيَ [1] : أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنْزَلَ وَفْدَ ثَقِيْفٍ فِيْ مَسْجِدِهٖ وَهُمْ كُفَّارٌ زموږ دلیل دا روایت دی: چې نبي کریم ﷺ د ثقیف [قبیلې] وفد په خپل مسجد کې میشت کړی [یعني د بنو ثقیف قبیلې له طرفه راغلي خلک یې په خپل مسجد کې کښېنول] وَلِأَنَّ الْخُبْثَ فِيْ اعْتِقَادِهِمْ او ځکه چې خباثت د هغوی په عقیدو کې وي [نه په اجسامو کې] فَلَا يُؤَدِّيْ إِلَى تَلْوِيْثِ الْمَسْجِدِ نو هغه به د مسجد ګنده کولو سبب نه ګرځي وَالْآيَةُ مَحْمُوْلَةٌ عَلَى الْحُضُوْرِ اسْتِيْلَاءً وَاسْتِعْلَاءً او آیت محمول دی د غلبې او برلاسي په توګه پر حاضرېدلو [یعني چې مشرکان مسجد حرام ته د غلبې او تعلی په توګه داخل سي] أَوْ طَائِفِيْنَ عُرَاةً یا [محمول دی پر حاضرېدلو] په داسي حال کې چې په لڅه طواف کونکي وي [یعني چې د لڅ او بربنډ طواف کولو په نیت مسجد حرام ته داخل سي] كَمَا كَانَتْ عَادَتُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ لکه څرنګه چې د جاهلیت په زمانه کې دا د هغوی عادت وو.

اللغات: ﴿تحلية﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، حَلّٰی يُحَلِّيْ تَحْلِيَةً: په زېور سره ښایسته کول. په یو شي زېورات اغوستل، ښکلي کول. ﴿تعظیم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: تعظیم کول، احترام او درناوی کول. ﴿تعلیل﴾ مخکنی صیغه ده. د دې باب یوه معنیٰ ده: علت بیانول، معلول کول. ﴿يُجَنَّب﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: لیري کول، لیري کېدل (متعدي او لازمي). ﴿تلویث﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ملوّث کول، ګنده کول. ﴿عراة﴾ جمع د عَارٍ ده: لڅ، بربنډ. ﴿استیلاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: غلبه کول، قبضه کول.

تشریح: په دې عبارت کې دوې جلا مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... څرنګه چې مسجد د سرو زرو په اوبو سره رنګول او ښایسته کول جائز دي، همداسي د قرآن مجید ښایسته کول هم جائز دي؛ ځکه په دې کې یو ډول تعظیم دی، او په قرآن کریم کې د داسي شیانو احترام کوونکی کس متقي ګرځول سوی دی، الله تعالیٰ فرمایي: ﴿وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَائِرَ اللّٰهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ [سورة الحج: ۳۲]

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الإمارة، باب ما جاء فيخبر مكة، حديث رقم:۳۰۲۶.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي زموږ په نيز کفار مسجدِ حرام او ټولو مسجدونو ته داخليدلای سي. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي له مسجدِ حرام څخه بغير نورو مسجدونو ته داخليدلای سي. امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي نه مسجدِ حرام ته داخليدلای سي او نه نورو مساجدو ته.

د امام شافعي دليل: هغه آيت دی چي په هغه کي مشرکين نجس ګرځول سوي دي او مسجدِ حرام ته له ورنژدې کيدلو څخه منع کړل سوي دي.

او عقلي دليل يې دا دی چي کافر عموماً جنب وي ځکه هغه داسي غسل نه کوي چي له جنابته يې پاک کړي. او جنب کس له مسجد څخه منع دی. نو ځکه کافر لره به هم مسجدِ حرام ته داخليدل صحيح نه وي. او څرنګه چي په آيت کي فقط د مسجدِ حرام له قربت څخه منع سوې ده. نو ځکه له مسجدِ حرام څخه بغير نورو مساجدو ته د کفارو داخليدل به ممنوع نه وي.

د امام مالک دليل: هم داغه دی. خو هغه فرمايي چي کله مسجدِ حرام ته د نه داخليدلو علت نجاست دی او دا علت په ټولو کفارو کي موجود دی او ټوله مسجدونه د الله کورونه دي. نو ځکه د نورو مساجدو په حق کي به هم دا علت جاري کيږي او څرنګه چي مسجدِ حرام ته د دوی داخله ممنوع ده. همداسي به هر مسجد ته د دوی داخله ممنوع وي.

زموږ دليل: دا دی چي نبي کريم ﷺ د بنو ثقيف وفد په مسجدِ نبوي کي کښېنولی وو. حال دا چي هغوی ټوله کافران وه. معلومه سوه چي مسجد ته د کافر داخليدلو ګنجايش سته. او عقلي دليل دا دی چي نجاست او خباثت خو د دوی اجسامو کي نه. بلکي په اعتقاد او عقيده کي يې وي. او په اعتقادي نجاست سره د مسجد ګنده کيدلو هيڅ خطره نسته.

او پاته سو امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله چي په کوم آيت سره دليل نيولی دی. د هغه يو جواب دا دی چي په هغه کي د تسلط او غلبې په انداز سره يا د تکبر او سرلوړی په انداز سره مسجدِ حرام ته د مشرکينو داخليدل ممنوع ګرځول سوي دي. عام حالتونه له دې څخه مستثنیٰ دي.

او دويم جواب دا دی چي مشرکينو به د جاهليت په زمانه کي په لڅ بدن د بيت الله طواف کاوی. نو په دې آيت کي الله ﷻ مسجدِ حرام ته په داسي توګه له داخليدو څخه منع وکړه. کنې په مطلق دخول کي هيڅ حرج نسته. (احسن الهدايه)

له خسي کس څخه خدمت اخيستل، او د خسي کولو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ اِسْتِخْدَامُ الْخِصْيَانِ فرمايي: او مکروه دي خدمت اخيستل له خسي کړل سوو کسانو څخه لِأَنَّ الرَّغْبَةَ فِي اسْتِخْدَامِهِمْ حَثُّ النَّاسِ عَلٰى هٰذَا الصَّنِيْعِ. ځکه له هغوی څخه په خدمت اخيستلو کي رغبت کول پر دغه فعل (خسي کولو) د خلکو پارول سته وَهُوَ مُثْلَةٌ مُحَرَّمَةٌ او دا مثله

كول دي كوم چي حرام دي قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِخِصَاءِ الْبَهَائِمِ وَإِنْزَاءِ الْحَمِيْرِ عَلَى الْخَيْلِ فرمايي: او پروا نسته د چارپايانو په خسي كولو كي او پر [ماده] آسونو د خرو په خېږلو [جفتي كولو] كي لِأَنَّ فِي الْأَوَّلِ مَنْفَعَةٌ لِلْبَهِيمَةِ وَالنَّاسِ ځكه په اول [د چارپاى په خسي كولو] كي د چارپاى او خلكو دواړو نفع سته وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ رَكِبَ الْبَغْلَةَ او په صحيح روايت سره ثابت دي چي نبي كريم ﷺ پر غاتره سپور سوى دى فَلَوْ كَانَ هٰذَا الْفِعْلُ حَرَامًا كه چيري دا فعل حرام واى لَمَا رَكِبَهَا نو پر غاتري به نبي ﷺ سپور سوي نه واى لِمَا فِيْهِ مِنْ فَتْحِ بَابِهِ ځكه په دې [د غاتري په سپرېدو] كي د دغه فعل دروازه خلاصېدل سته.

اللغات: ﴿خِصْيَان﴾ جمع د خَصِيٌّ ده: خسي، يعني هغه كس چي خوټي يې ټكول سوي يا كښل سوي وي، ﴿حث﴾ د فتح د باب مصدر دى: راپارول، رغبت وركول، ﴿صنيع﴾ كړنه، كاروايي، ﴿مُثلة﴾ (بضم الميم) پزه، غوږونه وغيره ورپرېكول، بدن مسخ كول، مَثُلَة (بفتح الميم): سزا، عذاب، د پخوانيو اُمتونو عبرتناكه سزاګاني، جمع: مَثُلَات، ﴿إنزاء﴾ د افعال د باب مصدر دى: نر پر ماده خېږول (جفتي په كول)، ﴿حمير﴾ خرونه، ﴿بغلة﴾ غاتره (غاطره)، خچره، جمع: بِغَال.

تشريح: په دې عبارت كي دوې (۲) مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي له خسي كس او خسي مزدور څخه خدمت اخيستل مكروه دي؛ ځكه كله چي سړى له هغه څخه خدمت واخلي او ووينې چي داسي كس د نورو په نسبت له شرارت څخه پاک دى او بغير له څه شر څخه خدمت كوي، نو د هغه سړي په زړه كي به دا داعيه پيدا سي چي نورو خلكو ته د دې رغبت وركړي چي تاسي هم خپل نوكران وغيره سنت كړئ! ځكه څرنګه چي د حيوان په خسي كولو كي فايده سته چي په خسي كولو سره هغه ښه چاغيږي، همداسي د انسان هم فايده پكښي سته چي په خسي كولو سره د هغه له شر وغيره څخه خلک محفوظ پاتيږي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي د حيوان په خسي كولو كي هيڅ حرج نسته؛ ځكه په دې كي د حيوان هم نفع ده چي چاغ تكړه به سي او د خلكو هم پكښي نفع ده چي هغوى به يې له شرارت څخه محفوظ وي. همدارنګه خر پر اسپي (آسي) خېږول چي غاتره پيداسي جائز دي؛ ځكه نبي كريم ﷺ پر غاتري سپور سوى دى. كه چيري دا فعل ممنوع واى، نو هغوى ﷺ به هيڅكله هم پر غاتري نه سپرېدلاى؛ ځكه د نبي ﷺ سپرېدل به د يو ممنوع فعل واقع كېدلو ذريعه جوړېدلاى، حال دا چي له

هيڅ يو نبي څخه هم د داسي عمل صدور ناممکن دی چي هغه د يو ممنوع فعل ذريعه وګرځي. نو معلومه سوه چي دا فعل (انزاء الحمير على الخيل) ممنوع نه دی.

د مريض يهودي يا نصراني عيادت کول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِعِيَادَةِ الْيَهُودِيِّ وَالنَّصْرَانِيِّ فرمايي: او پروا نسته د [ناروغه] يهودي او نصراني په عيادت کولو کي لِأَنَّهُ نَوْعُ بِرٍّ فِي حَقِّهِمْ ځکه دا د هغو په حق کي يو ډول نېکي ده وَمَا نُهِينَا عَنْ ذٰلِكَ او موږ له دې انېکي کولو] څخه نه يو منع سوي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] عَادَ يَهُودِيًّا مَرِضَ بِجِوَارِهِ او په صحيح حديث سره ثابت دي چي نبي کريم ﷺ د يوه يهودي [همسايه] عيادت وکړی کوم چي د نبي کريم ﷺ په همسايه توب کي ناروغه وو.

اللغات: ﴿عيادة﴾ عيادت (بيمار پرسي). يعني د مريض ليدني کتني او د هغه حال پوښتني ته ورتلل، پر مريض (ناروغه) پوښتنه کول. ﴿بر﴾ نېکي، احسان.

تشريح: مسئله ښکاره ده چي د يهودي او نصراني يا د يو بل کافر په عيادت کولو کي څه حرج نسته؛ ځکه اسلام د خير او نېکۍ له کاره منع نه ده کړې، او له نبي کريم ﷺ څخه د يهودي عيادت کول ثابت دي. او د مجوسي د عيادت په هکله له احنافو څخه دوه قوله نقل سوي دي، خو اصح دا ده چي هغه هم جائز دی، لهذا د فاسق عيادت خو به په درجه اولیٰ جائز وي.

خو که څوک داسي مريض وي چي د خلکو په راتګ سره يې تکليف زياتيږي، نو په دې صورت کي عيادت مکروه دی. (شامي ج:۵، ص:۲۲۸)

په دعا کي د "اسئلك بمعقد العز من عرشك" د ويلو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يَقُوْلَ الرَّجُلُ فِي دُعَائِهِ: أَسْأَلُكَ بِمَعْقِدِ الْعِزِّ مِنْ عَرْشِكَ فرمايي: او مکروه دي دا چي سړی په خپل دعا کي ووايي: (اې الله!) زه ستا څخه سوال [خواست] کووم په مقام سره د تړل کېدلو د عزت ستا له عرش څخه وَلِلْمَسْأَلَةِ عِبَارَتَانِ او د دې مسئلې دوه عبارته [نقل سوي] دي هٰذِهِ [يو خو] دغه عبارت [دی. يعني مَعْقِدِ الْعِزِّ] وَمَقْعَدُ الْعِزِّ او [بل] مَقْعَدُ الْعِزِّ دی وَلَا رَيْبَ فِي كَرَاهَةِ الثَّانِيَةِ او د دې دويم عبارت په مکروه والي کي هيڅ شک نسته لِأَنَّهُ مِنَ الْقُعُوْدِ ځکه دا [مقعد] له قعود څخه

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجنائز، باب إذا أسلم الصبي فمات، حديث رقم:١٣٥٦، ١٣٦٠.

[مشتق] دی [چي د هغه معنیٰ ده: کښېښتل] وَكَذَا الْأُوْلٰى او همداسې اول عبارت [هم مکروه دی] لِأَنَّهُ يُوْهِمُ تَعَلُّقَ عِزِّهِ بِالْعَرْشِ ځکه هغه د عرش سره د باري تعالیٰ د عزت متعلق کېدلو وهم پیدا کوي وَهُوَ مُحْدَثٌ حال دا چي عرش حادث دی وَاللهُ تَعَالٰى بِجَمِيْعِ صِفَاتِهِ قَدِيْمٌ او الله تعالیٰ د خپل ټولو صفاتو سره قدیم دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي په دې کي [یعني د مذکوره دعاء په ویلو کي] څه حرج نسته وَبِهِ أَخَذَ الْفَقِيْهُ أَبُو اللَّيْثِ او همدا فقیه ابو اللیث رَحِمَهُ الله اختیار کړي دي لِأَنَّهُ مَأْثُوْرٌ عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه دا له نبي ﷺ څخه نقل سوي دي رُوِيَ أَنَّهُ كَانَ مِنْ دُعَائِهِ: [لکه څرنګه چي] روایت سوی دی چي د نبي ﷺ له دعاګانو څخه دا [دعا] هم وه اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ بِمَعْقِدِ الْعِزِّ مِنْ عَرْشِكَ وَمُنْتَهَى الرَّحْمَةِ مِنْ كِتَابِكَ اې الله! زه ستا څخه سوال کوم ستا له عرش څخه د عزت تړل کېدو د مقام په واسطه سره او ستا له کتاب څخه د رحمت د انتها [په واسطه سره] وَبِاسْمِكَ الْأَعْظَمِ وَجَدِّكَ الْأَعْلٰى وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ او ستا په ستر نوم سره او ستا په لوړ عظمت سره او ستا په بشپړو کلماتو سره [سوال او خواست کوم] وَلٰكِنَّا نَقُوْلُ: هٰذَا خَبَرُ وَاحِدٍ خو موږ [په جواب کي] وایو چي: دا خبر واحد دی فَكَانَ الْاِحْتِيَاطُ فِي الْاِمْتِنَاعِ لهذا احتیاط په منع کېدلو کي دی [چي په داسې عبارت او الفاظو سره دعاء نه وسي].

اللغات: ﴿مَعقِد﴾ د اسم ظرف صیغه ده: د تړل کېدلو مقام، د غوټې تړل کېدلو (غوټه کېدلو) ځای، ﴿محدث﴾ د افعال له بابه د مفعول صیغه ده: نوی پیداسوی، مخلوق، ﴿جَدّ﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: عظمت، لویي (بزرګي)، ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل، ځان ساتل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي په دعاء کې داسې الفاظ ویل مکروه دي چي په هغوی کي د شرک وهم وي، یا د باري تعالیٰ د شان نقص پکښې وي؛ الله تعالیٰ د خپل ټولو صفاتو سره قدیم دی او ټوله عالم حادث دی، تر دې چي عرش او کرسي هم حادث دي، نو داسې کلمات ویل د ابهام په وجه مکروه دي چي په هغه کي د الهي عزت مقام او قرارګاه ثابتیږي یا مقامِ عزت پکښې معلومیږي، نو په مذکوره الفاظو "اسئلك بِمَعْقِدِ العزّ من عرشك" یا "بِمَقْعَدِ العزّ من عرشك" دواړه مکروه دي؛ اول

خو ځکه چي مَقعد له عقد څخه مشتق دی چي د هغه معنیٰ ده "د تړل کېدلو (غوټه کېدلو) مقام". نو د "اسئلك بمعقد العزمن عرشك" معنیٰ ده: (اې الله!) ستا له عرش څخه د عزت تړل کېدلو د مقام په واسطه او وسیله سره خواست کوم. نو په دې الفاظو کي عرش د عزت ورسره تړل کېدلو ځای شمېرل د حدوث وهم پیدا کوي. یعني څرنګه چي عرش قدیم نه دی بلکي حادث دی نو همداسي به "عزة المتعلق بعرش" هم حادث وي. حال دا چي هغه محلِ د حادث والي کېدل باطل دي.

او په دویم صورت کي "مَقْعَد" له قعود څخه مشتق دی چي د هغه معنیٰ ده: ځای د کښېنستلو. یعني له عرش څخه په مقام د کښېنستلو د عزت سره (سوال کوم). یعني عرش کوم چي د عزت مَقر (قرارګاه) ده. مطلب دا چي په دې صورت کي پر عرش (دالله) تمکّن ثابتیږي، کوم چي د تجسم او مجسمي قول دی (چي په دې سره الله لره جسم ثابتیږي) او دا بالکل باطل دي.

یادونه: د عقائدو په کتابو او د هغوی په شروحاتو کي د تمکّن علی العرش، د عالَم د حادث والي او د باري تعالیٰ د ذات پر ازلیت او د هغه د صفاتو د قدیم والي په هکله په ښه تفصیل سره بیان سوی دی، د نور وضاحت شائقین دي هغه مطالعه کړي.

وعن أبي یوسف إلخ: خو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د دغه کلماتو په واسطه دعاء کولو کي څه حرج نسته؛ ځکه له نبي کریم ﷺ څخه داسي دعاء کول ثابت دي، لهذا که په دې کي څه ډول وهم وای، نو رسول الله ﷺ به د دې کلماتو په واسطه دعاء نه کولای.

خو زموږ له طرفه جواب دی چي دغه حدیث خبر واحد دی، همدارنګه ځیني حضراتو هغه ضعیف ګرځولی دی او ځینو له موضوعاتو څخه شمېرلی دی، نو ځکه اخوط همدا ده چي د داسي موهومه کلماتو په واسطه دعاء نه وسي. او بل دا چي که له نبي کریم ﷺ څخه په یقیني توګه داسي دعاء ویل ثابت هم سي، نو هم زموږ لپاره دا ډول دعاء نه خپلول غوره دي؛ ځکه د رسول او نبي ایمان د ټولو له ایمان څخه زیات قوي وي. چي په هغه کي د تېروتلو هیڅ تصوّر نه سي کېدلای، خو موږ د دومره قوي درجې ایمان والا نه یو او زموږ تېروتل ممکن دي، نو ځکه زموږ په حق کي احتیاط غوره دی. (احسن الهدایه)

په دعا کي "بحق فلان" او داسي نور الفاظ ویل

وَيُكْرَهُ أَنْ يَقُولَ الرَّجُلُ فِي دُعَائِهِ او مکروه دي دا چي سړی په خپل دعاء کي ووایي بِحَقِّ فُلَانٍ أَوْ بِحَقِّ أَنْبِيَائِكَ وَرُسُلِكَ په حق د فلانکي سره یا په حق ستا د نبیانو او رسولانو سره لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لِلْمَخْلُوقِ عَلَى الْخَالِقِ ځکه چي پر خالق تعالیٰ د مخلوق هیڅ حق نسته.

تشريح: يعني د چا د حق په واسطه سره دعا کول (د چا د حق واسطه ورکول) مکروه دي؛ ځکه پر الله تعالیٰ د هیچا هم هیڅ ډول حق نسته. الله تعالیٰ چي یې چا ته ورکوي، دا د هغه خالص فضل دی، او څوک چي نیسي، دا د هغه عدل دی.

یادونه: صاحب د اشرف الهدایې لیکلي دي چي که له "حق" څخه د هغه خپله عامه معنیٰ مراد نه کړی سي، بلکي له هغه څخه د حرمت او عظمت یا په بله وینا د وسیلې معنیٰ ځني مراد کړ سي، نو په دې کي څه حرج نسته، او زموږ د مشایخو په شجرو کي چي دا لفظ مستعمل وي، نو هغه فقط د توسّل په معنیٰ سره دی او وسیله جائز ده. بیا فرمایي چي زموږ (د هندوستان وغیره والاوو) په ژبه کي دا لفظ د توسّل په معنیٰ سره استعمالول ښکاره دي، لهذا پر هغه به د کراهت حکم نه کیږي. حال دا چي په یو حدیث سره هم د دې تائید کیږي: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِحَقِّ السَّائِلِيْنَ عَلَيْكَ.... (الحديث فى رد المحتار ج: ۵، ص: ۲۵۴)

د شطرنج، نرد وغیره د لوبي حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ اللَّعِبُ بِالشِّطْرَنْجِ وَالنَّرْدِ وَالْأَرْبَعَةَ عَشَرَ وَكُلِّ لَهْوٍ او مکروه دي لوبي کول په شطرنج او نرد سره او په څوارلس ګیټی سره او هر ډول لهو [بې ځایه او چټی کار] لِأَنَّهُ إِنْ قَامَرَ بِهَا ځکه که د دې لوبو په ذریعه خمار وکړي فَالْمَيْسِرُ حَرَامٌ بِالنَّصِّ نو هغه میسر [خمار] دی کوم چي په نصِ قرآني سره حرام دی وَهُوَ اسْمٌ لِكُلِّ قِمَارٍ او میسر نوم دی د هر خمار [یعني هر خمار ته میسر وایي] وَإِنْ لَمْ يُقَامِرْ او که [په دې لوبو سره] خمار نه وکړي فَهُوَ عَبَثٌ وَلَهْوٌ نو هغه عبث [بې ځایه] او لهو دی وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: لَهْوُ الْمُؤْمِنِ بَاطِلٌ إِلَّا الثَّلَاثَ او نبي کريم ﷺ فرمایلي دي: د مؤمن [هر] لهو کار باطل دی ماسوا له دريو کارو څخه تَأْدِيبُهُ لِفَرَسِهِ ① [یو] د مؤمن خپل آس ته طریقې ور زده کول [شاهسواري] وَمُنَاضَلَتُهُ عَنْ قَوْسِهِ ② [دوېم] له خپل کمان څخه غشي غورځول وَمُلَاعَبَتُهُ مَعَ أَهْلِهِ ③ [درېیم] له خپل کور والا [ښځي] سره لوبي کول وَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ: يُبَاحُ اللَّعِبُ بِالشِّطْرَنْجِ او ځیني خلکو ویلي دي: چي د شطرنج لوبه کول روا دي لِمَا فِيهِ مِنْ تَشْحِيذِ الْخَوَاطِرِ وَتَذْكِيَةِ الْأَفْهَامِ ځکه په دې کي د ذهنونو تېزول او د فهمونو ځیرکول سته [یعني په دې سره

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الجهاد، باب فى الرمى، حديث رقم: ۲۵۱۳.

د انسان ذهن او فهم تیزیږي او ځراکت یې زیاتیږي] وَهُوَ مَحْكِيٌّ عَنِ الشَّافِعِيِّ او همدا له امام شافعي رَحِمَهُ الله ځخه نقل سوي دي لَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی «مَنْ لَعِبَ[2] بِالشِّطْرَنْجِ وَالنَّرْدَشِيْرِ ځوک چي د شطرنج او نردِ شير لوبه وکړي فَكَأَنَّمَا غَمَسَ يَدَهُ فِيْ دَمِ الْخِنْزِيْرِ» نو ګواکي هغه د خنزير په وينو کي لاس غوټه [غوپه] کړی وَلِأَنَّهُ نَوْعُ لَعِبٍ يَصُدُّ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الْجُمَعِ وَالْجَمَاعَاتِ او ځکه چي دا [شطرنج وغيره] يو داسي ډول لوبه ده چي ځوک د الله جَلَّ جَلَالُهُ له ذکر او له جمعو او جماعاتو ځخه منع کوي فَيَكُونُ حَرَامًا نو ځکه به حرام وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي «مَا أَلْهَاكَ[3] عَنْ ذِكْرِ اللهِ ځه چي تا د الله جَلَّ جَلَالُهُ له ذکر ځخه غافله کړي فَهُوَ مَيْسِرٌ» نو هغه ميسر دی ثُمَّ إِنْ قَامَرَ بِهِ بيا که ځوک په دې لوبه [شطرنج وغيره] سره خمار کوي تَسْقُطُ عَدَالَتُهُ نو د هغه عدالت [عادل والی] ساقطيږي وَإِنْ لَمْ يُقَامِرْ او که خمار نه په کوي لَا تَسْقُطُ نو عدالت يې نه ساقطيږي لِأَنَّهُ مُتَأَوَّلٌ فِيْهِ ځکه په دې صورت کي هغه تأويل کونکی دی [چي زه يې د ذهن تېزولو لپاره کوم. يا دارنګه بل تأويل].

اللغات: ﴿لَعِب﴾ د سمع د باب مصدر دی: لوبي او بازي کول. ﴿شَطْرَنْج﴾ او شِطْرَنْج (دا لفظ په عربي کي عموماً د شين په کسره سره استعماليږي. همدا يې مختار لغت دی). سترنج. د پخواني وخت يوه مشهوره لوبه ده. صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف کړی دی: "لُعْبَةٌ تُلْعَب عَلَى رُقْعَةٍ وتُمَثِّلُ دَوْلَتَيْنِ مُتَحَارِبَتَيْنِ بِاثْنَتَيْنِ وَثَلَاثِيْنَ قِطْعَةٍ... إلخ" (يعني دا يو ډول لوبه ده چي پر داسي پارچه [او تخته] باندي کيږي چي هغه ځلور شپېته (۶۴) خانې لري او د دوو جنګي ملکونو په شکل پر دوو دېرش (۳۲) دانو (ګټو) باندي لوبول کيږي. يعني په هغه کي له دواړو طرفو ځخه د هر طرف والا لوبغاړی خپل ځان يو جنګي ملک تصور کوي او دوی په خپل مينځ کي په (۳۲) ګټو او دانو سره مقابله کوي. او په دې (۳۲) ګټو کي دوه ګټي د باچا او دوه ګټي د وزير په توګه لوبول کيږي. او پاته ګټي د فوج او داسي نورو په توګه لوبول کيږي). ﴿نَرْد﴾ دا هم يو ډول لوبه ده چي د ايران پخواني باچا "ارد شير بن بابک" ايجاد کړې وه (دا لوبه پر تېبل باندي کيږي. او د دېرو او دوو غمياتو په ذريعه لوبول کيږي. په اوسنی عربي کي "الطَّاوِلَة" ورته وايي). ﴿أربعة عشر﴾ ويل سوي

---

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الأدب، باب فى النهى عن اللعب بالرد، حديث رقم:۴۹۳۹.

[3] تخريج: أخرجه البيهقى فى شعب الإيمان، باب فى تحريم الملاعب، ج:۵، حديث رقم:۶۵۱۹.

دي چې دا يو ډول لوبه وه چې يهودو به کوله. او د دې لفظ خپله معنیٰ ده څوارلس چې په څوارلس دانو (ګټو) وغيره سره به لوبول کېده. ﴿اللهو﴾ په عربي قاموسونو کې د دغه لفظ دا معناوي نقل سوي دي: ① ... ''التَّرْوِيحُ عَنِ النَّفْسِ بِمَا لَا تَقْتَضِيهِ الْحِكْمَةُ'' (په داسې کار او داسې شي سره نفس ته راحت او سکون ور کول چې هغه بالکل د حکمت او پوهې خلاف وي). ② د نفسي خواهش لوبي او بازی. ③ لغو او بې ځايه کار. ﴿مناضلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: غشي غورځونه. غشي ويشتنه. ﴿ملاعبة﴾ مخکنی صيغه ده: د ښځي سره لوبي او ساتېری کول. ﴿خواطر﴾ جمع د خَاطِرٌ ده. د دې لفظ څو معناوي دي: ① هغه امر يا تدبير کوم چې په زړه کې تېر سي. ② خيال. ③ او کله مجازاً پر زړه. نفس او ذهن باندي يې هم اطلاق کيږي. ﴿أَلهاك﴾ د افعال د باب ماضي ده: په لهو مبتلا کول. غافل کول (په غفلت کې اچول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چې زموږ په نيز شطرنج، نرد او څوارلس ګيټې والا لوبه او دا ډول نوري لوبي مکروه دي؛ ځکه که په دې لوبو کې د خمار اړخ وي، نو د دوی حرمت په نصّ سره ثابت دی او که د خمار اړخ پکښې نه وي، نو دا ټولي لوبي عبث او لغو کارونه دي کوم چې حرام دي او په حديث کې د مؤمن ټولو لوبو ته باطل ويل سوي ما سوا له دريو لوبو څخه: ① شاهسواري (پر آس سپرېدنه)، ② تيراندازي (غشي ويشتنه او ښکار زده کونه)، ③ د خپلې ښځي سره ملاعبت او ساتېرى.

وقال بعض إلخ: ځيني حضراتو شطرنج جائز ګرځولی دی؛ ځکه چې په دې سره بيدار مغزي حاصليږي او د انسان ذهن په تېزيږي، نو ځکه شطرنج کول به روا وي.

ولنا إلخ: څرنګه چې زموږ په نيز شطرنج او داسې نوري لوبي مکروه دي، نو زموږ دليل دا دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: د شطرنج او نرد لوبونکی کس داسې دی لکه د خنزير (کوم چې نجس العين دی) په وينه کې چې لاس غوټه کوي او د خنزير په وينه سره يې مرداروي، د حديث شريف مطلب دا دی چې څرنګه يو مسلمان د خنزير په وينه کې لاس وهل نه خوښوي، همداسې له شطرنج وغيره څخه ځان ساتل پکار دي. او بل دا چې دا ټوله داسې د شوق لوبي دي چې که په دوی انسان مشغوله سي، نو د لمانځه حتی د جمعې او جماعت څخه غافليږي، نو ځکه به حرام وي؛ ځکه په حديث شريف کې له ذکر الله څخه غافلونکي هر شي ته "مَيْسِر" ويل سوي دي، او دا شيان هم انسان د الله ﷻ له ذکر څخه غافل ګرځوي، نو ځکه دا به هم حرام وي.

ثم إن إلخ: فرمايي که څوک په شطرنج وغيره سره خمار کوي، نو د هغه عادل والي ساقطيږي. لېکن که خمار نه په کوي، نو عدالت يې نه ساقطيږي خو مجروح ضرور ګرځي، او عدالت يې ځکه نه ساقطيږي؛ چې کېدای سي هغه دا تأويل کوي چې زه يې د ذهن تېزولو لپاره کوم.

شطرنج کونکو ته سلام ويل

وَكَرِهَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ التَّسْلِيمَ عَلَيْهِمْ او مکروه ګرځولي دي صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر شطرنج کونکو سلام اچول تَحْذِيرًا لَهُمْ چي د دوی لپاره تنبيه سي وَلَمْ يَرَ أَبُوْحَنِيفَةَ بِهِ بَأْسًا او امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې کي څه حرج نه دی ليدلی لِيُشْغَلَهُمْ عَمَّا هُمْ فِيْهِ د دې لپاره چي دا سلام دوی مشغوله کړي له هغه څه څخه په څه کي چي دوی [لګيا] دي [يعني چي له شطرنج وغيره څخه يې مشغوله کړي].

اللغات: ﴿تسليم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی. د دې باب يوه معنیٰ ده: بل ته سلام کول. سلام اچول. ﴿تحذير﴾ مخکني صيغه ده: يو څوک له يو شي څخه بېرول (ډارول). تنبيه ورکول.

تشريح: صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي څوک شطرنج، نرد وغيره کوي. پر هغو به قصداً سلام نه اچول کيږي؛ چي په دې سره هغو ته عبرت حاصل سي او چي د سلام قطع کول د دوی لپاره تنبيه سي. امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي داسي خلکو ته په سلام کولو کي څه حرج نسته؛ ځکه په کوم وخت کي چي پر هغو سلام اچول کيږي، نو کم از کم په دې لږ وخت کي خو به له شطرنج وغيره څخه د هغوی بدبختانو پام او توجّه اوښتې وي.

د مأذون غلام د هديې او دعوت وغيره د قبلولو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِقَبُوْلِ هَدِيَّةِ الْعَبْدِ التَّاجِرِ فرمايي: او پروا نسته د تاجر غلام په هديه قبلولو کي وَإِجَابَةِ دَعْوَتِهِ او د هغه د دعوت [او مېلمستيا] په قبلولو کي وَاسْتِعَارَةِ دَابَّتِهِ او د هغه د سپارلي په عاريتاً اخيستلو کي [يعني چي څوک له تاجر غلام څخه د هغه آس وغيره په خواست واخلي] وَتُكْرَهُ كِسْوَتُهُ الثَّوْبَ خو مکروه دي د تاجر غلام کپړه ورکول [يعني چي هغه چا ته کپړه ورکړي] وَهَدِيَّتُهُ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيْرَ او د هغه د دراهمو او دنانيرو هديه کول وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَفِي الْقِيَاسِ كُلُّ ذٰلِكَ بَاطِلٌ او په قياس کي دا ټوله باطل دي لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ ځکه چي دا تبرّع ده وَالْعَبْدُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهِ او غلام د تبرّع اهل نه دی وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ: أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] قَبِلَ هَدِيَّةَ سَلْمَانَ رضي الله عنه

---

[1] تخريج: أخرجه الحاكم في المستدرك في كتاب الفضائل، ذكر سلمان الفارسي، حديث رقم: ٦٥٤٣.

حِينَ كَانَ عَبْدًا د استحسان دلیل دا دی: چې نبي کریم ﷺ د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه هدیه قبوله کړه په داسي حال کي چې هغه غلام وو وَقَبِلَ هَدِيَّةَ بَرِيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا [2] وَكَانَتْ مُكَاتَبَةً او د حضرت بریره رضی الله عنها هدیه یې قبوله کړه حال دا چې هغه مکاتبه وه وَأَجَابَ رَهْطٌ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دَعْوَةَ مَوْلَى أَبِي أُسَيْدٍ وَكَانَ عَبْدًا او د صحابه وو یو جماعت د حضرت اسید رضي الله عنه د غلام دعوت قبول کړی حال دا چې هغه غلام وو وَلِأَنَّ فِي هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ ضَرُورَةً لَا يَجِدُ التَّاجِرُ بُدًّا مِنْهَا او ځکه چې په دې شیانو [هدیه. دعوت وغیره] کي داسي ضرورت دی چې تاجر [کاروباري] له هغه څخه چاره نه لري وَمَنْ مَلَكَ شَيْئًا او څوک چې دیو شي ملکیت لري [په بله وینا دا چې کوم کس د یو شي مالک وي] يَمْلِكُ مَا هُوَ مِنْ ضَرُورَاتِهِ نو هغه کس د دې شي د لوازماتو ملکیت هم لري وَلَا ضَرُورَةَ فِي الْكِسْوَةِ وَإِهْدَاءِ الدَّرَاهِمِ او په کپړه ورکولو او د دراهمو په هدیه کولو کي هیڅ ضرورت نشته فَبَقِيَ عَلَى أَصْلِ الْقِيَاسِ نو ځکه دا پر اصل قیاس باقي پاته سوه [چې د تاجر غلام لپاره دا . به دي].

اللغات: ﴿استعارة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: : په عاریت اخیستل. په خواست غوښتل (مثلاً یو چا ته خواست کول چې ته! د یو څو وخت لپاره دا شی په قرض حسنه راکړه!). ﴿کسوة﴾ د دې لفظ یوه معنیٰ ده: په بل چا کپړه او جامه اغوښتل. یعني بل چا ته کپړه او جامه ورکول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که مأذون لهٗ فی التجارة غلام چا ته معمولي غوندي هدیه پېش کړي، نو جائز دي. همدارنګه که چا ته دعوت وکړي، نو جائز دي. همدارنګه د هغه آس وغیره په عاریت اخیستل جائز دي. لېکن که دا غلام په هدیه کي کپړه یا دراهم او دنانیر وغیره پېش کړي، نو د هغه قبلول مکروه دي؛ او په اول صورت کي چې کوم جواز دی. هغه د استحسان له رویه دی. کنې قیاساً هغه هم باطل دی؛ ځکه غلام د عدمِ ملکیت په وجه د تبرّع اهل نه دی. او دا ټوله تبرّعات دي.

وجه الاستحسان إلخ: ① د استحسان دلیل دا دی چې د حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه هدیه نبي کریم ﷺ قبوله کړه ا هعه په دغه حالت کي ا وو. بیا صدیق اکبر رضي الله عنه هغه رانیوی آزاد یې کړی.

② او بل دا چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې خلک

[2] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب النكاح، باب الحرة تحت العبد، حديث رقم: ٥٠٩٧.

حضرت بريره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته صدقه راوړي او هغه له دي صدقې څخه موږ ته هم څه را استوي. نو نبي ﷺ وفرمايل چي دا د هغې لپاره صدقه ده او زموږ لپاره هديه ده، او حضرت بريره په هغه وخت کي مکاتبه وه

يادونه: علامه زيلعي رَحِمَهُ الله فرمايي، چي د حديث په يوه طريقه کي مي هم دا نه وموندل چي بريره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په هغه وخت کي مکاتبه وه، خو په مصنف ابن عبد الرزاق کي له حضرت عروه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه دومره نقل سوي دي چي حضرت عائشې په داسي حال کي حضرت بريره رانيولې وه چي هغه مکاتبه وه او هغه يې داته (۸) اوقيو په عوض کي رانيولې وه، او حضرت بريره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د بدلِ کتابت يوه اوقيه هم نه وه اداء کړې.

③ ابو سعيد کوم چي د ابو اسيد غلام وو، هغه يو وخت د واده د ډوډۍ دعوت پېش کړی، نو د صحابه وو يو جماعت د هغه دعوت قبول کړی، لېکن دا حديث غريب دی او د هغه پر ځای يو بل مرفوع حديث د دليل په توګه موجود دی: عن أنس بن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال: كان رسول الله ﷺ يعود المريض ويتبع الجنازة ويجيب دعوة المملوك (أخرجه الترمذي وابن ماجة).

او بل دا چي څوک تجارت او کاروبار کوي هغه لره د معمولي دعوت او مېلمستيا ضرورت خامخا پېښيږي (او مأذون له غلام هم تاجر دی)، نو ځکه دا جائز کېدل پکار دي.

د لقيط لپاره د تصرّف کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ كَانَ فِي يَدِهِ لَقِيطٌ لَا أَبَ لَهُ فرمايي: او د چا په قبضه کي چي داسي لقيط بچی وي چي پلار ورلره نه وي [يعني د پلار هيڅ پته او درک يې نه معلوميږي چي څوک او چيري دی] فَإِنَّهُ يَجُوزُ قَبْضُهُ الْهِبَةَ وَالصَّدَقَةَ لَهُ نو جائز دي هغه کس لره [د لقيط] پر هبه او صدقه قبضه کول د لقيط لپاره وَأَصْلُ هٰذَا أَنَّ التَّصَرُّفَ عَلَى الصِّغَارِ أَنْوَاعٌ ثَلَاثَةٌ او د دې اصل دا دی چي پر کوچنيانو تصرّف لرل درې قسمه دی نَوْعٌ هُوَ مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ يو قسم تصرّف د ولايت له باب څخه دی لَا يَمْلِكُهُ إِلَّا مَنْ هُوَ وَلِيٌّ چي له ولي څخه بغير بل څوک د هغه ملکيت [اختيار] نه لري [يعني صرف ولي يې مالک دی] كَالْإِنْكَاحِ وَالشِّرَاءِ لکه نکاح ورکول او رانيول وَالْبَيْعِ لِأَمْوَالِ الْقِنْيَةِ او [لکه د بچي] د خالص مالونو خرڅول [کوم چي خالص د بچي د نفع اخيستو لپاره ساتل سوي وي، نه د تجارت او کاروبار لپاره. لکه د بچي لپاره درول سوي غوا]

لِأَنَّ الْوَلِيَّ هُوَ الَّذِي قَامَ مَقَامَهُ بِإِنَابَةِ الشَّرْعِ ځکه چي همدا ولي د بچي قائم مقام [نائب] دی، د شریعت په نائب جوړولو سره [چي شریعت هغه د بچي نائب کړی دی.] وَنَوْعٌ آخَرُ مَا كَانَ مِنْ ضَرُورَةِ حَالِ الصِّغَارِ او بل قسم هغه تصرّف دی کوم چي د کوچنیانو د حالت له ضرورت څخه وي وَهُوَ شِرَاءُ مَا لَا بُدَّ لِلصَّغِيرِ مِنْهُ وَبَيْعُهُ او دا د هغه شیانو رانیول دي چي له هغه څخه د کوچني چاره نه وي او د هغوی خرڅول دي وَإِجَارَةُ الْأَظْآرِ او [کوچنیانو ته] شیدې ورکونکي ښځي په اُجرت نیول دي وَذٰلِكَ جَائِزٌ مِمَّنْ يَعُولُهُ وَيُنْفِقُ عَلَيْهِ او دا [قسم تصرّف] د هغه کس له طرفه جائز دی کوم چي د بچي پالنه کوي او پر هغه نفقه کوي كَالْأَخِ وَالْعَمِّ وَالْأُمِّ وَالْمُلْتَقِطِ لکه ورور، اکا، مور او ملتقط إِذَا كَانَ فِي حِجْرِهِمْ [په دې شرط] کله چي بچی د دوی په غېږه [پالنه] کي وي وَإِذَا مَلَكَ هٰؤُلَاءِ هٰذَا النَّوْعَ او کله چي دا کسان هم د دغه قسم تصرّف ملکیت لري فَالْوَلِيُّ أَوْلَى بِهِ نو ولي به په درجه اولیٰ د دې ملکیت لري إِلَّا أَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ فِي حَقِّ الْوَلِيِّ أَنْ يَكُونَ الصَّبِيُّ فِي حِجْرِهِ خو د ولي په حق کي دا شرط نه دي چي بچی به د هغه په غېږه [پالنه] کي وي.

اللغات: ﴿لقيط﴾ راپورته کړی سوی (راخیستل سوی) بچی، مراد څني هغه بچی دی کوم چي په یو ځای یا لاره کي پروت وموندل سي او سړی یې راپورته کړي، داسي کوچني ته لقیط وایي، او د هغه راپورته کونکي (راخیستونکي) ته مُلتَقِط وایي. ﴿قِنْيَة﴾ او قُنْيَة: په اصل کي هغه څاروی ته وایي کوم چي د پاللو لپاره وي، نه د ذبح کولو او خرڅولو لپاره (یعني هغه بزه، مېږه، غوا، اوښه او داسي نور کوم چي د دې لپاره پالل کیږي چي شیدې، بچي وغیره څني حاصل کړل سي)، همدارنګه هغه شی او هغه مال چي انسان خالص د خپل ځان لپاره ساتلی وي، نه د تجارت لپاره. ﴿أظآر﴾ هغه ښځه چي د بل چا ځوی ته شیدې ورکوي. الْمُرْضِعَةُ لِغَيْرِ وَلَدِهَا. ﴿یعول﴾ د نصر د باب مضارع ده. د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي. کله چي د دې باب په صِله کي بچی یا اولاد راسي. نو معنیٰ یې ده: د معاش کفالت کول. یعني د بچي د خوراک، څښاک او کپړو خرڅه او ذمه واري په خپله غاړه اخیستل. پالنه یې کول. ﴿حجر﴾ غېږه. پرورش او پالنه.

تشريح: **صـورت د مسئلې**: دا دی که څوک په یو ځای او لاره کي یو بې پلاره بچی پروت وموندي او راپورته یې کړي چي داسي بچي ته لقیط وایي. نو دغه کس لره جائز دي چي د دې لقیط لپاره ورکول سوې هدیه، صدقه وغیره واخلي او قبضه پر وکړي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي اصل د دې مسئلې دا دی چي پر بچيانو درې قسمه تصرفات کيږي:

① تصرف ولايت. ② تصرف ضرورت. ③ تصرف نفع.

① په تصرف ولايت کي فقط هغه کس ته د تصرف کولو اجازت سته کوم چي د بچي ولي يعني د هغه پلار، اکا، نيکه يا قاضي وي، لکه د بچي نکاح کول، او د بچي داسي مال او شی خرڅول کوم چي خالص د هغه لپاره ساتل سوی وي، نه د تجارت لپاره (يعني د بچي ځاني شی)، د دې حق صرف ولي لره سته.

ونوع آخر الخ: ② دويم قسم تصرف ضرورت دی، يعني د بچي لپاره يو ضروري شی رانيول (لکه د خوراک شيان)، يا د بچي يو داسي سامان خرڅول چي که خرڅ نه کړل سي نو د خرابېدو امکان يې وي، يا د شيدو رودلو په وخت کي د بچي لپاره شيدې ورکونکې ښځه (مُرضعه) په اُجرت نيول، چي دا ټول ضروري دي، نو د داسي تصرف اجازت هر هغه کس لره سته کوم چي د بچي پالنه کوي او د هغه نفقه اداء کوي، لکه ورور، اکا، ملتقط (يعني هغه کس چي بچی يې پيدا کړی وي او را يې وړی وي). لېکن د دې ځ ګو په حق کي شرط دا دی چي بچی به د دوی په پالنه او ساتنه کي وي.

له مذکوره مسئلې څخه دا معلومه سوه چي کله دغه خلک د داسي تصرف مالکان دی، نو ولي خو به په درجه اولیٰ د هغه مالک وي، فرق يې صرف دومره دی چي د ولي لپاره دا شرط نه دي چي بچی به د هغه تر پالني لاندي وي، بلکي که هغه د بل چا په پالنه کي وي، نو بيا هم ولي ته د تصرف کولو اجازت سته.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَنَوْعٌ ثَالِثٌ مَا هُوَ نَفْعٌ مَحْضٌ او دريم قسم هغه تصرف دی کوم چي [د کوچني لپاره] خالص نفع وي كَقَبُولِ الْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ وَالْقَبْضِ لکه هديه او صدقه قبلول او قبضه پر کول فَهٰذَا يَمْلِكُهُ الْمُلْتَقِطُ وَالْأَخُ وَالْعَمُّ وَالصَّبِيُّ بِنَفْسِهِ إِذَا كَانَ يَعْقِلُ نو د دې تصرف ملکيت لري ملتقط او [د بچي] ورور، اکا او خپله بچی کله چي هغه عاقل وي لِأَنَّ اللَّائِقَ بِالْحِكْمَةِ فَتْحُ بَابِ مِثْلِهِ ځکه د حکمت لائق د دې په مثل سره دروازه خلاصول دي [يعني د حکمت شان دا دی چي د بچي د مصلحت او فايدې په خاطر په داسي صورت کي د بچي وغيره لپاره د تصرف کولو دروازه خلاصه سي] نَظَرًا لِلصَّبِيِّ د بچي د مصلحت [ښېګڼي] په خاطر فَيَمْلِكُ بِالْعَقْلِ وَالْوِلَايَةِ وَالْحِجْرِ نو [د داسي تصرف] ملکيت به لري [بچی] په عقل

سره او [ولي] په ولايت سره او [ملتقط وغيره کوم چي د بچي پالنه کوي] په پالنه سره وَصَارَ بِمَنْزِلَةِ الْإِنْفَاقِ او دا [تصرف] د نفقه کولو په درجه کي سو.

تشريح: فرمايي چي د تصرف دريم ③ قسم هغه دی چي په هغه کي د بچي خالص نفع وي. لکه هبه قبلول او صدقه قبلول او پر هغوی قبضه کول. د داسي تصرف اجازت خپله بچي لره هم سته کله چي هغه عاقل وي او متلقط او د بچي ورور او اکا لره هم سته؛ ځکه د حکمت تقاضا دا ده چي داسي دروازه خلاصه سي چي هر ډول د بچي فايده پکښې وي، لهذا په عاقل کېدلو او په ولايت او پالنه سره دا تصرّف حاصلیږي. بلکي بغير له ولايت او پالني ځخه هم که څوک قبضه وکړي او کوچني ته يې ور کړي، نو صحيح دي؛ ځکه په دې کي خالص نفع ده. او دا داسي ده لکه پر بچي نفقه کول چي د چا څومره خوښه وي، هغومره نفقه دي ور کړي، ځکه په دې کي د بچي خالص نفع ده.

په لقيط مزدوري کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ لِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يُؤَاجِرَهُ فرمايي: او ملتقط لره جائز نه دي چي لقيط په اجاره ورکړي [په مزدوري يې لګيا کړي] وَيَجُوزُ لِلْأُمِّ أَنْ تُؤَاجِرَابْنَهَا خو مور لره جائز دي چي خپله لور په اجاره ورکړي إِذَا كَانَ فِي حِجْرِهَا په دې شرط کله چي لور د مور په پالنه کي وي وَلَا يَجُوزُ لِلْعَمِّ لېکن اکا لره جائز نه دي لِأَنَّ الْأُمَّ تَمْلِكُ إِتْلَافَ مَنَافِعِهِ بِاسْتِخْدَامِهِ ځکه چي مور د خپل بچي د منافعو د ضايع کولو [استعمالولو] ملکيت لري، له بچي ځخه په خدمت اخيستلو سره وَلَا كَذٰلِكَ الْمُلْتَقِطُ وَالْعَمُّ خو ملتقط او اکا داسي نه دي وَلَوْ آجَرَ الصَّبِيُّ نَفْسَهُ او که چيري بچی خپل ځان په اجاره ورکړي لَا يَجُوزُ نو دا جائز نه دي [أى لا يلزم] لِأَنَّهُ مَشُوْبٌ بِالضَّرَرِ ځکه دا په ضرر سره مخلوط دي [ضرر په ګډ دی يعني تاوان ور سره ترلی دی] إِلَّا إِذَا فَرَغَ مِنَ الْعَمَلِ مګر دا چي کله بچی له کار ځخه فارغه سي لِأَنَّ عِنْدَ ذٰلِكَ تَمَحَّضَ نَفْعًا ځکه چي په دې وخت کي هغه خالص نفع ګرځي فَيَجِبُ الْمُسَمّٰى نو ځکه تاکل سوی أُجرت به واجبيږي وَهُوَ نَظِيْرُ الْعَبْدِ الْمَحْجُوْرِ يُؤَاجِرُ نَفْسَهُ او دا [مسئله] نظير د هغه محجور غلام ده کوم چي خپل ځان په اجاره ورکړي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او موږ د هغه ذکر [مخکي په باب إجارة العبد] کي کړی دی.

اللغات: ﴿ملتقِط﴾ د افتعال د باب فاعل دی: د بچي راپورته کونکی (اخيستونکی. يعني هغه کس چي په لاره وغيره کي يو بچی وموندي او راپورته يې کړي. خپل ځای ته يې يوسي). ﴿يؤاجر﴾ د افعال د باب مضارع ده: په اجاره ورکول يعني په اُجرت او مزدوري ورکول. مزدوري په کول. ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: تلفول. ضايع کول. ختمول. ﴿تمحض﴾ د تفعل د باب مصدر دی: خالص کېدل. محض کېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي ملتقط يا اکا وغيره ته دا حق نسته چي دا بچی په اُجرت ورکړي. يعني د يو چا سره يې مزدور کړي. خو مور ته دا حق حاصل دی چي په خپل بچي مزدوري وکړي او د يو چا سره يې مزدور کړي. لېکن شرط دا دی چي بچی به د مور تر پالني لاندي وي: ځکه مور ته دا حق حاصل دی چي له خپل بچي څخه د خدمت منفعت واخلي او د هغه منافع استعمال او تلف کړي. لېکن ملتقط او اکا وغيره ته دا حق نسته. نو ځکه هغوی ته به دا حق هم نه وي چي په اُجرت يې ورکړي. (يا په بله وينا دا چي مور ته دا اختيار سته چي بلا عوضه د بچي منافع ضايع کړي يعني خدمت ځني واخلي. نو د عوض اخيستلو په صورت کي خو به په درجه اولیٰ د دې اختيار ورته وي. لېکن ملتقط او اکا بلا عوضه د بچي منافع نه سي ضايع کولای. نو ځکه د عوض اخيستلو په صورت کي به هم دوی ته د بچي د منافعو د ضايع کولو اختيار نه وي).

او که خپله بچي ځان په اُجرت ورکړي. نو د هغه دا فعل صحيح نه دي؛ ځکه دا د عقل خلاف دي او د غيرِ عاقل بچي تصرّف معتبر نه دی؛ ځکه عموماً د غيرِ عاقل بچي تصرّف له ضرر څخه خالي نه وي. لېکن د دې باوجود که يو بچی دا اقدام وکړي او بيا هغه له کار څخه فارغه سي، نو اوس به هغه ته خپل ټاکل سوی اُجرت ورکول کيږي؛ ځکه له کار څخه تر فارغېدلو وروسته د بچي کار د هغه په حق کي خالص نفع سوه. او د بچي لپاره هر ډول نفع رواه ده په دې شرط چي هغه حرامه نه وي.

او دا داسي ده لکه يو محجور غلام چي ځانې په اُجرت ورکړي، نو که څه هم د هغه دا فعل صحيح نه دی. خو له کار څخه تر فارغېدلو وروسته به هغه ته خپل اُجرت ورکول کيږي؛ ځکه چي اوس دا د هغه په حق کي خالص نفع ده. (احسن الهدايه)

غلام ته طوق اچول او قيدول

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي عُنُقِ عَبْدِهِ الرَّايَةَ فرمايي: او مکروه دي دا چي يو سړی د خپل غلام غاړي ته طوق واچوي وَيُرْوَى الدَّايَةَ او روايت سوی دی دايه [يعني په بله نسخه کي د "راية" پر ځای د "داية" لفظ راغلی دی] وَهُوَ طَوْقُ الْحَدِيدِ الَّذِي يَمْنَعُهُ مِنْ أَنْ يُحَرِّكَ رَأْسَهُ او دا هغه د اوسپني طوق دی کوم چي غلام له سر ښورولو څخه منع کوي وَهُوَ مُعْتَادٌ بَيْنَ الظَّلَمَةِ او دا د ظالمانو تر مينځ عادت

سوی [فعل] دی [نو مکروه دی] لِأَنَّهُ عُقُوبَةُ أَهْلِ النَّارِ ځکه چي دا د دوږخيانو سزا ده فَيُكْرَهُ نو ځکه مکروه به وي كَالْإِحْرَاقِ بِالنَّارِ لکه په اُور سره سوځول وَلَا يُكْرَهُ أَنْ يُقَيِّدَهُ او مکروه نه دي دا چي هغه قيدي کړي [پښو ته يې زولنې واچوي] لِأَنَّهُ سُنَّةُ الْمُسْلِمِينَ فِي السُّفَهَاءِ وَأَهْلِ الدَّعَارَةِ ځکه دا د مسلمانانو طريقه ده د ناپوهانو او بدکارانو [فساد ګرو] کسانو په هکله فَلَا يُكْرَهُ فِي الْعَبْدِ تَحَرُّزًا عَنْ إِبَاقِهِ وَصِيَانَةً لِمَالِهِ نو ځکه د غلام تښتېدلو څخه د بچ کېدو او د مال خوندي کېدو په خاطر به دا [طريقه] د غلام په هکله مکروه نه وي.

اللغات: ﴿الراية﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: علامت، نښه. مراد ځني هغه داوسپني طوق او کړی ده چي د غلام غاړي ته د علامت او نښي په توګه اچول کېدله چي دا تښتېدونکی (آبق) غلام دی. ﴿الداية﴾ صاحب د حاشيې ليکلي دي چي دا لفظ [دَايه په دال سره] دلته هيڅ معنیٰ نه لري او له کاتب څخه غلطي سوې ده. ﴿معتاد﴾ د افتعال د باب اسمِ مفعول دی: عادت کړی سوی، د عادت مطابق. په عُرف او عادت کي مُروّجه طريقه. ﴿سفهاء﴾ جمع د سَفِيْهٌ ده: بې وقوف ناپوه، د عقل او حکمت خلاف کار کونکی. ﴿اهل الدعارة﴾ بدکاره، مفسدين.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د غلام غاړي ته داوسپني طوق اچول مکروه دي؛ دا د ظالمانو طريقه ده چي هغوی به د خپلو غلامانو غاړي ته داوسپني طوقونه اچول چي سر او غاړي ته حرکت ورنه کړي (په در مختار کي ليکل سوي دي چي د دې مقصد به دا وو چي په غاړه کي يې نښان او علامت وي او خلګو ته معلومه سي چي دا تښتېدونکی غلام دی)، ځکه چي دا د اهل النار (دوږخيانو) عذاب دی، نو د احراق بالنار په څېر مکروه دی.

خو د غلام پښو ته زولنې اچول مکروه نه دي؛ ځکه د مسلـ[illegible] طريقه ده چي د ناپوهانو فتنه ګرو او مُفسدينو د سزا لپاره دا حربه استعمالوي، لهذا په دې غرض چي غلام نه تښتيږي او مال محفوظ پاته سي د هغه پښو ته زولنې اچول مکروه نه دي.

د حقنه کولو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِالْحُقْنَةِ يُرِيدُ بِهِ التَّدَاوِيَ فرمايي: او پروا نسته په حقنه کولو چي په هغه سره يې اراده درملنه [علاج] کول وي لِأَنَّ التَّدَاوِيَ مُبَاحٌ بِالْإِجْمَاعِ ځکه درملنه بالاجماع جائز ده وَقَدْ وَرَدَ بِإِبَاحَتِهِ الْحَدِيثُ او د دې درواينست په هکله حديث هم وارد سوی دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الرِّجَالِ

وَالنِّسَاءِ او د خلکو او ښځو ترمينځ هيڅ فرق نشته إِلَّا أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يَسْتَعْمِلَ الْمُحَرَّمَ خو پکار نه دي چې [په حقنه کې] حرام شی استعمال کړي كَالْخَمْرِ وَنَحْوِهَا لکه شراب او داسې نور لِأَنَّ الِاسْتِشْفَاءَ بِالْمُحَرَّمِ حَرَامٌ ځکه چې په حرام شي سره شفاء حاصلول حرام دي.

اللغات: ﴿حقنة﴾ ①حقنه کول. يعني: د شا د لارې (د مقعدې لخوا) معدې ته دواء رسول. ② د حقنه کولو آله. وتطلق اليوم على إدخال الدواء إلى داخل الجسم بواسطة الضغط سواء كان عن طريق الدبر أم عن طريق الجلد. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د علاج په توګه حقنه کول جائز دي؛ ځکه دا يو ډول علاج دی او ښکاره خبره ده چې علاج او درملنه جائز ده. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: تَدَاوَوْا، وَإِنَّ اللهَ جَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً! (تاسې علاج وکړئ! الله تعالیٰ د هر مرض لپاره دواء پيدا کړې ده). خو که څوک د محض ځاغښت لپاره حقنه استعمالوي، نو دا مکروه دي. او په دې باب کې د نر او ښځې دواړو مسائل سره برابر دي.

خو ياد ساتل پکار دي چې د حرام شي حقنه به نه استعمالوي؛ ځکه په حرامو شيانو سره د شفاء طلب او علاج کول حرام او ناروا دي، او په حديث کې ذکر سوي دي: إِنَّ اللهَ لَمْ يَجْعَلْ شِفَاءَكُمْ فِيمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ.

د قاضي وغيره لپاره معاش او تنخا مقررول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِرِزْقِ الْقَاضِيْ فرمايي: او د قاضي په روزي [معاش او تنخا ورکولو] کې څه حرج نشته لِأَنَّهُ الطَّيْئِلاً[1] بَعَثَ عَتَّابَ بْنَ أُسَيْدٍ إِلَى مَكَّةَ وَفَرَضَ لَهُ ځکه نبي کريم ﷺ عتاب بن اسيد رضي الله عنه مکې ته واستوی او د هغه لپاره يې نفقه مقرره کړه وَبَعَثَ عَلِيًّا إِلَى الْيَمَنِ وَفَرَضَ لَهُ او حضرت علي رضي الله عنه يې يمن ته واستوی او د هغه لپاره يې [هم] نفقه مقرره کړه وَلِأَنَّهُ مَحْبُوسٌ لِحَقِّ الْمُسْلِمِينَ او ځکه چې قاضي د مسلمانانو د حق [ورکولو] لپاره قيدي وي [يعني د مسلمانانو د فيصلو د حل او قضاوت لپاره يې ځان له هر څه څخه راګرځولی وي] فَتَكُونُ نَفَقَتُهُ فِي مَالِهِمْ نو نفقه به يې هم د همدې مسلمانانو له مال څخه وي وَهُوَ مَالُ بَيْتِ الْمَالِ او هغه د بيت المال مال دی وَهٰذَا لِأَنَّ الْحَبْسَ مِنْ أَسْبَابِ النَّفَقَةِ او دا ځکه چې قيد کېدل [ځان راګرځول] د نفقې له اسبابو څخه دي كَمَا فِي الْوَصِيِّ لکه څرنګه چې په وصي کې دي وَالْمُضَارِبِ إِذَا سَافَرَ بِمَالِ الْمُضَارَبَةِ او [لکه] په مضارب کې کله چې هغه د مضاربت په مال سره سفر وکړي وَهٰذَا فِيمَا يَكُوْنُ

[1] تخريج: غريب، وروى الحاكم في المستدرك في كتاب الفضائل، حديث رقم: ٢١٢٠، ٢١٢٢.

كِفَايَةً او دا [قاضي ته د معاش وركول جائز كيږي] په دومره مقدار كي دي كوم چي د كفايت په اندازه وي فَإِنْ كَانَ شَرْطًا ليكن كه [معاش] شرط وي فَهُوَ حَرَامٌ نو دا حرام دي لِأَنَّهُ اسْتِئْجَارٌ عَلَى الطَّاعَةِ ځكه چي دا پر طاعت اجرت اخيستل دي إِذِ الْقَضَاءُ طَاعَةٌ ځكه چي قضاء [قضاوت كول] يو طاعت دی بَلْ هُوَ أَفْضَلُهَا بلكي افضل طاعت دی ثُمَّ الْقَاضِي إِذَا كَانَ فَقِيرًا بيا كه چيري قاضي فقير وي فَالْأَفْضَلُ بَلِ الْوَاجِبُ الْأَخْذُ نو [معاش او تنخا] اخيستل افضل بلكي واجب دي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ إِقَامَةُ فَرْضِ الْقَضَاءِ إِلَّا بِهِ ځكه چي د قضاء ذمه واري قائمول [ترسره كول] قاضي لره ممكن نه دي مګر په دې [معاش اخيستلو] سره إِذِ الْاِشْتِغَالُ بِالْكَسْبِ يُقْعِدُهُ عَنْ إِقَامَتِهِ ځكه چي په مال ګټلو مشغولېدل هغه د دې فرض [ذمه واري] له قائمولو څخه كښېنوي [عاجزه كوي] وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا او كه چيري قاضي مالدار وي فَالْأَفْضَلُ الْاِمْتِنَاعُ نو منع كېدل [نه اخيستل] غوره دي عَلَى مَا قِيلَ لكه څرنګه چي ويل سوي دي رِفْقًا بِبَيْتِ الْمَالِ د بيت المال په رعايت كولو سره وَقِيلَ: الْأَخْذُ او ويل سوي دي چي: اخيستل غوره دي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا زيات صحيح قول دی صِيَانَةً لِلْقَضَاءِ عَنِ الْهَوَانِ له سپكتيا [او ذلت] څخه د قضاء بچ كېدلو په خاطر وَنَظَرًا لِمَنْ يُوَلَّى بَعْدَهُ مِنَ الْمُحْتَاجِينَ او پر هغه چا د شفقت كولو په خاطر كوم چي تر هغه [مالدار قاضي] وروسته له محتاجينو څخه قاضي وټاكل سي [يعني پر محتاج او غريب قاضي د شفقت او د هغه د مصلحت او ښېګني په خاطر مالدار قاضي لره خپل معاش او تنخا اخيستل افضل دي] لِأَنَّهُ إِذَا انْقَطَعَ زَمَانًا ځكه روزي [تنخا] چي كله څه زمانه بنده سي يَتَعَذَّرُ إِعَادَتُهُ نو بيا د هغه راګرځول [واپس جاري كول] مشكل وي ثُمَّ تَسْمِيَتُهُ رِزْقًا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ بِقَدْرِ الْكِفَايَةِ بيا هغه [معاش او تنخا د قاضي] په رزق سره نومول پر دې خبره دلالت كوي چي هغه به د كفايت په اندازه وي.

اللغات: ﴿رزق﴾ روزي، معاش، تنخا (تنخوا)، ﴿محبوس﴾ د ضرب د باب مفعول دی: قيدي، بندي، راګرځول سوی (منع كړی سوی)، ﴿نفقة﴾ د خوراك او څښاك خرچه، د ژوند تېرولو خرچه. ﴿طاعة﴾ حكم او فرمان منل، عبادت كول، عبادت. ﴿كسب﴾ د ضرب له بابه مصدر او اسم مصدر دی: ګټه، مال ګټل، د ځان او اهل وعيال لپاره د روزۍ طلب كول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د مسلمان قاضي لپاره د هغه د ټولنيز ژوند په اندازه تنخا او وظيفه وركول جائز دي؛ ځكه كله چي نبي كريم ﷺ به صحابه يو خوا ته استول، نو د هغوی لپاره به يې وظيفه مقرروله. لكه څرنګه چي د حضرت اسيد رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه په هكله نقل سوي دي.

عقلي دلیل دا دی چې قاضي د مسلمانانو د مسائلو او فیصلو د حل لپاره ټوله وخت ناست او مصروف وي ګواکې هغه یو ډول د مسلمانانو لپاره اجیر او کار کونکی دی. او د اجیر اُجرت هم پر مستأجر لازم وي. نو ځکه د قاضي نفقه به هم له بیتُ المال څخه ورکول کیږي کوم چې د مسلمانانو مال دی.

وهذا لأن إلخ: د دې حاصل دا دی چې حبس (ځان راګرځول) د نفقې له اسبابو څخه دي، هغه په دې توګه چې کله قاضي یا وصي وغیره خپل ځان د نورو د کار لپاره راوګرځوي، نو آخر د دوی نفقه او خرچه به له کومه راځي، نو څرنګه چې محتاج وصي د خپل ضرورت په اندازه د یتیم له مال څخه نفقه اخیستلای سي، او څرنګه چې مضارب د سفر په حالت کې له مال مضاربت څخه نفقه اخیستلای سي. خاص همداسي قاضي لره هم د خپل قاضي والي په زمانه کې له بیت المال څخه د معاش او نفقې اخیستلو اجازت سته. لیکن شرط دا دی چې هغه معاش او تنخا به د کفایت په اندازه وي (یعني چې څومره دده زرته ضرورت وي او دده کافي کیږي). او مشروط به هم نه وي چې که ما ته هره میاشت دومره تنخا نه راکول کیږي نو زه قضاوت نه کوم، کنې حرامیږي؛ ځکه چې دا استئجار علی الطاعة دی کوم چې باطل دی. او بل دا چې قضاوت خو یو اهم طاعت دی. لهذا پر هغه د مشروط اُجرت اخیستلو بطلان به هم د اعلیٰ درجې وي.

ثم إن إلخ: فرمایي چې که قاضي محتاج او ضرورت مند وي، نو هغه لره معاش او تنخا اخیستل واجب دي؛ ځکه که د ضرورت باوجود قاضي ته معاش نه ورکول سي، نو هغه به په روزي او معاش ګټلو مصروفه وي چې په دې توګه به د قضاوت اُمور ځني پاته وي. لهذا په دې صورت کې لازمه ده چې معاش او تنخا ورکول سي. او که چیري قاضي مالدار وي، نو د یوه قول مطابق د هغه لپاره معاش نه اخیستل غوره دي؛ چې د بیت المال سرمایه هسي مصرف نه سي بلکې په نورو مهمو کارو کې وکارول سي.

خو دویم او صحیح قول دا دی چې په دې صورت کې هم معاش اخیستل غوره دي: چې د معاش نه اخیستلو په وجه د قضاوت په اُمورو کې سستي او لا پروایي واقع نه سي. ځکه که معاش او تنخا مقرره نه کړل سي. نو قاضي به آزاد وي او دغه کارو ته به یې ډېره توجه نه وي. او بل د مالدار قاضي د تنخا په مقررولو کې دا فایده هم سته چې که تر دې وروسته یو ضرورت مند او غریب قاضي وټاکل سي. نو د هغه تنخا به جاري وي او له سره به د تنخا مقررولو په هکله تکلیف نه ګالي، ځکه وظیفه او تنخا چې څو وخت بنده سي، نو بیا هغه په تکلیف او زحمت سره جاري کیږي.

ثم إلخ: فرمایي د قاضي معاش او تنخا په رزق سره نومول کېدل د همدې خبرې علامت او دلالت دی چې دا به د کفایت په اندازه وي.

قاضي ته به كله تنخا وركول كيږي ؟

وَقَدْ جَرَى الرَّسْمُ بِإِعْطَائِهِ فِيْ أَوَّلِ السَّنَةِ او [قاضي ته] د كال په شروع كي د روزي [تنخا] وركولو رواج جاري دى لِأَنَّ الْخَرَاجَ يُؤْخَذُ فِيْ أَوَّلِ السَّنَةِ ځكه چي خراج د كال په شروع كي اخيستل كيږي وَهُوَيُعْطِي مِنْهُ او هغه [تنخا] له همدې خراج څخه وركول كيږي وَفِيْ زَمَانِنَا الْخَرَاجُ يُؤْخَذُ فِيْ آخِرِ السَّنَةِ او زموږ په زمانه كي خراج د كال په آخر كي اخيستل كيږي وَالْمَأْخُوْذُ مِنَ الْخَرَاجِ خَرَاجُ السَّنَةِ الْمَاضِيَةِ او كوم خراج چي اخيستل كيږي هغه د تېر سوي كال خراج وي هُوَالصَّحِيْحُ همدا صحيح ده [په بله وينا دا چي: د صحيح قول مطابق له خراج څخه د تېر كال خراج مراديږي] وَلَوِاسْتَوْفَى رِزْقَ سَنَةٍ او كه قاضي [د كال په اول كي] د يوه كال روزي [تنخا] ترلاسه كړي وَعُزِلَ قَبْلَ اسْتِكْمَالِهَا او بيا د كال تر پوره كېدو مخكي قاضي معزوله كړى سي قِيْلَ: هُوَعَلَى اخْتِلَافٍ مَعْرُوْفٍ فِيْ نَفَقَةِ الْمَرْأَةِ نو ويل سوي دي چي: دا [مسئله] پر هغه اختلاف ده كوم چي د ښځي د نفقې په باره كي پېژندل سوى دى إِذَامَاتَتْ فِي السَّنَةِ بَعْدَ اسْتِعْجَالِ نَفَقَةِ السَّنَةِ كله چي ښځه د كال په دوران كي مړه سي وروسته تر معجّل [مخكي] اخيستلو د يوه كال د نفقې [يعني كله چي ښځه له خپل خاوند څخه د پوره يوه كال نفقه مخكي يعني د كال په اول كي واخلي او بيا د كال په مينځ كي مړه سي] وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَجِبُ الرَّدُّ خو صحيح دا ده چي [دې تنخا وغيره] واپس كول واجب دي.

اللغات: ﴿استوفی﴾ د استفعال د باب ماضي ده: ترلاسه كول، پوره اخيستل، ﴿عزل﴾ د ضرب له بابه د ماضي مجهولي صيغه ده: : معزوله كول، له منصبه ليري كول، برطرفه كول، ﴿استعجال﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په يو شي كي تلوار كول، مخكي او ژر د يو شي غوښتنه كول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي په اولني دور كي چي څرنګه د كال په شروع كي خراج او محصول اخيستل كېدى او له همدې څخه به د قاضي وغيره معاش او تنخا وركول كېده، نو ځكه په هغه وخت كي به د كال په شروع كي د ټوله كال معاش او تنخا وركول كېده، او زموږ په زمانه كي د كال په آخر كي خراج اخيستل كيږي، نو ځكه د قاضي وغيره تنخا به هم د كال په آخر كي وركول كيږي.

ولو استوفی إلخ: د دې حاصل دا دی كه قاضي د كال په شروع كي د ټوله كال تنخا واخلي، بيا د كال تر پوره كېدو مخكي هغه معزوله كړى سي، نو د اصح قول مطابق تر معزولتيا وروسته د پاته مياشتو تنخا به واپس كوي، خو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت كي ردّ (واپس كول) ضروري نه دي.

او د دې مثال داسي دی لكه ښځه چي له خپل خاوند څخه مخكي (پېشكي) د ټوله كال نفقه واخلي، بيا د كال په مينځ كي خاوند مړ سي يا ښځه مړه سي، نو دلته هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز ردّ ضروري دی (چي د

پاته وخت نفقه به ښځه واپس کوي يا خاوند به يې واپس ځني اخلي). او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز رد ضروري نه دی. ليکن اصح قول دا دی چې رد ضروري دی. لأن الأجرة منافع العمل، ولاعمل بعد العزل. لهذا د صحيح قول مطابق پر قاضي د پاته ورځو تنخواه او نفقه واپس کول ضروري دي.

بغير له محرمه د أم ولد او مينځې د سفر کولو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ تُسَافِرَ الْأَمَةُ وَأُمُّ الْوَلَدِ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ فرمايي: او پروا نسته په دې کې چې مينځه او أم ولد بغير له محرمه سفر وکړي لِأَنَّ الْأَجَانِبَ فِي حَقِّ الْإِمَاءِ فِيمَا يَرْجِعُ إِلَى النَّظَرِ وَالْمَسِّ بِمَنْزِلَةِ الْمَحَارِمِ ځکه پردي خلک د مينځو په حق کې په هغه څه کې کوم چې راجع دي کتلو او مسه کولو ته د محارمو په درجه کې دي [يعني د کتلو او مسه کولو په اړه پردي خلک د مينځو په حق کې د محارمو په درجه کې دي] عَلَى مَا ذَكَرْنَا مِنْ قَبْلُ لکه مخکې چې موږ دا دي يادونه وکړه وَأُمُّ الْوَلَدِ أَمَةٌ او أم ولد [هم] مينځه ده لِقِيَامِ الْمِلْكِ فِيهَا ځکه چې په هغې کې [تر اوسه د مالک] ملکيت موجود دی وَإِنِ امْتَنَعَ بَيْعُهَا که څه هم د هغې بيع [خرڅول يې] ممنوع دي.

اللغات: ﴿أم ولد﴾ (د بچي مور). هغه مينځې ته وايي چې خپل مالک (مولیٰ) جماع ور سره کړې وي او د جماع په نتيجه کې له هغې څخه بچی پيدا سوی وي. ﴿أجانب﴾ جمع د أجنبيٌّ ده: پردی. ﴿المسّ﴾ مصدر دی. له سمع او نصر دواړو څخه راځي. مَسَّ يَمَسُّ و يَمُسُّ مَسًّا و مَسِيْسًا و مِسِّيْسَى: مسه کول. لاس ور وړل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د مينځې او أم ولد لپاره جائز دي چې بغير له ذی رحم محرم څخه (يوازې) سفر وکړي؛ ځکه مخکې ذکر سوه چې مينځې ته کتل د پرديو خلکو لپاره داسې دي لکه خپل محارمو ته د سرې کتل. يعني سړی چې د خپل محارمو ښځو کومو اندامونو ته کتلای او مسه کولای يې سي. همداسې پردي خلک هم د مينځو هغه اندامونو ته کتلای او مسه کولای يې سي.

وأم الولد إلخ: فرمايي چې أم ولد هم مينځه ده که څه هم د هغې خرڅول جائز نه دي. ځکه په هغې کې (تر اوسه) د خپل مالک ملکيت پاته دی (ځکه هغه خو د مالک تر مرګ وروسته آزاديږي). لهذا کله چې هغه مينځه ده. نو هغې لره به هم بغير له محرمه سفر کول او بهر تلل جائز وي.



كِتَابُ إِحْيَاءِ الْمَوَاتِ

(دا) کتاب د مړو (شاړو) ځمکو د آبادولو (په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله کتابُ الکراهیت بیان کړی، اوس تر هغه وروسته کتاب إحیاء الموات بیانوي، د دواړو تر مینځ د مناسبت په هکله صاحب د بنایې رَحِمَهُ الله داکثره شارحینو دا رایه نقل کړې ده چې څرنګه په کتابُ الکراهیة کې د مکروه او غیر مکروه احکام بیان سوي دي، همداسې په دغه کتاب کې هم ډېر د مکروه او غیر مکروه احکام بیان سوي دي. لېکن وروسته خپله صاحب د بنایې رَحِمَهُ الله د دغه رایې تردید کوي فرمایي "وهٰذا لیس بشیء" چې دا توجیه د پاملرنې وړ نه ده؛ ځکه د مکروه او غیر مکروه احکامو بیان تقریباً په هر کتاب کې وي.

له دې څخه غوره توجیه دا ده چې په دغه کتاب کې د مَوَات (شاړو ځمکو) بیان دی او مَوَات ناقابلِ انتفاع دي (یعني د دې قابله نه دي چې نفع ځنې واخیستل سي)، او په کتاب الکراهیت کې د سرو زرو، سپینو رو، ورېښمو او داسې نورو بیان دی، او ښکاره ده چې دا شیان هم په ځینې صورتونو کې نا قابلِ انتفاع دي، مثلاً د سرو زرو او سپینو زرو په لوښو کې خوراک، چښاک د سړي او ښځې دواړو لپاره حرام دي. همدارنګه ورېښم د سړي لپاره ناروا دي. لنډه دا چې د عدمِ انتفاع په هکله د کتاب الکراهیت او إحیا الموات تر مینځ مناسبت سته. نو ځکه یو تر بل وروسته بیان کړی سوی دی. (بنایه ج: ۱۱، ص: ۳۱۴، هکذا فی العنایة)

د احیاء الموات لغوي او اصطلاحي معنیٰ: إِحْیَاء د افعال د باب مصدر دی: ژوندي کول، نوی ژوند وربخښل. دلته یې مطلب دا دی چې ځمکه د کښت کرنې قابله ګرځول یا وداني پکښې جوړول.

مَوَات (د میم په فتحه سره) د دې لغوي معنیٰ ده: مړ. مَا لَا رُوْحَ فِیْهِ یعني هغه حیوان (ساکښ) چې روح او سا پکښې نه وي (چې مړ ورته وایي). او اصطلاحي معنیٰ یې ده: د اوبو د کمښت یا ډېرښت په وجه چې کومه ځمکه شنډه سوې وي او د کښت کرنې قابله نه وي او نه د هغې څوک مالک وي، داسې ځمکې ته موات ویل کیږي.

إحیاءِ موات په حدیث سره ثابت دی. نبي ﷺ فرمایلي دي: "مَنْ أَحْیٰی أَرْضًا مَیْتَةً فَهِيَ لَهُ" (څوک چې مړه شاړه ځمکه ژوندۍ کړي [یعني د زراعت قابله او آباده یې کړي]. نو دا ځمکه د هغه ده).

د ارض موات تعریف

قَالَ: الْمَوَاتُ مَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ مِنَ الْأَرَاضِيْ فرمايي: موات هغه ځمکه ده چي له هغې څخه نفع نه سي اخيستل کېدای لِانْقِطَاعِ الْمَاءِ عَنْهُ له هغې څخه داوبو د منقطع کېدلو [بندېدلو] په وجه أَوْ لِغَلَبَةِ الْمَاءِ عَلَيْهِ يا پر هغې داوبو د غالبېدلو [زیاتېدلو] په وجه أَوْ مَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ مِمَّا يَمْنَعُ الزِّرَاعَةَ يا دې ته په څېر بل سبب. کوم چي کښتګري منع کړي [يعني چي د هغه په وجه ځمکه د کښت کرني قابله پاته نه سي] سُمِّيَ بِذٰلِكَ لِبُطْلَانِ الْاِنْتِفَاعِ بِهِ او داسي ځمکه په موات [مړې ځمکي] سره ځکه نومول سوې ده چي له هغې څخه نفع اخيستل باطل [او ناممکن] دي.

اللغات: ﴿ينتفع﴾ د افتعال د باب مضارع ده: نفع اخيستل. ﴿أراضي﴾ جمع د أَرْضٌ ده: ځمکي، مځکي. ﴿انقطاع﴾ د انفعال د باب مصدر دی: پرېکېدل او شکېدل، بندېدل.

تشریح: په دې عبارت کي د موات تعريف بيان سوی دی، د هغه حاصل دا دی چي له کومي ځمکي څخه اوبه بندي او منقطع وي او د هغې د اوبه کولو لپاره هيڅ انتظام نه وي سوی. يا په ځمکه کي مثلاً د سېلاب اوبه جمع سوي وي او تر اوبو لاندي وي. يا مثلاً پر ځمکه رېګ راغلی وي او ځمکه يې لاندي کړې وي. يا ځمکه دومره سخته او کلکه سوې وي چي د هغې اړول او هوارول مشکل وي. لنډه دا په هر ډول چي ځمکه د کښت کرني او شنه کېدلو قابله پاته نه سي، نو هغې ته مَوَات ويل کيږي. او موات ځکه ورته وايي چي څرنګه له مړه حيوان څخه نفع اخيستل ممکن نه دي، همداسي له مړې او شاړي ځمکي څخه هم نفع اخيستل ممکن نه وي، په دې مناسبت مَوَات ورته وايي.

د ارض موات مصداق

قَالَ: فَمَا كَانَ مِنْهَا عَادِيًا فرمايي: او کومه ځمکه چي پخوانۍ [شاړه] وي لَا مَالِكَ لَهُ چي هغې لره مالک نه وي أَوْ كَانَ مَمْلُوكًا فِي الْإِسْلَامِ لَا يُعْرَفُ لَهُ مَالِكٌ بِعَيْنِهِ يا دا مَوَات [شاړه ځمکه] په دارُ الاسلام کي د چا په ملکيت کي وي [خو] هغې لره متعيّن مالک نه پېژندل کيږي [يعني مالک يې معلوم نه وي] وَهُوَ بَعِيْدٌ مِنَ الْقَرْيَةِ او هغه له کلي [يعني د خلکو له آبادۍ او سيمي] څخه ليري وي بِحَيْثُ إِذَا وَقَفَ إِنْسَانٌ مِنْ أَقْصَى الْعَامِرِ فَصَاحَ په دې توګه چي که انسان د آبادۍ په آخر کي ودرېږي او نعره وکړي لَا يُسْمَعُ الصَّوْتُ فِيْهِ نو په هغه ځمکه کي آواز نه اورېدل کيږي فَهُوَ مَوَاتٌ نو هغه موات [مړه شاړه ځمکه] ده.

اللغات: ﴿عادي﴾ مراد ځنې هغه ځمکه ده چې له پخوا څخه شاړه پرته وي، ﴿أقصى﴾ آخري، نهائي، ﴿عامر﴾ آبادي (آباتي)، ودانې، هغه سيمه او علاقه چې خلک پکښې آباد وي، ﴿صاح﴾ د ضرب ماضي ده: چيغه او نعره وهل، نعره کول.

تشريح: فرمايي که يوه ځمکه له پخوا څخه شاړه، ويرانه پرته وي چې د کښت قابله نه وي، او د هغې هيڅ مالک نه معلوميږي، يا په دارُ الاسلام کې خو د هغې مالک وي (يعني مالک لري). لېکن معلوم نه وي او هيڅ درک يې هم نه وي، او دا ځمکه د خلکو له آبادۍ (سيمې او علاقې) څخه دومره ليرې وي چې که څوک د آبادۍ په آخره حصه کې ودريږي په زوره نعرې کړي، نو دغه ځمکې ته نه را رسيږي، داسې ځمکه موات ده چې د هغې ژوندۍ کول او آبادول صحيح دي (او همدا آبادونکی کس يې مالک کيږي کله چې يې هغه د امام په اجازت سره آباده کړي).

د مـوات په تعريف کې د قيوداتو وضاحت

قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: هَكَذَا ذَكَرَهُ الْقُدُورِيُّ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: همداسې امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي وَمَعْنَى الْعَادِيِّ مَا قَدُمَ خَرَابُهُ او د عادي معنیٰ ده هغه [ځمکه] چې ويرانېدل [شاړېدل] يې پخوانې وي [يعني له پخوا څخه شاړه ويرانه وي] وَالْمَرْوِيُّ عَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يُشْتَرَطُ أَنْ لَا يَكُونَ مَمْلُوكًا لِمُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ مَعَ انْقِطَاعِ الِارْتِفَاقِ بِهَا ✿ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې دا [هم] شرط دي چې هغه ځمکه به د يو مسلمان يا ذمي په ملکيت کې نه وي سره د منقطع کېدلو د ارتفاق [نفع اخيستلو] په هغې سره [په بله وينا دا چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چې دا هم شرط دي چې د ناقابلِ انتفاع کېدلو سره، سره به هغه ځمکه د يو مسلمان يا ذمي په ملکيت کې هم نه وي] لِيَكُونَ مَيْتَةً مُطْلَقًا د دې لپاره چې هغه مطلقاً مړه [شاړه] سي فَأَمَّا الَّتِي هِيَ مَمْلُوكَةٌ لِمُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ او پاته سوه هغه ځمکه کوم چې د مسلمان يا ذمي په ملکيت کې وي لَا تَكُونُ مَوَاتًا نو هغه موات [مړه شاړه] ځمکه نه ده وَإِذَا لَمْ يُعْرَفْ مَالِكُهُ او کله چې د هغې مالک پېژندل سوی [معلوم] نه وي تَكُونُ لِجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ نو هغه ځمکه د مسلمانانو د جماعت کيږي وَلَوْ ظَهَرَ لَهُ مَالِكٌ او که [وروسته] د هغې مالک ښکاره سي يُرَدُّ عَلَيْهِ نو پر هغه به واپس کول کيږي وَيَضْمَنُ الزَّارِعُ نُقْصَانَهَا او

✿ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: واعتبر محمد رَحِمَهُ الله عدم ارتفاق أهل القرية به، وبه قالت الثلاثة، قلت وهذا ظاهر الرواية وبه يفتى... (رد المحتار ج:۵، ص:۳۰۷)

کښتګر د هغې د نقصان ضامن کيږي وَالْبُعْدُ عَنِ الْقَرْيَةِ عَلَى مَا قَالَ شَرَطَهُ أَبُو يُوسُفَ او له کلي [آبادۍ] څخه لیرې کېدل (لکه څرنګه چې امام قدوري ویلې دي) دا شرط امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله لګولی دی لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ مَا يَكُونُ قَرِيبًا مِنَ الْقَرْيَةِ ځکه ښکاره همدا ده چې کومه ځمکه وکلي [آبادۍ] ته نژدې وي لَا يَنْقَطِعُ ارْتِفَاقُ أَهْلِهَا عَنْهُ نو له هغه ځمکې څخه د هغه کلي والا انتفاع نه منقطع کیږي فَيُدَارُ الْحُكْمُ عَلَيْهِ نو د حکم مدار به پر همدې [قرب او نژدېکت] وي وَمُحَمَّدٌ اِعْتَبَرَ اِنْقِطَاعَ ارْتِفَاقِ أَهْلِ الْقَرْيَةِ عَنْهَا حَقِيقَةً او امام محمد رَحِمَهُ الله له ځمکې څخه حقیقتًا د کلي والا د انتفاع منقطع کېدلو اعتبار کړی دی وَإِنْ كَانَ قَرِيبًا مِنَ الْقَرْيَةِ که څه هم هغه ځمکه وکلي [آبادۍ] ته نژدې وي كَذَا ذَكَرَهُ الْإِمَامُ الْمَعْرُوفُ بِخُوَاهَرْزَادَهْ همداسې ذکر کړې دي امام کوم چې په خواهر زاده مشهوره دی وَشَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ اِعْتَمَدَ عَلَى مَا اخْتَارَهُ أَبُو يُوسُفَ [لېکن] شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله پر هغه قول اعتماد کړی دی کوم چې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله اختیار کړی دی.

اللغات: ﴿خراب﴾ د کرُم د باب مصدر دی: ویرانېدل، ویجاړېدل. ﴿قَدُمَ﴾ د کرُم د باب ماضي ده: پخوانی کېدل. ﴿ارتفاق﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نفع او فایده اخیستل، نفع ترلاسه کول. ﴿يُدار﴾ د نصر له بابه د مضارع مجهولي صیغه ده: دائر کېدل، مدار کېدل. ﴿قرية﴾ غټ کلی، سیمه او علاقه چې خلک پکښې آباد وي.

تشریح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د مَوات کوم تعریف مخکې ذکر سو، امام قدوري رَحِمَهُ الله هم هغسې ذکر کړی دی، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله دا شرط هم پکښې اضافه کړی دی چې هغه ځمکه به د یو مسلمان یا د یو ذمي په ملکیت کې نه وي او له هغې څخه به نفع نه اخیستل کیږي. کنې هغه موات نه ده، او که د هغه ځمکې هیڅ مالک معلوم نه وي، نو هغه د مسلمانانو د جماعت لپاره ده. صرف یوه کس د هغې نه سي مالک کېدلای.

که څوک په ارضِ موات (شاړه ځمکه) کې کښت کرنه وکړي او تر دې وروسته د هغې مالک ښکاره سي، نو دا ځمکه به خپل مالک ته واپس کول کیږي او کښت کرونکي سري چې له دغه ځمکې څخه کومه نفع اخیستې وي. د هغه په اندازه به د ځمکې مالک ته تاوان ورکوي. د دې لپاره چې دا ځمکه په کامله توګه خپل مالک ته واپس کړل سي.

يادونه: قاعده دا ده چي مطلق د فردِ كامل وطرف ته راجع كيږي، نو مطلق موات به هغه ځمكه وي كوم چي د يو مسلمان او ذمي په ملكيت كي نه وي، لهذا كه يوه ځمكه د يو مسلمان يا ذمي په ملكيت كي وه او شاړه، ويرانه وه، نو هغه ته موات نه ويل كيږي، ځكه كله چي هغه د يو مسلمان يا ذمي په ملكيت كي ده، نو د شاړيدلو باوجود له هغې څخه د مسلمان يا ذمي ملكيت نه زائليږي، لهذا په حديث كي چي كوم لفظ د "ميتة" استعمال سوى دى، له هغه څخه كامل ميتة مراد دى او د كامل كېدو لپاره دا ضروري ده چي هغه به د هيچا په ملكيت كي نه وي، په همدې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله دا شرط لګولى دى كوم چي ذكر سو.

والبعد عن إلخ: فرمايي له آبادۍ څخه د ليري كېدلو شرط چي په متن كي ذكر سو، هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دى؛ او له آبادۍ څخه ليري كېدل ځكه شرط دي چي په همدې سره معلوميږي چي له دغه ځمكي څخه د آبادۍ والا خلكو انتفاع منقطع سوې ده (يعني د دغه سيمي او علاقې خلك نفع نه سي ځني اخيستلاى)، او كه ځمكه آبادۍ ته نږدې وي نو بيا له هغې څخه د دوى انتفاع نه منقطع كيږي، لنډه دا چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز مدار پر قربت او عدمِ قربت دى (چي كه شاړه ځمكه د خلكو سيمي او آبادۍ ته نږدې نه وي، هغه موات ده، او كه نږدې وي، نو بيا موات نه ده)، او امام محمد رَحِمَهُ الله د حقيقتاً انتفاع منقطع كېدلو اعتبار كړى دى، برابره ده ځمكه ليري وي او كه نږدې وي، لهذا كه هغه شاړه ځمكه آبادۍ ته نږدې وي ليكن د آبادۍ والا خلكو هيڅ انتفاع د هغې سره متعلق نه وي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هغه هم موات ده، همدا د امام خواهر زاده رَحِمَهُ الله رايه هم ده، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله معتمد ګڼلى دى او امام طحاوي رَحِمَهُ الله هم ذكر كړى دى.

د ارضِ مواتِ د مالک جوړېدو لپاره د امام اجازت ضروري دى، كه نه؟

ثُمَّ مَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ بيا چي څوک دا شاړه ځمكه د امام په اجازت سره آباده كړي مَلَكَهُ نو د هغې مالک كيږي وَإِنْ أَحْيَاهُ بِغَيْرِ إِذْنِهِ او كه د امام له اجازت نه بغير شاړه ځمكه آباده كړي لَمْ يَمْلِكْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغې نه مالک كيږي وَقَالَا[۞]: يَمْلِكُهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي مالک كيږي په لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: «مَنْ أَحْيَى أَرْضًا

[۞] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتفصيل الكتاب المعروف بالقول الراجح [ج: ٢، ص: ٣٠٩]

[1] تخريج: رواه الهيثمي في مجمع الزوائد ج: ٤، ص: ١٥٧، والبخاري بمعناه في الحرث والمزارعة، والنسائي في السنن الكبرى، حديث رقم: ٥٧٥٧.

مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې مړه ځمکه آباده کړي نو دا د هغه ده وَلِأَنَّهُ مَالٌ مُبَاحٌ سَبَقَتْ يَدُهُ إِلَيْهِ او ځکه چې دا [شاړه ځمکه] يو مباح مال دی چې هغې ته د ده لاس وړانديتوب کړی دی فَيَمْلِكُهُ نو ځکه دئ به يې مالک وي كَمَا فِي الْحَطَبِ وَالصَّيْدِ لکه څرنګه چې په بوټو [لرګيو] او ښکار کې دي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❷: «لَيْسَ لِلْمَرْءِ إِلَّا مَا طَابَتْ نَفْسُ إِمَامِهِ بِهِ» او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د نبي کريم ﷺ دا فرمان دی چې: نه دي د سړي لپاره مګر هغه چې په هغه سره د ده د امام نفس [زړه] خوښ وي [يعني د انسان لپاره صرف د هغه څه ملکيت سته چې په هغه د ده امام راضي وي] وَمَا رَوَيَاهُ يَحْتَمِلُ أَنَّهُ إِذْنٌ لِقَوْمٍ لَا نَصْبٌ لِشَرْعٍ او کوم حديث چې صاحبينو رَحِمَهُمَا الله روايت کړی دی دا احتمال لري چې هغه به د يو خاص قوم لپاره اجازت وي، نه د شريعت [قاعده کليه] ټاکل وَلِأَنَّهُ مَغْنُومٌ او ځکه چې دا [ځمکه] مال غنيمت ده [يا په بله وينا دا چې په غنمت کې تر لاسه کړل سوې ده] لِوُصُولِهِ إِلَى يَدِ الْمُسْلِمِينَ بِإِيجَافِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ ځکه چې دا ځمکه د آسونو او اوښانو په حملې [اوغلبې] سره د مسلمانانو لاس ته رسيدلې ده فَلَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَخْتَصَّ بِهِ بِدُونِ إِذْنِ الْإِمَامِ نو چا لره دا حق نسته چې په هغې سره خاص کړی سي، د امام له اجازت نه بغير كَمَا فِي سَائِرِ الْغَنَائِمِ لکه څرنګه چې په ټولو غنيمتونو کې [همدا حکم] دی.

اللغات: ﴿أحياء﴾ د افعال د باب ماضي ده: ژوندی کول. مراد: آبادول. د نفع اخيستو قابله ګرځول. ﴿إذن﴾ اجازت، اجازه. ﴿سبقت﴾ د ضرب له بابه د مؤنث غائب ماضي صيغه ده: وړانديتوب کول. مخکې کېدل. ﴿حطب﴾ د سوځولو لرګي، يعني هغه بوټي کوم چې د اور بلولو لپاره کارول کيږي. ﴿صيد﴾ ښکار. د ښکار حيوان. ﴿طابت﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ښه کېدل. خوښېدل. يعني هغه څه کوم چې يې امامُ المسلمين په رضا او خوښې سره ورکړي. ﴿إيجاف﴾ د افعال د باب مصدر دی. د دې باب خپله معنیٰ ده: په جوف (نس) کې په نېز وهل. د شي نس راکښل. مراد: حمله کول. ﴿الرِّكَاب﴾ د دې لفظ څو معناوې دي چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: د سپرېدلو اوښان. همدارنګه د بار وړلو اوښان. (معجم الوسيط)

---

❷ تخريج: رواه الطبراني في المعجم الكبير ج:۴، ص:۲۰، برقم ۳۵۳۳، وفي الأوسط ج:۷، ص:۲۲، برقم ۶۷۳۹ عن معاذ

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز که د ښارې ځمکې آبادول د امام په اجازت سره وي، نو آبادونکی (احیاء کونکی) د هغې مالک کیږي. کنې نه مالک کیږي. صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې په هر صورت کې هغه د دې مالک کیږي (برابره ده د امام په اجازت سره وي. که نه وي). دوی یو حدیث په دلیل کې پیش کړی دی کوم چې مطلق دی چې په هغه کې د امام د اجازت قید نسته.

دویم دلیل یې عقلي دی چې پر مباح (روا) مال چې اول څوک قابض سي. بس هاغه مال د همده کیږي، لکه د ښکار حیوان، د صحرا بوټي. لهذا دلته به هم داسې کیږي.

یادونه: د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول مختار دی. او که چیري آبادونکی کس ذمي وي. نو بالاتفاق د امام اجازت شرط دی. (سکب الأنهر ج: ۲، ص: ۴۹۰)

ولأبي حنيفة إلخ: امام صاحب رَحِمَهُ الله په خپل دلیل کې اولاً یو حدیث پیش کړی دی چې سړي ته هماغه شی حاصلیدای سي، چې په هغه د ده امام راضي وي، نو له دې حدیث څخه د امام د اجازت شرط کیدل فهمول کیږي، دویم دلیل یې دا دی چې دا ځمکه هم ذ مال غنیمت ده، او په ﷺ مال غنیمت کې چا ته دا حق نه وي چې خپله هغه واخلي بلکې د امام له طرفه پر تقسیم او اجازت موقوف وي (یعني کله چې یې امام تقسیم کړي او د اخیستلو یې اجازت ورکړي). او دا په دې وجه مال غنیمت ده، چې دغه ځمکې مخکې د مشرکانو په قبضه کې وې، بیا له هغوی څخه د مسلمانانو مخکینیو پلرونو د آسونو په حملو او په غلبه سره حاصله کړې، لهذا دا ځمکه غنیمت سوه.

وما رواه إلخ: او پاته سو هغه حدیث کوم چې صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل په نیولی دی (یعني مَنْ أحيى أرضًا...إلخ)، د هغه جواب دا دی چې په دغه حدیث کې څو احتمالات سته، لهذا د دې قابل نه دی چې دلیل په ونیول سي؛ ځکه څرنګه چې په دې کې دا احتمال سته چې دا به د شریعت له طرفه ټاکل سوې قاعده وي یعني د ټولو لپاره به عام وي لکه په "مَنْ قاءَ فی صلاۃ أو رعف إلخ" کې چې حکم د ټولو لپاره دی، همداسې دا احتمال هم پکښې سته چې قاعده کلیه او عام نه وي، بلکې د یو مخصوص قوم لپاره ترغیباً دا حکم سوی وي، لکه څرنګه چې په "مَنْ قَتَلَ قَتِيْلًا فَلَهُ سَلَبُهُ" کې چې حکم عام نه دی بلکې د یو مخصوص قوم لپاره دی، خلاصه دا چې د امام صاحب روایت مفسّر دی او د صاحبینو روایت محتمل دی، نو ځکه ترجیح به د امام صاحب روایت لره وي. (احسن. اشرف)

په آباده کړل سوي شاړه ځمکه کې عشر واجب دی که خراج؟

وَيَجِبُ فِيهِ الْعُشْرُ او په دې ځمکه کې عشر واجبيږي لِأَنَّ ابْتِدَاءَ تَوْظِيفِ الْخَرَاجِ عَلَى الْمُسْلِمِ لَا يَجُوزُ ځکه چې پر مسلمان له شروع څخه د خراج وظيفه مقررول جائز نه دي إِلَّا إِذَا سَقَاهُ بِمَاءِ الْخَرَاجِ مګر دا چې کله هغه دا ځمکه په خراجي اوبو سره اوبه کړې وي لِأَنَّهُ حِينَئِذٍ يَكُونُ إِبْقَاءُ الْخَرَاجِ عَلَى اعْتِبَارِ الْمَاءِ ځکه په دې وخت کې به د خراج باقي پرېښوول داوبو په اعتبار سره وي فَلَوْ أَحْيَاهَا ثُمَّ تَرَكَهَا فَزَرَعَهَا غَيْرُهُ او که هغه آباده کړي بيا يې پرېږدي او بيا بل څوک هغه وکري فَقَدْ قِيلَ: اَلثَّانِي أَحَقُّ بِهَا نو ويل سوي دي: چې [په دې صورت کې] دويم کس د هغې زيات حقدار دی لِأَنَّ الْأَوَّلَ مَلَكَ اِسْتِغْلَالَهَا لَا رَقَبَتَهَا ځکه اول کس د دې ځمکې د حاصلاتو [غلې] مالک دی. نه د هغې د ذات فَإِذَا تَرَكَهَا بيا کله چې هغه دا ځمکه پرېښووله كَانَ الثَّانِي أَحَقَّ بِهَا نو دا دويم به د هغې زيات حقدار وي وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْأَوَّلَ يَنْزِعُهَا مِنَ الثَّانِي خو صحيح دا ده چې اول کس هغه له دويم کس څخه اخيستلای سي لِأَنَّهُ مَلَكَهَا بِالْإِحْيَاءِ ځکه چې اول کس د آبادولو په وجه د هغې مالک سو عَلَى مَا نَطَقَ بِهِ الْحَدِيثُ لکه څرنګه چې حديث [هم] د دې وينا کړې ده [چې "من احيٰی… فهي لهٗ" کوم څوک ځمکه آباده کړي. نو دا د هغه ده] إِذِ الْإِضَافَةُ فِيهِ بِاللَّامِ التَّمْلِيكِ ځکه په حديث کې اضافت د تمليک په لام [لَهٗ] سره دی وَمِلْكُهُ لَا يَزُولُ بِالتَّرْكِ او په پرېښوولو سره د آبادونکي کس ملکيت نه زائليږي وَمَنْ أَحْيَى أَرْضًا مَيْتَةً او څوک چې مړه [شاړه] ځمکه آباده کړي ثُمَّ أَحَاطَ الْإِحْيَاءُ بِجَوَانِبِهَا الْأَرْبَعَةِ مِنْ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ عَلَى التَّعَاقُبِ بيا احياء [آبادول] د هغه ځمکې پر څلور سره طرفونو احاطه وکړي د څلورو کسانو له طرفه يو تر بل وروسته [يعني بيا څلور کسان يو تر بل وروسته د هغه ځمکي څلور سره طرفونه آباد کړي (چې په دې وجه د هغه ځمکي د مالک [اول کس] لاره بنده سي)] فَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّ طَرِيقَ الْأَوَّلِ فِي الْأَرْضِ الرَّابِعَةِ نو له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې [په دې صورت کې] د اول کس لاره به د څلورم کس په ځمکه کې وي لِتَعَيُّنِهَا لِتَطَرُّقِهِ ځکه چې همدا [د څلورم کس] ځمکه د هغه [اول کس] د لاري ايستلو لپاره متعينه ده وَقَصَدَ الرَّابِعُ إِبْطَالَ حَقِّهِ او دا

ځلورم کس د هغه د حق باطلولو اراده کړې ده.

اللغات: ﴿توظيف﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: وظيفه مقررول، محصول ټاکل. ﴿استغلال﴾ د استفعال د باب مصدر دی، د دې باب يوه معنیٰ ده: غله حاصلول، له ځمکې څخه غله او پيداوار اخيستل. ﴿تَطرُّق﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: لاره لټول، لاره ايستل او جوړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله يو مسلمان مړه شاړه ځمکه (ارض موات) آباده کړي، نو پر هغه په دې ځمکه کې عشر واجبيږي، نه خراج، که څه هم له مخکې څخه په دې ځمکه کې خراج مقرر وي؛ ځکه چې پر مسلمان ابتداً په ځمکه کې خراج مقررول جائز نه دي: نو ځکه په دې کې به عشر واجبيږي، خو که دا ځمکه په خراجي اوبو سره سيراب کړل سوې وي، نو بيا په هغه کې ابتداءً هم خراج واجبيږي؛ ځکه په دې صورت کې خراج مقررول به د اوبو په حساب سره وي. او د ځمکو مؤنت پر اوبو منحصر وي، په همدې وجه فقهاؤ د باراني اوبو، سمندري او داسې نورو اوبو په اعتبار سره په ځمکو کې جلا، جلا مؤنت قائم کړی دی، نو همدا ډول که ځمکه په خراجي اوبو سره اوبه کړل سوې وي، نو په هغې کې خراج واجبيږي.

فلوأحياها إلخ: د دې حاصل دا دی چې که څوک ارض موات (مړه شاړه ځمکه) آباده کړي او بيا يې پريږدي او په هغې کې هيڅ کښت کرنه وغيره نه وکړي، بيا بل څوک په هغې کې کښت وکړي، نو اوس څوک د هغه ځمکې مستحق کيږي، اول کس که دويم کس؟، صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې باره کې دوه قولونه دي:

(۱)... اول قول د فقيه ابو القاسم بلخي رَحِمَهُ الله دی، هغه فرمايي چې په دې صورت کې دويم کس د ځمکې زيات حقدار دی، ځکه اول کس فقط د دې ځمکې د حاصلاتو (پيداوار) مالک دی، نه د هغې د عين او ذات، لهذا کله چې هغه ځمکه پرېښووله او په هغه کې يې کښتکري نه وکړه، نو ښکاره ده چې کوم يوه کښتکري پکښې کړې ده، هاغه به يې مالک وي.

(۲)... دويم قول د عامو مشايخو او زياتره فقهاؤ دی، هغه دا چې کوم يوه دا ځمکه آباده کړې وي، هاغه د ځمکې مالک کيږي، او هغه ته دا حق سته چې له دې دويم کس څخه خپل آباده کړل سوې ځمکه واخلي؛ ځکه چې فقط هاغه د ځمکې احياء کړې ده او په حديث "من أحيىٰ أرضاً ميتةً فهي لهٗ" کې د احياء کونکي طرف ته د لام تمليک په ذريعه اضافت سوی دی، نو ځکه صرف هاغه به د دې

مالک وي. او يو وار چي څوک د يو شي مالک جوړ سي، نو په پرېښوولو سره هغه شی د ده له ملکيته نه وځي، نو ځکه د اول کس د پرېښوولو په وجه به هغه دويم کس د دې ځمکي نه مالک کېږي.

ومن أحيى إلخ: فرمايي که څوک (مثلاً خالد) مړه شاړه ځمکه آباده کړي او د هغې شا وخوا څلور سره طرفه ځمکي خالي وي، نو ښکاره ده چي د دې کس (خالد) لاره په هر طرف والا ځمکه کي سته. بيا وروسته يو کس راسي او د هغه ځمکي د يوه طرف والا ځمکه آباده کړي، بيا بل کس راسي. تر دې چي څلور کسان پوره سي او د هغه ځمکي (يعني د خالد د ځمکي) شاوخوا څلور سره طرفونو والا ځمکي د څلورو کسانو له طرفه آبادي او مشغوله سي، نو اوس به د اول کس (خالد) لاره د کوم طرف په ځمکه کي ورکول کېږي؟. فرمايي چي په دې هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله روايت دا دی چي د اول کس لاره به د څلورم کس په ځمکه کي ورکول کېږي (يعني هغه کس کوم چي په آخر کي راغلی وي او د هغه ځمکي پاته څلورم طرف يې آباد کړی وي)، ځکه د اول دريو کسانو د آبادولو په وخت کي د لاري هيڅ مشکل نه وو ځکه چي څلورم طرف ته ځمکه پاته وه او په هغې کي د اول کس لاره وتلای سوه. بيا چي کله څلورم کس راغلی او د څلورم طرف ځمکه يې آباده او مشغوله کړه، نو اوس د لاري مشکل پيدا سو. لهذا داسي به ګڼل کېږي چي همدې څلورم يو (د اول کس) لاره بنده کړه، نو ځکه د هاغه په ځمکه کي به لاره ايستل کېږي او جوړېږي.

ذمي هم د ارض موات مالک جوړېږي (د امام اعظم رَحِمَهُ الله اختلاف)

قَالَ: وَيَمْلِكُهُ الذِّمِّيُّ بِالْإِحْيَاءِ فرمايي: او ذمي کس په آبادولو سره د موات [شاړي ځمکي] مالک کېږي كَمَا يَمْلِكُهُ الْمُسْلِمُ لکه څرنګه چي يې مسلمان مالک کېږي لِأَنَّ الْإِحْيَاءَ سَبَبُ الْمِلْكِ ځکه چي آبادول د ملکيت سبب دي إِلَّا أَنَّ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِذْنُ الْإِمَامِ مِنْ شَرْطِهِ ليکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د امامُ المسلمين اجازت د دې لپاره شرط دی فَيَسْتَوِيَانِ فِيْهِ نو دوی دواړه [مسلمان او ذمي] به په ملکيت [مالک کېدو] کي سره برابر وي كَمَا فِيْ سَائِرِ أَسْبَابِ الْمِلْكِ لکه څرنګه چي د ملکيت په نورو سببونو کي سره برابر دي حَتَّى الْاِسْتِيْلَاءِ عَلَى أَصْلِنَا تر دې چي په غلبه [قبضه کولو] کي زموږ د اصل مطابق [سره برابر دي. يعني که د مسلمان پر مال د حربي کافر غلبه او قبضه راسي، نو هغه د مسلمان د مال مالک کېږي. لکه څرنګه چي د مسلمان غلبه او قبضه که د کافر پر مال راسي، نو مسلمان يې مالک کېږي].

اللغات: ﴿سائر﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① ټوله. ② نور (بقيه). ﴿الاستيلاء﴾ د استفعال له بابه اسم مصدر دی: غلبه، قبضه.

تشريح: دعبارت حاصل دا دی چي څرنګه مسلمان د شاړي ويراني ځمکي په آبادولو سره د هغې مالک کيږي، همداسي يې ذمي هم مالک کيږي؛ ځکه احياء (آبادول) د ملکيت سبب دی. نو څرنګه چي دوی دواړه د ملکيت په نورو اسبابو (بيع. شراء وغيره) کي سره برابر دي، همداسي به دلته هم سره برابر وي. تر دې چي څرنګه موږ د کفارو پر مال د غلبې په وجه د هغه مالکان کيږو. نو کفار به هم د مسلمانانو پر مال د غلبې په وجه د هغه مال مالکان کيږي، چي د دې تفصيل د هدايې په دويم جلد کي تېر سو.

يادونه: موږ مخکي د سکب الأنهر (ج: ۲. ص: ۴۹۰) په حواله سره بيان کړه چي د ذمي کېدلو په صورت کي اجازت بالاتفاق شرط دی. نو حاصل دا سو چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مسلک مطابق د ذمي او مسلمان تر مينځ هيڅ فرق نسته؛ ځکه په دواړو کي د امام اجازت شرط دی.

د مالک جوړېدو لپاره صرف تحجير کافي دی او که آبادول يې هم ضروري دی؟

قَالَ: وَمَنْ حَجَّرَ أَرْضًا فرمايي: او څوک چي ځمکه په ډبرو سره نښاني [علامتي] کړي [يعني پر ځمکه ډبري وغيره راوګرځوي] وَلَمْ يَعْمُرْهَا ثَلَاثَ سِنِينَ خو [تر هغه وروسته] تر درېو کالو پوري دا ځمکه آباده نه کړي أَخَذَهَا الْإِمَامُ وَدَفَعَهَا إِلَى غَيْرِهِ نو امام به له هغه کس څخه ځمکه اخلي او بل چا ته به يې ورکوي لِأَنَّ الدَّفْعَ إِلَى الْأَوَّلِ كَانَ لِيَعْمُرَهَا ځکه چي اول کس ته [د ځمکي] ورکول د دې لپاره وه چي هغه دا آباده کړي فَتَحْصُلُ الْمَنْفَعَةُ لِلْمُسْلِمِينَ مِنْ حَيْثُ الْعُشْرِ وَالْخَرَاجِ نو د هغه نفع مسلمانانو ته حاصله سي، د عشر او خراج [ورکولو] په توګه فَإِذَا لَمْ يَحْصُلْ ليکن کله چي دا نفع حاصله نه سوه يَدْفَعُ إِلَى غَيْرِهِ تَحْصِيلًا لِلْمَقْصُودِ نو د مقصود حاصلولو لپاره به يې امام المسلمين بل چا ته ورکوي وَلِأَنَّ التَّحْجِيرَ لَيْسَ بِإِحْيَاءٍ او ځکه چي په ډبرو سره نښاني کول [پر ځمکه ډبري وغيره راګرځول] آبادول نه دي لِيَمْلِكَهُ بِهِ چي د هغه په وجه دئ د ځمکي مالک سي لِأَنَّ الْإِحْيَاءَ إِنَّمَا هُوَ الْعِمَارَةُ ځکه چي احياء خو آبادول دي [يعني احياء د ځمکي آبادولو ته وايي چي په هغې کي کښت کرنه وسي يا څه پکښي جوړ کړل سي] وَالتَّحْجِيرُ الْإِعْلَامُ او تحجير علامتي کول [نښاني کول] دي [يعني تحجير د علامت او نښاني کولو لپاره وي] سُمِّيَ بِهِ او إعلام [علامتي کول] ځکه په تحجير سره نومول سوي دي لِأَنَّهُمْ كَانُوا يُعْلِمُونَهُ بِوَضْعِ الْأَحْجَارِ حَوْلَهُ ځکه چي عربو به شاړه ځمکه علامتي کوله

[معلومولہ] د هغې پر شاوخوا د ډېرو په ایښوولو سره أَوْ يُغَلِّمُوْنَهُ لِحَجْرِغَيْرِهِمْ عَنْ إِحْيَائِهِ يا دوی به شاړه ځمکه د دې لپاره علامتي کوله چې له دوی څخه بغیر نور خلک د هغې له آبادولو څخه منع سي فَبَقِيَ غَيْرَمَمْلُوْكٍ كَمَا كَانَ لهذا دا شاړه ځمکه د چا په ملکیت کي پاته نه سوه لکه څرنګه چې مخکي [د چا په ملکیت کي نه] وه هُوَالصَّحِيحُ همدا صحیح ده وَإِنَّمَا شَرَطَ تَرْكَ ثَلَاثِ سِنِيْنَ لِقَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ❶ او امام قدوري رَحِمَهُ الله د دریو کالو پرېښوولو شرط د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دغه فرمان په وجه لګولی دی "لَيْسَ لِمُتَحَجِّرٍبَعْدَ ثَلَاثِ سِنِيْنَ حَقٌّ" چې د ډېرو ایښوونکي لپاره تر دریو کالو وروسته هیڅ حق نسته وَلِأَنَّهُ إِذَا أَعْلَمَهُ او ځکه کله چې هغه دا شاړه ځمکه [په ډېرو سره] نښاني کړه لَا بُدَّ مِنْ زَمَانٍ يَرْجِعُ فِيْهِ إِلَى وَطَنِهِ نو دومره وخت [ورکول] ضروري دي چې په هغه کي دئ خپل وطن ته ولاړ سي وَزَمَانٍ يُهَيِّئُ أُمُوْرَهُ فِيْهِ او [بیا] دومره وخت چې په هغه کي [د شاړي ځمکي] د آبادولو د أمورو تیاري وکړي ثُمَّ زَمَانٍ يَرْجِعُ فِيْهِ إِلَى مَا يُحَجِّرُهُ بیا [تر هغه وروسته] دومره وخت چې واپس راسي و هغه ځمکي ته چې په ډېرو سره يې نښاني کړې ده فَقَدَّرْنَاهُ بِثَلَاثِ سِنِيْنَ نو موږ دا زمانه په دریو کالو سره اندازه کړه [يعني دې تګ راتګ او تیارۍ دوختونو لپاره موږ درې کاله وټاکل] لِأَنَّ مَا دُوْنَهَا مِنَ السَّاعَاتِ وَالْأَيَّامِ وَالشُّهُوْرِ لَا يَفِيْ بِذٰلِكَ ځکه چې تر دې کم مودت يعني ساعتونه [ګېنټې]، ورځې او میاشتي د دې کارو لپاره کافي نه دي وَإِذَا لَمْ يَحْضُرْ بَعْدَ انْقِضَائِهَا او کله چې هغه [متحجر] د دریو کالو له تېرېدلو څخه وروسته هم حاضر نه سي فَالظَّاهِرُ أَنَّهُ تَرَكَهَا نو ښکاره همدا ده چې هغه دا ځمکه پرېښوولہ قَالُوْا: هٰذَا كُلُّهُ دِيَانَةً. مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چې دا ټوله دیانتاً دي فَأَمَّا إِذَا أَحْيَاهَا غَيْرُهُ قَبْلَ مُضِيِّ هٰذِهِ الْمُدَّةِ لېکن که د دغه مودت [دریو کالو] له تېرېدلو څخه مخکي بل څوک دا ځمکه آباده کړي مَلَكَهَا نو هغه يې مالک کیږي لِتَحَقُّقِ الْإِحْيَاءِ مِنْهُ دُوْنَ الْأَوَّلِ ځکه چې احیاء [آبادول] د هاغه له طرفه ثابت سوه. نه د اول کس [متحجر] له طرفه وَصَارَ كَالْاِسْتِيَامِ او دا داسي سوه لکه د بل چا پر نرخ باندي نرخ ټاکل [یا په بله وینا: د بل چا پر سودا باندي سودا کول]

فَإِنَّهُ يُكْرَهُ ځکه هغه [هم] مکروه دي وَلَوْفَعَلَ او که دا کار وسي [يعني که څوک استيام وکړي] يَجُوزُ الْعَقْدُ نو عقد جائز کيږي.

اللغات: ﴿حَجَّرَ﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: د ځمکي پر شاوخوا حدودو ډبري ايښوول. ځمکه په ډبرو يا داسي بل شي سره نښاني کول (علامتي کول). پر ځمکه ډبري او داسي نور څه راګرځول. ﴿لم يعمر﴾ د نصر له بابه د جحد صيغه ده: آبادول (اباتول). ﴿إعلام﴾ د افعال د باب مصدر دی. د دې باب يوه معنیٰ ده: علامتي کول (نښه او علامت پر لګول)، نښاني کول. ﴿لا يفي﴾ د ضرب د له بابه د نفي صيغه ده: پوره کېدل، کافي کېدل. ﴿استيام﴾ د استفعال د باب مصدر دی: نرخ او قيمت ټاکل (رېټ لګول)، د بيع طلب کول، سودا سره کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د ارضِ موات (شاړې ځمکي) پر شا وخوا ډبري غيره راوګرځوي او تر دريو کالو پوري په هغه کي کښتګري نه وکړي، نو د دريو کالو له تېرېدو څخه وروسته به امام المسلمين دا ځمکه له هغه سړي څخه اخلي او بل چا ته به يې ورکوي؛ ځکه داسي شاړه ځمکه په همدې وجه چا ته ورکول کيږي چي آباده يې کړي او د هغې له حاصلاتو څخه عشر او خراج اداء کړي چي په دې سره نورو مسلمانانو ته هم فايده حاصله سي، لېکن کله چي هغه صرف ځمکه نښاني او علامتي کړي او بيا ځمکه هسي پرېږدي په هغې کي کښتګري وغيره نه وکړي، نو ښکاره ده چي له دې ځمکي څخه مسلمانانو ته هيڅ نفع او فايده حاصله نه سوه، نو ځکه امامُ المسلمين ته پکار دي چي د مسلمان قوم د منفعت په خاطر له دغه اول کس څخه هغه ځمکه واخلي او بل کاريګر سړي ته يې ورکړي چي هغه په دې کي کښتګري وغيره وکړي چي خپله هم فايده ځني حاصله کړي او مسلمانانو ته هم د عشر وغيره په ورکولو سره فايده ورسوي.

پاتې سو اول کس، نو څرنګه چي هغه صرف پر دغه ځمکه ډبري راګرځولي دي، او پر ځمکه ډبري وغيره راګرځول احياء نه ده چي په دې سره ملکيت ثابت سي؛ ځکه احياء خو آبادولو ته وايي. حال دا چي تحجير يو ډول علامت او نښاني کول دي، او خلګو به د همدې لپاره پر شاړو ځمکو ډبري يا داسي نور څه راګرځوله چي بل چا ته معلومه سي چي دغه ځمکي موږ آبادوو، نو بل څوک دي هغوی ته نه ورنژدې کيږي، لهذا په دې تحجير سره که څه هم د اول کس مقصد خو حاصل سو. لېکن د امام المسلمين او مسلمان قوم مقصد حاصل نه سو، نو ځکه هغه ځمکه چي څرنګه له تحجير څخه مخکي غيرِ مملوکه وه (يعني د هيچا ملکيت پکښې نه وو)، همداسي به له تحجير او دريو

کالو څخه وروسته هم غیرِ مملوکه پاتـه سي (ځکه د دریو کالو په تېرېدلو سره ښکاره سوه چي متحجر دا ځمکه پرېښوولې)، نو اوس د بل چا لپاره د هغې آبادول صحیح او جائز وي.

وإنما شرط إلخ: فرمايي امام قدوري رَحِمَهُ الله چي په متن کي کوم د دريو کالو شرط لګولی دی. هغه په اصل کي د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه له دې فرمان څخه مأخوذ دی "لَيْسَ لِمُتَحَجِّرٍ بَعْدَ ثَلَاثِ سِنِيْنَ حَقٌّ" يعني تحجير کونکي لره تر دريو کالو وروسته هيڅ حق نسته، نو ځکه له تحجير وروسته تر دريو کالو پوري به امام خو انتظار کوي، که په دريو کالو کي دننه هغه راسي او دا ځمکه آباده کړي. خو سمه ده، کنې امامُ المسلمين به دا بل چا ته حواله کوي.

ولأنه إلخ: تر دريو کالو پوري د انتظار کولو عقلي دليل دا دی چي کېداى سي د دارُ الاسلام رقبه او ساحه غټه وي او د آبادونکي کس وطن له دغه شاړي ځمکي څخه ډېر ليري وي، نو ښکاره ده چي له تحجير څخه وروسته هغه ته دومره وخت او زمانه ورکول پکار دي چي خپل وطن ته ولاړ سي واپس راسي او د احياء او آبادولو کار شروع کړي، او ممکنه ده چي خپل وطن ته په رسېدلو کي يو کال ولګيږي (لکه پخوا چي داسي ډېره پېښېدل) او بيا په بيرته راتګ کي يو کال ولګيږي، او يو کال د احياء او آبادولو د کارونو په انتظام کي ولګيږي، نو ځکه احتياطاً ټوله دري کاله مودت پکار دی او له دې څخه کم مودت نا کافي دی، لهذا که په دريو کالو کي دننه هغه راسي، احياء وکړي، نو پر ځمکه به د هغه حق باقي پرېښوول کيږي، لېکن که تر دريو کالو پوري هيڅ نه وکړي، نو بيا امام المسلمين ته اختيار دی چي بل څوک د هغه ځمکي مالک کړي؛ ځکه چي په دريو کالو کي د هغه نه راتګ او هيڅ نه کول د اعراض او بې رغبتۍ دليل دی چي هغه دا ځمکه پرېښووله.

قالو هذا إلخ: مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي چي تر دريو کالو پوري د متحجّر کس انتظار کول هم د دياناتو له باب څخه دي، کنې ظاهري حکم همدا دی چي که د متحجّر کس له تحجير څخه وروسته تر دريو کالو مخکي بل څوک هغه ځمکه آباده کړي او کښتګري پکښې وي، نو هغه يې مالک کيږي؛ ځکه چي د آبادولو کار هاغه وکړی او په حديث "مَنْ أَحْيَىٰ أَرْضاً مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ" کي احياء کونکی (آبادونکی) د ارضِ موات مالک ګرځول سوی دی، لهذا څوک چي هم د ارض موات احياء وکړي. هاغه يې مالک کيږي، او څرنګه چي په تحجير سره احياء نه ثابتيږي، نو ځکه تحجير به د احياء لپاره مانع هم نه وي. او له تحجير څخه وروسته احياء کول داسي دي لکه يو څوک چي د دوکاندار سره د يو شي په سودا اخته وي او د نرخ په باره کي خبري ور سره کوي، نو په دې دوران کي بل څوک راسي او د دو کاندار سره د هغه شي سودا وکړي، نو دا که څه هم مکروه دي خو بيا هم که څوک داسي

عقد او سودا وکړي، نو عقد جائز او صحيح دی، همدغه ډول په صورت مسئله کي که څه هم د سړي له تحجير څخه وروسته تر دريو کالو مخکي د بل چا لپاره هغه شاړه ځمکه آبادول مکروه دي، خو بيا هم که څوک هغه آباده کړي. نو دا جائز دی او آبادونکی کس د هغې مالک کيږي. (احسن الهدايه)

د تحجير وضاحت او طريقې

ثُمَّ التَّحْجِيرُ قَدْ يَكُوْنُ بِغَيْرِ الْحَجَرِ بيا تحجير له ډبرو څخه بغير [په بل شي] سره هم کيږي بِأَنْ غَرَزَ حَوْلَهَا أَغْصَانًا يَابِسَةً په دې توګه چي پر ځمکه شاوخوا وچ ښاخونه [لرګي] ودروي أَوْ نَقَّى الْأَرْضَ وَأَحْرَقَ مَا فِيْهَا مِنَ الشَّوْكِ يا ځمکه پاکه کړي او په هغې کي موجوده ځوزان وسوځي أَوْ خَضَدَ مَا فِيْهَا مِنَ الْحَشِيْشِ أَوِ الشَّوْكِ يا په هغې کي موجوده وچ واښه او ځوزان پرېکړي وَجَعَلَهَا حَوْلَهَا وَجَعَلَ التُّرَابَ عَلَيْهَا او پر ځمکه يې شاوخوا راوګرځوي [د بند په څېر] او پر هغوی د پاسه خواري واچوي مِنْ غَيْرِ أَنْ يُتِمَّ الْمُسَنَّاةَ بغير له دې چي بند پوره جوړ کړي لِيَمْنَعَ النَّاسَ مِنَ الدُّخُوْلِ د دې لپاره چي خلک [هغې ته] له داخلېدو څخه منع سي أَوْ حَفَرَ مِنْ بِئْرٍ ذِرَاعًا أَوْ ذِرَاعَيْنِ يا [په ځمکه کي] يو ذراع يا دوه ذراعه څاه وکيندي وَفِي الْأَخِيْرِ وَرَدَ الْخَبَرُ او د آخري صورت په باره کي حديث وارد سوی دی. [او حديث دا دی: من حفر من بئر مقدار ذراع فهو متحجّر. خو علامه زيلعي رَحِمَهُ الله په نصب الراية کي د دغه حديث په باره کي وايي: ما رأيته ولا أعرفه ولم أر من ذكره. او همداسي صاحب د اثمار الهدايه ويلي دي]

اللغات: ﴿تحجير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، معنی يې مخکي ذکر سوه، ﴿غرز﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جګول، درول. ﴿حشيش﴾ عموماً وچو واښو ته وايي. ﴿حفر﴾ د ضرب د باب ماضي ده: کيندل، کنبل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د تحجير عمل صرف د ډبرو سره خاص نه دی يعني د ځمکي د نښاني کولو (علامتي کولو) لپاره صرف ډبري ضروري نه دي، بلکي د تحجير (چي د هغه مقصد نښاني کول دي) لپاره څو طريقې نوري هم سته، مثلاً:

①... يوه طريقه دا چي د ځمکي پر شاوخوا (څلورو سره طرفونو) لرګي او ښاخلې را وګرځول سي (د دېوال په څېر).

②... بله طريقه دا چي ځمکه صفا او خالي کړي او په هغې کي ولاړ بوټي او ځوزان وسوځي.

(۳)... او بله طريقه دا چې په ځمکه کې ولاړ بوټي، خاشاک، ځوزان وغيره پرېکړي او د ځمکې پر شاوخوا يې راوګرځوي (دبند په څېر) او د پاسه خاوره پر واچوي. د دې لپاره چې خلک ځمکې ته را نه سي.

(۴)... او د تحجير بله طريقه دا ده چې په ځمکه کې يو يا دوه لاسه قدر څاه وکاږي.

په دې ټولو طريقو سره تحجير ثابتيږي، نو تر دې وروسته د بل چا لپاره هغه ځمکه آبادول او لاس پکښې وهل صحيح نه دي.

مسناة: له دې څخه هغه غټ مضبوط بند مراد دی کوم چې د خپلې ځمکې پر شاوخوا جوړ کړل سي د دې لپاره چې د باراني او سيلابي اوبو مخ ونيسي او ځمکه خوندي سي، نو د داسې بند په لګولو سره فقط تحجير نه بلکې احياء هم ثابتيږي يعني په دې سره هغه د ځمکې آبادونکی ګرځي، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله دا قيد لګولی دی چې "...مِنْ غَيْرِ أَنْ يُتِمَّ الْمُسَنَّاةَ" يعني د ځمکې پر شاوخوا فقط بوټي، خاشاک وغيره راوګرځوي او پر هغوی خاوره واچوي، نه دا چې بند يا دېوال پر جوړ کړي، ځکه په دې سره د تحجير تر څنګ احياء (آبادول) هم ثابتيږي، نو ځکه يې دلته دا قيد لګولی دی.

د احياء (آبادولو) عمل کله ثابتيږي؟ (په کوم کار کولو سره ځمکه آباده شمېرل کيږي)

وَلَوْ كَرَبَهَا وَسَقَاهَا او که هغه دا شاړه ځمکه سره واړوي او اوبه يې کړي فَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ إِحْيَاءٌ نو له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې دا احياء ده وَلَوْ فَعَلَ أَحَدَهُمَا او که له دې دواړو څخه [صرف] يو کار وکړي [يعني فقط ځمکه سره واړوي يا فقط اوبه ورکړي] يَكُونُ تَحْجِيرًا نو دا تحجير دی [نه احياء] وَلَوْ حَفَرَ أَنْهَارَهَا وَلَمْ يَسْقِهَا او که د ځمکې ويالې [والې] وکيندي خو ځمکه اوبه نه وکړي يَكُونُ تَحْجِيرًا نو دا [هم] تحجير دی وَإِنْ سَقَاهَا مَعَ حَفْرِ الْأَنْهَارِ او که د ويالو د کيندلو سره، سره ځمکه هم اوبه کړي كَانَ إِحْيَاءً نو دا احياء ده لِوُجُودِ الْفِعْلَيْنِ ځکه چې دواړه کارونه موجود سوه وَلَوْ حَوَّطَهَا او که پر ځمکه چاردېوالي راوګرځوي أَوْ سَنَّمَهَا بِحَيْثُ يَعْصِمُ الْمَاءَ يا بند پرې جوړ کړي په دې توګه [يعني داسې بند] چې اوبه وګرځوي يَكُونُ إِحْيَاءً نو دا احياء ده لِأَنَّهُ مِنْ جُمْلَةِ الْبِنَاءِ ځکه چې دا د تعمير [ودانولو] له جملې څخه دي وَكَذَا إِذَا بَذَرَهَا او همدارنګه کله چې هغه دا ځمکه وکري.

اللغات: ﴿كَرَبَ﴾ د نصر د باب ماضي ده. كَرَبَ يَكْرُبُ كَرْبًا وَكِرَابًا: ځمکه د کرنې لپاره اړول او سمول چې د کښت کرنې قابله سي. يوې (ييوې) کول. ﴿سقا﴾ د ضرب د باب ماضي ده: اوبول (سېرابول)، اوبه ورکول. ﴿حوّط﴾ د تفعيل د باب ماضي ده (له حائط څخه ده): شا وخوا دېوال راګرځول. چاردېوالي جوړول. ﴿يعصم﴾ د ضرب د باب مضارع ده. د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: منع کول، راګرځول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله سړی شاړه ځمکه (ارض موات) سره واړوي او بيا اوبه ورکړي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله د روايت مطابق دا احياء (آبادول) دي يعني په دې سره هغه د دې ځمکې آبادونکی سو، لېکن که صرف ځمکه سره واړوي يا صرف اوبه ورکړي، نو دا احياء نه ده. بلکې تحجير دی يعني په دې سره فقط ځمکه نښاني (علامتي) کيږي (چې تر دې وروسته له ده څخه بغير بل څوک لاس نه سي پکښې وهلای). همدارنګه که هغه په دې شاړه ځمکه کې لښتيان او والې (ويالې) وکاږي خو ځمکه اوبه نه کړي، نو دا هم تحجير دی، ها! که ځمکه اوبه هم کړي، نو اوس دا احياء ده؛ ځکه چې دوه فعلونه سره جمع سوه (د لښتيانو او والو کښل او ځمکې ته اوبه ورکول).

همدارنګه که پر ځمکه شا وخوا دېوال (چار دېوالي) راوګرځوي يا پر ځمکه داسې مضبوط بند جوړ کړي چې په هغه سره ځمکه د باران وغيره له اوبو څخه خوندي سي، نو دا هم احياء ده؛ ځکه دا د ودانولو (وداني جوړولو) له جملې څخه دي، او په ځمکه کې وداني جوړول احياء ده. او چاردېوالي هم د بند په درجه کې ده چې په هغه سره هم احياء ثابتيږي. همدارنګه په ځمکه کې تخم کرل هم احياء ده چې په دې سره هم تخم کرونکی د ځمکې آبادونکی شمېرل کيږي.

آبادۍ ته نژدې شاړه ځمکه آبادول

قَالَ: وَلَا يَجُوْزُ إِحْيَاءُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ فرمايي: او جائز نه دي آبادول د هغه ځمکې کوم چې آبادۍ ته نژدې وي وَيُتْرَكُ مَرْعًى لِأَهْلِ الْقَرْيَةِ لو هغه به د کلي [علاقې] والا لپاره د چراګاه په توګه پرېښوول کيږي وَمَطْرَحًا لِحَصَائِدِهِمْ او د هغوی د رېبل سوو کښتونو د غور ځولو [جمع کولو] د ځای [درمند ځای] په توګه به پرېښوول کيږي لِتَحَقُّقِ حَاجَتِهِمْ إِلَيْهَا حَقِيْقَةً أَوْ دَلَالَةً ځکه چې هغه ته د کلي [علاقې] والا حقيقي حاجت يا دليلِ حاجت ثابت دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چې [مخکې] موږ بيان کړه فَلَا يَكُوْنُ مَوَاتًا نو دا ځمکه به موات نه وي لِتَعَلُّقِ حَقِّهِمْ بِهَا ځکه چې د هغې

سره د دوی حق متعلق دی بِمَنْزِلَةِ الطَّرِيْقِ وَالنَّهْرِ د لارې او ويالې [والې] په څېر عَلٰى هٰذَا قَالُوْا په همدې وجه مشايخو رَحِمَهُمُ الله فرمايلي دي لَا يَجُوْزُ لِلْإِمَامِ أَنْ يُقْطِعَ الْإِمَامُ مَا لَا غِنٰى بِالْمُسْلِمِيْنَ عَنْهُ چې امام لره جائز نه دي چې داسې شی [ديو چا] جاګير وګرځوي [يعني يو چا ته يې ورکړي] چې له هغه څخه مسلمانان مستغني نه وي [يعني ورته محتاج وي] كَالْمِلْحِ لکه مالګه وَالْآبَارِ الَّتِيْ يَسْتَقِي النَّاسُ مِنْهَا او [لکه] هغه څاه ګان چې له هغوی څخه خلک اوبه اخلي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿مرعى﴾ چراګاه، څر ځای، درمې د څرولو ځای (يعني هغه ميدان او ځمکه چې خلک خپلې رمې د خوراک وغيره لپاره ورته راباسي). ﴿مطرح﴾ د غورځولو ځای (چې يو څه پکښې غورځول کيږي). د اينبوولو او جمع کولو ځای. ﴿حصائد﴾ جمع د حَصِيْدٌ او حَصِيْدَةٌ ده: رېبل سوی کښت، د فصل پرېکړل سوې برخه. کله چې کښت او فصل (مثلاً غنم) ورېبل سي، نو بيا د پاکولو او ميدولو لپاره هغه په يو ځای کې غورځول کيږي (جمع کول کيږي) چې هغه ته درمند ځای وايي او په عربي کې ورته بَيْدَر او داسې نور وايي، نو فرمايي چې دا ځمکه به د کلي او علاقې والا لپار د چراګاه او درمند ځای په توګه پرېښوول کيږي. ﴿يُقْطِعُ﴾ د افعال د باب مضارع، أَقْطَعَ يُقْطِعُ إِقْطَاعًا: د دې باب ډېرې معناوې دي چې له هغوی څخه يوه دا ده: ① يو څوک ديو شي مالک کول (په ملکيت کې ورکول، چې د باچا او واکمن له طرفه ورکول سي). ② او إقطاع په اصل کې دې ته وايي چې د سيمې او علاقې واکمن يو چا ته د ځمکې يوه ټوټه ورکړي چې په پښتو کې هغه ته جاګير وايي، لنډه دا چې د إقطاع معنیٰ ده: د باچا او واکمن ورکړه. ﴿يستقي﴾ د استفعال د باب مضارع ده. ① له چا څخه د اوبولو طلب کول. ② له څاه، ويالې وغيره څخه اوبه اخيستل، (اوبه راکښل). (معجم الوسيط)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کومه شاړه ويرانه ځمکه سيمې او آبادۍ ته نږدې وي، نو د هغې احياء (آبادول) جائز نه دي (لکه مخکې چې هم ذکر سوه)، او داسې ځمکه به د مسلمانانو د منفعت او مصلحت (ښېګڼې) په خاطر پرېښوول کيږي چې هغوی دا ځمکه د خپلو پسونو وغيره لپاره چراګاه (څر ځای) وګرځوي يا د خپلو غله جاتو لپاره يې درمند ځای وګرځوي يعني چې د خپلو کښتونو او فصلونو غنم او نور حاصلات په همدې ځمکه کې جمع کوي او پاکوي، ځکه چې د دې دواړو شيانو (مرعى او مطرح) سره د هغو ضرورت متعلق دی. يا خو يې حقيقتاً ضرورت ور سره متعلق دی لکه

څرنګه چې امام محمد رَحِمَهُ الله د حقيقي ضرورت اعتبار کوي يا يې دلالتاً ضرورت ورسره متعلق دی چې دا ځمکه دوی ته ور نږدې ده لکه څرنګه چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د نږدېکت اعتبار کوي (چې مخکې په دې هکله بيان وسو او لاندې به يې هم مزيد وضاحت وکړو). لهذا دا ځمکه مَوَات نه سي کېدلای نو بل چا لره جائز نه دي چې په هغې کي لاس ووهي او آباده يې کړي.

په همدې وجه مشايخو فرمايلي دي چې کوم څه د مسلمانانو د عام ضرورت شي وي، د امام لپاره دا جائز نه دي چې هغه شی د يو سړي په ملکيت او قبضه کي ورکړي، لکه د مالګې کان چې خلک مالګه ځني وړي، او دا وبو ځاه چې خلک يې کاروي؛ ځکه د دې شيانو سره د مسلمانانو ضرورت متعلق دی او هر هغه څه چې د مسلمانانو حاجت او ضرورت ورسره متعلق وي، د هغه إحياء او إقطاع جائز نه ده.

حَقِيْقَتِهَا أَوْ دَلِيْلِهَا: دا دواړه له "حَاجَتِهِمْ" څخه د بدل کېدلو په وجه مجرور دي، او په دې سره د امام ابو يوسف او امام محمد رَحِمَهُمَا الله هغه مخکيني اختلاف ته اشاره سوې ده. يعنې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آبادۍ ته د نږدېکت اعتبار کړی دی چې د ښاري ځمکي آبادول هغه وخت جائز دي کله چې هغه د خلکو کلي او علاقې (آبادۍ) ته نږدې نه وي بلکي دومره ليرې وي چې ظاهراً له هغې څخه کلي والا نفع نه سي اخيستلای او که ور نږدې وي نو بيا هغه د کلي والا حق ده. او امام محمد رَحِمَهُ الله د حقيقتاً انتفاع منقطع کېدلو اعتبار کړی دی چې له هغه ځمکي څخه کلي والا حقيقتاً نفع نه سي اخيستلای که څه هم هغه آبادۍ ته نږدې وي نو په دې صورت کي د بل چا لپاره د هغې آبادول جائز دي، او که داسي نه وي نو بيا د کلي والا حق ده. لنډه دا چې امام محمد رَحِمَهُ الله د حقيقي حاجت او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دليلِ حاجت اعتبار کړی دی.

يادونه: دلته په متن کي د "قُرْبٌ" قيد د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر قول مبني دی. حال دا چې د ظاهر روايت مطابق حقيقي حاجت او حقيقي انتفاع لره اعتبار دي. برابره ده ځمکه نږدې وي. که ليرې وي.

يادونه: د پټرولو، ګاسلېټو وغيره چيني هم د مالګې د کان په څېر دي. چې د هغوی إقطاع جائز نه ده.

په شاړه ځمکه کي ځاه کنونکی کس د ځاه د حريم هم مالک کېږي

قَالَ: وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي بَرِّيَّةٍ فرمايي: او څوک چې په يو دښت کي ځاه وکيندي فَلَهُ حَرِيْمُهَا نو د هغه ځاه حريم د هغه لپاره دی وَمَعْنَاهُ إِذَا حَفَرَ فِي أَرْضٍ مَوَاتٍ او د دې مطلب دا دی چې کله يې په شاړه ځمکه کي وکيندي بِإِذْنِ الْإِمَامِ عِنْدَهُ که چيري د امام المسلمين په اجازت سره اړي [illegible] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز

أَوْ بِإِذْنِهِ وَبِغَيْرِإِذْنِهِ عِنْدَهُمَا يا [كه] د امام المسلمين په اجازت سره [وي] او [كه] بغير د هغه له اجازت څخه [وي] لِأَنَّ حَفْرَ الْبِئْرِ إِحْيَاءٌ ځكه چي د څاه كيندل آبادول دي [يعني په كيندلو سره هغه د ځمكي آبادونكى ګرځي].

اللغات: ﴿بِئْر﴾ او بِير: داوبو څاه. ﴿حَرِيْم﴾ "د څاه حريم". د څاه شاوخوا هغه ځاى ته وايي چي د هغه سره د څاه حقوق او منافع متعلق وي. يا په بله وينا دا چي د څاه څلورو سره طرفونو ته چي څومره ځمكه پرېښوول كيږي چي په هغې كي بل څوک څاه وغيره نه وكيندي، هغې ته د څاه حريم وايي. او داسي ځكه كيږي چي كه دغه څاه ته نژدې بل څاه وكښل سي. نو كېداى سي داول څاه اوبه دغه بل څاه ته راسي او د هغه اوبه وچي سي. يا كېداى سي د دې بل څاه ګندګي اول څاه ته ورسيږي. نو ځكه هغه ته نژدې بغير له اجازته به بل څاه نه كښل كيږي. او حريم په همدې وجه ورته وايي چي په هغې كي د بل چا لپاره څاه كښل حرام دي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي كه څوک په شاړه ځمكه (ارض موات) كي څاه وكيندي، نو د دې څاه حريم هم د هغه څاه كيندونكي (حافر) لپاره دى چي تر دې وروسته بل چا ته حق نسته چي د هغه په حريم كي خپل څاه وكاږي يا يو بل تصرّف پكښي وكړي. خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز شرط دا دى چي دغه كيندل (كښل) به د امام په اجازت سره وي، ليكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز اجازت او عدمِ اجازت دواړه سره برابر دي.

او د څاه حريم ځكه د هغه (حافر) لپاره دى چي په څاه كيندلو سره هغه د دې شاړي ځمكي آبادونكى ګرځي، يعني په څاه كيندلو سره هم د ځمكي احياء (آبادول) ثابتيږي، او احياء د ملكيت سبب ده (يعني د شاړي ځمكي په آبادولو سره آبادونكى كس د هغې مالک كيږي)، لهذا څوک چي په شاړه ځمكه كي فقط څاه وكيندي، نو هغه (هم) د دې ځمكي مالک كيږي، او كله چي هغه د ټولي ځمكي مالک دى، نو د حريم به هم مالک وي.

د څاه د حريم مقدار

قَالَ: فَإِنْ كَانَتْ لِلْعَطَنِ فرمايي: بيا كه چيري څاه [څارويو ته] داوبو وركولو لپاره وي فَحَرِيْمُهَا أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا نو د هغې حريم څلوېښت ګزه دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځكه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي «مَنْ حَفَرَ[1] بِئْرًا څوک چي څاه وكيندي فَلَهُ مِمَّا حَوْلَهَا أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا نو د ده لپاره د هغه څاه شاوخوا څلوېښت ذراعه دي عَطَنًا لِمَاشِيَتِهِ» د هغه د څارويو د اوبه كولو [او درولو] لپاره

[1] تخريج: رواه ابن ماجه عن عبد الله بن معفل ﷺ في سننه ج:۲، ص:۸۳۱، حديث رقم:۲۴۸۶.

[يعني چي په دې څلوېښت ګزه حريم کي هغه داوبولو لپاره خپل رمه دروي] ثُمَّ قِيْلَ: الْأَرْبَعُوْنَ مِنْ كُلِّ الْجَوَانِبِ بيا ويل سوي دي: چي له ټولو طرفونو څخه څلوېښت ذراعه دي [يعني مجموعتاً څلوېښت ذراعه دي چي هر طرف ته لس ذراعه راځي] وَالصَّحِيْحُ أَنَّهُ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ خو صحيح دا ده چي له هر طرف څخه څلوېښت ذراعه دي لِأَنَّ فِي الْأَرَاضِي رِخْوَةً ځکه په ځمکو کي نرموالي [پستوالي] وي وَيَتَحَوَّلُ الْمَاءُ إِلَى مَا حُفِرَ دُوْنَهَا او اوبه به واړوي وهغه څاه ته کوم چي تر دې څلوېښتو ذراعو په کم کي وكيندل سي [يعني کله چي ځمکي نرمي دي. نو که له څلوېښتو ذراعو څخه په کمه مسافه کي د دې څاه سره بل څاه وكيندل سي. نو د دې څاه اوبه به هغه بل څا ته ورسي] وَإِنْ كَانَتْ لِلنَّاضِحِ او که څاه د کښت اوبولو [سېرابولو] لپاره وي فَحَرِيْمُهَا سِتُّوْنَ ذِرَاعًا نو د هغې حريم شپېته ذراعه دي وَهٰذَا عِنْدَهُمَا او دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز وَعِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ[*] أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز څلوېښت ذراعه دي.

اللغات: ﴿عطن﴾ په اصل کي د څاه شا وخوا هغه ځای ته وايي چي اوښان پکښې درول کيږي او کښېنول کيږي. او "بير عطن" هغه څاه ته وايي چي د هغه مقصد څارويو ته اوبه ورکول وي. نه کښتونو وغيره ته. او له داسي څاه څخه به عموماً په لاس اوبه راکښل کېدې. ﴿ناضح﴾ په اصل کي هغه اوښ ته وايي چي پر هغه اوبه راوړل کيږي. او "بير ناضح" هغه څاه ته وايي چي د هغه مقصد کښتونو ته اوبه ورکول وي. او له داسي څخه به عموماً د اوښ، غوايي وغيره په ذريعه اوبه راکښل کېدې، ځکه کښت ډيري اوبه غواړي چي د انسان لپاره د هغه راکښل ستونزمن دي. نو ځکه د څاه سره به يې يو څاروی تړل سوی وو چي هغه به پر څاه شا وخوا ګرځېدی او د اوبو راکښلو آله به يې ګرځوله چي په دې توګه به په پېخر اوبه راوتلې (او اوس د برق او برېښنا دور دی او د دې ټولو رواج ختم سوی دی چي د هغه پر ځای برمې. باوري وغيره کارول کيږي)، ﴿ذِراع﴾ شرعي ګز. کوم چي يو لاس کيږي (يعني د ګوتو له سره تر څنګلي پوري) چي د اوسني ګز په حساب سره نيم ګز کيږي او د فټ په حساب سره يو نيم فټ کيږي.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د څاه لپاره حريم هم سته. نو اوس سوال پيدا سو چي حريم به څومره وي، نو په دې هکله فرمايي چي که د څاه مقصد فقط څارويو ته اوبه ورکول وي (چي اوبه يې د همدې لپاره راکښل کيږي او هلته ولاړو څارويو ته ورکول کيږي)، نو د داسي څاه حريم څلوېښت ذارعه دی،

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:٢، ص: ٣١٠]

يعني له هر طرف څخه څلوېښت، څلوېښت ذراعه د صحيح قول مطابق. او که د څاه مقصد کښت او کېتی ته اوبه ورکول وي (يعني بير ناضح وي)، نو د هغه څاه په حريم کي اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه حريم هم څلوېښت (۴۰) ذراعه دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه حريم شپېته (۶۰) ذراعه دی، د دواړو دلائل به لاندي ذکر سي.

د صاحبينو رحمهما الله دليل

لَهُمَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی «حَرِيْمُ الْعَيْنِ خَمْسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ چي د چيني حريم پنځه سوه (۵۰۰) ذراعه دی وَحَرِيْمُ بِئْرِ الْعَطَنِ أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا او د "بير عطن" حريم څلوېښت ذراعه دی وَحَرِيْمُ بِئْرِ النَّاضِحِ سِتُّوْنَ ذِرَاعًا» او د "بير ناضح" حريم شپېته ذراعه دی وَلِأَنَّهُ قَدْ يُحْتَاجُ فِيْهِ إِلَى أَنْ يُسَيِّرَ دَابَّتَهُ لِلِاسْتِقَاءِ او ځکه چي په "بير ناضح" کي دې ته ضرورت پېښېږي چي د اوبو راکښلو لپاره خپل څاروی روان کړي [او پر څاه يې شاوخوا راګرځوي] وَقَدْ يَطُوْلُ الرِّشَاءُ او کله د څاروي رسی اوږده سي وَبِئْرُ الْعَطَنِ لِلِاسْتِقَاءِ مِنْهُ بِيَدِهِ او "بئر عطن" په لاس سره د اوبو راکښلو لپاره دی [يعني له هغه څخه په لاسو اوبه راکښل کيږي، نه د څاروي په ذريعه] فَقَلَّتِ الْحَاجَةُ نو ضرورت کم سو فَلَا بُدَّ مِنَ التَّفَاوُتِ نو ځکه [د بير عطن او بير ناضح ترمينځ] توپير ضروري دی.

اللغات: ﴿استقاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ① د اوبولو (سَقْي) طلب کول، ② له څاه وغيره څخه اوبه را اخيستل (اوبه راکښل). ﴿بئر العطن﴾ او بِيرُ الْعَطَن هم ويل کېدای سي، تعريف يې مخکي تېر سو. ﴿يسيّر﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: راوانول، چلول. ﴿الرشاء﴾ رسی، مزی، پړی.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د بير ناضح حريم شپېته ذراعه دی. دوی پر خپل دليل يو حديث پېش کړی دی کوم چي په عبارت کي ذکر سو.

او عقلي دليل يې دا پېش کړی دی چي کله له دغه څاه څخه د څاروي (اوبښ وغيره) په ذريعه اوبه راکښل کيږي نو هغه څاروی د څاه پر شاوخوا راګرځول کيږي (لکه مخکي چي موږ ذکر کړه چي پخوا به د کښت لپاره همدا ډول اوبه راکښل کېدې)، او د تللو او ګرځېدلو په وجه ځيني وخت د څاروي مزی او رسی هم اوږدېږي، او ښکاره ده چي کله حريم شپېته ذراعه وي نو دا مقصد په ښه توګه حاصلېږي. نو ځکه د بير ناضح حريم به شپېته ذراعه وي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في مراسيله. (احسن الهدايه)

د دې په خلاف له بيرِ عطن څخه په لاسو اوبه راکښل کيږي، نه د څاروي په ذريعه، نو د هغه پر شاوخوا د څاروي راګرځولو ته ضرورت نه وي چې په دې وجه په هغه کي د ځای ضرورت کم سو، نو ځکه د هغه حريم به څلوېښت ذراعه وي، د دې لپاره چي د بيرِ عطن او بيرِ ناضح تر مينځ فرق او توپير ثابت سي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَلَهُ مَا رَوَيْنَا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دی کوم چي موږ روايت کړی مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ [او هغه حديث] بغير له څه تفصيله دی [يعني د بير عطن او ناضح قيد پکښي نسته] وَالْعَامُّ الْمُتَّفَقُ عَلَى قَبُولِهِ وَالْعَمَلِ بِهِ او هغه عام چي د هغه پر قبلولو او د هغه پر عمل کولو اتفاق وي أَوْلَى عِنْدَهُ غوره دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مِنَ الْخَاصِّ الْمُخْتَلَفِ فِي قَبُولِهِ وَالْعَمَلِ بِهِ له هغه خاص څخه چي د هغه په قبلولو او پر هغه په عمل کولو کي اختلاف وي وَلِأَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَى اسْتِحْقَاقَ الْحَرِيمِ او ځکه چي قياس د حريم د استحقاق انکار کوي [يعني د قياس تقاضا دا ده چي د څاه کيندونکی کس بايد د څاه د حريم مستحق نه سي] لِأَنَّ عَمَلَهُ فِي مَوْضِعِ الْحَفْرِ ځکه چي د څاه کيندونکي کس عمل [صرف] د کيندلو په ځای کي دی وَالِاسْتِحْقَاقُ بِهِ او مستحق کېدل د عمل په وجه وي فَفِيمَا اتَّفَقَ عَلَيْهِ الْحَدِيثَانِ تَرَكْنَاهُ نو په کوم مقدار کي چي دواړه حديثونه متفق دي [هلته] موږ قياس پرې ايښی دی وَفِيمَا تَعَارَضَا فِيهِ او په کوم مقدار کي چي دواړه حديثونه يو د بل سره متعارض دي حَفِظْنَاهُ نو [هلته] موږ قياس محفوظ ساتلی دی وَلِأَنَّهُ قَدْ يُسْتَقَى مِنَ الْعَطَنِ بِالنَّاضِحِ وَمِنْ بِئْرِ النَّاضِحِ بِالْيَدِ او ځکه چي ځيني وخت له "بيرِ عطن" څخه د اوښ په ذريعه اوبه راکښل کيږي او له "بيرِ ناضح" څخه په لاس اوبه راکښل کيږي فَاسْتَوَتِ الْحَاجَةُ فِيهِمَا نو په دواړو کي ضرورت سره برابر سو وَيُمْكِنُهُ أَنْ يُدِيرَ الْبَعِيرَ حَوْلَ الْبِئْرِ او هغه لره دا ممکن دي چي [په نږدې مسافه کي] اوښ پر څاه راګرځوي فَلَا يَحْتَاجُ إِلَى زِيَادَةِ مَسَافَةٍ نو ځکه زياتي مسافې ته ضرورت نسته.

اللغات: ﴿فصل﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ ده: تفصيل، ﴿يأبى﴾ د فتح د باب مضارع ده: انکار کول، ﴿يُدِيرُ﴾ د افعال د باب مضارع ده: ګرځول راګرځول، څرخول.

تشریح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل د نبي کریم ﷺ دا فرمان دی "مَنْ حَفَرَ بِئْرًا فَلَهُ مِمَّا حَوْلَهُ أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا" یعني څوک چي څاه وکیندي. نو د دې څاه شا وخوا څلوېښت ذراعه د هغه دي، په دې حدیث سره امام صاحب رَحِمَهُ الله داسي دلیل نیسي چي په دې حدیث کي د څاه کیندونکي لپاره مطلقاً څلوېښت ذراعه حریم ټاکل سوی دي او په دې حدیث کي د بیرِ عطن او بیرِ ناضح هیڅ قید نسته بلکي عام حکم دی او متفق علیه دی (ځکه پر څلوېښتو ذراعو دواړه حدیثونه متفق دي) او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله حدیث خاص دی او مختلف فیه دی. نو ځکه د هغه په مقابله کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله روایت لره ترجیح وي؛ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قاعده دا ده چي هغه عام چي د هغه پر قبولیت او د هغه پر عمل کولو اتفاق وي. هغه له خاص مختلف القبول والعمل څخه اولیٰ او افضل دی.

عقلي دلیل یې دا دی چي استحقاق د عمل په اندازه وي. نو ځکه د قیاس له رویه څاه کېدونکی کس د حریم نه مستحق کېدل پکار دي؛ ځکه د څاه کیدونکي عمل فقط د کیندلو په ځای (موضع حفر) کي وي. لهذا د هغه استحقاق به صرف پر همدې ځای وي. خو ځرنګه چي په حدیثونو کي د حریم استحقاق ثابت دی او دا استحقاق د څلوېښتو او شپېتو ذراعو تر مېنځ دائر دی. نو ځکه په کوم مقدار کي چي حدیثونه متفق دي. په هغه کي خو موږ قیاس پرېږ ایښی دی چي هغه څلوېښت ذراعه دي، او په کوم مقدار کي چي حدیثونه مختلف او متعارض دي، په هغه کي موږ پر قیاس عمل کوو چي هغه شپېته ذراعه دي. نو ځکه شپېته ذراعه حریم به نه ثابتیږي.

دویم عقلي دلیل دا دی چي د حریم د زیاتوالي او کموالي دار ومدار د ضرورت پر زیاتوالي او کموالي دی، او د بیرِ عطن او بیرِ ناضح ضرورت سره برابر دی؛ ځکه چي ځیني وخت له بیرِ ناضح څخه د لاسو په ذریعه اوبه راکښل کیږي. همدارنګه له بیرِ عطن څخه ځیني وخت د څارویو (اوښ وغیره) په ذریعه اوبه راکښل کیږي. لهذا کله چي د اوبو راکښلو په هکله په دواړو کي مساوات سته. نو د حریم د مقدار په هکله به هم په دواړو کي مساوات وي او د دواړو حریم به څلوېښت ذراعه وي. او بل دا چي په څلوېښت ګزه حریم کي د څارويو ګرځول او اوبه راکښل ممکن هم دي، نو ځکه اضافي ګزونو او اضافي مسافې ته ضرورت نسته.

د چینې د حریم مقدار

قَالَ: وَإِنْ كَانَتْ عَيْنًا فرمايي: او که چینه وي فَحَرِيْمُهَا خَمْسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ نو د هغې حریم پنځه سوه (۵۰۰) ذراعه دی لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چي موږ روایت کړی وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ فِيْهِ إِلَى زِيَادَةِ مَسَافَةٍ او ځکه چي په دې کي زیات مسافت ته ضرورت سته لِأَنَّ الْعَيْنَ تُسْتَخْرَجُ لِلزِّرَاعَةِ

ځکه چینه د کښتګرۍ کولو لپاره را ایستل کیږي [برابرول کیږي] فَلَا بُدَّ مِنْ مَوْضِعٍ يَجْرِيْ فِيْهِ الْمَاءُ نو ځکه چاره نسته [د چینې لپاره] له داسي ځای څخه چي په هغه کي [د چینې] اوبه بهیږي وَمِنْ حَوْضٍ يَجْتَمِعُ فِيْهِ الْمَاءُ [همدارنګه چاره نسته] له داسي حوض څخه چي په هغه کي [د چینې] اوبه جمع کیږي وَمِنْ مَوْضِعٍ يَجْرِيْ فِيْهِ إِلَى الْمَزْرَعَةِ او له داسي ځای [والې] څخه چي په هغه کي [د چینې اوبه] د کښت وطرف ته وبهیږي فَلِهٰذَا يُقَدَّرُ بِالزِّيَادَةِ نو ځکه هغه په زیات مقدار سره اندازه کړی سوی دی [یعني نو ځکه د چینې لپاره زیات مقدار متعیّن سوی دی] وَالتَّقْدِيْرُ بِخَمْسِ مِائَةٍ بِالتَّوْقِيْفِ او په پنځو سوو (۵۰۰) سره اندازه کول توقیفي دي [یعني پنځه سوه ذراعه چي متعیّن سوي دي هغه هم د حدیث پر بناء دي] وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ خَمْسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ او صحیح دا ده چي دا له هر طرفه پنځه سوه ذراعه دي كَمَا ذَكَرْنَا فِي الْعَطَنِ لکه د "بیر عطن" په هکله چي موږ ذکر کړه وَالذِّرَاعُ هِيَ الْمُكَسَّرَةُ او ذراع هغه کسروي ذراع دی [چي هغه ته ذراع کرباس هم وايي] وَقَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ او مخکي موږ د دې بیان کړی دی [ځکه مخکي په کتابُ الطهارة کي مصنف رَحِمَهُ الله د ذراع کرباس په هکله بیان کړی دی چي د هغه بل نوم ذراع مکسره دی] وَقِيْلَ: إِنَّ التَّقْدِيْرَ فِي الْعَيْنِ وَالْبِئْرِ بِمَا ذَكَرْنَاهُ فِيْ أَرَاضِيْهِمْ او ویل سوي دي: چي اندازه کول [مقدار متعیّنول] په چینه او څاه کي په هغه مقدار سره کوم چي موږ ذکر کړی هغه د عربو په ځمکه دی [یعني مخکي چي موږ د څاه او چینې د حریم کوم مقدار بیان کړی. دا صرف د عربو د ځمکو په هکله دی] لِصَلَابَةٍ بِهَا ځکه چي د هغوی په ځمکو کي سختي وي وَفِيْ أَرَاضِيْنَا رَخَاوَةٌ او زموږ په ځمکو کي نرمي وي فَيُزَادُ نو [زموږ په ځمکو کي] به اندازه زیاتیږي كَيْ لَا يَتَحَوَّلَ الْمَاءُ إِلَى الثَّانِيْ د دې لپاره چي [د اول یوه] اوبه د بل یوه وطرف ته نه واوړي فَيَتَعَطَّلَ الْأَوَّلُ نو اول به معطل [بېکاره] پاته سي.

اللغات: ﴿عین﴾ چینه. ﴿توقیف﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: د یو څه په هکله د شارع صراحت (یعني چي الله تعالیٰ یا رسول الله ﷺ د یو شي په هکله څرګندونه کړې وي)، د شریعت له طرفه د یو شي ټاکل کېدل. ﴿مکسرة﴾ کسروي ذراع، چي ذراع کرباس هم ورته وايي او دغه ذراع شپږ فوټه کیږي چي نور حساب به یې لاندي ذکر سي، او مکسره ځکه ورته وايي چي دا د کسریٰ له ذراع څخه یو موټ کم

کړل سوی وو. ځکه د کسری ذراع اووه موټه کېدی (مع رفع الإبهام فی کل مرة) او دغه ذراعِ مکسره شپږ موټه دی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که څوک داوبو چینه وکیندي، نو د هغې حریم پنځه سوه (۵۰۰) ذراعه دی. ځکه په حدیث کې دي: "حَرِيْمُ الْعَيْنِ خَمْسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ" یعني د چینې حریم پنځه سوه (۵۰۰) ذراعه دی. او په دې هکله عقلي دلیل دا دی چې د چینې مقصد کښت او داسې نورو ته اوبه ورکول دي. لهذا هغې لره د زیات حریم ضرورت سته چې په هغه حریم کې داوبو بهېدلو ځای. جمع کېدلو ځای (حوض) او تر جمع کېدلو وروسته له هغه ځایه بل ځای یعني د کښت وطرف ته د رسولو ځای جوړ کړل سي او دا ټوله کار د چینې په خپل حریم کې تر سره کړل سي، او ښکاره ده چې دا همغه وخت ممکن دي کله چې د چینې حریم زیات وي، نو ځکه مو د چینې حریم پنځه سوه ذراعه متعیّن کړی دی او دا تعیین هم توقیفي دی یعني د شریعت له طرفه ټاکل سوی چې په حدیث سره ثابت دی، او څرنګه چې د بیرِ عطن حریم هر طرف ته څلوېښت ذراعه دی. همداسې د صحیح قول مطابق د چینې حریم هم هر طرف ته پنځه سوه ذراعه دی.

والذراع هو المكسرة إلخ: فرمايي چې دلته له ذراع څخه "ذراع مکسره" (ذراع کرباس) مراد دی. تفصیل یې دا دی چې په عربو کې دوه قسمه ذراع رواج وو:

① ... "ذراعِ کرباس" چې په هغه سره به کپړه او داسې نور څه اندازه کېدل.

② .. "ذراعِ مساحت" چې په هغه سره به ځمکه وغیره اندازه کېدل. د فقهاؤ په کلام چې کله مطلق ذراع ذکر سي، له هغه څخه عموماً ذراعِ کرباس مراد وي او هغه ته "مکسره" هم ویل کیږي، دغه ذراع شپږ موټه کیږي او په ګوتو سره څلورویشت (۲۴) ګوتې کیږي، او د نن سبا په حساب سره د هغه مقدار نیم ګز دی یعني اتلس (۱۸) اینچه، او په فټ سره یو نیم فټ او د لاس په حساب سره یو لاس کیږي (یعني د ګوتو له سره څخه تر څنګلي پوري). او "ذراعِ مساحت" د نن سبا په حساب سره یو ګز او شپږ اینچه کیږي یعني دو څلوېښت (۴۲) اینچه او د فټ په حساب سره درې نیم فټه کیږي.

وقيل إن إلخ: فرمايي د چینې د حریم او د څاه د حریم چې کوم مقدار ذکر سو، هغه د عربو د ځمکو سره متعلق دی. ځکه د هغو ځمکې به سختې وي او د پنځو سوو (۵۰۰) ذراعو په حریم کې به اوبه محفوظه کېدای سوې. د دې په خلاف زموږ د علاقو (یعني د مرغینان وغیر) ځمکې نرمې وي او له یوې ځمکې څخه بلې ځمکې ته داوبو بهېدلو او رسېدلو قوي امکان وي. نو ځکه په نرمه او پسته ځمکه کې به د ضرورت مطابق زیات حریم ورکول کیږي. د دې لپاره چې د یوه څاه یا چینې اوبه د بل کس څاه یا د بل کس کښت وغیره ته ولاړې نه سي او په دې هکله انسان مطمئن سي.

د يو چا په حريم کي د څاه کنبلو حکم

قَالَ: فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَحْفِرَ فِيْ حَرِيْمِهَا فرمايي: او څوک چي وغواړي د دې څاه په حريم کي څاه وکيندي مُنِعَ مِنْهُ نو هغه به له دې څخه منع کول کيږي کَيْ لَا يُؤَدِّيَ إِلَى تَفْوِيْتِ حَقِّهِ وَالْإِخْلَالِ بِهِ د دې لپاره چي دا سبب جوړ نه سي د هغه [اول څاه والا] د حق د فوتېدلو او هغه ته د خلل [او نقصان] رسولو وَهٰذَا لِأَنَّهُ بِالْحَفْرِ مَلَكَ الْحَرِيْمَ او دا [حکم] ځکه دی چي هغه [اول څاه والا] د څاه کيندلو په وجه د حريم هم مالک سو ضَرُوْرَةَ تَمَكُّنِهِ مِنَ الْاِنْتِفَاعِ بِهِ له دې حريم څخه پر نفع اخيستلو د هغه د قدرت د ضرورت په وجه [بله وينا: ځکه چي له دې حريم څخه پر نفع اخيستلو د هغه قادر کېدل ضروري دي، کنې څاه هغه ته فايده نه کوي، نو ځکه په څاه کيندلو سره د څاه تر څنګ د هغه د حريم هم مالک کيږي] فَلَيْسَ لِغَيْرِهِ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيْ مِلْكِهِ نو ځکه بل چا ته دا اختيار نسته چي د هغه په ملکيت کي تصرّف وکړي.

اللغات: ﴿تفويت﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: فوتول، ضايع کول. ﴿إخلال﴾ د افعال د باب مصدر دی: خلل اچول، (نقصان رسول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله يو څوک مثلاً زيد په شاړه ځمکه (ارض موات) کي څاه وکيندي، نو ښکاره خبره ده چي زيد د څاه سره د څاه د حريم هم مالک کيږي، ځکه له حريم څخه بغير له څاه څخه نفع اخيستل ناممکن دي، لهذا د حريم مالک کېدل د څاه کيندلو له ضرورت څخه دي (يعني د څاه کنبلو سره دا خبره ضروري ده چي کنبونکی کس د هغه د حريم هم مالک کيږي)، لهذا کله چي زيد د څاه او حريم دواړو مالک دی، نو بيا بل چا ته په هغه حريم کي څاه کيندل جائز نه دي، او که چيري هغه داسي حرکت کوي، نو له دې څخه به منع کول کيږي؛ ځکه په داسي کولو سره د اول حافر يعني د زيد حق فوتيږي او له څاه څخه په استفاده کولو کي هغه ته خلل او تاوان رسيږي، نو ځکه بل څوک به د هغه په ملکيت کي له تصرّف کولو څخه منع کول کيږي، لأن التصرّف في ملك الغير باطل.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

فَإِنِ احْتَفَرَ آخَرُ بِئْرًا فِيْ حَدِّ حَرِيْمِ الْأُوْلٰى بيا که بل څوک [دويم کس] د اول څاه د حريم په حدّ کي څاه وکيندي لِلْأَوَّلِ أَنْ يُصْلِحَهُ وَيَكْبِسَهُ تَبَرُّعًا نو اول کس [يعني د اول څاه مالک] لره دا حق سته چي د احسان په توګه د هغه اصلاح وکړي او پټ يې کړي [يعني د دويم کس سره د احسان کولو په خاطر خپله د هغه څاه بند او پټ کړي] وَلَوْ أَرَادَ أَخْذَ الثَّانِيْ فِيْهِ او که هغه په دې باره کي د دويم کس نيول [مؤاخذه

کول] وغواړي قِيْلَ: لَهُ أَنْ يَأْخُذَهُ بِكَبْسِهٖ نو ويل سوي دي: چي هغه [اول کس] ته دا اختيار سته چي د دې څاه په پټولو سره هغه ونيسي [يعني چي څاه په هغه پټ کړي] لِأَنَّ إِزَالَةَ جِنَايَةِ حَفْرِهٖ بِهٖ ځکه چي د هغه د څاه کيندلو د جرم ازاله په همدې سره کيږي كَمَا فِي الْكُنَاسَةِ يُلْقِيْهَا فِيْ دَارِ غَيْرِهٖ لکه په هغه کچره [ناپاکي] کي [چي همدا حکم دی] کوم چي يو څوک د بل چا په کور کي وغورځوي فَإِنَّهُ يُؤْخَذُ بِرَفْعِهَا نو هغه [غورځونکی] د هغه په پورته کولو سره نيول کيږي وَقِيْلَ: يُضَمِّنُهُ النُّقْصَانَ ثُمَّ يَكْبِسُهُ بِنَفْسِهٖ او ويل سوي دي: چي اول کس دي هغه [دويم کس] د نقصان ضامن وګرځوي [يعني تاوان دي ځني واخلي] بيا دي څاه خپله پټ کړي كَمَا إِذَا هَدَمَ جِدَارَ غَيْرِهٖ لکه څوک چي د بل چا ديوال ونړوي وَهٰذَا هُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح دي ذَكَرَهُ فِيْ أَدَبِ الْقَاضِيْ لِلْخَصَّافِ دا امام خصاف رَحِمَهُ الله په ادب القاضي کي ذکر کړي دي وَذَكَرَ طَرِيْقَ مَعْرِفَةِ النُّقْصَانِ او د نقصان پېژندلو [معلومولو] طريقه يې [هم] ذکر کړې ده.

اللغات: ﴿يكبسه﴾ د ضرب د باب مضارع ده، د دې باب په صله چي کي څاه (بِئْر) ذکر سي، نو معنىٰ يې ده: څاه پټول، له خاورو ډکول. ﴿تبرُّعًا﴾ د تفعّل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنىٰ ده: احسان کول، بلا عوضه يو شی ورکول يا بلا عوضه (مفت) يو کار کول. ﴿الكناسة﴾ کچره، هغه ناپاکي او خيرن بې ځايه شيان چي د يو ځای له جارو کولو څخه وروسته په آخر کي جمع سي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو چا (مثلاً د زيد) د څاه په حريم کي بل څوک خپل څاه وکاږي، نو اوس هغه اول کس (زيد) لره دا حق هم سته چي د دې بل يوه (څاه کيندونکي) سره احسان وکړي او هغه د خپل څاه په پټولو سره مکلف نه کړي بلکي خپله د هغه څاه پټ او بند کړي.

او که هغه (زيد) احسان او تبرّع نه کوي، بلکي غواړي چي څاه کيندونکی مؤخذاه او جرمانه کړي، نو په دې صورت کي دوه قولونه دي:

(۱)... اول قول دا دی چي هغه دي په دې سره مکلف کړي چي خپل څاه په خپله بند کړي او په هاغه خاورو سره يې پټ کړي (کوم چي يې ځني راکښلي دي)؛ ځکه کوم جرم چي يې کړی دی، د هغه د تلافی او تدارک طريقه همدا ده. او د دې مثال داسي دی لکه څوک چي د بل چا په کور کي ناپاکي او کچره وغورځوي، نو دا غورځونکی مکلف کول کيږي چي هغه خپله صفا کړي.

(۲)... دويم قول دا دې چې د اول کس (زيد) څاه ته چې څومره نقصان رسېدلی وي، د هغه ضمان (تاوان) دې له څاه کيندونکي څخه واخلي، بيا دې د هغه څاه خپله پټ کړي، او د نقصان معلومولو طريقه دا ده چې د دې (زيد د) څاه قيمت اول څو دی مثلاً د هغه قيمت مخکي لس زره روپۍ وو، او د بل څاه کيندلو په وجه د هغه قيمت نهه نيم زره روپۍ سو. نو اول کس (زيد) دې له هغه څخه پنځه سوه روپۍ واخلي او څاه دې خپله پټ کړي، او د دې مثال داسي دی لکه څوک چې د بل چا دېوال ونړوي، نو د دېوال مالک ته دا اختيار حاصلېږي چې له هغه نړونکي څخه د دې تاوان واخلي او بيا خپله هغه دېوال جوړ کړي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې دواړو قولونو کي دا دويم قول صحيح دی او امام خصاف رَحِمَهُ الله دا په خپل کتاب "ادب القاضي" کي بيان کړی دی او په دې کتاب کي هغه د نقصان معلومولو طريقه هم بيان کړې ده کوم چې پورته ذکر سوه.

په مذکوره دوو څاګانو کي د انسان او حيوان د لوېدلو حکم

وَمَا عَطِبَ فِي الْأُولَى او کوم چې په اول څاه کي هلاک سي فَلَا ضَمَانَ فِيهِ نو په هغه کي ضمان نسته لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَدٍّ ځکه چې اول کس [د اول څاه مالک] تعدی کونکی نه دی إِنْ كَانَ بِإِذْنِ الْإِمَامِ فَظَاهِرٌ که د امام په اجازت سره [يې څاه کيندلی] وي نو ښکاره ده وَكَذَا إِنْ كَانَ بِغَيْرِ إِذْنِهِ عِنْدَهُمَا او همدارنګه که د هغه له اجازته بغير وي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَالْعُذْرُ لِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يَجْعَلُ فِي الْحَفْرِ تَحْجِيرًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه عذر [توجيه] دا ده چې هغه حفر تحجير ګرځوي وَهُوَ بِسَبِيلٍ مِنْهُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْإِمَامِ او د امام له اجازته بغير هغه [حافر] د تحجير پر حق دی [يعني تحجير د امام له اجازته بغير هم کولای سي] وَإِنْ كَانَ لَا يَمْلِكُهُ بِدُونِهِ که څه هم حافر د امام له اجازته بغير د هغه [څاه وغيره] نه سي مالک کېدلای سي وَمَا عَطِبَ فِي الثَّانِيَةِ او کوم چې په دويم څاه کي هلاک سي فَفِيهِ الضَّمَانُ نو په دې کي ضمان واجب دی لِأَنَّهُ مُتَعَدٍّ فِيهِ ځکه چې هغه [دويم حافر] په دې هکله تعدی کونکی دی، حَيْثُ حَفَرَ فِي مِلْكِ غَيْرِهِ په دې حيثيت سره چې هغه د بل چا په ملکيت کي څاه کيندلی دی.

اللغات: ﴿عَطِبَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: هلاکېدل، مړ کېدل. ﴿تحجير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی. تعريف يې مخکې تېر سو. ﴿متعدّی﴾ د تفعل د باب فاعل دی: تعدی کونکی. تجاوز کونکی، ناحقه تصرف کونکی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې څرنګه اول کس (زيد) په څاه کيندلو کي حق بجانب دی يعني په څاه کيندلو کي د هغه جرم نسته (ځکه چي هغه دا څاه په شاړه ځمکه کي اول کيندلی دی)، نو ځکه که د هغه په څاه کي څوک ولوېږي، نو پر هغه هيڅ ضمان (تاوان) نسته. ځکه په دې کي د اول حافر (زيد) هيڅ قصور نسته. لکه مالک چي په خپل مملوکه ځمکه کي څاه وکيندي او په هغه کي څوک ولوېږي، نو پر مالک هيڅ ضمان نسته؛ ځکه چي د هغه له طرفه هيڅ تعدی نه ده واقع سوې. برابره ده څاه د امام په اجازت سره وکيندي، يا بغير له اجازته. په اول صورت کي (يعني چي د امام په اجازه سره وي) هيڅ اشکال نسته. ليکن په دويم صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مذهب مطابق اشکال وارديږي؛ ځکه د هغه په نيز د ارضِ موات د احياء لپاره اجازت شرط دی يعني د شاړي ځمکي د احياء (آبادولو. څاه کيندلو وغيره) لپاره د امام اجازت شرط دی. نو څاه کيدونکی (زيد) د څاه مالک نه سو او دا تعدی سوه. لهذا پر هغه ضمان واجبېدل پکار دي.

نو په دې هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه دا عذر يعني توجيه پېش کړل سوې ده چي امام صاحب رَحِمَهُ الله حفر (يعني د څاه کيندل) احياء نه بلکي تحجير ګرځولی دی، او تحجير د امام له اجازته بغير هم جائز دی. لهذا د دې توجيه پر بناء په څاه کيندلو سره حافر (زيد) تعدی کونکی نه سو او کله چي هغه تعدی کونکی نه دی، نو پر هغه به ضمان هم نه واجبيږي.

وماعطب في الثانية إلخ: د دې حاصل دا دی چي کوم څاه د اول کس د څاه په حريم کي چا کيندلی وي (مثلاً خالد کيندلی وي)، که چيري په هغه کي څوک ولوېږي، نو پر هغه څاه کيندونکي (خالد) ضمان لازميږي؛ ځکه چي د هغه تعدی او زياتوب ښکاره دی چي هغه د بل چا په ملکيت کي څاه کيندلی دی.

د بل څاه په کيندلو سره د اول څاه د اوبو وچېدلو حکم

وَإِنْ حَفَرَ الثَّانِيْ بِئْرًا وَرَاءَ حَرِيْمِ الْأُوْلٰى او که دويم کس [دويم حافر] د اولي څاه د حريم تر شا [دباندي] څاه وکيندي فَذَهَبَ مَاءُ الْبِئْرِ الْأُوْلٰى بيا د اولي څاه اوبه ختمي سي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر دويم کس هيڅ شی نسته لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَدٍّ فِيْ حَفْرِهَا ځکه هغه د دې څاه په کيندلو کي تعدی کونکی نه دی وَلِلثَّانِي الْحَرِيْمُ مِنَ الْجَوَانِبِ الثَّلَاثَةِ دُوْنَ الْجَانِبِ الْأَوَّلِ او دويم کس [دويم حافر] لره صرف له دريو

طرفونو څخه حريم ستنه، نه له اول طرف څخه [کوم چې د اولي څاه حريم دی] لِسَبْقِ مِلْكِ الْحَافِرِ الْأَوَّلِ فِيْهِ ځکه په هغه اول طرف کې د اول څاه کيندونکي ملکيت مخکينی دی.

اللغات: ﴿وراء﴾ شاته، وروسته. ﴿سَبْق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: مخکې کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چا (مثلاً زيد) په شاړه ځمکه کې څاه کيندلی وي، بيا بل څوک (مثلاً خالد) راسي د زيد د څاه له حريم څخه بهر (يعني له څلوېښتو ذراعو څخه ليرې) بل څاه وکاږي، لېکن د دې بل څاه په کيندلو سره د هغه اول څاه (د زيد د څاه) اوبه وچې سي، نو په دې صورت کې پر دويم څاه کيندونکي (خالد) ضمان نه واجبېږي، ځکله کله چې دويم يوه د اول له حريم څخه بهر څاه کيندلی دی، نو هغه هيڅ تعدی کونکی نه دی، او کله چې د هغه له طرفه تعدی نه ده واقع سوې، نو بيا به ضمان ولې پر واجبېږي. او پاته سوه د اوبو وچېدلو مسئله نو هغه خو د ځمکې وغيره سره متعلق جلا خبره ده چې په هغه کې د دويم حافر (خالد) هيڅ دخل نسته.

او کله چې دويم څاه کيندل صحيح سوه، نو آيا د هغه حريم به هم څلورو سره طرفونو ته وي لکه د اول څاه حريم، نو فرمايي چې د دويم څاه حريم صرف دريو طرفونو ته دی، څلورم طرف ته (کوم چې د اول څاه د حريم سره متصل دی، له دې طرف څخه) به حريم نه ورکول کيږي؛ ځکه چې په دې طرف کې د اول حافر (زيد) ملکيت مخکې ثابت سوی دی، لهذا په هغه کې به بل څوک تصرّف نه کوي.

يادونه: تر ځمکې لاندې اوبه د هيچا ملکيت نه دي، نو ځکه پر دويم څاه کيندونکي دا جبر نه سي کېدلای چې له دې ځايه خپل څاه ليرې کړه کله چې هغه هيڅ تعدی نه وي کړې، او د دې مثال داسې دی لکه څوک چې د کپړو دوکان کوي، بيا بل څوک راسي او د هغه څنګ ته بل د کپړو دوکان خلاص کړي چې په دې سره د اول دکاندار سودا ودرېږي، نو پر دې دويم دوکاندار هيڅ ضمان نه واجبېږي (ځکه چې هغه تعدی کونکی نه دی او همدا يې خپل قسمت دی). (مجمع الأنهر ج: ۲، ص: ۵۳۵)

د کاريز د حريم مقدار

وَالْقَنَاةُ لَهَا حَرِيْمٌ بِقَدْرِ مَا يُصْلِحُهَا او د کاريز لپاره به دومره اندازه حريم وي کوم چې د هغه لپاره مناسب وي [يعني څومره حريم ته چې ضرورت وي] وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْبِئْرِ فِي اسْتِحْقَاقِ الْحَرِيْمِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د حريم په استحقاق کې کاريز د څاه په څېر دی وَقِيْلَ: هُوَ عِنْدَهُمَا وېل سوي دي: چې دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دي وَعِنْدَهُ ❀ لَا حَرِيْمَ لَهَا او د امام

❀ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، حيث أخر صاحبُ الهداية التعليل لقوله... وهذا أمارة الترجيح، فالترجيح لقول الـراجح عند صاحب الهداية، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۱۱]

صاحب رَحِمَهُ الله په نیز کاریز لره حریم نسته مَالَمْ يَظْهَرِ الْمَاءُ عَلَى الْأَرْضِ تر څو چي اوبه پر ځمکه ښکاره سوي نه وي لِأَنَّهُ نَهْرٌ فِي التَّحْقِيقِ ځکه چي کاریز په حقیقت کي نهر دی فَيُعْتَبَرُ بِالنَّهْرِ الظَّاهِرِ نو هغه به پر ښکاره نهر قیاسولکیږي قَالُوْا: وَعِنْدَ ظُهُوْرِ الْمَاءِ عَلَى الْأَرْضِ هُوَ بِمَنْزِلَةِ عَيْنٍ فَوَّارَةٍ. مشایخو فرمایلي دي: چي پر ځمکه د اوبو ښکاریدلو په صورت کي کاریز د خوټکېدونکي چینې په څېر دی فَيُقَدَّرُ حَرِيمُهُ بِخَمْسِ مِائَةِ ذِرَاعٍ نو ځکه د هغه حریم به په پنځو سوو (۵۰۰) ذراعو سره ټاکل کیږي.

اللغات: ﴿القناة﴾ کاریز (تر ځمکي لاندي د اوبو بهېدلو لپاره کېندل سوی ځای)، صاحب د اشرف الهدایې وایي چي یو خو دا ښکاره نهر (واله) ده، او بل ځیني وخت نهر داسي وي چي د پاسه پټ کړل سي، نو دې ته قناة وایي چي ځینو علاقو والا په همدې توګه له اوبو څخه کار اخلي. ﴿فوارة﴾ خوټکېدونکی (خوټېدونک) چینه (چي اوبه یې په جوش سره راغورځي او بهیږي). ﴿يُقدَّر﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: اندازه کېدل، متعیّن کېدل، ټاکل کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د صحیح او معتمد قول مطابق به کاریز ته دومره حریم ورکول کیږي څومره حریم ته چي ضرورت وي، هغه که هر څو ذراعه کیږي، او دا د امام او امیر پر رایه موقوف دي، امام چي هر څو ذراعه مناسب وګڼي، هغه دي د کاریز د حریم لپاره وټاکي. او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په دې مسئله کي یو روایت دا دی چي د حریم په هکله د کاریز حکم د څاه په څېر دی، لهذا د څاه چي څومره حریم دی، هغه به د کاریز هم وي، او یو قول دا دی چي دا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول دی. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دا دی چي تر څو د کاریز اوبه ښکاره نه سي، تر هغه وخته به کاریز ته حریم نه ورکول کیږي؛ ځکه د اوبو د نه ښکاره کېدلو په صورت کي له هغه څخه فایده اخیستل ناممکن دي، او کله چي له کاریز څخه استفاده نه کیږي، نو بیا د هغه لپاره د حریم ضرورت هم نسته. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د ښکاره (لغ) نهر لپاره هم حریم نسته او کاریز هم نهر دی، نو ځکه د هغه لپاره به هم حریم نه وي.

قالوا الخ: فرمایي د مشایخو رَحِمَهُمُ الله رایه بیا دا ده چي که د کاریز اوبه پر ځمکه ښکاره سي، نو بیا هغه د چینې په حکم دی، او د چینې حریم پنځه سوه (۵۰۰) ذراعه ده، لهذا د هغه حریم به هم پنځه سوه (۵۰۰) ذراعه وي.

د درختو د حريم مقدار

وَالشَّجَرَةُ تُغْرَسُ فِيْ أَرْضٍ مَوَاتٍ او هغه درخته [ونه] چي په شاړه ځمکه کي شنه کړل سي لَهَا حَرِيْمٌ أَيْضًا هغې لره هم حريم سته حَتّٰى لَمْ يَكُنْ لِغَيْرِهٖ أَنْ يَغْرِسَ شَجَرًا فِيْ حَرِيْمِهَا تر دې چي بل چا ته دا حق نسته چي د هغې په حريم کي درخته شنه کړي لِأَنَّهٗ يَحْتَاجُ إِلٰى حَرِيْمٍ لَهٗ يَجُدُّ فِيْهِ ثَمَرَهٗ وَيَضَعُهٗ فِيْهِ ځکه هغه [درخته اينبوونکی] خپل داسي حريم ته محتاج دی چي په هغه کې [د درختي] مېوه شکوي او اږدي وَهُوَ مُقَدَّرٌ بِخَمْسَةِ أَذْرُعٍ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ او دا [د درختي حريم] له هر طرفه په پنځو ذراعو سره متعيّن سوی دی بِهٖ وَرَدَ الْحَدِيْثُ په همدې سره حديث وارد سوی دی.

اللغات: ﴿تُغرس﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع مجهولي صيغه ده: درخته او بوټی شنه کول (اينبوول). په ځمکه کي نيالگی اينبوول (نهال لگول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي څرنگه څاه، چينې وغيره لره حريم سته، همداسي که څوک په ارضِ موات (شاړه) ځمکه کي درخته شنه کړي، نو هغې لره هم حريم سته چي د هغه مقدار پنځه ذراعه دی له هر طرف څخه، کوم چي په حديث سره ثابت دی (حديث په حاشيه کي ذکر سو)، لهذا بل چا ته د دغه درختي په حريم کي د نورو درختو د شنه کولو اجازت نسته. او د درختو لپاره د حريم ټاکل کېدو دليل دا دی چي درخته غټېږي او ښاخونه يې شا وخوا غوړېږي او بيا مېوه داره کېږي، لهذا شنه کونکی کس دومره ځای ته ضرورت لري چي په هغه کي ودرېږي او ميوه يې راوشکوي او بيا يې په هغه ځای کې کښېږدي، او ځيني وخت لاندي مېوې وچولو ته هم ضرورت پېښېږي، نو ځکه شريعت د هري درختي لپاره له هر طرف څخه پنځه، پنځه ذراعه حريم ټاکلی دی.

که درياب، رود خپل ځای پرېږدي نو د هغه څه حکم دی؟

قَالَ: وَمَا تَرَكَ الْفُرَاتُ أَوِ الدِّجْلَةُ او کوم ځای چي د فرات يا دجلې درياب پرې اينبی وي وَعَدَلَ عَنْهُ الْمَاءُ او له هغه څخه اوبه اوښتي وي وَيَجُوْزُ عَوْدُهٗ إِلَيْهِ لېکن د هغه وطرف ته [بيرته] د اوبو راگرځېدل ممکن وي لَمْ يَجُزْ إِحْيَاؤُهٗ نو د داسي ځای آبادول جائز نه دي لِحَاجَةِ الْعَامَّةِ إِلٰى كَوْنِهٖ نَهْرًا ځکه عامو خلکو د هغه ځای ونهر کېدلو ته ضرورت دی [او د هغه بيرته نهر کېدل ممکن هم دي] وَإِنْ كَانَ لَا يَجُوْزُ أَنْ يَعُوْدَ إِلَيْهِ او که چيري د هغه ځای وطرف ته د اوبو راگرځېدل ممکن نه وي فَهُوَ كَالْمَوَاتِ

نو هغه د موات [شاري ځمکې] په څېر دی إِذَا لَمْ يَكُنْ حَرِيمًا لِعَامِرٍ [په دې شرط] کله چې هغه د یوې آبادۍ حريم نه وي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي مِلْكِ أَحَدٍ ځکه [په دې صورت کې] هغه د هیچا په ملکیت کې نه دی لِأَنَّ قَهْرَ الْمَاءِ يَدْفَعُ قَهْرَ غَيْرِهِ ځکه د اوبو غلبه د بل چا غلبه لیرې کوي وَهُوَ الْيَوْمَ فِي يَدِ الْإِمَامِ او هغه [اوس] نن ورځ د امام په قبضه کې دی.

اللغات: ﴿عدل﴾ د ضرب د باب ماضي ده: مخ گرځول، اوښتل، لیرې کېدل. ﴿عامر﴾ آبادي (آباتي)، ودانې، هغه سیمه او علاقه چې خلک پکښې آباد وي. ﴿قَهر﴾ د فتح د باب مصدر دی: غالبېدل، غلبه.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې دریاب او لویه پراخه واله ځیني وخت خپل یو ځای پرېږدي او بل طرف ته اوبه واوړي، نو که یو دریاب لکه دجله، فرات یا بل داسې دریاب له یو ځای څخه واوړي او له هغه ځایه لوبه وچې سي، نو آیا هغه ځای مَوات شمېرل کیږي، که نه، او د هغه آبادول جائز دي، که نه؟. په دې سلسله کې تفصیل دا دی چې که هغه ځای ته دوباره د اوبو راګرځېدل ممکن وي چې اوبه به راسي او بیرته به هغه ځای دریاب سي، نو په دې صورت کې هغه موات نه دی او د هغه احیاء جائز نه ده؛ ځکه کله چې هلته د اوبو راګرځېدلو او دریاب کېدلو امکان سته، نو ښکاره ده چې د هغه ځای به هاغه حکم وي کوم چې د دریاب حکم دی او په دریاب کې د عامو مسلمانانو حق سته، لهذا په هغه کې ځای کې به هم د عامو حق وي، او چا ته به د هغه احیاء جائز نه وي.

او که دویم صورت وي یعني هغه ځای ته د اوبو راګرځېدلو امکان نه وي، نو بیا به دې ته کتل کیږي چې هغه ځای د یوې آبادۍ حریم دی، که نه دی؟، که چیرې هغه د یوې آبادۍ حریم وي، نو هم د هغه احیاء جائز نه ده، لیکن که هغه ځای هسې خالي وي او د آبادۍ حریم نه وي، نو په دې صورت کې د هغه احیاء جائز ده؛ ځکه اوس هغه ځای د موات په حکم کې دی او د موات احیاء جائز ده، ځکه چې اوس هغه د چا په ملکیت کې نه دی او تر دې مخکې هم هغه د چا په ملکیت کې نه وو؛ ځکه مخکې پر هغه اوبه غالبې وې او د اوبو غلبه هر ډول تسلط او تصرّف ختموي، نو معلومه سوه چې له پخوا څخه هغه ځای غیرِ مملوک دی او اوس د امامُ المسلمین په قبضه کې دی، نو ځکه د امام په اجازت سره د هغه احیاء جائز ده، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د امام اجازت ته هم ضرورت نسته. (احسن الهدایه)

د نهر (والې) د حريم بيان

قَالَ: وَمَنْ كَانَ لَهُ نَهْرٌ فِي أَرْضِ غَيْرِهِ فرمايي: او د کوم کس نهر [واله] چي د بل چا په ځمکه کي وي فَلَيْسَ لَهُ حَرِيمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه لره حريم نسته إِلَّا أَنْ يُقِيمَ بَيِّنَةً عَلَى ذٰلِكَ مګر دا چي هغه پر دې بيّنه [ګواهي] پېش کړي وَقَالَا: لَهُ مُسْنَاةُ النَّهْرِ يَمْشِي عَلَيْهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د هغه کس لپاره د نهر پوله [غاړه] ده چي پر هغې ځي وَيُلْقِي عَلَيْهَا طِينَهُ او د نهر خټي پر هغې اچوي قِيلَ: هٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ بِنَاءٌ عَلَى أَنَّ مَنْ حَفَرَ نَهْرًا فِي أَرْضٍ مَوَاتٍ بِإِذْنِ الْإِمَامِ ويل سوي دي: چي دا مسئله پر دې خبره مبني ده چي څوک د امام په اجازت سره په شاړه ځمکه کي نهر وکيندي لَا يَسْتَحِقُّ الْحَرِيمَ عِنْدَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه د حريم [د نهر د پولي] نه مستحق کيږي وَعِنْدَهُمَا يَسْتَحِقُّهُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د حريم مستحق کيږي لِأَنَّ النَّهْرَ لَا يُنْتَفَعُ بِهِ إِلَّا بِالْحَرِيمِ ځکه چي له نهر څخه نفع نه اخيستل کيږي مګر په حريم سره [يعني له نهر او والې څخه څوک هغه وخت نفع اخيستلای سي کله چي د نهر حريم يعني د نهر پوله او غاړه د هغه وي] لِحَاجَتِهِ إِلَى الْمَشْيِ لِتَسْيِيلِ الْمَاءِ ځکه چي د اوبو بهولو لپاره هغه [د نهر پر غاړه] تللو ته محتاج دی وَلَا يُمْكِنُهُ الْمَشْيُ عَادَةً فِي بَطْنِ النَّهْرِ او عادتاً د نهر [والې] په نس کي تلل ممکن نه دي وَإِلَى إِلْقَاءِ الطِّينِ او [همدارنګه هغه د نهر پر غاړه] د خټو اچولو ته [هم محتاج دی] وَلَا يُمْكِنُهُ النَّقْلُ إِلَى مَكَانٍ بَعِيدٍ إِلَّا بِحَرَجٍ او بل ليري ځای ته د خټو وړل ممکن نه دي مګر په تکليف سره فَيَكُونُ لَهُ الْحَرِيمُ نو ځکه [د نهر] حريم به د هغه وي اعْتِبَارًا بِالْبِئْرِ پر څاه په قياس کولو سره وَلَهُ: أَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَاهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي قياس د حريم د ثبوت انکار کوي عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ لکه [مخکي] چي موږ ذکر کړه وَفِي الْبِئْرِ عَرَفْنَاهُ بِالْأَثَرِ او په څاه کي د حريم ثبوت موږ په اثر [حديث] سره پېژندلی دی [کوم چي مخکي ذکر سو] وَالْحَاجَةُ إِلَى الْحَرِيمِ فِيهِ فَوْقَهَا إِلَيْهِ فِي النَّهْرِ او په څاه کي د حريم ضرورت په نهر کي د حريم له ضرورت څخه بالا دی لِأَنَّ الِانْتِفَاعَ بِالْمَاءِ فِي النَّهْرِ مُمْكِنٌ بِدُونِ الْحَرِيمِ ځکه چي په نهر [واله] کي له اوبو څخه نفع اخيستل بغير له حريمه هم ممکن

دي وَلَا يُمْكِنُ فِي الْبِئْرِ إِلَّا بِالِاسْتِقَاءِ لېکن په څاه کې له اوبو راکښلو څخه بغير [د هغه له اوبو څخه نفع اخيستل] ممکن نه دي وَلَا اِسْتِقَاءَ إِلَّا بِالْحَرِيْمِ او د اوبو راکښل نه کيږي مګر په حريم سره [يعني بغير له حريمه اوبه راکښل ممکن نه دي] فَتَعَذَّرَ الْإِلْحَاقُ نو څکه [نهر د څاه سره] لاحقول مشکل سوه وَوَجْهُ الْبِنَاءِ أَنَّ بِاسْتِحْقَاقِ الْحَرِيْمِ تَثْبُتُ الْيَدُ عَلَيْهِ او د بناء [مبني کېدلو] وجه دا ده چې د حريم په مستحق کېدلو سره پر حريم قبضه ثابتيږي اِعْتِبَارًا تَبَعًا لِلنَّهْرِ د نهر د تبعيت په اعتبار کولو سره وَالْقَوْلُ لِصَاحِبِ الْيَدِ او قول د قبضې والا معتبر وي وَبِعَدَمِ اسْتِحْقَاقِهِ تَنْعَدِمُ الْيَدُ او د حريم د نه مستحق کېدلو په وجه قبضه نه موجوديږي وَالظَّاهِرُ يَشْهَدُ لِصَاحِبِ الْأَرْضِ او ظاهر حال د ځمکې والا [مالک الأرض] په حق کې ګواهي ورکوي [نه د نهر والا په حق کې] عَلَىٰ مَا نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى د هغه تفصيل مطابق چې موږ به يې انشاء الله تعالیٰ ذکر کړو [په را روان عبارت کې].

اللغات: ﴿مُسَنَّاة﴾ د دې لفظ خپله معنیٰ خو مخکې ذکر سوه چې "د اوبو بند" ته وايي. يعني هغه پوله چې د اوبو راګرځولو او بندولو لپاره جوړه سوې وي، خو دلته څني مراد د نهر د څنګ پوله ده چې په بله وينا هغه ته د نهر (والې) غاړه وايي، کوم چې د نهر دواړو طرفونو ته د بند په شکل ځغېدلې پرته ده. څکه د همدې دواړو پولو او غاړو په وجه نهر جوړ دی او اوبه پکښې رواني دي، که دا ليرې سي نو بيا به هغه نهر پاته نه سي بلکې اوبه به د شاوخوا پر ځمکې خپرې سي. ﴿تسييل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: بهول، بيول. ﴿يأباه﴾ په اصل کې يَأْبَیٰ ده، په آخر کې يې هاء ضمير د غائب دی: انکار کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د بل چا په ځمکه کې د يو چا نهر (واله) تېره سوې وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تر څو چې د نهر مالک د خپل ملکيت بيّنه پېش نه کړي يعني چې دا نهر زما دی او پوله (غاړه) يې زما ملکيت دی، تر هغه وخته به ده ته حريم نه ورکول کيږي، حال دا چې صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د نهر (والې) پوله يعني غاړه ضرور د ده کيږي، د دې لپاره چې دئ پر هغه څې راځي او د نهر سمولو او صفا کولو په وخت کې خټې پر هغه اچوي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا مسئله په اصل کې پر يوې بلې مسئلې مبني ده چې د هغې حاصل دا دی که څوک په ارضِ موات کې نهر و کاږي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه ته حريم نه حاصليږي. که څه

هم هغه د امام په اجازت سره نهر جوړ کړی وي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په هر صورت کې هغه ته حريم حاصليږي، برابره ده هغه د امام په اجازت سره دا کار کړی وي، که نه، لهذا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز چې څرنګه په دې مسئله کې هغه ته حريم نه حاصليږي، همداسې په صورت مسئله کې به هم هغه ته حريم نه ورکول کيږي، او د صاحبينو په نيز چې څرنګه د نهر حافر ته حريم حاصليږي، نو همداسې به په صورت مسئله کې هم حريم ورته حاصليږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې له حريم څخه بغير له نهر (والې) څخه فايده اخيستل ممکن نه دي؛ ځکه چې د اوبو تېرولو او بهولو لپاره د نهر خاوند ته د تللو ضرورت پېښيږي او په نهر کې د ننه تلل مشکل دي او بل دا چې کله د نهر صفا کولو، ختو غورځولو او داسې نورو ضرورت پېښيږي، او ښکاره ده چې ليرې ځای د ختو په وړلو کې حرج او تکليف دی، لهذا څرنګه چې د څاه لپاره د ضرورت په خاطر حريم ثابت سوی دی، نو همداسې به د نهر لپاره هم د ضرورت په خاطر حريم ثابتول کيږي چې له حريم څخه بغير له هغه څخه نفع اخيستل ممکن نه دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې قياس د حريم ثابتېدلو انکار کوي (يعني د قياس تقاضا دا ده چې حافر [کيندونکی] د حريم مستحق نه سي، لکه مخکې چې هم ذکر سوه)، ځکه په نهر کې له حريم څخه بغير هم له اوبو څخه نفع اخيستل او نهر کارول ممکن دي، او په څاه کې د اوبو له راکښلو څخه بغير له هغه څخه نفع اخيستل ممکن نه دي، ځکه له څاه څخه د اوبو راکښلو لپاره څه ځای ضروري دی، برابره ده انسان اوبه راکاږي يا د څاروي (اوښ وغيره) په ذريعه اوبه راکښل کيږي، نو په دې حواله سره په نهر او څاه کې فرق دی، لهذا يو به د بل سره نه لاحقول کيږي.

ووجه البناء إلخ: يعني دا مسئله چې پر کومې مسئلې مبني ده، په هغه مسئله کې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې کله په ارضِ موات کې د امام په اجازه په نهر کيندولو سره حريم ثابتيږي، نو څرنګه چې د نهر والا (صاحبُ النهر) قبضه پر نهر راځي، همداسې د نهر په واسطه سره د هغه تر څنګ پر حريم هم د هغه قبضه راځي، او قاعده دا ده چې قبضه د کوم چا وي، قول هم د هغه معتبر وي، نو ځکه د نهر د خاوند قول به معتبر وي او هغه ته به د نهر پوله (غاړه) حاصليږي.

وبعدم استحقاقه إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دی، حاصل يې دا دی چې کله نهر والا (صاحب النهر) د حريم مستحق کيږي، نه د هغه قبضه هم نه راځي، او کله چې پر حريم د هغه قبضه نسته، نو پر هغه به د ځمکې والا (صاحبُ الأرض) قبضه وي، او ظاهرِ حال د هغه په حق کې ګواهي ورکوي چې دا ځمکه د صاحبُ الأرض ده، نه د صاحبُ النهر، او قاعده دا ده چې "من ساعده الظاهر

فالقول قوله"، يعني ظاهر حال چي د چا لپاره شاهد او معاون وي، قول د هغه معتبر وي. او په مذكوره صورت كې ظاهرِ حا د صاحب الأرض په حق كي شاهد دى، نو ځكه قول به صرف د هغه معتبر وي. (احسن الهدايه)

د پورتنى مسئلي بله تخريج او وضاحت

وَإِنْ كَانَتْ مَسْأَلَةً مُبْتَدَأَةً او كه چيري هغه ابتدائي [جلا] مسئله وي فَلَهُمَا أَنَّ الْحَرِيمَ فِي يَدِ صَاحِبِ النَّهْرِ نو بيا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى چي حريم [د نهر پوله] د نهر والا په قبضه كي ده بِاسْتِمْسَاكِهِ الْمَاءَ بِهِ ځكه چي هغه د حريم په ذريعه [د خپل نهر] او به راګرځولي [نيولي] دي وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ صَاحِبُ الْأَرْضِ نَقْضَهُ په همدي وجه ځمكي والا د هغه د ماتولو ملكيت [اختيار] نه لري وَلَهُ: أَنَّهُ أَشْبَهُ بِالْأَرْضِ صُورَةً وَمَعْنًى او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دادى: چي دا حريم [د نهر پوله] د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار د ځمكي سره مشابه ده أَمَّا صُورَةً فَلِاسْتِوَائِهِمَا هر چي د صورت په اعتبار سره نو د دوی دواړو د برابر والي په وجه [يعني ځكه چي ځمكه او حريم دواړه برابر او هوار دي] وَمَعْنًى مِنْ حَيْثُ صَلَاحِيَّتِهِ لِلْغَرْسِ وَالزِّرَاعَةِ او د معنیٰ په اعتبار سره په دې توګه چي حريم [هم] د شنه كولو او كښت كرني صلاحيت [ورتيا] لري وَالظَّاهِرُ شَاهِدٌ لِمَنْ فِي يَدِهِ مَا هُوَ أَشْبَهُ بِهِ او ظاهر حال د هغه كس په حق كي ګواه دى چي د هغه په قبضه كي هغه څه وي كوم چي د حريم سره مشابه وي [چي هغه څه ځمكه ده او هغه شوک د ځمكي مالک (صاحب الأرض) دى] كَاثْنَيْنِ تَنَازَعَا فِي مِصْرَاعِ بَابٍ لَيْسَ فِي يَدِهِمَا لكه دوه كسان چي د دروازې د داسي پلې په باره كي اختلاف وكړي چي هغه د دوی په قبضه كي نه وي وَالْمِصْرَاعُ الْآخَرُ مُعَلَّقٌ عَلَى بَابِ أَحَدِهِمَا او بله پله له دوی څخه د يوه په دروازه كي لګېدلي وي يُقْضَى لِلَّذِي فِي يَدِهِ مَا هُوَ أَشْبَهُ بِالْمُتَنَازَعِ فِيهِ نو [د دې متنازع فيه پلې] فيصله د هغه كس لپاره كيږي چي د هغه په قبضه كي هغه څه [پله] وي كوم چي د متنازع فيه پلې سره زيات مشابه وي [يعني چي د هغه پلې سره مشابه وي چي دوی اختلاف پکښې کړی دی] وَالْقَضَاءُ فِي مَوْضِعِ الْخِلَافِ قَضَاءُ تَرْكٍ او د اختلاف په ځای كي چي [دلته] كومه قضاء ده. هغه قضاء ترک ده (په بله وينا دا چي په [مذكوره] اختلافي مسئله كي كومه فيصله سوې ده، هغه د ترک [پرېښودلو] فيصله ده).

اللغات: ﴿استمساك﴾ د استفعال د باب مصدر دی: راګرځول، ټینګول. ﴿الغرس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: درخته او بوټی شنه کول (اینبوول)، همدارنګه شنه کول سوي درختـه او نهال. ﴿زراعة﴾ کښت کرنه (کښتګري)، کرهڼه. ﴿مِصْراع﴾ د دروازې یوه پله (په دروازه کي دوې پلې وي چي یوه راسته طرف ته او بله چپه طرف ته وي. چي د هغوی په ذریعه دروازه بندیږي. دواړو ته مِصْرَاعَا الْبَاب وایي).

تشریح: فرمايي په مخکنۍ مسئله کي د امام صاحب او صاحبینو اختلاف که پر هیڅ مسئله مبني نه ومنل سي بلکي هغه ابتدائیه او نوې جلا مسئله وګڼل سي، نو په دې صورت کي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي صاحبُ النهر د نهر د حریم (پولي) په ذریعه د نهر اوبه راګرځولي دي (ځکه که د نهر [والې] پوله او غاړه نه وي بلکي هوار میدان سي نو اوبه به شاوخوا وبهیږي، لهذا د همدې حریم یعني د نهر د پورتنۍ غاړي په ذریعه اوبه راګرځېدلي دي او په همدې توګه په نهر کي اوبه بهیږي او خپل ځای ته رسیږي)، او د حریم په ذریعه اوبه راګرځول پر هغه د قابض کېدلو دلیل دی (یعني د دې دلیل دی چي د نهر [والې] پر پوله او غاړه د هغه قبضه ده)، په همدې وجه خو صاحبُ الأرض دا حریم (د نهر پوله) نه سي ماتولای، او دا یقیناً د قبضې دلیل دی او قبضه د ملکیت دلیل ده، نو ځکه صاحب النهر به د نهر د پولي (غاړي) مالک وي.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي مذکوره حریم (د نهر پوله) د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار د ځمکي سره زیات مشابه ده، د صورت په اعتبار سره خو ځکه چي څرنګه ځمکه هواره وي او په هغې کي پورته والی کښته والی نه وي، همداسي حریم (د نهر پوله او غاړه) هم هواره او برابره وي، او د معنیٰ په اعتبار سره مشابهت په دې توګه دی چي څرنګه په ځمکه کي نهالان او بوټي شنه کول کیږي، همدارنګه په دغه حریم کي هم د دې شیانو د شنه کولو صلاحیت سته، لهذا په دې حواله سره حریم د ځمکي مشابه دی او پر ځمکي د صاحبُ الارض قبضه ده، لهذا پر حریم به هم د هغه قبضه وي، او بل دا چي ظاهرِ حال د صاحب الأرض په حق کي شاهد دی، نو ځکه د حریم فیصله به هم د هغه په حق کي کیږي، نه د صاحب النهر په حق کي؛ ځکه چي نهر په هیڅ توګه د حریم مشابه نه دی.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل مثال دا دی چي د دروازې خو دوې پلې وي (چي یوه راسته طرف ته او بله چپه طرف ته وي)، اوس که مثلاً د زید په دروزاه کي یوه پله لګېدلې وي، او داغه لګېدلي پلې ته مشابه بل ځای یوه بله پله پرته وي چي پر هغې د زید او خالد تر مینځ دعوه راسي، نو دا پله به زید ته ورکول کیږي، ځکه همدې متنازع فیه پلې ته ورته د زید سره پله موجوده ده (کوم چي د زید په دروازه

کي لګېدلې ده)، نو له دې څخه معلوميږي چي دا متنازع فيه پله هم د زيد ده. يعني ظاهر حال د هغه په حق کي ګواه دی، لهذا پله به زيد ته ورکول کيږي. نو همداسي د نهر چي کوم حريم (پوله) ده، هغه هم د صاحبُ الأرض د ځمکي مشابه ده او ظاهرِ حال د هغه په حق کي ګواه دی، نو ځکه د نهر حريم به هم د هغه وي، نه د صاحب النهر.

والقضاء إلخ: فرمايي دلته چي د دې مختلف فيه مسئلې په هکله کومه فيصله سوې ده، هغه قضاء ترک (د پرېښولو والا فيصله) ده. تفصيل يې دا دی چي قضاء يعني فيصله پر دوه قسمه ده: ① قضاءَ ترک، ② قضاء ملک واستحقاق (چي د هغه بل نوم إلزام هم دی).

قضاء ترک هغه فيصلې ته وايي چي په هغې کي د يو شي د پرېښوولو حکم کيږي، او قضاء ملک و استحقاق هغه فيصلې ته وايي چي په هغې کي چا ته خپل حق ورکول کيږي، او دلته چي د حريم په هکله کوم اختلاف روان دی، په هغه کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز صاحبُ الارض ته دا حکم کيږي چي د نهر حريم پرېږده! (د صاحب النهر لپاره)، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز بيا صاحبُ النهر ته دا حکم کيږي چي د حريم ملکيت پرېږده (د صاحبُ الأرض لپاره)، نو په دواړو صورتونو کي دا قضاء ترک ده، او د قضاء ترک او قضاء ملک تر مينځ فرق دا دی چي د قضاء ترک په فيصله کي رد وبدل کېدلای سي او د بل يوه بيّنه پکښي قبلول کېدای سي، لېکن په قضاء ملک واستحقاق کي نه ردوبدل کېدلای سي او نه په هغه کي د بل يوه بيّنه قبلول کېدای سي، او په صورت مسئله کي چي کله دا فيصله قضاء ترک ده، نو که چيري صاحبُ النهر پر دې بيّنه پېش کړي چي دا حريم (پوله) زما ملکيت ده، نو د هغه بيّنه به قبلول کيږي، او که هغه بيّنه پېش نه کړي سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د صاحبُ الارض لپاره فيصله کيږي (يعني حريم به د ځمکي خاوند ته ورکول کيږي)، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د صاحبُ النهر په حق کي فيصله کيږي.

د صاحبينو د دليل جواب

وَلَانِزَاعَ فِيمَا بِهِ إِسْتِمْسَاكُ الْمَاءِ او په هغه حصه [حريم] کي هيڅ نزاع نسته چي د هغه په وجه اوبه راګرځول سوي [نيول سوي] دي إِنَّمَا النِّزَاعُ فِيمَا وَرَاءَهُ مِمَّا يَصْلُحُ لِلْغَرْسِ نزاع خو له هغه څخه په وروسته والا [شاتنی] حصه کي دی [يعني] هغه حصه کوم چي د ونه کولو صلاحيت لري عَلٰى أَنَّهُ إِنْ كَانَ مُسْتَمْسِكًا بِهِ مَاءَ نَهْرِهِ سره د دې که نهر والا [صاحبُ النهر] د دې حريم په ذريعه د خپل نهر د اوبو راګرځونکی دی فَالْآخَرُ دَافِعٌ بِهِ الْمَاءَ عَنْ أَرْضِهِ نو دا بل يو [يعني صاحبُ الأرض] بيا د دې حريم

په ذريعه له خپلي ځمکي څخه داوبو دفع کونکی دی وَالْمَانِعُ مِنْ نَقْضِهِ تَعَلُّقُ حَقِّ صَاحِبِ النَّهْرِ او د دې حريم له ماتولو څخه چي کوم شی مانع دی هغه د نهر والا د حق متعلق کېدل دي [يعني د حريم سره د صاحبُ النهر حق متعلق دی] لَا مِلْكُهُ نه د هغه ملکيت كَالْحَائِطِ لِرَجُلٍ وَلِآخَرَ عَلَيْهِ جُذُوعٌ لکه دېوال چي ديوه سړي وي او د بل چا تيران پر هغه پراته وي لَا يَتَمَكَّنُ مِنْ نَقْضِهِ نو هغه سړی [صاحب الجدار] د دېوال د ماتولو قدرت [اختيار] نه لري وَإِنْ كَانَ مِلْكَهُ که څه هم هغه د ده ملکيت دی.

اللغات: ﴿نزاع﴾ جنګ او دعوه، اختلاف، ﴿جذوع﴾ جمع د جِذْعٌ ده: تير، شاتير (کوم چي پر بام ايښوول کيږي، چي پخوا به هغه عموماً د خُرما له تنې څخه وه).

تشريح: دا په حقيقت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه د صاحبينو د دليل جواب دی چي دوی فرمايلي وه چي صاحبُ النهر په حريم (يعني د نهر په پوله) سره اوبه راګرځولي دي، نو په دې حواله سره پر حريم د صاحبُ النهر قبضه ده او قبضه چي د کوم چا وي، ملکيت هم د هغه وي (لهذا حريم به د صاحبُ النهر وي)، نو فرمايي چي دا موږ ته تسليم نه دي، ځکه چي زموږ او د صاحبينو اختلاف د پُولي (غاړي) په هغه حصه کي نسته کومي چي اوبه راګرځولي او نيولي دي، بلکي دا اختلاف له هغه څخه په وروستنۍ حصه کي دی کومه چي د شنه کولو صلاحيت لري، او پر هغه حصې د صاحبُ النهر قبضه نسته، نو ځکه هغه حصه به د ده په ملکيت کي داخله نه وي، او که بيا هم موږ دا تسليم کړو چي په ټوله حريم او ټوله پوله (غاړه) کي اختلاف دی، نو بيا جواب دا دی چي که يو طرف ته صاحب النهر په دې حريم سره د خپل نهر اوبه راګرځولي دي، نو بل طرف ته خو صاحبُ الأرض (د ځمکي مالک) د دې نهر په حريم سره له خپلي ځمکي او کښت څخه اوبه دفع کړي دي (چي زما کښت وغيره د اوبو راتللو په وجه ضايع نه شي)، لهذا په دې سره د صاحبُ النهر استحقاق نه سي ثابتېدلای.

او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله چي دا خبره کړې وه چي په همدې وجه صاحبُ الارض دغه حريم (د نهر پوله) نه سي ماتولای چي هغه د صاحب النهر ملکيت ده، نو فرمايي د دې دا مطلب نه چي هغه د صاحب النهر ملکيت ده او هغه يې مالک دی، بلکي د نه ماتولو وجه دا ده چي د دغه حريم سره د صاحبُ النهر حق متعلق دی او د کوم شي سره چي د بل چا حق متعلق وي، نو د هغه ماتول او خرابول صحيح نه دي، د دې مثال داسي دی لکه د زيد پر دېوال چي د عُمر د خوني تيران پراته وي، نو که څه هم دېوال د زيد ملکيت دی. خو د عُمر د حق په وجه زيد ته دا اختيار نسته چي هغه مات کړي، نو همداسي په دې مسئله کي که څه هم صاحبُ الأرض د حريم مالک دی، خو د صاحبُ النهر د حق په

وجه هغه ته دا اختيار نسته چي دا حريم مات او ليري كړي، خلاصه دا چي دلته پر حريم د صاحبُ النهر ملكيت نه ثابتيږي. لهذا د حريم مالک به صاحبُ الارض وي، نه صاحبُ النهر. نو د هغه په حق كي به د حريم فيصله نه كيږي.

د پورتني موضع اختلاف (اختلافي مسئلي) وضاحت

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ نَهْرٌ لِرَجُلٍ إِلَى جَنْبِهِ مُسَنَّاةٌ او په جامع صغير كي دي چي د يو سړي نهر [واله] ده چي د هغه څنګ ته پوله [د نهر غاړه] ده وَلِآخَرَ خَلْفَ الْمُسَنَّاةِ أَرْضٌ تَلْزَقُهَا او د پولي شا ته د بل چا ځمكه ده كوم چي د دې پولي سره متصله ده وَلَيْسَتِ الْمُسَنَّاةُ فِي يَدِ أَحَدِهِمَا او پوله د دوى يوه په قبضه كي نه ده فَهِيَ لِصَاحِبِ الْأَرْضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه پوله د ځمكي والا ده وَقَالَا[۞]: هِيَ لِصَاحِبِ النَّهْرِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي هغه د نهر والا ده حَرِيمًا لِمُلْقَى طِينِهِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ د هغه د ختو اچولو او د نورو كارو [مثلاً د تللو وغيره] لپاره د حريم په توګه وَقَوْلُهُ "وَلَيْسَتِ الْمُسَنَّاةُ فِي يَدِ أَحَدِهِمَا" مَعْنَاهُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې قول "چي پوله به د دوى يوه په قبضه كي نه وي" معنىٰ دا ده لَيْسَ لِأَحَدِهِمَا عَلَيْهِ غَرْسٌ وَلَا طِينٌ مُلْقًى چي پر پوله به د يوه درخته او اچول سوي ختي نه وي فَيَنْكَشِفُ بِهٰذَا اللَّفْظِ مَوْضِعُ الْخِلَافِ نو په همدې لفظ سره د اختلاف ځاى څرګنديږي.

اللغات: ﴿مسناة﴾ بند، پوله (د نهر [والې] تر څنګ د نهر غاړه)، ﴿تلزق﴾ د سمع د باب مضارع ده: منبليدل. متصل كېدل، ﴿ملقى﴾ د اسمِ ظرف صيغه ده: (ديو شي) د غورځولو ځاى، د اچولو ځاى، ﴿غرس﴾ د ضرب د باب اسم مصدر دى: غَرَسَ يَغْرِسُ غَرْسًا: درخته او بوټى شنه كول، په ځمكه كي نيالګى اينبول (نهال لګول)، الغِرْس او غَرْس: شنه كړل سوي درخته او بوټى.

تشريح: د جامع صغير د رُوايت په بيانولو سره د مصنف رَحِمَهُ الله مقصد فقط موضعِ اختلاف څرګندول دي يعني دا اختلاف په هغه صورت كي دى كله چي حريم (پوله) د چا په قبضه كي نه وي، نور په دې كي هاغه خبري دي كوم چي مخكي ذكر سوې چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د حريم مالک صاحبُ الأرض دى او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز صاحبُ النهر دى.

[۞] القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، لأن قوله أرفق بالناس، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۱۲]

وقوله وليست إلخ: يعني د جامع صغير په عبارت کې چې دا قيد دی "وَلَيْسَتِ الْمُسَنَّاة" د دې مطلب دا دی چې د صاحبُ النهر يا صاحبُ الأرض ديوه به هم پر هغه پولې قبضه نه وي، يعني نه به پر هغه د چا درختې وي او نه ختې، نو له دې څخه معلومه سوه چې اختلاف په هغه صورت کې دی کله چې له دوی څخه ديوه د قبضې علامات ښکاره نه وي، کنې د چا د قبضې علامات چې ښکاره وي، نو بيا د پولې مالک هغه دی.

د پورتنۍ مسئلې سره متعلق د اوو (۷) نورو صورتونو وضاحت (د فقهاؤ قولونه)

أَمَّا إِذَا كَانَ لِأَحَدِهِمَا عَلَيْهِ ذٰلِكَ لېکن که پر دې حريم [پوله] د دوی يوه لپاره هغه [يعني درخته يا ختې] وي [يعني ديوه په درختو يا ختو سره د حريم ځمکه مشغوله وي] فَصَاحِبُ الشُّغْلِ أَوْلٰى نو مشغوليت والا اولیٰ دی [يعني هغه د دې حريم زيات حقدار دی] لِأَنَّهُ صَاحِبُ يَدٍ ځکه هغه قبضې والا دی وَلَوْكَانَ عَلَيْهِ غَرْسٌ لَا يُدْرٰى مَنْ غَرَسَهُ او که پر حريم نهال [درخته] وي خو دا معلومه نه وي چې هغه کوم يوه شنه کړې ده فَهُوَ مِنْ مَوَاضِعِ الْخِلَافِ أَيْضًا نو دا هم د اختلاف له ځايو څخه دی [يعني په دې کې هم د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی] وَثَمَرَةُ الْاِخْتِلَافِ أَنَّ وِلَايَةَ الْغَرْسِ لِصَاحِبِ الْأَرْضِ عِنْدَهُ او د اختلاف ثمره دا ده چې د درختې [نهال] شنه کولو ولايت د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ځمکې والا لره دی وَعِنْدَهُمَا لِصَاحِبِ النَّهْرِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نهر والا لره دی وَأَمَّا إِلْقَاءُ الطِّيْنِ او پاته سو ختې اچول [چې نهر والا ته د هغه حق سته، که نه؟] فَقَدْ قِيْلَ: إِنَّهُ عَلَى الْخِلَافِ نو ويل سوي دي: چې دا هم پر اختلاف دي وَقِيْلَ: إِنَّ لِصَاحِبِ النَّهْرِ ذٰلِكَ مَا لَمْ يَفْحُشْ او ويل سوي دي: چې نهر والا ته د هغه حق سته تر څو چې ختې ډېر زياتې نه وي وَأَمَّا الْمُرُوْرُ او پاته سو تېرېدل فَقَدْ قِيْلَ: يُمْنَعُ صَاحِبُ النَّهْرِ عِنْدَهُ نو ويل سوي دي: چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به نهر والا منع کول کيږي وَقِيْلَ: لَا يُمْنَعُ او ويل سوي دي [يعني دوېم قول دا دی]: چې نه به منع کول کيږي لِلضَّرُوْرَةِ د ضرورت په وجه [يعني پر حريم تېرېدلو ته يې ضرورت دی] قَالَ الْفَقِيْهُ أَبُوْ جَعْفَرٍ: آخُذُ بِقَوْلِهِ فِي الْغَرْسِ وَبِقَوْلِهِمَا فِي إِلْقَاءِ الطِّيْنِ فقيه ابو جعفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې زه د درختې شنه کولو په هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول اخلم او د ختو اچولو په هکله د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول ثُمَّ

عَنْ أَبِي يُوْسُفَ أَنَّ حَرِيْمَهُ مِقْدَارُ نِصْفِ بَطْنِ النَّهْرِ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ بيا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د نهر حريم به د نهر د نس مپه نصف مقدار سره وي له هر طرف څخه [مثلاً كه د نهر نس پنځه فټه وو، نو د هغه حريم به دوه نيم فټه وي] وَعَنْ مُحَمَّدٍ مِقْدَارُ بَطْنِ النَّهْرِ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د نهر د نس په مقدار سره به وي له هر طرف څخه وَهٰذَا أَرْفَقُ بِالنَّاسِ او دا د خلکو لپاره د آساني باعث دی [يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول كي د نهر والا وو لپاره زياته آساني ده].

اللغات: ﴿صاحب الشغل﴾ مشغوليت (مشغولتيا) والا، يعني د چا په حق سره چي دا د حريم ځمکه مشغوله وي، ﴿غرسه﴾ د ضرب د باب ماضي ده: درخته او بوټی شنه کول، نهال اينبوول. الغَرْس او غَرْس: شنه کړل سوي درخته او بوټي.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله اووه (۷) مسئلې ذکر کړې دي:

(۱)... که د نهر پر حريم (پوله) باندي ډيوه يعني د صاحبُ النهر يا صاحبُ الأرض ختمي پرتې وي يا پر هغه ډيوه درختي ولاړي وي، نو دا چي د کوم ډيوه وي، هاغه د حريم مالک دی؛ ځکه چي قبضې والا په استحقاق کي اولیٰ وي او دلته قبضې والا دا صاحبُ الشغل دی.

(۲)... د نهر پر حريم درختي ولاړي دي، خو هغه شنه کونکی (لګونکی) معلوم نه دی، نو دا صورت هم اختلافي دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د حريم مالک صاحبُ الأرض دی او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صاحبُ النهر دی.

(۳)... د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله د اختلاف ثمر دا ده چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر حريم د درختو شنه کولو حق صاحب الأرض لره دی او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صاحبُ النهر لره دی.

(۴)... او پاته سوه دا مسئله چي آيا صاحب النهر ته دا حق سته چي د نهر پر پوله (غاړه) باندي د نهر ختمي واچوي، که نه؟، نو په دې باره کي دوه قوله دي: ① اول قول دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه ته د دې حق نسته، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز سته. ② دويم قول دا دی چي بالاتفاق هغه ته د دې حق سته چي پر دغه حريم ختمي واچوي، په دې شرط چي ختمي به دومره زياتي نه وي چي صاحبُ الأرض له هغه څخه نفع نه سي اخيستلای. علامه زيلعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د حريم مالک برابره ده هر څوک وي، خو بل يو به له دومره انتفاع څخه نه منع کوي چي په هغه سره د مالک

حق نه باطلیږي، لهذا د درختو شنه کولو حق خو صرف مالک لره دی، او بل یوه ته د ختهو د اچولو حق سته.

(۵)... او پاتې سوه د نهر پر پولي د تېرېدلو مسئله، نو په دې کي هم دوه قوله دي: ① اول قول دا دی چي د مخکني مسئلې په څېر په دې کي هم اختلاف دی، ② دویم قول دا دی چي بالاتفاق به له تېرېدلو څخه نه منع کول کیږي؛ ځکه چي دې ته ضرورت سته.

(۶)... فقیه ابو جعفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي زه پر دواړو قولونو عمل کوم په دې توګه چي د درختو شنه کولو په هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله اختیاروم او د ختهو اچولو په هکله د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول اختیاروم، یعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په قول د درختو شنه کولو حق فقط صاحبُ الأرض لره دی او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په قول صاحبُ النهر ته پر هغه د ختهو اچولو حق سته.

(۷)... د نهر د حریم مقدار څو دی؟ (یا په بله وینا دا چي د والې [وَیالې] غاړه او پوله به څومره ورکول کیږي)، نو فرمايي چي په دې باره کي د امام ابو یوسف او امام محمد رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د دې حریم مقدار به د نهر د نس (یعني د نهر د پراخول) نصف اندازه وي له هر طرف څخه، یعني که د نهر (والې) نس پنځه فُټه وي، نو د حریم مقدار به دوه نیم فُټه وي (لهذا د نهر د هر طرف پولي [غاړي] ته به دوه نیم فټه ځمکه د حریم شمېرل کیږي). او د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دا دی چي د نهر د حریم مقدار به د نهر د نس (پراخول) په اندازه وي له هر طرف څخه، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول کي د نهر لرونکو خلکو آساني ده (خو فتوی د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله پر قول ده).

یادونه: زموږ په زمانه کي د غټو نهرونو او لویو والو مالک حکومت او سرکار وي او د هغوی چي کوم حریم (پوله) وي د هغه مالک هم حکومت وي، او دا غټ نهر چي د کومو خلکو د ځمکو سره تېر سوی وي، د هغو د نهر پر پوله (غاړه) هیڅ ملکیت نه وي، فقط پر هغه د تېرېدلو حق ورته وي، نه د درختو د شنه کولو، او له دې نهر څخه چي کوم لښتیان ایستل سوي وي، د هغه مالک صاحبُ الأرض دی (یعني د چا په ځمکه کي چي لښتی تېر سوی وي، هغه یې مالک دی)، خو څرنګه چي د هغه سره د بل چا (یعني د لښتي والا) حق متعلق دی، نو ځکه صاحبُ الأرض ته دا حق نسته چي هغه مات او خراب کړي، او کله چي لښتي والا خپل حقِ شرب پرېږدي، نو بیا هغه د لښتي ځای د صاحبُ الأرض په تصرّف کي راځي.



فُصُولٌ فِيْ مَسَائِلِ الشِّرْبِ

دا څو فصلونه د شرب (داوبو د حصې..) په بيان کې دي

تشريح: له دې ځايه مصنف رَحِمَهُ الله داوبو په هکله او داوبو د نوبت او حصې سره اړوند ډېر مسائل بيان کړي دي. کوم چې پر دريو (۳) فصلونو مشتمل دي.

د شـرُب لغوي او اصطلاحي معنیٰ: شِرْب (بکسر الشين) د دې لغوي معنیٰ ده: اَلنَّصِيْبُ مِنَ الْمَاءِ "د اوبو حصه" (يا په بله وينا په اوبو کې د چا حصه"). او اصطلاحي معنیٰ يې ده: نَوْبَةُ الْاِنْتِفَاعِ بِالْمَاءِ سَقْيًا لِلْمَزَارِعِ وَالدَّوَابِ. يعني د شريعت په اصطلاح کې شِرْب داوبو څخه د نفع اخيستلو واري او نوبت ته ويل کيږي چې په هغه کې انسان خپل کښت يا څارويو ته اوبه ورکوي (يا په بله بله د کښت وغيره د اوبولو لپاره داوبو واری).

له باب احياء الموت څخه وروسته د مسائل الشِّرْب د بيانولو وجه دا ده چې په احياء الموات (يعني د شاړې ځمکې په آبادولو) کې شِرْب ته ضرورت پېښيږي، لکه څرنګه چې دا ښکاره خبره ده.

صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې دا فصلونه په بداية المبتدي کې مذکور نه دي، ځکه چې دا نه په جامع صغير کې ذکر سوي دي او نه په مختصر القدوري، بلکې دا فصلونه شيخ الاسلام خواهر زاده رَحِمَهُ الله په خپل شرح "کتابُ الشِّرْب" کې بيا کړي دي.

﴿په لنډه توګه د اُوبو قسمونه﴾

د اُوبو شپږ قسمونه دي:

①... په لوښو کې ذخيره کړل سوي اوبه: دا اوبه له نورو څخه منع کولای سي.

②... د څاه اوبه: انسانان او څاروپان د هغه له چيښلو څخه نه سي منع کولای، خو کښت ته د اوبه ورکولو په صورت کې منع کولای سي.

③... د لښتي اوبـه: انسـانان او څاروپـان د هغـه لـه چيښـلو څخـه نـه سـي منـع کـولای، خـو د کښت اوبولو په صورت کې منع کولای سي؛ ځکه چې دا اُوبه د لښتي د مالک لپاره مخصوص او محفوظ دي.

④... د لوی نهر (لويي والې) اوبه: د کښت اوبولو څخه يې نه سي منع کولای، يعني د لوی نهر اوبه چي د چا د ځمکي او کښت سره تيريږي. هغه ځمکي والا خپل کښت په اوبولای سي، دا اوبه د نهر د مالک لپاره مخصوص او محفوظ نه دي، خو له هغه څخه بل نهر يا لښتی ايستل بغير له اجازته جائز نه دي.

⑤... د فرات او داسي بل درياب (لوی رُود) اوبه: له دې اوبو څخه نهر (واله) هم ايستلای سي او تر هر ځايه پوري يې بېولای سي، د درياب او رُود اوبه د هيچا لپاره مخصوص نه دي، د هر چا حق پکښي سته.

⑥... د سمندر اوبه: دا اوبه هم د هيچا لپاره خاص نه دي، له دې څخه لوی نهر او لښتی ايستلای سي او تر هر ځايه يې بېولای سي.

يادونه: دا شپږ قسمه اوبه دي او شپږ قسمه احکام يې دي، تقريباً په ټوله مسائلُ الشرب کي د همدې بيان سوی دی، خو مصنف رَحِمَهُ الله په تفصيل سره خبره کړې ده.

فَصْلٌ فِي الْمِيَاهِ

(دا) فصل په (بيان د) اوبو کي دی

تشريح: د اُوبو فصل يې ځکه تر نورو فصلونو مخکي بيان کړی دی، چي د دې ټولو فصلونو مقصد اوبه دي او همدا اُوبه اصل دي.

د اوبو منع کولو حکم

وَإِذَا كَانَ لِرَجُلٍ نَهْرٌ أَوْ بِئْرٌ أَوْ قَنَاةٌ او کله چي يو سړي لره نهر [واله] يا څاه يا کاريز وي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَمْنَعَ شَيْئًا مِنَ الشَّفَةِ نو هغه ته دا حق نسته چي د خولې له چيښلو څخه يو شی منع کړي [يعني دا اختيار ورته نسته چي کوم څه چيښل کوي، هغه له چيښلو څخه منع کړي چي هغه انسانان او څاروبان دي] وَالشَّفَةُ الشُّرْبُ لِبَنِي آدَمَ وَالْبَهَائِمِ او شَفَة چيښل دي د انسان يا څارويانو [يعني شفه د انسان يا څاروي لوبه چيښلو ته وايي].

اللغات: ﴿شفة﴾ په اصل کي شَفَهَةٌ وو، تخفيفاً هاء حذف سوې ده. د دې لفظ معنیٰ ده: شونډه (مجازاً خوله)، ليکن له دې څخه مراد د څارويو او انسانانو اوبه چيښل دي، يا په بله وينا دا چي "شَفَة" چيښلو ته وايي، ځکه چي اوبه د شونډانو او د خولې د لاري چيښل کيږي. ﴿بهائم﴾ جمع د بَهِيمَةٌ

ده: چارپایان، څارویان، صاحب د معجم الوسیط یې داسې تعریف کړی دی: " كُلُّ ذَاتِ أَرْبَعِ قَوَائِمِ مِن دَوَابِّ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ مَا عَدَا السِّبَاعِ".

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دیو چا په ملکیت کې نهر یا څاه، یا کارېز وي، چې خلک او څارویان د هغه اوبو ته مجبوره وي، نو مالک ته پکار دي چې هغه نه له انسانانو څخه منع کړي او نه له څارویانو څخه، ځکه د چینبلو په اعتبار سره په دې کې د ټولو اشتراک سته. او له چینبلو څخه منع کول ډېر ناوړه عمل دی او د انسان غټ بخل او لویه بد اخلاقي ده (اللهم احفظنا منهٔ).

د اوبو اقسام (اول قسم)

اعْلَمْ أَنَّ الْمِيَاهَ أَنْوَاعٌ پوه سه! چې اوبه څو قسمه دي مِنْهَا مَاءُ الْبِحَارِ له هغوی څخه [یو قسم] د سمندر اوبه ده وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ النَّاسِ فِيهَا حَقُّ الشَّفَةِ وَسَقْيِ الْأَرَاضِي او په دې اوبو کې د خلکو هر کس ته د چینبلو او د ځمکو اوبولو حق سته حَتَّى إِنَّ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَكْرِيَ نَهْرًا مِنْهَا إِلَى أَرْضِهِ تر دې که څوک وغواړي چې له هغوی څخه تر خپلې ځمکې پورې نهر وکیندي لَمْ يُمْنَعْ مِنْ ذَلِكَ نو هغه به له دې څخه نه منع کول کیږي وَالِانْتِفَاعُ بِمَاءِ الْبَحْرِ كَالِانْتِفَاعِ بِالشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَالْهَوَاءِ او د سمندر د اوبو څخه نفع اخیستل داسې دي لکه د لمر، سپوږمۍ او هوا څخه نفع اخیستل فَلَا يُمْنَعُ مِنَ الِانْتِفَاعِ بِهِ نو ځکه هغه به د دې له نفع اخیستو څخه نه منع کول کیږي عَلَى أَيِّ وَجْهٍ شَاءَ په کومه توګه چې د هغه خوښه وي [یعني په هر ډول چې نفع ځنې اخلي، نه به منع کول کیږي].

اللغات: ﴿میاه﴾ جمع د مَاءٌ ده: مختلفه اوبه. ﴿یکری﴾ د ضرب د باب مضارع ده: کیندل، کښل (کارېل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې له سمندري اوبو څخه هر چا ته هر ډول نفع اخیستل جائز دي. برابره د چښاک نفع ځنې اخلي، یا د کښت او باغ اوبولو کار ځنې اخلي، یا خپل کښت او باغ ته مستقل نهر (واله) ځنې باسي، لنډه دا چې په هیڅ صورت کې به هیڅ څوک هم له دې څخه نه منع کول کیږي چې د سمندر له اوبو څخه نفع واخلي، بلکې هغه چې څرنګه وغواړي استفاده ځنې کولای سي؛ ځکه د سمندر اوبه د خدای تعالیٰ په نعمت عامه کې داخل دي، او څرنګه چې لمر، سپوږمۍ او هوا د الله تعالیٰ عام نعمتونه دي او د هغوی فیض هر ساکښ لره عالم دی، برابره ده انسان وي، که حیوان، همداسې سمندري اوبه د ټولو لپاره عام دي چې د هغه په اخیستلو او کارولو باندې به هیڅ بندیز نه کیږي.

د اوبو دويم قسم

وَالثَّانِيْ مَاءُ الْأَوْدِيَةِ الْعِظَامِ او دويم قسم دلويو رُودونو اوبه دي كَجَيْحُونَ وَسَيْحُونَ وَدِجْلَةَ وَالْفُرَاتِ لكه د جيحون، سيحون، دجله او فرات اوبه لِلنَّاسِ فِيْهِ حَقُّ الشَّفَةِ عَلَى الْإِطْلَاقِ د خلکو په هغوی کي د مطلق چيښلو حق سته وَحَقُّ سَقْيِ الْأَرَاضِيْ بِأَنْ أَحْيٰى وَاحِدٌ أَرْضًا مَيْتَةً او د ځمکو د اوبولو حق په دې توګه دی چي که څوک شاړه ځمکه آباده کړي وَكَرٰى مِنْهُ نَهْرًا لِيَسْقِيَهَا او له هغوی څخه يو نهر وكيندي چي دا ځمكه اوبه کړي إِنْ كَانَ لَا يَضُرُّ بِالْعَامَّةِ وَلَا يَكُوْنُ النَّهْرُ فِيْ مِلْكِ أَحَدٍ نو كه د هغه دا فعل عامو خلکو ته ضرر [تاوان] نه رسوي او نهر د چا په ملکيت کي کي نه وي لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې [نهر کيندلو] حق سته لِأَنَّهَا مُبَاحَةٌ فِي الْأَصْلِ ځکه چي دا [رُودونه] په اصل کي مباح [روا] دي إِذْ قَهْرُ الْمَاءِ يَدْفَعُ قَهْرَ غَيْرِهِ ځکه د اوبو غلبه د بل چا غلبه ختموي وَإِنْ كَانَ يَضُرُّ بِالْعَامَّةِ او که د هغه کس دا فعل عامو خلکو ته ضرر رسوي فَلَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق نسته لِأَنَّ دَفْعَ الضَّرَرِ عَنْهُمْ وَاجِبٌ ځکه چي له عوامو څه ضرر دفع کول واجب دي وَذٰلِكَ فِيْ أَنْ يَمِيْلَ الْمَاءُ إِلٰى هٰذَا الْجَانِبِ إِذَا انْكَسَرَتْ ضِفَّتُهُ او ضرر په هغه صورت کي دی چي اوبه و دې طرف ته ميلان وکړي [وبهيږي] کله چي د رُود څنډه [غاړه] ماته سي [يعني ضرر هلته پېښيږي کله چي د دې کيندل سوي نهر وطرف ته د رُود څنډه او ژۍ ماته سي او پر هغه طرف د رُود اوبه ووځي] فَيُغْرِقَ الْقُرٰى وَالْأَرَاضِيَ نو کلي [علاقې] او ځمکې غرقي کړي وَعَلٰى هٰذَا نَصْبُ الرَّحٰى عَلَيْهِ او پر همدې حکم دي پر نهر د اوبو ژرنده درول لِأَنَّ شَقَّ النَّهْرِ لِلرَّحٰى كَشَقِّهِ لِلسَّقْيِ بِهِ ځکه د ژرندي لپاره نهر څيرل داسي دي لکه [د کښت وغيره] د اُوبولو لپاره هغه څيرل.

اللغات: ﴿أودية﴾ جمع د وَادِيْ ده: شله (شېله)، رُود، مراد: لوی رُود، الوَادِي: كُل منفرج بَين الجبَال والتلال والآكام يجري فيه السَّيل، ﴿ضفة﴾ د نهر او داسي نورو غاړه، څنډه، ژۍ، کناره، ﴿قرى﴾ جمع د قَرْيَةٌ ده: لوی کلی، سيمه او علاقه، ﴿الرحٰى﴾ ژرنده، ﴿شق﴾ د نصر د باب مصدر دی: څيرل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د اوبو دویم قسم د لویو رُودنو او دریابونو اوبه دي لکه دریاب دجله وغیره (علامه عیني رَحِمَهُ الله په دې کې څه خبر کړې ده. خو خیر) د داسې اوبو په هکله د خلکو د حقوقو تفصیل دا دی چې له داسې رُود او دریاب څخه هر چا ته د چیښلو حق سته. او پاته سو په هغه سره د کښت اوبولو او له هغه څخه د نهر او لښتې ایستلو مسئله. نو د هغه حکم دا دی چې که له داسې رُود او دریاب څخه اوبه رایستل او نهر کیندل د عوامُ الناس لپاره مُضر وي (یعني په دې سره خلکو ته څه ضرر او تاوان رسیږي). یا نهر د یو چا په ځمکه کې کیندل کیږي. نو په دې صورت کې د دغه رُود په اوبو سره نه ځمکه اوبول جائز دي. او نه نهر کیندل؛ ځکه کیدای سي چې په نهر کیندلو سره د رُود غاړه (څنډه) ماته سي او اوبه یې د شاوخوا علاقو ته تاوان ورسوي؛ نو ځکه دا جائز نه دي. او که چیري دا فعل د خلکو لپاره مُضر نه وي او نهر د بل چا په ځمکه کې نه کیندل کیږي. نو په داسې صورت کې په هغه سره د کښت اوبول او نهر ځنې ایستل جائز دي.

وعلى هذا إلخ: فرمایي که څوک د داسې رُود او دریاب پر غاړه د اوبو ژرنده لګول غواړي. نو په دې کې هم پورتنی تفصیل دی. یعني که مُضر نه وي جائز دي. او که مُضر وي. نو جائز نه دي او له دې څخه به منع کول کیږي.

د اوبو دریم قسم

وَالثَّالِثُ إِذَا دَخَلَ الْمَاءُ فِي الْمَقَاسِمِ او دریم قسم دا دی چې کله اوبه په تقسیمونو [او نوبت] کې داخلې سي [واری پکښې وتاکل سي] فَحَقُّ الشَّفَةِ ثَابِتٌ نو د چیښلو حق ثابت دی وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] «النَّاسُ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ: الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ» او اصل په دې باره کې د نبي ﷺ دا فرمان دی: چې خلک په دریو شیانو کې شریکان دي: اُوبه، واښه او اُور وَأَنَّهُ يَنْتَظِمُ الشِّرْبَ وَالشُّرْبَ او دا حدیث شِرب [د کښت وغیره اوبولو] او شُرب [د چیښلو اوبو] دواړو لره شامل دی خُصَّ مِنْهُ الْأَوَّلُ لیکن له دې څخه اول [یعني شِرب] خاص کړی سوی دی وَبَقِيَ الثَّانِي. او دویم [شُرب] پاته دی وَهُوَ الشَّفَةُ او هغه [دخولها] چیښل دي وَلِأَنَّ الْبِئْرَ وَنَحْوَهَا مَا وُضِعَ لِلْإِحْرَازِ او ځکه چې څاه او داسې نور د احراز کولو [خوندي کولو] لپاره نه دي وضع سوي وَلَا يُمْلَكُ الْمُبَاحُ بِدُونِهِ او له احراز

[1] تخريج: رواه ابو داؤد، باب في منع الماء، ص:۵۰۲، حديث رقم:۳۴۷۷، وابن ماجة، باب المسلمون شركاء في الثلاث، ص:۳۵۴، حديث رقم:۲۴۷۲.

[خوندي کولو] شخه بغير مباح شی په ملکيت نه داخليږي كَالْقَبْيِ إِذَا تَكَنَّسَ فِي أَرْضِهِ لکه هوسۍ چې ديو حا په ځمکه کې ځای جوړ کړي وَلِأَنَّ فِي إِبْقَاءِ الشَّفَةِ ضَرُورَةً او ځکه چې د چيښلو په [جائز] پاته کولو کې ضرورت دی لِأَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يُمْكِنُهُ اسْتِصْحَابُ الْمَاءِ إِلَى كُلِّ مَكَانٍ ځکه انسان لره هر ځای د ځان سره اوبه ساتل ممکن نه دي وَهُوَ مُحْتَاجٌ إِلَيْهِ لِنَفْسِهِ وَظَهْرِهِ حال دا چې هغه د خپل ځان او خپل سپارلي لپاره اُوبو ته مجبوره دی فَلَوْ مُنِعَ عَنْهُ نو که هغه له اوبو شخه منع کړی سي أَفْضَى إِلَى حَرَجٍ عَظِيمٍ نو دا به د غټ تکليف سبب وګرځي وَإِنْ أَرَادَ رَجُلٌ أَنْ يَسْقِيَ بِذَلِكَ أَرْضًا أَحْيَاهَا او که يو سړی وغواړي چې په دې اُوبو سره هغه ځمکه اوبه کړي کوم چې يې آباده کړې ده كَانَ لِأَهْلِ النَّهْرِ أَنْ يَمْنَعُوهُ عَنْهُ نو نهر والا وو ته دا حق سته چې هغه له دې شخه منع کړي أَضَرَّ بِهِمْ أَوْ لَمْ يَضُرَّ برابره ده دا [يعني د هغه سړي دا فعل] هغو ته ضرر رسوي او که يې نه رسوي [په دواړو صورتونو کې دوی ته جائز دي چې هغه منع کړي] لِأَنَّهُ حَقٌّ خَاصٌّ لَهُمْ ځکه چې دا [نهر] د دوی لپاره مخصوص حق دی وَلَا ضَرُورَةَ او [د مباح کولو] ضرورت هم نسته وَلِأَنَّا لَوْ أَبَحْنَا ذَلِكَ او ځکه چې که موږ دا مباح وګرځوو لَانْقَطَعَتْ مَنْفَعَةُ الشُّرْبِ نو د چيښلو منفعت به ختم سي.

اللغات: ﴿كلأ﴾ وابنه (د څارويو د خوړلو وابنه)، ﴿إحراز﴾ د افعال د مصدر دی: حفاظت کول، خوندي کول، ذخيره کول، ﴿شُرْب﴾ د سمع د باب مصدر دی: چيښل، مراد: د چيښلو اوبه. ﴿شِرْب﴾ د اوبو واری او نوبت، د ابو حصه، مراد ځني د کښت وغيره اوبول (سپړابول)، او د کښت وغيره د اوبه کولو اوبه دي، ﴿تكنس﴾ د تفعّل ماضي ده: ځای جوړول، پناه ګاه جوړول (د هوسۍ لپاره استعماليږي)، هوسۍ په خپل ځای کي داخليدل، ﴿أبحنا﴾ د افعال له بابه د جمع متکلم ماضي صيغه ده: مباح کول، روا کول (روا ګرځول).

تشريح: په دې عبارت کې د اوبو درېيم قسم بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چې که د څاه، نهر، حوض وغيره اوبه تقسيم کړل سي او د اوبو لپاره نوبت و ټاکل سي (چې مثلاً سهار به يې زيد استعمالوي او ماښام به يې خالد استعمالوي)، نو هر يو به په خپل نوبت او حصه کي څوک له چيښلو شخه نه منع کوي، خو د ځمکي له اُوبولو شخه به يې منع کوي؛ ځکه په حديث کي ذکر سوي دي چې "خلک په دريو شيانو کي سره شريکان دي: ① اُوبه، ② اُور، ③ وابنه.

وأنه ينتظم إلخ: يعني دا حديث (چي لفظ د اُوبو پکښې راغلی دی) شِرْب او شُرْب دواړو لره عام دی (چې د دواړو معنیٰ مو په لغاتو کي ذکر کړه)، يعني د حديث تقاضا خو دا وه چي د شُرب (چيښلو) په څېر به په شِرْب (يعني د ځمکي او کښت په اوبولو) کي هم شرکت وي، خو شِرْب بالاجماع له دې څخه خاص او جلا کړی سو (چي په هغه کي ضرر دی)، نو فقط شُرْب باقي پاته سو.

ولأن البئر إلخ: په دې هکله عقلي دليل دا دی چي په څاه، حوض وغيره کي چي کومي اوبه دي هغه د إحراز لپاره نه دي، بلکي مباح الأصل دي، او د مباح الأصل حکم دا دی چي هر چا ته د هغه استعمالول جائز دي او پر چا هيڅ پابندي نسته، لهذا په صورتِ مسئله کي به هم د څاه وغيره اوبه چيښل د هر چا لپاره جائز وي. د دې مثال داسي دی لکه هوسی چي ديو چا په ځمکه کي خپل ځای جوړ کړي، نو تر څو چي د ځمکي مالک هغه هوسی نه ونيسي او خوندي يې نه کړي، تر هغه وخته هوسی مباح الأصل ده چي هر څوک يې نيولای سي، ها! کله چي يې ونيسي، نو د احراز موجودېدلو په وجه هغه د دې مالک کيږي، همداسي د څاه اوبه چي تر څو په څاه کي وي، مباح او روا دي او د څاه والا په ملکيت کي نه دي، نو ځکه دا حق ورته نسته چي له چيښلو يې څخه منع کړي.

ولأن إلخ: دريم دليل دا دی چي اوبو ته د هر چا ضرورت سته او له اوبو څخه بغير انساني ژوند نه شونی دی، او څرنگه چي انسان هر وخت د ځان سره اوبه نه سي گرځولی، نو که هغه له اوبو څخه منع کړل سي، نو حرج عظيم به لازم سي، والحرج مدفوع في شريعتنا.

فإن أراد إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله په اوبو کي واری او نوبت وټاکل سي، تر دې وروسته که يو بل سړی په دې اُوبو سره د خپل هغه ځمکي اوبول غواړي کوم چي يې آباده کړې وي، نو د نهر خلکو ته (يعني د کومي والې دلاري چي هغه سړی د ځمکي اوبول غواړي، د هغه والې خلکو ته) دا حق سته چي هغه منع کړي، برابر ده هغو ته د سړي دا فعل تاوان کوي، که يې نه کوي؛ ځکه چي دا د هغو خپل مخصوص حق دی او څه داسې ضرورت هم نسته چي د هغه په وجه د اوبو مباح کول ضروري سي لکه د چيښلو ضرورت. همدارنگه که د دې اجازت ورکول سي. نو د شُرب (چيښلو) منفعت به فوت سي.

د اوبو څلورم قسم

وَالرَّابِعُ الْمَاءُ الْمُحْرَزُ فِي الْأَوَانِيْ او څلورم قسم هغه اوبه دي چي په لوښو کي خوندي کړل سوي وي وَأَنَّهُ صَارَ مَمْلُوْكًا لَهُ بِالْإِحْرَازِ او هغوی د خوندي کولو [ذخيره کولو] په وجه د خوندي کونکي مملوک ګرځېدلي دي وَانْقَطَعَ حَقُّ غَيْرِهِ عَنْهُ او له هغوی څخه د بل چا حق ختم سوی دی كَمَا فِي الصَّيْدِ الْمَأْخُوْذِ لکه په نيول سوي ښکار کي إِلَّا أَنَّهُ بَقِيَتْ فِيْهِ شُبْهَةُ الشِّرْكَةِ خو په هغوی کي د شرکت [اشتراک] شبهه پاته ده نَظَرًا إِلَى الدَّلِيْلِ د دليل وطرف ته په کتلو سره وَهُوَ مَا رَوَيْنَا او دليل هغه حديث دی کوم چي موږ روايت کړی حَتّٰى لَوْ سَرَقَهُ إِنْسَانٌ فِيْ مَوْضِعٍ يَعِزُّ وُجُوْدُهُ همدا وجه ده که دغه اوبه انسان په داسي ځای کي غلا کړي چي هلته د اوبو پيدا کېدل مشکل وي وَهُوَ يُسَاوِيْ نِصَابًا او هغه غلا کړل سوي اوبه [د سرقې] د نصاب برابري وي لَمْ تُقْطَعْ يَدُهُ نو [هم] به د هغه لاس نه پرېکول کيږي.

اللغات: ﴿مُحـرَز﴾ د افعال د باب مفعول دی: خوندي کړل سوي، ذخيره کړل سوي. ﴿يعز﴾ د ضرب د باب مضارع ده، د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه دوې دا دي: ① سختېدل، مشکل کېدل، ② د يو شي کمېدل چي پيدا کېدل يې مشکل وي، کميابه کېدل، يا په بله وينا کختېدل.

تشريح: فرمايي د اوبو څلورم قسم "ماء محرز" (خوندي کړل سوي اوبه) دي، يعني هغه اوبه چي په لوښو کي ساتل سوي او ذخيره سوي وي، د داسي اوبو حکم دا دی چي دا د هغه چا په ملکيت کي دي، چا چي خوندي کړي وي او د نورو خلکو حق پکښي نسته، يعني د هغو لپاره نه د دې چيښل جائز دي او نه يې بل ځای کارول جائز دي، لکه د ښکار جيوان چي تر څو د چا په قبضه کي نه وي، تر هغه وخته پوري څو مباح الأصل وي، لېکن کله چي څوک هغه ونيسي، نو بيا د نورو حق له هغه څخه منقطع کيږي.

خو مخکيني حديث "النَّاسُ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ إلخ" ته په کتلو سره چي څرنګه په داسي اوبو کي هم د بل چا د حق او ملکيت شبهه سته، نو ځکه که بل څوک په يو داسي ځای کي هم "ماء محرز" غلا کړي چي هلته اوبه ډېر په مشکله پيدا کيږي، نو هم به د هغه لاس نه پرېکول کيږي، که څه هم دا اوبه د "نصاب سرقه" په اندازه وي يعني د لسو درهمو وي؛ ځکه د مخکيني حديث په وجه په

هغوی کي د شرکت او استحقاق شبهه موجوده ده، او د شبهې په وجه حدّ ساقطيږي. لکه څرنګه چي دا د فقهي مشهوره قاعده ده چي "الحدود تندرئ بالشبهات".

د مملوکه ځمکي د څاه، نهر وغيره د اوبو استعمالولو حق

وَلَوْكَانَ الْبِئْرُ أَوِ الْعَيْنُ أَوِ الْحَوْضُ أَوِ النَّهْرُ فِيْ مِلْكِ رَجُلٍ او که ديو سړي په ملکيت کي څاه يا چينه يا حوض يا نهر [واله] وي لَهُ أَنْ يَمْنَعَ مَنْ يُرِيْدُ الشَّفَةَ مِنَ الدُّخُولِ فِيْ مِلْكِهِ نو ده ته دا حق سته چي کوم څوک د اوبو چيښلو اراده لري هغه خپل ملکيت ته له داخليدلو څخه منع کړي إِذَا كَانَ يَجِدُ مَاءً آخَرَ يَقْرُبُ مِنْ هٰذَا الْمَاءِ فِيْ غَيْرِ مِلْكِ أَحَدٍ په دې شرط کله چي هغه [داوبو طلب کونکی] دغه اوبو ته نژدې نوري داسي اوبه موندلای سي کوم چي د هيچا په ملکيت کي نه وي وَإِنْ كَانَ لَا يَجِدُ او که هغه نوري اوبه نه سي پيدا کولای يُقَالُ لِصَاحِبِ النَّهْرِ: إِمَّا أَنْ تُعْطِيَهُ الشَّفَةَ نو د نهر والا [د نهر، څاه وغيره مالک] ته به ويل کيږي چي: يا ته هغه ته د چيښلو اوبه ورکړه! أَوْ تَتْرُكَهُ يَأْخُذُ بِنَفْسِهِ بِشَرْطِ أَنْ لَا يَكْسِرَ ضِفَّتَهُ يا هغه پرېږده! چي خپله اوبه واخلئ په دې شرط چي د نهر غاړه [څنډه] به نه ماتوي وَهٰذَا مَرْوِيٌّ عَنِ الطَّحَاوِيِّ او دا له امام طحاوي رَحِمَهُ الله څخه روايت سوي دي وَقِيْلَ: مَا قَالَهُ صَحِيْحٌ فِيْمَا إِذَا احْتَفَرَ فِيْ أَرْضٍ مَمْلُوْكَةٍ لَهُ او ويل سوي دي: چي کوم څه امام طحاوي رَحِمَهُ الله ويلي دي دا په هغه صورت کي صحيح دي کله چي ده په خپل مملوکه ځمکه کي نهر [وغيره] کيندلی وي أَمَّا إِذَا احْتَفَرَهَا فِيْ أَرْضٍ مَوَاتٍ خو که په شاړه غير مملوکه ځمکه يې کي هغه کيندلی وي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَمْنَعَهُ نو بيا ده ته حق نسته چي هغه منع کړي لِأَنَّ الْمَوَاتَ كَانَ مُشْتَرَكًا ځکه چي شاړه ځمکه مشترکه وي وَالْحَفْرُ لِإِحْيَاءِ حَقٍّ مُشْتَرَكٍ او [په شاړه ځمکه کي] کيندل [ګواکي] د مشترک حق د ژوندي کولو لپاره دي فَلَا يَقْطَعُ الشِّرْكَةَ فِي الشَّفَةِ نو ځکه دا کيندل د چيښلو شرکت نه ختموي [يا په بله وينا دا: نو ځکه دلته د څاه کيندلو په وجه د اوبو چيښلو شرکت نه ختميږي].

اللغات: ﴿ضفة﴾ د نهر (والي) غاړه، څنډه، ږی.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که ديو چا په ملکيت کي نهر، يا څاه، يا حوض، يا د اوبو چينه وي، او ده په خپل ملکيت کي هغه کيندلي وي، نو ده ته دا حق سته چي نور خلک خپل مملوکه

ځمکي ته له راتګ او د دې نهر، څاه وغيره د اوبو له چينبلو څخه يې منع کړي، په دې شرط چي هغه ته نژدې په غير مملوکه ځمکه او نهر کي اوبه ترلاسه کېدلای سي، لېکن که د هغه نهر وغيره سره شا وخوا د اوبو چينبلو بله هيڅ ذريعه نه وي او يو کس چينبلو ته مجبوره وي، نو د نهر مالک ته به ويل کيږي چي يا ته خپله دغه تږي کس ته اوبه راوړه يا و هغه ته اجازت ورکړه چي د اوبو چينبلو لپاره ستا ملکيت او ځمکي ته داخل سي او دا شرط پر ولګوه چي ستا هيڅ شي ته به هغه تاوان نه رسوي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا د امام طحاوي رَحِمَهُ الله بيانْ کرده قول دی او په هغه صورت کي صحيح دی کله چي نهر، څاه، چينه وغيره يو چا په خپل ملکيت کي کيندلی وي. لکه په شروع کي چي موږ وويل، لېکن که هغه په ارض موات کي نهر وغيره کيندلي وي، نو په دې صورت کي هغه ته دا حق نسته چي اوبو ته مجبوره کس منع کړي، ځکه موات مُشترک حق ده او په هغې کي په څاه کيندلو سره د مشترک حق احياء سوې ده. لهذا په دې احياء سره د نورو خلکو د اوبو چينبلو استحقاق نه ختميږي، بلکي هر چا ته به په دې ځمکه کي د داخلېدلو او اوبو چينبلو اجازه وي. (احسن الهدايه)

تږي او مجبوره کس ته په زوره د اوبو اخيستلو حکم

وَلَوْ مَنَعَهُ عَنْ ذٰلِكَ او که نهر والا هغه [د اوبو طلب کونکی] له دې څخه منع کړي وَهُوَ يَخَافُ عَلٰى نَفْسِهِ أَوْ ظَهْرِهِ الْعَطَشَ په داسي حال کي چي هغه پر خپل ځان يا پر خپل سپارلي [څاروي] له تندي څخه بيريږي لَهُ أَنْ يُقَاتِلَهُ بِالسِّلَاحِ نو هغه ته دا اختيار سته چي د نهر والا سره په وسله وجنګيږي لِأَنَّهُ قَصَدَ إِتْلَافَهُ بِمَنْعِ حَقِّهِ ځکه چي نهر والا د هغه د هلاکولو اراده کړې ده د هغه د حق په منع کولو سره وَهُوَ الشَّفَةُ او د هغه حق چينبل دي وَالْمَاءُ فِي الْبِئْرِ مُبَاحٌ غَيْرُ مَمْلُوكٍ او اوبه په څاه کي مباح [روا] دي او د چا په ملکيت کي داخله نه دي بِخِلَافِ الْمَاءِ الْمُحْرَزِ فِي الْإِنَاءِ په خلاف د هغه اُوبو چي په لوښي کي خوندي کړل سوي وي حَيْثُ يُقَاتِلُهُ بِغَيْرِ السِّلَاحِ چي د هغه سره به بغير له وسلې جنګيږي لِأَنَّهُ قَدْ مَلَكَهُ ځکه چي هغه د دې اوبو مالک سوی دی وَكَذَا الطَّعَامُ عِنْدَ إِصَابَةِ الْمَخْمَصَةِ او همدارنګه د مخمصې [سختي لوږې] په حالت کي د خوراک هم دغه حکم دی وَقِيلَ: فِي الْبِئْرِ وَنَحْوِهَا الْأَوْلٰى أَنْ يُقَاتِلَهُ بِغَيْرِ السِّلَاحِ بِعَصًا او ويل سوي دي: چي په څاه او داسي نورو [نهر وغيره] کي غوره دا ده چي بغير له وسلې په لکړه [دانګ او لرګي] ور سره وجنګيږي لِأَنَّهُ اِرْتَكَبَ

مَعْصِيَةً ځکه چي هغه د يو معصيت ارتکاب کړی دی فَقَامَ ذٰلِكَ مَقَامَ التَّعْزِيْرِلَهُ نو دا به د هغه لپاره د تعزير قائم مقام سي.

اللغات: ﴿ظهر﴾ مراد ځني سپارلی (د سپرېدلو ځاروی) دی. ﴿عطش﴾ تنده، تږي والی. ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی. د دې باب يوه معنیٰ ده: هلاکول. ﴿مخمصة﴾ سخته لوږه. صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف کړی دی: "الْمَخْمَصَةُ: اِسْمٌ بِمَعْنَى الْمَجَاعَةِ ... إلخ" (المعجم الوسيط: ۲۵۶).
﴿ارتکب﴾ يو جرم او ګناه کول. ﴿معصية﴾ نافرماني، ګناه. ﴿تعزير﴾ د دې لفظ اصل معنیٰ ده: منع کول، ملامتول. په اصطلاح کي هغه سزا ته وايي کوم چي له حدّ څخه کمه وي، او دې ته تعزير ځکه وايي چي مجرم له دوباره جرم کولو څخه منع کوي

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که داوبو مالک له اوبو ورکولو څخه منع وکړي، او هغه (داوبو طلبګار) ته دا خطره وي چي زه يا زما سپارلی به له تندي هلاک سي، او داوبو مالک نه اوبه ورکوي او نه يې خپل ځاه وغيره ته پرېږدي، او نه نژدې بل ځای اوبه وي. نو ده ته دا حق سته چي د اوبو د مالک سره په وسله وجنګېږي او بنه لاندي باندي يې وخرپوي چي د مور رودلي په قی کړي، ځکه په داسي خطرناک حالت کي د ده د حق په منع کولو سره هغه ګواکي د ده د هلاکولو اراده کړې ده. نو ځکه د هغه سره به د هلاکولو په شېر معامله کيږي، او د ده حق اوبه چيښل دي، ځکه اوبه چي تر څو په ځاه وغيره کي وي، هغه يې مالک نه دی.

او که داغه پورتنی صورت وي خو اوبه په لوښو کي خوندي کړل سوي وي، نو د اوبو والا د انکار کولو په صورت کي ده ته حق سته چي د هغه سره وجنګيږي، خو بغير له وسلې، ځکه دلته د اوبو والا داحراز (خوندي کولو) په وجه يقيناً داوبو مالک سوی دی، لهذا د هغه جرم د ځاه وغيره والا څخه کم دی، نو له سُوک، چپلاخي او لغتي څخه به کار اخيستل کيږي، او په اولني صورت کي په وسله سره د جنګېدلو په هکله د حضرت عمر رضی الله عنه اثر موجود دی.

وكذا الطعام إلخ: فرمايي کوم حکم چي د اوبو دی، هاغه د خوراک هم دی چي که څوک ډېر سخت وږی وي او د خوراک نه خوړلو په صورت کي يې د هلاکېدلو خطره وي، او د چا سره چي خوراک موجود وي، هغه يې ورکولو ته تيار نه وي، نو هغه به هم ډبوي او په زوره جبراً به خوراک ځني اخيستل کيږي.

وقيل إلخ: د دې حاصل دا دی چي په اولني صورت کي داوبو د مالک دانکار کولو په صورت کي چي د هغه سره د قتال بالسلاح حکم سوی دی، د هغه په باره کي بل قول دا دی چي په دې صورت کي

غوره دا ده چې د وسلې پر ځای له ډانګ اولرګي څخه کار واخیستل سي او وسله استعمال نه سي؛ ځکه چې د اوبو منع کونکی د یوې ګناه ارتکاب کوی، او د ګناه مرتکب د تعزیر مستحق دی یعنې د زجر و توبیخ لپاره به هغه ته سزا ورکول کیږي، نو په ډانګ او لرګي سره جنګ کول به د هغه په حق کې د تعزیر قائم مقام سي، او په ډانګ د هغه خړپول د تعزیر لپاره کافي او وافي دي.

د اوبو ختمېدلو د اندېښنې په صورت کې د اوبو منع کولو حکم

وَالشَّفَةُ إِذَا كَانَ يَأْتِي عَلَى الْمَاءِ كُلِّهِ او اوبه چیښل چې کله ټوله اوبه ختموي بِأَنْ كَانَ جَدْوَلًا صَغِيرًا په دې توګه چې یو کوچنی لښتی وي وَفِيمَا يَرِدُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْمَوَاشِيْ كَثْرَةٌ يَنْقَطِعُ الْمَاءُ بِشُرْبِهَا او په اوښانو او څارویانو کې دومره ډېرښت وي چې د هغوی په چیښلو سره اوبه ختمېږي قِيْلَ: لَا يَمْنَعُ مِنْهُ نو ویل سوي دي: چې هغه [د اوبو مالک] به له دې څخه منع نه کوي لِأَنَّ الْإِبِلَ لَا تَرِدُهُ فِي كُلِّ وَقْتٍ ځکه چې اوښان هر وخت نه ورته راځي وَصَارَ كَالْمُيَاوَمَةِ نو دا د ورځني نوبت تاکلو په څېر سو [چې یوه ورځ به اوبه زما وي او بله ورځ به د څارویانو غیره وي] وَهُوَ سَبِيْلٌ فِي قِسْمَةِ الشِّرْبِ او دا د شرب د تقسیم یو طریقه ده وَقِيْلَ: لَهُ أَنْ يَمْنَعَ او ویل سوي دي: چې هغه ته دا اختیار سته چې منع وکړي اِعْتِبَارًا بِسَقْيِ الْمَزَارِعِ وَالْمَشَاجِرِ په قیاس کولو سره د کښتونو او درختو پر اوبه کولو وَالْجَامِعُ تَفْوِيتُ حَقِّهِ او [د قیاس] علت جامعه د هغه د حق فوتول دي

وَلَهُمْ أَنْ يَأْخُذُوا الْمَاءَ مِنْهُ لِلْوُضُوْءِ وَغَسْلِ الثِّيَابِ او خلکو ته دا حق سته چې له دې لښتي څخه د اوداسه او د کپړو پرېولو لپاره اوبه واخلي فِي الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق لِأَنَّ الْأَمْرَ بِالْوُضُوْءِ وَالْغَسْلِ فِيْهِ كَمَا قِيْلَ يُؤَدِّيْ إِلَى الْحَرَجِ ځکه چې په لښتي کې د اودس کولو او د کپړو پرېولو حکم کول لکه څرنګه چې ویل سوي دي د حرج سبب ګرځي وَهُوَ مَدْفُوْعٌ او حرج [په شریعت کې] لیرې کړی سوی دی.

اللغات: ﴿جدول﴾ لښتی، کوچنی واله ﴿میاومة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: روازنه یو معامله کول، ورځني نوبت ټاکل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که څوک لوی نهر، ځاه وغيره نه لري بلکي يو کوچنی لښتی لري او هغه ته دا خطره وي چي که څارويان يې وڅيښي، اوبه به يې ختمي سي، نو داسي کس ته د منع کولو حق سته، که نه؟، په دې باره کي دوه قوله دي:

(۱)... يو قول دا دی چي نه به يې منع کوي؛ ځکه څارويان خو هر وخت د اوبو لپاره نه راځي، بلکي په ورځ، دوو کي يو وار راځي، نو په ورځ، دوو کي يو وار په څيښلو سره اوبه نه ختميږي، او ځرنګه چي د ورځني واري په تاکلو سره اوبه ورکول صحيح او جائز دي (چي يوه ورځ به د يوه وي او يوه ورځ به د ده وي)، او په دې واري کي چا ته د منع حق حاصل نه دی، نو همداسي به په صورتِ مسئله کي هم د اوبو مالک ته د منع حق حاصل نه وي.

(۲)... دويم قول دا دی چي ځرنګه هغه له دې څخه منع کولای سي چي بل څوک په دې لښتي سره خپل کښت او ځمکه اوبه کړي، نو همداسي هغه څارويان هم له اوبو څيښلو څخه منع کولای سي، ځکه ځرنګه چي د کښت او ځمکي په اوبولو سره د هغه حق يعني اوبه ختميږي، همداسي د څارويانو په څيښلو سره هم د هغه حق ختميږي، نو ځکه څارويان به له اوبو څيښلو څخه منع کول کيږي، خو عوامُ الناس به نه له اوبو څيښلو څخه منع کول کيږي او نه به د اوداسه او د کپړو مينځلو لپاره له اوبو اخيستلو څخه منع کول کيږي؛ ځکه ځرنګه چي څيښلو ته ضرورت متحقق دی، همداسي اودس کولو او د کپړو مينځلو ته هم ضرورت متحقق دی، لهذا د اوبو په اخيستلو، اودس کولو او د کپړو په مينځلو کي هيڅ حرج نسته، خو په لښتي کي دننه له اودس کولو او کپړو مينځلو څخه يې منع کولای سي؛ ځکه چي په دې سره نورو ته تکليف رسيږي چي له داسي اوبو څخه يې کرکه او نفرت کيږي، حال دا چي په شريعت کي له تکليف او حرج څخه منع سوې ده، نو ځکه په لښتي کي دننه به د دې اجازت نه وي.

د يو چا له اوبو څخه منګيان وغيره ډکول او درختي او داسي نور په اوبول

وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يَسْقِيَ شَجَرًا أَوْ خُضَرًا فِي دَارِهِ حَمْلًا بِجِرَارِهِ او که څوک وغواړي چي د خپل کور درختي يا کښتي اوبه کړي د خپلو منګيانو په [ډکولو او] وړلو سره لَهُ ذٰلِكَ فِي الْأَصَحِّ نو د صحيح قول مطابق هغه ته د دې حق سته لِأَنَّ النَّاسَ يَتَوَسَّعُونَ فِيهِ ځکه خلک په دې هکله پراخي [او آساني] کوي وَيَعُدُّونَ الْمَنْعَ مِنَ الدَّنَاءَةِ او [په دې هکله] منع کول رذالت ګڼي وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْقِيَ أَرْضَهُ وَنَخْلَهُ وَشَجَرَهُ مِنْ نَهْرِ هٰذَا الرَّجُلِ وَبِئْرِهِ وَقَنَاتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ نَصًّا او هغه ته دا حق نسته چي د دې سړي په نهر،

ځاه او کاریز سره خپله ځمکه او درختي اوبه کړي مګر د هغه په صریح اجازت سره وَلَهُ أَنْ يَمْنَعَهُ
مِنْ ذٰلِكَ او ده ته [یعني د نهر وغیره مالک] ته دا حق سته چي هغه له دې شخه منع کړي لِأَنَّ الْمَاءَ مَتٰى
دَخَلَ فِي الْمَقَاسِمِ ځکه کله چي اوبه په تقسیمو [نوبتونو] کي داخله سوې اِنْقَطَعَتْ شِرْكَةُ الشِّرْبِ
بِوَاحِدَةٍ نو د شِرب شرکت بالکل ختم سو لِأَنَّ فِي إِبْقَائِهِ قَطْعَ شِرْبِ صَاحِبِهِ ځکه چي [اوس] د
شرکت په باقي پرېښوولو کي د صاحبُ الشِرب د شِرب ختمول سته وَلِأَنَّ الْمَسِيْلَ حَقُّ صَاحِبِ النَّهْرِ
او ځکه چي مسیل [د اوبو بهېدلو ځای (یعني لښتی)] د نهر والا حق دی وَالضِّفَّةِ تَعَلَّقَ بِهَا حَقُّهُ او د نهر د
(١ .څنډې [غاړې] سره د نهر والا حق متعلق دی فَلَا يُمْكِنُهُ التَّسْيِيْلُ فِيْهِ وَلَا شَقُّ الضِّفَّةِ نو ځکه هغه لره
په دې کي نه اوبه بیول ممکن دي او نه څنډه څیرل [ماتول] فَإِنْ أَذِنَ لَهُ صَاحِبُهُ فِي ذٰلِكَ أَوْ أَعَارَهُ
لیکن که نهر والا هغه ته په دې هکله اجازت ورکړي او خپل نهر هغه ته په عاریت ورکړي فَلَا بَأْسَ
بِهِ نو بیا په دې کي څه حرج نسته لِأَنَّهُ حَقُّهُ ځکه چي نهر د هغه خپل حق دی فَتَجْرِيْ فِيْهِ الْإِبَاحَةُ
نو ځکه په دې کي به مباح کول [بل چا ته ورکول] جائز کیږي كَالْمَاءِ الْمُحْرَزِ فِي إِنَائِهِ لکه هغه اوبه کوم
چي په لوښي کي خوندي کړل سوي وي.

اللغات: ﴿خَضِر﴾ (د ضاد په کسر سره): کښت او کېتی، سبزیجات، ﴿حمل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پورته کول، وړل، ﴿جرار﴾ جمع د جَرَّةٌ ده: د خاورو لوښی چي په هغه سي ... ﴿دناءة﴾ رذالت (ټیټوب)، سپکتوب، ﴿قناة﴾ کاریز، ﴿أعارة﴾ د افعال د باب ماضي ده: په عاریت ورکول، عاریتاً ورکول، (إعارة: "تمليكُ المنافع بلا عوض على أن ترد العين" ته وايي، یعني چي یو سړی خپل شی یو چا ته مفت (بېله عوضه) ورکړي او ورته ووايي چي ته خپل نفع ځني واخله! او بیا یې بیرته ما ته واپس کړه!).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د یو چا د لښتي څخه بل څوک خپل منګیان یا ډبې وغیره ډکوي او د خپل کور درختي یا د خپل کور کېتی او سبزیجات په اوبه کوي، نو د صحیح قول مطابق هغه ته د دې حق سته؛ ځکه د اوبو په هکله په داسي کارو کي خلک آساني او پراخ نیتي کوي او د داسي کارو لپاره ابه منع کول رزالت او بخل ګڼي، نو ګواکي عرفاً او دلالتاً د دې اجازت دی، او قاعده دا

ده چي "الثابت بالعرف كالثابت بالنص" يعني كوم شی چي عرفاً ثابت وي. هغه د نصاً او صراحتاً ثابت سوي شي په څېر دی، او د صراحتاً ثابتېدلو په صورت کي داوبو مالک ته د منع حق نه حاصلیږي، لهذا د عرفاً ثابتېدلو په صورت کي به هم هغه ته د منع کولو حق نه وي.

ولیس له إلخ: د نهر، لښتي وغیره څخه منګیان او لوښي ډکول خو جائز دي، لېکن له هغه څخه د خپل کښت یا د باغ داوبولو لپاره د مالک صراحتاً اجازت پکار دی، او مالک ته د دې بشپړ اختیار سته چي هغه له دې څخه منع کړي؛ ځکه کله چي اوبه د خلګو تر مینځ تقسیم سوي وي (چي د هر یوه لپاره جلا نوبت تاکل سوی وي) او د یو سړي په نوبت او حصه کي اوبه راسي، نو اوس په دې تقسیم او نوبت سره په شِرْب (یعني د کښت وغیره په اوبولو) کي د بل چا شرکت ختم سو او فقط په شُرب (چیښلو) کي پاته سو، او دلته هغه دِشِرْب لپاره اوبه اخلي، نه د شُرْب لپاره، نو ځکه د غه سړي ته (کوم چي د نهر مالک او صاحبُ الشِّرْب دی، ده ته) د هغه د منع کولو حق سته؛ ځکه که د شِرْب شرکت باقي پرېښوول سي، نو په دې سره به د ده (صاحبُ الشِّرْب) حق ختم او ضایع سي کوم چي صحیح نه دي.

ولأن المسیل إلخ: د مخکښې خبري (یعني چي د نهر مالک ته د هغه کس د منع کولو حق سته چي د ده په اوبو سره کښت وغیره اوبوي، د دې خبري) دویم دلیل دا دی چي د اوبو تېرېدلو او بهېدلو ځای (مسیل یعني لښتی) د نهر د مالک حق دی او د کښت اوبولو لپاره چي د نهر کوم طرف او څنډه ماتول کیږي، د هغه سره هم د ده حق متعلق دی، په لنډه وینا دا چي نهر هم د ده حق دی او څنډه (غاړه) یې هم د ده حق دی، نو ځکه بل چا ته اختیار نسته چي د هغه په حق کي لاس ووهي او په دې مسیل کي خپلي اوبه وبیوي یا د نهر څنډه ماته کړي او خپل کښت اوبه کړي. ها! که د نهر مالک د دې اجازت ورکړي، نو بیا په دې کي څه حرج نسته داسي کول جائز دي، ځکه دا د هغه خپل حق دی چي په دې کي اباحت جاري کیږي یعني د بل چا لپاره یې مباح کولای سي، لکه یو څوک چي په لوښي وغیره کي اوبه خوندي او ذخیره کړي، نو هغه اوبه د مُحْرِز (خوندي کونکي) حق وګرځي، خو هغه چي یې د هر چا لپاره وغواړي، دا اُوبه مباح کولای سي، نو همداسي په صورتِ مسئله کي هم د نهر وغیره مالک ته دا حق سته چي د هر چا لپاره وغواړي، د خپل نهر وغیره اوبه هغه ته مباح کړي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِي كَرْيِ الْأَنْهَارِ

دا فصل په (بيان د) نهرونو د كيندلو كي دى

تشريح: "كَرْى" د ضرب دباب مصدر دى، كَرٰى يَكْرِيْ كَرْيًا، كله چي د دې باب په صله كي "نهر" راسي، نو معنى يې ده: په واله كي نوې كنده كښل (كيندل) او واله صفا كول. واله غوچول(ژوروّل). (معجم الوسيط، معجم لغة الفقهاء)

له مسائلُ الشِّرب څخه وروسته د كَرْي الأنهار د فصل بيانولو وجه دا ده چي په شِرْب كي ځيني وخت د نهر كيندلو (نهرغوچولو) ضرورت پېښيږي، او په دې هكله د نهر كيندلو وغيره په مصرف كي خبره راځي چي دا به پر كوم يوه وي، نو ځكه په دې فصل كي د نهر سره اړوند مسائل او احكام بيانوي.

د نهر قسمونه

قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : اَلْأَنْهَارُ ثَـلَاثَةٌ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نهرونه درې قسمه دي نَهْرٌغَيْرُمَمْلُوْكٍ لِأَحَدٍ يو هغه نهر دى چي د هيڅ يوه مملوك نه وي [يعني د هيچا په ملكيت كي داخل نه وي] وَلَمْ يَدْخُلْ مَاؤُهُ فِي الْمَقَاسِمِ بَعْدُ [همدارنګه] د هغه اوبه تر اوسه په تقسيمو [نوبتونو] كي داخله سوي نه وي كَالْفُرَاتِ وَنَحْوِهِ لكه فرات او داسي نور وَنَهْرٌمَمْلُوْكٌ دَخَلَ مَاؤُهُ فِي الْقِسْمَةِ إِلاَّ أَنَّهُ عَامٌّ او بل هغه نهر دى چي مملوك وي [او] د هغه اوبه په تقسيم كي داخله سوي وي خو هغه عام وي [د عامو خلكو لپاره وي] وَنَهْرٌمَمْلُوْكٌ دَخَلَ مَاؤُهُ فِي الْقِسْمَةِ وَهُوَخَاصٌّ او بل قسم هغه نهر دى چي مملوك وي [او] د هغه اوبه هم په تقسيم كي داخله سوي وي او هغه خاص وي وَالْفَاصِلُ بَيْنَهُمَا اِسْتِحْقَاقُ الشُّفْعَةِ بِهِ وَعَدَمُهُ او د دې دواړو تر مينځ فاصل د هغه په ذريعه د شفعي مستحق كېدل يا نه مستحق كېدل دي. [يعني د عام نهر او خاص نهر تر مينځ فصل او فرق دى چي كه د نهر والا د خپل نهر په ذريعه د شفعي مستحق كيږي نو هغه خاص دى، او كه د نهر په ذريعه د شفعي نه مستحق كيږي، نو هغه عام دى].

اللغات: ﴿مقاسم﴾ جمع د مَقْسَم ده: تقسيمونه، ﴿فاصل﴾ د ضرب د باب فاعل دى: جلا كونكى، فرق كونكى، وجه د فرق.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د نهر (لويي والې) درې قسمونه بيان کړي دي:

① ... اول قسم هغه نهر دى چي هيڅ مالک يې نه وي او د هغه اوبه د خلکو په تقسيم او حصو کي داخله سوې نه وي (بلکي لوى نهر وي چي د لښتي او د والې له رايستلو څخه بغير خودې په هغه سره ځمکه نه ابول کيږي). لکه دجله، فُرات او داسې نور.

② ... دويم قسم هغه نهر دى چي مملوک وي او د هغه اوبه د خلکو تر مينځ تقسيم وي (چي په واري او نوبت سره کار ځني اخلي). خو ديو خاص قوم او جماعت لپاره مخصوص نه وي، بلکي عام خلک يې استعمالوي.

③ ... دريم قسم هغه نهر دى کوم چي مملوک وي او اوبه يې هم تقسيم شده وي او ديو خاص قوم لپاره مخصوص وي چي هر چا ته په هغه کي د لاس وهلو اجازت نه وي، لنډه دا چي مخکينى قسم نهر عام دى او دا خاص دى، نور فرق پکښې نسته.

والفاصل إلخ: فرمايي چي د عام مملوک نهر او خاص مملوک نهر تر مينځ حدّ فاصل دا دى چي که د دې نهر په ذريعه د نهر والا لپاره د شفعې استحقاق ثابتيږي، نو خاص دى، کنې عام دى.

د اول قسم نهر بيان

فَالْأَوَّلُ كَرْيُهُ عَلَى السُّلْطَانِ مِنْ بَيْتِ مَالِ الْمُسْلِمِينَ نو د اول قسم نهر کيندل د باچا پر ذمه دي د مسلمانانو له بيتُ المال څخه لِأَنَّ مَنْفَعَةَ الْكَرْيِ لَهُمْ ځکه چي د نهر کيندلو منفعت د مسلمانانو لپاره دى فَتَكُونُ مُؤْنَتُهُ عَلَيْهِمْ نو د هغه خرچ [مصرف] به هم پر دوى لازم وي وَيُصْرَفُ إِلَيْهِ مِنْ مُؤْنَةِ الْخَرَاجِ وَالْجِزْيَةِ دُونَ الْعُشُورِ وَالصَّدَقَاتِ او په دې کيندلو کي به د خراج او جزيې مال صرفول کيږي، نه د عشرونو او صدقو مال لِأَنَّ الثَّانِيَ لِلْفُقَرَاءِ وَالْأَوَّلَ لِلنَّوَائِبِ ځکه چي دويم [عشر او صدقات] د فقيرانو لپاره دي او اول [خراج او جزيه] د حوادثو [او ضروررياتو] لپاره دي فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي بَيْتِ الْمَالِ شَيْءٌ او که په بيتُ المال کي هيڅ نه وي فَالْإِمَامُ يُجْبِرُ النَّاسَ عَلَى كَرْيِهِ نو امام به خلک د هغه پر کيندلو مجبوره کوي إِحْيَاءً لِمَصْلَحَةِ الْعَامَّةِ د عام مصلحت [ښېګڼې] د ژوندي کولو لپاره إِذْ هُمْ لَا يُقِيمُونَهَا بِأَنْفُسِهِمْ ځکه چي دوى دا کار خپله نه ترسره کوي وَفِي مِثْلِهِ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (1) او د همداسې امر په هکله حضرت عمر رضي الله عنه فرمايلي دي لَوْ تُرِكْتُمْ لَبِعْتُمْ أَوْلَادَكُمْ چي که

تاسي هسي پرېښوول سی نو تاسي به خپل اولاد خرڅ کړئ! إِلَّا أَنَّهُ يُخْرِجُ لَهُ مَنْ كَانَ يُطِيقُهُ خو امام به د دې کيندلو لپاره هغه خلک راباسي کوم چي د دې طاقت لري وَيَجْعَلُ مُؤْنَتَهُ عَلَى الْمَيَاسِيرِ الَّذِينَ لَا يُطِيقُونَهُ بِأَنْفُسِهِمْ او د هغو [نهر کيندونکو] خرڅ به پر مالدارانو مقرروي کوم چي په خپله د دې کار طاقت نه لري.

اللغات: ﴿كَرْيه﴾ د ضرب مصدر دی، کله چي د دې باب په صله کي "نهر" راسي، نو معنیٰ يې ده: په واله کي نوې کنده کښل (کيندل)، واله غوول او صفا کول. ﴿مؤنة﴾ خرڅ (خرچه)، لګښت، بار او مشقت. ﴿نوائب﴾ جمع د نَائِبَةٌ ده: پېښه، ناڅاپه (نابيره) واقع کيدونکي څه. ﴿مياسير﴾ جمع د مُوْسِر ده: د پراخۍ خاوند، مالدار (ذُو اليَسار والغِنی).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د اول قسم نهر کيندل (صفا کول او غوچول) د امامُ المسلمين او باچا ذمه واري ده چي دا کار دي د بيت المال په هغه مال سره وکړي کوم چي د خراج او جزيې وي؛ ځکه هغه د همدې قسم کارو لپاره وي، او د عشر او صدقاتو چي کوم مال په بيتُ المال کي جمع وي، هغه به په دې کار کي نه صرفوي، ځکه چي هغه د فقراؤ حق دی.

فإن لم يكن إلخ: فرمايي که چيري په بيتُ المال کي مال نه وي، نو د خلکو د عام مصلحت او ښېګني لپاره دي امامُ المسلمين خلک د نهر پر کيندلو مجبوره کړي؛ ځکه چي خلک داسي غټ کار خپله نه ترسره کوي، نو ځکه امام دي هغوی مجبوره کړي، او کوم خلک چي د نهر کيندلو کار ته آماده وي، هغوی دي پر دغه کار وټاکي، او کوم چي آساني خوښونکي او مالداران وي چي د نهر کيندلو کار ته آماده نه وي، د هغو پر ذمه دي د نهر کيندونکو نفقه او خرچه وټاکي.

او د حضرت عمر رضي الله عنه د فرمان "لَوْ تُرِكْتُمْ لَبِعْتُمْ أَوْلَادَكُمْ" وضاحت دا دی چي که تاسي اې خلکو! پر خپل حال پرېښوول سی او د مصلحت عامه په خاطر تاسي پر يو کار مجبوره نه کړل سي، نو بيا به يو وخت تاسي دې نتيجې ته ورسيږئ چي د خپل اولاد په بقاء کي به هم تاسي څه فايده نه وينئ او تاسي به د هغه خرڅول شروع کړئ. مطلب دا چي له باچا او امامُ المسلمين څخه بغير خلک خپله د عامي فايدې کار نه ترسره کوي. (کما هو الظاهر، لکه څرنګه چي اوس د کرونا مصيبت روان دی، نو که د يو حکومت له طرفه د قرنطين کېدلو فرمان جاري نه سي، نو ټوله خلک به له کورو څخه عام وتل شروع کړي چي په دې توګه به دا مصيبت نور عام سي).

د دويم قسم نهر بيان

وَأَمَّا الثَّانِيْ فَكَرْيُهُ عَلَى أَهْلِهِ لَا عَلَى بَيْتِ الْمَالِ او كوم چي دويم قسم نهر دى نو د هغه كيندل د هغه پر خپلو خلكو دي [كوم چي پكښې شريكان وي]. نه پر بيت المال لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُمْ ځكه چي دا حق د همدوى دى وَالْمَنْفَعَةَ تَعُوْدُ إِلَيْهِمْ عَلَى الْخُصُوْصِ وَالْخُلُوْصِ او منفعت د همدوى وطرف ته ګرځي په خاصه او خالصه توګه وَمَنْ أَبَى مِنْهُمْ او له دوى څخه چي كوم يو انكار وكړي [چي زه يې نه كيندم] يُجْبَرُ عَلَى كَرْيِهِ نو هغه به د نهر پر كيندلو مجبورول كيږي دَفْعًا لِلضَّرَرِ الْعَامِّ د عام ضرر دفع كولو لپاره وَهُوَ ضَرَرُ بَقِيَّةِ الشُّرَكَاءِ او هغه د پاته شريكانو ضرر دى وَضَرَرُ الْآبِيْ خَاصٌّ او د انكار كونكي ضرر خاص دى وَيُقَابِلُهُ عِوَضٌ او د هغه په مقابله كي عوض هم سته فَلَا يُعَارَضُ بِهِ نو ضررِ خاص به د ضررِ عام معارض [مقابل] نه وي وَلَوْ أَرَادُوْا أَنْ يُحَصِّنُوْهُ خِيْفَةَ الْاِنْبِثَاقِ او كه دوى [نهر] والا نهر مضبوطه كړي د هغه [د څنډو] د ماتېدلو له بيري وَفِيْهِ ضَرَرٌ عَامٌّ او په دې كي ضرر عام وي [يعني كه د نهر څنډي مضبوطه نه كړل سي، نو د نهر اوبه بهيږي او عامو ته نقصان رسيږي] كَغَرَقِ الْأَرَاضِيْ وَفَسَادِ الطُّرُقِ لكه [د عامو خلكو] ځمكي غرقېدل او لاري خرابېدل يُجْبَرُ الْآبِيْ نو انكار كونكى به مجبورول كيږي وَإِلَّا فَلَا كنې [يعني كه عام نقصان نه وي، نو] نه به مجبورول كيږي لِأَنَّهُ مَوْهُوْمٌ ځكه چي دا يو موهوم امر دى [يعني دلته صرف د نقصان وهم سته، كوم چي نا معلومه او نا معتبره دى] بِخِلَافِ الْكَرْيِ په خلاف د نهر كيندلو لِأَنَّهُ مَعْلُوْمٌ ځكه چي هغه معلوم امر دى [يعني په هغه كي خو نقصان معلوم او عام دى].

اللغات: ﴿يحصنوه﴾ د تفعيل له بابه د جمع مذكر غائب مضارع صيغه ده، د دې باب يوه معنىٰ ده: مضبوطول، محفوظ ګرځول. ﴿خيفة﴾ د فتح د باب مصلدر دى: بېره، ډار او انديښنه. ﴿انبثق﴾ (په ثاء سره)، د انفعال د باب ماضي ده: سوزى كېدل، چاودېدل (ماتېدل).

تشريح: فرمايي چي د نهر دويم قسم (كوم چي د خلكو تر ملكيت لاندي وي، خو عام وي، داسي نهر) به هغه خلګ كيندي كوم چي حق او شركت پكښې لري او نفع ځني اخلي، او د دې نهر كيندل د باچا ذمه واري نه ده؛ ځكه دا د همدې خلكو مخصوص او خالص حق دى. لهذا كه له دوى څخه يو د نهر له كيندلو څخه انكار وكړي، نو هغه به مجبورول كيږي چي عام ضرر ليري سي. يعني د پاته خلكو (شريكانو) ضرر او نقصان ليري سي.

دلته يو اشكال كيږي چي دا خو هم ضرر او نقصان دى چي په دې كار كي به خواري كاږي او خپل مال به صرفوي، نو فرمايي چي دا ضررِ خاص دى او د دې منفعت هغه ته زيات حاصليږي چي خپل كښت به په اوبوي، لهذا د ضررِ عام ليري كولو لپاره به ضررِ خاص زغمل كيږي. په همدې تړاو مصنف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي "فلا يُعارض به" يعني په دې دواړو كي څه تعارض نسته. بلكي ضررِ عام غالب وي، لهذا د ضررِ عام ليري كول به لازم وي.

وإن أراد إلخ: د دې حاصل دا دى چي كه دا خطره وي چي د نهر څنډه (غاړه) به ماته سي او غټ نقصان به پېښ سي، نو د نهر خلک دا مشوره او اراده وكړي چي د نهر څنډې به ښه مضبوطه او پخې جوړي كړو، اوس كه په دې صورت كي له دوى څخه يو كس انكار وكړي، نو هغه به هم مجبوروول كيږي، خو كه دا پوره تني خطره نه وي، نو بيا به نه مجبوروول كيږي صرف د يو موهوم امر په وجه.

او كه سوال وسي چي كله د موهوم امر په وجه څوک نه مجبوروول كيږي، نو بيا د نهر كيندلو په هكله به ولي خلک مجبوروول كيږي؟، نو جواب دا دى چي د هغه منفعت او ضرورت موهوم نه دى، بلكي معلوم دى.

د دريـيم قسم نهر بيان

وَأَمَّا الثَّالِثُ وَهُوَ الْخَاصُّ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ او كوم چي دريم قسم نهر دى او هغه په هره توګه خاص دى فَكَرْيُهُ عَلَى أَهْلِهِ نو د هغه كيندل [هم] د هغه پر خپلو خلكو دى [كوم چي پكښي شريكان وي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړى ثُمَّ قِيلَ: يُجْبَرُ الْآبِي كَمَا فِي الثَّانِي بيا ويل سوي دي چي انكار كونكى كس به مجبوروول كيږي لكه په دويم قسم نهر كي وَقِيلَ: لَا يُجْبَرُ او ويل سوي دي: چي نه به مجبوروول كيږي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الضَّرَرَيْنِ خَاصٌّ ځكه چي له دواړو ضررونو څخه هر يو خاص دي [يعني دواړه ضررونه خاص دي، ځكه د دې نهر كيندلو چي كوم د اوبو منفعت او فايده ده هغه د مخصوصه خلكو لپاره ده او د انكار كونكي ضرر هم خاص دى (چي هغه تنها دى). نو يوه ته ترجيح نه سي وركول كېداى. نو ځكه به نه مجبوروول كيږي] وَيُمْكِنُ دَفْعُهُ عَنْهُمْ بِالرُّجُوعِ عَلَى الْآبِي بِمَا أَنْفَقُوا فِيهِ او له دوى څخه د ضرر دفع كول ممكن دي پر دې انكار كونكي كس په رجوع كولو سره د هغه مال په هكله كوم چي دوى په كيندلو كي خرڅ كړى دى [يعني د ضرر دفع كول ممكن هم دي په دې توګه چي له دوى څخه څومره مال خرڅ سوى وي، د هغه يوه حصه له انكار كونكي څخه واخلي] إِذَا كَانَ بِأَمْرِ الْقَاضِيْ [په دې شرط كله چي دا [خرڅ كول] د قاضي په حكم سره وي فَاسْتَوَتِ الْجَنْبَتَانِ نو دواړه طرفونه سره برابر

سول بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي مخکي تېر سو.

اللغات: ﴿جنبتان﴾ دواړه جانبه، دواړه طرفونه.

تشريح: درېيم قسم نهر به هم هاغه خلک کيندي کوم چي نفع ځني اخلي، د هاغه دليل پر بناء کوم چي د دوېم قسم نهر په بيان کي تېر سو، بيا که له دوی څخه يو انکار وکړي، نو هغه به پر دې کار (نهر کيندلو) مجبورول کيږي، که نه؟، نو فرمايي چي په دې باره کي دوه قوله دي: ① مجبورول کيږي به، لکه په دوېم قسم کي چي جبر کېدی. ② نه به مجبورول کيږي: ځکه دواړه ضررونه خاص دي، لهذا مخکينی دليل دلته نه جاري کيږي. همدارنګه ضرر دفع کېدلای سي په دې توګه چي پاته خلک نهر وکيندي او د هغه (انکار کونکي) په حصه کي چي څومره خرچ راځي، هغه دي له ده څخه واخلي، لېکن دا اخيستل هغه وخت صحيح کيږي، کله چي دې خلکو د نهر په کيندلو کي کوم خرچ او مصرف کړی وي، هغه يې د قاضي په حکم سره کړی وي، نو دواړه طرفونه دلته برابري دي. په ضررِ خاص کېدلو کي هم او له خرچ اخيستلو څخه وروسته دواړه په يوه درجه کي د کېدلو په اعتبار سره هم (يعني کله چي انکار کونکی کس هغه خرچ او مصرف اداء کړي، نو دئ د نهر کيندونکو په درجه کي هم ګرځي)، د دې په خلاف د دوېم قسم نهر مسئله، نو هلته د ضررِ خاص په مقابله کي ضررِ عام وو، نو ځکه هلته جبر کېدی.

د پورتنی مسئلي نور وضاحت

وَلَا يُجْبَرُ لِحَقِّ الشَّفَةِ او د چيښلو د حق لپاره به نه مجبورول کيږي كَمَا إِذَا امْتَنَعُوا جَمِيعًا لکه [په هغه صورت کي] کله چي ټوله منع سي.

اللغات: ﴿شفة﴾ مراد: د اوبو چيښل،

تشريح: د مذکوره عبارت يو مطلب خو دا دی چي که خلک د اوبو چيښلو لپاره نهر کيندي، نه د کښتونو د اوبولو لپاره (يعني داسي نهر کيندي او صفا کوي کوم چي د هغه خلکو او څاروبو د اوبو چيښلو لپاره وي، نه د کښتونو د اوبولو لپاره)، نو په دې صورت کي که د دوی يو کس له دې څخه انکار وکړي (چي زه يې نه کيندم)، نو هغه به نه مجبورول کيږي؛ او د دې دليل دا بيانوي چي کله ټوله خلک (شريکان) له نهر کيندلو څخه منع سي او انکار وکړي، نو هغوی نه مجبورول کيږي، نو پر همدې په قياس کولو سره که يو سړی منع سي، نو هغه به هم نه مجبورول کيږي.

او بل مطلب يې دا دی چي کله د نهر ټوله شريکان د هغه له کيندلو څخه منع سي او انکار وکړي، نو د چيښونکو د حق په وجه به دوی نه مجبورول کيږي (يعني کوم خلک چي د دې نهر اوبه چيښي. د هغوی

حق په وجه به دوی نه مجبورول کېږي)، مطلب دا چې دلته که څه هم د خاصو خلکو (یعني د شریکانو) د ضرر په مقابله کې د عامو خلکو (چینبونکو) ضرر دی یا په بله وینا دا چې دلته که څه هم د ضرر خاص په مقابله کې ضرر عام دی چې د هغه پرېناء باید دوی مجبوره کړل سي، خو د چینبونکو خلکو د حق په وجه به دوی نه مجبورول کېږي.

یادونه: د مذکوره عبارت اوله تشریح او مطلب موږ له اثمار الهدایه څخه نقل کړی دی (د څه اضافې سره)، او دویم مطلب یې موږ له اشرف الهدایه او احسن الهدایه څخه نقل کړی دی. (والله أعلم)

د مشترک نهر کیندلو په صورت کې د خرچ (لګښت) بیان

وَمُؤْنَةُ كَرْيِ النَّهْرِ الْمُشْتَرَكِ عَلَيْهِمْ مِنْ أَعْلَاهُ او د مشترک نهر کېندلو خرڅ پر دوی [شریکانو] دی د لوړ طرف څخه فَإِذَا جَاوَزَ أَرْضَ رَجُلٍ بیا چې کله کیندل د یوه سړي [شریک] له ځمکې څخه تېر سي رُفِعَ عَنْهُ نو له هغه څخه خرچ پورته کېږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي وَقَالَا ❁ : هِيَ عَلَيْهِمْ جَمِيْعًا مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ بِحِصَصِ الشِّرْبِ وَالْأَرَضِيْنَ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د نهر له اول څخه تر آخره دا خرڅ پر دوی ټولو دی د شرب [ځمکو اوبولو] او ځمکو د حصو په حساب سره [یعني هریو چې په دې نهر سره څومره ځمکه اوبوي او څومره ځمکه لري، د هغه په حساب سره پر هریوه خرچ لازم دی، د لوړ طرف او لاندي طرف فرق نسته] لِأَنَّ لِصَاحِبِ الْأَعْلَى حَقًّا فِي الْأَسْفَلِ ځکه چې [د نهر] د لوړ طرف والا [خلکو] په لاندي طرف کې [هم] حق سته لِاحْتِيَاجِهِ إِلَى تَسْيِيْلِ مَا فَضَلَ مِنَ الْمَاءِ فِيْهِ ځکه هغه په لاندي طرف کې د اضافه سوو اوبو بیولو ته محتاج دي وَلَهُ: أَنَّ الْمَقْصِدَ مِنَ الْكَرْيِ الْاِنْتِفَاعُ بِالسَّقْيِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د نهر کیندلو مقصد [د کښت او ځمکي] د اوبولو نفع حاصلول دي وَقَدْ حَصَلَ لِصَاحِبِ الْأَعْلَى او دا نفع لوړ طرف ته والا ته حاصله سوې ده فَلَا يَلْزَمُهُ إِنْفَاعُ غَيْرِهِ نو پر هغه به بل چا ته نفع رسول لازم نه وي وَلَيْسَ عَلَى صَاحِبِ الْمَسِيْلِ عِمَارَتُهُ او پر مسیل والا [یعني پر لوړ طرف والا] د مسیل جوړول لازم نه دي كَمَا إِذَا كَانَ لَهُ مَسِيْلٌ عَلَى سَطْحِ غَيْرِهِ لکه کله چې د بل چا پر بام د ده مسیل وي [نو پر ده د هغه بام

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، قال العلامه جلال الدين الخوارمي:... ويقول أبي حنيفة أخذنا في الفتوى، كذا في فتاوىٰ قاضيخان (الكفاية ج۹، ص:۱۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۱۴]

سمول لازم نه دي] كَيْفَ وَأَنَّهُ يُمْكِنُهُ دَفْعَ الْمَاءِ عَنْ أَرْضِهِ بِسَدِّهِ مِنْ أَعْلَاهُ ځنګه کېدای سي ایا ځنګه به پر لازم وي] حال دا چي هغه ته له ځېل ځمکي څخه اوبه دفع کول ممکن دي د لوړ طرف څخه د نهر په بندولو سره. [يعني دا ممکنه ده چي د لوړ طرف څخه اوبه بندي کړي او خپلي ځمکي ته يې نه راپرېږدي].

اللغات: ﴿مؤنة﴾ خرچ (خرچه) لګښت. ﴿فضل﴾ د كرم د باب ماضي ده: اضافه کېدل. زائد پاتېدل. ﴿سقى﴾ د ضرب د باب مصدر دی: اوبه کول (اوبول)، سېراوبول. ﴿سطح﴾ بام. چت. ﴿سدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: بندول.

تشريح: په دې عبارت کي دا راښيي چي د مشترکه نهر د کیندلو خرچ به څنګه اداء کول کیږي؟، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز طريقه دا ده چي د نهر کيندل به د لوړ طرف (لوړي خوا) راشروع کیږي او لوړ طرف ته چي د کومو خلکو د ځمکو سره نهر را کيندل کیږي، د هغه خرچ او مصرف به له هغو څخه اخيستل کیږي. او کله چي د نهر کيندل لوړ طرف ته پوره سي او لاندي طرف ته شروع سي، نو اوس چي لاندي د کومو خلکو ځمکي وي، له هغو څخه به د دې خرچ اخيستل کیږي، او د لوړ طرف والا خلک به اوس پرېښوول کیږي، همدغه راز دا لاندي طرف چي پوره سي او تر هغه لاندي طرف ته کيندل شروع سي، نو بيا به له هغو څخه خرچ اخيستل کیږي إلى آخره. (د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول "عَلَيْهِمْ مِنْ أَعْلَاهُ" دغه پورتنی مطلب صاحب د اثمار الهدايې رَحِمَهُ الله ليکلی دی. او بل مطلب يې دا کېدلای سي کوم چي صاحب د اشرف الهدايې ليکلی دی چي د نهر د لوړ طرف والا پر خلکو چي څومره خرچ راسي، هغه به پر ټولو شريکانو تقسيمول کیږي. او بيا له هغه څخه د لاندي طرف والا پر خلکو چي کوم خرچ راسي، دا به له هغه څخه پر پاته شريکانو تقسيمول کیږي إلى آخره. مثلاً که په نهر کي ټوله لس خلک شريکان وي، نو کله چي لوړ طرف ته د نهر کيندل شروع سي او هغه طرف ته چي د کوم يوه ځمکه وي پر هغه چي څومره خرچ راسي، هغه به لس (۱۰) حصې کړل سي او پر هر شريک به يوه حصه واچول سي. او کله چي کيندل لاندي راسي، نو خرچ به پر نهو (۹) حصو تقسيم کړل سي. او په همدې حساب سره به د نهر تر آخره خرچ اداء کول کیږي)

وقالا إلخ: او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز طريقه دا ده چي د نهر کيندلو چي هر څومره خرچ راسي، هغه پر ټولو شريکانو په مشترکه توګه لازم دی او د ځمکو او شرب په حساب سره به ځني اخيستل کیږي يعني هر يو چي په دې نهر سره ځېل څومره ځمکه اوبوي، د هغه مطابق به له هغه څخه خرچ

اخیستل کیږي او د لوړ طرف او لاندي طرف به هیڅ فرق نه کیږي. (یعني که د چا ځمکه ډېره وي چي زیاتي اوبه غواړي. نو له هغه شخصه به دغه د کیندلو خرچ هم زیات اخیستل کیږي. د کمي ځمکي او کم شِرْب والا په نسبت).

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي د اسفل (لاندي) طرف حقدار چي څرنګه اسفل والا دي، همداسي اعلیٰ طرف والا هم په هغه کي حق لري، ځکه چي اعلیٰ طرف والا د خپلي ځمکي له اوبولو څخه وروسته د نهر اضافه اوبه بیا لاندي طرف ته ایله کوي (ځکه که داسي نه وکړي نو ټوله اوبه به د اعلیٰ طرف والا پر کښېت او ځمکه ورسي او هغه به خراب کړي. لنده چي اعلیٰ طرف والا چي کله خپل ځمکه اوبه کړي. نو دې ته محتاج او مجبوره دي چي بند به خلاصوي او اوبه به اسفل [لاندي] طرف ته بهوي). نو بیا اسفل طرف والا هغه استعمالوي، لهذا معلومه سوه چي هر یو له اول شخصه تر آخره له ټوله نهر څخه نفع اخلي. لهذا څرنګه چي ټوله په نفع اخیستلو کي سره برابر دي او څرنګه چي د اعلیٰ طرف والا حق په اعلیٰ او اسفل دواړو طرفونو کي دی، نو همداسي د نهر کیندلو چي کوم خرچ راځي، هغه به هم پر ټولو په مشترکه توګه د خپلو ځمکو او شِرْب په حساب سره لازم وي، لِإنَّ الغُنْمَ بِالْغُرْمِ.

ولهٗ أن المقصد إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دی چي کله لوړ طرف ته د نهر کیندل پوره سي، نو د نهر کیندلو چي کوم مقصد دی هغه د لوړ طرف والا په حق کي پوره سو. لهذا نورو (پاته شریکانو) ته نفع رسول د ده پر ذمه واجب نه دي.

او صاحبینو رَحِمَهُمَا الله چي کوم دلیل بیان کړی دی چي اعلیٰ یعني لوړ طرف والا دې ته محتاج دی چي اوبه به اسفل یعني لاندي طرف ته (په مسیل کي) بهوي. نو د هغه جواب دا دی چي د لوړ طرف والا لپاره لاندي طرف ته اوبه بهول خو څه ضروري نه دي. بلکي د لوړ طرف څخه چي د ده ځمکي ته د نهر له کوم ځای څخه اوبه راځي، هغه ځای دي بند کړي او له خپلي ځمکي څخه دي اوبه لیري کړي او د اوبو بهولو لپاره دي د لاندي طرف والا ځمکه (مسیل) نه استعمالوي، همدا وجه ده (یعني کله چي لاندي طرف د لوړ طرف والا لپاره مسیل کېدل ضرور نه دي. په همدې وجه) دا ضروري نه ده چي لوړ طرف والا د لاندي طرف مسیل جوړ کړي یعني هغه پوخ او مضبوطه کړي، لکه د یو همسایه پر بام چي د بل چا مسیل وي (یعني د یو چا د بام اوبه د همسایه پر بام تیریږي او بیا یو وخت د همسایه د بام سمولو

او ګلولو ته ضرورت پېښ سي). نو د همسایه د باب جوړښت او سمول پر هغه لازم نه دي. بلکې همسایه به خپله دا کار کوي. نو پر همدې به پورتنی صورت هم قیاسول کېږي.

سري به تر کومه ځایه د کیندلو خرچ ورکوي

ثُمَّ إِنَّمَا يُرْفَعُ عَنْهُ بیا له ده څخه هغه وخت خرچ پورته کېږي إِذَا جَاوَزَ أَرْضَهُ کله چي کیندل د ده له ځمکي څخه تېر سي كَمَا ذَكَرْنَاهُ لکه څرنګه چي موږ ذکر کړه وَقِيلَ: إِذَا جَاوَزَ فُوْهَةَ نَهْرِهِ او ویل سوي دي: چي کله د ده د نهر له خولې څخه تېر سي وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنْ مُحَمَّدٍ او همدا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ [لیکن] اول قول زیات صحیح دی لِأَنَّ لَهُ رَأْيًا فِي اتِّخَاذِ الْفُوْهَةِ مِنْ أَعْلَاهُ وَأَسْفَلِهِ ځکه چي ده لره حق دی د خولې د جوړولو [خلاصولو] د نهر په لوړ او لاندي دواړو طرفونو کي.

اللغات: ﴿يرفع﴾ د فتح د باب مضارع مجهوله ده: پورته کېدل. لیري کېدل. ﴿جاوز﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: تېرېدل. ﴿فوهة﴾ د شي خوله. د شي اوله حصه. قال صاحبُ المعجم الوسيط: الفُوهَة من كل شيء فمه وأوله.

تشریح: امام صاحب رَحِمَهُ الله چي له حصه دار (شریک) څخه د خرچ پورته کېدلو قائل دی. د اصح قول مطابق د هغه حد دا دی چي کله کیندل د هغه له ځمکي څخه تېر سي، نو بیا خرچ ځني پورته کېږي، او تر څو چي د هغه د ځمکي په احاطه کي کیندل جاري وي. تر هغه وخته د نهر کیندلو خرچ پر لازم دی. په دې هکله له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چي کله د یو شریک د نهر له خولې څخه کیندل تېر سي (یعني د نهر له کومه ځایه چي هغه خپلي ځمکي ته اوبه او لښتی راکش کړي دي. تر هغه ځای چي کیندل تېر سي)، نو له هغه څخه خرچ پورته کېږي. لیکن دا روایت مرجوح دی او اول قول اصح او معتمد دی. ځکه چي شریک ته د خپلي حصې په نهر کي لاندي او لوړ هر طرف ته (د لښتي) د خولې خلاصولو حق سته. لهذا که هغه د نهر سره د خپلي ځمکي بالکل په لوړ طرف کي خوله جوړه کړي. نو بیا خو د امام محمد رَحِمَهُ الله د روایت مطابق د هغه خرچ سمدستي هلته ختمېږي. حالانکې دا صحیح نه دي. لهذا اول قول اصح دی.

د نهر کیندل (غوچول) چې کله د یوه له ځمکې څخه تېر سي، نو د اوبو را ایله کولو حکم

فَإِذَا جَاوَزَ الْكَرْيُ أَرْضَهُ بیا چې کله کیندل د ده تر ځمکې تېر سي حَتّٰى سَقَطَتْ عَنْهُ مُؤْنَتُهُ تر دې چې له ده څخه خرچ ساقط سي قِيلَ: لَهُ أَنْ يَفْتَحَ الْمَاءَ لِيَسْقِيَ أَرْضَهُ نو ویل سوي دي: چې ده ته حق سته چې اوبه را خلاصي کړي چې خپله ځمکه په اوبه کړي لِانْتِهَاءِ الْكَرْيِ فِي حَقِّهِ ځکه چې د ده په حق کې کیندل ختم سوي دي وَقِيلَ: لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ مَا لَمْ يَفْرُغْ شُرَكَاؤُهُ او ویل سوي دي: چې ده ته دا حق نسته تر څو چې د ده شریکان فارغ سوي نه وي نَفْيًا لِاخْتِصَاصِهِ د ده د اختصاص د نفي کېدلو په وجه وَلَيْسَ عَلَى أَهْلِ الشَّفَةِ مِنَ الْكَرْيِ شَيْءٌ او پر اوبو څښونکو خلکو له کیندلو څخه هیڅ لازم نه دي لِأَنَّهُمْ لَا يُحْصَوْنَ ځکه چې هغوی بې شمېره دي وَلِأَنَّهُمْ أَتْبَاعٌ او ځکه چې هغوی تابع دي [نه متبوع].

اللغات: ﴿کَرْي﴾ د ضرب د باب مصدر دی: کله چې د دې باب په صله کې ''نهر'' راسي. نو معنی یې ده: په واله کې نوې کنده کښل (کیندل). واله غوچول او صفا کول.

تشریح: فرمایي کیندل چې کله د یوه شریک له ځمکې څخه تېر سي. نو آیا هغه ته دا حق سته چې اوس اوبه را خلاصي کړي او خپل کښت اوبه کړي. نو په دې باره کې دوه قولونه دي: ① یو قول دا دی چې هو! داسي کولای سي: ځکه کیندل د هغه په حق کې ختم سوه. ② دویم قول دا دی چې نه یې سي کولای. یعني تر څو چې ټوله شریکان له کیندلو څخه فارغ نه سي. تر هغه وخته ده ته د خپلي ځمکې د اوبولو حق نسته. ځکه که د شریکانو تر فراغت څخه مخکې ده ته دا حق ورکول سي. نو په انتفاع بالماء سره به د ده مختص کېدل لازم سي. کوم چې صحیح نه دي. نو ځکه د شریکانو تر فارغه کېدو مخکې هغه ته د اوبو راخلاصولو حق نسته.

ولیس علی إلخ: د دې حاصل دی چې کوم خلک د نهر د اوبو په حصه (نوبت) کې شریکان نه وي بلکې فقط د دې نهر اوبه څښي. پر هغو کیندل لازم نه دي. ځکه چې هغوی بې شمېره او مجهوله وي (ځکه د نهر شاوخوا ټوله خلک د هغه اوبه څښي). او بل دا چې هغوی تابع دي. حال دا چې حکم پر متبوع لګېږي. نو ځکه دلته به د کیندلو او د خرچې کار فقط پر متعینو کسانو (شریکانو) وي کوم چې متبوع دي. نه پر مجهولو کسانو کوم چې تابع دي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِي الدَّعْوٰى وَالْإِخْتِلَافِ وَالتَّصَرُّفِ فِيْهِ

دا فصل (د شِرْب) د دعوې او په هغه کې د اختلاف او تصرف کولو په بیان کې دی

تشريح: دا د "مسائلُ الشِّرْب" دریم فصل دی، ځکه دا ښکاره خبره ده چې څرنګه د شِرْب ثبوت یقیني دی، همداسې په هغه کې د دعوې او اختلاف پېښېدل هم یقیني دي، نو ځکه په دې آخري فصل کې د هغه احکام بیانوي.

یادونه: د "شِرْب" تعریف مخکې تېر سو چې د اوبو واري او نوبت ته وايي چې مثلاً په نهر او واله کې نیمه ورځ د یوه واری وي او نیمه ورځ د بل واری وي او داسې نور.

د ځمکې له دعوې څخه بغیر فقط د اوبو د واري (شِرْب) دعویٰ کول

قَالَ: وَيَصِحُّ دَعْوَى الشِّرْبِ بِغَيْرِ أَرْضٍ اِسْتِحْسَانًا فرمايي: او له ځمکې څخه بغیر [یوازې] د شِرْب دعویٰ کول استحساناً صحیح دي لِأَنَّهُ قَدْ يُمْلَكُ بِدُوْنِ الْأَرْضِ إِرْثًا ځکه چې شِرْب کله د میراث په توګه بغیر له ځمکې [هم] په ملکیت کې داخلیږي وَقَدْ يَبِيْعُ الْأَرْضَ وَيَبْقَى الشِّرْبُ لَهُ او کله انسان ځمکه خرڅوي او شِرْب د هغه لپاره پاتېږي [یعنې یوازې ځمکه خرڅه کړي او شِرب (د اوبو واری) د ځان لپاره پرېږدي] وَهُوَ مَرْغُوْبٌ فِيْهِ او شِرْب داسې څه دي چې رغبت پکښې کیږي [یعنې د اوبو واري ته د هر چا رغبت کیږي چې زما کښت او ځمکه به په اوبه کیږي] فَيَصِحُّ فِيْهِ الدَّعْوٰى نو ځکه د هغه په باره کې دعویٰ کول به صحیح وي.

اللغات: ﴿إِرث﴾ میراث.

تشريح: بغیر له ځمکې که څوک یوازې د شِرْب دعویٰ وکړي (چې مثلاً په دې نهر او واله کې زه د اوبو واری لرم)، نو د قیاس تقاضا دا ده چې هغه دعویٰ به نه اورېدل کیږي، ځکه چې شِرْب بغیر له ځمکې په ملکیت کې نه داخلیږي، لهذا د هغه دعویٰ کول به هم صحیح نه وي، خو دلته په استحسان باندې عمل سوی دی چې ځینې وخت بغیر له ځمکې هم شِرْب چا ته په میراث او داسې نورو کې

حاصلېدلای سي، او دا هم کېدلای سي چي سړی پوازي ځمکه خرڅه کړي او شِرْب را وگرځوي، نو ځکه د هغه دعوی به اورېدل کیږي.

په خپله ځمکه کي د بل چا نهر نه پرېښوول

وَإِذَا كَانَ نَهْرٌ لِرَجُلٍ يَجْرِي فِي أَرْضِ غَيْرِهِ او کله چي د يو سړي نهر د بل چا په ځمکه کي بهيږي فَأَرَادَ صَاحِبُ الْأَرْضِ أَنْ لَا يَجْرِيَ النَّهْرُ فِي أَرْضِهِ بيا د ځمکي والا وغواړي چي دا نهر به زما په ځمکه کي نه بهيږي تُرِكَ عَلَى حَالِهِ نو نهر به پر خپل حال پرېښوول کیږي لِأَنَّهُ مُسْتَعْمِلٌ لَهُ بِإِجْرَاءِ مَائِهِ ځکه چي نهر والا د نهر د اوبو په جاري کولو سره د هغه استعمالونکی دی فَعِنْدَ الِاخْتِلَافِ يَكُونُ الْقَوْلُ قَوْلَهُ نو د اختلاف په وخت کي به قول د هغه معتبر وي فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي يَدِهِ وَلَمْ يَكُنْ جَارِيًا لېکن که نهر د هغه په قبضه کي نه وي او جاري نه وي فَعَلَيْهِ الْبَيِّنَةُ أَنَّ هَذَا النَّهْرَ لَهُ نو پر هغه بیّنه پېشول لازم دي پر دې خبره چي دغه نهر د ده دی أَوْ أَنَّهُ قَدْ كَانَ مَجْرَاهُ لَهُ فِي هَذَا النَّهْرِ يَسُوقُهُ إِلَى أَرْضِهِ لِيَسْقِيَهَا يا [پر دې خبره] چي ده ته په دې نهر کي د اوبو جاري کولو حق وو چي د خپلي ځمکي د اوبولو لپاره اوبه پکښي بيايي فَيُقْضَى لَهُ نو بيا به د هغه لپاره د دې نهر فيصله کول کیږي لِإِثْبَاتِهِ بِالْحُجَّةِ مِلْكًا لَهُ أَوْ حَقًّا مُسْتَحَقًّا فِيهِ ځکه چي هغه په دليل [بينه] سره په دې نهر کي خپل ملکيت يا خپل مستحق [لازم شده] حق ثابت کړی دی وَعَلَى هَذَا الْمَصَبُّ فِي نَهْرٍ أَوْ عَلَى سَطْحٍ أَوِ الْمِيزَابُ او پر همدغه حکم دي په يو نهر کي يا پر يو بام يا په ناوه کي د اوبو بهولو [بيولو] حق أَوِ الْمَمْشَى فِي دَارِ غَيْرِهِ يا د بل چا په کور کي د تېرېدلو حق فَحُكْمُ الِاخْتِلَافِ فِيهَا نَظِيرُهُ فِي الشِّرْبِ نو په دې شيانو کي د اختلاف حکم په شرب کي د اختلاف نظير دی.

اللغات: ﴿يجري﴾ د ضرب د باب مضارع ده: جاري کېدل، تلل. ﴿يسوقه﴾ د نصر د باب مضارع ده: بیول (چلول). ﴿مصبّ﴾ د نصر له بابه د اسم ظرف صيغه ده: د اوبو بهولو (بيولو) ځای. ﴿سطح﴾ بام، چت. ﴿ميزاب﴾ ناوه. ﴿ممشیٰ﴾ د ضرب له بابه د اسم ظرف صيغه ده: د تللو ځای (د تګ راتګ ځای).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو چا نهر (واله) د بل چا په ځمکه کي بهيږي، او ځمکي والا وغواړي چي دا نهر دي بند سي، نو که چيري نهر د صاحب النهر (نهر والا) په قبضه کي وي يا هغه نهر

جاري وي. نو بغیر له بینې پېشولو به هغه پر خپل حال پرېښوول کیږي یعني د صاحب النهر په حق کي به فیصله کیږي. او که هیڅ د قبضې صورت ښکاره نه وي (یعني پر دغه نهر د نهر والا د قبضې کېدلو هیڅ علامت نه وي) او نه نهر جاري وي. نو بیا به مدعي (نهر والا) په بینه سره دا ثابتوي چي دا زما نهر دی یا ما ته دلته داوبو بهولو حق سته چي زه د همدې لاري خپلي ځمکي ته اوبه بوځم او اوبه یې کړم (که پر دې خبره بینه پېش کړي) نو د هغه لپاره به فیصله کیږي. یعني په بینه سره که خپل ملکیت ثابت کړي. نو د ملکیت فیصله به کیږي (چي د دې نهر مالک هغه دی). او که د اوبو بېولو حق په ثابت کړي. نو د هغه فیصله به کیږي.

وعلى هٰذا إلخ: فرمايي چي پر همدغه حکم دا لاندیني صورتونه هم دي:
① که یو سړی دعویٰ وکړي چي د فلانکي په نهر کي ما ته داوبو بهولو (تېرولو) حق سته. ② یا د فلانکي پر بام ما ته د خپل بام داوبو تېرولو حق سته. ③ یا د فلانکي له ناوې ځخه ما ته د خپل بام د اوبو بهولو حق سته. ④ یا د فلانکي په ځمکه کي زما د لاري حق ستهٔ چي پکښې ځم راځم.

نو په دې ټولو صورتونو کي د اختلاف هاغه حکم دی کوم چي د شِرْب په هکله ذکر سو. یعني که دا ټوله شیان بالفعل موجوده وي (یا په بله وینا پر دې شیانو د مدعي ظاهري قبضه موجوده وي). نو د هغه قول معتبر دی او د هغه په حق کي به فیصله کیږي، کنې دا به په بینه سره ثابتوي چي دا زما حق دی. نو بیا به د هغه په حق کي فیصله کیږي.

په مشترکه نهر کي د حقِ شِرب بیان

وَإِذَا كَانَ نَهْرٌ بَيْنَ قَوْمٍ وَاخْتَصَمُوْا فِي الشِّرْبِ او کله چي نهر د یو قوم په مینځ کي [مشترک] وي او دوی د شرب په هکله دعویٰ کړي كَانَ الشِّرْبُ بَيْنَهُمْ عَلٰى قَدْرِ أَرَاضِيْهِمْ نو شرب به د دوی تر مینځ د دوی د ځمکو په قدر وي لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ الْاِنْتِفَاعُ بِسَقْيِهَا ځکه چي [د شرب] مقصد د ځمکي داوبولو نفع اخیستل دي فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهٖ نو ځکه شرب به د انتفاع په قدر ټاکل کیږي بِخِلَافِ الطَّرِيْقِ په خلاف د لاري لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ التَّطَرُّقُ ځکه [دلته] مقصود لاره ایستل دي وَهُوَ فِي الدَّارِ الْوَاسِعَةِ وَالضَّيِّقَةِ عَلٰى نَمَطٍ وَاحِدٍ او لاره ایستل [الاره جوړول] په پراخ کور او تنګ کور [دوارو] کي پر یوه طرز وي فَإِنْ كَانَ الْأَعْلٰى مِنْهُمْ لَا يَشْرَبُ حَتّٰى يَسْكُرَ النَّهْرَ بیا که له دوی ځخه لوړ طرف والا شریک خپله ځمکه اوبه نه کړی تر دې چي نهر بند کړي ایعني د خپلي ځمکي داوبولو لپاره په نهر کي بند

ولکوي] لَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق نسته لِمَا فِيهِ مِنْ اِبْطَالِ حَقِّ الْبَاقِيْنَ ځکه په دې کې د پاته خلکو [شريکانو] د حق باطلول سته وَلٰكِنَّهُ يَشْرَبُ بِحِصَّتِهٖ لېکن هغه به د خپلې حصې په اندازه ځمکه اوبوي فَاِنْ تَرَاضَوْا عَلٰى اَنْ يَسْكُرَ الْاَعْلٰى النَّهْرَ حَتّٰى يَشْرَبَ بِحِصَّتِهٖ بيا که دوی ټوله په دې راضي سي چې لوړ طرف والا شريک دې نهر بند کړي تر دې چې هغه د خپلې حصې په اندازه ځمکه اوبه کړي اَوِ اصْطَلَحُوْا عَلٰى اَنْ يَسْكُرَ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ فِيْ نَوْبَتِهٖ يا ټوله پر دې اتفاق وکړي چې په خپل واري کې دې هر يو نهر بندوي جَازَ نو جائز دي لِاَنَّ الْحَقَّ لَهُمْ ځکه چې حق د همدوی دی اِلَّا اَنَّهُ اِذَا تَمَكَّنَ مِنْ ذٰلِكَ بِلَوْحٍ لېکن کله چې هغه په تختته سره د نهر پر بندولو قادر نه وي لَا يَسْكُرُهُ بِمَا يَنْكَبِسُ بِهِ النَّهْرُ مِنْ غَيْرِ تَرَاضٍ نو هغه دې په داسې شي سره نهر نه بندوي چې په هغه سره نهر ډکيږي بغير د دوی له رضاء څخه لِكَوْنِهٖ اِضْرَارًا بِهِمْ ځکه چې په دې سره دوی ته ضرر رسيږي.

اللغات: ﴿اختصموا﴾ د افتعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معلومي صيغه ده: جنګ او دعوى کول. ﴿اصطلحوا﴾ مخکنۍ صيغه ده: پر يو څه د خلکو اتفاق کول (اتفاق راتلل). ﴿انتفاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نفع او فايده اخيستل. ﴿نمط﴾ طرز، طريقه. ﴿يسکر﴾ د نصر د باب مضارع ده د "يَسُدُّ" په معنىٰ سره ده: نهر (واله) بندول. بند پر لګول (بند وراچول). ﴿لوح﴾ تختته. ﴿ينکبس﴾ د انفعال د باب مضارع ده: په خاوره وغيره سره ډکېدل. پټېدل. بندېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو نهر (واله) د څو خلکو تر مېنځ مشترکه وي. بيا شريکان د اوبو د واري (نوبت) په هکله دعوىٰ او اختلاف وکړي چې زما شرب دومره دی او زما د دومره دی (مثلاً يو ووايي چې زما د اوبو واري درې ساعته [ګينټې] دی چې زه به درې ساعته اوبه لګوم او بل ووايي چې زما د څلور ساعته دی او يو د بل خبره نه مني). نو په دې صورت کې به شِرب (د اوبو واري) د دوی په مېنځ کې د دوی د ځمکو په حساب سره ټاکل کيږي: ځکه د شِرب مقصد ځمکه اوبول دي. لهذا د چا چې څومره ځمکه وي. د هغه مطابق به د هغه په حق کې د شِرب فيصله کيږي.

د دې په خلاف که چیرې د مشترکې لارې (کوم چې د کورو مخ ته تېرېږي) د مقدار په هکله جنګ او جنجال واقع سي. نو هلته به دا طریقه نه اختیارول کیږي؛ ځکه د چا کور که پراخ وي او که تنګ وي. د تېرېدلو لار خو ضرور غواړي. او لار (کوم چې د کورو مخ ته تېرېږي) د ټولو لپاره په یوه اندازه وي.

فإن الأعلى إلخ: د دې حاصل دا دی چې د نهر په شریکانو کې د کوم یوه ځمکه لوړه وي. که هغه وغواړي چې په نهر کې بند ولګوي او خپله ځمکه اوبه کړي، نو فرمایي چې هغه ته د دې حق او اختیار نسته؛ ځکه په داسې کولو سره د نورو شریکانو حق باطلیږي او په دې کې د دوی نقصان دی. نو هغه ته پکار دي چې بغیر له بند لګولو خپله حصه اوبه کړي.

فإن تراضوا إلخ: ها! که ټوله شریکان په دې راضي وي او اجازت ورکړي، نو بیا هغه ته د دې اختیار سته؛ ځکه چې دا د همدوی حق دی. لیکن د بند لپاره به داسې شی استعمالوي چې د هغه په وجه د نهر ډکېدلو او بند پاتېدلو خطره نه وي. مثلاً په ایله خارو وغیره سره به یې نه بندوي. د دې لپاره چې نور شریکانو ته د خاورو وغیره په راکښلو سره تکلیف نه ورسیږي، بلکې په تخته او داسې نورو شیانو سره دې بند لګوي. ها! که شریکان د خارو وغیره په بند راضي وي، نو بیا جائز دي. څه حرج پکښې نسته.

له خاص نهر څخه د بل نهر کیندلو حکم

وَلَيْسَ لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَكْرِىَ مِنْهُ نَهْرًا أَوْ يَنْصِبَ عَلَيْهِ رَحًى مَاءٍ إِلَّا بِرِضَا أَصْحَابِهِ او په دوی کې یوه ته دا حق سته چې له دې نهر څخه نهر وکیندي یا پر دې نهر د اوبو ژرنده ولګوي مګر د خپلو ملګرو په ضاء سره لِأَنَّ فِيهِ كَسْرَ ضِفَّةِ النَّهْرِ ځکه په دې کې د نهر د څنډې [غاړې] ماتول سته وَشَغْلَ مَوْضِعٍ مُشْتَرَكٍ بِالْبِنَاءِ او بناء سره د مشترک ځای مشغولول [پکښې] سته إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَحًى لَا يَضُرُّ بِالنَّهْرِ وَلَا بِالْمَاءِ مګر دا چې د اوبو ژرنده نهر او اوبو ته نقصان نه رسوي وَيَكُونُ مَوْضِعُهَا فِي أَرْضِ صَاحِبِهَا او د هغې ځای د هغې د خپل مالک په ځمکه کې وي لِأَنَّهُ تَصَرُّفٌ فِي مِلْكِ نَفْسِهِ ځکه چې دا په خپل ملکیت کې تصرّف کول دي وَلَا ضَرَرَ فِي حَقِّ غَيْرِهِ او د بل چا په حق کې څه ضرر نسته وَمَعْنَى الضَّرَرِ بِالنَّهْرِ مَا بَيَّنَّاهُ مِنْ كَسْرِ ضِفَّتِهِ او د نهر د نقصان مطلب هاغه دی کوم چې موږ بیان کړی یعني د نهر څنډه ماتول وَبِالْمَاءِ أَنْ يَتَغَيَّرَ عَنْ سُنَنِهِ الَّذِي كَانَ يَجْرِي عَلَيْهِ او د اوبو د نقصان مطلب دا دی چې اوبه له خپل هغه طریقې څخه متغیرې سي چې [مخکې] پر هغه جاري وې [یعني د مخکې په څېر نه

بهيږي] وَالدَّالِيَةُ وَالسَّانِيَةُ نَظِيرُ الرَّحٰى او ارهټ او سانيه داوبو دژرندي په څېر دي.

اللغات: ﴿الرحى﴾ داوبو ژرنده، يعني په اوبو سره چلېدونکې ژرنده چې پخوا به د نهر او لويې والې پر غاړه درول کېدل او هلته به جال يا داسې بل شی ورته نصب چې اوبه په زور پر ولګېږي او داوبو په زور او فشار سره ژرنده وچلېږي، اوس خو ژرندې په بجل او انجن سره چلول کېږي او هغه مخکينی رواج ختم سوچ. ﴿سنن﴾ جمع د سُنَّة ده: طريقه، لاره. ﴿الدالية﴾ له "دَلْوٌ" څخه دی، هغه آلې ته کوم چې د څاه يا نهر (والې) پر غاړه نصب سوې وي او په هغه کې څو سولاغې يا ډبې وغيره ثبت کړل سوي وي چې بيا هغه د حيوان يا اوبو په ذريعه ګرځول کيږي او اوبه په را ايستل کيږي چې کښتونه او ځمکې اوبه کړي، او هغه ته غالباً ارهټ (ارهټ) وايي. ﴿السانية﴾ دا هغه اوښ وغيره ته وايي چې د څاه يا نهر سره د هغه په غاړه يا شا کې رسی تړل سوې وي چې پر هغه يوه لويه سولاغه يا بل شی غوټه وي چې بيا د اوښ په ذريعه اوبه په رايستل کيږي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که له مخصوص مشترک نهر څخه (يعني کوم نهر چې د متعينو خلکو [شريکانو] تر مينځ مشترک وي. که له هغه څخه) يو شريک نهر کيندل وغواړي، نو هغه د خپلو ملګرو له رضاء څخه بغير دا کار نه سي کولای، همدارنګه که يو شريک د مخصوص مشترک نهر پر غاړه د اُوبو ژرنده نصب کول غواړي، نو هم د خپلو ملګرو له رضاء او اجازت څخه بغير يې نه سي کولای؛ ځکه د نهر په کيندلو کې د دې مشترک نهر څنډه (غاړه) ماتيږي، او ژرنده د دې مشترک نهر مشترکه غاړه نيسي او دا دواړه ممنوع دي، خو که ژرنده داسې وي چې په هغه سره نهر او د هغه اوبو ته هيڅ نقصان نه رسيږي او په خپله ځمکه کې ژرنده نصب کوي (يعنې د نهر هغه غاړه ده د خپله ځمکه وي)، نو بيا جائز دي؛ ځکه چې دا په خپل ملکيت کې تصرف کول دی چې په دغه کې د هيچا نقصان هم نسته.

ومعنی الضرر الخ: مخکې وويل سوه چې که په دې سره نهر او اوبو ته نقصان نه رسيږي نو جائز دي، فرمايي د نهر د نقصان مطلب دا دی چې د نهر غاړه (څنډه) ماته کړل سي، او د اوبو د نقصان مطلب دا دی چې د ژرندي تر نصب کولو وروسته د نهر اوبه پر مخکنۍ طريقه نه بهيږي.

والدالية الخ: فرمايي د اوبو د ژرندي چې کوم حکم دی، هاغه حکم د ارهټ وغيره هم دی، چې که په دوی سره اوبو ته نقصان رسيږي نو جائز نه دي مګر د نورو شريکانو په اجازت سره، او که نقصان نه کوي نو جائز دي.

پر خاص نهر د پُل جوړولو حکم

وَلَا يَتَّخِذُ عَلَيْهِ جِسْرًا وَلَا قَنْطَرَةً او يو شريک دې پر دې نهر پُل نه جوړوي بِمَنْزِلَةِ طَرِيقٍ خَاصٍ بَيْنَ قَوْمٍ لکه د يو قوم تر مينځ مشترک خاصه لره بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ لِوَاحِدٍ نَهْرٌ خَاصٌّ په خلاف د هغه صورت کله چې د يو سړي لپاره خاص نهر وي يَأْخُذُ مِنْ نَهْرٍ خَاصٍّ بَيْنَ قَوْمٍ چې هغه يې له يو خاص نهر څخه اخيستی وي [يعني کوم چې مشترک وي] د يو قوم تر مينځ فَأَرَادَ أَنْ يُقَنْطِرَ عَلَيْهِ وَيَسْتَوْثِقَ مِنْهُ بيا وغواړي چې پر هغه پُل جوړ کړي او هغه مضبوطه کړي لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق سته أَوْ كَانَ مُقَنْطِرًا مُسْتَوْثِقًا يا [پر نهر باندې له مخکې څخه] مضبوطه پُل وي فَأَرَادَ أَنْ يَنْقُضَ ذٰلِكَ بيا هغه وغواړي چې دا پُل مات کړي وَلَا يَزِيدُ ذٰلِكَ فِي أَخْذِ الْمَاءِ او دا [پُل ماتول] د اوبو په اخيستلو کې اضافه نه راولي حَيْثُ يَكُونُ لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق هم سته لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ فِي خَالِصِ مِلْكِهِ وَضْعًا وَرَفْعًا ځکه چې هغه په خپل خالص ملکيت کې تصرف کوي په اعتبار [د پُل اېښوولو او پورته کولو [جوړولو او ماتولو] سره وَلَا ضَرَرَ بِالشُّرَكَاءِ بِأَخْذِ زِيَادَةِ الْمَاءِ او د شرکاؤ هيڅ ضرر نسته د زياتو اوبو په اخيستلو سره [يعني دا کس زياتې اوبه هم نه کشوي چې شريکانو ته نقصان ورسيږي].

اللغات: ﴿جِسْر﴾ او جِسر: هر ډول پُل ته وايي (يعني هغه لاره کوم چې پر واله يا سيند د پاسه د تېرېدلو لپاره جوړه سوې وي). ﴿قنطرة﴾ هغه پُل ته کوم چې د قوس په شکل (کوږ) جوړ سوی وي لکه ځينې پلونه. ﴿يستوثق﴾ د استفعال د باب مضارع ده: پخول. مضبوطول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې يوه شريک ته هم دا حق نسته چې پر مخصوص مشترک نهر يو پُل جوړ کړي. لکه په مشترکه لاره کې (کوم چې د څو کورو والا تر مينځ مشترکه وي) چا ته دا حق نسته چې څه تصرف پکښې وکړي. همداسې دلته هم دا حکم دی. خو که د نورو شريکانو له طرفه اجازت وي. نو جائز دي.

بخلاف إلخ: د دې په خلاف که يو چا مثلاً زيد له دغه مشترک خاص نهر څخه د هغو په اجازت نهر کيندلی وي. اوس که هغه پر دې نهر پُل جوړول غواړي. نو څرنګه چې په دې کې د چا څه نقصان نسته. نو ځکه جائز دي. يا مثلاً مخکې پر دې نهر يو پُل وو. اوس د هغه ليرې کول وغواړي. نو هم جائز دي؛ ځکه په دې کې هم د چا نقصان نسته چې هغه په خپل ملکيت کې تصرف کوي. او په

داسي کولو سره د اوبو په راتګ کي اضافه هم نه راځي چي د پُل جوړونکي کس وطرف ته نو زياتي اوبه راسي. نو ځکه د پُل جوړولو او ماتولو په تصرف کي هغه ته بشپړ اختيار سته.

د نهر د خولې د پرخوالو يا د هغې د شاته کولو وغيره حکم

وَيُمْنَعُ مِنْ أَنْ يُوَسِّعَ فَمَ النَّهْرِ او هغه به له دې څخه منع کول کيږي چي د نهر خوله پراخه کړي لِأَنَّهُ يَكْسِرُ ضِفَّةَ النَّهْرِ ځکه چي دا د نهر څنډه ماتوي وَيَزِيدُ عَلَى مِقْدَارِ حَقِّهِ فِي أَخْذِ الْمَاءِ او د اوبو په اخيستلو کي د هغه د حق [حصې] پر مقدار اضافه کوي وَكَذَا إِذَا كَانَتِ الْقِسْمَةُ بِالْكُوَى او همدارنګه کله چي تقسيم د لښتيانو د سوريو [نهري دروازو] په ذريعه وي وَكَذَا إِذَا أَرَادَ أَنْ يُؤَخِّرَ فَاعَنْ فَمِ النَّهْرِ فَيَجْعَلَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَذْرُعٍ مِنْهُ او همدارنګه کله چي هغه دا سوري [دروازه] د نهر له خولې څخه شاته کړي او د نهر له خولې څخه يې د څلورو ذراعو په اندازه کي [شاته] جوړ کړي [نو هم به منع کول کيږي] لِاحْتِبَاسِ الْمَاءِ فِيهِ فَيَزْدَادُ دُخُولُ الْمَاءِ ځکه چي په دې کي اوبه راګرځي نو [په دې سره] د اوبو راتلل زياتيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَرَادَ أَنْ يُسَفِّلَ كُوَاهُ أَوْ يَرْفَعَهَا په خلاف د هغه صورت کله چي سړی خپل د لښتي سوري [دروازه] لاندي کړي يا پورته کړي حَيْثُ يَكُونُ لَهُ ذَلِكَ فِي الصَّحِيحِ نو د صحيح قول مطابق هغه ته د دې حق سته لِأَنَّ قِسْمَةَ الْمَاءِ فِي الْأَصْلِ بِاعْتِبَارِ سَعَةِ الْكُوَّةِ وَضِيقِهَا ځکه چي اصلاً د ابو تقسيم د سوري د پراخوالي او تنګوالي په اعتبار سره وي مِنْ غَيْرِ اعْتِبَارِ التَّسَفُّلِ وَالتَّرَفُّعِ بغير له اعتبار کولو څخه د لاندي والي او پورته والي وَهُوَ الْعَادَةُ همدا عادت [او رواج] دی فَلَمْ يَكُنْ فِيهِ تَغْيِيرُ مَوْضِعِ الْقِسْمَةِ نو په دې کي د تقسيم د ځای بدلول نسته.

اللغات: ﴿فم﴾ خوله. ﴿ضِفة﴾ څنډه. کناره. غاړه. ﴿الكُوى﴾ جمع د كُوّة ده: په اصل کي هغه سوري ته وايي کوم چي د رڼا راتللو لپاره په دېوال کي جوړ سوی وي يعني کوچنۍ کړکۍ (دريڅه). دلته څني مراد د اوبو را ايله کولو (خلاصولو) هغه دروازه او سوری دی کوم چي د لښتي په خوله کي جوړ سوی دی. موره. په بله وينا دا چي د نهر او لښتي دروازه (جوړه سوې خوله). قال في الحاشية: ...ويستعار الكوى لمفاتيح الماء والجداول، فيقال كوى النهر، كذا في المغرب.

تشريح: دلته په نهر کي د لاس وهلو څو نوري مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي که يو شريک وغواړي چي د خپل نهر (والې) خوله پراخه کړي. نو له دې کار څخه به په ټينګه منع کول کيږي: ځکه په داسي کولو کي دوه نقصانه دي: ① يو دا چي د نهر

ښځه به ماته سي. ② او بل دا چي د دې شريک وطرف ته به د اوبو مقدار زيات سي. او په مشترک شي کي د يوه نقصان اجازه هم نسته.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که د شريکانو تر مينځ د سوريانو او دروازو په ذريعه نهر تقسيم سوی وي کوم چي يې د لبنتيانو په اول کي جوړ کړي وي، نو په دې صورت کي يوه شريک ته د خپل لبنتي د سوري او دروازې د پرخوالو حق نسته؛ ځکه په دې سره هم نورو شريکانو ته ضرر رسيږي.

وكذا إذا أراد إلخ: (۳)... دريمه مسئله دا ده که يو شريک خپل د لبنتي سوری يعني دروازه (جوړه خوله) شاته کول وغواړي مثلاً ځلور ذراعه يې شاته جوړول وغواړي، نو هغه ته د دې حق او اختيار نسته؛ ځکه په دې توګه د ده پر طرف اوبه زور کوي او زياتي اوبه ورځي، او ښکاره ده چي په دې کي هم د نورو شريکانو نقصان دی.

د دې په خلاف که يو شريک د خپل لبنتي سوری (دروازه) پورته کول يا لاندي کول وغواړي، نو هغه ته د دې اختيار سته، ځکه چي د اوبو تقسيم په حقيقت کي د دې سوري د تنګوالي او پراخوالي په اعتبار سره کيږي، او په لاندي کولو يا پورته کولو سره په اوبو کي اضافه نه راځي، لهذا په دې سره نه د تقسيم په ځای کي څه بدلون راځي او نه د يوه شريک نقصان پکښي سته، نو ځکه دا جائز دي. (احسن الهدايه)

د نهر د تقسيم بدلولو يو صورت

وَلَوْكَانَتِ الْقِسْمَةُ وَقَعَتْ بِالْكُوَى او که تقسيم د لبنتيانو د سوريو [نهري دروازو] په ذريعه واقع سوی وي فَأَرَادَ أَحَدُهُمْ أَنْ يُقَسِّمَ بِالْأَيَّامِ بيا له شريکانو څخه يو وغواړي چي د ورځو په ذريعه تقسيم وکړي لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق نسته لِأَنَّ الْقَدِيْمَ يُتْرَكُ عَلٰى قِدَمِهِ ځکه چي پخواني څه پر خپل پخوا والي پرېښوول کيږي لِظُهُوْرِ الْحَقِّ فِيْهِ په هغه کي د حق ښکاره کېدلو په وجه.

اللغات: ﴿كُوىٰ﴾ جمع د كُوَّةٌ ده؛ تعريف يې د مخکښني عبارت په لغاتو کي ذکر سو.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که مخکي د شريکانو تر مينځ د نهر د اوبو تقسيم د سوريو په ذريعه سوی وي يعني چي د هريوه لبنتي ته دروازه او جوړه خوله ورکول سوې وي چي د هغه د لارې د هريوه ځمکي ته اوبه ځي. لېکن اوس په دوی کي يو شريک وغواړي چي د دې پر ځای په ورځو سره وېش او تقسيم وسي چي مثلاً يوه ورځ يو شريک ټوله نهر اخلي او کاروي او بله ورځ يې دا بل شريک اخلي... نو د داسي کولو اختيار ور ته نسته؛ ځکه د تقسيم کولو په وخت کي چي کوم أصول ټاکل سوی دی، هغه به نه ماتول کيږي، خو که ټوله شريکان په دې خوښ او راضي وي، نو بيا جائز دي.

په نهر کې د خپل لښتې د سوري او دروازې د بدلولو حکم

وَلَوْكَانَ لِكُلٍّ مِنْهُمْ كُوًى مُسَمَّاةً فِي نَهْرٍ خَاصٍّ او که په خاص نهر کې د دوی ټولو لپاره متعین سوري [دروازې] وي لَيْسَ لِوَاحِدٍ أَنْ يَزِيدَ كُوَّةً نو يوه ته دا اختيار نسته چې په سوريو کې زياتوب [اضافه] وکړي وَإِنْ كَانَ لَا يَضُرُّ بِأَهْلِهِ که څه هم هغه د نهر خلکو ته ضرر نه رسوي لِأَنَّ الشَّرِكَةَ خَاصَّةٌ ځکه چې شرکت خاص دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الْكُوَى فِي النَّهْرِ الْأَعْظَمِ په خلاف د هغه صورت کله چې سوري په يو ستر نهر کې وي لِأَنَّ لِكُلٍّ مِنْهُمْ أَنْ يَشُقَّ نَهْرًا مِنْهُ ابْتِدَاءً ځکه چې هر شريک ته ابتداءً [له شروع څخه] دا حق سته چې له ستر نهر څخه نهر [واله] راوباسي فَكَانَ لَهُ أَنْ يَزِيدَ فِي الْكُوَى بِالطَّرِيقِ الْأَوْلَى نو په سوريو کې د زياتوب کولو حق به هغه ته په درجه اولیٰ وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که نهر د څو متعينو خلکو تر مينځ مشترک وي (کوم ته چې نهر خاص وايي) او په هغه نهر کې د هر شريک پر لښتې دروازه يعني جوړه خوله (کُوّة) وي چې د هغه د لارې يې ځمکې ته اوبه ځي، اوس که له دوی څخه يو وغواړي چې د خپل لښتې دا دروازه او سوری زيات کړي يعني يوه بله دروازه هم جوړه کړي يا د اولې دروازې پر ځای بله پراخه دروازه جوړه کړي، نو دا جائز نه دي، برابره ده شريکانو ته نقصان رسيږي، که نه، ځکه چې دا شرکت خاصه دی چې په هغه کې د شريکانو له اجازت څخه بغير تصرّف کول جائز نه دي.

بخلاف إلخ: خو په ډېر غټ نهر کې داسې کول جائز دي؛ ځکه له غټ نهر څخه هر چا ته د لښتې را ايستلو حق سته (لکه مخکې چې ذکر سوه)، نو د سُوري او دروازې د زياتولو او پراخولو حق خو به په درجه اولیٰ وي.

د مشترک نهر د اوبو په وارې (شِرْب) سره خپله بله ځمکه اوبول (حکم او تفصيل)

وَلَيْسَ لِأَحَدِ الشُّرَكَاءِ فِي النَّهْرِ أَنْ يَسُوقَ شِرْبَهُ إِلَى أَرْضٍ لَهُ أُخْرَى لَيْسَ لَهَا فِي ذَلِكَ شِرْبٌ او د نهر له شريکانو څخه يوه ته دا حق نسته چې خپل شِرْب و خپل بلې ځمکې ته بوځي چې په دې نهر کې د هغې لپاره شِرْب نه وي لِأَنَّهُ إِذَا تَقَادَمَ الْعَهْدُ ځکه کله چې زمانه پخوانۍ سي [يعني يو څو وخت تېر سي. مطلب دا چې که د پورتني کار اجازت ورکول سي او بيا څه زمانه تېره سي] يُسْتَدَلُّ بِهِ عَلَى أَنَّهُ حَقُّهُ نو دا شريک به په هغه سره دليل نيسي پر دې خبره چې هغه د ده خپل حق دی وَكَذَا إِذَا أَرَادَ أَنْ يَسُوقَ

شِرْبَهُ فِي أَرْضِهِ الْأُولَىٰ حَتَّىٰ يَنْتَهِيَ إِلَىٰ هٰذِهِ الْأَرْضِ الْأُخْرَىٰ او همدارنګه کله چې هغه وغواړي چې خپل شرب و خپل اولې ځمکې ته بوځي تر دې چې هغه ورسيږي و دې بلې ځمکې ته لِأَنَّهُ يَسْتَوْفِي زِيَادَةً عَلَىٰ حَقِّهِ ځکه چې (په دې صورت کې) هغه تر خپل حق زياتي اوبه اخلي إِذِ الْأَرْضُ الْأُولَىٰ تَنْشِفُ بَعْضَ الْمَاءِ قَبْلَ أَنْ يَسْقِيَ الْأُخْرَىٰ ځکه اوله ځمکه څه اوبه جذب کوي مخکې تر دې چې هغه بله اوبه کړي (په آسانه وينا دا چې بلې ځمکې ته له اولې ځمکې څخه هغه وخت اوبه ځي کله چې اوله ځمکه څه اوبه جذب کړي. نو په دې توګه زياتي اوبه کارول کيږي. نو ځکه جائز نه دي) وَهُوَ نَظِيرُ طَرِيقٍ مُشْتَرَكٍ او دا مثال د مشترکې لارې دی (يعني دا مسئلا د مشترکې لارې د مسئلې په څېر ده چې په هغې کې څو کورو والا شريکان وي) إِذَا أَرَادَ أَحَدُهُمْ أَنْ يَفْتَحَ فِيهِ بَابًا إِلَىٰ دَارٍ أُخْرَىٰ سَاكِنُهَا غَيْرُ سَاكِنِ هٰذِهِ الدَّارِ الَّتِي مَفْتَحُهَا فِي هٰذَا الطَّرِيقِ کله چې له دوی څخه يو شريک وغواړي چې په هغه کې دروازه خلاصه کړي بل داسې کور ته چې د هغه اوسېدونکي د هغه کور له اوسېدونکي څخه بغير وي چې د هغه دروازه په دغه لاره کې وي.

اللغات: ﴿يسوق﴾ د نصر د باب مضارع ده: بېول، چلول. ﴿تقادم﴾ د تفاعل د باب ماضي ده: پخوانی کېدل، مخکې کېدل. ﴿يستوفى﴾ د استفعال د باب مضارع ده: تر لاسه کول، اخيستل. ﴿تَنْشِفُ﴾ د سمع له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع معلومي صيغه ده: جذبول (چيښل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که له شريکانو څخه يو شريک د مشترک نهر اوبه و بلې داسې ځمکې ته بيايي چې په دې نهر کې د هغې لپاره د اوبو واری (شِرْب) نه وي ثابت سوی، نو د هغه لپاره دا جائز نه دي. کنې څه زمانه وروسته به هغه وايي چې دا خو زما حق دی او د دې ځمکې لپاره مې هم شِرْب ثابت سوی دی. نو ځکه هغه به له دې څخه منع کول کيږي.

يادونه: لېکن که ټوله شريکان په دې راضي وي او اجازت ورکړي، نو جائز دي.

وكذا إلخ: فرمايي که د چا دوې ځمکې وي چې د يوې شِرْب په دې نهر کې سته او د بلې لپاره نسته. نو دا بلې ته اوبه بېول جائز نه دي. همدارنګه که يوې ځمکې ته دومره اوبه بوځي چې په هغې سره دا بله هم اوبه سي. نو دا هم جائز نه دي؛ ځکه هغه ته د يوې ځمکې د اوبولو حق سته او دلته هغه دوې ځمکې اوبه کړې دي او زياتي اوبه يې اخيستي دي؛ ځکه اوله ځمکه چې کله څه اوبه جذب کړي نو بيا له هغې څخه دا بلې ځمکې ته اوبه بيايي نو په دې توګه به د هغه اوبه د نورو شريکانو له اوبو څخه

زیاتي سي. او ښکاره خبره ده چي له خپل حق څخه زیاتي اوبه اخیستل په دې کي د نورو نقصان دی. حال دا چي یوه شریک ته هم نقصان رسول صحیح نه دي. نو ځکه دا صورتونه ناجائز دي.

یادونه: او که هغه خپل یوه ځمکه اوبه کړي او د لښتي خوله بنده کړي. بیا د دغه ځمکي په اوبو سره بله ځمکه اوبه کړي. نو جائز دي: ځکه اوس هغه له خپل حق څخه زیات نه دي اخیستي. او که خوله یې بنده نه کړي. نو جائز نه دي. (شامي ج: ۵ ص: ۲۸۶)

وهونظیرإلخ: فرمایي دا پورتنی مسئله د طریق مشترک د مسئلې په څېر ده. حاصل یې دا دی چي په یوه لاره کي څو خلک شریکان دي او دیوه شریک مثلاً د زید دوه کورونه دي چي فقط دیوه کور دروازه یې همدې لاري ته راخلاصیږي او هغه بل کور یې نورو خلکو ته ورکړی دی چي د هغه دروازه بل طرف ته ده. اوس زید غواړي چي د دې بل کور دروازه هم دغه لاري ته راخلاصه سي. نو زید ته دا حق نسته: ځکه په دې سره په مشترکه لاره کي د تېرېدونکو کسانو شمېر زیاتیږي کوم چي د ستونزي سبب ګرځي (لکه څرنګه چي یو متل دی چي: ډېری سي مرداری سي). خو که چیري په دې بل کور کي نور خلک نه اوسیږي. نو زید ته د دروازې راخلاصولو حق سته: ځکه اوس په دې سره د تېرېدونکو په شمېر کي هیڅ اضافه نه راځي.

همدغسي په پورتنی مسئله کي چي کله په نهر کي د هغه بلي ځمکي لپاره ښرب نسته. نو زید ته دا حق نسته چي هغې ته هم اوبه بوځي. د دې لپاره چي ځمکه اضافه نه سي یعني داسي ځمکه په دې نهر کي داخله نه سي چي د هغې حق پکښي نسته.

د بل شریک د اوبو د لاري بندولو حکم

وَلَوْ أَرَادَ الْأَعْلَى مِنَ الشَّرِيكَيْنِ فِي النَّهْرِ الْخَاصِّ او که د نهرِ خاص له دوو شریکانو څخه لوړ طرف والا شریک اراده وکړي وَفِيهِ كُوًى بَيْنَهُمَا او په دې نهر کي د دوی دواړو تر مینځ سوریان انهري دروازې ا مشترکه وي أَنْ يَسُدَّ بَعْضَهَا [دا اراده وکړي] چي له هغوی څخه بعضي سوري بند کړي [په آسانه وینا د پوره جملې معنیٰ داسي ده چي که د نهرِ خاص له دوو شریکانو څخه لوړ طرف والا شریک دا وغواړي چي د دوی تر مینځ له مشترکو سوریو څخه بعضي سوري بند کړي] دَفْعًا لِفَيْضِ الْمَاءِ عَنْ أَرْضِهِ له خپلي ځمکي څخه د اوبو بهېدلو د دفع کولو لپاره [یعني چي ځمکي ته یې ډېري اوبه ونه بهیږي] كَيْ لَا تَنِزَّ د دې لپاره چي ځمکه یې نمجنه [اوبلنه] نه سي لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق نسته لِمَا فِيهِ مِنَ الضَّرَرِ بِالْآخَرِ

ځکه چي په دې کي د هغه بل شريک ضرر سته وَكَذَا إِذَا أَرَادَ أَنْ يُقَسِّمَ الشِّرْبَ مُنَاصَفَةً بَيْنَهُمَا او همدارنګه کله چي يو شريک دا وغواړي چي شرب [داوبو واری] نيم په نيمه تقسيم کړي [نو هغه ته دې حق نسته] لِأَنَّ الْقِسْمَةَ بِالْكُوَى تَقَدَّمَتْ ځکه د سوريو په ذريعه تقسيم مخکي سوی دی [يعني مخکي د سوريو په ذريعه تقسيم سوی دی بغير له شرب نيمايي کولو څخه] إِلَّا أَنْ يَتَرَاضَيَا مګر دا چي کله هغوی دواړه راضي سي لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُمَا ځکه چي حق د همدوی دواړو دی وَبَعْدَ التَّرَاضِي لِصَاحِبِ الْأَسْفَلِ أَنْ يَنْقُضَ ذٰلِكَ او د دواړو له رضاء څخه وروسته لاندي طرف والا ته حق سته چي دا [يعني تقسيم بالمناصفه] مات کړي وَكَذَا لِوَرَثَتِهِ مِنْ بَعْدِهِ او همدارنګه د هغه وارثانو ته د دې حق سته تر هغه وروسته لِأَنَّهُ إِعَارَةُ الشِّرْبِ ځکه چي دا [تقسيم بالمناصفه ګواکي] شرب په اعاره ورکول دي فَإِنَّ مُبَادَلَةَ الشِّرْبِ بِالشِّرْبِ بَاطِلَةٌ ځکه چي شرب په شرب سره بدلول باطل دي.

اللغات: ﴿فيض﴾ د ضرب د باب مصدر دی: اوبه ډېرېدل او بهېدل (چي اوبه زياتي سي او وبهيږي). ﴿لَا تَنِزُّ﴾ د ضرب له بابه د نفي صيغه ده: نمجنه کېدل. ځمکه اوبلنه کېدل چي د ډېرو اوبو په وجه شنه ورسته سي (داوبو په څېر شينوالی پيدا کړي)، چي دا په ځمکه کي يو نقصان دی. ﴿مناصفة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو د بل سره نيمايي کول. نيمه په نيمه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په خاص نهر کي مثلاً دوه خلک شريکان وي چي په هغه کي خو سوري وي يعني د لښتيانو پر خوله جوړي سوي دروازې وي کوم چي د دوی تر مينځ مشترکي وي، او ديوه ځمکه لوړه او د بل يوه دلاندي وي، اوس که لوړي ځمکي والا وغواړي چي له دې دروازو او سوريو څخه يو، دوه بند کړي چي ځمکه يې له ډېرو اوبو څخه محفوظه سي ځکه داوبو په ډېرښت سره ځمکه نمجنه کيږي، نو هغه ته د دې حق نسته؛ ځکه چي دا په مشترک مکان کي د خپل ملکري له رضاء څخه بغير تصرّف کول دي. نو دا داسي جائز نه دي لکه د نهر د خولې او دروازې پراخول او غټول چي جائز نه دي.

وكذا إذا إلخ: حاصل يې دا دى چې مثلاً دا دوه شريكان چې د هغو تر مينځ تقسيم بالكوىٰ سوى دى، كه له دوى څخه يو شريک وغواړي چې تقسيم بالمناصفه وكړي يعني داسي واري (نوبت) وټاكي چې پنځه ورځي به يو شريک ټوله نهر اخلي او كاروي، او پنځه ورځي به يې بل شريک اخلي، نو دلوړ طرف والا شريک ته د داسي تقسيم كولو حق نسته؛ ځكه تر دې مخكي تقسيم د سُوريو په ذريعه سوى دى، خو كه دا بل شريک هم په دې راضي وي، نو جائز دي.

خو څرنګه چې تقسيم بالمناصفه په حقيقت كي د شِرْب په عوض كي د شِرْب تبادله ده (يعني دا شِرْب په شِرْب سره بدلول دي). او د شِرْب تبادله باطله ده. نو ځكه داسي تقسيم د شِرْب اعاره ګرځول سوې ده. او په اعاره كي مالک (مُعِير) ته هر وخت د رجوع كولو حق سته چې خپل شى واپس واخلي، نو ځكه لاندي طرف والا شريک ته دا حق سته چې هر وخت وغواړي دا تړون (تقسيم بالمناصفه) مات كړي. او تر مرګ وروسته يې وارثانو (ميراث خورو) ته هم دا حق سته چې دا تړون مات كړي او د مخكي په څېر تقسيم (تقسيم بالكُوىٰ) جاري كړي.

د اوبو په واري (شِرْب) كي د وراثت، بيع، هبې او د وصيت حكم

وَالشِّرْبُ مِمَّا يُوْرَثُ او شِرب له هغه شيانو څخه دى كوم چې ميراث كېدلاى سي [يعني ميراث پكښي جاري كېدلاى سي] وَيُوصٰى بِالْاِنْتِفَاعِ بِعَيْنِهٖ او د هغه له عَين څخه د نفع اخيستلو وصيت كېدلاى سي بِخِلَافِ الْبَيْعِ وَالْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ په خلاف د خرڅولو، هبه كولو او صدقه كولو وَالْوَصِيَّةِ بِذٰلِكَ او په خلاف د دې [بيع وغيره] د وصيت كولو حَيْثُ لَا تَجُوْزُ الْعُقُوْدُ چې دا عقدونه جائز نه دي إِمَّا لِلْجَهَالَةِ أَوْ لِلْغَرَرِ يا د مجهول والي په وجه يا د دوكې (فريب) په وجه أَوْ لِأَنَّهٗ لَيْسَ بِمَالٍ مُتَقَوَّمٍ يا په دې وجه چې شِرب متقوّم [قيمتداره] مال نه دى حَتّٰى لَا يَضْمَنَ إِذَا سَقٰى مِنْ شِرْبِ غَيْرِهٖ همدا وجه ده څوک نه ضامن كيږي كله چې د بل چا په شِرب سره [خپله ځمكه] اوبه كړي وَإِذَا بَطَلَتِ الْعُقُوْدُ او كله چې دا عقدونه باطل سوه فَالْوَصِيَّةُ بِالْبَاطِلِ بَاطِلَةٌ نو د باطل شي وصيت كول هم باطل دي

وَكَذَا لَا يَصْلُحُ مُسَمًّى فِي النِّكَاحِ او همدارنګه شرب په نکاح کې د مهر ټاکلو صلاحيت نه لري حَتَّى يَجِبَ مَهْرُ الْمِثْلِ تر دې چې [د هغه پر ځای] مهر مثل واجبيږي وَلَا فِي الْخُلْعِ او نه په خلع کې [د بدل خلع د ټاکلو صلاحيت لري] حَتَّى يَجِبَ رَدُّ مَا قَبَضَتْ مِنَ الصَّدَاقِ تر دې چې د هغه مهر واپس کول واجبيږي کوم چې ده قبضه کړی وي لِتَفَاحُشِ الْجَهَالَةِ د جهالت د زياتېدلو په وجه وَلَا يَصْلُحُ بَدَلُ الصُّلْحِ عَنِ الدَّعْوٰى [همدارنګه] شرب له دعوې څخه د بدل صلح جوړېدلو صلاحيت [هم] نه لري لِأَنَّهُ لَا يُمْلَكُ بِشَيْءٍ مِنَ الْعُقُوْدِ ځکه چې شرب په هيڅ عقد سره په ملکيت کې نه داخليږي [يعني په هيڅ معامله سره هم څوک د شرب نه سي مالک کېدلای].

اللغات: ﴿يورث﴾ د سمع له بابه د نفي مجهول صيغه ده، د مجهول والي په صورت کې يې معنیٰ ده: ميراث کېدل (يو شی ميراث پاتېدل. ميراث پکښې جاري کېدل)، ﴿مال﴾ هر هغه څه ته وايي کوم چې د انسان په ملکيت کې داخل وي (المال اسم لجميع ما يملكه الانسان)، او مال په اصل کې هغه شي ته وايي کوم ته چې طبيعت ميلان او رغبت کوي، او هر هغه شی کوم چې په پيسو رانيول سوی وي، ﴿متقوم﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: قيمتداره، قيمت لرونکی، ﴿تفاحش﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: فاحش کېدل، ډېر زياتېدل.

يادونه: د دې عبارت مسئله ابتدائي هم کېدلای سي يعني نوې جلا مسئله، او د مخکنۍ مسئلې دليل هم کېدلای سي، ﴿غرر﴾ دوکه، فرېب.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې په شرب کې وراثت هم جاري کيږي او له عين شرب څخه د نفع اخيستلو وصيت هم کول جائز دي چې دا شرب مثلاً دوې ورځې د فلانکي دی او نورې ورځې زما د وارثانو دی.

خو د شرب د بيع (خرڅولو) وصيت کول باطل دي؛ ځکه کله چې د شرب بيع، هبه او صدقه کول هيڅ هم جائز نه دي بلکې ټوله باطل دي، نو د باطل وصيت هم باطل دی؛ او د شرب د بيع د نه جائز کېدلو وجه يا خو جهالت دی يا دوکه ده چې معلومه ده په دې شرب کې به څومره اوبه راځي، يا دا چې

ښرب مالِ متقوّم نه دی. او د مالِ متقوّم نه کېدلو دلیل دا دی، چې که یو څوک د بل چا په ښرب سره خپل کښت او ځمکه اوبه کړي، نو پر هغه ضمان (تاوان) نه لازمیږي، نو په دې حوالو سره د ښرب بیع باطله ده او کله چې بیع یې باطله ده، نو وصیت به یې څنګه جائز وي؟ ښکاره ده چې هغه هم باطل دی.

یادونه: که څوک د بل چا ښرب یعني د بل چا داوبو په واري سره خپله ځمکه اوبه کړي، نو فتویٰ خو داغه ده چې ضمان پر لازم نه دی، لېکن دا بل څوک دې قاضي او حاکم ته دا قضیه پېښ کړي چې هغه تنبیه ورکړي او غندنه یې وسي او که هغه څو واره داسې وکړي، نو حاکم به سزا ورکوي، او که په بندي کولو کې یې مصلحت ووینې، نو بندیخانې ته به یې اچوي. (مجمع الأنهر ج: ۲، ص: ۵۴۳)

وکذا لایصلح إلخ: فرمایي که څوک ښرب د مهر په توګه وټاکي، نو دا تسمیه (ټاکل) صحیح نه سوه او مهرِ مثل واجبیږي، همدارنګه که په خلع کې ښرب د بدل خلع په توګه وټاکي، نو دا تسمیه هم صحیح نه سوه او د اخیستل سوي (مقبوضه) مهر واپس کول لازمیږي؛ ځکه په ښرب کې زیات جهالت دی؛ یعني داوبو راتلونکی مقدار ډېر مجهول دی چې څومره اوبه به راځي.

همدارنګه که (له قصاص څخه بغیر) یو څوک پر بل چا مثلاً پر زید یوه دعویٰ وکړي او زید پرې ښرب صلح ورسره وکړي، نو دا صلح صحیح نه سوه؛ ځکه په ښرب کې د بدل جوړېدلو صلاحیت نسته او نه په ښرب کې دا صلاحیت سته چې د یو عقد په وجه د بل چا په ملکیت کې داخل سي، نو ځکه هغه په مهر وغیره کې ټاکل او د هغه بیع وغیره جائز نه دي.

یادونه: که د قصاص په دعویٰ کې پر ښرب صلح وسي، نو قصاص خو ساقطیږي؛ ځکه د قصاص ساقطېدلو لپاره قبول پکار دی، نه مقبول شی، او قبول موجود سو.

د قرض لپاره د شرب خرڅولو حکم

وَلَا يُبَاعُ الشِّرْبُ فِي دَيْنِ صَاحِبِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ بِدُوْنِ أَرْضٍ او شرب به نه خرڅول کیږي د هغه د مالک په قرض کې د هغه تر مرګ وروسته بغیر له ځمکې څخه كَمَا فِي حَالِ حَيَاتِهِ لکه څرنګه چې د هغه د ژوند په حالت کې [داسې نه کیږي] وَكَيْفَ يَصْنَعُ الْإِمَامُ؟ او امام به [په قرض] څه کوي؟ الْأَصَحُّ أَنْ يَضُمَّهُ إِلَى أَرْضٍ لَا شِرْبَ لَهَا نو زیاته صحیح دا ده چې شرب دې د داسې ځمکې سره یوځای کړي

چي هغې لره شرب نه وي فَيَبِيعُهُمَا بِإِذْنِ صَاحِبِهَا بيا دي هغه دواړه د ځمکي د مالک په اجازت سره خرڅ کړي ثُمَّ يَنْظُرُ إِلَى قِيمَةِ الْأَرْضِ مَعَ الشِّرْبِ وَبِدُونِهِ بيا دي د ځمکي قيمت ته وګوري د شرب سره او بغير له شربه [يعني د ارض مع الشرب او ارض بدون الشرب قيمت دي سره اندازه کړي چې څومره فرق پکښې راځي] فَيَصْرِفُ التَّفَاوُتَ إِلَى قَضَاءِ الدَّيْنِ او کوم فرق چي راسي هغه دي د قرض په اداء کولو کي صرف کړي وَإِنْ لَمْ يَجِدْ ذٰلِكَ او که امام داسي ځمکه نه ومونده اِشْتَرَى عَلَى تَرِكَةِ الْمَيِّتِ أَرْضًا بِغَيْرِ شِرْبٍ نو د مړي په ترکه باندې دي داسي ځمکه رانيسي کوم چي بغير له شربه وي [يعني چي شرب نه لري] ثُمَّ ضَمَّ الشِّرْبَ إِلَيْهَا وَبَاعَهُمَا بيا دي دا شرب د هغې سره يوځای کړي او دواړه دي خرڅ کړي فَيَصْرِفُ مِنَ الثَّمَنِ إِلَى ثَمَنِ الْأَرْضِ نو د ثمن يوه حصه دي د ځمکي په ثمن کي صرف کړي وَالْفَاضِلَ إِلَى قَضَاءِ الدَّيْنِ او پاته سوې حصه دي د قرض په اداء کولو کي صرف کړي وَإِذَا سَقَى الرَّجُلُ أَرْضَهُ او کله چي يو سړی خپله ځمکه اوبه کړي أَوْ مَخَرَهَا مَاءً يا ځمکه له اوبو څخه ډکه کړي أَيْ مَلَأَهَا يعني [د مخرها معنیٰ ده چي] ډکه يې کړي فَسَالَ مِنْ مَائِهَا فِي أَرْضِ رَجُلٍ بيا د هغه د ځمکي اوبه د بل سړي ځمکي ته وبهيږي فَغَرَّقَهَا نو هغه غرقه کړي أَوْ نَزَّتْ أَرْضُ جَارِهِ مِنْ هٰذَا الْمَاءِ يا له دې اوبو څخه دده د همسايه ځمکه نمجنه سي لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ ضَمَانُهَا نو پر ده د هغې ضمان نسته لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَدٍّ فِيهِ ځکه چي دیٔ په دې کي تعدّی کونکی نه دی.

اللغات: ﴿يضمّ﴾ د ضر د باب مضارع ده: يو څه د بل څه سره يوځای کول (ملاوول)، ﴿نزّت﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معلوم صيغه ده: نمجنه کېدل، اوبلنه کېدل چي ځمکه دومر لنده خيشته سي چي (داوبريو په څېر) شينوالی پيدا کړي.

تشريح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي له ځمکي څخه بغير يوازي شِرب خرڅول جائز دي، او نه يې هبه کول او صدقه کول جائز دي، پر همدې دلته دا مسئله متفرع کوي فرمايي که پر يو سړي (مثلاً پر

زید) قرض باندي وي او هغه په همدې حالت کي مړ سي او د هغه له شرب څخه بغیر د قرض اداء کولو بله ذریعه نه وي، نو قرض به یې څنګه اداء کول کیږي؟، فرمايي د هغه شرب خو نه سي خرڅول کېدای، خو امام به د قرض اداء کولو لپاره له دې دوو صورتونو څخه یو صورت اختیاروي:

(۱)... یو صورت دا دی چي د دغه سړي (زید) د شرب سره چي کومه ځمکه نژدې وي، امام دي د هغې ځمکي د مالک په اجازت د هغې سره د ده شرب یوځای خرڅ کړی، بیا دي حساب ورته وکړي چي بغیر له شرب څخه د ځمکي قیمت څو وو، او د شرب سره یې اوس قیمت څو دی، مثلاً مځکي یې قیمت درې لکه وو، اوس د شرب سره یې قیمت څلور لکه دی، نو درې لکه دي ځمکي والا ته ورکړي او پاته لک روپۍ دي په قرض اداء کولو کي صرف کړي.

(۲)... دویم صورت دا دی چي امام دي د میت په میراث سره داسي ځمکه رانیسي چي د هغې لپاره شرب نه وي، او دا شرب دي د هغې سره یوځای خرڅ کړي، نو د شرب چي څومره قیمت جوړیږي په هغه دي قرض اداء کړي، او د ځمکي ثمن دي په میراث کي واپس کړي چي له هغه څخه یې د ځمکي رانیولو لپاره پیسې را اخیستي وي. نو دغه دواړه صورتونه اختیارولای سي.

وإذا سقى إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله یو څوک مثلاً حامد په خپل واري (شرب) کي خپله ځمکه اوبه کړي خو د هغه له ځمکي څخه اوبه سرایت وکړي د بل چا ځمکي ته ولاړي سي او هغې ته نقصان ورسوي، نو پر دغه اوبونکي کس (حامد) هیڅ ضمان او تاوان نسته؛ ځکه چي د ده له طرفه تعدّی نه ده صادر سوې؛ ځکه د ده مقصد خو د خپلي ځمکي اوبول دي، نه د بل چا ځمکه غرقول.

یادونه: ځکه د دغه کس (حامد) فعل سبب دی او پر سبب د ضمان واجبېدلو لپاره تعدّی شرط ده، او دلته تعدّی نسته، نو ځکه ضمان نه واجبیږي. لېکن دا حکم هلته دی کله چي هغه په خپل واري کي ځمکه اوبه کړې وي او د خپل حق په اندازه اوبه یې لګولي وي، خو که داسي نه وي یا په بله ورنا په غیر معتاد طریقه سره یې ځمکه اوبه کړې وي، نو دا تعدّی ده، لهذا اوس پر ده ضمان واجبیږي، پر همدې فتوی ده. (مجمع الانهر ج: ۲، ص: ۵۲۳، سکب الانهر ج: ۲، ص: ۴۹۷)



كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ

دا كتاب د څيښل کېدونکو شيانو (په بيان کي) دی

تشريح: له "مَسائل الشِّرْب" څخه وروسته د "كِتَابُ الأَشْرِبَه" د بيانولو وجه دا ده چي په دواړو کي د اشتقاق په حواله سره مناسبت دی يعني دواړه په لفظ او حروف اصلي (شرب) کي سره مشترک دي، خو څرنګه چي په شِرْب کي صرف د حلال بيان دی، او په أشربة کي د شرابو بيان هم سوی دی کوم چي حرام دي، نو ځکه اول يې شِرْب بيان کړی، اوس أشربة بيانوي.

د شراب لغوي او اصطلاحي معنیٰ

سُمِّيَ بِهَا وَهِيَ جَمْعُ شَرَابٍ دا کتاب په اشربه سره [ځکه] ونومول سو کوم چي جمع د شرابٌ ده لِمَا فِيْهِ مِنْ بَيَانِ حُكْمِهَا ځکه په دې کتاب کي د أشربه وو [د انواعو] د حکم بيان دی.

اللغات: ﴿سُمِّيَ﴾ د تفعيل له بابه د واحد مذکر ماضي مجهولي صيغه ده: مسمی کېدل، نومول کېدل.

تشريح: شراب په لغت کي چيښل کېدونکي شي ته وايي لکه اوبه، شربت او داسي نور، او د شريعت په اصطلاح کي شراب هغه څه ته وايي کوم چي په انسان کي نشه پيدا کړي او سُستِ او بې هوښه يې کړي.

او د مصنف رَحِمَهُ الله د مذکوره عبارت اصل مطلب دا دی چي دلته دا يو سوال پيدا کېدلای سي چي په دې ځای کي يې ولي د "باب" پر ځای د "کتاب" عنوان ورکړی دی، ځکه "کتاب" هغه ته وايي چي مختلفُ الانواع احکام او مسائل پکښي بيان سوی وي او أشربه خو جمعُ د شرابٌ ده چي په هغه کي دغه اړخ نه محسوسيږي. نو په جواب کي فرمايي چي د أشربه وو انواع ډېر دي او دلته د هغوی ټولو انواعو د احکامو بيان دی. نو ځکه د "کتاب" د عنوان وَرکولو ګنجايش سته.

د حرامو شرابونو بيان

قَالَ: الْأَشْرِبَةُ الْمُحَرَّمَةُ أَرْبَعَةٌ فرمايي: حرام کړل سوي شرابونه څلور دي الْخَمْرُ ① خمر (انګوري شراب) وَهِيَ عَصِيْرُ الْعِنَبِ إِذَا غَلَى وَاشْتَدَّ وَقَذَفَ بِالزَّبَدِ او دا [هغه] دانګورو نچوړل سوي اوبه [رَسْ] دي کله چي هغوی جوش وخوري [وخوټکيږي] او ځګ راوغورځوي وَالْعَصِيْرُ إِذَا طُبِخَ حَتَّى يَذْهَبَ أَقَلُّ مِنْ ثُلُثَيْهِ ② او دانګورو اُوبه چي کله هغوی پخي کړل سي تر دې چي له دوو حصو څخه يې کمه حصه ختم سي وَهُوَ الطِّلَاءُ الْمَذْكُورُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ او دا هاغه طلاء ده کوم چي په جامع صغير کي ذکر سوې ده وَنَقِيْعُ التَّمْرِ وَهُوَ السَّكَرُ ③ او د خرما نقيع او هغه سکر دي [د سکر معنیٰ ده: نشه راوستونکي] وَنَقِيْعُ الزَّبِيْبِ إِذَا اشْتَدَّ وَغَلَى ④ او د کشمشو نقيع کله چي هغه سخت [تېز] سي او جوش وخوري.

اللغات: ﴿خمر﴾ انګوري شراب. ﴿عصير﴾ له انګورو څخه را نچوړل سوي اوبه، دانګورو رَسْ. ﴿غلى﴾ د ماضي صيغه: جوشېدل، جوش خوړل، خوټکېدل. ﴿اشتدّ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: سختېدل. مراد: نشه پکښي پيدا کېدل. ﴿قذف﴾ د ضرب د باب ماضي ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: غورځول، (راپورته کول). ﴿الزبد﴾ ځګ، زګ. ﴿ثلثيه﴾ تشنيه د ثُلُثٌ او ثُلُثٌ ده: دوې دريمي حصې. يو شی چي درې حصې کړل سي، نو د هغه يوې حصې ته ثُلُث او دوو حصو ته يې ثُلُثَان وايي.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د شرابو څلور قسمونه ذکر کړي دي، او دا څلور سره چيښل کېدونکي شيان حرام دي: ① لول قسم دانګور اوبه (رَسْ) چي کله جوش وخوري (يا په بله وينا وخوټکيږي)، ځګان راپورته کړي او نشه پکښي پيدا سي، نو دا خمر (شراب) ګرځي. د "اشتداد" مطلب دا دی چي مُسکر (نشه کونکي) وګرځي. ② دويم قسم طلاء ده، يعني دانګورو اوبه چي کله دومره پخي کړل سي چي د هغه له دوو ثلثو څخه کمه حصه ختمه سي (وسوځي) يا په بله وينا دا چي له دريو حصو څخه يې څه د پاسه يوه حصه پاته سي او جوش وخوري او نشه پکښي پيدا سي، لېکن په محيط کي ذکر سوي دي چي طلاء دې ته وايي چي پوره دوې حصې (دوه ثلثه) يې ختم سي او که کم تر د دوو حصو يې ختم سي، نو هغه ته بَاذِق وايي. ③ دريم قسم نقيع تمر دی چي هغه ته سکر وايي، يعني خرماوي چي کله په اوبو کي واچول سي او څو ورځي پرېښول سي چي د هغه په وجه اوبه ګاټه سي او جوش وخوري او ځګ راپورته کړي (يعني بغير له پخولو داسي

وکړي)، نو دې ته نقيع تمر وايي. ④ څلورم قسيم نقيع زبيب دی، يعني کشمش چې کله په اوبو کې واچول سي او څو ورځې پرېښوول سي چې د هغه په وجه جوش او اشتداد پکښې پيدا سي.

د خمر په هکله څو بحثونه، اول بحث (د خمر مصداق)

أَمَّا الْخَمْرُ فَالْكَلَامُ فِيهَا فِي عَشَرَةِ مَوَاضِعَ کوم چې خمر [شراب] دي نو د هغوی په هکله لس ځايه خبره سته أَحَدُهَا فِي بَيَانِ مَائِيَّتِهَا يو له هغه [ځايو] څخه د خمرو د مائيت په بيان کې خبره ده وَهِيَ النِّيءُ مِنْ مَاءِ الْعِنَبِ إِذَا صَارَ مُسْكِرًا او دا [خمر] د انګور هغه اومې اوبه دي کله چې نشه کونکي [نشه راوستونکي] وګرځي وَهٰذَا عِنْدَنَا او دا زموږ په نيز دي وَهُوَ الْمَعْرُوفُ عِنْدَ أَهْلِ اللُّغَةِ وَأَهْلِ الْعِلْمِ او همدا د لغتپوهانو او علماؤ په نيز پېژندل سوې ده وَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ: هُوَ اِسْمٌ لِكُلِّ مُسْكِرٍ او ځيني خلګ وايي: چې خمر د هر نشه کونکي [نشه راوستونکي] شي نوم دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1]: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ» د نبي کريم ﷺ د دې فرمان په وجه: هر نشه کونکي څه خمر دي وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السلام [2]: «الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ» او د نبي کريم ﷺ [بل] فرمان دی چې: خمر له دغه دوو درختو څخه دی وَأَشَارَ إِلَى الْكَرْمَةِ وَالنَّخْلَةِ او نبي ﷺ د انګورو تاک او د خرما درختې ته اشاره وکړه وَلِأَنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنْ مُخَامَرَةِ الْعَقْلِ او ځکه چې خمر له مخامرة العقل څخه مشتق دی [چې د هغه معنیٰ ده: د عقل پټېدل او مغلوب کېدل] وَهُوَ مَوْجُودٌ فِي كُلِّ مُسْكِرٍ او دا [معنی] په هر نشه راوستونکي شي کې موجوده ده.

اللغات: ﴿النيء﴾ کچه، اُوم، ناپوخ. ﴿الكرمة﴾ د انګورو تاک. ﴿مخامرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، د دې باب يوه معنیٰ ده: پټېدل، پټول (ځکه چې شراب د انسان پر عقل پرده اچوي).

تشريح: اولاً مصنف رَحِمَهُ الله د خمر په باره کې خبره کوي، فرمايي د خمر په هکله لس (۱۰) بحثونه دي، اول بحث د خمرو د مائيت (اوبه والي) سره متعلق دی، حاصل يې دا دی چې د انګورو اومې اُوبه چې کله نشه داره وګرځي، نو بيا پر هغه د خمر اطلاق کيږي، او له دې څخه بغير چې د نورو شيانو له اوبو څخه شراب جوړ کړل سي، هغه ته خمر نه ويل کيږي، د خمر د مائيت دغه تعريف او بيان زموږ په نيز دی، او همدا د لغتپوهانو او علماؤ په مينځ کې مشهوره ده چې خمر صرف همدې ته وايي.

---

[1] تخريج: اخرجه مسلم في كتاب الأشربة، باب بيان أن كل مسكر خمر، حديث رقم:۷۳.

[2] تخريج: اخرجه مسلم في كتاب الأشربة، باب بيان أن جميع ما ينبذ، حديث رقم:۱۵.

وقال بعض الناس إلخ: فرمايي دائمه ثلاثه وو او اصحاب ظواهرو وينا دا ده چي هر مُسكِر (نشه راوستونكى شى) خمر دى، برابره ده له انګورو څخه جوړ وي يا له يو بل شي څخه، دوى پر خپل دعوىٰ درې دليلونه پېش کړي دي:

①... يو دا حديث "كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ". ②... دويم دا حديث: "الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ"، خمر له دغه دوو درختو (يعني له انګورو او خرماوو) څخه جوړيږي، له دې څخه هم معلومه سوه چي د خمر اطلاق له انګوري شرابو څخه بغير پر نورو هم كيږي. ③... درېيم دليل دا دى چي خمر له مخامرة العقل څخه مشتق دى يعني عقل مستور او مغلوبه كېدل (انسان نشه كېدل او بې هوښه كېدل)، او دا كفيت په هر نشه كونكي شراب سره پيدا كيږي، نو معلومه سوه چي هر مُسكِر خمر دي.

زموږ دلائل او د فريق مخالف جوابونه

وَلَنَا أَنَّهُ اسْمٌ خَاصٌّ بِإِطْبَاقِ أَهْلِ اللُّغَةِ فِيمَا ذَكَرْنَاهُ او زموږ دليل دا دى چي د لغتپوهانو په نېز خمر د هغه شي په هكله خاص نوم دى كوم چي موږ ذكر كړى [يعني دا خاص د انګوري شرابو نوم دى] وَلِهَٰذَا اُشْتُهِرَ اِسْتِعْمَالُهُ فِيهِ او په همدې وجه په هغه شي [انګوري شرابو] كي د خمر استعمال مشهوره دى وَفِي غَيْرِهِ غَيْرُهُ او له هغه [انګوري شرابو] څخه بغير [يعني د نورو شرابونو] په باره كي د خمر غير [نور نومان] مشهوره دي [لكه نبيذ، نقيع، سكر] وَلِأَنَّ حُرْمَةَ الْخَمْرِ قَطْعِيَّةٌ او ځكه چي د خمر حرمت [حرام كېدل] قطعي دي وَهِيَ فِي غَيْرِهَا ظَنِّيَّةٌ او په غير خمر كي حرمت ظني دى وَإِنَّمَا سُمِّيَ خَمْرًا لِتَخَمُّرِهِ او خمر د هغوى د تخمّر [توت] په وجه خمر نومول سوي دي لَا لِمُخَامَرَتِهِ الْعَقْلَ نه په دې وجه چي هغوى عقل پټوي عَلَىٰ أَنَّ مَا ذَكَرْتُمْ لَا يُنَافِي كَوْنَ الِاسْمِ خَاصًّا فِيهِ سره د دې چي كوم څه تاسي ذكر كړه هغه په خمر كي د نوم مخصوص كېدلو منافي نه دي فَإِنَّ النَّجْمَ مُشْتَقٌّ مِنَ النُّجُومِ لكه څرنګه چي نجم له نجوم څخه دى وَهُوَ الظُّهُورُ او هغه ښكاره كېدل دي [يعني د نجوم معنىٰ ده: ښكارېدل] ثُمَّ هُوَ اسْمٌ خَاصٌّ لِلنَّجْمِ الْمَعْرُوفِ بيا هغه د معلومو [ښكارېدونكو] ستورو لپاره خاص نوم دى [المراد أنه اسم خاص للظاهر المخصوص، وهو جنس الكواكب، لا أنه عَلَمٌ خاص لشخص معين من أفراد جنس الكواكب، هو الثرياء... (حاشيه)] لَا لِكُلِّ مَا ظَهَرَ نه د هر ښكاره كېدونكي شي [يعني هر ښكارېدونكي شي ته نجم نه وايي] وَهَٰذَا كَثِيرُ النَّظِيرِ او د دې مثالونه ډېر دي وَالْحَدِيثُ الْأَوَّلُ طَعَنَ فِيهِ يَحْيَىٰ بْنُ مَعِينٍ او د اول حديث په

هکله یحیی بن معین رَحِمَهُ الله طعن کړی دی وَالثَّانِيْ أُرِيْدَ بِهِ بَيَانُ الْحُكْمِ او په دویم حدیث سره د حکم بیانولو اراده سوې ده [یعني په هغه سره مقصود شرعي حکم بیانول دی. نه د وضع او لغت بیان] إِذْ هُوَ اللَّائِقُ بِمَنْصِبِ الرِّسَالَةِ ځکه چي همدا د پیغمبری د منصب لائق دي.

اللغات: ﴿إطباق﴾ د افعال د باب مصدر دی. مراد: اتفاق. ﴿تخمّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی. شارحینو د دې لفظ معنیٰ "قوت" لیکلې ده. والله اعلم. ﴿نُجُوْم﴾ دا لفظ دوه ډوله مستعمل دی: ① یو خو جمع د نَجْمٌ ده چي د هغه معنیٰ ده: ستوری. ② او بل مصدر دی د نصر له باب څخه. نَجَمَ يَنْجُمُ نُجُوْمًا: ښکاره کېدل. څرګندېدل. دلته په هغه معنیٰ سره دی. کما قال المصنف رَحِمَهُ الله. ﴿طعن﴾ د ماضي صیغه ده. له نصر او فتح دواړو څخه راځي: عیب لګول. اعتراض کول. (معجم وسیط)

تشریح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دلته زموږ دلیلونه او زموږ له طرفه د فریقِ مخالف جوابونه بیان کړي دي:

① ... زموږ اول دلیل دا دی چي لغتپوهان (اهل لغت) پر دې خبره متفق دي چي خمر صرف انګوري شراب دي؛ او طیل یې دا دی چي د خمر استعمال فقط په همدې انګوري شرابو کي معروف او مشهور دی او له دې څخه بغیر د نورو شرابونو لپاره نور نومان استعمالیږي لکه نقیع، سکر او داسي د نور.

② ... دویم دلیل دا دی چي د خمرو حرمت قطعي دی او له خمرو څخه بغیر د نورو حرمت ظني دی، نو که له انګوري شرابو څخه بغیر نورو شرابونو ته هم خمر وویل سي، نو بیا به د هغوی حرمتْ هم قطعي منل کیږي، حال دا چي دا بې دلیله خبره ده.

وإنما سمي إلخ: له دې ځایه د فریقِ مخالف (یعني د ائمه ثلاثه او اصحاب ظواهرو) د دلائلو جواب ورکوي، او دا د هغو د درېیم دلیل جواب دی چي ستاسي دا وینا چي خمر له مخامرة العقل څخه مشتق دی، داسي نه ده. بلکي د خمر لفظ له تخمّر څخه را اخیستل سوی دی چي د هغه معنیٰ ده شدت و قوت (سختي او طاقت). او د شدت وقوت معنیٰ په کامله توګه صرف په انګوري شرابو کي سته؛ ځکه دوی له ټولو څخه قوي او مقوّي دي. لهذا ستاسي استدلال باطل دی. خیر! که موږ دا تسلیم هم کړو چي خمر له مخامرة العقل څخه مشتق دی، نو بیا هم ستاسي استدلال بشپړ نه دی. لکه نَجْمٌ چي له نُجُوْمٌ څخه مشتق دی چي د هغه معنیٰ ده ظهور (ښکاره کېدل، څرګندېدل). خو د دې باوجود نجم فقط د

معلومو ستورو لپاره خاص دی او هر ښکاره شي ته نه ويل کيږي. نو همدغسي خمر که څه هم له مخامرة العقل څخه مشتق دی، خو هغه فقط دانګوري شرابو لپاره خاص دی.

والحديث إلخ: په دې سره د فريقِ مخالف د اول او دويم دليل جواب ورکوي کوم چي دوه حديثونه دي، نو فرمايي چي په اول حديث "كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ" سره دليل نيول صحيح نه دي؛ ځکه يحيىٰ بن معين رَحِمَهُ الله په دې حديث کي داسي طعن کړی دی: "لم أجده فى شىء من كتب الحديث.. همدارنګه: وهٰذا ليس بثابت من النبى ﷺ".

او پاته سو دويم حديث نو په هغه سره مقصود د خمر لغت او د خمر وضع بيانول نه دي، بلکي په هغه سره د خمر حکم بيانول مقصود دي، ځکه دا شيان خلکو ته خپله هم معلوم دي، او د نبي کريم ﷺ وينا د حکم بيانولو لپاره وي، نه د لغت بيانولو لپاره. نو د مذکوره حديث مطلب دا نه دی چي خمر هغه دي کوم چي له دې دوو شيانو څخه جوړ سي، بلکي مطلب يې شرعي حکم بيانول دي چي دا دواړه حرام دي، او د دغه خبري خو موږ هم قائل يو.

دويم بحث (انګوري اوبه کله خمر ګرځي؟)

وَالثَّانِى فِى حَدِّ ثُبُوْتِ هٰذَا الِاسْمِ او دويمه خبره د دغه نوم [خمر] د ثابتېدلو د حدّ په بيان کي ده وَهٰذَا الَّذِى ذَكَرَهُ فِى الْكِتَابِ قَوْلُ أَبِى حَنِيْفَةَ او دا کوم څه چي يې په قدوري [متن] کي ذکر کړي دي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَعِنْدَهُمَا ❁ إِذَا اشْتَدَّ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز چي کله [د انګورو رس] سخت سي صَارَ خَمْرًا نو هغه خمر ګرځي وَلَا يُشْتَرَطُ الْقَذْفُ بِالزَّبَدِ او د ځګ راغورځول شرط نه دي لِأَنَّ الِاسْمَ يَثْبُتُ بِهٖ ځکه چي اسم [خمر] په همدې اشتداد سره ثابتيږي وَكَذَا الْمَعْنَى الْمُحَرِّمُ بِالِاشْتِدَادِ او همدارنګه حراموونکې معنیٰ په همدې اشتداد سره ثابتيږي وَهُوَ الْمُؤَثِّرُ فِى الْفَسَادِ او هغه [حراموونکې معنیٰ] په فساد کي مؤثره ده. وَلِأَبِى حَنِيفَةَ: أَنَّ الْغَلَيَانَ بِدَايَةُ الشِّدَّةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي جوش خوړل [خوټکېدل] د شدت [اشتداد] ابتداء ده وَكَمَالُهَا بِقَذْفِ الزَّبَدِ وَسُكُوْنِهٖ او د شدت بشپړتيا په ځګ راغورځولو او د جوش په ختمېدلو سره

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، وبه قالت الثلاثة، وبه أخذ أبو حفص الكبير وهو الأظهر. [القول الراجح ج:٢، ص:٣١٥]

ده إِذْبِهِ يَتَمَيَّزُ الصَّافِيْ مِنَ الْكَدِرِ ځکه چې په همدې [ځګ راغورځولو] سره سوچه خمر له خرابو خمرو څخه جلا کيږي وَأَحْكَامُ الشَّرْعِ قَطْعِيَّةٌ او د شريعت احکام قطعي دي فَتُنَاطُ بِالنِّهَايَةِ نو هغوى مدار به پر انتهاء وي كَالْحَدِّ وَإِكْفَارِ الْمُسْتَحِلِّ وَحُرْمَةِ الْبَيْعِ لکه حدّ لګول او [د خمرو] حلا ګڼونکی کافر ګرځول او د بيع حرامېدل وَقِيْلَ يُؤْخَذُ فِيْ حُرْمَةِ الشُّرْبِ بِمُجَرَّدِ الاِشْتِدَادِ احْتِيَاطًا او ويـ سوي دي: چې [د خمرو] د چيښلو د حرمت په هکله به محض په اشتداد سره عمل کيږي [يعني چ په خمر کي محض اشتداد (سختي او نشه) پيدا سي نو د هغوى چيښل حراميږي].

اللغات: ﴿المؤثر﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: اثر کوونکی، اغېزمن، ﴿الكدر﴾ خړ او خراب، خيـ او خړوالی، ﴿تُناط﴾ د فتح له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: متعلق کېدل، مدار جوړېد ﴿إكفار﴾ د افعال د باب مصدر دی: کافر کول، کافر ګرځول.

تشريح: دا له هغه لسو ځايو څخه دويم ځای يا په بله وينا دويم بحث دی کوم چې د خمر سـ متعلق دي، حاصل يې دا دی چې انګوري شرابو ته کله خمر ويل کيږي؟، امام صاحب رَحِمَهُ فرمايي چې کله د انګورو په اوبو کې جوش او اشتداد پيدا سي او ځګ راپورته کړي.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز له ځګ راپورته کولو څخه مخکې فقط په اشتداد سره هم هغ ته خمر ويل کيږي؛ دوی فرمايي چې په اشتداد سره په هغه کې نشه پيدا کيږي او همدا نشه وجه حرمت ده، ځکه چې همدا نشه په فساد کې مؤثره ده (يعني له ذکر الله وغيره څخه منع کوي). لهذا اشتداد وروسته به سمدستي هغوی ته د خمر نوم ورکول کيږي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دا دی چې د شدت او نشې ابتداء خو صرف په جوش خوړلو سره کيږي (يعني کله چې د انګورو اوبه وخوټيږي، سره راپورته سي). لېکن د هغه کمال بشپړتيا په ځګ راپورته کېدلو او د جوش په ختمېدلو سره کيږي؛ ځکه د ځګ په راپورته کېدلو سر لاندينی حصه راپورته سي او پورتنی حصه لاندې سي چې په دې وجه هغه خمر کوم چې صف سوچه وي را جلا سي، او کوم چې خړ نا سوچه وي هغه لاندې کښېني.

خلاصه دا چې مدار پر جوش خوړلو (خوټېدلو) دی او د هغه ابتداء فقط غليان ده، او د غليـ انتهاء (آخر) ځګ راپورته کېدل دي، نو د احکامو مدار پر انتهاء ايښوول کيږي، لهذا خمر ته همغه وخت خمر ويل کيږي کله چې انتهائي درجې ته ورسيږي (يعني ځګ هم راوغورځوي همدارنګه احکام شرعيه قطعي وي، نو د هغوی مدار هر ځای پر انتهاء او کمال ايښوول کيږي.

ځرنګه چې په سرقه او زنا کې دي، نو همداسې په خمر کې به هم د حدّ وجوب او د هغوی استعمالونکي ته کافر ویل او د هغوی د بیع حرام کېدل د دې ټولو مدار به پر کمال او انتهاء ایښوول کیږي.

ځینې مشایخو ویلي دي چې د احتیاط تقاضا په شرابو کې دا ده چې محض د اشتداد په وجه هغوی ته حرام وویل سي.

تنبیه: ابو حفص رَحِمَهُ الله د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول اختیار کړی دی، او مختاره خبره دا ده چې دغه اختلاف فقط د حدّ په واجبېدلو کې دی، پاته سو چیښل یې بالاتفاق حرام دي. (سکب الانهر ج:۲، ص:۴۹۹)

درېیم بحث (خمر بعینه حرام دي)

وَالثَّالِثُ أَنَّ عَيْنَهَا حَرَامٌ او درېیمه خبره دا ده چې دخمرو عین [ذات] حرم دی [یعني انګوري شراب ذاتاً حرام دي] غَيْرُ مَعْلُوْلٍ بِالسُّكْرِ او په نشې [نشه کولو] سره معلول نه دي وَلَا مَوْقُوْفٍ عَلَيْهِ او نه پر نشې موقوف دي وَمِنَ النَّاسِ مَنْ أَنْكَرَ حُرْمَةَ عَيْنِهَا او ځیني خلکو د خمرو د عین [ذات] د حرمت انکار کړی دی وَقَالَ: إِنَّ السُّكْرَ مِنْهَا حَرَامٌ او ویلي یې دي: چې له هغوی ځخه نشې والا حرام دي لِأَنَّ بِهِ يَحْصُلُ الْفَسَادُ ځکه چې په همدې نشې سره فساد راځي وَهُوَ الصَّدُّ عَنْ ذِكْرِ اللهِ او هغه [فساد] د الله تعالیٰ له ذکر ځخه منع کول دي وَهٰذَا كُفْرٌ او دا کفر دي لِأَنَّهُ جُحُوْدُ الْكِتَابِ ځکه چې دا د کتابُ الله انکار دی فَإِنَّهُ سَمَّاهُ رِجْسًا ځکه الله تعالیٰ خمرو ته د رجس نوم ورکړی دی وَالرِّجْسُ مَا هُوَ مُحَرَّمُ الْعَيْنِ او رجس هغه څه دي چې عین یې حرام وي وَقَدْ جَاءَتِ السُّنَّةُ مُتَوَاتِرَةً[1] أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ حَرَّمَ الْخَمْرَ او په تواتر سره حدیث راغلی دی چې نبي کریم ﷺ خمر حرام ګرځولي دي وَعَلَيْهِ انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ او پر همدې اجماع منعقد سوې ده وَلِأَنَّ قَلِيْلَهُ يَدْعُوْ إِلٰى كَثِيْرِهِ او ځکه دخمرو قلیل د هغوی د کثیر وطرف ته داعي [بلونکي] دي وَهٰذَا مِنْ خَوَاصِّ الْخَمْرِ او دا دخمرو له خواصو ځخه دي وَلِهٰذَا تَزْدَادُ لِشَارِبِهِ اللَّذَّةُ بِالْاِسْتِكْثَارِ مِنْهُ په همدې وجه د خمرو

---

[1] تخریج: عن أنس بن مالک... فجائهم آت، فقال: إنّ الخمر قد حرّمت (بخاري شریف، باب نـزل تحـريم الخمـر ص:۹۹۱، حديث رقم:۵۵۸۲، مسلم شريف، باب تحريم الخمر، ص:۸۸۵، حديث رقم:۱۹۸۰/ ۵۱۳۱).

چيښونکي لره د هغوی په زياتو چيښلو سره لذت زياتېږي [يعني په همدې وجه د زياتو شرابو په څښاک سره د شرابي، په لذت کي اضافه راځي] بِخِلَافِ سَائِرِ الْمَطْعُوْمَاتِ په خلاف د نورو خوړل کيدونکو شيانو.

اللغات: ﴿عين﴾ د شي خپل ذات، خودي شی. ﴿معلول﴾ دا صيغه خلافُ القياس د تفعيل له بابه استعماليږي: علت بيان کړی سوی، هغه شی چي وجه او علت يې بيان کړی سي. پر علت مبني، د علت خاوند. ﴿رجس﴾ ناپاک او ګنده، مرداري. ﴿تزداد﴾ دافتعال د باب مضارع ده: زياتېدل، اضافه کېدل. ﴿استکثار﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د زياتوب طلب کول، مقدار زياتول.

تشريح: دا له "مواضع عشره" څخه درېيم ځای دی، حاصل يې دا دی چي خمر بعينهٖ حرام دي يعني عين (ذات) يې حرام دی، نه د نشې په وجه، لهذا هغه لږ خمر کوم چي نشه نه راولي، هغه هم قطعي حرام دي.

د دې په خلاف له بعضِ اهلِ شام او قدامه بن مطعون څخه نقل سوي دي چي عينِ خمر حرام نه دي بلکي د هغوی نشه حرامه ده؛ ځکه چي فساد فقط په نشه سره راځي (له فساد څخه مراد د الله جَلَّاله له ذکر وغيره څخه منع کېدل دي).

لېکن د دوی دا قول کفر دی؛ ځکه په کتابُ الله کي د دې اِنکار سوی دی، ځکه په قرآن مجيد کي خمر الله تعالیٰ "رجس" ګرځولي دي، او رجس دې ته وايي چي د هغه حرمت عيني وي يعني چي عين يې حرام وي، لکه څرنګه چي په يو بل آيت ﴿أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ﴾ کي د خنزير غوښي رجس ګرځول سوي دي او د خنزير عين حرام دی، لهذا کله چي عينِ رجس حرام دی، نو عينِ خمر به هم حرام وي او د هغه له حرمت څخه انکار کول به د کتابُ الله انکار لره مستلزم وي، او د کتابُ الله انکار کول کفر دي، نو ځکه د عينِ خمر د حرمت انکار کول به هم کفر وي.

وقد جاءت السنة إلخ: فرمايي بيا د تواتر په توګه حديث نقل سوی دی چي نبي کريم ﷺ خمر حرام ګرځولي دي او پر همدې د اُمت اجماع منعقد سوې ده.

او بل دا چي د شرابو له خواصو څخه دا دي چي د هغوی قليل د کثير وطرف ته داعي دي يعني چي لږ انسان وچيښي نو د زياتو چيښلو ته يې کشوي، همدا وجه ده شرابي کس چي هر څومره زيات شراب چيښي، نو پر هغه غمېږي نه بلکي لا نور خوند احساسوي او په لذت کي يې اضافه راځي، نو له شروع څخه د قليل پر داعي د کثير حکم جاري کړل سو او هغه حرام وګرځول سو، او له شرابو څخه بغير په نورو مُسکراتو (نشه کونکو شيانو) کي دا خبره نسته چي قليل يې د کثير وطرف ته داعي وي.

دلته د مصنف رَحِمَهُ الله پر "مطعومات" ویلو علماؤ اعتراض کړی دی چې دلته "سائر المسكرات" ویل پکار دي.

د خمر لږ مقدار هم حرام دی

ثُمَّ هُوَ غَيْرُ مَعْلُوْلٍ عِنْدَنَا بيا د خمرو حرمت [يعني هغه نص كوم چې د خمرو د حرمت په هكله وارد دی] زموږ په نېز پر علت مبني نه دی [يا په بله وينا دا چې په خمرو كې د نشې علت كېدل زموږ په نېز ضروري نه دي] حَتّٰى لَا يَتَعَدّٰى حُكْمُهُ إِلٰى سَائِرِ الْمُسْكِرَاتِ همدا وجه ده چې د هغوی حكم د نورو مُكسراتو وطرف ته متعدي نه دی وَالشَّافِعِيُّ يُعَدِّيْهِ إِلَيْهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله هغه د نورو مسكراتو وطرف ته هم متعدي كوي وَهٰذَا بَعِيْدٌ خو دا ليري قياس دی لِأَنَّهُ خِلَافُ السُّنَّةِ الْمَشْهُوْرَةِ ځكه چې دا د سنت مشهوره خلاف دي وَتَعْلِيْلٌ لِتَعْدِيَةِ الْاِسْمِ او [د امام شافعي] تعليل د نوم د متعدي كولو لپاره دی [يعني د خمرو د نوم متعدي كولو لپاره يې دا علت گرځولی دی] وَالتَّعْلِيْلُ فِي الْأَحْكَامِ لَا فِي الْأَسْمَاءِ حال دا چې تعليل په احكامو كې [معتبر] دي، نه په نومونو كې.

اللغات: ﴿معلول﴾ د تېر عبارت په لغاتو كې د دې معنیٰ ذكر سوه، ﴿مسكرات﴾ نشه كونكي (نشه راوستونكي) شرابونه، نشه يې توكي، ﴿تعليل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: علت بيانول علت ټاكل، علت والا گرځول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د خمر قليل (لږ مقدار) هم حرام دي چې د هغه حرمت په قطعي نص سره ثابت دي، او دا حرمت معلول نه دی چې كه انسان نشه كوي نو حرام دي، كنې حرام نه دي (داسې نه ده)، لهذا كله چې دا حرمت له سره معلول نه دی، نو پر هغه نور مُسكِرات نه سي قياسول كېدای چې د هغوی قليل دي هم د خمر په څېر حرام وي.

خو امام شافعي رَحِمَهُ الله د خمر حرمت معلول مني او بيا دا د حرمت حكم د ټولو مسكراتو طرف ته متعدي كوي فرمايي چې د هغوی هم قليل او كثير سره برابر دي. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا تعليل صحيح نه دی؛ ځكه يو خو د هغه دغه تعليل د سنت مشهوره خلاف دي چې خمر حرام لعينه دي او د نورو شرابونو نشه (سكر) حرام ده. او بل دا چې تعليل په احكامو كې كېږي، نه په نومونو كې. او دلته امام شافعي رَحِمَهُ الله په دغه تعليل سره گواكې غير خمر ته د خمرو نوم وركونكی دی او

بيا پر ټولو مسکراتو د خمر حکم جاري کونکی دی. لنډه دا چي تعليل په احکامو کي معتبر وي. نه په لغاتو او اسماؤ کي؛ ځکه هيڅ تعلق د قياس سره نسته.

خلورم بحث (خمر نجاست غليظه دي)

وَالرَّابِعُ أَنَّهَا نَجِسَةٌ نَجَاسَةً غَلِيظَةً او څلورمه خبره دا ده چي خمر په نجاست ِغليظه سره نجس دي كَالْبَوْلِ لکه متيازي لِثُبُوتِهَا بِالدَّلَائِلِ الْقَطْعِيَّةِ ځکه چي د خمرو نجاست په قطعي دلائلو سره ثابت دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي دا مونږ بيان کړه.

تشريح: د خمرو په هکله دا څلورم بحث دی چي خمر د متيازو په څېر نجاست ِغليظه دي؛ ځکه د خمرو نجاست په قطعي دلائلو سره ثابت دی. او په قطعي دلائلو سره ثابت سوی نجاست غليظه وي، نو ځکه د خمرو نجاست به هم نجاست غليظه وي.

پنځم بحث (څوک چي خمر حلال ګڼي هغه کافر دی)

وَالْخَامِسُ أَنَّهُ يُكَفَّرُ مُسْتَحِلُّهَا او پنځمه خبره دا ده چي د خمرو حلال ګڼونکی کافر کيږي لِإِنْكَارِهِ الدَّلِيلَ الْقَطْعِيَّ ځکه چي هغه د قطعي دليل انکار کوي

اللغات: ﴿مستحل﴾ د استفعال د باب فاعل دی: حلال ګڼونکی، روا بلونکی.

تشريح: دا پنځم بحث دی چي څوک خمر حلال ګڼي، هغه کافر دی، ځکه د خمرو حرمت قطعي دی او د قرآن په آيت سره ثابت دي کوم چي قطعي دليل دی، نو د خمرو حلال ګڼونکی ګواکي د کتابُ الله انکار کوي، او د کتابُ الله منکر کافر دی. كذا هٰذا.

شپږم بحث (خمر د مسلمان په حق کي متقوّم مال نه دی)

وَالسَّادِسُ سُقُوطُ تَقَوُّمِهَا فِي حَقِّ الْمُسْلِمِ او شپږمه خبره د مسلمان په حق کي د خمرو د تقوّم ساقطېدل دي حَتّٰى لَا يَضْمَنَ مُتْلِفُهَا وَغَاصِبُهَا تر دې چي د خمرو پر تلفونکي او غاصبونکي کس ضمان نه لازميږي وَلَا يَجُوزُ بَيْعُهَا او د خمرو بيع هم جائز نه ده لِأَنَّ اللهَ تَعَالٰى لَمَّا نَجَّسَهَا فَقَدْ أَهَانَهَا ځکه کله چي الله تعالیٰ خمر نجس [ناپاک] ګرځولي دي نو دا يې هغوی سپک [او بې ارزښته] ګرځولي دي وَالتَّقَوُّمُ يُشْعِرُ بِعِزَّتِهَا حال دا چي تقوّم [قيمتداره کېدل] د هغوی د عزت خبر ورکوي

وَقَالَ الطَّيْلَا [1]: «إِنَّ الَّذِي حَرَّمَ شُرْبَهَ نبي ﷺ فرمايلي دي: او کوم ذات چي د خمرو چيښل حرام کړي دي حَرَّمَ بَيْعَهَا وَأَكْلَ ثَمَنِهَا» هغه ذات د هغوی خرڅول او د هغوی ثمن خوړل هم حرام کړي دي وَاخْتَلَفُوا فِي سُقُوطِ مَالِيَّتِهَا مشايخو رَحِمَهُمُ الله د خمرو د مال والي په هکله اختلاف کړی دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ مَالٌ خو صحيح دا ده چي هغوی مال دی لِأَنَّ الطِّبَاعَ تَمِيلُ إِلَيْهَا ځکه طبيعتونه د خمرو وطرف ته ميلان کوي وَتَضِنُّ بِهَا او د هغوی په هکله بخل کوي.

اللغات: ﴿تقوّم﴾ د تفعّل مصدر دی: متقوّم کېدل، قيتمداره کېدل. ﴿مال﴾ هر هغه څه ته وايي کوم چي د انسان په ملکيت کي داخل وي (المال اسم لجميع ما يملكه الانسان). او مال په اصل کي هغه شي ته وايي چي د طبيعت ميلان او رغبت ورته کيږي. ﴿إعزاز﴾ د افعال د باب مصدر دی: عزت ورکول. احترام کول. ﴿تَضِنُّ﴾ د ضرب له بابه د مضارع صيغه ده. د سمع له بابه هم ويل کېدای سي يعني "تَضَنُّ": بخل کول.

تشريح: دا شپږم بحث دی چي د مسلمان په حق کي خمر نا قيمتداره مال دی، لهذا که څوک د يو مسلمان کس شراب چپه کړي، يا يې غصب کړي، نو د عدمِ تقوّم په وجه ضمان (تاوان) نه پر واجبيږي. همدارنګه د عدمِ تقوّم (نامتقوّم والي) په وجه د مسلمان لپاره د خمر بيع حرام ده؛ او د عدمِ تقوّم دليل دا دی چي الله تعالیٰ هغوی ناپاک او قابلِ اهانت ګرځولي دي، او د هغوی تقوّم (متقوّم کېدل) د هغوی عزت ثابتوي، نو ځکه يې بيع جائز نه ده.

په حديث کي ذکر سوي دي چي کوم ذات شراب حرام کړي دي، هاغه ذات د خمرو بيع او د هغوی ثمن خوړل هم حرام کړي دي. له دې څخه هم معلومه سوه چي خمر غيرِ متقوّم دي.

پاته سوه دا خبره چي خمر مال دي، که نه؟، په دې کي د فقهاؤ اختلاف دی. مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي اصح دا ده چي مال خو دی، لېکن غيرِ متقوّم مال دی؛ ځکه چي پر خمرو د مال تعريف صادقيږي، ځکه مال هغه څه ته وايي چي د طبيعت ميلان او رغبت ورته کيږي او چي د هغه په باره کي طبيعت بخل کوي.

يادونه: د خمر په عدمِ تقوّم سره دا نه ثابتيږي چي د هغوی تلفول او ضايع کول دي روا وي. خو که څوک هغوی تلف کړي يا يې غصب کړي، نو ضمان نه پر واجبيږي. (شامي ج: ۵. ص: ۲۸۹)

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد بمعناه، باب في ثمن الخمر والميتة، ص: ۵۰۴، حديث رقم: ۳۴۸۸.

د شرابو د ثمن حكم او تفصيل

وَمَنْ كَانَ لَهُ عَلٰى مُسْلِمٍ دَيْنٌ او د كوم مسلمان چي پر بل مسلمان قرض باندي وي فَأَوْفَاهُ ثَمَنَ خَمْرٍ بيا هغه [مقروض مسلمان] د خمرو په ثمن سره قرض اداء كړي لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْخُذَهُ وَلَا لِلْمَدْيُوْنِ أَنْ يُؤَدِّيَهُ نو مسلمان ته د هغه اخيستل حلال نه دي او نه د مقروض لپاره د هغه وركول حلال دي لِأَنَّهُ ثَمَنُ بَيْعٍ بَاطِلٍ ځكه چي دا د بيع باطل ثمن دي وَهُوَ غَصْبٌ فِيْ يَدِهِ أَوْ أَمَانَةٌ او دا د هغه په قبضه كي يا غصب دى يا امانت دى عَلٰى حَسَبِ مَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ د هغه تفصيل مطابق كوم چي فقهاؤ په دې كي اختلاف كړى دى كَمَا فِيْ بَيْعِ الْمَيْتَةِ لكه د مردار په بيع كي وَلَوْ كَانَ الدَّيْنُ عَلٰى ذِمِّيٍّ او كه قرض پر ذمي باندي وي فَإِنَّهُ يُؤَدِّيْهِ مِنْ ثَمَنِ الْخَمْرِ نو هغه يې د خمرو په ثمن سره اداء كولاى سي وَالْمُسْلِمُ الطَّالِبُ يَسْتَوْفِيْهِ او مسلمان قرضخواه هغه اخيستلاى سي لِأَنَّ بَيْعَهَا فِيْمَا بَيْنَهُمْ جَائِزٌ ځكه د خمرو بيع د ذميانو تر مينځ جائز ده.

اللغات: ﴿أَوْفٰى﴾ د افعال د باب ماضي ده: پوره اداء كول. ﴿اسـتيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دى: پوره اخيستل. ترلاسه كول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چي د مردار (مردار سوي حيوان) او د خمرو بيع باطله ده. او په باطلو بيعو او معاملاتو كي چي د بائع لاس ته كوم ثمن راغلى وي. نو هغه ثمن د بعضي فقهاؤ په نيز غصب دى او د بعضو په نيز امانت دى. او په دې دواړو سره خپل قرض اداء كول جائز نه دي. لهذا كه يو مسلمان پر بل مسلمان (مثلاً پر زيد) قرض باندي وي. او مقروض (زيد) د خمرو په ثمن سره دا قرض اداء كړي. نو نه يې اخيستل جائز دي او نه په قرض كي وركول: ځكه دا خو يا غصب دى يا امانت دى.

خو د ذميانو په خپل مينځ كي د خمرو معامله جائز ده. لهذا كه پر يو ذمي كس د مسلمان قرض باندي وي او ذمي د خمرو په ثمن سره قرض اداء كړى. نو د مسلمان لپاره د هغه اخيستل جائز دي: ځكه چي دا د بيع باطل ثمن نه دي.

اووم بحث (له خمر څخه نفع اخيستل حرام دي)

وَالسَّابِعُ حُرْمَةُ الْإِنْتِفَاعِ بِهَا او اوومه خبره په شرابو سره د نفع اخيستلو حرامېدل دي لِأَنَّ الْإِنْتِفَاعَ بِالنَّجِسِ حَرَامٌ ځكه په شرابو سره نفع اخيستل حرام دي وَلِأَنَّهُ وَاجِبُ الْإِجْتِنَابِ او ځكه چي له خمرو څخه ځان ساتل واجب دي وَفِي الْإِنْتِفَاعِ بِهِ اقْتِرَابٌ او له خمرو څخه په نفع اخيستلو كي هغوى ته نژدې كېدل سته.

اللغات: ﴿انتفاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نفع اخيستل، فايده حاصلول. ﴿اجتناب﴾ د افتعال د باب مصدر دی: بچ کېدل، ځان ساتل (ځان ګوښته کول)، پرېز کول. ﴿اقتراب﴾ مخکنی صيغه ده: نژدې کېدل، نژدېکت.

تشريح: د خمرو په هکله دا اُووم بحث دی چې له خمرو څخه نفع اخيستل حرام دي، مثلاً څارويو ته ورکول، په دارو درمل کې کارول، يا په مقعده يا د ذکر په سوري کې اچول دا ټول حرام دي؛ ځکه چې خمر نجس دي او له نجس شي څخه نفع اخيستل حرام دي، او بل دا چې د دې آيت ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ﴾ پر بناء له خمرو څخه اجتناب کول او ليرې کېدل واجب دي، او دا ښکاره خبره ده چې له هغوی څخه په نفع اخيستلو کې هغوی ته نژدېکت لازمېږي، نو په دې حواله سره هم له خمرو څخه څه نفع اخيستل حرام دي.

اتم بحث (د خمرو د حد بيان)

وَالثَّامِنُ أَنْ يُحَدَّ شَارِبُهَا او اتمه خبره دا ده چې پر شرابي به حد جاري کول کېږي وَإِنْ لَمْ يَسْكَرْ مِنْهَا که څه هم هغه په شرابو سره نشه نه سي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: «مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې خمر وڅيښي فَاجْلِدُوهُ نو هغه په دُرو سره ووهئ! فَإِنْ عَادَ او که بيا يې وڅيښي فَاجْلِدُوهُ نو بيا يې په دُرو ووهئ! فَإِنْ عَادَ او که بيا يې وڅيښي فَاجْلِدُوهُ نو بيا يې په دُرو ووهئ! فَإِنْ عَادَ او که بيا يې [دريم ځل] وڅيښي فَاقْتُلُوهُ» نو قتل يې کړئ! إِلَّا أَنَّ حُكْمَ الْقَتْلِ قَدِ انْتَسَخَ لېکن د قتل حکم منسوخ سوی دی فَبَقِيَ الْجَلْدُ مَشْرُوعًا نو په دُرو وهل مشروع پاته سوه وَعَلَيْهِ انْعَقَدَ إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ او پر همدې د صحابه وو اجماع منعقد سوې ده وَتَقْدِيرُهُ ذَكَرْنَاهُ فِي الْحُدُودِ او د دې [حد] مقدار هغه دی کوم چې موږ په كتابُ الحدود کې بيان کړی دی.

اللغات: ﴿يحدّ﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر غائب مضارع مجهولي صيغه ده: حد جاري کول، د حد سزا ورکول. ﴿فاجلدوه﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: په دُرو وهل، د دُرې وهل. ﴿تقدير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: اندازه کول، مقدار ټاکل.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب إذا تتابع في شرب الخمر ص:۶۳۲، حديث رقم:۴۴۸۲.

تشریح: د خمرو په هکله دا اتم بحث دی چې د خمرو پر چیښونکي به حدّ جاري کیږي. لکه په هغه حدیث کې چې راغلي دي کوم چې په عبارت کې ذکر سو.

لېکن قتل خو بالاجماع منسوخ دی. نو فقط په دُرو سره وهل مشروع پاته سوه، پر همدې د صحابه وو رَحِمَهُمُ الله اجماع ده، چې د هغه مقدار د آزاد کس لپاره اتیا (۸۰) دُرې دي او د غلام لپاره څلوېښت (۴۰) دُرې دي. د هدایه جلد ثاني په کتابُ الحدود کې په تفصیل سره د دې بیان سوی دی.

نهم بحث (د پخو شرابو حکم)

وَالتَّاسِعُ أَنَّ الطَّبْخَ لَا يُؤَثِّرُ فِيْهَا او نهمه خبره دا ده چې پخول په خمرو کې هیڅ اثر نه کوي [یعني په پخولو سره حلال نه ګرځي] لِأَنَّهُ لِلْمَنْعِ مِنْ ثُبُوتِ الْحُرْمَةِ ځکه پخول د حرمت ثابتېدو د منع کولو لپاره دي لَا لِرَفْعِهَا بَعْدَ ثُبُوْتِهَا نه تر ثابتېدو وروسته د هغه دلیري کولو لپاره إِلَّا أَنَّهُ لَا يُحَدُّ فِيْهِ مَا لَمْ يَسْكَرْ مِنْهُ خو د پخو شرابو په چیښلو کې به تر هغه وخت حدّ نه جاري کول کیږي تر څو چیښونکی په هغوی سره نشه نه سي عَلَى مَا قَالُوْا لکه څرنګه چې مشایخو فرمایلي دي لِأَنَّ الْحَدَّ بِالْقَلِيْلِ فِي النِّيْءِ خَاصَّةً ځکه دلږو شرابو په وجه حدّ جاري کېدل خاص په اُومو شرابو کې دي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَهٰذَا قَدْ طُبِخَ او دا شراب خو پاخه کړل سوي دي.

اللغات: ﴿طبخ﴾ د فتح د باب مصدر دی: پخول.

تشریح: د خمرو په هکله دا نهم بحث دی چې که خمر پاخه کړل سوي وي، نو هم د هغوی حرمت باقي پاتېږي او په طبخ (پخولو) سره د هغوی په حکم کې هیڅ بدلون نه راځي. یعني څرنګه چې تر پخولو مخکې حرام دي، همداسې تر پخولو وروسته هم حرام دي، ځکه پخول د د نا ثابت سوي حرمت له ثابتېدو څخه مانع خو دي، لېکن د ثابت سوي حرمت لپاره رافع او ختمونکي نه دي. یعني په کوم شي کې چې یو وار حرمت ثابت سي، نو بیا په پخولو سره دا حرمت نه ختمیږي. او د خمرو حرمت همداسې دی چې له مخکې څخه (یعني تر پخولو مخکې) پکښې ثابت شده دی، نو ځکه په پخولو سره به دا حرمت نه ختمیږي، بلکې باقي به پاتېږي.

خو د پخولو فایده دا ده چې که څوک پاخه کړل سوي شراب وچیښي، نو تر څو چې په دې سره نشه نه سي، تر هغه وخته به حدّ نه پرې جاري کیږي؛ ځکه د خمرو تلسا ـ کثیر وطرف ته داعی

کېدل او قليل د حدّ موجب کېدل دا د انګورو د هغه اوبو سره خاص دي کوم چې پخې کړل سوي نه وي بلکې د اُوموالي په حالت کې جوش او اشتداد پکښې راغلی وي، او دلته خمر پاخه کړل سوي دي، نو ځکه د هغوی حکم به د خالص شرابو له حکم څخه جلا وي او د هغوی په چيښلو سره به هغه وخت حدّ جاري کيږي. کله چې چيښونکی مست او نشه کړي.

لسم بحث (د خمرو سرکه جوړول حرام دي)

وَالْعَاشِرُ جَوَازُ تَخْلِيْلِهَا او لسمه خبره د خمرو د سرکې جوړولو جائز کېدل دي [چې هغوی سرکه کړل سي] وَفِيْهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَسَنَذْكُرُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او هغه به موږ ان شاء الله تعالىٰ نژدې [څه وروسته] ذکر کړو هٰذَا هُوَ الْكَلَامُ فِي الْخَمْرِ همدا وه د خمرو په هکله خبره.

اللغات: ﴿تخليل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: خَلَّلَ يُخَلِّلُ تَخْلِيْلًا: سرکه جوړول، سرکه ګرځول.

تشريح: د خمرو د لسو بحثونو څخه دا لسم او آخري بحث دی، حاصل يې دا دی چې زموږ په نيز له خمرو څخه سرکه جوړول جائز دي، لېکن په دې هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، چې د هغه وضاحت د دې باب په آخر کې بيان سوی دی، لهذا تاسي څه صبر وکړئ!، ان شاء الله څو صفحې وروسته به هغه ستاسي مخ ته راسي.

دا سوه د خمرو په هکله لس بحثونه کوم چې پر دې ځای ختم سول.

د باذق او منصف شرابو بيان

وَأَمَّا الْعَصِيْرُ إِذَا طُبِخَ حَتّٰى يَذْهَبَ أَقَلُّ مِنْ ثُلُثَيْهِ وَهُوَ الْمَطْبُوْخُ أَدْنٰى طَبْخَةٍ هر چې د انګورو رَس [نچوړل سوي اوبه] چې کله پخې کړل سي تر دې چې د هغوی دوه ثلثه ختم سي او دا هغه دي کوم چې معمولي پخول کيږي وَيُسَمّٰى الْبَاذَقَ او په باذق سره نومول کيږي وَالْمُنَصَّفُ وَهُوَ مَا ذَهَبَ نِصْفُهُ بِالطَّبْخِ او [بل] منصف شراب او دا هغه دي چې د پخولو په وجه يې نيمه حصه ختمه سوې وي فَكُلُّ ذٰلِكَ حَرَامٌ عِنْدَنَا نو دا ټوله [يعني باذق او منصف دواړه] زموږ په نيز حرام دي إِذَا غَلٰى وَاشْتَدَّ وَقَذَفَ بِالزَّبَدِ کله چې جوش وخوري او سخت سي او ځګ راوغورځوي أَوْ إِذَا اشْتَدَّ عَلَى الِاخْتِلَافِ يا کله چې محض سخت سي د [مخکني] اختلاف مطابق وَقَالَ الْأَوْزَاعِيُّ: إِنَّهُ مُبَاحٌ او

امام اوزاعي رَحِمَهُ الله ويلي دي: چي دا مباح دي وَهُوَقَوْلُ بَعْضِ الْمُعْتَزِلَةِ او همدا د بعضي معتزله وو قول دی لِأَنَّهُ مَشْرُوبٌ طَيِّبٌ ځکه دا يو پاک شراب [شربت] دي وَلَيْسَ بِخَمْرٍ او خمر نه دي وَلَنَا: أَنَّهُ رَقِيقٌ مُلِذٌّ مُطْرِبٌ زموږ دليل دا دی: چي دا نرم، لذت داره او خمار داره [يا مستونکي] دي وَلِهٰذَا يَجْتَمِعُ عَلَيْهِ الْفُسَّاقُ او په همدې وجه پر هغه فاسقان جمع کيږي فَيَحْرُمُ شُرْبُهُ نو ځکه د هغه چيښل به حرام وي دَفْعًا لِلْفَسَادِ الْمُتَعَلِّقِ بِهِ د هغه سره د متعلق فساد ليري کولو په وجه.

اللغات: ﴿العصير﴾ د انګورو نچوړل سوي اوبه (رَس). ﴿غلى﴾ او غَلَا: جوش خوړل. جوشېدل (خوټکېدل). ﴿اشتد﴾ د افتعال د باب ماضي ده: سختېدل. ګاټه کېدل. ﴿مباح﴾ د افعال د باب مفعول دی: روا، جائز، عديم الحرج. ﴿رقيق﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ دهٔ: نرم. باريک. ﴿مُلِذ﴾ د افعال د باب فاعل دی: لـذت بخښونکی، خوند ورکونکی. ﴿مطرب﴾ مخکښی صيغه ده: خمار او خوشالي را وستونکی شی، چُستونکي او مستونکي، د طَرَب معنیٰ صاحب د معجم داسي کړې ده: نَشْوَةٌ تُصَاحِبُهَا خِفَّةٌ لِشِدَّةِ السُّرُوْرِ (يعني هغه معمولي غوندي نشه يا چُستي چي د بدن سپکتيا هم ور سره وي کوم چي د سخت سرور او خوشحالی په نتيجه کي څرګند سي). ﴿فساق﴾ جمع د فَاسِقٌ ده: بدکار (بد عمله). ګنهګار.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي حرام شرابونه څلور قسمه دي چي له هغوی دويم قسم طلاء ده کوم ته چي باذق هم وايي. اوس له دې ځايه د هغه تعريف او حکم بيانوي. حاصل يې دا دی که د انګورو اوبه دومره مقدار پخې کړل سي چي د هغوی له دوو ثلثو څخه کمه حصه ختمه سي يا په بله وينا دا چي له دريو حصو څخه يې څه دپاسه يوه حصه پاته سي. نو په عربي کي هغه ته باذق او په فارسي کي باده ورته وايي. او که د انګورو اوبه دومره پخې کړل سي چي نيم مقدار يې ختم سي. نو هغه ته مُنَصَّف وايي. د دواړو حکم زموږ په نيز دا دی چي چيښل يې حرام دي. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز چي کله په دوی کي جوش. اشتداد (نشه) او ځګ پيدا سي. نو بيا حرمت ور سره متعلق کيږي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز محض په اشتداد سره حرمت ور سره متعلق کيږي او ثابتيږي.

وقال الأوزاعي إلخ: د دې حاصل دا دی چي زموږ په نيز باذق او منصف دواړه حرام ګرځول سوي دي، لېکن امام اوزاعي رَحِمَهُ الله هغوی مباح ګرځولي دي او د بعضي معتزله وو هم دغه قول دی: د دوی دليل دا دی چي دا خو پاک شربت دی. خمر نه دي: خو زموږ دليل دا دی چي په هغوی کي د شرابو په

ځېر نرمي او لذت ستـه او هغـسي سرور او مستي پکښي ستـه، همدا وجـه ده چي فسـاق يې لېوالـه دی چي په ډېر شوق سره پر دې راجمع وي او په ډېر شوق سره يې چيښي. لهذا د هغوی سره هـم فساد متعلق دی (وهو الصدّ عن ذكر الله...)، او د فساد ازاله همغه وخت کيږي کله چي هغوی حرام وګرځول سي، لهذا د فساد دفع کولو په خاطر به هغوی دواړه حرام وي.

يادونه: که چيري دوه ثلثه يې ختم سي او فقط يو ثلث پاته سي، نو که صرف خوږ والی لري، بيا د هغه چيښل حلال دي بالاتفاق، او کله چي جوش او اشتداد پکښي پيدا سي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حلال دی او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز حلال نه دی. (شامي ج: ٥، ص: ٢٩٠)

د نقيع تمر بيان

وَأَمَّا نَقِيعُ التَّمْرِ وَهُوَ السَّكَرُ او پاته سو نقيع تمر او هغه سکر دي [يعني د هغه بل نوم سکر دی] وَهُوَ النِّيءُ مِنْ مَاءِ التَّمْرِ أَيِ الرُّطَبِ کوم چي د پخې خرما اُومې اوبه دي فَهُوَ حَرَامٌ مَكْرُوهٌ نو دا حرام مکروه دي وَقَالَ شَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللهِ: إِنَّهُ مُبَاحٌ او شريک بن عبد الله رَحِمَهُ الله وايي: چي دا مباح [روا] دي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: ﴿تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا﴾ [النحل: ٦٧] ځکه الله تعالىٰ فرمايلي دي: [او ستا سي لپاره وعظ او عبرت دی په مشروباتو کي د خرماوو او انګورو] چي تاسي له هغه څخه سکر او ښه رزق جوړوئ اِمْتَنَّ عَلَيْنَا بِهِ الله تعالىٰ د دې په ذريعه پر موږ د احسان يادونه کړې ده وَهُوَ بِالْمُحَرَّمِ لَا يَتَحَقَّقُ او احسان يادونه په حرام شي سره نه متحقق کيږي وَلَنَا إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ او زموږ دليل د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اجماع ده وَيَدُلُّ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ او پر دې هغه حديث هم دلالت کوي کوم چي موږ مخکي روايت کړی وَالْآيَةُ مَحْمُولَةٌ عَلَى الِابْتِدَاءِ وَكَانَتِ الْأَشْرِبَةُ مُبَاحَةً كُلُّهَا او آيت د اسلام پر ابتداء محمول دی چي په هغه وخت کي ټوله شرابونه مبـ وه وَقِيلَ: أَرَادَ بِهِ التَّوْبِيخَ او ويل سوي دي: چي له دې څخه توبيخ مراد دی مَعْنَاهُ وَاللهُ أَعْلَمُ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَتَدَعُونَ رِزْقًا حَسَنًا چي د هغه مطلب (والله أعلم) دا دی چي تاسي له هغه څخه سکر جوړوی او ښه رزق [يې] پرېږدی.

اللغات: ﴿نقيع التمر﴾ پخه (يانيم پخته) خرما چي په اوبو کي واچول سي او څو ورځي پرېښوول سي نو له هغه څخه چي کوم رَس او جوس جوړ سي، هغه ته نقيع تمر وايي. ﴿التمر﴾ کجوره، وچه

خرما، چواره. ﴿الرطب﴾ پخه خرما، تازه لنده خرما، خيشته خرما. ﴿امتن﴾ د افتعال د باب ماضي ده: احسان اچول، احسان وربادول، منت باري. ﴿التوبيخ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: رټنه او غندنه.

تشريح: په دې عبارت کې د حرامو شرابو دريم قسم بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چې د پخې (يا نيم پخته) خرما په رَسْ او اوبو کې چې کله جوش او نشه راسي او ځګ راپورته کړي، نو دا هم حرام او مکروه دي.

يادونه: د پخې لندې خرما شرط يې ځکه لګولی دی چې که وچه خرما په اوبو کې واچول سي او له هغه څخه رَسْ او جوس جوړ کړل سي چې نبيذ التمر ورته وايي، هغه د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حلال دی.

وقال شريك إلخ: شريک بن عبد الله النخعي د امام صاحب رَحِمَهُ الله له شاګردانو څخه دی. هغه نقيع التمر (سکر) مباح ګرځولی دی، او په هغه آيت سره يې دليل نيولی دی کوم چې په عبارت کې ذکر سو: ﴿وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا﴾. [النحل: ۶۷]

خو زموږ دليل د هغه په خلاف د صحابه وو اجماع ده. او بل دليل دا دی چې مخکې کوم حديث ذکر سو يعني "الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ". په هغه سره هم د نقيع تمر حرمت ثابت دی.

او پاته سو مذکوره آيت نو هغه د اسلام پر ابتدائي زمانې محمول دی چې په هغه وخت کې ټول شرابونه مباح وه. او ځيني حضراتو ويلي دي چې له دغه آيت څخه مراد توبيخ دی چې الله جَلَّ جَلَالُهُ تاسې د خرماؤ وغيره په نعمتو سره نازولي ياست او تاسې پر ځای د دې چې د الله نعمتونه په سمه طريقه استعمال کړی، له هغه څخه سکر جوړوی او د هغه ښه خوړنه پرېږدی او د نقيع په توګه يې چيښئ.

د نقيع الزبيب بيان، او د أشربه اربعه وو په حرمت کې د فرق وجه

وَأَمَّا نَقِيْعُ الزَّبِيْبِ وَهُوَ النِّيْءُ مِنْ مَاءِ الزَّبِيْبِ او کوم چې نقيع زبيب دي او هغه د کشمشو اومې اوبه دي فَهُوَ حَرَامٌ إِذَا اشْتَدَّ وَغَلَى نو هغه حرامي دي کله چې سختې سي او جوش وخوري وَيَتَأَتَّى فِيْهِ خِلَافُ الْأَوْزَاعِيِّ او په دې کې [هم] د امام اوزاعي رَحِمَهُ الله اختلاف پيدا کيږي وَقَدْ بَيَّنَّا الْمَعْنَى مِنْ قَبْلُ او وجه [دليل] تر دې مخکې موږ بيان کړی دی إِلَّا أَنَّ حُرْمَةَ هٰذِهِ الْأَشْرِبَةِ دُوْنَ حُرْمَةِ الْخَمْرِ خو د دغه شرابونو حرمت د خمرو له حرمت څخه کم دی حَتّٰى لَا يَكْفُرُ مُسْتَحِلُّهَا تر دې چې د هغوی

حلال ګڼونکی نه کافر کیږي وَيَكْفُرُ مُسْتَحِلُّ الْخَمْرِ او د خمرو حلال ګڼونکی کافر کیږي لِأَنَّ حُرْمَتَهَا اِجْتِهَادِيَّةٌ ځکه چې د هغوی [نورو شرابو] حرمت اجتهادي [مختلف فيه] دی وَحُرْمَةُ الْخَمْرِ قَطْعِيَّةٌ او د خمرو حرمت قطعي دی وَلَا يَجِبُ الْحَدُّ بِشُرْبِهَا حَتّٰى يَسْكَرَ او د هغوی په چیښلو سره حدّ نه واجبیږي تر دې چې چیښونکی نشه سي وَيَجِبُ بِشُرْبِ قَطْرَةٍ مِنَ الْخَمْرِ خو د خمرو په یوه څاڅکي سره هم حدّ واجبیږي وَنَجَاسَتُهَا خَفِيْفَةٌ فِي رِوَايَةٍ او د هغوی [نورو شرابو] نجاست د یوه روایت مطابق نجاستِ خفیفه دی وَغَلِيْظَةٌ فِي أُخْرٰى او د بل روایت مطابق نجاستِ غلیظه دی وَنَجَاسَةُ الْخَمْرِ غَلِيْظَةٌ رِوَايَةً وَاحِدَةً خو د خمرو نجاست په یوه روایت سره [په اتفاق] نجاستِ غلیظه دی.

اللغات: ﴿نقيع الزبيب﴾ کشمش او وشکې چې په اوبو کې واچول سي او څو ورځې پرېښوول سي نو له هغه څخه چې کوم رَسْ جوړ سي، هغه ته نقیع زبیب وايي ﴿زبيب﴾ کشمش (وچ کړل سوي انګور، وشکې)، ﴿النيء﴾ کچه، اُوم، ناپوخ، ﴿خفيفة﴾ سپک، د کمې درجې، ﴿غليظة﴾ سخت، درووند.

تشریح: د حرامو شرابو له څلورو اقسامو څخه دا څلورم قسم دی، حاصل یې دا دی چې د کشمشو اُوم (ناپوخ کړل سوی) رَسْ چې کله جوش او اشتداد (سختي او نشه) پکښې پیدا سي، نو زموږ په نیز هغه حرام او ناجائز دي، لېکن امام اوزاعي رَحِمَهُ الله د نقیع تمر په څېر هغه هم مباح ګرځوي، او کوم جواب چې موږ په نقیع تمر کې ورکړی دی، هاغه جواب یې دلته هم دی. خلاصه د خبري دا چې د شرابو دغه څلور قسمونه ټوله حرام دي.

إلا أن حرمة إلخ: د دې حاصل دا دی چې د شرابو څلورو سره مذکوره قسمونه خو حرام دي، لېکن په خمرو او نورو شرابونو کې توپیر سته یعني د انګوري شرابو او نورو شرابو تر مینځ څو فرقونه دي کوم چې په لاندې ډول دي:

(۱)... د خمرو حرمت سخت دی او د نورو شرابو حرمت سپک دی.

(۲)... د خمرو حلال ګڼونکی کافر کیږي، او د نورو شرابو حلال ګڼونکی به کافر نه شمېرل کیږي.

(۳)... د خمرو حرمت قطعي دی چې په کتابُ الله سره ثابت دی، او د نورو شرابو حرمت ظني دی.

(۴)... د خمرو د یوه څاڅکي په چیښلو سره حدّ واجبیږي، او په نورو شرابو کې هله حدّ واجبیږي کله چې چیښونکی نشه کړي.

⑤... د خمرو په هکله فقط د نجاست غلیظه روایت نقل سوی دی چې خمر نجاست غلیظه وي. او د نورو شرابو په هکله دوه روایتونه دي: (۱) یو د نجاست غلیظه. (۲) او بل د نجاست خفیفه چې د هغوی نجاست سپک دی.

سوه دانګوري شرابو او نورو شرابو تر مینځ پنځه فرقه چې ټوله مو په ترتیب سره جلا، جلا ذکر کړل.

له خمر څخه بغير د نورو دريو شرابو بيع او د هغوی د اتلاف حکم (د فقهاؤ قولونه)

وَيَجُوْزُ بَيْعُهَا او د دې نورو شرابو [غيرِ خمر] بيع جائز ده وَيَضْمَنُ مُتْلِفُهَا او د هغوی تلفونکی ضامن کيږي عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ [دا] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز خِلَافًا لَهُمَا فِيْهِمَا په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په بيع او ضمان دواړو کي لِأَنَّهٗ مَالٌ مُتَقَوَّمٌ ځکه دا [غيرِ خمر] متقوّم مال دی وَمَا شَهِدَتْ دَلَالَةٌ قَطْعِيَّةٌ بِسُقُوْطِ تَقَوُّمِهَا او د هغوی پر متقوّم والي هيڅ قطعي دليل ګواه نه دی بِخِلَافِ الْخَمْرِ په خلاف د خمرو غَيْرَ أَنَّ عِنْدَهٗ يَجِبُ قِيْمَتُهَا لَا مِثْلُهَا خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [پر تلفونکي] د هغوی قيمت واجبيږي، نه د هغوی مثل عَلٰى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چې دا [مخکي] پيژندل سوي ده وَلَا يُنْتَفَعُ بِهَا بِوَجْهٍ مِنَ الْوُجُوْهِ او له دې نورو شرابونو څخه به په هيڅ توګه هم څه نفع نه اخيستل کيږي لِأَنَّهَا مُحَرَّمَةٌ ځکه چې دا حرام دي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهٗ يَجُوْزُ بَيْعُهَا إِذَا كَانَ الذَّاهِبُ بِالطَّبْخِ أَكْثَرَ مِنَ النِّصْفِ دُوْنَ الثُّلُثَيْنِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د دوی بيع جائز ده کله چې په پخولو سره ختمېدونکی مقدار تر نصف زيات وي او تر دوو ثلثو کم وي.

اللغات: ﴿مُتلِف﴾ د افعال د باب فاعل دی: تلفونکی، ضايع کونکی. ﴿تقوّم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: متقوّم والی، قيمتداره کېدل.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د خمرو او نورو شرابو تر مينځ دوه نور فرقونه بيان کړي دي. پنځه فرقه مخکي بيان سوه.

⑥... شپږم فرق دا دی چې د خمرو بيع باطله ده او د نورو شرابو بيع جائز ده.

⑦... د خمرو پر مُتلف (تلفونکي) ضمان نسته، او د نورو پر مُتلف ضمان سته، خو دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دي، ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نه د نورو شرابونو بيع جائز ده، او نه د

هغوی پر تلفونکي ضمان واجبيږي. لېکن امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي نور شرابونه مال متقوم دي او په هيڅ دليل قطعي سره دا نه سي ثابتېدلای چي هغه مال متقوم نه دي. په خلاف د خمرو چي د هغوی تقوم ساقط دی. په همدې وجه د خمرو بيع باطله ده او څوک چي هغه تلف کړي. پر هغه ضمان نسته. لېکن مسلمان په حرام کي تصرف نه سي کولای. نو ځکه کله چي ضمان واجبيږي. نو د مثل ضمان يې نه واجبيږي. بلکي د شرابونو د قيمت ضمان واجبيږي.

خو په دې حکم کي د دواړو اشترک سته لکه څرنګه چي له خمرو څخه نفع اخيستل جائز نه دي. همدارنګه له نورو شرابونو څخه هم هر ډول نفع اخيستل حرام دي؛ ځکه چي دا ټول هم حرام دي.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي له خمرو څخه بغير د نورو شرابونو بيع همغه وخت جائز کيږي. کله چي هغوی پاخه کړل سوي وي او په پخولو سره د هغوی نيمه حصه ختمه سوې (سوځلې) وي. نه دوه ثلثه. لېکن امام کرخي رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا روايت له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه مشهوره نه دی. مشهور همغه روايت دی کوم چي مخکي ذکر سو يعني بيع يې نه جائز کيږي. (بنايه ج: ۱۱. ص: ۲۶)

يادونه: صاحب د نتائج الأفكار دلته دا اعتراض کړی دی چي کله دا ټول حرام دي او له ټوی څخه هيڅ نفع اخيستل جائز نه دي. نو بيا دا څنګه متقوّم (قيمتداره) کېدلای سي. حال دا چي علماؤ تصريح کړې ده چي د مال د متقوّم کېدلو همدغه معنیٰ ده چي له هغه نفع اخيستل شرعاً مباح وي. نو کله چي دلته انتفاع مباح نه ده. نو تقوّم به هم نه لري. سره د دې چي قطعي دليل د اعتقاد په ذريعه لازميږي او په عملياتو کي غالب ګومان کافي دی. نو د عمل په حق کي د دې شرابونو تقوّم (قيمتداره کېدل) ساقط دي.

له مذکوره شرابو څخه بغير د نورو شرابو حکم

وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ او په جامع صغير کي [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايلي دي وَمَا سِوٰى ذٰلِكَ مِنَ الْأَشْرِبَةِ فَلَا بَأْسَ بِهِ او کوم چي له دې [څلورو شرابونو] څخه بغير نور شراب دي په هغه کي څه حرج نسته [چيښل يې روا دي] قَالُوْا: هٰذَا الْجَوَابُ عَلٰى هٰذَا الْعُمُوْمِ وَالْبَيَانِ لَا يُوْجَدُ فِيْ غَيْرِهِ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي چي: دا حکم د دغه عموم او بيان مطابق له جامع صغير څخه بغير بل کتاب کي نسته وَهُوَ نَصٌّ عَلٰى أَنَّ مَا يُتَّخَذُ مِنَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيْرِ وَالْعَسَلِ وَالذُّرَةِ حَلَالٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا حکم نص دی

پر دې خبره چې کوم شراب چې جوړول کيږي له غنمو، اوربشو، شاتو او جوارو څخه هغه حلال دي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَلَايُحَدُّ شَارِبُهُ عِنْدَهُ او د هغوی پر چيښونکي به حد نه جاري کول کيږي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَإِنْ سَكِرَ مِنْهُ که څه هم په هغوی سره نشه سي وَلَا يَقَعُ طَلَاقُ السَّكْرَانِ مِنْهُ او په هغوی سره د نشه کس طلاق نه واقع کيږي بِمَنْزِلَةِ النَّائِمِ وَمَنْ ذَهَبَ عَقْلُهُ بِالْبَنْجِ وَلَبَنِ الرِّمَاكِ لکه بيده کس او [لکه] هغه کس چې د هغه عقل د بنګو يا د آسي [اسپې] په شيدو سره زائل سوی وي وَعَنْ مُحَمَّدٍ ۞ أَنَّهُ حَرَامٌ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې هغوی حرام دي وَيُحَدُّ شَارِبُهُ وَيَقَعُ طَلَاقُهُ او د هغوی پر چيښونکي به حد جاري کول کيږي او د هغه طلاق [هم] واقع کيږي إِذَا سَكِرَ مِنْهُ کله چې په هغوی سره نشه سي كَمَا فِي سَائِرِ الْأَشْرِبَةِ الْمُحَرَّمَةِ لکه په نورو حرامو شرابونو کې [چې همدا حکم دی].

اللغات: ﴿نصّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: صراحت کول، په صراحت سره بيانول، په ښکاره الفاظو بيانول. ﴿الذرة﴾ جوار، جواري، ﴿الرماك﴾ اسپه، ماده آس. ﴿البنج﴾ بنګې (د چرسو بوټی).
﴿سائر﴾ د دې لفظ دوې معناوې دي: ① ټول، تمام، ② نور، بقيه.

تشريح: امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې دامذکوره عبارت بيان کړی دی چې د هغه مطلب دا دی چې له مذکوره څلورو قسمونو څخه بغير نور چې کوم شراب دي لکه له غنمو يا اوربشو څخه جوړ کړل سوي شراب، نو د هغوی چيښل حلال دي، هيڅ حرج پکښې نسته. په دې هکله فخر الاسلام او داسې نورو د جامع صغير په شروحو کې فرمايلي دي چې امام محمد رَحِمَهُ الله دلته عمومي انداز اختيار کړی دی، او په خپل نورو کتابو کې يې دا عموم نه دی بيان کړی. بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له مذکوره څلورو قسمونو څخه بغير نور چې کوم شرابونه دي، هغوی حلال دي او د هغوی پر چيښونکي حد نه جاري کيږي که څه هم نشه سي، او د هغوی د چيښلو په وجه که هغه مست نشه سي او طلاق ورکړي، نو طلاق يې هم نه واقع کيږي، لکه بيده کس چې طلاق ورکړي، يا لکه چې هغه کس طلاق ورکړي چې د بنګو يا د آسي د شيدو په وجه يې عقل زائل سوی وي.

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، قال صاحب الكفاية رَحِمَهُ الله:...وعن محمد انه حرام أي ما سوا ذلك من الأشربة ... قال: والشيخ الخسراوني ذكر في الفتاوى أن الفتوى على قول محمد، كذا ذكره الإمام المحبوبي (الكفاية ج:۹، ص:۳۲). [أثمار الراجح ج:۲، ص:۳۱۷]

وعن محمد إلخ: فرمايي کوم چي اوس ذکر سوه دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول وو، لیکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا هم حرام دي او څوک چي هغوی وڅیښي، نو پر هغه به حدّ جاري کیږي په دې شرط چي د هغوی په وجه نشه سوی وي، او همدارنګه کله چي د هغوی په څیښلو سره نشه سي او طلاق ورکړي، نو طلاق يې هم واقع کیږي، او د ټولو حرامو شرابونو همدغه حکم دی.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله يو قول او له هغه څخه رجوع

وَقَالَ فِيْهِ أَيْضًا او امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي دا هم فرمايلي دي وَكَانَ أَبُوْيُوْسُفَ يَقُوْلُ چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله به فرمايل مَا كَانَ مِنَ الْأَشْرِبَةِ يَبْقَى بَعْدَ مَا يَبْلُغُ عَشَرَةَ أَيَّامٍ وَلَا يَفْسُدُ چي له دې شرابونو څخه کوم شراب له رسېدلو [جوش خوړلو] څخه وروسته تر لسو ورځو پوري پاته سي او خراب نه سي فَإِنِّي أَكْرَهُهُ نو زه هغه مکروه ګڼم ثُمَّ رَجَعَ إِلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيْفَةَ بیا هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول وطرف ته رجوع وکړه وَقَوْلُهُ الْأَوَّلُ مِثْلُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ إِنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څېر دی چي هر نشه کونکی [نشه راوستونکی] شی حرام دی إِلَّا أَنَّهُ تَفَرَّدَ بِهٰذَا الشَّرْطِ خو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دغه شرط کي منفرد [یوازینی] دی [یعني دا تر لسو ورځو پوري د نه خرابېدلو شرط یوازي له امام ابو يوسف څخه منقول دی]

وَمَعْنٰى قَوْلِهِ "يَبْلُغُ" : يَغْلِيْ وَيَشْتَدُّ او [په متن کي] د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې قول "يَبْلُغُ" معنیٰ ده: يَغْلِيْ وَيَشْتَدُّ [یعني چي جوش وخوري او سخت سي] وَمَعْنٰى قَوْلِهِ "وَلَا يَفْسُدُ" : لَا يَحْمَضُ او د هغه د دې قول "وَلَا يَفْسُدُ" معنیٰ ده: چي تروه نه سي وَوَجْهُهُ أَنَّ بَقَاءَ هٰذِهِ الْمُدَّةِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَحْمَضَ دَلَالَةُ قُوَّتِهِ وَشِدَّتِهِ او د دې وجه دا ده چي تر دومره مودې پوري [د دې نورو شرابونو] پاتېدل بغیر له دې چي تروه سي د هغوی د قوت او شدت دلیل دی فَكَانَ آيَةَ حُرْمَتِهِ نو دا د هغوی د حرامېدلو نښه ده وَمِثْلُ ذٰلِكَ يُرْوٰى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او همدې ته ورته روایت له ابن عباس (رض) څخه هم نقل سوی دی وَأَبُوْحَنِيْفَةَ يَعْتَبِرُ حَقِيْقَةَ الشِّدَّةِ عَلَى الْحَدِّ الَّذِيْ او امام صاحب رَحِمَهُ الله د حقيقي شدت اعتبار کوي د هغه حدّ مطابق ذَكَرْنَاهُ فِيْمَا يَحْرُمُ أَصْلُ شُرْبِهِ وَفِيْمَا يَحْرُمُ السُّكْرُ مِنْهُ کوم چي موږ د هغه څه په باره کي ذکر کړی چي د هغه اصل څیښل حرام دی [یعني خمر] او د هغه څه په باره

کي چي د هغه نشه والي حرام دی [يعني نبيذ التمر او نبيذ الزبيب إذا طبخ كل واحد منهما أدنى طبخة] عَلٰى مَا نَذْكُرُهٗ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى لکه څرنګه چي وروسته به [هم] موږ ان شاء الله تعالیٰ د دې يادونه وکړو وَأَبُوْيُوْسُفَ رَجَعَ إِلٰى قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول وطرف ته رجوع وکړه فَلَمْ يُحَرِّمْ كُلَّ مُسْكِرٍ نو هر نشه کونکی شی يې حرام نه وګرځوی وَرَجَعَ عَنْ هٰذَا الشَّرْطِ أَيْضًا او له دغه [مذکوره] شرط څخه يې هم رجوع وکړه.

اللغات: ﴿تفرّد﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: يوازي کېدل (په يو شه کي يوازيني کېدل). تنها کېدل. ﴿يحمّض﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: تريوی کېدل (تروش کېدل).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي په جامع صغير کي امام محمد رَحِمَهُ الله داسي هم فرمايلي دي چي مخکي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا وو چي کله دا نور شرابونه له جوش او اشتداد څخه وروسته تر لسو ورځو سالم پاته سي او خراب نه سي، نو هغوی به يې حرام ګڼل. بيا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول وطرف ته رجوع وکړه. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څېر دی چي هر سکر حرام دی. يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هر مُسکِر حرام دی او همدا به مخکي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايل. يعني د هغه کوم قول چي اوس ذکر سو. هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څېر دی. خو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يوه خبره زياته کړې ده کوم چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول کي نسته. يعني پورتنی شرط کوم چي اوس ذکر سو چي تر لسو ورځو د شرابو نه خرابېدل شرط دي؛ او د لسو ورځو د شرطولو وجه دا ده چي کله دا نور شرابونه لس ورځي پاته سي او تروه خراب نه سي، نو دا د هغوی د قوت او شدت دليل دی کوم چي د حرمت نښاني ده. او دا کوم شرط چي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی. همداسي له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت هم سوی دی. خو دا روايت مو چيري پيدا نه کړی.

وأبوحنيفة إلخ: فرمايي چي امام صاحب رَحِمَهُ الله په خمر او غيرِ خمر کي د حقيقي شدت (اشتداد) اعتبار کوي، لکه مخکي چي ذکر سوه چي د جوش او اشتداد سره ځګ هم راپورته کړي، نو بيا حراميږي، خمر وي او که غيرِ خمر. په دواړو کي همدا حد مقرر دی. د دې نور تفصيل به وروسته هم راسي.

وأبويوسف إلخ: يعني امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له خپل مذكوره قول څخه رجوع وكړه او د هغه سره يې له خپل مذكوره شرط څخه هم رجوع وكړه (چي تر لسو ورځو خراب نه سي)، او د امام صاحب قول او مسلک يې اختيار كړی چي مذكوره شرابونه حرام نه دي.

د خرما او كشمشو د نبيذ بيان

وَقَالَ فِي الْمُخْتَصَرِ او [امام قدوري رَحِمَهُ الله] په مختصر القدوري كي فرمايلي دي وَنَبِيذُ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ إِذَا طُبِخَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَدْنَى طَبْخَةٍ حَلَالٌ چي د خرما او كشمشو نبيذ چي كه له دری څخه هر يو معمولي غوندي پوخ كړل سي نو حلال دی وَإِنِ اشْتَدَّ كه څه هم سخت سي [يعني جوش وخوري او ځګ راوغورځوي] إِذَا شَرِبَ مِنْهُ مَا يَغْلِبُ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّهُ لَا يُسْكِرُهُ [په دې شرط] كله چي له هغه څخه دومره مقدار وڅيښي چي د هغه غالب ګومان دا وي چي دا به يې نشه نه كړي مِنْ غَيْرِ لَهْوٍ وَلَا طَرَبٍ [او په دې شرط چي] بغير له لهو او مستۍ څخه [يې وڅيښي. يعني صرف د نفساني خواهش او د مستۍ او سرور په غرض يې نه څيښي بلكي مراد يې تقوية البدن على الطاعات وي] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا [حكم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ وَالشَّافِعِيِّ حَرَامٌ او د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز حرام دی وَالْكَلَامُ فِيهِ كَالْكَلَامِ فِي الْمُثَلَّثِ الْعِنَبِيِّ او خبره [بحث] په دې كي داسي دی لكه خبره د انګورو په مثلث كي [يعني په دې كي هغسي بحث دی كوم چي په مثلث عنبي كي دی] وَنَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او هغه به موږ انشاء الله تعالىٰ [څه وروسته] ذكر كړو.

اللغات: ﴿نبيذ﴾ كله چي اوبو ته خرما يا كشمش او داسي نور واچول سي او دومره وخت پرېښوول سي چي اوبه خندې او ګاټه وګرځي. نو دې ته نبيذ وايي. ﴿زبيب﴾ كشمش (وچ كړي انګور، وشكي)، ﴿لهو﴾ عبث. بې ځايه. (نفس ته بې ځايه راحت او سكون وركول كوم چي بالكل د حكمت او پوهي خلاف وي)، ﴿طرب﴾ خمار. سرور او مستي. صاحب د معجم يې داسي تعريف كړی دی: نَشْوَةٌ تُصَاحِبُهَا خِفَّةٌ لِشِدَّةِ السُّرُورِ (يعني هغه معمولي غوندي نشه يا چُستي چي د بدن سپكتيا هم ور سره وي كوم چي د سخت سرور او خوشحالۍ په نتيجه كي څرګند سي)، ﴿المثلث العنبي﴾ د انګورو مثلث. دې ته وايي چي د انګورو اوبه دومره پخې كړل سي چي دوه ثلثه يې ختم سي (وسوځي) او فقط يو ثلث يې پاته سي او په هغه كي جوش او سختي پيدا سي.

تشريح : د عبارت حاصل دا دی چي نبيذ تمر او نبيذ زبيب چي کله څه غوندي پاخه کړل سوي وي نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حلال دي. ليکن اول شرط څه غوندي پخوالی دي، دويم شرط دومره مقداره چيښل دي چي په هغه سره نشه نه سي، دريم شرط دا دی چي د چيښلو مقصد لهو او سرور نه وي بلکي مقصد د بدن تقويه وي.

او د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز حرام دي. لکه د انګورو اوبه چي کله پخې کړل سي او د هغوی دوه ثلثه ختم سي. په دې کي هم هغه اختلاف دی چي د هغه بيان به څه وروسته راسي.

د خرماوو او کشمشو د مخلوط شربت حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِالْخَلِيْطَيْنِ فرمايي: د خرما او کشمشو په مخلوط شرابو کي څه حرج نسته لِمَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ زِيَادٍ أَنَّهُ قَالَ د هغه دليل په وجه کوم چي له ابن زياد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي هغه وويل سَقَانِيْ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا شَرْبَةً مَا كِدْتُ أَهْتَدِيْ إِلَىٰ أَهْلِيْ چي حضرت ابن عمر (رض) په ما داسي شربت وچيښل چي نږدې نه وم خپلي کورنی ته لاره ومونډم [يعني دې ته نږدې سوم چي خپل کور ته به نه ورسيږم] فَغَدَوْتُ إِلَيْهِ مِنَ الْغَدِ بيا په سبا ورځ ابن عمر (رض) ته ولاړم فَأَخْبَرْتُهُ بِذٰلِكَ او هغه مي په دې [واقعه] خبر کړی فَقَالَ*: مَا زِدْنَاكَ عَلَىٰ عَجْوَةٍ وَزَبِيْبٍ نو هغه وفرمايل چي: موږ اضافه نه ده کړې ستا لپاره پر عجوه خرماوو او کشمشو [يعني فقط د دې دوو شيانو شربت مي په تا چيښلی دی] وَهٰذَا مِنَ الْخَلِيْطَيْنِ او دا هغه خليطين دي وَكَانَ مَطْبُوْخًا او دا پاخه کړل سوي وه لِأَنَّ الْمَرْوِيَّ عَنْهُ حُرْمَةُ نَقِيْعِ الزَّبِيْبِ وَهُوَ النِّيْءُ مِنْهُ ځکه چي د ابن عمر (رض) څخه د نقيع الزبيب حرمت روايت سوی دی چي هغه د کشمشو اُوم [ناپوخ] نقيع دی وَمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ نَهٰى❶ عَنِ الْجَمْعِ بَيْنَ التَّمْرِ وَالزَّبِيْبِ او [پاته سو] هغه حديث کوم چي روايت سوی دی چي نبي ﷺ منع کړې ده له جمع کولو څخه د خرما او کشمشو وَالزَّبِيْبِ وَالرُّطَبِ او د کشمشو او د پخې خرما وَالرُّطَبِ وَالْبُسْرِ او د پخې خرما او نيم پخته خرما مَحْمُوْلٌ عَلَىٰ حَالَةِ الشِّدَّةِ [دا حديث] د سختی [وچکالی] پر حالت محمول دی وَكَانَ ذٰلِكَ فِي الْاِبْتِدَاءِ او دا د اسلام په شروع کي وه.

---

* تخريج: أخرجه الإمام محمد في كتاب الآثار، باب الأشربة والأنبذة والشرب قائما، ص: ۱۸۲، حديث رقم: ۸۲۹.

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد مسعاده، باب في الخليطين، ص: ۵۳۱، حديث رقم: ۳۷۰۴.

اللغات: ﴿خليطين﴾ تثنيه د خَلِيْطٌ ده. د دې لفظ يوه معنیٰ ده: مخلوط يعني ګډ کړل سوی شی، ﴿النيء﴾ کچه. اُوم. ناپوخ. ﴿الرطب﴾ پخه خُرما. خيشته او تازه خرما. واحد يې رُطَبَة راځي. جمع يې رِطَاب راځي. وچې خرما ته "تَمَر" وايي. ﴿بسر﴾ نيم پخته خرما. هغه خرما کوم چې تر اوسه پخ سوې او رسېدلې نه وي.

تشريح: د خليطين مطلب دا دی چې خرما او انګور سره ګډ کړل سي يا کشمش او منقه (اوجوشي) سره ګډ کړل سي او شربت ځني جوړ کړل سي، نو دا حلال دی په دې شرط چې لږ غونډي پاخه سوي وي. لکه څرنګه چې ابن زياد رَحِمَهُ الله ويلي دي چې ابن عمر رضي الله عنهما ما ته يو شربت راکړی او د هغه په چيښلو سره زما کيفيت داسو چې تر کوره تلل راته درانه او مشکل سوه. او په سبا ورځ ما ابن عمر ته دا واقعه بيان کړه. نو هغه وفرمايل چې له خرما او کشمشو څخه بغير ما تا ته بل څه نه دي درکړي. همدې ته خليطين وايي او دا پوخ کړل سوی هم وو؛ دليل يې دا دی چې له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې د کشمشو وغيره اُوم نا پوخ کړی سوی نقيع حرام دی. نو د هغه له دغه خبري څخه ښکاره سوه چې دا پوخ کړی سوی وو. کنې ابن زياد ته به يې نه ورکولای.

او که سوال وسي چې خليطين ته تاسي جائز واياست. حال دا چې په حديث کي له دې څخه منع سوې دي چې انګور او وچه خرما يا انګور او خيشته خرما سره ګډل سي او وچيښل سي؟.

نو جواب دا دی چې دغه منع د اسلام په شروع کي هغه وخت وه کله چې د وچکالۍ زمانه وه او مقصد يې دا وو چې دغه مېوې مه سره جمع کوئ، بلکي پر يوه مېوه يې اکتفاء کوئ (يعني صرف خرما يا انګور استعمالوئ) او بله غريبانو ته ورکوئ!.

د مختلفه نبيذونو حکم

قَالَ: وَنَبِيْذُ الْعَسَلِ وَالتِّيْنِ وَنَبِيْذُ الْحِنْطَةِ وَالذُّرَةِ وَالشَّعِيْرِ حَلَالٌ فرمايي: د شاتو او انځرو نبيذ او د غنمو، جوارو او اُوربشو نبيذ حلال دی وَإِنْ لَمْ يُطْبَخْ که څه هم پوخ نه کړل سي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ إِذَا كَانَ مِنْ غَيْرِ لَهْوٍ وَطَرَبٍ او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی کله چې هغه د لهو او مستۍ څخه بغير وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1]: «اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ»

[1] تخريج: أخرجه مسلم، باب بيان أن جميع ما ينبذ مما يتخذ من النخل والعنب يسمى خمراً، ص:۸۸۶، حديث رقم۱۹۸۵، ۵۱۴۳.

د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه چې: خمر له دغه دوو درختو څخه وي وَأَشَارَ إِلَى الْكَرْمَةِ وَالنَّخْلَةِ او نبي ﷺ د انګورو تاک او د خرما درختې ته اشاره وکړه خَصَّ التَّحْرِيمَ بِهِمَا نو نبي کريم ﷺ حراموالی د دې دوو درختو سره خاص کړی وَالْمُرَادُ بَيَانُ الْحُكْمِ او مراد حکم بيانول دي.

اللغات: ﴿التين﴾ انځر. ﴿الكرمة﴾ دانګورو تاک.

تشريح: دا مذکوره ټوله نبيذونه د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حلال دي که څه هم پاخه کړل سوي نه وي، لېکن شرط دا دی چې بغير د لهو او مستی څخه د بدن د طاقت په غرض يې استعمال کړي.

مخکې ذکر سوه چې د پیغمبرۍ د منصب لايق دا دي چې د پیغمبر د وینا مطلب او مقصد حکم بيانول دي، نه وضع او لغت بيانول. نو د دې حديث "الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ" مطلب دا دی چې حرام شراب هغه دي کوم چې له دې دوو درختو يعني له انګورو او خرماوو څخه جوړ سي. نو له دې څخه معلومه سوه چې کوم شراب له شاتو، انځرو او داسې نورو څخه جوړ سي، هغه حرام نه دي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

ثُمَّ قِيلَ: يُشْتَرَطُ الطَّبْخُ فِيهِ لِإِبَاحَتِهِ بيا ويل سوي دي: چې په دې [هريوه نبيذ] کې پخول شرط دي وَقِيلَ: لَا يُشْتَرَطُ او ويل سوي دي: چې شرط نه دي وَهُوَ الْمَذْكُورُ فِي الْكِتَابِ او همدا په کتاب [قدوري] کې ذکر سوي دي لِأَنَّ قَلِيلَهُ لَا يَدْعُو إِلَى كَثِيرِهِ ځکه چې د هغه قليل وکثير ته داعي نه دي كَيْفَ مَا كَانَ هغه که هر څنګه وي [يعني مطبوخ وي او که غير مطبوخ].

تشريح: د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دغه نبيذونو د حلت لپاره پخول شرط دي. که نه؟. نو فرمايي په دې باره کې دوه قوله دي: ① پخول شرط دی (چې هغوی به پاخه کړل سوي وي). ② شرط نه دي. لکه په قدوري کې چې هم د دې صراحت سوی دی.

دويمه خبره دا ده چې د دې نبيذونو قليل د کثير وطرف ته داعي نه دي، برابره ده اُومه وي او که پاخه کړل سوي وي.

د اوربشو او غنمو د شرابو پر نشه به حدّ جاري کول کيږي، که نه؟

وَهَلْ يُحَدُّ فِي الْمُتَّخَذِ مِنَ الْحُبُوبِ إِذَا سَكِرَ مِنْهُ؟ او آيا حدّ به جاري کيږي په هغه شرابو کې کوم چې له دانو [اوربشو وغيره] څخه جوړ کړل سوي وي قِيلَ: لَا يُحَدُّ ويل سوي دي: چې حدّ به نه جاري کيږي وَقَدْ ذَكَرْنَا الْوَجْهَ مِنْ قَبْلُ او موږ مخکې [ددې] دليل ذکر کړی دی قَالُوا: وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يُحَدُّ لېکن مشايخ رَحِمَهُمَا الله فرمايي: زياته صحيح دا ده چې پر هغه به حدّ جاري کيږي فَإِنَّهُ رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ فِيمَنْ سَكِرَ مِنَ الْأَشْرِبَةِ أَنَّهُ يُحَدُّ مِنْ غَيْرِ تَفْصِيلٍ ځکه له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د هغه ... په باره کې روايت سوی دی کوم چې په شرابونو سره نشه سي چې پر هغه به حدّ جاري کيږي [دا روايت] بغير له تفصيله [ځني نقل سوی دی] وَهٰذَا لِأَنَّ الْفُسَّاقَ يَجْتَمِعُونَ عَلَيْهِ فِي زَمَانِنَا اجْتِمَاعَهُمْ عَلَى سَائِرِ الْأَشْرِبَةِ او دا ځکه چې زموږ په زمانه کې فساق پر دې هم جمع کيږي لکه څرنګه چې هغوی پر نورو شرابونو جمع کيږي بَلْ فَوْقَ ذٰلِكَ بلکې تر هغه هم بالا [پر دې جمع کيږي] وَكَذٰلِكَ الْمُتَّخَذُ مِنَ الْأَلْبَانِ إِذَا اشْتَدَّ او همدارنګه هغه شراب کوم چې له شيدو څخه جوړ کړل سوي وي کله چې هغوی سخت سي فَهُوَ عَلَى هٰذَا نو هغه هم پر دغه حکم دي وَقِيلَ: إِنَّ الْمُتَّخَذَ مِنْ لَبَنِ الرِّمَاكِ لَا يَحِلُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او ويل سوي دي: چې دآسې له شيدو څخه جوړ کړل سوي شراب د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حلال نه دي اعْتِبَارًا بِلَحْمِهِ دآس پر غوښو په قياس کولو سره إِذْ هُوَ مُتَوَلِّدٌ مِنْهُ ځکه چې شيدې له همدې غوښو څخه پيدا کيږي قَالُوا: وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَحِلُّ لېکن مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: زياته صحيح دا ده چې دا شراب هم حلال دي لِأَنَّ كَرَاهَةَ لَحْمِهِ لِمَا فِي إِبَاحَتِهِ مِنْ قَطْعِ مَادَّةِ الْجِهَادِ ځکه دآس د غوښو کراهت په دې وجه دی چې د هغه په مباح ګرځولو کې د جهاد د مادې [اوآلې] ختمول سته أَوْ لِاحْتِرَامِهِ يا [دغوښو کراهت] د هغه د احترام په وجه دی فَلَا يَتَعَدَّى إِلَى لَبَنِهِ لهذا دا به د هغه د شيدو وطرف ته نه متعدي کيږي.

اللغات: ﴿المتخذ﴾ د تفعّل د باب مفعول دی: جوړ کړل سوی، ترلاسه کړل سوی. ﴿الحبوب﴾ دانې، غله. يعني اوربشې، جوارې، غنم او داسې نور.

تشريح: په دې عبارت کې. د حدّ واجبېدلو په هکله دوې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... له اُوربشو او داسي نورو څخه چي کوم شراب جوړول کيږي، که څوک هغه وڅښني او مست نشه سي، حدّ به پرې جاري کيږي، که نه؟، نو فرمايي چي په دې هکله دوه قوله دي: ① فقيه ابو جعفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي حدّ به نه پرې جاري کيږي؛ ځکه دا د بنګو او دآسي (اسپي) د شيدلو په درجه کي دي. ② او دويم قول دا دی چي حدّ به پرې جاري کيږي، او همدا اصح قول دی؛ ځکه له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي کوم کس له خمرو څخه بغير په بل شراب سره نشه سي، نو پر هغه حدّ واجبيږي، او دا خبره امام محمد رَحِمَهُ الله بغير له تفصيله کړې ده. يعني په دې کي دا تفصيل او قيد نسته چي که شراب له دانو (اوربشو وغيره) څخه جوړ وي نو بيا دا حکم نه دی. د دې خبري هيڅ صراحت پکښي نسته. او د حدّ واجبيدلو وجه دا هم ده چي د دې په څيښلو عموماً فاسقان مشغوله وي او دا هم د نورو شرابونو په څېر ښه په شوق سره څيښي، نو د فساد دفع کولو لپاره حدّ واجبېدل پکار دي.

وكذالك المتخذ إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده چي کوم شراب له شيدلو څخه جوړل کړ سوي وي. په هغوی سره د نشه کېدلو په صورت کي حدّ واجبيږي، که نه؟، نو فرمايي چي په دې باره کي هم د مخکي په څېر دوه قوله دي. او بل قول دلته دا هم سته دي چي دآسي (اسپي) له شيدلو څخه جوړ شراب د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز بالکل حلال نه دي، دآسي پر غوښو په قياس کولو سره؛ ځکه شيدې له غوښو څخه پيدا کيږي. خو مشايخ رَحِمَهُمَا الله فرمايي اصح دا ده چي داسي شرب حلال دي او دآس د غوښو کراهت خو يا د هغه داحترام په وجه دی يا په دې وجه دی چي د جهاد آله (آسونه) نيستي نه سي، او دا وجه په شيدلو کي نسته؛ ځکه د شيدلو په څيښلو سره د جهاد آله نه ختميږي.

د انګورو د مثلث شرابو حکم

قَالَ: وَعَصِيْرُالْعِنَبِ إِذَا طُبِخَ حَتّٰى ذَهَبَ ثُلُثَاهُ وَبَقِيَ ثُلُثُهُ حَلَالٌ فرمايي: او د انګور رَسْ چي کله پوخ کړل سي تر دې چي د هغه دوه ثلثه ختم سي او صرف يو ثلث يې پاته سي نو حلال دی وَإِنِ اشْتَدَّ که څه هم سخت سي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَمَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ ۞: حَرَامٌ او امام محمد، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي حرام دی وَهٰذَا الْخِلَافُ فِيْمَا إِذَا قَصَدَ بِهِ التَّقَوِّيَ او دا اختلاف په هغه صورت کي دی

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله. انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۱۸]

کله چي چيښونکی کس په دې سره د قوت حاصلولو اراده لري أَمَّا إِذَا قَصَدَ بِهِ التَّلَهِّيَ لېکن که په دې سره د لهو اراده لري لَا يَحِلُّ بِالِاتِّفَاقِ نو بالاتفاق حلال نه دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ مِثْلُ قَوْلِهِمَا او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د شيخينو رَحِمَهُمَا الله د قول په څېر هم نقل سوي دي وَعَنْهُ أَنَّهُ كَرِهَ ذَٰلِكَ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا دی چي هغه دا مکروه ګرځولي دي وَعَنْهُ أَنَّهُ تَوَقَّفَ فِيهِ او بل روايت څني دا دی چي هغه په دې هکله توقف کړی دی.

لَهُمْ فِي إِثْبَاتِ الْحُرْمَةِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ» د حرمت ثابتولو په هکله د دوی [امام محمد، امام شافعي وغيره] دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: هر نشه کونکی [نشه پيدا کونکی] شی خمر دی وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «مَا أَسْكَرَ [2] كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ» او د نبي ﷺ دا فرمان دی: د کوم څه چي کثير مقدار انسان نشه کوي نو د هغه قليل هم حرام دی وَيُرْوَى عَنْهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [3]: «مَا أَسْكَرَ الْجَرَّةُ مِنْهُ فَالْجَرْعَةُ مِنْهُ حَرَامٌ» او له نبي ﷺ څخه روايت سوی دی [يعني په بل روايت کي دي]: د کوم شراب چي يو منګی انسان نشه کوي نو د هغه يو غړپ هم حرام دی وَلِأَنَّ الْمُسْكِرَ يُفْسِدُ الْعَقْلَ او ځکه چي نشه کونکی [نشه پيدا کونکی شی] عقل فاسدوي فَيَكُونُ حَرَامًا قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ كَالْخَمْرِ نو ځکه د خمرو په څېر به د هغه قليل او کثير دواړه حرام وي وَلَهُمَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «حُرِّمَتِ [4] الْخَمْرُ لِعَيْنِهَا» او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی چي: خمر بذات خود حرام دی [يعني د خمرو عين حرام دی] وَيُرْوَى «بِعَيْنِهَا قَلِيلِهَا وَكَثِيرِهَا وَالسُّكْرُ مِنْ كُلِّ شَرَابٍ» او روايت سوی دی [يعني په بل روايت کي دي]: بعينها د هغه قليل او کثير او د بل هر شراب سکر حرام دي خَصَّ السُّكْرَ بِالتَّحْرِيمِ فِي غَيْرِ الْخَمْرِ [دلته نبي ﷺ له خمرو څخه بغير په بل شراب کي سکر [نشه] په حراموالي سره خاص کړی ده إِذِ الْعَطْفُ

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب ما جاء فى السكر ص:٥٢٨، حديث رقم:٣٦٧٩.

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب ما جاء فى السكر، ص:٥٢٨، حديث رقم:٣٦٨١.

[3] تخريج: أخرجه بمعناه ابو داؤد، باب ما جاء فى السكر، ص:٥٢٩، حديث رقم:٣٦٨٧.

[4] تخريج: أخرجه دار قطنى، باب الأشربة وغيرها، ج:٤، ص:١٧٠، حديث رقم:٤٦١٩.

لِلْمُغَايَرَةِ ځکه چي عطف د مغايرت لپاره وي وَلِأَنَّ الْمُفْسِدَ هُوَ الْقَدَحُ الْمُسْكِرُ او ځکه چي فساد راوستونکې هغه پياله ده کوم چي نشه کونکې وي [يعني هغه پياله چي چيښونکی نشه کړي] وَهُوَ حَرَامٌ عِنْدَنَا او هغه خو زموږ په نيز [هم] حرام ده وَإِنَّمَا يَحْرُمُ الْقَلِيلُ مِنْهُ لِأَنَّهُ يَدْعُو لِرِقَّتِهِ وَلَطَافَتِهِ إِلَى الْكَثِيرِ او د خمرو قليل په دې وجه حرام دی ځکه چي هغه د خپل نرموالي او باريک والي په وجه د کثير وطرف ته داعي وي فَأُعْطِيَ حُكْمَهُ لهذا قليل دکثير حکم واخيستی وَالْمُثَلَّثُ لِغِلَظِهِ لَا يَدْعُو او مثلث شراب د خپل سختوالي [کاټه والي] په وجه داعي نه وي وَهُوَ فِي نَفْسِهِ غِذَاءٌ او [بل دا چي] مثلث بذات خود غذاء ده فَبَقِيَ عَلَى الْإِبَاحَةِ نو هغه به پر اباحت باقي پاته وي وَالْحَدِيثُ الْأَوَّلُ غَيْرُ ثَابِتٍ او اول حديث ثابت نه دی عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي موږ بيان کړه ثُمَّ هُوَ مَحْمُولٌ عَلَى الْقَدَحِ الْأَخِيرِ بيا هغه پر آخرنی پايله محمول دی إِذْ هُوَ الْمُسْكِرُ حَقِيقَةً ځکه چي په حقيقت کي هغه نشه پيدا کونکې ده.

اللغات: ﴿عصير﴾ دانګورو نخوړل سوي اوبه، رَس. ﴿الجرة﴾ منګی. ﴿توقف﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: درېدل، انتظار کول. وعدم القدرة على ترجيح أحد الاراء على ما سواه. ﴿مُسكِر﴾ د افعال د باب فاعل دی: هغه څه چي انسان نشه کوي، نشه پيدا کونکی، نشه راوستونکی.

تشريح: مخکي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دا وعده کړې وه چي د مثلث عنبي حکم به څه وروسته ذکر کړو، نو دا هغه د مثلث عنبي مسئله ده. حاصل يې دا دی چي مثلث عنبي يا دانګورو مثلث دې ته وايي چي دانګورو اوبه دومره پخې کړل سي چي دوه ثلثه يې ختم سي (وسوځي) او فقط يو ثلث يې پاته سي او په هغوی کي جوش او سختي پيدا سي، نو په دې کي اختلاف دی. شيخين رَحِمَهُمَا الله دا جائز ګرځولی دی کله چي يې د چيښلو مقصد پر طاعاتو قوت ترلاسه کول وي. او که هسي لهو او له مستی څخه يې چيښي، نو بالاتفاق حرام دی.

امام محمد، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله دا حرام ګرځولی دی او فتویٰ هم د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول ده.

او په اول صورت کي يعني کله چي پر طاعاتو د قدرت ترلاسه کولو په نيت وچيښل سي (په دې کي) له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نور درې روايتونه هم نقل سوي دي: ① د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په

څېر د امام محمد رَحِمَهُ الله په نبېز هم حلال دي. ② مکروه دي. ③ توقف. چي والله اعلم څه حکم يې دی؟.

لهم في إثبات الحرمة إلخ: دا د امام محمد. امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله دليل دی چي په هغه کي درې حديثونه او يو عقلي دليل دی: ①... كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، لهذا قليل او کثير به يې برابر وي. ② د کوم شراب چي زيات مقدار انسان نشه کوي، د هغوی قليل هم حرام دی. ③ د کوم شراب چي يو منګی انسان نشه کوي، د هغوی يو غړپ هم حرام دی.

③... عقلي دليل دا دی چي څرنګه خمر عقل پټوي او فاسدوي چي په دې وجه د هغه قليل او کثير سره برابر دي، همداسي په مثلث شرابو کي هم سکر (نشه) سته. او سکر عقل فاسدوي. لهذا د هغه به هم قليل او کثير دواړه حرام وي.

ولهما إلخ: دا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دی چي په هغه کي يو حديث دی او بل عقلي دليل دی: ① خمر حرام لعينه دي د هغوی قليل او کثير دواړه حرام دي. او د غيرِ خمرو يعني د نورو شرابو سکر (نشه) حرام ده (يعني بل شراب هغه وخت حرام ګرځي کله چي مُسکِر وګرځي)، په دې حديث کي دا جمله "والسكر من كل شراب" پر دې جمله "حرمت الخمر لعينها" عطف سوې ده. او عطف د مغايرت تقاضا کوي، لهذا په دې حديث سره ثابته سوه چي د خمرو خو عين حرام دی لېکن د غيرِ خمرو سکر حرام دی او له سکر څخه مخکي حلال دي (يعني له خمرو څخه بغير بل شراب هغه وخت حرامېږي کله چي مُسکِر وګرځي. لهذا مثلث عنبي چي تر څو مُسکِر نه سي. تر هغه وخته به حرام نه وي).

②... عقلي دليل دا دی چي کله په حديث سره دا خبره ثابته سوه چي له خمرو څخه بغير د نورو شرابو سُکر او مُسکر حرام دي، نو بيا د حرمت تعلق به د نورو شرابو د هغه پيالې سره وي کوم چي په چيښونکي کس کي سکر (نشه) پيدا کړي. يعني که څوک مثلاً په پنځو پيالو سره نشه کيږي. نو اولي څلور پيالې شراب به د هغه لپاره حلال وي او آخري پياله شراب به حرام وي. د همدې سره به حرمت متعلق وي؛ ځکه په کوم شي کي چي د علت څو صورتونه وي، په هغه کي حکم د آخري وصف وطرف ته منسوب کيږي. او په دې مسئله کي د شرابو د حرمت وجه سکر ده او سکر په آخري پياله سره راځي. لهذا د حرمت حکم به هم د آخري پيالې سره متعلق وي يعني د نورو شرابو آخري پياله به حرامه وي. او د دې د حرمت خو موږ هم قائل يو (نو ځکه مثلث عنبي ته على الاطلاق حرام ويل به صحيح نه وي).

وإنما يحرم إلخ: پر شيخينو رَحِمَهُمَا الله يو اعتراض کيږي چي بيا د خمرو قليل مقدار ولي حرام دی حال دا چي هغه مُسکر نه دی؟، نو دلته د هغه جواب ورکوي چي په خمرو کي نرمي او لطافت وي چي په دې وجه د کثير و طرف ته داعي دي، لهذا کوم حکم چي د کثير دی، هغه قليل ته ورکول سو، لکه څرنګه چي د غسل واجبدلو په حق کي التقاء ختانين ته د دخول او انزال درجه ورکول سوې ده، او پاته سو په مثلث شرابو کي نرمي او لطافت نسته، بلکي هغوی ګاټه او سخت وي کوم چي د کثير وطرف ته داعي نه دي. او بل دا چي مثلث شراب په حقيقت کي يو غذاء ده او په غذاء کي اصل اباحت دی، لهذا مثلث شراب پر اباحت باقي پاته سوه.

پاته سو د فريقِ مخالف (امام محمد رَحِمَهُ الله وغيره) اول دليل، نو دا خو هاغه حديث دی چي يحيى بن معين رَحِمَهُ الله د هغه په باره کي طعن کړی دی او هغه يې غيرِ ثابت ګرځولی دی چي "لم أجده في شيء من كتب الحديث" (يعني دا روايت ما د حديثو په هيڅ کتاب کي پيدا نه کړی). او له حضرت ابراهيم نخعي رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي د فريقِ مخالف دويم روايت "ما أسكر كثيره فقليله حرام" هم له نبي ﷺ څخه ثابت نه دی، لهذا کله چي دا حديثونه له نبي ﷺ څخه په کامله توګه ثابت نه دي، نو بيا په هغوی سره دليل نيول هم صحيح نه دي.

او بالفرض که دا تسليم هم کړی سي چي له نبي ﷺ څخه ثابت دي، نو بيا دا پر هغه آخري پياله محمول دی کوم چي مُسکر وګرځي، يعني د غيرِ خمرو کوم مقدار چي مُسکر وګرځي، نو پر هغه د خمرو په څېر د حرمت حکم جاري کيږي، او د مُسکر د حرمت خو موږ هم قائل يو.

د انګورو د يو بل مثلث حکم

وَالَّذِي يُصَبُّ عَلَيْهِ الْمَاءُ بَعْدَ مَا ذَهَبَ ثُلُثَاهُ بِالطَّبْخِ او هغه مثلث چي اوبه پکښې واچول سي وروسته تر دې چي د پخولو په وجه د هغه دوه ثلثه ختم سي حَتَّى يَرِقَّ ثُمَّ يُطْبَخُ طَبْخَةً تر دې چي [د اوبو اچولو په وجه] نرى سي بيا هغه پوخ کړل سي حُكْمُهُ حُكْمُ الْمُثَلَّثِ نو د هغه حکم د مثلث د حکم په څېر دی لِأَنَّ صَبَّ الْمَاءِ لَا يَزِيدُهُ إِلَّا ضَعْفًا ځکه اوبه اچول په هغه کي صرف ضعف پيدا کوي [يعني طاقت يې ورکمزوري کوي] بِخِلَافِ مَا إِذَا صُبَّ الْمَاءُ عَلَى الْعَصِيرِ په خلاف د هغه صورت کله چي د انګورو په رَسْ کي اوبه واچول سي ثُمَّ يُطْبَخُ حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَا الْكُلِّ بيا پوخ کړل سي تر دې چي له کُل [رَسْ او اُوبو دواړو] څخه دوه ثلثه ختم سي لِأَنَّ الْمَاءَ يَذْهَبُ أَوَّلًا لِلَطَافَتِهِ ځکه چي اوبه

د خپل باريکوالي په وجه اول ختميږي أَوْيَذْهَبُ مِنْهُمَا يا له دوی دواړو څخه [برابر] ختميږي فَلَا يَكُوْنُ الذَّاهِبُ ثُلُثَيْ مَاءِ الْعِنَبِ نو ختمېدونکې حصه به [خاص] دانګورو د اوبو دوه ثلثه نه وي [لهذا دا مثلث نه سو. فلايحلّ].

اللغات: ﴿يصبّ﴾ د ضرب د باب مضارع ده: اچول. بيول (بهول).

تشريح: د دې شرابو په نوم کي اختلاف دی او په څو نومانو سره نومول سوي دي چي ځيني دا دي:

① يعقوبي او ابو يوسفي، ځکه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله به دا ډېر استعمالول. ② حُميدي. منسوب إلى حُميد بن هانئ، ③ جمهوري، منسوب إلى جمهور الناس، نو ځکه يې نوم نه دی ذکر کړی، وضاحت يې دا دی چي کله دانګورو د رَسْ (اوبو) دوه ثلثه وسوځل سي يعني مثلث وګرځي بيا په هغه کي نوري اوبه واچول سي او هغه نرۍ سي او بيا پوخ کړل سي. نو د دې حکم هم د مثلث عنبي په څېر دی؛ ځکه کله چي مثلث د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حلال دی، نو د اوبو په اچولو سره د هغه په قوت کي نوره کمي واقع کيږي، نو دا خو به په درجه اولیٰ حلال وي.

بخلاف ما إلخ: که چيري دانګورو په رَسْ کي له مخکي څخه اوبه ګډې کړل سي او بيا هغه دومره پوخ کړل سي چي دوه ثلثه يې وسوځي او ټوله يو ثلث پاته سي، نو دا حلال نه دی؛ ځکه جوازي مثلث حلال دی، او دلته دا مثلث پاته نه سو؛ ځکه مثلث خو هغه دی چي خاص دانګورو له رسْ (اوبو) څخه دوه ثلثه ختم سي او دلته خو (مجموعتاً) د اوبو او د انګورو د رَسْ دوه ثلثه ختم سوي دي، نو دا مثلث نه سو، لهذا حلال نه دی.

د پاخه کړل سوي انګورو د شرابو حکم

وَلَوْ طُبِخَ الْعِنَبُ كَمَا هُوَ او که خودي انګور پاخه کړل سي ثُمَّ يُعْصَرُ بيا هغوی ونخوړل سي يُكْتَفٰى بِأَدْنٰى طَبْخَةٍ فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ نو پر معمولي [لږ] پخولو به اکتفا کيږي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د يوه روايت مطابق وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ لَا يَحِلُّ مَا لَمْ يَذْهَبْ ثُلُثَاهُ بِالطَّبْخِ او د هغه په دويم روايت کي نه حلاليږي تر څو چي په پخولو سره د هغوی دوه ثلثه ختم نه سي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا زياته صحيح ده لِأَنَّ الْعَصِيْرَ قَائِمٌ فِيْهِ مِنْ غَيْرِ تَغَيُّرٍ ځکه په انګورو کي رَسْ موجود دی بغير له څه تغيره فَصَارَ كَمَا بَعْدَ الْعَصْرِ نو داسي سو لکه تر نخوړلو وروسته.

اللغات: ﴿عصر﴾ د ضرب د باب مصدر دی: نخوړل (له مېوې وغیره څخه د کنبېکارلو په ذریعه اوبه را ایستل. له تو کر څخه د نستېړلو په ذریعه اوبه را ایستل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که خودي انګور (ثابت انګور) پاخه کړل سي او بیا نخوړ کړل سي، نو د دې رَسْ څه حکم دی؟، فرمایي په دې اړه له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه نقل سوي دی:

①... یو روایت دا دی چې د داسي شرابو د حلت لپاره صرف معمولي غوندې پخول کافي دي. او د ډېرو پخولو ضرورت یې نسته.

②... دویم روایت دا دی چې د دې هاغه حکم دی کوم چې د انګور د رَسْ دی. یعني که دومره پوخ کړل سي چې دوه ثلثه یې ختم سي، نو حلال دی. کنې حلال نه دی. ځکه چې له تغیر او لاس وهلو څخه بغیر هم په هغه کي رَسْ موجود دی. لهذا دا تر نخوړلو وروسته والا رَسْ په څېر سو چې (د هغه د حلت لپاره) د هغه دوه ثلثه ختمېدل شرط دي. لنډه دا چې په هر صورت کي دانګورو د رسْ یو حکم دی. یعني تر نخوړلو مخکي هم او وروسته هم.

که د انګورو سره خرما وغیره ګډل سي او بیا شدت او سُکر پکښي پیدا سي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ جُمِعَ فِي الطَّبْخِ بَيْنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ او که جمع راوستل سي په مینځ کي د [اوبو د] انګورو او خرما أَوْ بَيْنَ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ یا په مینځ کي د خرما او کشمشو لَا يَحِلُّ حَتّٰى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ نو [دا خلیط] نه حلالیږي تر دې چې دوه ثلثه یې ختم سي لِأَنَّ التَّمْرَ إِنْ كَانَ يُكْتَفٰى فِيهِ بِأَدْنٰى طَبْخَةٍ ځکه خرما که څه هم په هغې کي پر معمولي پخولو اکتفاء کیږي فَعَصِيرُ الْعِنَبِ لَا بُدَّ أَنْ يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ لیکن [خرنګه چې] د انګورو په رَسْ کي چاره نسته له دې څخه چې د هغه دوه ثلث ختم سي [یعني کله چې د انګورو د دوو ثلثو ختمېدل ضروري دي] فَيُعْتَبَرُ جَانِبُ الْعِنَبِ اِحْتِيَاطًا نو ځکه [په دې خلیط کي] احتیاطاً د انګورو د جانب اعتبار سوی دی وَكَذَا إِذَا جُمِعَ بَيْنَ عَصِيرِ الْعِنَبِ وَنَقِيعِ التَّمْرِ او همدارنګه کله چې جمع راوستل سي په مینځ کي د انګورو د رَسْ او نقیع تمر لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿زبيب﴾ کشمش (وچ کړي انګور، وچکي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيرې انګور او خرما په اوبو کې واچول سي. نو تر څو چې د دوی دوه ثلثه ختم نه سي، تر هغه وخته نه حلاليږي؛ ځکه خرما که څه هم داسې ده چې په معمولي پخولو سره حلت پکښې راځي، لېکن څرنګه چې دلته د خرما سره انګور هم ګډ کړل سوي دي. نو ځکه احتياطاً به د انګورو جانب لره ترجيح وي، او تاسې ته مخکې معلومه سوه چې د انګورو د اوبو چې تر څو دوه ثلثه ختم نه سي، تر هغه وخته نه حلاليږي، نو همداسې د انګورو او خرما د مجموعې اوبو چې تر څو دوه ثلثه ختم نه سي. تر هغه وخته نه حلاليږي.

همدا حکم د انګورو د اوبو او نقيعِ تمر هم دی. يعني په دغه خليط کې هم چې تر څو دوه ثلثه ختم نه سي، تر هغه وخته نه حلاليږي.

يادونه: دلته مصنف رَحِمَهُ الله له "بين العنب والتمر" څخه وروسته فرمايلي دي: "أو بين التمر والزبيب". دا صحيح نه ښکاري؛ ځکه ماء الزبيب داسې دي لکه ماء التمر چې په دواړو کې په معمولي پخولو سره اکتفاء کيږي. لکه مخکې چې په متن کې ذکر سوه "نبيذ التمر والزبيب إذا طبخ كل واحد منهما أدنى طبخة حلال وإن اشتد...". لهذا که مذکور عبارت داسې سي "أو بين العنب والزبيب" نو بيا صحت لري. کېدای سي دلته د مصنف رَحِمَهُ الله يا له ناسخ او ناقل څخه سهو سوې وي.

د نقيع تمر او نقيع زبيب د معمولي پخولو او بيا په هغه کې د خرما يا کشمشو د اچولو حکم

وَلَوْ طُبِخَ نَقِيْعُ التَّمْرِ وَالزَّبِيْبِ أَدْنٰى طَبْخَةٍ او که چيرې نقيعِ تمر او نقيعِ زبيب معمولي [کم] پاخه کړل سي ثُمَّ أُنْقِعَ فِيهِ تَمْرٌ أَوْ زَبِيْبٌ بيا په هغه کې خرما يا کشمش واچول سي إِنْ كَانَ مَا أُنْقِعَ فِيْهِ شَيْئًا يَسِيْرًا لَا يُتَّخَذُ النَّبِيْذُ مِنْ مِثْلِهِ نو که هغه مقدار کوم چې ور اچول سوی دی معمولي غوندې وي چې له هغومره مقدار څخه نبيذ نه سي جوړېدلای لَا بَأْسَ بِهِ نو په هغه کې څه حرج نسته وَإِنْ كَانَ يُتَّخَذُ النَّبِيْذُ مِنْ مِثْلِهِ او که له هغومره مقدار څخه نبيذ جوړېدلای سي لَمْ يَحِلَّ نو بيا هغه نه حلاليږي كَمَا إِذَا صُبَّ فِي الْمَطْبُوْخِ قَدَحٌ مِنَ النَّقِيْعِ لکه کله چې په پوخ کړل سوي نبيذ کې چې د نقيع يوه پياله واچول سي وَالْمَعْنٰى تَغْلِيْبُ جِهَةِ الْحُرْمَةِ او وجه د حرمت طرف ته غلبه [ترجيح] ورکول دي.

اللغات: ﴿تغليب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: غالب کول، غلبه ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې نقيعِ تمر او نقيعِ زبيب په معمولي پخولو سره حلاليږي. لېکن که تر معمولي پخولو وروسته په هغه کې خرما يا کشمش واچول سي، بيا يې څه حکم دی؟ نو

فرمايي چي كه دومره خرما يا كشمش ور واچوي، چي له هغه څخه عادتاً نبيذ نه جوړول كيږي، يعني ډېر لږ مقدار ور واچوي، نو دا د عدم په درجه كي دي او د مخكي په څېر حلال دي. لېكن كه دومره اندازه ور واچوي چي له هغه څخه په عامه توګه نبيذ جوړول كيږي، نو اوس هغه حلال نه دی، بلكي حرام دی. او دا بالكل داسي ده لكه په نبيذ تمر وغيره كي چي تر معمولي پخوولو وروسته د نقيع تمر يوه پياله واچول سي، نو په دې سره ټوله حراميږي.

او د دې وجه دا ده چي په كوم ځای كي حلت او حُرمت سره جمع سي، نو هلته غلبه او ترجيح حُرمت لره وي.

د مذكوره نبيذ په چيښونكي باندي د حدّ جاري كولو حكم

وَلَاحَدَّ فِي شُرْبِهِ او د هغه په چيښلو كي حدّ نسته لِأَنَّ التَّحْرِيْمَ لِلْاِحْتِيَاطِ ځكه چي [د دې نبيذو] حراموالی د احتياط په وجه دی وَهُوَلِلْحَدِّ فِيْ دَرْئِهِ او احتياط حدّ لره د حدّ په ختمولو كي دی [يعني احتياط د حدّ په ساقطولو كي دی] وَلَوْ طُبِخَ الْخَمْرُ أَوْ غَيْرُهُ بَعْدَ الاِشْتِدَادِ او كه چيري خمر وغيره تر اشتداد وروسته پاخه كړل سي حَتّٰى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ تر دې چي دوه ثلثه يې ختم سي لَمْ يَحِلَّ نو نه حلاليږي لِأَنَّ الْحُرْمَةَ قَدْ تَقَرَّرَتْ ځكه چي [اوس] حرمت ثابت سوی دی فَلَا تَرْتَفِعُ بِالطَّبْخِ نو [تر ثابتېدلو وروسته] په پخولو سره هغه نه ليري كيږي.

اللغات: ﴿تقرّرت﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: قرار نيول، ثابتېدل.

تشريح: فرمايي مذكوره نبيذ يعني نبيذ تمر وغيره چي تر معمولي پخولو وروسته نقيع تمر ور واچول سي، نو د هغه چيښل حرام دي؛ ځكه د احتياط تقاضا همدا ده چي هغه دي حرام وي. لېكن كه څوک يې وچيښي، نو حدّ به نه پرې جاري كيږي؛ ځكه د حدّ جاري كولو لپاره په واضحه توګه د جرم ښكاره كېدل ضروري دي او د احتياط والا په مسئله كي احتياط همدا دی چي حدّ ساقط كړی سي، نو ځكه په دې صورت كي به حدّ نه جاري كيږي.

ولو طبخ إلخ: فرمايي كه شراب بالكل تيار سي يعني جوش، اشتداد او نشه پكښي راسي، برابره ده خمر وي كه غير خمر وي، اوس كه تر دې وروسته هغوی بيا پاخه كړل سي تر دې چي دوه ثلثه يې ختم سي، نو بيا هم نه حلاليږي؛ ځكه مخكي دا أصول تېر سو چي پخول د حرمت لپاره مانع خو دي، لېكن د حرمت لپاره دافع او ليري كونكي نه دي (يعني تر څو چي حرمت ثابت سوی نه وي. هغه خو منع كوي، لېكن كله چي يو وار حرمت ثابت او راسخ سي، نو بيا په پخولو سره هغه نه زايليږي).

د كدو وغیره په لوښو کي د نبیذ جوړولو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِالِانْتِبَاذِ فِي الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ فرمايي: او څه پروا نسته په نبيذ جوړولو کي د کدو په لوښي کي او په زرغون رنګه [د شرابو والا] لوښي کي او په قیر داره لوښي کي لِقَوْلِهِ عليه السلام فِي حَدِيثٍ [1] فِيهِ طُولٌ بَعْدَ ذِكْرِ هٰذِهِ الْأَوْعِيَةِ ځکه نبي ﷺ په یوه طویل [اوږده] حدیث کي د دې لوښو تر ذکر کولو وروسته فرمایلي دي «فَاشْرَبُوا فِي كُلِّ ظَرْفٍ چي تاسي په هرلوښي کي چښاک کوئ! فَإِنَّ الظَّرْفَ لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهُ ځکه لوښی یو شی نه حلالوي او نه یو شی حراموي وَلَا تَشْرَبُوا الْمُسْكِرَ» او نشه کونکی [نشه پیدا کونکی] شی مه چیښئ وَقَالَ ذٰلِكَ بَعْدَ مَا أَخْبَرَ عَنِ النَّهْيِ عَنْهُ او نبي ﷺ دا خبره د دې لوښو څخه د منع تر خبر ورکولو وروسته کړې وه [یعني مخکي خو یې د دې لوښو څخه منع کړې وه او تر هغه وروسته یې دا فرمان او حکم صادر کړی چي فاشربوا الخ] فَكَانَ نَاسِخًا لَهُ نو دا فرمان د هغه لپاره ناسخ سو.

اللغات: ﴿الدُّبَّاء﴾ (بتشديد المضمومة): د کدو لوښی (له کدو څخه جوړ لوښی). پخوا به د غټ کدو مینځ وکښل سو او لوښی به ځني جوړ کړی سو. ﴿الحنتم﴾ د دې لفظ یوه معنیٰ ده: هغه منګی چي په زرغون رنګ سره رنګول سوی وي، په دې کي به عموماً شراب ساتل کېدل. ﴿المزفت﴾ هغه لوښی یا منګی چي په قیر (تارکول) یا په داسي بله مضبوطه ماده سره پوښل سوی وي، (قیر یا تارکول هغه ګاټه، سربښناکه، توره ماده ده چي زیاتره د سړک په جوړولو کي کار ځني اخیستل کیږي چي په بله وینا ډامبر او لوک هم ورته وایي).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي د جاهلیت په زمانه کي به د کدو (دباء) وغیره په لوښو کي شراب جوړېدل، لېکن کله چي د شرابو حرمت نازل سو، نو نبي ﷺ خلک له دې څخه منع کړل، تر دې چي په کومو لوښو کي به شراب جوړېدل، هغه یې هم ممنوع الاستعمال وګرځول، او کله چي خلکو په کراره، کراره شراب او د شرابو لوښي هېر کړل، نو بیا د دغه لوښو د استعمالولو حلت او اباحت بیرته عود وکړی. په عبارت کي د همدې خبري وضاحت سوی دی چي په دباء، حنتم او داسي نورو لوښو کي که نبیذ جوړ کړل سي، نو څه پروا نه لري؛ جائز دي؛ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي "فَاشْرَبُوا فِي كُلِّ ظَرْفٍ" یعني په هر ډول لوښي کي چښاک کوئ؛ ځکه لوښی خو نه یو شی حلالوي او نه یې حراموي.

او څرنګه چي دغه خبره نبي ﷺ د دباء وغیره له استعمال څخه تر منع کولو وروسته فرمایلې ده. نو ځکه دا فرمان د مخکینې حکم لپاره ناسخ سو او په دې سره په دباء، حنتم او مزفت کې چښاک وغیره بیرته جائز وګرځېده

د پورتني مذکوره لوښو د طهارت طریقه

وَإِنَّمَا يُنْتَبَذُ فِيهِ بَعْدَ تَطْهِيرِهِ او په دې لوښو کي به د دوی تر پاکولو وروسته نبیذ جوړول کیږي فَإِنْ كَانَ الْوِعَاءُ عَتِيقًا بیا که دا لوښی پخوانی وي يُغْسَلُ ثَلَاثًا نو درې وار دي پرېولل سي فَيَطْهُرُ نو هغه پاکیږي وَإِنْ كَانَ جَدِيدًا او که نوی وي لَا يَطْهُرُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز نه پاکیږي لِتَشَرُّبِ الْخَمْرِ فِيهِ ځکه په هغه کي شراب جذب سوي وي بِخِلَافِ الْعَتِيقِ په خلاف د پخواني لوښي [چي په هغه کي شراب نه جذب کیږي] وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ ؒ يُغْسَلُ ثَلَاثًا او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز دا لوښی دي درې واره پرېولل سي وَيُجَفَّفُ فِي كُلِّ مَرَّةٍ او هر وار دي وچ کړی سي وَهِيَ مَسْأَلَةُ مَا لَا يَنْعَصِرُ بِالْعَصْرِ او دا د هغه شي مسئله ده کوم چي په نځوړلو سره نه نځوړل کیږي [لکه مخکي چي هم ذکر سوه چي داسي شی به درې واره وچول کیږي] وَقِيلَ: عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يُمْلَأُ مَاءً مَرَّةً بَعْدَ أُخْرَى او ویل سوي دي: چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز دا لوښی دي څو واره په اوبو سره ډک کړل سي حَتَّى إِذَا خَرَجَ الْمَاءُ صَافِيًا غَيْرَ مُتَغَيِّرٍ تر دې چي کله صفا اوبه راووځي کوم چي متغیّري نه وي يُحْكَمُ بِطَهَارَتِهِ نو بیا به د لوښي د پاکوالي فیصله کیږي.

اللغات: ﴿الانتباذ﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نبیذ جوړول. ﴿العتيق﴾ د دې لفظ یوه معنیٰ ده: پخوانی (قدیم). ﴿عصر﴾ د ضرب د باب مصدر دی: نځوړل (له یو شي څخه د کښېکاږلو یا نښتېږلو په ذریعه اوبه را ایستل).

تشریح: **صورت د مسئلي:** دا دی چي دُباء، حنتم او مزفت کوم چي له مخکي څخه ناپاک او په شرابو ککړ وي. دغه لوښي دي تر استعمالولو او نبیذ پکښي جوړولو مخکي درې واره پرېولل سي. او دا درې واره پرېولل د هغوی لپاره طهارت او پاکي ده. یعني په درې واره پرېوللو سره دا لوښي پاکیږي. او که چیري دا له مخکي څخه ککړ لوښي نوي (جدید) وي. نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د هغه د پاکولو هیڅ

طريقه نسته: ځکه په هغه کي شراب او د هغه اجزاء جذب سوي وي. لهذا د دې لوښي د پاکولو هيڅ لاره نسته. لېکن امام ابويوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د نوي لوښي د پاکولو دوې طريقې دي: (۱) يوه دا چي هغه درې واره پرېولل سي او هر وار وچ کړل سي. لکه په نه نستېږل کېدونکي شي کي چي همدغه حکم دی چي هغه به هر وار وچول کيږي (مثلاً يو داسي غټ فرش مردار سو چي نستېږل يې ممکن نه دي نو هغه به درې واره پرېولل کيږي او په هر وار کي به وچول کيږي). (۲) دويمه طريقه يې دا ده چي دا لوښی دې په اوبو ډک کړي او بيا دې اوبه ځني چپه کړي او داسي دې څو واره وکړي يعني تر دې چي يقين يې سي چي اوس نو په هغه کي د بل شي اثر پاته نه دی. بيا هغه پاکيږي او استعمالول يې روا کيږي.

شراب په سرکه بدلېدل يا بدلول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا تَخَلَّلَتِ الْخَمْرُ فرمايي: او کله چي خمر سرکه وګرځي حَلَّتْ نو هغه حلال سوه سَوَاءٌ صَارَتْ خَلًّا بِنَفْسِهَا برابره ده خپله [بذاتِ خود] هغه سرکه وګرځي أَوْ بِشَيْءٍ يُطْرَحُ فِيهَا يا په داسي شي سره [سرکه وګرځي] کوم چي پکښې واچول سي [يعني يا د دارو وغيره په ذريعه سرکه ځني جوړه کړل سي] وَلَا يُكْرَهُ تَخْلِيلُهَا او د خمرو سرکه جوړول مکروه نه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُكْرَهُ التَّخْلِيلُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي سرکه جوړول مکروه دي وَلَا يَحِلُّ الْخَلُّ الْحَاصِلُ بِهِ إِنْ كَانَ التَّخْلِيلُ بِإِلْقَاءِ شَيْءٍ فِيهِ او له خمرو څخه تر لاسه کړل سوې سرکه حلاله نه ده که چيري په خمرو کي د يو شي په اچولو سره له هغوی څخه سرکه جوړه کړل سوې وي قَوْلًا وَاحِدًا په يوه قول سره [يعني په دې باره کي له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه صرف دا يو قول نقل سوی دی چي داسي سرکه بالکل حلاله نه ده] وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ إِلْقَاءِ شَيْءٍ فِيهِ او که په خمرو کي د يو شي له اچولو څخه بغير له هغوی څخه سرکه جوړه کړل سوې وي فَلَهُ فِي الْخَلِّ الْحَاصِلِ بِهِ قَوْلَانِ نو بيا د دې تر لاسه کړل سوې سرکې په هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله لپاره دوه قوله [نقل سوي] دي لَهُ: أَنَّ فِي التَّخْلِيلِ اقْتِرَابًا مِنَ الْخَمْرِ عَلَى وَجْهِ التَّمَوُّلِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په سرکه جوړولو کي خمر ته نژدېکت راځي د تموّل [مال تر لاسه کولو] په توګه وَالْأَمْرُ بِالِاجْتِنَابِ يُنَافِيهِ حال دا چي له خمرو څخه د ځان ساتلو [کوم حکم چي مونږ ته سوی دی. هغه] د نژدېکت منافي دی وَلَنَا قَوْلُهُ عليه السلام: «نِعْمَ[1] الْإِدَامُ الْخَلُّ» او زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی چي: سرکه ډېر غوره سالن دی وَلِأَنَّ بِالتَّخْلِيلِ يَزُولُ

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب في الخل، ص:۵۴۵، حديث رقم: ۳۸۲۰. ومسلم في كتاب الأشربة، باب فضيلة الخل، ص:۹۱۵، حديث رقم: ۲۰۵۱، ۵۳۵۰.

الْوَصْفُ الْمُفْسِدُ او ځکه چې په سرکه جوړولو سره فاسدونکی وصف زائلیږي وَتَثْبُتُ صِفَةُ الصَّلَاحِ او د سمون وصف ثابتیږي مِنْ حَيْثُ تَسْكِينِ الصَّفْرَاءِ وَكَسْرِ الشَّهْوَةِ وَالتَّغَذِّي بِهِ لکه صفراء ته تسکین ورکول، شهوت ماتول او د دې سرکې په ذریعه غذاء حاصلول وَالْإِصْلَاحُ مُبَاحٌ او داسې اصلاح [سمونه] مباح ده وَكَذَا الصَّالِحُ لِلْمَصَالِحِ او همدارنګه [حلال دی] هغه شی کوم چې د مصلحتونو قابل وي [یعني چې په انساني مصلحت او ښېګڼه کې په کار راځي. مراد یې دغه سرکه ده] اعْتِبَارًا بِالْمُتَخَلِّلِ بِنَفْسِهِ وَبِالدِّبَاغِ په قیاس کولو سره پر هغه خمرو کوم چې خپله سرکه ګرځېدلي وي او پر دباغت وَالِاقْتِرَابُ لِإِعْدَامِ الْفَسَادِ او نژدېکت خو د فساد ختمولو لپاره دی فَأَشْبَهَ الْإِرَاقَةَ نو دا د چپه کولو [بهولو] سره مشابه سو وَالتَّخْلِيلُ أَوْلَى او [له شرابو څخه] سرکه جوړول اولیٰ دي لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْرَازِ مَالٍ يَصِيرُ حَلَالًا فِي الثَّانِي ځکه په دې کې د داسې مال خوندي کول سته کوم چې په آینده زمانه کې حلال ګرځي فَيَخْتَارُهُ مَنِ ابْتُلِيَ بِهِ نو ځکه [له خمرو څخه سرکه جوړول به اختیاروي هغه کس چې په دې سره مبتلا سي [نه د هغوی چپه کول].

اللغات: ﴿تخللت﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: سرکه ګرځېدل، سرکه جوړېدل. ﴿يطرح﴾ د فتح د باب مضارع مجهوله ده: اچول، غورځول. ﴿تموّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مال حاصلول او تر لاسه کول. مال ذخیره کول. مال والا کېدل. ﴿إدام﴾ سالن، کتغ، ترکاري، لمده بل. هر داسې شی چې ډوډۍ ور سره خوړل کیږي. ﴿صَالِح﴾ د كَرُم د باب فاعل دی: صلاحیت لرونکی، قابل، وړ. ﴿مَصَالِح﴾ جمع د مَصْلَحَةٌ ده: مصلحتونه یعني ښېګڼي. د ښېګڼي کارونه. ﴿التغذّی﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: یو شی د ځان لپاره غذا ګرځول. غذا حاصلول. ﴿إحراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: خوندي کول (ساتل). جمع کول او ذخیره کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خمر (شراب) خپله سرکه وګرځي یا بل څوک سرکه ځني جوړه کړي، نو اوس هغه حلالیږي. او له خمرو څخه سرکه جوړول مکروه هم نه دي.

لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې له خمرو څخه سرکه جوړول مطلقاً مکروه دي. او که سرکه ځني جوړه کړل سي. نو په حلال والي کې یې څه تفصیل دی: ① که د یو شي او دارو په اچولو سره دا سرکه جوړه کړل سوې وي. نو په دې باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله صرف همدا یو قول نقل سوی دی چې هغه حلاله نه ده. ② او که د شي له اچولو څخه بغیر سرکه جوړه کړل سوې وي. نو په دې باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دوه قوله دي: یو دا چې حلاله ده. او بل دا چې حلاله نه ده.

له أن في التخليل إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دی چي په قرآن کريم کي له خمرو څخه د ځان ساتلو او بچ کېدلو حکم سوی دی. او دا ښکاره خبره ده چي د خمرو په سرکه جوړولو کي هغوی ته نژدېکت راځي هغه هم د تمول په توګه چي په دې ډول هغه کس له دې شرابو څخه مال جوړوي او مالک يې جوړېږي (ځکه چي خمر د مسلمان په حق کي مال نه دي او نه يې مالک کيږي). او په نژدېکت کي د الهي حکم مخالفت راځي، نو ځکه د خمرو سرکه جوړول حلال نه دي.

ولنا إلخ: زموږ د دليل حاصل دا دی چي په حديث کي سرکې ته ښه سالن (نعم الإدام) ويل سوي دي. بيا پکار دي چي سرکه جوړول دي حلال وي؛ ځکه د خمرو په سرکه جوړولو سره اوس مفسد وصف زائليږي او د روغتيا او سمون وصف پکښي پيدا کيږي يعني په دې سرکه سره صفراء تيتيږي او شهوت ماتيږي او انسان ته غذائيت ورکوي، او داسي اصلاح صحيح ده. همدارنګه دا سرکه د دې قابله ده چي په انساني مصلحتونو او ښېګنو کي په کار راسي، نو څرنګه چي هغه خمر حلال دي کوم چي خپله سرکه وګرځي، همداسي دغه خمر (کوم چي سرکه جوړ کړل سي) هم حلال کېدل پکار دي. او لکه څرنګه چي د مردار سوي څاروي څرمن په دباغت ورکولو سره پاکيږي او هغې ته دباغت ورکول بلا کراهته جائز دي، نو همداسي دلته هم کېدل پکار دي. او پاته سو حرام شي ته نژدې کېدل که د هغه د فساد لېري کولو لپاره وي، نو داسي نژدېکت جائز دی. لکه څوک چي وغواړي شراب چپه او توی کړي. نو هغه ته نژدېکت بالاتفاق جائز دی.

والتخليل إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو چا ته په ميراث يا هبة وغيره کي شراب حاصل سي. نو له دې شرابو څخه سرکه جوړول د هغوی له چپه کولو او ضايع کولو څخه اولیٰ او افضل دي؛ ځکه که څه هم دا شراب دي او حرام دي، لېکن کله چي هغه دا خوندي کړي او په آينده کي سرکه ځني جوړه کړي، نو بيا د هغوی حرمت په حلت بدليږي او حلال ګرځي، چي په دې توګه به د هغه مال هم بچ سي او په کار به هم ور سي.

له سرکې جوړېدلو څخه وروسته د لوښي د طهارت مسئله

وَإِذَا صَارَ الْخَمْرُ خَلًّا او کله چي خمر سرکه وګرځي يَطْهُرُ مَا يُوَازِيهَا مِنَ الْإِنَاءِ نو د لوښي هغه حصه پاکيږي کوم چي د خمرو سره مقابل [الکېدلې] وي فَأَمَّا أَعْلَاهُ وَهُوَ الَّذِي نَقَصَ مِنْهُ الْخَمْرُ او پاته سوه پورتنۍ حصه يعني هغه حصه چي خمر ځني لاندي وي قِيلَ: يَطْهُرُ تَبَعًا نو ويل سوي دي: چي هغه هم تبعًا پاکيږي وَقِيلَ: لَا يَطْهُرُ او ويل سوي دي: چي نه پاکيږي لِأَنَّهُ خَمْرٌ يَابِسٌ ځکه هغه وچ خمر دي

إِلَّا إِذَا غُسِلَ بِالْخَلِّ لېکن کله چي لوښی په سرکه سره پرېولل سي فَيَتَخَلَّلُ مِنْ سَاعَتِهِ او دا په هغه ګړي [سمدستي] سرکه وګرځي فَيَطْهُرُ نو پاکيږي وَكَذَا إِذَا صُبَّ فِيهِ الْخَمْرُ ثُمَّ مُلِئَ خَلًّا او همدارنګه کله چي په لوښي کي خمر واچول سي بيا لوښی له سرکې څخه ډک کړل سي يَطْهُرُ فِي الْحَالِ نو لوښی فی الحاله [سمدستي] پاکيږي عَلَىٰ مَا قَالُوْا لکه څرنګه چي فقهاؤ ويلي دي.

اللغات: ﴿يُوازي﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: مقابل کېدل، مخامخ کېدل. ﴿من ساعته﴾ په هغه ګړي، سمدستي. ﴿صُبَّ﴾ د ضرب د باب ماضي مجهوله ده: اچول، بيول (بهول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي په يو لوښي کي خمر پراته دي او هغوی سرکه وګرځي. نو تر کومه ځايه چي دا لوښی په دغه سرکه سره ډک وي، تر هغه ځايه لوښی پاکيږي. او پاته سوه پورتنی حصه چي خمر ځني لاندي وي يعنې له دغه سرکې څخه پورته والا حصه. د هغه په باره کي دوه قوله دي: ① د علامه صدر الشهيد وغيره قول دا دی چي د لاندينۍ حصې په متابعت کي د لوښي هغه پورتنۍ حصه هم پاکيږي ① دويم قول دا دی چي هغه حصه نه پاکيږي؛ ځکه چي په دې لوښي کي مخکي هم شراب اچول سوي وي او د شرابو اجزاء د هغه سره لګېدلي او پيوست سوي وي. خو که لوښی په سرکه سره پرېولل سي. نو هغه پاکيږي. او که له مخکي څخه په لوښی کي شراب وي. لېکن هغه چپه کړل سي او دا لوښی په سرکې سره ډک کړل سي. نو هم سمدستي لوښی پاکيږي؛ ځکه کله چي تر شرابو وروسته په لوښي کي سرکه واچول سوه. نو اوس د سرکې اجزاء د هغه سره پيوست سوه او سرکه حلاله ده. لهذا دا لوښی به هم پاک وي.

کوم شراب چي په تـــل (لاندينی حصه) کي پاته سي د هغه د استعمالولو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ شُرْبُ دُرْدِيِّ الْخَمْرِ فرمايي: او مکروه دي د خمرو تَل چيښل وَالْاِمْتِشَاطُ بِهٖ او د هغه په ذريعه ورېښتان ږمنځول [او داسي ځکه کيږي چي په دې سره ورېښتان ښايسته کيږي. نو دا هم مکروه دي] لِأَنَّ فِيهِ أَجْزَاءَ الْخَمْرِ ځکه چي په تَل کي د خمرو اجزاء وي وَالْاِنْتِفَاعُ بِالْمُحَرَّمِ حَرَامٌ او په حرام شي سره نفع اخيستل حرام دي وَلِهٰذَا لَا يَجُوْزُ أَنْ يُدَاوِيَ بِهٖ جُرْحًا أَوْ دَبَرَةَ دَابَّةٍ په همدې وجه دا جائز نه دي چي په خمرو سره ديو ټپ [پرهار] يا د څاروي د شا د زخم علاج وکړي وَلَا أَنْ يَسْقِيَ ذِمِّيًّا او نه دا [جائز دي] چي په يو ذمي يې وچيښي وَلَا أَنْ يَسْقِيَ صَبِيًّا لِلتَّدَاوِيْ او نه دا [جائز دي] چي په يو کوچني يې وُچيښي د درملنې [علاج] لپاره وَالْوَبَالُ عَلَىٰ مَنْ سَقَاهُ [او که داسي وسي] نو وبال پر هغه کس دی. کوم چي يې په وچيښي وَكَذَا لَا يَسْقِيهَا الدَّوَابَّ او همدارنګه په څارويو به هم شراب نه څښي [...څاروبان به نه په اوبوي] وَقِيلَ: لَا تُحْمَلُ الْخَمْرُ إِلَيْهَا او ويل سوي دي: چي شراب به څارويو ته نه ور وړل کيږي أَمَّا إِذَا قِيدَتْ إِلَى الْخَمْرِ

لېکن که هغوی شرابو ته راکش کړل سي [راوستل سي] فَلَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي څه پروا نسته كَمَا فِي الْكَلْبِ وَالْمَيْتَةِ لکه په سپي او مرداره [مرګه] کي [چي دغه حکم دی] وَلَوْ أُلْقِيَ الدُّرْدِيُّ فِي الْخَلِّ او که د خمرو تَل په سرکه کي واچول سي لَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي څه پروا نسته لِأَنَّهُ يَصِيرُ خَلًّا ځکه چي هغه هم سرکه ګرځي لَكِنْ يُبَاحُ حَمْلُ الْخَلِّ إِلَيْهِ لېکن روا دا دي چي سرکه د تَل وطرف ته يووړل سي لَا عَكْسُهُ نه د دې برعکس [يعني چي د خمرو تَل سرکې ته راوړل سي] لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿دُرْدِيٌّ﴾ تَلْ. يعني هغه څه چي د شرابو وغيره په بېخ کي پاته سي. څرنګه چي د تېلو وغيره تل وي. همداسي د شرابو هم تل وي. ﴿دَبَـرَة﴾ د څاروي د شا زخم کوم چي د کجاوې يا درانه شي وغيره په اېښولو سره پکښې جوړ سوی وي. ﴿امتشاط﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ږمنځول (ګمنځول). ﴿يـداوي﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: درملنه کول. علاج کول. ﴿قِيـدَت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده. مصدر يې قَوَد راځي: څاروی راکشول (بېول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د شرابو تَل چيښل، په بل چا چيښل، يا په دوا کي کارول دا ټوله ناجائز دي، په همدې وجه فقهاؤ ويلي دي چي د انسان يا حيوان پر زخم د علاج لپاره شراب مږل، يا په ذميانو چيښل، يا د علاج لپاره کوچني ته ورکول ټوله ناجائز کارونه دي.

بلکي تر دې حده ويل سوي دي چي و څارويو ته شراب ته راوړل هم جائز نه دي. ها! که څاروي د شرابو طرف ته کش کړل سي او هلته پرېښول سي، نو په دې کي څه حرج نسته. لکه مږګه يا مرداره غوښه سپي ته د وړلو لپاره را اخيستل صحيح نه دي، خو که سپی د هغه وطرف ته راوستل سي او پرېښوول سي. نو صحيح دي، همداسي دلته هم دي.

ولو القي إلخ: فرمايي که څوک د شرابو تَل سرکې ته واچوي، نو په دې کي څه حرج نسته؛ ځکه دا تَل چي سرکې ته ولوېږي. نو هغه هم سرکه ګرځي. خو داسي به نه کيږي چي تَل سرکې ته يووړل سي بلکي سرکه دي تَل ته يووړله سي. لکه اوس چي د سپي او مږګي مسئله تېره سوه؛ دا د دې لپاره چي حتى الوسع شرابو ته نژديکت (اقتراب) رانه سي او اجتناب عن الخمر باقي پاته سي.

د شرابو د تل په چيښونکي باندي د حدّ جاري کولو حکم

قَالَ: وَلَا يُحَدُّ شَارِبُهُ فرمايي: او د هغه پر چيښونکي به حدّ نه جاري کيږي أَيْ شَارِبُ الدُّرْدِيِّ يعني د خمرو د تَلْ پر چيښونکي إِنْ لَمْ يَسْكَرْ که چيري [د هغه په چيښلو سره] نشه نه سي وَقَالَ

الشَّافِعِيُّ: يُحَدُّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي حدّ به پرې جاري كيږي لِأَنَّهُ شَرِبَ جُزْءًا مِنَ الْخَمْرِ ځکه چي هغه د خمرو يو جزء چيښلى دى وَلَنَا: أَنَّ قَلِيْلَهُ لَا يَدْعُوْ إِلَى كَثِيْرِهِ او زمونږ دليل دا دى: چي د تَلْ قليل د هغه د کثير وطرف ته نه داعي كيږي لِمَا فِي الطِّبَاعِ مِنَ النَّبْوَةِ عَنْهُ ځکه په طبيعتونو كي له هغه څخه نفرت دى فَكَانَ نَاقِصًا لهذا هغه ناقص خمر سوه فَأَشْبَهَ غَيْرَ الْخَمْرِ مِنَ الْأَشْرِبَةِ نو له خمرو څخه بغير د نورو شرابونو سره مشابه سوه وَلَا حَدَّ فِيْهَا إِلَّا بِالسُّكْرِ او په نورو شرابونو كي حدّ نسته مګر د نشې په شرط سره وَلِأَنَّ الْغَالِبَ عَلَيْهِ الثِّقَلُ او ځکه چي پر تَلْ دروندوالى غالب وي [يعني تَل څه درُوند وي په همدې وجه لاندي ځي] فَصَارَ كَمَا إِذَا غَلَبَ عَلَيْهِ الْمَاءُ بِالِامْتِزَاجِ نو داسي سو لکه د ګډېدلو په وجه چي پر خمرو اوبه غالبه سي.

اللغات: ﴿النَّبْوَة﴾ ليري والى، نفرت، ﴿ثِقَل﴾ دروند والى، وزن.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى كه څوک د خمرو تَل وچيښي، نو زمونږ په نيز تر څو چي هغه په دې سره نشه نه سي، تر هغه وخته به حدّ نه پرې جاري كيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي حدّ به پرې جاري كيږي؛ د هغه دليل دا دى چي د خمرو په تَل كي د خمرو اجزاء موجود دي، او خمر خپل د ټولو اجزاؤ سره حرام دي؛ نو ځکه د تَل پر چيښونكي به حدّ جاري كيږي.

زمونږ دليل د دى چي تَل كه څه هم د خمرو له اجزاؤ څخه دى ليكن د هغه خمريّت ناقص دى او د تَل قليل د كثير وطرف ته نه داعي كيږي؛ ځكه له هغه څخه طبيعتونه نفرت كوي. لهذا هغه ناقص (د کمي درجې) خمر سو، نو هغه داسي سو لكه له خمرو څخه بغير نور شرابونه. او هلته دا حكم دى چي تر څو انسان نشه نه كړي، حدّ نه واجبيږي، نو همداسي د خمرو د تَل به هم دغه حكم وي.

او بل دليل دا چي تَل د خمرو په بېخ كي شتون لري چي په هغه كي خيرن او ګنده خمر غالب وي، نو دا د هغه خمرو په شېر دى چي اوبه پرې غالبه وي. او پر كوم خمرو چي اوبه غالبه وي، د هغه پر چيښونكي له سكر (نشې) څخه بغير حدّ نه جاري كيږي. لهذا د تَل پر چيښونكي به هم له سكر څخه بغير حدّ نه جاري كيږي.

شراب د علاج په توګه استعمالول (حکم او تفصیل)

وَيُكْرَهُ الِاحْتِقَانُ بِالْخَمْرِ او مکروه دي په خمرو سره حقنه کول وَإِقْطَارُهَا فِي الْإِحْلِيلِ او خمر د ذکر په سوري کي څڅول لِأَنَّهُ انْتِفَاعٌ بِالْمُحَرَّمِ ځکه چي دا په حرام شي سره نفع اخيستل دي وَلَا يَجِبُ الْحَدُّ او حدّ نه واجبيږي لِعَدَمِ الشُّرْبِ ځکه چيښل معدوم دي وَهُوَ السَّبَبُ او همدا چيښل [د حدّ واجبدلو] سبب دي وَلَوْ جُعِلَ الْخَمْرُ فِي مَرَقَةٍ او که خمر په ښوروا ګډ کړل سي لَا تُؤْكَلُ نو هغه ښوروا به نه خوړول کيږي لِتَنَجُّسِهَا بِهَا ځکه د خمرو په وجه ښوارو نجسه [ناپاکه] سوه وَلَا حَدَّ مَا لَمْ يَسْكَرْ مِنْهُ او حدّ نسته تر څو چي ... ني په چيښلو سره نشه نه سي لِأَنَّهُ أَصَابَهُ الطَّبْخُ ځکه چي هغه ته پخېدل رسېدلي دي وَيُكْرَهُ أَكْلُ خُبْزٍ عُجِنَ عَجِينُهُ بِالْخَمْرِ او مکروه دي خوړل د هغه ډوډۍ چي اوړه يې په خمرو سره اخښل سوي وي لِقِيَامِ أَجْزَاءِ الْخَمْرِ فِيهِ ځکه په هغې کي د خمرو اجزاء موجود دي.

اللغات: ﴿احتقان﴾ د افتعال د باب مصدر دی: حقنه ورکول. حقنه لګول (د شا د لاري [يعني د مقعدي لخوا] د مريض معدې ته دواء رسول). وتطلق اليوم على إدخال الدواء إلى داخل الجسم بواسطة الضغط سواء كان عن طريق الدبر أم عن طريق الجلد. ﴿إقطار﴾ د افعال د باب مصدر دی: قطرې څڅول.

﴿المَرَقَة﴾ او مَرَق: ښوروا. (مصباح اللغات)

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي له شرابو څخه هر ډول نفع اخيستل حرام دي، لهذا هغه په حقنه کي استعمالول او د ذکر په سوري کي څڅول دا ټوله مکروه دي، لېکن که څوک داسي وکړي، نو حدّ نه پرې واجبيږي؛ ځکه د حدّ سبب خو چيښل دي، او دلته چيښل موجود نه سوه.

او که شراب په ښوروا کي اچول سوي وي، نو خوړل يې جائز نه دي؛ ځکه اوس هغه ښوروا ناپاکه سوه، لېکن بيا هم که څوک دا سي ښوروا استعمال کړي، نو تر څو چي د هغه په وجه نشه نه سي، حدّ به نه پرې جاري کيږي؛ ځکه دلته شراب د ښوروا سره پخ سوي دي، او په پخ سوي (مطبوخ) شرابو کي د حدّ واجبېدلو لپاره سُکر (نشه) شرط ده. نو ځکه بغير له سُکر څخه حدّ نه واجبيږي.

ويکره إلخ: يعني داسي ډوډۍ خوړل مکروه دي چي اوړه يې په خمرو سره اخښل سوي وي؛ ځکه په دغه ډوډۍ د خمرو اجزاء ګډ دي خو هغه مغلوب دي (د اوړو اجزاء پر غالب دي). لهذا د هغې خوړل که څه هم حرام خو نه دي لېکن مکروه خامخا دي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِيْ طَبْخِ الْعَصِيْرِ

دا فصل د رَسْ پخولو په بيان کي دی

تشريح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي کله عصيرِ عنب (دانګورو رَسْ) پخول کيږي، نو تر څو چي د هغه دوه ثلثه ختم نه سي، تر هغه وخته نه حلاليږي، صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دغه فصل کي د پخولو او د دوو ثلثو د ختمولو (وچولو) طريقه بيان کړي ده. (بنايه ج: ۱۱، ص: ۴۶۲)

تر دوو ثلثو پوري د انګورو د رَسْ ختمولو قاعدې

وَالْأَصْلُ أَنَّ مَا ذَهَبَ بِغَلَيَانِهِ بِالنَّارِ وَقَذْفِهِ بِالزَّبَدِ او اصل دا دی چي کوم مقدار په اُور سره د جوش خوړلو او د ځګ راغورځولو په وجه ختم سي يُجْعَلُ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ نو هغه مقدار به داسي ګڼل کيږي لکه چي نه وو[يعني معلوم به شمېرل کيږي] وَيُعْتَبَرُ ذِهَابُ ثُلُثَيْ مَا بَقِيَ او د پاته سوي مقدار د دوو ثلثو د ختمېدلو اعتبار به کيږي لِيَحِلَّ الثُّلُثُ الْبَاقِي دي لپاره چي پاته ثلث حلال سي بَيَانُهُ عَشَرَةُ دَوَارِقَ مِنْ عَصِيْرٍ طُبِخَ دي بيان [وضاحت] دا دی چي لس پيماني دانګورو رَسْ پوخ کړل سو فَذَهَبَ دَوْرَقٌ بِالزَّبَدِ بيا په ځګ راغورځولو سره يوه پيمانه ختم سوه [او نهه پيماني پاته سوې] يُطْبَخُ الْبَاقِيْ حَتّٰى يَذْهَبَ سِتَّةُ دَوَارِقَ نو پاته رَس [نهه پيماني] به دومره پخول کيږي چي شپږ پيماني ختم سي وَيَبْقَى الثُّلُثُ او درې پيماني پاته سي فَيَحِلُّ نو هغه [درې پيماني] حلال دي لِأَنَّ الَّذِيْ يَذْهَبُ زَبَدًا هُوَ الْعَصِيْرُ أَوْ مَا يُمَازِجُهُ ځکه کوم ځګ چي ختم سو هغه رَسْ دی يا د رَس سره ګډ سوی شی دی [يعني تَلْ: خيره وغيره] وَأَيًّا مَا كَانَ جُعِلَ كَأَنَّ الْعَصِيْرَ تِسْعَةُ دَوَارِقَ [خير!] هغه که هر شی وي داسي به ګڼل کيږي ګواکي رَسْ نهه پيماني دی فَيَكُوْنُ ثُلُثُهَا ثَلَاثَةً نو د هغه ثلث به درې پيماني وي.

اللغات: ﴿غَلَيَان﴾ مصدر دی: جوش خوړل، جوشېدل، خوټکېدل. ﴿ثُلُث﴾ او ثُلْث: دريمه (دريمه حصه). ﴿دَوَارِق﴾ جمع د دَوْرَقٌ ده: د شرابو او شربتو پيمانه، دا پخوا يو ډول د بښېښي پيمانه

(لوښي) وو چې خوله يې تنګه او غاړه به يې اوږده وه، او په دې سره به شراب، شربت وغيره پېمانه کېدل چې مقدار به يې درې يا څلور رطل بغدادي وو.

تشريح: په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ الله څو قاعدې بيان کړې دي، دا اوله قاعده ده، حاصل يې دا دی چې د انګورو د رَسْ کوم مقدار چې په جوشېدلو او ځګ غورځولو سره ختم سي، نو هغه به کالعدم شمېرل کيږي (يعني دا مقدار به له اصل مقدار څخه معدوم شمېرل کيږي او په حساب کې به نه راوړل کيږي)، نو له دې مقدار څخه بغير نور چې څومره مقدار پاته وي، د هغه د دوو ثلثو ختمېدل او وچېدل ضروري دي، مثلاً لس (۱۰) لېټره خمر دي چې په جوش خوړلو او ځګ غورځولو سره يې يو لېټر ختم سو، نو اوس د پاته نهو (۹) لېټرو دوه ثلثه يعني شپږ لېټره په پخولو سره ختمول او وچول ضروري دي، تر دې وروسته چې کوم درې لېټره باقي پاته سي، هغه حلال دي.

بيانه إلخ: د دې بيان څو پورته ذکر سو او دا ښکاره هم دي، او د "دَوارق" تعريف هم په لغاتو کې وسو.

دويمه قاعده

وَأَصْلٌ آخَرُ أَنَّ الْعَصِيرَ إِذَا صُبَّ عَلَيْهِ مَاءٌ قَبْلَ الطَّبْخِ او بل اصل دا دی چې د انګورو په رَسْ کې چې کله تر پخولو مخکې اوبه واچول سي ثُمَّ طُبِخَ بِمَائِهِ بيا هغه داوبو سره پوخ کړل سي إِنْ كَانَ الْمَاءُ أَسْرَعَ ذِهَابًا لِرِقَّتِهِ وَلَطَافَتِهِ نو که اوبه د خپل نرموالي او باريکوالي په وجه اول [مخکې] ختمېدونکې وي يُطْبَخُ الْبَاقِي بَعْدَ مَا ذَهَبَ مِقْدَارُ مَا صُبَّ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ نو پاته مقدار به پخول کيږي د هغه اوبو تر ختمېدلو وروسته کوم چې په رَسْ کې اچول سوې وي حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ [دومره به پخول کيږي] تر دې چې د رَسْ دوه ثلثه ختم سي لِأَنَّ الذَّاهِبَ الْأَوَّلَ هُوَ الْمَاءُ ځکه کوم مقدار چې اول ختم سوی دی هغه اوبه دي وَالثَّانِيَ الْعَصِيرُ او دويم رَسْ دی فَلَا بُدَّ مِنْ ذَهَابِ ثُلُثَيِ الْعَصِيرِ نو ځکه د رَسْ د دوو ثلثو ختمېدل ضروري دي.

اللغات: ﴿العصير﴾ د انګورو نچوړل سوې اوبه، رَسْ. ﴿أسرع﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات تېز، تر ټولو مخکې. ﴿لطافة﴾ باريک والی، نری والی.

تشريح: دا دويمه قاعده ده چې که تر پخولو مخکې د انګورو رَسْ ته اوبه واچول سي، بيا هغه د اوبو سره پوخ کړل سي، نو د دې صورت به څه وي؟ فرمايي دې ته به کتل کيږي چې اول اوبه وچيږي (ختميږي) او که اوبه او رَسْ دواړه يو ځای سره وچيږي، که چيري اوبه مخکې وچيږي، نو

دومره به پخول کيږي چې اول اوبه ختمې سي او بيا تر دې وروسته د رَسْ دوه ثلثه ختم سي، دا حکم هغه وخت دی چې اول اوبه وچيږي او که دواړه يو ځای وچيږي، نو د دې حکم به په را روان عبارت کې ذکر سي.

د پورتني قاعدې نور وضاحت

وَإِنْ كَانَا يَذْهَبَانِ مَعًا او که اوبه او رَسْ دواړه يو ځای ختميږي [وچيږي] تُغْلَى الْجُمْلَةُ حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ نو کُل [دواړو] ته به جوش ورکول کيږي تر دې چې د کُل دوه ثلثه ختم سي وَيَبْقَى ثُلُثُهُ او يو ثلث يې پاته سي فَيَحِلُّ نو بيا هغه حلاليږي لِأَنَّهُ ذَهَبَ الثُّلُثَانِ مَاءً وَعَصِيرًا ځکه چې د اوبو او رَسْ دوه ثلثه ختم سوه وَالثُّلُثُ الْبَاقِي مَاءٌ وَعَصِيرٌ او پاته ثلث [هم] اوبه او رَسْ دي فَصَارَ كَمَا إِذَا صُبَّ الْمَاءُ فِيهِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ مِنَ الْعَصِيرِ بِالْغَلْيِ ثُلُثَاهُ نو داسي سو لکه د جوش خوړلو په وجه د رَسْ د دوو ثلثو تر ختمېدلو وروسته چې په هغه کې اوبه واچول سي بَيَانُهُ عَشَرَةُ دَوَارِقَ مِنْ عَصِيرٍ وَعِشْرُونَ دَوْرَقًا مِنْ مَاءٍ د دې بيان داسي دی چې لس پيمانې رَسْ دی او شل پيمانې اوبه دي فَفِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ يُطْبَخُ حَتَّى يَبْقَى تُسْعُ الْجُمْلَةِ نو په اول صورت کې به دومره پخول کيږي چې د کُل [رَس او اوبو دواړو] نهمه حصه پاته سي لِأَنَّهُ ثُلُثُ الْعَصِيرِ ځکه چې دا د رَسْ ثلث دی وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَا الْجُمْلَةِ او په دويم صورت کې به دومره پخول کيږي چې د کُل دوه ثلثه ختم سي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

تشريح: فرمايي که چيري اوبه او رَسْ دواړه يو ځای وچيږي او ختميږي، نو په دې صورت کې چې د کُل (يعني د اوبو او رَسْ) دوه ثلثه ختم سي، نو حلال دي؛ ځکه دا کوم دوه ثلثه چې ختم سوه، هغه د اُوبو او رَسْ دواړو څخه ختم سوه. او کوم ثلث چې پاته دی، هغه هم د اوبو او رَسْ دواړو ثلث دی. نو ځکه دا حلال دی.

او د دې مثال بالکل داسي دی لکه د انګورو رَسْ چې پوخ کړل سي او د هغه دوه ثلثه ختم کړل سي، بيا په پاته ثلث کې اوبه واچول سي، نو هغه حلال دی، بس همدغسي د دې پورتني صورت حکم هم دی.

بيانه إلخ: په دې سره مصنف رَحِمَهُ الله د مذکوره قاعدې مثال پېشوي. چې مثلاً لس لېټره د انګورو رَسْ دی او شل لېټره اوبه دي، نو په اول صورت کې يعني که اول اوبه وچيږي، نو دا به دومره پخول کيږي چې د کُل مقدار يعني د دېرشو لېټرو نهمه حصه پاته سي. او دلته نهمه حصه درې لېټره او د يوه لېټره يو ثلث (دريمه حصه) راځي. او همدا مقدار (يعني درې او ديوه يو ثلث) د عصير (لسو لېټرو) يو ثلث دی. نو اوس چې له کُل مقدار څخه درې لېټره او ديوه لېټر يو ثلث باقي پاته سي. نو دا د رَسْ ثلث شمېرل کيږي او حلال دی.

او که اوبه او رَسْ دواړه يو ځای سره وچيږي، نو بيا د کُل مقدار دوه ثلثه ختمول ضروري دي چې يو ثلث باقي پاته سي، يعني له دېرشو څخه شل ختمول او وچول ضروري دي چې لس باقي پاته سي.

لما قلنا إلخ: د هاغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی يعني په دې صورت کې چې کوم دوه ثلثه ختم سوه هغه د کُل (اوبو او رَسْ دواړو) څخه ختم سوه. او کوم ثلث چې پاته سو. هغه هم د کُل ثلث دی.

د انګورو د رَس دوه ثلثه که په هر څو واره پخولو سره ختم کړل سي حکم يې يو دی

وَالْغَلْيُ بِدَفْعَةٍ وَدَفَعَاتٍ سَوَاءٌ او په يوه وار يا په څو وارو سرمجوش ورکول سره برابر دي إِذَا حَصَلَ قَبْلَ أَنْ يَصِيْرَ مُحَرَّمًا کله چې دا کار مخکي تر دې حاصل سي چې رَسْ حرام [خمر] وګرځي وَلَوْ قُطِعَ عَنْهُ النَّارُ او که له هغه څخه اُور منقطع [مړ] سي فَغَلَى حَتَّى ذَهَبَ الثُّلُثَانِ بيا هغه خپله دومره جوش وخوري چې دوه ثلثه يې ختم سي يَحِلُّ نو حلاليږي لِأَنَّهُ أَثَرُ النَّارِ ځکه چې دا د اُور اثر دی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د انګورو د رَسْ دوه ثلثه په پخولو سره سوځل او ختمول ضروري دي، برابره ده په يوه وار سره وسوځل سي يا په څو وارو سره. لېکن شرط دا دی چې د هغه د خمر کېدلو څخه مخکي به داسي کيږي، کنې تر خمر ګرځېدلو وروسته بيا پخول مفيد نه دي: ځکه چې پخول د حرمت د ثبوت مانع خو دي، لېکن د هغه رافع نه دي (لکه مخکي چې ذکر سوه).

ولو قطع إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د رَسْ پخولو په دوران کې اُور مړ سي، خو رسْ خپله دومره وخوټکيږي چې دوه ثلثه يې ختم سي، نو حلال دی؛ ځکه چې دا خوټکېدل د اُور په اثر سره وه. او تاسي ته معلومه ده چې که په اُور سره دوه ثلثه ختم کړل سي نو حلاليږي، همداسي به دا هم حلال وي.

درېيمه قاعده

وَأَصْلٌ آخَرُ أَنَّ الْعَصِيرَ إِذَا طُبِخَ فَذَهَبَ بَعْضُهُ او بل اصل دا دی چې کله د انګورو رَسْ پوخ کړل شي او د هغه څه حصه ختمه سي ثُمَّ أُهْرِيقَ بَعْضُهُ بيا د هغه بعضي حصه چپه کړل سي كَمْ تُطْبَخُ الْبَقِيَّةُ حَتَّى يَذْهَبَ الثُّلُثَانِ نو پاته حصه به څومره پخول کيږي چې د هغه دوه ثلثه ختم سي؟ فَالسَّبِيلُ فِيهِ أَنْ تَأْخُذَ ثُلُثَ الْجَمِيعِ نو د دې طريقه دا ده چې ته د ټوله رَسْ ثلث واخله [له ټوله رَس څخه يو ثلث وباسه!] فَتَضْرِبَهُ فِي الْبَاقِي بَعْدَ الْمُنْصَبِّ بيا دې ته په هغه مقدار کې ضرب ورکړه کوم چې تر چپه کولو وروسته پاته سوی وي ثُمَّ تَقْسِمَهُ عَلَى مَا بَقِيَ بَعْدَ ذِهَابِ مَا ذَهَبَ بِالطَّبْخِ قَبْلَ أَنْ يَنْصَبَّ مِنْهُ شَيْءٌ بيا دا تقسيم کړه پر هغه مقدار کوم چې باقي پاته سوی وي د هغه مقدار تر ختمېدلو وروسته کوم چې په پخولو سره ختم سوی وي له هغه څخه د څه تر چپه کولو مخکې [يعني دا بيا پر هغه مقدار تقسيم کړه کوم چې په پخولو سره تر ختمولو وروسته او له چپه کولو څخه مخکې پاته سوی وي] فَمَا يَخْرُجُ بِالْقِسْمَةِ نو کوم مقدار چې له تقسيم څخه حاصل سي فَهُوَ حَلَالٌ نو هغه حلال دی بَيَانُهُ عَشَرَةُ أَرْطَالِ عَصِيرٍ طُبِخَ حَتَّى ذَهَبَ رِطْلٌ د دې بيان دا دی چې لس رطله د انګورو رَسْ دی کوم چې دومره پوخ کړل سو چې يو رطل يې ختم سو ثُمَّ أُهْرِيقَ مِنْهُ ثَلَاثَةُ أَرْطَالٍ بيا له هغه څخه درې رطله چپه کړل سوه تَأْخُذُ ثُلُثَ الْعَصِيرِ كُلِّهِ وَهُوَ ثَلَاثَةٌ وَثُلُثٌ نو ته د ټوله رَسْ ثلث واخله چې هغه درې [رطله] او ثلث [د رطل] دی وَتَضْرِبُهُ فِيمَا بَقِيَ بَعْدَ الْمُنْصَبِّ وَهُوَ سِتَّةٌ او ته هغه ضرب کړه! په هغه مقدار کې کوم چې تر چپه کولو وروسته پاته سوی دی چې هغه شپږ دي فَيَكُونُ عِشْرِينَ نو دا به شل سي ثُمَّ تَقْسِمُ الْعِشْرِينَ عَلَى مَا بَقِيَ بَعْدَ مَا ذَهَبَ بِالطَّبْخِ مِنْهُ قَبْلَ أَنْ يَنْصَبَّ مِنْهُ شَيْءٌ بيا ته دا شل پر هغه مقدار تقسيم کړه! کوم چې په پخولو سره تر ختمېدلو وروسته او له چپه کولو څخه مخکې پاته سوی دی وَذَلِكَ تِسْعَةٌ او هغه نهه دي فَيَخْرُجُ لِكُلِّ جُزْءٍ مِنْ ذَلِكَ اِثْنَانِ وَتُسْعَانِ نو له

هغوی څخه د هر جزء لپاره دوه [رطله] او [ديوه رطل] دوې نهمي حصي راوځي فَعَرَفْتَ أَنَّ الْحَلَالَ فِيمَا بَقِيَ مِنْهُ رِطْلَانِ وَتُسْعَانِ نو تا وپيژندل چي د دې رَسْ هغه مقدار حلال دی کوم چي له دې رَسْ څخه دوه رطله او دوې نهمي حصې پاته سي وَعَلَىٰ هٰذَا تُخَرَّجُ الْمَسَائِلُ او پر همدې اصل د څو مسائلو تخريج کيږي وَلَهَا طَرِيقٌ آخَرُ او د دې لپاره بله طريقه هم سته وَفِيمَا اكْتَفَيْنَا بِهِ كِفَايَةٌ وَهِدَايَةٌ إِلَىٰ تَخْرِيجِ غَيْرِهَا مِنَ الْمَسَائِلِ او په هغه طريقه کي چي موږ اکتفاء په کړې ده کافي والی او لارښوونه ده د نورو مسائلو د تخريج وطرف ته.

اللغات: ﴿أُهرِيقَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: چپه کول، بهول. ﴿منصب﴾ د انفعال د باب مصدر ميمي دی، چپه کېدل، بهېدل. ﴿أرطال﴾ جمع د رِطْلٌ ده: دا پخوا يو پيمانه (لوښی) وو چي په هغه سره به شيان اندازه کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي درېيم اصل بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چي که په پخولو سره د رَسْ څه مقدار ختم سي او بيا څه مقدار چپه کړل سي، نو اوس د ما بقي رَسْ د حلت لپاره به هغه څومره پخول کيږي.

نو په دې باره کي اصل او قاعده دا ده چي د ټوله رَسْ ثلث څني وباسه محفوظ يې کړه، بيا وګوره چي تر چپه کولو مخکي په پخولو سره څومره مقدار ختم سوی دی هغه هم نوټ او محفوظ کړه، بيا وګوره چي څومره مقدار چپه کړل سوی دی، هغه هم محفوظ کړه او تر چپه کولو وروسته څومره مقدار پاته دی، هغه هم محفوظ کړه، اوس تر چپه کولو وروسته چي کوم مقدار پاته دی، په دې کي هغه ثلث ضرب کړه کوم چي له ټوله رَسْ څخه ايستل سوی وو، او د ضرب چي کوم حاصل راووځي، دا پر هغه مقدار تقسيم کړه کوم چي تر پخولو وروسته او چپه کولو مخکي پاته سوی دی، اوس د تقسيم چي کوم حاصل راووځي، نو ما بقي رَسْ دومره وسوځه چي د تقسيم د حاصل په مقدار پاته سي، نو بيا دغه پاته مقدار حلال دی.

مثال يې دا دی چي مثلاً ۱۰ رطله د انګورو رَسْ دی چي له هغه څخه يو رطل په پخولو سره ختم سو، او له پاته (۹) رطلو څخه (۳) رطله چپه کړل سوه او (۶) رطله پاته سوه، نو اوس د ما بقي (۶)

رطلو د حلت طريقه دا ده چي د پورتنۍ قاعدې مطابق دي اول د ټوله رَسْ يعني د (۱۰) رطلو ثلث ويستل سي چي هغه درې رطله او ديوه رطل يو ثلث (دريمه حصه) کيږي يعني درې او ديوه دريمه حصه دي ځني ويستل سي او دا دي په مابقي (۶) رطلو کي ضرب کړل سي. نو حاصلِ ضرب (۲۰) راځي. اوس دي دغه حاصلِ ضرب په پر هغه مقدار تقسيم کړل سي کوم چي تر پخولو وروسته او تر چپه کولو مخکښي پاته سوی دی. ښکاره خبره ده چي هغه مقدار (۹) رطله وو. نو حاصلِ ضرب يعني (۲۰) پر (۹) تقسيم کړه. دا چي پر تقسم سي نو حاصلِ تقسيم ۲/۹۹ راځي (يا په بل شکل ۲/۲۲)، يعني دوه لېټره کامل او بل دوې نهمي حصي يا په بله وينا دا چي دوه لېټره کامل او ديوه لېټر دوې داني نهمي حصې (کوم چي تقريبا ۲۲۲ گرامه کيږي) په لنډه وينا دا چي څه د پاسه دوه لېټره. نو تر دې وروسته به هغه پاته رَسْ دومره سوځول کيږي چي دوه لېټره او ديوه لېټر دوې نهمي حصې پاته سي، نو اوس دغه پاته سوی مقدار (دوه لېټره...) حلال دی او چيښل يې روا دي، تاسي خپله هم ماشين راوخلئ! او حساب ورته وکړی (د حساب په ماشين کي چي ۲۰ پر ۹ تقسيم کړل سي. نو حاصلِ تقسيم ۲.۲۲ يا په بل شکل ۲/۲۲. نور د دې مطلب هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی).

وعلی هذا إلخ: فرمايي موږ چي ستاسي مخ ته د رَسْ پخولو او حلال گرځولو په هکله کومي قاعدې او طريقه پېش کړې ده، له هغه څخه تاسي په آسانۍ د دې ډول مسائلو تخريج کولای سي، که څه هم په دې هکله د حساب بله طريقه هم سته، خو مذکوره طريقه کافي او وافي ده. د نور تفصيل لپاره دې کفاية المنتهي وغيره مطالعه کړی سي.

يادونه: په كِفَايَةٌ او هِدَايَةٌ كي باريکه اشاره ده د کفاية المنتهی او د هِداية وطرف ته. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم.



كِتَابُ الصَّيْدِ

(دا) كتاب د "ښكار" (په بيان كي) دى

تشريح: د كتابُ الأشربة او كتابُ الصيد تر مينځ مناسبت په دې توګه دى چي څرنګه په شرابو سره انسان ته سُرور او مستي حاصليږي، همداسي په صَيداو ښكار سره هم ده ته سُرور او خوند حاصليږي. نو ځكه يو تر بل وروسته بيان كړل سوي دي، خو څرنګه چي په اشربه وو كي د حرمت طرف غالب وي. نو د اجتناب عن المعاصي اړخ ته په كتلو سره مصنف رَحِمَهُ الله كتابُ الاشربة تر كتابُ الصَّيد مخكي بيان كړى دى. (احسن الهدايه)

د صيد لغوي او اصطلاحي معنى: د "صَيْد" لغوي معنىٰ ده: "ښكار كول" (ښكارول). ګواكي صيد د اصطياد په معنىٰ سره دى چي د هغه هم دغه معنىٰ ده.

د صيد اصطلاحي معنىٰ ده: "كُلُّ مُمْتَنِعٍ مُتَوَحِّشٍ طَبْعًا لَايُمْكِنُ أَخْذُهُ إِلَّا بِحِيْلَةٍ" يعني (نيول د) هر هغه حيوان كوم چي په طبعي توګه له انسانانو څخه بيريږي او له څه چل او حيلې څخه بغير د هغه نيول ممكن نه وي، نو دې ته صَيد وايي. (احسن الهدايه)

د ښكار حكم او شرعي حيثيت

قَالَ: اَلصَّيْدُ اَلِاصْطِيَادُ فرمايي: صيد ښكار كول دي [يعني د صيد معنىٰ ده: ښكار كول] وَيُطْلَقُ عَلٰى مَا يُصَادُ او د صَيد اطلاق پر ښكار كړل سوي ښكاروي [هم] كيږي وَالْفِعْلُ مُبَاحٌ لِغَيْرِ الْمُحْرِمِ فِي غَيْرِ الْحَرَمِ او دا فعل [ښكار كول] د غير محرم لپاره په غير حرم كي روا دي لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا﴾ [المائدة:٢] د الله تعالىٰ د دې فرمان په وجه: او كله چي تاسي [له احرام څخه] حلال سى نو بيا ښكار وكړئ! وَلِقَوْلِهِ عَزَّوَجَلَّ: ﴿وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾ [المائدة:٩٦] او د الله تعالىٰ د دې فرمان په وجه: او پر تاسي د وچي ښكار حرام دى تر څو چي په احرام كي ياست وَلِقَوْلِهِ عليه السلام[1] لِعَدِيِّ بْنِ

[1] تخريج: أخرجه البخاري، باب صيد المعراض، ص:٩٧٥، حديث رقم:٥٤٧٦، كتاب الذبائح والصيد. ومسلم، باب الصيد بالكلاب المعلمة والرمي، ص:٨٦١، حديث رقم:١٩٢٩.

حَاتِمِ الطَّائِيِّ رضي الله عنه او عدی بن حاتم طائي رضي الله عنه ته د نبي ﷺ دې فرمان په وجه «إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ "کله چې ته خپل تعليم يافته [يعني ښکار ورښوول سوی] سپی [پر ښکار] ور ايله کړې وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ او پر هغه د الله تعالیٰ نوم واخلې فَكُلْ نو [د هغه ښکار] وخوره وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ او که سپی له هغه ښکار څخه خوراک وکړي فَلَا تَأْكُلْ نو مه يې خوره لِأَنَّهُ إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ ځکه چې سپي دا ښکار د خپل ځان لپاره راوګرځوی وَإِنْ شَارَكَ كَلْبَكَ كَلْبٌ آخَرُ او که ستا سپي سره بل سپی هم شريک سي فَلَا تَأْكُلْ نو هم يې مه خوره فَإِنَّكَ إِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى كَلْبِ غَيْرِكَ» ځکه تا خو پر خپل سپي بسم الله ويلې ده او د بل چا پر سپي دې بسم الله نه ده ويلې " وَعَلَى إِبَاحَتِهِ انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ او د ښکار په روا ښت باندې اجماع [هم] منعقد سوې ده وَلِأَنَّهُ نَوْعُ اِكْتِسَابٍ وَانْتِفَاعٍ بِمَا هُوَ مَخْلُوقٌ لِذٰلِكَ او ځکه چې دا يو کسب [لاس ته راوړنه] ده او نفع اخيستل دي په هغه حيوان سره کوم چې د نفع اخيستلو لپاره پيدا سوی دی وَفِيْهِ اِسْتِبْقَاءُ الْمُكَلَّفِ وَتَمْكِيْنُهُ مِنْ إِقَامَةِ التَّكَالِيْفِ او په دې کې د مکلف [انسان] باقي ساتل او هغه ته د تکاليفو د قايمولو قدرت ورکول [هم] سته [په آسانه وينا دا چې ښکار کول دا د الله له مخلوق څخه فايده اخيستل دي او داسې فايده، که اخلې نو مکلف يعني انسان باقي پاتېږي او تکاليف يعني انسان چې په کومو عباداتو سره مکلف سوی دی د هغه پر پوره کولو به قادر وي] فَكَانَ مُبَاحًا بِمَنْزِلَةِ الْاِحْتِطَابِ نو ځکه دا به روا وي لکه بوټي [لرګي] ټولول ثُمَّ جُمْلَةُ مَا يَحْوِيْهِ الْكِتَابُ فَصْلَانِ بيا هغه ټوله بحثونه چې دا كتابُ الصيد پر مشتمل دی دوه فصلونه دي أَحَدُهُمَا فِي الصَّيْدِ بِالْجَوَارِحِ له هغوی څخه يو فصل په جوارحو سره د ښکار کولو په بيان کې دی وَالثَّانِيْ فِي الْاِصْطِيَادِ بِالرَّمْيِ او بل فصل په غشي ويشتلو سره د ښکار کولو په بيان کې دی.

اللغات: ﴿البَرّ﴾ وچه. له سمندرونو څخه بغير نوره ځمکه. مَا انبسط من سطح الأرض ولم يغطه الماء.
﴿إرسال﴾ د افعال د باب مصدر دی. د دې باب يوه معنیٰ ده: ايله کول (خوشې کول). پر ښوول. يعني ښکارونکی حيوان پر ښکار ورايله کول. ﴿اکتساب﴾ د افتعال د باب مصدر دی: څه ګټل او لاس ته راوړل. ﴿أمسک﴾ د افعال د باب ماضي ده: نيول. راګرځول. ﴿احتطاب﴾ د افتعال د باب مصدر دی: بوټي او لرګي جمع کول (يعني وچ بوټي او لرګي پرېکول او سره ټولول). ﴿يحوي﴾ د ضرب د باب مضارع ده: مشتمل کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د صَيد دوه معناوي دي: ① ښکار کول. ② ښکار کړی سوی حيوان. او ښکا کول روا دي. خو د محرم لپاره هيڅ ځای هم او د غير محرم لپاره په حرم کې ښکار کول جائز نه دي؛ ځکه چې قرآن کريم کې په ښکاره الفاظو له دې څخه منع سوې ده: ﴿وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا﴾ (يعني کله چې تاسي له احرام څخه حلال سی نو بيا ښکار کولای سی). معلومه سوه چې محرم کس لره ښکاره کول ممنوع او حرام دي، او په بل آيت کې راځي ﴿وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾ (يعني د احرام په حالت کې پر تاسي د وچې ښکار حرام کړی). او د ښکار په روايښت باندې هغه حديث دليل دی کوم چې په کتاب مذکور دی چې په هغه کې نبي ﷺ عدی بن حاتم طائي رضي الله عنه ته فرمايلي دي چې که ته په بسم الله ويلو سره خپل سپی ښکار ور ايله کړې او سپی هغه ښکار نه وخوري، نو هغه ستا لپاره حلال دی، خو که سپی يې وخوري. يا ستا د سپي سره بل سپی هم په هغه ښکار کې شرکت وکړي. نو بيا يې د خوړلو اجازت نسته، په دغه حديث کې په "فَكُلْ" سره د ښکار حلت او روايښت ثابتيږي.

<u>وعلى إباحته إلخ</u>: فرمايي د ښکار په روايښت باندې د اُمت اجماع منعقد سوې ده. او اجماع له شرعي حجتونو څخه يو قوي حجت دی چې په هغه سره حلت او حُرمت ثابتېدای سي.

<u>ولأنه إلخ</u>: دا د ښکار د روايښت عقلي دليل دی چې ځاروي د انسانانو د منفعت لپاره پيدا کړل سوي دي، اوس دا منفعت د هغوی په شيدو سره هم ترلاسه کېدلای سي او د هغوی په غوښو سره هم. او بل دا چې د ښکار په روا ګرځولو کې د مکلف انسان بقاء هم سته او په دې سره هغه ته د تکاليفو يعني د مکلفاتو د قايمولو قدرت هم حاصليږي، او که انسان له دې کار څخه منع سي او ځاروی خپله هلاکېدو ته پرېښوول سي چې هلاک سي او حرام سي، نو د هغه منفعت فوتيږي او انسان يې له نفعې څخه محروميږي، نو ځکه په دې حواله سره هم ښکار کول جائز او روا دي.

<u>ثم جملة إلخ</u>: فرمايي چې د دغه کتاب ټوله بحثونه او مسائل پر دوو فصلونو مشتمل دي چې له هغوی څخه اول فصل د جوارحو يعني په ښکاري حيوانانو سره د ښکار کولو په بيان کې دی او دويم فصل په غشي وغيره سره د ښکار کولو په بيان کې دی.



فَصْلٌ فِي الْجَوَارِحِ

دا فصل په (بیان د) زخمي کونکو (ښکار کونکو) حیوانانو کي دی

تشریح: څه مخکښي ذکر سوه چي په کتابُ الصید کي دوه فصلونه دي: ① فصل فی الجوارح. ② فصل فی الرمی. اوس له دي دواړو څخه اول فصل فی الجوارح بیانوي. او له فصل فی الرمی څخه د هغه د مخکښي کولو وجه دا ده چي جوارح له حیوانانو (ساکښو) څخه دي او رمی له جماداتو څخه ده. او حیوان له جماد څخه افضل دی، نو ځکه یې د هغه بیان مخکښي کړی دی.

ښکاره دي وي چي جَوارِح جمع د جَارِحَةٌ ده چي د هغه معنیٰ ده: زخمي کونکي (زخم جوړونکي).

د ښکاري حیوان په ذریعه د ښکار کولو حکم

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي وَيَجُوزُ الِاصْطِيَادُ بِالْكَلْبِ الْمُعَلَّمِ وَالْفَهْدِ وَالْبَازِيّ وَسَائِرِ الْجَوَارِحِ الْمُعَلَّمَةِ فرمايي: او جائز دي ښکار کول په تعلیم یافته [ښکار ورښودل سي] سپي سره او په باز سره او په پړانګ سره او په ټولو زخمي کونکو تعلیم یافته حیوانانو سره وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَكُلُّ شَيْءٍ عَلَّمْتَهُ مِنْ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ او په جامع صغیر کي دي: او هر هغه څه چي تا تعلیم ورکړی وي [ښکار دي ورښودلی وي] یعني له درندګانو څخه داړي لرونکي درنده او له مرغانو څخه منګولي لرونکي مرغه فَلَا بَأْسَ بِصَيْدِهِ نو د هغه په ښکار کولو کي څه پروا نسته وَلَا خَيْرَ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ إِلَّا أَنْ تُدْرِكَ ذَكَاتَهُ او له دي څخه بغیر په نورو کي خیر نسته مګر دا چي ته د هغه ذبح ته ورسیږي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى او اصل په دي باره کي [یعني په مذکوره قسم درنده او مرغه سره ښکار کولو په باره کي اصل] د الله تعالیٰ دا فرمان دی ﴿وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ﴾ [المائدة: ۴] او [حلال دی ستاسي لپاره] ښکار د هغه زخمي کونکو او روزل سوو حیوانانو چي تاسي [د ښکار] تعلیم ورکړی وي وَالْجَوَارِحُ الْكَوَاسِبُ فِي تَأْوِيلٍ او د یوه تأویل مطابق جوارح [په معنیٰ سره د] کسب کونکي

دي [يعني د ښکار کسب کونکي] وَالْمُكَلِّبِينَ الْمُسَلِّطِينَ او مکلبين [په معنیٰ سره د] مسلط کړل شوي [روزل سوي] دي [رفَيَتَنَاوَلُ الْكُلَّ بِعُمُوْمِهِ نو دا فرمان به د خپل عموم په وجه ټولو زخمي کونکو [جوارحو] لره شامل سي دَلَّ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيْثِ عَدِيٍّ ﷺ او پر همدې هغه حديث دلالت کوي کوم چي موږ روايت کړی يعني د حضرت عدی ﷺ حديث وَاِسْمُ الْكَلْبِ فِي اللُّغَةِ يَقَعُ عَلٰى كُلِّ سَبُعٍ او د کلب لفظ په لغت کي پر هر درنده واقع کيږي حَتَّى الْأَسَدِ تر دې چي پر زمري هم وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ اُسْتَثْنٰى مِنْ ذٰلِكَ الْأَسَدَ وَالذِّئْبَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي هغه له دې عموم څخه زمری او ډېب مستثنی کړي دي لِأَنَّهُمَا لَا يَعْمَلَانِ لِغَيْرِهِمَا ځکه چي دا دواړه د بل چا لپاره کار نه کوي الْأَسَدُ لِعُلُوِّ هِمَّتِهِ زمری د خپل لوړ همتی په وجه وَالذِّئْبُ لِخَسَاسَتِهِ او ډېب د خپل رذالت په وجه وَأَلْحَقَ بِهِمَا بَعْضُهُمُ الْحِدَأَةَ او بعضي حضراتو [په دې استثناء کي] ټپوس هم د زمري او ډېب سره يوځای کړی دی لِخَسَاسَتِهَا ځکه چي په هغه کي [هم] رذالت ښته وَالْخِنْزِيْرُ مُسْتَثْنًى او خنزير [خو بالکل د آيت له عموم څخه] مستثنی دی لِأَنَّهُ نَجِسُ الْعَيْنِ ځکه چي هغه نجس العين دی فَلَا يَجُوْزُ الْاِنْتِفَاعُ بِهِ نو ځکه په هغه سره نفع اخيستل جائز نه دي ثُمَّ لَا بُدَّ مِنَ التَّعْلِيْمِ بيا تعليم [ښکار ورښودل ځکه] ضروري دی لِأَنَّ مَا تَلَوْنَا مِنَ النَّصِّ يَنْطِقُ بِاشْتِرَاطِ التَّعْلِيْمِ ځکه چي زموږ لوستل سوی نص [آيت] د تعليم پر شرط کېدو ګويا [دلالت کونکي] دی وَالْحَدِيْثِ بِهِ وَبِالْإِرْسَالِ او [زموږ روايت کړی سوی] حديث د تعليم او د ارسال پر شرط کېدو [دلالت کونکي دي] وَلِأَنَّهُ إِنَّمَا يَصِيْرُ آلَةً بِالتَّعْلِيْمِ او ځکه چي ښکاري حيوان صرف په تعليم [ښکار ورښودلو] سره آله ګرځي لِيَكُوْنَ عَامِلًا لَهُ د دې لپاره چي هغه د مالک لپاره کار کونکی [ښکار کونکی] سي فَيَتَرَسَّلُ بِإِرْسَالِهِ چي د مالک په ايله کولو سره هغه [پر ښکار] ور ايله کيږي [حمله کوي] وَيُمْسِكُهُ عَلَيْهِ او د خپل مالک لپاره ښکار نيسي [نه د ځان لپاره].

اللغات: ﴿ناب﴾ داړه، تېره (نوکداره) غاښ. ﴿السباع﴾ جمع د سبُع ده: درنده، څيرونکی حيوان. ﴿ذكاة﴾ حلالول، ذبح کول. ﴿كواسب﴾ جمع د کَاسِبَةٌ ده: کسب کونکی، بل چا ته د يو څه راوړونکی

او ورکونکی (چي تعليم يافته درنده خپل مالک ته د ښکار کسب کوي او هغه ته نيول سوی ښکار راوړي). ﴿الذُّب﴾ دېب. ﴿خساسة﴾ رذالت (د لاندي او ټيټي درجې کېدل). ټيټمتوب. ﴿يترسّل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: ايله کېدل (خوشي کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي په جارح او زخمي کونکي حيوان سره ښکار کول جائز او روا دي، برابره ده هغه سپی که تازي وي، يا پړانګ يا باز وغيره وي، که چيري دوی تعليم يافته يعني ښکار ور ښودل سوی وي او په بسم الله ويلو سره پر ښکار ورپرېښودل سوي وي، نو د دوی ښکار حلال دی. امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي عموم اختيار کړی دی او داسي يې فرمايلي دي چي هر زخمي کونکی حيوان (ساکښ) هغه که له درندګانو څخه وي يا له مرغانو څخه وي که چيري هغه ته ښکار ور ښودل سوی وي، نو په هغه سره ښکار کول حلال او روا دي، لېکن که تعليم پکښي نه وي او ښکار نه وي ور ښودل سوی، نو بيا د دوی ښکار حلال نه دی، ها! که چيري د دوی تر ښکار کولو وروسته ښکاروی ژوندی پاته سي او چا ته په لاس ورسي، نو تر ذبح کولو وروسته هغه حلالېږي، لېکن بغير له ذبح څخه نه حلالېږي.

والأصل فيه إلخ: فرمايي دا پورتنی خبري په قرآن سره مشروط دي چي ښکار کونکی حيوان به له جوارحو څخه تعليم يافته او روزل سوی وي چي د ښکار نيولو طريقه به ور ښودل سوې وي او پر ښکار به بسم الله ويل سوې وي، پوره آيت داسي دی: ﴿يَسْئَلُوْنَكَ مَا ذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللهُ فَكُلُوْا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ﴾، په دې آيت کي هغه ټولي خبري ذکر سوي دي کوم چي د ښکار د اباحت او حلت سره متعلق دي؛ ځکه په دې آيت کي "وَمَا عَلَّمْتُمْ إلخ" پر "أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَات" عطف سوی دی او د آيت مفهوم دا دی چي پاک شيان هم حلال دي او د تعليم يافته حيوانانو ښکار هم حلال دی، او بل دا چي جَوارِح د کَواسِب (کسب کونکو) په معنیٰ سره دی او مُکلّبين د مُسلّطين په معنیٰ سره دی. لهذا د دغه معنیٰ په اعتبار سره کولو دا آيت عام دی او په دې کي هر هغه حيوان شامل او داخل دی کوم چي تعليم يافته او پر ښکار کولو ګومارل سوی وي. او پر همدې عموم د حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه حديث هم دلالت کوي؛ ځکه په هغه کي لفظ د کَلْب راغلی دی او کلب په لغت کي درنده ته وايي او پر هر درنده يې اطلاق کېږي تر دې چي پر زمري (شېر) هم د کلب اطلاق کېږي. لکه څرنګه چي په يو

حديث کي ذکر سوي دي چي نبي ﷺ عتبه بن أبي لهب ته داسي ښېرا کړې وه "اللّٰهُمَّ سَلِّطْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِنْ كِلَابِكَ..."، نو الله تعالیٰ پر هغه يو زمری مسلط کړی چي آخريې هغه قتل کړی. له دې څخه معلومه سوه چي هر درنده دآيت په عموم کي شامل دی، او که هغه تعليم يافته وي. نو ښکار حلال او مباح دی.

وعن أبي يوسف إلخ: د دې حاصل دا دی چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د "وَمَا عَلَّمْتُم إلخ" له عموم څخه د زمري او دېب استثناء کوي او د هغوی په ذريعه ښکار کول حلال نه ګڼي؛ ځکه دا دواړه د بل چا لپاره د ښکار وغيره کار نه کوي، ځکه زمری خو لوړ همته وي او دېب خسيسه وي. نو ځکه په هغوی ښکار کول صحيح نه دي، ځيني حضراتو د خساست او رذالت په علت سره ټپوس او مږ ګه خور هم د پورتني آيت له عموم څخه مستثنیٰ کړي دي.

والخنزير إلخ: فرمايي خنزير د ټولو په نېز مستثنیٰ او دآيت له عموم څخه وتلی دی؛ ځکه چي هغه نجس العين دی او په هيڅ ډول هم له هغه څخه نفع اخيستل جائز دي.

ثم لا بد إلخ: د دې مطلب ښکاره دی چي په درنده حيوان او درنده مرغه سره د ښکار کولو د روايښت لپاره دا ضروري ده چي هغوی به تعليم يافته او د ښکار پر نيولو روزل سوي او ګومارل سوي وي؛ دليل پورتنی آيت او حديث دی يعني ﴿وما علّمتم إلخ﴾ او حديث "إذا أرسلتَ كلبكَ المُعلّم".

او د دې شيانو د ضروري کېدلو عقلي دليل دا دی چي د تعليم په ذريعه حيوان د انسان د ښکار آله جوړېږي او د ښاروي په ذبح کولو کي هغه د انسان قائم مقام کيږي. او تاسي ته معلومه ده چي د ذابح تعليم يافته کېدل شرط دي يعني څوک چي ښاروی ذبح کوي، د هغه لپاره دا ضروري ده چي د ذبح په طريقه به پوهيږي او د ذبح رګونه به پېژني. نو کوم څه چي په ذبح کي د انسان قائم مقام وي يعني ښکار کونکی حيوان، د هغه تعليم يافته کېدل به هم شرط وي، د دې لپاره چي د انسان نيابت وکړی سي او د هغه په خوله او اشاره مطلوب ښاروی ونيسي او د خپل مالک او لاربنوونکي په خدمت کي يې حاضر کړي.

د ښکاري حيوان تعليم

قَالَ: وَتَعْلِيمُ الْكَلْبِ أَنْ يَتْرُكَ الْأَكْلَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فرمايي: او د سپي تعليم دا دی چي هغه درې واره خوړل پرېږدي وَتَعْلِيمُ الْبَازِيْ أَنْ يَرْجِعَ او د باز تعليم دا دی چي راګرځي وَيُجِيبَ إِذَا دَعَوْتَهُ او چي کله ته هغه راوغواړي نو جواب درکوي [يعني ستا په ويښا سره واپس راګرځي] وَهُوَ مَأْثُورٌ عَنِ ابْنِ

عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او همدا له ابن عباس (رض) څخه نقل سوي دي وَلِأَنَّ بَدَنَ الْبَازِي لَا يَحْتَمِلُ الضَّرْبَ او ځکه چي د باز بدن وهل نه سي زغملای وَبَدَنُ الْكَلْبِ يَحْتَمِلُهُ او د سپي بدن يې زغملای سي فَيُضْرَبُ لِيَتْرُكَهُ نو ځکه سپی به وهل کيږي چي خوړل پرېږدي وَلِأَنَّ آيَةَ التَّعْلِيمِ تَرْكُ مَا هُوَ مَأْلُوفُهُ عَادَةً او ځکه چي د تعليم علامت د هغه شي پرېښوول دي کوم چي د ده عادتاً مرغوب [خوښ] وي وَالْبَازِيُّ مُتَوَحِّشٌ مُتَنَفِّرٌ او باز [له انسان څخه] ترهېدونکی او نفرت کونکی وي فَكَانَتِ الْإِجَابَةُ آيَةَ تَعْلِيمِهِ نو ځکه د باز جواب ويل به د هغه د تعليم علامت وي وَأَمَّا الْكَلْبُ فَهُوَ أَلُوفٌ يَعْتَادُ الِانْتِهَابَ او هر چي سپی دی نو هغه الفت کونکی او په لوټماری عادت وي فَكَانَ آيَةُ تَعْلِيمِهِ تَرْكَ مَأْلُوفِهِ نو د هغه د تعليم علامت به د هغه د خپل خوښ شي پرېښوول وي وَهُوَ الْأَكْلُ وَالِاسْتِلَابُ چي هغه خوړل او سلبول دي.

اللغات: ﴿يجيب﴾ د افعال د باب مضارع ده: جواب ورکول (جواب ويل)، خبره منل او قبلول. ﴿مألوف﴾ خوښ او مرغوب، عادت او معمول. ﴿ألوف﴾ الفت کونکی، اموخته. ﴿استلاب﴾ د استفعال د باب مصدر دی: سلبول، په زوره اخيستل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي ښکار کونکي حيوان ته د تعليم ورکولو او ښکار ورښودلو طريقه به څه وي؟، نو په دې هکله عرض دا دی چي د سپي او باز د تعليم په طريقه کښي فرق دی. د سپي تعليم به داسي کيږي چي بيا خپل شکار کړی سوی شی نه خوري او په دې باره کي به وهل کيږي تر هغه وخته چي کم از کم درې واره له هغه څخه دا فعل صادر سي يعني درې واره هغه ښکار ونيسي او خپل مالک ته يې پرېږدي، او کله چي درې واره داسي وکړي، نو بيا به د هغه د تعليم يافته کېدو حکم کيږي او د ښکار کولو سند او اجازت به ورکول کيږي. او د باز د تعليم طريقه دا ده چي هغه ته صرف دومره تعليم ورکول سي چي کله هغه والوزي نو د مالک پر بلنه بيرته راسي، که په باز کي دا صفت پيدا سي، نو هغه به هم تعليم يافته ګڼل کيږي او پر ښکار به ور پرېښوول کيږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د تعليم دا طريقه او صورت له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه هم مروي دي او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: وبه نأخذ وهو قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله. (بنايه ج: ۱۱، ص: ۴۷۶)

ولأن بدن إلخ: فرمايي چي د سپي او باز په تعليم کي د فرق يوه وجه دا هم ده چي سپی وهل زغملای سي او د وهلو په ذريعه هغه ته تعليم ورکول آسانه او ممکن دي. نو ځکه د هغه په حق کي به "ترك الأكل" تعليم شمېرل کيږي، د دې په خلاف باز وهل نه سي زغملای. لهذا د هغه په حق کي به صرف واپس راتلل تعليم شمېرل کيږي. او بل دلته د تعليم علامت دا دی چي حيوان له خپل فطري عادت څخه راوګرځي او خپل خوښ شی پرېږدي. او ښکاره خبره ده چي د سپي فطري عادت د ښکار خوړل او څېرل دي. لهذا کله چي هغه درې واره ښکاره نه وخوري، نو دا به ګڼل کيږي چي هغه خپل فطرت بدل کړی او تعليم اثر پر وکړی. نو ځکه د سپي په حق کي به نه خوړل د هغه د تعليم يافته کېدلو علامت وي. پاته سوه د باز مسئله نو هغه فطرتاً نا اموخته او له انسانانو څخه متنفر وي چي د انسان له بوی څخه هم ليري اووسي، خو کله چي باز د انسان سره دومره اموخته سي چي د هغه پر بلنه راځي، نو دا به ګڼل کيږي چي هغه تعليم يافته او د ښکار کولو قابل سو.

درې واره د ښکار نه خوړلو د شرط وجه او تفصيل

ثُمَّ شَرَطَ تَرْكَ الْأَكْلِ ثَلَاثًا بيا امام قدوري رَحِمَهُ الله شرط لګولی دی درې واره د خوراک پرېښوولو وَهٰذَا عِنْدَهُمَا او دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی لِأَنَّ فِيمَا دُوْنَهُ مَزِيْدَ الِاحْتِمَالِ ځکه چي له دريو څخه په کمو وارونو کي نور احتمال سته فَلَعَلَّهُ تَرَكَهُ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ شَبْعًا ځکه کېدای سي چي هغه د موړتيا په وجه يو يا دوه واره پرې ايښی وي فَإِذَا تَرَكَهُ ثَلَاثًا خو کله چي هغه درې واره پرېږدي دَلَّ عَلَى أَنَّهُ صَارَ عَادَةً لَهُ نو دا د دې خبري دليل سو چي پرېښوول د هغه عادت وګرځېدل وَهٰذَا لِأَنَّ الثَّلَاثَ مُدَّةٌ ضُرِبَتْ لِلِاخْتِبَارِ وَإِبْلَاءِ الْأَعْذَارِ او دا ځکه چي درې داسي مودت دی کوم چي د امتحان [ازموينې] او د عذرونو د ازمايښت لپاره ټاکل سوی دی كَمَا فِي مُدَّةِ الْخِيَارِ لکه د خيار په مودت کي وَفِي بَعْضِ قِصَصِ الْأَخْيَارِ او [لکه] د بعضي غوره حضراتو په قصو کي وَلِأَنَّ الْكَثِيْرَ هُوَ الَّذِي يَقَعُ أَمَارَةً عَلَى الْعِلْمِ دُوْنَ الْقَلِيْلِ او ځکه چي کثير هغه مقدار دی کوم چي د علم [تعليم] علامت جوړېدلای سي، نه قليل وَالْجَمْعُ هُوَ الْكَثِيْرُ وَأَدْنَاهُ الثَّلَاثُ او کثير جمع ده چي د هغه کم مقدار درې دی فَقُدِّرَ بِهَا نو ځکه علم [تعليم] په دريو وارو سره متعيّن کړی سوی دی وَعِنْدَ أَبِي

حَنِيْفَةَ ۞ عَلٰی مَا ذُكِرَ فِي الْأَصْلِ لَا يَثْبُتُ التَّعْلِيْمُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز (لکه څرنګه چي په مبسوط کي ذکر سوي دي) تعليم [ترهغه وخته] نه ثابتيږي مَا لَمْ يَغْلِبْ عَلٰى ظَنِّ الصَّائِدِ أَنَّهُ مُعَلَّمٌ تر څو چي د ښکار کونکي پر ګومان دا غالبه نه سي چي هغه تعليم يافته سو وَلَا يُقَدَّرُ بِالثَّلَاثِ او په دريو وارو سره به نه متعينول کيږي لِأَنَّ الْمَقَادِيْرَ لَا تُعْرَفُ اجْتِهَادًا ځکه چي مقدارونه په اجتهاد سره نه پېژندل کيږي بَلْ نَصًّا وَسَمَاعًا بلکي په نص او سماع سره [معلوميږي. چي له شارع څخه واورېدل سي] وَلَا سَمْعَ او [په دې باره کي] سماع نسته فَيُفَوَّضُ إِلٰى رَأْيِ الْمُبْتَلٰى بِهِ نو ځکه دا به د مبتلیٰ به رايي ته سپارل کيږي كَمَا هُوَ أَصْلُهُ فِيْ جِنْسِهَا لکه څرنګه چي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله اصل دی په دغه ډول مسئلو کي.

اللغات: ﴿شَبْع﴾ دفتح مصدر دی: مړېدل (موړتيا)، نس ډکېدل. ﴿اختبار﴾ د افتعال د باب مصدر دی: امتحان، ازموينه. ﴿ابلاء﴾ د افعال د باب مصدر دی. دې باب څو معناوي دي چي له هغوی دوې دا دي: ازمايل، او په عذر پېښولو کي جهد کول چي جانب مقابل راضي سي، يُقَالُ: أَبْلَاهُ عُذْرًا، أي اِجْتَهَدَ فِي الْاِعْتِذَارِ إِلَيْهِ حَتّٰى رَضِيَ (معجم الوسيط). ﴿سَمَاع﴾ د سمع د باب يو مصدر دی: اورېدنه. اورېدل. ﴿فيفوّض﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: ورسپارل، حواله کول. ﴿مُبتلىٰ بِهِ﴾ کوم څوک چي په يو څه مبتلا سوی وي، کوم چي په يو څه کي راګير وي.

تشريح: فرمايي مخکي چي د سپي د تعليم يافته کېدو او ښکار زده کېدو لپاره درې واره د نه خوړلو کوم شرط ذکر سوی دی هغه په حقيقت کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دی همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله هم يو روايت دغسي دی؛ او د دې دليل دا دی چي له دريو وارو څخه په کم کي دا احتمال سته چي کېدای سي دغه سپي په يو بل شي سره د ځان مړولو او نس ډکولو په وجه دا يو يا دوه واره ښکاره پرې ايښی وي، لېکن کله چي هغه درې واره داسي وکړي او ښکار نه وخوري، نو اوس به دا ګڼل کيږي چي هغه تعليم يافته سو او ښکار نه خوړل د هغه په فطرت واخښتله سوه. او خاص د دريو وارو د شرط وجه دا ده چي ثلاث داسي مودت دی چي په شريعت کي څو ځايه هغه د ازماينښت (ازموني) وغيره لپاره متعين سوی دی، مثلاً د حضرت موسیٰ عليه السلام او د حضرت خضر عليه السلام په

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۲۰]

واقعه کې هم په درېيم وار حضرت موسىٰ عليه السلام وفرمايل: ﴿إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا﴾ [سورة الكهف: ۷۶]، همدارنګه په شريعت کې د خيار مودت درې ورځې دی او د حيض اقل مودت درې ورځې دي، او ﴿تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ﴾ په دې کې هم د ثلاث مودت ذکر سوی دی (بنايه ج: ۱۱، ص: ۲۷۸)، نو ځکه په صورت مسئله کې د تعليم د ازماينښت او تحقيق لپاره هم ثَلَاثَ دَفَعَات (درې واره) تاکل سوي دي.

ولأن الكثير إلخ: او بل دليل دا دی چې د تعليم او زده کړې علامت به کثير وي چې پر تعليم زيات دلالت کونکی وي، نه قليل، ځکه قليل ځيني وخت خلاف عادت هم صادرېږي، نو ځکه کثير مقدار به د تعليم او زده کړې علامت ټاکل کيږي او کثير جمع دی چې د هغه ادنىٰ مقدار ثلاث دی، لهذا ثلاث دفعات به د تعليم يافته کېدو علامت او دليل شمېرل کيږي.

وعند أبي حنيفة إلخ: مخکې ذکر سوه چې دا درې واره نه خوړل دامام صاحب رَحِمَهُ الله هم يو روايت دی کوم چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی، دلته د امام صاحب رَحِمَهُ الله دويم روايت بيانوي چې دا معامله به د تعليم ورکونکي (ښکار ور زده کونکي) رايې ته سپارل کيږي يعني چې کله هم د هغه غالب ګومان داسې چې اوس نو سپی تعليم يافته سو، نو بيا به هغه تعليم يافته دی، کنې نه دی، يعنې دا به پر يو مقدار نه موقوف کول کيږي بلکې هر کله چې هغه ته د تعليم پوره کېدو يقين يا غالب ګومان سي، نو په دې وخت کې به سپی تعليم يافته ګڼل کيږي او پر ښکار به ور ايله کيږي، او په دا ډول مسئلو کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله أصول همدا دی چې هغه دا د مبتلىٰ به رايې ته پرېږدي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَعَلَى الرِّوَايَةِ الْأُولَى عِنْدَهُ يَحِلُّ مَا اصْطَادَهُ ثَالِثًا او د اول روايت مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه ښکار حلال دی کوم چې سپي په درېيم وار ښکار کړی وي وَعِنْدَهُمَا لَا يَحِلُّ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حلال نه دی لِأَنَّهُ إِنَّمَا يَصِيرُ مُعَلَّمًا بَعْدَ تَمَامِ الثَّلَاثِ ځکه چې سپی د دريو وارو له پوره کېدو څخه وروسته تعليم يافته ګرځي وَقَبْلَ التَّعْلِيمِ غَيْرُ مُعَلَّمٍ او له تعليم څخه مخکې هغه بې تعليمه [نا تعليم يافته] دی فَكَانَ الثَّالِثُ صَيْدَ كَلْبٍ جَاهِلٍ نو دا درېيم وار ښکار به د جاهل

[بې تعليمه] سپي ښکار وي وَصَارَ كَالتَّصَرُّفِ الْمُبَاشَرِ فِي سُكُوْتِ الْمَوْلیٰ او دا د هغه تصرف په څېر سو کوم چي د مالک په خاموشي [چپتيا] کي سوی وي [يعني چي غلام يو تصرف وکړي او مالک د هغه پر ليدلو چپ پاته سي] وَلَهُ: أَنَّهُ آيَةُ تَعْلِيْمِهِ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د درېيم وار ښکار په وخت کي نه خوړل د سپي د تعليم يافته کېدو علامت دی فَكَانَ هٰذَا صَيْدَ جَارِحَةٍ مُعَلَّمَةٍ نو دا درېيم وار ښکار به د تعليم يافته درنده ښکاره وي بِخِلَافِ تِلْكَ الْمَسْأَلَةِ په خلاف د هغه [تصرف والا] مسئلې لِأَنَّ الْإِذْنَ إِعْلَامٌ ځکه چي اِذن اګاه کول دي [يعني اذن اطلاع ورکولو ته وايي] وَلَا يَتَحَقَّقُ دُوْنَ عِلْمِ الْعَبْدِ او اګاه کول د غلام له خبرېدلو څخه مخکي نه ثابتيږي [يعني هغه وخت ثابتيږي کله چي غلام په دې خبر سي چي ماته مالک د اجازت اګاهي او اطلاع راکړه] وَذٰلِكَ بَعْدَ الْمُبَاشَرَةِ او دا د غلام خبرېدل تر [تصرف] کولو وروسته راځي.

اللغات: ﴿مُباشر﴾ د مفاعلې له باب څخه دی، که مفعول سي يعني مُبَاشَر نو معنیٰ يې ده: کړی سوی، او که فاعل سي يعني مُبَاشِر نو معنیٰ يې ده: کوونکی، ﴿مباشرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو کار خپله کول، ارتکاب.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله هغه روايت کوم چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قول په څېر دی يعني چي په هغه کي د سپي د تعليم لپاره درې واره د ښکار نه خوړلو شرط لګول سوی دی. د هغه روايت مطابق په درېيم وار نيول سوی ښکار د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حلال دی لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي له درې واره نيولو او نه خوړلو څخه وروسته د څلورم وار ښکار حلال دی.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي سپی له درې واره ښکار کولو او نه خوړلو څخه وروسته مُعلَّم شمېرل کيږي او له دې څخه مخکي هغه غيرمُعلَّم (نا تعليم يافته) وي. لهذا درېم وار د هغه ښکار کول د ناتعليم يافته او جاهل سپي د ښکار په څېر دي، او د نا تعليم يافته سپي ښکار حلال نه دی. نو ځکه د تعليم يافته او مُعلَّم سپي درېيم وار ښکار به هم حلال نه وي. او د دې مثال داسي دی لکه کله چي مالک (مولیٰ) خپل غلام پر يو تصرف کولو ووېني لېکن خاموش پاته سي او غلام ته

څه نه وواېي، نو د مالک دا خاموشي د دغه اول وار تصرف په حق کې اجازت نه دی بلکې تر دې وروسته د آينده تصرف کولو په حق کي اجازت دی او د غلام دغه تصرف باطل او واجبُ الردّ دی. نو همداسي په صورت مسئله کي د سپي دريم وار ښکار حلال نه دی بلکي کله چي دريم وار هم نه خوړل ثابت سي، نو تر دې وروسته آينده والا ښکار حلال دی.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي کله سپی دريم وار هم ښکار ونيسي او نه يې وخوري، نو اوس د هغه له طرفه درې واره نه خوړل موجود او ثابت سوه. او د ښکار د حلت لپاره همدا درې واره نه خوړل شرط دي، لهذا د هغه دريم وار ښکار کول د تعليم يافته سپي ښکار کول سوه او د تعليم يافته سپي ښکار حلال دی، لهذا د هغه دغه ښکار به هم حلال وي.

او پاته سو صاحبينو رَحِمَهُمَا الله چي په قياس کي د تصرف او إذن مسئله پېش کړې ده. دا صحيح نه دي؛ ځکه چي إذن (اجازت) اګاه کولو او اطلاع ورکولو ته واېي او تر څو چي غلام ته د إذن اګاهي او خبر حاصل نه سي، تر هغه وخته إذن نه ثابتيږي، او غلام ته د هغه خبر تر اول تصرف کولو وروسته حاصليږي، نه تر هغه مخکي، نو ځکه د هغه دغه اول تصرف کوم چي يې د مالک د خاموشۍ په وخت کي کړی دی د محجور غلام تصرف دی، او د محجور غلام تصرف نه نافذيږي، نو ځکه پر دې مسئله قياس کول صحيح نه دي. (بنايه ج: ۱۱. ص: ۴۸۰)

د ښکار کونکي حيوان د پرېښوولو په وخت کي بسم الله ويل کافي دي

قَالَ وَإِذَا أَرْسَلَ كَلْبَهُ الْمُعَلَّمَ أَوْ بَازِيَهُ فرمايي: او کله چي هغه خپل تعليم يافته [ښکار ور ښوول سوی] سپی يا باز [پر ښکار] ور ايله کړي وَذَكَرَ اسْمَ اللهِ تَعَالَىٰ عِنْدَ إِرْسَالِهِ او د هغه د ايله کولو په وخت کي د الله نوم واخلي فَأَخَذَ الصَّيْدَ وَجَرَحَهُ او هغه ښکار ونيسي او زخمي يې کړي فَمَاتَ نو ښکار مړ سي حَلَّ أَكْلُهُ نو د هغه خوړل حلال دي لِمَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ عَدِيٍّ رضي الله عنه د حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه د حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَلِأَنَّ الْكَلْبَ أَوِ الْبَازِيَ آلَةٌ او ځکه چي سپی يا باز آله ده وَالذَّبْحُ لَا يَحْصُلُ بِمُجَرَّدِ الْآلَةِ إِلَّا بِالِاسْتِعْمَالِ او ذبح محض په آله سره نه حاصليږي مګر [دآلې] په استعمالولو سره وَذٰلِكَ فِيهِمَا بِالْإِرْسَالِ او په سپي او باز کي استعمال په ور ايله کولو سره دی [لکه څرنګه چي د چاړې استعمال د څاروي پر غاړې د چاړې په تېرولو سره راځي. همداسي د دوی استعمال پر ښکار د دوی په ور ايله کولو سره راځي] فَنَزَلَ مَنْزِلَةَ الرَّمْيِ وَإِمْرَارِ السِّكِّينِ نو دا

[ور ايله کول] د غشي ويشتلو او چاړې تېرولو په درجه کي سو فَلَابُدَّ مِنَ التَّسْمِيَةِ عِنْدَهُ نو ځکه د ور ايله کولو په وخت کي بسم الله ويل ضروري دي وَلَوْتَرَكَهُ نَاسِيًا او که په هېره بسم الله پرېږدي حَلَّ أَيْضًا نو هم حلال دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي دا [د ترک التسمية بحث] موږ مخکي [په کتاب الذبائح کي] بيان کړی دی وَحُرْمَةَ مَتْرُوكِ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا فِي الذَّبَائِحِ او [همدارنګه موږ بيان کړی دی] د هغه ښکار حرمت چي پر هغه قصداً بسم الله پرېښوول سوې وي په کتابُ الذبائح کي.

["حرمة" منصوب دی چي د "بيّناهُ" پر ضمير عطف دی].

اللغات: ﴿أرسل﴾ دافعال د باب ماضي ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: ايله کول او پرېښوول. يعني تعليم يافته درنده پر ښکار ور ايله کول چي هغه ونيسي. ﴿إمرار﴾ د افعال د باب مصدر دی: تېرول. چلول. ﴿تسمية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی. د دې باب يوه معنیٰ ده: بسم الله ويل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله څوک خپل تعليم يافته سپی (تازي) يا باز په بسم الله ويلو سره پر ښکار ور ايله کړي او هغه ښکاره ونيسي او زخمي يې کړي بيا ښکار مړ سي. نو د هغه خوړل حلال او جائز دي؛ ځکه د حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه په حديث کي صراحتاً دا خبره ذکر سوې ده چي کله ته خپل مُعلَّم سپی پر ښکار ور ايله کړې او بسم الله ووايې نو د هغه ښکار وخوره!.

په دې هکله عقلي دا دی چي څرنګه غشی او چاړه د ذبح آله ده. ليکن د دوی له استعمالولو (غشي ويشتلو او چاړې تېرولو) څخه بغير په هغوی سره ذبح نه حاصليږي. نو همداسي سپی او باز هم د ذبح آله ده. ليکن بغير له استعماله په دوی سره ذبح نه ثابتيږي او د دوی استعمال پر ښکار د دوی ور ايله کول دي. نو ځکه حکم دا دی چي که د دوی د ايله کولو په وخت کي بسم الله ويل سوې وي. نو بيا د دوی ښکار کړه حيوان حلال او مباحُ الأکل دی.

ولوترکه إلخ: فرمايي که د ايله کولو په وخت کي بسم الله پرېږدي. نو د دې دوه حالتونه دي: ① قصداً او عمداً به يې په پرې اېښې وي، ② يا ناسياً (په هېره). که اول حالت وي يعني قصداً يې پرې اېښې وي. نو ښکار حرام دی او که ناسياً يې پرې اېښې وي. نو ښکار حلال دی. لکه په کتابُ الذبائح کي چي د دې تفصيل بيان سوی دی

د ښکار زخمي کېدل ضروري دي

وَلَابُدَّ مِنَ الْجَرْحِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او چاره نسته له زخمي کولو څخه [يعني د ښکار زخمي کول ضروري دي] د ظاهر روايت مطابق لِيَتَحَقَّقَ الذَّكَاةُ الْاِضْطِرَارِيُّ د دې لپاره چي ذبح اضطراري ثابته سي وَهُوَ الْجَرْحُ فِي أَيِّ مَوْضِعٍ كَانَ مِنَ الْبَدَنِ او دا [ذبح اضطرار] زخمي کول دي هغه که د بدن په هر ځايکي

وي بِانْتِسَابِ مَا وُجِدَ مِنَ الْآلَةِ إِلَيْهِ بِالِاسْتِعْمَالِ په منسوب کېدلو سره د موجوده آلې د ښکاري وطرف ته په استعمال سره [يعني ځکه چي کومه آله موجوده ده، هغه د استعمالولو په وجه د ښکار کونکي كس وطرف ته منسوبه ده] وَفِيْ ظَاهِرِ قَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ﴾ [المائدة: ۴] مَا يُشِيْرُ إِلَى اِشْتِرَاطِ الْجَرْحِ او د الله تعالىٰ د دې فرمان "وما علّمتم من الجوارح" په ظاهر کي هغه خبره ده کوم چي د زخمي کولو شرطېدو ته اشاره کوي إِذْ هُوَ مِنَ الْجَرْحِ بِمَعْنَى الْجِرَاحَةِ فِيْ تَأْوِيْلٍ ځکه چي دا [جوارح] له جرح څخه دی چي په يوه تأويل کي هغه د جراحت [زخم] په معنیٰ سره دی فَيُحْمَلُ عَلَى الْجَارِحِ الْكَاسِبِ بِنَابِهِ وَمِخْلَبِهِ نو دا به پر هغه زخمي کونکي درنده حمل کيږي کوم چي په خپلو داړو او منګولو سره [د ښکار] کسب کونکی وي وَلَا تَنَافِيْ او [د دواړو تأويلونو] په جمع کولو کي منافات نسته وَفِيْهِ أَخْذٌ بِالْيَقِيْنِ او په دې کي [يعني د دواړو تأويلونو په مرادولو کي] پر يقين عمل کول سته وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي زخمي کول شرط نه دي رُجُوْعًا إِلَى التَّأْوِيْلِ الْأَوَّلِ د اول تأويل و طرف ته په رجوع کولو سره وَجَوَابُهُ مَا قُلْنَا او د دې جواب هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿جَرْح﴾ د فتح د باب مصدر دی: زخمي کول، او جُرْح زخم ته وايي. ﴿ناب﴾ داړه، تېره (نوکداره) غاښ، ﴿مخلب﴾ د درنده حيوانانو او مرغانو منګولي، پنجه، (يا په بله وينا د درندګانو نوکان). - ﴿جِرَاحة﴾ زخم، جمع: جِرَاحَات.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د ښکار د حلت لپاره د ظاهر روايت مطابق دا شرط او ضروري ده چي سپي او باز به ښکار زخمي کړی وي؛ ځکه د ذبح د حلت لپاره ذبح شرط ده، برابره ده هغه ذبح حقيقي وي يا ذبح اضطراري وي او په ښکار کي حقيقي ذبح ممکن نه ده، نو له ذبح اضطراري څخه به کار اخيستل کيږي، او دا چي د بدن په هره حصه کي زخم جوړ کړل سي نو ذبح اضطراري ثابتيږي، ځکه په کومه آله (سپي وغيره) سره چي زخم جوړ کړل سوی دی، هغه آله د ښکار کونکي مالک وطرف ته په استعمالولو کي منسوبه ده چي ګواکي دا زخم هغه جوړ کړی دی ځکه چي همدا مالک هغه آله استعمال کړې ده، په همدې وجه فقهاؤ دا شرط لګولی دی چي د ښکار د حلت لپاره د ښکار کونکي تسميه (بسم الله) ويل او د تسميې اهل کېدل ضروري دي.

وفي ظاهر الرواية إلخ: فرمايي چې د دې آيت ﴿وَمَا عَلَّمْتُمْ...إلخ﴾ له ظاهري مفهوم څخه هم د جرح معنیٰ ثابتيږي؛ ځکه چې جَوَارِح له جَرْح څخه مشتق دی چې د يوه تفسير مطابق د هغه معنیٰ زخمي کول دي، نو په دې کې اشاره ده چې ښکار به زخمي کوئ نو بيا حلاليږي. بيا فرمايي د جَرْح کله څه هم دوې معناوې دي يعني زخمي کول او بل کسب کول. خو دلته د دواړو معنیٰ د مرادولو ګنجايش سته چې د اسپی وغيره زخم هم جوړوي او په خپل داړو او منګولو سره د خپل مالک لپاره (د ښکار) کسب هم کوي يا په بله وينا دا چې د ښکار د کسب کولو سره زخمي کول هم کوي. او د دې دواړو معناوو په مرادولو کې پر يقين عمل کيږي؛ ځکه کله چې د يوې معنیٰ سره بله معنیٰ هم مراد کړل سوه يعني په داړو او منګولو سره د کسب کولو د معنیٰ سره د زخمي کولو معنیٰ هم مراد کړل سوه. نو د جرح پر معنیٰ په يقين سره عمل وسو او په يقيني توګه ثابته سوه چې د ښکار د حلت لپاره د هغه زخمي کول او خوړول شرط دي. ليکن که يوه معنیٰ مراد کړل سي نو د بلې معنیٰ د مرادېدلو احتمال باقي پاتيږي. لهذا دواړې به مرادول کيږي چې پر يقين عمل وسي.

وعن أبي يوسف إلخ: فرمايي چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله جَوَارِح د كَوَاسِب پر معنیٰ حمل کوي او پر دې بناء د زخمي کولو له شرط څخه انکار کوي چې د سپي وغيره زخمي کول ضروري نه دي. بلکې له دې څخه بغير هم ښکار حلاليږي. خو زموږ جواب هاغه دی کوم چې اوس بيان سو چې په دې صورت کې د بلې معنیٰ (زخمي کولو) احتمال باقي پاتيږي. نو ځکه دواړې معناوې به مرادول کيږي او د ښکار د حلال کېدلو لپاره به زخمي کول ضروري وي.

که ښکاري حيوان له ښکار څخه څه وخوري نو څه حکم دی؟

قَالَ: فَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ الْكَلْبُ أَوِ الْفَهْدُ فرمايي: بيا که له ښکار څه سپی يا پړانګ خوراک وکړي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه ښکار به نه خوړل کيږي وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ الْبَازِيُّ او که له هغه څخه باز خوراک کړي أُكِلَ نو هغه به خوړل کيږي وَالْفَرْقُ مَا بَيَّنَّاهُ فِي دَلَالَةِ التَّعْلِيمِ او فرق هغه دی کوم چې موږ د تعليم په دلالت کې بيان کړی [يعني التعليم في الكلب بترك الأكل وفي البازي بالإجابة وأن التعليم شرط فيما يصاد به من الجوارح لقوله تعالى "وما علمتم من الجوارح"] وَهُوَ مُؤَيَّدٌ بِمَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ عَدِيٍّ رضي الله عنه او دا په هغه حديث سره تائيد سوي دي کوم چې موږ له حضرت عدي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى مَالِكٍ او

هغه د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په خلاف حجت دی وَالشَّافِعِيّ فِي قَوْلِهِ الْقَدِيْمِ فِي إِبَاحَةِ مَا أَكَلَ الْكَلْبُ مِنْهُ او د امام شافعي په خلاف هم د ده د مخکيني قول په هکله حجت دی د هغه ښکار په روا ګرځولو کي چي له هغه څخه سپي خوراک کړی وي وَلَوْ أَنَّهُ صَادَ صُيُوْدًا وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا او که سپی څو ښکاره کړي وي او له هغوی څخه يې خوراک نه وي کړی ثُمَّ أَكَلَ مِنْ صَيْدٍ بيا له يوه ښکار څخه خوراک وکړي لَا يُؤْكَلُ هٰذَا الصَّيْدُ نو دغه ښکار به نه خوړل کيږي لِأَنَّهُ عَلَامَةُ الْجَهْلِ ځکه چي دا د جهالت [عدم تعليم] نښه ده وَلَا مَا يَصِيْدُهُ بَعْدَهُ او نه به يې هغه ښکار خوړل کيږي کوم چي يې تر دې وروسته ښکاروي حَتّٰى يَصِيْرَ مُعَلَّمًا عَلَى اخْتِلَافِ الرِّوَايَاتِ تر دې چي هغه بيرته تعليم يافته وګرځي د رواياتو د اختلاف مطابق كَمَا بَيَّنَّاهَا فِي الِابْتِدَاءِ لکه څرنګه چي په شروع کي مو د بيان کړه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که سپی يا باز له ښکار څخه خوراک وکړي، نو بيا د هغه ښکار خوړل جائز نه دي او که باز له ښکار څخه خوراک وکړي، نو د هغه خوړل جائز دي. چي د دې تفصيلي بيان مخکي تېر سوی دی او د حضرت عدی بن حاتم طائي رضي الله عنه په حديث سره د دې تائيد کيږي. د امام مالک رَحِمَهُ الله قول او د امام شافعي رَحِمَهُ الله مخکينی قول دا دی چي که سپی له ښکار څخه خوراک وکړي، نو د هغه ښکار خوړل روا دي، خو د دوی په خلاف د حضرت عدي رضي الله عنه حديث حجت دی چي په هغه کي صراحتاً ذکر سوي دي "وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ فَلَا تَأْكُلْ".

ولوأنه صاد إلخ: فرمايي که يو سپي څو ښکاره نيولي وَه او له هغوی څخه يې خوراک نه وو کړی چي په دې سره دا ثابته او معلومه سوه چي دغه سپی تعليم يافته (مُعلم) سو. خو تر دې وروسته هغه يو ښکار ونيوی او له هغه څخه يې خوراک وکړی، نو دا ښکار به يې نه خوړل کيږي. همدارنګه تر څو چي ده ته بيرته تعليم نه ورکول سي، تر هغه وخته به د ده نيول سوی ښکار نه خوړل کيږي؛ ځکه د ښکار خوړلو په وجه دا سپی غير مُعلم وګرځېدي، او د غير مُعلم سپي ښکار نه خوړل کيږي.

على اختلاف الروايات: په دې سره د مام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله د قول وطرف ته اشاره سوې ده. يعني د سپي د مُعلم کېدلو لپاره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز درې واره د هغه عدمِ أکل شرط دی. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا د مبتلیٰ به پر رايه موقوف دي. (احسن الهدايه)

وَأَمَّا الصُّيُوْدُ الَّتِىْ أَخَذَهَا مِنْ قَبْلُ او پاته سوه هغه ښکارونه كوم چي ده مخكي نيولي وي فَمَا أُكِلَ مِنْهَا نو كوم ښكارونه چي مالک له هغوی څخه خوړلي وي لَا تَظْهَرُ الْحُرْمَةُ فِيْهِ په هغوی كي حرمت نه ښكاره كيږي لِانْعِدَامِ الْمَحَلِّيَّةِ د محل والي د معدوم كېدو په وجه وَمَا لَيْسَ بِمُحْرَزٍ او كوم ښكارونه چي [د مالک له طرفه] خوندي كړل سوي نه وي بِأَنْ كَانَ فِي الْمَفَازَةِ بِأَنْ لَمْ يَظْفَرْ صَاحِبُهُ بَعْدُ په دې توګه چي هغوی په دښت [بيابان] كي وي او تر اوسه مالک [د هغوی پر موندلو] بريالی سوی نه وي تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ فِيْهِ بِالْاِتِّفَاقِ نو په هغوی كي بالاتفاق حرمت ثابتيږي وَمَا هُوَ مُحْرَزٌ فِيْ بَيْتِهِ او كوم ښكارونه چي د ده په كور كي خوندي كړل سوي وي يَحْرُمُ عِنْدَهُ ۞ نو هغوی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حراميږي خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله.

اللغات: ﴿المفازة﴾ دښت، بيابان.

تشريح: فرمايي د هغه ښكارونو (ښاروياتو وغيره) حكم څه دی كوم چي دغه سپي مخكي نيولي او ښكار كړي دي؟، نو فرمايي چي د هغوی درې قسمونه دي:

①... هغه ښكارونه كوم چي مالک وغيره خوړلي وي.

②... هغه كوم چي يو ځای په دښت او بيابان كي پراته وي او تر اوسه د مالک لاس ته نه وي راغلي.

③... هغه كوم چي تر اوسه په كور كي موجود پاته وي او خوړل سوي نه وي.

دا درې قسمونه دي چي له دوی څخه په اول قسم كي د حُرمت حكم نه ښكاره كيږي؛ ځكه چي محليّت (محل والی) معدوم دی ځكه كله چي مالک ښكار وخوري نو ښكاره خبره ده چي هغه اوس د حُرمت محل پاته نه سو چي حرمت پكښي ثابت سي، هغه به مالک اوس وختي لا هضم كړی وي. او پاته سو دويم قسم بالاتفاق حرام دی.

او درېيم قسم مختلف فيه دی، امام صاحب رَحِمَهُ الله هغه هم ناجائز ګرځوي خو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه حلال دی. په را روان عبارت كي به د دوی دلائل ذكر سي.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، قال صاحب العناية: ما قال أبو حنيفة أقرب إلى الاحتياط وعليه مبنى الحل والحرمة(العناية ج:٩، ص:٥٠). [القول الراجح ج:٢، ص:٣٢١]

د صاحبينو دليل

هُمَا يَقُوْلَانِ: إِنَّ الْأَكْلَ لَيْسَ يَدُلُّ عَلَى الْجَهْلِ فِيمَا تَقَدَّمَ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي [د سپي دغه] خوړل په مخکينيو ښکارنو کي [د سپي] پر جهالت [عدمِ تعليم] دلالت نه کوي لِأَنَّ الْحِرْفَةَ قَدْ تُنْسٰى ځکه چي پيشه ځيني وخت هيريږي وَلِأَنَّ فِيمَا أَحْرَزَهُ قَدْ أَمْضَى الْحُكْمُ فِيهِ بِالْاجْتِهَادِ او ځکه کوم ښکار چي مالک خوندي کړی دی په هغه کي په اجتهاد سره [د حلت] حکم نافذ سوی دی فَلَا يَنْقُضُ بِاجْتِهَادٍ مِثْلِهِ لهذا د هغه په څېر بل اجتهاد سره به هغه حکم نه ماتيږي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ قَدْ حَصَلَ بِالْأَوَّلِ ځکه چي مقصود په اول اجتهاد سره حاصل سوی دی بِخِلَافِ غَيْرِ الْمُحْرَزِ په خلاف د نا خوندي کړل سوي ښکار لِأَنَّهُ مَا حَصَلَ الْمَقْصُودُ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چي من کل وجه [په هر اعتبار سره] [د ښکار] مقصود نه دی حاصل سوی لِبَقَائِهِ صَيْدًا مِنْ وَجْهٍ لِعَدَمِ الْإِحْرَازِ ځکه د نا خوندي کېدلو په وجه هغه من وجه [په يوه اعتبار سره] ښکار پاته دی فَحَرَّمْنَاهُ احْتِيَاطًا نو ځکه احتياطاً موږ هغه حرام گرځولی دی وَلَهُ: أَنَّهُ آيَةُ جَهْلِهِ مِنَ الْابْتِدَاءِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دا [يعني د دې سپي خوړل] له شروع څخه د هغه د جهالت [عدمِ تعليم] نښه ده لِأَنَّ الْحِرْفَةَ لَا تُنْسٰى أَصْلُهَا ځکه چي د پيشې اصل نه هيريږي [وأصل هذه الحرفة ترك الأكل] فَإِذَا أَكَلَ لهذا کله چي دغه سپي خوراک وکړی تَبَيَّنَ أَنَّهُ كَانَ تَرَكَ الْأَكْلَ لِلشِّبَعِ لَا لِلْعِلْمِ نو څرگنده سوه چي هغه موږ تيا له کبله خوړل [خوراک] پرې ايښی وو، نه د علم [تعليم] په وجه وَتَبَدُّلُ الْاجْتِهَادِ قَبْلَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ او د اجتهاد بدلېدل [دلته] له مقصود حاصلېدلو څخه مخکي دي لِأَنَّهُ بِالْأَكْلِ ځکه چي هغه [يعني د مقصود حاصلېدل] په خوړلو سره دي [يعني د ښکار مقصود په خوړلو سره حاصليږي] فَصَارَ كَتَبَدُّلِ اجْتِهَادِ الْقَاضِي قَبْلَ الْقَضَاءِ نو داسي سو لکه د قضاوت [فيصلې] کولو څخه مخکي د قاضي اجتهاد بدلېدل.

اللغات: ﴿الحِرْفَة﴾ پيشه، کسب. ﴿قضاء﴾ قضاوت، حکم او فيصله کول.

تشريح: په مخکيني عبارت کي ذکر سوه چي هغه ښکارونه کوم چي تر اوسه په کور کي موجود پاته وي او خوړل سوي نه وي، هغوی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نز[illegible]

الله په نېز حلال دی. دلته د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل ذکر کوي. چي د هغه حاصل دا دی چي ځيني وخت حرفت او مهارت له ذهن څخه ووځي او هېره واقع سي لکه د انسان څخه چي يو شی هېر سي. لهذا د غه سپي چي يو وار ښکار خوړلی دی. هغه د دې خبري دليل نه سي کېدلای چي کوم ښکارونه ده مخکي نيولي دي. نو په هغوی کي به هم جاهل (نا تعليم يافته) وو. نو ځکه د ده نيول سوي کوم ښکارونه چي مالک في الحاله په کور کي خوندي کړي دي. هغوی حلال دي.

او بل دليل دا دی چي يو اجتهاد په بل اجتهاد سره نه ساقطيږي يعني مالک چي کوم ښکارونه خوندي کړي دي. په هغوی کي اول کي د حلت حکم جاري سوی وو (په دې اجتهاد سره چي دغه سپي درې واره ښکار نه دی خوړلی لهذا هغه مُعلم [تعليم يافته] دی او د مُعلم سپي ښکار حلال دی). نو اوس په بل اجتهاد سره هغه د حلت حکم نه ختميږي او د حرمت حکم نه پکښي جاري کيږي (مثلاً په دې اجتهاد سره چي دغه سپي چي درې واره ښکار نه دی خوړلی هغه يې د موړتيا [شبع] په وجه نه دی خوړلی. نه د تعليم يافته کېدو وجه. نو هغه مُعلم نه دی لهذا د هغه ښکارونه حلال نه سوه. نو فرمايي چي په داسي اجتهاد سره هغه اول اجتهاد نه باطليږي)؛ ځکه چي مقصود شی هغه احراز (خوندي کول) دي او دا مقصود په اول اجتهاد سره حاصل سوی دی. او پاته سو غيرِ محرز (نا خوندي کړل سوي) يعني هغه ښکارونه کوم چي لاس ته نه دي راوړل سوي بلکي په دښت وغيره کي يو ځای پراته پاته دي، نو د غيرِ محرز کېدلو په وجه په هغوی کي مقصود نه حاصليږي. نو ځکه احتياطاً (د حرمت جانب ته د ترجيح ورکولو په وجه) هغوی حرام گرځول سوي دي.

ولہ إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دا دی چي کله دغه سپي خوراک وکړی، نو دا دليل د دې خبر دی چي هغه له شروع څخه جاهل (بې تعليمه) دی؛ ځکه چي د زده سوي حرفت او مهارت اصل نه هيريږي ځکه کله چي سپي ته د ښکار تعليم ورکول سي او په دې باره کي هغه پوخ سي، نو بيا د هميشه لپاره ښکار نيول او نه خوړل د هغه فطرت وگرځي. لهذا تر دې وروسته د هغه خوړل د دې خبري دليل دی چي مخکي کوم ښکارونه چي دغه سپي نه دي خوړلی هغه د تعليم په وجه نه وه بلکي د موړتيا په وجه وه. نور دئ هغسي جاهل او غيرِ مُعلم دی. لهذا د ده نيول سوي ټوله ښکارونه به حرام او نا روا وي. برابره ده هغوی محرز وي او که غيرِ محرز وي؛ ځکه چي حرفت او د تعليم اصل بيا نه هيريږي، نو د ده خوړل به پر هېره او شدتِ جُوع نه بلکي پُر جهالت او عدم تعليم حمل کيږي.

وتبدل الاجتهاد إلخ: صاحبينو رَحِمَهُمَا الله چي کوم د اجتهاد ساقطېدلو خبره کړې ده. په دې سره د هغه جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي ستاسي دا خبره صحيح نه ده (چي يو اجتهاد په بل اجتهاد سره نه ساقطيږي)؛ ځکه تاسي احراز مقصود گرځولی دی او پر دې بناء مو دا خبره کړې ده. حال دا چي د

ښکار مقصود احراز نه، بلکې اکل (د ښکار خوړل) دي کوم چې تر اوسه نه دي حاصل سوي. او له اکل څخه مخکې که اجتهاد بدل سي، نو دا صحيح او جائز دي او په دې سره تر هغه د مخکې والا اجتهاد حکم ساقطيږي، لهذا دلته د عدمِ تعليم او جهالت په وجه هغه مخکيني اجتهاد ساقطيږي او په محرز ښکار کې هم حرمت ثابتيږي. د دې مثال داسې دی لکه قاضي چې د يوې دعوې او مسئلې په هکله اجتهاد وکړي او په اجتهاد سره هغه يو نتيجې ته ورسيږي، لېکن بيا له حکم او فيصلې کولو څخه مخکې د هغه اجتهاد بدل سي او په ذهن کې يې يو بل حکم او فيصله راسي، نو اول اجتهاد او په هغه سره ثابتېدونکی حکم ساقطيږي او دا بل اجتهاد يې ځای نيسي، نو همداسې دلته به هم اول اجتهاد ساقطيږي او پر بل اجتهاد به عمل کيږي.

د تښتېدونکي ښکاري حيوان حکم

وَلَوْ أَنَّ صَقْرًا فَـرَّ مِنْ صَاحِبِهِ او که چيري يوه باښه له خپل مالک څخه وتښتي فَمَكَثَ حِينًا ثُمَّ صَادَ او څه وخت ودريږي بيا ښکار وکړي [يعني تر تښتېدلو څه وخت وروسته ښکار وکړي] لَا يُؤْكَلُ صَيْدُهُ نو د هغې ښکار به نه خوړل کيږي لِأَنَّهُ تَرَكَ مَا صَارَ بِهِ عَالِمًا ځکه چې دغه باښې خپل هغه کار پرېښووی چې د هغه په وجه تعليم يافته ګرځېدلې وه [چې هغه د خپل مالک پر بلنه واپس راتلل او نه تښتېدل دي] فَيُحْكَمُ بِجَهْلِهِ نو ځکه د هغې د جاهل کېدلو فيصله به کيږي كَالْكَلْبِ إِذَا أَكَلَ مِنَ الصَّيْدِ لکه سپی چې کله له ښکار څخه خوراک وکړي.

اللغات: ﴿صقر﴾ باښه، يو ښکاري مرغه دی، ﴿فرّ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: تښتېدل. ﴿مكث﴾ د نصر د باب ماضي ده: درنګ او توقف کول، درېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که يو باز يا باښه د خپل مالک د لاس څخه والوزي وتښتي او مالک چې هر څومره هغه ته آواز وکړي، هغه هيڅ سر نه خلاصوي او نژدې نه راځي. بيا څه وخت وروسته هغه يو ښکار وکړي، نو حکم دا دی چې د هغه ښکار به نه خوړل کيږي؛ ځکه چې هغه جاهل يعني غيرِ مُعلَم (بې تعليمه) باز او باښه ده او د غيرِ مُعلَم ښکار حلال نه دی. ځکه د باز او باښې د تعليم يافته کېدلو علامت دا دی چې د مالک پر بلنه واپس راځي، لېکن دغه باز او باښې داسې نه وکړه. لهذا هغه به غيرِ مُعلَم ګرځول کيږي او ښکار به يې حرام وي. لکه يو مُعلَم سپی چې له ښکار څخه خوراک وکړي، نو هغه هم غيرِ مُعلَم ګرځول کيږي او ښکار يې حراميږي.

سپی که صرف د ښکار وینه وڅښي نو څه حکم دی؟

وَلَوْشَرِبَ الْكَلْبُ مِنْ دَمِ الصَّيْدِ او که سپی د ښکار وینه وڅښي **وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ** او له ښکار څخه خوراک نه وکړي [یعني غوښه وغیره یې نه وخوري] **أُكِلَ** نو دا ښکار به خوړل کیږي **لِأَنَّهُ مُمْسِكٌ لِلصَّيْدِ عَلَيْهِ** ځکه چي هغه د خپل مالک لپاره د ښکار راګرځونکی [ساتونکی] دی **وَهٰذَا مِنْ غَايَةِ عِلْمِهِ** او دا د سپي د انتهایي علم [او ښشپړ تعلیم] نښه ده **حَيْثُ شَرِبَ مَا لَا يَصْلُحُ لِصَاحِبِهِ** چي ده هغه څه وڅښل کوم چي د ده د مالک لپاره وړ [او صحیح] نه دي **وَأَمْسَكَ عَلَيْهِ مَا يَصْلُحُ لَهُ** او هغه څه یې د مالک لپاره راوګرځول کوم چي د مالک لپاره وړ دي.

اللغات: ﴿مُمْسِک﴾ د افعال د باب فاعل دی. أَمْسَكَ يُمْسِكُ إِمْسَاكًا: نیول، راګرځول. ﴿یصلح﴾ د کرم د باب مضارع ده: صلاحیت (ورتیا) لرل، وړ کېدل (قابل کېدل).

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی که تعلیم یافته سپی (تازي) یو ښکار وکړي او د هغه وینه وڅښي خو د هغه په غوښه وغیره هیڅ لاس نه ووهي، نو حکم یې دا دی چي د هغه دغه ښکار حلال او پاک دی؛ ځکه سپي چي کوم څه څښلي دي یعني وینه، هغه د مالک د کار شی نه ده (په هیڅ کار نه ورځي) او کوم چي د مالک د کار شی دی یعني غوښه وغیره، هغه ته سپي خوله نه ده وروړې، نو دا خو نور د هغه د کامل تعلیم او مهارت نښه ده چي کوم شی د مالک لپاره حلال دی هغه یې پرې ایښی دی او کوم چي د مالک لپاره حرام دی هغه یې څښلی دی.

که مالک له ښکار څخه ښکاري سپي (تازي) ته څه ورکړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَخَذَ الصَّيْدَ مِنَ الْمُعَلَّمِ او که مالک [ښکاري] له خپل تعلیم یافته سپي څخه ښکار واخلي **ثُمَّ قَطَعَ مِنْهُ قِطْعَةً وَأَلْقَاهَا إِلَيْهِ** بیا له هغه ښکار څخه یوه ټوټه پرېکړي او سپي ته یې وغورځوي **فَأَكَلَهَا** او سپی هغه وخوري **يُؤْكَلُ مَا بَقِيَ** نو پاته ښکار به خوړل کیږي **لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ صَيْدًا** ځکه چي [د مالک د خوندي کولو په وجه] هغه اوس ښکار پاته نه سو **فَصَارَ كَمَا إِذَا أَلْقَى إِلَيْهِ طَعَامًا غَيْرَهُ** نو داسي سو لکه مالک چي هغه ته له ښکار څخه بغیر بل خوراک وغورځوي **وَكَذَا إِذَا وَثَبَ الْكَلْبُ فَأَخَذَهُ مِنْهُ وَأَكَلَ مِنْهُ** او همدارنګه کله چي سپی حمله وکړي او له مالک څخه ښکار واخلي او له هغه څخه خوارک وکړي [نو هم به پاته ښکار خوړل کیږي] **لِأَنَّهُ مَا أَكَلَ مِنَ الصَّيْدِ** ځکه

چي سپي له ښکار څخه خوراک نه دی کړی وَالشَّرْطُ تَرْكُ الْأَكْلِ مِنَ الصَّيْدِ او شرط د ښکار خوړل پرېښوول دي فَصَارَ كَمَا إِذَا افْتَرَسَ شَاتَهُ نو داسي سو لکه سپی چي د مالک پسه څیري کړي [وريې خوري] بِخِلَافِ مَا إِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ يُحْرِزَهُ الْمَالِكُ په خلاف د هغه صورت کله چي سپی داسي حرکت وکړي مخکي تر دې چي مالک هغه [ښکار] خوندي کړي [یعني د مالک له خوندي کولو څخه مخکي سپی له ښکار څخه خوراک وکړي، نو پاته ښکار به نه خوړل کیږي] لِأَنَّهُ بَقِيَتْ فِيْهِ جِهَةُ الصَّيْدِيَّةِ ځکه چي [تر خوندي کولو مخکي] په هغه کي د ښکار والي اړخ پاته دی.

اللغات: ﴿وثب﴾ د ضرب د باب ماضي ده: راغورځېدل، ټوپ وهل، برید او حمله کول. ﴿افترس﴾ د افتعال د باب ماضي ده: سره څیرل. ﴿شاة﴾ مخکي څو ځله ذکر سوي دي چي د "شَاة" اطلاق پر پسه، بزې وغیره ټولو باندي کیږي.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي کله سپی ښکار ونیسي او هیڅ خوراک نه ځني وکړي بلکي سیده یې راوړي او خپل مالک ته یې وسپاري نو هغه حلال دی (لکه مخکي چي ذکر سوه). بیا تر دې وروسته که مالک له دغه ښکار څخه یوه ټوټه پرېکړي او سپي ته یې ورکړي او هغه یې وخوري، نو په دې سره د ښکار پر حلت هیڅ اغیز نه پرېوځي؛ ځکه چي اوس هغه ښکار نه دی، ځکه کله چي سپي دا ښکار مالک ته حواله کړی او مالک واخیستی، نو د سپي وظیفه ختم سوه او د مالک د اخیستلو په وجه دا ښکار د ښکار له ټولی څخه ووتی، نو سپي ته د دې ښکار ټوټه ورکول داسي دي لکه مالک چي له دې ښکار څخه بغیر بل شی ورکړي او هغه یې وخوري.

وروسته فرمايي که په دې حالت کي سپی خپله د مالک د لاس څخه ښکار حمله کړي او څه ځني وخوري، نو بیا هم پاته ښکار حلال دی؛ ځکه چي اوس هغه ښکار نه دی، او شرط دا دي چي سپی به له ښکار څخه خوراک نه کوي او دغه سپي هم له ښکار څخه خوراک نه دی کړی بلکي د مالک په لاس کي چي کوم شی محرز او خوندي سوی وو، هغه یې خوړلی دی، لهذا څرنګه چي د مالک د لاس بل شی خوړل د ښکار پر حلت هیڅ اثر نه کوي، همداسي د مذکوره محرز ښکار خوړل هم د مابقي ښکار پر حلت او اباحت هیڅ اثر نه کوي، او لکه څرنګه چي که ښکاري سپی د مالک پر یو پسه حمله وکړي او ویې خوري، نو دا د هغه د جهالت او عدم تعلیم نښه نه سي کېدلای، همداسي د مالک په لاس کي د موجوده ښکار خوړل به هم د هغه د جهالت او عدم تعلیم نښه نه وي او مابقي ښکار به حلال پاته وي.

بخلاف إلخ: يعني که مخکي تر دې چې مالک ته ښکار وسپاري او مالک يې خوندي کړي سپی له هغه څخه خوراک وکړي، نو اوس ما بقي ښکار حلال نه دی؛ ځکه چې د مالک تر احراز او خوندي کولو مخکي هغه ښکار پاتـه دی، نو په دې حالت کي د سپي خوړل داسي دي لکه د ښکار کولو په حالت کي ښکار خوړل. او د ښکار کولو په حالت کي که سپی له ښکار څخه خوراک وکړي، نو هغه حلال نه پاتيږي، لهذا مذکوره ښکار به هم حلال نه وي.

د ښکار د حرامېدلو يو ځانګړې صورت

وَلَوْنَهَسَ الصَّيْدَ او که سپی ښکار وچيچي [خوله په جګه کړي] فَقَطَعَ مِنْهُ بِضْعَةً فَأَكَلَهَا نو له هغه څخه يوه ټوټه پرېکړي او هغه وخوري ثُمَّ أَدْرَكَ الصَّيْدَ فَقَتَلَهُ بيا ښکار ونيسي او هغه قتل کړي وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ او له ښکار څخه خوراک نه وکړي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه ښکار به نه خوړل کيږي؛ لِأَنَّهُ صَيْدُ كَلْبٍ جَاهِلٍ ځکه چې دا د جاهل [نا تعليم يافته] سپي ښکار دی حَيْثُ أَكَلَ مِنَ الصَّيْدَ ځکه چې هغه له ښکار څخه خوراک کړی دی.

اللغات: ﴿نهس﴾ د فتح د باب ماضي ده: چيچيل او داړل، غوښه وغيره د مخ په غاښو سره نيول او راجلا کول (د خوړلو لپاره)، ﴿بضعة﴾ حصه او ټوټه، ټوکره، ﴿أدرک﴾ د افعال د باب ماضي ده، د دې باب يوه معنیٰ ده: رسېدل او نيول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چې کله مالک خپل سپی پر ښکار ور ايله کړي او هغه پر ښکار حمله وکړي او خوله په ولګوي چې په دې سره د ښکار يوه ټوټه غوښه را جلا سي او دا سپی په هغه اخته سي او ويې خوري، بيا له خوراک څخه تر فارغېدلو وروسته په ښکار پسې سي او هغه ونيسي قتل يې کړي او په دې وار څه نه ځني وخوري، نو دا ښکار به نه خوړل کيږي؛ ځکه کله چې دغه سپی د ښکار د ټوټې په خوړلو اخته سو او ښکار يې پرېښودی، نو معلومه سوه چې دا جاهل او غير مُعلّم سپی دی، او د جاهل سپي نيول سوی او قتل سوی ښکار حلال نه دی.

د پورتني مسئلي نور وضاحت

وَلَوْأَلْقَى مَا نَهَسَهُ او که سپی هغه ټوټه وغورځوي کوم چې يې چيچلې [را جلا کړې] وي وَاتَّبَعَ الصَّيْدَ فَقَتَلَهُ او په ښکار پسې سي او قتل يې کړي وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ او له ښکار څخه خوراک نه وکړي وَأَخَذَهُ صَاحِبُهُ او ښکار د هغه مالک واخلي ثُمَّ مَرَّ بِتِلْكَ الْبِضْعَةِ فَأَكَلَهَا بيا سپی د هغه

[غورځول سوي] ټوټې سره تېر سي او ويې خوري يُؤْكَلُ الصَّيْدُ نو دا ښکار به خوړل کيږي لِأَنَّهُ لَوْ أَكَلَ مِنْ نَفْسِ الصَّيْدِ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ ځکه که سپی په دې حالت کي [يعني کله چي مالک ښکار واخلي] له خپودي ښکار څخه خوراک وکړي لَمْ يَضُرَّهُ نو هم دا ښکار ته نقصان نه کوي فَإِذَا أَكَلَ مَا بَانَ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لِصَاحِبِهِ نو کله چي سپی له ښکار څخه جلا سوې ټوټه وخوري چي هغه د ده د مالک لپاره حلاله نه ده أَوْلىٰ نو دا به په درجه اولیٰ [ښکار ته نقصان نه کوي] بِخِلَافِ الْوَجْهِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّهُ أَكَلَ فِي حَالَةِ الْاِصْطِيَادِ ځکه چي [هلته] سپي د ښکار کولو په حالت کي خوراک کړی دی فَكَانَ جَاهِلًا مُمْسِكًا لِنَفْسِهِ نو ځکه هغه به جاهل [غير مُعلم] او د ځان لپاره [د ښکار] راګرځونکی وي وَلِأَنَّ نَهْسَ الْبِضْعَةِ قَدْ يَكُوْنُ لِيَأْكُلَهَا او ځکه چي د ټوټې چيچل [راجلا کول] کله د دې لپاره کيږي چي سپی يې وخوري وَقَدْ يَكُوْنُ حِيْلَةً فِي الْاِصْطِيَادِ او کله د حيلې لپاره وي په ښکار نيولو کي لِيَضْعُفَ بِقَطْعِ الْقِطْعَةِ مِنْهُ فَيُدْرِكَهُ چي د ټوټې پرېکولو په وجه ښکار کمزوری سي نو سپی هغه ونيسي فَالْأَكْلُ قَبْلَ الْأَخْذِ يَدُلُّ عَلَى الْوَجْهِ الْأَوَّلِ نو [د مالک] له اخيستلو څخه مخکي خوړل پر اول صورت [النهس للأكل] باندي دلالت کوي وَبَعْدَهُ عَلَى الْوَجْهِ الثَّانِي او [د مالک] تر اخيستلو وروسته پر دويم صورت [النهس للحيلة فی الاصطياد] باندي دلالت کوي [يعني کله چي مالک ښکار واخلي او خوندي يې کړي بيا سپی هغه را جلا کړې ټوټه وخوري. نو دا پر دې دلالت کوي چي سپي د ښکار د کمزوري کولو او نيولو د حيلې لپاره هغه ټوټه ځني را جلا کړې وه. نه د خوړلو لپاره] فَلَا يَدُلُّ عَلىٰ جَهْلِهِ نو ځکه دا [بعد الأخذ خوړل] به د سپي پر جهالت دلالت نه کوي.

اللغات: ﴿نهس﴾ د تېر عبارت په لغاتو کي د دې وضاحت وسو. ﴿بَانَ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جلا کېدل، عليحده کېدل. ﴿حيلة﴾ چل او تدبير، طريقه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که سپی له ښکار څخه ټوټه راجلا کړي پر هغه ځای يې وغورځوي او په ښکار پسې سي او هغه ونيسي او قتل يې کړي، نو اوس د هغه دا ښکار حلال دی او خوړل يې روا دي، که څه هم د مالک له ښکار اخيستلو څخه وروسته سپي هغه ټوټه واخلي او ويې خوري، نو بيا هم حلال دی، ځکه کله چي ښکار د مالک لاس ته راغلی، نو اوس هغه ښکار پاته نه سو، همدا وجه ده که په دغه حالت کي سپی له مالک څخه ښکار حمله کړي او خوراک ځني وکړي،

نو هم ښکار حلال پاتيږي، لهذا کله چي سپی هغه ټوټه وخوري کوم چي د مالک لپاره حلاله نه ده، نو په دې صورت کي خو به په درجه اولیٰ ښکار حلال وي.

بخلاف الوجه إلخ: د دې په خلاف په اول صورت کي ښکار ځکه حرام ګرځول سوی دی چي هلته سپي د ښکار کولو په حالت کي هغه ټوټه خوړلې ده، نو د داسي حرکت په وجه سپی جاهل او د خپل ځان لپاره د ښکار راګرځونکی وشمېرل سو، او ښکاره ده چي کله په سپي کي د تعليم صفت ختم سي، نو بيا د هغه ښکار حلال نه پاتيږي.

ولأن نهس إلخ: د دې دليل حاصل دا دی چي له ښکار څخه ټوټه را جلا کول کله د خوړلو لپاره کيږي او کله د ښکار د کمزوري کولو او په آساني سره د هغه د نيولو لپاره. اوس که اول صورت وي يعني سپی ټوټه راجلا کړي او د هغه په خوړلو اخته سي، نو دا علامت د دې خبري دی چي سپي د خپل ځان لپاره ښکار کړی دی، نو ځکه دا ښکار حرام ګرځي، او که دويم صورت وي يعني سپی د ټوټې له راجلا کولو څخه وروسته په ښکار پسې سي او هغه ونيسي خپل مالک ته يې وسپاري، نو دا دليل د دې خبري دی چي سپي د مالک لپاره ښکار کړی دی، نو ځکه د دې ښکار خوړل حلال او روا دي، بيا تر دې وروسته د سپي خوړل د هغه د جهالت او عدمِ تعليم دليل نه ګرځي. (احسن الهدايه)

د ژوندي ښکار د نيولو يا د هغه د مړ کېدلو حکم او تفصيل

قَالَ: وَإِنْ أَدْرَكَ الْمُرْسِلُ الصَّيْدَ حَيًّا فرمايي: او که ايله کونکی کس [يعني د سپي وغيره مالک] ښکار ژوندی ونيسي وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يُذَكِّيَهُ نو پر هغه واجب دي چي دا ښکار ذبح [حلال] کړي وَإِنْ تَرَكَ تَذْكِيَتَهُ حَتَّى مَاتَ او که د دې ښکار ذبح کول پرېږدي تر دې چي هغه مړ سي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه به نه خوړل کيږي وَكَذَا الْبَازِيُّ وَالسَّهْمُ او همداسي باز او غشی دی [يعني که مالک باز يا غشی پر ښکار ور ايله کړی وی او بيا ښکار ژوندی ونيسي، نو همدا حکم دی، صاحب د حاشيې وايي چي دغه جملې "وكذا البازي" ته ضرورت نسته، د تفصيل لپاره حاشيه وګورئ!] لِأَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْأَصْلِ ځکه چي مالک [مُرسِل] پر اصل [ذبح اختياري] باندي قادر سو قَبْلَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ بِالْبَدَلِ مخکي تر دې چي د بدل [ذبح اضطراري] په ذريعه مقصود حاصل سي إِذِ الْمَقْصُودُ هُوَ الْإِبَاحَةُ ځکه چي مقصود د ښکار اباحت [روا کول] دي وَلَمْ تَثْبُتْ قَبْلَ مَوْتِهِ او د ښکار تر مرګ مخکي اباحت نه ثابتيږي فَبَطَلَ حُكْمُ الْبَدَلِ نو ځکه د بدل حکم به باطليږي وَهٰذَا إِذَا تَمَكَّنَ مِنْ ذَبْحِهِ او دا [حکم] په هغه وخت کي دی

کله چي مالک [مرسل] د دې ښکار پر ذبح کولو قدرت لري [پر ذبح قادر وي] أَمَّا إِذَا وَقَعَ فِي يَدِهِ وَلَمْ يَتَمَكَّنْ مِنْ ذَبْحِهِ لیکن که ښکار د ده لاس ته ورسي او دئ د هغه پر ذبح کولو قدرت نه لري وَفِيهِ مِنَ الْحَيَاةِ فَوْقَ مَا يَكُونُ فِي الْمَذْبُوحِ او په ښکار کي له ذبح کړل سوي ځاروي څخه زيات ژوند پاته وي لَمْ يُؤْكَلْ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو هغه به نه خوړل کيږي د ظاهر روايت مطابق وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَحِلُّ او له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه روايت دی چي هغه حلال دی [لهذا خوړل کيږي به] وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْأَصْلِ ځکه چي مالک [مرسل] پر اصل قادر نه دی فَصَارَ كَمَا إِذَا رَأَى الْمَاءَ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الِاسْتِعْمَالِ نو داسي سو لکه تيمم کونکی چي اوبه ووينې او د هغه پر استعمالولو قادر نه سي وَوَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّهُ قَدَرَ اعْتِبَارًا او د ظاهر روايت دليل دا دی چي هغه په اعتباري لحاظ سره [پر ذبح] قادر سو [په دې اعتبار چي ښکار د هغه لاس ته راغلی دی] لِأَنَّهُ ثَبَتَتْ يَدُهُ عَلَى الْمَذْبَحِ ځکه چي د ذبح کولو پر ځای د هغه قبضه ثابته سوه وَهُوَ قَائِمٌ مَقَامَ التَّمَكُّنِ مِنَ الذَّبْحِ او دا قبضه پر ذبح د قادر کېدلو قائم مقام ده إِذْ لَا يُمْكِنُ اعْتِبَارُهُ ځکه د تمکّن [يعني پر اصل ذبح د قادر کېدلو] اعتبار ممکن نه دی لِأَنَّهُ لَا بُدَّ لَهُ مِنْ مُدَّةٍ ځکه چي د هغه لپاره څه مودت ضروري دی [چي انسان ځاروی پکښي ذبح کړي] وَالنَّاسُ يَتَفَاوَتُونَ فِيهَا او خلک په دې مودت کي متفاوت وي [څوک ژر ذبح کوي او څوک وخت په کښېباسي] عَلَى حَسَبِ تَفَاوُتِهِمْ فِي الْكِيَاسَةِ وَالْهِدَايَةِ فِي أَمْرِ الذَّبْحِ د ذبح د کار په هکله په مهارت او هدايت [تجربه لرلو] کي د خلکو د متفاوت کېدلو په اعتبار سره [يعني ځکه چي بعضي د ذبح په کار کي مهارت او تجربه لري ... نه لري] فَأُدِيرَ الْحُكْمُ عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ نو ځکه د حکم مدار به پر هغه وي کوم چي موږ ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿يذکيه﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: حلالول، ذبح کول. ﴿التمکّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: قدرت او استطاعت، قدرت لرل (قادر کېدل). ﴿الکِيَاسَة﴾ ځراکت، مهارت. ﴿هدايت﴾ لار موندنه. ﴿أُدير﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: دائر کېدل، مدار کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک خپل تعليم يافته سپی يا باز وغيره پر ښکار ور وايله وکړي او هغه ښکار ونيسي، اوس که ښکار (ځاروی) مړ سي، نو د هغه خوړل حلال دي او که ژوندی

پاته سي او د مالک (مُرْسِل) لاس ته ورسيږي، نو بيا له ذبح کولو څخه بغير د هغه خوړل حلال نه دي بلکي د حلال کېدو لپاره د هغه ذبح کول ضروري دي: ځکه چي دلته اصل او بدل دواړه شيان سره جمع دي يعني د ښکار د غوښو په حلت کي اصل دا دی چي هغه په ذبح اختياري (شرعي طريقه) سره ذبح کړی سي او بيا وخوړل سي، او بدل دا دی چي د سپي او باز د ايله کولو په وخت کي بسم الله وويل سي او د هغوی په زخمي کولو (ذبح اضطراري) سره ښکاروی حلال کړل سي. او ښکاره ده چي چيري پر اصل قدرت وي، هلته د بدل حکم ساقطيږي. او په دې مسئله کي مالک (مُرسِل) د ژوندي ښکاروي په نيولو سره پر اصل يعني پر ذبح اختياري قدرت حاصل کړی دی: ځکه چي د ښکار مقصد اباحت (روايښت) دی او د ښکاروي له مرګ څخه مخکي روايښت نه ثابتيږي او څرنګه چي دلته ښکاروی ژوندی دی، نو ځکه اوس د هغه د روا کېدو لپاره د هغه ذبح کول ضروري دي: ځکه اصل

(قاعده) دا ده "أنّ من حصل على الأصل قبل حصول المقصود بالبدل يرجع الحکم إلى الأصل". يعني کوم څوک چي د بدل په ذريعه د مقصود ترحاصلولو مخکي بيرته پر اصل قادر سي، نو د هغه په حق کي حکم بيرته د اصل وطرف ته راګرځي، نو همداسي په دې مسئله کي هم حکم د اصل يعني د ذبحِ اختياري وطرف ته راګرځي او بدون الذبح دا ښکار حلال او روا نه ګرځي

وهذا إلخ: فرمايي دغه حکم يعني چي بدون الذبح دا ښکار حلال نه دی. دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي مالک (مُرسِل) د ښکار پر ذبح قادر وي او د هغه سره چاړه وغيره موجود وي او په ذبح کي هيڅ خنډ نه وي، لېکن که په څه وجه مالک پر ذبح قدرت پيدا نه کړي، نو په دې صورت کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د ذبح حکم ساقطيږي او بغير له ذبح هم دا ښکار حلاليږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله هم د دې قائل دی، ځکه کله چي دا کس پر ذبح قادر نه سو، نو ګواکي هغه بالکل پر اصل قادر نه سو، او ښکاره خبره ده چي کله پر اصل قدرت ترلاسه نه سي، نو مقصود به د بدل او نائب په ذريعه حاصلول کيږي او په صرف ذبح اضطراري سره به د ښکار حلت ثابتيږي. لکه تيمم کونکی چي کله اوبه ووينې خو د هغوی پر استعمالولو قادر نه وي، نو د هغه په حق کي هم حکم د اصل يعني د اوداسه وطرف ته عودنه کوي، بلکي هغه پر خپل تيمم باقي پاتيږي، همداسي دلته هم حکم د اصل يعني د ذبح اختياري وطرف ته عودنه کوي بلکي د هغه نائب ذبح اضطراري (يعني د ښکار زخمي کېدل) کفايت کوي.

د دې په خلاف د ظاهر روايت فيصله دا ده چي که په ښکار کي له ذبح کړل سوي ښکاروي څخه زيات ژوند پاته وي (يا په بله وينا دا چي ښکار مړ نه ښکاريږي بلکي څه ژوند پکښي احساسيږي)، نو بدون الذبح د هغه خوړل حلال نه دي. برابره ده مالک پر ذبح قادر وي او که نه وي: ځکه چي په حکمي او

اعتباري لحاظ سره دغه مالک ته پر ذبح قدرت حاصل سو، ځکه کله چي ښکار د مالک لاس ته راغلی، نو د ذبح محل د هغه لاس ته راغلی. لهذ محل د ذبح د هغه په لاس او قبضه کي دی. او دا محل د ذبح په قبضه کي راتلل پر ذبح د قادر کېدلو قائم مقام دي، ځکه چي دلته د حقیقي تمکن اعتبار کول یعني پر اصل ذبح د حقیقي قدرت لرلو اعتبار کول خو مشکله معامله ده؛ ځکه چي د هغه لپاره بیا یو مودت پکار دی. بیا به هغه مودت څومره وي دا هم درنه مسئله ده؛ ځکه چي د ذبح په هکله د مهارت او تجربې لرلو په اعتبار سره په خلکو کي تفاوت وي (څوک ژر ذبح کوي او بعضي د مهارت نه لرلو په وجه دېر وخت په کښېباسي). نو ځکه صرف د مالک په لاس کي د ښکار راتلل به د قدرت علی الذبح قائم مقام گرځول کیږي (یعني د تمکن او قدرت مدار پر دې دی چي د مالک په لاس او قبضه کي ښکار راسي). او څرنګه چي په دې مسئله کي ښکار د مالک لاس ته راغلی دی، نو ځکه هغه به حکماً پر ذبح قادر شمېرل کیږي او بغیر له ذبح به د هغه لپاره د مذکوره ښکار خوړل حلال نه وي.

که په ښکار کي د مذبوح څاروي غوندي د ژوند رمق پاته وي نو د هغه حکم او تفصیل

بِخِلَافِ مَا إِذَا بَقِيَ فِيهِ مِنَ الْحَيَاةِ مِثْلُ مَا يَبْقَى فِي الْمَذْبُوحِ په خلاف د هغه صورت کله چي په ښکار کي دومره ژوند پاته وي څومره چي په ذبح کړل سوي څاروي کي پاته وي لِأَنَّهُ مَيِّتٌ حُكْمًا ځکه چي د حکم په اعتبار سره هغه مړ دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ وَقَعَ فِي الْمَاءِ وَهُوَ بِهَذِهِ الْحَالَةِ آیا ته نه ګورې! چي که ښکار په اوبو کي ولوېږي او هغه په دغه حالت سره وي لَمْ يَحْرُمْ نو نه حرامېږي كَمَا إِذَا وَقَعَ وَهُوَ مَيِّتٌ لکه کله چي ښکار په اوبو کي ولوېږي او هغه [حقیقتاً] مړ وي وَالْمَيِّتُ لَيْسَ بِمَذْبَحٍ او مړ څاروي محل د ذبح نه دی [چي ذبح کړی سي] وَفَصَّلَ بَعْضُهُمْ فِيهِ تَفْصِيلًا او ځینو په دې باره کي څه تفصیل کړی دی وَهُوَ أَنَّهُ إِنْ لَمْ يَتَمَكَّنْ لِفَقْدِ الْآلَةِ او هغه دا چي که ښکاري کس د آلې [چاړې وغیره] د نشتوالي په وجه پر ذبح قادر نه وي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه به نه خوړل کیږي وَإِنْ لَمْ يَتَمَكَّنْ بِضِيقِ الْوَقْتِ او که د وخت د تنګوالي په وجه پر ذبح قادر نه وي لَمْ يُؤْكَلْ عِنْدَنَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ نو زموږ په نېز به نه خوړل کیږي په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِأَنَّهُ إِذَا وَقَعَ فِي يَدِهِ ځکه کله چي ښکار د ښکاري کس [مالک] په لاس کي واقع سو لَمْ يَبْقَ صَيْدًا نو هغه ښکار پاته نه سو فَبَطَلَ حُكْمُ ذَكَاةِ الِاضْطِرَارِ نو ځکه د ذبح اضطراري حکم باطل سو وَهَذَا إِذَا كَانَ يُتَوَهَّمُ بَقَاؤُهُ او دا [حکم] په هغه

صورت کي دی کله چي د ښکار د پاته کېدلو توهم وي أَمَّا إِذَا شَقَّ بَطْنَهُ وَأَخْرَجَ مَا فِيهِ ثُمَّ وَقَعَ فِي يَدِ صَاحِبِهِ لیکن که سپی د هغه نس څیري کړي او په نس کي موجوده څه [کولمي، لړی وغیره] راوباسي بیا د مالک په لاس کي واقع سي حَلَّ نو هغه حلال دی لِأَنَّ مَا بَقِيَ اضْطِرَابُ الْمَذْبُوحِ ځکه اوس چي کوم [ژوند پکښي] پاته دی هغه د ذبح کړل سوي څاروي [په څېر] بنوربنت دی فَلَا يُعْتَبَرُ نو ځکه هغه معتبر نه دی كَمَا إِذَا وَقَعَتْ شَاةٌ فِي الْمَاءِ بَعْدَ مَا ذُبِحَتْ لکه کله چي پسه تر ذبح کولو وروسته اوبو ته ولوېږي وَقِيلَ: هٰذَا قَوْلُهُمَا او ويل سوي دي: چي دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی أَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ فَلَا يُؤْكَلُ أَيْضًا لیکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا [مشقوق البطن] ښکار هم نه خوړل کیږي لِأَنَّهُ وَقَعَ فِي يَدِهِ حَيًّا ځکه چي دا ښکار د مالک په لاس کي ژوندی واقع سوی دی فَلَا يَحِلُّ إِلَّا بِذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ نو ځکه هغه نه حلالیږي مګر په ذبح اختیاري سره رَدًّا إِلَى الْمُتَرَدِّيَةِ متردیه څاروي ته په واپس کولو سره [يعني پر هغه څاروي په قیاس کولو سره کوم چي د لوړ ځایه را ایله سوی وي] عَلَى مَا نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى لکه څرنګه چي هغه به موږ ان شاء الله تعالى [څه وروسته] ذکر کړو.

اللغات: ﴿مذبح﴾ د اسم ظرف صیغه ده: د ذبح ځای، د ذبح محل، کوم چي ذبح کېدلای سي، ﴿فَقْد﴾ د ضرب د باب مصدر دی: نېستېدل، ورکېدل، ﴿لم يتمكن﴾ د تفعل د باب جحد صیغه ده: قدرت نه لرل، نه قادر کېدل، ﴿متردية﴾ هغه څاروی کوم چي د لوړ ځای څخه په رالوېدلو مړ سوی وي، مثلاً له بام څخه را ایله سي یا له غره څخه راګډ سي.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که په ښکار کړل سوي څاروي کي فقط دومره ژوند پاته وي څومره چي په ذبح کړل سوي (مذبوح) څاروي کي محض د ژوند رمق پاته وي، نو دي ته ژوند نه ویل کیږي، بلکي دا د بنورېدلو په وجه د غوښو حرکت او غورځلاو دی، نو د هغه د ذبح کولو ضرورت نسته: ځکه چي هغه مړ سوی دی. همدا وجه ده که ښکار په دې حالت کي اوبو ته ولوېږي او په هغه کي د مذبوح څاروي غوندي رمق پاته وي، نو هغه نه حرامیږي، یا لکه څرنګه چي بالکل مړ سوی ښکار یا مذبوح څاروی په اوبولو کي ولوېږي، نو هغه نه حرامیږي، نو همداسي مذکوره ښکار هم

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۲۲]

حلال دی او هغه حکماً مړ شمېرل کیږي، او مړ څاروی د ذبح محل نه پاتیږي. نو ځکه په هغه کې هم د بلې ذبح ضرورت نسته. بس هغه ذبح اضطراري (زخمي کېدل) د هغه د حلال کېدو لپاره کافي دي.

وفصّل بعضهم إلخ: ځیني مشایخو دا تفصیل بیان کړی دی چې که په ښکار کې دومره ژوند وي چې هغه د مذبوح څاروي له ژوند څخه زیات وي. نو اوس به دې ته کتل کیږي، چې ښکاري کس (مالک) په څه وجه پر ذبح قدرت نه لري، که چیرې د چاړې وغیره د نشتوالي په وجه قادر نه وي، نو د دې ښکار خوړل حلال نه دي؛ ځکه قصور د ښکاري کس له طرفه دی چې هغه ولې د ځان سره چاړه نه ساتي؟، او که د قدرت نه لرلو سبب د وخت تنګي وي چې د ښکار ذبح کولو فرصت پیدا نه کړی سي، نو هم زموږ په نېز د هغه خوړل حلال نه دي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز هغه حلال دی او همدا استحسان دی او همدا د حسن بن زیاد او محمد بن مقاتل رَحِمَهُمَا الله قول دی؛ د دوی دلیل دا دی چې کله د وخت د تنګۍ په وجه پر اصل (ذبح اختیاري) قادر نه سو، نو ذبح اضطراري خو موجوده ده کوم چې د حلت سبب ده.

زموږ دلیل: دا دی چې کله ښکار د ښکاري لاس ته راغلی، نو اوس هغه ښکار پاته نه سو، لهذا اوس د ذبح اضطراري حکم باطل سو، ځکه ذبح اضطراري په صَید کې جاري کیږي، نه په غیرِ صَید کې، حال دا چې اوس هغه غیرِ صید دی. خو دا تفصیل او بغیر له ذبح نه حلال کېدل هغه وخت دي کله چې د دې بیرې توهم وي چې هغه ښکار د دې زخم سره ژوندی پاتېدلای سي، لېکن که چیرې کیفیت یې دا وي چې هغه د زخم سره ژوندی نه سي پاتېدلای، نو ذبح اضطراري کافي کیږي. (فتأمل)

أما إذا شقّ إلخ: اوس ذکر سوه چې بدون الذبح د ښکار نه حلال کېدل په هغه وخت کې دي، کله چې د هغه د ژوند توهّم وي او که چیرې دا توهّم نه وي، نو هغه حلال دی. په همدې وجه فرمایي چې که تعلیم یافتهِ سپی د ښکار نس څیري کړي او د هغه د نس مودا بهر راوباسي، نو څرنګه چې د هغه ژوند غیرِ متوهم دی لهذا که ښکاري کس (مالک) دا ښکار ژوندی ونیسي، بیا هم بغیر له ذبح هغه حلال دی. ځکه په هغه کې چې کوم ژوند محسوسیږي، هغه حیات نه دی بلکې د مذبوح څاروي په څېر حرکت او غورځلاو دی چې هغه لره هیڅ اعتبار نسته، لکه تر ذبح وروسته چې پُسه اوبو ته ولوېږي، نو هیڅ حرج نسته، په دې هکله شیخ ابو بکر جصاص رَحِمَهُ الله فرمایي چې دا د حلت حکم فقط د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول دی، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا مشقوق البطن ښکار هم حلال نه دی: دلیل یې دا دی چې کله هغه مالک ته ژوندی په لاس ورغلی، نو د هغه حلت له ذبح اختیاري

څخه بغير نه ثابتيږي. او هغه متردیه ښکاروي په څېر دی يعني هغه ښکاروی کوم چي څاه ته ولوېږي يا له غره يا بام څخه را ايله سي. نو د هغه هم دغه حکم دی چي که ژوندی تر لاسه سي او ذبح کړی سي، نو حلال دی، کنې حلال نه دی. همدغه حال د مشقوق البطن دی.

په ذبح کولو سره په هر حالت کي ښکاروی حلالیږي او په دې باره کي د صاحبينو اختلاف

هٰذَا الَّذِی ذَکَرْنَا إِذَا تَرَکَ التَّذْکِیَةَ دا کوم څه چي موږ ذکر کړه په هغه صورت کي دي کله چي ښکاري کس [مالک] ذبح پرې اېښې وي فَلَوْ أَنَّهُ ذَکَّاهُ خو که هغه ښکار ذبح کړي حَلَّ أَکْلُهُ عِنْدَ أَبِیْ حَنِیْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه خوړل حلال دي وَکَذَا الْمُتَرَدِّیَةُ وَالنَّطِیْحَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ او همدارنګه هغه ښکاروی کوم چي [له لوړ ځايه] رالوېدلی وي او هغه چي بل ښکاروي په ښکر وهلی وي او هغه چي په لکړي وهل سوی وي [او دا ټوله مرګ ته رسېدلي وي] وَالَّذِیْ یَبْقُرُ الذِّئْبُ بَطْنَهُ او هغه ښکاروی چي لېوه يې نس ور څيرلی وي وَفِیْهِ حَیَاةٌ خَفِیَّةٌ أَوْ بَیِّنَةٌ او په هغه کي پټ يا ښکاره ژوند پاته وي وَعَلَیْهِ الْفَتْوٰی او پر همدې فتویٰ ده لِقَوْلِهٖ تَعَالٰی: ﴿إِلَّا مَا ذَکَّیْتُمْ﴾ [المائدة: ۳] د الله تعالیٰ د دې فرمان په وجه: مګر هغه ښکاروی [حرام نه دي] چي تاسي ذبح کړي وي اِسْتَثْنَاهُ مُطْلَقًا مِنْ غَیْرِ فَصْلٍ [په دې آيت کي] الله بغير له څه تفصيله مطلقاً د هغه [ذبح کړل سوي ښکاروي] استثنا کړې ده وَعِنْدَ أَبِیْ یُوْسُفَ إِذَا کَانَ بِحَالٍ لَا یَعِیْشُ مِثْلُهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي که ښکار په داسي حالت کي وي چي د هغه په شان ښکاروی ژوندی نه سي پاتېدلای لَا یَحِلُّ نو حلال نه دی لِأَنَّهُ لَمْ یَکُنْ مَوْتُهُ بِالذَّبْحِ ځکه چي د هغه مرګ د ذبح په وجه نه دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِنْ کَانَ یَعِیْشُ فَوْقَ مَا یَعِیْشُ الْمَذْبُوْحُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي که هغه ښکار داسي وي چي له ذبح کړل سوي ښکاروي څخه زيات ژوندی پاتېدلای سي یَحِلُّ نو حلال دی وَإِلَّا فَلَا کنې حلال نه دی لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِهٰذِهِ الْحَیَاةِ ځکه چي داسي ژوند لره اعتبار نه سته [چي تر مذبوح زيات وخت نه سي پاتېدلای] عَلٰی مَا قَرَّرْنَاهُ لکه څرنګه چي موږ دا [مخکي] بيان کړه.

اللغات: ﴿التزکية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: حلالول، ذبح کول. ﴿مترديـة﴾ د دې تعريف مخکيني عبارت په لغاتو کي ذکر سو. ﴿نطيحة﴾ هغه ښکاروی چي د ښکر وهلو په وجه مړ سي، مثلاً

د جنګ وغیره په حالت کې یې بل ځاروی په ښکر ووهي او ختم سي. ﴿موقوذه﴾ هغه ځاروی کوم چې د لکړې، لرګي وغیره په وهلو سره مړ سي. ﴿حیاۃ بیّنة﴾ څرګند ژوندون. کوم چې د ذبح کړل سوي ځاروي له ژوند څخه زيات وي، يعني په مذبوح کې چې د ژوند څومره رمق پاته وي تر هغه زيات ته حيات ظاهره وايي. ﴿حیاۃ خفیه﴾ پټ ژوندون. يعني دومره ژوند چې فقط د ژوند درک يې معلوم سي چې ژوندی دی. ﴿بَقَر﴾ د ماضي صيغه ده: څيرل. چاكول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې كله ښكاري كس (مالک) ښكار ذبح كړي.نو كه څه هم هغه مشقوق البطن وي، په ذبح سره هغه بالاتفاق حلاليږي: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ځكه چې پر ذبح اختياري عمل وسو، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز خو ذبح اضطراري هم كافي وه.

وكذا المتردية إلخ: د دې حاصل دا دی چې متردیه. نطیحه او موقوذه یا هغه ځاروی چې لېوه یې نس څيرلی وي او تر اوسه په دوی کې حيات (ژوند) پاته وي برابره ده حيات خفيه وي او كه حيات ظاهره وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز كه په دغه حالت كې دا ځارويان ذبح كړل سي، نو حلال دي، كنې حرام دي (يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د دې هر ځاروي د حلال كېدو لپاره ذبح ضروري ده). او فتوىٰ هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول ده.

امام صاحب په دې آيت سره دليل نيولی دی ﴿إلّا ما ذكّيتم﴾ (مګر هغه كوم چې تاسو ذبح كړي وي)، په دې آيت كې الله تعالىٰ له محرماتو څخه وروسته د ذبح كړل سوي ځاروي (مُذكّیٰ) استثناء مطلقاً كړې ده چې د حيات ظاهره او خفيه هيڅ قيد او تفصيل پكښې نسته.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز كه حيات ظاهره پكښې وي، نو د هغه ذبح كول معتبر دي، كنې حرام دي. بيا د صاحبينو تر مينځ اختلاف دی چې حيات ظاهره څه ته وايي، نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې كه دومره حيات (ژوند) وي چې د هغه په وجه ژوندی پاتېدلای سي نو دا حيات ظاهره دی. كنې خفيه دی، لهذا كه د حيات خفيه په صورت كې ځاروی ذبح كړل سي، نو دا ذبح معتبره نه ده: ځكه چې د هغه د مرګ د ذبح په وجه نه دی واقع سوی.

او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې كه دومره حيات وي څومره چې په مذبوح كې وي. نو دا حيات خفيه دی كوم چې نا معتبره دی او كه د مذبوح له حيات څخه زيات وي، نو دا حيات ظاهره دی كوم چې معتبر دی يعني د حيات ظاهره په صورت كې ذبح معتبره ده او په دې ذبح سره ځاروی حلاليږي.

كه دومره وخت وي چي ښكار ذبح كړى سي نو ذبح ضروري ده

وَلَوْأَدْرَكَهُ وَلَمْ يَأْخُذْهُ او كه ښكاري كس [مالک] ښكار وموندي لېكن هغه نه ونيسي [او مړ سي] فَإِنْ كَانَ فِي وَقْتٍ لَوْ أَخَذَهُ أَمْكَنَهُ ذَبْحُهُ نو كه هغه په داسي وخت كي وي [يعني د ښكار مرګ ته دومره وخت وي] چي كه مالک دا ښكار نيولي واى نو ذبح كول به يې ورته ممكن واى لَمْ يُؤْكَلْ نو دا ښكار به نه خوړل كيږي لِأَنَّهُ صَارَ فِي حُكْمِ الْمَقْدُورِ عَلَيْهِ ځكه چي دا د هغه ښكاروي په حكم كي سو چي پر [ذبح كولو د] هغه قدرت حاصل وي وَإِنْ كَانَ لَا يُمْكِنُهُ ذَبْحُهُ او كه د هغه ذبح ورته ممكن نه واى أُكِلَ نو خوړل كيږي به لِأَنَّ الْيَدَ لَمْ تَثْبُتْ بِهِ ځكه چي په داسي موندلو سره قبضه ثابته نه سوه وَالتَّمَكُّنُ مِنَ الذَّبْحِ لَمْ يُوجَدْ او پر ذبح كولو قدرت لرل [قادر كېدل] موجود نه سوه وَإِنْ أَدْرَكَهُ فَذَكَّاهُ او كه ښكاري كس ښكار ونيسي او هغه ذبح كړي حَلَّ لَهُ نو هغه د ده لپاره حلاليږي لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ فِيهِ حَيَاةٌ مُسْتَقِرَّةٌ ځكه كه په ښكار كي ژوند موجود وي فَالذَّكَاةُ وَقَعَتْ مَوْقِعَهَا بِالْإِجْمَاعِ نو [په دې صورت كي] خو بالاجماع دا ذكاة [ذبح] پر ځاى [او پر وقت] واقع سوه وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ حَيَاةٌ مُسْتَقِرَّةٌ او كه په هغه كي ژوند موجود نه وي فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ذَكَاتُهُ الذَّبْحُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه ذكاة ذبح ده [ذبح اختياري] عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ لكه څرنګه چي مو پر ذكر كړه وَقَدْ وُجِدَ او دا ذبح [دلته] موجوده سوه وَعِنْدَهُمَا لَا يَحْتَاجُ إِلَى الذَّبْحِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [په دې صورت كي] ذبح ته ضرورت نسته [بلكي ذبح اضطراري كافي ده].

اللغات: ﴿أدرک﴾ د افعال د باب ماضي ده. د دې باب څو معناوي دي چي له هغوى څخه ځيني د دي: موندل. رسېدل. ﴿مقدور عليه﴾ پر څه چي انسان ته قدرت حاصل وي. ﴿اليد﴾ لاس. قبضه

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه ښكاري كس (مالک) ښكار وموندي خو هغه نه ونيسي، نو كه تر موندلو وروسته د ښكار مرګ ته دومره وخت پاته وي چي ښكاري كس هغه نيولاى او ذبح كولاى سي. لېكن داسي نه وكړي، نو د هغه خوړل حلال نه دي او د حلت لپاره د هغه ذكاة اضطراري (زخمي كېدل) كافي نه دي، ځكه چي ده ته پر ذكاة اختياري قدرت حاصل وو (يعني پر ذبح كولو يې قادر وو).

او كه دومره وخت نه وي چي ښكار ونيول سي او هغه ذبح كړى سي. نو په دې صورت كي صرف په ذكاة اضطراري سره حلت ثابتيږي او د هغه ښكار خوړل حلال دي؛ ځكه له نيولو څخه بغير

محض په موندلو سره پر ښکار قبضه نه ثابتيږي. لهذا پر ذبح يې قدرت حاصل نه سو. نو ځکه خوړل يې حلال دي.

وإن أدركه إلخ: يعني که ښکاري کس ښکار ونيسي او ذبح يې کړي، نو د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ټولو په نيز هغه حلاليږي؛ ځکه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز خو له ذبح (ذکاة اختياري) څخه بغير فقط په ذکاة اضطراري سره حلت پکښې راغلی دی، لهذا تر ذبح وروسته خو به په درجه اولیٰ حلت پکښې ثابتيږي. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د حلت شرط پوره سو. ځکه د هغه په نيز ذبح کول شرط دی که څه هم حيات خفيه پکښې وي. نو دا ښکار بالاجماع حلال سو: ځکه هغه د ذبح محل وو، او ذبح کړل سو.

د ښکاري ښاروي د هدف غلطولو حکم

وَإِذَا أَرْسَلَ كَلْبَهُ الْمُعَلَّمَ عَلَى صَيْدٍ وَأَخَذَ غَيْرَهُ او کله چې ښکاري کس [مالک] خپل تعليم يافته سپی پر يو ښکار ور ايله کړي او سپی بل ښکار ونيسي حَلَّ نو هغه بل ښکار حلال دی وَقَالَ مَالِكٌ: لَا يَحِلُّ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې حلال نه دی لِأَنَّهُ أَخَذَهُ بِغَيْرِ إِرْسَالٍ ځکه چې سپي هغه بل ښکار [د مالک] له إرسال څخه بغير نيولی دی إِذِ الْإِرْسَالُ مُخْتَصٌّ بِالْمُشَارِ إِلَيْهِ ځکه إرسال د هغه ښکار سره خاص دی کوم ته چې اشاره سوې ده [يعني کوم چې مالک ور ښوولی او متعين کړی دی] وَلَنَا: أَنَّهُ شَرْطٌ غَيْرُ مُفِيدٍ او زموږ دليل دا دی: چې دا يو بې فايدې شرط دی لِأَنَّ مَقْصُودَهُ حُصُولُ الصَّيْدِ ځکه د ښکاري کس مقصد ښکار حاصلول دي إِذْ لَا يَقْدِرُ عَلَى الْوَفَاءِ بِهِ ځکه سپی د دې شرط په پوره کولو باندي قادر نه دی إِذْ لَا يُمْكِنُهُ تَعْلِيمُهُ عَلَى وَجْهٍ يَأْخُذُ مَا عَيَّنَهُ ځکه چې مالک ته دا ممکنه نه ده چې سپي ته داسي تعليم ورکړي چې خاص هغه ښکار به نيسي کوم چې يې مالک متعين کړي فَسَقَطَ اعْتِبَارُهُ نو ځکه د دې شرط [تعيين] اعتبار ساقط سو.

اللغات: ﴿أرسل﴾ د افعال د باب ماضي ده: سپی وغيره پر ښکار ورايله کول. ښکار ته استول. ﴿وفاء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پوره کول. پوره اداء کول. ﴿عيّنه﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: متعيّنول. معلومول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که مالک خپل تعليم يافته سپی وغيره پر يو ښکار ور ايله کړي او سپی له هغه ښکار څخه بغير بل ښکار ونيسي، نو زموږ په نيز دا بل ښکار حلال او روا دی. همدا د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله قول دی. لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز له هغه متعيّن ښکار څخه بغير د سپي بل ښکار حلال نه دی؛ د امام مالک رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې إرسال (ور ايله کول) د مشار إليه ښکار سره مختص دی. او دلته سپي له مشارإليه (متعيّن) ښکار څخه بغير بل ښکار نيولی دی کوم چې إرسال والا نه دی، نو ځکه به حلال نه وي.

زموږ د دليل حاصل دا دی چې په إرسال کې د متعيّن ښکار د نيولو شرط لګول بې ځايه دي. نه خو دا شرط د مالک په حق کې مفيد دي او نه د سپي په حق کې؛ ځکه د مالک مقصد ښکار دی. برابره ده متعيّن وي او که غير متعين. همدارنګه سپي ته داسې تعليم ورکول ممکن نه دي چې ته فقط د هوسۍ ښکار کوه! او بل ښکاروی مه نيسه!. لهذا کله چې دا د هيڅ يوه په حق کې مفيد نه دي نو دا د متعيّن ښکار نيولو شرط به لغو او بې ځايه وي او هغه لره به اعتبار نه وي. لهذا ښکاري سپی چې کوم ښکار هم ونيسي، هغه به حلال وي په دې شرط چې مأکولُ اللحم وي. (احسن الهدايه)

په يوه بسم الله سره د ډېرو ښکارونو د حلالېدلو حکم او تفصيل

وَلَوْ أَرْسَلَهُ عَلَى صَيْدٍ كَثِيرٍ او که ښکاري کس پر ډېرو ښکارونو سپی ور ايله کړي وَسَمَّى مَرَّةً وَاحِدَةً حَالَةَ الْإِرْسَالِ او د ور ايله کولو په وخت کې صرف يو ځل بسم الله ووايي فَلَوْ قَتَلَ الْكُلَّ نو که سپی هغوی ټوله ووژني يَحِلُّ بِهٰذِهِ التَّسْمِيَةِ الْوَاحِدَةِ نو ټوله په همدې يو ځل بسم الله ويلو سره حلاليږي لِأَنَّ الذَّبْحَ يَقَعُ بِالْإِرْسَالِ ځکه چې [په ښکار کې] ذبح په إرسال سره واقع کيږي [ځکه لکه څرنګه چې د چاړې استعمال د ښاروي پر غاړه د چاړې په تېرولو سره راځي. همداسې د ښکاري سپي وغيره استعمال پر ښکار د هغه په ور ايله کولو سره راځي. نو دا ور ايله کول د چاړې تېرلو په څېر سو] عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چې دا [مخکې] موږ بيان کړه وَلِهٰذَا تُشْتَرَطُ التَّسْمِيَةُ عِنْدَهُ په همدې وجه د إرسال [ايله کولو] په وخت کې بسم الله ويل شرط دي وَالْفِعْلُ وَاحِدٌ او فعل [إرسال] يو دی فَتَكْفِيهِ تَسْمِيَةٌ وَاحِدَةٌ نو ځکه د هغه لپاره يوه بسم الله ويل کافي دي بِخِلَافِ ذَبْحِ الشَّاتَيْنِ بِتَسْمِيَةٍ وَاحِدَةٍ په خلاف په يوه بسم الله ويلو سره د دوو پسونو د ذبح کولو لِأَنَّ الثَّانِيَةَ تَصِيرُ مَذْبُوحَةً بِفِعْلٍ غَيْرِ الْأَوَّلِ ځکه چې دويم پسه د اول پسه له فعل [ذبح] څخه بغير په بل فعل سره ذبح کړی سوی ګرځي فَلَا

بُدَّ مِنْ تَسْمِيَةٍ أُخْرٰى نو ځکه بله بسم الله ويل ضروري دي

وَذَبَحَهُمَا بِمَرَّةٍ وَاحِدَةٍ تر دې چې که دوه پسونه يو پر بل سرپېره

كړي تَحِلَّانِ بِتَسْمِيَةٍ وَاحِدَةٍ نو دواړه صرف په يوه بسم الله ويلو حلال دي

اللغات: ﴿تسمية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی. د دې باب يوه معنی ده: بسم الله ويل.

سېرلی، بزه وغيره. پر دې ټولو يې اطلاق كيږي. ﴿أضجع﴾ د افعال د باب ماضي ده: چې په اړخ

تشريح: د عبارت حاصل او غورچاڼ دا دی چې پر يوه "فعل ذبح" يوه بسم الله ويل كافي دي

كه دا فعل څو ځله واقع كيږي نو بسم الله به هم څو ځله ويل كيږي. مثلاً كه دوه پسونه يو پر بل

وروسته ذبح كول كيږي، نو دلته فعلِ ذبح دوه ځله واقع كيږي نو بسم الله به هم دوه ځله ويل كيږي

او كه دوه پسونه يو پر بل سرپېره كړل شي چې په يوه دم ذبح كړل شي. نو څرنګه چې د يو فعل

شمېرل كيږي، لهذا يو ځل بسم الله ويل كافي كيږي.

همدغسې إرسال (يعني سپی وغيره پر ښكار ور ايله كول) فقط يو فعل دی. نو په دغه يوه فعل كې به

بسم الله يو ځل ويل كيږي، لهذا كه يو ځل بسم الله ووايي او سپی پر څو ښكارونو ور ايله كړي او

هغه ټوله ښكارونه ونيسي او قتل يې كړي، نو په هغه يوه تسميه سره ټوله حلاليږي: ځكه چې فعلِ

إرسال يو دی، نو تسميه هم يوه كافي ده.

په ښكار نيولو كې د تأخير كولو حكم

وَمَنْ أَرْسَلَ فَهْدًا فَكَمَنَ حَتّٰى يَسْتَمْكِنَ او كه څوک پړانګ پر ښكار ور ايله كړي او هغه كمين

ونيسي [ښكار ته پټ او غلی شي] ثُمَّ أَخَذَ الصَّيْدَ فَقَتَلَهُ بيا ښكار ونيسي او هغه قتل كړي يُؤْكَلُ نو

خوړل كيږي به لِأَنَّ مَكْثَهُ ذٰلِكَ حِيْلَةٌ مِنْهُ لِلصَّيْدِ ځكه د پړانګ دا هرېدل [كمين نيول

نيولو] لپاره د هغه يو حيله ده لَا اِسْتِرَاحَةٌ استراحت نه دی فَلَا يَنْقَطِعُ الْإِرْسَالُ نو ځكه دا

مالک] إرسال نه ختموي وَكَذَا الْكَلْبُ إِذَا اعْتَادَ عَادَتَهُ او همدارنګه سپی، كله چې هغه

كمين نيولو] عادت اختيار كړی وي.

اللغات: ﴿فهد﴾ پړانګ. ﴿كَمَنَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: كمين نيول، پټېدل او

داسې ځای كې پټېدل او درنګ كول چې د جانب مقابل ورته پام نه وي

كې حمله پر كول. دې ته كمين نيول وايي. ﴿مَكْث﴾ د نصر د باب مصدر دی

مصدر دی: پاتېدل، درنګ او توقف کول، وخت تېرول، ﴿حيلة﴾ حيله، چل، تدبير، ﴿اعتاد﴾ د افتعال د باب ماضي ده: عادت نيول، عادت إختيارول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که ښوک خپل تعليم يافته پړانګ پر ښکار ورايله کړي او پړانګ د خپل عادت مطابق ښکار ته کمين ونيسي (يا په بله وينا دا چي د ښکار لپاره څه وخت پټ توقف وکړي) او بيا د ښکار په رانژدې کېدو سره پر هغه حمله وکړي او قتل يې کړي، نو د مالک لپاره هغه ښکار حلال او روا دی؛ ځکه دلته پړانګ چي کوم توقف کړی دی، هغه د ښکار نيولو لپاره يوه حيله او تدبير کوي (چي ښکار يې خطا نه سي او په آسانه هغه ونيسي)، د آرام کولو لپاره هغه توقف نه دی کړی، نو ځکه د هغه په دغه توقف سره إرسال نه منقطع کيږي، لهذا تر کمين نيولو وروسته چي هغه ښکار وکړي، نو ښکار يې حلال او روا دی.

همدارنګه که يو تعليم يافته سپی په کمين نيولو عادت وي او له هغه څخه بغير ښکار نه کوي، نو د دې هم هاغه حکم دی، لېکن که فقط يو ځل داسي حرکت وکړي يعني کمين نيول ئې هغه عادت نه وي، نو په دې صورت کي د سپي په کمين نيولو سره إرسال منقطع کيږي او د هغه ښکار کړی سوی ښکاروی حلال نه پاتيږي.

له ځنډ او توقف څخه بغير د دوو ښکارونو د نيولو حکم

وَلَوْأَخَذَ الْكَلْبُ صَيْدًا فَقَتَلَهُ او که سپي يو ښکار ونيسي او هغه قتل کړي ثُمَّ أَخَذَ آخَرَ فَقَتَلَهُ بيا يو بل ښکار ونيسي او هغه هم قتل کړي وَقَدْ أَرْسَلَهُ صَاحِبُهُ او دا سپی خپل مالک [پر هغه ښکار] ايله کړی وي أُكِلَا جَمِيعًا نو دواړه ښکارونه به خوړل کيږي لِأَنَّ الْإِرْسَالَ قَائِمٌ لَمْ يَنْقَطِعْ ځکه چي إرسال موجود پاته دی او قطع سوی نه دی وَهُوَ بِمَنْزِلَةِ مَا لَوْ رَمٰى سَهْمًا إِلٰى صَيْدٍ او دا داسي دي لکه ښوک چي د ښکار طرف ته غشی وغورځوي [پر ښکار غشی ور ايله کړي] فَأَصَابَهُ وَأَصَابَ آخَرَ نو دا غشی پر هغه ښکار هم ولګيږي او پر بل ښکار هم ولګيږي.

اللغات: ﴿رمى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: غشی غورځول، ويشتل، ﴿أصاب﴾ د افعال د باب ماضي ده: رسېدل، لګېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که ښوک سپی پر ښکار ور ايله کړي او سپی چي يو ښکار ونيسي او قتل يې کړي نو بيا سمدستي بل ښکار ونيسي او هغه هم قتل کړي، نو دواړه ښکارونه حلال دي، خوړل کيږي به؛ ځکه چي دلته سپي دواړه ښکارونه بغير له توقفه کړي دي، نو د مالک إرسال باقي دی او دا فعلِ واحد دی چي د هغه لپاره يوه بسم الله کافي ده (لکه مخکي چي ذکر سوه). او د

دې مثال داسي دی لکه څوک چي پر ښکار ښکار غشی ور ایله وکړي او غشی پر هغه ښکار تر لګېدلو وروسته پر بل ښکار هم ولګیږي، نو دواړه ښکارونه حلال دي، همداسي به دلته هم حلال وي.

د دوو ښکارونو تر مینځ د توقف کولو د صورت حکم

وَلَوْ قَتَلَ الْأَوَّلَ فَجَثَمَ عَلَيْهِ طَوِيْلًا مِنَ النَّهَارِ او که سپی اول ښکار قتل کړي بیا پر هغه پرېوځي د ورځي ډېره حصه ثُمَّ مَرَّ بِهِ صَيْدٌ آخَرُ فَقَتَلَهُ بیا د دې سپي سره بل ښکار تېر سي نو سپی هغه هم قتل کړی لَا يُؤْكَلُ الثَّانِيْ نو هغه دویم ښکار به نه خوړل کیږي لِانْقِطَاعِ الْإِرْسَالِ بِمُكْثِهِ ځکه چي د سپي د درېدلو [توقف کولو] په وجه إرسال منقطع سو إِذْ لَمْ يَكُنْ ذٰلِكَ حِيْلَةً مِنْهُ لِلْأَخْذِ ځکه دا درېدل د هغه له طرفه د ښکار نیولو لپاره حیله نه وه وَإِنَّمَا كَانَ اسْتِرَاحَةً بلکي دا خو آرام کول وه بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي مخکي تېر سو.

اللغات: ﴿جثم﴾ د ماضي صیغه ده: پرېوتل او پروت اوسېدل. پر ځمکه موښتی پاتېدل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که څوک خپل یو تعلیم یافته سپی پر ښکار ور ایله کړي او سپی چي هغه ښکار ونیسي او قتل یې کړي نو پر هغه ځان واچوي او پروت اووسي تر دې چي د ورځي اکثره حصه تېره سي، بیا وروسته د هغه سره بل ښکار تېر سي او سپی هغه هم قتل کړي. نو په دې صورت کي به دا بل ښکار نه خوړل کیږي؛ ځکه د سپي ځان اچول او پرېوتل د آرام لپاره دي. او د ښکار لپاره حیله او تدبیر کول (کمین نیول) نه دي، نو د دې استراحت په وجه إرسال منقطع سو، لېکن په مخکیني صورت کي د پړانګ یا سپي پرېوتل (کمین نیول) د آرام لپاره نه وه، بلکي د هغه د نیولو لپاره تدبیر او حیله وه.

د ښکاري باز د څه توقف کولو حکم او د داسي باز د ښکار حکم چي مالک یې معلوم نه وي

وَلَوْ أَرْسَلَ بَازِيَهُ الْمُعَلَّمَ عَلٰى صَيْدٍ او که ښکاري کس خپل تعلیم یافته باز پر ښکار ور ایله کړي فَوَقَعَ عَلٰى شَيْءٍ ثُمَّ اتَّبَعَ الصَّيْدَ او باز پر یو شي کښېني بیا په ښکار پسې سي فَأَخَذَهُ وَقَتَلَهُ بیا هغه ښکار ونیسي او قتل یې کړي فَإِنَّهُ يُؤْكَلُ نو هغه ښکار به خوړل کیږي وَهٰذَا إِذَا لَمْ يَمْكُثْ زَمَانًا طَوِيْلًا لِلْاسْتِرَاحَةِ او دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي باز زیات وخت [یعني] د آرام کولو لپاره درنګ نه وکړي وَإِنَّمَا مَكَثَ سَاعَةً لِلتَّمْكِيْنِ بلکي لږ ګړی د کمین نیولو لپاره درنګ وکړي لِمَا

بَيَّنَّاهُ فِي الْكَلْبِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ د سپي په هکله بيان کړی وَلَوْأَنَّ بَازِيًا مُعَلَّمًا أَخَذَ صَيْدًا فَقَتَلَهُ او که يو تعليم يافته باز يو ښکار ونيسي او هغه قتل کړي وَلَا يُدْرٰى أَرْسَلَهُ إِنْسَانٌ أَمْ لَا او دا معلومه نه وي چي يو انسان هغه را ايله کړی دی، که نه لَا يُؤْكَلُ نو هغه ښکار به نه خوړل کيږي لِوُقُوْعِ الشَّكِّ فِي الْإِرْسَالِ ځکه چي په إرسال کي شک واقع سو وَلَا تَثْبُتُ الْإِبَاحَةُ بِدُوْنِهٖ او روايښت له إرسال څخه بغير نه ثابتيږي.

اللغات: ﴿معلّم﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: هغه چي د ښکار طريقې ور ښوول سوي وي. يعني د ښکار نيولو تعليم ورکول سوی وي. تعليم يافته. ﴿لا يُدرٰى﴾ د ضرب له بابه د نفي مجهول صيغه ده: خبرېدل. معلومېدل. ﴿إباحة﴾ د افعال د باب مصدر دی: روا کول. روايښت.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکار دی چي که څوک خپل تعليم يافته باز پر ښکار ور ايله کړي او دا باز ولاړ سي پر درخته يا پر بل شي د څه وخت لپاره کښېني او بيا په ښکار پسې سي او کار يې تمام کړي، نو دا ښکار حلال او روا دی؛ ځکه د باز فطرت او عادت همدا دی چي اول د څه وخت لپاره ښکار ته کمين نيسي يعني له يو ځای څخه ښکار ته ګوري او د هغه د نيولو تدبير کوي چي نښانه يې غلطه نيسي بيا غوټه پر وهي، نو د باز په دغه طريقه سره إرسال نه منقطع کيږي. لکه د پړانګ او سپي په صورت کي چي همدا حکم دی، نو ځکه د دې باز ښکار حلال دی.

ولوأن بازيًا إلخ: فرمايي او که نادر که يو تعليم يافته باز راسي ښکار ونيسي او قتل يې کړي خو دا معلومه نه سي چي دا باز يو چا پر ښکار را ايله کړی دی، که نه؟، نو د هغه دا ښکار روا نه دی او نه به خوړل کيږي؛ ځکه چي دلته د باز په إرسال کي شک واقع سو چي په قطعي او يقيني معلومه نه ده چي دا باز د يو چا له طرفه پر دې ښکار ګومارل سوی دی، حال دا چي له إرسال څخه بغير روايښت نه ثابتيږي، بلکي د ښکار د روايښت لپاره د معلوم کس له طرفه إرسال شرط دی.

د هغه ښکار حکم چي بغير له زخمي کولو صرف په خپه کولو سره ووژل سي

قَالَ: وَإِنْ خَنَقَهُ الْكَلْبُ وَلَمْ يَجْرَحْهُ فرمايي: او که سپی ښکار خپه کړي او زخمي يې نه کړي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه ښکار به نه خوړل کيږي لِأَنَّ الْجَرْحَ شَرْطٌ عَلٰى ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ ځکه زخمي کول شرط دي د ظاهر روايت مطابق عَلٰى مَا ذَكَرْنَاهُ لکه څرنګه چي [مخکي] دا موږ ذکر کړه وَهٰذَا يَدُلُّكَ عَلٰى أَنَّهُ لَا يَحِلُّ بِالْكَسْرِ او دا په دې هکله ستا لارښوونه کوي چي [د يو اندام] په ماتولو سره ښکار نه

حلالیږي وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَنَّهُ إِذَا كَسَرَ عُضْوًا فَقَتَلَهُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي که سپی د ښکار یو اندام مات کړي او [په دې توګه] هغه قتل کړي لَا بَأْسَ بِأَكْلِهِ نو د هغه په خوړلو کي څه پروا نسته لِأَنَّهُ جِرَاحَةٌ بَاطِنَةٌ ځکه چي دا باطني زخم دی فَهِيَ كَالْجِرَاحَةِ الظَّاهِرَةِ نو دا د ظاهري زخم په څېر دی وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ جَرْحٌ يَنْتَهِضُ سَبَبًا لِإِنْهَارِ الدَّمِ داول قول دلیل دا دی چي [د ښکار د حِلت لپاره] داسي زخم معتبر دی کوم چي د ويني بهېدلو سبب ودرېږي وَلَا يَحْصُلُ ذٰلِكَ بِالْكَسْرِ او [د اندام] په ماتولو سره دا نه حاصلیږي فَأَشْبَهَ التَّخْنِيْقَ نو [د اندام] ماتول د خپه کولو سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿خنق﴾ د نصر د باب ماضي ده: غاړه خپه کول، تر ستوني نیول. ﴿جِرَاحَة﴾ زخم. ﴿ینتهض﴾ د افتعال د باب مضارع ده: درېدل، قایمېدل. ﴿إنهار الدم﴾ د افعال د باب مصدر دی: وینه بهول (بیول)، په تېزي سره بهېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که سپی نیول سوی ښکار فقط خپه کړي او تر غاړه یې ونیسي تر دې چي ووژل سي، نور یې زخمي نه کړي، نو هغه حلال نه دی؛ ځکه د ظاهر روایت مطابق زخمي کول (زخم جوړول) شرط دي.

او له دې څخه دا خبره هم معلومه سوه چي که سپی فقط د ښکار پښه یا بل اندام ور مات کړي چي د هغه په وجه ښکار مړ سي، نو هم دا ښکار حلال نه دی، خو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي که سپی د یو اندام په ماتولو سره ښکار ووژني، نو هغه حلال دی؛ ځکه دلته که څه هم ظاهري زخم خو نسته، لېکن باطني زخم سته او شرط زخمي کول دي او هغه دلته موجود دي.

او د قول اول دلیل دا دی چي شرط داسي زخمي کول دي چي له هغه څخه وینه وبهیږي او دا مقصد د اندام په ماتولو سره نه حاصلیږي، لهذا دا خو داسي سوه لکه ښکار چي په خپه کولو سره ووژني.

که د ښکاري سپي سره بل سپی یو ځای سي نو د ښکار حکم

قَالَ: وَإِنْ شَارَكَهُ كَلْبٌ غَيْرُ مُعَلَّمٍ فرمايي: او که د مُعلَم سپي سره نا تعلیم یافته سپی شریک سي أَوْ كَلْبُ مَجُوْسِيٍّ یا د مجوسی سپی [ور سره شریک سي] أَوْ كَلْبٌ لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ یا داسي سپی [ور سره شریک سي] چي پر هغه د الله نوم نه وي اخیستل سوی يُرِيْدُ بِهِ عَمَدًا په دې سره د امام قدوري رَحِمَهُ الله قصداً مراد دي [یعني چي قصداً د الله نوم نه وي اخیستل سوی] لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه ښکار

به نه خوړل کیږي لِمَا رَوَيْنَا فِي حَدِيثِ عَدِيٍّ رضي الله عنه د دغه دلیل په وجه کوم چې موږ د حضرت عدي رضي الله عنه په حدیث کې روایت کړی دی وَلِأَنَّهُ اِجْتَمَعَ الْمُبِيحُ وَالْمُحَرِّمُ او ځکه چې [دلته] روا کونکی علت او حرامونکی علت سره جمع سوي دي فَيُغَلَّبُ جِهَةُ الْحُرْمَةِ نَصًّا أَوْ اِحْتِيَاطًا نو ځکه د نص یا د احتیاط پر بناء به د حرمت اړخ غالب وي.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که یو مسلمان ښکاري خپل تعلیم یافته سپی په بسم الله سره پر ښکار ور ایله کړي، بیا یو بل سپی هم د هغه سره په ښکار کې یو ځای سي کوم چې تعلیم یافته نه وي، یا هغه د مجوسي سپی وي. یا داسې سپی وي چې د ایله کولو په وخت کې یې بسم الله نه وي ویل سوې، نو اوس حکم دا دی چې که دواړه سپیان په ګډه ښکار ونیسي او قتل یې کړي. نو دا ښکار به نه خوړل کیږي؛ ځکه د حضرت عدی رضي الله عنه په حدیث کې د دهمدې صراحت موجود دی (کوم چې مخکې ذکر سو). او بله وجه دا ده چې کله د حلال او حرام اجتماع راسي، نو ترجیح او غلبه حرام لره وي؛ او ترجیح ځکه حرام لره وي چې په دې باره کې نصّ (حدیث) موجود دی کوم چې په مسند عبد الرزاق کې پر ابن مسعود رَحِمَهُ الله موقوف دی، یا د دې و جه احتیاط دی؛ ځکه چې حرام واجبُ الترک دی او حلال جائزُ الترک دی، نو په هر صورت کې احتیاط په ترک (پرېښوولو) کې دی.

که دویم سپی ښکار زخمي نه کړي نو ښکار حلال دی خو مکروه دی

وَلَوْ رَدَّهُ عَلَيْهِ الْكَلْبُ الثَّانِيْ او که دویم سپی پر اول سپي هغه ښکار راوګرځوي [مثلاً د ښکار مخته ودرېږي چې په دې سره هغه راوګرځي او درک ځنې ورک سي. نو اول سپی هغه ونیسي] وَلَمْ يَجْرَحْهُ مَعَهُ او د اول سپي سره هغه ښکار زخمي نه کړي وَمَاتَ بِجَرْحِ الْأَوَّلِ او ښکار د اول سپي په زخمي کولو سره مړ سي يُكْرَهُ أَكْلُهُ نو دا ښکار خوړل مکروه دي لِوُجُودِ الْمُشَارَكَةِ فِي الْأَخْذِ ځکه چې نیولو کې مشارکت موجود دی وَفَقْدِهَا فِي الْجَرْحِ او په زخمي کولو کې مشارکت نیستي دی وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا رَدَّهُ الْمَجُوسِيُّ بِنَفْسِهِ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چې خپله مجوسي ښکار راوګرځوي حَيْثُ لَا يُكْرَهُ نو په دې صورت کې هغه ښکار خوړل مکروه نه دي لِأَنَّ فِعْلَ الْمَجُوسِيِّ لَيْسَ مِنْ جِنْسِ فِعْلِ الْكَلْبِ ځکه چې د مجوسي فعل د سپي د فعل له جنس څخه نه دی فَلَا تَتَحَقَّقُ الْمُشَارَكَةُ لهذا مشارکت نه ثابتیږي وَتَتَحَقَّقُ بَيْنَ فِعْلَيِ الْكَلْبَيْنِ خو د دوو سپیانو د

فعلونو تر مينځ مشارکت ثابتيږي لِوُجُوْدِ الْمُجَانَسَةِ ځکه چي همجنس والى موجود دى.

اللغات: ﴿ردّه﴾ د نصر د باب ماضي ده: د دې باب په صله کي چي "علیٰ" راسي نو معنیٰ يې راځي: راګرځول، راواپس کول. ﴿مشارکة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى: يو د بل سره شريکېدل. (اشتراک). ﴿فَقْد﴾ د ضرب د باب مصدر دى: نيستېدل، ورکېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي کوم سپى د تعليم يافته سپي سره شريک سوى وو، که هغه فقط د ښکار په راګرځولو کي شرکت وکړي، نه د ښکار په زخمي کولو کي، بلکي د زخمي کولو او وژلو کار اول سپي تر سره کړي، نو په دې صورت کي د ښکار خوړل مکروه دي؛ ځکه دلته من وجه مشارکت موجود دى او من وجه معدوم دى، نو ځکه دغه ښکار خو نه حلال دى او نه حرام، بلکي مکروه دى. د دې په خلاف که يو مجوسي د يو تعليم يافته سپي لپاره ښکار راوګرځوي او سپى يې زخمي کړي، نو هغه ښکار حلال دى؛ د دې دواړو صورتونو په مينځ کي فرق دا دى چي د مجوسي فعل د سپي د فعل له جنس څخه نه دى؛ لهذا په دواړو فعلونو کي مشارکت معدوم دى، نو ځکه په دې صورت کي ښکار حلال دى، او څرنګه چي د سپي فعل د سپي د فعل له جنس څخه دى. لهذا په هغوى کي من وجه مشارکت موجود او ثابت دى، او د من وجه مشارکت په اعتبار کولو سره په دې صورت کي ښکار مکروه ګرځول سوى دى.

که د دويم سپى په وجه اول سپى صرف د ښکار په نيولو کي تېزي وکړي نو څه حکم دى؟

وَلَوْلَمْ يَرُدَّهُ الْكَلْبُ الثَّانِيْ عَلَى الْأَوَّلِ او که دويم سپى پر اول سپي ښکار نه راوګرځوي لٰكِنَّهُ اِشْتَدَّ عَلَى الْأَوَّلِ حَتّٰى اِشْتَدَّ عَلَى الصَّيْدِ ليکن هغه پر اول سپي تېزي وکړي تر دې چي اول سپى پر ښکار تېزي وکړي فَأَخَذَهُ وَقَتَلَهُ نو هغه ونيسي او قتل يې کړي لَابَأْسَ بِأَكْلِهِ نو د هغه ښکار په خوړلو کي څه پروا نسته لِأَنَّ فِعْلَ الثَّانِيْ أَثَّرَ فِى الْكَلْبِ الْمُرْسَلِ دُوْنَ الصَّيْدِ ځکه چي د دويم سپي فعل په رااېله کړل سوي [اول] سپي کي اثر کړى دى، نه په ښکار کي حَيْثُ اِزْدَادَ بِهِ طَلَبًا ځکه چي د دويم سپي د فعل په وجه د اول سپي طلب زيات سوى دى فَكَانَ تَبَعًا لِفِعْلِهِ نو ځکه د هغه فعل به د اول سپي د فعل تابع وي لِأَنَّهُ بِنَاءٌ عَلَيْهِ ځکه چي هغه د دې اول سپي پر فعل مبني دى فَلَا يُضَافُ الْأَخْذُ إِلَى التَّبَعِ نو ځکه [د ښکار] نيول به تابع ته نه منسوب کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ رَدَّهُ عَلَيْهِ په

خلاف د هغه صورت کله چې دویم سپی ښکار پر اول سپي راګرځولی وي لِأَنَّهُ لَمْ يَصِرْ تَبَعًا ځکه چې هغه تابع نه سو فَيُضَافُ إِلَيْهِمَا نو ځکه نیول به دواړو ته منسوب کیږي.

اللغات: ﴿مجانسة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: هَمْ جنس کېدل (همجنس کېدل). ﴿إشتد﴾ د افتعال د باب ماضي ده، د دې باب په صله کې چې "علىٰ" ذکر سي نو معنیٰ یې راځي: تېزي کول. په تګ کې تېزي کول. ﴿التَبَع﴾ تابع، جمع: أَتْبَاع. (مصباح اللغات)

تشریح: په مخکیني صورت کې دواړه سپیان په نیولو کې شریکان وه. که څه هم په زخمي کولو کې د دواړو شرکت نه وو، او په دې صورت کې خو په نیولو کې هم شریکان نه دي. بلکې ښکار فقط اول سپي نیولی دی نو ځکه هغه حلال دی.

صورت د مسئلې: دا دی چې که یو څوک خپل مُعلَّم (تعلیم یافته) سپی پر ښکار ور ایله کړي خو په دې دوران کې یو جاهل (نا تعلیم یافته) سپی هم پر هغه ښکار ور وځغلي چې په دې وجه د هغه مُعلَّم سپي رفتار تېز سي او په ډېر تېزي سره پر ښکار ور وځغلي او ښکار ونیسي، نو دا ښکار حلال دی؛ ځکه د دې بل جاهل سپي فعل په مُعلَّم سپي کې تېزي پیدا کړې ده او په ښکار کې د هغه د فعل هیڅ دخل نسته، بلکې په دې باره کې د هغه فعل د مُعلَّم سپي د فعل تابع دی؛ ځکه چې د مُعلَّم سپي فعل مقدم دی، او تاسې ته معلومه ده چې د حکم اضافت او نسبت تابع ته نه کیږي. بلکې اصل ته کیږي. تابع په دې هکله هیڅ حیثیت نه لري. او په مخکنی مسئله یعني کله چې دا بل سپي د مُعلَّم سپي لپاره ښکار راوګرځوي، نو هلته د دې بل سپي د فعل دخل او اثر په ښکار کې راغلی دی لهذا د هغه فعل تابع نه سو، نو ځکه هلته د نیولو اضافت دواړو ته سوی دی.

که مجوسي کس د مسلمان ښکاري سپی پر ښکار وپاروي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا أَرْسَلَ الْمُسْلِمُ كَلْبَهُ فرمایي: او کله چې مسلمان کس خپل سپی ایله کړي فَزَجَرَهُ مَجُوسِيٌّ نو یو مجوسي کس هغه [پر ښکار] وپاروي فَانْزَجَرَ بِزَجْرِهِ نو د هغه په پارولو سره سپی وپاریږي [پر ښکار ور وځغلي] فَلَا بَأْسَ بِصَيْدِهِ نو د هغه په ښکار کې څه پروا نسته وَالْمُرَادُ بِالزَّجْرِ الْإِغْرَاءُ بِالصِّيَاحِ عَلَيْهِ او له زجر څخه [دلته] مراد په چیغه وهلو سره د سپي پارول دي وَبِالِانْزِجَارِ إِظْهَارُ زِيَادَةِ الطَّلَبِ او له انزجار څخه مراد [پر ښکار نیولو] د سپي زیات طلب ښکاره کول دي وَوَجْهُهُ أَنَّ الْفِعْلَ يُرْفَعُ بِمَا هُوَ فَوْقَهُ أَوْ مِثْلُهُ او د دې دلیل دا دی چې فعل په داسې فعل سره ختمیږي [منسوخه

کیږي] کوم چي تر هغه لوړ یا د هغه په څېر وي کَمَا فِيْ نَسْخِ الْآيِ لکه د آیتونو په منسوخه کېدلو کي وَالزَّجْرُ دُوْنَ الْإِرْسَالِ او زجر له إرسال څخه کمتر دی لِكَوْنِهٖ بِنَاءً عَلَيْهِ ځکه چي هغه پر إرسال مبني دی.

اللغات: ﴿زَجْر﴾ د نصر د باب مصدر دی. د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه ځیني دا دي: رټل او غندل، پارول او هڅول، لمسول. یو شي ته تیارول. ﴿إنزجر﴾ د انفعال د باب ماضي ده: غاره ایښودل (فرمان منل). دیو چا په پارولو او تیارولو سره پارېدل او تیارېدل. ﴿إغراء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پارول. ﴿صیاح﴾ چیغه او نعره.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مسلمان په بسم الله سره خپل تعلیم یافته ښکاري سپی پر ښکار ور ایله کړي او په لاره کي یو مجوسي پر سپي نعره او چیغه وکړي چي هغه پر ښکار نیولو ښه وپاروي او سپی د هغه دغه زجر ومني او پر ښکار ور وځغلي تر دې چي ښکار ونیسي او قتل یې کړي، نو دا ښکار حلال دی؛ ځکه د مجوسي کس د زجر په وجه د مسلمان إرسال نه ختمیږي؛ ځکه أصول او قاعده دا ده چي یو فعل په داسي فعل سره منسوخه کیږي (ختمیږي) کوم چي تر هغه قوي یا ور سره برابر وي، او د مجوسي فعل کمتر (د کمي درجې) دی، نو په دې سره د مسلمان فعل نه منسوخه کیږي؛ او د مجوسي د فعل د کمتر والي دلیل دا دی چي د هغه فعل زجر دی او د مسلمان فعل إرسال دی، او دا ښکاره خبره ده چي إرسال اصل دی او زجر تابع دی (ځکه چي إرسال تر هغه مخکي واقع سوی دی). او تابع له متبوع څخه کمتر او ادنیٰ وي او متبوع (اصل) اعلیٰ وي، لهذا إرسال له زجر څخه اعلیٰ او اقویٰ دی ؛ نو ځکه د مسلمان إرسال به د مجوسي په زجر سره نه باطلیږي او په ښکار نیولو کي به د مجوسي د زجر هیڅ دخل نه وي، نو ځکه دا ښکار به حلال او روا وي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په آخر کي د مذکوره قاعدې مثال پېش کړی دی چي لکه څرنګه د قرن د آیت نسخ په کمتر سره نه کیږي. مثلاً محکم آیت په مجمل سره نه باطلیږي: ځکه محکم اعلیٰ دی او مجمل ادنیٰ دی. نو همداسي هر اعلیٰ فعل پر ادنیٰ فعل غالب وي او په هغه سره نه منسوخه کیږي.

او که مسلمان د مجوسي سپی وپاروي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَلَوْ أَرْسَلَهُ مَجُوْسِيٌّ فرمایي: او که یو مجوسي کس سپی ایله کړي فَزَجَرَهُ مُسْلِمٌ بیا یو مسلمان کس هغه وپاروي فَانْزَجَرَ بِزَجْرِهٖ او د مسلمان په زجر [پارولو] سره هغه وپارېږي لَمْ يُؤْكَلْ نو ښکار به یې نه خوړل کیږي لِأَنَّ الزَّجْرَ دُوْنَ الْإِرْسَالِ ځکه چي زجر له إرسال څخه کمتر دی وَلِهٰذَا لَمْ

تَثْبُتُ بِهِ شُبْهَةُ الْحُرْمَةِ په همدې وجه په زجر سره د حرمت شبهه نه ثابتيږي فَأَوْلَى أَنْ لَا يَثْبُتَ بِهِ الْحِلُّ نو ځکه حلت خو به په درجه اولیٰ نه په ثابتيږي وَكُلُّ مَنْ لَا تَجُوزُ ذَكَاتُهُ او هر هغه کس چې ذبح کول يې جائز نه وي كَالْمُرْتَدِّ وَالْمُحْرِمِ وَتَارِكِ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا لکه مرتد کس، احرام تړونکی کس او قصداً بسم الله پرېښوونکی کس فِي هٰذَا بِمَنْزِلَةِ الْمَجُوسِيِّ هغه په دې هکله د مجوسي په درجه کې دی.

اللغات: ﴿إرسال﴾ د افعال د باب مصدر دی: سپي وغيره پر ښکار ور ايله کول. ﴿مُحْرِم﴾ احرام تړونکی (هغه کس چې إحرام يې تړلی وي). ﴿ذكاة﴾ پاکول، حلالول، ذبح کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې څرنګه په مخکنۍ مسئله کې د مسلمان إرسال د مجوسي په زجر سره نه منسوخه کېدی او ښکار حلال وو، همداسې که صورت د هغه برعکس وي يعني إرسال د مجوسي له طرفه وي او زجر د مسلمان له طرفه وي، نو دلته هم اعلیٰ يعني إرسال غالب پاتيږي او هغه په ادنیٰ يعني په زجر سره نه منسوخه کيږي، او څرنګه چې د مجوسي إرسال معتبر نه دی، نو ځکه د دې سپي ښکار حلال نه دی.

وكل إلخ: فرمايي هر هغه کس چې د هغه ذبح جائز نه وي لکه مرتد يا محرم يا قصداً بسم الله پرېښوونکی کس، هغه په دې حکم کې د مجوسي په څېر دی. يعني څرنګه چې د مجوسي تر إرسال وروسته د مسلمان په زجر سره ښکار نه حلاليږي، نو همداسې له دغه مذکور کسانو څخه د هر يوه تر إرسال وروسته د مسلمان په زجر سره ښکار نه حلاليږي، او که د دې برعکس وي، يعني إرسال د مسلمان له طرفه وي او زجر له دې کسانو څخه د يوه له طرفه وي، نو ښکار حلال پاتيږي.

که يو غير مُرسَل سپی د مسلمان له طرفه وپارول سي نو د هغه حکم

وَإِنْ لَمْ يُرْسِلْهُ أَحَدٌ او که سپی هيچا [پر ښکار] نه وي را ايله کړی فَزَجَرَهُ مُسْلِمٌ بيا مسلمان هغه [پر ښکار] وپاروي فَانْزَجَرَ فَأَخَذَ الصَّيْدَ نو هغه وپاريږي او ښکار ونيسي فَلَا بَأْسَ بِأَكْلِهِ نو د ښکار په خوړلو کې څه پروا نسته لِأَنَّ الزَّجْرَ مِثْلُ الْانْفِلَاتِ ځکه چې زجر د خپله ايله کېدلو په څېر دی [يعني داسې دی لکه سپی چې خپله پر ښکار ور ايله سي] لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ دُونَهُ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ بِنَاءٌ عَلَيْهِ ځکه زجر که څه هم په دې حيثيت سره تر انفلات کم دی چې هغه پر انفلات مبني دی فَهُوَ فَوْقَهُ مِنْ

حَيْثُ إِنَّهُ فِعْلُ الْمُكَلَّفِ خو په دې حيثيت سره بيا تر هغه بالا دی چې زجر د مکلف [انسان فعل دی فَاسْتَوَيَا نو دواړه [په درجه کي] برابر سوه فَصَلُحَ نَاسِخًا نو ځکه زجر به د منسوخه کونکي صلاحيت لري [چې په دې سره به انفلات منسوخه کيږي].

اللغات: ﴿وقذ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: دومره وهل چې له توان او حرکته ووځي او مرګ ته نږدې سي، نا توانه کول. ﴿انفلات﴾ د انفعال د باب مصدر دی: د حيوان خلاصېدل، ايله کېدل. ﴿ناسخ﴾ د فتح د باب فاعل دی: منسوخه کونکی، ختمونکی او ليري کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو تعليم يافته سپی خپله پر ښکار ور وځغلي يعني هغه د يو چا له طرفه پر ښکار نه وي را ايله سوی بلکي خپله يې ښکار ته سودا سي او د ښکار پر طرف روان سي او په دې دوران کي يو مسلمان کس په بسم الله سره د هغه زجر وکړی يعني هغه سپی پر ښکار وپاروي، نو د هغه ښکار حلال دی؛ ځکه أصول او قاعده دا ده چې فعل په خپل هَمْمثل او برابر والا فعل سره هم منسوخه کيږي (لکه مخکي چې ذکر سوه)، نو دلته د سپي خپله پر ښکار ورايله کېدل (انفلات) او د مسلمان زجر کول سره برابر دي، نو د مسلمان په زجر سره د سپي انفلات منسوخه کيږي او اوس به هغه داسي ګڼل کيږي چې ګواکي مسلمان هغه را ايله کړی دی؛ او سره برابر ځکه دي چې په يوه حيثيت سره انفلات اعلیٰ دی او په يوه حيثيت سره زجر اعلیٰ دی؛ انفلات ځکه اعلیٰ دی چې هغه اصل او متبوع دی او د مسلمان زجر تابع او پر هغه مبني دی. او زجر ځکه اعلیٰ دی چې هغه د مکلف (انسان) فعل دی او انفلات د غير مکلف (سپي) فعل دی، لهذا په دې اعتبار سره زجر اعلیٰ سو. نو دوی دواړه په درجه کي برابر دي او په برابر شي سره نسخ جائز ده، لهذا انفلات منسوخ سو او فقط زجر باقي پاته سو. نو دا داسي سو لکه خپله مسلمان چې هغه سپی پر ښکار ور ايله کړی وي.

که سپی يو وار ښکار ناتوانه کړي او بيا يې قتل کړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَرْسَلَ الْمُسْلِمُ كَلْبَهُ عَلَى صَيْدٍ وَسَمَّى او که مسلمان کس خپل سپي پر ښکار ور ايله کړي او بسم الله ووايي فَأَدْرَكَهُ او هغه ښکار ونيسي فَضَرَبَهُ وَوَقَذَهُ نو هغه ووهي او ناتوانه يې کړي ثُمَّ ضَرَبَهُ فَقَتَلَهُ بيا هغه ووهي او قتل يې کړي أُكِلَ نو هغه ښکار به خوړل کيږي وَكَذَا إِذَا أَرْسَلَ كَلْبَيْنِ او همدارنګه کله چې دوه سپيان [پر ښکار] ور ايله کړي فَوَقَذَهُ أَحَدُهُمَا ثُمَّ قَتَلَهُ الْآخَرُ نو

له دوی څخه يو هغه ښکار ناتوانه کړي او بل يو يې قتل کړي أُكِلَ نو هغه به خوړل کيږي لِأَنَّ الِامْتِنَاعَ عَنِ الْجَرْحِ بَعْدَ الْجَرْحِ لَا يَدْخُلُ تَحْتَ التَّعْلِيمِ ځکه چې تر زخمي کولو وروسته له زخمي کولو څخه منع کېدل [د سپي وغيره] په تعليم کې نه داخليږي فَجُعِلَ عَفْوًا نو ځکه دا به معاف گرځول کيږي.

اللغات: ﴿عَفْو﴾ د نصدر د باب مصدر دی: معاف کول، بخښل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو مسلمان کس خپل سپی په بسم الله سره پر ښکار ور ايله کړي او سپی چې ښکار ونيسي نو اول وار هغه ښه سره ومروړي زخمي يې کړي او ناتوانه يې کړي چې له ځغاستې ولوېږي، بيا دويم وار هغه قتل کړي، نو دا ښکار حلال دی. همدارنګه که مسلمان کس دوه سپيان په بسم الله سره پر ښکار ور ايله کړي او له دوی څخه يو سپی ښکار ناتوانه کړي او بل سپی هغه قتل کړي، نو په دې صورت کې هم هغه ښکار حلال دی.

وجه يې دا ده چې سپي ته داسې تعليم ورکول ممکن نه دي چې کله ته ښکار زخمي کړې نو هغه مه وژنه! بلکې د خپل مالک انتظار کوه! چې هغه بې غمه راسي او دا ذبح کړي، نو کله چې دا (د ښکار تر زخمي کولو وروسته د هغه بيا نه زخمي کول او نه وژل غيره) د سپي په تعليم کې نه سيء داخليدلای. نو ځکه دا به عذر شمېرل کيږي او معاف کول کيږي به.

که دوه کسان خپل سپيان پر ښکار ور ايله کړي (حکم او تفصيل)

وَلَوْ أَرْسَلَ رَجُلَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَلْبًا او که له دوو کسانو څخه هر يو خپل سپی [پر ښکار] ور ايله کړي فَوَقَذَهُ أَحَدُهُمَا وَقَتَلَهُ الْآخَرُ نو له هغوی څخه يو سپی ښکار ناتوانه کړي او بل يو يې قتل کړي أُكِلَ نو ښکار به خوړل کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی دی وَالْمِلْكُ لِلْأَوَّلِ او ملکيت اول کس لره دی لِأَنَّ الْأَوَّلَ أَخْرَجَهُ عَنْ حَدِّ الصَّيْدِيَّةِ ځکه چې اول سپي دغه ښکار د صيديّت [ښکار والي] له حدّ څخه ايستلی دی إِلَّا أَنَّ الْإِرْسَالَ مِنَ الثَّانِي حَصَلَ عَلَى الصَّيْدِ خو څرنګه چې د دويم کس له طرفه د سپي إرسال پر صَيد [ښکار] واقع سوی دی وَالْمُعْتَبَرُ فِي الْإِبَاحَةِ وَالْحُرْمَةِ حَالَةُ الْإِرْسَالِ او د روا کېدلو او حرامېدلو په هکله د إرسال [ايله کولو] حالت معتبر

دی فَلَمْ يَحْرُمْ نو ځکه هغه ښکار به حرام نه وي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْإِرْسَالُ مِنَ الثَّانِي بَعْدَ الْخُرُوجِ عَنِ الصَّيْدِيَّةِ بِجُرْحِ الْكَلْبِ الْأَوَّلِ په خلاف د هغه صورت کله چي د دویم کس له طرفه د سپي إرسال له صیدیت څخه تر وتلو وروسته وي د اول سپي د زخمي کولو په وجه [یعني کله چي اول سپی ښکار زخمي کړي او د صیدیت له حدّ څخه یې وباسي. تر دې وروسته دویم کس خپل سپی پر هغه ښکار ور ایله کړي. نو هغه ښکار حلال نه دی].

اللغات: ﴿صیدیّة﴾ ښکار کېدل. ښکار والی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دي که دوه کسان پر یوه ښکار خپل تعلیم یافته سپیان ور ایله کړي. بیا له هغوی څخه یو سپی ښکار ونیسي او ناتوانه یې کړي خو قتل یې نه کړي او دویم سپی راسي هغه قتل کړي. نو په دې صورت کي هم هغه ښکار حلال او جائز دی؛ ځکه تر زخمي کولو وروسته د اول سپي درېدل او ښکار نه قتلول په تعلیم کي داخل نه دي، نو د مخکي په څېر به دا هم معاف ګرځول کیږي او ښکار به حلال وي.

والملك إلخ: فرمایي چي په صورت مسئله کي ښکار د اول سپي والا حق کیږي؛ ځکه همدې اول سپي هغه زخمي کړی دی او د صیدیت له حدّ څخه یې ایستلی دی. نو ځکه ښکار د هغه د مالک په ملکیت کي داخلیږي. پاتـه سوه د دې ښکار د حلال کېدلو مسئله. نو د دویم سپي په قتلولو سره ښکار ځکه حلالیږي؛ ځکه چي د دې دویم سپي إرسال هم په هغه وخت کي سوی وو. کله چي د ښکار صیدیّت باقي وو. او دا جلا خبره ده چي د ښکار تر زخمي کېدلو وروسته هغه تـه رسېدلی وو. او څرنګه چي د حلت او حُرمت په هکله د إرسال حالت معتبر دی او د دویم سپي د إرسال په وخت کي ښکار باقي وو یعني د صیدیت له حدّ څخه وتلی نه وو. نو ځکه د دویم سپي په قتلولو سره ښکار حلالیږي او په هغه کي د حُرمت شبهه نه پاتیږي.

ها! که هغه دویم کس د اول سپي د ایله کېدلو په وخت کي خپل سپی نه وي ایله کړی. بلکي اول سپي چي ښکار زخمي کړي او د صیدیت له حدّ څخه یې خارج کړي. بیا یې پر ښکار ور ایله کړي. نو په دې صورت کي د دویم سپي په وار سره قتل سوی ښکار نه حلالیږي؛ ځکه په دې صورت کي د دویم سپي إرسال پر ښکار (صَید) نه دی سوی بلکي پر زخمي ښاروي سوی دی. او د حلت لپاره إرسال علی الصّید معتبر دی. إرسال علی المجروح معتبر نه دی. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



فَصْلٌ فِي الرَّمْيِ

دا فصل (په غشي سره) د ویشتلو په بیان کې دی

تشریح: مخکي ذکر سوه چي کتابُ الصید پر دوو فصلونو مشتمل دی چي له هغوی څخه اول فصل په حیواناتو سره د ښکار کولو په بیان کي دی او دویم فصل په جماداتو (غشي وغیره) سره د ښکار کولو په بیان کي دی، ځکه چي د روح او ژوندون په وجه حیواناتو لره پر جماداتو فوقیت حاصل دی او د دوی فعل اختیاري وي، نو ځکه اول د دوی احکام بیان کړل سوي دي. اوس تر هغه وروسته په جماداتو سره د ښکار کولو احکام بیانوي. (عنایه)

که خوک د یو شي کښهاري واوري او د ښکار په ګومان هغه وویلي (حکم او تفصیل)

وَمَنْ سَمِعَ حِسًّا ظَنَّهُ حِسَّ صَيْدٍ او څوک چي یو کښهاری واوري او پر هغه د ښکار د کښهاري ګومان وکړي فَرَمَاهُ نو هغه په غشي سره وویلي أَوْ أَرْسَلَ كَلْبًا أَوْ بَازِيًا عَلَيْهِ یا سپی یا باز پر هغه ور ایله کړي فَأَصَابَ صَيْدًا نو هغه پر ښکار ولګیږي ثُمَّ تَبَيَّنَ أَنَّهُ حِسُّ صَيْدٍ بیا څرګنده سي چي هغه [رښتیا هم] د ښکار کښهاری وو [نه د سړي او غیرِ صید] حَلَّ الْمُصَابُ نو پر کوم ښکار چي لګېدلی وي هغه حلال دی أَيَّ صَيْدٍ كَانَ هغه که هر ښکار وي [یعني که مأکول اللحم وي او که غیرِ مأکول اللحم وي. ځکه مأکول اللحم تو له حلالیږي او د غیرِ مأکول اللحم څرمن وغیره پاکیږي] لِأَنَّهُ قَصَدَ الِاصْطِيَادَ ځکه چي هغه کس د ښکار کولو اراده کړې ده [دا ظاهر روایت دی] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ۞ أَنَّهُ خَصَّ مِنْ ذٰلِكَ الْخِنْزِيرَ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي هغه له دې څخه خنزیر خاص کړی دی لِتَغْلِيظِ التَّحْرِيمِ ځکه چي د هغه حراموالی سخت دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا تَثْبُتُ الْإِبَاحَةُ فِي شَيْءٍ مِنْهُ

۞ القول الراجح: هو ظاهر الرواية، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وحل اصطياد ما يؤكل لحمه وما لا يؤكل لحمه لمنفعة جلده أو شعره أو ريشه إلى أن قال: وبه يطهر لحم غير نجس العين كخنزير فلا يطهر أصلاً وجلده، وقيل: يطهر جلده لا لحمه: هو أصح ما يفتى به، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۲۳]

آیا ته نه ګورې! چې د خنزير په هیڅ حصه کي هم روايښت نه ثابتيږي بِخِلَافِ السِّبَاعِ په خلاف د درندګانو لِأَنَّهُ يُؤَثِّرُ فِيْ جِلْدِهَا ځکه چې اصطیاد [ښکارول] د هغوی په څرمن کي اثر کوي وَزُفَرُ خَصَّ مِنْهَا مَالَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ او امام زفر رَحِمَهُ الله له دې څخه هغه حیوانان خاص کړي دي چې غوښې يې نه خوړل کیږي لِأَنَّ الْإِرْسَالَ فِيْهِ لَيْسَ لِلْإِبَاحَةِ ځکه چې په هغوی کي إرسال د روايښت لپاره نه وي [يعني پر غيرِ مأكولُ اللحم حیوانانو چې سپی وغیره ور ايله کول کیږي. هغه د دې لپاره نه کیږي چې غوښې يې روا کړل سي او وخوړل سي].

اللغات: ﴿حِسّ﴾ د دې لفظ څو معناوي دي: ① کرار آواز، د هغه شي د تېرېدلو ږغ او آواز چې چا ته نژدې تېریږي لیکن هغه يې نه ويني يعني کښهاری. ② په حواسِ خمسه وو نسره يو شی محسوسول. ③ د حواسو فعل (يعني کوم فعل چې له يوه حس څخه صادر سي)، دلته اوله معنیٰ مراد ده. ﴿رَمْی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ویشتل، غشی غورځول. ﴿مُصَاب﴾ د افعال د باب مفعول دی: لګېدلی شی. هغه څه چې نښانه پر لګېدلې وي، مبتلا. ﴿تغلّظ﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: سختېدل، سنګین کېدل. ﴿اصطیاد﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ښکار کول، ښکارول. ﴿سباع﴾ جمع د سُبُعٌ ده: درنده. داړونکی او څیرونکی حیوان.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ښکاري کس په کښت یا داسي بل ځای کي د یو شي کښهاری. او ږغ واوري او د ده ګومان سي چې دا د ښکار د ځاروي کښهاری دی نو غشی پر ورايله کړي. یا خپل تعلیم یافته سپی یا باز پر ورايله کړي او هغه ښکار ده ته په لاس ورسي، نو د هغه د حلت په هکله څه حکم دی؟. فرمايي په دې باره کي د ظاهر روايت حکم دا دی چې که غشی پر هاغه ځاروي لګېدلی وي چې ښکاري کس يې کښهاری. اورېدلی وي،نو هغه ځاروی که مأكولُ اللحم وي (يعني داسي ځاروی وي چې په شريعت کي د هغه غوښې خوړل جائز وي مثلاً هوسی وغيره)، نو هغه حلال دی او خوړل يې روا دي. او که هغه غيرِ مأكولُ اللحم وي، نو د هغه په څرمن وغيره کي حلت ثابتيږي.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې که ښکاري کس د خنزير کښهاری. واوري او غشی ور ايله کړي بيا هغه غشی پر يو مأكول اللحم ښکار ولګيږي، نو هغه ښکار حلال نه دي؛ ځکه خنزير نجس العين دی او د هغه له يو جزء څخه هم نفع اخيستل صحيح نه دي؛ نو ځکه د خنزير د کښهاري د اورېدلو پرِبناء ویشتل سوی ښکار به حلال نه وي.

د دې په خلاف که ګنبهارۍ د يو درنده وي (مثلاً دلېوه ګنبهارۍ وي) او غشی پر يو مأکول اللحم ښکار ولګيږي. نو د هغه خوړل حلال او مباح دي؛ ځکه د درنده په ښکارولو سره د درنده په څرمن کې طهارت او پاکي پيدا کيږي. لهذا که د درنده د ګنبهارۍ پر اوربدلو غشی ايله کړی سی او هغه پر مأکولُ اللحم ښکار ولګيږي، نو په هغه کې به حلت او روايښت پيدا کيږي.

وزفر إلخ: فرمايي چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز که ښکاري کس د يو غير مأکول اللحم ځاروي ګنبهارۍ واوري او غشی ور ايله کړي او بيا غشی پر مأکولُ اللحم ځاروي ولګيږي. نو د هغه خوړل حلال نه دي؛ ځکه چې په غيرِ مأکولُ اللحم ځاروي کې رمی او إرسال د هغوی د حلت او اباحت لپاره نه کيږي، نو ځکه د هغوی د ګنبهارۍ د اوربدلو پر بناء ويشتل سوی ښکار به حلال نه وي، که څه هم هغه مأکولُ اللحم وي.

د ظاهر روايت دليل

وَوَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ اسْمَ الِاصْطِيَادِ لَا يَخْتَصُّ بِالْمَأْكُولِ او د ظاهر روايت دليل دا دی چې د اصطياد لفظ دمأکول اللحم سره خاص نه دی فَوَقَعَ الْفِعْلُ اصْطِيَادًا لهذا فعل اصطياد واقع سو وَهُوَ فِعْلٌ مُبَاحٌ فِي نَفْسِهِ او دا فعل بذات خود روا فعل دی وَإِبَاحَةُ التَّنَاوُلِ تَرْجِعُ إِلَى الْمَحَلِّ او د خوړلو روايښت د محل وطرف ته راجع کيږي فَتَثْبُتُ بِقَدْرِ مَا يَقْبَلُهُ لهذا په هغه مقدار کې اباحت ثابتيږي په څومره مقدار کې چې يې محل قبول کړي لَحْمًا وَجِلْدًا په غوښه کې او په څرمن کې وَقَدْ لَا تَثْبُتُ إِذَا لَمْ يَقْبَلْهُ او کله روايښت نه ثابتيږي کله چې محل هغه قبول نه کړي وَإِذَا وَقَعَ اصْطِيَادًا او کله چې فعل اصطياد واقع سو صَارَ كَأَنَّهُ رَمَى إِلَى صَيْدٍ نو داسې سو لکه هغه چې د ښکار پر طرف غشی وغورځوي فَأَصَابَ غَيْرَهُ او هغه پر بل ښکار ولګيږي.

اللغات: ﴿المأکول﴾ د نصر د باب مفعول دی: خوړل کېدونکی. هغه ځاروی چې شريعت د هغه د خوړلو اجازت ورکړی وي. ﴿التناول﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: يو څه خوړل، حاصلول او اخيستل.

تشريح: په دې عبارت کې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د ظاهر روايت دليل بيان کړی دی. حاصل يې دا دی چې په ظاهر روايت کې چې کوم مطلق ښکار حلال ګرځول سوی دی. له هغه ځخه مراد د غوښې حلت نه دی؛ ځکه هر ښکار مباح اللحم او مأکول اللحم نه وي. بلکې مراد يې دا دی چې په کوم ښکار کې څومره حلت ثابتېدلای سي، هغه به ثابتيږي، لکه څرنګه په مأکول اللحم ښکار کې د

حلت په غوښه او څرمن ټولو کې اثر کوي او ټوله حلالوي. او د غير مأكول اللحم څرمن حلالوي. او په خنزير کې هيڅ شی نه حلاليږي خو د هغه له ضرر څخه د بچ کېدلو مقصود ضرور حاصليږي.

د دغه تفصيل وجه دا ده چې لفظ د اصطياد يعني ښکار کول فقط د مأكول اللحم سره خاص نه دی چې که مأكول اللحم ښاروی ښکار کړل سي نو بس دې ته اصطياد وايي. بلکې دا يو عام لفظ دی کوم چې پر هر ښکار صادقيږي. يعني پر کوم ښکار چې هم غشی، باز، سپی وغيره ورايله کړل سي. پر هغه د اصطياد اطلاق کيږي. برابره ده هغه ښکار مأكول اللحم وي او که غير مأكول اللحم وي. او څرنگه چې اصطياد يو روا فعل دی. نو ځکه هغه به په هر حال کې روا پاتيږي.

پاته سوه د دې ښکار د روايښت مسئله کوم چې په غشي وغيره سره ووژل سي. نو د هغه تفصيل خو موږ بيان کړی دی چې که مأكول اللحم وي نو د هغه غوښې څرمن ټوله حلاليږي. او که له خنزير څخه بغير نور غير مأكول اللحم ښکار وي مثلاً زمری. لېوه وغيره نو د هغه په څرمن کې روايښت او طهارت ثابتيږي. او که خنزير وي نو په هيڅ شي کې يې هم طهارت نه ثابتيږي؛ ځکه چې خنزير نجس العين دی او د هغه محل په هيڅ شي کې هم حلت او طهارت نه قبلوي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په "وقد لا تثبت" سره همدا بيان کړی دی.

وإذا وقع اصطيادًا إلخ: خلاصه د کلام دا چې دلته فعل اصطياد واقع کيږي يعني په غشي وغيره سره ويشتل له فايدې څخه خالي نه دي بلکې هغه اصطياد شمېرل کيږي. او بيا د محل د استعداد مطابق په هغه کې احکام جاري کيږي. د دې مثال داسې دی چې که څوک يو ښکار په غشي وويلي لېکن دا غشی له هغه څخه بغير پر بل ښکار ولگيږي. نو اوس د هغه بل ښکار د حال مطابق احکام پکښې جاري کيږي. نو همداسې په صورت مسئله کې به هم د مُصاب ښکار د حالت مطابق احکام پکښې جاري کيږي او نافذيږي. (احسن الهدايه)

که کبنهاري له ښکار څخه د بل شي وي

وَإِنْ تَبَيَّنَ أَنَّهُ حِسُّ آدَمِيٍّ أَوْ حَيَوَانٍ أَهْلِيٍّ او که څرگنده سي چې هغه [کبنهاری] د يو انسان يا کورني ښاروي کبنهاري وو لَا يَحِلُّ الْمُصَابُ نو لگېدلی [ويشتل سوی] ښکار نه حلاليږي لِأَنَّ الْفِعْلَ لَيْسَ بِاصْطِيَادٍ ځکه چې دا فعل اصطياد نه دی وَالطَّيْرُ الدَّاجِنُ الَّذِي يَأْوِي الْبُيُوتَ أَهْلِيٌّ او هغه اموخته مارغه کوم چې کورو ته پناه راوړي هغه کورنی مارغه دی وَالظَّبْيُ الْمُوَثَّقُ بِمَنْزِلَتِهِ او تړل سوې [کورنۍ] هوسۍ د کورني مارغه په څېر ده لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿الداجن﴾ هر هغه حيوان او مارغه چې په کورو کې اموخته وي او نه ځني تښتي. ﴿يأوي﴾ د ضرب د باب مضارع ده: پناه راوړل. راتلل. ﴿أهلي﴾ کورنی. د ځنگلي ضد. ﴿الموثق﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: تړل سوی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې ښکاري کس کوم کبنهارۍ اورېدلی او بیا یې غشی وغیره پر ورایله کړی وي، که هغه د ښکار ځاروی نه ويَ، بلکې دیو سړي یا د بل کورني ځاروي (مثلاً د پسه) کبنهارۍ یې اورېدلی او په غشي یې ویشتلی وي چې د هغه په وجه ځاروی مړ سي، نو هغه نه حلالیږي؛ ځکه اوس دا فعل (غشي ویشتل) اصطیاد نه دی، حالانکې د ښکار د حلت لپاره تر ټولو مخکې د فعل اصطیاد کېدل ضروري دي، لېکن ځرنګه چې دا فعل اصطیاد نه دی، نو ځکه سر له شروع څخه حلت او اباحت پاته نه سو.

﴿د هغه مارغه حکم چې په کورو کې ځاله جوړوي او د اموخته هوسۍ حکم﴾

والطیرالخ: فرمایي کوم مارغه چې په کورونو کې ځاله جوړي، نو د هغه حکم د کورني مارغه د حکم په څېر دی، همدارنګه اموخته کړل سوې هوسۍ هم د کورني ځاروي په درجه کې ده، یعني دا دواړه صَید نه دي، لهذا که ښکاري کس د دوی کبنهارۍ واوري او غشی باندی ور ایله کړي او هغه پر بل ښکار ولګیږي، نو هغه ښکار نه حلالیږي؛ ځکه چې اصل فعل اصطیاد واقع نه سو، همدې ته مصنف رَحِمَهُ الله په "لِمَا بیَّنَّا" سره اشاره کړې ده یعني دا فعل اصطیاد نه سو.

که اصل هدف مارغه یا اوښ وي او غشی پر بل ښکار ولګیږي، نو د هغه حکم

وَلَوْ رَمٰی إِلٰی طَائِرٍ او که ښکاري کس د یو مارغه پر طرف غشی وغورځوي فَأَصَابَ صَيْدًا او هغه پر یو ښکار ولګیږي وَمَرَّ الطَّائِرُ او مارغه ولاړ سي وَلَا يُدْرٰى وَحْشِيٌّ هُوَ أَوْ غَيْرُ وَحْشِيٍّ او معلومه نه سي چې هغه مارغه وحشی وو، او که غیرِ وحشي حَلَّ الصَّيْدُ نو ښکار حلالیږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ فِيْهِ التَّوَحُّشُ ځکه ښکاره په هغه مارغه کې وحشي کېدل دي وَلَوْ رَمٰی إِلٰی بَعِيْرٍ فَأَصَابَ صَيْدًا او که د اوښ پر طرف ته غشی وغورځوي او هغه پر یو ښکار ولګیږي وَلَا يُدْرٰى نَادٌّ هُوَ أَمْ لَا او دا معلومه نه سي چې هغه ترهېدلی [وحشي] اوښ دی، که نه لَا يَحِلُّ الصَّيْدُ نو ښکار نه حلالیږي لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيْهِ الْاِسْتِئْنَاسُ ځکه په اوښ کې اموخت والی [نه ترهېدل] اصل دي.

اللغات: ﴿وحشي﴾ ځنګلي، ترهېدونکی (چې د انسان په لیدلو سره ترهیږي او ځغلي)، ﴿توحّش﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: وحشي کېدل، ځنګلي کېدل. ﴿نادّ﴾ د ضرب د باب فاعل دی: ترهېدونکی (ترېدونکی)، بېرېدونکی او تښتېدونکی. ﴿استئناس﴾ او استیناس: اموخته کېدل، اموخت والی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د يو مارغه پر طرف غشی وغورځوي خو هغه وتښتي نو غشی خطا سي پر بل ښکار ولګيږي. اوس که هغه تښتېدونکی د ښکار (صَيد) مارغه وي، نو هغه لګېدلی (مُصاب) ښکار حلال دی، کنې حلال نه دی (لکه مخکي چي تېر سوه)، لېکن که دا معلومه نه سي چي تښتېدونکی ښکار دی، که نه؟ یا په بله وينا دا چي وحشی دی که غيرِ وحشي (ځکه وحشي ښکار دی او غيرِ وحشي ښکار نه دی)، نو اوس به څه کيږي؟، فرمايي چي په دې صورت کي ښکار حلال دی: ځکه په مارغانو کي اصل وحشي کېدل دی، لهذا تښتېدونکي مارغه به ښکار (صَيد) شمېرل کيږي.

ولو رمی إلی بعیرالخ: او که د اوښ پر طرف غشی وغورځوي خو هغه پر بل ښکار ولګيږي، نو که اوښ پر خپل اصل حالت وي (يعني ترهېدلی نه وي)، نو هغه لګېدلی ښکار حلال نه دی، او که اوښ ترهېدلی وي کوم چي د وحشي په درجه کي دی، نو بيا هغه ښکار حلال دی. لېکن که دا معلومه نه سي چي دا ترهېدلی اوښ دی، که نه؟، نو فرمايي چي په دې صورت کي هم هغه ښکار حلال نه دی: ځکه په اوښ کي اصل همدا ده چي هغه وحشي نه وي، بلکي اموخته وي.

که اصل هدف ماهی یا ملخ وي...، نو د هغه حکم

وَلَوْ رَمٰى إِلٰى سَمَكَةٍ أَوْ جَرَادَةٍ او که د ماهي يا ملخ پر طرف غشی وغورځوي فَأَصَابَ صَيْدًا او هغه پر يو ښکار ولګيږي يَحِلُّ فِيْ رِوَايَةٍ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ نو هغه ښکار حلال دی له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په نقل سوي يوه روايت کي لِأَنَّهٗ صَيْدٌ ځکه چي هغه يو ښکار دی وَفِيْ أُخْرٰى عَنْهُ لَا يَحِلُّ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په نقل سوي بل روايت کي هغه نه حلاليږي لِأَنَّهٗ لَا ذَكَاةَ فِيْهِمَا ځکه چي په دې دواړو کي ذبح نسته [يعني ماهي او ملخ نه ذبح کول کيږي].

اللغات: ﴿ذكاة﴾ ذبح، حلالول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د ماهي يا ملخ پر طرف غشی وغورځوي خو هغه پر بل ښکار ولګيږي، نو اوس د هغه ښکار څه حکم دی؟، فرمايي چي په دې کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه نقل سوي دي:

① ... هغه ښکار حلال دی: ځکه د کوم څه پر طرف چي يې غشی غورځولی دی يعني ماهی او ملخ، هغه هم ښکار دي. ② ... هغه ښکار حلال نه دی: ځکه چي ماهي او ملخ نه ذبح کول کيږي، او د کوم څه پر طرف چي غشی وغورځول سي په هغه کي چي څرنګه دا شرط دي چي ښکار به وي، همداسي دا هم شرط دي چي د هغه حلت مشروط بالذبح وي، او دلته دا شرط مفقود دی، نو ځکه ښکار نه حلاليږي.

يادونه: صحيح او مختار قول دا دی چي په مذکوره صورت کي ښکار حلال دی که هم څه د غشي ويشتلو په وخت کي يې په هېره بسم الله هم پرې اينبې وي. (شامي ج: ۵، ص: ۳۰)

که ښکاري کس د کنبهارۍ په اورېدلو سره د انسان ګومان پرې کړی وي خو هغه ښکار وخيژي؟

وَلَوْ أَصَابَ الْمَسْمُوْعَ حِسُّهُ او که غشی پر هغه څه لګېدلی وي چي کنبهاری يې اورېدلی وي وَقَدْ ظَنَّهُ آدَمِيًّا او ده پر هغه ديو انسان ګومان کړی وي فَإِذَا هُوَ صَيْدٌ لېکن هغه ښکار وي يَحِلُّ نو هغه حلال دی لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِظَنِّهِ مَعَ تَعَيُّنِهِ ځکه د ښکار د متعين کېدلو سره د ده ګومان لره اعتبار نسته.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که ښکاري کس ديو څه کنبهاری واوري او هغه دا د انسان کنبهاری وګڼي خو بيا هم غشی پر ورايله کړي لېکن غشی خطاسي پر يو ښکار ولګيږي او هغه مړ سي، نو په دې صورت کي ښکار حلال او جائز دي؛ ځکه دلته د دې کس په ګومان او فعل کي تعارض دی. او څرنګه چي د ده فعل خاص پر صَيد واقع سوی دی. نو ځکه د فعل اعتبار به يې کيږي او د فعل د اصطياد کېدلو په وجه به ښکار حلال او مباح وي. (احسن الهدايه)

د غشي ويشتلو په وخت کي د بسم الله ويلو حکم

وَإِذَا سَمَّى الرَّجُلُ عِنْدَ الرَّمْيِ او کله چي سړی د ويشتلو په وخت کي بسم الله ووايي أُكِلَ مَا أَصَابَ نو پر کوم ښکار چي غشی لګېدلی وي هغه به خوړل کيږي إِذَا جَرَحَ السَّهْمُ فَمَاتَ [په دې شرط] کله چي غشی ښکار زخمي کړي او [له همدې زخم څخه] ښکار مړ سي لِأَنَّهُ ذَابِحٌ بِالرَّمْيِ ځکه چي هغه د غشي ويشتلو په ذريعه ذبح کونکی دی لِكَوْنِ السَّهْمِ آلَةً لَهُ ځکه چي غشی د ذبح آله ده فَتُشْتَرَطُ التَّسْمِيَةُ عِنْدَهُ نو ځکه د غشي ويشتلو په وخت کي به بسم الله ويل شرط وي وَجَمِيعُ الْبَدَنِ مَحَلٌّ لِهٰذَا النَّوْعِ مِنَ الذَّكَاةِ او د ښکار ټوله بدن د دغه ډول ذبح [غشي ويشتلو] محل دی وَلَا بُدَّ مِنَ الْجُرْحِ لِيَتَحَقَّقَ مَعْنَى الذَّكَاةِ او زخمي کول ضروري دي چي د ذبح معنیٰ موجوده سي عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ د هغه تفصيل مطابق کوم چي موږ [مخکي] بيان کړی دی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي څرنګه د ښکاري سپي وغيره د إرسال (ايله کولو) په وخت کي بسم الله ويل ضروري دي. همداسي د رمی (ويشتلو) په وخت کي هم بسم الله ويل ضروري دي: لکه څرنګه چي إرسال د ذبح آله ده. همداسي غشی ويشتل هم د ذبح آله ده. او إرسال او رمی په ذبح

اضطراري کي داخل دي. او د ذبح اضطراري لپاره د بدن هيڅ حصه متعينه نه ده. بلکي د بدن پر هره حصه چي ولګيږي که څه هم پر سترګه يا کوناټو ولګيږي. ټوله سره برابر دي. خو زخمي کول شرط دي چي د هغه تفصيل د ارسال په بيان کي تېر سو.

که ښکار ژوندی تر لاسه سي نو ذبح ضروري ده

قَالَ: فَإِنْ أَدْرَكَهُ حَيًّا فرمايي: او که ويشتونکی کس ښکار ژوندی ونيسي ذَكَّاهُ نو هغه به ذبح کوي وَقَدْ بَيَّنَّاهَا بِوُجُوهِهَا وَالِاخْتِلَافَ فِيهَا فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ او دا مسئله موږ د خپلو صور تونو سره او په هغې کي اختلاف په اول [مخکني] فصل کي بيان کړې دی فَلَا نُعِيدُهُ نو هغه بيا نه راګرځوو.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی که غشي ويشتونکي کس ښکار ژوندی تر لاسه کړي. نو اوس د هغه ذبح کول پر لازم دي، کنې نه حلاليږي؛ ځکه چي دغه کس د بدل يعني د ذبح اضطراري په ذريعه له مقصود حاصلولو څخه مخکي پر اصل يعني پر ذبح اختياري قادر سو. نو ځکه د قاعدې مطابق اوس د هغه په حق کي ذبح اختياري يعني په چاړه سره ذبح کول متعين سوه او بغير له ذبح کولو دا ښکار نه حلاليږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي موږ مخکي په پوره تفصيل سره دا مسئله بيان کړې ده (کوم چي په مخکيني فصل کې غالباً پر ۴۸۰ صفحه بيان سوې ده). لهذا د هغه د راګرځولو ضرورت نسته.

که ويشتل سوی ښکار له سترګو نيام سي او بيا مړ وموندل سي نو د هغه حکم

قَالَ: وَإِذَا وَقَعَ السَّهْمُ بِالصَّيْدِ فرمايي: او کله چي غشی پر ښکار ولګيږي فَتَحَامَلَ حَتَّى غَابَ عَنْهُ خو هغه يې وزغمي [او وتښتي] تر دې چي له ښکاري کس څخه غائب سي وَلَمْ يَزَلْ فِي طَلَبِهِ او ښکاري کس مسلسل د هغه په طلب [تلاش] کي وي حَتَّى أَصَابَهُ مَيِّتًا تر دې چي ده ته هغه مړ په لاس ورسي أُكِلَ نو هغه به خوړول کيږي وَإِنْ قَعَدَ عَنْ طَلَبِهِ ثُمَّ أَصَابَهُ مَيِّتًا او که دئ يې له طلب څخه کښېني بيا هغه مړ په لاس ورسي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه به نه خوړل کيږي لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ [1] أَنَّهُ كَرِهَ أَكْلَ الصَّيْدِ إِذَا غَابَ عَنِ الرَّامِي ځکه له نبي ﷺ څخه روايت دی چي دوی ﷺ د داسي ښکار خوړل مکروه ګڼلي دي کله چي هغه له ويشتونکي څخه غائب سي وَقَالَ: لَعَلَّ هَوَامَّ الْأَرْضِ قَتَلَتْهُ او

[1] تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه في كتاب الصيد، باب الرجل يرمي الصيد ويغيب عنه حديث رقم: ۲۰۱۷۱

فرمايلي يې دي: چې کېدای سي هغه د ځمکي خزندو وژلی وي ﴿وَلِأَنَّ احْتِمَالَ الْمَوْتِ بِسَبَبٍ آخَرَ قَائِمٌ﴾ او ځکه چې په يو بل سبب سره د مړ کېدلو احتمال [دلته] موجود دی ﴿فَمَا يَنْبَغِي أَنْ يَحِلَّ أَكْلُهُ﴾ نو مناسب نه ده چې د هغه خوړل حلال سي ﴿لِأَنَّ الْمَوْهُومَ فِي هٰذَا كَالْمُتَحَقِّقِ﴾ ځکه د کوم شه چې صرف وهم وي هغه په دې [د ښکار په] باب کي داسي دی لکه ثابت شده شه ﴿لِمَا رَوَيْنَا﴾ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ روايت کړی دی.

اللغات: ﴿تحامل﴾ د تفاعل د باب ماضي ده: د دې باب څو معناوي دی چې له هغوی څخه ځيني دا دي: ① د تکليف باوجود يو شی زغمل او برداشت کول. ② په تکليف سره تګ کول. په تګ کي درنېدل. ③ د تکليف او مشقت باوجود يو شی په خپله ذمه اخيستل (مصباح اللغات). ﴿الهوامّ﴾ جمع د هَامَّةٌ ده (په تشديد د ميم سره): صاحب د معجم د دې لفظ دا معناوي ذکر کړي دي: حشرات (خزندې) او زهر لرونکي حيوانات، هر زهر لرونکی پر ځمکه تلونکی کوچنی ساکښ (معجم لغة الفقهاء).

صاحب د حاشيې مخکي د دې لفظ معنیٰ په دَابَّةٌ سره کړې وي، يعني پر ځمکه تلونکي څه.

﴿موهوم﴾ د ضرب د باب مفعول دی: هغه څه چې د واقع کېدلو وهم يې وي، د کوم شي چې وهم او احتمال وي. ﴿متحقق﴾ د تفعّل د باب مفعول دی: هغه څه کوم چې موجود او ثابت وي، ثابت شده.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که غشی پر ښکار ولګيږي خو په اول ځل په هغه کي پوره اثر نه وکړي بلکي هغه د غشي واری وزغمي او وتښتي او د ښکاري کس له ستر ګو نيام سي، بيا څه وخت وروسته ښکاري کس هغه مړ ومومي، نو اوس به دې ته کتل کيږي چې ښکاري کښې مسلسل د هغه په طلب او تلاش کي وو چې پيدا يې کړي، يا د هغه تر غائبېدلو وروسته ښکاري کس کښېنستی او د هغه طلب يې پرېښودی او بيا ناڅاپه يې هغه ښکار مړ وليدی، نو په اول صورت کي حلال دی او په دويم صورت کي حرام دی چې د هغه په هکله مصنف رَحِمَهُ الله دوه دليلونه ذکر کړي دي:

① ... نقلي دليل دا دی چې نبي کريم ﷺ د داسي ښکار خوړل ناخوښه ګڼلي دي او فرمايلي يې دي چې کېدای سي د ځمکي خزنده به هغه وژلی وي.

② ... عقلي دليل دا دی چې دا احتمال هم سته چې دغه ښکار به د ښکاري له غشی څخه بغير په يو بل سبب سره مړ سوی وي، نو ځکه د هغه خوړل مناسب نه دي.

او که سوال وسي چي دلته يو موهومه خبره بنيلاد ولي ګرځول سوې دم(چي دا ښکار به په يو بل سبب سره مړ سوی وي)؟، حال دا چي د هغه په مقابله کي متحقق او ثابت شده امر موجود دی يعني په غشي سره ويشتل.

نو جواب دا دی چي د ښکار په باب کي موهوم امر د متحقق امر په څېر دی او کله چي دواړه سره برابر دي، نو تعارض پکښي راغلی او د تعارض په وخت کي د حرمت جانب ته ترجيح ورکول کيږي (کما هو الأصل).

يو اشکال او د هغه جواب

إِلَّا أَنَّا أَسْقَطْنَا اِعْتِبَارَهُ مَا دَامَ فِيْ طَلَبِهِ خو موږ د موهوم امر اعتبار ساقط کړی دی تر څو چي ښکاري کس د ښکار په طلب کي وي ضَرُوْرَةَ أَنْ لَايَعرَى الِاصْطِيَادُ عَنْهُ د دې ضرورت په وجه چي ښکار کول له دې څخه نه خالي کيږي [بلکي عموماً د ښکار حيوان پټيږي او غائبيږي] وَلَا ضَرُوْرَةَ فِيْمَا إِذَا قَعَدَ عَنْ طَلَبِهِ او په هغه صورت کي ضرورت نسته کله چي ښکاري کس د ښکار له طلب څخه کښېني [طلب يې پريږدي] لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْ تَوَارٍ يَكُوْنُ بِسَبَبِ عَمَلِهِ. ځکه له داسي پټېدلو څخه بچ کېدل ممکن دي کوم چي د ښکاري کس د عمل په سبب سره وي [ځکه ښکاري کس چي د ښکار طلب پرېږدي نو ظاهره خبره ده چي د ښکار پټېدل او نه پيدا کېدل د هغه د دې عمل په وجه دي. او له دې څخه بچ کېدل ممکن هم دي چي هغه ولاړ سي طلب پسي وکړي] وَالَّذِيْ رَوَيْنَاهُ حُجَّةٌ عَلٰى مَالِكٍ فِيْ قَوْلِهِ او کوم حديث چي موږ روايت کړی دی دا د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف د هغه په دې قول کي حجت دی إِنَّ مَا تَوَارٰى عَنْهُ إِذَا لَمْ يَبِتْ چي کوم ښکار له ښکاري څخه پټ سوی وي که هغه شپه تېره نه کړي يَحِلُّ نو حلال دی فَإِذَا بَاتَ لَيْلَةً خو کله چي يوه شپه تېره کړي لَايَحِلُّ نو حلال نه دی.

اللغات: ﴿يعرٰى﴾ د سمع د باب مضارع ده: خالي کېدل، فارغېدل. ﴿التحرّز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: بچ کېدل (بچاوېدل). ﴿تَوَارِى﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: له سترګو نهاېدل (نيامېدل)، پټېدل.

تشريح: پر مخکيني عبارت يو اعتراض واردېږي چي کله موهوم د متحقق په څېر دی، نو ښکاري کس که څه هم د ښکار په طلب کي وي او بيا هغه مړ ترلاسه کړي، نو بيا هم په هغه کي دا وهم سته چي د ځمکو خزندو به وژلی وي او موهوم د متحقق په څېر دی، لهذا پکار دا ده چي تاسي هغه هم حرام وګرځوئ!، حال دا چي تاسي هغه ته حلال ويلي دي.

مصنف رَحِمَهُ الله په "إلا أنا أسقطنا إلخ" سره د دې اعتراض جواب ورکوي. د جواب حاصل دا دی چي په ښکار کولو کي عموماً دا پېښيږي چي ښکار پټيږي او له ستر ګو نياميږي. نو که محض د ښکار په پټېدلو سره د حرمت حکم صادر کړی سي. نو د ښکار دروازه به بنده سي.

او پاته سو دويم صورت کله چي ښکاري کس د ښکار طلب پرېږدي او کښېني. نو له دې ځخه ځان ساتل ممکن دي چي هغه نه کښېني او مسلسل په ښکار پسي ګرځي. نو ګواکي دلته د ښکار غائبېدل د داسي فعل په وجه دي کوم چي د ښکاري کس خپل فعل دی يعني د هغه کښېنستل.

مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي مخکي مورږ کوم حديث بيان کړی دی يعني "لَعَلَّ هَوَامَّ الْأَرْضِ قَتَلَتْهُ" دا حديث د امام مالک په خلاف حجت دی؛ ځکه امام مالک رَحِمَهُ الله د داسي ښکار په باره کي فرمايلي دي چي که پر هغه شپه تېره سي. نو بيا يې خوړل حلال نه دي، او که شپه پر تېره سوې نه وي. نو حلال دي.

يادونه: په صحيح حديث کي دي "إِذَا رَمَيْتَ سَهْمَكَ فَغَابَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَأَدْرَكْتَهُ فَكُلْهُ..." (رواه مسلم و ابو داؤد). لهذا پر امام مالک رَحِمَهُ الله د حجت کېدلو خبره نامناسبه ده. نو دلته به دا تأويل کيږي چي د دې حديث "إِذَا رَمَيْتَ...إلخ" محمل دا دی چي ښکاري کس طلب نه پرېږدي بلکي مسلسل يې په طلب او تلاش کي وي، او کوم حديث چي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی. دا دې پر هغه حالت حمل کړی سي کله چي هغه طلب پرېږدي، وفيه تفصيل مذکور في الشامي. (ج: ۵. ص: ۳۰۲)

که په ښکار کي له غشي ځخه بغير د بل شي زخم وي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ وُجِدَ بِهِ جِرَاحَةٌ سِوَى جِرَاحَةِ سَهْمِهِ او که په ښکار کي يو داسي زخم وموندل سي کوم چي د ښکاري د غشي له زخم ځخه بغير وي لَا يَحِلُّ نو هغه حلال نه دی لِأَنَّهُ مَوْهُومٌ يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ ځکه چي دا [د بل زخم موندل] يو موهوم امر دی چي له هغه ځخه بچ کېدل ممکن دي فَاعْتُبِرَ مُحَرِّمًا نو ځکه هغه به حراموونکی شمېرل کيږي بِخِلَافِ وَهْمِ الْهَوَامِّ په خلاف د خزندو د وهم وَالْجَوَابُ فِي إِرْسَالِ الْكَلْبِ فِي هٰذَا كَالْجَوَابِ فِي الرَّمْيِ او د سپي د ايله کولو حکم په دې هکله داسي دی لکه د غشي ويشتلو حکم فِي جَمِيعِ مَا ذَكَرْنَاهُ په هغه ټولو صورتونو کي کوم چي مورږ ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿جِراحة﴾ زخم.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله ښکاري کس خپل ويشتل سوی ښکار مړ وموندي. نو په هغه کي د خپل غشي له زخم څخه بغير بل زخم هم ووينې. نو داسې ښکار حرام دی. برابره ده هغه يې په مسلسل طلب کي وي يا يې طلب پرې ايښی وي: ځکه همېشه داسې نه کيږي چې د غشي له زخم څخه بغير يو بل زخم هم پر ښکار ولګيږي. نو دا يو داسې موهوم امر دی چې له هغه څخه بچ کېدل ممکن دي. او د ښکار په باب کي موهوم د متحقق په څېر دی او بچ کېدل هم ممکن دي. نو دلته به موهوم مُحرِم ګرځول کيږي لکه څرنګه چې متحقق مُحرِم وي.

پاته سو د خزندو د وهم مسئله (چې کېدای سي خزندو به وژلی وي). نو له هغه څخه بچ کېدل نا ممکن دي. ځکه ښکار خو پر ځمکه خامخا لوېږي او ځمکه له خزندو څخه خالي نه پاتيږي. او تر څو چې ښکاري کس يې طلب پرې ايښی نه وي. تر هغه وخته دغه وهم لره اعتبار نسته نو ښکار به حلال ګرځول کيږي.

بيا که چا ښکار په غشي ويشتلی وي يا يې سپی ور ايله کړی وي. په مذکوره ټولو صورتونو کي حکم برابر دی يعني که سپی پر ښکار ور ايله کړي او سپی هغه زخمي کړی او تر زخمي کېدو وروسته ښکار وتښتي او له ستر ګو نيام سي. بيا يې مړ وموندي. نو په دې کي هم هاغه حکم دی چې که مسلسل د ښکار په طلب کي وي نو حلال دی او که يې له طلب څخه کښېنې نو حرام دی او که د سپي له زخم څخه بغير بل زخم هم پکښې ووينې نو بيا په دواړو صورتونو کي حلال نه دی.

د مترديه خاروي تفصيلي حکم

قَالَ: وَإِذَا رَمٰى صَيْدًا فَوَقَعَ فِي الْمَاءِ فرمايي: او کله چې ښکار وويشتي نو هغه په اوبو کي ولوېږي أَوْ وَقَعَ عَلٰى سَطْحٍ أَوْ جَبَلٍ يا پر بام يا غره باندي ولوېږي ثُمَّ تَرَدّٰى مِنْهُ إِلَى الْأَرْضِ بيا له هغه څخه ځمکي ته راکښل سي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه به نه خوړل کيږي لِأَنَّهُ الْمُتَرَدِّيَةُ وَهِيَ حَرَامٌ بِالنَّصِّ ځکه چې دا مترديه دی کوم چې په نص [آيت] سره حرام دی وَلِأَنَّهُ احْتَمَلَ الْمَوْتَ بِغَيْرِ الرَّمْيِ او ځکه چې هغه له ويشتلو څخه بغير په بل شي سره د مړ کېدلو احتمال لري إِذِ الْمَاءُ مُهْلِكٌ وَكَذَا السُّقُوطُ مِنْ عَالٍ ځکه چې اوبه هم هلاکونکي دي او همدارنګه د لوړ ځايه را لوېدل [هم هلاکونکي دي] يُؤَيِّدُ ذٰلِكَ قَوْلُهُ ﷺ لِعَدِيٍّ رضي الله عنه [1] د دې تائيد کوي د نبي کريم ﷺ دا فرمان و حضرت عدي رضي الله عنه ته وَإِنْ وَقَعَتْ رَمِيَّتُكَ فِي الْمَاءِ که چيري ستا ويشتل سوی ښکار په اوبو کي ولوېږي فَلَا تَأْكُلْ نو ته هغه مه خوره! فَإِنَّكَ لَا تَدْرِيْ أَنَّ الْمَاءَ قَتَلَهُ أَوْ سَهْمُكَ ځکه تا ته نه ده معلومه چې هغه اوبو مړ کړی دی او که ستا غشي.

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الصيد، باب الصيد بالكلاب المعلمة والرمي ص: ۸۳۶، حديث رقم: ۴۹۹۲ ۲۰۸۲ [illegible]

اللغات: ﴿تردّی﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: راګيرېدل، رالوېدل. ﴿رمية﴾ د ضرب له بابه د فَعيلة پر وزن په معنیٰ سره د مفعول ده: په غشي وغيره سره ويشتل سوی حيوان.

تشريح: د "متردّيه" حکم مخکي تېر سوی دی، په نصِ قرآني سره د هغه حرمت ثابت دی، لهذا که څوک ښکار په غشي وويلي او هغه زخمي سي په اوبو کي ولوېږي يا هغه پر بام يا غره ولوېږي بيا له هغه ځخه را ګېل سي او پر ځمکه مړ ولوېږي، نو دا متردّيه دی کوم چي حرام دی.

همدارنګه په هغه کي دا احتمال هم سته چي په غشي سره مړ سوی وي او دا احتمال هم پکښې سته چي د اوبو يا د راګېلېدلو په وجه مړ سوی وي، نو کله چي دوه سببونه سره جمع سول، نو د لانديني اصل (قاعدهٔ کليه) مطابق به د حرمت سبب لره ترجيح وي. همدارنګه حضرت عدی بن حاتم طائي رضي الله عنه ته چي نبي ﷺ کومه خبره کړې وه، په هغه کي هم دغه حکم مذکور دی چي کله ستا ويشتل سوی ښکار اوبو ته ولوېږي، نو هغه مه خوره، ځکه دا معلومه نه ده چي د هغه مرګ په اوبو کي دلوېدلو په وجه واقع سوی دی او که ستا د غشي په وجه.

که ښکار فورًا پر ځمکه ولوېږي نو څه حکم دی؟ او د حلت او حرمت قاعدهٔ کليه

وَإِنْ وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ ابْتِدَاءً او که له شروع څخه ښکار پر ځمکه ولوېږي أُكِلَ نو هغه به خوړل کيږي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ ځکه چي له دې څخه بچ کېدل ممکن نه دي وَفِي اعْتِبَارِهِ سَدُّ بَابِ الِاصْطِيَادِ او د بچ کېدلو په اعتبار کولو کي د ښکار د دروازې بندول سته بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي مخکي تېر سو لِأَنَّهُ يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ ځکه چي له هغه څخه بچ کېدل ممکن دي فَصَارَ الْأَصْلُ أَنَّ سَبَبَ الْحُرْمَةِ وَالْحِلِّ إِذَا اجْتَمَعَا نو اُصول [قاعده] دا سوه چي کله د حلت او حرمت [حلالېدلو او حرامېدلو] دواړو سببونه سره جمع سي وَأَمْكَنَ التَّحَرُّزُ عَمَّا هُوَ سَبَبُ الْحُرْمَةِ او د حرمت له سبب څخه بچ کېدل ممکن وي تُرَجَّحُ جِهَةُ الْحُرْمَةِ احْتِيَاطًا نو د احتياط په خاطر د حرمت اړخ لره به ترجيح ورکول کيږي وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ ليکن که سبب داسي وي چي له هغه څخه بچ کېدل ممکن نه وي جَرَى وُجُودُهُ مَجْرَى عَدَمِهِ نو د هغه سبب وجود به د عدمِ سبب په درجه کي وي [يعني معدوم به ګرځول کيږي] لِأَنَّ التَّكْلِيفَ بِحَسَبِ الْوُسْعِ ځکه مکلف کېدل د وس په اندازه دي.

اللغات: ﴿سدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: بندول. ختمول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که ښکاري کس ښکار وویلي او هغه پر ځمکه ولوېږي او مړ سي، نو جائز او حلال دی؛ ځکه پر ځمکه د ښکار لوېدل داسې څه دي چي له هغه څخه بچ کېدل ناممکن دي، ځکه له زخم خوړلو څخه وروسته عموماً ښکار پر ځمکه لوېږي. لهذا که موږ پر ځمکه لوېدلی ښکار حرام وګرځوو. نو بیا به د ښکار د دروازې بندول لازم سي حال دا چي ښکار حلال او مباح کار دی او په هغه کي دا ډول پابندي لګول مناسب نه دي.

د دې په خلاف که ښکار له غره یا بام وغیره څخه را ګېل سي، نو څرنګه چي دا شاذ دي او کله نا کله پېښېږي، لهذا له هغه څخه بچ کېدل ممکن دي، نو ځکه هلته حلت نه ثابتیږي.

فصار الأصل إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي له دغه تفصیل او بیان څخه دا قاعدهٔ کلیه راوځي چي په کومه مسئله کي د حلت او حرمت دواړه سببونه سره جمع سي او د حرمت سبب له هغه شیانو څخه وي چي له هغوی څخه بچ کېدل ممکن وي، نو په داسې مسئله کي احتیاطاً د حرمت جانب لره ترجیح ورکول کیږي، خو که د حرمت سبب له هغه شیانو څخه وي چي له هغوی څخه احتراز (بچ کېدل) ممکن نه وي، نو په دې صورت کي د حرمت سبب کالعدم شمېرل کیږي، او د هغه بالمقابل څرنګه چي د حلت سبب موجود دی، نو ځکه د حلت فیصله به کیږي؛ ځکه د حرمت له سبب څخه د احتراز د ناممکن کېدلو باوجود که د حرمت فیصله وسي، نو دا د مکلفینو (انسانانو) سره تعدی او زیاتوب دی، حال دا چي قرآن کریم په صریحو الفاظو سره دا اعلان کړی دی ﴿لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ .

هغه اسباب چي بچ کېدل څني ممکن وي (د پورتنۍ قاعدې نور وضاحت)

فِيمَا يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ نو له هغه اسبابو څخه چي بچ کېدل څني ممکن دي [دا دي] إِذَا وَقَعَ عَلَى شَجَرٍ أَوْ حَائِطٍ أَوْ آجُرَّةٍ کله چي ښکار پر درخته یا پر دېوال یا پر پخه خښته ولوېږي ثُمَّ وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ بیا پر ځمکه ولوېږي أَوْ رَمَاهُ وَهُوَ عَلَى جَبَلٍ یا ښکاري کس ښکار وویلي حال دا چي ښکار پر غره وي فَتَرَدَّى مِنْ مَوْضِعٍ إِلَى مَوْضِعٍ حَتَّى تَرَدَّى إِلَى الْأَرْضِ نو هغه له یوه ځایه بل ځای ته راګېلیږي تر دې چي ځمکي ته راګېل سي أَوْ رَمَاهُ فَوَقَعَ عَلَى رُمْحٍ مَنْصُوبٍ یا هغه ښکار وویلي نو ښکار پر درول سوي نېزې را ولوېږي أَوْ عَلَى قَصَبَةٍ قَائِمَةٍ یا پر ولاړ بانس را ولوېږي أَوْ عَلَى حَرْفِ

آجُرَّةٍ يا د پخې خښتې پر څوکه راولوېږي لِاِحْتِمَالِ أَنَّ حَدَّ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ قَتَلَهُ ځکه [په دې صورتونو کې] دا احتمال سي چې د دغو شيانو تېره والي به هغه وژلی وي.

اللغات: ﴿آجرة﴾ پخه خښته. ﴿قصبة﴾ بانس. ﴿رمح﴾ نېزه.

تشريح: کله چې مصنف رَحِمَهُ الله قاعدۀ کليه بيان کړه. نو اوس دې ته ضرورت سو چې هغه کوم اسباب چې احترازُ او بچ کېدل ځني ممکن دي او هغه کوم اسباب دي چې بچ کېدل ځني ممکن دي. نو له دې ځايه مصنف رَحِمَهُ الله د هغوی تفصيل بيانوي. اول هغه اسباب بيانوي چې بچ کېدل ځني ممکن وي. هغه دا دي: ① ښکار (ترويشتل کېدو وروسته) پر درخته لوېدل. ② پر دېوال لوېدل. ③ پر پخه خښته لوېدل. ④ پر غره لوېدل او بيا له هغه ځخه ځمکې ته راګېلېدل. ⑤ درول سوي نيزې رالوېدل. ⑥ پر ولاړ تېره بانس رالوېدل. ⑦ د پخې خښتې پر تېره څوکې رالوېدل.

نو په دې اووه صورتونو کې دا احتمال سته چې کېدای سي د دغو شيانو تېره والی ښکار وژلی وي. لهذا کله چې بل احتمال هم پيدا سو او له هغه ځخه بچ کېدل او ځان ساتل ممکن دي. نو مذکوره قاعدې پر بناء به د حرمت اړخ ته ترجيح ورکول کيږي او ښکار به حراميږي. او له دې تو مذکوره سببونو ځخه بچ کېدل ځکه ممکن دي چې ښکار همېشه پر دې شيانو نه لوېږي بلکې د عارض په وجه کله ناکله داسي کيږي. نو ځکه دوی ته ممکن الاحتراز ويل سوي دي.

هغه اسباب چې بچ کېدل ځني ممکن نه وي

وَمِمَّا لَا يُمْكِنُ الْاِحْتِرَازُ عَنْهُ او له هغه اسبابو ځخه چې بچ کېدل ځني ممکن نه دي [دا دي] إِذَا وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ كَمَا ذَكَرْنَاهُ کله چې ښکار پر ځمکه ولوېږي لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه أَوْ عَلٰى مَا هُوَ فِي مَعْنَاهُ يا پر داسي شي ولوېږي کوم چې د ځمکې په معنیٰ سره وي كَجَبَلٍ أَوْ ظَهْرِ بَيْتٍ أَوْ لَبِنَةٍ مَوْضُوعَةٍ أَوْ صَخْرَةٍ لکه غر يا د کور بام يا ايښوول سوي کچه خښته يا تيږه فَاسْتَقَرَّ عَلَيْهَا نو ښکار پر هغه قرار ونيسي لِأَنَّ وُقُوعَهُ عَلَيْهِ وَعَلَى الْأَرْضِ سَوَاءٌ ځکه پر هغه او پر ځمکې د ښکار لوېدل [دواړه] سره برابر دي.

اللغات: ﴿لبنة﴾ کچه خښته. ﴿الصخرة﴾ لويه کلکه تيږه (ډبره). پربنه.

تشريح: په دې عبارت کې هغه اسباب بيانوي چې له هغوی ځخه بچ کېدل ممکن نه دي. نو ځکه هغوی به معدوم شمېرل کيږي او ښکار به حلال ګرځول کيږي. هغه دا دي: ① ښکار پر ځمکه لوېدل. ② پر غره لوېدل. ③ د يو کور پر بام لوېدل. ④ پر کچه خښته لوېدل. ⑤ پر يوه لويه ډبره لوېدل. او له رالوېدلو ځخه وروسته قرار نيول (ځای پر ځای پاتېدل) او بيا هلته مړ کېدل.

ځرنګه چې په عامه توګه ښکار پر همدې شيانو لوېږي. لهذا له دې څخه بچ کېدل ممکن نه دي. نو پر همدې بناء په دغو صورتونو کې د ښکار د حلال والي فيصله سوې ده: ځکه پر دې شيانو ښکار لوېدل او بيا ځاى پر ځاى پاتېدل داسي دي لکه پر ځمکه لوېدل. دواړه سره برابر دي. او پر ځمکه را لوېدلی ښکار حلال وي. لهذا پر غره. بام وغيره باندي را لوېدلی ښکار به هم حلال وي.

که ښکار پر ډبره ولوېږي او نس يې څيري سي (وچاودي)، نو څه حکم دی؟

وَذُكِرَفِي الْمُنْتَقٰى او په منتقیٰ کي ذکر سوي دي لَوْوَقَعَ عَلٰى صَخْرَةٍ که ښکار پر تيره ولوېږي فَانْشَقَّ بَطْنُهُ او د هغه نس څيري سي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه به نه خوړل کيږي لِاحْتِمَالِ الْمَوْتِ بِسَبَبٍ آخَرَ په بل سبب سره د مړ کېدلو داحتمال په وجه وَصَحَّحَهُ الْحَاكِمُ الشَّهِيْدُ او حاکم شهيد رَحِمَهُ الله دا صحيح ګرځولي دي وَحَمَلَ مُطْلَقَ الْمَرْوِيِّ فِي الْأَصْلِ عَلٰى غَيْرِحَالَةِ الْاِنْشِقَاقِ او حاکم شهيد هغه مطلق روايت کوم چې په مبسوط کي نقل سوی دی د نس نه څيرلو پر حالت حمل کړی دی وَحَمَلَهُ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ عَلٰى مَا أَصَابَهُ حَدُّ الصَّخْرَةِ فَانْشَقَّ بَطْنُهُ بِذٰلِكَ او شمسُ الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله دا پر هغه صورت حمل کړی دی چې د ښکار سره د ډبري تيره والی [تېره خوا] لګېدلې وي او د هغه په وجه يې نس څيري سوی وي وَحَمَلَ الْمَرْوِيَّ فِي الْأَصْلِ عَلٰى او په مبسوط کي نقل سوی روايت يې پر هغه حالت حمل کړی دی أَنَّهُ لَمْ يُصِبْهُ مِنَ الْآجُرَّةِ إِلَّا مَا يُصِيبُهُ مِنَ الْأَرْضِ لَوْوَقَعَ عَلَيْهَا چې په پخه خښته سره ښکار ته خوږ [او تاوان] نه وي رسېدلی مګر دومره چې په ځمکه سره ور رسيږي که چيري هغه پر ځمکه لوېدلي وای [يعني پر هغه حالت يې حمل کړی دی چې په پخه خښته سره ښکار ته دومره خوږ رسېدلی وي څومره چې هغه ته په ځمکه سر رسيږي کله چې هغه پر ځمکه ولوېږي] وَذٰلِكَ عَفْوٌ او دا مقدار معاف دی وَهٰذَا أَصَحُّ او همدا زيات صحيح دي.

اللغات: ﴿المنتقیٰ﴾ د حاکم شهيد رَحِمَهُ الله کتاب دی. ﴿مبسوط﴾ د امام محمد رَحِمَهُ الله تصنيف دی چې امام سرخسي رَحِمَهُ الله د هغه ډېره غټه شرح ليکلې ده. ﴿انشقّ﴾ د انفعال د باب ماضي ده: دوه ځايه کېدل، چاودېدل، څيرېدل. ﴿لبنة﴾ کچه خښته. ﴿صخرة﴾ لويه کلکه تيره او ډبره. ﴿استقرار﴾ د استفعال د باب مصدر دی: قرار نيول، ثابت پاتېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي فرمايلي دي چي که ښکار پ ډېره را ولوېږي او ځای پر ځای پاته سي، نو حلال دی، يعني برابره ده نس يې څيري سوی وي. ک نه؟. په دې باره کي د هغه قول مطلق دی. خو حاکم شهيد رَحِمَهُ الله په خپل کتاب منتقیٰ کي ذک کړي دي چي که ښکار پر ډېره ولوېږي او نس يې څيري سي، نو حرام دی. نه به خوړل کيږي؛ ځک دلته له وېشتلو څخه بغير د بل سبب (يعني د نس چاودېدلو) په وجه د مړ کېدلو احتمال سته. او حا شهيد رَحِمَهُ الله دا قول صحيح ګرځولی دی او بيا يې ويلي دي چي د مبسوط مطلق روايت چي ښکار حلال دی د هغه محمل دا دی چي د هغه نس څيري سوی نه وي. کنې بيا حرام دی.

خلاصه د کلام دا چي حاکم شهيد رَحِمَهُ الله په منتقیٰ کي دا مسئله بيان کړې ده (کوم چي د سره) او د مبسوط په روايت کي يې تاويل کړی دی. بيا د مبسوط شارح امام سرخسي رَحِمَهُ الله راغ د منتقیٰ او مبسوط پر دواړو روايتونو يې غور وکړی او په آخر کي يې وويل چي د منتقیٰ د رواي محمل دا دی چي که ښکار پر ډېره ولوېږي او د ډبري د تېره والي په وجه د ښکار نس څيري سي، هغه ښکار حرام دی. او د مبسوط د روايت محمل دا دی چي که ښکار پر ډېره ولوېږي او په دې سره ه فقط دومره خوږ سي څومره چي عموماً پر ځمکه په رالوېدلو سره خوږېږي، نو دومره خوږ معاف د لهذا که ښکار پر ځمکه ولوېږي او نس يې څيري سي نو دا معاف دی او حلال دی. نو همداسي که ډېره ولوېږي او نس يې څيري سي، نو دا به هم حلال وي؛ ځکه دلته ده ته هغومره خوږ رسېدلی دی ک چي پر ځمکه په لوېدلو سره ورته رسيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام سرخسي رَحِمَهُ الله تأويل أصح دی. کنې د منتق روايت مطابق که پر ډېره ولوېږي او نس يې څيري سي نو حراميږي. (اشرف الهدايه)

که د اوبو پر مارغه غشی ولګيږي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ كَانَ الطَّيْرُ مَائِيًّا او که چيري مارغه اوبو والا وي فَإِنْ كَانَتِ الْجِرَاحَةُ لَا تَنْغَمِسُ فِي الْمَاءِ نو ک چيري زخم يې په اوبو کي نه ډوبيږي أُكِلَ نو مارغه به خوړل کيږي وَإِنِ انْغَمَسَتْ او که زخم يې په اوبو کي ډوب سي لَا يُؤْكَلُ نو هغه به نه خوړل کيږي كَمَا إِذَا وَقَعَ فِي الْمَاءِ لکه کله چي ښکار اوبو کي ولوېږي.

اللغات: ﴿مائيّ﴾ د اوبو والا، په اوبو کي اوسېدنکی. ﴿جِراحة﴾ زخم. ﴿انغمس﴾ د انفعال د باب ماضي ده؛ ډوبېدل، په اوبو ننوتل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي کله د اوبو حیوان په غشي وویشتل سي او هغه په اوبو کي وي، نو که هغه مړ سي او زخم یې اوبو ته دننه نه سي، نو حلال دی. ځکه دا د دې خبري دلیل دی چي هغه د غشي په زخم سره مړ سو، او که زخم یې اوبو ته دننه سي او حیوان مړ سي، نو بیا به نه خوړل کیږي، ځکه اوس ښکاره ده چي په زخم کي د اوبو د سرایت کولو په وجه هغه مړ سوی دی. که څه هم هغه د اوبو حیوان دی لیکن د زخم باوجود په اوبو کي اوسېدل او پاتېدل د هغه شان نه دي. لکه کله چي د وچي حیوان وویشتل سي او هغه اوبو ته ولوېږي او مړ سي، نو حرام دی: ځکه ښکاره همدا ده چي هغه د اوبو په وجه مړ سوی دی.

که د غشي د مینځ پخه حصه پر ښکار ولګیږي؟

قَالَ: وَمَا أَصَابَهُ الْمِعْرَاضُ بِعَرْضِهِ فرمایي: او پر کوم ښکار چي بې بڼو غشی په خپل پلنه [مینځ والا] حصه سره ولګیږي لَمْ يُؤْكَلْ هغه به نه خوړل کیږي وَإِنْ جَرَحَهُ او که چیري زخمي یې کړي يُؤْكَلُ نو خوړل کیږي به لِقَوْلِهِ عليه السلام فِيهِ [1]: «مَا أَصَابَ بِحَدِّهِ ځکه د داسي غشي په هکله نبي ﷺ فرمایلي دي: پر کوم ښکار چي غشی په خپل تېره [د سر والا] حصه لګېدلی وي فَكُلْ نو هغه خوره! وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ او پر کوم ښکار چي غشی په خپل پلنه [مینځ والا] حصه سره لګېدلی وي فَلَا تَأْكُلْ» نو هغه مه خوره وَلِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْجَرْحِ او ځکه چي زخمي کول ضروري دي لِيَتَحَقَّقَ مَعْنَى الذَّكَاةِ د دې لپاره چي د ذبح [ذبح اضطراري] معنیٰ موجوده سي عَلَىٰ مَا قَدَّمْنَاهُ لکه مخکي چي موږ د دې بیان کړی دی.

اللغات: ﴿مِعْرَاض﴾ (پر وزن د مِفْعَال) د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه دوې دا دي:

① سَهْمٌ بِلَا رِيش، بې بڼو غشی. د غشي دوه طرفونه دي، یو خوا یې هغه د سر تېره طرف دی چي ښکار په ویشتل کیږي هغه ته په عربي کي نَصْل وایي، او بل یې د شا طرف پخ سر دی هغه ته رِیش وایي چي پر هغه د یو شي ښکي چاپېره تړل سوي وي مثلاً ځینو به د پیل مرغ ښې پکښې نصب کولې، او د دې بڼو فایده دا وي چي په دې سره د غشي په رفتار کي تېزي راځي، نو د کوم غشي د شا پر سر چي دغه ښې نه وي ورکول سوي، هغه ته معراض وایي، ② همدارنګه معراض هر هغه شی ته

[1] تخريج: أخرجه البخاري بمعناه، باب إذا وجد مع الصيد كلباً آخر، ص:۸۲۴، حديث رقم:۵۴۸۶، ومسلم باب الصيد بالكلاب المعلّمة والرمي ص:۱۴۵، حديث رقم: ۴۹۷۴.

وايي چي تېره والى نه لري (كُلّ مَالَا حَدّ لَهُ). او صَيْدُ الْمِعْرَاضِ دفقهاؤ په اصطلاح کي هغه ښکار او هغه حيوان ته وايي چي د هسي يوې آلې (غشي وغيره) په بوج او فشار سره مړ سي نور زخمي يې نه کړي (معجم الوسيط. معجم لغة الفقهاء). ﴿عرض﴾ بر. پلنوالى. د بر طرف. مراد ځني دغشي د مينځ حصه. يا په بله وينا دغشي د تېره سر (څوکي) څخه را لاندي دغشي نور حصه. ﴿يتحقق﴾ د تفعُّل د باب مضارع ده: ثابتېدل. موجودېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي پر کوم ښکار د غشي د مينځ حصه ولګيږي يعني غشى سم روان نه سي او د تېره څوکي پر ځاى يې پلنه دمينځ حصه پر ښکار ولګيږي او هغه مړ سي. نو داسي ښکار به نه خوړل کيږي؛ ځکه چي د ښکار د حلت لپاره ذبح اضطراري (زخمي کول) شرط دي او د زخمي کولو تحقق دغشي په تېره طرف سره راځي چي غشى مخامخ پر ښکار ولګيږي. او دلته د غشي د مينځ حصه لګېدلې ده چي په هغه سره زخمي کول او څيرل نه ثابتيږي. بلکي په دې سره فقط د ښکار هډونه وغيره ملتېدلاى او پرسېدلاى سي. لهذا کله چي په دې سره ذبح اضطراري نه ثابتيږي. نو بيا ښکار هم نه حلاليږي. په همدې وجه دعبارت په دويمه جمله کي فرمايي چي که غشى ښکار زخمي کړي (يعني دغشي په وجه زخم پکښي جوړ سي. وينه ځني وبهيږي. او دا دغشي د تېره سر په ذريعه کېدلاى سي). نو دا ښکار به خوړل کيږي: ځکه په دې صورت کي د ذبح معنىٰ ثابته سوه. او په دې هکله نقلي دليل هغه حديث دى کوم چي په عبارت کي مذکور دى چي په هغه کي صراحتاً همدا مضمون بيان سوى دى.

که په مچلوغزه او ډبره ښکار وويشتل سي نو څه حکم دى؟

قَالَ: وَلَا يُؤْكَلُ مَا أَصَابَتْهُ الْبُنْدُقَةُ فَمَاتَ بِهَا فرمايي: او هغه ښکار به نه خوړل کيږي چي د مچلوغزي مردک پر لګېدلى وي او د هغه په وجه مړ سوى وي لِأَنَّهَا تَدُقُّ وَتَكْسِرُ وَلَا تَجْرَحُ ځکه چي دا مردک صرف کوټل او ماتول کوي او زخمي کول نه کوي فَصَارَ كَالْمِعْرَاضِ نو داسي سو لکه بې بڼو غشى [چي هغه په خپل پلنه حصه سره پر ښکار لګېدلى وي] إِذَا لَمْ يَخْزِقْ کله چي هغه په دننه نه سي وَكَذَلِكَ إِنْ رَمَاهُ بِحَجَرٍ او همدارنګه که ښکار په ډبره وويلي وَكَذَا إِنْ جَرَحَهُ او همدارنګه که ډبره هغه زخمي کړي قَالُوا: تَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَ ثَقِيلًا وَبِهِ حِدَّةٌ فقهاؤ ويلي دي: د دې تأويل دا دى چي کله هغه ډبره درنه وي او په هغې کي تېره والى وي [يعني تيره څوکي او تېره سرونه لري] لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ قَتَلَهُ بِثِقْلِهِ د دې احتمال په وجه چي ډبري به هغه په خپل بوج [اړروندوالي] سره وژلى وي [نه په تېره والي سره]

وَإِنْ كَانَ الْحَجَرُ خَفِيْفًا وَبِهِ حِدَةٌ او كه ډېره سپكه وي او په هغې كي تېره والى وي يَحِلُّ نو ښكار حلال دى لِتَعَيُّنِ الْمَوْتِ بِالْجَرْحِ ځكه چي په خمي كولو سره [د ښكار] مړ كېدل متعين دي وَلَوْكَانَ الْحَجَرُ خَفِيْفًا وَجَعَلَهُ طَوِيْلًا كَالسَّهْمِ وَبِهِ حِدَةٌ او كه ډېره سپكه وي او هغه يې د غشي په څېر اوږده جوړه كړې وي او تېروالى پكښې وي فَإِنَّهُ يَحِلُّ نو [هم] هغه ښكار حلال دى لِأَنَّهُ يَقْتُلُهُ بِجَرْحِهِ ځكه چي داسي ډېره په خپل زخمي كولو سره هغه وژني.

اللغات: ﴿البندقة﴾ له خټو څخه جوړ مردک کوم چي د مچلوغزي (چي مچغڼه او مچغونه هم ورته وايي) په ذريعه يا د غلول په ذريعه ويشتل كيږي، او مچلوغزه له تار يا مزري او رسى څخه جوړه هغه آله ده چي د لاس په زور پكښې ډبري ليري غورځول كيږي. ﴿لم يخزق﴾ د ضرب له بابه د جحد صيغه ده: له يوې خوا څخه بلي خوا ته وتل، نو تل او بلي خوا ته وتل. ﴿تدق﴾ د نصر د باب مضارع ده: كوټل. ﴿حِدة﴾ تېره والى، تېره كېدل (چي ژر پرېكول كوي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دي چي پر كوم ښكار د مچلوغزي وغيره كاڼى او مردک ولگيږي چي د هغه په نتيجه كي ښكار مړ سي، نو د هغه خوړل هم حلال نه دي؛ ځكه د ښكار د حلت لپاره زخمي كول شرط دى، حال دا چي په مچلوغزه او غلول كي چي كوم كاڼى او مردک ويشتل كيږي هغه عموماً ښكار نه زخمي كوي (چي وينه يې وبهيږي) بلكي د ښكار يو اندام ماتوي او كوټي، نو دا ټوله د معراض غشي په درجه كي دي (يعني لكه د غشي د مينځ حصه چي پر ښكار لگېدلې وي)، او په معراض سره وژل سوى ښكار حلال نه دى، لهذا په مچلوغزه وغيره وژل ښكار به هم حلال نه وي.

وكذلك إلخ: فرمايي كه ښكار په ډېره وويشتل سي چي د هغه په وجه ښكار مړ سي يا په ډېره سره ښكار زخمي او مړ كړي، نو په دې دواړو صورتونو كي هم ښكار حلال نه دى. لېكن فقهاؤ د دې تأيل دا كړى دى چي دغه حكم په هغه وخت كي دى كله چي ډېره درنه او سنگينه وي كه څه هم تېره والى پكښې وي؛ ځكه په داسي ډېره كي احتمال سته چي د هغې د بوج او فشار په وجه به ښكار مړ سوى وي. او ظاهره خبره ده چي كله په بل سبب سره د مړ كېدلو احتمال موجود وي، نو بيا ښكار حلال نه سي گڼ ځول كېداى.

د دې په خلاف كه ډېره سپكه وي او په هغې كي تېره والى وي، نو ښكار حلال دى: ځكه په دې صورت كي په بل سبب سره د مړ كېدلو احتمال نسته. همدارنگه كه ډېره سپكه وي او د غشي په څېر اوږده او تېره جوړه وي، نو هم ښكار حلال او روا دى؛ ځكه په دې صورت كي هم دا خبره متعينه ده چي دغه ښكار د ډېري د زخمي كولو په سبب مړ سوى دى او په بل سبب سره د هغه د مړ كېدلو احتمال پكښې نسته.

په تېره ډبره سره د ښکار کولو حکم

وَلَوْ رَمَاهُ بِمَرْوَةٍ حَدِيْدَةٍ او که څوک ښکار په مروه نامي تېره ډبره سره وويلي وَلَمْ تَبْضَعْ بَضْعًا خو هغه هيڅ ټوټه پرې نه کړي لَا يَحِلُّ نو ښکار حلال نه دی لِأَنَّهُ قَتَلَهُ دَقًّا ځکه چي هغه په کوټلو سره ښکار وژلی دی [يعني د دغه ډبري په وجه فقط د ښکار هډونه وغيره کوټل سوي او مات سوي دي چي په همدې وجه مړ سوی دی. زخم يې نه دی پکښې جوړ کړی] وَكَذَا إِذَا رَمَاهُ بِهَا فَأَبَانَ رَأْسَهُ أَوْ قَطَعَ أَوْدَاجَهُ او همدارنګه کله چي په مروه نامي ډبره سره ښکار وويلي او د هغه سر را جلا کړي يا يې رګونه ور پرېکړي لِأَنَّ الْعُرُوقَ تَنْقَطِعُ بِثِقَلِ الْحَجَرِ ځکه چي رګونه د ډبري په دروند والي [فشار] سره هم پرېکيږي كَمَا تَنْقَطِعُ بِالْقَطْعِ لکه څرنګه چي په پرېکولو سره پرېکيږي فَوَقَعَ الشَّكُّ نو شک واقع سو أَوْ لَعَلَّهُ مَاتَ قَبْلَ قَطْعِ الْأَوْدَاجِ او کېدا سي هغه د ذبح د رګونو تر پرېکېدلو مخکي مړ سوی وي.

اللغات: ﴿مروة﴾ يو ډول کلکه سپينه ډبره ده کوم چي د چاړې په څېر تېره وي چي په هغې سر شاروی ذبح کول کيږي او هغې ته صَفْوَان هم وايي، ﴿لم تَبْضَع﴾ د فتح له بابه د جحد صيغه ده (د تفعيل له بابه هم ويل کېدای سي): د دې باب يو معنیٰ ده: غوښه پرېکول. ﴿بَضْع﴾ د فتح د باب مصدر دی، او د بِضْعَة جمع هم راځي چي د هغه معنیٰ ده: د غوښو ټوټه چي د هغه بله جمع بِضَع ده. ﴿أبَان﴾ د افعال د باب ماضي ده، د دې باب يوه معنیٰ ده: را جلا کول، لېري کول. ﴿الأوداج﴾ جمع وَدَجٌ (ښه رګ) ده: د ذبح رګونه يعني دوه ښه رګونه او نور رګونه چي د هغوی په پرېکولو سره ذبح پوره کيږي

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک په تېره ډبره سره ښکار وويلي کوم چي د چاړې په څېر تېره وي، لېکن هغه ډبره د ښکار په بدن کي زخم جوړ نه کړي او ښکار مړ سي، نو دا سي ښکار حلال نه دی؛ ځکه د ښکار د حلت لپاره زخمي کول (زخم پکښې جوړول) شرط دي او دلته دا شرط معدوم دی ځکه چي ښکار په زخم سره نه، بلکي په کوټل کېدلو سره مړ سوی دی. همدارنګه که څوک ډبر وغورځوي او په هغه سره د ښکار رګونه پرې سي، نو هم ښکار نه حلالېږي؛ ځکه د هغه په مرګ کي شک دی يعني په يقيني توګه دا معلومه نه ده چي د ښکار رګونه د ډبري په زخم سره پرې سوي دي يا د هغې د بوج او دروند والي په وجه؛ ځکه څرنګه چي په پرېکولو سره رګونه پرېکيږي، همدا سي د ډبري په بوج او فشار سره هم پرېکيږي، لهذا د ښکار د مرګ سبب متعيّن نه دی، نو ځکه د هغه د حلت فيصله به نه کيږي.

په لکړه وغيره سره د ښکار کولو حکم او د مذکور مسئلو په هکله يوه قاعده

وَلَوْ رَمَاهُ بِعَصًا أَوْ بِعُوْدٍ حَتّٰى قَتَلَهُ او که ښکار په لکړه يا لرګي سره وويلي تر دې چې هغه قتل کړي لَا يَحِلُّ نو هغه ښکار حلال نه دی لِأَنَّهُ يَقْتُلُهُ ثِقْلًا لَا جُرْحًا ځکه چې لکړه وغيره ښکار په درونــدوالي [او فشار] سره قتل کوي، نه په زخمي کولو سره اَللّٰهُمَّ إِلَّا إِذَا كَانَ لَهُ حِدَةٌ يُبْضِعُ بِضْعًا مګر دا چې کله د هغه لپاره تېره والی وي چې د ښکار ځيخه ټوټه را پرېکوي فَحِيْنَئِذٍ لَا بَأْسَ بِهِ نو په دې وخت کې په [خوړلو د] ښکار کې څه حرج نشته لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ السَّيْفِ وَالرُّمْحِ ځکه چې داسې لکړه د تورې او نېزې په درجه کې ده. وَالْأَصْلُ فِيْ هٰذِهِ الْمَسَائِلِ أَنَّ الْمَوْتَ إِذَا كَانَ مُضَافًا إِلَى الْجُرْحِ بِيَقِيْنٍ كَانَ الصَّيْدُ حَلَالًا او په دغه مسئلو کې قاعده دا ده چې کله په يقيني توګه مرګ د زخم طرف تـه منسوب وي نو ښکار به حلال وي وَإِذَا كَانَ مُضَافًا إِلَى الثِّقْلِ بِيَقِيْنٍ كَانَ حَرَامًا او کله چې په يقيني توګه د درونــد والي طرف ته منسوب وي نو ښکار به حرام وي وَإِنْ وَقَعَ الشَّكُّ وَلَا يَدْرِيْ مَاتَ بِالْجُرْحِ أَوْ بِالثِّقْلِ او که [د مرګ په هکله يې] شک واقع سي او دا معلومه نه سي چې ښکار د زخم په وجه مړ سوی دی يا د درونـد والي په وجه كَانَ حَرَامًا احْتِيَاطًا نو [هم] به احتياطاً حرام وي.

اللغات: ﴿عصا﴾ لکړه، ﴿العُوْد﴾ لرګی، ﴿ثقل﴾ درونـد والی، بوج.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک په لکړه، ډنډه وغيره ښکار ووېلي او ښکار مړ سي، نو د هغه خوړل حلال نه دي؛ ځکه په لکړه وغيره سره چې کوم مرګ واقع کيږي هغه عموماً د لکړي د بوج او فشار په وجه وي او زخمي کول نه کوي؛ حال دا چې د ښکار د حلت لپاره زخمي کول شرط او ضروري دي، ها که لکړه تېره وي چې تېره او سپنه وغيره پکښې نصب وي او بيا په هغه سره ښکار ووژل سي، نو دا ښکار حلال او مباح دی؛ ځکه په داسې لکړه سره ښکار وژل او په غشي او نېـزه سره وژل دواړه سره برابر دي او ظاهره خبره ده چې په غشي او نېزه سره وژل سوی ښکار حلال وي، لهذا په مذکوره لکړه سره وژل سوی ښکار به هم حلال او جائز وي.

والأصل إلخ: د دې حاصل دا دی چې په داسې مسئلو کې د حلت او حرمت د فيصله کولو لپاره غوره او آسانه قاعده داه ده چې کوم ښکار په يقيني توګه په زخم سره مړ سي، هغه حلال دی او کوم ښکار چې په يقيني توګه (د لکړي، ډبري وغيره) په ثقل او بوج سره مړ سي، هغه حرام دی، او د کوم ښکار د مرګ په هکله چې دا شک وي چې هغه په زخم سره مړ سوی دی که په ثقل او بوج سره، هغه هم حرام

دي؛ ځکه د فقهي دا قاعده خو بيخي مشهوره ده چي "إذا اجتمع الحلال والحرام غلب الحرام" يعني کله چي په يوه مسئله کي حلال او حرام سره جمع سي، نو ترجيح بيا حرام لره وي. (احسن الهدايه)

په چاړه يا توره سره د ښکار کولو حکم

وَإِنْ رَمَاهُ بِسَيْفٍ أَوْ بِسِكِّيْنٍ او که ښکار په توره يا په چاړه سره وويلي فَأَصَابَهُ بِحَدِّهِ نو هغه په خپل تېره طرف سره پر ښکار ولګيږي فَجَرَحَهُ او ښکار زخمي کړي حَلَّ نو هغه حلال دی وَإِنْ أَصَابَهُ بِقَفَا السِّكِّيْنِ أَوْ بِمِقْبَضِ السَّيْفِ او که پر ښکار د چاړې د شا طرف يا د توري موټ ولګيږي لَايَحِلُّ نو ښکار حلال نه دی لِأَنَّهُ قَتَلَهُ دَقًّا ځکه هغه دا ښکار په کوټلو سره وژلی دی وَالْحَدِيْدُ وَغَيْرُهُ فِيْهِ سَوَاءٌ او اُوسپنه او نا اُوسپنه په دې کي سره برابر دي.

اللغات: ﴿قفا﴾ شټ د شا طرف. ﴿مقبض﴾ موټ. د نيولو ځای. ﴿دقًا﴾ د نصر د باب مصدر دی: کوټل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که څوک په توره يا چاړه سره ښکار وويلي او هغه پر ښکار ولګيږي او زخمي يې کړي، نو که د توري يا چاړې هغه تېره طرف پر ښکار لګېدلی وي، نو ښکار حلال دی. او که د توري يا چاړې د شا پڅ طرف يا د موټ طرف پر لګېدلی وي، نو ښکار حلال نه دی؛ ځکه د شا يا د موټ د طرف په لګېدلو کي دا احتمال سته چي ښکار به د هغې په بوج او فشار سره مړ سوی وي، نه په زخم سره. او ظاهره خبره ده چي د داسي احتمال په صورت کي ښکار نه حلاليږي، ځکه د ښکار د حلت لپاره په زخم سره د هغه مړ کېدل ضروري دي.

والحديد إلخ: د دې حاصل دا دی چي په قتل بالجرح او قتل بالدّق کي د حلت او حرمت په هکله اُوسپنه او غير اُوسپنه دواړه سره برابر دي، يعني که په اوسپني سره پر ښکار واري وکړي، نو که د زخمي کېدو په وجه مړ سي، نو ښکار حلال دی، او که د هغه په بوج او کوټلو سره مړ سي، نو حلال نه دی.

آيا د ښکار او د ذبح له زخم څخه وينه بهېدل ضروري دي؟

وَلَوْ رَمَاهُ فَجَرَحَهُ وَمَاتَ بِالْجُرْحِ او که ښکار وويلي نو هغه زخمي کړي او د زخم په وجه ښکار مړ سي إِنْ كَانَ الْجُرْحُ مُدْمِيًا نو که چيري زخم په وينو لړلی وي [وينه پکښي راوتلې وي] يَحِلُّ بِالِاتِّفَاقِ نو بالاتفاق ښکار حلال دی وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُدْمِيًا او که زخم په وينو لړلی نه وي فَكَذٰلِكَ عِنْدَ بَعْضِ

الْمُتَأَخِّرِيْنَ نو هم د بعضي متأخرينو په نيز دغه حكم دى سَوَاءٌ كَانَتِ الْجِرَاحَةُ صَغِيْـرَةً أَوْ كَبِيْرَةً برابره ده زخم كوچنى وي او كه غټ وي لِأَنَّ الدَّمَ قَدْ يَحْتَبِسُ بِضِيْقِ الْمَنْفَذِ أَوْ غِلَظِ الدَّمِ ځكه وينه كله د لاري د تنګوالي يا د وينو د ګاټه والي په وجه بنديږي وَعِنْدَ بَعْضِهِمْ يُشْتَرَطُ الْإِدْمَاءُ او د بعضو په نيز وينه راوتل شرط دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶: «مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَأَفْرَى الْأَوْدَاجَ فَكُلْ» د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: کوم څه چې وينه وبهوي او رګونه پرېکړي نو هغه خوره! شَرَطَ الْإِنْهَارَ نبي كريم ﷺ [په دې فرمان سره] وينه بهول شرط كړي دي وَعِنْدَ بَعْضِهِمْ إِنْ كَانَتْ كَبِيْرَةً او د بعضي متأخرينو په نيز كه زخم غټ وي حَلَّ بِدُوْنِ الْإِدْمَاءِ نو له ويني راوتلو څخه بغير حلال دى.

وَلَوْ ذَبَحَ شَاةً وَلَمْ يَسِلْ مِنْهُ الدَّمُ او كه پسه ذبح كړي او له هغه څخه وينه نه وبهيږي قِيْلَ: لَا تَحِلُّ نو ويل سوي دي: چې حلال نه دى وَقِيْلَ: تَحِلُّ او ويل سوي دي: چې حلال دى وَوَجْهُ الْقَوْلَيْنِ دَخَلَ فِيْمَا ذَكَرْنَاهُ او د دواړو قولونو وجه زموږ په ذكر سوي تفصيل كي داخله ده وَإِذَا أَصَابَ السَّهْمُ ظِلْفَ الصَّيْدِ أَوْ قَرْنَهُ او كله چې غشى د ښكار پر ښونګرو يا پر ښكرو ولګيږي فَإِنْ أَدْمَاهُ نو كه له هغه څخه وينه راوباسي حَلَّ نو ښكار حلال دى وَإِلَّا فَلَا كنې حلال نه دى وَهٰذَا يُؤَيِّدُ بَعْضَ مَا ذَكَرْنَاهُ او دا د هغه بعضي خبرو تائيد كوي كوم چې موږ ذكر كړې.

اللغات: ﴿مُدمي﴾ د افعال د باب فاعل دى: هغه زخم چې وينه پكښې راوتلې وي، په بهېدونو لرلى (ككړ) زخم. ﴿المنفذ﴾ د راوتلو لاره، سورى. ﴿غِلَظ﴾ ګاټه والى، خنډ والى. ﴿إدماء﴾ د افعال د باب مصدر دى: وينه را ايستل، وينه راوتل، دَمى په اصل كي دې ته وايي چې له زخم څخه وينه راوځي خو ونه بهيږي، يا په بله وينا دا چې زخم په وينو ككړ سي (معجم الوسيط). ﴿أنهر﴾ د افعال د باب ماضي ده: بهول، بيول. ﴿أفرى﴾ مخكنى صيغه ده: پرېكول، غوڅول. ﴿شاة﴾ مخكي ذكر سوه چې د دې لفظ اطلاق پر پسه، سېرلي، بزه وغيره ټولو باندي كيږي. ﴿ظلف﴾ ښونګري، دغوا، پسه، هوسى او داسي نورو (چاودلي) نوكان.

---

❶ تخريج: : أخرجه البخاري بمعناه، باب ما أنهر الدم من القصب والمروة والحديد، ص: ٩٨٠، حديث رقم: ٥٥٠٣.

شريح: د عبارت حاصل دا دی چي کله ښکار په غشي وويلي او هغه زخمي سي او مړ سي. نو اوس به دې ته کتل کېږي چي له زخم څخه وينه راوتلې ده. که نه؟. که چيري وينه يې راوتلې وي او زخم په وينو لړلی وي. نو ښکار بالاتفاق حلال دی.

او که زخم په وينو لړلی نه وي، نو په دې باره کي د متأخرينو دوې ډولې دي: يوه ډولې داسي ښکار ته هم حلال وايي، او دويمه ډولې هغه ته حرام وايي. بيا اوله ډولې وايي چي زخم برابره ده کوچنی وي او که غټ وي په هر صورت کي ښکار حلال دی؛ دوی وايي چي ځکه د لاري د تنګوالي يا د ويني د ګاټه توب په وجه کله وينه ودرېږي. او د متأخرينو دويمه ډولې وايي هغه ته حرام وايي؛ د هغو دليل دا حديث دی چي کوم څه وينه وبهوي او رګونه پرېکړي، نو ته هغه خوره!، دلته په حديث کي صراحتاً د ويني بهول شرط دي.

وعندبعضهم إلخ: په دې مسئله کي د ځينو متأخرينو رايه دا ده چي که زخم غټ وی، نو بغير له ويني راوتلو حلال دی (يعني که څه هم په غټ زخم کي وينه راوتلې نه وي. بيا هم ښکار حلال دی). او که زخم کوچنی وي، نو وينه راوتل شرط دي....، لېږه دا چي دلته د ويني نه راوتل د ويني د نشتوالي په وجه دی، نو دا مُضر نه دي.

ولوذبح شاة إلخ: فرمايي که څوک پسه وغيره ذبح کړي او له هغه څخه وينه نه راوځي، نو د هغه په هکله د متأخرينو دوه قوله دي: ① دابو القاسم صفار رَحِمَهُ الله په نيز داسي پسه حلال نه دی؛ ځکه چي وينه بهول او را ايستل شرط دی، او دلته دا شرط معدوم دی، ② دابو بکر الاسکاف رَحِمَهُ الله په نيز حلال دی؛ ځکه د هغه ډوله رګونه پرېکړل سوي دي، که په هغه کي څه وينه واى، نو د رګونو په پرېکېدلو سره به راوتلې واى، لېکن د رګونو د پرېکېدلو باوجود وينه نه راوتل د دې خبري دليل دی چي په دغه پُسه کي وينه نسته، لهذا د ويني نه راوتلو په وجه به پسه نه حرامېږي بلکي د رګونو (أوداج) په پرېکېدلو سره به سمدستي هغه حلالېږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د دې دووقولونو وجه مخکي ذکر سوه يعني زخم په وينو لړل کېدل او نه کېدل.

وإذا أصاب إلخ: د دې حاصل دا دی چي که غشی د ښکار پر ښونګري يا د هغه پر ښکر ولګېږي، نو که د هغه په وجه ښونګری يا ښکر په وينو ککړ سي (يعني څه وينه يې راوځي)، نو ښکار حلال دی، کنې حلال دی، او په دغه تفصيل د ابو القاسم صفار رَحِمَهُ الله د قول تائيد کېږي؛ ځکه چي هغه هم د ويني راوتل شرط کړي دي.

له ښکار څخه د را جلاسوي اندام او ټوټې حکم او تفصیل

قَالَ: وَإِذَا رَمَى صَيْدًا فَقَطَعَ عُضْوًا مِنْهُ فرمايي: او کله چي ښکار وويشي او له ښکار څخه يو اندام پرېکړي أُكِلَ الصَّيْدُ نو ښکار به خوړل کيږي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَا يُؤْكَلُ الْعُضْوُ او اندام به نه خوړل کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: أُكِلَا إِنْ مَاتَ الصَّيْدُ مِنْهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دواړه به خوړل کيږي که چيري ښکار له دې پرېکېدلو څخه مړ سي لِأَنَّهُ مُبَانٌ بِذَكَاةِ الِاضْطِرَارِ ځکه چي هغه اندام په ذبح اضطراري سره را جلا سوی دی فَيَحِلُّ الْمُبَانُ وَالْمُبَانُ مِنْهُ نو ځکه راجلا سوی اندام او هغه ښکار چي اندام ځني را جلا سوی دی [دواړه] به حلال وي كَمَا إِذَا أُبِينَ الرَّأْسُ بِذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ لکه کله چي د ذبح اختياري په ذريعه [له څاروي څخه] سر جلا کړی سي بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَمُتْ په خلاف د هغه صورت کله چي ښکار مړ نه سي لِأَنَّهُ مَا أُبِينَ بِالذَّكَاةِ ځکه [په دې صورت کي] هغه اندام د ذبح په ذريعه جلا نه کړی سو وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] : «مَا أُبِينَ مِنَ الْحَيِّ او زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: کوم څه چي له ژوندي حيوان څخه را جلا کړل سي فَهُوَ مَيِّتٌ» هغه مړه [مردار] دی ذَكَرَ الْحَيَّ مُطْلَقًا [په دې حديث کي لفظ د] "حَيّ" مطلق ذکر سوی دی فَيَنْصَرِفُ إِلَى الْحَيِّ حَقِيقَةً وَحُكْمًا نو دا مطلق به ګرځي د داسي ښکار وطرف ته کوم چي حقيقتاً او حکماً [دواړه بوله] ژوندی وي [يعني هم د حقيقت په اعتبار سره ژوندی وي او هم د حکم] وَالْعُضْوُ الْمُبَانُ بِهَذِهِ الصِّفَةِ او کوم اندام چي را جلا سوی دی هغه په همدغه صفت سره دی لِأَنَّ الْمُبَانَ مِنْهُ حَيٌّ حَقِيقَةً ځکه ښکار چي اندام ځني را جلا سوی دی حقيقتاً ژوندی دی لِقِيَامِ الْحَيَاةِ فِيهِ ځکه په هغه کي ژوند پاته دی وَكَذَا حُكْمًا او همدارنګه حکماً هم هغه ژوندی دی لِأَنَّهُ تُتَوَهَّمُ سَلَامَتُهُ بَعْدَ هَذِهِ الْجِرَاحَةِ ځکه له دغه زخم څخه وروسته هم د دغه ښکار د سلامتيا [او ژوندي پاتېدلو] وهم [توقع] سته وَلِهَذَا اعْتَبَرَهُ الشَّرْعُ حَيًّا په همدې وجه شريعت هغه ژوندی ګڼلی دی [د هغه د ژوند

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي بمعناه، باب ما جاء ما قطع من الحي فهو ميت ص: ۳۶۰، حديث رقم: ۱۴۸۰. وابو داؤد، باب إذا قطع من الصيد قطعة، ص: ۴۱۵، حديث رقم: ۲۸۵۸.

اعتبار یې کړی دی] حَتّٰی لَوْ وَقَعَ فِی الْمَاءِ وَفِیْهِ حَیَاةٌ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ تر دې چې که هغه په اوبو کې ولوېږي او همدا ډول ژوند پکښې وي يَحْرُمُ نو هغه حرامیږي وَقَوْلُهُ أُبِیْنَ بِالذَّکَاةِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله داوینا چې دا اندام د ذبح په ذریعه را جلا سوی دی قُلْنَا حَالَ وُقُوْعِهِ لَمْ یَقَعْ ذَکَاةً مونږ [په جواب کې ورته] وایو چې د هغه د رالوېدلو په وخت کې ذبح نه ده واقع سوې لِبَقَاءِ الرُّوْحِ فِی الْبَاقِیْ ځکه په پاتې ښکار کې ژوند پاته وو وَعِنْدَ زَوَالِهِ لَا یَظْهَرُ فِی الْمُبَانِ او د روح زایلېدلو په وخت کې په جلا سوي اندام کې ذبح نه ښکاره کیږي لِعَدَمِ الْحَیَاةِ فِیْهِ ځکه په هغه کې ژوند نسته وَلَا تَبَعِیَّةَ او تابع والی هم نسته [یعني هغه اندام د ښکار تابع کېدلای هم نه سي] لِزَوَالِهَا بِالْاِنْفِصَالِ ځکه د جلا کېدلو په وجه تبعیت زائل سو فَصَارَ هٰذَا الْحَرْفُ هُوَ الْأَصْلَ نو همدغه نکته اصل [قاعده] سوه لِأَنَّ الْمُبَانَ مِنَ الْحَيِّ حَقِیْقَةً وَحُکْمًا ځکه کوم اندام چې را جلا سوی وي له داسي ښکار [حیوان] څخه چې هغه د حقیقت او حکم دواړو په اعتبار سره ژوندی وي لَا یَحِلُّ [هغه اندام] حلال نه دی وَالْمُبَانُ مِنَ الْحَيِّ صُوْرَةً لَا حُکْمًا او کوم اندام چې له داسي ښکار څخه را جلا سوی وي چې هغه د صورت په اعتبار سره ژوندی وي، نه د حکم په اعتبار سره یَحِلُّ [هغه اندام] حلال دی.

اللغات: ﴿مُبَان﴾ د افعال د باب مفعول دی: را جلا کړل سوي حصه او اندام. ﴿مُبان منهُ﴾ هغه ښکار او څاروی چې یو حصه او اندام څني را جلا کړل سوي وي. ﴿ذکاة الاضطرار﴾ ذبح اضطراري. د څاروي د بدن په هسي یو حصه کي زخم جوړولو (زخمي کولو) ته ذبح اضطراري وایي. ﴿تبعیة﴾ تابع والی، تابع کېدل. ﴿حرف﴾ د دې لفظ یوه معنیٰ ده: نکته، طرز او طریقه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک ښکار په غشي وویلي او د هغه په وجه د ښکار یو اندام پرې سي او را جلا سي، نو ښکار خو بالاتفاق حلال دی؛ ځکه زخمي کول موجود سوه، او د حلت لپار همدا شرط دی، لهذا کله چې د حلت شرط موجود سو، نو ظاهره ده چې ښکار به حلال وي. پاته سو د هغه اندام مسئله کوم چې د ښکار له بدن سره څخه را جلا سوی دی، نو زمونږ په نیز حکم دا دی چې هغه اندام او حصه به نه خوړل کیږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز څه تفصیل دی او هغه دا دی چې که د اندام د پرېکېدلو په وجه ښکار هم مړ سي، نو ښکار او اندام به دواړه خوړل کیږي؛ ځکه دغه اندام د ذبح اضطراري په ذریعه د هغه له مجموعي څخه جلا کړل سوی دی، لهذا څرنګه چې د ذبح

اختياري په صورت کي کـه د ښکاروي سر لـه بدن څخه جلا سي، نو مبان او مبان منهٔ دواړه حلال پاتيږي، نو همداسي د ذبح په صورت کي به هم مبان او مبان منهٔ دواړه حلال وي.

د دې په خلاف که ښکار مړ نه سي، نو په دې صورت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيـز هم هغه مقطوع اندام (مُبان) حلال نه دی؛ ځکه هغه اندام په ذبح سره نه دی را جلا سوی؛ نو ځکه د حديث "مَا أُبِيْنَ مِنَ الْحَيِّ فَهُوَ مَيِّتٌ" پر بناءهغه اندام حرام او مردار دی.

ولنا إلخ: فرمايي د مقطوع اندام د حرامېدلو په هکله زموږ دليـل دا پورتنی حديث دی "مَا أُبِيْنَ مِنَ الْحَيِّ فَهُوَ مَيِّتٌ" او په دغه حديث سره دليـل په دې توګه نيسو چي نبي ﷺ مطلق "الحَيّ" فرمايلي دي، او د مطلق په هکله قاعده دا ده چي "المُطلق إذا أطلق يُراد به الفرد الكامل" يعني څه چي مطلق ذکر سي نو په هغه سره فرد کامل مرادول کيږي او د "حَيّ" فرد کامل دا دی چي په هغه کي حقيقتا او حکماً ژوند وي (د حقيقتاً مطلب دا چي په ښکار کي في الحاله ژوند وي او د حکماً مطلب دا چي دآينده لپاره سالم پاتېدلای سي)، او د دغه حديث مطلب دا دی چي له ژوندي ښاروي څخه چي کوم اندام جلا کړل سي هغه حرام دی، او په صورت مسئله کي ښکار او له هغه څخه پرېکړل سوی اندام پر همدغه صفت دي؛ ځکه دښکار (صَيد) له بدن څخه پرېکړل سوی اندام د ژوندي ښاروي اندام دی او بيا په ښکار کي ژوند پاته دی، نو هغه حقيقتاً حيّ دی، او څرنګه چي د هغه اندام تر پرېکېدلو وروسته د دې توقع هم سته چي ښکار به سالم او ژوندی پاته سي، نو ځکه حکماً هم په هغه کي ژوند پاتـه دی، او د دې غـټ دليـل دا دی چي شريعت د هغه د ژوند اعتبار کړی دی، مثلاً که د مذکوره اندام تر پرېکېدلو وروسته ښاروی پر همدې صفت ژوندی پاته سي او بيا اوبو ته ولوېږي، نو د هغه مرګ اوبو ته منسوب کيږي (چي اوبو مړ کړی دی) نو هغه حرام ګرځي.

وقوله أُبين إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل دليل کي فرمايلي وه چي مقطوع انـدام د ذبح اضطراري په ذريعه را جلا سوی دی نو ځکه حلال به وي، دلته د هغه جواب ورکوي چي دا اندام د ذبح په را جلا کېدلو ګرځول صحيح نه دي؛ ځکه کوم وخت چي دا اندام جلا سوی دی په هغه وخت کي ذبح نه ده متحقق سوې؛ ځکه تر دې زخم وروسته هم په پاتـه ښکار کي ژوند باقي دی او ظاهره خبره ده چي د ژوند د بقاء سره ذبح نه سي متحقق کېدلای، او کوم وخت چي د پاتـه ښکار ژوند ختم سي، نو هغه وخت فقط په پاته ښکار کي ذبح ثابتيږي او په مقطوع اندام کي ذبح نه ثابتيږي؛ ځکه هغه اندام

د پرېکېدلو په وجه له مخکې څخه مړ سوی دی او ژوند پکښې معدوم سوی دی. او کله چې ژوند پکښې معدوم دی، نو ذبح به یې څنګه ثابته سي!.

ولا تبعية إلخ: فرمايي دا هم نه سي کېدلای چې دلته ښکار متبوع وګڼل سي او مقطوع اندام د هغه تابع وګرځول سي او په دې توګه ژوند پکښې ثابت کړی سي؛ ځکه د تبعت (تابع والي) لپاره اتصال ضروري دی. او په صورتِ مسئله کې اندام له ښکار څخه راجلا سوی دی، نو اتصال ختم سو لهذا د تبعيت امکان ختم سو، نو په دې وجه هم په مقطوع اندام کې ژوند نه سي ثابتېدلای.

فصار إلخ: فرمايي زموږ له دې مخکېني بيان او تفصيل څخه دا خبره ښکاره سوه چې کوم ښکار او ځاروی حقيقتاً او حکماً ژوندی وي، که له هغه څخه يو اندام پرېکړل سي نو هغه اندام حرام دی، او کوم ښکار چې صورتاً ژوندی وي لېکن حکماً ژوندی نه وي، نو د هغه له تن څخه پرېکړل سوی اندام حلال دی.

د صورتاً ژوندي او حکماً مړه مثال ته ضرورت دی، نو په راروان عبارت کې د هغه مثال او وضاحت پېښوي.

د پورتني مسئلې مثال او قاعده او پر هغه متفرع جزئيات

وَذٰلِكَ بِأَنْ يَبْقٰى فِي الْمُبَانِ مِنْهُ حَيَاةٌ بِقَدْرِ مَا يَكُوْنُ فِي الْمَذْبُوْحِ او دا په دې توګه چې په هغه ښکار [ځاروي] کې چې اندام ځنې جلا کړی سوی دی دومره ژوند وي څومره چې په ذبح کړی سوي ځاروي کې وي فَإِنَّهُ حَيَاةٌ صُوْرَةً لَا حُكْمًا نو دا صورتاً ژوند دی، نه حکماً وَلِهٰذَا لَوْ وَقَعَ فِي الْمَاءِ وَبِهِ هٰذَا الْقَدْرُ مِنَ الْحَيَاةِ همدا وجه ده که ځاروی اوبو ته ولوېږي او په هغه کې دومره ژوند وي أَوْ تَرَدّٰى مِنْ جَبَلٍ أَوْ سَطْحٍ يا له غره يا بام څخه راګېل سي لَا يَحْرُمُ نو هغه نه حرامېږي فَتُخَرَّجُ عَلَيْهِ الْمَسَائِلُ او پر همدې اصل د مسائلو تخريج کېږي فَنَقُوْلُ: إِذَا قَطَعَ يَدًا أَوْ رِجْلًا أَوْ فَخِذًا نو موږ وايو: چې کله د ښکار لاس يا پښه يا ورون پرېکړي أَوْ ثُلُثَهُ مِمَّا يَلِي الْقَوَائِمَ أَوْ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ الرَّأْسِ يا د ښکار هغه ثلث [درېيمه حصه] پرېکړي کوم چې یې د پښو سره متصله وي يا یې تر نيم سر کمه حصه پرېکړي يَحْرُمُ الْمُبَانُ نو را جلا سوې [پرېکړل سوې] حصه حرامه ده وَيَحِلُّ الْمُبَانُ مِنْهُ او پاته ښکار چې له هغه څخه دا حصه را جلا سوې ده حلال دی لِأَنَّهُ يُتَوَهَّمُ بَقَاءُ الْحَيَاةِ فِي الْبَاقِي ځکه چې په پاته ښکار کې د ژوندي پاتېدلو وهم [توقع] سته وَلَوْ قَدَّهُ بِنِصْفَيْنِ او که ښکار

نیمه په نیمه دوې ټوټې کړي أَوْ قَطَّعَهُ أَثْلَاثًا یا یې درې ټوټې پرېکړي وَالْأَكْثَرُ مِمَّا يَلِي الْعَجُزَ او اکثره حصه یې د کوناټو [شاتني طرف] سره متصله وي أَوْ قَطَعَ نِصْفَ رَأْسِهِ أَوْ أَكْثَرَ مِنْهُ یا د ښکار نیمايي سر پرېکړي يَحِلُّ الْمُبَانُ وَالْمُبَانُ مِنْهُ نو را جلا سوې حصه او ښکار چې څني را جلا سوې ده [دواړه] حلال دي لِأَنَّ الْمُبَانَ مِنْهُ حَيٌّ صُورَةً لَا حُكْمًا ځکه ښکار چې له هغه څخه دا حصه را جلا سوې ده صورتاً ژوندی دی، نه حکماً إِذْ لَا يُتَوَهَّمُ بَقَاءُ الْحَيَاةِ بَعْدَ هٰذَا الْجَرْحِ ځکه تر داسي زخم وروسته د هغه دژوندي پاتېدلو وهم [توقع] نسته وَالْحَدِيثُ وَإِنْ تَنَاوَلَ السَّمَكَ وَمَا أُبِينَ مِنْهُ او مذکوره حدیث که څه هم ماهي او د هغه څخه راجلا سوې ټوټې ته شامل دی فَهُوَ مَيِّتٌ [چې پر دې بناء] هغه ټوټه مرده [مرداره] ده إِلَّا أَنَّ مَيْتَتَهُ حَلَالٌ بِالْحَدِيثِ الَّذِي رَوَيْنَاهُ خو د ماهي مرده حلال دي په هغه حديث سره كوم چې موږ [مخکي] روايت کړی دی.

اللغات: ﴿القوائم﴾ د څاروي پښې او لاسونه. ﴿قَدَّ﴾ قَدَّ يَقُدُّ قَدًّا: ټوټه کول، دوه ځایه کول. ﴿العجز﴾ د نصر د باب ماضي ده: د يو شي د شا آخريني طرف، شاتنی طرف (مراد کوناټې او لم). ﴿ميتة﴾ مړ سوی (مردار سوی) حیوان، مُرده حیوان.

تشریح: مخکي چې کوم صورتاً او حکماً د ښکار دژوند خبره وسوه، دلته د هغه مثال او نور وضاحت پېښوي، حاصل یې دا دی چې که د ښکار له بدن څخه تر اندام پرېکېدلو وروسته په ښکار کي دومره ژوند پاته سي څومره چې په ذبح کړل سوي څاروي کي پاتېږي، نو داسي ښکار او څاروي ته صورتاً ژوندی ویل کیږي، لېکن حکماً ژوندی نه شمېرل کیږي، بلکي پر هغه د مړه څاروي احکام جاري کیږي، همدا وجه ده که په دې حالت کي ښکار اوبو ته ولوېږي یا له غره یا بام څخه راګېل سي او مړ سي، نو حلال پاتیږي، حرام نه ګرځي؛ ځکه د هغه مرګ د زخم و طرف ته منسوب کیږي، نه د اوبو یا له غره یا بام څخه د راګېلېدلو و طرف ته. بیا مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا (دصورتاً او حکماً تلسب) یو داسي قاعدهٔ کلیه ده چې پر هغه ډیر مسائل متفرّع کېدای سي، او له هغوی څخه څو مسئلې یې په عبارت کي ذکر کړي دي.

إذا قطع يدا إلخ: له همدې ځای څخه یې پر مذکوره قاعده متفرّع سوي مسئلې ذکر کړي دي چې په ټولو مسئلو کي د ښکار دژوندي پاتېدلو وهم (امید) سته، نو ځکه ښکار حلال ګرځول سوی دی او موع اندام حرام ګرځول سوی دی، او په نورو مسئلو (ولو قدّه بنصفين...إلخ) کي د دې وهم نسته چې

هغه ژوندی پاتې سي، نو ځکه هلته دواړه حلال ګرځول سوي دي. نور تفصیل یې له ترجمې ښکاره دی.

والحدیث إلخ: فرمایي دا حدیث "مَا أُبِيْنَ مِنَ الحَيِّ فَهُوَ مَيِّتٌ" د ماهي لپاره هم عام دی، نو له ماهي څخه چي کومه حصه جلا کړل سي، هغه به هم مُرده (مردار) وي، خو د دې سربېره له ماهي څخه را بېله سوې حصه حلاله ده؛ ځکه مخکي دا حدیث ذکر سو چي "أُحِلَّتْ لَنَا الْمَيْتَتَانِ... أَمَّا الْمَيْتَة فَالسَّمَكُ وَالْجَرَادُ" یعني زموږ لپاره دوه مُرده حلال دي چي هغه ماهي او ملخ دی. نو د دې حدیث پر بناء ماهي د "مَا أُبِيْنَ مِنَ الحَيِّ" له عموم څخه مستثنیٰ دی، لهذا دا حکم به په هغه کي نه جاري کېږي.

که د پسه غاړه غوڅه پرېکړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ ضَرَبَ عُنُقَ شَاةٍ او که څوک د پسه غاړه ووهي فَأَبَانَ رَأْسَهَا او د هغه سر را جلا کړي يَحِلُّ حلال دی لِقَطْعِ الْأَوْدَاجِ ځکه د ذبح رګونه یې پرې سول وَيُكْرَهُ هٰذَا الصَّنِيْعُ او دغه فعل مکروه لِإِبْلَاغِهِ النُّخَاعَ ځکه قطع تر نخاع [حرام مغزه] پوري رسیږي وَإِنْ ضَرَبَهُ مِنْ قِبَلِ الْقَفَا او که هغه د شا طرفه ووهي إِنْ مَاتَ قَبْلَ قَطْعِ الْأَوْدَاجِ نو که هغه د رګونو تر پرېکېدلو مخکي مړ سي لَا يَحِلُّ نو حلال نه دی وَإِنْ لَمْ يَمُتْ حَتّٰى قَطَعَ الْأَوْدَاجَ او که مړ نه سي تر دې چي د ذبح رګونه پرې سي حَلَّ نو حلال دی.

اللغات: ﴿أوداج﴾ جمع د وَدَجٌ (بنه رګ) ده: د ذبح رګونه یعني بنه رګ وغیره چي د هغه په پرېکولو سره پوره کیږي. ﴿نُخاع﴾ (د نون په ضمه، فتحه او کسره تولو سره ویل کېدای سي): یو سپین رګ دی چي د څټ هډوکي (عمود فقري) کي تللی دی کوم ته چي په اُردو ژبه کي حرام مغز ویل کیږي. ﴿قفا﴾ څټ، د غاړي طرف، ورمیږ.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د پسه غاړه په ساتول وغیره سره دومره په زوره ووهي چي سر یې غوڅ پرې سي او له تن څخه جلا سي، نو داسي پسه حلال دی او خوړل یې روا دي. حلت وجه یې د ذبح د رګونو پرېکېدل دي (یعني په سر پرېکولو کي د ذبح رګونه هم پرېکړل سوه). خو داسي وحشي توګه ذبح کول مکروه دي؛ ځکه په دې صورت کي تر نخاع رګ هم ذبح تېرېږي داسي کول په شریعت کي ناخوښه ګڼل سوي دي، چي بیان یې په کتابُ الذبائح کي یې تېر سوی دی.

او که د څټ له طرفه پسه ووهي، نو که د ذبح د رګونو تر پرېکېدلو مخکي هغه مړ سي، نو حلال نه دی، او که د رګونو د پرېکېدلو تر وخته هغه ژوندی پاتې وي، نو حلال دی. د دې بیان او تفصیل هم په کتابُ الذبائح کي تېر سوی دی.

د پرېکړل سوي حصې د جوړېدلو حکم

وَلَوْضَرَبَ صَيْدًا فَقَطَعَ يَدًا أَوْ رِجْلًا او که څوک ښکار وویلي او د هغه لاس یا پښه پرېکړي وَلَمْ يُبِنْهُ خو هغه را جلا نه کړي إِنْ كَانَ يُتَوَهَّمُ الِالْتِئَامُ وَالِانْدِمَالُ فَإِذَا مَاتَ نو که د هغه د جوړېدلو او روغېدلو وهم [توقع] وي لېکن بیا ښکار مړ سي حَلَّ أَكْلُهُ نو د هغه [پرېکړل سوي لاس یا پښې] خوړل حلال دي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ سَائِرِ أَجْزَائِهِ ځکه چي دا د هغه د ټولو اجزاؤ په درجه کي دي وَإِنْ كَانَ لَا يُتَوَهَّمُ بِأَنْ بَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِجِلْدِهِ او که د جوړېدلو وهم يې نه وي په دې توګه چي هغه د څرمني سره ځوړند پاته سي حَلَّ مَا سِوَاهُ نو له هغه څخه بغیر نور ښکار حلال دی لِوُجُودِ الْإِبَانَةِ مَعْنًى ځکه چي د معنیٰ په اعتبار سره جلا کېدل موجود سوه [یعني داسي پښه یا لاس معناً جلا او منفصل دي] وَالْعِبْرَةُ لِلْمَعَانِي او اعتبار معناګانو لره دی.

اللغات: ﴿أبان﴾ د افعال د باب ماضي ده: جلا کول، بېلول، ﴿الالتيام﴾ د افتعال د باب مصدر دی: زخم مښلېدل او جوړېدل، ﴿الاندمال﴾ د انفعال د باب مصدر دی: زخم روغتیا او سمېدو ته نژدې کېدل، وکېدل، ﴿العبرة﴾ اعتبار.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د ښکار له بدن څخه چي کوم اندام پرې سي لېکن را جلا نه سي، نو حکم دا دی چي که د دغه اندام د سمېدلو او جوړېدلو توقع وي، نو داسي اندام د ښکار د نورو اجزاء په حکم کي دی چي د ښکار تر مړ کېدلو وروسته دغه اندام او ښکار ټوله حلال دی (یعني څرنګه چي د ښکار خوړل حلال دي، همداسي د هغه دغه اندام خوړل هم حلال دي)، او که دا اندام هغسي ځوړند پاته سي او د جوړېدلو توقع يې نه وي، نو بیا هغه را جلا او منفصل شمېرل کېږي او خوړل يې حلال نه دي، او نور ښکار حلال دی.

او که سوال وسي چي کله اندام اوس متصل دی، نو تاسي هغه ولي منفصل شمېرئ!. نو جواب يې دا دی چي هغه معناً منفصل دی، یعني په داسي ځوړند او پرې سوي حالت کي د معنیٰ په اعتبار سره هغه د جلا سوي اندام په څېر دی، او په شریعت کي د معنیٰ اعتبار کېږي. نو ځکه دغه اندام له ښکار څخه بېل او منفصل شمېرل کېږي او د ښکار حلت په هغه کي اثر نه کوي.

د مجوسي، مرتد او بُت پرست د ښكار حكم

قَالَ: وَلَا يُؤْكَلُ صَيْدُ الْمَجُوسِيِّ وَالْمُرْتَدِّ وَالْوَثَنِيِّ فرمايي: او د مجوسي، مرتد او بُت پرست ښكار به نه خوړل كيږي لِأَنَّهُمْ لَيْسُوا مِنْ أَهْلِ الذَّكَاةِ ځكه چي دوى د ذبح اهل نه دي عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ فِي الذَّبَائِحِ لكه څرنګه چي په كتابُ الذبائح دا مورږ بيان كړه وَلَا بُدَّ مِنْهَا فِي إِبَاحَةِ الصَّيْدِ او چاره نسته له ذبح څخه د ښكار په روا كولو كي [يعني د ښكار د روابښت لپاره ذبح اضطراري ضروري ده] بِخِلَافِ النَّصْرَانِيِّ وَالْيَهُودِيِّ په خلاف د نصراني او يهودي لِأَنَّهُمَا مِنْ أَهْلِ الذَّكَاةِ اخْتِيَارًا ځكه چي دوى د ذبح اختياري اهل دي فَكَذَا اضْطِرَارًا نو همداسي به د ذبح اضطراري هم اهل وي.

اللغات: ﴿وثني﴾ بت پرست، ﴿ذكاة﴾ حلالول، ذبح كول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چي په ښكار كي ذبح اضطراري (زخمي كول) داسي دي لكه په غير ښكار كي ذبح اختياري (په چاړه وغيره سره ذبح كول)، نو كوم څوك چي د ذبح اختياري اهل نه وي، هغه د ذبح اضطراري يعني د ښكار كولو هم اهل نه دى، او څوك چي د ذبح اختياري اهل وي، هغه د ښكار كولو هم اهل دى، او مخكي تاسي ته معلومه سوه چي مجوسي، مرتد او بت پرست د ذبح اختياري اهل نه دي او ذبيحه يې حلاله نه ده، او كتابي يعني نصراني او يهودي يې اهل دي، نو ځكه د مجوسي وغيره به ښكار به حلال نه وي او د كتابي ښكار به حلال وي.

كه دوه ښكاريان ښكار وويلي چي يو يې زخمي كړي او بل يې قتل كړي (حكم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ رَمَى صَيْدًا فَأَصَابَهُ فرمايي: او كه څوك ښكار وويلي او پر هغه ولګيږي وَلَمْ يُثْخِنْهُ لېكن هغه سخت زخمي نه كړي وَلَمْ يُخْرِجْهُ عَنْ حَيِّزِ الِامْتِنَاعِ او د خپل امتناع [دفاع] له ځاى څخه هغه نه وباسي [يعني اوس هم هغه د خپل ځان دفاع كولاى سي او تښتېدلاى سي] فَرَمَاهُ آخَرُ بيا يو بل كس هغه وويلي فَقَتَلَهُ نو قتل يې كړي فَهُوَ لِلثَّانِي نو هغه ښكار د دويم كس دى وَيُؤْكَلُ او خوړل كيږي [يعني حلال هم دى] لِأَنَّهُ هُوَ الْآخِذُ ځكه چي همدا دويم كس [د هغه] نيونكى دى وَقَدْ قَالَ ﷺ «الصَّيْدُ لِمَنْ أَخَذَ» [1] او نبي ﷺ فرمايلي دي: چي ښكار د هغه كس دى څوك چي يې ونيسي.

---

[1] تخريج: لم أجده.

اللغات: ﴿لم يثخنه﴾ د افعال له بابه د جحد صيغه ده: په يو څه کي زياته مبالغه کول. مثلاً په وهلو، زخمي کولو، وژلو وغيره کي ډېره مبالغه کول. مراد: سخت زخمي کول. زښت ټپي کول.

﴿حَيِّز﴾ پر وزن د فَيْعِل دی او حَيْز هم ويل کېدای سي: مکان (ځای)، گوښه، څنگ (طرف)، يو شي ته څرمه ځای. ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل، له يو شي څخه د ځان دفاع کول.

﴿ينجو﴾ د نصر د باب مضارع ده: نجات موندل، خلاصېدل، بچ کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک په غشي سره ښکار وويلي او غشی پر ښکار ولگيږي لېکن هغه زيات زخمي نه کړي او نه هغه په خپل قوت او دفاع کي کمزوری کړيي بلکي په هغه کي ژوند او قوت پاته وي او وتښتي چي په دې دوران کي يو دويم کس هغه په غشي سره وويلي او قتل يې کړي، نو په داسي صورت کي د شريعت فيصله دا ده چي ښکار د دويم کس دی؛ ځکه چي هاغه د ښکار کار تمام کړی او وژلی يې دی، او په حديث کي دي "الصَّيْدُ لِمَنْ أَخَذَ" چي ښکار د هاغه کس دی څوک چي يې ونيسي او په قبضه کي يې راولي. او د دې ښکار خوړل هم حلال دي؛ ځکه دويم کس هغه په داسي حالت کي ويشتلی او وژلی دی چي تر اوسه هغه ښکار (صَيد) دی يعني له ښکار والي (صيديّت) څخه نه دی وتلی، نو په دې سره ذبح اضطراري ثابته سوه. او د ښکار د حلت لپاره ذبح اضطراري کافي ده.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ كَانَ الْأَوَّلُ أَثْخَنَهُ او که اول کس ښکار سخت زخمي کړي فَرَمَاهُ الثَّانِي فَقَتَلَهُ بيا دويم کس هغه وويلي او قتل يې کړي فَهُوَ لِلْأَوَّلِ وَلَمْ يُؤْكَلْ نو هغه د اول کس دی او نه به خوړل کيږي لِاحْتِمَالِ الْمَوْتِ بِالثَّانِي ځکه چي په دويمو ويشتلو سره د هغه د مړ کېدلو احتمال سته [يعني دا احتمال سته چي د دويم کس د غشي په وار سره هغه مړ سوی دی] وَهُوَ لَيْسَ بِذَكَاةٍ حال دا چي هغه [دويم ويشتل] ذبح [حلالول] نه دي لِلْقُدْرَةِ عَلَى ذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ ځکه پر ذبح اختياري قدرت سته بِخِلَافِ الْوَجْهِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت وَهَذَا إِذَا كَانَ الرَّمْيُ الْأَوَّلُ بِحَالٍ يَنْجُو مِنْهُ الصَّيْدُ او دا [حکم] هغه وخت دی کله چي اول ويشتل په دې ډول وي چي له هغه څخه ښکار بچ کېدلای سي [يعني تر هغه وروسته ښکار ژوندی پاتېدلای سي] لِأَنَّهُ حِينَئِذٍ يَكُونُ الْمَوْتُ مُضَافًا إِلَى الرَّمْيِ الثَّانِي ځکه چي په دې وخت کي د ښکار مړ کېدل دويمو ويشتلو [دويم وار] ته منسوب کيږي وَأَمَّا إِذَا كَانَ الْأَوَّلُ بِحَالٍ لَا يَسْلَمُ مِنْهُ

الصَّیْدُ لیکن که اول وار ویشتل داسي ډول [سخت] وي چي له هغه څخه ښکار سالم [او ژوندی] نه پاتیږي بِأَنْ لَا يَبْقٰى فِيْهِ مِنَ الْحَيَاةِ إِلَّا بِقَدْرِ مَايَبْقٰى فِي الْمَذْبُوْحِ په دې توګه چي په هغه کي ژوند نه پاتیږي مګر دومره اندازه کوم چي په ذبح کړی سوي څاروي کي پاتیږي كَمَا إِذَا أَبَانَ رَأْسَهُ لکه کله چي د هغه سر جلا کړي يَحِلُّ نو ښکار حلال دی لِأَنَّ الْمَوْتَ لَا يُضَافُ إِلَى الرَّمْيِ الثَّانِيْ ځکه چي مرګ دويمو ويشتلو [دويم وار] ته نه منسوب کيږي لِأَنَّ وُجُوْدَهُ وَعَدَمَهُ بِمَنْزِلَةٍ ځکه چي اوس د هغه [دويم وار] شتون او نشتون سره برابر دي.

اللغات: ﴿لا يسلم﴾ د سمع له بابه د نفي صيغه ده: سالم او روغ رمټ پاتېدل، خوندي کېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که د اول کس په غشي سره ښکار سخت زخمي سي چي خپل قوت او امتناع د لاسه ورکړي او نه سي تښتېدلای، خو څه ژوند پکښي پاته وي چي په دې دوران کي دويم کس هم پر هغه وار وکړي او مړ يې کړي، نو په دې صورت کي مذکوره ښکار د اول کس دی يعني اول چي کوم کس دا ښکار په غشي ويشتلی دی هغه يې مالک دی، لیکن دا ښکار به نه خوړل کيږي؛ ځکه په هغه کي دا احتمال سته چي د دويم کس په غشي سره به مړ سوی وي او په داسي حالت کي په دويم غشي سره مړ کېدل ذبح اضطراري نه ده؛ ځکه کله چي د اول غشي ويشتلو په وجه ښکار له صيديّت (ښکار والي) څخه ووتی، نو د هغه ذبح اختياري لازم سوه (چي په چاړه وغيره سره به ذبح کول کيږي) او پر دې ذبح قدرت موجود دی (ځکه چي ښکار نه سي تښتېدلای)، او په دې دوران کي دويم کس هغه په غشي وويشتی حال دا چي هغه ښکار نه دی، نو حرام سو. او په مخکيني صورت کي هغه له صيديّت څخه وتلی نه وو، نو ځکه د دويم غشي ويشتل ذبح اضطراري سوه. همدا په دواړو مسئله کي د فرق وجه ده.

لیکن د خوړلو حرمت هغه وخت دی کله چي اول غشی داسي لګېدلی وي چي د ښکار د ژوندي پاتېدلو توقع وي چي هغه بچ کېدلای سي، نو په دې وخت کي د هغه مرګ د دويم غشي وطرف ته منسوب کيږي. خو که اول غشی داسي لګېدلی وي چي ښکار نه سي بچ کېدلای او په هغه کي فقط دومره ژوند پاته سي څومره چي په مذبوح څاروي کي وي مثلاً د اول غشي په وجه د هغه سر له تن څخه جلا سي او په همدې وخت کي دويم کس هغه ووېلي، نو اوس هغه حلال دی؛ ځکه دلته د هغه مرګ د دويم غشي وطرف ته منسوب نه دی، بلکي دويم غشی خو دلته د عدم په درجه کي دی د هغه وجود او عدم سره برابر دي. يعني ګواکي دويم غشی ګردسره پر هغه لګېدلی نه دی.

د امام محمد او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله اختلاف

وَإِنْ كَانَ الرَّمْيُ الْأَوَّلُ بِحَالٍ لَا يَعِيشُ مِنْهُ الصَّيْدُ او که اول ويشتل په دې ډول وي چي له هغه څخه ښکار ژوند نه سي کولای إِلَّا أَنَّهُ بَقِيَ فِيهِ مِنَ الْحَيَاةِ أَكْثَرُ مِمَّا يَكُونُ بَعْدَ الذَّبْحِ خو په هغه کي دومره ژوند پاته سي کوم چي له ذبح وروسته والا ژوند څخه زيات وي بِأَنْ كَانَ يَعِيشُ يَوْمًا أَوْ دُونَهُ په دې توګه چي هغه يوه ورځ يا تر دې کم ژوندی کولای سي فَعَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ لَا يَحْرُمُ بِالرَّمْيِ الثَّانِي نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول مطابق هغه په دويمو ويشتلو سره نه حراميږي لِأَنَّ هٰذَا الْقَدْرَ مِنَ الْحَيَاةِ لَا عِبْرَةَ بِهَا عِنْدَهُ ځکه د هغه په نېز دومره ژوند لره اعتبار نسته وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَحْرُمُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حراميږي لِأَنَّ هٰذَا الْقَدْرَ مِنَ الْحَيَاةِ مُعْتَبَرٌ عِنْدَهُ ځکه د هغه په نېز دومره ژوند معتبر دی عَلَى مَا عُرِفَ مِنْ مَذْهَبِهِ لکه څرنګه چي [مخکي] د هغه دا مذهب پېژندل سوی دی. فَصَارَ الْجَوَابُ فِيهِ وَالْجَوَابُ فِيمَا إِذَا كَانَ الْأَوَّلُ بِحَالٍ لَا يَسْلَمُ مِنْهُ الصَّيْدُ سَوَاءٌ نو د دې صورت حکم او د هغه صورت حکم کله چي اول ويشتل په دې ډول وي چي له هغه څخه ښکار سالم نه سي پاتېدلای سره برابر دي فَلَا يَحِلُّ نو ځکه ښکار به حلال نه وي.

اللغات: ﴿يعيش﴾ د ضرب د باب مضارع ده: ژوند کول، ژوندی پاتېدل. ﴿الرمی﴾ د ضرب د باب مصدر دی: (غشی) ويشتل، غورځول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که تر اول غشي وروسته د ښکار حالت داسي وي چي ژوندی نه سي پاتېدلای، لېکن په هغه کي د مذبوح څاروي له ژوند څخه زيادت ژوند پاته وي يعني يوه يا دوې ورځي ژوند کولای سي، نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دومره ژوند اعتبار نه کوي او دويم غشی لغو ګرځوي او ښکار حلال دی چي دويم غشی هغه نه حراموي، لېکن مخکي د امام محمد رَحِمَهُ الله مذهب وپېژندل سو چي د هغه په نېز دومره ژوند هم معتبر دی. لهذا د هغه په نېز ښکار حرام دی.

نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې مسئله او مخکني مسئله کي چي هلته دا توقع وي چي ښکار ژوندی پاتېدلای سي او بيا دويم کس هغه وويلي او قتل يې کړي، يو حکم دی. يعني د هغه په نېز په دواړو مسئلو کي همدا يو جواب دی چي ښکار حرام دی.

پر دويم ښکاري د ضمان لازمېدلو حکم

قَالَ: وَالثَّانِيْ ضَامِنٌ لِقِيْمَتِهِ لِلْأَوَّلِ فرمايي: او دويم کس داول کس لپاره د ښکار د قيمت ذمه وار دی [چې د هغه ضمان (تاوان) به ورکوي] غَيْرَمَا نَقَصَتْهُ جِرَاحَتُهُ ماسوا د هغه حصې کوم چې داول کس زخم ناقصه کړي وي لِأَنَّهُ بِالرَّمْيِ أَتْلَفَ صَيْدًا مَمْلُوْكًا لَهُ ځکه دويم کس په ويشتلو سره داسې ښکار هلاک کړی کوم چې داول کس په ملکيت کې دی لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِالرَّمْيِ الْمُثْخِنِ ځکه اول کس په سخت ويشتلو سره د ښکار مالک سو وَهُوَ مَنْقُوْصٌ بِجِرَاحَتِهِ او هغه ښکار د اول کس په زخم سره ناقص [معيوب] سوی دی وَقِيْمَةُ الْمُتْلَفِ تُعْتَبَرُ يَوْمَ الْإِتْلَافِ او د هلاک سوي [ښکار] قيمت د هلاکولو د ورځې معتبر دی.

اللغات: ﴿نقصته﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: کمول. ناقص کول. نقص او نقصان پکښې راوستل. ﴿أتلف﴾ د افعال د باب ماضي ده: تلفول. ضايع کول. هلاکول. **مُتْلَف:** له همدې بابه د مفعول صيغه ده. ﴿مُثْخِن﴾ د افعال د باب فاعل دی: ډېر سخت (سخت زخمي کونکی).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې کله اول کس پر ښکار دومره سخت وار وکړي چې ښکار خپل د امتناع او دفاع قوت د لاسه ورکړي بيا دويم کس پر هغه وار وکړي او هلاک يې کړي. نو په دې صورت کې پر دويم کس د ښکار د قيمت ضمان (تاوان) واجبېږي چې اول کس ته به يې ورکوي. ځکه مخکې ذکر سوه چې په دې صورت کې اول کس د ښکار مالک سو (او پر هغه ذبح اختياري لازم سوه)، خو پر دويم کس د روغ رمټ ښکار قيمت نه دی واجب. بلکې د اول کس تر وار وروسته چې د ښکار څومره قيمت وي. هاغه پر دويم کس واجب دی. او بل دا خبره هم يادلرئ! چې د هغه ورځې قيمت پر واجب دی په کومه ورځ چې ښکار هلاک سوی دی. د ضمان اداء کولو د ورځې قيمت پر واجب نه دی، مثلاً که د ښکار هلاکېدلو په ورځ د هغه قيمت پنځه سوه (۵۰۰) درهمه وي. او د اداء کولو په ورځ شپږ سوه (۶۰۰) وي. نو پر دويم کس (۵۰۰) درهمه واجب دي.

د ضمان نور تفصيل

قَالَ رَحِمَهُ اللهُ: تَأْوِيْلُهُ إِذَا عُلِمَ أَنَّ الْقَتْلَ حَصَلَ بِالثَّانِيْ صاحب د هدايه رَحِمَهُ الله فرمايي: د دې تأويل دا دی چې کله دا معلومه سي چې قتل په دويمو ويشتلو [دويم واري] سره واقع سوی دی بِأَنْ كَانَ الْأَوَّلُ بِحَالٍ يَجُوْزُ أَنْ يَسْلَمَ الصَّيْدُ مِنْهُ په دې توګه چې اول ويشتل په دې ډول وي چې ښکار له هغه څخه سالم [ژوندی] پاتېدلای سي وَالثَّانِيْ بِحَالٍ لَا يَسْلَمُ الصَّيْدُ مِنْهُ او دويم په دې ډول وي چې ښکار له هغه څخه سالم نه سي پاتېدلای لِيَكُوْنَ الْقَتْلُ كُلُّهُ مُضَافًا إِلَى الثَّانِيْ د دې لپاره چې قتل ټوله دويمو ويشتلو ته منسوب سي

وَقَدْ قَتَلَ حَيَوَانًا مَمْلُوكًا لِلْأَوَّلِ مَنْقُوصًا بِالْجِرَاحَةِ حال دا چې هغه داسي حيوان قتل کړی دی کوم چي د اول کس په ملکيت کي دی او په زخم سره ناقص سوی دی فَلَا يَضْمَنُهُ كَمَلًا نو ځکه دويم کس به د ټوله حيوان نه ضامن کيږي كَمَا إِذَا قَتَلَ عَبْدًا مَرِيضًا لکه په هغه صورت کي کله چي مريض غلام قتل کړي وَإِنْ عَلِمَ أَنَّ الْمَوْتَ حَصَلَ مِنَ الْجِرَاحَتَيْنِ أَوْ لَا يُدْرَى او که دا خبره معلومه سي چي مرګ په دواړو زخمونو [دواړو غشو] سره واقع سوی دی يا معلومه نه سي [چي د کوم يوه د غشي په وار سره مړ سوی دی] قَالَ فِي الزِّيَادَاتِ: يَضْمَنُ الثَّانِي مَا نَقَصَتْهُ جِرَاحَتُهُ نو امام محمد رَحِمَهُ الله په زيادت کي ويلي دي: چي دويم کس د هغه حصې ضامن کيږي چي د ده زخم ناقصه کړې وي ثُمَّ يَضْمَنُ نِصْفَ قِيمَتِهِ مَجْرُوحًا بِجِرَاحَتَيْنِ بيا د ښکار د هغه حالت د قيمت ضامن کيږي چي هغه په دواړو زخمونو سره زخمي وي ثُمَّ يَضْمَنُ نِصْفَ قِيمَةِ لَحْمِهِ بيا د هغه د غوښو د نصف قيمت ضامن کيږي.

اللغات: ﴿يسلم﴾ د افعال د باب مضارع ده: سالم پاتېدل، خوندي او بچ کېدل. ﴿منقوص﴾ د نصر د باب مفعول دی: کم کړی سوی، ناقص، نقص پکښې راغلی. ﴿كملا﴾ د كرُم د باب مصدر دی: په پوره توګه.

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چي مخکي پر دويم کس د ضمان واجبېدلو کوم حکم بيان سوی دی هغه مطلق نه دی، بلکي په هغه کي څه تفصيل دی او تفصيل دا دی چي هلته د ضمان واجبېدلو په هکله درې صورتونه دي:

①... يو دا چي معلومه سي چي ښکار د دويم غشي په وار سره مړ سوی دی.

②... يا دا معلومه سي چي ښکار د دواړو په وار سره مړ سوی دی.

③... يا دا معلومه نه سي چي د کوم يوه په وار سره مړ سوی دی.

اوس که اول صورت وي يعني دا معلومه سي چي ښکار د دويم کس په وار سره مړ سوی دی. په دې توګه چي د اول کس له وار څخه وروسته د ښکار د ژوندي پاتېدلو امکان وي. نو په دې صورت کي دويم کس د ښکار د قيمت ضامن کيږي. لېکن د روغ رمټ ښکار د قيمت نه ضامن کيږي بلکي د زخمي او ناقص ښکار د قيمت ضامن کيږي؛ ځکه هغه همدا سي ښکار هلاک کړی دی. لهذا څرنګه چي د مريض غلام په قتلولو سره د مريض غلام قيمت واجبيږي. همدغه ډول د معيوب او ناقص ښکار په وژلو سره د معيوب قيمت واجبيږي.

او که دويم يا دريم صورت وي يعني دا معلومه سي چي ښکارو دواړو په وار سره مړ سوی دی. يا د چا په وار سره مړ سوی دی دا معلومه نه سي. نو په دې صورتونو کي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په زيادات کي نقل سوي دي چي پر دويم کس درې ضمانه واجبيږي: ① ضمان نقصان. يعني د نقصان (ناقص کېدو)

ضمان. ② د نصف قيمت ضمان. ③ د غوښو د قيمت نصف ضمان. اوس تاسي په دې مثال سره په هغه ځان پوه کړئ! چې د روغ رمې ښکار ټوله قيمت مثلاً شپږ سوه (۶۰۰) درهمه وو. بيا اول کس چې هغه زخمي کړې نو قيمت يې پنځه سوه (۵۰۰) درهمه سو. او کله چې دويم کس هغه زخمي کړی. نو قيمت يې څلور سوه (۴۰۰) درهمه پاته سو. نو څرنګه چې د دويم کس په وار او زخمي کولو سره د ښکار قيمت سل (۱۰۰) درهمه ناقص او کم سوی دی. نو ځکه د ضمان نقصان په توګه پر هغه (۱۰۰) درهمه واجبيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په "يضمن الثاني ما نقصته جراحته" سره همدا خبره بيان کړې ده.

او څرنګه چې د دواړو زخمونو (وارونو) په وجه د ښکار له مجموعي قيمت يعني له شپږ سوه (۶۰۰) درهمو څخه دوه سوه (۲۰۰) درهمه کم سوي دي او د ښکار قيمت څلور سوه (۴۰۰) درهمو ته رسېدلی دی. نو پر دويم کس د دغه قيمت (يعني د۴۰۰) نصف دوه سوه (۲۰۰) درهمه هم واجبيږي. همدا خبره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په "ثم يضمن نصف قيمت مجروحا بجراحتين" سره بيان کړې ده. بيا به کتل کيږي چې تر دې حالتونو وروسته د ښکار د غوښو قيمت څو دی؟ که چيرې غوښې مثلاً دوه سوه (۲۰۰) درهمه قيمت لري. نو پر دويم کس د هغه هم نصف يعني سل (۱۰۰) درهمه واجبيږي. چې دا خبره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په "ثم يضمن نصف قيمة لحمه" سره بيان کړې ده. او موږ ستاسي د آسانۍ لپاره په مثالو سره دا مسئله څرګنده کړه.

د پورتنۍ مسئلې دليل

أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّهُ جَرَحَ حَيَوَانًا مَمْلُوكًا لِلْغَيْرِ کوم چې اول ضمان دی نو ځکه چې دويم کس داسې ښکار زخمي کړی دی کوم چې د بل چا [اول کس] په ملکيت کې دی وَقَدْ نَقَصَهُ او هغه يې ناقص کړی دی [نقص او عيب يې پکښې پيدا کړی دی] فَيَضْمَنُ مَا نَقَصَهُ أَوَّلًا نو ځکه دويم کس به اول د هغه حصې ضمان ورکوي کوم چې ده ناقصه کړې وي وَأَمَّا الثَّانِي فَلِأَنَّ الْمَوْتَ حَصَلَ بِالْجِرَاحَتَيْنِ او کوم چې دويم ضمان دی نو ځکه چې مرګ په دواړو زخمونو سره واقع سوی دی فَيَكُونُ هُوَ مُتْلِفًا نِصْفَهُ وَهُوَ مَمْلُوكٌ لِغَيْرِهِ نو دويم کس به د هغه نيم ښکار هلاکونکی وي حال دا چې هغه د بل چا [اول کس] په ملکيت کې دی فَيَضْمَنُ نِصْفَ قِيمَتِهِ مَجْرُوحًا بِالْجِرَاحَتَيْنِ نو ځکه دويم کس به د ښکار د هغه حالت د قيمت ضامن وي چې هغه په دواړو زخمونو سره زخمي وي لِأَنَّ الْأُولَى مَا كَانَتْ بِصُنْعِهِ ځکه اول زخم د هغه د فعل په وجه نه دی وَالثَّانِيَةُ ضَمِنَهَا مَرَّةً او د دويم زخم هغه يو وار ضامن سوی دی فَلَا يَضْمَنُهَا ثَانِيًا نو ځکه دويم ځل به د هغه نه ضامن کيږي وَأَمَّا الثَّالِثُ او کوم چې دريم ضمان دی فَلِأَنَّ بِالرَّمْيِ الْأَوَّلِ صَارَ بِحَالٍ يَحِلُّ بِذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ لَوْلَا رَمْيُ الثَّانِي نو هغه ځکه چې په اولو ويشتلو سره ښکار په دې دول سو چې هغه په ذبح اختياري سره حلال ګرځېدی

که چیري د دویم کس ویشتل نه وای فَهٰذَا بِالرَّمْيِ الثَّانِيْ أَفْسَدَ عَلَيْهِ نِصْفَ اللَّحْمِ نو هغه په دویمو ویشتلو سره پر اول کس د غوښو نیمه حصه فاسده کړه فَيَضْمَنُهُ نو ځکه هغه دیوه نصف [نیمایي غوښو] ضامن کیږي وَلَا يَضْمَنُ النِّصْفَ الْآخَرَ او د بل نصف یې نه ضامن کیږي لِأَنَّهُ ضَمِنَهُ مَرَّةً ځکه چې هغه یو وار د دې ضامن سوی دی فَدَخَلَ ضَمَانُ اللَّحْمِ فِيْهِ نو په هغه ضمان کې د غوښو ضمان [هم] داخل سوی دی.

تشریح: مخکې چې په دویم او دریم صورت کې پر دویم کس کوم درې ضمانونه واجب کړل سوي دي. دلته د هغه دلیل بیانوي. حاصل یې دا دی چې اول یعني ضمان نقصان ځکه پر واجب دی چې دویم کس د اول کس مملوک ښکار زخمي کړی دی او د هغه قیمت یې ناقص کړی دی. نو ځکه تر ټولو مخکې به هغه ضمان نقصان اداء کوي. او بیا څرنګه چې هغه ښکار د دواړو په وار او زخم سره مړ سوی دی او هغه د اول کس په ملکیت کې دی. نو ځکه پر دویم کس د "مجروح بالجراحتین" ښکار نیم قیمت هم واجب دي او د زخم وغیره هیڅ ضمان پر واجب نه دی؛ ځکه هغه ضمان نقصان اداء کړی دی او په ضمان نقصان کې د زخم تاوان هم داخل دی. نو ځکه جلا ضمان جرح پر هغه واجب نه دی.

او ضمان لحم ځکه پر واجب دی چې د اول کس له وار څخه وروسته هغه ښکار په داسې حالت کې وو چې هغه په ذبح اختیاري سره حلال کېدلای سو (نه په ذبح اضطراري سره)، خو دویم کس هغه د غشي په وار (ذبح اضطراري) سره قتل کړی او د هغه غوښې یې حرامې کړي، لهذا څرنګه چې د ښکار نصف قیمت پر هغه واجب دي، همداسې د هغه د غوښو هم نصف قیمت پر واجب دی. او د پاته نصف قیمت نه پر واجبیږي کنې پر هغه غریب به د ټوله غوښو قیمت واجب سي. حال دا چې د ښکار د نصف قیمت په اداء کولو سره هغه د غوښو هم قیمت اداء کړی دی. نو ځکه اوس پر هغه فقط د یوه نصف (نیمایي غوښو) قیمت واجب دی.

تر اول غشي وروسته د دویم غشي د ویشتلو حکم

وَإِنْ كَانَ رَمَاهُ الْأَوَّلُ ثَانِيًا او که هغه ښکار همدا اول کس دویم وار ویشتلی وي فَالْجَوَابُ فِيْ حُكْمِ الْإِبَاحَةِ كَالْجَوَابِ فِيْمَا إِذَا كَانَ الرَّامِيْ غَيْرَهُ نو د هغه د روایښت د حکم په هکله جواب د هغه صورت د جواب په څېر دی کله چې ویشتونکی له اول کس څخه بغیر بل څوک وي وَيَصِيْرُ كَمَا إِذَا رَمَى صَيْدًا عَلٰى قِنَّةِ جَبَلٍ فَأَثْخَنَهُ او داسې ګرځي لکه څوک چې د غره پر څوکه یو ښکار وویلي او هغه سخت زخمي کړي ثُمَّ رَمَاهُ ثَانِيًا فَأَنْزَلَهُ بیا یې دویم وار هم وویلي او هغه را شوه کړي لَا يَحِلُّ نو هغه حلال نه دی لِأَنَّ الثَّانِيَ مُحَرِّمٌ ځکه چې دویم وار ویشتل حرامونکی دی كَذَا هٰذَا نو همداسې دا هم دي [یعني همداسې په مذکوره صورت کې هم دویم وار ویشتل حرامونکي دي].

اللغات: ﴿قِمّة جبل﴾ دغره څوکه (دغره سر).

تشریح: دعبارت حاصل دا دی چي که په اول غشي سره ښکار دومره زخمي سي چي تر دې وروسته په ذبح اختیاري سره ذبح کېدلای سي، خو بیا هم ښکاري کس ذبح اختیاري پرېږدي او ښکار په بل غشي سره وویلي چي د هغه په وجه ښکار مړ سي، نو داسي ښکار حلال نه دی؛ ځکه چي د هغه لپاره ذبح اختیاري متعیّنه سه (چي په چاړه وغیره سره به يې ذبح کوي). لېکن هغه د ذبح اختیاري پر ځای ذبح اضطراري (په بل غشي ویشتل) اختیار کړه، نو په دې دویم بې ځایه غشي سره هغه ښکار حرام سو. د دې مثال داسي دی لکه یو ښکار چي دغره پر څوکه ولاړ وي او ښکاري کس هغه وویلي او سخت يې زخمي کړي چي ښکار خپل قوت دلاسه ورکړي (نو باید هغه يې ذبح کړي). خو هغه د ذبح پر ځای بل وار پر وکړي او لاندي يې را ایله کړي او هغه مړ سي، نو دا ښکار هم حلال نه دی: ځکه چي دلته هم تر اول غشي وروسته ذبح اختیاري لازمه سوه، لېکن هغه ذبح اضطراري اختیار کړه. لهذا څرنګه چي په دې صورت کي ښکار حرام دی، نو همداسي به په پورتني صورت کي هم ښکار حرام وي.

ښکار صرف د مأكول اللحم خارویو سره خاص نه دی

قَالَ: وَيَجُوزُ اِصْطِيَادُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الْحَيَوَانِ وَمَا لَا يُؤْكَلُ فرمايي: او جائز دي ښکار کول د هغه حیوان چي غوښي يې خوړل کیږي او د هغه چي غوښي يې نه خوړل کیږي لِإِطْلَاقِ مَا تَلَوْنَا د هغه آیت د مطلق والي په وجه کوم چي موږ ولوستی وَالصَّيْدُ لَا يَخْتَصُّ بِمَأْكُوْلِ اللَّحْمِ او ښکار صرف د هغه حیوان سره خاص نه دی چي غوښي يې خوړل کیږي قَالَ قَائِلُهُمْ: او د دوی [شاعرانو] یوه ویونکي ویلي دي:

صَـيْدُ الْمُلُوْكِ أَرَانِبُ وَثَعَالِبُ

دباچاهانو ښکار سویان او ګیدړان دي

وَإِذَا رَكِبْتُ فَصَيْدِيَ الْأَبْطَالُ

او کله چي بیا زه سپور سم نو زما ښکار بهادران دي [یعني زه صرف زړور خلک ښکاروم]

وَلِأَنَّ صَيْدَهُ سَبَبٌ لِلِانْتِفَاعِ بِجِلْدِهِ او ځکه چي د هغه [غیر مأكول اللحم حیوان] ښکار د هغه له څرمني څخه د نفع اخیستلو سبب دي أَوْ شَعْرِهِ أَوْ رِيْشِهِ یا د هغه له وړېښتو یا بڼکو څخه [د نفع اخیستلو

سبب دي. کله چې د هغه ورېښته پکار راځي يا چې هغه مارغه وي او بڼې يې پکار راځي] أَوْلِاسْتِدْفَاعِ شَرِّهِ يا د هغه د شرّ ليرې کولو سبب دي وَكُلُّ ذٰلِكَ مَشْرُوْعٌ او دا ټوله په شريعت کې روا دي.

اللغات: ﴿أرانب﴾ جمع د أَرْنَب ده: سوی (سوی ګی). ﴿ثعالب﴾ جمع د ثَعْلَب ده: چغال، ګيدړه. ابن انباري رَحِمَهُ الله ويلي دي چې "يقع على الذكر والأنثىٰ". ﴿أبطال﴾ جمع د بَطَلٌ ده: بهادر او زړور (مېړنی)، پر جنګ اقدام کونکی. ﴿رِيش﴾ د مارغانو بڼې، بڼکې. ﴿استدفاع﴾ د استفعال د باب مصدر دی؛ طلب د دفع کول. د يو شي د ليرې کولو طلب کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه د مأكولُ اللحم ښکارول جائز دي. همداسې د غير مأكولُ اللحم حيوانانو ښکار هم جائز دی؛ ځکه د قرآن کريم دا آيت ﴿وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا﴾ مطلق دی، يعني په دې کې د مأكول اللحم او غير مأكول اللحم هيڅ قيد او تخصيص نسته. لهذا على الاطلاق به د هر ډول ډول حيوان ښکار جائز وي.

په دې هکله دويم دليل دا دی چې لفظ د "صَيد" هم فقط د مأكول اللحم حيوانانو سره خاص نه دی، بلکې له هغوی څخه بغير پر انسانانو هم د هغه اطلاق کيږي، مثلاً په "وإذا ركبتُ فصيدى الأبطال" کې له أبطال څخه مراد زړور خلک دي او دلته پر هغو د صيد اطلاق سوی دی.

او د غيرِ مأكول اللحم حيوان د ښکار د جائز کېدلو عقلي دليل دا دی چې که څه هم د هغه له غوښو څخه نفع نه اخستيل کيږي او روا نه دي، خو که هغه ښکار کړل سي نو د هغه له څرمني، يا د هغه له ورېښتو، بڼکو وغيره څخه نفع اخيستل کيږي يا د هغه شر او حمله دفع کول کيږي او دا ټوله روا دي، نو په دې حواله سره هم د غيرِ مأكول اللحم حيوانانو ښکار جائز او روا دی. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



يادونه: له كتابُ الرهن څخه بيا تر آخره پوري مونږ عموماً له احسن الهدايه څخه کار اخيستی دی، کوم چې په بعضو ځايو کې د حاشيو نا مطابقه تشريح کړې ده، نو که په يو ځای کې څه تېروتنه محسوسه کړل سي يا په يو ځای کې زيات وضاحت ته ضرورت وي، نو تاسي ضرور صداقت کتب خانې ته د هغه اطلاع ورکړئ! چې په دويم چاپ کې د هغه اصلاح او د هغه نور وضاحت وکړو. (مدني)

كِتَابُ الرَّهْنِ

(دا) کتاب د "ګرو" (په بیان کې) دی

تشريح: د كتابُ الصيد او كتابُ الرهن تر مینځ مناسبت دا دی چې د دواړو مقصود مال حاصلول دي او دواړه د مال حاصلولو مباح اسباب دي، خو څرنګه چې د رهن په مقابله کې د صَید منفعت عام او تام دی، نو ځکه كتابُ الصيد یې له كتابُ الرهن څخه مخکې بیان کړی دی.

د رهن لغوي او اصطلاحي معنیٰ خپله صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په تفصیل سره د شروع په عبارت کې ذکر کړې ده، خو په آسانه وینا به یې موږ هم ذکر کړو، د رَهْن معنیٰ ده په ګرو ورکول، په ګرو ایښوول، په ګرو اخیستل، او ځینې وخت رهن د اسم مفعول یعني د مرهون په معنیٰ سره هم راځي چې د هغه معنیٰ ده: په ګرو ایښوول سوی شی، رَاهِن هغه محتاج کس ته وایي کوم چې له یو چا څخه قرض وغیره واخلي او هغه ته خپل یو شی په ګرو کښېږدي، او مُرْتَهِن هغه کس ته وایي کوم چې قرض ورکړي او د هغه په بدله کې یو شی په ګرو ځني واخلي، مثلاً زید له خالد څخه قرض وغواړي او د قرض په بدله کې یو شی یا یو سامان خالد ته په ګرو (په رهن) کښېږدي، نو زید ته رَاهِن وایي او خالد ته مُرتَهِن وایي او کوم شی او سامان چې په ګرو ایښوول سوی دی هغه ته مَرْهُوْن وایي.

د رهن لغوي او اصطلاحي معنیٰ او شرعي حیثیت

اَلرَّهْنُ لُغَةً حَبْسُ الشَّيْءِ بِأَيِّ سَبَبٍ كَانَ رهن د لغت په اعتبار سره د شي راګرځول دي هغه که په هر سبب سره وي وَفِي الشَّرِيْعَةِ: جَعْلُ الشَّيْءِ مَحْبُوْسًا بِحَقٍّ يُمْكِنُ اِسْتِيْفَاؤُهُ مِنَ الرَّهْنِ او په شریعت کې: رهن یو شی د [خپل] داسي حق په سبب راګرځول دي چې د هغه ترلاسه کول له رهن [مرهون شي] څخه ممکن وي كَالدُّيُوْنِ لکه قرضونه [یعني د خپل قرض په سبب یو شی اخیستل او د ځان سره راګرځول چې بیا له هغه څخه د قرض ترلاسه کول ممکن وي] وَهُوَ مَشْرُوْعٌ او رهن په شریعت کې روا فعل دی لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: ﴿فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ﴾ [البقرة: ۲۸۳] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "فَرِهَانٌ مَّقْبُوْضَةٌ"

وَلِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ اِشْتَرىٰ [1] مِنْ يَهُودِيٍّ طَعَامًا وَرَهَنَهُ بِهِ دِرْعَهُ او ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ له يوه يهودي څخه غله رانيوله او د هغه په بدله کي يې خپله زغره يهودي ته په رهن [په ګرو] کښېښوووله وَقَدِ انْعَقَدَ عَلیٰ ذٰلِكَ الْإِجْمَاعُ او د رهن پر جواز اجماع [هم] منعقد سوی ده وَلِأَنَّهُ عَقْدُ وَثِيْقَةٍ لِجَانِبِ الِاسْتِيْفَاءِ او ځکه چي رهن [د خپل حق] د ترلاسه کولو د اړخ مضبوطولو لپاره يو عقد دی فَيُعْتَبَرُ بِالْوَثِيْقَةِ فِيْ طَرَفِ الْوُجُوْبِ نو ابه د وجوب د اړخ پر مضبوطتيا قياسول کيږي وَهِيَ الْكَفَالَةُ او هغه کفاله ده.

اللغات: ﴿حبس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: بندول، منع کول، راګرځول. ﴿مشروع﴾ په شريعت کي روا. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ترلاسه کول، اخيستل. ﴿طعام﴾ د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: غله، يعني غنم، اوربشي او داسي نور. ﴿دِرْع﴾ زغره. ﴿وثيقة﴾ مضبوطتيا (مضبوطوالی)، هغه شی چي د هغه په ذريعه معامله مضبوطه کړل سي، سند او دستاويز. (او رهن هم داسي دی، يعني يو سړی چي بل سړي ته قرض ورکړي او له هغه څخه يو شی په رهن کي واخلي نو په دې سره د هغه [مرتهن] لپاره خپل ثمن او قرض اخيستل يقيني او مضبوط وګرځي. همدارنګه په دې سره پر مقروض [راهن] د قرض ورکول مضبوط او لازم سي او قرض ورکونکي [مرتهن] ته اطمينان او اعتماد حاصل سي).

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د کتاب رَحِمَهُ اللهُ د رهن لغوي او شرعي معنیٰ ښوولې ده او بيا يې په شرعي دلائلو سره رهن ثابت کړی دی.

نو فرمايي چي د رهن لغوي معنیٰ ده: "حَبْسُ الشَّيْءِ" يو شی بندول، د ځان سره راګرځول. هغه که په هر سبب سره وي، په قرآن کريم کي دي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ﴾ يعني هر نفس به د خپل کړو ګناهونو په سبب محبوس وي.

او د شريعت په اصطلاح کي د رهن معنیٰ ده: "جَعْلُ الشَّيْءِ مَحْبُوْسًا بِحَقٍّ يُمْكِنُ اِسْتِيْفَاؤُهُ مِنَ الرَّهْنِ" د خپل يو حق يعني د قرض وغيره په سبب يو شی راګرځول د دې لپاره چي د ضرورت په وخت کي د هغه په ذريعه د خپل حق ترلاسه کول ممکن او آسانه وي.

تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الاستقراض، باب من اشترى بالدين، حديث رقم: ۲۳۸۵.

وهو مشروع إلخ: فرمايي چي رهن يو مباح او روا عقد دى چي په كتاب الله، حديث، اجماع او قياس ټولو سره د هغه جواز ثابت دى.

①... **كتاب الله**: ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ﴾. يعني كه تاسي په سفر كي ياست او د قرض اخيستلو نوبت راسي حال دا چي د قرض د خط ليكلو لپاره هيڅ كاتب پيدا نه سي. نو بيا دي قرض اخيستونكى كس يو شى په رهن (په ګرو) ورته كښېږدي او قرض وركونكى دي پر هغه قبضه وكړي، او ځرنګه چي په سفر كي عموماً داسي حالت پېښيږي (خصوصاً په مخكيني دور كي) او د حضر په وخت كي كاتب او ګواه په آساني سره پيدا كيږي، نو ځكه د "عَلَىٰ سَفَرٍ" او "لَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا" قيد لګول سوى دى او صرف په سفر كي د رهن حكم سوى دى، كنې نور د سفر او حضر دواړو رهن جائز دى يعني كه څه هم سړى په سفر كي نه وي او كاتب هم موجود وي، نو هم رهن جائز دى (لكه څرنګه چي په حديث كي ذكر دي).

②... **حديث**: د بخاري او مسلم روايت دى چي نبي ﷺ له يوه يهودي څخه غله رانيوله او د ثمن په بدله كي يې خپله زغره هغه ته په رهن (په ګرو) كښېښووله، نو له دې حديث څخه معلومه سوه چي رهن جائز دى.

③... **اجماع**: او په اجماع سره د رهن ثبوت په دې توګه دى چي ټوله اُمت د هغه پر جواز متفق دى.

④... **قياس**: او په قياس سره د هغه ثبوت په دې توګه دى چي څرنګه د كفالت په وجه د خپل حق په ترلاسه كولو كي مضبوطي راځي، مثلاً كه خالد زيد ته قرض وركړي او عُمر د زيد له طرفه كفيل سي چي كه هغه تا ته قرض نه دركړي نو زه يې دركوم، نو د دې كفالت په وجه د خپل حق په ترلاسه كولو كي يقين او مضبوطي راځي (يعني د كفيل په ذريعه خالد خپل حق بېله څه خند او ستونزي څخه ترلاسه كولاى سي). نو همداسي د رهن په وجه هم د خپل حق (قرض) ترلاسه كولو اړخ مضبوطيږي، او څرنګه چي كفاله په شريعت كي جائز او روا ده، نو پر هغه په قياس كولو سره به رهن هم جائز وي. خلاصه د كلام دا چي په كتاب الله، سنت رسول، اجماع او قياس ټولو سره د عقد رهن جواز ثابت دى.

رهن په ايجاب وقبول سره منعقد كيږي او په قبضه سره پوره كيږي (په دې هكله تفصيل او اختلاف)

قَالَ: الرَّهْنُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ فرمايي: رهن په ايجاب او قبول سره منعقد كيږي وَيَتِمُّ بِالْقَبْضِ او په قبضه سره پوره كيږي قَالُوا: اَلرُّكْنُ الْإِيجَابُ بِمُجَرَّدِهِ مشايخو فرمايلي دي: چي د رهن ركن يوازي ايجاب دى لِأَنَّهُ عَقْدُ تَبَرُّعٍ ځكه چي رهن د تبرع عقد دى فَيَتِمُّ بِالْمُتَبَرِّعِ نو ځكه

هغه به [یوازي] په متبرّع سره پوره کیږي كَالْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ لکه هبه او صدقه وَالْقَبْضُ شَرْطُ اللُّزُوْمِ او قبضه د لزوم شرط ده [یعني رهن هغه وخت لازمیږي کله چي قبضه وسي] عَلٰى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى چي دا به موږ ان شاء الله بیان کړو وَقَالَ مَالِكٌ: يَلْزَمُ بِنَفْسِ الْعَقْدِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي: چي رهن په نفسِ عقد سره لازمیږي لِأَنَّهُ يَخْتَصُّ بِالْمَالِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چي هغه له دواړو طرفونو څخه په مال سره مختص دی فَصَارَ كَالْبَيْعِ نو داسي سو لکه بیع وَلِأَنَّهُ عَقْدُ وَثِيْقَةٍ او ځکه چي رهن د مضبوطتا عقد دی فَأَشْبَهَ الْكَفَالَةَ نو د کفالې سره مشابه سو وَلَنَا مَا تَلَوْنَا او زموږ دلیل هغه آیت دی کوم چي موږ ولوستی [یعني "فَرِهَانٌ مَقْبُوْضَةٌ"] وَالْمَصْدَرُ الْمَقْرُوْنُ بِحَرْفِ الْفَاءِ فِيْ مَحَلِّ الْجَزَاءِ يُرَادُ بِهِ الْأَمْرُ او هغه مصدر چي د فاء حرف ور سره متصل وي د جزاء په محل کي له هغه څخه امر مرادیږي وَلِأَنَّهُ عَقْدُ تَبَرُّعٍ او ځکه چي رهن د تبرع عقد دی لِمَا أَنَّ الرَّاهِنَ لَا يَسْتَوْجِبُ بِمُقَابَلَتِهِ عَلَى الْمُرْتَهِنِ شَيْئًا ځکه راهن د رهن په مقابله کي پر مرتهن د هیڅ شي نه مستحق کیږي وَلِهٰذَا لَا يُجْبَرُ عَلَيْهِ په همدې وجه پر راهن جبر نه کیږي فَلَا بُدَّ مِنْ إِمْضَائِهِ نو ځکه د رهن نافذول ضروري دي كَمَا فِي الْوَصِيَّةِ لکه څرنګه چي په وصیت کي دي وَذٰلِكَ بِالْقَبْضِ او نافذول د قبضې په ذریعه کیږي ثُمَّ يُكْتَفٰى فِيْهِ بِالتَّخْلِيَةِ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ بیا د ظاهر روایت مطابق [د رهن] په قبضه کي به صرف پر تخلیه [ورسپارلو] اکتفاء کیږي لِأَنَّهُ قَبْضٌ بِحُكْمِ عَقْدٍ مَشْرُوْعٍ ځکه چي دا [د رهن قبضه] د داسي عقد په حکم سره ده کوم چي مشروع دی فَأَشْبَهَ قَبْضَ الْمَبِيْعِ نو د مبیع د قبضې سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿مُجرّد﴾ یوازي، خالي، صرف، ﴿تبرّع﴾ تفعّل د باب مصدر دی: احسان کول، بلا عوضه (مفت) شی ورکول، داسي کار کول کوم چي د انسان پر ذمه واجب نه وي لکه وصیت، هبه او داسي نور، ﴿متبرّع﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: تبرّع کونکی، ﴿إمضاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: جاري کول، نافذول، باقي پرېښوول، ﴿التخلية﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي، یوه معنیٰ یې ده: دوه شیان یا دوه کسان په خپل مینځ کي

سره پرېښوول او داسي نور. او كله چي د مبيع او داسي نورو سره ذكر سي. نو معنىٰ يې ده: ورسپارل. حواله كول. يعني له شي څخه خپله قبضه ختمول او بل چا ته سپارل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي څرنګه نور عقدونه په ايجاب و قبول سره منعقد کيږي. همداسي رهن هم په ايجاب و قبول سره منعقد کيږي او په قبضه سره تاميږي (يعني كله چي مرتهن پر مرهون شي قبضه وکړي نو رهن پوره کيږي). همدا د جمهورو احنافو مسلک دی. په دې هکله شيخ الاسلام خواهر زاده رَحِمَهُ الله فرمايي چي محض ايجاب رکن دی بس. او قبول رکن نه دی بلکي شرط دی. خو زيات ته صحيح دا ده چي دواړه رکن دي.

امام خواهرزاده رَحِمَهُ الله په دليل كي فرمايي چي رهن عقدِ تبرع دی او كوم څه چي عقدِ تبرع وي هغه فقط د متبرّع په كلام (ايجاب) سره پوره کيږي (يعني د پوره کېدو لپاره يې قبول ته ضرورت نه وي) لكه هبه او صدقه چي د تبرّع عقدونه دي كوم چي فقط د متبرع په كلام (ايجاب) سره پوره کيږي. او قبضه ركن نه دی، بلكي قبضه د عقدِ رهن د لزوم او وجوب لپاره شرط ده.

وقال مالك إلخ: د امام مالک رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي رهن محض په ايجاب و قبول سره لازميږي او قبضه په هغه كي شرط نه ده. او رهن داسي دی لكه بيع. چي په بيع كي ثمن او مبيع دواړه مالونه دي. همدغسي په رهن كي قرض او مرهون شی دواړه مالونه دي. او د بيع د لزوم لپاره قبضه شرط نه ده. نو د رهن د لزوم لپاره به هم قبضه شرط نه وي، او بل دا چي رهن د كفالې سره مشابه دی چي دواړه د مضبوطتيا عقدونه دي (يعني دغه دواړه عقدونه د دې لپاره كيږي چي د دوی په ذريعه د خپل حق تر لاسه كولو اړخ مضبوط سي). او په كفاله كي قبضه شرط نه ده بلكي هغه په قبلولو (قبول) سره لازميږي. نو همداسي به د رهن د لزوم لپاره هم قبضه شرط نه وي.

ولنا إلخ: زموږ په نېز له قبضې څخه بغير رهن نه تاميږي يعني د رهن د پوره کېدو لپاره قبضه شرط ده. په همدې هكله زموږ اول دليل د قرآن كريم دا آيت دی ﴿فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ﴾. دلته رهن د مقبوض كېدلو (قبضه كولو) په صفت سره متصف دی. او كله چي نكره په يو وصف سره متصف ذكر سي. نو هغه عامه وي لكه په "أَلَا رَجُلًا كُوفِيًّا" وغيره كي، نو له دې څخه دا خبره ثابته سوه چي هر رهن به په دغه وصف سره مشروع وي.

دويم دليل دا دی چي رِهَان مصدر دی او پر هغه فاء داخله ده او رِهَان دلته د جزاءٌ په محل كي واقع دی. او كله چي ځای داسي وي (يعني پر مصدر فاء داخله وي او هغه جزاء وي). نو هلته مصدر د امر په

معنیٰ سره وي. لکه د قرآن کريم په دې آيت "فَضَرْبَ الرِّقَابِ" او "فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ" کې، نو دلته مصدر د امر په معنیٰ سره دی او د آيت معنیٰ ده: چې تاسې د رهن معامله کوئ! په داسې حال کې چې پر هغه قبضه کوئ!.

او د قبضې د شرط کېدلو دليل دا هم دی چې رهن د تبرّع عقد دی: ځکه راهن په رهن باندې نه مجبوره کيږي او دا جائز نه دي. او بل دا چې راهن ته د رهن په بدله کې له مرتهن څخه هيڅ شی نه حاصليږي، لهذا د رهن نافذول ضروري دي. د دې لپاره چې د مرتهن استحقاق ثابت سي يعني د مرتهن د خپل حق ترلاسه کېدلو د مضبوطتيا لپاره د رهن نافذول ضروري دي. لکه څرنګه چې وصيت يو تبرّع ده او د موصیٰ لهٗ د حق ترلاسه کېدلو لپاره د هغه نافذول ضروري دي. او رهن د قبضې په ذريعه نافذيږي يعني کله چې مرتهن پر مرهون شي قبضه وکړي نو بيا هغه نافذيږي. نو ځکه په دې حواله سره هم د رهن د لزوم او پوره کېدلو لپاره قبضه شرط ده.

ثم يكتفى إلخ: د دې حاصل دا دی چې قبضه پر دوه قسمه ده: تحقيقي او حکمي. تحقيقي قبضه دا ده چې سړی شی واخلي او د خپل ځان سره يې يووسي او خوندي يې کړي. او حکمي قبضه دا ده چې سړی او شی سره پرېښوول سي چې هر وخت قبضه پر کوي يا په بله وينا دا چې محض شی ور وسپارل سي چې دې تخليه وايي. يعني راهن کس مرهون شی او مرتهن سره پرېږدي يعني هغه ته يې وسپاري نور که مرتهن هر وخت پر هغه قبضه کوي او د قبضه کولو په هکله پر هغه هيڅ پابندي نه وي. نو دلته کومه قبضه شرط ده؟ فرمايي چې په ظاهر روايت کې حکمي قبضه يعني فقط تخليه کافي ده. لکه بائع چې هر کله مشتري ته مبيع وسپاري نو قبضه راغله. همداسې دلته هم دي: ځکه چې قبضه په رهن او بيع دواړو کې د مشروع عقد حکم دی. نو په دواړو کې به تخليه کافي وي. نو څرنګه چې د مبيع قبضه په تخليه سره تاميږي. همداسې به د مرهون شي قبضه هم په تخليه سره تاميږي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يَثْبُتُ فِي الْمَنْقُولِ إِلَّا بِالنَّقْلِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې په منقول شي کې قبضه نه ثابتيږي مګر په منتقل کولو سره [يعني که چيري مرهون شی له منقولي شيانو څخه وي نو قبضه هغه وخت پوره کيږي کله چې هغه د ځان سره يووسي او خپل ځای ته يې منتقل کړي] لِأَنَّهُ قَبْضٌ مُوجِبٌ لِلضَّمَانِ ابْتِدَاءً بِمَنْزِلَةِ الْغَصْبِ ځکه چې [د رهن قبضه] داسې قبضه ده کوم چې ابتداءً د ضمان واجبونکې ده بِخِلَافِ الشِّرَاءِ په خلاف د رانيولو لِأَنَّهُ نَاقِلٌ لِلضَّمَانِ مِنَ الْبَائِعِ إِلَى الْمُشْتَرِي

ځکه چې هغه له بائع څخه مشتري ته ضمان منتقل کوي وَلَيْسَ بِمُوْجِبٍ ابْتِدَاءً او ابتداءً واجبونکی نه دي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ او اول قول زيات صحيح دی.

اللغات: ﴿موجب﴾ دافعال د باب فاعل دی: واجبونکی، ثابتونکی.

تشريح: مخکې ذکر سوه چې د ظاهر روايت مطابق صرف حکمي قبضي (تخليه) کافي ده. خو ل امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چې په منقولي شيانو کي حقيقي قبضه ضروري ده ځکه چې په رهن کي قبضه ابتداءً ضمان واجبوي. لکه په غصب کي چې ابتداءً ضمان واجبيږي. نو څرنګه چې په غصب کي د ضمان ثابتيدلو لپاره نقل ضروري دی. همداسي په رهن کي هم نقل ضروري دی او تخليه کافي نه ده.

او پاته سوه د شراء مسئله، نو هلته ابتداءً ضمان نه واجبيږي. بلکي بعد الشراء او قبل القبض هغه د بائع په ضمان کي دي او بعد القبض د مشتري په ضمان کي داخليږي. نو رهن پر شراء قياسول قياس مع الفارق دی. مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې ظاهر روايت زيات صحيح دی چې په تخليه سره قبضه ثابتيږي.

له قبضي څخه بغير رهن نه لازميږي

قَالَ: وَإِذَا قَبَضَهُ الْمُرْتَهِنُ مَحُوْزًا مُفَرَّغًا مُتَمَيِّزًا فرمايي: او کله چې مرتهن پر مرهون شي قبضه قبضه وکړي په داسي حال کي چې هغه تقسيم سوی، فارغ سوی [خالي] او جلا [غير متصل] وي تَمَّ الْعَقْدُ فِيْهِ نو په هغه [مرهون شي] کي عقدِ رهن پوره کيږي [لازميږي] لِوُجُوْدِ الْقَبْضِ بِكَمَالِهِ ځکه چې په کامله توګه قبضه موجوده سوه فَلَزِمَ الْعَقْدُ نو ځکه عقد به لازميږي وَمَا لَمْ يَقْبِضْهُ او تر څو چې مرتهن پر مرهون شي قبضه نه وکړي فَالرَّاهِنُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ سَلَّمَهُ وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ عَنِ الرَّهْنِ نو راهن ته اختيار دی که وغواړي نو هغه [مرهون] دي ور وسپاري او که وغواړي نو له رهن څخه دي رجوع وکړي لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ اللُّزُوْمَ بِالْقَبْضِ دهغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی چې [د رهن] لازميدل په قبضه سره کيږي إِذِ الْمَقْصُوْدُ لَا يَحْصُلُ قَبْلَهُ ځکه چې تر قبضي مخکي مقصود نه حاصليږي.

اللغات: ﴿مُحُوْزًا﴾ د نصر د باب مفعول دی. مراد: تقسيم کړی سوی، را جلا سوی. د مشاع ضد دی ﴿مفرغ﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: فارغ کړی سوی. هغه کوم چې په بل څه مشغول نه وي (يعني د راهن له ملکيت څخه فارغ وي). ﴿متميز﴾ د تفعل د باب فاعل دی: جلا. هغه کوم چې د بل څه سره متصل نه وي.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی چې کله مرتهن پر مرهون شي قبضه وکړي او مرهون شي تقسيم شده وي يعنې د هيڅ شرکت پکښې نه وي او مفرغ وي مثلاً مرهون شی کور وي او په هغه کې د راهن هيڅ سامان نه وي او متميز هم وي يعنې له شروع څخه د هغه سره يو شی متصل نه وي مثلاً هغه داسې درخته وي چې مېوه کوي (چې د هغې سره مېوه متصله ده). لنډه دا چې کله دا درې سره شرطونه موجود سي، نو رهن کامل او مکمل ګرځي او د قبضې پوره کېدلو په وجه عقد رهن لازميږي. خو تر څو چې مرتهن پر مرهون شي قبضه نه وکړي، تر هغه وخته راهن ته اختيار دی که وغواړي، نو له رهن څخه رجوع کولای سي او که خوښه يې وي نو رهن دې نافذ کړي او شی دې هغه ته وسپاري؛ ځکه مخکې ذکر سوه چې عقد رهن په قبضه سره لازميږي او د رهن مقصود په قبضه سره حاصليږي. نو ځکه تر قبضې مخکې له رهن څخه د رجوع کولو اختيار سته.

د رهن ضايع کېدلو حکم او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف

قَالَ: وَإِذَا سَلَّمَهُ إِلَيْهِ فَقَبَضَهُ فرمايي: او کله چې راهن مرهون شی مرتهن ته وسپاري دَخَلَ فِي ضَمَانِهِ نو هغه د مرتهن په ضمان کې داخليږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي هُوَ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ وَلَا يَسْقُطُ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ بِهَلَاكِهِ چې مرهون شی د مرتهن په قبضه کې امانت دی او د هغه په هلاکېدلو [ضايع کېدلو] سره له قرض څخه هيڅ هم نه ساقطيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام [1] : «لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه چې: رهن [مرهون شی] نه مُسْتَحَق کيږي قَالَهَا ثَلَاثَةً دا يې درې ځله وفرمايل لِصَاحِبِهِ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ» [او ويې وفرمايل] د هغه [مرهون شي] منفعت د رهن والا لپاره دی او پر هاغه يې تاوان [هم] دی قَالَ: وَمَعْنَاهُ لَا يَصِيرُ مَضْمُونًا بِالدَّيْنِ فرمايي: د دې مطلب دا دی چې رهن د قرض په وجه مضمون [ضمان والا] نه ګرځي وَلِأَنَّ الرَّهْنَ وَثِيقَةٌ بِالدَّيْنِ او ځکه چې رهن د قرض مضبوطي ده فَبِهَلَاكِهِ لَا يَسْقُطُ الدَّيْنُ نو ځکه قرض به د رهن [مرهون شي] په هلاکېدلو سره نه ساقطيږي اِعْتِبَارًا بِهَلَاكِ الصَّكِّ د ثبوتي خط [دستاويز] پر هلاکېدو په قياس کولو سره وَهَذَا لِأَنَّ بَعْدَ الْوَثِيقَةِ يَزْدَادُ مَعْنَى الصِّيَانَةِ او دا ځکه چې له مضبوطۍ څخه وروسته د حفاظت [خوندي کېدو] معنیٰ زياتيږي وَالسُّقُوطُ بِالْهَلَاكِ يُضَادُّ مَا اقْتَضَاهُ الْعَقْدُ او د هلاکېدو په وجه د قرض

---

[1] تخريج: أخرجه دار قطني في سننه في كتاب البيوع، حديث [illegible]

ساقطېدل د عقد د مقتضا منافي دي إِذِ الْحَقُّ بِهِ يَصِيرُ بِعَرْضِ الْهَلَاكِ ځکه حق [قرض] د ساقطېدلو په وجه د هلاکېدلو په ځای کي ګرځي [پر هلاکت پېشول کيږي] وَهُوَ ضِدُّ الصِّيَانَةِ او دا د حفاظت ضد دي.

اللغات: ﴿لا يغلق﴾ د سمع د باب نفي صيغه ده. د دې باب په صله کي چي رهن ذکر سي نو معنیٰ يې ده: د رهن (مرهون) مستحق کېدل. مالک کېدل. يعني چي مرتهن د هغه مستحق او مالک سي او راهن يې پرېږدي. د دې صورت دا وو چي قرض اخيستونکی يو شی په رهن (په ګرو) ورته کښېږدي او ووايي چي که ما ستا قرض اداء نه کړی نو د هغه په بدله کي دا شی ستا دی. نو نبي ﷺ له دې څخه منع وکړه چي "لا يغلق الرهن" يعني د قرض خاوند (مرتهن) د خپل قرض په وجه د هغه نه مالک کيږي بلکي هغه د رهن والا (راهن) دی (مصباح المنير). ﴿غُنْم﴾ غنيمت، نفع، فايده. ﴿غُرْم﴾ تاوان، ذمه واري. ﴿وثيقة﴾ مضبوطي (مضبوطتيا). هغه څه چي بل څه په مضبوط کړی سي. ﴿الصك﴾ (د صاد په فتحه سره): د دې لفظ دوې معناوي دي: ① د مال اقرارنامه چي هغه ته عموماً چک ويل کيږي. د مال رسيد. ② ثبوتي خط يعني هغه خط کوم چي د يو معاملې د ثبوت لپاره ليکل سوی وي چي هغه ته دستاويز (لاسوند) وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله مرتهن پر مرهون شي قبضه وکړي نو هغه شی د ده په ضمان کي داخليږي يعني زموږ په نېز پر مرهون شي چي د مرتهن کومه قبضه ده هغه د ضمان قبضه ده مطلب دا چي که مرهون شی هلاک سي نو د مرتهن قرض د هغه په تاوان کي ساقطيږي. د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله د مرتهن قبضه د امانت قبضه شمېري، نو د هغه په نېز د مرهون شي د هلاکېدلو په وجه د مرتهن له قرض څخه يوه روپۍ هم نه ساقطيږي؛ او په دې هکله هغه په دې حديث سره دليل نيسي چي "لا يغلق الرهن، لصاحبه غنمه وعليه غرمه" يعني رهن (د مرتهن) نه مستحق کيږي. د رهن منفعت هم د راهن دی او تاوان يې هم پر هغه دی. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې حديث کي صراحتاً په "وعليه غرمه" سره د رهن او مرهون نقصان او تاوان په راهن باندي لازم سوی دی. نو ښکاره ده چي د مرهون شي د هلاکېدلو په صورت کي د قرض ساقطېدل د دې حديث په خلاف دي کوم چي صحيح نه دي.

په دې هکله عقلي دليل دا دی چي رهن د قرض د مضبوطتيا سبب او ذريعه ده (چي وضاحت يې مخکي وسو). او هر هغه شی کوم چي د قرض د مضبوطتيا ذريعه وي، د هغه په هلاکېدلو سره قرض نه

ساقطيږي، لکه د قرض په هکله ليکل سوی خط (دستاويز) هم د قرض د مضبوطتيا ذريعه وي، ليکن دهغه په هلاکېدلو سره قرض نه ساقطيږي. نو همداسي په صورت مسئله کي به هم د مرهون شي په هلاکېدلو سره قرض نه ساقطيږي.

په دې هکله دويم دليل دا دی چي د عقد رهن په ذريعه د قرض په ادا کېدلو کي مضبوطي پيدا کيږي او په دې سره د قرض د حفاظت مقصد ته تقويه حاصليږي، اوس که د مرهون شي د هلاکېدلو پر بناء قرض ساقط کړل سي، نو ښکاره ده چي دا به د رهن د مقتضا او منشاء خلاف وي او د قرض ساقطېدلو په صورت کي د مرتهن حق هلاکيږي او ضايع کيږي، نو په دې حواله سره هم پکار دا ده چي د مرهون شي په هلاکېدلو سره د مرتهن قرض ساقط نه سي. (احسن الهدايه)

د احنافو دلائل او د امام شافعي رَحِمَهُ الله جواب

وَلَنَا قَوْلُهُ ﷺ لِلْمُرْتَهِنِ بَعْدَ مَا نَفَقَ فَرَسُ الرَّهْنِ عِنْدَهُ او زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی مرتهن ته وروسته تر هغه چي د رهن آس د هغه سره هلاک سو [يعني زموږ دليل دا دی چي د يو مرتهن کس سره مرهون آس هلاک او ضايع سو نو نبي ﷺ ورته وفرمايل] «ذَهَبَ حَقُّكَ» [1] چي ستا حق ختم سو وَقَوْلُهُ ﷺ [2]: «إِذَا عَمِيَ الرَّهْنُ فَهُوَ بِمَا فِيْهِ» او د نبي ﷺ دا فرمان دی: کله چي رهن پټ [مشتبه] سي نو دا رهن به د هغه څه مقابل وي د کوم څه په بدله کي چي وو مَعْنَاهُ عَلَى مَا قَالُوا د دې معنیٰ دا ده لکه څرنګه چي مشايخو ويلي دي إِذَا اشْتَبَهَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ بَعْدَ مَا هَلَكَ چي کله د رهن قيمت مشتبه سي وروسته تر دې چي هغهٔ هلاک سي [يعني د مشايخو د وينا مطابق د "عمی الرهن" معنیٰ ده چي کله د رهن تر هلاکېدلو وروسته د هغه قيمت مشتبه سي] وَإِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَلَى أَنَّ الرَّاهِنَ مَضْمُونٌ او د صحابه وو او تابعينو (رض) پر دې اجماع ده چي رهن مضمون کيږي [يعني د مرهون شی ضمان لازميږي] مَعَ اخْتِلَافِهِمْ فِي كَيْفِيَّتِهِ سره د دوی له اختلافه د ضمان په کيفيت کي فَالْقَوْلُ بِالْأَمَانَةِ خَرْقٌ لَهُ نو د امانت وينا کول د اجماع مخالفت کول دي وَالْمُرَادُ بِقَوْلِهِ عَلَيْهِ ﷺ: «لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ» عَلَى مَا قَالُوا الِاحْتِبَاسُ الْكُلِّيُّ او د نبي کريم ﷺ په دې فرمان "لا يغلق الرهن" سره

---

[1] تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه في كتاب البيوع، باب في الرجل يرهن الرهن، حديث رقم: ۲۳۲۳۳.

[2] تخريج: أخرجه دار قطني في سننه في كتاب البيوع، حديث رقم: ۲۸۹۵.

مراد په پوره توګه بندېدل [راګرځېدل] دي لکه څرنګه چي مشايخو ويلي دي [يعني رهن (مرهون) په کامله توګه د مرتهن په ملکيت کي نه راګرځي (نه بندېږي)] بِأَنْ يَصِيْرَ مَمْلُوْكًا لَهُ په دې توګه چي رهن [مرهون] د مرتهن په ملکيت کي داخل وګرځي [دلته په ځيني نسخو کي تر "بِأَن يصير" مخکي د "والتمكن" لفظ هم سته خو شارحينو نه دی ذکر کړی والله أعلم] كَذَا ذَكَرَ الْكَرْخِيُّ عَنِ السَّلَفِ همداسي امام کرخي رَحِمَهُ الله له سلفو څخه ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿نفق﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده. نَفَقَ يَنْفُقُ نُفُوْقًا: مړه کېدل. روح وتل. هلاکېدل. ﴿عمي﴾ د سمع د باب ماضي ده. د دې باب خپله معنیٰ ده: ړندېدل. لېکن کله چي د دې په صله يو کار، رهن وغيره ذکر سي. نو معنیٰ يې ده: مخفي کېدل، پټېدل. نا څرګندېدل. ﴿اشتبه﴾ د افتعال د باب ماضي ده: مشتبه کېدل. ﴿خرق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: څيرل. توتې کول. مراد: مخالفت کول. (احسن الهدايه). ﴿احتباس﴾ د افتعال د باب مصدر دی: بندېدل. منع کېدل. راګرځېدل.

تشريح: د رهن د مضمون کېدلو (ضمان لازمېدلو) په هکله صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د احنافو له طرفه درې دليلونه پېش کړي دي:

① ... په حديث کي دي چي يو سړي ته په رهن کي آس ورکول سوی وو. بيا هغه (مرهون آس) هلاک سو. نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: "ذَهَبَ حَقُّكَ" ستا حق ختم سو. يعني کله چي تا مرهون شی هلاک کړی، نو د هغه په عوض کي چي ستا کوم قرض وو، هغه هم ختم او ساقط سو. په دې سره خبره څرګنده سوه چي رهن مضمون بالدين کيږي (يعني د مرهون شي د هلاکېدلو په وجه د هغه په ضمان [تاوان] کي قرض ساقطيږي).

② ... دويم دليل دا حديث دی "إذا عمي الرهن فهو بما فيه" يعني کله چي د رهن قيمت مشتبه وي او معلومه نه وي چي هغه د قرض برابر دی يا تر قرض کم يا زيات دی. نو په دې صورت کي به رهن د قرض دواړه برابر شمېرل کيږي او که مرهون شی هلاک سي نو قرض به هم هلاکيږي او ساقطيږي. له دې څخه هم دا خبره معلومېږي چي رهن مضمون بالدين کيږي.

③ ... دريم دليل دا دی چي د رهن د مضمون کېدلو په هکله د صحابه وو او تابعينو اجماع ده. لهذا رهن تبضي ته د امانت قبضه ويل د اجماع مخالفت کول دي او د اجماع مخالفت جائز نه دی.

والمراد بقوله إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د ذکر سوي حديث "لايغلق إلخ" جواب ورکوي فرمايي چي د حديث هغه مطلب نه دی کوم چي امام شافعي رَحِمَهُ الله فهمولی دی. بلکي صحيح مطلب يې دا دی چي د مرتهن لپاره په کامله توګه د ټوله مرهون شي مالک کېدل صحيح نه دي (يعني دا نه سي کېدلای چي ټوله مرهون شی د هغه ملکيت وګرځي). ها! داسي کېدلای سي چي که مرهون شی خرڅ کړی سي او د مرتهن قرض په اداء کړی سي او بيا له هغه څخه چي کوم څه پاته سي فَهُوَلِصَاحِبِ الرَّهْنِ يعني هغه د صاحبُ الرهن (راهن) کيږي. او که څه کم سي فَعَلَيْهِ غُرْمُهُ يعني د هغه تاوان هم پر صاحبُ الرهن دی چي مرتهن ته به يې ورکوي. د دې حديث همدا صحيح مطلب دی. (احسن الهدايه)

د رهن تصوّر او عملي فايده

وَلِأَنَّ الثَّابِتَ لِلْمُرْتَهِنِ يَدُ الِاسْتِيفَاءِ او ځکه چي مرتهن لره [د قرض] ترلاسه کولو قبضه ثابته ده وَهُوَ مِلْكُ الْيَدِ وَالْحَبْسِ او هغه د قبضې او راګرځولو مالک کېدل دي [يعني مرتهن د دې مالک دی چي پر مرهون شي قبضه وکړي او د هغه د ځان سره راوګرځوي] لِأَنَّ الرَّهْنَ يُنْبِئُ عَنِ الْحَبْسِ الدَّائِمِ ځکه رهن د همېشني حبس خبر ورکوي قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ﴾ [المدثر: ۳۸] الله تعالیٰ فرمايلي دي: هر نفس به د خپلو کړو اعمالو په وجه محبوس وي وَقَالَ قَائِلُهُمْ او د دوی [شاعرانو] يوه ويونکي ويلي دي وَفَارَقَتْكَ بِرَهْنٍ لَا فِكَاكَ لَهُ يَوْمَ الْوَدَاعِ (اې زما نفسه!) ستا څخه محبوبه د رخصتی په ورځ په داسي رهن جلا سوه چي د هغه راخلاصېدل نسته فَأَمْسَى الرَّهْنُ قَدْ غَلِقَا نو رهن محبوس وګرځېدی [يعني په کومه ورځ چي زما او د معشوقې ترمينځ بېلتون او رخصتي راغله نو په هغه ورځ هغې زما زړه په داسي رهن (په ګرو) واخيستی او زما زړه يې داسي يوورې او د ځان سره يې محبوس کړی چي بيا له هغې څخه زما د مرهون زړه راخلاصېدل ممکن نه دي] وَالْأَحْكَامُ الشَّرْعِيَّةُ تَنْعَطِفُ عَلَى الْأَلْفَاظِ عَلَى وَفْقِ الْإِنْبَاءِ او شرعي حکمونه د خبر ورکولو موافق پر الفاظو مايل کيږي وَلِأَنَّ الرَّهْنَ وَثِيقَةٌ لِجَانِبِ الِاسْتِيفَاءِ او ځکه چي رهن د ترلاسه کولو [قرض اخيستلو] اړخ لره وثيقه [مضبوطتيا] ده وَهُوَ أَنْ تَكُونَ مُوصِلَةً إِلَيْهِ په دې توګه چي دا وثيقه د [قرض] ترلاسه کولو ته رسونکې ده وَذٰلِكَ ثَابِتٌ بِمِلْكِ الْيَدِ وَالْحَبْسِ او دا [وثيقه استيفاء ته موصل کېدل] د قبضې او حبس په مالک کېدلو سره کيږي لِيَقَعَ

الْأَمْنُ مِنَ الْجُحُوْدِ د دې لپاره چې له انکار څخه امن واقع سي مَخَافَةَ جُحُوْدِ الْمُرْتَهِنِ الرَّهْنَ له رهن څخه د مرتهن د انکار کولو له بیرې وَلِيَكُوْنَ عَاجِزًا عَنِ الْاِنْتِفَاعِ بِهِ او د دې لپاره چې راهن د مرهون شي له نفع څخه عاجزه سي فَيَتَسَارَعُ إِلَى قَضَاءِ الدَّيْنِ لِحَاجَتِهِ أَوْ لِضَجَرِهِ نو د خپل ضرورت یا زړه تنګۍ په وجه د قرض په اداء کولو کې تلوار وکړي.

اللغات: ﴿استیفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ترلاسه کول. پوره اخیستل. ﴿ید﴾ لاس. قبضه. ﴿الحبس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: بندي کول. منع کول. راګرځول. ﴿رهینة﴾ محبوس. راګرځول سوی. قیدي. ﴿فَارَقَتْكَ﴾ له حاشیې څخه معلومیږي چې دا د واحد مؤنث غائب صیغه ده. نه د واحد متکلم (فَارَقْتُكِ) او د کاف ضمیر د شاعر خپل نفس ته خطاب دی. چې ستا څخه خپله محبوبه جلا سوه په داسې رهن سره.... ﴿فكاك﴾ د سمع د باب مصدر دی: رهن راخلاصول. یعني خپل مرهون شی له مرتهن څخه اخیستل. ﴿تنعطف﴾ د انفعال د باب مضارع ده: مائل کېدل. کږېدل. ﴿جحود﴾ د فتح د باب مصدر دی. جَحَدَ يَجْحَدُ جَحْدًا و جُحُوْدًا: انکار کول. ﴿يتسارع﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: تېزي او تلوار کول. ﴿ضَجَر﴾ د سمع د باب مصدر دی. ضَجِرَ يَضْجَرُ ضَجَرًا: زړه تنګېدل (تنګدله کېدل). ناکراره کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د رهن په ذریعه د مرتهن حق او استحقاق مضبوطیږي او د رهن په وجه هغه په آسانه له راهن څخه خپل قرض اخیستلای سي؛ ځکه د رهن په وجه مرتهن ته د قرض ترلاسه کولو قبضه (ملك اليد والحبس) ثابتیږي یعني هغه ته دا حق دی چې پر رهن (مرهون شي) باندې قبضه وکړي او د هغه د خپل ځان سره راوګرځوي یا بله وینا دا چې پر مرهون شي د مرتهن قبضه هم ده او هغه دا د خپل ځان سره راګرځولی هم دی: او دا ځکه چې د رهن معنیٰ ده: راګرځول. بندول. لکه په قرآن کریم چې په همدې معنیٰ سره استعمال سوی دی. الله تعالیٰ فرمایلي دي ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ﴾ چې هر نفس به د خپلو بدو اعمالو په وجه محبوس او بندي وي. وګورئ! دلته هم رَهِيْنَةٌ "مَرْهُوْنَةٌ" په معنیٰ د "مَحْبُوْسَةٌ" سره ده.

همدارنګه په كلامُ الناس کې هم رهن د حَبْس په معنیٰ سره مستعمل دی. لکه څرنګه چې په دې شعر "وفارقتك برهن إلخ" کې رهن د حبس په معنیٰ سره دی. او د شعر مطلب دا دی چې په کومه ورځ زما او ستا تر مینځ بېلتون راغلی دی. له هاغه ورځې څخه زما حالت دا دی چې زما زړه ستا سره

محبوس دی، او په شرعي احکامو کې د الفاظو لغوي معناګانو لره اعتبار وي. نو کله چې د لغت له رويه رهن د حبس په معنیٰ سره دی، نو د شريعت له رويه به هم هغه د حبس په معنیٰ سره وي.

ولأن الرهن إلخ: د دې حاصل دا دی چې رهن د قرض تر لاسه کولو (اخيستلو) غوره او مضبوطه ذريعه ده؛ ځکه چې د رهن په وجه راهن وروسته د مرتهن له قرض څخه انکار نه سي کولای. ځکه هغه ته دا خطره ده چې که زه د قرض انکار وکړم، نو مرتهن به د رهن انکار وکړي (چې تا ما ته هيڅ شی په رهن او ګرو نه دی ايښی)، او ځيني وخت داسې وي چې د مرهون شي ماليت له قرض څخه زيات وي يا مرهون شی داسې وي چې له هغه څخه نفع او ګټه اخيستل کېدلای سي. خو د رهن په وجه راهن له هغه څخه ګټه نه سي اخيستلای؛ ځکه هغه د مرتهن په قبضه کې د هغه سره محبوس وي. نو ځکه راهن ژر تر ژره د قرض اداء کولو په فکر کې وي چې قرضه اداء کړي او مرهون شی ژر تر لاسه کړي او مرتهن ته خپل قرض تر لاسه سي، په همدې وجه ويل کيږي چې په رهن سره د تر لاسه کولو اړخ مضبوطيږي او د هغه وثيقه ده. (احسن الهدايه)

پر پورتني تمهيد مبني يوه مسئله

وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ او کله چې داسې ده يَثْبُتُ الِاسْتِيفَاءُ مِنْ وَجْهٍ نو په يوه اعتبار سره [د حق] تر لاسه کول ثابت سوه وَقَدْ تَقَرَّرَ بِالْهَلَاكِ او د [حق] هلاکېدلو په وجه دا [د حق] تر لاسه کول نور مضبوط سوه فَلَوِ اسْتَوْفَاهُ ثَانِيًا نو که مرتهن دويم وار هغه [حق] تر لاسه کړي يُؤَدِّيْ إِلَى الرِّبٰوا نو دا به سود ته رسول وکړي [د ربوا سبب به وګرځي] بِخِلَافِ حَالَةِ الْقِيَامِ په خلاف د رهن د موجود والي د حالت لِأَنَّهُ يَنْقُضُ هٰذَا الِاسْتِيفَاءَ بِالرَّدِّ عَلَى الرَّاهِنِ ځکه چې پر راهن په واپس کولو سره دا تر لاسه کول ماتيږي فَلَا يَتَكَرَّرُ نو [په دې صورت کې] تر لاسه کول نه مکرر کيږي وَلَا وَجْهَ إِلَى اسْتِيفَاءِ الْبَاقِيْ بِدُوْنِهِ او له قبضې څخه بغير د باقي تر لاسه کولو لره هيڅ صورت نسته لِأَنَّهُ لَا يُتَصَوَّرُ ځکه چې دا متصوّر [او ممکن] نه دي.

اللغات: ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (حق) تر لاسه کول، پوره اخيستل. ﴿تقرّر﴾ د تفعل د باب ماضي ده: نور ثابتېدل، مضبوطېدل (پخېدل). ﴿لا يتصوّر﴾ د تفعّل د باب نفي صيغه ده: متصور کېدل (چې تصور يې کېدلای سي يعني امکان يې وي)، ممکن کېدل.

تشريح: مخکي وويل سوه چي مرهون شی د مرتهن سره محبوس دی او مرتهن لره ملک يد او ملک حبس ثابت دی چي پر مرهون شی د هغه قبضه هم ده او راګرځولی يې هم دی. نو له دې تپولو څخه دا معلوميږي چي مرتهن خپل حق (قرض) من وجه ترلاسه کړی دی، نو که مرهون شی هلاک سي، نو په دې سره د حق ترلاسه کول نور ثابت او پاخهٔ سوه (يعني ګواکي هغه خپل حق پوره ترلاسه کړی). لهذا اوس که مرتهن له راهن څخه بيا خپل حق (قرض) واخلي، نو ربوا (سُود) به لازم سي. او ربوا حرامه ده.

او که سوال وسي چي که مرهون شی موجود وي او له راهن څخه حق (قرض) واخيستل سي، نو دلته خو هم ربوا لازميږي؟. جواب دا دی چي نه لازميږي؛ ځکه کله چي مرهون شی موجود وي، نو هغه خو راهن ته واپس کول کيږي، نو د حق په ترلاسه کولو (استيفاء) کي تکرار نه لازميږي.

ولا وجه إلخ: دا عبارت ديو مقدر اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چي تاسي د مرهون شي ترهلاکېدلو وروسته د قرض اخيستل ربوا ګرځولي ده، حال دا چي موږ تاسو ته داسي صورت ښوولای سو چي د مرهون تر هلاکېدلو وروسته له راهن څخه قرض واخيستل سي او ربوا لازم نه سي. او هغه صورت دا دی چي پر مرهون شي خو مرتهن ته صرف ملک يد (قبضه) حاصله وي. نه ملک رقبه (يعني پر مرهون شي خو فقط د هغه قبضه وي. مالک يې نه وي)، او کله چي مرهون هلاک سي. نو صرف د ملک يد (قبضې) ترلاسه کول ثابت او مضبوط سوه. او د قرض مقابل خو ملک يد او ملک رقبه دواړه دي. نو د مرهون شي په هلاکېدلو سره صرف ملک يد (قبضه) ترلاسه سوه. ملک رقبه پاته دی. نو اوس که مرتهن له راهن څخه ملک رقبه ترلاسه کړي او خپل قرض ځني واخلي. نو دا به ربوا نه وي.

د دې په جواب کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي له ملک يد (قبضې) څخه بغير د باقي يعنئ د ملک رقبه ترلاسه کول ناممکن او نامتصور دي، او که د مرهون تر هلاکېدلو وروسته د ملک رقبه (يعني د خودي قرض) ترلاسه کول جائز وګرځول سي. نو د ملک يد د ترلاسه کولو تکرار به لازم سي کوم چي د ربوا سبب ګرځي. لهذا د ملک رقبه ترلاسه کولو لره هيڅ صورت نسته. (احسن الهدايه)

پر مذکوره نظريه يو اشکال او د هغه جواب

وَالِاسْتِيفَاءُ يَقَعُ بِالْمَالِيَّةِ او ترلاسه کول [اخيستل] پر ماليت واقع کيږي [نه د شي پر عين] أَمَّا الْعَيْنُ فَأَمَانَةٌ کوم چي عين دی نو [هغه] امانت دی حَتَّى كَانَتْ نَفَقَةُ الْمَرْهُونِ عَلَى الرَّاهِنِ فِي حَيَاتِهِ همدا وجه ده چي د مرهون نفقه د هغه په ژوند کي پر راهن ده وَكَفَنُهُ بَعْدَ مَمَاتِهِ او د هغه تر مرګ وروسته د هغه کفن [پر راهن دی] وَكَذَا قَبْضُ الرَّهْنِ لَا يَنُوبُ عَنْ قَبْضِ الشِّرَاءِ إِذَا اشْتَرَاهُ الْمُرْتَهِنُ او

همدارنګه د رهن قبضه د شراء [رانیولو] د قبضې نه قائم مقام کیږي کله چې مشتري رهن رانیسي لِأَنَّ الْعَيْنَ أَمَانَةٌ ځکه چې عین رهن امانت دی فَلَا يَنُوبُ عَنْ قَبْضِ ضَمَانٍ نو د امانت قبضه به د ضمان د قبضې نه قائم مقام کیږي.

اللغات: ﴿مالية﴾ مال کېدل. مال والی. قیمت.

تشریح: دا عبارت هم دیو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې حق (قرض) له خپل جنس څخه اخیستل کیږي او دلته په عَین او دَین کې مجانست نسته. نو د مرهون شي د هلاکېدلو په صورت کې هم دَین نه ساقطېدل پکار دي؛ ځکه مرهون عَین شی وي مثلاً غلام یا بل شی وي او دَین روپۍ او پیسې وي، او د دوی تر مینځ مجانست نسته او له مجانست څخه بغیر حق ترلاسه کول (اخیستل) ممکن نه دي. نو د مرهون تر هلاکېدلو وروسته ګواکې مرتهن خپل حق نه دی ترلاسه کړی. لهذا هغه ته خپل قرض حاصلېدل پکار دي.

د دې په جواب کې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د مرهون شي تر هلاکېدلو وروسته مرتهن د مرهون شي له مالیت څخه خپل حق ترلاسه کړی دی. او د مالیت (مال کېدلو) په حواله سره په دَین او رهن کې مجانست سته. لهذا په دې هکله اعتراض کول صحیح نه دي. (او مجانست ځکه پکښې سته چې دَین هم مال دی او مرهون شی هم مال دی. ځکه مال هر هغه شي ته وایي کوم چې د انسان په ملکیت کې داخل وي او هر هغه شی چې له هغه څخه نفع اخیستل ممکن وي او هغه چې فطرت او طبیعت میلان ورته کوي).

پاتې سوه د مرهون د عَین مسئله. نو عین مرهون د مرتهن په قبضه کې امانت دی. همدا وجه ده که عین مرهون غلام وغیره وي. نو په ژوند کې د هغه نفقه پر راهن واجبه ده (نه پر مرتهن) او د غلام تر مرګ وروسته پر همدې راهن د هغه کفن دفن لازم دي. او د عین د امانت کېدلو بل دلیل دا هم دی چې که مرتهن مرهون شی رانیسي نو د شراء لپاره به پر مرهون شي دوباره قبضه کوي، ځکه پر مرهون شي چې کومه قبضه وه. هغه د امانت قبضه وه او دا د شراء قبضه ده. (او د دواړو قبضو تر مینځ فرق ښکاره دی چې که د امانت شی هلاک سي نو ضمان یې نه لازمیږي او که د شراء [یعني رانیول سوی] شی هلاک سي نو ضمان یې لازمیږي. لهذا کله چې په دواړو کې فرق سته نو د شراء لپاره به دویم ځل قبضه کوي). نو په دې سره (چې د شراء لپاره به دویم ځل قبضه پر کوي) هم دا خبره ثابته سوه چې عین مرهون د مرتهن سره امانت دی او هغه د دغه عین له مالیت څخه خپل حق ترلاسه کوي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مخکیني عقلي دلیل جواب

وَمُوجَبُ الْعَقْدِ ثُبُوتُ يَدِ الِاسْتِيفَاءِ او د عقد رهن موجب د [خپل حق] ترلاسه کولو د قبضې ثابتېدل دي وَهٰذَا يُحَقِّقُ الصِّيَانَةَ او دا [د قرض] حفاظت ثابتوي وَإِنْ كَانَ فَرَاغُ الذِّمَّةِ مِنْ ضَرُورَاتِهِ که څه هم [د راهن] د ذمې فارغېدل د استیفاء له ضروریاتو څخه دي كَمَا فِي الْحَوَالَةِ لکه څرنګه چې په حواله کې دي.

اللغات: ﴿مُوجب﴾ د افعال د باب مفعول دی: واجب کړی سوی. حکم. مقتضا. نتیجه. ﴿صیانة﴾ د نصر د باب مصدر دی: حفاظت کول. ساتل او ژغورل.

تشریح: په دې عبارت کې صاحب د هدايې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د عقلي دلیل جواب ورکوي کوم چې څو صفحې مخکې تېر سو چې د عقد رهن موجب وثیقه بالدین دی. عبارت يې داسې وو:

"ولأن الرهن وثيقة بالدين... وهذا لأن بعد الوثيقة يزداد معنى الصيانة إلخ". نو دلته مصنف رَحِمَهُ الله د هغه په جواب کې فرمايي چې د عقد رهن موجب هغه نه دی کوم چې امام شافعي رَحِمَهُ الله فهمولی دی. بلکې د عقد رهن صحیح او اصل موجب دا دی چې مرتهن ته (د خپل قرض) پر اخيستلو قبضه حاصله سي. او د عقد رهن دغه موجب د قرض ساقطولو باعث نه دی بلکې د هغه د حفاظت باعث دی چې که راهن هر څومره حق خوره سي خو بيا هم د عقد رهن په وجه به هغه د مرتهن د قرض پر اداء کولو مجبوره وي او دا خو نا ځاپېزه خبره ده چې مرهون شی هلاک سي. نو څرنګه چې د دې هلاکېدلو په ضمن کې د مرتهن قرض وصول او ترلاسه سو. نو ځکه د راهن ذمه فارغه سوه. يعني دا قرض خو مفت (موت) نه دی ساقط سوی. بلکې د مرهون شي د هلاکېدلو په وجه ساقط سوی دی چې وجه يې مخکې تېره سوه. لنډه دا چې د مرهون شي د هلاکېدلو په ضمن کې مرتهن ته خپل قرض رسيږي او په لازمي توګه د راهن ذمه فارغيږي. د دې مثال داسې دی لکه په حواله کې چې کله پر محتال عليه دين واجب سي. نو لازماً د محيل ذمه فارغيږي. همداسې دلته هم دي.

د مرهون شي د محبوس کېدو په هکله زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د اختلاف خلاصه

فَالْحَاصِلُ أَنَّ عِنْدَنَا نو خلاصه دا چې زموږ په نيز حُكْمَ الرَّهْنِ صَيْرُورَةُ الرَّهْنِ مُحْتَبِسًا بِدَيْنِهِ بِإِثْبَاتِ يَدِ الاِسْتِيفَاءِ عَلَيْهِ د رهن حکم د رهن محبوس کېدل دي د مرتهن د قرض په بدله کې د [حق] ترلاسه کولو د قبضې د ثابتولو سره [يعني زموږ په نيز د رهن حکم دا دی چې رهن (مرهون) د مرتهن د قرض په عوض کې د مرتهن سره محبوس دی او له رهن (مرهون) څخه د خپل قرض ترلاسه کولو قبضه مرتهن لره ثابته ده] وَعِنْدَهُ تَعَلُّقُ الدَّيْنِ بِالْعَيْنِ اِسْتِيفَاءً مِنْهُ عَيْنًا بِالْبَيْعِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د عين مرهون سره د دين متعلق کېدل دي د [حق] ترلاسه کولو په غرض له هغه [عين مرهون] څخه د بيع په ذريعه [يعني د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د رهن حکم (د قرض) ترلاسه کولو په غرض دين د عين سره متعلق کېدل دي او دا (قرض) ترلاسه کول له عين څخه د بيع په ذريعه دي (چې عين خرڅ کړل سي)] وَيُخَرَّجُ عَلَى هٰذَيْنِ الْأَصْلَيْنِ عِدَّةٌ مِنَ الْمَسَائِلِ الْمُخْتَلَفِ فِيهَا بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ او پر دغه دوو اصلونو د ډېرو مسئلو تخريج کيږي چې

په هغوی کي زموږ او د شوافعو تر مينځ اختلاف دی عَدَدْنَاهَا فِيْ كِفَايَةِ الْمُنْتَهِيْ جُمْلَةً چي هغوی ټوله موږ په كفاية المنتهي کي شمېرلي دي مِنْهَا أَنَّ الرَّاهِنَ مَمْنُوْعٌ عَنِ الْاِسْتِرْدَادِ لِلْاِنْتِفَاعِ له هغوی څخه يوه دا ده چي راهن د نفع اخيستلو لپاره [د مرهون شي] له واپس اخيستلو څخه ممنوع دی [يعني زموږ په نېز راهن له دې څخه منع دی چي د نفع اخيستلو لپاره له مرتهن څخه خپل مرهون شی واپس واخلي] لِأَنَّهُ يُفَوِّتُ مُوْجَبَهُ ځکه چي دا د عقد رهن موجب فوتوي وَهُوَ الْاِحْتِبَاسُ عَلَى الدَّوَامِ او د عقد رهن موجب په دائمي توګه [د مرهون شي] محبوس کېدل دي [د مرتهن سره. تر دې چي هغه خپل حق ترلاسه کړي] وَعِنْدَهُ لَا يَمْنَعُ مِنْهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په راهن له دې کار څخه نه منع کول کيږي لِأَنَّهُ لَا يُنَافِيْ مُوْجَبَهُ ځکه دا [د هغه په نېز] د عقد رهن د موجب منافي نه دي وَهُوَ تَعَيُّنُهُ لِلْبَيْعِ او [د هغه په نېز] د عقد رهن موجب د بيع لپاره د مرهون شي متعين کېدل وَسَيَأْتِيْكَ الْبَوَاقِيْ فِيْ أَثْنَاءِ الْمَسَائِلِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى او پاته جزئيات [او فروعات] به ان شاء الله د مسئلو په دوران کي تا ته راسي.

اللغات: ﴿صيرورة﴾ د ضرب مصدر دی: ګرځېدل. کېدل. ﴿استرداد﴾ د استفعال مصدر دی: واپس غوښتل او اخيستل، رجوع کول. ﴿يفوّت﴾ د تفعيل مضارع ده: فوتول. ضايع کول. ﴿مُوجب﴾ د افعال د باب مفعول دی: واجب کړی سوی، حکم، مقتضا، ﴿البواقي﴾ جمع د بَاقِيَةٌ ده: پاته. باقي مانده.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي زموږ د مخکيني بيان او خبرو خلاصه دا ده چي زموږ په نېز رهن (مرهون شی) د دَين په بدله کي محبوس دی چي مرتهن ته دا قبضه حاصله ده چي په هغه سره خپل حق (قرض) ترلاسه کړي (يعني مرتهن ته يد الاستيفاء حاصل دی). او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د دَين تعلق د عينِ رهن (عينِ مرهون) سره دی، نه د هغه د ماليت سره او د دې صورت فقط په بيع (خرڅلاو) سره دی چي مرتهن مرهون شی خرڅ کړي او خپل حق ترلاسه کړي. بيا زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله پر دغه دوو اصلونو ډېر مسائل متفرع کيږي چي هغوی مصنف رَحِمَهُ الله په كفاية المنتهي کي ذکر کړي دي، او يوه جزئيه يې په دې عبارت کي هم ذکر کړې ده چي زموږ په نېز راهن ته دا حق نسته چي د قرض تر اداء کولو مخکي له مرتهن څخه خپل مرهون شی واپس واخلي او خرڅ يې کړي؛ ځکه زموږ د اصل مطابق د قرض اداء کولو تر وخته مرتهن ته د حبسِ دائم حق حاصل

دی یعنې چې له راهن څخه مرهون شی راوګرځوي. لهذا که راهن د مرهون شي واپس اخيستل وغواړي. نو په دې سره به د رهن "موجب" یعني "حبسِ دائم" فوت او نیستي سي.

د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله د اصل مطابق راهن به له واپس اخیستلو (استرداد) څخه نه منع کول کیږي؛ ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د عقد رهن "موجب" مرهون شی د بيع لپاره متعيَن کېدل دي. او د راهن په استرداد سره په دې تعين کې هيڅ خلل نه راځي. نو ځکه هغه ته دا حق سته چې له مرتهن څخه خپل مرهون شی واپس واخلي. نور جزئيات او فروعات به هم ان شاء الله تعالیٰ وقتاً فوقتاً د آینده مسائلو په ترڅ کې ستاسې مخ ته راسي.

رهن د کوم قرض په بدله کې صحیح دی؟

قَالَ: وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ إِلَّا بِدَيْنٍ مَضْمُوْنٍ فرمايي: او رهن نه صحیح کیږي مګر د مضمون [ضمان والا] دَین په بدله کې لِأَنَّ حُكْمَهُ ثُبُوْتُ يَدِ الِاسْتِيْفَاءِ ځکه د رهن حکم د [حق] ترلاسه کولو د قبضې ثابتېدل دي وَالِاسْتِيْفَاءُ يَتْلُو الْوُجُوْبَ او [حق] ترلاسه کول تر وجوب وروسته راځي [یعني حق (دَین) چې مخکې واجب او ثابت وي نو بیا هغه ترلاسه کول کېدای سي. نه تر وجوب او ثبوت مخکې. یا په بله وینا دا چې یو ځل حق ثابتیږي او بیا هغه اخیستل کیږي] قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي وَيَدْخُلُ عَلَى هٰذَا اللَّفْظِ الرَّهْنُ بِالْأَعْيَانِ الْمَضْمُوْنَةِ بِأَنْفُسِهَا او پر دغه لفظ [د حصر. یعني إلا بدين مضمون] باندې په هغه اعیانو سره اشکال واردیږي کوم چې بذات خود مضمون دي [یعني هغه شیان چې بذاتِ خود یې ضمان واجبیږي لکه مغصوب شی] فَإِنَّهُ يَصِحُّ الرَّهْنُ بِهَا ځکه د هغوی په بدله کې هم رهن صحیح کیږي وَلَا دَيْنَ حال دا چې دَین نه دی وَيُمْكِنُ أَنْ يُقَالَ إِنَّ الْمُوْجَبَ الْأَصْلِيَّ فِيْهَا هُوَ الْقِيْمَةُ او ممکنه ده چې دا جواب ورکول سي چې په دې اعیانو کې موجبِ اصلي قیمت دی وَرَدُّ الْعَيْنِ مُخَلِّصٌ او د عین واپس کول خلاصون دی [چې که عینِ مغصوب واپس کړي نو غاړه یې خلاصیږي] عَلَىٰ مَا عَلَيْهِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ د هغه تفصیل مطابق چې پر هغه زیاتره مشایخ دي وَهُوَ دَيْنٌ او قیمت دین دی وَلِهٰذَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِهَا او په همدې وجه د دې اعیانو کفاله صحیح ده وَلَئِنْ كَانَ لَا يَجِبُ إِلَّا بَعْدَ الْهَلَاكِ او قیمت که څه هم [د مغصوب شي] تر هلاکېدلو وروسته واجبیږي وَلٰكِنَّهُ يَجِبُ عِنْدَ الْهَلَاكِ بِالْقَبْضِ السَّابِقِ خو هغه د هلاکېدلو په وخت کې د مخکنۍ [غصبي] قبضې په وجه

واجبېږي [يعني د هغه قبضې په وجه دا قيمت واجبېږي کوم چې يې د غصب په وخت کې پر مغصوب شي کړې وه] وَلِهٰذَا تُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ يَوْمَ الْقَبْضِ په همدې وجه د هغه [مغصوب شي] د قبضې د ورځې قيمت معتبر دی فَيَكُونُ رَهْنًا بَعْدَ وُجُوْدِ سَبَبِ وُجُوْبِهِ نو ځکه دا رهن به د قيمت واجبېدلو د سبب [يعني د مخکنی غصبي قبضې] تر موجودېدلو وروسته رهن وي فَيَصِحُّ نو رهن به صحيح وي كَمَا فِي الْكَفَالَةِ لکه څرنګه چې په کفاله کې دي وَلِهٰذَا او په همدې وجه [يعني په دې وجه چې په اعيانو کې موجب اصلي قيمت دی] لَا تَبْطُلُ الْحَوَالَةُ الْمُقَيَّدَةُ بِهِ بِهَلَاكِهِ په هغه [عين مغصوب] سره مقيده حواله د هغه [عين مغصوب] په هلاکېدلو سره نه باطلېږي بِخِلَافِ الْوَدِيْعَةِ په خلاف د امانت.

اللغات: ﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: ضمان والا، يعني د کوم شي چې ضمان (تاوان) لازم وي، هغه شی چې ضمان يې ورکول کېږي، د کوم شي ضمان چې پر ذمه واجب وي (کوم شی چې د انسان پر غاړه لازم وي) جمع: مضمونات. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: (حق) ترلاسه کول، بشپړ اخيستل. ﴿يتلو﴾ د نصر له بابه د مضارع صيغه ده: يو شی په بل شي پسې کېدل. يو تر بل وروسته راتلل. ورسره متصل کېدل. ﴿وديعة﴾ امانت، امانتاً ايښوول سوی شی (په امانت ورکول سوی شی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې رهن فقط د دَين په بدله کې صحيح کېږي: ځکه د رهن حکم دا دی چې مرتهن ته پر رهن (مرهون) داسي قبضه حاصله سي چې له هغه څخه خپل قرض ترلاسه کولای سي، او دا هغه وخت کېدلای سي کله چې له مخکې څخه دَين ثابت سوی وي.

يادونه: دَين خو ګردسره مضمون وي (يعني که هلاک سي، ضمان يې واجبېږي). نو دلته د مضمون په قيد سره مقيد کول د تأکيد لپاره دي، او ځيني حضراتو ويلي دي چې په دَينِ مضمون سره د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد هغه دَين دی کوم چې في الحاله واجب او ثابت وي، کنې د ضمان بالدرک په بدله کې رهن صحيح نه دی.

قال ﷺ: په متن کې چې امام قدوري رَحِمَهُ الله دا حصر کړی دی چې رهن فقط د دَين په بدله کې صحيح کېږي يعني "إلا بدين مضمون". په دغه باره کې د صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې دا حصر صحيح نه دی ځکه عين شيان يعني کوم چې دَين نه وي بلکې عَين وي او مضمون وي يعني ضمان يې واجبېږي لکه مغصوب شی. د هغوی په بدله کې خو هم رهن صحيح کېږي. حالانکې هغوی دين نه دي، نو بغير له دَين څخه رهن صحيح سو. مثلاً زيد د عمر آس غصب کړي نو پر زيد د

هغه ضمان واجب دی همدارنګه هغه شی کوم چې د سومِ شراء په توګه مقبوض وي د هغه ضمان هم واجب دي، او کله چې ضمان يې واجب دی. نو د هغه په بدله کې رهن صحيح دي. له دې ځخه معلومه سوه چې د امام قدوري رَحِمَهُ الله حصر صحيح نه دی چې رهن فقط د دَين په بدله کې صحيح کيږي. دا يو اعتراض سو. په را روان عبارت سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هغه جواب ورکوي.

ويمكن إلخ: فرمايي د مذکوره اعتراض او اشکال جواب داسې کېدلای سي (کوم چې د زياتره مشايخو تقرير مطابق دی) چې اصل په عين شيانو کې هم قيمت واجبيږي (خو که هغه عين مغصوب شی واپس کړي. نو غاړه يې خلاصيږي. لذه چې اصل په اعيانو کې قيمت واجبيږي). او قيمت دين دی. نه عين. او کله چې د هغه دَين والی ثابت سو. نو معلومه سوه چې رهن د دَين په بدله کې دی. نه د عين. همدا وجه ده چې د اعيانِ مضمونه وو کفاله بالاتفاق صحيح ده. او کفاله د دَين صحيح کيږي. نو له دې ځخه هم معلومه سوه چې په اعيان مضمونه وو کې د دَين ځرګ سته. نو اعتراض دفع سو.

ولئن كان إلخ: په دې سره د يو مقدّر اعتراض جواب ورکوي، هغه دا دی چې د مغصوب شي قيمت خو د هغه تر هلاکېدلو وروسته واجبيږي او ترڅو چې مغصوب شی باقي پاته وي نو د هغه واپس کول واجب وي، نه د هغه قيمت. لهذا قيمت موجب اصلي ګرځول او دَين ورته ويل به صحيح نه وي؟.

نو په جواب کې فرمايي چې که څه هم د مغصوب شي تر هلاکت مخکې قيمت نه واجبيږي لېکن د هلاکت په وخت کې چې کله قيمت واجبيږي. نو د ضمان سابق او قبضهٔ سابقه. په وجه واجبيږي (يعني د هغه سببِ وجوب مخکنۍ قبضه ده) لکه ځرنګه چې همدا د فقهي قاعده ده چې "المضمونات تُملَكُ بالضمان السابق" چې ټوله مضمونات د ضمان سابق په وجه په ملکيت کې داخليږي، همدا وجه ده چې د هلاک سوي مغصوب شي هماغه قيمت معتبر دی په کومه ورځ چې يې قبضه پر کړې وي (غصب کړی يې وي). لهذا کله چې خبره داسې ده، نو معلومه سوه چې د قيمت د وجوب سببِ مخکېنۍ قبضه ده يعني د غصب له وخته قيمت واجب او ثابت دی. نو رهن د مغصوب شي په بدله کې د قيمت د سببِ وجوب تر موجودېدلو وروسته سوی دی يا په بله وينا چې دغه قيمت کوم چې د رهن عوض دی هغه د خپل سببِ وجوب "غصب او قبضې" تر وجود وروسته سمدستي د رهن عوض سوی دی (نو داسې قيمت ته دَين ويل صحيح دي). لهذا سوال دفع سو او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا دعوىٰ صحيح سوه چې "الرهن لا يصح إلا بدين مضمون". او ځرنګه چې دغه نکتې (يعني لِوُجود سبب وجوبه) په وجه د اعيانِ مضمونه وو يعني د مغصوب شي او داسې نورو کفاله صحيح ده. نو همداسې به د هغه رهن هم صحيح او جائز وي.

ولهذا إلخ: کله چې دا معلومه سوه چې اصل په اعيان مضمونه وو کې قيمت واجبيږي. نو اوس واورئ! که زيد د عُمر يو شی مثلاً پسه غصب کړي او پر عُمر د حامد قرض باندي وي او عُمر دغه قرض پر زيد (غاصب) حواله کړي يعني حامد ته ووايي چې زيد زما پسه غصب کړی دی. لهذا ته! د خپل قرض په عوض کې له زيد څخه هغه پسه ترلاسه کړه!. اوس که په دې دوران کې د زيد سره هغه پسه هلاک او ضايع سي. نو دا حواله نه باطليږي بلکې زيد به د پسه په قيمت سره د حامد قرض اداء کوي.

د دې په خلاف که داغه پورتنی صورت وي خو عُمر خپل پسه زيد ته امانتاً ورکړی وي او هغه هلاک سي، نو حواله باطليږي؛ ځکه چې د امانت هلاکېدلو په وجه حواله باطليږي: ځکه په امانت کې حواله پر عين امانت وي، نه پر موجب اصلي (قيمت)، او د عين په هلاکت سره خو حواله باطليږي. او د غصب په مثال کې د عَين (پسه) په هلاکېدلو سره حواله نه باطليږي. ځکه د هغه موجب اصلي يعني قيمت موجود دی.

که مرهون هلاک سي نو قرض به د هغه د قيمت سره څنګه موازنه کيږي؟ او د امام زفر مسلک

قَالَ: وَهُوَ مَضْمُونٌ بِالْأَقَلِّ مِنْ قِيْمَتِهِ وَمِنَ الدَّيْنِ فرمايي: او مرهون شی [پر مرتهن] مضمون دی د هغه له قيمت او قرض څخه په کمتر يوه سره [يعني د رهن په قيمت او قرض کې چې هر يو کم وي. په هغه مقدار سره يې پر مرتهن ضمان لازم دی] فَإِذَا هَلَكَ فِيْ يَدِ الْمُرْتَهِنِ وَقِيْمَتُهُ وَالدَّيْنُ سَوَاءٌ نو کله چې مرهون شی د مرتهن په قبضه کې هلاک سي او د هغه قيمت او قرض سره برابر وي صَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا لِدَيْنِهِ نو مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی [اخيستونکی] ګرځي وَإِنْ كَانَتْ قِيْمَةُ الرَّهْنِ أَكْثَرَ او که د رهن [مرهون] قيمت زيات وي فَالْفَضْلُ أَمَانَةٌ نو زيات توب [زائد مقدار] امانت دی لِأَنَّ الْمَضْمُوْنَ بِقَدْرِ مَا يَقَعُ بِهِ الِاسْتِيْفَاءُ ځکه [مرهون] په دومره مقدار سره مضمون دی په څومره مقدار سره چې استيفاء [د حق ترلاسه کول] واقع کيږي [يعني په څومره مقدار سره چې قرض ترلاسه کېدلای سي. نور پاته مقدار مضمون نه دی] وَذَاكَ بِقَدْرِ الدَّيْنِ او دا مقدار د قرض په اندازه دی فَإِنْ كَانَتْ أَقَلَّ بيا که د رهن قيمت [له قرض څخه] کم وي سَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ بِقَدْرِهِ نو د هغه په مقدار له قرض څخه ساقطيږي وَرَجَعَ الْمُرْتَهِنُ بِالْفَضْلِ او په زيات توب [زائد مقدار] سره به مرتهن رجوع کوي [يعني د

ماليت په اندازه وي وَقَالَ زُفَرُ ۞ : الرَّهْنُ مَضْمُونٌ بِالْقِيْمَةِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي ر
[مرهون] په قيمت سره مضمون دی حَتّٰى لَوْهَلَكَ الرَّهْنُ وَقِيْمَتُهُ يَوْمَ الرَّهْنِ أَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ وَالدَّ
أَلْفٌ تر دې چي که رهن هلاک سي او د هغه قيمت د رهن ايښوولو په ورځ پنځلس سوه [۰۰
وي او قرض زر [۱۰۰۰] وي رَجَعَ الرَّاهِنُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ بِخَمْسِ مِائَةٍ نو راهن به پر مرتهن په پ
سوو [۵۰۰] سره رجوع کوي [يعني ۵۰۰ به واپس ځني اخلي] لَهُ حَدِيْثُ عَلِيٍّ رضي الله عنه/ قَالَ: "يَتَرَا
الْفَضْلَ فِي الرَّهْنِ" د امام زفر دليل د حضرت علي رضي الله عنه حديث دی چي هغه وفرمايل: په رهن
به دواړه عقد کونکي [راهن او مرتهن] زياتوب يو بل ته واپس کوي وَلِأَنَّ الزِّيَادَةَ عَلَى الدَّيْنِ مَرْهُوْنَ
ځکه چي پر قرض زياتوب [هم] مرهون دی [يعني د مرهون شي کوم مقدار چي د قرض تر مقدار زائد
هغه خو هم مرتهن ته په رهن ايښوول سوی دی] لِكَوْنِهَا مَحْبُوْسَةً بِهِ ځکه چي زياتوب [هم] د رهن
عوض کي د مرتهن سره محبوس دی فَتَكُوْنُ مَضْمُوْنَةً نو ځکه د هغه ضمان به [هم] لازم وي اِعْتِ
بِقَدْرِ الدَّيْنِ د قرض پر مقدار په قياس کولو سره وَمَذْهَبُنَا مَرْوِيٌّ عَنْ عُمَرَ وَعَبْدِ اللهِ ابْنِ مَسْ
رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او زموږ مذهب له حضرت عمر او حضرت عبد الله بن مسعود (رض) ځخه نقل
دی وَلِأَنَّ يَدَ الْمُرْتَهِنِ يَدُ الْاِسْتِيْفَاءِ او ځکه چي [پر مرهون شي] د مرتهن قبضه د استيفاء قبضه ده
په دې سره هغه خپل قرض تر لاسه کوي] فَلَا يُوْجِبُ الضَّمَانَ إِلَّا بِالْقَدْرِ الْمُسْتَوْفٰى نو ځکه دا به ضم
واجبوي مګر په تر لاسه کړی سوي [اخيستل سوي] مقدار کي كَمَا فِي حَقِيْقَةِ الْاِسْتِيْفَاءِ لـ
حقيقي استيفاء په صورت کي وَالزِّيَادَةُ مَرْهُوْنَةٌ بِهِ ضَرُوْرَةَ امْتِنَاعِ حَبْسِ الْأَصْلِ بِدُوْنِهَا او زيا
[زائد مقدار] د دې ضرورت په وجه مرهون دی چي له هغه ځخه بغير د اصل محبوس کېدل م
دي وَلَا ضَرُوْرَةَ فِي حَقِّ الضَّمَانِ او د ضمان په حق کي ضرورت نسته وَالْمُرَادُ بِالتَّرَادِّ فِيْمَا رَوٰى
الْبَيْعِ او مراد په "واپس کولو" سره د امام زفر رَحِمَهُ الله په روايت کړی سوي حديث کي

۞ القول الراجح: قول ائمة الثلاثة؛ إذ هو أحرى فإنه مع الدلائل فيرجح. وعلى ... عن استدلال زفر. ... وجوه الترجيح عنده كما هو دأبه في أسلوب الترجيح، انظر للتفصيل الكتاب المسمى بالقول الراجح [ج ۲. ص: ۲۰۵]

حالت دی فَإِنَّهُ رُوِیَ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: اَلْمُرْتَهِنُ أَمِیْنٌ فِي الْفَضْلِ ځکه له حضرت علي ﷺ څخه [ابل] روايت سوی دی چې هغه وفرمايل: مرتهن د زیاتوب [زائد مقدار] په هکله امين دی.

اللغات: ﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: د کوم شي چې ضمان (تاوان) لازم وي، هغه شی چې ضمان يې ور کول کيږي، د کوم شي ضمان چې پر ذمه واجبيږي. جمع: مضمونات. ﴿يـترادّان﴾ د تفعّل له بابه د تثنيه غائب صيغه ده: يو بل ته ردول. واپس كول. ﴿الفضل﴾ زياتوب. اضافي. زائد مقدار. ﴿أمين﴾ امانت ساتونکی (د امانت حفاظت کونکی). چې که بغير له تعدی له هغه څخه د امانت شی هلاک سي نو ضمان نه پر لازميږي.

تشريح: مخکي ذکر سوه چې مرهون شی د مرتهن په ضمان او ذمه واري کي داخل دی (يا په بله وينا دا چې پر هغه يې ضمان لازم دی). اوس پوښتنه دا ده چې مرهون شی په کوم مقدار سره مضمون دی (په کوم مقدار سره يې ضمان پر لازم دی)؟. نو دلته د هغه جواب ور کوي. حاصل يې دا دی چې د رهن په قيمت او قرض ته به کتل کيږي چې په دوی کي کوم يو لږ او کم وي، په هاغه مقدار سره مرهون شی مضمون کيږي. لهذا که د رهن (مرهون) قيمت پنځه سوه روپۍ وي او قرض څلور سوه روپۍ وي، نو قرض دوه سوه روپۍ کم دي او د رهن قيمت زيات دی. نو ضمان به د همدې څلور سوه روپو په اندازه وي. او که ددې برعکس وي (يعني د مرهون قيمت څلور سوه روپۍ وي او قرض پنځه سوه وي)، نو هم به ضمان د څلور سوه روپو په اندازه وي.

لهذا که د مرتهن سره مرهون شی هلاک سي او د قرض او رهن قيمت سره برابر وي، نو معامله سره برابره سوه او د مرتهن قرض اداء سو. نو راهن او مرتهن سره خلاص سول. او کله چې د رهن قيمت زيات وي او قرض کم وي (او رهن د مرتهن سره هلاک سي)، نو هم قرض اداء سو او هغه زياتوب يعني له قرض څخه زائد مقدار امانت دی: ځکه مرتهن چې له څومره مقدار څخه خپل قرض ترلاسه کولای سي. هغومره مقدار مضمون کيږي (يعني پر مرتهن د هغومره مقدار ضمان لازم دی) او هغه مقدار د قرض په اندازه دی.

او کله چې د رهن قيمت کم وي او قرض زيات وي (او رهن د مرتهن سره هلاک سي)، نو څومره مقدار چې د رهن قيمت وو. د رهن په هلاکېدلو سره هغومره قرض ساقط سو. او پاته قرض به مرتهن له راهن څخه اخلي: ځکه دلته د مرتهن هغومره قرض اداء سو څومره چې د رهن ماليت او قيمت دی.

وقال زفر إلخ: پورته چې کوم حکم ذکر سو دا زموږ مذهب دی. او د امام زفر رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې د رهن (مرهون) چې هر څومره قيمت وي. د هغه په اندازه پر مرتهن ضمان لازميږي. لهذا که د

رهن (مرهون) دا ینبوولو په ورځ د هغه قیمت پنځلس سوه روپۍ وي او قرض زر روپۍ وي او بیا رهن د مرتهن سره هلاک سي، نو د مرتهن قرض هم اداء سو او راهن به له مرتهن څخه پنځه سوه روپۍ نوري هم اخلي.

دامام زفر رَحِمَهُ الله نقلي دلیل د حضرت علي رضي الله عنه دا حدیث او فرمان دی چي راهن او مرتهن دواړه به زیاتوب (زائد مقدار) یو بل ته واپس کوي. یعني که قرض د رهن له قیمت څخه زیات وي. نو راهن به زیاتوب (زائد مقدار) و مرتهن واپس کوي. او که د رهن قیمت له قرض څخه زیات وي. نو مرتهن به زیاتوب و راهن ته واپس کوي. یعني د فضل (زیاتوب) په واپس کولو کي دواړه سره برابر دي.

او د امام زفر رَحِمَهُ الله د عقلي دلیل حاصل دا دی چي څرنګه د رهن هغه مقدار مرهون (په رهن اینبوول سوی) دی کوم چي د دَین په اندازه دی، همداسي له هغه څخه زائد مقدار هم مرهون دی: ځکه اصل او زیاتوب دواړه د قرض په بدله کي محبوس دي. لهذا څرنګه چي د رهن هغه مقدار مضمون دی (یعني پر مرتهن يې ضمان لازم دی) کوم چي د دَین په اندازه دی. همداسي هغه مقدار به يې هم مضمون وي کوم چي تر هغه زیات دی. مثلاً یو آس يې په رهن کي ورکړی دی چي د هغه قیمت پنځه سوه روپۍ دی او قرض دوه سوه روپۍ دی. نو ټوله آس د مرتهن سره مرهون او محبوس دی. نو ضمان هم د ټوله آس واجبدل پکار دي.

ومذهبنا مروی إلخ: له دې ځایه زموږ دلیل بیان سوی دی، اول دلیل نقلي دی او دویم عقلي دلیل دی. نقلي دلیل دا دی چي له حضرت عمر رضي الله عنه او خضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه همداسي نقل سوي دي کوم چي زموږ مذهب دی. عقلي دلیل دا دی چي د مرتهن قبضه د (حق) ترلاسه کولو قبضه ده یعني پر مرهون شي د هغه قبضه د همدې لپاره ثابته ده چي په هغه سره خپل حق (قرض) ترلاسه کړي. نو په څومره مقدار سره چي حق ترلاسه کېدلای سي (یعني د مرتهن چي څومره حق کیږي). هغومره ضمان واجبدل پکار دي.

ځکه د مرتهن دا (خپل حق) ترلاسه کول حقیقي ترلاسه کول نه دي بلکي ترلاسه کول شمېرل سوي دي او که حقیقي وي. نو هم داغه حکم دی کوم چي موږ ذکر کړی چي د دَین په اندازه هغه مضمون دی او پاته زائد مقدار امانت دی. په بله وینا دا چي که د رهن قیمت زیات وي نو په دې صورت کي د استیفاء (ترلاسه کولو) تعلق د زیاتوب (زائد مقدار) سره نه دی او زیاتوب امانت شمېرل کیږي او که د امام زفر رَحِمَهُ الله په وینا موږ دا زیاتوب مرهون ومنو. نو د هغه مرهون کېدل حقیقي نه دي (یعني دا زائد مقدار حقیقي مرهون نه دی). بلکي د یو ضرورت پر بناء دي او ضرورت دا دی چي کله هغه زیاتوب (زائد مقدار) د مرهون سره متصل او مبنتی دی. نو څرنګه چي د دَین مقدار مرهون دی.

همداسې به هغه (زائد مقدار) هم مرهون شمېرل کیږي؛ ځکه له هغه څخه بغیر اصل یعنې د دَین مقدار نه محبوس کیږي، او څرنګه چې دا ضرورت فقط د حبس او رهن په حق کې دی، نو د "الضرورة تتقدر بقدرها" والا قاعدې پر بناء به فقط د حبس او رهن په حق کې هغه ثابتیږي او د ضمان په حق کې به نه ثابتیږي؛ ځکه د ضمان په حق کې څه ضرورت نسته، لهذا د دَین مقدار خو به د ضمان موجب وي، لېکن زیاتوب به د ضمان موجب نه وي.

والمراد إلخ: امام زفر رَحِمَهُ الله چې په کوم حدیث علي رضي الله عنه سره دلیل نیولی وو، دا د هغه جواب دی.

حاصل یې دا دی چې د دې حدیث هغه مطلب نه دی کوم چې امام زفر رَحِمَهُ الله فهمولی دی، بلکې مطلب یې دا دی چې که مرهون شی خرڅ کړل سي، نو زیاتوب به یو بل ته واپس کوي یعنې د مرهون شي د بیع په صورت کې چې څه کمي بیشي راسي هغه به راهن او مرتهن یو بل ته واپس کوي، او په بیع کې خو موږ هم د دې قائل یو، او پاتې سو زموږ او د امام زفر خبره خو د مرهون شي د هلاکت په هکله ده (چې کله مرهون شی هلاک سي...)، کوم چې د حدیث مراد نه دي.

او که سوال وسي چې ستاسې دلیل څه دی چې په حدیث کې د بیع حالت مراد دی (نه د هلاکت)؟، نو جواب دا دی چې زموږ دلیل پر دې خبره د حضرت علي رضي الله عنه بل روایت دی چې په هغه کې یې فرمایلي دي: د زیاتوب (زائد مقدار) په هکله مرتهن امین دی، له دې څخه معلومه سوه چې د حضرت علي رضي الله عنه اول حدیث او روایت به پر بیع حمل کیږي، کنې د حضرت علي رضي الله عنه په اقوالو کې به تعارض لازم سي. (همدارنګه د تعارض په وخت کې د روای هغه روایت ته ترجیح ورکول کیږي چې د بل روای په روایت سره د هغه تائید کیږي، او دلته د حضرت عمر او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په روایتونو سره د حضرت علي رضي الله عنه د دویم روایت تائید کیږي. نو ځکه هغه به معتبر وي).

تر رهن وروسته د خپل قرض مطالبه کول او د قرض په وجه راهن بندي کول

قَالَ: وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يُطَالِبَ الرَّاهِنَ بِدَيْنِهِ وَيَحْبِسَهُ بِهِ فرمایي: او مرتهن ته دا حق سته چې له راهن څخه د خپل قرض مطالبه وکړي او د قرض په وجه هغه بندي کړي لِأَنَّ حَقَّهُ بَاقٍ بَعْدَ الرَّهْنِ ځکه تر رهن وروسته هم د مرتهن حق باقي دی وَالرَّهْنُ لِزِيَادَةِ الصِّيَانَةِ او رهن د زیات حفاظت لپاره وي [چې په رهن اېښوولو سره د مرتهن قرض ښه محفوظ پاتې سي او راهن یې انکار نه وکړي] فَلَا تَمْتَنِعُ بِهِ الْمُطَالَبَةُ نو د رهن په وجه به مطالبه نه ممتنع کیږي وَالْحَبْسُ جَزَاءُ الظُّلْمِ او حبس [بندي کول] ظلم

سزا ده فَإِذَا ظَهَرَ مَطْلُهُ عِنْدَ الْقَاضِيْ نو کله چي د قاضي په نېز د راهن ټال مټول ښکاره سي يَحْبِسُهُ نو هغه به بندي کوي كَمَا بَيَّنَّاهُ عَلَى التَّفْصِيْلِ فِيْمَا تَقَدَّمَ لکه څرنګه چي دا مورږ مخکښي په تفصيل سره بيان کړي دي.

اللغات: ﴿صيانة﴾ د نصر د باب مصدر دی: حفاظت کول. ساتل. ﴿مطل﴾ مصدر دی: ټال مټا کول (ټال مټول)، چا ته په يو کار کي پلمه کول. مراد ځني د قدرت باوجود قرض نه اداء کول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د رهن په وجه د مرتهن حق نه اداء کيږي، بلکي رهن خو صرف د دې لپاره وي چي د مرتهن حق او مال خوندي کړی سي. لهذا کله چي خبره داسي ده، نو د رهن باوجود هم مرتهن ته دا اختيار سته چي له راهن څخه د خپل قرض مطالبه وکړي. او د نه ورکولو په صورت کي د قاضي په ذريعه هغه بندي کړي؛ څرنګه چي راهن نه قرض اداء کوي او نه د قرض ادا کولو لپاره مرهون شی خرڅوي، نو د راهن ظلم ثابت سو او د ظلم سزا بندي کول دي. د هدايې په جلد ثالث کي په كتاب القضاء، فصل في الحبس کي په تفصيل سره د دې بيان سوی دی.

که مرتهن د خپل دَين مطالبه وکړي نو مرهون شی به حاضر وي (حکم او تفصيل)

وَإِذَا طَلَبَ الْمُرْتَهِنُ دَيْنَهُ او کله چي مرتهن د خپل قرض طلب وکړي يُؤْمَرُ بِإِحْضَارِ الرَّهْنِ نو هغه ته به د رهن [مرهون شي] د حاضرولو حکم کيږي لِأَنَّ قَبْضَ الرَّهْنِ قَبْضُ اِسْتِيْفَاءٍ ځکه د رهن قبضه د [قرض] ترلاسه کولو قبضه ده [چي په دې سره مرتهن خپل قرض ترلاسه کړي] فَلَا يَجُوْزُ أَنْ يَقْبِضَ مَالَهُ مَعَ قِيَامِ يَدِ الْاِسْتِيْفَاءِ نو مرتهن ته پر خپل مال [قرض] قبضه کول جائز نه دي د [قرض] ترلاسه کولو د قبضي د موجودېدلو سره لِأَنَّهُ يَتَكَرَّرُ الْاِسْتِيْفَاءُ ځکه چي [په دې سره] د [قرض] ترلاسه کول مکرر کيږي عَلَى اعْتِبَارِ الْهَلَاكِ فِيْ يَدِ الْمُرْتَهِنِ د مرتهن په قبضه کي [د مرهون شي] د هلاکېدلو په اعتبار کولو سره وَهُوَ مُحْتَمَلٌ چي د هغه احتمال سته [يعني د مرهون شي د هلاکېدلو او ضايع کېدلو احتمال سته] وَإِذَا أَحْضَرَهُ او کله چي مرتهن مرهون شی حاضر کړي أُمِرَ الرَّاهِنُ بِتَسْلِيْمِ الدَّيْنِ أَوَّلًا نو اول به راهن ته د قرض ورسپارلو حکم کيږي [چي مرتهن ته يې وسپاره!] لِيَتَعَيَّنَ حَقُّهُ كَمَا تَعَيَّنَ حَقُّ الرَّاهِنِ د دې لپاره چي د مرتهن حق متعين سي لکه څرنګه چي د راهن حق متعين سوی دی تَحْقِيْقًا لِلتَّسْوِيَةِ د برابرۍ [مساوات] ثابتولو لپاره كَمَا فِيْ تَسْلِيْمِ الْمَبِيْعِ وَالثَّمَنِ يُحْضَرُ الْمَبِيْعُ ثُمَّ يُسَلَّمُ

الثَّمَنُ أَوَّلًا لکه څرنګه چې د مبيع او ثمن په ورسپارلو کې مبيع حاضرول کيږي بيا اول ثمن ورسپارل کيږي.

اللغات: ﴿إحضار﴾ د افعال د باب مصدر دی: حاضرول، راوړل. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (حق) ترلاسه کول، پوره اخيستل، حاصلول. ﴿قيام﴾ د نصر مصدر دی: ولاړېدل او قايمېدل، موجودېدل. ﴿تسوية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: برابري کول، يو د بل سره برابرول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله مرتهن له راهن څخه د خپل قرض مطالبه وکړي او راهن د قرض اداء کولو ته تيار سي، نو قاضي به اول له مرتهن څخه د مرهون شي د راوړلو او حاضرولو مطالبه کوي؛ ځکه پر مرهون شي د مرتهن قبضه د استيفاء (خپل قرض ترلاسه کولو) قبضه ده. او د هغه سره د مرهون شي د هلاکېدلو احتمال هم سته. لهذا که د مرهون شي له حاضرولو څخه مخکې مرتهن ته د هغه حق يعني قرض ورکول سي، نو د هغه په حق کې به استيفاء مکرره سي او راهن غريب به محروم پاته سي، لهذا په استيفاء کې د راهن او مرتهن تر مينځ د مساوات ثابتولو لپاره به اول مرتهن د مرهون شي د حاضرولو حکم کيږي او کله چې هغه مرهون شی حاضر کړي، نو راهن ته به حکم کيږي چې د مرتهن قرض هغه ته وسپاره! ځکه چې مرهون شی موجود او متعين سو. او ستا حق په هغه کې ثابت دی، لهذا د مرتهن حق (قرض) هغه ته حواله کړه! او خپل حق يعني مرهون څني واخله!. لکه د بائع او مشتري تر مينځ چې همدغه صورت دی چې اول بائع ته د مبيع د حاضرولو حکم کيږي او تر دې وروسته مشتري ته د ثمن ورکولو حکم کيږي چې بائع ته پيسې ورکړه!. همداسي به دلته هم د مرهون شي تر حاضرولو وروسته راهن ته حکم کيږي چې اوس نو مرتهن ته خپل قرض ورکړه.

که مرتهن په بل ښار کې د قرض مطالبه وکړي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ طَالَبَهُ بِالدَّيْنِ فِي غَيْرِ الْمِصْرِ الَّذِي وَقَعَ الْعَقْدُ فِيهِ او که مرتهن له راهن څخه د قرض مطالبه وکړي له هغه ښار څخه بغير [بل ښار] کې چې عقد پکښې واقع سوی وي إِنْ كَانَ الرَّهْنُ مِمَّا لَا حَمْلَ لَهُ وَلَا مُؤْنَةَ نو که رهن [مرهون] له داسي شيانو څخه وي چې هغه لره بار او مشقت نه وي [يعني داسي غټ شی نه وي چې د هغه په وړلو کې مشقت او لګښت راځي] فَكَذَلِكَ الْجَوَابُ نو همداسي حکم دی [يعني اول به مرتهن ته حکم کيږي چې مرهون شی حاضر کړه!] لِأَنَّ الْأَمَاكِنَ كُلَّهَا فِي حَقِّ التَّسْلِيمِ كَمَكَانٍ وَاحِدٍ فِيمَا لَيْسَ لَهُ حَمْلٌ وَمُؤْنَةٌ ځکه د داسي شي د ورسپارلو په حق کې ټوله ځايونه د يوه ځای په څېر دي

چې هغه لره بار او مشقت نه وي وَلِهٰذَا لَا يُشْتَرَطُ بَيَانُ مَكَانِ الْإِيفَاءِ فِيهِ فِي بَابِ السَّلَمِ بِالْإِجْمَاعِ په همدې وجه د سلم په باب کې د داسې شي د ورکولو ځای بیانول بالاجماع شرط نه دی وَإِنْ كَانَ لَهُ حَمْلٌ وَمُؤْنَةٌ او که د رهن لپاره بار او مشقت وي يَسْتَوْفِي دَيْنَهُ وَلَا يُكَلَّفُ إِحْضَارَ الرَّهْنِ نو هغه به [له راهن څخه] خپل قرض ترلاسه کوي او د رهن [مرهون] په حاضرولو سره به نه مکلف کول کیږي لِأَنَّ هٰذَا نَقْلٌ ځکه چې دا [بل ښار ته حاضرول] نقلول دی وَالْوَاجِبُ عَلَيْهِ التَّسْلِيمُ بِمَعْنَى التَّخْلِيَةِ لَا النَّقْلُ مِنْ مَكَانٍ إِلَى مَكَانٍ حال دا چې پر مرتهن [فقط] ورسپارل یعنې تخلیه واجب ده. نه له یوه ځایه بل ځای ته نقلول لِأَنَّهُ يَتَضَرَّرُ بِهِ زِيَادَةَ الضَّرَرِ ځکه چې په دې سره مرتهن ته زائد [اضافي] ضرر رسیږي وَلَمْ يَلْتَزِمْ او مرتهن [د عقدِ رهن په وخت] ضرر پر ځان نه دی لازم کړی.

اللغات: ﴿حمل﴾ د ضرب مصدر دی: بار او بوج. پورته کول او بارول، وړل. ﴿مؤنة﴾ مشقت او زحمت، خرچ، لګښت. ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (حق) اداء کول او ورکول. پوره کول. ﴿يستوفي﴾ د استفعال مضارع ده: ترلاسه کول، پوره اخیستل. ﴿تخلية﴾ د تفعیل مصدر دی. د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه څو دا دي: پرېښوول، ورسپارل، یعني شی بل چا ته سپارل او ور پرېښوول او خپله قبضه ځنې ختمول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې په کوم ځای کې عقد رهن سوی دی. که له هغه ځای څخه بغیر په یو بل ځای کې مرتهن له راهن څخه د خپل قرض مطالبه وکړي، مثلاً عقد رهن په هلمند کې سوی وي او مرتهن له راهن څخه په کندهار کې د خپل قرض مطالبه وکړي. نو آیا دلته به هم اول مرتهن ته حکم کیږي چې مرهون شی (هلمند ته) راوړه او حاضریې کړه!. نو فرمایي چې دلته به اول دې ته کتل کیږي چې مرهون څنګه شی دی؟ آیا د هغه په وړلو کې تکلیف او مشقت پرېوځي. که نه؟. همدارنګه د هغه د وړلو لپاره یو سپارلي (او موټر وغیره) ته ضرورت پرېوځي یا له هغه څخه بغیر نقل کېدلای سي یا په بله وینا دا چې کوچنی شی دی لکه قلم، ګوتمې وغیره او که غټ شی دی لکه ډېر کتابونه او داسې نور. نو په اول صورت کې خو به مرتهن ته دا حکم کیږي چې اول مرهون شی حاضر کړه او بیا له راهن څخه قرض واخله!. ځکه کله چې مرهون کوچنی سپک شی دی. نو د هغه د ورسپارلو په حق کې ټوله ځایونه سره برابر دي. همدا وجه ده چې د سلم په باب کې بالاجماع په داسې شیانو کې د ورسپارلو ځای متعینول شرط نه دي.

او که مرهون شی له دویم قسم څخه وي، نو مرتهن ته به د هغه د حاضرولو تکلیف نه ورکول کیږي چي مرهون شی (هلمند ته) راوړه! بلکي هغه به له راهن څخه خپل قرض اخلي؛ ځکه د مرتهن فریضه تسلیم دی چي د هغه حقیقت تخلیه ده. نقل پر هغه ضروري نه دی (یعني د هغه ذمه واري نقط دا ده چي مرهون شی راهن ته پریږدي او خپله قبضه ځني ختمه کړي. نقلول او وړل پر هغه ضروري نه دي). همدارنګه په نقل سره مرتهن ته ضرر رسیږي حال دا چي هغه د عقد رهن په وخت کي ضرر پر ځان نه دی لازم کړی.

د رهن (مرهون) د خرڅولو یو صورت

وَلَوْ سَلَّطَ الرَّاهِنُ الْعَدْلَ عَلٰى بَيْعِ الْمَرْهُوْنِ او که راهن یو عادل کس د مرهون شي پر خرڅولو وګوماري [د مرهون د خرڅولو حکم ورته وکړي] فَبَاعَهُ بِنَقْدٍ أَوْ نَسِيْئَةٍ او هغه یې په نغدو یا په پور خرڅ کړي جَازَ نو جائز دي لِإِطْلَاقِ الْأَمْرِ د حکم د مطلق والي په وجه فَلَوْ طَالَبَ الْمُرْتَهِنُ بِالدَّيْنِ بیا که مرتهن د قرض مطالبه وکړي لَا يُكَلَّفُ الْمُرْتَهِنُ إِحْضَارَ الرَّهْنِ نو مرتهن به د رهن [مرهون] پر حاضرولو نه مکلف کول کیږي لِأَنَّهُ لَا قُدْرَةَ لَهُ عَلَى الْإِحْضَارِ ځکه چي [اوس] پر حاضرولو د هغه قدرت نسته.

اللغات: ﴿سلّط﴾ د تفعیل ماضي ده: مسلط کول (ګومارل)، پر یو شي چا ته قدرت او قبضه ورکول. ﴿عادل﴾ مراد ځني هغه کس دی چي راهن او مرتهن دواړو په اتفاق هغه ته شی په رهن ایښی وي(اشرف). ﴿نسيئة﴾ په تأخیر (ځنډ) سره یعني په پور.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که راهن عادل کس ته حکم وکړي چي مرهون شی خرڅ کړه!. نو څرنګه چي د راهن دا حکم مطلق دی او د پور او نغدو څه قید پکښي نسته. لهذا دا به پور او نقد دواړو لره شامل وي. نو که عادل کس هغه په پور خرڅ کړي نو هم جائز دي. او که په همدې دوران کي مرتهن له راهن څخه د خپل قرض مطالبه وکړي، نو هغه ته د دې حق خو سته لېکن دلته به مرتهن ته دا حکم نه کیږي چي اول مرهون شی حاضر کړه!، ځکه د مرهون پر حاضرولو اوس د هغه قدرت او ختیار نسته. لکه څرنګه چي دا ښکاره خبره ده.

که راهن مرتهن ته د مرهون شي د خرڅولو حکم وکړي؟

وَكَذَا إِذَا أَمَرَ الْمُرْتَهِنَ بِبَيْعِهِ او همدارنګه کله چي مرتهن ته د مرهون شي د خرڅولو حکم وکړي فَبَاعَهُ وَلَمْ يَقْبِضِ الثَّمَنَ او مرتهن هغه خرڅ کړي خو پر ثمن قبضه نه وکړي لِأَنَّهُ صَارَ دَيْنًا بِالْبَيْعِ بِأَمْرِ الرَّاهِنِ ځکه هغه [مرهون شی] د راهن په حکم سره د خرڅولو په وجه دَین وګرځېدی فَصَارَ

كَأَنَّ الرَّاهِنَ رَهَنَهُ وَهُوَ دَيْنٌ نو داسې سو لکه راهن چې مرهون په داسې حالت کې په رهن ورته ایښی وي چې هغه دَین وي وَلَوْ قَبَضَهُ او که مرتهن پر ثمن قبضه وکړي يُكَلَّفُ إِحْضَارَهُ نو [اوس] به د ثمن په حاضرولو سره مکلف کول کیږي لِقِيَامِ الْبَدَلِ مَقَامَ الْمُبْدَلِ ځکه چې بدل د مبدل قائم مقام وي [او دلته مرهون شی مبدل دی او دا ثمن د هغه بدل دی، نو ځکه اوس به د هغه پر ځای ثمن حاضر وي] إِلَّا أَنَّ الَّذِي يَتَوَلَّى قَبْضَ الثَّمَنِ هُوَ الْمُرْتَهِنُ خو پر ثمن د قبضې کولو متولي [او اختیار من] به یوازې هم دا مرتهن وي لِأَنَّهُ هُوَ الْعَاقِدُ ځکه چې هم هاغه عقد کونکی دی فَتَرْجِعُ الْحُقُوقُ إِلَيْهِ نو د عقد حقوق به د هغه طرف ته راجع کیږي وَكَمَا يُكَلَّفُ إِحْضَارَ الرَّهْنِ لِاسْتِيفَاءِ كُلِّ الدَّيْنِ او څرنګه چې د ټوله قرض ترلاسه کولو لپاره مرتهن د رهن په حاضرولو مکلف کیږي يُكَلَّفُ لِاسْتِيفَاءِ نَجْمٍ قَدْ حَلَّ همداسې به د هغه یوه قسط [یوې حصې] ترلاسه کولو لپاره چې وخت یې راغلی وي مرتهن د رهن په حاضرولو مکلف کیږي لِاحْتِمَالِ الْهَلَاكِ ځکه د هلاکیدلو [ضایع کیدلو] احتمال یې سته ثُمَّ إِذَا قَبَضَ الثَّمَنَ بیا چې کله مرتهن پر ثمن قبضه وکړي يُؤْمَرُ بِإِحْضَارِهِ لِاسْتِيفَاءِ الدَّيْنِ نو د دَین ترلاسه کولو لپاره هغه ته به د ثمن حاضرولو حکم کیږي لِقِيَامِهِ مَقَامَ الْعَيْنِ ځکه چې ثمن د عَین قائم مقام دی وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا قَتَلَ رَجُلٌ الْعَبْدَ الرَّهْنَ خَطَأً په خلاف د هغه صورت کله چې یو سړی مرهون غلام په خطاء سره قتل کړي حَتَّى قُضِيَ بِهِ بِالْقِيمَةِ عَلَى عَاقِلَتِهِ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ تر دې چې [د قاضي له طرفه] د هغه سړي پر عاقله وو د قیمت فیصله وسي په دریو کالو کې [چې په دې موده کې به دا قیمت اداء کوي!] لَمْ يُجْبَرِ الرَّاهِنُ عَلَى قَضَاءِ الدَّيْنِ نو راهن به د دَین پر اداء کولو نه مجبورول کیږي حَتَّى يُحْضِرَ كُلَّ الْقِيمَةِ تر دې چې مرتهن ټوله قیمت حاضر کړي لِأَنَّ الْقِيمَةَ خَلَفٌ عَنِ الرَّهْنِ ځکه چې قیمت د رهن بدل دی فَلَا بُدَّ مِنْ إِحْضَارِ كُلِّهَا نو ځکه د ټوله قیمت حاضرول ضروري دي كَمَا لَا بُدَّ مِنْ إِحْضَارِ كُلِّ عَيْنِ الرَّهْنِ لکه څرنګه چې د ټوله عینِ مرهون حاضرول ضروري دي وَمَا صَارَتْ قِيمَةً بِفِعْلِهِ او دلته مرهون [غلام مقتول] د راهن په فعل سره قیمت نه دی ګرځیدلی وَفِيمَا تَقَدَّمَ صَارَ دَيْنًا بِفِعْلِ الرَّاهِنِ او په مخکینې مسئله کې د راهن فعل سره مرهون دَین

ګرځېدلی دی فَلِهٰذَا افْتَرَقَا نو په همدې وجه دواړه مسئلې سره جلا سوې.

اللغات: ﴿يتولّى﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: مشر او اختيار من كېدل. ذمه وار كېدلم ﴿نجم﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: قسط. كښت. ټاكل سوې حصه. (قرض يا داسي بل حق چي پر څو حصو ووېشل سي او د هري حصې د اداء كولو لپاره يې جلا وخت وټاكل سي (چي مثلاً په هره مياشت كي دومره دركوم). نو د هغه هري حصې ته "قسط" ويل كيږي). ﴿عاقلة﴾ د قاتل او جنايتكاره متعلّقين (اهل ديوان وغيره) او د هغه خاندان والا.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه راهن خپل مرتهن ته دا حكم وكړي چي مرهون شی خرڅ كړه او له هغه څخه خپل قرض وصول كړه! او مرتهن مرهون خرڅ كړي لېكن پر ثمن قبضه نه وكړي (يعني له مشتري څخه فی الحاله پيسې نه واخلي) او بيا له راهن څخه د خپل قرض مطالبه وكړي. نو په دې صورت كي هم مرتهن ته د مطالبې حق او اختيار خو سته لېكن مرتهن ته به د مرهون شي د حاضرولو حكم نه كيږي؛ ځكه د خرڅولو په وجه مرهون عَين پاته نه سو بلكي دَين وګرځېدی. او څرنګه چي د مرهون دَين كېدل خپله د راهن په حكم سره سوي دي،لهذا دا داسي سوه لكه مرهون شی چي د يو چا دَين وي او راهن هغه په رهن ايښی وي، او ښكاره خبره ده چي كله مرهون دَين وي، نو مرتهن ته د مطالبې حق خو سته لېكن د مرهون حاضرول پر هغه ضروري نه وي، همداسي په صورت مسئله كي چي كله مرتهن له راهن څخه د خپل دَين مطالبه وكړي، نو هغه به د مرهون په حاضرولو نه مكلف كول كيږي.

لېكن كله چي مرتهن له مشتري څخه د مرهون شي ثمن ترلاسه كړي، نو څرنګه چي ثمن د مرهون قائم مقام دي، لهذا اوس به مرتهن د ثمن په حاضرولو مكلف كول كيږي.

إلاأن إلخ: د دې تعلق د ثمن نه ترلاسه كولو د صورت سره دی، يعني كه مرتهن رهن خرڅ كړي او د هغه ثمن ترلاسه او قبضه نه كړي، نو وروسته د ثمن ترلاسه كولو حق فقط مرتهن لره دی، نه راهن لره؛ ځكه همدا مرتهن عاقد او مباشر دی، او د عقد حقوق د عاقد وطرف ته راجع كيږي.

وكمايكلّف إلخ: د دې حاصل دا دی چي ځيني وخت راهن ومرتهن ته قرض په يوه ځل وركوي او كله يې په قسط (كښت) يعني په حصه، حصه سره اداء كوي، فرمايي چي څرنګه په يوه ځل د قرض اداء كېدلو په صورت كي ټوله مرهون شی يا د هغه ټوله ثمن حاضرول پر مرتهن لازم او ضروري دي، همداسي په قسط سره د اداء كېدلو په صورت كي هم د اول قسط د پوره كېدلو او اداء كولو په وخت كي پر مرتهن د ټوله مرهون حاضرول لازم دي؛ ځكه د مرهون شي د هلاكېدلو او ضايع كېدلو احتمال

ستنه. او ښکاره خبره ده چې که مرهون هلاک او ضایع سي نو بیا پر راهن د قرض اداء کول لازم پاته نه سوه. نو ځکه په راهن او مرتهن کي د مساوات ثابتولو لپاره د اول قسط پوره کېدلو او اداء کېدلو پر موقع هم پر مرتهن د ټوله مرهون حاضرول لازم او ضروري دي.

وهٰذا بخلاف إلخ: صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي په "وهٰذا" سره مصنف رَحِمَهُ الله پورتني متن "وكذا إذا أمر المرتهن إلخ" ته اشاره کړې ده. او په دې عبارت سره د هغه مقصد دا دی چي که مرتهن د راهن په حکم سره مرهون شی خرڅ کړي او بيا د خپل قرض مطالبه وکړي. نو که مرتهن پر ثمن قبضه نه وي کړې. نو هغه به د مرهون شي پر حاضرولو يا د ثمن پر حاضرولو نه مجبورول کيږي. بلکي بغير له حاضرولو هم پر راهن د هغه قرض اداء کول لازم دي؛ ځکه په دې صورت کي د عين يعني د مرهون دين کېدل د راهن په حکم سره واقع سوي دي. نو ځکه د مرهون له إحضار څخه بغير به راهن د مرتهن قرض اداء کوي.

لېکن که صورت داسي وي چي مرهون يو غلام وي يعني راهن خپل غلام مرتهن ته په رهن ورکړی وي او يو څوک هغه د مرتهن سره خطاءً قتل کړي. بيا قاضي د قاتل پر وارثانو د هغه غلام قيمت واجب کړي او هغوی د قسط په حساب سره په دريو کالو کي د قيمت په اداء کولو مکلف کړي (چي تاسي به د دريو کالو په موده کي د غلام قيمت مرتهن ته ورکوئ!) اوس که د دريو کالو تر پوره کېدلو او د غلام د ټوله قيمت تر اخيستلو مخکي مرتهن له راهن څخه د خپل دَين مطالبه وکړي. نو راهن به د هغه پر اداء کولو نه مجبورول کيږي. تر دې چي د دريو کالو په پوره کېدلو سره مرتهن د ټوله غلام قيمت حاضر کړي. نو که مرتهن ټوله قيمت حاضر کړي او راهن ته يې ورکړي. نو د مرتهن قرض به له هغه څخه ورکول کيږي. وَإلا فلا: ځکه په صورت مسئله کي د غلام قيمت د غلام د عَين (ذات) بدل دی. لهذا د قرض ترلاسه کولو په وخت کي چي څرنګه د ټوله عَين حاضرول ضروري دي. همداسي د عَين ټوله قيمت حاضرول هم ضروري دي. او بيا څرنګه چي په دې صورت کي د عَين په ثمن کېدلو او دَين کېدلو کي د راهن هيڅ لاس نسته. نو ځکه په دې حواله سره هم د ټوله قيمت تر حاضرولو مخکي هغه د قرض پر اداء کولو نه سي مجبورول کېدلای. او په همدې حواله سره د غه مسئله له مخکني مسئلې څخه جلا ده چي په مخکني مسئله کي د عَين په دَين کېدلو کي د راهن لاس سته او دلته نسته. (احسن الهدايه)

که مرتهن د راهن په حکم سره مرهون شی بل چا ته په امانت کښېږدي (حکم او تفصيل)

وَلَوْ وَضَعَ الرَّهْنَ عَلَى يَدِ الْعَدْلِ او که راهن د عادل کس پر لاس [يعني د عادل سره] رهن کښېږدي وَأَمَرَ أَنْ يُودِعَهُ غَيْرَهُ او حکم ورته وکړي چي بل چا ته هغه په امانت کښېږده! فَفَعَلَ او عادل کس داسي وکړي ثُمَّ جَاءَ الْمُرْتَهِنُ يَطْلُبُ دَيْنَهُ بيا مرتهن راسي چي د خپل قرض طلب کوي لَا يُكَلَّفُ إِحْضَارَ الرَّهْنِ نو مرتهن به د رهن [مرهون] په حاضرولو نه مکلف کول کيږي لِأَنَّهُ لَمْ يُؤْتَمَنْ عَلَيْهِ حَيْثُ وَضَعَ

عَلٰی يَدِ غَيْرِهِ ځکه [د راهن له طرفه] پر هغه اعتماد نه دی سوی په دې حيثيت سره چې راهن [مرهون شی] د بل چا سره ايښی دی فَلَمْ يَكُنْ تَسْلِيْمُهُ فِي قُدْرَتِهِ نو د مرهون ورسپارل د مرتهن په قدرت کې نه دي.

اللغات: ﴿يُودِع﴾ د افعال د باب مضارع ده: په امانت ايښوول. ﴿لم يوتمن﴾ د افتعال له بابه د مضارع مجهولې صيغه ده: پريو چا اعتماد او بروسه کول. يو څوک امين او قابل اعتماد ګڼل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد له خالد څخه قرض واخلي او خالد د رهن مطالبه ځنې وکړي (چې ما ته يو شی په رهن کښېږده!). ليکن زيد له خالد څخه بغير بل عادل کس مثلاً حامد ته رهن کښېږدي او هغه ته دا اجازه هم ورکړي چې که ته وغواړې! نو دا مرهون شی بل چا ته په امانت ايښوولای سې. او دغه کس (حامد) همداسي وکړي، يعني مرهون شی بل چا ته کښېږدي. بيا تر دې وروسته مرتهن (يعني قرض ورکونکی خالد) له مديون راهن (زيد څخه کوم چې بل چا ته رهن ايښی دی) د خپل قرض مطالبه وکړي. نو راهن (زيد) ته پکار دی چې مرتهن (قرض ورکونکي خالد) ته خپل قرض ورکړي او هغه به د مرهون په حاضرولو سره نه مکلف کول کيږي؛ ځکه کله چې راهن هغه ته رهن نه دی ايښی او پر هغه يې اعتماد نه دی کړی بلکې بل چا ته يې رهن ايښی دی. نو ښکاره ده چې هغه ته د دې هيڅ حق نسته چې له مرتهن څخه د مرهون حاضرولو مطالبه وکړي. او بل د مطالبې کولو څه فايده هم نسته، ځکه کله چې دلته مرتهن (خالد) پر مرهون قبضه نه ده کړې او ليدلی يې لا نه دی. نو هغه به يې څنګه حاضر کړي!؟.

يادونه: ښکاره دي وي چې په دې مسئله او را روانو دوو مسئلو کې له "مرتهن" څخه مراد قرض ورکونکی کس (خالد) مراد دی، حالانکې په حقيقت کې هغه مرتهن نه دی. بلکې په دې مسئلو کې مرتهن خو عادل کس دی.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْ وَضَعَهُ الْعَدْلُ فِي يَدِ مَنْ فِي عِيَالِهِ او که عادل کس رهن [مرهون] د داسي چا سره کښېږدي کوم چې د ده له کورنۍ والا څخه وي وَغَابَ او عادل غائب سي وَطَلَبَ الْمُرْتَهِنُ دَيْنَهُ او مرتهن د خپل قرض طلب وکړي وَالَّذِيْ فِي يَدِهِ يَقُوْلُ او د چا په لاس کي چې رهن دی هغه وايي أَوْدَعَنِيْ فُلَانٌ وَلَا أَدْرِيْ لِمَنْ هُوَ چې دا ما ته فلانکي ايښی دی او زه خبره نه يم چې دا د چا دی؟ يُجْبَرُ الرَّاهِنُ عَلٰی قَضَاءِ الدَّيْنِ نو راهن به د قرض پر اداء کولو مجبوروول کيږي لِأَنَّ إِحْضَارَ الرَّهْنِ لَيْسَ عَلَی الْمُرْتَهِنِ ځکه د رهن حاضرول د مرتهن پر ذمه نه دي لِأَنَّهُ لَمْ يَقْبِضْ شَيْئًا ځکه هغه پر هيڅ شي قبضه نه ده کړې

وَكَذٰلِكَ إِذَا غَابَ الْعَدْلُ بِالرَّهْنِ وَلَا يُدْرٰى أَيْنَ هُوَ او همدارنګه کله چې عادل کس د رهن سره غائب سي او دا معلومه نه وي چې هغه چيري دی؟ لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿عِيَال﴾ کورنۍ والا، هغه کسان کوم ته چې سړی نفقه او خرچه ورکوي. د سياق تفصيله.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که عادل کس دا مرهون شي يو داسي چا ته په امانت کښېږدي کوم چې د ده نه عيال او کورنۍ څخه وي (مثلاً زبير ته). بيا سرتهن راسي د خپل قرض مطالبه وکړي او د عادل له طرفه امين کس (زبير) هغه ته ووايي چې د فلانکي (عادل) امانت خو زما سره موجود دی لېکن په دې نه يم خبر چې هغه د چا دی؟. نو په دې صورت کې به هم راهن (زيد) د مرتهن (قرض ورکونکي خالد) پر قرض اداء کولو مجبورول کيږي او له مرتهن څخه به د مرهون شي د حاضرولو مطالبه نه کيږي؛ ځکه دلته د مرهون حاضرول د مرتهن پر ذمه نه دي. ځکه د مخکې په څېر دلته هم مرهون شی مرتهن ته نه دی اېښوول سی او مرتهن قبضه نه ده پر کړې، نو هغه به يې څنګه حاضر کړي!؟.

همدارنګه که عادل کس مرهون شی يوونسي غائب سي او د رک يې معلوم نه وي چې هغه چيري دی، نو هم به راهن د قرض پر اداء کول مجبورل کيږي او مرتهن به د مرهون په حاضرولو نه مکلف کول کيږي د همدې مخکيني دليل په وجه (چې دلته د مرهون حاضرول د مرتهن پر ذمه نه دي چې هغه قبضه نه ده پر کړې).

که امين کس د رهن انکار وکړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَنَّ الَّذِي أَوْدَعَهُ الْعَدْلُ جَحَدَ الرَّهْنَ او که هغه کس کوم ته چې عادل کس رهن په امانت اېښی دی [يعني مودَع] له رهن څخه انکار وکړي وَقَالَ: هُوَ مَالِيْ او ووايي: چې دا زما مال دی لَمْ يَرْجِعِ الْمُرْتَهِنُ عَلَى الرَّاهِنِ بِشَيْءٍ نو مرتهن په هيڅ شي سره پر راهن رجوع نه سي کولای [يعني هيڅ قرض هم نه سي ځني اخيستلای] حَتّٰى يَثْبُتَ كَوْنُهُ رَهْنًا تر دې چې د هغه رهن کېدل ثابت کړي لِأَنَّهُ لَمَّا جَحَدَ ځکه کله چې مودَع انکار وکړی فَقَدْ تَوَى الْمَالُ نو مرهون مال ضايع سو وَالتَّوٰى عَلَى الْمُرْتَهِنِ او ضايع کېدل د مرتهن پر ذمه وي فَيَتَحَقَّقُ اسْتِيْفَاءُ الدَّيْنِ نو د قرض ترلاسه کول به متحقق کيږي [چې ګواکي مرتهن خپل قرض ترلاسه کړی] وَلَا يَمْلِكُ الْمُطَالَبَةَ بِهِ او مرتهن به د قرض مطالبې کولو ملکيت[اختيار] نه لري.

اللغات: ﴿تَوٰى﴾ د سمع د باب ماضي ده: هلاکېدل، ضايع کېدل او برباد کېدل (داسي ضايع کېدل چې بيا يې هيڅ اُميد نه وي).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که عادل کس یو څا مثلاً حامد ته مرهون مال، په امانت ايښی وي، لېکن حامد له هغه شخصه منکر سي او ووايي چي زما سره د څا امانت نسته او دا خو زما خپل ذاتي مال دی، نو په دې صورت کې مرهون مال د مرتهن (قرض ورکوونکي) په قبضه کې هلاک او ضایع شمېرل کیږي او هغه ته له راهن څخه د قرض د سطالبې حق نسته: ځکه د موډع (حامد) تر انکار وروسته مرهون مال ضایع سو، او د ضایع کېدلو ذمه واري مرتهن (قرض ورکوونکي) ته راجع کیږي: ځکه راهن چي کله له مرتهن څخه بغیر بل څا ته رهن ايږدي، نو هغه د ده او د مرتهن په اتفاق سره وي، لهذا په صورت مسئله چي څرنګه د راهن مال ضایع سو، نو همداسي د مرتهن د استیفاء (قرض اخیستلو) حق هم ختمیږي او د قرض حق يې نه پاتیږي، ها! که په دعوه او ګواهانو سره مرتهن د دې مال رهن کېدل ثابت کړي او د امانت (ودیعت) اړخ معدوم او منقطع کړي، نو په دې صورت کې د هغه حق پاتیږي: ځکه مرهون مال مضمون دی. (احسن الهدایه)

مرتهن تر کومه وخته مرهون شی راګرځولای سي؟

قَالَ: وَإِنْ كَانَ الرَّهْنُ فِي يَدِهِ فرمايي: او که رهن د مرتهن په قبضه کي وي لَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُمَكِّنَهُ مِنَ الْبَيْعِ نو پر مرتهن دا لازمه نه ده چي راهن ته د هغه د خرڅولو قدرت [او اختیار] ورکړي حَتَّى يَقْضِيَهُ الدَّيْنَ تر دې چي راهن د هغه قرض اداء کړي لِأَنَّ حُكْمَهُ الْحَبْسُ الدَّائِمُ إِلَى أَنْ يُقْضَى الدَّيْنُ ځکه د رهن حکم [د مرهون] دائمي راګرځول دي تر دې چي قرض اداء کړی سی [یعني د رهن حکم دا دی چي مرتهن د قرض اداء کولو تر وخته مرهون شی راګرځولای سي] عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي [د کتاب الرهن په اوله حصه کي] موږ دا بیان کړه.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي تر څو مرتهن خپل قرض ترلاسه نه کړي، تر هغه وخته ده ته حق سته چي رهن (مرهون) د ځان سره راوګرځوي او راهن ته يې نه وسپاري، لهذا که راهن د رهن خرڅول غواړي، نو پر مرتهن دا ضروري نه ده چي راهن ته د هغه د خرڅولو اختیار او اجازه ورکړي او د خرڅولو لپاره رهن هغه ته وسپاري.

د مرهون شي د واپس کولو لپاره د ټوله قرض واپس کول ضروري دي (په دې هکله درې مسئلې)

وَلَوْ قَضَاهُ الْبَعْضَ او که راهن مرتهن ته څه قرض وراداء کړي [نه ټوله] فَلَهُ أَنْ يَحْبِسَ كُلَّ الرَّهْنِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْبَقِيَّةَ نو مرتهن ته دا حق سته چي ټوله رهن راوګرځوي تر دې چي پاته قرض ترلاسه کړي اِعْتِبَارًا بِحَبْسِ الْمَبِيعِ د مبیع پر راګرځولو په قیاس کولو سره فَإِذَا قَضَاهُ الدَّيْنَ بیا چي

کله راهن مرتهن ته ټوله قرض ور اداء کړي قِيْلَ لَهُ: سَلِّمِ الرَّهْنَ إِلَيْهِ نو مرتهن ته به ویل کیږي چي رهن [مرهون] راهن ته وسپاره! لِأَنَّهُ زَالَ الْمَانِعُ مِنَ التَّسْلِيمِ ځکه چي د ورسپارلو مانع زائل سو لِوُصُوْلِ الْحَقِّ إِلَى مُسْتَحِقِّهِ ځکه حق خپل مستحق ته ورسېدی فَلَوْهَلَكَ قَبْلَ التَّسْلِيْمِ که له ورسپارلو څخه مخکي رهن هلاک سي اِسْتَرَدَّ الرَّاهِنُ مَا قَضَاهُ نو راهن به له مرتهن څخه قرض واپس اخلي کوم چي یې ورکړی دی لِأَنَّهُ صَارَ مُسْتَوْفِيًا عِنْدَ الْهَلَاكِ بِالْقَبْضِ السَّابِقِ ځکه هلاکېدلو په وخت کي د مخکني قبضې په وجه مرتهن [د خپل قرض] ترلاسه کونکی وګرځ فَكَانَ الثَّانِيْ اِسْتِيْفَاءً بَعْدَ اسْتِيْفَاءِ نو دویم ترلاسه کول به [د قرض] له ترلاسه کولو وروسته بیا ترلاسه کول وي فَيَجِبُ رَدُّهُ نو ځکه د هغه [ثاني] واپس کول به واجب وي.

اللغات: ﴿قضاه﴾ د ضرب د باب ماضي ده: اداء کول، چالاته خپل حق ورکول. ﴿استرد﴾ د استفعال د باب ماضي ده: واپس اخیستل.

تشریح: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

①... مخکي په بیع کي ذکر سوه چي بائع ته دا حق سته چي تر هغه وخته له مشتري څخه راوګرځوي تر څو چي مشتري ثمن اداء نه کړي، همدارنګه که مشتري څه ثمن اداء کړي، نه ټوا بیا هم بائع ته دا حق سته چي د ټوله ثمن ترلاسه کولو پوري مبیع راوګرځوي. همدغسي د حِکم هم دی چي که راهن څه قرض اداء کړي او څه قرض پاته سي، نو مرتهن ته حق سته چي تر راهن ټوله قرض اداء نه کړي، تر هغه وخته مرهون راوګرځوي.

②... کله چي راهن ټوله قرض اداء کړي، نو بیا مرتهن ته دا حق نسته چي مرهون شی راوګرځ ځکه چي مرتهن خپل حق ترلاسه کړی، نو پر کوم بنیاد چي مرتهن ته د حبس حق حاصل وو. بنیاد ختم سو.

③... که راهن ټوله قرض اداء کړي خو د قرض تر اداء کولو وروسته نا بیره مرهون شی د مرتهن هلاک سي، نو راهن چي کوم قرض اداء کړی دی هغه به واپس ځني اخلي؛ ځکه د مرهون د هلاک په وجه مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی وګرځېدی، نو دا به مکرر ترلاسه کول سي (چي یو ځل مرهون ترلاسه او ضایع کړی او اوس د هغه عوض قرض هم ترلاسه کوي) کوم چي صحیح نه دي، نو له څخه د بچ کېدلو لپاره پر مرتهن د راهن قرض واپس کول ضروري دي.

د عقد رهن د فسخ کولو په صورت کې هم پورتنی حکم دی (په دې هکله درې مسئلې)

وَكَذٰلِكَ لَوْ تَفَاسَخَا الرَّهْنَ او همدارنګه که راهن او مرتهن رهن سره فسخ کړي لَهُ حَبْسُهُ مَا لَمْ يَقْبِضِ الدَّيْنَ أَوْ يُبْرِئْهُ نو مرتهن ته د مرهون شي د راګرځولو حق سته تر دې چې پر خپل قرض قبضه وکړي یا راهن له قرض څخه بري کړي وَلَا يَبْطُلُ الرَّهْنُ إِلَّا بِالرَّدِّ عَلَى الرَّاهِنِ عَلٰى وَجْهِ الْفَسْخِ او رهن نه باطلیږي مګر پر راهن د فسخ په توګه په واپس کولو سره [یعني چې مرتهن د فسخ په غرض راهن ته مرهون واپس کړي] لِأَنَّهُ يَبْقٰى مَضْمُوْنًا مَا بَقِيَ الْقَبْضُ وَالدَّيْنُ ځکه چې رهن تر هغه وخته مضمون پاتېږي تر څو چې قبضه او قرض پاته وي وَلَوْ هَلَكَ فِيْ يَدِهٖ او که رهن [مرهون] د مرتهن په قبضه کې هلاک سي سَقَطَ الدَّيْنُ إِذَا كَانَ بِهٖ وَفَاءٌ بِالدَّيْنِ نو قرض ساقطیږي [په دې شرط] کله چې په هغه سره قرض پوره کیږي لِبَقَاءِ الرَّهْنِ د رهن پاتېدلو په وجه.

تشریح: په دې عبارت کې هم درې مسئلې ذکر سوي دي:

①... څرنګه چې مرتهن ته دا حق سته چې تر څو خپل قرض ترلاسه نه کړي. تر هغه وخته مرهون شی راوګرځوي، همداسي که راهن او مرتهن دواړه په زباني توګه رهن فسخ کړي. خو تر اوسه مرهون شی د مرتهن په قبضه کې وي، نو رهن نه فسخ کیږي، لهذا دلته هم مرتهن ته د مرهون راګرځولو حق سته تر دې چې راهن د هغه قرض اداء کړي. یا تر دې چې مرتهن راهن له قرض څخه بري کړي. د قرض له اداء کولو یا بري کولو څخه وروسته د مرتهن د راګرځولو حق (حق الحبس) ختمیږي.

②... رهن هغه وخت باطلیږي کله چې مرتهن د فسخ په توګه راهن ته مرهون شی واپس کړي. کنې تر څو چې د قرض سره د مرتهن قبضه متصله او باقي پاته وي. پر هغه د رهن احکام جاري کیږي او د مخکي په څېر رهن مضمون کیږي.

③... رهن په زباني فسخ سره هغه وخت باطلیږي کله چې مرهون شی راهن ته وسپارل سي. کنې نه باطلیږي. لهذا که تر زباني فسخ وروسته مرهون شی راهن ته واپس نه کړی سي او د مرتهن په قبضه کې هغه هلاک سي، نو دا رهن مضمون دی (یعني پر مرتهن د هغه ضمان لازم دی). نو که د هغه قیمت د قرض په اندازه وي، نو د مرتهن قرض ساقطیږي او که قیمت یې تر قرض کم وي او قرض زیات وي، نو پاته قرض به له راهن څخه اخلي. او دلته د قرض ساقطېدلو وجه دا ده چې د مرهون شي له واپس کولو څخه مخکي رهن باقي دی. لهذا دلته به د رهن احکام جاري کیږي.

له مرهون شي څخه د نفع اخيستلو حکم

وَلَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَنْتَفِعَ بِالرَّهْنِ او مرتهن لره دا حق نسته چي له رهن [مرهون] څخه نفع واخلي لَا بِاسْتِخْدَامٍ وَلَا بِسُكْنَى وَلَا لُبْسٍ نه د خدمت اخيستلو په توګه، نه د اوسېدلو په توګه او نه د اغوستلو په توګه إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْمَالِكُ مګر دا چي مالک [راهن] هغه ته اجازت ورکړي لِأَنَّ لَهُ حَقَّ الْحَبْسِ دُونَ الِانْتِفَاعِ ځکه چي مرتهن ته فقط [د مرهون شي] د راګرځولو حق سته، نه د نفع اخيستلو وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَبِيعَ إِلَّا بِتَسْلِيطٍ مِنَ الرَّاهِنِ او مرتهن ته دا حق نسته چي رهن خرڅ کړي مګر د راهن له طرفه په ګومارلو سره [يعني چي راهن هغه ته د خرڅولو قدرت او اختيار ورکړي] وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُؤَاجِرَ وَيُعِيرَ او هغه ته دا حق نسته چي رهن په اجاره او عاريت سره ورکړي لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ وِلَايَةُ الِانْتِفَاعِ بِنَفْسِهِ ځکه چي هغه ته خپله د نفع اخيستلو ولايت [او اختيار] نسته فَلَا يَمْلِكُ تَسْلِيطَ غَيْرِهِ عَلَيْهِ نو هغه به پر نفع اخيستلو د بل چا د ګومارلو اختيار هم نه لري فَإِنْ فَعَلَ او که داسي وکړي كَانَ مُتَعَدِّيًا نو هغه به تعدى کونکى وي وَلَا يَبْطُلُ عَقْدُ الرَّهْنِ بِالتَّعَدِّي او په دې تعدى سره عقد رهن نه باطلېږي.

اللغات: ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: بندول، راګرځول، منع کول. ﴿يؤاجر﴾ د افعال د باب مضارع ده: په أجرت او په کرايه ورکول. ﴿يعير﴾ مخکنۍ صيغه ده: د افعال مصدر دی: په عاريت ورکول. عاريتاً ورکول. (اعاره: "تمليكُ المنافع بلا عوض على أن ترد العين" ته وايي، يعني چي يو سړی څ ته يو شی مفت (بلا عوضه) ورکړي او ورته ووايي چي ته خپل نفع ځني واخله! او بيا يې بېرته ما ته راکړه!). ﴿مُتعدّي﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: زياتوب او تجاوز کونکی دی، نا حقه تصرّف کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د راهن له اجازې بغير له مرهون شي څخه نفع او فايده اخيستل د مرتهن لپاره جائز نه دي، مثلاً که مرهون غلام وي، نو مرتهن ته دا حق نسته چي له هغه څخه خدمت واخلي، او که مرهون کور وي، نو په هغه کي د اوسېدلو حق ورته نسته. او که مرهون کپړه وي، نو د هغه د اغوستلو حق ورته نسته، ځکه په مرهون شي کي مرتهن ته فقط د حبس حق سته چي هغه د ځان سره وساتي، د انتفاع هيڅ حق ورته نسته، او استخدام وغيره د انتفاع له قبيل څخه دي، نو ځکه دا ټوله ممنوع دي.

وليس له أن يبيع إلخ: فرمايي د راهن له اجازې او تسليط څخه بغير مرتهن ته د رهن خرڅولو حق هم نسته، او نه دا حق ورته سته چې يو چا ته رهن په أجرت يا عاريتاً ورکړي؛ ځکه کله چې خپله مرتهن ته له رهن څخه د نفع اخيستلو ولايت او اختيار نسته، نو هغه ته به د دې اختيار څنګه وي چې بل چا ته له رهن څخه د نفع اخيستلو اجازه ورکړي!، او که مرتهن داسې وکړي نو دا د هغه له طرفه تعدي او زياتوب دی. خو بيا هم د هغه په دغه فعل سره د عقد رهن پر صحت هيڅ اثر نه لوېږي او عقد د مخکې په څېر صحيح پاتېږي. (احسن الهدايه)

مرتهن په کومو کسانو سره د مرهون شي حفاظت کولای سي؟

قَالَ: وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَحْفَظَ الرَّهْنَ بِنَفْسِهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ وَخَادِمِهِ الَّذِيْ فِيْ عِيَالِهِ فرمايي: او مرتهن لره جائز دي چې د رهن حفاظت وکړي خپله او په خپلې ښځې او خپل بچي سره او په خپل هغه خادم سره کوم چې د ده په کورنۍ والا کې داخل وي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: مَعْنَاهُ أَنْ يَكُوْنَ الْوَلَدُ فِيْ عِيَالِهِ أَيْضًا صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: د دې مطلب دا دی چې بچی هم د ده په کورنۍ والا کې وي وَهٰذَا لِأَنَّ عَيْنَهُ أَمَانَةٌ فِيْ يَدِهِ او دا حکم ځکه دی چې د رهن [مرهون] عين د مرتهن په قبضه کې امانت دی فَصَارَ كَالْوَدِيْعَةِ نو هغه د امانتاً اېښوول سوي شي په څېر سو وَإِنْ حَفِظَهُ بِغَيْرِ مَنْ فِيْ عِيَالِهِ أَوْ أَوْدَعَهُ او که مرتهن په داسې کس سره د رهن حفاظت وکړي کوم چې د مرتهن له کورنۍ والا څخه نه وي يا مرتهن هغه ته رهن امانتاً کښېږدي ضَمِنَ نو مرتهن ضامن کيږي وَهَلْ يَضْمَنُ الثَّانِيْ او آيا هغه دويم کس هم ضامن کيږي فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ نو دا پر اختلاف دي وَقَدْ بَيَّنَّا جَمِيْعَ ذٰلِكَ بِدَلَائِلِهِ فِي الْوَدِيْعَةِ او دا ټوله خبري موږ د خپلو دلائلو سره په كتاب الوديعة کې بيان کړي دي.

اللغات: ﴿عِيَال﴾ کورنۍ والا، هغه کسان کوم ته چې سړی نفقه او خرچه ورکوي. ﴿أمانة﴾ امانت، ﴿وديعة﴾ په امانت اېښوول سوی مال، امانتاً اېښودل سوی شی. جمع: وَدَائِع. **فايده:** د امانت او وديعت تر مينځ فقط د عموم او خصوص فرق دی، يعني امانت عام دی او وديعت خاص دی. وديعت دې ته وايي چې انسان په خپل قصد او اراده سره بل چا ته د حفاظت لپاره خپل شی کښېږدي، او امانت هر هغه شي ته وايي چې پر انسان د هغه حفاظت کول ضروري وي. برابره ده دا شی هغه ته يو چا په قصد او د عقد په ذريعه اېښی وي. يا د يو چا له قصد او عقد څخه بغير د هغه لاس ته راغلی وي.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل څرګند او آسانه دی چي د رهن (مرهون شي) د حفاظت ذمه واري پر مرتهن ده. او دا هم جائز دي چي مرتهن د هغه حفاظت په خپلي ښځي يا بچي سره يا په خپل هغه خادم سره وکړي کوم چي د مرتهن په کورنۍ کي داخل وي. کنې که مرتهن د نورو کسانو په ذريعه د رهن حفاظت وکړي او بيا مرهون شی هلاک سي. نو د غصب په څېر پر هغه د ټوله قيمت ضمان واجبيږي (يعني څرنګه چي پر غاصب د غصب کړی سوي شي ټوله قيمت واجبيږي. همداسي پر مرتهن هم د ټوله رهن قيمت واجبيږي).

يادونه: د عيال کېدلو مدار د هغه په کور کي اوسېدل دي. برابره ده پر هغه يې نفقه واجب وي. که نه. لکه د هغه ښځه. بچيان. خادم او د هغه مياشتنانه مزدور دا ټوله د هغه عيال شمېرل کيږي. لېکن ورځنی مزدور په عيال کي داخل نه دی. (شامي ج:۵. ص:۳۱۳)

يادونه: عينِ مرهون وديعت او امانت دی. او د امانت همدا احکام دي کوم چي ذکر سول. مصنف رَحِمَهُ الله د دې پوره تفصيل د هدايه جلد ثالث پر ص:۲۵۷ بيان کړی دی. د تفصيل او وضاحت لپاره هغه مطالعه کړئ!

په رهن کي د تعدی او نا حقه تصرف کولو حکم

وَإِذَا تَعَدَّى الْمُرْتَهِنُ فِي الرَّهْنِ او کله چي مرتهن په رهن کي زياتوب [نا حقه تصرف] وکړي ضَمِنَهُ ضَمَانَ الْغَصْبِ بِجَمِيعِ قِيمَتِهِ نو مرتهن د غصب د ضمان په څېر د رهن د ټوله قيمت ضامن کيږي لِأَنَّ الزِّيَادَةَ عَلَى مِقْدَارِ الدَّيْنِ أَمَانَةٌ ځکه د قرض تر مقدار زياتوب [زائد مقدار] امانت دی وَالْأَمَانَاتُ تُضْمَنُ بِالتَّعَدِّي او د تعدّی په وجه د امانتونو ضمان لازميږي.

اللغات: ﴿تعدّی﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: زياتوب او تجاوز کول. نا حقه تصرف کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د مرتهن له طرفه په رهن (مرهون) کي تعدّی او زياتوب وسي. نو څرنګه چي پر غاصب د غصب کړی سوي شي د ټوله قيمت ضمان واجبيږي. همداسي پر مرتهن هم د ټوله رهن د قيمت ضمان واجبيږي؛ ځکه که څه هم د رهن هغه مقدار په امانت کي داخل دی کوم چي له قرض څخه زائد وي او د امانت ضمان نسته. خو څرنګه چي دلته د مرتهن له طرفه تعدی واقع سوې ده. او د تعدّی په صورت کي د امانتونو ضمان هم واجبيږي. نو ځکه دلته د تعدی په وجه پر مرتهن د ټوله رهن ضمان واجب دی.

د رهن د ګوتمۍ (مرهونه ګوتمۍ) د استعمالولو حکم

فَلَوْ رَهَنَهُ خَاتَمًا او که راهن مرتهن ته ګوتمۍ په رهن [په ګرو] کښېږدي فَجَعَلَهُ فِيْ خِنْصِرِهِ او مرتهن هغه په خنصر ګوته کې واچوي فَهُوَضَامِنٌ نو هغه ضامن دی لِأَنَّهُ مُتَعَدٍّ بِالِاسْتِعْمَالِ ځکه په استعمالولو سره مرتهن زياتوب کونکی دی لِأَنَّهُ غَيْرُمَأْذُوْنٍ فِيْهِ ځکه د استعمال په هکله مرتهن ته اجازه نه ده ورکول سوي وَإِنَّمَا الْإِذْنُ بِالْحِفْظِ او اجازه خو صرف د حفاظت کولو [ورته] سته [چي مرهون شی د ځان سره وساتي او حفاظت يې وکړي] وَالْيُمْنٰى وَالْيُسْرٰى فِيْ ذٰلِكَ سَوَاءٌ او راسته او چپه لاس په دې باره کې سره برابر دي لِأَنَّ الْعَادَةَ فِيْهِ مُخْتَلِفَةٌ ځکه د ګوتمۍ په استعمالولو کې [د خلګو] عادت مختلف دی [څوک يې د راسته لاس په خنصر ګوته اغوندي او څوک يې...] وَلَوْجَعَلَهُ فِيْ بَقِيَّةِ الْأَصَابِعِ او که مرتهن دا ګوتمۍ [له خنصر څخه بغير] په نورو ګوتو کې واچوي كَانَ رَهْنًا بِمَا فِيْهِ نو دا رهن دی په هغه مقدار سره د کوم په عوض کې چي دا دی [نو هيڅ ضمان نه پر لازميږي] لِأَنَّهُ لَايُلْبَسُ كَذٰلِكَ عَادَةً ځکه عادتاً دا ډول ګوتمۍ نه اغوستل کيږي فَكَانَ مِنْ بَابِ الْحِفْظِ نو دا به د حفاظت کولو له باب څخه وي وَكَذَا الطَّيْلَسَانُ إِنْ لَبِسَهُ لُبْسًا مُعْتَادًا او همدارنګه [درهن] څادر که په عادي طريقه سره يې واغوندي ضَمِنَ نو ضامن کيږي وَإِنْ وَضَعَهُ عَلٰى عَاتِقِهِ او که پر اوږه يې کښېږدي لَمْ يَضْمَنْ نو نه ضامن کيږي.

اللغات: ﴿خنصر﴾ د خچني (کوچنی) ګوتي ترڅنګ ګوته چي عموماً په هغې ګوتمۍ اغوستل کيږي. د ګوتمۍ ګوته. ﴿طيلسان﴾ يو ډول حاشيه داره څادر (پټو) وو. ﴿مُعتاد﴾ د افتعال د باب اسم مفعول دی: عادت کړی سوی (عادي). هغه څه کوم چي د خلګو په عُرف کې عادت وي. د عادت مطابق. په عُرف او عادت کې مُروجه طريقه.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د راهن له اجازې پرته مرتهن ته دا اختيار نسته چي مرهون شی استعمال کړي يا په هغه کې يو ډول تصرف وکړي. همدا وجه ده که راهن هغه ته ګوتمۍ په رهن ايښې وي او مرتهن د عادي طريقې مطابق هغه استعمال کړي يعني په خنصر ګوته يې واغوندي (کوم چي د ګوتمۍ ګوته ده)، نو پر هغه د مرهون ضمان لازميږي: ځکه هغه په استعمالولو سره په مرهون کې

تعدی او ناحقه تصرّف وکړی. او مرتهن ته د استعمال او تعدی حق نسته. نو ځکه پر هغه ضمان واجب دی.

والیمنیٰ إلخ: یعني برابره ده د راسته لاس په خنصر ګوته ګوتمی واغوندي یا د چپه لاس په خنصر ګوته. په دواړو صورتونو کي پر مرتهن ضمان واجبیږي؛ ځکه په خلګو کي دواړه معتاد دي. نو د ضمان د وجوب په هکله په راسته او چپه کي څه فرق نسته. ها! په معتاده طریقه د ګوتمی وغیره اغوستل شرط دي. همدا وجه ده که مرتهن له خنصر څخه بغیر په بله ګوته ګوتمی واغوندي. نو څرنګه چي دا معتاد او عادت نه دي. نو ځکه په دې صورت کي پر مرتهن ضمان نه واجبیږي. بلکي دا حفاظت او صیانت شمېرل کیږي (چي په دې توګه مرتهن د ګوتمی حفاظت کوي).

وکذا الطیلسان إلخ: فرمايي که څوک د عادي طریقې مطابق د رهن څادر پر ځان وپېچي. نو پر هغه ضمان سته. او که په غیر عادي طریقه سره یې هسي پر اوږه واچوي. نو ضمان نسته؛ ځکه په غیر معتاده طریقه سره مرهون شی استعمالول د ضمان موجب نه دي.

د رهن د تورو د استعمالولو حکم

وَلَوْ رَهَنَهُ سَيْفَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً او که راهن دوې یا درې توري مرتهن ته په رهن ایښې وي فَتَقَلَّدَهَا او مرتهن هغوی په غاړه کړي لَمْ يَضْمَنْ فِي الثَّلَاثَةِ نو په دریو تورو کي نه ضامن کیږي وَضَمِنَ فِي السَّيْفَيْنِ او په دوو تورو کي ضامن کیږي لِأَنَّ الْعَادَةَ جَرَتْ بَيْنَ الشُّجْعَانِ بِتَقَلُّدِ السَّيْفَيْنِ فِي الْحَرْبِ ځکه په جنګ کي د بهادرو خلګو تر مینځ د دوو تورو په غاړه کولو سره عادت جاري دی وَلَمْ تَجْرِ بِتَقَلُّدِ الثَّلَاثَةِ او د دریو تورو په غاړه کولو سره عادت جاري نه دی.

اللغات: ﴿تقلّد﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: (توره) په غاړه کول. په غاړه ځړول (غاړي ته د توري تسمه اچول).

تشریح: فرمايي که راهن مرتهن ته دوې یا درې توري په رهن کي ورکړي وي او مرتهن په هغوی کي تصرف وکړي او په غاړه یې کړي، نو دې ته به کتل کیږي چي د هغه تصرّف د کومي درجې دی؟ که هغه دوې توري په غاړه کړي. نو ضمان پر لازم دی؛ ځکه دوې تورې ځړول معتاد دی چي په جنګ کي بهادره کس دوې توري په غاړه کوي او مقابلې ته راوځي. او که مرتهن درې توري په غاړه کړي، نو پر هغه ضمان نسته؛ ځکه د دریو تورو په غاړه کول او ګرځول عادت نه دي. نه په جنګ کي او نه په غیر جنګ کي.

د دوو ګوتميــو حکم

وَإِنْ لَبِسَ خَاتَمًا فَوْقَ خَاتَمٍ او که مرتهن د ګوتمۍ د پاسه ګوتمۍ واغوندي إِنْ كَانَ هُوَ مِمَّنْ يَتَجَمَّلُ بِلُبْسِ خَاتَمَيْنِ نو که مرتهن له هغو کسانو څخه وي کوم چي د دوو ګوتميو په اغوستلو ښکلا اختياروي [يعني دوې ګوتمۍ په يوه ګوته کول د هغه عادت وي] ضَمِنَ نو ضامن کيږي وَإِنْ كَانَ لَا يَتَجَمَّلُ بِذٰلِكَ او که په دې سره ښکلا نه اختياروي فَهُوَ حَافِظٌ نو هغه حفاظت کونکی دی [نه استعمالونکی] فَلَا يَضْمَنُ نو ځکه نه ضامن کيږي.

اللغات: ﴿يتجمّل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده. د دې باب په صله کي چي "باء" راسي لکه دلته چي راغلې ده، نو معنیٰ يې ده: په يو شي سره ښکلا حاصلول، ښکلا اختيارول. په يو شي سره ښکلی شی ښايسته کول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي که مرتهن په يوه ګوته د رهن دوې ګوتمۍ واغوندي، يا يوه خپله ګوتمۍ او بله د رهن ګوتمۍ په يوه ګوته واغوندي، نو د دې مدار هم پر عادت دی يعني که دا د مرتهن عادت وي چي په يوه ګوته دوې ګوتمۍ اغوندي، نو دې ته استعمال ويل کيږي او ضمان پر لازميږي، او که هغه په دې عادت نه وي، نو دا د حفاظت له قبيل څخه شمېرل کيږي او ضمان نه پر لازميږي.

د مرهون شي د حفاظت د ځای او داسي نورو أجرت پر چا دی؟ (تفصيلي حکم)

قَالَ: وَأُجْرَةُ الْبَيْتِ الَّذِيْ يُحْفَظُ فِيْهِ الرَّهْنُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ فرمايي: او د هغه ځای أجرت چي رهن پکښې ساتل کيږي پر مرتهن دی وَكَذٰلِكَ أُجْرَةُ الْحَافِظِ او همدارنګه د حفاظت کونکي أجرت [هم پر مرتهن دی] وَأُجْرَةُ الرَّاعِيْ وَنَفَقَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ او د شپانه أجرت او د رهن [مرهونه څارويو] نفقه پر راهن ده وَالْأَصْلُ أَنَّ مَا يُحْتَاجُ إِلَيْهِ لِمَصْلَحَةِ الرَّهْنِ وَتَبْقِيَتِهِ او اصل [قاعده] دا ده چي د رهن د ښېګڼي [اصلاح] او باقي ساتلو لپاره چي کوم شي ته احتياج وي فَهُوَ عَلَى الرَّاهِنِ نو هغه پر راهن دی سَوَاءٌ كَانَ فِي الرَّهْنِ فَضْلٌ أَوْ لَمْ يَكُنْ برابره ده په رهن کي [پر قرض] زياتوب وي، که نه [يعني د رهن قيمت له قرض څخه زيات وي او که تر هغه کم يا ور سره برابر وي] لِأَنَّ الْعَيْنَ بَاقٍ عَلَى مِلْكِهِ ځکه چي [د رهن] عين د راهن په ملکيت کي پاته دی وَكَذٰلِكَ مَنَافِعُهُ مَمْلُوْكَةٌ لَهُ او همدارنګه د رهن منافع

هغه په ملکیت کي داخل دي فَيَكُونُ إِصْلَاحُهُ وَتَبْقِيَتُهُ عَلَيْهِ نو ځکه د رهن اصلاح کول او باقي ساتل به د راهن پر ذمه وي لِمَا أَنَّهُ مُؤْنَةُ مِلْكِهِ ځکه چي دا [اصلاح] د هغه د ملکیت مؤنت دی [یعني د هغه د ملکیت د بقاء او پاتېدلو سبب دی] كَمَا فِي الْوَدِيعَةِ لکه څرنګه چي په ودیعت کي دي [چي د ودیعت نفقه او د اصلاح او ابقاء کار د مالک (مُودِع) پر ذمه دي] وَذٰلِكَ مِثْلُ النَّفَقَةِ فِيْ مَأْكَلِهِ وَمَشْرَبِهِ او دا لکه د هغه په خوړلو او چیښلو کي [مال] نفقه کول [یعني د رهن د نفقې مثال دا دی لکه د مرهونه څارویو د خوراک او څښاک نفقه] وَأُجْرَةُ الرَّاعِيْ فِيْ مَعْنَاهُ او د شپانه اُجرت د هغه په معنیٰ سره دی [أي في معنى الإنفاق في المأكل والمشرب] لِأَنَّهُ عَلَفُ الْحَيَوَانِ ځکه چي هغه د څاروي خوراکه ده [أي الرعي أجير سبب علف الحيوان، لأنه يوصل إليه به، فأطلق اسم السبب على المسبب].

اللغات: ﴿البيت﴾ د شپه تېر ځای. خونه او کمره. کوټګی. ﴿راعي﴾ شپانه (پوونکی. د رمې څارونکی او کتونکی). ﴿تبقية﴾ د تفعیل مصدر دی: باقي ساتل. ﴿مؤنة﴾ خرچ او لګښت. بار او مشقت. د یو شي د پاتېدلو او بقاء چي کوم خرچ او سبب وي هغه ته مؤنت ویل کیږي. لکه د ښځي نفقې ته چي هم ځکه مؤنت وایي چي هغه د ښځي د بقاء او ژوندون سبب دی. ﴿ودیعة﴾ په امانت ایښوول سوی شی. امانتاً ورکول سوی شی. ﴿مأکل﴾ د نصر له بابه مصدرِ میمي دی: خوړل. خوراک. ﴿عَلَف﴾ د څارویو خورکه یعني وابنه او داسي نور.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د کوم شي او ځای تعلق چي د مرهون شي د حفاظت سره وي. د هغه خرچ او اُجرت پر مرتهن واجب دي: ځکه د حفاظت ټوله ذمه واري پر مرتهن ده. نو په کوم ځای کي چي مرهون ساتل سوی وي. د هغه کرایه. او کوم کس چي د مرهون د حفاظت او چوکیداری لپاره ټاکل سوی وي د هغه اُجرت د مرتهن پر ذمه دي: ځکه دا دواړه کارونه د حفاظت له قبیل څخه دي او حفاظت د مرتهن کار دی. لهذا د مرهون شي د حفاظت اُجرت او خرچ به هم د مرتهن پر ذمه وي.

د دې په خلاف هر هغه شی چي د هغه تعلق د مرهون د اصلاح او ابقاء سره وي. د هغه خرچ د راهن پر ذمه دی. نو د مرهونه څارویو د شپانه اُجرت او د هغوی خوراکه او نفقه د راهن پر ذمه دي: ځکه پر عینِ رهن (مرهون) د راهن ملکیت باقي پاتیږي او د رهن منافع هم د راهن په ملکیت کي داخلیږي او راهن یې مالک دی. او د یو ملکیت د اصلاح او ابقاء لپاره چي کوم کار کیږي هغه پر مالک لازم وي. همدا وجه ده چي په خالص ودیعت کي هم د اصلاح او ابقا کار د مالک (مودِع) پر ذمه دی.

او که سوال وسي چې شپانه د څارویو د څرولو (پوولو) تر څنګ د هغوی حفاظت هم کوي. لهذا پکار دا ده چې د شپانه اُجرت پر راهن او مرتهن دواړو راسي؟. نو جواب دا دی چې د شپانه مقصد اصلي څرول (پوول) دي کوم چې د اصلاح او ابقاء له باب څخه دي او حفاظت ضمني شی دی. نو ځکه د شپانه ټوله اُجرت به د راهن پر ذمه وي.

او که سوال وسي چې د دې څه دليل دی چې د راعي مقصد اصلي حفاظت نه دی؟. نو جواب دا دی چې که څوک له چراګاه (څر ځای) څخه یو څاروی غلا کړي (چیري چې شپانه رمه څروي). نو د هغه لاس نه پرېکول کیږي. ځکه لاس هغه وخت پرېکول کیږي کله چې له محفوظ مقام څخه غلا وسي. لهذا که شپانه محافظ وای نو چراګاه به هم محفوظ مقام وای چې له هغه څخه د غلا کولو په وجه به د غله لاس پرېکول کېدای.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَمِنْ هٰذَا الْجِنْسِ كِسْوَةُ الرَّقِيْقِ او له همدغه جنس څخه دي د غلام جامه وَأُجْرَةُ ظِئْرِ وَلَدِ الرَّهْنِ او د مرهون بچي د دايي [رضاعي مور] أجرت وَسَقْيُ الْبُسْتَانِ او د باغ اُوبول [اوبه ورکول] وَكَرْيُ النَّهْرِ او نهر کيندل وَتَلْقِيْحُ نَخِيْلِهِ او د باغ د درختو پیوند کاري وَجِذَاذُهُ او د هغه مېوې شکول وَالْقِيَامُ بِمَصَالِحِهِ او د هغه نور مصلحتونه ترسره کول.

اللغات: ﴿کسوة﴾ جامه. کپړه. اللِّبَاسُ الَّذِيْ يُسْتَتَرُ بِهِ وَيُتَجَمَّلُ بِهِ. ﴿ظئر﴾ دايي (رضاعي مور) يعني هغه ښځه چې د بل چا بچي ته تی او شيدې ورکوي. الْمُرْضِعَةُ لِغَيْرِ وَلَدِهَا. جمع: أَظْآر. ﴿کَرْي﴾ د ضرب مصدر دی. كَرٰى يَكْرِيْ كَرْيًا. کله چې د دې باب په صله کي "نهر" راسي. نو معنی یې ده: په واله کي نوې کنده کښل او واله صفا کول. واله غوچول (ژورول). ﴿جذاذ﴾ (بالكسر و بالفتح. وبالذال وبالدال يعني جداد هم ویل کېدای سي) د نصر مصدر دی: خرما او مېوه شکول. پرېکول. ﴿تلقيح﴾ د تفعيل مصدر دی: پیوندکاري. په درختو کي نر او ماده سره پیوندول. ﴿مصالح﴾ جمع د مَصْلَحَةٌ ده: مصلحتونه. ښېګڼي. منافع.

تشريح: په "مِنْ هٰذَا" کي د "هٰذَا" مشار إليه اصلاح او تبقيه ده. د عبارت حاصل دا دی چې د مرهون غلام جامې. او د هغه ښځې اُجرت چې مرهون بچي ته شیدې ورکوي. او د مرهون باغ د اوبولو اُجرت. او باغ ته چې کوم نهر (واله) راغلې وي د هغه د کيندلو او صفا کولو خرڅ. همدارنګه د مېوې

شکولو او د داسي نورو کارونو خرچ او اُجرت چي د هغوی تعلق د مرهون شي د اصلاح او ابقاء سره وي. هغه ټوله د راهن پر ذمه دي چي راهن به له يې له خپل جېبه ورکوي.

د رهن د حفاظت هر کار د مرتهن پر ذمه دی، د امام ابو يوسف اختلاف او د غلام د جُعل حکم

وَكُلُّ مَا كَانَ لِحِفْظِهِ او هر هغه کار کوم چي د مرهون د حفاظت لپاره وي أَوْ لِرَدِّهِ إِلَى يَدِ الْمُرْتَهِنِ يا د مرتهن لاس ته د مرهون د واپس کولو لپاره وي أَوْ لِرَدِّ جُزْءٍ مِنْهُ يا د مرهون د يو جزء د واپس کولو لپاره وي فَهُوَ عَلَى الْمُرْتَهِنِ نو هغه د مرتهن پر ذمه دی مِثْلُ أُجْرَةِ الْحَافِظِ لکه د حفاظت کونکي أجرت لِأَنَّ الْإِمْسَاكَ حَقٌّ لَهُ ځکه امساک [مرهون راګرځول] د مرتهن حق دی وَالْحِفْظُ وَاجِبٌ عَلَيْهِ او حفاظت کول پر مرتهن واجب دي فَيَكُونُ بَدَلُهُ عَلَيْهِ نو ځکه د حفاظت بدل [عوض] به هم پر هغه وي وَكَذٰلِكَ أُجْرَةُ الْبَيْتِ الَّذِي يُحْفَظُ الرَّهْنُ فِيهِ او همدارنګه د هغه کور أجرت چي رهن [مرهون] پکښي ساتل کيږي وَهٰذَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او دا [حکم] په ظاهر روايت کي دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ كِرَاءَ الْمَأْوَى عَلَى الرَّاهِنِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د حفاظتي ځای کرايه پر راهن ده بِمَنْزِلَةِ النَّفَقَةِ د نفقي په څېر لِأَنَّهُ سَعْيٌ فِي تَبْقِيَتِهِ ځکه دا د رهن [مرهون] په باقي ساتلو کي کوشش کول دي وَمِنْ هٰذَا الْقِسْمِ جُعْلُ الْآبِقِ او له همدې قسم څخه دي د تښتېدونکي غلام جُعل فَإِنَّهُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ نو هغه پر مرتهن دی لِأَنَّهُ مُحْتَاجٌ إِلَى إِعَادَةِ يَدِ الْاِسْتِيفَاءِ الَّتِي كَانَتْ لَهُ ځکه مرتهن د [قرض] ترلاسه کولو قبضې ته محتاج دی کوم چي [مخکي] ورته حاصله وه لِيَرُدَّهُ د دې لپاره چي مرهون [راهن ته] واپس کړي فَكَانَتْ مِنْ مُؤْنَةِ الرَّدِّ نو دا به د واپس کولو له خرچ څخه وي فَيَلْزَمُهُ نو ځکه پر مرتهن به لازم وي وَهٰذَا إِذَا كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ وَالدَّيْنِ سَوَاءً او دا [پر مرتهن د جُعل واجبېدل] په هغه صورت کي دي کله چي د رهن قيمت او قرض سره برابر وي.

اللغات: ﴿أُجرة﴾ مزدوري. کرايه او حق الزحمه. ﴿كِرَاء﴾ کرايه. ﴿مأوى﴾ د اسم ظرف صيغه ده: پناه ګاه. مراد: د مرهون شي د حفاظت ځای. ﴿سعى﴾ د فتح له بابه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده: کوشش او هڅه کول. خواري کښل. ﴿جُعل﴾ د تښتېدلي غلام د واپس راوستلو اُجرت (مزدوري). خرچ. ﴿مؤنة﴾ خرچ او لګښت. بار او مشقت.

تشریح : دعبارت حاصل دا دی چي کوم کار د رهن د حفاظت او ساتني له باب څخه وي. هغه د مرتهن پر ذمه دی. نو که مرهون وتښتيږي او غائب سي، نو د هغه واپس کول هم د حفاظت له باب څخه دي، لهذا د هغه واپس راوستل يا د دې کار اُجرت د مرتهن پر ذمه دي. همدارنګه که مرهون مريض سي، نو د هغه علاج او درملنه کول ګواکي د هغه جزء واپس کول دي، لهذا دا هم د مرتهن پر ذمه دي، همدارنګه د مرهون شي د ساتونکي او چوکيدار اُجرت هم د مرتهن پر ذمه دی: ځکه چي دا د حفاظت له باب څخه دي، ځکه مرتهن ته د مرهون شي د راګرځولو او محبوس کولو حق حاصل دی. نو د هغه حفاظت کول هم پر مرتهن واجب دی، لهذا د هغه پر حفاظت چي کوم اُجرت او کرايه راسي. هغه به هم د مرتهن پر ذمه وي، دا ظاهر روايت دی.

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي مرهون شی په کوم ځای کي ساتل کيږي (مکان حفاظت) د هغه کرايه د راهن پر ذمه ده، لکه څرنګه چي نفقه د راهن پر ذمه ده: ځکه څرنګه چي نفقه د مرهون شي د اصلاح او ابقاء له باب څخه ده، همدارنګه د حفاظت ځای هم د اصلاح او ابقاء له باب څخه دی.

ومن هذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که غلام وتښتيږي، نو د هغه د واپس راوستلو اُجرت چي د فقهاؤ په اصطلاح کي جُعل ورته وايي، دا پر مرتهن واجب دی، ځکه تښتيدونکی مرهون واپس راوستل د حفاظت له باب څخه دي، او مرتهن دې ته مجبوره هم دی، د دې لپاره چي د غلام په واپس راتللو سره د مرتهن د استيفاء (قرض ترلاسه کولو) قبضه بيرته فعاله سي او د راهن پر مطالبه غلام ورته واپس کړي او خپل قرض ځني واخلي، نو ځکه جُعل به د "ردّ" مؤنت وي، او څرنګه چي "ردّ" (واپس راوستل) د مرتهن پر ذمه دی، نو ځکه دا خرچ او اُجرت به هم د هغه پر ذمه وي.

وهذا إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر مرتهن د دې جُعل واجبېدل په هغه صورت کي دي کله چي قرض او د رهن قيمت سره برابر وي، خو که د رهن قيمت له قرض څخه زيات وي، نو د هغه حکم جلا دی چي په را روان عبارت کي به ذکر سي.

که د رهن قيمت زيات وي نو د تښتبدلي غلام د واپس راوستلو د اُجرت (جُعل) حکم

وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ أَكْثَرَ او که د رهن قيمت [له قرض څخه] زيات وي فَعَلَيْهِ بِقَدْرِ الْمَضْمُونِ نو پر مرتهن د مضمون [قرض] په مقدار [جُعل] واجب دی [يعني صرف د قرض د مقدار جُعل پر مرتهن دی] وَعَلَى الرَّاهِنِ بِقَدْرِ الزِّيَادَةِ عَلَيْهِ او د زياتوب په مقدار سره پر راهن واجب دی [يعني پر قرض چي کوم مقدار زيات وي د هغه جعل پر راهن دی] لِأَنَّهُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ ځکه چي زياتوب [زائد مقدار] د مرتهن په

قبضه کي امانت دی وَالرَّدُّ لِإِعَادَةِ الْيَدِ او [د غلام] واپس کول د قبضې د راګرځولو او واپس کولو لپاره دي وَيَدُهُ فِي الزِّيَادَةِ يَدُ الْمَالِكِ او په زياتوب [زائد مقدار] کي د مرتهن قبضه د مالک [راهن] قبضه ده إِذْ هُوَ كَالْمُودَعِ فِيهَا ځکه په زياتوب کي مرتهن د مودَع په شان دی [چي زائد مقدار د هغه سره امانت دی] فَلِهٰذَا يَكُونُ عَلَى الْمَالِكِ په همدې وجه د زياتوب جُعل به پر مالک [راهن] وي وَهٰذَا بِخِلَافِ أُجْرَةِ الْبَيْتِ الَّذِي ذَكَرْنَاهُ او دا د هغه کور د اُجرت په خلاف دی کوم چي موږ ذکر کړی فَإِنَّ كُلَّهَا تَجِبُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ ځکه هغه ټوله اُجرت پر مرتهن واجبيږي وَإِنْ كَانَ فِي قِيمَةِ الرَّهْنِ فَضْلٌ که څه هم د رهن په قيمت کي زياتوب وي [يعني له قرض څخه زيات وي] لِأَنَّ وُجُوبَ ذٰلِكَ بِسَبَبِ الْحَبْسِ ځکه د هغه وجوب د حبس [يعني د مرهون د راګرځولو] په سبب سره دی وَحَقُّ الْحَبْسِ فِي الْكُلِّ ثَابِتٌ لَهُ او د حبس حق مرتهن لره په ټوله مرهون کي ثابت دی فَأَمَّا الْجُعْلُ إِنَّمَا يَلْزَمُهُ لِأَجْلِ الضَّمَانِ او کوم چي جُعل دی نو هغه خو د ضمان په وجه پر مرتهن لازميږي فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الْمَضْمُونِ نو ځکه هغه به د مضمون په مقدار سره اندازه کيږي.

اللغات: ﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: د کوم څه چي ضمان (تاوان) لازم وي. هغه مقدار چي ضمان يې (پر مرتهن) واجب وي (چي هغه د قرض مقدار دی). ﴿مودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چي امانت ايښوول سوی وي (امانت ساتونکی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د رهن قيمت له قرض څخه زيات وي مثلاً قرض پنځه سوه (۵۰۰) درهمه وي او د مرهون غلام قيمت اووه سوه (۷۰۰) درهمه وي. نو په دې صورت کي پر مرتهن فقط د پنځو سوو (۵۰۰) جُعل واجب دی مثلاً که جُعل اويا (۷۰) درهمه وي. نو له دې څخه پنځوس (۵۰) درهمه پر مرتهن واجب دي او د مابقي دوو سوو (۲۰۰) جُعل يعني شل (۲۰) درهمه پر راهن واجب دي؛ ځکه کُله چي د رهن قيمت له قرض څخه زيات وي. نو پر مرتهن د مضمون مقدار جُعل واجب دی. او ښکاره ده چي مضمون د قرض مقدار دی ځکه پر مرتهن صرف د قرض په مقدار ضمان لازم دی (لکه مخکي چي تېر شوه). او د قرض مقدار دلته پنځه سوه (۵۰۰) درهمه دي. نو ځکه پر مرتهن به د همدې (۵۰۰) درهمو جُعل واجب وي. او د پاته (۲۰۰) درهمو په باره کي مرتهن امين او مودَع دی او که څه هم دا مقدار د هغه په قبضه کي دی. خو څرنګه چي شريعت د مودَع او مالک (مودِع) قبضه يوه شمېرلې ده. نو ځکه د دې مقدار جُعل به پر مالک يعني پر راهن واجب وي.

وهٰذا بخلاف إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې څرنګه پر مرتهن د قرض په مقدار جُعل واجب کړی سوی دی. همداسي د قرض په مقدار پر هغه د حفاظتي ځای کرایه هم واجبېدل پکار دي (په کوم ځای کي چي مرهون ساتل کیږي). او د زیاتوب (زائد مقدار) کرایه پر راهن واجبېدل پکار دي. حالانکي تاسي ټوله کرایه پر مرتهن لازمه کړې ده. د دې څه وجه ده؟.

د جواب حاصل دا دی چي د کرایې او جُعل د وجوب په سبب کي فرق دی. ځکه د جُعل د وجوب سبب ضمان دی او د کرایې د وجوب سبب د مرتهن حبس دی. او حبس په ټوله مرهون کي د مرتهن لپاره ثابت دی یعني هم د قرض په مقدار کي او هم په زیاتوب (زائد مقدار) کي. نو ځکه پر هغه به د ځای ټوله کرایه واجب وي. او څرنګه چي د جُعل سبب ضمان دی او ضمان د قرض په مقدار پر هغه واجب دی. نو ځکه جُعل به هم صرف د قرض په مقدار سره پر هغه واجب وي او کوم چي د قرض تر مقدار زائد وي، د هغه جُعل به پر راهن واجب وي. (احسن الهدایه)

د مرهون د علاج او درملني خرچ او د خراج بيان

وَمُدَاوَاةُ الْجِرَاحَةِ وَالْقُرُوْحِ او د زخم او دانو درملنه کول وَمُعَالَجَةُ الْأَمْرَاضِ او د مرضونو علاج کول وَالْفِدَاءُ مِنَ الْجِنَايَةِ او د جرم فدیه ورکول تَنْقَسِمُ عَلَى الْمَضْمُوْنِ وَالْأَمَانَةِ دا به پر مضمون [قرض] او امانت تقسیمیږي [په بله وینا دا چي دا به پر مرتهن او راهن دواړو تقسیمیږي] وَالْخَرَاجُ عَلَى الرَّاهِنِ خَاصَّةً او خراج خاص پر راهن دی لِأَنَّهُ مِنْ مُؤَنِ الْمِلْكِ ځکه خراج د ملکیت له خرچونو څخه دی [یعني خراج د ملکیت د بقاء خرچ او سبب دی] وَالْعُشْرُ فِيْمَا يَخْرُجُ مُقَدَّمٌ عَلَى حَقِّ الْمُرْتَهِنِ او د راوتونکي [پیداوار] عُشر د مرتهن پر حق مخکي دی لِتَعَلُّقِهِ بِالْعَيْنِ ځکه هغه د عین رهن سره متعلق دی وَلَا يَبْطُلُ الرَّهْنُ فِي الْبَاقِيْ او په پاته مقدار کي رهن نه باطلیږي لِأَنَّ وُجُوْبَهُ لَا يُنَافِيْ مِلْكَهُ ځکه د عشر وجوب د ملکیت منافي نه دی بِخِلَافِ الْاِسْتِحْقَاقِ په خلاف د مستحق کېدلو [یعني چي کله د مرهونه ځمکي وغیره یوه حصه د یو چا مستحقه وخېږي].

اللغات: ﴿مداواة﴾ د مفاعلي د باب مصدر دی: درملنه او دوا کول. ﴿جِراحة﴾ زخم. ﴿القروح﴾ جمع د قَرحَةٌ ده: خرابه دانه (البثرة إذا دب فيها الفساد). او د قَرْحٌ او قُرْحٌ جمع هم قُرُوحٌ راځي چي د هغه معنیٰ ده: زخم. ﴿فداء﴾ فديه، تاوان او جرمانه. هغه ټاکلی مقدار کوم چي (د غلام) د ځان ژغورني لپاره ورکول کيږي. ﴿عُشر﴾ لسمه حصه. ﴿مؤن﴾ جمع د مُؤنَةٌ ده: خرچ او لګښت. بلږ او مشقت. د يو شي د باقي پاتېدلو چي کوم خرچ او سبب وي هغه ته مؤنت ويل کيږي. لکه څرنګه چي نفقي ته هم مؤنت ويل کيږي چي هغه د ښځي د بقاء سبب او خرچه ده. همدارنګه خراج ورکول هم د مالک په قبضه کي د ځمکي د بقاء سبب دي (چي که خراج اداء کړی سي نو ځمکه د مالک په ملکيت کي باقي پاتيږي).

تشريح: په دې عبارت کي ټوله دري مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي که مرهون غلام زخمي سي. يا پر بدن يې داني وخېږي. يا په يو بل مرض مبتلا سي. يا مرهون غلام يو داسي جرم وکړي چي د هغه په وجه فديه اداء کولو ته ضرورت پېښ سي، نو له دې ټولو شيانو څخه د هر يوه خرچ او لګښت پر راهن او مرتهن دواړو د ضمان او امانت په مقدار سره واجبيږي، يعني د غلام څومره قيمت چي د قرض برابر وي، د هغه په اندازه د علاج او فديې خرچ پر مرتهن واجب دی، او کوم چي د قرض له مقدار څخه زائد وي. د هغه خرچ پر راهن پر ذمه دی، مثلاً د مرهون غلام قيمت دوه سوه درهمه دی او قرض يو نيم سل درهمه دی او بيا په علاج يا فديه کي مثلاً شل درهمه خرچ سول، نو پنځلس درهمه د مرتهن پر ذمه دي او پنځه درهمه د راهن پر ذمه دي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي که راهن په رهن کي خراجي ځمکه مرتهن ته ورکړې وي، نو د هغې خراج ټوله پر راهن واجب دی او مرتهن به يوه روپۍ هم نه پکښې ورکوي؛ ځکه خراج د انسان د خپل ملکيت خرچ او محصول دی، او خراجي ځمکه صرف د راهن ملکيت ده، نه د مرتهن. نو ځکه د هغې خراج به هم صرف پر راهن وي.

والعشر فيها إلخ: (۳)... اول په دې خبره ځان پوه کړئ! چي مرهون باغ او فصل چي کومه مېوه او پيداوار وکړي، نو هغه د راهن په ملکيت کي داخليږي، ليکن هغه د مرتهن سره محبوس کيږي او مرتهن ته به اېښوول کيږي تر هغه وخته چي راهن قرض اداء کړي. او کله چي هغه قرض اداء کړي نو ټوله به واپس ځني واخلي. او بله دا خبره په ياد لرئ! چي د رهن لپاره دا ضروري ده چي هغه به مشاع نه وي (يعني مرهون شی به د دوو يا څو کسانو ترمينځ داسي مشترک نه وي چي د هر يوه حصه معلومه او جدا نه وي)، کني عقد رهن نه صحيح کيږي.

مسئله دا ده چي کـه مرهونـه ځمکـه عشري وي. نـو د پيـداوار عُشر (لسمه حصه) بـه اول ايسـتل کيږي او پاتـه نهه حصې بـه مرتهن تـه اينبـوول کيـږي. او د عُشر ايسـتل د مرتهن لـه حـق څخـه مقدّم او مخکي دي: ځکه د عُشر تعلق د رهن (مرهون) د عين سره دی او د مرتهن د حـق تعلق د رهن د ماليت سره دی، او د عين سره تعلق د ماليت والا تعلق څخه بالا وي. نو ځکه د عين والا تعلق مقدّم دی.

او د پورتنۍ مسئلې پـه ضمن کي بله مسئله دا ده چي كه راهن چا تـه ځمکـه پـه رهـن ورکـړي وي. بيا يو څوک د هغه ځمکي په لسمه حصه کي د استحقاق دعوی وکړي او خپله دعوی ثابتـه هـم کړي، نو رهن باطليږي: ځکه چي د مستحق لسمه حصه د شيوع پـه توګـه ده. حالانکي مخکي ذکر سوه چي د رهن لپاره دا ضروري ده چي هغه به مشاع نه وي. لنډه دا چي په دې صورت کي رهن باطليږي.

او كه سوال وسي چي کله د پيداوار عشر وېستل سي، نو دا خو هم د شيوع پـه توګـه دی (ځکـه د عشر په وجه په پيداوار کي شيوع راغلی). لهذا د استحقاق د صورت پـه څېـر دلتـه هـم رهـن باطلېدل پکـار دي؟. د جواب حاصل دا دی چي د استحقاق پـه صورت کي د هاغه مستحقي ځمکي لسمه حصـه ورکول کيږي او د عشر په صورت کي مالک ته اختيار دی که د هاغه پيداوار لسمه حصـه ورکـوي يا د لسمي حصې په اندازه خپل نوره غله ورکوي، نو له دې تفصيل څخه معلومه سوه چي د استحقاق په صورت کي د راهن په ملکيت کي خلل واقع سو او هغه مشاع سو، نو ځکه د استحقاق پـه صورت کي رهن باطليږي، او د عشر په صورت کي د راهن پـه ملکيت کـي هـيڅ خلل واقع نـه سو او پيـداوار مشاع نه سو، نو ځکه دلته رهن نه باطليږي.

كه راهن يا مرتهن يو د بل له طرفه يو شی اداء کړي نو دا د هغه له طرفه تطوّع او تبرّع ده

وَمَا أَدَّاهُ أَحَدُهُمَا مِمَّا وَجَبَ عَلَى صَاحِبِهِ او څه چي په دوی دوو کي يو اداء کړي له هغه خرچې څخه کوم چي د هغه [اداء کونکي] پر ملګري واجب وي [يعني کوم خرچ چي پر راهن يا مرتهن واجب وي په دوی کي يو د بل له طرفه هغه اداء کړي] فَهُوَ مُتَطَوِّعٌ نو هغه [اداء کونکی] متطوّع دی [نو پر خپل ملګري به رجوع نه کوي] وَمَا أَنْفَقَ أَحَدُهُمَا مِمَّا يَجِبُ عَلَى الْآخَرِ بِأَمْرِ الْقَاضِيْ او څه چي په دوی دوو کي يو خرچ کړي له هغه خرچې څخه کوم چي پر بل يوه [ملګري] واجب وي د قاضي په حکم سره [يعني د قاضي په حکم سره يې اداء کړي] رَجَعَ عَلَيْهِ نو پر هغه به رجوع کوي كَأَنَّ صَاحِبَهُ أَمَرَهُ بِهِ ګواکي خپل ملګري هغه ته د دې [خرچ اداء کولو] حکم کړی دی لِأَنَّ وِلَايَةَ الْقَاضِيْ عَامَّةٌ ځکه د قاضي ولايت

عام دی وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَرْجِعُ إِذَا كَانَ صَاحِبُهُ حَاضِرًا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه [په نوادرو کي روايت سوی دی چي هغه به رجوع نه کوي کله چي [د خرچ اداء کولو په وخت کي] د هغه ملګری حاضر وي وَإِنْ كَانَ بِأَمْرِ الْقَاضِي که څه هم د قاضي په حکم سره وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ۞ يَرْجِعُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو صورتونو کي رجوع کولای سي وَهِيَ فَرْعُ مَسْأَلَةِ الْحَجْرِ او دا د حجر د مسئلې فرع ده.

اللغات: ﴿متطوع﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: نفلي (غير لازم) کار کونکی، احسان کونکی، يا په بله وينا بلاعوضه مُفت ورکونکی. احساناً (د مرستي په توګه) ورکونکی. او داسي کس د رجوع حق نه لري. ﴿ولاية﴾ د ضرب اسم مصدر دی: مشري او سرپرستي. اختيار. ولي کېدل (مشر کېدل).

تشريح: مخکي ذکر سوه چي په کوم ځای او کور کي مرهون شی ساتل کيږي (يعني د مرهون د حفاظت ځای) د هغه کرايه پر مرتهن ده. لېکن که د مرتهن پر ځای يې راهن اداء کړي او خپل مال خرچ کړي. يا مثلاً د مرهون نفقه پر راهن ده. لېکن د راهن پر ځای يې مرتهن اداء کړي او خپل مال خرچ کړي. نو آيا په دې صورت کي هغه (اداء کونکي) ته حق سته چي له خپل ملګري څخه (چي د هغه له طرفه يې خرچ اداء کړی دی) دا خرچ کړی سوی مقدار واپس واخلي. نو فرمايي چي که دا خرچ اداء کول د قاضي په حکم سره وي، نو په دې صورت کي له هغه څخه خپل خرچ کړده مال اخيستلای سي. او که د قاضي له حکم څخه بغير وي، نو نه يې سي اخيستلای؛ ځکه په دې صورت کي خرچ اداء کونکی متبرّع او متطوع دی چي هغه ته د واپس اخيستلو حق نسته. او په اول صورت کي يې ځکه اخيستلای سي چي کله هغه د قاضي په حکم سره خرچ اداء کړی وي. نو داسي سو لکه ملګري چي د خرچ اداء کولو حکم ورته کړی وي؛ ځکه قاضي لره ولايت عامه حاصل دی. او په داسي صورت کي واپس اخيستل جائز دي چي ملګری حکم ورته کړی وي. نو ځکه دلته به هم واپس اخيستل جائز وي. دا حکم د ظاهر روايت دی چي په دې مسئله کي د چا اختلاف نسته.

وعن أبي حنيفة إلخ: خو په "نوادر" کي په دې مسئله کي د امام صاحب او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله اختلاف نقل سوی دی، حاصل يې دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که هغه دويم ملګری چي د هغه له طرفه خرچ اداء سوی دی (د خرچ اداء کولو په وخت کي) غائب نه وي بلکي حاضر او موجود وي.

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، انظر لتفصيل الكتاب [القول الراجح ج:۲، ص:۳۲۷]

نو په دې صورت کې یې له هغه څخه نه سي اخیستلای که څه هم د قاضي په حکم سره یې خرچ اداء کړی وي.

او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې په هر صورت کې یې څخني اخیستلای سي برابره ده هغه دویم ملګری حاضر وي او که غائب وي. خلاصه دا چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز رجوع جائز نه ده او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز رجوع جائز ده. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا مسئله د حجر د مسئلې فرع ده چې په هغه کې د امام صاحب او صاحبینو اختلاف دی.

د حجر د مسئلې تفصیل دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قاضي لره دا ولایت نسته چې آزاد. عاقل بالغ کس محجور کړي کوم چې حاضر او موجود وي (یعني بندیز پر ولګوي او له خرچ کولو څخه یې منع کړي). او که بیا هم قاضي هغه محجور کړي. نو دا غیر مُعتبر دی او داسي حجر لره اعتبار نسته. لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز قاضي ته د دې ولایت سته چې داسي کس محجور وګرځوي او د هغه حجر معتبر دی: ځکه د قاضي ولایت عام دی.

نو همدغسي په دې مسئله کې هم د دویم ملګري په موجودیت کې د هغه له طرفه د قاضي په حکم سره خرچ اداء کول داسي دي لکه قاضي چې هغه دویم ملګری محجور وګرځوي چې دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز معتبر نه دي لکه اوس چې ذکر سوه چې د هغه په نېز د دویم ملګري په موجویت کې د قاضي د حجر حکم غیر معتبر دی. نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خرچ اداء کونکي ملګري ته دا حق سته چې له خپل ملګري څخه خرچ کړه مال واپس واخلي. او څرنګه چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د دویم ملګري موجودیت لره اعتبار نسته چې که څه هم هغه حاضر او موجود وي نو هم د قاضي د حجر حکم معتبر دی. نو ځکه د هغه په نېز خرچ اداء کونکي ملګري ته د واپس اخیستلو حق نسته.



بَابُ مَا يَجُوزُ إِرْتِهَانُهُ وَالْإِرْتِهَانُ بِهِ وَمَا لَا يَجُوزُ

دا باب د هغو شيانو په بيان کي دی چي د رهن په توګه د هغوی اخيستل او چي د هغوی په عوض کي رهن اخيستل جائز دي او هغه شيان چي دا يې جائز نه دي

تشريح: مخکي تر دې د رهن د مقدماتو اجمالي بيان وو. اوس له دې ځايه تفصيلي بيان شروع کوي چي کوم شيان مرهون او د رهن عوض کېدلای سي او کوم نه سي کېدلای. او ښکاره ده چي تفصيل تر اجمال وروسته راځي. نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله له مخکيني اجمالي بيان څخه وروسته دا باب بيان کړی دی کوم چي پر تفصيلي بيان مشتمل دی.

إرتهان: د افتعال د باب مصدر دی، معنیٰ يې ده: د رهن په توګه اخيستل، په رهن کي اخيستل.

د مُشاع شي د رهن حکم او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ رَهْنُ الْمُشَاعِ فرمايي: او د مشاع شي رهن جائز نه دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز دي وَلَنَا فِيهِ وَجْهَانِ او په دې باره کي زموږ دوه دليلونه دي أَحَدُهُمَا يَبْتَنِي عَلَى حُكْمِ الرَّهْنِ له دوی څخه يو د رهن پر حکم مبني دی فَإِنَّهُ عِنْدَنَا ثُبُوتُ يَدِ الْإِسْتِيفَاءِ ځکه زموږ په نيز د رهن حکم د [قرض] تر لاسه کولو قبضه ثابتېدل دي وَهٰذَا لَا يُتَصَوَّرُ فِيمَا يَتَنَاوَلُهُ الْعَقْدُ وَهُوَ الْمُشَاعُ او دا [يد استيفاء] په هغه شي کي متصوّر [او ممکن] نه دي چي هغه لره عقد شامل وي او هغه مشاع وي وَعِنْدَهُ الْمُشَاعُ يَقْبَلُ مَا هُوَ الْحُكْمُ عِنْدَهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز مُشاع شی هغه څه قبلوي کوم چي د امام شافعي په نيز د رهن حکم دی وَهُوَ تَعَيُّنُهُ لِلْبَيْعِ او هغه رهن د بيع لپاره متعين کېدل [يعني د امام شافعي په نيز د رهن حکم مرهون د بيع لپاره متعين کېدل دي] وَالثَّانِي أَنَّ مُوجَبَ الرَّهْنِ هُوَ الْحَبْسُ الدَّائِمُ او دويم دليل دا دی چي د رهن موجب دائمي حبس دي [يعني د عقد له وخته څخه د قرض اداء کېدلو تر وخته مرهون شی را ګرځول چي مرتهن به په دې دوران کي مرهون شی دائمي د ځان سره محبوس ساتي] لِأَنَّهُ لَمْ يُشْرَعْ إِلَّا مَقْبُوضًا ځکه رهن نه دی مشروع مګر په داسي حال کي چي هغه به مقبوض وي [يعني پر مرهون شي به قبضه کيږي] بِالنَّصِّ يا څو د نص [آيت]

په وجه أَوْ بِالنَّظَرِ إِلَى الْمَقْصُوْدِ مِنْهُ يا د رهن مقصود ته په کتلو سره وَهُوَ الِاسْتِيْثَاقُ مِنَ الْوَجْهِ الَّذِيْ بَيَّنَّاهُ او د رهن مقصود مضبوطي حاصلول دي د هغه طريقې مطابق کوم چې موږ ذکر کړه [وهو صيانة حق المرتهن عن التوى بالجحود، واضجار الراهن ليسارع إلى قضاء الدين] وَكُلُّ ذٰلِكَ يَتَعَلَّقُ بِالدَّوَامِ او دا قوله [يعني رهن مقبوض کېدل بالنص إلخ] د دوام [دايمي حبس] سره متعلق دي وَلَا يُفْضِيْ إِلَيْهِ إِلَّا اسْتِحْقَاقُ الْحَبْسِ او دوام [دايمي حبس] ته رسول نه کوي مګر د حبس استحقاق وَلَوْ جَوَّزْنَاهُ فِي الْمُشَاعِ يَفُوْتُ الدَّوَامُ او که موږ په مُشاع شي کې رهن جائز وګرځوو نو دوام به فوت سيِ لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْمُهَايَاةِ ځکه [په مشاع شي] کې به نوبت تاکل ضروري وي [يا په بله وينا دا چې د مشاع د منافعو تقسيمول به ضروري وي] فَيَصِيْرُ كَمَا إِذَا قَالَ: رَهَنْتُكَ يَوْمًا وَيَوْمًا لَا نو داسې به وګرځي لکه راهن چې ووايي: زه دا شی يوه ورځ په رهن درته اږدم او يوه ورځ يې نه اږدم [يعني يوه ورځ زما دی او يوه ورځ د رهن په توګه ستا دي] وَلِهٰذَا لَا يَجُوْزُ فِيْمَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ وَمَا لَا يَحْتَمِلُهَا په همدې وجه [چې په مشاع کې دوام فوتيږي] رهن جائز نه دی په هغه [مشاع] شي کې هم چې د تقسيم احتمال لري او په هغه شي کې هم چې د تقسيم احتمال نه لري.

لغات: ﴿مُشاع﴾ د ضرب اسم مفعول دی: مشترک (کوم چې تر اوسه تقسيم سوی نه وي. يعني نا تقسيم شده مشترک)، شايع شده. ﴿يبتني﴾ د افتعال مضارع ده: مبني کېدل، مدار کېدل. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: (حق) تر لاسه کول، اخيستل. ﴿مُوجَب﴾ د افعال د باب مفعول دی: واجب کړی سوی، حکم، مقتضا. ﴿تعيّن﴾ د تفعّل مصدر دی: متعين کېدل، ټاکل کېدل. ﴿دوام﴾ د نصر مصدر دی: دايمي کېدل، همېشه پاتېدل. ﴿مهاياة﴾ د مفاعلې مصدر دی: په نوبت، نوبت يو کار کول. د يو شي نفع په وار او نوبت سره تقسيمول چې يوه ورځ به دا سړی نفع ځني اخلي او بل ورځ به دا سړی نفع ځني اخلي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نېز د مُشاع (نا تقسيم سوي مُشترک) شي رهن جائز نه دی. بلکې دا ضروري ده چې هغه به تقسيم سوی وي (يعني د هر شريک حصه به يکښې متعينه او جلا کړل سوې وي. نو بيا يو شريک هغه په رهن ايښوولای سي)، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د مشاع رهن جائز دی. په اصل کې د دغه اختلاف وجه د رهن په حکم کې اختلاف دی. زموږ په نېز د رهن

حکم دا دی چي په رهن سره د مرتهن لپاره "يد الاستيفاء" (د قرض ترلاسه کولو قبضه) ثابتيږي. او په مشاع يعني په نا تقسيم سوي مشترک شي کي دا حکم (ثبوت يد الاستيفاء) ثابتېدل ممکن نه دي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د رهن حکم دا دی چي په رهن سره مرهون شی د بيع لپاره متعين کيږي يعني د بيع قابل کيږي (چي تر عقد رهن وروسته مرتهن هغه خرڅولای سي). او دا حکم په مشاع شي کي ثابتېدلای سي ځکه د مشاع شي بيع جائز ده. او کله چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د رهن حکم په مشاع کي ثابتېدلای سي. نو ځکه د هغه په نېز د مشاع رهن هم جائز دی.

والثاني إلخ: د مشاع شي د رهن نه جائز کېدلو په هکله دا زموږ دويم دليل دی. حاصل يې دا دی چي د رهن مقبوض کېدل شرط دي (يعني دا شرط دي چي مرتهن به پر مرهون شي قبضه کوي) لکه څرنګه چي دا آيت ﴿فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ﴾ پر دې دلالت کوي (لکه مخکي چي هم ذکر سوه). همدارنګه د رهن له مقصود څخه هم دا ښکاريږي چي د رهن مقبوض کېدل شرط دي؛ ځکه د رهن مقصود دا دی چي (د قرض په هکله) مضبوطي او اعتماد حاصل سي چي راهن د قرض انکار نه وکړی سي.

لنډه دا چي د رهن شرط پر هغه قبضه کول او مقصود يې مضبوطي ده. او د قبضې او مضبوطي د حاصلولو لپاره دا ضروري ده چي مرهون شی د قرض اداء کېدلو تر وخته په دائمي توګه د مرتهن سره محبوس پاته سي يعني د مرتهن لپاره د دائمي حبس استحقاق پاته سي (يا په بله وينا دا چي د قرض اداء کېدلو تر وخته پوري مرهون شی فقط د مرتهن سره پرېښوول سي او مرتهن يې له بل هر چا څخه راوګرځوي). حال دا چي په مشاع شي کي دائمي حبس نه سي کېدلای؛ ځکه په هغه کي د بل شريک حق موجود دی. خو بيا هم که د مشاع شي رهن جائز وګرځول سي. نو په هغه کي به خامخا مهايات (نوبت تاکل) کيږي چي يوه ورځ به هغه د مرتهن سره وي او بله ورځ به د راهن د شريک سره وي. او دا همداسي ناجائز دي لکه راهن چي غيرِ مشاع شي مرتهن ته په رهن کښېږدي خو بيا داسي هم ورته ووايي چي دا شی به يوه ورځ ستا سره وي اويوه ورځ به زما سره وي (يعني يوه نه بله ورځ به ستا سره رهن وي) او دا ناجائز دي.

نو اول صورت به هم ناجائز وي. ځکه کله چي مشاع شی يوه نه بله ورځ د مرتهن سره وي. نو په هغه کي به دائمي حبس فوت سي کوم چي په رهن کي ضروري دی. نو ځکه د مشاع رهن جائز نه دی. برابره هغه د تقسيم قابل وي او که نه وي (يعني برابره ده تقسيم قبلوي. که نه)؛ ځکه دائمي حبس په دواړو صور تونو کي نه سي پکښې ثابتېدلای.

د مشاع شي د هبې حکم او وجه

بِخِلَافِ الْهِبَةِ حَيْثُ تَجُوزُ فِيمَا لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ په خلاف د هبې چې هبه په هغه شي کي جائز ده کوم چې د تقسيم احتمال نه لري لِأَنَّ الْمَانِعَ فِي الْهِبَةِ غَرَامَةُ الْقِسْمَةِ ځکه په هبه کي مانع شی د تقسيم تاوان دی وَهُوَ فِيمَا يُقَسَّمُ او دا [د تقسيم تاوان] په همغه شي کي راتلای سي کوم چې تقسيمېدلای سي أَمَّا حُكْمُ الْهِبَةِ الْمِلْكُ او پاته سو د هبې حکم ملکيت دی وَالْمُشَاعُ يَقْبَلُهُ او مشاع شی ملکيت قبلوي وَهٰهُنَا الْحُكْمُ ثُبُوتُ يَدِ الِاسْتِيفَاءِ او دلته [په رهن کي] حکم د [قرض] تر لاسه کولو قبضه ثابتېدل دي وَالْمُشَاعُ لَا يَقْبَلُهُ وَإِنْ كَانَ لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ او مشاع شی دا حکم نه قبلوي که څه هم هغه د تقسيم احتمال نه لري.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د مُشاع شي رهن خو مطلقاً ناجائز دی. برابره هغه د تقسيم قابل وي او که نه وي، لېکن د هبې حکم له رهن څخه جلا دی چې هغه په داسي مُشاع کي جائز ده کوم چې د تقسيم قابل نه وي (يعني داسي مشترک شی کوم چې نه سي تقسيمېدلای)؛ ځکه د مشاع شي په هبه کي د جواز مانع د تقسيمولو تاوان دی ځکه کله چې يو شريک خپله حصه هبه کړي نو اول به هغه شريک د قاسم کس په ذريعه مشاع شی تقسيموي او د هر شريک حصه به جلا کوي چې په دې سره به د تقسيم خرچ او تاوان پر هغه راسي، او ښکاره خبره ده چې د تقسيم تاوان هلته راځي چيري چې د تقسيم احتمال وي يعني شی د تقسيم قابل وي، لېکن چيري چې د تقسيم احتمال نه وي، هلته دا تاوان نه راځي لهذا هلته د هبې د جواز مانع نسته، نو ځکه مونږ وايو چې هغه مشاع کوم چې د تقسيم قابل نه وي د هغه هبه جائز ده؛ ځکه د هبې حکم د ملکيت ثابتېدل دي (چې په موهوب شي کي د موهوب لهٔ ملکيت ثابت سي)، او مشاع کېدل له دې څخه مانع نه دي بلکي مشاع شی ملکيت قبلوي او ملکيت پکښي ثابتېدلای سي. نو ځکه د هغه مشاع هبه جائز ده کوم چې د تقسيم قابل وي. د دې په خلاف د رهن حکم د "يد الاستيفاء" ثابتېدل دي (لکه مخکي چې ذکر سوه) او مشاع کېدل له دې څخه مانع دي. نو ځکه د مشاع شي رهن په هيڅ صورت کي هم جائز نه دی برابره ده هغه د تقسيم قابل وي او که نه وي. (احسن الهدايه)

مشاع شی خپل شريک ته په رهن ايښوول

وَلَا يَجُوزُ مِنْ شَرِيكِهِ او د مشاع رهن د خپل شريک سره [هم] جائز نه دی لِأَنَّهُ لَا يَقْبَلُ حُكْمَهُ عَلَى الْوَجْهِ الْأَوَّلِ ځکه د اول دليل مطابق دا [د مشاع رهن] د رهن حکم نه قبلوي وَعَلَى الْوَجْهِ الثَّانِي يَسْكُنُ يَوْمًا بِحُكْمِ الْمِلْكِ وَيَوْمًا بِحُكْمِ الرَّهْنِ او د دويم دليل مطابق به مرتهن [په هغه کي] يوه ورځ د ملکيت

په حکم سره اوسيږي او يوه ورځ د رهن په حکم سره فَيَصِيرُ كَأَنَّهُ رَهَنَ يَوْمًا وَيَوْمًا لَا نو داسي سو لکه هغه چي يوه ورځ په رهن ورته اړدي او يوه ورځ يې نه ورته اړدي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي څرنګه له شريک څخه بغير بل چا ته مشاع شی په رهن (په ګرو) ايښوول جائز نه دي. همداسي خپل شريک (کوم چي په مشاع کي ور سره شريک وي. هغه) ته هم مشاع په رهن ايښوول جائز نه دي. مثلاً يو کور د زيد او خالد تر مينځ د شيوع په توګه مشترک دی (يعني تر اوسه يې سره تقسيم کړی نه دی). نو دا جائز نه دي چي خالد دا کور زيد ته په رهن ورکړي.

څکه د مشاع د رهن نه جائز کېدلو په هکله مخکي دوه دليلونه بيان سول: ① د يد استيفاء نه ثابتېدل (چي په مشاع کي د مرتهن لپاره يد استيفاء نه ثابتيږي). ② د حبس دائمي نه ثابتېدل. او دغه دواړه دليلونه چي څرنګه د غير شريک په صورت کي ثابتيږي همداسي دلته د خپل شريک په صورت کي هم ثابتيږي؛ څکه د اول دليل مطابق د رهن حکم د يد استيفاء ثابتېدل دي او هغه دلته هم نه سي کېدلای؛ څکه پر مشاع شي بالکل يد استيفاء نه سي ثابتېدلای.

او د دويم دليل مطابق هم دا رهن نه جائز کيږي، څکه دلته هم دائمي حبس نه سي ثابتېدلای. بلکي دلته خو به صورت داسي وي چي مرتهن (زيد) به په دې کور کي يوه ورځ د خپل ملکيت په لحاظ سره اوسي او دويمه ورځ به د رهن په اعتبار سره پکښي اوسي. نو ګواکي هغه يوه ورځ رهن دی او بل ورځ نه دی يا په بله وينا دا لکه راهن چي ووايي چي دا کور يوه نه بله ورځ په رهن درکوم او دا صورت ناجائز دی (لکه مخکي چي هم داسي صورت ذکر سو). نو څکه خپل شريک ته مشاع شی په رهن ورکول ناجائز دي.

د عارضي شيوع حکم او د صاحبينو اختلاف

وَالشُّيُوعُ الطَّارِئُ يَمْنَعُ بَقَاءَ الرَّهْنِ فِي رِوَايَةِ الْأَصْلِ او طاري شيوع د مبسوط د روايت مطابق د رهن بقاء [باقي والی] منع کوي [او رهن فاسدوي] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يَمْنَعُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي نه يې منع کوي لِأَنَّ حُكْمَ الْبَقَاءِ أَسْهَلُ مِنْ حُكْمِ الِابْتِدَاءِ څکه چي د بقاء حکم د ابتداء له حکم څخه آسانه وي فَأَشْبَهَ الْهِبَةَ نو دا د هبې مشابه سو [او شيوع طاري د هبې بقاء نه منع کوي]

اللغات: ﴿طاري﴾ د فتح د باب فاعل دی: وروسته واقع کېدونکي (وروسته پېښېدونکی). عارضي.

﴿أسهل﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات آسانه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي يو سړي بل چا ته خپله څمکه په رهن (په ګرو) ورکړه. بيا يو بل سړي مثلاً زيد په هغې کي د خپل استحقاق دعوی ثابته کړه چي په دې څمکه کي دومره حصه

زما ده خو د خپلي حصې طرف يې متعين نه کړی چي د دغه طرف ځمکه زما ده (چي داسي شرکت ته شيوع وايي)، نو اوس به څه کيږي؟ ځکه په دې مرهونه ځمکه کي شيوع راغلی او دا طاري او عارضي شيوع دی، ځکه دا مخکي نه وو. بلکي تر عقد رهن وروسته واقع سو. نو فرمايي چي په دې باره کي دوه روايتونه دي:

①... د مبسوط د روايت مطابق دا رهن فاسديږي؛ ځکه شيوع طاري د رهن بقاء او جواز منع کوي. يعني رهن که څه هم په ابتداء کي جائز منعقد سي. لېکن د وروسته واقع کېدونکي شيوع په وجه هم هغه فاسديږي. يا په بله وينا دا چي د مبسوط د روايت مطابق شيوع که ابتدائي وي او که طاري وي په هر صورت کي د رهن د جواز منافي دی او رهن فاسدوي.

②... او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د روايت مطابق دا رهن جائز دی؛ ځکه دا د رهن د بقاء حالت دی (چي شيوع پکښې واقع سوی دی)، د رهن د ابتداء حالت نه دی، او د بقاء حکم د ابتداء له حکم څخه آسانه وي او د بقاء په حالت کي آساني او تخفيف کيږي، نو ځکه دا رهن به جائز وي. او لکه څرنګه چي هبه په شيوع طاري سره نه فاسديږي (يعني که څوک بل چا ته ځمکه يا بل شی هبه کړي او بيا وروسته په هغه کي دا پورتنی صورت پېښ سي. نو هبه نه فاسديږي)، نو همداسي به پر رهن هم د هغه اثر نه لوېږي او رهن به صحيح پاتيږي.

د مبسوط د روايت دليل او وضاحت

وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ الِامْتِنَاعَ لِعَدَمِ الْمَحَلِّيَّةِ د اول قول [رواية الأصل] دليل دا دی چي [د رهنِ مشاع] منع کېدل د محل والي د معلوم کېدو په وجه دی [يعني مُشاع شی د رهن محل نه دی] وَمَا يَرْجِعُ إِلَيْهِ او کوم څه چي د محل طرف ته راجع وي فَالِابْتِدَاءُ وَالْبَقَاءُ سَوَاءٌ نو ابتداء او بقاء [په هغه کي] برابر وي كَالْمَحْرَمِيَّةِ فِي بَابِ النِّكَاحِ لکه د نکاح په باب کي محرم والی دی بِخِلَافِ الْهِبَةِ په خلاف د هبې لِأَنَّ الْمُشَاعَ يَقْبَلُ حُكْمَهَا وَهُوَ الْمِلْكُ ځکه مشاع شی د هبې حکم قبلوي او هغه ملکيت دی وَاعْتِبَارُ الْقَبْضِ فِي الِابْتِدَاءِ لِنَفْيِ الْغَرَامَةِ او [د هبې] په ابتداء کي د قبضې اعتبار کول [د تقسيم] د تاوان ليري کولو لپاره دي عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه مخکي چي دا موږ [په کتاب الهبه] کي بيان کړه [چي د هغه الفاظ داسي وه: ولي إثبات الملك قبل القبض إلزام المتبرع شيئا لم يتبرع به وهو التسليم] وَلَا حَاجَةَ إِلَى اعْتِبَارِهِ فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ او د بقاء په حالت کي د قبضې اعتبار کولو لره هيڅ ضرورت نسته وَلِهَذَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ فِي بَعْضِ الْهِبَةِ

په همدې وجه د هبې په بعضې حصه کې رجوع کول صحيح دي وَلَا يَجُوْزُ فَسْخُ الْعَقْدِ فِيْ بَعْضِ الرَّهْنِ خو د رهن په بعضې حصه کې عقد رهن فسخ کول جائز نه دي.

اللغات: ﴿امتناع﴾ د افتعال مصدر دی: منع کېدل، ممنوع کېدل. ﴿محلية﴾ محل والی (محل کېدل). د يو شي لپاره ځای کېدل. ﴿محرمية﴾ محرم والی (محرم کېدل) چې نکاح ور سره حرامه وي.

تشريح: په تېر عبارت کې وويل سوه چې د مبسوط د روايت مطابق شيوعِ طاري رهن فاسدوي. په دې عبارت کې د هاغه دليل بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چې په مشاع شي کې ګرد سره دا صلاحيت نسته چې هغه دې د رهن محل وګرځي، او په کوم شي کې چې محليت معدوم سي. په هغه کې د ابتداء حالت او د بقاء حالت دواړه سره برابر وي يعني د دواړو يو حکم وي، لکه څرنګه چې د نکاح په باب کې محرميت دی چې کومه ښځه د سړي لپاره د نکاح محل نه وي او محرمه وي، نو هغه د ابتداء او بقاء په دواړو حالتونو کې حرامه وي. مثلاً که يو څوک د نا خبرۍ په وجه د خپلې رضاعي خور سره نکاح وکړي او بيا وروسته په خبر سي چې دا زما رضاعي خور ده، نو هم تفريق واجب دی؛ ځکه څرنګه چې ابتداءً د رضاعي خور سره نکاح حرامه ده همداسې بقاءً هم حرامه ده: ځکه په رضاعي خور کې د نکاح محليّت معدوم دی، نو همداسې په مشاع شي کې هم د رهن محليت معدوم دی، لهذا د ابتداء او بقاء په يوه حالت کې به هم د مشاع رهن جائز نه وي.

بخلاف الهبة إلخ: يعني د هبې حکم د رهن له حکم څخه جلا دی چې شيوعِ طاري هبه نه فاسدوي؛ ځکه مشاع شی د هبې حکم يعني ملکيت قبلوي او ملکيت پکښې ثابتېدلای سي، او همدا د حکم قبلول او ملکيت پکښې ثابتېدل او موجودېدل د هبې د جواز دليل دی، لهذا په دې هکله اعتراض کول صحيح نه دي.

واعتبار القبض إلخ: د دې حاصل دا دی چې کله ستاسې په نيز په شيوعِ طاري سره هبه نه فاسديږي او هبه صحيح پاتېږي، نو پکار دا ده چې کوم شی تقسيم قبلوي د هغه هبه دې ابتداءً هم ستاسې په نيز جائز سي ځکه په هغه کې هم ملکيت موجوديږي او ثابتيږي، حال دا چې تاسې هغه ته ناجائز واياست او د قبضې وغيره شرط لګوئ (چې کله موهوب لهٗ قبضه پر وکړي، نو بيا يې جائز ګرځوئ): د دې اعتراض په جواب کې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ابتداءً قبضې اعتبار موږ ځکه کړی دی چې پر واهب د تقسيم تاوان لازم نه سي او له دې څخه خوندي سي؛ ځکه واهب فقط د هبې اراده کړې ده او د تقسيم د تاوان اراده او التزام يې نه دی کړی، نو ځکه موږ په مذکوره صورت کې د ملکيت ثابتېدلو باوجود هم ابتداءً هبه جائز نه ده ګرځولې بلکې په ابتداء کې مو قبضه شرط کړې ده.

او پاته سود بقاء په حالت کي قبضې لره هيڅ ضرورت نه پاتېږي؛ ځکه قبضه خو د عقد د تماميت (بشپړتيا) لپاره لازمه وی (چي د قبضې په ذريعه عقد تام وګرځي)، او دلته عقد هبه له مخکي څخه تام سوی دی، نو ځکه په شيوع طاري سره هبه نه فاسدېږي. همدا وجه ده چي د هبې (موهوب شي) په بعضي حصه کي رجوع کول صحيح دي مثلاً که يو څوک بل چا ته خپل کښت (کېتی) هبه کړي او بيا د کښت څه حصه واپس ځني واخلي، نو په دې سره هبه نه فاسدېږي بلکي صحيح پاتېږي، ځکه دا شيوع طاري دی کوم چي هبه نه فاسدوي. د دې په خلاف که داغه صورت په رهن کي پېښ سي يعني که راهن مرتهن ته خپل کښت په رهن ورکړي او بيا راهن د کښت څه حصه واپس ځني واخلي، نو رهن فاسدېږي؛ ځکه رهن چي څرنګه په ابتدائي شيوع سره فاسدېږي. همداسي په طاري شيوع سره هم فاسدېږي.

د داسي شيانو رهن (ګرو) چي بل شی ور سره متصل وي (حکم او اختلاف)

قَالَ: وَلَا رَهْنُ ثَمَرَةٍ عَلَى رُءُوْسِ النَّخِيْلِ فرمايي: او جائز نه دي د مېوې رهن کوم چي د درختو پر سرونو [بناخونو] وي وَلَا زَرْعِ الْأَرْضِ دُوْنَ الْأَرْضِ او نه د ځمکي د کښت رهن له ځمکي څخه بغير وَلَا رَهْنُ النَّخِيْلِ فِي الْأَرْضِ دُوْنَهَا او نه د هغه درختو رهن چي په ځمکه کي [شنې] وي له ځمکي څخه بغير لِأَنَّ الْمَرْهُوْنَ مُتَّصِلٌ بِمَا لَيْسَ بِمَرْهُوْنٍ خِلْقَةً ځکه [په دې صورتونو کي] مرهون شی د هغه شي سره په پيدايشي توګه متصل [لګېدلی] دی کوم چي مرهون نه دی فَكَانَ فِي مَعْنَى الشَّائِعِ نو دا به د شائع په درجه کي وي وَكَذَا إِذَا رَهَنَ الْأَرْضَ دُوْنَ النَّخِيْلِ أَوْ دُوْنَ الزَّرْعِ او همدارنګه کله چي هغه ځمکه په رهن ورکړي بغير له درختو يا بغير له کښت څخه أَوِ النَّخِيْلَ دُوْنَ الثَّمَرِ يا درختي [په رهن ورکړي] بغير له مېوې څخه لِأَنَّ الِاتِّصَالَ يَقُوْمُ بِالطَّرَفَيْنِ ځکه اتصال له دواړو طرفونو څخه قائم [موجود] دی [مثلاً څرنګه چي مېوه د درختو سره متصله ده. همداسي درختي د مېوي سره متصله دي] فَصَارَ الْأَصْلُ أَنَّ الْمَرْهُوْنَ إِذَا كَانَ مُتَّصِلًا بِمَا لَيْسَ بِمَرْهُوْنٍ نو قاعده دا سوه چي کله مرهون شی د داسي شي سره متصل وي کوم چي مرهون نه وي لَمْ يَجُزْ نو دا جائز نه دي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ قَبْضُ الْمَرْهُوْنِ وَحْدَهُ ځکه [په دې صورت کي] يوازي پر مرهون شي قبضه کول ممکن نه دي وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ أَنَّ رَهْنَ الْأَرْضِ بِدُوْنِ الشَّجَرِ جَائِزٌ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي له درختو څخه بغير د

ځمکي رهن جائز دی [یعني که درختي مستثنیٰ کړي او یوازي ځمکه په رهن ورکړي نو جائز دي] لِأَنَّ الشَّجَرَ اِسْمٌ لِلنَّابِتِ ځکه درخته د راشنه کېدونکي شي نوم دی فَيَكُوْنُ اِسْتِثْنَاءُ الْأَشْجَارِ بِمَوَاضِعِهَا نو دا [د درختو استثناء] به د درختو د خپلو ځایو سره استثناء وي بِخِلَافِ مَا إِذَا رَهَنَ الدَّارَ دُوْنَ الْبِنَاءِ په خلاف د هغه صورت کله چي له بناء [ودانۍ] څخه بغیر کور په رهن ورکړي لِأَنَّ الْبِنَاءَ اِسْمٌ لِلْمَبْنٰى ځکه بناء د جوړ کړل سوي شه نوم دی فَيَصِيْرُ رَاهِنًا جَمِيْعَ الْأَرْضِ وَهِيَ مَشْغُوْلَةٌ بِمِلْكِ الرَّاهِنِ نو [په دې صورت کي راهن] به د ټوله ځمکي په رهن ورکونکی وګرځي حال دا چي ځمکه د راهن په ملکیت سره مشغوله ده وَلَوْ رَهَنَ النَّخِيْلَ بِمَوَاضِعِهَا او که درختي د خپلو ځایو سره په رهن ورکړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ هٰذِهِ مُجَاوَرَةٌ ځکه چي دا همجواري [هم ځنګي] ده وَهِيَ لَا تَمْنَعُ الصِّحَّةَ او هغه د رهن صحت نه منع کوي.

اللغات: ﴿النخيل﴾ واحد يې نَخْلَةٌ دی: په اصل کي د خرما درختي ته وايي. ﴿الشجر﴾ واحد يې شَجَرَةٌ دی: عامه درخته، پر واحد يې هم اطلاق کيږي. ﴿مجاورة﴾ د مفاعلې د باب اسم مصدر دی: همجواري او هم ځنګي، يو د بل ځنګ ته کېدل يا په بله وينا يو بل ته نژدې کېدل. ګاونډيتوب او همسايه توب.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که مرهون شی د غیر مرهون شی سره داسي متصل او مؤبنتی وي چي له اختلاط څخه بغیر یوازي پر مرهون شي قبضه کول ممکن نه وي، نو دا ډول شی د مُشاع شي په درجه کي دی چي د هغه رهن به ناجائز شمېرل کيږي، دا یو داسي قاعدهٔ کليه ده چي ډېري مسئلې پر متفرع کيږي، مثلاً:

①... مېوه داره درختي چي مېوه ور سره متصله وي، نو له درختو څخه بغیر یوازي د هغه مېوې رهن جائز نه دی.

②... فصل داره ځمکه یعني چي کښت پکښي شين وي، نو بغیر له ځمکي د هغه کښت رهن جائز نه دی.

③... درختو والا ځمکه، نو بغیر له ځمکي د هغه درختو رهن جائز نه دی.

④... همدارنګه د ځمکي رهن له هغه درختو څخه بغیر جائز نه دي کوم چي په ځمکه کښې ولاړي وي.

⑤... همدارنګه د ځمکې رهن له هغه کښت څخه بغير جائز نه دی کوم چې په ځمکه کښې شين وي.

⑥... همدارنګه د درختو رهن له هغه مېوې څخه بغير جائز نه دی کوم چې د درختو سره متصله (لګېدلې) وي. ځکه څرنګه چې مېوه د درختو سره متصله ده، همداسې درختې د مېوې سره متصله دي، نو له دواړو طرفونو څخه اتصال سته، او دا اتصال د رهن له جواز څخه مانع دی.

په دې هر صورت کې مرهون د غير مرهون سره په خلقي او پيدايشي توګه متصل دی او له اختلاط څخه بغير يوازې پر مرهون قبضه کول ممکن نه دي، نو ځکه دا د مشاع شي د رهن په څېر سو، او د مشاع رهن جائز نه دی، نو ځکه له دې صورتونو څخه په هر يوه صورت کې رهن جائز نه دی.

وعن أبي حنيفة إلخ: حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا قول نقل کړی دی چې له درختو څخه بغير د ځمکې رهن جائز دی؛ ځکه درخته راشنه کېدونکې شی ده، لهذا په دې صورت کې ګواکې راهن يوازې ځمکه په رهن ورکړې ده او درختې يې د خپلو ځايو سره له رهن څخه مستثنیٰ کړې دي (يعني ګواکې درختې يې د هغه ځايو سره چې درختې پکښې شنې دي له رهن څخه جلا کړې دي)، او په داسې صورت کې يوازې پر ځمکه قبضه کول ممکن دي او د درختو په وجه څه نزاع او اختلاف نه راځي، نو ځکه دا صورت به جائز وي.

د دې په خلاف که څوک کور په رهن ورکړي او د هغه بناء (وداني) له رهن څخه مستثنیٰ کړي، نو دا جائز نه دي؛ ځکه بناء هغه څه دي کوم چې پر ځمکه جوړ کړل سوي وي. لهذا دلته صورت داسې سو چې راهن خپل ټوله ځمکه په رهن ورکړه په داسې حال کې چې ځمکه د راهن په خپل د ملکيت يعني په بناء سره مشغوله ده، نو ځکه دا د مُشاع د رهن په څېر سو، او تاسې ته معلومه ده چې د مُشاع رهن جائز نه دی.

ولو رهن النخيل إلخ: د دې حاصل دا دی چې که څوک درختې د خپلو ځايو سره په رهن ورکړي (يعني هغه ځايونه چې درختې پکښې شنې دي او په درختو سره نيول سوي دي)، څرنګه چې په دې صورت کې د درختو له ځايو څخه بغير نوره ځمکه د راهن په ملکيت کې پاته ده نو مرهون شی د راهن د ملکيت سره متصل دی لهذا دا وهم کېږي چې دا صورت به ناجائز وي، نو فرمايي چې دا صورت جائز دی؛ ځکه د نورې ځمکې اتصال د مرهون سره پيدايشي اتصال نه دی بلکې دا مجاورت او د څنګ والا اتصال دی، او مجاورت د شيوع په درجه کې نه دی (يا په بله وينا دا چې په دې کې شيوع نه ثابتېږي کوم چې د جواز مانع دی)، نو ځکه د رهن دا صورت جائز دی.

د مشاع شي په بيع او رهن کي فرق

وَلَوْكَانَ فِيْهِ تَمَرٌ او که په درختو کي خرما [مېوه] وي يَدْخُلُ فِي الرَّهْنِ نو هغه به په رهن کي داخليږي لِأَنَّهُ تَابِعٌ ځکه هغه [مېوه] تابع ده لِاتِّصَالِهِ بِهِ ځکه چي د درختو سره متصله ده فَيَدْخُلُ تَبَعًا تَصْحِيْحًا لِلْعَقْدِ نو ځکه د عقد صحيح ګرځولو لپاره به هغه تبعاً [په رهن کي] داخليږي بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّ بَيْعَ النَّخِيْلِ بِدُوْنِ التَّمَرِ جَائِزٌ ځکه د درختو بيع له خرما [مېوې] څخه بغير جائز ده وَلَا ضَرُوْرَةَ إِلٰى إِدْخَالِهِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرِهِ او د هغې له ذکر کېدلو څخه بغير [په بيع کي] د هغې داخلولو ته هيڅ ضرورت نسته وَبِخِلَافِ الْمَتَاعِ فِي الدَّارِ او په خلاف د سامان کوم چي په کور کي حَيْثُ لَا يَدْخُلُ فِي رَهْنِ الدَّارِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرِهِ چي د هغه له ذکر کېدلو څخه بغير هغه د کور په رهن کي نه داخليږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِتَابِعٍ بِوَجْهٍ مَا ځکه چي سامان په هيڅ توګه هم تابع نه دی وَكَذَا يَدْخُلُ الزَّرْعُ وَالرَّطْبَةُ فِي رَهْنِ الْأَرْضِ او همدارنګه کښت او وابنه د ځمکي په رهن کي داخليږي وَلَا يَدْخُلُ فِي الْبَيْعِ او په بيع کي نه داخليږي لِمَا ذَكَرْنَا فِي الثَّمَرَةِ د هغه دليل په وجه کوم چي مورږ د مېوې په هکله بيان کړی.

اللغات: ﴿تمر﴾ واحد تَمرةٌ دی: خرما. ﴿الرطبة﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: ① د حيوانو شنه وابنه. لکه شپېشتي، شوتل او داسي نور. او کله چي وچ کړل سي نو هغوی ته "قَت" وايي چي په پښتو کي ورته "بېده" وايي. ② همدارنګه هغه وابنه او سبزيجات کوم چي تر و تازه خوړل کيږي. لکه کاهو او داسي نور. ③ د شپېشتو او غاتې په څېر يو ډول بوټی دی کوم چي تر کلو. کلو پوري په ځمکه کي ولاړ وي او کله چي هم پرېکړل سي نو بيا راپورته سي. او شپېشتي هم دا خاصيت لري. ﴿الثمرة﴾ مېوه.

تشريح: د دې عبارت اصل مقصد د مُشاع شي د بيع او رهن تر مېنځ فرق ښکاره کول دي. مخکي ذکر سوه چي د مشاع شي رهن جائز نه دی. لهذا که څوک مېوه داره درختي مرتهن ته په رهن ورکړي او د مېوې هيڅ ذکر نه وکړي (چي هغه هم رهن دي. که نه). نو څرنګه چي مېوه د درختي تابع ده. لهذا هغه به هم په رهن کي داخله شمېرل کيږي. د دې لپاره چي عقد صحيح وګرځي: ځکه که هغه په رهن کي داخله نه کړل سي نو د مرهون سره د غيرِ مرهون د اتصال په وجه به د مشاع شي رهن لازم سي او عقدِ رهن به باطل سي.

د دې په خلاف که څوک مېوه داره درختي خرڅي کړي نو له ذکر او صراحت څخه بغير مېوه په بيع کي نه داخليږي (بلکي کله چي مېوه صراحتاً ذکر کړي چي دغه درختي د مېوې سره خرڅوم او رانيسم. نو بيا هغه په بيع کي داخليږي. او بغير له صراحته نه پکښي داخليږي)؛ ځکه له مېوې څخه بغير هم عقد بيع صحيح ګرځي، لهذا بلا وجه له صراحت څخه بغير به مېوه په بيع کي نه داخلول کيږي (د دې تفصيلي بيان د هدايې د جلد ثالث په اوله حصه کي تېر سوی دی).

بخلاف المتاع إلخ: همدارنګه که څوک کور په رهن ورکړي او په هغه کي د ده سامان پروت وي، نو دا سامان بغير له صراحته په رهن کي نه داخليږي؛ ځکه سامان د کور تابع نه دی. همدارنګه که ځمکه په رهن ورکړي او په هغې کي کښت شين وي، هغه که د هر شي کښت وي که څه هم د شپېشتو بېخونه وي، نو کښت بغير له صراحته د ځمکي په رهن کي داخليږي؛ ځکه کښت د ځمکي تابع دی. د دې په خلاف که ځمکه خرڅه کړي او په هغې کي کښت شين وي، نو کښت بغير له صراحته په بيع کي نه داخليږي؛ دليل يې هغه دی کوم چي د مېوه داره درختي د بيع په هکله ذکر سو.

د ځمکي، کور او جايداد په رهن کي درختي، نهالان او بناء هم داخليږي

وَيَدْخُلُ الْبِنَاءُ وَالْغَرْسُ او داخليږي وداني او نهالان [او بوټي] فِي رَهْنِ الْأَرْضِ وَالدَّارِ وَالْقَرْيَةِ په رهن کي د ځمکي او کور او جايداد لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَوْ رَهَنَ الدَّارَ بِمَا فِيْهَا او که چيري کور په رهن ورکړي سره له هغه سامانه کوم چي په کور کښي وي جَازَ نو [هم] جائز دي.

اللغات: ﴿البناء﴾ جوړ کړی سوی ځای، وداني، عمارت. ﴿الغَرْس﴾ لګول سوی (اينبوول سوی) نهال او بوټي. اينبوول سوې (شنه کړل سوې) درخته. ﴿القرية﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي. يوه خو يې هغه مشهوره معنیٰ ده چي د صحرا کلي او علاقه. يا داسي ځای چي څو وداني او کورونه پکښي جوړ سوي وي. او بله معنیٰ يې په "الضَّيْعَة" سره سوې ده. يعني جايداد. فصل داره او غله داره ځمکه. مراد به يې داسي جايداد وي چي بوټي، نهالان او وداني پکښې وي. (مصباح المنير. معجم لغة الفقهاء)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک خپله ځمکه يا خپل کور په رهن ورکړي يا يو زميندار کس خپل جايداد په رهن ورکړي، نو بوټي او نهالان، او بناء (وداني) وغيره کوم چي په هغه ځمکه، کور او جايدا کي وي ټول په دې رهن کي داخليږي؛ ځکه دا شيان هم د ځمکي، کور او جايداد تابع دي او ور سره متصل دي، نو د عقد رهن د صحيح ګرځولو لپاره به هغوی هم په رهن کي داخلول کيږي.

او که څوک کور د سامان سره په رهن ورکړي چي کور د خپل سامان سره په رهن درکوم. نو هم رهن جائز دی؛ ځکه داسي څه نسته چي د رهن د جواز مانع سي.

که د مرهون شي بعضي حصه د بل چا مستحقه وخــبـري نو څه حکم دی؟

وَلَوِ اسْتُحِقَّ بَعْضُهُ او که د مرهون بعضي حصه مستحقه وخېږي إِنْ كَانَ الْبَاقِيْ يَجُوْزُ اِبْتِدَاءُ الرَّهْنِ عَلَيْهِ وَحْدَهُ نو که پاته حصه دومره وي چې یوازي پر هغې [هم] د رهن ابتداء جائز وي بَقِيَ رَهْنًا بِحِصَّتِهِ نو د هغه حصې په اندازه رهن باقي پاتیږي وَإِلَّا بَطَلَ كُلُّهُ کنې ټوله رهن باطلیږي لِأَنَّ الرَّهْنَ جُعِلَ كَأَنَّهُ مَا وَرَدَ إِلَّا عَلَى الْبَاقِيْ ځکه رهن به داسي ګرځول کیږي ګواکي هغه صرف پر دې پاته حصه وارد سوی دی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک یو ځای یا ځمکه په رهن ورکړي او بیا د هغه ځای څه حصه د بل چا مستحقه وخېږي (یعني بل څوک دعوی وکړي چې دومره حصه پکښي زما ده او خپل استحقاق ثابت هم کړي)، نو که د ما بقي ځای مالیت دومره وي چې ابتداءً د هغه ځایَ رهن جائز وي او په رهن اینبوول کېدای سي، نو په دې استحقاق سره رهن نه باطلیږي او په ما بقي مقدار کې رهن پاتیږي، او د بل چا تر استحقاق وروسته به داسي ګڼل کیږي چې دا راهن له ابتداء او شروع څخه پر همدې ما بقي ځای منعقد سوی وو، او که تر استحقاق وروسته د ما بقي ځای مالیت دومره وي چې هغه ابتداءً په رهن نه سي اینبوول کېدای، نو په دې صورت کې ټوله رهن باطلیږي. (احسن الهدايه)

که مرهون شی د راهن په حق سره مشغول وي نو د رهن حکم

وَيَمْنَعُ التَّسْلِيْمَ كَوْنُ الرَّاهِنِ أَوْ مَتَاعِهِ فِي الدَّارِ الْمَرْهُوْنَةِ او ورسپارل کېدل منع کوي په مرهون کور کې د راهن یا د هغه د سامان کېدل [یعني په مرهون کور کې راهن یا د هغه سامان موجودېدل د هغه کور ورسپارل کېدل منع کوي چې مرتهن ته نه سپارل کیږي] وَكَذَا مَتَاعُهُ فِي الْوِعَاءِ الْمَرْهُوْنِ او همدارنګه په مرهون لوښي کې د راهن سامان کېدل وَيَمْنَعُ تَسْلِيْمَ الدَّابَّةِ الْمَرْهُوْنَةِ الْحِمْلُ عَلَيْهَا او پر مرهون سپارلي بار [موجودېدل] د هغه ورسپارل کېدل منع کوي فَلَا يَتِمُّ حَتّٰى يُلْقِيَ الْحِمْلَ نو ورسپارل نه پوره کیږي تر دې چې هغه بار کښته کړي لِأَنَّهُ شَاغِلٌ لَهَا ځکه دا بار د څاروي مشغولونکی دی بِخِلَافِ مَا إِذَا رَهَنَ الْحِمْلَ دُوْنَهَا په خلاف د هغه صورت کله چې [یوازي] بار په رهن ورکړي، نه څاروی حَيْثُ يَكُوْنُ رَهْنًا تَامًّا إِذَا دَفَعَهَا إِلَيْهِ نو دا رهن تام ګرځي کله چې مرتهن څاروی راهن ته ورکړي لِأَنَّ الدَّابَّةَ مَشْغُوْلَةٌ بِهٖ ځکه څاروی په بار سره مشغوله دی فَصَارَ كَمَا إِذَا رَهَنَ مَتَاعًا فِيْ دَارٍ

أَوْفِيْ وِعَاءٍ دُوْنَ الدَّارِ وَالْوِعَاءِ نو داسې سو لکه هغه سامان چې په رهن کېښودې کوم چې په کور یا لوښي کې وي، نه کور او لوښی بِخِلَافِ مَا إِذَا رَهَنَ سَرْجًا عَلَى دَابَّةٍ أَوْ لِجَامًا فِيْ رَأْسِهَا په خلاف د دې صورت کله چې هغه زین په رهن کېښودې کوم چې پر څاروي وي یا هغه قیزه کوم چې د څاروي په سر کې وي وَدَفَعَ الدَّابَّةَ مَعَ السَّرْجِ وَاللِّجَامِ او څاروی د زین او قیزې سره ورکړي حَيْثُ لَا يَكُوْنُ رَهْنًا حَتّٰى يَنْزِعَهُ مِنْهَا ثُمَّ يُسَلِّمَهُ إِلَيْهِ نو دا رهن نه کیږي تر دې چې راهن هغه [زین او قیزه] له څاروي څخه جلا کړي بیا یې مرتهن ته وسپاري لِأَنَّهُ مِنْ تَوَابِعِ الدَّابَّةِ ځکه هغه د څاروي له توابعو څخه دي بِمَنْزِلَةِ الثَّمَرَةِ لِلنَّخِيْلِ د مېوې په درجه کې د درختو لپاره [یعني لکه څرنګه چې مېوه د درختو له توابعو څخه ده] حَتّٰى قَالُوْا يَدْخُلُ فِيْهِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ تر دې چې مشایخو فرمایلي دي چې دا تابع [زین او قیزه] له ذکر څخه بغیر هم په متبوع [په (رهن د) آس] کې داخلیږي.

اللغات: ﴿تسلیم﴾ د تفعیل مصدر دی: ورسپارل (حواله کول). ورسپارل کېدل. ﴿وِعاء﴾ لوښی.

﴿الحِمْل﴾ (بکسر الحاء): بار، لوډ. ﴿ینزع﴾ د ضرب مضارع ده: کښل. لیري کول (جلا کول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې عقدِ رهن همغه وخت پوره کیږي او تام ګرځي، کله چې مرهون شی په کامله توګه مرتهن ته وسپارل سي یعني چې پر مرهون شي د مرتهن قبضه راسي او د مرهون شي سره په هیڅ ډول هم د راهن حق او تعلّق پاته نه سي، همدا وجه ده که په مرهون کور کې د راهن سامان وي یا خپله راهن پکښې استوګن وي، نو په مرهون کې تسلیم نه ثابتیږي، همدارنګه که مرهون شی لوښی یا خلته وغیره وي او په هغه کې د راهن سامان وي، نو هم تسلیم نه ثابتیږي. همدارنګه که راهن خپل آس په رهن ورکړي او پر هغه د راهن سامان پروت وي، نو هم تسلیم نه ثابتیږي؛ ځکه په دې ټولو صورتونو کې مرهون شی د راهن په حق سره مشغول دی. حال دا چې د رهن د صحت لپاره دا ضروري ده چې مرهون شی به د راهن له حق او تصرف څخه پاک او خالي وي. نو ځکه تر څو چې د راهن سامان لیرې نه کړل سي، تر هغه وخته تسلیم نه پوره کیږي او عقدِ رهن تام نه ګرځي.

د دې په خلاف که راهن یوازې د آس سامان په رهن ورکړي او آس نه ورکړي، نو کله چې هغه آس د سامان سره مرتهن ته ورسیږي، نو تسلیم ثابتیږي؛ ځکه په دې کې صورت کې مرهون (سامان) د راهن په حق سره مشغول نه دی، بلکې خپله په مرهون (سامان) سره بل شی (یعني آس) مشغول دی کوم چې د تسلیم د ثبوت مانع نه دی. او د دې مثال داسې دی لکه څوک چې په کور یا لوښي کې

موجود سامان په رهن ورکړي او کور يا لوښي نه ورکړي، نو هم تسليم ثابتيږي. او په مرهون (سامان) سره د کور يا لوښي مشغولېدل د تسليم د صحت او ثبوت مانع نه دي.

بخلاف ما إذا رهن سرجاً: فرمايي که راهن داسي زين په رهن ورکړي کوم چي پر آس پروت وي يا داسي قيزه (لګام) په رهن ورکړي کوم چي د آس په سر کي اچول سوی وي او هغه له آس څخه جلا نه کړي، نو تسليم نه ثابتيږي تر دې چي راهن زين او قيزه له آس څخه جلا او ليري کړي او مرتهن يې وسپاري؛ ځکه زين او قيزه د آس تابع دي او د آس په رهن کي هغوی بغير له ذکر کولو څخه هم داخليږي (يعني که څه هم د هغوی يادونه او ذکر نه وکړي نو هم پکښي داخلي). لکه ميوه چي د درختي تابع ده او هغه بغير له ذکر څخه د درختي په رهن کي داخليږي (لکه مخکي چي ذکر سوه). نو ځکه د تسليم د ثبوت لپاره زين او قيزه له آس څخه جلا کول او يوازي مرتهن ته سپارل ضروري دي. (احسن الهدايه)

د کومو شيانو رهن صحيح نه دی؟

قَالَ: وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ بِالْأَمَانَاتِ فرمايي: او د امانتونو په عوض کي رهن صحيح نه دی كَالْوَدَائِعِ وَالْعَوَارِيِّ وَالْمُضَارَبَاتِ وَمَالِ الشَّرِكَةِ لکه وديعتونه، عاريتونه، مضاربتونه او د شرکت مال [چي دې ټولو په عوض کي رهن صحيح نه دی] لِأَنَّ الْقَبْضَ فِيْ بَابِ الرَّهْنِ قَبْضٌ مَضْمُوْنٌ ځکه قبضه د رهن په باب کي ضمان والا قبضه وي [يعني د رهن په باب کي چي (پر مرهون) کومه قبضه کيږي هغه مضمونه وي چي که مرهون هلاک سي نو ضمان يې واجبيږي] فَلَا بُدَّ مِنْ ضَمَانٍ ثَابِتٍ لِيَقَعَ الْقَبْضُ مَضْمُوْنًا نو د ضمان ثابتېدل ضروري دي د دې لپاره چي قبضه مضمونه واقع سي وَيَتَحَقَّقَ اِسْتِيْفَاءُ الدَّيْنِ مِنْهُ او په هغه سره قرض ترلاسه کول متحقق سي وَكَذٰلِكَ لَا يَصِحُّ بِالْأَعْيَانِ الْمَضْمُوْنَةِ بِغَيْرِهَا او همدارنګه د هغه شيانو په عوض کي رهن صحيح نه دی کوم چي مضمون بغيره وي كَالْمَبِيْعِ فِيْ يَدِ الْبَائِعِ لکه هغه مبيع کوم چي د بائع په قبضه کي وي [او تر اوسه يې مشتري ته سپارلې نه وي نو دا مضمون بغيره ده؛] لِأَنَّ الضَّمَانَ لَيْسَ بِوَاجِبٍ ځکه چي ضمان واجب نه دی فَإِنَّهُ إِذَا هَلَكَ الْعَيْنُ ځکه کله چي عين [مبيع] هلاک سي لَمْ يَضْمَنِ الْبَائِعُ شَيْئًا نو بايع د هيڅ شي نه ضامن کيږي لٰكِنَّهُ يَسْقُطُ الثَّمَنُ وَهُوَ حَقُّ الْبَائِعِ لېکن ثمن ساقطيږي کوم چي د بائع حق دی فَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ نو ځکه رهن به صحيح نه وي.

اللغات: ﴿ودائع﴾ جمع د وَدِيْعَةٌ ده: امانت. هغه شی چا ته چي په امانت ايښوول سوی وي (امانتاً ورکول سوی شی). ﴿عواری﴾ جمع د عَارِيَةٌ ده: هغه شی چي عاريتاً ورکول سوی وي (هغه شی چي خواست کوونکي ته ديو څو وخت لپاره ورکول سوی وي چي خپل کار څني واخله! او بيرته يې واپس کړه!).

﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: ضمان والا. يعني د کوم شي چي ضمان (تاوان) واجب وي. هغه شی چي ضمان يې ورکول کيږي. ﴿مضمون بغيره﴾ مراد يې هغه شی دی چي په هلاکېدلو سره يې ضمان (تاوان) يعني د هغه قيمت يا مثل هيڅ شی نه واجبيږي او د هغه په بدله کي چي کوم شی حاصلېدونکی وي اوس هغه ختميږي. لکه د بائع په قبضه کي مبيع که هلاکه سي نو پر هغه هيڅ ضمان نه لازميږي او د مبيع په بدله کي چي کوم ثمن ورته حاصليږي. هغه ساقطيږي.

تشريح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي رهن د مرتهن په قبضه کي مضمون دی يعني که رهن (مرهون شی) د هغه سره هلاک سي نو ضمان يې پر لازميږي او ضمان دا دی چي د هغه قرض ساقطيږي. له همدې څخه دا خبره ښکاره سوه چي د مرهون شي مضمون کېدل ضروري دي (يعني مرهون شی به داسي وي چي ضمان يې لازمېدای سي او د امانت ضمان نه لازميږي)، نو د غيرِ مضمون شي په عوض کي رهن جائز نه دی، په همدې وجه امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امانتونو يعني د وديعت، عاريت، مال مضاربت او مال شرکت په عوض کي رهن صحيح نه دی (د وديعت مثال لکه زيد چي خالد ته خپل يو شی په امانت کښېږدي او له خالد [مودَع] څخه د هغه په عوض کي رهن وغواړي چي ما ته خپل د دغه امانت شي په عوض کي يوشی په رهن [په ګرو] راکړه!. نو رهن باطل دئ. او عاريت مثلاً زيد خالد ته عاريتاً يو شی ورکړي او د هغه په بدله کي يو شی په رهن څني وغواړي. نو هم رهن باطل دی. او مال شرکت مثلاً د زيد او خالد تر مينځ شرکت وي بيا يو له بل څخه د مال شرکت په عوض کي يو شی په رهن وغواړي، نو دا عقدِ رهن هم باطل دی)؛ ځکه په رهن کي چي پر مرهون شي کومه قبضه کيږي هغه مضمونه وي، لهذا کوم شی چي د رهن په عوض کي وي د هغه مضمون کېدل ضروري دي، د دې لپاره چي د رهن قبضه مضمونه سي او بيا د حق ترلاسه کول هم آسانه سي، او څرنګه چي وديعتونه او داسي نور غيرِ مضمون دي، نو ځکه د هغوی په عوض کي به رهن صحيح نه وي.

وكذلك إلخ: د دې حاصل دا دی چي څرنګه د غيرِ مضمون شي په عوض کي رهن صحيح نه دی. همداسي هغه شی کوم چي مضمون خو وي لېکن مضمون بعينه نه وي بلکي مضمون بغيره وي د هغه د په عوض کي هم رهن صحيح نه دی، مثلاً مبيع د بائع په قبضه کي مضمون بغيره ده. اوس که بائع د مبيع په عوض کي د مشتري سره يو شی په رهن کښېږدي نو دا رهن جائز نه دی: ځکه مبيع د بائع سره مضمون بغيره وي، همدا وجه ده که مبيع د بائع په قبضه کي هلاکه سي نو پر هغه ضمان ن...

واجبيږي خو د دې هلاکېدلو په وجه ثمن کوم چې د بائع حق دی ساقطيږي. نو له دې څخه معلومه شوه چې مبيع مضمون بغيره ده. او ښکاره خبره ده چې د غير مضمون شي رهن صحيح نه دی. (احسن الهدايه)

د مضمون بعينه شي په عوض کې رهن صحيح دی

فَأَمَّا الْأَعْيَانُ الْمَضْمُونَةُ بِعَيْنِهَا او پاتې سوه هغه شيان کوم چې بذاتِ خود مضمون وي وَهِيَ أَنْ يَكُوْنَ مَضْمُوْنًا بِالْمِثْلِ أَوْ بِالْقِيمَةِ عِنْدَ هَلَاكِهِ او هغوی دا دي چې د مثل يا قيمت په عوض کې مضمون وي د خپل هلاکېدلو په وخت کې [يعني چې د هلاکېدلو په وخت کې يې د مثل يا قيمت ضمان واجبيږي] مِثْلَ الْمَغْصُوْبِ وَبَدَلِ الْخُلْعِ لکه مغصوب شی. بدلِ خلع وَالْمَهْرِ وَبَدَلِ الصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمَدِ او مهر او د قتلِ عمد بدلِ صلح يَصِحُّ الرَّهْنُ بِهَا د دې ټولو شيانو په عوض کې رهن صحيح دی لِأَنَّ الضَّمَانَ مُتَقَرِّرٌ ځکه چې ضمان ثابت دی فَإِنَّهُ إِنْ كَانَ قَائِمًا ځکه که له دې شيانو څخه يو شی موجود وي وَجَبَ تَسْلِيمُهُ نو د هغه ورسپارل واجب دي وَإِنْ كَانَ هَالِكًا او هلاک سوی [ضايع سوی] وي تَجِبُ قِيمَتُهُ نو د هغه قيمت واجب دی فَكَانَ رَهْنًا بِمَا هُوَ مَضْمُوْنٌ نو دا [رهن] به د داسې شي په عوض کې رهن وي کوم چې مضمون دی [ضمان يې واجب دی] فَيَصِحُّ نو ځکه رهن به صحيح وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د مضمون لغيره په عوض کې خو رهن صحيح نه دی. لېکن هغه شی کوم چې مضمون بعينه وي د هغه په عوض کې رهن صحيح دی. او د مضمون بعينه شي پېژندنه دا ده چې که هغه موجود وي نو خاص هغه (عينِ شی) ورسپارل واجب وي. او که موجود نه وي بلکې هلاک او ضايع سوی وي نو د هغه قيمت ورسپارل واجب وي که چيرې له ذوات القيم څخه او که له ذواتُ الامثال څخه وي نو د هغه مثل ورسپارل واجب وي. لهذا په دې صورت کې رهن د داسې شي په عوض کې دی کوم چې مضمون دی. نو ځکه رهن به صحيح وي چې مصنف رَحِمَهُ الله د هغه څلور مثالونه بيان کړي دي:

① ... که زيد د خالد آس غصب کړي او بيا د دغه مغصوب آس په عوض کې يو شی په رهن کښېږدي. نو دا رهن جائز دی؛ ځکه که آس موجود وي نو بعينه د هغه ورسپارل واجب دي او که هلاک سي نو څرنګه چې هغه له ذواتُ القيم څخه دی نو د هغه د قيمت ورسپارل واجب دي. لهذا دا رهن د داسې شي په بدله کې دی کوم چې مضمون بعينه دی. نو ځکه رهن به صحيح وي.

②... که زيد او سلمیٰ خلع سره وکړي او د خلع په بدل کي مثلاً يو آس وټاکي (يعني سلمیٰ ووايي چي د خلع په بدل کي يو آس درکوم) بيا سلمیٰ د هغه آس په عوض کي د زيد سره يو شی په رهن کښېږدي نو جائز دي د مذکوره دليل په وجه.

③... که زيد د سلمیٰ سره نکاح وکړي او مثلاً يو آس په مهر کي وټاکي او بيا د هغه په آس په عوض کي د سلمیٰ سره يو شی په رهن کښېږدي، نو دا رهن هم جائز دی د مذکوره دليل په وجه.

④... که زيد عمداً خالد قتل کړي چي په دې وجه پر زيد قصاص واجب سي، لېکن زيد د خالد د وارثانو سره صلح وکړي چي زه تاسو ته مثلاً يو آس درکوم او تاسي زما قصاص معاف کړی، بيا زيد د هغه په بدله کي يو شی په رهن ورکړي، نو دا رهن هم جائز او صحيح دی د مخکيني دليل په وجه.

رهن بالدرک باطل دی او کفاله بالدرک جائز ده (د فرق وجه)

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي] فرمايي وَالرَّهْنُ بِالدَّرَكِ بَاطِلٌ او رهن بالدرک باطل دی وَالْكَفَالَةُ بِالدَّرَكِ جَائِزَةٌ او کفاله بالدرک جائز ده وَالْفَرْقُ أَنَّ الرَّهْنَ لِلِاسْتِيفَاءِ او [په دواړو کي] فرق دا دی چي رهن د [حق] ترلاسه کولو لپاره کيږي وَلَا اِسْتِيفَاءَ قَبْلَ الْوُجُوْبِ او تر وجوب مخکي [حق] ترلاسه کول نسته [ځکه ښکاره خبره ده چي تر څو حق او قرض واجب سوی نه وي، تر هغه وخته په څنګه ترلاسه کړی سي] وَإِضَافَةُ التَّمْلِيْكِ إِلٰى زَمَانٍ فِي الْمُسْتَقْبَلِ لَا تَجُوْزُ او په مستقبل کي د زمان وطرف ته د تمليک اضافت کول جائز نه دي [يا په بله وينا داچي د آينده وخت وطرف ته د تمليک اضافت کول جائز نه دي] أَمَّا الْكَفَالَةُ فَلِالْتِزَامِ الْمُطَالَبَةِ او پاته سوه کفاله نو هغه د مطالبې د التزام لپاره کيږي وَالْتِزَامُ الْأَفْعَالِ يَصِحُّ مُضَافًا إِلَى الْمَآلِ او د افعالو التزام [پر ځان لازمول] د آينده وطرف ته په اضافت کولو سره صحيح دی كَمَا فِي الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ لکه په روژه او لمانځه کي چي کيږي وَلِهٰذَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِمَا ذَابَ لَهُ عَلٰى فُلَانٍ په همدې وجه د هغه حق کفاله [کفيل کېدل] جائز دي کوم چي د ده [مکفول لهٔ] لپاره پر فلانکي ثابت سي [يعني چي يو څوک بل چا ته ووايي: چي پر فلانکي ستا کوم حق او قرض باندي سي زه د هغه کفيل او ذمه واريم] وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ او رهن صحيح نه دی فَلَوْ قَبَضَهُ قَبْلَ الْوُجُوْبِ بيا که مشتري تر وجوب مخکي پر رهن [مرهون] قبضه وکړي فَهَلَكَ عِنْدَهُ او هغه د

مشتري سره هلاک سي يَهْلِكُ أَمَانَةً نو هغه دامانت په توګه هلاکيږي لِأَنَّهُ لَا عَقْدَ حَيْثُ وَقَعَ بَاطِلًا ځکه عقد رهن نسته په دې حيثيت سره چي هغه باطل واقع سوی وو.

اللغات: ﴿الدرك﴾ او الدَّرَك: لاحق کېدل، رسېدل، متصل کېدل (مصباح اللغات)، مراد تاوان او خساره لاحق کېدل. ﴿كفالة بالدرك﴾ "كفالة بما يُدرِكُكَ" ته وايي يعني چي تا ته کوم تاوان ورسيږي زه د هغه د کفيل او ذمه واريم، صورت به يې په تشريح کي ذکر سي. ﴿مآل﴾ پای او وروسته، مستقبل او آينده (راتلونکي) وخت. ﴿ذاب﴾ د نصر د باب ماضي ده، کله چي د دې باب په صله کي مال او يو حق (مثلاً قرض) ذکر سي، نو د "ثابتېدلو" او "واجبېدلو" معنیٰ ورکوي. ﴿تمليك﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مالک کول، مالک جوړول.

تشريح: د "کفاله بالدرک" صورت دا دی چي ځيني وخت داسي وي چي يو څوک مثلاً زيد له خالد څخه يو شی رانيول غواړي خو زيد بېرېږي چي دا شی به د بل چا وي او ما ته به تاوان او خساره ورسيږي نو عُمر د زيد لپاره کفيل او ضامن سي چي ته مه بېرېږه! زه ستا کفيل يم او که څوک د دې شي مستحق وخېږي يا څه د تاوان او نقصان خبره پېښه سي نو زه د ثمن کفيل او زمه واريم چي ستا ثمن بيرته په خالد (بائع) تا ته واپس کوم، نو دې ته کفاله بالدرک وايي او دا جائز ده. لېکن که داغه پورتنی صورت وي خو عُمر د دې احتمالي تاوان په عوض کي زيد ته يو شی په رهن کښېږدي نو دا رهن بالدرک دی او جائز نه دی (يعني که د دې محتمل تاوان کفيل سي نو کفاله بالدرک ده او که د هغه په بدله کي رهن کښېږدي نو رهن بالدرک دی)، اوس دا سوال پيدا کيږي چي د دوی تر مينځ دا فرق ولي دی چي کفاله بالدرک جائز ده او رهن بالدرک ناجائز دی، نو مصنف رَحِمَهُ الله د دې په جواب کي فرمايي چي رهن د دې لپاره کيږي چي خپل حق ترلاسه کړی سي او کله چي د يو چا لپاره واجب او لازم حق نه وي. نو ترلاسه کول به د څه شي وسي؛ ځکه تر اوسه پر بائع (خالد) د مشتري (زيد) هيڅ حق نه دی راغلی. لهذا د هغه په عوض کي رهن اېښوول هم صحيح نه دي.

او که سوال وسي چي سمه ده! تر اوسه خو حق نه دی لازم سوی لېکن په آينده کي د واقع کېدلو او لازمېدلو احتمال خو يې سته. لهذا رهن صحيح کېدل پکار دي؟

نو جواب دا دی چي که څوک په آينده وخت کي د کېدونکي قرض په عوض کي له اوس څخه رهن کښېږدي (مثلاً د حامد اراده وي چي له يو سړي څخه څو وخت وروسته قرض واخلي خو له اوس څخه په رهن يو شی ورته کښېږدي) نو ښکاره ده چي دا جائز نه دي ځکه تمليک د زمان استقبال وطرف ته منسوب کول جائز نه دي، او رهن بالدرک همداسي دی، نو ځکه دا به هم جائز نه وي.

پاته سوه د کفالې مسئله. نو د کفالې (کفیل کېدلو) مقصد استیفاء نه وي بلکې د مطالبې التزام وي (یعني کفیل پر ځان د حق وغیره مطالبه لازموي چې که فلانکي ستا حق درنه کړی یا مثلاً څه تاوان پېښ سو نو زما څخه مطالبه کوه! زه یې غم خورم). او د مطالبې التزام چې څرنګه د موجوده شي په باره کې کېدلای سي. همداسي د آینده شي په باره کې هم کېدلای سي. لکه څرنګه چې په لمانځه او روژه کې دي چې منذوره (نذر کړل سوې) روژه یا لمونځ په آینده زمانه کې پر خپل ځان د نذر په ذریعه لازمول کیږي. او د همدې خبرې د نور وضاحت لپاره دویم مثال پېشوي چې که مثلاً زید خالد ته ووایي چې (په آینده کې) پر حامد ستا کوم قرض باندي سي زه د هغه کفیل یم. نو دا کفاله خو جائز ده لېکن په دې صورت کې رهن ایښوول صحیح نه دي. نو همدغه ډول کفاله بالدرک خو جائز ده لېکن رهن بالدرک جائز نه دی.

فلو قبضه إلخ: د دې حاصل دا دی چې رهن بالدرک خو جائز نه دی (کما مرّ). لېکن بیا هم که مشتري(زید) ته رهن کېښېښول سي او هغه قبضه پر وکړي. نو څرنګه چې دا عقد رهن باطل دی لهذا که د مشتري سره دا مرهون هلاک سي. نو پر مشتري هیڅ ضمان نه واجبیږي بلکې پر مرهون شي د امانت حکم جاري کیږي او په امانت کې ضمان نه واجبیږي. نو همداسي به دلته هم ضمان نه واجبیږي.

د موعود قرض په عوض کې د رهن حکم

بِخِلَافِ الرَّهْنِ بِالدَّيْنِ الْمَوْعُوْدِ په خلاف د هغه رهن کوم چې د موعود قرض په عوض کې وي وَهُوَ أَنْ يَقُوْلَ: رَهَنْتُكَ هٰذَا لِتُقْرِضَنِيْ أَلْفَ دِرْهَمٍ او هغه دا دی چې راهن [داسي] ووایي: ما دا شي تا ته په رهن کېښېښوی د دې لپاره چې ته ما ته زر درهمه په قرض راکړې وَهَلَكَ فِيْ يَدِ الْمُرْتَهِنِ او د مرتهن په قبضه کې هغه [مرهون شی] هلاک سي حَيْثُ يَهْلِكُ بِمَا سَمّٰى مِنَ الْمَالِ بِمُقَابَلَتِهِ نو دا د هغه مال په عوض کې هلاکیږي کوم چې د مرهون په مقابله کې نومول سوی [تاکل سوی] وي لِأَنَّ الْمَوْعُوْدَ جُعِلَ كَالْمَوْجُوْدِ بِاعْتِبَارِ الْحَاجَةِ ځکه موعود د ضرورت په اعتبار سره د موجود په څېر ګرځول سوی دی وَلِأَنَّهُ مَقْبُوْضٌ بِجِهَةِ الرَّهْنِ الَّذِيْ يَصِحُّ عَلَى اعْتِبَارِ وُجُوْدِهِ او ځکه چې پر دې مرهون شی د هغه رهن په جهت سره قبضه سوې ده کوم چې د خپل وجود په اعتبار سره صحیح کیږي فَيُعْطٰى لَهُ حُكْمُهُ نو هغه ته به د رهن حکم ورکول کیږي كَالْمَقْبُوْضِ عَلٰى سَوْمِ الشِّرَاءِ لکه هغه شی چې د شراء د نرخ تاکلو په توګه قبضه پر سوې وي (یعني چې له دوکاندار څخه یې د دې لپاره واخلي چې زه یې ورم او نرخ یې معلوموم او خوښوم بیا یې رائیسم) فَيَضْمَنُهُ نو ځکه مرتهن به د هغه ضامن کیږي.

اللغات: ﴿موعود﴾ د ضرب مفعول دی: وعده کړی سوی، د څه چي وعده سوې وي، ﴿مقبوض﴾ د ضرب د باب مفعول دی: قبضه کړی سوی، اخيستلی سوی، ﴿سوم الشراء﴾ "سَوْم" د نصر د باب مصدر دی، معنیٰ يې ده: قيمت ټاکل، نرخ ټاکل (چي زه يې په دومره رانيسم)، نرخ معلومول، "شراء" رانيولو ته وايي، "مقبوض علی سوم الشراء" هغه شي ته وايي کوم چي د قيمت ټاکلو او معلومولو لپاره له بائع او دوکاندار څخه واخيستل سي، صورت به يې په تشريح کي ذکر سي.

تشريح: څه مخکي ذکر سوه چي رهن باللدرک جائز نه دی، نو له هغه څخه دا شبهه پيدا سوه چي د موعود قرض په عوض کي رهن اينبوول هم نه جائز کېدل پکار دي، صورت يې دا دی چي يو څوک مثلاً زيد خالد ته ووايي چي زه دا شی تا ته په رهن اږدم د دې لپاره چي ته ما ته بيا قرض راکړې يا مثلاً خالد د زيد سره فقط صرف د قرض وعده وکړي چي زه تا ته زر درهمه په قرض درکوم لېکن اوس يې ور نه کړي، نو د دې موعود قرض په بدله کي که زيد له اوس څخه خالد ته يو شی په رهن کښېږدي نو دا هم نه جائز کېدل پکار دي؛ ځکه دا رهن هم د داسي حق (قرض) په عوض کي دی کوم چي تر اوسه واجب سوی نه دی، نو څرنګه چي رهن باللدرک ناجائز دی، همداسي دا هم ناجائز کېدل پکار دي، حال دا چي تاسي هغه جائز ګڼئ.

نو مصنف رَحِمَهُ الله د دې په جواب کي فرمايي چي عموماً د خلکو عادت دا وي چي اول رهن غواړي (چي ما ته يو شی په ګرو کښېږده!) بيا قرض ورکوي، لهذا دلته حاجت او ضرورت ثابت دی کنې د قرض دروازه به بنده سي، نو د دې ضرورت په وجه موږ موعود قرض ته د موجود قرض درجه ورکړه او د هغه په عوض کي مو رهن جائز وګرځوی؛ ځکه له قرض ورکولو څخه مخکي که څه هم دا اوس اصلي رهن نه دی خو په آينده کي رهن کېدونکی دی، لهذا د مَايَؤُلُ اِلَيْهِ په اعتبار کولو سره به دا له اوس څخه رهن شمېرل کيږي، او کله چي هغه رهن سو، نو پر هغه به د رهن احکام جاري کيږي.

لهذا که دا رهن (مرهون شی) د مرتهن (خالد) سره هلاک سي، نو پر هغه به ضمان واجبيږي.

سوال: آيا تاسي يو بل مثال پېشولای سي چي په هغه کي د مَايَؤُلُ اِلَيه په اعتبار کولو سره حکم جاري سوی وی؟.

جواب: هو!، هغه مقبوض علیٰ سوم الشراء دی، يعني که زيد مثلاً د کپړې رانيولو لپاره د حامد دوکان ته ورسي او هلته يوه کپړه ووويني او حامد قيمت ور وښيي، بيا زيد هغه کپړه له حامد څخه د دې لپاره واخلي چي مثلاً زه يې خپل کور والا ته ورښکاره کوم او نرخ يې ټاکم چي که د هغو خوښه سي بيا يې رانيسم او قيمت يې درکوم او حامد يې په لاس ورکړي (دې ته مقبوض علی سوم الشراء وايي

اوس که تر دې وروسته هغه کپړه د زید سره هلاکه او ضایع سي، نو پر زید د کپړې هغه قیمت واجبیږي کوم چي حامد ښوولی وي. نو ګواکي دلته د رانیولو د واقع کېدلو اعتبار سوی دی چي ګواکي زید په هغه قیمت سره کپړه رانیولې ده (حال دا چي زید په هغه وخت کي کپړه نه ده رانیولې او شراء نه ده واقع سوې. خو د قیمت واجبېدلو په هکله د شراء واقع کېدلو اعتبار سوی دی)، نو همدغسي په مخکیني مثال کي موعود قرض ته د موجود قرض درجه ورکول سوې ده. (اشرف الهدایه)

په بیع سَلم او بیع صَرف کي د رهن حکم

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمایي وَيَصِحُّ الرَّهْنُ بِرَأْسِ مَالِ السَّلَمِ او رهن صحیح دی د بیع سلم د رأس المال په عوض کي وَبِثَمَنِ الصَّرْفِ او د بیع صَرف د ثمن په عوض کي وَالْمُسْلَمِ فِيْهِ او د مسلم فیه په عوض کي وَقَالَ زُفَرُ: لَايَجُوْزُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي جائز نه دی لِأَنَّ حُكْمَهُ الْاِسْتِيْفَاءُ ځکه د رهن حکم [حق] ترلاسه کول دي وَهٰذَا اِسْتِبْدَالٌ او دا بدلول دي لِعَدَمِ الْمُجَانَسَةِ د مجانست د نشتوالي په وجه وَبَابُ الْاِسْتِبْدَالِ فِيْهَا مَسْدُوْدٌ او په دې شیانو کي [یعني د سَلَم د رأسُ المال وغیره] د بدلولو دروازه تړل سوې ده وَلَنَا: أَنَّ الْمُجَانَسَةَ ثَابِتَةٌ فِي الْمَالِيَّةِ او زموږ دلیل دا دی: چي مجانست په مالیت [مال کېدلو] ثابت دي [ځکه دواړه مال دي] فَيَتَحَقَّقُ الْاِسْتِيْفَاءُ مِنْ حَيْثُ الْمَالُ نو ځکه د مال په اعتبار سره به [حق] ترلاسه کول ثابت سي وَهُوَ الْمَضْمُوْنُ او [په رهن کي] همدا مالیت مضمون دی عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سوه.

اللغات: ﴿رأس المال﴾ سر د مال، اصل ثمن، په بیع سَلم کي قیمت او ثمن ته "راس المال" وایي، او په مطلق بیع کي قیمت ته "ثمن" وایي، او په اجاره کي قیمت ته "أجرت" (کرایه او مزدوري) وایي. ﴿سَلَم﴾ بیع الآجل بالعاجل، یعني ځنډ من شی د نغد شي په عوض کي خرڅول. مثلاً بائع له یو څوک في الحاله ثمن (نقد) واخلي او د یوې میاشتي په قرض غله (مثلاً غنم) پر خرڅ کړي چي غله یوه میاشت وروسته درکوم. په بیع سَلم کي ثمن ته رأسُ المال وایي، ثمن ورکونکي یعني مشتري ته رَبُّ السَّلَمْ وایي او بائع "غله ورکونکي" ته مُسْلَمٌ اِلَيْهِ وایي او په کوم شي کي چي بیع سَلم وسي لکه دلته چي غلهٔ (غنم) دي، هغه ته مُسْلَم فِيْه وایي. ﴿الصرف﴾ مبادلة النقد بالنقد. یعني نغد مال په نغد مال سره بدلول. صرافي. ﴿اسْتبدال﴾ د استفعال مصدر دی: د یو شي په بدله کي بل شی

ورکول او اخيستل، يو شی په بل شي سره بدلول (اليشول). مثلاً د مسلم فيه په بدله کي بل شی اخيستل، ﴿مسدود﴾ د نصر له بابه د مفعول صيغه ده: بند کړی سوی، تړل سوی. ﴿مالية﴾ مال کېدل، مال والی، مالي حيثيت. اود مال په عربي کي څو تعريفونه سوي دي، چي له هغوی څخه ځيني دا دي: ① هر هغه شی چي له هغه څخه نفع اخيستل ممکن وي، ② هر هغه شی کوم چي قيمت او ارزښت لري. يا هغه شی کوم چي په قيمت سره ترلاسه کړی سوی وي.

يادونه: پورته د بيع سلم وغيره مذکوره تعريفونه په يادلرئ! ځکه په آينده عبارتونو کي څو ځايه ذکر سوي دي، هلته يې موږ دوباره نه ذکر کوو.

تشريح: د بيع سَلم او بيع صَرف تعريف او وضاحت د هدايې په جلد ثالث کي په تفصيل سره ذکر سوی دی او په لغاتو کي هم موږ مختصراً ذکر کړی او دا مو هم ذکر کړه چي په بيع سلم کي ثمن ته رأس المال او مبيع ته مسلم فيه او بائع ته مسلم إليه او مشتري ته ربُ السلم وايي. او په بيع سلم کي د عاقدَينو (مسلم إليه او ربُ السلم) تر جلا کېدو مخکي پر رأسُ المال قبضه کول شرط دي، همدارنګه کوم شی چي په رأسُ المال يا مسلم فيه کي وټاکل سي، د هغه تبديلي (بدلول) جائز نه دي. همدارنګه په بيع صَرف کي هم د عاقدَينو تر جلا کېدو مخکي پر ثمن او مبيع دواړو قبضه کول شرط دي او د ثمن تبديلي جائز نه ده. اوس له دې تفصيل څخه وروسته صورت د مسئلې ته ګورئ!.

صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز د بيع سلم د رأسُ المال په عوض کي، د بيع صرف د ثمن په عوض کي، همدارنګه د مسلم فيه په عوض کي رهن (يعني يو شی په رهن ايښوول) جائز دي. خو پر دې اعتراض وارديږي چي بايد دا رهن جائز نه سي ځکه کله چي د دې شيانو (رأسَ المال وغيره) په عوض کي رهن کښېښول سي نو د دوی تبديلي او استبدال به لازم سي يعني په رأس المال وغيره کي يو شی ټاکل سوی دی او د هغه په عوض کي بل جلا شی (يعني مرهون شی) ورکول کيږي. نو خپل حق ترلاسه نه سو بلکي په حق کي تبديلي وسوه او دا د بيع سلم په رأسُ المال او مسلم فيه وغيره کي حرام دي، نو په همدې وجه امام زفر رَحِمَهُ الله د مذکوره شيانو رهن ناجائز ګرځولی دی چي د مرهون شي او حق تر مينځ مجانست نسته نو پر ځای د استيفاء (حق ترلاسه کولو) دلته استبدال لازميږي (کوم چي په بيع سلم او بيع صرف کي حرام دي). نو ځکه به دا رهن جائز نه وي.

زموږ له طرفه جواب دا دی چي مخکي ذکر سوه چي په رهن کي د مرهون عين امانت دی او د هغه ماليت مضمون دی (يعني ضمان چي لازميږي هغه د مرهون شي د ماليت په اعتبار سره لازميږي). او دلته که څه هم د عين په اعتبار سره مجانست نسته خو د ماليت په اعتبار سره مجانست موجود دی (يا په بله وينا دا چي مذکوره مرهون که څه هم د خپل عين په اعتبار سره د جلا جنس دی خو د خپل ماليت [مال کېدلو] په اعتبار سره د جلا جنس نه دی بلکي د مذکوره حق همجنس دی). او څرنګه چي په رهن کي همدا ماليت

مضمون وي او د ماليت په حواله سره مجانست موجود دی (ځکه ماليت په هريوه کي سته). نو ځکه د دې شيانو په عوض کي رهن جائز دی او د تبديلۍ اعتراض کول صحيح نه دي. (اشرف الهدايه)

د مبيع په بدله کي د رهن حکم

قَالَ: وَالرَّهْنُ بِالْمَبِيْعِ بَاطِلٌ فرمايي: او د مبيع په عوض کي رهن باطل دی لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ غَيْرُ مَضْمُوْنٍ بِنَفْسِهٖ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي مبيع بذات خود مضمون نه ده فَإِنْ هَلَكَ نو که مرهون [د مشتري] سره هلاک سي ذَهَبَ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو هغه بغير له څه شي هلاکيږي [يعني په عوض کي يې هيڅ شی نه لازميږي] لِأَنَّهُ لَا اعْتِبَارَ لِلْبَاطِلِ ځکه باطل عقد لره هيڅ اعتبار نسته فَبَقِيَ قَبْضًا بِإِذْنِهٖ نو مرهون د بائع [راهن] په اجازه سره مقبوض پاته سو.

اللغات: ﴿مبيع﴾ د ضرب د باب مفعول دی: خرڅ کړی سوی شی. ﴿مضمون﴾ د سمع د باب مفعول دی: د کوم شي چي ضمان واجب وي، د کوم شي په هکله چي ضمان ورکول کيږي. ﴿مقبوض﴾ د ضرب د باب مفعول دی: قبضه کړی سوی، اخيستل سوی.

تشريح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي د مضمون بغيره شي په عوض کي رهن صحيح نه دی، او څرنګه چي مبيع هم مضمون بغيره ده، نو ځکه د مبيع په عوض کي رهن اېښوول صحيح نه دي او دا رهن باطل دی، خو د دې باوجود که بائع د مبيع په عوض کي مشتري ته يو شی په رهن کښېږدي او دا مرهون شی د مشتري سره هلاک سي، نو پر مشتري هيڅ ضمان (يعني د مرهون شي يا د مبيع قيمت) نه لازميږي؛ ځکه کله چي دا عقد رهن باطل واقع سوی دی نو ښکاره ده چي هغه لره اعتبار نسته، او د مشتري په قبضه کي چي کوم د بائع مرهون شی دی هغه امانت دی په دې اعتبار سره چي مشتري د بائع په اجازه سره پر هغه قبضه کړې ده (نو دا ګواکي امانت سو)، او د امانت په هلاکېدلو سره ضمان نه لازميږي، نو ځکه دلته به پر مشتري هيڅ ضمان نه لازميږي. (احسن الهدايه)

په بيع سَلم او بيع صَرف کي د رهن (مرهون) د هلاکېدلو تفصيلي حکم

وَإِنْ هَلَكَ الرَّهْنُ بِثَمَنِ الصَّرْفِ وَرَأْسِ مَالِ السَّلَمِ فِيْ مَجْلِسِ الْعَقْدِ او که د عقد رهن په مجلس کي هغه رهن [مرهون] هلاک سي کوم چي د بيع صَرف د ثمن او د بيع سَلم د رأس المال په عوض کي وي تَمَّ الصَّرْفُ وَالسَّلَمُ نو بيع صَرف او بيع سَلم تام [پوره] سوه وَصَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا لِدَيْنِهٖ او مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی وګرځېدی لِتَحَقُّقِ الْقَبْضِ حُكْمًا ځکه د حکم په اعتبار سره قبضه ثابته

سوه وَإِنِ افْتَرَقَا قَبْلَ هَلَاكِ الرَّهْنِ او كه د رهن له هلاكېدلو څخه مخكې دوى دواړه سره جلا سي بَطَلَا نو دواړه عقدونه باطليږي لِفَوَاتِ الْقَبْضِ حَقِيقَةً وَحُكْمًا ځكه د حقيقت او حكم [دواړو] په اعتبار سره قبضه فوت سوه.

اللغات: ﴿مُسْتَوْفِي﴾ د استفعال د باب فاعل دى: ترلاسه كونكى (حاصلونكى)، پوره اخيستونكى، ﴿تحقق﴾ د تفعّل مصدر دى: ثابتېدل، موجودېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه په بيع صَرف كي د ثمن يا په بيع سلم كي د رأسُ المال په عوض كي رهن كښېښول سي او بيا د عاقدَينو د مجلس تر بدلېدو (يعني د عاقدينو تر جلا كېدو) مخكي مرهون شى په هغه مجلس كي هلاك او ضايع سي، نو په دې سره بيع صَرف او بيع سَلم تام او مكمل گرځي او مرتهن د خپل قرض ترلاسه كونكى گرځي؛ ځكه مرهون شى د مرتهن په قبضه كي هلاك سوى دى (ځكه كله چي دا شى هغه ته په رهن كښېښول سو نو تر دې وروسته په هغه مجلس كي هلاك سو). او د هغه د هلاكېدلو په وجه مرتهن حكماً پر خپل قرض قبضه كونكى سو يعني كله چي دا مرهون شى د مرتهن په قبضه كي هلاك سو، نو گواكي هغه پر خپل قرض قبضه وكړه، او په قبضه سره بيع تام او پوره گرځي، نو ځكه دا دواړه بيع (سَلم او صرف) به هم تام گرځول كيږي او مرتهن به د خپل قرض ترلاسه كونكى شمېرل كيږي.

خو كه د مرهون شي تر هلاكېدلو مخكي عاقدَين (راهن او مرتهن) سره جلا سي، نو په دې صورت كي دواړه بيع باطليږي؛ ځكه د بيع صَرف پر ثمن او د بيع سَلم پر رأسُ المال نه حقيقتاً قبضه سوې ده او نه حكماً (ځكه مرهون نه دئ هلاك سوى او كه مرهون هلاك سوى واى نو حكماً به قبضه شمېرل كېداى)، او له قبضې څخه بغير بيع نه پوره كيږي، نو ځكه په دې صورت كي دواړه بيع باطليږي.

سوال: تاسي خو مخكي په دې هكله زموږ او د امام زفر رَحِمَهُ الله تر مينځ اختلاف بيان كړى چي زموږ په نيز د رأسُ المال او ثمن په عوض كي رهن جائز دى او دلته واياست چي كه په هغه مجلس كي مرهون هلاك او ضايع سي نو بيع صرف او بيع سلم تام گرځي، كنې باطليږي؟.

جواب: د دې مسئلې هم داغه مطلب دى چي رهن د دې شيانو په عوض كي جائز خو دى لېكن وروسته به دې ته كتل كيږي چي مرهون شى په هغه مجلس كي هلاك سوى دى او كه نه دى. كه هلاك سي نو بيع تام او پوره ده، او كه هلاك نه سي نو څرنگه چي هيڅ ډول قبضه ثابته نه سوه (نه حقيقتاً او نه حكماً)، نو ځكه دواړه بيع به باطليږي. په بله وينا دا چي دا عبارت د مخكنى مسئلې د اجمال تفصيل دى.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت (که رهن د مسلم فيه په عوض کې وي او هلاک سي)

وَإِنْ هَلَكَ الرَّهْنُ بِالْمُسْلَمِ فِيْهِ او که د مسلم فيه په عوض کې رهن هلاک سي بَطَلَ السَّلَمُ بِهَلَاكِهِ نو د هغه په هلاکېدلو سره بيع سلم باطلېږي وَمَعْنَاهُ أَنَّهُ يَصِيْرُ مُسْتَوْفِيًا لِلْمُسْلَمِ فِيْهِ او د دې مطلب دا دی چې هغه [رب السلم] د مسلم فيه ترلاسه کونکی ګرځي فَلَمْ يَبْقَ السَّلَمُ نو ځکه بيع سلم باقي پاته نه سوه [ختم سوه].

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې خالد او زيد په خپل مينځ کې بيع سلم وکړهٔ (مثلاً خالد پر زيد په قرض غله خرڅه کړه) او زيد خالد ته رأسُ المال ورکړی (لکه څرنګه چې دا د بيع سلم حکم دی) او خالد د مسلم فيه (غلې) په عوض کې خپل يو شی مثلاً آس زيد ته په رهن ورکړی، نو دا جائز دي (لکه مخکې چې ذکر سوه. نو دلته زيد ربُ السلم او مرتهن دی. او خالد مسلم إليه او راهن دی)، اوس که د زيد (مرتهن) سره هغه آس کوم چې د مسلم فيه عوض دی هلاک سي، نو دا بيع سلم باطلېږي.

او د "بَطَلَ" په هکله صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دې باطلېدلو مطلب دا دی چې بيع سلم تام سوه او بيا ختم سوه؛ ځکه کله چې ربُ السلم يعني زيد د مسلم فيه پر عوض (آس) قبضه وکړه او هغه د ده په قبضه کې هلاک سو، نو ګواکې ده پر خپل حق قبضه وکړه يعني ګواکې مسلم فيه (غله) يې ترلاسه کړه، نو ځکه اوس بيع سلم باقي پاته نه سوه بلکې پوره سوه.

يادونه: خو دا حکم هغه وخت دی کله چې د مرهون شي قيمت د اصل حق (مسلم فيه) سره برابر يا زيات وي، او که قيمت يې کم وي، نو د قيمت په اندازه د ربُ السلم حق وصول سو يعني ګواکې هغه د مرهون شي د قيمت په مقدار مسلم فيه ترلاسه کړه او پاته مقدار به هغه له مسلم إليه څخه واپس اخلي. (احسن الهدايه)

په پورتني صورت کې د بيع سلم د فسخ کولو حکم

وَلَوْ تَفَاسَخَا السَّلَمَ وَبِالْمُسْلَمِ فِيْهِ رَهْنٌ او که دوی دواړه بيع سلم فسخ کړي حال دا چې د مسلم فيه په عوض کې رهن وي يَكُوْنُ ذٰلِكَ رَهْنًا بِرَأْسِ الْمَالِ نو دا د رأسُ المال په عوض کې رهن ګرځي حَتّٰى يَحْبِسَهُ تر دې چې ربُ السلم به مرهون شی راګرځوي لِأَنَّهُ بَدَلُهُ ځکه چې رأس المال د مسلم فيه بدل دی فَصَارَ كَالْمَغْصُوْبِ إِذَا هَلَكَ وَبِهِ رَهْنٌ نو داسې سو لکه مغصوب شی چې کله هلاک سي او د هغه په عوض کې رهن وي يَكُوْنُ رَهْنًا بِقِيْمَتِهِ نو دا د هغه [مغصوب شي] په عوض کې رهن ګرځي.

اللغات: ﴿التفاسخ﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو تر بله فسخ کول (ماتول). ﴿تقايلا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو د بل سره اقاله کول او پښېمانه کېدل، يو د بل سره سودا فسخ ول (ماتول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد او خالد بيع سلم وکړه او زيد رأس المال خالد ته ورکړی او خالد د مسلم فيه (غلې) په عوض کې زيد ته خپل آس په رهن ورکړی. نو بيع سلم خو جائز سوه. لېکن اوس که دوی دواړه په خپل خوښه او رضاء سره دا بيع سلم فسخ کړي او رهن (مرهون آس) دزيد سره موجود وي، نو اوس څه حکم دی؟. فرمايي چې دا آس اول د مسلم فيه (غلې) په عوض کې رهن وو. او اوس دا دهغه رأس المال په عوض کې رهن ګرځي کوم چې زيد و خالد ته ورکړی وو. لهذا اوس ربُ السلم يعني زيد (مرتهن) ته دا حق سته چې تر څو هغه ته خالد (راهن) خپل رأس المال ورنه کړي، تر هغه وخته زيد دي دهغه آس نه ورکوي، ځکه رأس المال د مسلم فيه بدل او عوض دی (يعني د مسلم فيه په عوض کې يې ورکړی دی). نو کله چې بيع سلم فسخ سوه او مسلم فيه معدوم سوه، نو اوس به د مسلم فيه بدل (يعني رأس المال) د مسلم فيه قائم مقام ګرځول کيږي او ويل کيږي به چې دا رهن (آس) د مسلم فيه پر ځای اوس د رأس المال په عوض کې (د مرتهن زيد سره) محبوس دی.

او د دې مثال داسې دی لکه حامد چې د عُمر پسه غصب کړي بيا حامد د مغصوب پسه په عوض کې عُمر ته يو شی په رهن کښېږدي نو دا جائز دي. لېکن بيا که د حامد (غاصب) سره دا مغصوب پسه هلاک سي. نو حکم دا دی چې مذکوره رهن (مرهون شی) مخکې د مغصوب بدل وو. او اوس د مغصوب د قيمت بدل دی (ځکه مغصوب يعني پسه هلاک او معدوم سو. نو اوس مرهون شی دهغه د قيمت بدل دی)، لهذا تر څو چې حامد غاصب د پسه قيمت عُمر ته ورنه کړي، تر هغه وخته عُمر ته دا حق سته چې مرهون شی د خپل ځان سره محبوس وساتي. نو همدغسې دا پورتنۍ مسئله هم ده.

که تر فسخ کولو وروسته مرهون هلاک سي (حکم او تفصيل)

وَلَوْهَلَكَ الرَّهْنُ بَعْدَ التَّفَاسُخِ او که چيري [د بيع سلم] تر فسخ کولو وروسته مرهون هلاک سي يَهْلِكُ بِالطَّعَامِ الْمُسْلَمِ فِيْهِ نو د هغه غلې په عوض کې هلاکيږي کوم چې مسلم فيه ده لِأَنَّهُ رَهْنٌ بِهِ ځکه چې دا دهغه په عوض کې رهن دی وَإِنْ كَانَ مَحْبُوسًا بِغَيْرِهِ که څه هم له هغه څخه بغير [ادبل څه] په عوض کې محبوس دی كَمَنْ بَاعَ عَبْدًا وَسَلَّمَ الْمَبِيْعَ لکه څوک چې غلام خرڅ کړي او مبيع [غلام] ور وسپاري وَأَخَذَ بِالثَّمَنِ رَهْنًا او د ثمن په عوض کې رهن واخلي ثُمَّ تَقَايَلَا الْبَيْعَ بيا دوی دواړه د بيع اقاله وکړي [بيع ماته کړي] لَهُ أَنْ يَحْبِسَهُ لِأَخْذِ الْمَبِيْعِ نو بائع ته دا حق سته چې د مبيع [غلام] اخيستلو لپاره مرهون راوګرځوي لِأَنَّ الثَّمَنَ بَدَلُهُ ځکه چې ثمن د هغه بدل دی وَلَوْ هَلَكَ الْمَرْهُوْنُ او که مرهون هلاک سي يَهْلِكُ بِالثَّمَنِ نو د ثمن په عوض کې هلاکيږي لِمَا بَيَّنَّا د

هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَكَذَا لَواشْتَرَى عَبْدًا شِرَاءً فَاسِدًا او همدارنګه که یو غلام د شراءِ فاسد په توګه رانیسي وَأَدَّى ثَمَنَهُ او د هغه ثمن اداء کړي لَهُ أَنْ يَحْبِسَهُ لِيَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ نو مشتري ته دا حق سته چې مبیع راوګرځوي د دې لپاره چې ثمن ترلاسه کړي ثُمَّ لَوْهَلَكَ الْمُشْتَرَى فِي يَدِ الْمُشْتَرِيْ بیا که رانیول سوی غلام د مشتري په قبضه کي هلاک سي يَهْلِكُ بِقِيمَتِهِ نو هغه د خپل قیمت په عوض کي هلاکیږي فَكَذَا هٰذَا نو همداسي به دا هم وي.

اللغات: ﴿قیمة﴾ د شي بازاري نرخ او قیمت. یعني په بازار او منډۍ کي چې د شي کوم رېښتې چلیږي، هغه ته قیمة وایي. ﴿ثمن﴾ هغه قیمت چې د بائع او مشتري تر مینځ ټاکل سوی وي.

تشریح: مخکنۍ حکم هغه وخت دی کله چې د بیع سلم تر فسخ وروسته مرهون شی (آس) هلاک نه سي، خو که تر فسخ وروسته مرهون هلاک سي، نو که څه هم دا مرهون (آس) مخکي د رأسُ المال په عوض کي رهن او محبوس وو، لېکن اوس د اصل په اعتبار سره (په حقیقت کي) دا مرهون د مسلم فیه (غلې) په عوض کي رهن او محبوس دی، لهذا که تر فسخ وروسته مرهون (آس) د مرتهن (زید) سره هلاک سي نو د مسلم فیه په عوض کي هلاکیږي یعني اوس حکم دا دی چې مرتهن (زید) به هغومره غله راهن (خالد) ته ورکوي کوم چې په مسلم فیه کي ټاکل سوې وي. او کله چې هغه ورکړي نو بیا مرتهن (زید) ته د خپل رأسُ المال د اخیستلو حق سته. نه تر هغه مخکي (یعني کله چې د مسلم فیه مقدار اداء کړي نو بیا به "راهن خالد" [کوم چې مسلم إلیه دی] و "مرتهن زید" [ربُ السلم] ته د هغه رأسُ المال واپس کوي. نه تر هغه مخکي).

كمن باع إلخ: په دې سره مصنف رَحِمَهُ الله د مخکنۍ پوره مسئلې د څرګندولو لپاره یو مثال پېشوي فرمایي چې مثلاً که حامد پر عُمر یو غلام په زر درهمه خرڅ کړی او غلام یې عُمر (مشتري) ته وسپاری او عُمر د ثمن (زر درهمو) په عوض کي خپل آس حامد ته په رهن ورکړی. لېکن بیا وروسته دوی دواړو په خپل رضاء سره اقاله وکړه یعني بیع یې فسخ کړه. نو حامد (مرتهن) ته خو مخکي دا حق وو چې تر څو له عُمر څخه ثمن ترلاسه نه کړي تر هغه وخته دا مرهون آس د ځان سره راوګرځوي. لېکن څرنګه چې اوس د اقالې (فسخُ البیع) په وجه ثمن له منځه ولاړی. نو ځکه اوس حامد ته دا حق سته چې تر څو خپل خرڅ کړده غلام له عُمر څخه ترلاسه نه کړي تر هغه وخته دا مرهون (آس) د ځان سره راوګرځوي (یا په بله وینا دا چې دا مرهون آس د غلام په عوض کي د ځان سره محبوس کړي). او دا حکم هغه وخت دی کله چې تر اقالې وروسته مرهون آس هلاک نه سي. لېکن که آس هلاک سي. نو که څه هم دا مرهون آس د مبیع یعني د غلام په بدله کي محبوس وو. لېکن په حقیقت

کي هغه د ثمن عوض دی (ځکه عُمر دا آس حامد ته د ثمن په عوض کي په رهن ورکړی دی). لهذا که مرهون آس هلاک سي نو هغه د ثمن په عوض کي هلاکيږي، لهذا اول به بائع يعني حامد (کوم چي مرتهن دی) مشتري يعني عُمر (راهن) ته هغومره ثمن ورکوي کوم چي په بيع کي ټاکل سوی وي (يعني زر درهمه)، او کله چي هغه ورکړي نو بيا حامد ته د خپل غلام د اخيستلو حق سته، نه تر هغه مخکي (يعني کله چي ثمن اداء کړي نو بيا به "راهن عُمر" و "مرتهن حامد" ته د هغه غلام واپس کوي. نه تر هغه مخکي)، نو همداسي دا پورتني مسئله هم ده.

وکذا لواشتری إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو څوک مثلاً خالد له زيد څخه يو غلام د شراء فاسد په توګه رانيسي (او تاسي ته معلومه ده چي د شراء فاسد او بيع فاسد فسخ کول شرعاً واجب دي)، او خالد پر غلام قبضه وکړي او د هغه ثمن هم اداء کړي، بيا دوی دواړه (د شريعت د حکم پر بناء) دا اراده وکړي چي دا بيع فسخ کړي، نو اوس خالد (مشتري) ته دا حق سته چي تر څو خپل ثمن له زيد (بائع) څخه تر لاسه نه کړي، تر هغه وخته رانيول سوی غلام راو نه ګرځوي؛ ځکه دا غلام دلته د مرهون شي په درجه کي دی او کله چي زيد ثمن ورکړي نو بيا دي خالد و زيد ته د هغه غلام وسپاري، او که چيري د خالد (مشتري) سره دا غلام هلاک سي، نو د خپل قيمت په عوض کي هلاکيږي، لهذا اوس پر خالد ضروري ده چي د دې غلام قيمت زيد (بائع) ته وسپاري، نو بيا دي له هغه څخه خپل ثمن واخلي (يعني د هلاک سوي غلام د قيمت تر اداء کولو وروسته مشتري ته د خپل ثمن د اخيستلو حق سته، نه تر هغه مخکي).

آزاد، مدبر، مکاتب او أم ولد د رهن په توګه ورکول صحيح نه دي

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ رَهْنُ الْحُرِّ وَالْمُدَبَّرِ وَالْمُكَاتَبِ وَأُمِّ الْوَلَدِ فرمايي: آزاد کس او مدبر، مکاتب او أُم ولد په رهن ورکول جائز نه دي لِأَنَّ حُكْمَ الرَّهْنِ ثُبُوتُ يَدِ الِاسْتِيفَاءِ ځکه د رهن حکم د [حق] تر لاسه کولو قبضه ثابتېدل دي وَلَا يَتَحَقَّقُ الِاسْتِيفَاءُ مِنْ هٰؤُلَاءِ او په دې کسانو سره [د حق] تر لاسه کول نه سي متحقق کېدلای لِعَدَمِ الْمَالِيَّةِ فِي الْحُرِّ ځکه په آزاد کي خو ماليت نسته [يعني هغه مال نه دی] وَقِيَامِ الْمَانِعِ فِي الْبَاقِينَ او په ورو کي مانع [د حُريت حق] موجود دی.

اللغات: ﴿حُر﴾ آزاد کس. ﴿مُدبَّر﴾ هغه غلام چي خپل مالک (مولیٰ) ورته ويلي وي: ته زما تر مرګ وروسته آزاد يې! (يعني هغه غلام چي مالک د هغه آزادي پر خپل مرګ معلقه کړې وي). ﴿مکاتب﴾ هغه غلام چي خپل مالک ورته ويلي وي: ته ما ته دومره پيسې راوړه! (مثلاً پنځه سوه درهمه راوړه!) نو ته آزاد يې! او غلام دا معامله منظور کړي، نو د غه غلام ته مکاتب وايي او دې معاملې ته کتابت وايي.

﴿أم ولد﴾ هغه مينځه چې خپل مالک جماع ور سره کړې وي او د جماع په نتيجه کې له هغې څخه بچي پيدا سوی وي، داسې مينځه د مالک تر مرګ وروسته آزادېږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې آزاد، مدبر او مکاتب وغيره په رهن ورکول جائز نه دي: ځکه درهن حکم دا دی چې په هغه (مرهون) سره خپل حق او قرض ترلاسه کړی سي. او په آزاد. مدبر وغيره سره قرض ترلاسه کول ممکن نه دي؛ ځکه په آزاد کې خو ګردسره ماليت سته نه، او په مدبر وغيره کې که څه هم ماليت وي لېکن من وجه په هغوی کې حريت وي، لهذا په هغوی سره هم قرض ترلاسه کول ممکن نه دي، او کله چې په دې مذکوره کسانو کې د رهن حکم امکان نه لري. نو ځکه دوی په رهن ورکول به هم جائز نه وي.

د کفاله بالنفس، قصاص او داسې نورو په عوض کې رهن صحيح نه دی

وَلَا يَجُوزُ الرَّهْنُ بِالْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ او د کفاله بالنفس په عوض کې رهن جائز نه دی وَكَذَا بِالْقِصَاصِ فِي النَّفْسِ وَمَا دُونَهَا او همدارنګه د نفس او ما دون النفس د قصاص په عوض کې رهن جائز نه دی لِتَعَذُّرِ الِاسْتِيفَاءِ د [حق] ترلاسه کولو د ناممکن والي په وجه بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الْجِنَايَةُ خَطَأً په خلاف د هغه صورت کله چې جرم په خطاء سره وسي لِأَنَّ اسْتِيفَاءَ الْأَرْشِ مِنَ الرَّهْنِ مُمْكِنٌ ځکه په رهن [مرهون شي] سره ارش ترلاسه کول ممکن دي وَلَا يَجُوزُ الرَّهْنُ بِالشُّفْعَةِ او د شفعې په عوض کې رهن جائز نه دی لِأَنَّ الْمَبِيعَ غَيْرُ مَضْمُونٍ عَلَى الْمُشْتَرِي ځکه مبيع پر مشتري مضمون نه ده وَلَا بِالْعَبْدِ الْجَانِي وَالْعَبْدِ الْمَأْذُونِ الْمَدْيُونِ او نه د جنايتکاره غلام او د مأذون مقروضه غلام په عوض کې رهن جائز دی لِأَنَّهُ غَيْرُ مَضْمُونٍ عَلَى الْمَوْلَى ځکه غلام پر خپل مالک مضمون نه دی فَإِنَّهُ لَوْ هَلَكَ ځکه که هغه هلاک سي لَا يَجِبُ عَلَيْهِ شَيْءٌ نو پر هغه شی نه واجبيږي وَلَا بِأُجْرَةِ النَّائِحَةِ وَالْمُغَنِّيَةِ او نه د ژړونکې ښځې او سندره ويونکې ښځې د أجرت په عوض کې رهن جائز دی حَتَّى لَوْ ضَاعَ تر دې چې که مرهون ضايع سي لَمْ يَكُنْ مَضْمُونًا نو هغه نه مضمون کيږي لِأَنَّهُ لَا يُقَابِلُهُ شَيْءٌ مَضْمُونٌ ځکه چې د هغه په مقابله کې هيڅ مضمون شی نسته.

اللغات: ﴿أَرْش﴾ ديت، تاوان او جرمانه، هغه مال کوم چې له ما دون النفس څخه په کم جنايت کې واجبيږي (معجم لغة الفقهاء). ﴿نائحة﴾ ژړونکې ښځه. هغه ښځه چې پر مړي ژړاوي کوي. يو خو د غم

او مصيبت په وجه فطري ژړا ده. دلته له "نائحه" څخه مراد هغه ښځه ده کوم چې په اُجرت او کرايه ژړا کوي چې د هغې کسب او پېشه همدا ژړا وي. نور د هغې هيڅ غم او مصيبت نه وي. داسې نوحه خواني ګناه کبيره ده. ﴿مغنية﴾ بدله او سندره ويونکې ښځه (غزلچې او سندرغاړې ښځه. سروزګره ښځه) هغه ښځه چې د هغې پېشه غزلې. سندرې او شله وي او همدا يې خپل کسب ګرځولی وي.

تشريح: په دې عبارت کې څينې هغه شيان بيانوي چې د هغوی په عوض کې رهن جائز نه دی.

①... د "کفاله بالنفس" صورت دا دی چې مثلاً د عمر پر زيد يوه دعوی ده چې د هغه په وجه زيد نيول سوی دی او دا خطره ده چې زيد به وتښتيږي. بيا خالد د هغه ضمانت وکړی او عمر ته يې ووايي چې زه د زيد ضامن يم چې هغه چيرې نه تښتي او نه پټيږي او زه د هغه د حاضرولو کفيل يم. نو دې ته کفاله بالنفس وايي. اوس که خالد (کفيل) د دې کفاله بالنفس په عوض کې عمر ته يو شی (مثلاً ګوتمی) په رهن کښېږدي. نو دې ته "رهن بالکفالة بالنفس" وايي او دا رهن جائز نه دی؛ ځکه رهن خو د دې لپاره کيږي چې په رهن (مرهون شي) سره حق ترلاسه کړی سي. او دلته په رهن سره د زيد حاضرول او ترلاسه کول نه سي کېدلای چې عمر په مرهون شي (ګوتمی) سره زيد حاضر او ترلاسه کړي. نو ځکه د کفاله بالنفس په عوض کې رهن جائز نه دی.

②... زيد عمداً خالد قتل کړی چې د هغه په وجه پر زيد قصاص واجب سو چې د خالد په قصاص کې به زيد هم قتلول کيږي. بيا زيد د قصاص په عوض کې د خالد وارثانو ته رهن کښېښنوی چې تاسې دا شی درسره کښېږدئ! څو وخت وروسته زه حاضريږم. نو دا رهن جائز نه دی؛ ځکه په مرهون شي سره قصاص نه سي ترلاسه کول کېدای.

③... زيد عمداً د خالد لاس پرېکړی چې د هغه په وجه پر زيد د "قطع اليد" قصاص واجب سو چې لاس به يې قصاصاً پرېکول کيږي. او زيد د دې قصاص په عوض کې رهن کښېښنوی. نو رهن هم جائز نه دی؛ ځکه په مرهون شي سره قطع اليد نه سي ترلاسه کول کېدای.

④... خو که زيد خطاءً خالد قتل کړی يا يې خطاءً د هغه لاس پرېکړی چې د هغه وجه ديت يا ارش پر واجب سو. او زيد د ديت يا ارش په عوض کې رهن کښېښنوی يعني خپل يو شی مثلاً موټر يې په رهن ورکړی. نو دا رهن جائز دی؛ ځکه دلته مقصود ديت او ارش ترلاسه کول دي چې په مرهون شي (موټر) سره هغه ترلاسه کېدلای سي.

⑤... د زيد او خالد ځمکې سره څنګ په څنګ دي او د زيد ځمکه د درياب سره لګېدلې ده. بيا زيد خپله ځمکه پر عمر خرڅه کړه نه پر خالد حالانکې د شفعې حق خو د خالد دی. نو خالد د خپل شفعې طلب وکړی او عمر د دې شفعې (مشفوعه ځمکې) په عوض کې رهن کښېښنوی. نو دا رهن هم جائز نه دی؛ ځکه دغه مبيعه مشفوعه ځمکه مضمونه نه ده يعني که دا ځمکه هلاکه او ضايع سي (مثلاً د درياب اوبه پر هغې را واوړي او ترڅو

شي سي چي بالکل له کاره ووځي) نو پر مشتري (عُمر) د هغې ضمان نه واجبيږي. حالانکي مخکي ذکر سوه چي رهن دهغه شي په عوض کي جائز کيږي کوم چي مضمون بنفسه وي.

⑥... د زيد غلام خطاءً د خالد لاس پرېکړی چي د هغه په وجه دا واجب سوه چي زيد به دا مجرم غلام و مقطوع اليد (خالد) ته ورکوي. نو اوس که زيد (مالک) د غلام په عوض کي رهن کښېږدي. نو جائز نه دي: ځکه که غلام هلاک سي نو پر مالک هيڅ ضمان نه واجبيږي. حالانکي د غير مضمون شي په عوض کي رهن ښول جائز نه دي.

⑦... زيد خپل غلام ته د تجارت اجازه ورکړې وه او بيا هغه غلام مقروض سو او د خلکو قرضونه پر باندي سوه چي د هغه په وجه دا واجب سوه چي دا غلام به هغه خلکو (قرضخواهانو) ته ورکول کيږي. خو مالک (زيد) د غلام په عوض کي هغو ته رهن کښېږدي. نو دا هم جائز نه دي د پورتني دليل په وجه.

⑧... د زيد په کور کي يوه ښادي او خوشالي راغله مثلاً د ورور واده يې سو. او زيد يوه سروزگره ښځه په أجرت ونيوله چي سندري او بدلي وايي چي خلک پرې خوشاله سي او کله چي د هغې دأجرت وخت پوره سو، نو زيد دأجرت په عوض کي هغې ته يو شی په رهن کښېښوی، نو دا رهن جائز نه دی. همدارنګه که د زيد په کور کي يو څوک مړ سو، او هغه يوه ښځه په أجرت ونيوله چي پر مړي ژړا او غم شرګندي وکړي چي خلک هم پرې وژاړي. بيا زيد دأجرت په عوض کي هغې ته رهن کښېښوی، نو دا رهن هم جائز نه دی: ځکه د سندرغاړي ښځي او ژړونکي ښځي أجرت پر انسان نه واجبيږي لهذا هغه غير مضمون دی او د غير مضمون شي په غوض کي رهن جائز نه دی. نو ځکه دا رهن به هم جائز نه وي.

او بيا که دې ښځو ته رهن کښېږدي او مرهون شی د دوی سره هلاک سي. نو پر دوی هم ضمان نه واجبيږي: ځکه هغه ګردسره رهن نه دی. لهذا پر هغه به د رهن احکام هم نه جاري کيږي: "لأنه لا يقابله شيء مضمون" يعني ځکه چي د دې رهن په مقابله کي هيڅ مضمون شی نسته ځکه د دې ښځو أجرت مضمون نه دی. همدا وجه ده که دا ښځي له عقد رهن څخه مخکي د قاضي په حضور کي دأجرت دعوی وکړي چي مونږ ته دي خپل أجرت راکول سي، نو قاضي به دأجرت ورکولو حکم نه کوي.

شراب په رهن ورکول او اخيستل جائز نه دي

وَلَا يَجُوزُ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يَرْهَنَ خَمْرًا او د مسلمان لپاره جائز نه دي چي شراب په رهن ورکړي أَوْ يَرْتَهِنَهُ مِنْ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ يا يې له مسلمان او ذمي څخه په رهن واخلي لِتَعَذُّرِ الْإِيفَاءِ وَالِاسْتِيفَاءِ فِي حَقِّ الْمُسْلِمِ ځکه [د شرابو] ورکول او اخيستل د مسلمان په حق کي نا ممکن دي ثُمَّ الرَّاهِنُ إِذَا كَانَ ذِمِّيًّا بيا که راهن ذمي وي فَالْخَمْرُ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ لِلذِّمِّيِّ نو [په دې صورت کي] پر مسلمان د ذمي لپاره شراب مضمون دي [يعني پر مسلمان يې ضمان لازم دي] كَمَا إِذَا غَصَبَهُ لکه [په هغه صورت کي] کله چي

مسلمان د ذمي شراب غصب کړي وَإِنْ كَانَ الْمُرْتَهِنُ ذِمِّيًّا او که مرتهن ذمي وي لَمْ يَضْمَنْهَا لِلْمُسْلِمِ نو ذمي د مسلمان لپاره د شرابو نه ضامن کيږي كَمَا لَا يَضْمَنُهَا بِالْغَصْبِ مِنْهُ لکه څرنګه چې له مسلمان څخه د شرابو د غصب کولو په صورت ذمي د هغوی نه ضامن کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا جَرَى ذٰلِكَ فِيمَا بَيْنَهُمْ په خلاف د هغه صورت کله چې دا عقد د ذميانو تر مينځ جاري سوی وي لِأَنَّهَا مَالٌ فِي حَقِّهِمْ ځکه شراب د دوی په حق کې مال دی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د مسلمان کس لپاره دا جائز نه دي چې شراب په رهن ورکړي يا يې په رهن واخلي؛ ځکه مسلمان نه د شرابو مالک کېدلای سي او نه بل څوک د شرابو مالک کولای سي يعني شراب اخيستل او ورکول د هغه په حق کې ممنوع دي.

خو که د مسلمان او ذمي تر مينځ د شرابو عقدِ رهن وسي نو اوس څه حکم دی؟. فرمايي چې که راهن ذمي وي او مرتهن مسلمان وي او د مسلمان سره د ذمي شراب هلاک او ضايع سي. نو پر مسلمان د هغه ضمان واجبيږي؛ ځکه د ذميانو په حق کې شراب مال دی، همدا وجه ده که يو مسلمان د ذمي شراب غصب کړي، نو هم پر مسلمان ضمان واجبيږي.

او که مسئله د دې برعکس وي يعني راهن مسلمان وي او مرتهن ذمي وي يعني مسلمان ذمي ته شراب په رهن ورکړي وي او هغه شراب د ذمي سره هلاک او ضايع سي، نو پر ذمي د هغه ضمان نه واجبيږي؛ ځکه د مسلمان په حق کې شراب مال نه دی، همدا وجه ده که يو ذمي کس د مسلمان شراب غصب کړي، نو پر ذمي ضمان نه واجبيږي.

ها! که دا د شرابو عقدِ رهن د دوو ذميانو ترمينځ وسي، نو اوس په هر صورت کې پر هغه د رهن احکام جاري کيږي، لهذا د شرابو د هلاکېدلو په صورت کې پر مرتهن ضمان واجبيږي؛ ځکه شراب د ذميانو په حق کې مال دی، نو ښکاره ده چې د دوی په حق کې به مضمون هم وي.

د مرزکي (مردار سوي حيوان) رهن جائز نه دی

أَمَّا الْمَيْتَةُ فَلَيْسَتْ بِمَالٍ عِنْدَهُمْ او کوم چې مرزکه ده نو هغه د ذميانو په نيز [هم] مال نه ده فَلَا يَجُوزُ رَهْنُهَا وَارْتِهَانُهَا فِيمَا بَيْنَهُمْ نو ځکه مرزکه په رهن ورکول او په رهن اخيستل د دوی تر مينځ [هم] جائز نه دي کَمَا لَا يَجُوزُ فِيمَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ بِحَالٍ لکه څرنګه چې د مسلمانانو تر مينځ په هيڅ حالت کې جائز نه دي.

اللغات: مردار سوی حيوان، مرزکه (يعني هغه حيوان چې په خپل مرګ مر سوي وي. صاحب مصباح يې داسي تعريف کړی دی: وَالْمَيْتَةُ مِنَ الْحَيَوَانِ مَا مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې شراب خو د ذميانو په نيز مال دی، لېکن مړزګه د دوی په نيز هم مال نه شمېرل کيږي لهذا هغه د دوی په حق کې مال نه دی، نو څرنګه چې د مسلمانانو په مينځ کې د مړزګې عقدِ رهن او هغه په رهن ورکول او اخيستل جائز نه دي، همداسې د ذميانو په مينځ کې هم دا جائز نه دي.

که مرهون غلام آزاد ثابت سي يا مرهون شی شراب يا مړزګه وخبږي

> وَلَوِ اشْتَرٰى عَبْدًا او که غلام رانيسي وَرَهَنَ بِثَمَنِهِ عَبْدًا أَوْ خَلًّا أَوْ شَاةً مَذْبُوحَةً او د هغه د ثمن په عوض کې غلام يا سرکه يا ذبح کړی سوی پسه په رهن ورکړي ثُمَّ ظَهَرَ الْعَبْدُ حُرًّا أَوِ الْخَلُّ خَمْرًا أَوِ الشَّاةُ مَيْتَةً بيا غلام آزاد يا شراب سرکه يا پسه مړزګه ښکاره سي فَالرَّهْنُ مَضْمُونٌ نو دا رهن مضمون دی لِأَنَّهُ رَهَنَهُ بِدَيْنٍ وَاجِبٍ ظَاهِرًا ځکه مشتري دا شی د داسې قرض په عوض کې په رهن ورکړی وو کوم چې په ښکاره واجب دی وَكَذَا إِذَا قَتَلَ عَبْدًا وَرَهَنَ بِقِيمَتِهِ رَهْنًا او همدارنګه کله چې غلام قتل کړي او د هغه د قيمت په عوض کې رهن ورکړي ثُمَّ ظَهَرَ أَنَّهُ حُرٌّ بيا ښکاره سي چې هغه آزاد دی وَهٰذَا كُلُّهُ عَلٰى ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او دا ټوله بحث د ظاهر مطابق دی وَكَذَا إِذَا صَالَحَ عَلٰى إِنْكَارٍ او همدارنګه کله چې پر انکار صلح وکړي وَرَهَنَ بِمَا صَالَحَ عَلَيْهِ رَهْنًا او پر کوم شي چې صلح وکړي د هغه په عوض کې رهن ورکړي ثُمَّ تَصَادَقَا أَنْ لَا دَيْنَ بيا دواړه [پر دې] اتفاق وکړي چې قرض نسته فَالرَّهْنُ مَضْمُونٌ نو دا رهن [هم] مضمون دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ خِلَافُهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د دې په خلاف نقل سوي دي وَكَذَا قِيَاسُهُ فِيمَا تَقَدَّمَ مِنْ جِنْسِهِ او همدارنګه د همدې جنس په مخکينيو [دوو] مسئلو کې [هم] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دغه قياس دی.

اللغات: ﴿شاة﴾ مخکې مو ذکر کړه چې پسه، مېږه، سېرلي او بزه ټولو باندې د دې لفظ اطلاق کيږي.

﴿تصادقا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو د بل تصديق کول. پر يو خبره اتفاق کول دي.

تشريح: مخکې تر دې د هغو صورتونو بيان وو کله چې د مرهون شراب والی يا مړزګه والی يا آزاد والی له مخکې څخه معلوم او ښکاره وي، او که له مخکې څخه معلوم نه وي بلکې وروسته معلوم سي، نو د هغه جلا حکم دی چې په دې عبارت کې د هغه حکم او تفصيل بيانوي:

①... زيد له خالد څخه مثلاً يو غلام رانيسي او د ثمن په بدله کې يې خالد (بائع) ته يو غلام يا سرکه يا مذبوح پسه ورکړي، نو دا رهن خو صحيح دی، لېکن وروسته معلومه سوه چې دا مرهون کس غلام

نه دی بلکي آزاد دی یا مرهون شی سرکه نه ده بلکي شراب دي یا د مذبوح پسه په هکله معلومه سوه چي دا خو مرږ که ده یعني بغیر له ذبح په خپل طبعي مرګ مردار سوی دی. نو آیا اوس هم د مرهون ضمان واجبیږي؟. نو فرمایي چي هو! دا رهن هم مضمون دی: ځکه دا هر مرهون د داسي قرض (ثمن) په مقابله کي اینښوول سوی وو کوم چي په ښکاره واجب وو. نو ځکه دا رهن به مضمون وي یعني ضمان به یې واجب وي.

او پاتـه سو دا خبره چي څومره ضمان یې واجب دی؟. نو جواب دا دی چي د ثمن. مبیع او مرهون قیمت ته به کتل کیږي چي په دوی کي هریو کم وي. د هغه مطابق ضمان واجبیږي. او دلته د واجب قرض دلیل دا دی چي که د مذکوره خبرو له معلومېدلو څخه مخکي بائع د قاضي په حضور کي دعویٰ وکړي (چي مشتري دي ما ته ثمن راکړي). نو قاضي به (مشتري ته) د ثمن اداء کولو حکم کوي.

وکذا إلخ: ⑦... زید خطاءً د خالد غلام قتل کړی او د غلام د قیمت په عوض کي یې و خالد ته یو شی رهن کښېښوی. بیا معلومه سوه چي مقتول کس غلام نه وو بلکي آزاد وو. نو په دې صورت کي هم رهن مضمون دی د مذکوره پورتني دلیل په وجه. دا ټوله ظاهر روایت دی. خو په نوادر کي په دې کي اختلاف نقل سوی دی.

⑦... زید پر خالد مثلاً د سلو (۱۰۰) درهمو دعویٰ وکړه او خالد انکار وکړی خو د جنجال ختمېدو لپاره خالد د زید سره مثلاً پر پنځوس درهمه صلح وکړه. او د مالِ صلح (پنځوس درهمو) په عوض کي زید ته یو شی په رهن کښېښوی. بیا دواړه پر دې متفق سوه چي هیڅ قرض نسته. نو په دې صورت کي هم رهن مضمون دی یعني که مرهون شیٔ هلاک سي نو پر زید یې ضمان واجب دی.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز دا رهن نه مضمون کیږي: ځکه کله چي دواړو پر عدمِ قرض تفاق وکړی نو دوی پر عدمِ ضمان اتفاق وکړی. نو ځکه رهن به مضمون نه وي.

په دې مسئله کي چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله کوم قول او قیاس دی. د هغه تقاضا دا ده چي په مخکنی دریو سره مسئلو کي د هغه دغه اختلاف جاري کېدل پکار دي (یعني د "لو اشتری عبداً" څخه تر آخره).

د خپل بچي مال په رهن اینښوول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَيَجُوزُ لِلْأَبِ أَنْ يَرْهَنَ بِدَيْنٍ عَلَيْهِ عَبْدًا لِابْنِهِ الصَّغِيرِ فرمايي: او جائز دي د پلار لپاره چي د خپل قرض په عوض کي د خپل کوچني زوی غلام اد قرض مالک ته اپه رهن کښېږدي لِأَنَّهُ يَمْلِكُ الْإِيدَاعَ ځکه پلار د امانتاً اینښوولو مالک دی اچي د خپل بچي مال یو چا ته په امانت کښېږدي] وَهَذَا أَنْظَرُ

فِيْ حَقِّ الصَّبِيِّ مِنْهُ او رهن ايښوول د بچي په حق کي له امانتاً ايښوولو څخه زيات د مصلحت [او شفقت] باعث دي لِأَنَّ قِيَامَ الْمُرْتَهِنِ بِحِفْظِهِ أَبْلَغُ خِيْفَةَ الْغَرَامَةِ ځکه د تاوان له بيري د مرهون شي په حفاظت سره د مرتهن قايمېدل به زيات وي [يعني له دې بيري چي د مرهون شي ضمان او تاوان به پر ما لازم سي مرتهن به د هغه زيات حفاظت کوي] وَلَوْهَلَكَ او که مرهون هلاک سي يَهْلِكُ مَضْمُوْنًا نو ضمان والا هلاکيږي [يعني ضمان يې واجبيږي] وَالْوَدِيْعَةُ تَهْلِكُ أَمَانَةً او امانتاً ايښوول سوی شی د امانت په توګه هلاکيږي وَالْوَصِيُّ بِمَنْزِلَةِ الْأَبِ فِيْ هٰذَا الْبَابِ او وصي په دې باب کي د پلار په درجه کي دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ وَزُفَرَ أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ ذٰلِكَ مِنْهُمَا او له امام ابو يوسف او امام زفر رَحِمَهُمَا الله څخه روايت دی چي د پلار او وصي له طرفه رهن ايښوول جائز نه دي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قياس دی اِعْتِبَارًا بِحَقِيْقَةِ الْإِيْفَاءِ پرحقيقتاً ورکولو په قياس کولو سره وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى الظَّاهِرِ وَهُوَ الْاِسْتِحْسَانُ او د ظاهر روايت مطابق د فرق وجه دا ده (او همدا استحسان هم دی) أَنَّ فِيْ حَقِيْقَةِ الْإِيْفَاءِ إِزَالَةَ مِلْكِ الصَّغِيْرِ مِنْ غَيْرِ عِوَضٍ يُقَابِلُهُ فِي الْحَالِ چي په حقيقتاً ورکولو کي له څه داسي عوض څخه بغير د بچي د ملکيت زائلول سته کوم چي في الحاله د دې ملکيت مقابل وي وَفِيْ هٰذَا نَصْبُ حَافِظٍ لِمَالِهِ نَاجِزًا مَعَ بَقَاءِ مِلْكِهِ او په رهن ورکولو کي د بچي د ملکيت د پاتېدلو سره في الفوره د هغه د مال [د حفاظت] لپاره د ساتونکي مقررول سته فَوَضَحَ الْفَرْقُ نو [د وديعت او رهن ترمينځ] فرق څرګند سو.

اللغات: ﴿إيداع﴾ د افعال د باب مصدر دی: په امانت ايښوول، چا ته په امانت ورکول. ﴿أنظر﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مصلحت او ښېګڼي والا (زيات فايده من)، پر زيات شفقت مبني.

﴿غرامة﴾ تاوان، جرمانه. ﴿حافظ﴾ د ضرب د باب فاعل دی: ساتونکی، نګران. ﴿ناجز﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی: بېله ځنډه، فوراً (سمدستي)، موجود او حاضر.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي پلار د خپل کوچني بچي ولي او سرپرست دی چي پر خپل بچي هغه ته ولايت حاصل دی همدا رنګه د خپل بچي د مال د حفاظت اختيار او ولايت هغه ته حاصل دی. لهذا د پلار لپاره دا جائز دي چي د بچي مال يو چا ته په امانت کښېږدي. او دا ښکاره خبره ده چي په رهن کي له امانت ايښوولو څخه زيات حفاظت دی: ځکه که د امانت په صورت کي

مال هلاک سي، نو پر مودَع ضمان نه واجبيږي او د رهن په صورت کي پر مرتهن ضمان واجبيږي (لکه مخکي چي دا څو ځله ذکر سوه)، او کله چي په رهن کي له وديعت څخه زيات حفاظت دی، لهذا هغه به په درجه اولىٰ جائز وي. نو اوس واورئ! که مثلاً د زيد و بچي ته د مور په ميراث کي يو غلام حاصل سي او پر زيد د يو چا قرض وي چي د هغه په عوض کي زيد د خپل بچي غلام په رهن ورته کښيږدي (په رهن ورکړي)، نو دا جائز دي. او که د پلار وصي وي نو هم دغه حکم دی يعني هغه هم په دې توګه رهن ايښوولای سي، دا ظاهر روايت دی او همدا استحسان دی.

لېکن امام ابو يوسف او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي او همدا قياس دی چي څرنګه دا جائز نه دي چي پلار يا وصي خپل قرض د بچي په مال سره اداء کړي، نو همداسي د هغه مال په رهن ايښوول هم جائز نه دي.

ووجه الفرق إلخ: له دې ځايه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د ظاهر روايت (کوم چي پر استحسان مبني دی) او د قياس تر مينځ د فرق وجه بيانوي، حاصل يې دا دی چي قرض اداء کول پر رهن قياسول صحيح نه دي. بلکي په دواړو کي فرق دی او هغه دا چي په قرض اداء کولو کي د صغير مال بلا عوضه او مفت زايليږي، حال دا چي په رهن ايښوولو کي د هغه مال د قرض يا يو عوض په بدله کي ورکول کيږي او په رهن کي د هغه د مال د حفاظت لپاره يو نګران هم ټاکل کيږي (ځکه چي مرتهن د هغه حفاظت کوي). نو په دې حواله سره په قرض اداء کولو او په رهن ايښوولو کي فرق دی او دواړه يو ګڼل غلط دي. په همدې وجه موږ وايو چي د بچي په مال سره قرض اداء کول که څه هم جائز نه دي، خو هغه په رهن ايښوول جائز او صحيح دي.

که د بچي د رهن مال هلاک سي نو د هغه حکم

وَإِذَا جَازَ الرَّهْنُ او کله چي رهن جائز دی يَصِيرُ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا دَيْنَهُ لَوْ هَلَكَ فِي يَدِهِ نو مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځي که چيري مرهون د هغه په قبضه کي هلاک سي وَيَصِيرُ الْأَبُ أَوِ الْوَصِيُّ مُوفِيًا لَهُ او پلار (يا وصي) د هغه اداء کونکي ګرځي وَيَضْمَنُهُ لِلصَّبِيِّ او پلار (او وصي) د بچي لپاره د هغه ضامن کيږي لِأَنَّهُ قَضَى دَيْنَهُ بِمَالِهِ ځکه چي پلار (او وصي) د بچي په مال سره خپل قرض اداء کړی دی وَكَذَا لَوْ سَلَّطَا الْمُرْتَهِنَ عَلَى بَيْعِهِ او همدارنګه که پلار او وصي د مرهون شي پر خرڅولو مرتهن وګوماري لِأَنَّهُ تَوْكِيلٌ بِالْبَيْعِ ځکه چي دا [ګومارل] د خرڅولو وکيل جوړول دي وَهُمَا يَمْلِكَانِهِ او پلار او وصي دواړه د وکيل جوړولو ملکيت [اختيار] لري قَالُوا: أَصْلُ هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ الْبَيْعُ مشايخ فرمايي: چي په دې مسئله کي اصل بيع ده فَإِنَّ الْأَبَ أَوِ الْوَصِيَّ إِذَا بَاعَ

مَالَ الصَّبِيِّ مِنْ غَرِيمِ نَفْسِهِ ځکه که پلار يا وصي دبچي مال پر خپل قرضخواه خرځ کړي [يعني د چا چي پر پلار يا وصي قرض باندي وي پر هغه يې خرځ کړي] جَازَ وَتَقَعُ الْمُقَاصَةُ نو جائز دي او مقاصه [تبادله] به واقع کيږي وَيَضْمَنُهُ لِلصَّبِيِّ او پلار (او وصي) د بچي لپاره د هغه مال ضامن کيږي عِنْدَهُمَا [دا حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ[*] لَا تَقَعُ الْمُقَاصَةُ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به مقاصه نه واقع کيږي وَكَذَا وَكِيلُ الْبَائِعِ بِالْبَيْعِ او همدارنګه د بيع [خرڅولو] په هکله د بائع وکيل وَالرَّهْنُ نَظِيرُ الْبَيْعِ او رهن د بيع مشابه دی نَظَرًا إِلَى عَاقِبَتِهِ مِنْ حَيْثُ وُجُوبِ الضَّمَانِ د هغه انجام [آخر] ته په کتلو د ضمان واجبېدلو په حيثيت سره.

اللغات: ﴿مُسْتَوْفِي﴾ د استفعال د باب فاعل دی: ترلاسه کونکی. پوره اخيستونکی. ﴿مُوْفِي﴾ د افعال د باب فاعل دی: پوره کونکی، اداء کونکی (ورکونکی). ﴿مقاصة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو شی د بل شي سره مقابله کول. ادل بدل کول (د مثال په توګه پر زيد د خالد لس درهمه قرض باندي وي او بيا د خالد هم پر زيد لس درهمه قرض باندي سي. نو دوی خپل قرضونه سره مقابله او ادل بدل کړي. دې ته مقاصه وايي). تبادله کول. په برابرۍ سره يو شی د بل شي په مقابله کي راتلل.

تشريح: دا عبارت د مخکيني عبارت سر متعلق دی چي کله د بچي مال په رهن ورکول د پلار او وصي لپاره جائز دي، نو ښکاره ده چي پر هغه به د رهن احکام جاري کيږي، لهذا که دا مرهون مال د مرتهن سره هلاک سي، نو مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځي او پلار او وصي د قرض اداء کونکي او بري ګرځي، او څرنګه چي دوی د بچي په مال سره د قرض اداء کونکي سوه. نو ځکه پر دوی ضمان (تاوان) واجبيږي. او د ضمان دا چي د مرهون مال قيمت که د قرض سره برابر وي او که زيات يا کم وي په هر صورت کي به صرف د مرهون مال د قيمت په اندازه ضمان ورکوي.

وكذا الوسلّطا الخ: پلار او وصي ته دا اختيار سته چي د بچي مال خرڅ کړي (لکه مخکي چي ذکر سوه) لهذا دا حق هم ورته سته چي يو څوک د هغه د خرڅولو وکيل جوړ کړي، او کله چي دوی ته دې اختيار سته. نو دا به هم جائز وي چي پلار او صي د هغه پر خرڅولو مرتهن مسلط کړي يعني مرتهن ته د بچي د مرهون مال خرڅولو حکم وکړي او په خرڅ يې کړي: ځکه دا د بيع توکيل دی. او پلار او وصي دواړه د هغه ملکيت او اختيار لري.

---

[*] القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله. انظر للتفصيل الكتاب [القول الراجح ج:٢، ص:٣٢٨]

قالوا إلخ: مشايخو فرمايلي دي چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دغه اختلاف په اصل کي د بيع پر اختلاف مبني دی چي هاغه دلته په رهن کي هم جاري سوی دی. په بيع کي د دوی اختلاف دا دی چي که په پلار يا وصي باندي ديو چا (مثلاً د زيد) قرض وي او بيا پلار يا وصي په قرضخواه (زيد) باندي د بچي مال خرخ کړي، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حکم دا دی چي قرضخواه به هغه رانيسي خو پر قرضخواه ثمن نه واجبيږي بلکي مقاصه (او مبادله) به کيږي يعني پر پلار يا وصي چي کوم قرض دی، دا ثمن د هغه بدل ګرځي. نو ځکه قرضخواه به ثمن نه ورکوي.

لیکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي مقاصه به نه کيږي بلکي پر قرضخواه ثمن واجبيږي (چي دبچي د مال ثمن به اداء کوي) او پاته سو دده قرض د مخکي په څېر پر پلار يا وصي باقي پاتيږي. همدارنګه که يو شوک مثلاً عُمر د خپل يو سامان خرڅولو لپاره خالد وکيل جوړ کړي او خالد هغه سامان پر حامد خرڅ کړي او په خالد د حامد قرض باندي وي. نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به مقاصه کيږي لهذا پر حامد ثمن نه واجبيږي. لیکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به مقاصه نه کيږي او پر حامد ثمن واجبيږي.

نو اصل اختلاف په بيع کي دی، خو څرنګه چي د انجام يعني د ضمان واجبېدلو په اعتبار سره رهن هم د بيع په څېر دی. نو ځکه په رهن کي هم دغه اختلاف جاري کړی سوی دی.

پلار د خپل بچي مال د خپل ځان او خپلي کورني والا سره په رهن هم ايښوولای سي

وَإِذَا رَهَنَ الْأَبُ مِنْ نَفْسِهِ او کله چي پلار [دبچي سامان] د خپل ځان سره په رهن کښېږدي أَوْ مِنِ ابْنٍ لَهُ صَغِيرٍ يا خپل [بل] کوچني بچي ته يې کښېږدي أَوْ عَبْدٍ لَهُ تَاجِرٍ لَا دَيْنَ عَلَيْهِ يا د خپل داسي تاجر غلام سره يې کښېږدي چي پر هغه قرض نه وي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ الْأَبَ لِوُفُورِ شَفَقَتِهِ أُنْزِلَ مَنْزِلَةَ شَخْصَيْنِ ځکه پلار د خپل شفقت د بشپړتيا په وجه د دوو کسانو په درجه ګرځول سوی دی وَأُقِيمَتْ عِبَارَتُهُ مَقَامَ عِبَارَتَيْنِ فِي هٰذَا الْعَقْدِ او د هغه عبارت په دې عقد کي د دوو عبارتونو قائم مقام کړی سوی دی كَمَا فِي بَيْعِهِ مَالَ الصَّغِيرِ مِنْ نَفْسِهِ لکه په هغه صورت کي اچي فانه مثلاً دی] چي پلار د بچي مال پر خپل ځان خرڅ کړي فَتَوَلَّى طَرَفَيِ الْعَقْدِ نو ځکه پلار به د عقد د دواړو طرفونو [ايجاب و قبول] ولي وي.

اللغات: ﴿وفور﴾ د ضرب د باب مصدر دی: زيات پوره کېدل. بشپړ کېدل. ﴿شفقة﴾ شفقت. مهرباني او رحم. ﴿تَوَلّٰی﴾ د تفعل د باب ماضي ده: متولي او سرپرست کېدل. (مختار کېدل). ذمه وار کېدل. ﴿طرفی العقد﴾ د عقد او معاملې دواړه طرفونه يعني ايجاب و قبول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پلار د بچي مال د خپل ځان سره په رهن کښېږدي يا د خپلي کورنۍ والا د هغو کسانو سره يې په رهن کښېږدي کوم چې د هغه د نفس په درجه کې دي مثلاً د خپل بل بچي يا د خپل داسي تاجر غلام سره چې قرض باندي نه وي. نو دا جائز دي.

سوال: دلته دا سوال پيدا کيږي چې د عقد رهن لپاره خو ايجاب او قبول دواړه پکار دي. که د پلار قول ايجاب ومنل سي نو قبول موجود نه سو او که قبول ومنل سي نو ايجاب موجود نه سو. لهذا دا رهن نه صحيح کېدل پکار دي؟.

جواب: خبره خو همداسي ده! خو څرنګه چې د پلار شفقت کامل دی پر خپل بچي او د هغه پر مال. نو ځکه پلار د دوو کسانو په درجه وګرځول سو يعني هغه د ايجاب او قبول دواړو متولي وګرځول سو او د هغه قول د دوو عبارتونو قائم مقام وګڼل سو، لکه کله چې پلار د بچي مال خپله پر خپل ځان خرڅ کړي، نو جائز دي او هلته پلار د ايجاب او قبول دواړو متولي ګرځي او بيع جائز کيږي. نو همداسي په رهن کي هم پلار د ايجاب او قبول دواړو متولي ګرځي او رهن جائز کيږي.

وصي د بچي مال د ځان سره په رهن نه سي ايښوولای

وَلَوِ ارْتَهَنَهُ الْوَصِيُّ مِنْ نَفْسِهٖ او که وصي د [يتيم] بچي مال د خپل ځان سره کښېږدي أَوْ مِنْ هٰذَيْنِ يا د دې دواړو [يعني د بل بچي يا مذکوره غلام] سره يې کښېږدي أَوْ رَهَنَ عَيْنًا لَهُ مِنَ الْيَتِيْمِ يا د يتيم سره يو شی په رهن کښېږدي بِحَقٍّ لِلْيَتِيْمِ عَلَيْهِ د يتيم د هغه حق [او مال] په عوض کي کوم چې پر وصي دی لَمْ يَجُزْ نو دا جائز نه دي لِأَنَّهٗ وَكِيْلٌ مَحْضٌ ځکه چې وصي خالص وکيل دی وَالْوَاحِدُ لَا يَتَوَلّٰى طَرَفَيِ الْعَقْدِ فِي الرَّهْنِ او يو کس د عقد د دواړو طرفونو ولي کېدلای نه سي كَمَا لَا يَتَوَلَّاهُمَا فِي الْبَيْعِ لکه څرنګه چې يې په بيع کي نه سي ولي کېدلای وَهُوَ قَاصِرُ الشَّفَقَةِ او وصي کم شفقت والا [هم] دی فَلَا يُعْدَلُ عَنِ الْحَقِيْقَةِ فِيْ حَقِّهٖ إِلْحَاقًا لَهٗ بِالْأَبِ نو د پلار سره د وصي په لاحقولو کي به د وصي په حق کي له حقيقت څخه عدول نه کيږي وَالرَّهْنُ مِنِ ابْنِهِ الصَّغِيْرِ او د خپل [بل] کوچني بچي سره رهن ايښوول وَعَبْدِهِ التَّاجِرِ الَّذِيْ لَيْسَ عَلَيْهِ دَيْنٌ او د خپل هغه تاجر

غلام سره ارهن ايښوول) چې قرض باندي نه وي بِمَنْزِلَةِ الرَّهْنِ مِنْ نَفْسِهِ د خپل ځان سره د رهن ايښوولو په درجه کې دي بِخِلَافِ ابْنِهِ الْكَبِيرِ وَأَبِيهِ وَعَبْدِهِ الَّذِي عَلَيْهِ دَيْنٌ په خلاف [د رهن ايښوولو] د خپل لوی بچي او د خپل پلار او د خپل هغه غلام [سره] چې قرض باندي وي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِمْ ځکه چې وصي لره پر دوی هيڅ ولايت نسته بِخِلَافِ الْوَكِيلِ بِالْبَيْعِ إِذَا بَاعَ مِنْ هَؤُلَاءِ په خلاف د وکيل بالبيع کله چې هغه د دې کسانو سره بيع کړي لِأَنَّهُ مُتَّهَمٌ فِيهِ ځکه چې هغه په دې بيع کې متهم دی وَلَا تُهْمَةَ فِي الرَّهْنِ او په رهن کې هيڅ تهمت نسته لِأَنَّ لَهُ حُكْمًا وَاحِدًا ځکه د رهن صرف يو حکم دی [وهو أن الرّهن مضمون، سواءٌ رهنه عند هٰؤلاء أو عند أجنبی].

اللغات: ﴿ارتهن﴾ د افتعال د باب ماضي ده، په رهن (په ګرو) اخيستل. د رهن تو ګه اخيستل.
﴿يعدل﴾ د ضرب له بابه د نفي مجهول صيغه ده: عدول کول، رجوع کول او مخ ګرځول. واپس کېدل. ﴿متهم﴾ د افتعال د باب مفعول دی: پر چا چې تُه مت وي، تومتي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د بچي مال د خپل ځان سره په رهن ايښوول د پلار لپاره خو جائز دي لېکن د وصي لپاره جائز نه دي، همدارنګه د بچي مال د خپل بل بچي او د خپل غير مقروض تاجر غلام سره په رهن ايښوول د پلار لپاره خو جائز دي لېکن د وصي لپاره جائز نه دي (يعني وصي نه د خپل ځان سره د يتيم مال په رهن ايښولای سي او نه يې د بل يتيم او غير مقروض تاجر غلام سره په رهن ايښوولای سي)، همدارنګه که د يتيم پر وصي قرض يا بل حق باندي وي او وصي د دې قرض او حق په عوض کې يتيم ته يو شی په رهن کښېږدي نو دا هم جائز نه دي، خلاصهٔ د خبري دا چې د وصي لپاره دا څلور سره صورتونه ناجائز دي؛ ځکه أصول دا ټاکل سوی دی چې يوازي يو کس د ايجاب او قبول دواړو نه سي متولي کېدلای نه په بيع کې او نه په رهن کې. او پاته سو د پلار حکم خو د کامل او بشپړ شفقت په وجه خلافُ القياس د هغه لپاره مخصوص دی او وصي پر هغه نه سي قياسول کېدی: ځکه وصي قاصرُ الشفقة دی. او د پلار شفقت او محبت د اعلیٰ درجې وي چې په هغه کې بېله څه شکه د مصلحت او خير خواهی اړخ غالب وي. لهذا پلار خلافُ القياس د عقد د دواړو طرفونو (ايجاب وقبول) متولي ګرځول سوی دی او قاعده دا ده چې "ما ثبت علیٰ خلاف القياس فغيره لا يُقاسُ عليه" يعني کوم شی چې خلاف القياس ثابت وي پر هغه بل شي نه سي قياسول کېدای. نو ځکه په دې

مکله به وصي ته د پلار درجه او مرتبه نه ورکول کیږي او د پلار سره د هغه د لاحقولو لپاره به له حقیقت څخه عدول نه کیږي.

او څرنګه چې پر خپل کوچنی بچي او پر خپل غیر مقروض تاجر غلام سړي ته ولایت حاصل دی، نو ځکه هغه د سړي د خپل نفس په درجه شمېرل سوي دي.

بخلاف ابنه الکبیر الخ: د دې حاصل دادی چې سړي ته پر خپل بالغ بچي او پر خپل پلار او پر تاجر مقروض غلام باندي ولایت نسته، نو ځکه د دوی سره رهن اینبوول د وصي لپاره هم جائز دي؛ ځکه پر دوی وصي ته هم ولایت حاصل نه دی، نو دوی د اجنبي په څېر سول او اجنبي کس ته رهن اینبوول جائز دي.

خو دوی ته صرف رهن اینبوول جائز دي او پاته سو پر دې کسانو د بل چا مال خرڅول جائز نه دي، مثلاً زید د یو سامان خرڅولو لپاره خالد وکیل جوړ کړی او خالد بیا هغه سامان پر خپل بالغ بچي یا پر خپل پلار یا پر خپل مقروض غلام باندي خرڅ کړي، نو جائز نه دي؛ ځکه په دې بیع کي تمهت دی (چي مثلاً په ډېر ارزانه قیمت به یې پر خرڅ کړي) او په رهن کي هیڅ تهمت نسته؛ ځکه د رهن صرف یو حکم دی چي هغه د مرهون مضمون کېدل او ید الاستیفاء ثابتېدل دي او دا حکم برابره ده مرتهن هر څوک وي په رهن سره ثابتېدلای سي، نو د تهمت د نشتوالي په وجه رهن جائز دی او بیع د تهمت په وجه ناجائز ده.

د یتیم د حاجت لپاره د قرض اخیستلو په صورت کي د هغه مال په رهن اینبوول

وَإِنِ اسْتَدَانَ الْوَصِيُّ لِلْيَتِيمِ فِي كِسْوَتِهِ وَطَعَامِهِ او که وصي د یتیم د جامې [کپړې] او خوراک لپاره قرض واخلي فَرَهَنَ بِهِ مَتَاعًا لِلْيَتِيمِ او د هغه په عوض کي د یتیم یو سامان په رهن کښېږدي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ الِاسْتِدَانَةَ جَائِزَةٌ لِلْحَاجَةِ ځکه د ضرورت لپاره قرض اخیستل جائز دي وَالرَّهْنُ يَقَعُ إِيفَاءً لِلْحَقِّ او رهن د حق اداء کولو لپاره واقع کیږي [یا په بله وینا دا چي عقد رهن د قرض اداء کولو لپاره کیږي] فَيَجُوزُ نو ځکه دا جائز دي وَكَذَلِكَ لَوِ اتَّجَرَ لِلْيَتِيمِ فَارْتَهَنَ أَوْ رَهَنَ او همدارنګه که وصي د یتیم لپاره تجارت وکړي بیا رهن واخلي یا رهن ورکړي [نو هم جائز دي] لِأَنَّ الْأَوْلَى لَهُ التِّجَارَةُ تَثْمِيرًا لِمَالِ الْيَتِيمِ ځکه د وصي لپاره تجارت کول افضل دي د یتیم د مال اضافه کولو په خاطر فَلَا يَجِدُ بُدًّا مِنَ الِارْتِهَانِ وَالرَّهْنِ نو هغه به له رهن اخیستلو او رهن ورکولو څخه چاره نه

مومي لِأَنَّهُ إِيفَاءٌ وَاسْتِيفَاءٌ ځکه چي دا [ارتهان او رهن] (د حق) ورکول او اخيستل دي.

اللغات: ﴿استدان﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په قرض اخيستل. په پور غوښتل. ﴿كِسوة﴾ لباس. جامه. ﴿اتجر﴾ د افتعال د باب ماضي ده: تجارت كول. كاروبار كول. ﴿تثمير﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: مال اضافه كول. زياتول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي كه وصي له يو چا څخه د يتيم د ضرورت مثلاً د كپړې او خوراک لپاره څه قرض واخلي او د هغه په عوض کي د يتيم يو شى په رهن وركړي. نو جائز دي: ځكه كپړه او خوراک له انساني ضروريا تو څخه دي او د ضرورت لپاره قرض اخيستل جائز دي. او څرنګه چي د رهن مقصد د حق اداء كول دي چي حقدار (قرض والا) ته خپل حق (قرض) وركول سي. او وصي ته دا جائز دي چي د يتيم بچي قرض د يتيم په مال سره اداء كړي. نو ځكه وصي ته به دا هم جائز وي چي د يتيم يو شئ قرض والا ته په رهن وركړي.

وكذالك إلخ: د دې حاصل دا دى چي كه وصي د يتيم لپاره تجارت كوي چي د يتيم مال ګټه وكړي او اضافه سي، او بيا په تجارت كي رهن وركولو يا رهن اخيستلو ته ضرورت پېښ سي. نو وصي ته هغه جائز دي، ځكه د تجارت او كاروبار په دوران كي كله د رهن وركولو او كله د رهن اخيستلو معاملې ته ضرورت پېښيږي، نو ځكه دا به هم جائز وي.

بچي تر بلوغت وروسته خپل رهن له قرض اداء كولو څخه بغير نه سي اخيستلاى

وَإِذَا رَهَنَ الْأَبُ مَتَاعَ الصَّغِيرِ او كله چي پلار د كوچني بچي [زوى] سامان په رهن وركړي فَأَدْرَكَ الِابْنُ وَمَاتَ الْأَبُ بيا زوى بالغ سي او پلار مړ سي لَيْسَ لِلِابْنِ أَنْ يَرُدَّهُ حَتَّى يَقْضِيَ الدَّيْنَ نو زوى ته دا حق نسته چي مرهون سامان واپس واخلي تر دې چي قرض اداء كړي لِوُقُوعِهِ لَازِمًا مِنْ جَانِبِهِ ځكه د بچي له طرفه رهن لازم واقع سوى دى إِذْ تَصَرُّفُ الْأَبِ بِمَنْزِلَةِ تَصَرُّفِهِ بِنَفْسِهِ بَعْدَ الْبُلُوغِ ځكه د پلار تصرف د بچي تر بالغه كېدو وروسته د بچي د تصرف په درجه كي دى [نو د پلار تصرف داسي سو لكه بچي چي دا تصرف (عقد رهن) د خپل بالغ والي په حالت كي كړى وي] لِقِيَامِهِ مَقَامَهُ ځكه پلار د بچي قائم مقام دى.

اللغات: ﴿أدرك﴾ د افعال د باب ماضي ده. د دې باب معنىٰ ده: بلوغ ته رسېدل. بالغ كېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه پلار د خپل بچي د قرض په عوض كي د هغه يو سامان په رهن وركړي او كله چي بچى بالغ سي نو هغه له مرتهن څخه د خپل سامان اخيستل وغواړي. نو حكم دا دى چي اول به دا بالغ بچى د مرتهن قرض اداء كوي. تر دې وروسته به خپل سامان ځني اخلي. برابره ده

پلار ژوندی وي او که مړ سوی وي: ځکه د پلار دا تصرف د بچي له طرفه لازم واقع سوی دی ځکه پلار چي د بچي لپاره کوم تصرف کړی وي هغه تر بلوغت وروسته د بچي خپل تصرف شمېرل کېږي، نو ځکه د مرتهن له حق ورکولو څخه مخکي هغه نه ختمېږي.

ښکاره دي وي چي په دې عبارت کي د "ومات الأب" قيد اتفاقي قيد دی، لهذا که پلار ژوندی وي نو هم دغه حکم دی. (عنايه/بنايه)

او که پلار د بچي مال د خپل قرض په عوض کي کښېږدي او بيا بچی هغه اداء کړي (حکم)

وَلَوْكَانَ الْأَبُ رَهَنَهُ لِنَفْسِهِ او که پلار د بچي مال د خپل ځان [د قرض] لپاره په رهن کښېږدي فَقَضَاهُ الِابْنُ بيا زوی د هغه قرض اداء کړي رَجَعَ بِهِ فِيْ مَالِ الْأَبِ نو زوی به په هغه سره د پلار په مال کي رجوع کوي [يعني اداء کړی سوی مال به د پلار له مال څخه واپس اخلي] لِأَنَّهُ مُضْطَرٌّ فِيْهِ لِحَاجَتِهِ إِلٰى إِحْيَاءِ مِلْكِهِ ځکه زوی د هغه اداء کولو ته مجبور دی د خپل ملکيت د ژوندي کولو په خاطر فَأَشْبَهَ مُعِيْرَ الرَّهْنِ نو دا د مرهون د عاريتاً ورکونکي سره مشابه سو وَكَذَا إِذَا هَلَكَ قَبْلَ أَنْ يَفْتَكَّهُ او همدارنګه کله چي مرهون هلاک سي مخکي تر دې چي بچی هغه را خلاص کړي لِأَنَّ الْأَبَ يَصِيْرُ قَاضِيًا دَيْنَهُ بِمَالِهِ ځکه پلار د خپل بچي په مال سره قرض اداء کونکی ګرځي فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ عَلَيْهِ نو ځکه هغه ته به پر پلار د رجوع کولو حق وي.

اللغات: ﴿مضطر﴾ د افتعال د باب مفعول دی: مجبور. ﴿معير﴾ د افعال د باب فاعل دی: عاريتاً ورکونکی (په عاريت ورکونکی) خواست کونکي ته ورکونکی، مثلاً زيد خالد ته خواست وکړي چي فلانکی شی ما ته د يو څو وخت لپاره راکړه! زه به خپل کار څني واخلم بير ته به يې درکړم او خالد هغه شی ورکړي، نو دې ته عاريتاً ورکول وايي، خالد ته معير وايي او زيد ته مستعير وايي.

﴿الرهن﴾ مراد څني مرهون شی دی. ﴿يفتك﴾ د افتعال د باب مضارع ده: رهن راخلاصول. يعني د مرتهن حق او قرض اداء کول او خپل مرهون شی واپس څني اخيستل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر پلار د يو کس قرض باندي وي او پلار د خپل بچي مال د قرض په عوض کي هغه کس ته په رهن ورکړي. بيا چي بچی غټ سي نو د پلار قرض اداء کړي او خپل مرهون مال له هغه کس (مرتهن) څخه واخلي. نو په دې صورت کي بچي ته دا حق سته چي له پلار څخه دومره مال واپس واخلي څومره چي يې د پلار د قرض په اداء کولو کي ورکړی وي: ځکه بچي دې ته محتاج دی چي خپل مرهون مال را خلاص کړي او په هغه سره کاروبار وغيره وکړي. او دا

کار له قرض اداء کولو څخه بغير نا ممکن دی، لهذا که څه هم د قرض اداء کولو لپاره د پلار له طرفه صراحتاً اجازه نسته. لیکن دلالتاً د هغه له طرفه اجازه سته. په همدې وجه بچي ته دا حق سته چې له خپل پلار څخه د قرض په اندازه مال واپس واخلي.

او دا مسئله د رهن د اعارې په څېر ده يعني مثلاً خالد و زيد ته يو شی عاريتاً ورکړی چې ورسره! دا يو چا ته په رهن ورکړه او له هغه څخه قرض واخله! (نو خالد مُعير د رهن سو. ځکه زيد ته يې د رهن لپاره په عاريت شی ورکړی) او زيد له يو سړي مثلاً له حامد څخه قرض واخيستی او هغه د خالد شی يې په رهن ورته کېښېنوی. بيا خالد خپله د زيد قرض اداء کړی او خپل شی يې له مرتهن (حامد) څخه واخيستی، نو اوس خالد ته دا حق سته چې له زيد څخه د قرض په اندازه مال واخلي.

نو څرنګه چې مُعير د رهن (خالد) ته له مقروض (زيد) څخه د مال اخيستلو حق سته. همداسې په پورتني صورت کې بچي ته له پلار څخه د مال اخيستلو حق سته.

وکذا إذا هلك إلخ: د دې حاصل دا دی چې بچی خو بالغ سو لیکن تر اوسه يې له مرتهن څخه خپل مرهون مال نه وو اخيستی چې هغه د مرتهن په قبضه کې هلاک سو، نو په دې صورت کې هم بچی د خپل پلار له مال څخه د پلار د قرض په اندازه اخيستلای سي: ځکه په دې صورت کې هم د پلار قرض د مرهون مال په هلاکېدلو سره اداء سوی دی. نو ځکه بچي ته به د پلار له مال څخه د اخيستلو حق وي.

که پلار د خپل او د بچي دواړو د قرض په عوض کې د بچي مال په رهن ورکړي (حکم)

وَلَوْ رَهَنَهُ بِدَيْنٍ عَلَى نَفْسِهِ وَبِدَيْنٍ عَلَى الصَّغِيرِ او که پلار د بچي مال په رهن کېښېږدي د خپل قرض او د بچي د قرض په عوض کې جَازَ نو جائز دي لِاشْتِمَالِهِ عَلَى أَمْرَيْنِ جَائِزَيْنِ ځکه دا پر دوو جائزو کارونو مشتمل دی فَإِنْ هَلَكَ بيا که مرهون هلاک سي ضَمِنَ الْأَبُ حِصَّتَهُ مِنْ ذَلِكَ لِلْوَلَدِ نو پلار له دې رهن څخه د خپلې حصې په اندازه د بچي لپاره ضامن کيږي لِإِيفَائِهِ دَيْنَهُ مِنْ مَالِهِ بِهَذَا الْمِقْدَارِ ځکه چې پلار په همدې مقدار سره د بچي له مال څخه خپل قرض اداء کړی دی وَكَذَلِكَ الْوَصِيُّ او همدارنګه وصي دی وَكَذَلِكَ الْجَدُّ أَبُ الْأَبِ او همدارنګه نيکه دی [يعني] د پلار پلار إِذَا لَمْ يَكُنِ الْأَبُ أَوْ وَصِيُّ الْأَبِ کله چې پلار يا د پلار وصي نه وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر پلار د خالد قرض باندې وي او د هغه پر بچي هم د خالد قرض باندې وي (د پلار قرض مثلاً يو نيم سل درهمه وي او د بچي قرض سل درهمه وي). او پلار د دواړو قرضونو په عوض کې د بچي مال هغه ته په رهن کېښېږدي، نو دا جائز او صحيح دي: ځکه دا پر دوو

جائزو امرونو مشتمل دی، ځکه که يوازي پر پلار يا يوازي پر بچي ديو چا قرض باندي وي او پلار دهغه پوه قرض په عوض کي دبچي مال په رهن ورته کښېږدي، نو هم جائز دي. لهذا کله چي د دواړو قرضونو په عوض کي دهغه مال په رهن کښېږدي، نو اوس به هم جائز وي.

او که مرهون مال د مرتهن (خالد) سره هلاک سي، نو پلار دخپل قرض دحصې (يونيم سل درهمو) په اندازه دبچي دمال ضامن کيږي؛ ځکه دبچي مال د پلار او بچي دواړو د قرضونو په عوض کي په رهن اينښوول سوی دی، نو دبچي له مال څخه دبچي د قرض په اندازه (يعني سل درهمه) خو ساقطيږي او پاته سوه د پلار حصه نو د پلار د قرض په اندازه ضمان پر هغه واجب پاتيږي (چي پلار به يو نيم سل درهمه دبچي په مال کي ايږدي)، ځکه پلار په همدې مقدار دبچي له مال څخه خپل قرض اداء کړی دی.

وکذالك إلخ: په مذکوره مسئلو کي چي کوم حکم د پلار دی، هغه حکم د نيکه او د پلار د وصي هم دی، يعني نيکه د پلار په ځېر دی کله چي پلار يا د پلار وصي نه وي، همدارنګه د پلار وصي د پلار په ځېر دی کله چي پلار نه وي. مثلاً په مذکوره مسئله کي چي څرنګه پلار د خپل قرض په اندازه دبچي د مال ضامن کيږي، همداسي وصي او نيکه هم ضامن کيږي.

که د وصي اينښوول سوی رهن هلاک سي (حکم او تفصيل)

وَلَوْرَهَنَ الْوَصِيُّ مَتَاعًا لِلْيَتِيْمِ فِيْ دَيْنٍ اِسْتَدَانَهُ عَلَيْهِ او که وصي د يتيم سامان په رهن کښېږدي د هغه قرض په عوض کي کوم چي وصي د يتيم لپاره په قرض اخيستی وي وَقَبَضَ الْمُرْتَهِنُ او مرتهن [پر مرهون سامان] قبضه وکړي ثُمَّ اسْتَعَارَهُ الْوَصِيُّ لِحَاجَةِ الْيَتِيْمِ بيا وصي دا مرهون [سامان] د يتيم د ضرورت لپاره په عاريت [په خواست] واخلي فَضَاعَ فِيْ يَدِ الْوَصِيِّ نو هغه د وصي په قبضه کي ضايع سي فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الرَّهْنِ وَهَلَكَ مِنْ مَالِ الْيَتِيْمِ نو دا مرهون له رهن څخه وځي او د يتيم له مال څخه هلاکيږي لِأَنَّ فِعْلَ الْوَصِيِّ كَفِعْلِهِ بِنَفْسِهِ بَعْدَ الْبُلُوْغِ ځکه د وصي فعل تر بلوغت وروسته د يتيم د فعل په ځېر دی لِأَنَّهُ اسْتَعَارَهُ لِحَاجَةِ الصَّبِيِّ ځکه وصي مرهون [سامان] دبچي د ضرورت لپاره په عاريت اخيستی وو وَالْحُكْمُ فِيْهِ هٰذَا عَلٰى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او په دې کي همدا حکم دی د هغه تفصيل مطابق چي هغه به موږ انشاء الله بيان کړو.

اللغات: ﴿استدان﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په قرض او په پور اخيستل. ﴿استعار﴾ مخکني صيغه ده: په عاريت اخيستل (په خواست اخيستل). ﴿ضاع﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ضايع کېدل او د لاسه وتل. بربادېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که وصي کس دبچي دضرورت مثلاً دخوراک او کپړې وغيره لپار له حامد څخه څو روپۍ په قرض واخلي او وصي د هغه په عوض کې د دې يتيم بچي يو سامان قرضخواه (حامد) ته په رهن کښېږدي او مرتهن (حامد) پر هغه قبضه هم کړي، او څو ورځې وروسته يتيم هغه مرهون سامان ته محتاج او مجبوره سي او وصي له مرتهن (حامد) څخه په خواست هغه سامان واخلي. بيا نابېره هغه سامان دوصي سره هلاک سي. نو په دې صورت کې حکم دا دی چې هغه سامان د يتيم له مال څخه هلاک کيږي او د هغه هلاکت به د يتيم د مال هلاکت شمېرل کيږي. نه د مرهون مال هلاکت. او د مرتهن قرض د مخکې په څېر باقي پاتېږي؛ ځکه وصي دا مرهون سامان د بچي د ضرورت لپاره عاريتاً اخيستی وو. نه د ځان لپاره. او څرنګه چې د وصي فعل د يتيم په حق کې داسې دی لکه تر بلوغت وروسته د يتيم خپل فعل. او تر بلوغت وروسته که يتيم خپل سامان چا ته په رهن ورکړي بيا د مجبورۍ له کبله هغه سامان بيرته په خواست ځني واخلي او هغه د ده سره هلاک سي. نو ښکاره ده چې هغه سامان خو د ده له مال څخه هلاک شمېرل کيږي. نو همداسې په صورت مسئله کې به هم د مذکوره سامان هلاکت د يتيم له مال څخه شمېرل کيږي او د مرتهن (حامد) قرض به د مخکې په څېر باقي پاته وي. (کفايه)

د مخکنۍ مسئلې نور وضاحت

وَالْمَالُ دَيْنٌ عَلَى الْوَصِيِّ او مال پر وصي قرض دی مَعْنَاهُ هُوَ الْمُطَالَبُ بِهٖ د دې مطلب دا دی چې له همدې وصي څخه به د هغه مطالبه کيږي ثُمَّ يَرْجِعُ بِذٰلِكَ عَلَى الصَّبِيِّ بيا به وصي په هغه سره پر بچي رجوع کوي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَدٍّ فِيْ هٰذِهِ الْاِسْتِعَارَةِ ځکه هغه په دې استعاره [عاريتاً اخيستلو] کې تعدّی کونکی نه دی إِذْ هِيَ لِحَاجَةِ الصَّبِيِّ ځکه دا استعاره د بچي د ضرورت لپاره وه وَلَوِ اسْتَعَارَهُ لِحَاجَةِ نَفْسِهٖ او که وصي هغه د خپل ضرورت لپاره په عاريت اخيستی وي ضَمِنَهُ لِلصَّبِيِّ نو د بچي لپاره د هغه ضامن کيږي لِأَنَّهُ مُتَعَدٍّ ځکه [په دې صورت کې] وصي تعدّی کونکی دی إِذْ لَيْسَ لَهُ وِلَايَةُ الْاِسْتِعْمَالِ فِيْ حَاجَةِ نَفْسِهٖ ځکه وصي ته په خپل ضرورت کې د استعمالولو ولايت [او اختيار] نسته.

اللغات: ﴿مُطَالَب﴾ د مفاعلې د باب مفعول دی: مطالبه کړی سوی. د څه چې مطالبه سوې وي. مُطَالَب بِهٖ: د څه چې له چا څخه مطالبه کېدونکې وي. ﴿متعد﴾ د تفعل د باب فاعل دی: تعدی کونکی. ناحقه تصرف کونکی.

تشريح: دا عبارت د ماقبل سره مربوط دی. حاصل يې دا دی چې کله په مخکنۍ مسئله کې د مرتهن (حامد) قرض پاته دی نو مرتهن به خپل قرض له وصي شخصه اخلي او که له يتيم شخصه؟. په همدې مکله فرمايي چې مرتهن به له وصي شخصه د خپل قرض مطالبه کوي: ځکه همدا وصي له هغه شخصه قرض اخيستی وو. او همدا وصي له هغه شخصه بيا مرهون سامان اخيستی وو.

بيا که وصي د هغه قرض اخيستنه يا د مرهون استعاره د يتيم بچي لپاره کړې وي نه د خپل ضرورت لپاره. نو وصي به د قرض په اندازه مال له يتيم شخصه واپس اخلي: ځکه په دې صورت کې وصي تعدی کونکی نه دی چې پر هغه ضمان واجب کړی سي. خو که وصي د خپل ضرورت لپاره داسې کړې وي. نو بيا هغه د يتيم لپاره د قرض په اندازه مال ضامن کيږي: ځکه اوس هغه تعدی کونکی دی چې په خپل ضرورت کې يې د يتيم مال استعمال کړی دی. حال دا چې هغه ته د دې حق نسته.

په مذکوره صورت کې که وصي مرهون شی غصب کړي (حکم او تفصيل)

وَلَوْغَصَبَهُ الْوَصِيُّ بَعْدَ مَا رَهَنَهُ او که چيري وصي مرهون غصب کړي ورروسته تر دې چې هغه په رهن کېښېږدي فَاسْتَعْمَلَهُ لِحَاجَةِ نَفْسِهِ حَتّٰى هَلَكَ عِنْدَهُ او دا مرهون په خپل ضرورت کې استعمال کړي تر دې چې هغه د وصي سره هلاک سي فَالْوَصِيُّ ضَامِنٌ لِقِيْمَتِهٖ نو وصي د هغه د قيمت ضامن دی لِأَنَّهُ مُتَعَدٍّ فِيْ حَقِّ الْمُرْتَهِنِ بِالْغَصْبِ وَالْاِسْتِعْمَالِ ځکه چې هغه د غصب کولو او استعمالولو په وجه د مرتهن په حق کې تعدی کونکی دی. وَفِيْ حَقِّ الصَّبِيِّ بِالْاِسْتِعْمَالِ فِيْ حَاجَةِ نَفْسِهٖ او په خپل ضرورت کې د استعمالولو په وجه د بچي په حق کې تعدی کونکی دی فَيُقْضٰى بِهِ الدَّيْنُ إِنْ كَانَ قَدْ حَلَّ نو د هغه په ذريعه به قرض اداء کول کيږي که چيري د قرض اداء کولو وخت راغلی وي فَإِنْ كَانَ قِيْمَتُهُ مِثْلَ الدَّيْنِ نو که د مرهون قيمت د قرض په څېر وي [يعني د قرض برابر وي] أَدَّاهُ إِلَى الْمُرْتَهِنِ نو وصي دې هغه مرتهن ته اداء کړي [ورکړي] وَلَا يَرْجِعُ عَلَى الْيَتِيْمِ او پر يتيم بچي به رجوع نه کوي لِأَنَّهُ وَجَبَ لِلْيَتِيْمِ عَلَيْهِ مِثْلُ مَا وَجَبَ لَهُ عَلَى الْيَتِيْمِ ځکه چې د يتيم لپاره پر وصي هغومره واجب دي څومره چې د وصي لپاره پر يتيم واجب دي فَالْتَقَيَا قِصَاصًا نو دواړه به د مقاصې په توګه يوځای کيږي [يعني په دواړو کې به مقاصه کيږي] وَإِنْ كَانَتْ قِيْمَتُهُ أَقَلَّ مِنَ الدَّيْنِ او که د مرهون قيمت له قرض څخه کم وي أَدّٰى قَدْرَ الْقِيْمَةِ إِلَى الْمُرْتَهِنِ نو وصي دې د قيمت مقدار

مرتهن ته اداء کړي وَأَدَّى الزِّيَادَةَ مِنْ مَالِ الْيَتِيمِ او زياتوب [زائد مقدار] دي د يتيم له مال څخه اداء کړي لِأَنَّ الْمَضْمُونَ عَلَيْهِ قَدْرُ الْقِيمَةِ لَا غَيْرَ ځکه چي پر وصي د مرهون د قيمت په اندازه ضمان لازم دی وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ أَكْثَرَ مِنَ الدَّيْنِ او که د مرهون قيمت له قرض څخه زيات وي أَدَّى قَدْرَ الدَّيْنِ مِنَ الْقِيمَةِ إِلَى الْمُرْتَهِنِ نو وصي دي د قرض مقدار مرتهن ته اداء کړي وَالْفَضْلُ لِلْيَتِيمِ او اضافه [زائد] مقدار د يتيم دی.

اللغات: ﴿الغصب﴾ د ضرب مصدر دی: غصب کول، په زوره يو شی اخيستل (جبراً اخيستل).

﴿حلّ﴾ د ضرب ماضي ده، مراد: د قرض اداء کېدلو وخت راتلل. ﴿قصاصاً﴾ د مفاعلي د باب مصدر دی چي بل مصدر يې مُقَاصة راځي، د دې څو معناوي دي: په بدله کي راګرځول او بدله اخيستل، يو شی د بل شي سره تبادله کول، ادل بدل کول (مثلاً پر زيد د خالد لس درهمه قرض باندي وي او بيا خالد هم پر زيد لس درهمه قرض باندي سي، نو دوی خپل قرضونه سره مقابله او ادل بدل کړي، دې ته مقاصه وايي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که وصي د يتيم د ضرورت لپاره له يو چا څخه قرض واخلي او د هغه سره د يتيم سامان په رهن کښېږدي، بيا وصي هغه سامان له مرتهن څخه غصب کړي او په خپل ضرورت کي يې استعمال کړي تر دې چي هغه سامان د وصي سره هلاک سي، نو پر وصي د هغه سامان د قيمت ضمان واجبېږي؛ ځکه هغه د مرتهن او يتيم دواړو په حق کي تعدی او زياتوب کړی دی: د مرتهن په حق کي تعدی او زياتوب په دې توګه دی چي له هغه څخه يې مرهون سامان غصب کړی دی او استعمال کړی يې دی، او د يتيم په حق کي زياتوب په دې توګه دی چي وصي د هغه سامان په خپل ضرورت کي استعمال کړی دی، حال دا چي هغه ته د دې حق نسته. نو د دغه تعدی او زياتوب د ازالې او ليري کولو لپاره پر وصي د مرهون سامان قيمت واجبېږي، اوس که د قرض اداء کولو وخت راغلی وي، نو په هغه سره به د مرتهن قرض اداء کول کېږي چي د هغه ټوله درې (۳) صورتونه دي:

① ... که قرض مثلاً پنځه سوه (۵۰۰) وي او د مرهون قيمت هم پنځه سوه (۵۰۰) وي، نو وصي دي له خپل جېب څخه هغه قيمت مرتهن ته ورکړي او کله چي هغه ورکړي نو معامله به سره ختمه سي او بيا وصي ته له يتيم څخه د هيڅ شي د مطالبې حق نسته؛ ځکه که څه هم په ښکاره وصي د يتيم قرض اداء کړی دی، خو هغه دا په خپل ضرورت کي استعمال کړی او هلاک کړی دی، لهذا د

بچي هم پر وصي پنځه سوه واجب دي، نو په دواړو کي به مقاصه او تبادله کيږي، لهذا له دواړو طرفونو څخه حساب برابر سو او يوه ته هم له بل څخه د څه غوښتني او مطالبې حق نسته.

②... دويم صورت دا دی چي که د مرهون قيمت له قرض څخه کم وي مثلاً قرض پنځه سوه (۵۰۰) وي او د مرهون قيمت څلور سوه (۴۰۰) وي، نو وصي دي څلور سوه (۴۰۰) له خپل جېب څخه اداء کړي کوم چي د قرض قيمت دی او سل (۱۰۰) دي د يتيم له مال څخه اداء کړي؛ ځکه وصي په مرهون کي تعدی او زياتوب کړی دی، لهذا پر هغه صرف د مرهون قيمت واجبيږي برابره ده هغه له قرض څخه کم وي او که زيات وي.

③... دريم صورت دا دی چي که د مرهون قيمت له قرض څخه زيات وي، نو اوس حکم دا دی چي د قرض مقدار دي وصي (مرتهن ته) اداء کړي او کوم چي تر قرض زيات سي هغه دي يتيم ته وسپاري؛ ځکه کله چي د کموالي په صورت کي د همدې يتيم په مال سره هغه کمي پوره کيږي (لکه په پورتني صورت کي چي کم سوی مقدار سل ۱۰۰ د يتيم له مال څخه اداء کړل سوي دي)، نو ښکاره ده چي د زياتوب په صورت کي به دا زيات سوی مقدار هم د همدې يتيم حق او ملکيت کيږي، نو ځکه هغه ته به ور کول کيږي.

د مخکني مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ كَانَ لَمْ يَحِلَّ الدَّيْنُ او که د قرض اداء کولو وخت راغلی نه وي فَالْقِيمَةُ رَهْنٌ نو قيمت به رهن وي لِأَنَّهُ ضَامِنٌ لِلْمُرْتَهِنِ بِتَفْوِيتِ حَقِّهِ الْمُحْتَرَمِ ځکه وصي د مرتهن لپاره ضامن دی د هغه د محترم حق د فوتولو په وجه فَتَكُونُ رَهْنًا عِنْدَهُ نو ځکه قيمت به د هغه سره رهن وي ثُمَّ إِذَا حَلَّ الْأَجَلُ بيا چي کله د قرض اداء کولو نېټه راسي كَانَ الْجَوَابُ عَلَى التَّفْصِيلِ الَّذِي فَصَّلْنَاهُ نو جواب [حکم] به د هغه تفصيل مطابق وي کوم چي موږ بيان کړی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د قرض اداء کولو په هکله چي مخکي موږ کم تفصيل ذکر کړی دی، دا پر هغه صورت محمول دي کله چي د قرض اداء کولو وخت راغلی وي، لېکن که تر اوسه د قرض اداء کولو وخت نه وي راغلی او څه وخت يې لا پاته وي، نو په دې صورت کي به د مرهون قيمت بيا د مرتهن سره په رهن ايښوول کيږي، ځکه وصي د غصب کولو په وجه د مرتهن حقِ محترم فوت کړی دی او څرنګه چي قيمت د مرهون دی، نو ځکه د مرهون په څېر به هغه هم د مرتهن سره په رهن ايښوول کيږي او کله چي د قرض اداء کولو وخت راسي، نو مخکي چي کوم تفصيل ذکر سو، د هغه مطابق به اداء کول کيږي.

كه تر غصب وروسته مرهون شى د بچي په ضرورت كي استعمال كړى سي (حكم او تفصيل)

وَلَوْ أَنَّهُ غَصَبَهُ وَاسْتَعْمَلَهُ لِحَاجَةِ الصَّغِيْرِ او كه چيري وصيٰ مرهون غصب كړي او د بچي په ضرورت كي يې استعمال كړي حَتّٰى هَلَكَ فِيْ يَدِهٖ تر دې چي هغه دوصي په قبضه كي هلاک سي يَضْمَنُهُ لِحَقِّ الْمُرْتَهِنِ نو وصي د مرتهن د حق لپاره د هغه ضامن كيږي وَلَا يَضْمَنُهُ لِحَقِّ الصَّغِيْرِ او د صغير د حق لپاره نه ضامن كيږي لِأَنَّ اسْتِعْمَالَهُ لِحَاجَةِ الصَّغِيْرِ لَيْسَ بِتَعَدٍّ څكه چي د بچي په ضرورت كي د مرهون استعمالول تعدى [او زياتوب] نه دى وَكَذَا الْأَخْذُ او همدارنګه اخيستل [هم تعدى نه ده] لِأَنَّ لَهُ وِلَايَةَ أَخْذِ مَالِ الْيَتِيْمِ څكه چي وصي ته ديتيم د مال اخيستلو ولايت سته وَلِهٰذَا قَالَ فِيْ كِتَابِ الْإِقْرَارِ: إِذَا أَقَرَّ الْأَبُ أَوِ الْوَصِيُّ بِغَصْبِ مَالِ الصَّغِيْرِ په همدې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله [د مبسوط] په كتابُ الاقرار كي ويلي دي: كله چي پلار يا وصي د بچي د مال غصب كولو اقرار وكړي لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ نو پر پلار يا وصي هيڅ شى نه لازميږي لِأَنَّهُ لَا يُتَصَوَّرُ غَصْبُهُ څكه چي د دوى [له طرفه] غصب نا متصوّر [او ناممكنه] دى لِمَا أَنَّ لَهُ وِلَايَةَ الْأَخْذِ څكه چي دوى ته د [بچي د مال] اخيستلو ولايت سته فَإِذَا هَلَكَ فِيْ يَدِهٖ بيا چي كله مرهون دوصي په قبضه كي هلاک سي يَضْمَنُهُ لِلْمُرْتَهِنِ نو وصي د مرتهن لپاره د هغه ضامن كيږي [يعني وصي به مرتهن ته د مرهون ضمان (تاوان) وركوي] يَأْخُذُهُ بِدَيْنِهٖ چي مرتهن به هغه [ضمان] د خپل قرض په عوض كي اخلي إِنْ كَانَ قَدْ حَلَّ كه چيري د قرض اداء كولو وخت راغلى وي وَيَرْجِعُ الْوَصِيُّ عَلَى الصَّغِيْرِ او وصي به پر صغير رجوع كوي [يعني هغه ضمان به له صغير څخه واپس اخلي] لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُتَعَدٍّ څكه چي وصي تعدى كونكى نه دى بَلْ هُوَ عَامِلٌ لَهُ بلكي د بچي لپاره كار كونكى دى وَإِنْ كَانَ لَمْ يَحِلَّ او كه د اداء كولو وخت نه وي راغلى يَكُوْنُ رَهْنًا عِنْدَ الْمُرْتَهِنِ نو ضمان د مرتهن سره رهن كيږي ثُمَّ إِذَا حَلَّ الدَّيْنُ بيا چي كله د قرض اداء كولو وخت راسي يَأْخُذُ دَيْنَهُ مِنْهُ نو مرتهن به له هغه ضمان څخه خپل قرض اخلي وَيَرْجِعُ الْوَصِيُّ عَلَى الصَّبِيِّ بِذٰلِكَ او وصي به په هغه سره پر بچي رجوع كوي [يعني د ضمان مقدار به له بچي څخه واپس اخلي] لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړى.

تشريح : صورت د مسئلي: دا دی که وصي مرهون شی له مرتهن څخه غصب کړی او د صغير (يتيم بچي) په ضرورت کي يې استعمال کړي او بيا هغه شی د وصي په قبضه کي هلاک سي. نو دلته پر وصي فقط د مرتهن لپاره ضمان واجبيږي او د صغير لپاره ضمان نه پرې واجبيږي: ځکه وصي دا مرهون شی د دې لپاره غصب کړی وو چي د صغير په ضرورت او حاجت کي يې استعمال کړي. او دا د هغه له طرفه تعدی نه ده چي ضمان پرې واجب سي. او د صغير لپاره د ضمان نه واجبېدلو مطلب دا دی چي کله وصي مرتهن ته ضمان ورکړي. نو وصي به هغه مقدار له صغير څخه واپس اخلي. حال دا چي له دې څخه په مخکيني صورت کي (کوم چي په تېر عبارت کي ذکر سو) وصي ته له صغير څخه د واپس اخيستلو حق نه دی ورکول سوی. ځکه چي هلته پر وصي د صغير (يتيم) لپاره هم ضمان واجب کړی سوی دی.

وكذا الأخذ إلخ: د دې حاصل دا دی چي په دغه مسئله کي په دې وجه فقط د مرتهن لپاره ضمان واجبيږي. نه د صغير لپاره: ځکه د صغير لپاره د ضمان واجبېدلو صرف دوه صورتونه دي او هغه دواړه دلته معدوم دي: ① يو دا چي د مرهون شي (کوم چي د صغير مال دی) د استعمالولو په وجه پر وصي ضمان واجب سي. ② دويم دا چي د مرهون شي يعني د صغير د مال د غصب کولو په وجه پر هغه ضمان واجب دي.

او دلته دا دواړه صورتونه معدوم دي: ځکه صغير دا مال په خپل ذاتي کار کي نه دی استعمال کړی بلکي د صغير په ضرورت کي يې استعمال کړی دی. لهذا په دې صورت کي خو ضمان نه سي واجبېدلای، او دويم صورت ځکه معدوم دی چي د وصي له طرفه د صغير د مال غصب کول نه متحقق کيږي: ځکه د صغير مال د وصي لپاره مباح وي او وصي ته د هغه د اخيستلو حق وي. په همدې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله د مبسوط په کتابُ الاقرار کي ويلي دي چي که د صغير پلار يا د هغه وصي د صغير د مال غصب کولو اقرار وکړي (چي ما د هغه مال غصب کړی دی). نو د دوی اقرار معتبر نه دی او د دې اقرار په وجه پر پلار يا وصي باندي هيڅ شی نه لازميږي: ځکه کله چي دوی ته هر وخت د صغير د مال اخيستلو اجازت حاصل دی نو آخر به د دوی له طرفه غصب څنګه متحقق سي! بلکي هر کله چي هم دوی د هغه مال واخلي. صحيح ده. لنډه دا چي په دويم صورت کي هم (د صغير لپاره) پر وصي د ضمان وجوب ساقطيږي او پر هغه فقط د مرتهن د قرض په اندازه مال واجبيږي چي د مخکي ذکر سوي تفصيل مطابق به قرض اداء کيږي او وروسته به وصي هغه مقدار له صغير څخه واپس اخلي. صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د "فإذا هلك" څخه تر "لما ذكرنا" پوري د همدې قرض اداء کولو بيان کړی دی. (احسن الهدايه)

نېز د قيمت په اعتبار سره دي وَهِيَ مِثْلُ الدَّيْنِ فِي الْأَوَّلِ او قيمت په اول صورت کې د قرض په خېر دي [د قرض سره برابر دی] وَزِيَادَةٌ عَلَيْهِ فِي الثَّانِي او په دويم صورت کې تر قرض زيات دی فَيَصِيرُ بِقَدْرِ الدَّيْنِ مُسْتَوْفِيًا نو مرتهن به د قرض په مقدار ترلاسه کونکی ګرځي فَإِنْ كَانَ قِيمَتُهُ أَقَلَّ مِنَ الدَّيْنِ لېکن که د هغه [کوزې] قيمت تر قرض کم وي فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الْمَذْكُورِ نو دا پر دې ذکر سوي اختلاف دي [يعني په دې کې د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مذکوره اختلاف دی].

اللغات: ﴿إبريق﴾ کوزه، يعني هغه لاستی لرونکی لوښی چې د اوبو يا نورو شيانو لپاره استعماليږي. بيا ابريق پر څو قسمه دی، مثلاً إبريق الشای د چای کوپ (ګيلاس) ته وايي او داسي نور.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که جنس د خپل جنس په عوض کې په رهن ورکول سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د وزن په اعتبار سره به استيفاء کيږي (او د وزن په اعتبار سره ضمان لازميږي) او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قيمت په اعتبار سره به استيفاء کيږي (لکه مخکي چې هم ضمناً ذکر سوه). دا ګواکي د دوی هر يوه خپل أصول او قاعده کليه ده. دلته پر همدې قاعدې دا مسئله تفريع کوي چې امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي فرمايلي دي چې که يو څوک مثلاً زيد د سپينو زرو داسي کوزه چې د هغې وزن لس دِرهمه وي و خالد ته د لسو درهمو په عوض کې په رهن ورکړي او د مرتهن (خالد) په قبضه کې هغه کوزه هلاکه او ضايع سي، نو دا هلاکت به د هغه لسو درهمو په عوض کې شمېرل کيږي چې د هغوی په عوض کې يې کوزه په رهن ورکړې وه (يعني دا ګواکي هاغه لس درهمه هلاک او ضايع سول کوم چې مرتهن [خالد] و زيد ته په قرض ورکړي وه او مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی سو).

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دې نور وضاحت کوي فرمايي چې که د کوزې قيمت د هغې د وزن يعني د لسو درهمو سره برابر وي يا تر هغه زيات وي، نو د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ټولو په نېز د برابرۍ او زياتوب په دواړو صورتونو کي همدغه حکم دی چې مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځي: ځکه د مذکوره قاعدې مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د قرض ترلاسه کول (استيفاء) د وزن په اعتبار سره کيږي. او د کوزې وزن په دواړو صورتونو کي د قرض يعني د لسو درهمو برابر دی. نو ځکه د هغه په نېز دلته په دواړو صورتونو کي حسابي و کتاب سره برابر دي.

او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په دې صورتونو کې د قرض ترلاسه کول د قیمت په ذریعه کیږي او هغه هم دلته موجود دي. ځکه که د کوزې قیمت د هغې د وزن سره برابر وي. نو ښکاره ده چې مرتهن ته خپل ټوله حق ترلاسه سو. نو ځکه په دې صورت کې هیڅ نزاع نسته. او که دویم صورت وي یعني د کوزې قیمت د هغې تر وزن زیات وي. نو لا ښه خبره ده چې مرتهن به د خپل قرض ترلاسه کونکی سي او زیاتوب (زائد مقدار) امانت دی چې پر مرتهن د هغه هیڅ ضمان نه واجبیږي.

لېکن که د کوزې قیمت د هغې تر وزن کم وي مثلاً اته درهمه وي. نو په دې صورت کې د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په دې صورت کې هم مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځي؛ ځکه د وزن په اعتبار سره خو په قرض او مرهون شي (کوزه) کې مساوات سته. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز پر مرتهن د دراهمو په خلاف الجنس (یعني دنانیرو) سره د قیمت ضمان واجبیږي چې هغه به راهن ته ورکوي او بیا به همدا قیمت مرتهن ته د هلاک سوي مرهون (کوزې) پر ځای په رهن ورکول کیږي (یا په بله وینا دا چې تر دې وروسته همدا قیمت د هلاک سوي مرهون پر ځای مرهون ګرځي).

په پورتنۍ مسئله کې د امام صاحب او صاحبینو دلائل

لَهُمَا: أَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلَى الِاسْتِيفَاءِ بِالْوَزْنِ د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې په وزن سره (د قرض) ترلاسه کولو لره هیڅ صورت نسته لِمَا فِيهِ مِنَ الضَّرَرِ بِالْمُرْتَهِنِ ځکه چې په دې کې د مرتهن ضرر دی وَلَا إِلَى اعْتِبَارِ الْقِيمَةِ او نه د قیمت اعتبار کولو لره څه صورت سته لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى الرِّبَا ځکه چې دا سود ته رسول کوي [د سود سبب ګرځي] فَصِرْنَا إِلَى التَّضْمِينِ بِخِلَافِ الْجِنْسِ نو ځکه موږ [صاحبینو] په خلاف جنس سره د ضامن کولو [ضمان واجبولو] وطرف ته رجوع وکړه لِيَنْتَقِضَ الْقَبْضُ د دې لپاره چې قبضه ماته سي [یعني په هلاک سوي مرهون (کوزه) کې د مرتهن قبضه ختمه سي] وَيُجْعَلَ مَكَانَهُ او هغه [ضمان] د مرهون پرځای وګرځول سي [یعني مرتهن ته د مرهون (کوزې) پر ځای ورکول سي] ثُمَّ يَتَمَلَّكَهُ بیا راهن د هغه مالک سي وَلَهُ: أَنَّ الْجَوْدَةَ سَاقِطَةُ الْعِبْرَةِ فِي الْأَمْوَالِ الرِّبَوِيَّةِ عِنْدَ الْمُقَابَلَةِ بِجِنْسِهَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله لیل دا دی: چې د خپل جنس سره د مقابلې په وخت کې په اموال ربویه وو کې د غوره والي [ګڼه والي] اعتبار ساقط دی وَاسْتِيفَاءُ الْجَيِّدِ

او که سوال وسي چي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز ترلاسه کول (استیفاء) ثابته نه سوه. نو تاسي بالاجماع څنګه وویل؟. نو جواب دا دی چي بالاجماع استیفاء ثابته سوې ده (بالاجماع مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځېدلی دی). په همدې وجه د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د قبضې او استیفاء ماتولو ته ضرورت پېښ سوی دی (چي راهن به د کوزې پر ځای د هغه ضمان [دنانیر] مرتهن ته په رهن ورکوي. د دې لپاره چي مرتهن د هلاک سوي مرهون [کوزې] پر ځای د هغه [دنانیرو] په ذریعه قرض ترلاسه کړي). نو داد نقضِ استیفاء خبره کول د دې خبري ښرګند دلیل دی چي استیفاء سوې ده (یعني مرتهن قرض ترلاسه کړی دی). او کله چي استیفاءسوې ده نو ښکاره خبره ده چي بیا هغه نه سي ماتول کېدای: ځکه چي دا نقض د ضمان واجبېدلو لپاره کیږي او د ضمان واجبېدلو لپاره یو مُطالب (طلب کونکی) او یو مُطالَب (چي له هغه څخه طلب وسي) موجودېدل ضروري دي او دلته یو هم نه سي مُطالب کېدلای نه راهن او نه مرتهن؛ راهن خو ځکه نه سي مُطالب کېدلای چي د هغه د مرهون شي یعنې د دې کوزې د هلاکېدلو په عوض کي د مرتهن قرض اداء سوی دی، اوس که هغه مُطالِب وګرځي او نقضِ استیفاء وکړي. نو په دې کي د هغه ضرر دی او څوک دومره بې عقل دی چي پر خپل ځان ضرر لازم کړي. او مرتهن هم نه سي مُطالِب کېدلای. ځکه د هغه په قبضه کي د مرهون شي (کوزې) د هلاکېدلو په وجه مور هغه مُطالَب ګرځولی دی او مُطَالَب د مدعیٰ علیه په درجه کي وي. اوس که مور هغه مُطالِب هم وګرځوو. نو یوازې یو کس به مطالِب او مطالَب یا په بله وینا مدعي او مدعیٰ علیه دواړه وګرځي کوم چي صحیح نه دي. نو ځکه په پورتنی مسئله کي د استیفاء نقض (ماتول) صحیح نه دي چي پر مرتهن په خلاف الجنس سره ضمان واجب کړی سي: ځکه کله چي د مرهون شي د هلاکېدلو پر بناء استیفاء متحققه او ثابته سوه. نو ګواکي مرتهن د دې مرهون شي مالک سو. اوس که نقضِ استیفاء وسي او پر مرتهن ضمان واجب کړی سي. نو ګواکي پر مرتهن د خپل ملکیت لپاره ضمان واجب کړی سو. حال دا چي پر انسان د خپل ملکیت ضمان واجبول محال او ناممکن دي. او کله چي ضمان واجبول نا ممکن دي نو بیا استیفاء ماتول هم ناممکن دي. لکه څرنګه چي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د عبارت په آخري جمله "ویتعذر التضمین یتعذر النقض" سره همدا خبره کړې ده. (احسن الهدایه)

د امام صاحب او صاحبينو د اختلاف بنياد پر يو بله مسئله دى

وَقِيْلَ: هٰذِهٖ فُرَيْعَةُ مَا إِذَا اسْتَوْفَى الزُّيُوْفَ مَكَانَ الْجِيَادِ او ويل سوي دي: چي دا مسئله د هغه مسئلې فرع ده کله چي قرضخواه [د قرض مالک] د کره دراهمو پر ځاى کوټه دراهم واخلي. فَهَلَكَتْ بيا هغوى هلاک سي [مثلاً خرچ يې کړي] ثُمَّ عَلِمَ بِالزِّيَافَةِ بيا [د هغوى] په کوټه والي خبر سي وَهُوَ مَعْرُوْفٌ او دا [يعني د دغه مسئلې حکم] پېژندل سوى [مشهوره] دى غَيْرَ أَنَّ الْبِنَاءَ لَا يَصِحُّ عَلٰى مَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ ليکن دا بناء [يعني د رهن مسئله پر دغه اصل مسئلې بناء کول] صحيح نه دي د مشهور قول مطابق لِأَنَّ مُحَمَّدًا فِيْهَا مَعَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ځکه چي امام محمد رَحِمَهُ الله په هغه [اصل مسئله] کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دى وَفِيْ هٰذَا مَعَ أَبِيْ يُوْسُفَ او په دې [رهن والا مسئله] کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دى وَالْفَرْقُ لِمُحَمَّدٍ: أَنَّهُ قَبَضَ الزُّيُوْفَ لِيَسْتَوْفِيَ مِنْ عَيْنِهَا او د امام محمد رَحِمَهُ الله لپاره وجه د فرق دا ده: چي هغه [قرضخواه] ځکه پر کوټه دراهمو قبضه کړې ده چي د هغوى له عين څخه [خپل حق] ترلاسه کړي وَالزِّيَافَةُ لَا تَمْنَعُ الْاِسْتِيْفَاءَ او کوټه والى [د حق] ترلاسه کول نه منع کوي وَقَدْ تَمَّ بِالْهَلَاكِ او [د دراهمو] د هلاکېدلو په وجه [د حق] ترلاسه کول بشپړ سوه وَقَبْضُ الرَّهْنِ لِيَسْتَوْفِيَ مِنْ مَحَلٍّ آخَرَ او پر رهن قبضه کول [يعني مرهون شي اخيستل] د دې لپاره دي چي مرتهن له بل محل څخه [خپل حق] ترلاسه کړي [يعني مرتهن (له راهن څخه) د دې لپاره مرهون شى اخلي چي د هغه په ذريعه له بل محل څخه خپل قرض ترلاسه کړي. نه له عين مرهون څخه] فَلَا بُدَّ مِنْ نَقْضِ الْقَبْضِ نو ځکه [د مرتهن] د قبضې ماتول ضروري دي وَقَدْ أَمْكَنَ عِنْدَهُ بِالتَّضْمِيْنِ او دا [د قبضې ماتول] د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز [د مرتهن] په ضامن کولو سره ممکن دي [چي مرتهن د هغه د قيمت ضامن وګرځول سي (يا په بله وينا دا چي د قيمت ضمان پرې لازم کړى سي)].

اللغات: ﴿زيوف﴾ جمع د زَيف ده: کوټه. ردي (جعلي). ﴿جِياد﴾ جمع د جَيِّدْ ده: ښه. کره. اصلي. ﴿تضمين﴾ د تفعيل مصدر دى: ضامن ګرځول. ضمان پرې واجبول (تاوان پرې لازمول).

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د رهن په مذکوره مسئله کي د امام صاحب او صاحبينو اختلاف د هغه اختلاف فرع دى کوم چي د قرض په مسئله کي دى. يا په بله وينا دا چي دا

جِنْسِهٖ او که خوبنه يې وي نو مرتهن دی د هغه [ماتي کوزې] د قيمت ضامن وګرځوي [برابره ده] د هغه له جنس څخه وي يا له خلاف جنس څخه وي وَتَكُوْنُ رَهْنًا عِنْدَ الْمُرْتَهِنِ او هغه قيمت د مرتهن سره رهن ګرځي وَالْمَكْسُوْرُ لِلْمُرْتَهِنِ بِالضَّمَانِ او ماته کوزه د ضمان اداء کولو په وجه د مرتهن کيږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ إِنْ شَاءَ افْتَكَّهُ نَاقِصًا او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز که د راهن خوبنه وي نو هغه [ماته کوزه] دي د نقصان په حالت کي را خلاصه کړي وَإِنْ شَاءَ جَعَلَهُ بِالدَّيْنِ او که خوبنه يې وي نو هغه دي د قرض بدل وګرځوي اِعْتِبَارًا لِحَالَةِ الْاِنْكِسَارِ بِحَالَةِ الْهَلَاكِ په قياس کولو سره د ماتيدلو د حالت پر حالت د هلاکيدلو وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ الْفِكَاكُ مَجَّانًا او دا [حکم] ځکه دی چي کله مفت راخلاصول نا ممکن سوه صَارَ بِمَنْزِلَةِ الْهَلَاكِ نو ماتېدل د هلاکيدلو په درجه کي سوه وَفِي الْهَلَاكِ الْحَقِيْقِيِّ مَضْمُوْنٌ بِالدَّيْنِ بِالْإِجْمَاعِ او د حقيقي هلاکيدلو په صورت کي مرهون شی بالاجماع د قرض په عوض کي مضمون کيږي فَكَذَا فِيْمَا هُوَ فِيْ مَعْنَاهُ نو همداسي په هغه صورت کي [به د قرض په عوض کي مضمون کيږي] کوم چي د هلاکت په معنیٰ سره وي [يعني د ماتيدلو صورت].

اللغات: ﴿الفكاك﴾ د سمع د باب مصدر دی: رهن راخلاصول. يعني خپل مرهون شی له مرتهن څخه واپس اخيستل. د مرتهن قرض اداء کول او مرهون شی له هغه څخه اخيستل.

تشريح: فرمايي که مرهونه کوزه هلاکه نه سي بلکي ماته او خرابه سي مثلاً چوبنکه يې ماته سي چي له دې کبله د هغې په ماليت او قيمت کي کمي راسي. نو څه حکم دی؟.

فرمايي چي که اول صورت وي يعني د کوزې قيمت د هغې د وزن سره برابر وي. نو په دې صورت کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز راهن د رهن (ماتي کوزې) په راخلاصولو باندي نه سي مجبورول کېدای بلکي د هغه لپاره دوه اختياره دي چي هغه به لاندي ذکر کړو: ځکه چي دلته د رهن راخلاصولو دوصور تونه دي او هغه دواړه باطل دي:

(۱)... اول صورت دا دی چي راهن دا ماته کوزه واپس واخلي او د ماتېدلو په وجه چي په هغې کي کوم نقص راغلی دی. د هغه په وجه له قرض څخه مثلاً درې درهمه کم او ساقط کړي. په دې صورت کي د مرتهن نقصان دی په دې توګه دی چي محض په جودت او جوړښت کي د کمي راتللو په وجه د مرتهن له اصل قرض څخه درې درهمه کمول کيږي او د جودت په کمي سره مرتهن د دريو درهمو

ترلاسه کونکی شمېرل کيږي. حال دا چې په متحدُ الجنس اموالِ ربويه وو کې جودت لره اعتبار نشته. نو ځکه دا صورت باطل دی.

(۲)... دويم صورت دا دی چې له قرض څخه څه حصه کمه نه کړل سي بلکې راهن دغهٔ عيبداره (ماته) کوزه واپس واخلي او مرتهن لره خپل پوره حق (قرض) اداء کړي. دا صورت هم باطل دی؛ ځکه په دې کې دراهن ښکاره ضرر دی چې هغه صحيح سالمه کوزه په رهن ورکړې وه حالانکې اوس دا کوزه عيبجنه هغه ته واپس کول کيږي. نو ځکه دا صورت هم باطل دی.

لهذا کله چې دواړه صورتونه باطل او بې ځايه دي. نو موږ د مينځ لاره وکتله او راهن ته مو له دوو اختياراتو څخه يو اختيار ورکړی.

①... يو دا چې که خوښه يې وي نو تاوان او خساره دې وزغمي او مرتهن ته دې خپل ټوله قرض ورکړي او له هغه څخه دې ماته کوزه واپس واخلي.

②... او بل دا چې که خوښه يې وي نو مرتهن دې په دې سره مکلف کړي چې د مرهون يعني (د سپينو زرو) د ماتې کوزې د قيمت ضمان د هغې له جنس يعني په دراهمو سره اداء کړي (ورکړي) يا د هغې په خلاف جنس يعني په دنانيرو سره يې اداء کړي، بيا دې راهن دا قيمت مرتهن ته د مرهون پر ځای ورکړي. او کله چې راهن د مرتهن قرض اداء کړي، نو مرتهن دې دا مذکوره قيمت (کوم چې د ضمان په شکل د مرهون پر ځای ورکول سوی دی) راهن ته واپس کړي. او کله چې مرتهن د مرهون (ماتې کوزې) ضمان اداء کړي. نو هغه د مرتهن په ملکيت کې داخليږي.

وعند محمد إلخ: فرمايي چې په دې مسئله کې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هم راهن ته دوه اختياره حاصليږي:

①... اول اختيار خو همدا ورته حاصليږي چې (د ماتوالي) تاوان وزغمي او ماته کوزه واپس واخلي او مرتهن ته د هغه ټوله قرض ورکړي.

②... دويم اختيار دا ورته حاصليږي چې دا مرهون يعني ماته کوزه د قرض عوض وګرځوي يعني ګواکې راهن د مرتهن قرض اداء کړی (يا په بله وينا دا چې دويم اختيار دا دی چې د ماتې کوزې په عوض کې راهن له ځان څخه د مرتهن قرض ساقط کړي کله کله چې کوزه هلاکه او ضايع سي نو قرض ساقطيږي).

خلاصه دا چې امام محمد رَحِمَهُ الله په انکسار (ماتېدلو) باندې د هلاکت (هلاکېدلو) حکم جاري کړی دی. او که کوزه هلاکه سوې وای نو هم دغه حکم دی چې د مرتهن قرض ساقطيږي. او انکسار ګواکې هلاکت دی لهذا کوم شی چې د هلاکت په درجه کې وي، نو پر هغه به هم د هلاکت حکم جاري کول کيږي او ويل کيږي به چې ماته کوزه د قرض عوض وګرځېده او معامله ختم سوه.

قیمت ضامن کیږي وَتَكُوْنُ رَهْنًا عِنْدَهُ او دا قیمت به د مرتهن سره رهن وي وَهٰذَا بِالْاِتِّفَاقِ او دا په اتفاق سره دي [یعني دا مذکوره حکم متفق علیه دی] أَمَّا عِنْدَهُمَا فَظَاهِرٌ هر چي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز خو ښکاره ده وَكَذٰلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او همدارنګه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز هم لِأَنَّهُ يَعْتَبِرُ حَالَةَ الْاِنْكِسَارِ بِحَالَةِ الْهَلَاكِ ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله [د مرهون شي] د ماتیدلو حالت د هلاکیدلو پر حالت قیاسوي [نو د هغه په نیز ماته کوزه داسي ده لکه هلاکه سوې کوزه] وَالْهَلَاكُ عِنْدَهُ بِالْقِيْمَةِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز [په دې صورت کي] هلاکیدل په قیمت سره [مضمون] وي.

اللغات: ﴿ثَمَانِيَةٌ﴾ ځکه منصوب دی چي له أَقَلَّ څخه بدل دی: اته. ﴿رديء﴾ خراب او بد. کمزوری او نا کره.

تشریح: په دې عبارت کي د مخکنۍ مسئلې (یعني د سپینو زرو د کوزې مسئله. د هغې) د دریم صورت بیان دی. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله ځکه د "وجه ثاني" (دویم صورت) له بیان څخه مخکي "وجه ثالث" بیان کړی دی چي په "وجه ثاني" کي تفصیل څه زیات دی. "وجه ثالث" یعني دریم صورت دا وو چي که د مرهونه کوزې قیمت د هغې له وزن څخه کم وي مثلاً د کوزې وزن لس درهمه وي لیکن د هغې قیمت اته درهمه وي، نو په دې صورت کي امام محمد او شیخینو رَحِمَهُمُ الله ټولو په اتفاق سره مرتهن د قیمت ضامن ګرځولی دی چي مرتهن به د مرهون (کوزې) قیمت (راهن ته) په ضمان کي ورکوي او دا قیمت به بیرته مرتهن ته په رهن ورکول کیږي. نو که مرتهن د مرهون له خلاف جنس (مثلاً په دنانیرو) سره ضمان ورکوي، نو جیّد او کره مال به ورکوي. هو! که د مرهون (کوزې) له جنس مثلاً په دراهمو سره ضمان ورکوي، نو بیا به په ردي او نا کره درهمو سره ضمان ورکوي. د دې لپاره چي ربوا (سود) لازم نه سي.

وهٰذا بالاتفاق إلخ: فرمایي چي په دې صورت کي پر مرتهن د ضمان بالقیمت واجبېدلو حکم د امام محمد او شیخینو رَحِمَهُمُ الله په اتفاق سره دی. د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز خو ښکاره ده چي دا حکم دی، ځکه د دوی په نیز په اول صورت کي هم د قیمت ضمان واجب کړی سوی دی. لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز په دې صورت کي د ضمان بالقیمت واجبېدل په فهم کي نه راځي. ځکه هغه په اول صورت کي مرهون شی مضمون بالدین ګرځولی دی (د قرض په عوض کي یې شمېرلی دی) او دلته یې مضمون بالقیمة ګرځوي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د همدې خبرې وضاحت کوي فرمايي چې په دې صورت کې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز چې کوم د ضمان بالقيمة حکم دی هغه په دې وجه دی چې امام محمد رَحِمَهُ الله د انکسار حالت د هلاکت پر حالت قياسوي او په همدې توګه مرهون شی مضمون ګرځوي او کله چې د مرهون شي (کوزې) قيمت د هغه د وزن سره برابر وي نو هغه مضمون بالدين کيږي لکه په اول صورت کې چې دي، لېکن کله چې د مرهون شي قيمت د هغه له وزن څخه کم وي نو بيا هغه مضمون بالقيمة کيږي، او دلته قيمت کم دی. نو ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله هم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله د قول سره اتفاق کړی دی.

ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله هغه وخت مرهون شی مضمون بالدين ګرځوي کله چې د دې امکان وي، او دلته يې امکان نسته؛ ځکه که مرهون شی يعني کوزه د وزن په اعتبار سره د قرض بدل وګرځول سي، نو د مرتهن ضرر لازميږي ځکه د مرهون شي قيمت اته درهمه دی او د مرتهن قرض لس درهمه دی، او که د قيمت اعتبار وسي، نو دا به ربوا وي (يعني دلته نه استيفاء بالوزن ممکنه ده او نه استيفاء بالقيمة چې تفصيل يې مخکي تېر سو)، لهذا د قيمت له ضمان څخه بغير بله چاره نسته.

د دويم صورت وضاحت او د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه

وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي او په دويم صورت کې وَهُوَ مَا إِذَا كَانَتْ قِيمَتُهُ أَكْثَرَ مِنْ وَزْنِهِ اِثْنَيْ عَشَرَ او هغه دا دی چې کله د مرهونه کوزې قيمت د هغې له وزن څخه زيات يعني دوولس درهمه وي عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ يَضْمَنُ جَمِيْعَ قِيْمَتِهِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مرتهن د کوزې د ټوله قيمت ضامن کيږي وَتَكُوْنُ رَهْنًا عِنْدَهُ او دا قيمت به د مرتهن سره رهن وي لِأَنَّ الْعِبْرَةَ لِلْوَزْنِ عِنْدَهُ لَا لِلْجَوْدَةِ وَالرَّدَاءَةِ ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز اعتبار وزن لره دی، نه ګړه والي او نا ګړه الي لره فَإِنْ كَانَ بِاعْتِبَارِ الْوَزْنِ كُلِّهِ مَضْمُوْنًا نو که مرهون د وزن په اعتبار سره ټوله مضمون وي [يعني د ټوله مرهون ضمان لازم وي يعني د هغه په بدله کي ټوله قرض ساقطيږي] يُجْعَلُ كُلُّهُ مَضْمُوْنًا نو هغه ټوله به (د قيمت په اعتبار سره) مضمون ګرځول کيږي وَإِنْ كَانَ بَعْضُهُ او که د مرهون بعضي حصه مضمونه وي فَبَعْضُهُ نو د هغه بعضي حصه [به د قيمت په اعتبار سره مضمونه ګرځول کيږي] وَهَذَا لِأَنَّ الْجَوْدَةَ تَابِعَةٌ لِلذَّاتِ او دا ځکه چې جودت د ذات تابع دی وَمَتَى صَارَ الْأَصْلُ مَضْمُوْنًا او کله چې اصل مضمون سو اِسْتَحَالَ

أَنْ يَكُوْنَ التَّابِعُ أَمَانَةً نو دا محال [او ناممکنه] سوه چې تابع امانت سي.

اللغات: ﴿جودة﴾ ښه والی او کَره والی (کَره کېدل)، سوچه والی. ﴿رداءة﴾ بدوالی او نا کره والی. خرابوالی.

تشريح: په دې عبارت کې د مخکنۍ مسئلې د دویم صورت بیان دی، حاصل یې دا دی چې که د مرهونه کوزې قیمت د هغې له وزن څخه زیات وي، مثلاً د کوزې وزن لس درهمه وي او د هغې قیمت دوولس درهمه وي (د جودت او کَره والي په وجه)، نو په دې صورت کې زموږ د امامانو اختلاف دی. دامام احب رَحِمَهُ الله په نېز مرتهن د ټوله کوزې د قیمت (یعني د دوولسو درهمو) ضامن کېږي او کوزه د مرتهن په ملکیت کې داخلیږي او قیمت (دوولس درهمه) د مرهون پر ځای رهن ګرځي کله چې راهن د مرتهن قرض اداء کړي نو بیا به راهن ته هغه دوولس درهمه ورکول کېږي: ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله په اموال ربویه وو کې وزن "اصل" ګڼي او د هغه په نېز جودت او ودائت لره اعتبار نسته. او صورت یې دا دی چې که مرهون د وزن په اعتبار سره ټوله مضمون وي (په دې توګه چې مرهون [کوزه] او قرض په وزن کې سره برابر وي، نو ښکاره ده چې په دې صورت کې که مرهون هلاک سي نو د ټوله مرهون ضمان لازمیږي او ضمان دا چې د هغه په بدله کې ټوله قرض ساقطیږي. لنډه دا چې کله مرهون د وزن په اعتبار سره ټوله مضمون وي) نو هغه د قیمت په اعتبار سره هم ټوله مضمون کېږي. او که د مرهون بعضې حصه مضمونه وي (په دې توګه چې د مرهون وزن د قرض له وزن څخه زیات وي)، نو په دې صورت کې د قیمت هم بعضه حصه مضمونه کېږي او پاته حصه د مرتهن سره امانت ګرځي.

دا ګواکي د امام صاحب رَحِمَهُ الله اصل او بنیاد دی. او څرنګه چې په دې مسئله کې مرهون (کوزه) د وزن په اعتبار سره ټوله مضمون دی، نو د دغه پورتني اصل پر بناء به قیمت هم ټوله مضمون وي (یعني د ټوله قیمت ضمان به واجب وي)، نو ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چې دلته پر مرتهن د ټوله قیمت (دوولسو درهمو) ضمان واجب دی.

وهذا إلخ: فرمایي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز جودت وغیره لره په دې وجه اعتبار نسته: ځکه چې جودت عرض او تابع دی او وزن (کوزه) اصل او ذات دی (چې له هغه څخه د عرض او تابع [جودت] جلا کېدل ناممکن دي). او کله چې اصل مضمون وي نو بیا عرض او تابع هم مضمون کېږي، کنې دا اصل او تابع په حکم کې به اختلاف راسي چې اصل به مضمون سي او تابع به امانت سي (یعني که عرض او تابع مضمون نه سي. نو بیا به د اصل مضمون کېدل او د تابع امانت کېدل لازم سي). حال دا چې دا باطل دي بلکې دواړه

حکم یو وي، او څرنګه چي په دې مسئله کي د ټوله مرهون ضمان واجب دی، نو ځکه پر مرتهن به د وزن په اعتبار سره د مرهون د ټوله قیمت ضمان واجب وي او د مرهون هیڅ جزء به هم د ضمان له وجوب څخه مستثنیٰ نه ګرځول کیږي.

په دویم صورت کي د امام ابو یوسف او امام محمد رَحِمَهُمَااللهُ رایه

وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَضْمَنُ خَمْسَةَ أَسْدَاسِ قِيمَتِهِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز مرتهن د کوزې د قیمت د پنځو شپږمو حصو ضامن کیږي [یعني د کوزې له شپږو حصو څخه پر مرتهن د پنځو حصو د قیمت ضمان لازمیږي] وَيَكُونُ خَمْسَةُ أَسْدَاسِ الْإِبْرِيقِ لَهُ بِالضَّمَانِ او د ضمان په وجه [یعني چي ضمان اداء کړي نو] د کوزې د پنځو حصې مالک کیږي وَسُدُسُهُ يُفْرَزُ او د هغې پاته شپږمه حصه به جلا کول کیږي حَتَّى لَا يَبْقَى الرَّهْنُ شَائِعًا چي رهن شایع [مشاع] پاته نه سي [یعني شیوع پکښې را نه سي] وَيَكُونُ مَعَ قِيمَتِهِ خَمْسَةَ أَسْدَاسِ الْمَكْسُورِ رَهْنًا او دا [شپږمه حصه] به د ماتې سوې کوزې د پنځو حصو د قیمت سره رهن وي فَعِنْدَهُ تُعْتَبَرُ الْجَوْدَةُ وَالرَّدَاءَةُ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د جودت او ردائت اعتبار کړی سوی دی وَتُجْعَلُ زِيَادَةُ الْقِيمَةِ كَزِيَادَةِ الْوَزْنِ كَأَنَّ وَزْنَهُ اِثْنَا عَشَرَ او [د هغه په نېز] د قیمت زیاتوب د وزن د زیاتوب په څېر ګرځول سوی دی ګواکي د کوزې وزن دوولس درهمه دی وَهٰذَا لِأَنَّ الْجَوْدَةَ مُتَقَوِّمَةٌ فِي ذَاتِهَا او دا ځکه چي جودت بذات خود متقوم [قیمتداره] دی حَتَّى تُعْتَبَرَ عِنْدَ الْمُقَابَلَةِ بِخِلَافِ جِنْسِهَا همدا وجه ده چي د خپل خلاف جنس سره [د جودت] د مقابلې په وخت کي د جودت اعتبار کیږي وَفِي تَصَرُّفِ الْمَرِيضِ او د مریض په تصرف کي [د هغه اعتبار کیږي] وَإِنْ كَانَتْ لَا تُعْتَبَرُ عِنْدَ الْمُقَابَلَةِ بِجِنْسِهَا سَمْعًا که څه هم د خپل جنس سره د مقابلې په وخت کي [د شریعت] د سماع په وجه د جودت اعتبار نه کیږي فَأَمْكَنَ اعْتِبَارُهَا نو ځکه [په رهن کي] د جودت اعتبار کول ممکن دي وَفِي بَيَانِ قَوْلِ مُحَمَّدٍ نَوْعُ طُولٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په بیان کي څه اوږدوالی [او تفصیل] دی يُعْرَفُ فِي مَوْضِعِهِ مِنَ الْمَبْسُوطِ وَالزِّيَادَاتِ مَعَ جَمِيعِ شُعَبِهَا چي هغه په خپل ځای یعني په مبسوط او زیادات کي د خپل ټولو ښاخونو [او صورتونو] سره پېژندل سوی دی.

اللغات: ﴿أسداس﴾ جمع د سُدُس او سُدْسٌ ده: شپږمه حصه. يعني يو شی چي شپږ حصې کړل سي نو د هغه هري حصې ته سُدس وايي او دوو حصو ته يې سُدسان وايي.... او پنځو حصو ته يې خنسة أسداس وايي. ﴿يفرز﴾ دافعال د باب مضارع مجهوله ده: جلا کول. عليحده کول. ﴿متقومة﴾ د تفعل د باب اسم مفعول دی: قيمت والا؛ قيمتداره (قيمت لرونکی).

تشريح: دلته د دويم صورت په هکله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله او د امام محمد رَحِمَهُ الله اقوال ذکر سوي دي، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز جودت او ردائت لره اعتبار سته. نو د هغه په نيز د قيمت زياتوالی د وزن د زياتوالي په څېر دی نو په مذکوره مثال کي چي کله د کوزې قيمت دوولس درهمه دی (د جودت په وجه)، نو ګواکي د کوزې وزن هم دوولس درهمه دی، او دا دوولس درهمه دي شپږ حصې کړل سي او له هغه څخه دي د پنځو حصو (يعني د لسو درهمو) ضمان پر مرتهن لازم کړی سي يا په بله وينا دا چي ماته کوزه دي شپږ حصې کړل سي او له هغه څخه د پنځو حصو د قيمت (يعني د لسو درهمو) ضمان له مرتهن څخه واخيستل سي او پاته يوه حصه دي جلا کړل سي چي د هغې د قيمت ضمان دي نه ځني اخيستل کيږي، او د دې ضمان ورکولو په وجه مرتهن د کوزې د پنځو حصو مالک کيږي، ځکه ښکاره خبره ده چي کله مرتهن د پنځو حصو ضمان اداء کړی. نو هغه پنځه حصې د ده په ملکيت کي داخله سوې، او د هغوی قيمت (يعني لس درهمه) دي بيا مرتهن ته په رهن ورکول سي، او پاته يوه حصه (شپږمه حصه) کومه چي جلا کړل سوې ده. د هغې قيمت (دوه درهمه) دي هم د هغه نورو پنځو حصو د قيمت سره په رهن ورکول سي، د دې لپاره چي شيوع لازم نه سي؛ ځکه شيوع د رهن لپاره مانع دی (که څه هم شيوع طاري وي. ځکه د ظاهر روايت مطابق طاري شيوع هم داسي دی لکه مقارن شيوع کما تقدّم). (الثمار الهدايه)

لنډه دا چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د جودت او ردائت اعتبار کړی دی او په همدې وجه يې د قيمت زياتوب د وزن د زياتوب په څېر ګرځولی دی چي ګواکي د کوزې وزن دوولس درهمه دی او په همدې وجه يې کوزه شپږ حصې کړې ده.

وهٰذا إلخ: فرمايي چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ځکه د جودت اعتبار کړی دی، ځکه چي جودت بذات خود متقوّم (قيمتداره) دی، همدا وجه ده که د هغه په مقابله کي خلاف جنس وي، مثلاً د کَرَه سپينو زرو په مقابله کي سره زر وي، نو په دې صورت کي د سپينو زرو د جودت (کَره والي) اعتبار کيږي يعني د کَره سپينو زرو په اعتبار سره قيمت لګول کيږي او په دې کي څه اختلاف نسته. همدارنګه که مريض په مرضُ الموت کي سل کَره درهمه د سلو کوټه درهمو په عوض کي خرڅ کړي (يعني

مشتري ته سل کَرَه درهمه ورکړي او له هغه څخه سل کوټه درهمه واخلي)، نو د مريض دا تصرف فقط د هغه د مال په دريېمه حصه کي نافذيږي؛ ځکه چي د مريض په تصرف کي هم د جودت او ردائت اعتبار کړی سوی دی، نو له دې دوو مثالونو څخه معلومه سوه چي جودت بذات خود متقوم (قيمتداره) او معتبر دی کله چي د خلاف جنس په مقابله کي وي. لېکن کله چي د خپل جنس په مقابله کي وي، نو په دې وخت کي جودت لره اعتبار ځکه نسته چي په حديث کي له دې څخه منع سوې ده چي د جنس سره د مقابلې په وخت کي به د جودت اعتبار نه کيږي.

لنډه دا چي کله شريعت په نورو مسئلو کي د جودت اعتبار کړی دی، نو د رهن په صورت کي به هم چي تر څو ممکنه وي د هغه اعتبار کول کيږي، د دې لپاره چي راهن له نقصان او تاوان څخه وساتل سي. دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول سو.

ولي بيان قول محمد إلخ: فرمايي چي امام محمد رَحِمَهُ الله په دې مسئله کي زيات تفصيل او وضاحت کړی دی کوم چي پر شپږويشت (۲۶) فصلونو او صورتونو مشتمل دی، نو د نور بحث لپاره د امام محمد رَحِمَهُ الله کتاب مبسوط او زيادات مطالعه کړئ!. او په بنايه جلد ۱۱ کي له ۶۱۶ صفحې څخه تر ۶۱۸ صفحې پوري هم د همدې څه بحث سوی دی.

د رهن پر شرط بيع کول استحساناً جائز ده

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا عَلَى أَنْ يَرْهَنَهُ الْمُشْتَرِيْ شَيْئًا بِعَيْنِهِ فرمايي: او څوک چي په دې شرط يو غلام خرڅ کړي چي مشتري به هغه ته يو معيّن شی په رهن ورکوي جَازَ اسْتِحْسَانًا نو استحساناً دا جائز دي وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَجُوْزَ او قياس دا دی چي جائز نه سي وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ وَالِاسْتِحْسَانِ إِذَا بَاعَ شَيْئًا او پر همدې قياس او استحسان [دا صورت هم] دی کله چي يو شی خرڅ کړي عَلٰى أَنْ يُعْطِيَهُ كَفِيْلًا مُعَيَّنًا حَاضِرًا فِي الْمَجْلِسِ په دې شرط چي مشتري به بائع ته يو معيّن کفيل ورکوي کوم چي په مجلس کي حاضر وي فَقَبِلَ نو کفيل دا کفاله قبوله کړي وَجْهُ الْقِيَاسِ أَنَّهُ صَفْقَةٌ فِيْ صَفْقَةٍ د قياس دليل دا دی چي دا په عقد کي [دننه] عقد کول دي وَهُوَ مَنْهِيٌّ عَنْهُ حال دا چي له هغه څخه منع سوې ده وَلِأَنَّهُ شَرْطٌ لَا يَقْتَضِيهِ الْعَقْدُ او ځکه چي هغه يو داسي شرط دی کوم چي د عقد د مقتضا خلاف دی وَفِيْهِ مَنْفَعَةٌ لِأَحَدِهِمَا او په هغه کي له دواړو عاقدينو څخه د يوه عاقد نفع [هم] سته وَمِثْلُهُ يُفْسِدُ الْبَيْعَ او دا ډول شرط بيع فاسدوي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ شَرْطٌ

مُلَائِمٌ لِلْعَقْدِ او د استحسان دليل دا دى چي دا شرط د عقد بيع مناسب دى لِأَنَّ الْكَفَالَةَ وَالرَّهْنَ لِلِاسْتِيثَاقِ ځکه چي کفاله او رهن [د ثمن] د مضبوطي لپاره دي وَأَنَّهُ يُلَائِمُ الْوُجُوبَ او دا [استيثاق] د ثمن د وجوب مناسب دي.

اللغات: ﴿صفقة﴾ عقد، معامله. ﴿ملائم﴾ د مفاعلې د باب فاعل دى: مناسب، لايق. ﴿استيثاق﴾ د استفعال د باب مصدر دى: مضبوطول (مضبوط ګرځول) ټينګول، وثيقه اخيستل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى که څوک په دې شرط خپل غلام پر يو چا (مثلاً پر زيد) خرڅ کړي چي هغه (زيد) به ما ته يو شى په رهن اردي. يعني بائع و مشتري (زيد) ته ووايي چي زه خپل غلام په دې شرط پر تا خرڅوم چي ته به مثلاً ستا آس ما ته په رهن راکوې او کله چي ته ثمن اداء کړې نو خپل آس واپس واخله! يا بائع په دې شرط خپل يو شى خرڅ کړي چي مشتري به ما ته د ثمن اداء کولو لپاره متعيّن کفيل راکوي کوم چي د بيع په مجلس کي حاضر وي.

نو په دې دواړو صورتونو کي بالاتفاق بيع جائز ده او د هيچا اختلاف پکښي نسته. لېکن د قياس او استحسان اختلاف پکښي سته چي استحساناً دا بيع جائز ده لېکن قياساً جائز نه ده.

د قياس دليل دا دى چي د بيع په مينځ کي رهن داخلول او د رهن يا کفالت شرط لګول (چي په دې شرط يې خرڅوم چي ته به ما ته فلانکى شى په رهن راکوې يا کفيل به راکوې) صفقه في صفقه ده. يعني په يوه عقد کي دننه بل عقد کول دي، حال دا چي نبي کريم ﷺ له "صفقه في صفقه" څخه منع کړې ده لکه څرنګه چي د هدايې د ۳ جلد په اوله حصه کي ذکر سوي دي، نو ځکه په دې اعتبار سره قياساً دا بيع جائز نه ده.

او د قياس دويم دليل دا دى چي دا شرط د عقد د تقاضا خلاف دى؛ ځکه چي په عقد بيع کي پر مشتري رهن لازم نه دى چي هغه به بائع ته خپل يو شى په رهن اردي. او بل دا چي په دې شرط کي د بائع نفع ده او داسي شرطونه بيع فاسدوي، نو په دې وجه هم قياساً دا مذکوره بيع جائز نه ده.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دليل دا دى چي دا (د رهن او کفالت) شرط که څه هم د عقد بيع د مقتضا موافق نه دى لېکن که غور او فکر وسي نو د عقد بيع د مقتضا مخالف هم نه دى بلکي مناسب يې دى؛ ځکه د رهن او کفالت مقصد دا وي چي د بائع ثمن مضبوط او يقيني سي چي بيا مشتري په هغه کي څه درغلي نه وکړي. او ثمن هسي هم واجب او لازم دى که څه هم رهن او کفالت نه وسي (ځکه کله چي مشتري پر مبيع قبضه وکړي، نو ښکاره ده چي پر هغه ثمن واجب ګرځي)، نو رهن او کفالت به (کوم چي د مضبوطي او لزوم لپاره کيږي؟) د ثمن د وجوب مناسب ګڼل کيږي (نو دا شرط داسي دى لکه د ثمن د

کړه والي شرط لګول چي ګړه پیسې به راکوې!)، نو ځکه استحساناً په بیع کي د رهن او کفالت شرط لګول جائز دي او په دې سره بیع نه فاسدیږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

فَإِذَا كَانَ الْكَفِيْلُ حَاضِرًا فِي الْمَجْلِسِ وَالرَّهْنُ مُعَيَّنًا بيا كله چي هغه كفيل په مجلس كي حاضر وي او رهن [مرهون] معيّن وي اِعْتَبَرْنَا فِيْهِ الْمَعْنٰى نو موږ په هغه كي د معنىٰ اعتبار كړى دى وَهُوَ مُلَائِمٌ او معنىٰ [دعقد] مناسب ده فَصَحَّ الْعَقْدُ نو ځكه عقد صحيح دى وَإِذَا لَمْ يَكُنِ الرَّهْنُ وَلَا الْكَفِيْلُ مُعَيَّنًا او كله چي رهن او كفيل معيّن نه وي أَوْ كَانَ الْكَفِيْلُ غَائِبًا يا كفيل غائب وي حَتّٰى اِفْتَرَقَا تر دې چي دواړه عاقدين يو له بل څخه جلا سي لَمْ يَبْقَ مَعْنَى الْكَفَالَةِ وَالرَّهْنِ لِلْجَهَالَةِ نو د جهالت په وجه د كفالې او رهن معنىٰ پاته نه سوه فَبَقِيَ الْاِعْتِبَارُ لِعَيْنِهِ نو د عينِ شرط اعتبار باقي پاته سو فَيَفْسُدُ نو ځكه عقد به فاسديږي وَلَوْ كَانَ غَائِبًا فَحَضَرَ فِي الْمَجْلِسِ وَقَبِلَ او كه كفيل غائب وي بيا په مجلس كي حاضر سي او كفاله قبوله كړي صَحَّ نو عقد صحيح كيږي.

اللغات: ﴿معيّن﴾ د تفعيل د باب مفعول دى: ټاكل سوى، معلوم. ﴿ملائم﴾ د مفاعلې د باب فاعل دى: مناسب، لايق. ﴿افترقا﴾ د افتعال له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو له بل څخه جلا كېدل، بېلېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چي مخكي چي استحساناً عقد جائز ګرځول سوى دى، دا په هغه صورت كي جائز ګرځول سوى دى كله چي مرهون او كفيل متعين وي، كنې د جهالت په وجه عقد فاسديږي، او كه كفيل متعيّن وي لېكن دعقد په مجلس كي حاضر نه وي، نو هم عقد فاسديږي؛ ځكه كېدلاى سي چي كفيل دا كفالت (كفيل كېدل) قبول نه كړي.

او د متعيّن كېدلو په صورت كي دعقد جائز كېدلو او دغيرِ متعيّن كېدلو په صورت كي دعقد فاسدېدلو وجه دا ده چي په دې عقد كي چي كوم د كفالت او رهن شرط لګول سوى دى، په حقيقت كي د هغه دوه اړخه دي: ① د لفظ په اعتبار سره هغه شرط صفقه فى صفقه ده. ② او د معنىٰ په اعتبار سره هغه يو داسي شرط دى كوم چي دعقد مناسب دى، نو د متعيّن كېدلو په صورت كي د معنىٰ اعتبار كړى سوى دى او عقد جائز ګرځول سوى دى او د نا متعيّن كېدلو په صورت كي د لفظ اعتبار كړى سوى دى او عقد فاسد ګرځول سوى.

ولوكان غائبًا إلخ: او كه چیري كفیل له مخكې څخه په مجلس كې نه وي لېكن د عاقدینو تر جلا كېدلو مخكې حاضر سي او كفاله قبوله كړي، نو جائز دي.

یادونه: په دلیل او علت كې چې مصنف رَحِمَهُ الله "لِلْجَهالَةِ" ویلي دي دا څه مخدوش دي: ځكه د غائب كفیل په صورت كې دا علت مناسب نه لګي، لهذا تر "للجهالة" وروسته دا اضافه مناسب وه "للجهالةِ والجوازِ أن لا يقبل الكفالة عند حضوره". (اشرف الهدايه)

كه مشتري د مرهون شي له ورسپارلو څخه منع سي (حكم او د امام زفر اختلاف)

وَلَوِامْتَنَعَ الْمُشْتَرِىْ عَنْ تَسْلِيْمِ الرَّهْنِ او كه مشتري د رهن [مرهون] له ورسپارلو څخه منع سي لَمْ يُجْبَرْعَلَيْهِ نو پر هغه به جبر نه كېږي [یعني پرُ ورسپارلو به نه مجبورول كېږي] وَقَالَ زُفَرُ: يُجْبَرُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې جبر به كېږي لِأَنَّ الرَّهْنَ إِذَا شُرِطَ فِي الْبَيْعِ ځكه رهن چې كله په بيع كې شرط كړى سي صَارَ حَقًّا مِنْ حُقُوْقِهِ نو هغه د بيع له حقوقو څخه یو حق وګرځي كَالْوَكَالَةِ الْمَشْرُوْطَةِ فِي الرَّهْنِ لكه هغه وكالت كوم چې په رهن كې شرط كړى سوى وي فَيَلْزَمُهُ بِلُزُوْمِهِ نو د بيع د لازمېدلو په وجه رهن [هم] پر مشتري لازمیږي وَنَحْنُ نَقُوْلُ: اَلرَّهْنُ عَقْدُ تَبَرُّعٍ مِنْ جَانِبِ الرَّاهِنِ او موږ وایو: چې رهن د راهن له طرفه د تبرّع عقد دى عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لكه څرنګه چې [مخكې] موږ بیان كړه وَلَا جَبْرَ عَلَى التَّبَرُّعَاتِ او پر تبرّعاتو جبر نسته [یعني پر تبرع او نفلي كارونو څوک نه مجبورول كېږي] وَلٰكِنَّ الْبَائِعَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ رَضِيَ بِتَرْكِ الرَّهْنِ لېكن بائع ته اختيار دى كه خوښه یې وي نو د رهن په پرېښودلو دي راضي سي وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ او كه خوښه یې وي نو بيع دي فسخ كړي لِأَنَّهُ وَصْفٌ مَرْغُوْبٌ فِيْهِ ځكه چې رهن یو داسي وصف دى كوم چې مرغوب فيه [او خوښ كړى سوى] دى [یعني داسي وصف دى چې هغه ته رغبت كېږي] وَمَا رَضِيَ إِلَّا بِهِ او بائع نه دى راضي سوى مګر په رهن سره فَيَتَخَيَّرُ بِفَوَاتِهِ نو ځكه د هغه د فوتېدلو په وجه به بائع ته اختيار وي إِلَّا أَنْ يَدْفَعَ الْمُشْتَرِىْ الثَّمَنَ حَالًّا مګر دا چې مشتري نغد ثمن وركړي لِحُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ ځكه چې مقصود حاصل سو [یعني حق (ثمن) تر لاسه سو] أَوْ يَدْفَعَ قِيْمَةَ الرَّهْنِ رَهْنًا یا مشتري د رهن [مرهون] قیمت د

رهن په توګه ورکړي لِأَنَّ يَدَ الْاِسْتِيفَاءِ تَثْبُتُ عَلَى الْمَعْنَى وَهُوَ الْقِيْمَةُ ځکه چې د (حق) ترلاسه کولو قبضه پر معنیٰ ثابتیږي چې هغه قیمت دی.

اللغات: ﴿فسخ﴾ د فتح د باب ماضي ده: فسخ کول. بيع او سودا ماتول. ﴿يجبر﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: جبر کول. مجبوره کول (په يو چا په زوره يو کار کول) ﴿تبرع﴾ د تفعل مصدر دی: احسان کول. داسي کار کول کوم چې د انسان پر ذمه واجب نه وي لکه وصيت. هبه او داسي نور. بلا عوضه (مفت) شی ورکول. جمع: تبرعات. ﴿يتخير﴾ د تفعل مضارع ده؛ اختيار من کېدل. اختيار حاصلېدل. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: (حق) ترلاسه کول. پوره اخيستل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که بائع د رهن په شرط سره خپل غلام خرڅ کړي چې ما ته به ستا فلانکی شی مثلاً آس په رهن راکوې! او مشتري يې ورکړي او عقد پوره سي. لېکن کله چې د ورکولو وخت راسي نو مشتري د مرهون (آس) له ورسپارلو څخه انکار وکړي. نو زموږ په نېز حکم دا دی چې په دې باره کي به پر مشتري جبر نه کيږي (يعني د مرهون پر ورسپارلو به نه مجبورول کيږي). لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز پر مشتري به جبر کيږي؛ ځکه کله چې په بيع کي د رهن شرط ولګول سو. نو هغه د بيع د حقوقو په ډېر يو حق سو. لکه کله چې يو راهن بل څوک وکيل جوړ کړي او هغه ته داسي ووايي چې کله د قرض اداء کولو وخت راسي نو ته مرهون شی خرڅ کړه او زما قرض په اداء کړه!. نو دا وکالت لازم سو او مؤکل يعني راهن هغه وکيل له وکالت څخه نه سي معزوله کولای. نو همداسي په مذکوره مسئله کي هم عقدِ رهن په بيع کي لازم سو لهذا که مشتري د مرهون له وسپارلو څخه انکار کوي نو پر هغه به جبر کيږي؛ ځکه چې د واجب حق پر ورسپارلو جبر کېدلای سي.

ونحن نقول إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله زموږ له طرفه دليل بيانوي فرمايي چې رهن د راهن له طرفه تبرع ده لکه مخکي چې موږ د دې تفصيل بيان کړی. او اُصول دا دی چې "لا جبر في التبرعات" يعني په تبرعاتو کي جبر نه چليږي. نو ځکه دلته به پر مشتري جبر نه کيږي. خو بائع ته دا دوه اختياره حاصليږي چې ① يا دي له رهن څخه بغير بيع وکړي او هر وخت چې د قرض ثمن وخت پوره سي. نو ثمن دي ځني واخلي. ② يا دي بيع فسخ کړي: ځکه چې هغه د مرغوب وصف په وجه يعني د رهن په وجه د قرض په معامله راضي سوی وو. لېکن کله چې دلته په عقد کي دا وصف فوتيږي. نو ښکاره خبره ده چې بائع ته به د بيع د کولو يا نه کولو اختيار خامخا حاصليږي.

إلا أن يدفع المشتري إلخ: هو! که چيري مشتري د مرهون (آس) له ورسپارلو څخه تر انکار کولو وروسته سمدستي ثمن اداء کړي. يا د مرهون (آس) پر ځای د هغه قيمت په رهن ورکړي. نو په دې

دواړو صورتونو کې د بائع اختیار ساقطیږي: ځکه په اول صورت یعني د ثمن اداء کولو په صورت کې بائع ته خپل مقصود شی یعني ثمن حاصل سو. لهذا د رهن معامله اوس بې فایدې ده. او په دویم صورت کې هغه ته د مرهون مالیت او قیمت حاصل سو، او مخکې ذکر سوه چې د رهن حکم او مقصد یعني د "ید الاستیفاء" ثبوت په همدې مالیت او قیمت سره حاصلیږي. لهذا په دې صورت کې ګواکې د رهن مقصود حاصل دی، نو ځکه په دې دویم صورت کې به هم د بائع خیار ساقطیږي.

د رهن یو صورت او د امام زفر او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله اختلاف

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کې] فرمایي وَمَنِ اشْتَرٰى ثَوْبًا بِدَرَاهِمَ او څوک چې د څو درهمو په عوض کې یوه کپړه رانیسي فَقَالَ لِلْبَائِعِ: أَمْسِكْ هٰذَا الثَّوْبَ حَتّٰى أُعْطِيَكَ الثَّمَنَ او بائع ته ووایي: چې دا کپړه در سره ونیسه [وساته]! تر دې چې زه ستا ثمن درکړم فَالثَّوْبُ رَهْنٌ نو دا کپړه رهن ده لِأَنَّهُ أَتٰى بِمَا يُنْبِئُ عَنْ مَعْنَى الرَّهْنِ ځکه هغه په داسې څه سره راتګ کړی دی [یعني داسې الفاظ یې ویلي دي] کوم چې د رهن د معنیٰ خبر ورکوي وَهُوَ الْحَبْسُ إِلٰى وَقْتِ الْإِعْطَاءِ او هغه د اعطاء [ثمن ورکولو] تر وخته پورې راګرځول دي وَالْعِبْرَةُ فِي الْعُقُوْدِ لِلْمَعَانِيْ او په عقدونو [معاملاتو] کې اعتبار معناګانو لره دی حَتّٰى كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِشَرْطِ بَرَاءَةِ الْأَصِيْلِ حَوَالَةً همدا وجه ده چې کفاله د اصیل د برې کېدلو په شرط سره حواله ګرځي [یعني که په کفاله کې د اصیل د برې کېدلو شرط ولګول سي نو هغه حواله ګرځي] وَالْحَوَالَةُ فِيْ ضِدِّ ذٰلِكَ كَفَالَةٌ او حواله د دې په ضد سره [یعني د اصیل د نه برې کېدلو په شرط سره] کفاله ګرځي [یعني که په حواله کې د اصیل د نه برې کېدلو شرط ولګول سي نو هغه کفاله ګرځي]

وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَكُوْنُ رَهْنًا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې دا کپړه رهن نه ګرځي وَمِثْلُهُ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ او همداسې له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی لِأَنَّ قَوْلَهُ "أَمْسِكْ" يَحْتَمِلُ الرَّهْنَ وَيَحْتَمِلُ الْإِيْدَاعَ ځکه چې د مشتري دا قول "أَمْسِكْ" [چې دا کپړه در سره وساته!] د رهن احتمال هم لري او د ایداع [امانتاً ایښوولو] احتمال هم لري وَالثَّانِيْ أَقَلُّهُمَا او دویم [ایداع] په دې دواړو کې أقل [د کمې درجې] دی [یعني په رهن او ایداع کې ایداع اخف او ادنیٰ دی] فَيُقْضٰى بِثُبُوْتِهِ نو ځکه د هغه د ثابتېدلو فیصله به کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: أَمْسِكْهُ بِدَيْنِكَ أَوْ بِمَالِكَ په خلاف د هغه صورت کله چې مشتري ووایي: چې دا کپړه د خپل قرض یا د خپل مال په عوض کې در سره ونیسه! لِأَنَّهُ لَمَّا

قَابَلَهُ بِالدَّيْنِ ځکه کله چې مشتري کپړه د قرض مقابل وګرځوله فَتَقَدُ عَيَّنَ جِهَةَ الرَّهْنِ نو هغه د رهن اړخ متعيّن کړی قُلْنَا: لَمَّا مَدَّهُ إِلَى الْإِعْطَاءِ موږ [په جواب کې] وايو: چې کله مشتري د کپړې نيول[امساک الثوب] د ثمن ورکولو تر وخته پورې اوږده کړه عَلِمَ أَنَّ مُرَادَهُ الرَّهْنُ نو معلومه سوه چې د هغه مراد رهن دی.

اللغات: ﴿أَمْسِكْ﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: نيول، راګرځول او ساتل. ﴿ينبغي﴾ له مخکينې بابه د مضارع صيغه ده: خبر ورکول. ﴿إعطاء﴾ له مخکينې بابه مصدر دی: ورکول. ﴿عِبرة﴾ اعتبار. ﴿عقود﴾ جمع د عَقْدٌ ده: معامله.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو څوک مثلاً خالد يوه کپړه (يا يو تان) رانيسي او بائع ته ثمن نه ورکړي بلکې ورته ووايي چې تر څو زه تا ته ثمن نه درکړم تر هغه وخته دا کپړه د ځان سره وګرځوه!، نو زموږ په نيز دا کپړه رهن کيږي، لېکن د امام زفر او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز هغه نه رهن کيږي بلکې امانت کيږي.

د دې کپړې په رهن کېدلو باندې زموږ دليل دا دی چې که څه هم د مشتري (خالد) په کلام سره په ښکاره رهن نه ثابتيږي، لېکن د معنیٰ په اعتبار سره هغه د رهن خبر ورکوي، په دې توګه چې مشتري د ثمن ورکولو تر وخته پورې د دې کپړې د ګرځولو خبره کړې ده چې "أمسكه حتى أعطيك الثمن" يعني دا کپړه تر هغه وخته وګرځوه او د ځان سره يې وساته! تر څو چې زه ستا ثمن درکړم. او په رهن کې همداسې کيږي چې د قرض ورکولو تر وخته پورې مرهون شی مرتهن د ځان سره ګرځولی او ساتلی وي، نو پر دې بناء په مذکوره مسئله کې به دا کپړه د بائع سره رهن وي: ځکه چې په هغه کې د رهن معنیٰ موجوده ده والعبرة في العقود للمعاني.

مثلاً که زيد د خالد لپاره د قرض کفيل سي چې که عُمر تا ته قرض در نه کړي نو زه يې کفيل او ذمه وار يم. نو په دې صورت کې مکفول لهٗ (يعني خالد) له کفيل (زيد) او له اصيل (عُمر) دواړو څخه د خپل حق (قرض) مطالبه کولای سي، او په حواله کې اصيل بري کيږي مثلاً که عُمر د خالد قرض پر زيد حواله کړي چې ستا قرض به زيد درکړي او زيد دا حواله قبوله کړي نو اصيل (عُمر) بري کيږي لهذا خالد به يوازې له حواله قبلونکي (يعني له زيد) څخه مطالبه کوي، نه له اصيل څخه. لېکن که چيرې په کفاله کې د اصيل (عُمر) د بري کېدلو شرط ولګول سي نو هغه په حواله سره بدليږي. يا که

چيرې په حواله کې د اصيل نه برې کېدلو (او له هغه څخه د مطالبه کولو) شرط ولګول سي نو حواله په کفاله سره بدليږي. او د "العبرة في العقود للمعاني" پر بناء لفظاً منعقده کېدونکې کفاله "حواله" ګرځي او حواله "کفاله" ګرځي، نو همدغسې په مذکوره مسئله کې هم د معنیٰ په اعتبار کولو سره عقدِ رهن ثابتيږي.

د امام زفر او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې د مشتري په قول "أمسکه إلخ" کې د رهن احتمال هم سته او د وديعت احتمال هم پکښې سته، او اُصول دا دی چې کله په يو شي کې دوه داسې اړخه سره جمع سي چې يو اقویٰ او اعلیٰ وي او بل اخفّ او اقلّ وي او د اقویٰ د اثبات لپاره قطعي او ظاهرِي دليل نه وي، نو حکم د اخفّ وطرف ته ګرځول کيږي، نو ځکه په دې مسئله کې مورد د مشتري قول "امسکه إلخ" د وديعت وطرف ته ګرځولی دی؛ ځکه وديعت له رهن څخه اخفّ او سپک دی، ځکه چې د وديعت ضمان نه واجبيږي او د رهن ضمان واجبيږي.

بخلاف ما إذا قال إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مشتري "أمسك هٰذا الثوب بدَيْنِكَ يا بِمَالِكَ" ووايي، نو په دې صورت کې د امام زفر او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله په نيز هم په دې سره رهن ثابتيږي؛ ځکه کله چې مشتري "بدينك" يا "بمالك" ووايل يعني ثوب (کپړه) يې د قرض يا مال مقابل وګرځول، نو په دې سره يې د رهن احتمال ته تقويه ورکړه، نو ځکه په دې الفاظو سره به رهن ثابتيږي.

قلنا إلخ: په دې سره د مذکوره مسئلې په اول صورت کې د امام زفر او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب ورکوي فرمايي چې هلته هم د رهن احتمال قوي او راجح دی؛ ځکه کله چې مشتري د امساکُ الثوب موده د اعطاء الثمن (ثمن ورکولو) تر وخته پورې متعيّن کړه، نو ښکاره سوه چې د هغه مراد رهن دی، نه وديعت، نو ځکه له دغو الفاظو "أمسکه حتّى اعطيك الثمن" څخه به هم رهن مراد ول کيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فصل

تشريح: دا فصل هم د رهن او د رهن د اُمورو سره متعلق دی، مخکښې تر دې د رهن هغه مسئلې بيان سوي دي چې په هغوی کې په مرهون، راهن او مرتهن کې تعدّد نسته (يا په بله وينا دا چې په هغوی کې ديوه مرهون، يوه راهن يا يوه مرتهن بيان دی)، اوس په دې فصل کې هغه مسئلې بيانوي چې په هغوی کې مرهون يا راهن يا مرتهن متعدد وي (يا په بله وينا دا چې له يوه څخه زيات يعني دوه وي)، او ښکاره خبره ده چې اثنين تر واحد وروسته وي، نو ځکه يې دا فصل وروسته کړی دی. (بنايه ج:۱۱)

دوه شيان په رهن (په ګرو) ايښوول (يو راهن او دوه مرتهنان)

وَمَنْ رَهَنَ عَبْدَيْنِ بِأَلْفٍ او څوک چې دوه غلامان د زرو درهمو په عوض کې په رهن ورکړي فَقَضٰى حِصَّةَ أَحَدِهِمَا بيا د يوه غلام حصه اداء کړي لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَقْبِضَهُ نو ده ته دا حق نسته چې پر هغه قبضه وکړي حَتّٰى يُؤَدِّيَ بَاقِيَ الدَّيْنِ تر دې چې پاتې قرض [هم] اداء کړي وَحِصَّةُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَا يَخُصُّهُ إِذَا قُسِّمَ الدَّيْنُ عَلٰى قِيْمَتِهِمَا او له دوی دواړو څخه د هر يوه غلام حصه هغه ده کوم چې ور سره خاص سي [يعني خصوصاً د هغه په حصه کې راسي] کله چې قرض د دوی دواړو پر قيمت تقسيم کړی سي وَهٰذَا لِأَنَّ الرَّهْنَ مَحْبُوْسٌ بِكُلِّ الدَّيْنِ او دا ځکه چې رهن [دوه غلامان] د ټوله قرض په عوض کې محبوس [راګرځول سوي] دي فَيَكُوْنُ مَحْبُوْسًا بِكُلِّ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَائِهِ نو د قرض د هر، هر جزء په عوض کې به رهن محبوس وي مُبَالَغَةً فِي حَمْلِهِ عَلٰى قَضَاءِ الدَّيْنِ د مبالغه کولو لپاره پر قرض اداء کولو د راهن په هڅولو کې [يعني چې راهن (مقروض) د قرض پر ادا ينه ښه وهڅول سي] وَصَارَ كَالْمَبِيْعِ فِيْ يَدِ الْبَائِعِ او دا داسي سو لکه مبيع د بائع په قبضه کې.

اللغات: ﴿قَضٰى﴾ د ضرب ماضي ده، د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: اداء کول. ﴿حصة﴾ تاکل سوي برخه. ﴿يخصّ﴾ د نصر مضارع ده: خاص کېدل. ﴿حَمْل﴾ د ضرب مصدر دی، د دې باب په صله کې چې "علیٰ" راسي نو معنیٰ يې ده: هڅول، پارول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي ديو سړي پر بل چامثلاً د خالد پر زيد زر درهمه باندي دي. او زيد (مقروض) د هغه زرو درهمو په عوض كي خپل دوه غلامان خالد ته په رهن وركړه چي له هغوى څخه ديوه غلام قيمت اُووه سوه او د بل قيمت درې سوه درهمه دى (يا مثلاً ديوه غلام قيمت پنځلس سوه درهمه دى او د بل قيمت زر درهمه دى). بيا زيد اُووه سوه درهمه قرض اداء كړى او درې سوه درهمه باقي پاته سوه (يا مثلاً پنځلس سوه درهمه قرض يې اداء كړى او زر درهمه باقي پاته سوه). نو آيا اوس زيد ته دا حق سته چي هغه غلام له خالد څخه واخلي چي قيمت يې اُووه سوه (يا پنځلس سوه) دى.

نو فرمايي زيد (مقروض) ته دا حق نسته بلكي كله چي باقي مانده قرض (درې سوه درهمه) هم اداء كړي او ټوله قرض پوره سي. نو بيا به خپل دوه غلامان يوځاى له خالد څخه اخلي؛ ځكه مرهون (دوه غلامان) د ټوله قرض په عوض كي محبوس دي، نو دا حبس به د قرض د هر. هر جز په عوض كي وي (د قرض د هر درهم او هرې حصې په عوض كي به مرهون محبوس وي) لهذا تر څو چي د قرض لږ حصه هم پاته وي. زيد ته دا حق نسته چي مرهون له مرتهن (خالد) څخه واخلي. او په دې كي راز او ښېګڼه دا هم ده چي مقروض (زيد) به د ټوله قرض د اداء كولو په فكر كي وي ګواكي دا د قرض پر ادا‌ينه د مقروض د هڅولو تدبير دى.

او د دې پورتنى مسئلې مثال بعينهٖ همداسي دى لكه زيد چي له خالد څخه دوه غلامان په زر درهمه رانيسي چي ديوه قيمت اُووه سوه او د بل قيمت درې سوه درهمه وي او زيد (مشتري) اُووه سوه ثمن وخالد (بائع) ته وركړي، نو زيد ته دا حق نسته چي هغه يو غلام واخلي بلكي كله چي ټوله ثمن اداء كړي نو بيا به مبيع (دوه غلامان) ورسپارل كيږي.

وحصة كل واحد إلخ: د دې جملې حاصل دا دى چي دا كوم دوه غلامان چي په رهن وركول سوي دي. د دوى د هريوه د حصې معلومولو طريقه دا ده چي د دواړو قيمت دي معلوم كړل سي او قرض دي پر تقسيم كړل سي نو د هريوه په حصه كي چي څومره قرض راسي. هاغه يې حصه ده. لكه په مذكوره مسئله كي چي ديوه حصه اُووه سوه او د بل حصه درې سوه درهمه ده.

په پورتني صورت كي د هر يوه مرهون حصه متعيّنول چي د دومره په عوض كي رهن دى

فَإِنْ سَمّٰى لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ أَعْيَانِ الرَّهْنِ شَيْئًا مِنَ الْمَالِ الَّذِي رَهَنَهُ بِهِ بيا كه راهن متعين كړي درهن [مرهونه] شيانو څخه د هريوه لپاره څه مال له هغه مال څخه چي د هغه په عوض كي يې دا [مرهونه شيان] په رهن وركړى دى [يا په بله وينا دا چي كه راهن له مرهونه شيانو (دوو غلامانو) څخه د هريوه لپاره له هغه مال څخه حصه متعينه كړي چي د هغه په عوض كي يې دوى په رهن وركړي دي] فَكَذَا الْجَوَابُ فِي رِوَايَةِ

الْأَصْلِ نو همداسي جواب [او حکم دی] د مبسوط په روايت کي وَفِي الزِّيَادَاتِ: لَهُ أَنْ يَقْبِضَهُ إِذَا أَدَّى مَا سَمَّى لَهُ او په زيادات کي دي: چي راهن ته دا حق سته چي پر يوه [غلام] قبضه وکړي کله چي هغه مال اداء کړي چي د هغه [يوه غلام] لپاره متعين کړی وي وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ الْعَقْدَ مُتَّحِدٌ لَا يَتَفَرَّقُ بِتَفَرُّقِ التَّسْمِيَةِ د اول [يعني د مبسوط د روايت] دليل دا دی چي دا يو عقد دی کوم چي نه متفرق کيږي په تفرق سره [د مال او حصې] د متعين کولو كَمَا فِي الْمَبِيعِ لکه څرنګه چي په مبيع کي دي وَجْهُ الثَّانِي أَنَّهُ لَا حَاجَةَ إِلَى الِاتِّحَادِ او د دويم [يعني د زيادات د روايت] دليل دا دی چي يو والي ته څه ضرورت نسته لِأَنَّ أَحَدَ الْعَقْدَيْنِ لَا يَصِيرُ مَشْرُوطًا فِي الْآخَرِ ځکه له دوو عقدونو څخه يو په بل کي مشروط نه ګرځي أَلَا يَرَى أَنَّهُ لَوْ قَبِلَ الرَّهْنَ فِي أَحَدِهِمَا آيا نه ګوري چي که مرتهن له دوی دواړو څخه په يوه کي رهن قبول کړي جَازَ نو جائز دي.

اللغات: ﴿سمّى﴾ د تفعيل ماضي ده: نومول، متعين کول، ټاکل او بيانول. ﴿أعيان﴾ جمع د عَيْن ده: عين شيان. ﴿متحد﴾ د افتعال د باب اسم فاعل دی: سره يو. دلته د "واحد" په معنیٰ سره دی. ﴿يتفرق﴾ د تفعّل مضارع ده: جلا کېدل، سره بېلېدل.

تشريح: يو صورت خو هغه دی کوم چي مخکي تېر سو، لېکن که راهن (زيد) د دې تعين او وضاحت هم وکړي چي دا يو غلام د قرض د اوو سوو درهمو په عوض کي رهن دی او دا بل غلام د قرض د دريو سوو درهمو په عوض کي رهن دی، نو آيا په دې صورت کي چي کله راهن اووه سوه درهمه اداء کړي، نو هغه ته دا جائز دي که نه چي هغه اووه سوه درهمو والا غلام له مرتهن (خالد) څخه واخلي؟.

همدارنګه که قرض مثلاً زر درهمه وي او مقروض دوه غلامان په رهن ورکړي او دا واضحه کړي چي دا دواړه د پنځه سوو درهمو په عوض کي رهن دي او پاته پنځه سوه درهمه بغير له رهن څخه دي، بيا پنځه سوه درهمه اداء کړي او ووايي چي زما دواړه غلامان را کړه! ځکه دا هغه پنځه سوه دي چي د هغوی په عوض کي غلامان مرهون دي، نو آيا دا جائز دي؟.

نو فرمايي چي په دې باره کي د مبسوط او زيادات روايتونه سره مختلف دي. په مبسوط کي دي چي جائز نه دي او په زيادات کي دي چي جائز دي.

د مبسوط د روايت دليل دا دی چې دا عقد (دوه غلامان په رهن ورکول) متحد او يو عقد دی. نو په مذکوره وضاحت او تعين سره د هغه توحد نه ختميږي او تفرق او تعدد نه پکښې پيدا کيږي. لهذا کله چې دا يو عقد سو، نو د دغه مسئلې به هم هاغه حکم وي کوم چې د مخکنۍ مسئلې دی. او د دې مثال بعينه داسي دی لکه بائع چې دوه غلامان په زر درهمه خرڅ کړي او دا واضحه کړي چې د يوه قيمت اُووه سوه او د دې بل يوه قيمت درې سوه درهمه دی. بيا مشتري د يوه غلام قيمت ورکړي او پر هغه قبضه کول وغواړي (يعني وغواړي چې له بائع څخه هغه يو غلام واخلي). نو مشتري ته دا حق نسته د دې لپاره چې تفرق صفقه (د عقد متفرق کېدل) لازم نه سي.

د زيادات د روايت دليل دا دی چې په حقيقت کې دا دوه جلا عقدونه سوه. او اُصول دا دی چې يو عقد د بل عقد لپاره شرط نه گرځي، همدا وجه ده چې کله راهن دا واضحه کړي چې دا غلام د قرض د اُوو سوو په عوض کې دی او دا بل د دريو سوو په عوض کې دی او مرتهن فقط يو عقد قبول کړي او په بل غلام کې يې قبول نه کړي، نو جائز دي.

خلاصه د خبرې دا چې دغه په رهن کې تفرق دی کوم چې جائز دی او مضر نه دی، نو د هغوی د متحد کولو څه حاجت نسته، خو ضرر فقط د بيع په صورت کې لازميږي ځکه په بيع کې تفرق مضر دی، او د دې وجه دا ده چې په بيع کې عادت دا وي چې جيّد او ردي (ښه او خراب) دواړه يوځای سره خرڅول کيږي نو که په جيّد کې عقد بيع قبول کړی سي او ردّي ور پرېښودل سي نو د بائع ضرر به لازم سي.

يو شی د دوو کسانو د قرض په عوض کې په رهن ايښوول (حکم او تفصيل)

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي فَإِنْ رَهَنَ عَيْنًا وَاحِدَةً عِنْدَ رَجُلَيْنِ او که څوک يو شی د دوو کسانو سره په رهن کښېږدي بِدَيْنٍ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَيْهِ د هغه قرض په عوض کې کوم چې د دې دوو کسانو پر هغه باندي دی جَازَ نو جائز دي وَجَمِيعُهَا رَهْنٌ عِنْدَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا او هغه [مرهون] شی ټوله د دوی هر يوه سره رهن دی لِأَنَّ الرَّهْنَ أُضِيفَ إِلَى جَمِيعِ الْعَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چې د رهن اضافت د ټوله شي وطرف ته په يوه عقد کې سوی دی وَلَا شُيُوعَ فِيهِ او په دې کې شيوع نسته وَمُوجَبُهُ صَيْرُورَتُهُ مُحْتَبِسًا بِالدَّيْنِ او د رهن حکم د قرض په عوض کې د مرهون شي محبوس گرځېدل دي وَهٰذَا مِمَّا لَا يَقْبَلُ الْوَصْفَ بِالتَّجَزِّيْ او دا له هغه شيانو څخه دي کوم چې د تجزی [او انقسام] وصف نه قبلوي فَصَارَ مَحْبُوسًا بِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو مرهون شی د دوی هر يوه [د قرض] په

عوض کي محبوس وګرځېدی وَهٰذَا بِخِلَافِ الْهِبَةِ مِنْ رَجُلَيْنِ او دا دوو خلګو ته د هبه کولو په خلاف دي [یعني چي یو څوک دوو کسانو ته یو شی هبه کړي] حَيْثُ لَا تَجُوزُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ چي هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي فَإِنْ تَهَايَئَا بیا که دواړه [قرضخواهان] نوبت وټاکي فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَوْبَتِهِ كَالْعَدْلِ فِي حَقِّ الْآخَرِ نو له دوی څخه هر یو په خپل نوبت کي د بل یوه په حق کي د عادل په څېر دی.

اللغات: ﴿أضاف﴾ د افعال د باب ماضي ده: اضافت او نسبت کول. مضاف کول (منسوب کول). ﴿صفقة واحدة﴾ یو عقد (یو معامله). ﴿شیوع﴾ اشتراک (غیر مقسوم شرکت). ﴿التجزی﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: جزء جزء کېدل (حصه حصه کېدل)، ټوټه ټوټه کېدل. ﴿تهایئا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه غائب مضارع صیغه ده: په وار او نوبت سره یو کار کول یا نفع حاصلول. په نوبت نوبت یو شی اخیستل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که پر یو سړي د دوو کسانو مثلاً پر زید د خالد او حامد لس زره روپۍ باندي دي او زید د هغه په عوض کي خپل یو شی مثلاً موبایل (تلیفون) دوی دواړو ته په رهن ورکړي، نو دا رهن جائز دی او داسي به ګڼل کیږي چي ټول موبایل د هر یوه سره مرهون او محبوس دی.

او که سوال وسي چي دا رهن نه جائز کېدل پکار دي ځکه چي په مستحقینو کي تعدّد دی (یعني د مرهون شي مستحقین دوه کسان دي) چي په دې وجه په رهن کي شیوع راغلی دی کوم چي د رهن له جواز څخه مانع دی.

نو جواب دا دی چي په محلِ واحد کي د مستحقینو تعدّد شیوع نه ثابتوي. مثلاً که پر یوه کس د ډېرو خلګو قصاص واجب وي، نو دا د مستحقینو تعدّد د محل شیوع نه لازموي.

او که سوال وسي چي شیوع خو سته ځکه چي دوو کسانو ته د رهن اضافت د دوی په مینځ کي نیم په نیمه د رهن (مرهون) انقسام ثابتوي.

نو جواب دا دی چي د جواز لپاره به انقسام نه کیږي بلکي مرهون شی (موبایل) به د دواړو کسانو (قرضخواهانو) په حق کي محبوس ګرځول کیږي یعني ګواکي بغیر له انقسام څخه مرهون شی د هر یوه سره پوره محبوس دی؛ ځکه په موبایل کي خو دا صورت نه سي جوړېدلای چي د دارو سره محبوس پاته سي، نو داسي به ګڼل کیږي چي د دوی هر یوه د حق په عوض کي محبوس دی.

وهٰذا بخلاف الهبة إلخ: څرنګه چي د هبې مقصد تمليک دی (يعني چي موهوب لهٔ د موهوب شي مالک کړی سي) لهٰذا که يو شی دوو کسانو ته پوره هبه کړی سي نو دواړه کسان د هغه ټوله شي پوره مالکان کول محال او ناممکن دي، په دې وجه امام صاحب رَحِمَهُ الله دا ناجائز ګرځولي دي.

فإن تهايئا إلخ: فرمايي که چيري دوی دواړه نوبت وټاکي چي مرهون شی (موبايل) به مثلاً پنځه ورځي ستا سره وي او پنځه ورځي به زما سره وي، نو دا جائز او صحيح دي، او له دوی څخه هريو به په خپل نوبت کي د عادل کس په څېر وي يعني څرنګه چي کله يو مرهون شی د مرتهن پر ځای د عادل کس سره کښېښوول سي نو که څه هم هغه د عادل سره وي لېکن هغه د مرتهن سره موجود شمېرل سيږي، همدارنګه کله چي دلته مرهون شی (موبايل) د يوه کس سره وي نو هغه به د بل يوه سره موجود شمېرل کيږي او په دې توګه به پر مرهون شي د دواړو قبضه باقي پاته وي.

په پورتني صورت کي د رهن هلاکېدلو مسئله

قَالَ فرمايي [کله چي مرهون هلاک سي] وَالْمَضْمُوْنُ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حِصَّتُهُ مِنَ الدَّيْنِ [نو] له دوی دواړو [قرضخواهانو] څخه پر هريوه د هغه د قرض حصه مضمونه ده [يعني پر هريوه د خپل قرض د حصې ضمان لازم دی] لِأَنَّ عِنْدَ الْهَلَاكِ يَصِيْرُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُسْتَوْفِيًا حِصَّتَهُ ځکه [د مرهون] د هلاکېدلو په وخت کي له دوی څخه هريو د خپلي حصې ترلاسه کونکی ګرځي إِذِ الْاِسْتِيْفَاءُ مِمَّا يَتَجَزَّأُ ځکه چي استيفاء له هغه شيانو څخه ده کوم چي متجزي کيږي [يعني په (قرض) ترلاسه کولو کي تجزی کېدلای سي]

اللغات: ﴿المضمون﴾ د سمع د باب اسم مفعول دی: د څه چي ضمان (تاوان) واجب وي، هغه څه چي ضمان يې ورکول کيږي. ﴿يتجزی﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: جزء جزء کېدل (حصه حصه کېدل)، ټوټه ټوټه کېدل. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (حق) ترلاسه کول، اخيستل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي مرهون شی تر څو موجود او باقي وي نو تر هغه وخته پوري خو انقسام نه پکښې راځي بلکي داسي به ګڼل کيږي چي ګواکي د هريوه قبضه په ټوله مرهون کي ده. لېکن که مرهون هلاک سي، نو بيا په هغه کي انقسام او تجزی کيږي او له دواړو قرضخواهانو (خالد او حامد) څخه هريو د خپل قرض د حصې ضامن کيږي، ځکه چي په قرض ترلاسه کولو (استيفاء) کي تجزی کېدلای سي، نو که د دواړو پر زيد مثلاً زر درهمه قرض وي چي پنځه سوه د يوه وي او پنځه سوه د بل وي او مرهون هلاک سي، نو د دواړو قرض ساقط سو: ځکه چي د مرهون د هلاکېدلو

په وجه هريو د خپل قرض ترلاسه کونکی وګرځېدی او په قرض ترلاسه کولو کي تجزی کېدلای سي، نو ځکه اوس به په قرض او مرهون کي هم تجزی کيږي. (احسن الهدايه)

که راهن د يوه قرض اداء کړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: فَإِنْ أَعْطَى أَحَدَهُمَا دَيْنَهُ فرمايي: بيا که راهن په دوی کي د يوه قرض ورکړي كَانَ كُلُّهُ رَهْنًا فِي يَدِ الْآخَرِ نو ټوله مرهون د هغه بل يوه په قبضه کي رهن ګرځي لِأَنَّ جَمِيعَ الْعَيْنِ رَهْنٌ فِي يَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ غَيْرِ تَفَرُّقٍ ځکه چي ټوله [مرهون] شی بغير له څه تفرّق څخه د دوی هر يوه په قبضه کي رهن دی وَعَلَى هٰذَا حَبْسُ الْمَبِيعِ او پر همدغه اختلاف دي د مبيع راګرځول إِذَا أَدَّى أَحَدُ الْمُشْتَرِيَيْنِ حِصَّتَهُ مِنَ الثَّمَنِ کله چي په دوو رانيونکو کسانو کي يو خپله د ثمن حصه اداء کړي.

اللغات: ﴿العَين﴾ شی، په اصل کي هغه شي ته وايي کوم چي موجود وي او په لاس سره مسه کېدلای سي او محفوظ کېدلای سي، جمع يې "أَعْيَان" راځي. ﴿تفرُّق﴾ د تفعّل مصدر دی: جلا کېدل، سره بېلېدل. ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: بندول، منع کول، راګرځول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که راهن (زيد) د يوه قرض اداء کړي (مثلاً د خالد قرض اداء کړي)، نو اوس ټوله مرهون (موبايل) د بل يوه (حامد) سره رهن ګرځي؛ ځکه چي د هغه بل يوه (حامد) سره خو له مخکي څخه هم ټوله مرهون شی په کامله توګه رهن او محبوس وو (او ټوله مرهون شی د هغه لپاره منل سوی وو). نو اوس به هم هغسي رهن او محبوس پاتېږي تر دې چي د هغه قرض اداءنه کړی سي. لکه دوه کسان چي يو شی مثلاً موبايل رانيسي او له دوی څخه يو کس د خپلي حصې ثمن اداء کړي. نو تر څو چي بل يو هم د خپلي حصې ثمن اداء نه کړي، تر هغه وخته پوري بائع ته دا حق سته چي مبيع (موبايل) د ځان سره محبوس او محفوظ کړي او دوی ته يې نه ورکړي.

دوه راهنان او يو مرتهن

قَالَ [امام کرخي رَحِمَهُ الله په خپل مختصر کي] فرمايي وَإِنْ رَهَنَ رَجُلَانِ بِدَيْنٍ عَلَيْهِمَا رَجُلًا رَهْنًا وَاحِدًا او که دوه سړيان د هغه قرض په عوض کي کوم چي پر دوی باندي دی يو سړي ته رهن کېښېږدي [يعني دوه مقروضه (پور وړي) د خپل قرض په عوض کي د قرض مالک ته يو شی په رهن کېښېږدي] فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي وَالرَّهْنُ رَهْنٌ بِكُلِّ الدَّيْنِ او رهن [مرهون شی] د ټوله قرض په عوض کي رهن دی وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يُمْسِكَهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ جَمِيعَ الدَّيْنِ او مرتهن لره دا حق سته چي هغه [مرهون شی]

راوګرځوي تر دې چې ټوله قرض ترلاسه کړي لِأَنَّ قَبْضَ الرَّهْنِ يَحْصُلُ فِي الْكُلِّ مِنْ غَيْرِ شُيُوْعٍ ځکه چې د رهن قبضه په ټوله [مرهون] کې له شيوع څخه بغير حاصليږي [يعني قبضه په ټوله مرهون شي کې بغير له شيوعه داخله سوې ده او مرتهن په يوه ځل پر ټوله مرهون قبضه کړې ده او په قبضه کې شيوع او تقسيم نسته].

اللغات: ﴿يمسکه﴾ دافعال د باب مضارع ده: نيول، راګرځول. ﴿شيوع﴾ اشتراک (غير مقسوم شرکت).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر دوو کسانو د يو سړي مثلاً پر زيد او عُمر د خالد قرض باندې وي او دوی دواړه د خالد سره يو شی په رهن کښېږدي، نو دا رهن جائز دی او دا مرهون شی د دواړو د قرض په عوض کې مرهون شمېرل کيږي او خالد چې تر کومه وخته خپل ټوله قرض ترلاسه نه کړي، تر هغه وخته ده ته دا حق سته چې مرهون شی د ځان سره وګرځوي.

او که سوال وسي چې په ښکاره خو دلته شيوع معلوميږي چې نصف مرهون شی د زيد ملکيت دی او نصف د عُمر، او مخکې ذکر سوه چې شيوع د جواز منافي دی.

نو د "لأن قبض الرهن" په دليل سره مصنف رَحِمَهُ الله ددې جواب ورکړی دی؛ حاصل يې دا دی چې څرنګه په هغه صورت کې شيوع نسته کله چې يو راهن وي او يو مرتهن وي، نو همداسې که دوه راهنان وي او يو مرتهن وي، نو بيا هم شيوع نسته، نو ځکه دا عقد رهن به جائز وي.

د يوه شي په هکله د رهن دوې متضاده دعوې

فَإِنْ أَقَامَ الرَّجُلَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ عَلَى رَجُلٍ او که له دوو سړيو څخه هر يو پر يو سړي بيّنه پېش کړي أَنَّهُ رَهَنَهُ عَبْدَهُ الَّذِي فِي يَدِهِ چې دغه سړي خپل هغه غلام کوم چې يې په قبضه کې دی هغه ته [يعني ما ته] په رهن ايښی وو وَقَبَضَهُ او هغه [يعني ما] پر غلام قبضه کړې وه فَهُوَ بَاطِلٌ نو دا باطل دی لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَثْبَتَ بِبَيِّنَتِهِ أَنَّهُ رَهَنَهُ كُلَّ الْعَبْدِ ځکه چې له دوی دواړو څخه هر يوه په خپل بيّنه سره دا ثابته کړې ده چې سړي ټوله غلام هغه ته په رهن ايښی وو وَلَا وَجْهَ إِلَى الْقَضَاءِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْكُلِّ او له دوی څخه د هر يوه لپاره د ټوله غلام د فيصلې هيڅ صورت نسته لِأَنَّ الْعَبْدَ الْوَاحِدَ يَسْتَحِيْلُ أَنْ يَكُوْنَ كُلُّهُ رَهْنًا لِهٰذَا وَكُلُّهُ رَهْنًا لِذٰلِكَ فِي حَالَةٍ وَاحِدَةٍ ځکه دا محال [او ناممکنه] ده چې په يوه حالت کې يو غلام ټوله د ده لپاره هم رهن سي او د هغه لپاره هم رهن سي وَلَا إِلَى الْقَضَاءِ بِكُلِّهِ لِوَاحِدٍ بِعَيْنِهِ او نه بعينه د يوه لپاره د ټوله غلام د فيصله کولو هيڅ صورت

ستہ لِعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ داولیٰ والي د نشتوالي په وجه [چې يو له بل څخه اولیٰ او مقدم نه دی] وَلَا إِلَى الْقَضَاءِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالنِّصْفِ او نه له دوی څخه د هر يوه لپاره د نيم غلام د فيصله کولو هيڅ صورت ستہ لِأَنَّهُ يُؤَدِّيْ إِلَى الشُّيُوْعِ ځکه چې دا فيصله د شيوع سبب ګرځي فَتَعَذَّرَ الْعَمَلُ بِهِمَا نو پر دواړو بيّنو [ګواهيو] عمل کول ناممکن سوه وَتَعَيَّنَ التَّهَاتُرُ او [د بينو] ساقطېدل متعيّن سوه.

اللغات: ﴿أقام﴾ د افعال د باب ماضي ده: قايمول (درول)، پېشول. ﴿بيّنة﴾ ګواهي، حجت او دليل، جمع: بَيِّنَات. ﴿أَوْلَوِيَّة﴾ اولیٰ والی (اولیٰ کېدل)، غوره والی. او که د الف په ضمه سره سي يعني أُوْلَوِيَّة نو معنیٰ يې ده: اول والی، مخکې والی. ﴿شيوع﴾ د ضرب مصدر دی: اشتراک، شرکت (غيرِ مقسوم شرکت). ﴿تعذر﴾ د تفعل د باب ماضي ده، د دې باب دوې معناوي دي: مشکل کېدل، ناممکن کېدل. ﴿التهاتر﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: ① (بينه) ساقطېدل او بې ځايه کېدل. ② باطله دعویٰ کول يا باطله ګواهي پېشول او له دې کبله ساقطېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد او عُمر جلا، جلا دعویٰ وکړي چې د خالد په قبضه کې چې کوم غلام دی، هغه يې ما ته په رهن راکړی وو او ما قبضه هم پر کړې وه (له دوی دواړو څخه هر يو دا دعویٰ کوي) او هر يو خپله دعویٰ په دوو ګواهانو سره ثابته هم کړي، نو اوس څه حکم دی؟، د دې مختلفه صورتونه دي:

①... يو صورت دا دی چې که هغه غلام د يوه مدعي (يعني د زيد يا خالد) په قبضه کې وي، نو د هغه لپاره به فيصله کيږي؛ ځکه قبضه د ملکيت او استحقاق تر ټولو واضح دليل دی.

②... دويم صورت دا دی که په يو دليل سره معلومه سي چې واقعي خالد دا غلام په رهن ورکړی وو او زيد ته يې اول ورکړی وو، نو په دې صورت کې د اولويت او تقدّم پر بناء به د زيد لپاره د دې غلام فيصله کيږي.

③... درېيم صورت (کوم چې په کتاب کې ذکر سوی دی) دا دی چې که غلام د هيڅ مدعي په قبضه کې هم نه وي بلکې د راهن يعني د خالد په قبضه کې وي او د يوه مدعي په حق کې هم د قبضې او د اولويت او تقدّم هيڅ دليل موجود نه وي، لکه څرنګه چې مصنف رَحِمَهُ الله په کتاب کې همدا صورت ذکر کړی دی، نو په داسې صورت کې د دوی دواړو دعویٰ او ګواهي باطليږي او قاضي به د

يوه لپاره هم د رهن او غلام فيصله نه کوي؛ ځکه چي په احتمالي توګه دلته د فيصلې کولو (قضاء) درې صورتونه جوړېدلای سي چي هغه درې سره باطل دي:

①... يو صورت دا دی چي د هر مدعي لپاره د ټوله غلام فيصله وسي، دا باطل او محال دي؛ ځکه يو غلام په يوه وخت کي د دواړو په قبضه کي کېدل محال او ناممکن دي.

②... په دوی کي د يوه مدعي لپاره د ټوله غلام فيصله وسي، دا صورت هم باطل دی: ځکه چي د اوليت او تقدّم د نشتوالي په وجه د يوه لپاره فيصله کول ترجيح بلا مرجح ده کوم چي باطله ده. نو ځکه دا صورت هم باطل دی.

③... درېيم صورت دا دی چي د هر يوه لپاره د نيم غلام فيصله وسي او هر يوه ته په نيم غلام کي حق ورکول سي، دا صورت هم باطل دی: ځکه په داسي کولو سره په مرهون غلام کي شيوع لازميږي، او مخکي ذکر سوه چي شيوع د رهن د جواز لپاره مانع دی. کله چي دا درې سره صورتونه باطل دي، نو ځکه موږ وويل چي اوس د فيصلې لپاره فقط يوه لاره پاته سوه چي هغه تهاتر دی يعني د دعوو او ګواهيو تساقط او پرېښوول (ځکه چي پر دواړو عمل کول ناممکن دي). لهذا کله چي په درېيم په صورت کي (کوم چي په کتاب کي مذکوره دی) تساقط او ترک متعيّن سو. نو ځکه هغه صورت باطل دی.

د مذکوره دعوو د صحيح ګرځولو سوال

وَلَا يُقَالُ: أَنَّهُ يَكُوْنُ رَهْنًا لَهُمَا او داسي دي نه ويل کيږي: چي دا غلام د دوی دواړو لپاره رهن کيږي كَأَنَّهُمَا ارْتَهَنَاهُ مَعًا ګواکي دواړو يو ځای هغه په رهن اخيستی دی إِذْ جُهِلَ التَّارِيْخُ بَيْنَهُمَا ځکه د دواړو بينو [ګواهيو] تر مينځ تاريخ مجهول دی وَجَعَلَ فِيْ كِتَابِ الشَّهَادَاتِ هٰذَا وَجْهَ الْاِسْتِحْسَانِ او امام محمد رَحِمَهُ الله [د مبسوط] په كتابُ الشهادات کي دا د استحسان دليل ګرځولی دی [خو بيا هم دا پورتنی سوال دي نه کيږي] لِأَنَّا نَقُوْلُ: هٰذَا عَمَلٌ عَلٰى خِلَافِ مَا اقْتَضَتْهُ الْحُجَّةُ ځکه چي موږ [په جواب کي] وايو: چي دا [غلام د دواړو لپاره رهن کېدل] داسي عمل دی کوم چي د حجت [بينې] د تقاضا خلاف دی لِأَنَّ كُلًّا مِنْهُمَا أَثْبَتَ بِبَيِّنَتِهِ حَبْسًا يَكُوْنُ وَسِيْلَةً إِلٰى مِثْلِهِ فِي الْاِسْتِيْفَاءِ ځکه چي له دوی دواړو څخه هر يوه په خپل بيّنه سره [د ځان لپاره د غلام] داسي حبس ثابت کړی دی کوم چي په حق تر لاسه کولو کي د هغه د حبس په څېر [بشپړ] حبس ته وسيله وي [په لنډه وينا دا چي په دوی کي هر

يوه د ځان لپاره د پوره غلام محبوس کېدل ثابت کړي دي] وَبِهٰذَا الْقَضَاءِ يَثْبُتُ حَبْسٌ يَكُوْنُ وَسِيْلَةً إِلٰى شَطْرٍ فِي الْاِسْتِيْفَاءِ او په دغه فيصله [چې غلام د دواړو لپاره رهن کيږي] سره داسې حبس ثابتيږي کوم چې په حق ترلاسه کولو کې د هغه نصف ته وسيله ده وَلَيْسَ هٰذَا عَمَلًا عَلٰى وَفْقِ الْحُجَّةِ او دا د حجت [بيّنې] موافق عمل نه دي وَمَا ذَكَرْنَاهُ وَإِنْ كَانَ قِيَاسًا او څه چې موږ ذکر کړي دي که څه هم هغه قياس دي لٰكِنَّ مُحَمَّدًا أَخَذَ بِهِ لېکن [بيا هم] امام محمد رَحِمَهُ الله هغه [يعني قياس] اختيار کړی دی لِقُوَّتِهٖ ځکه چې هغه قوي دی.

اللغات: ﴿اِرْتَهَنَا﴾ د افتعال له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: په رهن اخيستل (د رهن په توګه اخيستل)، ﴿اقتضته﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: تقاضا کول (غوښتل)، دلالت کول، ﴿شطر﴾ حصه (ټوټه)، جزء.

تشريح: په دې عبارت کې د مخکنۍ مسئلې په هکله يو سوال او جواب پېش کړل سوي دي، سوال دا دی چې دا خو ممکنه ده چې د هر مدعي (زيد او عُمر) لپاره د نيم غلام فيصله وسي او د دواړو تر مينځ غلام نيم په نيمه وګرځول سي؛ ځکه چې په تاريخ کې جهالت دی، لهٰذا داسې به ګڼل کيږي چې دواړو يو ځای دا غلام په رهن اخيستی وو، لکه يو څو خلک چې يو ځای په اُوبو کې غرق سي يا په اُور کې وسوځل سي يا له لوړ ځای څخه را ولوېږي او مړه سي او د يوه د مرګ تقدّم او تأخر معلوم نه سي، نو داسې ګڼل کيږي چې ټوله يو ځای مړه سوي دي، نو همداسې به دلته رهن هم يو ځای ګڼل کيږي چې دواړو يو ځای هغه غلام په رهن اخيستی وو؟.

د جواب حاصل دا دی چې که داسې وسي، نو د هر يوه د بيّنې د تقاضا په خلاف به عمل وسي؛ ځکه د هر يوه له طرفه د بيّنې پېشولو مقصد دا دی چې هم هاغه د ټوله غلام مستحق دی او دلته صرف په نيم غلام کې د هغه استحقاق ثابتيږي، او د حجت (بيّنې) د مقتضا په خلاف عمل کول صحيح نه دي؛ ځکه کله چې پر حجت يو فيصله کيږي، هغه به د حجت مطابق او موافق وي، نو ځکه د هر يوه لپاره د نيم غلام فيصله نه سي کېدلای.

حبسًا يكون إلخ: د مصنف رَحِمَهُ الله د دې عبارت "حبسًا يكون..." مطلب دا دی چې د دواړو مدعيانو مقصد د پوره او بشپړ غلام رهن د خپل ځان سره ثابتول دي (يعني چې راهن پوره غلام ما ته په رهن راکړی

دی)، نو په مذکوره صورت کې د هر يوه د دعوې په خلاف فيصله کول لازمېږي. حاصل دا چې له مِثلهٖ څخه تَمامهٖ مراد کړل سي نو اوس مطلب دا سو: إلىٰ استيفاء تمام حقه.

وما ذکرناه إلخ: د دې حاصل دا دی چې مذکوره فيصله نه کول قياس دی او استحسان دا دی چې د هر يو لپاره دې د نيم غلام فيصله وسي يعني هغه غلام دې د دواړو تر مينځ نيم په نيمه وګرځول سي، او دا مذکوره دليل (کوم چې په سوال کې ذکر سو) امام محمد رَحِمَهُ الله د مبسوط په کتابُ الشهادات کې د استحسان دليل ذکر کړی دی، خو په دې مسئله کې امام محمد رَحِمَهُ الله استحسان پرې ايښی دی او په قياس يې عمل کړی دی؛ ځکه چې د دلائلو په اعتبار سره قياس دلته له استحسان څخه قوي او مضبوط دی، کنې عموماً استحسان ته پر قياس ترجيح ورکول کيږي. خو اُووه ځايونه داسې دي چې هلته قياس پر استحسان مخکې کول کيږي. نور هر ځای د دې برعکس کيږي.

د پورتني معلق رهن د هلاکېدلو حکم

وَإِذَا وَقَعَ بَاطِلًا او کله چې رهن باطل واقع سو فَلَوْ هَلَكَ نو بيا که هغه هلاک سو يَهْلِكُ أَمَانَةً نو د امانت په توګه هلاکيږي لِأَنَّ الْبَاطِلَ لَا حُكْمَ لَهُ ځکه چې باطل لره هيڅ حکم نسته.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که غلام له دواړو مدعيانو څخه د يوه مدعي (زيد يا عمر) په قبضه کې وي، خو د اولويت لو تقدّم د نښتوالي په وجه د يوه په حق کې فيصله کول ناممکن وي (لکه څرنګه چې دا دريم صورت وو) او په همدې حالت کې دا غلام د هغه په قبضه کې مر سي، نو څرنګه چې په دې صورت کې رهن باطل دی او باطل لره هيڅ حکم نه وي، نو ځکه دا د امانت هلاکت شمېرل کيږي (چې ګواکې د هغه په قبضه کې دا امانت غلام هلاک سوی دی)، او ښکاره ده چې که د امانت شی د مودَع په قبضه کې هلاک سي او د هغه په هلاکېدلو کې د مودَع لاس نه وي، نو پر هغه هيڅ ضمان (تاوان) نسته، نو ځکه په دغه مسئله کې به هم پر مذکوره مدعي هيڅ ضمان نه واجبيږي. (احسن الهدايه)

د راهن د مرګ په صورت کې څه حکم دی؟

قَالَ: وَلَوْ مَاتَ الرَّاهِنُ وَالْعَبْدُ فِي أَيْدِيهِمَا فرمايي: او که چيري راهن مر سي او غلام د دوی دواړو [مدعيانو] په قبضه کې وي فَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ عَلَىٰ مَا وَصَفْنَا بيا له دوی دواړو څخه هر يو زموږ د ذکر سوي طريقې مطابق بيّنه پېش کړي كَانَ فِي يَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفُهُ رَهْنًا نو د غلام نصف [نيمه حصه] له دوی څخه د هر يوه په قبضه کې رهن دی يَبِيعُهُ بِحَقِّهِ اِسْتِحْسَانًا چې هغه

په خپل حق کې خرڅولای سي وَهُوَقَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او همدا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَفِي الْقِيَاسِ هٰذَا بَاطِلٌ او په قياس کي دا باطل دي وَهُوَقَوْلُ أَبِي يُوْسُفَ او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ الْحَبْسَ لِلِاسْتِيْفَاءِ حُكْمٌ أَصْلِيٌّ لِعَقْدِ الرَّهْنِ ځکه چي د استيفاء [حق ترلاسه کولو] لپاره حبس [مرهون راګرځول] د د عقد رهن اصلي حکم دی فَيَكُوْنُ الْقَضَاءُ بِهٖ قَضَاءً بِعَقْدِ الرَّهْنِ نو د استيفاء لپاره د حبس فيصله به د عقد رهن فيصله وي وَأَنَّهٗ بَاطِلٌ لِلشُّيُوْعِ او د عقد رهن فيصله د شيوع په وجه باطله ده كَمَا فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ لکه څرنګه چي د ژوند په حالت کي دي [يعني لکه د راهن د ژوند په حالت کي چي باطله ده].

اللغات: ﴿وصفنا﴾ د ضرب له بابه د جمع متکلم ماضي صيغه ده: ستايل، نقلول او ذکر کول. ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: بندول او منع کول، راګرځول. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: (حق) ترلاسه کول، پوره اخيستل. ﴿شيوع﴾ اشتراک او شرکت (غير مقسوم [نا تقسيم شده] شرکت).

تشريح: مخکي چي کوم حکم بيان سو، دا په هغه صورت کي دی کله چي راهن (خالد) ژوندی وي، او که چيري راهن مړ سي او غلام د دواړو مدعيانو (زيد او عمر) په قبضه کي وي، نو قاضي به دا فيصله کوي چي غلام د دوی دواړو لپاره نيم په نيمه رهن دی چي دوی هغه په خپل حق کي خرڅولای سي، خو دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول دلته هم هغه دی چي دا فيصله به نه کيږي.

خلاصه د خبري دا چي په مخکنۍ مسئله کي بالاتفاق پر قياس عمل سوی دی او په دې مسئله کي طرفينو پر استحسان او امام ابو يوسف پر قياس عمل کړی دی.

دامام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي لکه څرنګه په مخکنۍ مسئله کي په دې صورت کي شيوع لازميدی، هغه اوس هم لازميږي کوم چي د راهن په ژوند او مرګ سره نه متفرق کيږي: ځکه چي د رهن حکم خو په هر صورت کي همدا دی چي د حق ترلاسه کولو لپاره به مرهون د مرتهن سره محبوس پاتيږي، او شيوع د رهن د جواز مانع دی.

د استحسان او طرفينو دليل دی

وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ الْعَقْدَ لَا يُرَادُ لِذَاتِهِ د استحسان دليل دا دی چې عقد رهن بذات خود مقصود نه وي وَإِنَّمَا يُرَادُ لِحُكْمِهِ بلکې د هغه حکم مقصود وي وَحُكْمُهُ فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ الْحَبْسُ او د رهن حکم حبس دی د راهن د ژوند په حالت کې وَالشُّيُوعُ يَضُرُّهُ او شيوع حبس لره مُضر دی وَبَعْدَ الْمَمَاتِ الِاسْتِيفَاءُ بِالْبَيْعِ فِي الدَّيْنِ او د راهن تر مرګ وروسته [د رهن حکم] د بيع [يعني د مرهون د خرڅولو] په ذريعه قرض ترلاسه کول دي وَالشُّيُوعُ لَا يَضُرُّهُ او شيوع بيع لره مُضر نه دی وَصَارَ كَمَا إِذَا ادَّعَى الرَّجُلَانِ نِكَاحَ امْرَأَةٍ او دا داسې سوه لکه دوه کسان چې د يوې ښځې سره د نکاح دعویٰ وکړي أَوِ ادَّعَتْ أُخْتَانِ النِّكَاحَ عَلَى رَجُلٍ يا دوې خوندې پر يوه سړي د نکاح دعویٰ وکړي وَأَقَامُوا الْبَيِّنَةَ او دوی تو له بيِّنه [ګواهي] پېش کړي تَهَاتَرَتْ فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ نو د ژوند په حالت کې دا بيِّنې [ګواهيانې] ساقطيږي وَيُقْضَى بِالْمِيرَاثِ بَيْنَهُمْ بَعْدَ الْمَمَاتِ او تر مرګ وروسته به د دوی تر مينځ د ميراث فيصله کول کيږي لِأَنَّهُ يَقْبَلُ الِانْقِسَامَ ځکه چې ميراث تقسيم قبلوي.

اللغات: ﴿لا يراد﴾ د افعال له بابه د نفي مجهول صيغه ده: مراد کېدل، مقصود کېدل. ﴿ممات﴾ د ضرب د باب مصدر ميمي دی: مرګ، مړينه، ﴿تهاترت﴾ د تفاعل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: ساقطېدل او ختمېدل.

تشريح: په دې عبارت کې د استحسان (کوم چې د طرفينو رَحِمَهُمَا اللهُ قول دی) دليل بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چې په عقد رهن سره محض د الفاظو ايجاب او قبول مقصود نه وي بلکې حکم يې مقصود وي، او کله چې په مرګ او ژوند کې د رهن حکم مختلف دی، نو خامخا به په دغه حالتونو کې د رهن فيصله هم مختلفه وي؛ ځکه د راهن په ژوند کې د رهن حکم او مقصد دا دی چې مرتهن د خپل حق (قرض) ترلاسه کولو په غرض سره مرهون د ځان سره محبوس ساتي او د راهن تر مرګ وروسته د رهن حکم دا دی چې مرهون خرڅ کړي او قرض په اداء کړی سي. نو په اول صورت کې (يعني د راهن د ژوند په حالت کې) کې شيوع مُضر دی، نو ځکه مورږ هغه باطل ګرځولی دی او په دويم صورت کې (يعني د راهن تر مرګ وروسته) شيوع مُضر نه دی، ځکه چې د راهن تر مرګ وروسته د رهن حکم له استيفاء ځخه په بيع بدليږي او د بيع لپاره شيوع مضر نه ده. نو ځکه مورږ دا صورت جائز

ګرځولی دی چې د دواړو لپاره به د نیم، نیم غلام فیصله کول کیږي چې هر یو د هغه نیمه حصه په خپل حق کې خرڅولای سي.

ومار کما إلخ: د پورتني خبري (یعني چې د ژوند او مرګ په حالت کي فرق سته) د تائید لپاره یو مثال پېشوي، چې که زید او عُمر دعوی وکړي چې موږ د زینب سره نکاح کړې ده (یعني هر یو وایي چې ما د زینب سره نکاح کړې ده) او زینب د دوی یوه په قبضه او کور کې نه وي، بیا دوی هر یو پر خپله دعوی ګواهي هم پېشه کړي او زینب ژوندۍ وي، نو په دې صورت کې د دوی دعوی او ګواهي غیر معتبره ده او قاضي به فیصله نه کوي؛ ځکه د دوی دواړو مقصد دا دی چې زینب زموږ دواړو لپاره حلاله ده او په حلت کې د شیوع او شرکت احتمال نسته (یعني یوه ښځه په یوه وخت کې د دوو خلګو زوجه [مانه] کېدل محال او ناممکن دي)، نو ځکه د ژوند په حالت کې شیوع د هغې د زوجیت لپاره مضر دي.

لېکن که همدا صورت د زینب تر مرګ وروسته واقع سي. نو د دواړو دعوی او ګواهي معتبره ده؛ ځکه چې اوس د دواړو مقصود مال (میراث) تر لاسه کول دي چې په هغه کې د شیوع احتمال نسته؛ ځکه چې د میراث لپاره شیوع مُضر نه دی، لهذا تر مرګ وروسته په دې صورت کې دوی هر یوه ته د ښځې نیم میراث حاصلیږي یعني د یوې ښځې په حصه کې چې څومره میراث راسي، د هغې نیمه حصه به یوه ته ور کول کیږي او نیمه به بل ته ور کول کیږي.

او بل مثال یې دا دی چې که دوې سکه خوندي دعوی وکړي چې فلاني سړي مثلاً حامد زموږ سره نکاح کړې ده، نو د مذکوره دلیل په وجه د حامد په ژوند کې د دوی دعوی او ګواهي نا معتبره ده او د حامد تر مرګ وروسته صحیح ده او هري خور ته د ښځې نیم میراث حاصلیږي (ځکه چې د حامد تر مرګ وروسته حکم د میراث وطرف ته منتقل کیږي او د میراث لپاره شیوع مُضر نه دی. او د حامد د ژوند په حالت کې حکم او مقصد حلت دی او شیوع د هغه لپاره مضر دی، ځکه چې د یوه کس لپاره د دوو خوندو حلال کېدلو ممنوع او محال دي).

نو خاص همداسي په پورتنی مسئله کې هم د راهن د ژوند په حالت کې د رهن د حکم یعني د: "حبس" لپاره شیوع مُضر دی، نو په هغه حالت کې قضاء بالنصف باطله ده، خو تر مرګ وروسته دا حکم د "بیع" وطرف ته منتقل کیږي او د بیع لپاره شیوع مُضر نه دی، نو ځکه په دې حالت کې به د هر یوه لپاره د نصف فیصله کیږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الرَّهْنِ الَّذِیْ یُوْضَعُ عَلٰی یَدِ الْعَدْلِ

دا باب د هغه رهن په بيان کي دی کوم چي د عادل پر لاس ايښودل کيږي

تشريح: مخکي تر دې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مرتهن سره د رهن ايښودلو احکام او مسائل بيان کړي دي؛ ځکه چي د مرتهن سره رهن ايښودل اصل دي، اوس په دې باب کي د عادل کس سره د رهن ايښودلو احکام او مسائل بيانوي (يعني چي راهن د مرتهن پر ځای بل عادل کس ته خپل شی په رهن کښېږدي) او عادل کس د ځان سره د مرهون په ايښودلو کي د مرتهن نائب وي، او ښکاره ده چي د نائب درجه تر اصل وروسته ده، نو ځکه اول يې د اصل يعني د مرتهن سره اړوند احکام او مسائل بيان کړي دي، او اوس د نائب د احکامو د بيان نوبت دی.

له مرتهن څخه بغير د بل عادل کس سره د رهن ايښودلو حکم او د فقهاؤ قولونه

قَالَ: وَإِذَا اتَّفَقَا عَلٰی وَضْعِ الرَّهْنِ عَلٰی يَدِ الْعَدْلِ فرمايي: او کله چي دوی [راهن او مرتهن] دواړه د عادل پر لاس [يعني د عادل انسان سره] د رهن پر ايښودلو اتفاق وکړي جَازَ نو جائز دي وَقَالَ مَالِكٌ: لَا يَجُوزُ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز نه دي ذُكِرَ قَوْلُهُ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ د امام مالک رَحِمَهُ الله قول په بعضي نسخو کي ذکر سوی دی لِأَنَّ يَدَ الْعَدْلِ يَدُ الْمَالِكِ ځکه چي د عادل قبضه د مالک قبضه ده وَلِهٰذَا يَرْجِعُ الْعَدْلُ عَلَيْهِ عِنْدَ الِاسْتِحْقَاقِ په همدې وجه د استحقاق په وخت کي عادل پر راهن رجوع کوي فَانْعَدَمَ الْقَبْضُ نو د مرتهن قبضه معلومه سوه وَلَنَا: أَنَّ يَدَهُ عَلَى الصُّوْرَةِ يَدُ الْمَالِكِ فِي الْحِفْظِ او زموږ دليل دا دی: چي د مرهون شي پر صورت [ذات] د عادل قبضه د مالک قبضه ده د حفاظت په حق کي إِذِ الْعَيْنُ أَمَانَةٌ ځکه چي [د مرهون] ذات امانت دی وَفِيْ حَقِّ الْمَالِيَّةِ يَدُ الْمُرْتَهِنِ او د ماليت په حق کي [د عادل قبضه] د مرتهن قبضه ده لِأَنَّ يَدَهُ يَدُ ضَمَانٍ ځکه چي د مرتهن قبضه د ضمان قبضه وي [چي که مرهون د هغه په قبضه کي هلاک سي نو ضمان يې پر لازم دی] وَالْمَضْمُوْنُ هُوَ الْمَالِيَّةُ او مضمون همدا [د مرهون] ماليت وي فَنُزِّلَ مَنْزِلَةَ الشَّخْصَيْنِ تَحْقِيْقًا لِمَا قَصَدَاهُ مِنَ الرَّهْنِ نو ځکه راهن او مرتهن چي په رهن سره کوم قصد کړی دی د هغه د ثابتولو لپاره

به عادل كس د دوو كسانو په منزله ګرځول كيږي وَإِنَّمَا يَرْجِعُ الْعَدْلُ عَلَى الْمَالِكِ فِي الِاسْتِحْقَاقِ او عادل د استحقاق په صورت كي پر مالك ځكه رجوع كوي لِأَنَّهُ نَائِبٌ عَنْهُ فِي حِفْظِ الْعَيْنِ كَالْمُودَعِ ځكه چي د عين مرهون په حفاظت كولو كي هغه د مالك نائب دى لكه مودَع.

اللغات: ﴿مالية﴾ مال والى (مال كېدل)، قيمت، ﴿نُـزِّل﴾ د تفعيل له بابه د ماضي مجهولي صيغه ده: نازلول، شوه كول، يو شى د بل شي په درجه ګرځول، قائم مقام كول، ﴿مودَع﴾ د افعال د باب مفعول دى: چا ته چي امانت ايښودل سوى وي، امين (امانت ساتونكى).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه راهن وغواړي چي رهن (مرهون شى) د عادل كس سره كېښېږدي او د مرتهن هم ورسره خوښه سي او دواړه پر دې متفق سي، نو دا جائز دي، خو د امام مالك رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي (د امام مالك رَحِمَهُ الله دا قول خو يا د قدوري په بعضي نسخو كي مذكوره دى يا د اكابرو په بعضي كتابو كي مذكوره دى، په "بعض النسخ" كي د دواړو احتمال سته)؛ د امام مالك رَحِمَهُ الله دليل دا دى چي د رهن د جواز لپاره دا ضروري ده چي پر هغه به مرتهن قبضه كوي، او دلته د مرتهن قبضه نسته بلكي د عادل قبضه سته كوم چي د راهن د قبضې قائم مقام ده؛ او پر دې خبره چي د عادل قبضه د راهن د قبضې نائب ده د امام مالك رَحِمَهُ الله دليل دا دى چي كه مرهون شى د عادل سره هلاك سي او تر دې وروسته يو څوك په هغه مرهون شي كي خپل استحقاق ثابت كړي او له عادل څخه تاوان واخلي، نو عادل به هغه تاوان له راهن څخه اخلي، نو له راهن څخه تاوان اخيستل د دې خبري دليل دى چي عادل په قبضه كي د همدې راهن نائب او وكيل وو، كنې كه چيري هغه په قبضه كي د مرتهن نائب واى نو هغه به تاوان له مرتهن څخه اخيستلاى، لنډه دا چي د مرتهن قبضه معدومه ده، نو ځكه رهن به جائز نه وي، دا د امام مالك رَحِمَهُ الله د قول دليل سو.

زموږ دليل دا دى چي كله د راهن او مرتهن په اتفاق سره مرهون شى عادل ته ايښودل سوى دى، نو ښكاره خبره ده چي دا عادل كس چي څرنګه د راهن نائب دى، همداسي به د مرتهن هم نائب وي، او كله چي هغه د دواړو نائب دى او د دواړو نيابت كوي، نو پر مرهون شي به د هغه قبضه د راهن او مرتهن دواړو قبضه شمېرل كيږي، خو فرق يې دا دى چي د مرهون شي عَين (ذات) به امانت وي، ځكه د مرهون شي دوه اړخونه دي يو د هغه ذات او بل د هغه ماليت، نو د مرهون شي د حفاظت په حق كي به د مرهون شي پر ذات او صورت د عادل قبضه د مالك قبضه شمېرل كيږي او د ماليت په حق كي به د عادل قبضه د مرتهن قبضه شمېرل كيږي، او څرنګه چي د مرتهن قبضه د ضمان قبضه وي نو

همداسي به د عادل قبضه هم د ضمان قبضه وي؛ ځکه چي د مرهون شي ماليت مضمون وي. نه ذات او صورت. نو د دي لپاره چي د عادل قبضه د راهن او مرتهن دواړو قبضه ثابته کړل سي عادل به د دوو کسانو په منزله ګرځول کيږي د دي لپاره چي عادل ته په رهن اېښودلو سره د راهن او مرتهن دواړو مقصد حاصل سي يعني چي مرتهن د هغه په ذريعه خپل قرض ترلاسه کړی سی او د راهن خپل شی د عادل سره صحيح سلامت محفوظ او خوندي وي.

وانما يرجع إلخ: د دي حاصل دا دی چي په ښکاره خو په دي مسئله کي عادل ته پکار دي چي له مرتهن څخه تاوان واخلي، ليکن موږ چي کومه فيصله کړې ده چي عادل به له راهن څخه تاوان اخلي د هغه وجه دا ده چي عادل کس د مرهون شي په عين او ذات کي د راهن نائب دی او د هغه حيثيت د مودَع په څېر دی، د مودَع مثال دا دی چي که زيد خالد ته خپل يو شی په امانت کښېښودي او د خالد سره هغه شی هلاک سي، بيا يو بل څوک په هغه امانت شي کي خپل استحقاق ثابت کړي او له خالد (مودَع) څخه د هغه تاوان واخلي، نو خالد به هغه تاوان له زيد څخه اخلي؛ ځکه چي مودَع يعني خالد د حفاظت په حق کي د مالک (زيد) نائب وو، نو همداسي په دي مسئله کي هم عادل کس د حفاظت په حق کي د مالک يعني د راهن نائب دی، نو ځکه د استحقاق په صورت کي چي کله عادل کس تاوان اداء کړي، نو هغه تاوان به له مالک يعني له راهن څخه اخلي، نه له مرتهن څخه. (احسن الهدايه)

له عادل کس څخه د رهن اخيستلو حکم

قَالَ: وَلَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ وَلَا لِلرَّاهِنِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنْهُ فرمايي: او مرتهن او راهن ته دا حق نسته چي مرهون شی له عادل څخه واخلي لِتَعَلُّقِ حَقِّ الرَّاهِنِ فِي الْحِفْظِ بِيَدِهِ وَأَمَانَتِهِ ځکه چي [د رهن سره] د راهن حق متعلق دی [د مرهون] په حفاظت کولو کي د عادل کس په قبضه او امانت سره [يعني د عادل کس په قبضه او امانت سره د مرهون شي په حفاظت کولو کي د راهن حق د رهن سره متعلق دی] وَتَعَلُّقِ حَقِّ الْمُرْتَهِنِ بِهِ اِسْتِيْفَاءً او [ځکه چي] د استيفاء [حق ترلاسه کولو] په اعتبار سره د مرتهن حق د رهن سره متعلق دی فَلَا يَمْلِكُ أَحَدُهُمَا إِبْطَالَ حَقِّ الْآخَرِ نو ځکه دوی يو د بل د حق باطلولو ملکيت [اختيار] نه لري فَلَوْ هَلَكَ فِي يَدِهِ بيا که مرهون شی د عادل په قبضه کي هلاک سي هَلَكَ فِي ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ نو د مرتهن په ضمان کي هلاکيږي لِأَنَّ يَدَهُ فِي حَقِّ الْمَالِيَّةِ يَدُ الْمُرْتَهِنِ ځکه چي د ماليت په هکله د عادل کس قبضه د مرتهن قبضه ده وَهِيَ الْمَضْمُوْنَةُ او همدا ماليت مضمون وي.

اللغات: ﴿مالية﴾ مال والی، قيمت.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې هغه مرهون شی کوم چې د راهن او مرتهن دواړو په اتفاق سره عادل کس ته ایښودل سوی وي، څرنګه چې په هغه کې د راهن او مرتهن داواړو حق دی (چې د راهن حق د عین او ذات په اعتبار سره دی او د مرتهن حق د مالیت په اعتبار سره دی)، نو ځکه دوی یوه ته دا حق نسته چې د بل حق باطل کړي. لهذا کله چې داسې ده نو بیا یوه ته دا حق هم نسته چې مرهون له عادل څخه واخلي.

بیا که دا مرهون د عادل سره هلاک سي، نو د مرتهن په ضمان کې هلاکیږي او د مرتهن له مال څخه هلاک شمېرل کیږي او د مخکینې تفصیل مطابق قرض ساقطیږي؛ ځکه چې د مرهون شي د مالیت په هکله د عادل کس قبضه د ضمان قبضه وي، ځکه چې د عادل قبضه د مالیت په اعتبار سره د مرتهن قبضه وي، او څرنګه چې د رهن په باب کې همدا مالیت مضمون وي (یعني د مرهون شي ضمان د مالیت په اعتبار سره لازمیږي)؛ نو ځکه د مرهون شي هلاکت به د مرتهن په ضمان کې شمېرل کیږي او راهن به د هغه له قرض څخه بري کیږي.

که مذکوره رهن ضایع سي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ دَفَعَ الْعَدْلُ إِلَى الرَّاهِنِ أَوِ الْمُرْتَهِنِ او که عادل کس [مرهون شی] راهن یا مرتهن ته ورکړي ضَمِنَ نو عادل ضامن کیږي لِأَنَّهُ مُودَعُ الرَّاهِنِ فِي حَقِّ الْعَيْنِ ځکه عادل چې کس [د مرهون شي] د ذات په حق کې د راهن مودَع [او امین] دی وَمُودَعُ الْمُرْتَهِنِ فِي حَقِّ الْمَالِيَةِ او د مالیت په حق د مرتهن مودَع دی وَأَحَدُهُمَا أَجْنَبِيٌّ عَنِ الْآخَرِ او د دوی یو له بل څخه اجنبي دی وَالْمُودَعُ يَضْمَنُ بِالدَّفْعِ إِلَى الْأَجْنَبِيِّ او مودَع کس اجنبي ته په ورکولو سره ضامن کیږي.

تشریح: مخکینی حکم (چې مرهون د مرتهن په ضمان کې هلاکیږي) هغه وخت دی کله چې د مرهون په هلاکت او ضایع کېدلو کې د عادل لاس نه وي، لېکن که د مرهون په هلاکت کې د عادل لاس وي او د هغه له طرفه تعدي واقع سي په دې توګه چې هغه خپله راهن یا مرتهن مرهون شی ورکړي او بیا دا شی د هغه په قبضه کې هلاک سي، نو اوس هغه د مرتهن په ضمان کې نه هلاکیږي، بلکې د هغه ضمان پر عادل کس دی؛ ځکه چې د مرهون د ذات په حق کې عادل کس د راهن مودَع او امین (امانت ساتونکی) دی او د مرهون د مالیت په حق کې د مرتهن امین دی، او راهن او مرتهن یو د بل په حق کې اجنبي دی او حکم دا دی چې امین (مودَع) که یو اجنبي سړي ته د امانت شی ورکړی او دا شی د هغه سره هلاک او ضایع سي، نو پر امین ضمان لازمیږي، نو ځکه په دې مسئله کې به پر عادل کوم چې امین (مودَع) دی ضمان لازمیږي او مرهون شی چې د چا سره هلاک سوی دی پر هغه به ضمان نه وي. (احسن الهدایه)

د رهن د ضمان قيمت عادل کس د ځان سره ايښوولای سي که نه ؟ (حکم او تفصيل)

وَإِذَا ضَمِنَ الْعَدْلُ قِيْمَةَ الرَّهْنِ بَعْدَ مَا دَفَعَ إِلَى أَحَدِهِمَا او کله چي عادل کس ضامن سي د رهن [مرهون] د قيمت وروسته تر دې چي د دوی [راهن او مرتهن] يوه ته مرهون ورکړي [يعني کله چي راهن يا مرتهن ته د مرهون شي د ورکولو او هلاکېدلو په وجه عادل کس د هغه د قيمت ضامن سي] وَقَدِ اسْتَهْلَكَهُ الْمَدْفُوعُ إِلَيْهِ حال دا چي مدفوع اليه [کوم يوه ته چي مرهون ورکول سوی وي هغه] دا مرهون هلاک کړی وي أَوْ هَلَكَ فِي يَدِهِ يا د هغه په قبضه کي هلاک [او ضايع] سوی وي لَا يَقْدِرُ أَنْ يَجْعَلَ الْقِيمَةَ رَهْنًا فِي يَدِهِ نو [په دې صورت کي] عادل کس د دې قدرت [او اختيار] نه لري چي دا قيمت په خپل قبضه کي رهن وګرځوي [يعني چي د ځان سره يې په رهن کښېږدي] لِأَنَّهُ يَصِيرُ قَاضِيًا وَمُقْتَضِيًا ځکه چي [په دې صورت کي] عادل کس به هم اداء کوونکی او هم ترلاسه کوونکی وګرځي وَبَيْنَهُمَا تَنَافٍ او د دې دواړو تر مينځ منافات دی لَكِنْ يَتَّفِقَانِ عَلَى أَنْ يَأْخُذَاهَا مِنْهُ وَيَجْعَلَاهَا رَهْنًا عِنْدَهُ أَوْ عِنْدَ غَيْرِهِ لېکن دا چي دوی پر دې خبره اتفاق وکړي چي دا قيمت له عادل څخه واخلي او د هغه سره يا د بل چا سره يې په رهن کښېږدي وَلَوْ تَعَذَّرَ اجْتِمَاعُهُمَا او که د دوی دواړو [راهن او مرتهن] جمع کېدل مشکل سي يَرْفَعُ أَحَدُهُمَا إِلَى الْقَاضِي لِيَفْعَلَ كَذَلِكَ نو له دوی څخه يو دي قاضي ته دا [فيصله] پېښه کړي چي قاضي همداسي وکړي [أي ليأخذ القيمة من يد العدل بالضمان منه ثم يضعه رهنا عنده].

اللغات: ﴿استهلک﴾ د استفعال مضارع ده: هلاکول، تلفول (له منځه وړل)، ﴿قاضي﴾ د ضرب د باب فاعل دی، د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: اداء کول، ورکول نو د دې لفظ معنیٰ ده: ورکوونکی، ﴿مقتضي﴾ د افتعال د باب فاعل دی: کله چي د دې باب په صله کي مال، قرض يا بل حق ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: ترلاسه کول، اخيستل، حاصلول، نو د دې لفظ معنیٰ ده: ترلاسه کوونکی (اخيستونکی).

﴿مودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چي امانت ايښودل سوی وي، امين (امانت ساتونکی).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که عادل کس راهن يا مرتهن ته مرهون شی ورکړي او د هغه سره هلاک او ضايع سي نو پر عادل کس د هغه د قيمت ضمان واجبيږي، اوس که عادل وغواړي چي دا قيمت د خپل ځان سره په رهن کښېږدي، نو هغه ته د دې حق نسته؛ ځکه په دې صورت کي به هغه هم ضمان ورکوونکی او هم ضمان اخيستونکی وي، حال دا چي په ورکولو او اخيستلو کي منافات دی، نو ځکه عادل کس ته خپله د ضمان قيمت د ځان سره ايښوول جائز نه دي، خو که راهن او

مرتهن په ګډه له هغه ځخه قيمت واخلي، نو اوس دوی ته اختيار دی چې هغه قيمت دعادل کس سره په رهن اېږدي او که دبل چا سره يې اېږدي؛ ځکه په دې صورت کې عادل کس ورکونکی او اخيستونکی دواړه نه شمېرل کېږي، نو ځکه دا صورت جائز دی.

او که راهن او مرتهن جلا، جلا او يو له بل ځخه ليري اوسيږي او د دواړو جمع کېدل مشکل وي، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې له دوی ځخه يو دې قاضي ته دا معامله پېش کړي چې قاضي له عادل کس ځخه د ضمان قيمت واخلي او بيرته يې د هغه (عادل) يا بل چا سره په رهن کښېږدي. (احسن الهدايه)

که په مخکيني صورت کې راهن د مرتهن قرض اداء کړي نو قيمت د چا کېږي؟

وَلَوْ فَعَلَ ذٰلِكَ او که قاضي داسې وکړي [يعني له عادل کس ځخه قيمت واخلي او د هغه سره يې په رهن کښېږدي] ثُمَّ قَضَى الرَّاهِنُ الدَّيْنَ بيا راهن قرض اداء کړي وَقَدْ ضَمِنَ الْعَدْلُ الْقِيْمَةَ بِالدَّفْعِ إِلَى الرَّاهِنِ حال دا چې عادل کس راهن ته د [مرهون] ورکولو په وجه ضامن سوی وي فَالْقِيْمَةُ سَالِمَةٌ لَهُ نو قيمت د عادل کس لپاره سالم دی [يعني د هغه لپاره سالم او خوندي پاتيږي] لِوُصُوْلِ الْمَرْهُوْنِ إِلَى الرَّاهِنِ وَوُصُوْلِ الدَّيْنِ إِلَى الْمُرْتَهِنِ ځکه چې مرهون راهن ته ورسېدی او قرض مرتهن ته ورسېدی فَلَا يَجْتَمِعُ الْبَدَلُ وَالْمُبْدَلُ فِيْ مِلْكٍ وَاحِدٍ نو د يوه کس په ملکيت کې به بدل او مبدل دواړه نه جمع کېږي وَإِنْ كَانَ ضَمِنَهَا بِالدَّفْعِ إِلَى الْمُرْتَهِنِ او که عادل کس مرتهن ته د [مرهون] ورکولو په وجه د قيمت ضامن سوی وي فَالرَّاهِنُ يَأْخُذُ الْقِيْمَةَ مِنْهُ نو راهن به له هغه ځخه قيمت اخلي لِأَنَّ الْعَيْنَ لَوْ كَانَتْ قَائِمَةً فِيْ يَدِهٖ ځکه که عينِ مرهون د عادل کس په قبضه کې موجود پاته وای يَأْخُذُهَا إِذَا أَدَّى الدَّيْنَ نو راهن به هغه اخيستلای کله چې يې قرض اداء کړي وای فَكَذٰلِكَ يَأْخُذُ مَا قَامَ مَقَامَهَا نو همداسې به راهن د دې عينِ مرهون قائم مقام [يعني قيمت] هم اخلي وَلَا جَمْعَ فِيْهِ بَيْنَ الْبَدَلِ وَالْمُبْدَلِ او په دې کې د بدل او مبدل تر مينځ جمع کول نسته.

اللغات: ﴿ضمن﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضامن کېدل، ضمان (تاوان) پرې واجبېدل. ﴿سالمة﴾ د سمع د باب فاعل دی: سلامت، خوندي او محفوظ. ﴿مبدل﴾ کوم شی چې د بدل په مقابله کې وي (لکه ځرنګه چې مبيع ته هم په دې وجه مبدل ويل کېږي چې هغه د بدل يعني د ثمن په مقابله کې وي. يا په بله وينا دا ...

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله قاضي له عادل کس څخه په ضمان (تاوان) کې د هلاک سوي مرهون قيمت واخلي او دا قيمت بيرته همدې عادل کس ته په رهن کښېږدي او په دې دوران کې راهن د مرتهن قرض اداء کړی. نو هغه قيمت کوم چې د عادل سره پروت دی. هغه د چا کيږي؟.
نو فرمايي چې د دې دوه صورتونه دي:
①... يو صورت دا دی چې که عادل کس هغه هلاک سوی مرهون شی راهن ته ورکړی وي (او راهن د مرتهن قرض اداء کړي). نو اوس مسئله ښکاره ده چې دا قيمت نه د راهن کيږي او نه د مرتهن. بلکې د همدې عادل کس حق کيږي: ځکه راهن ته خپل حق يعني مرهون شی حاصل سوی دی او مرتهن ته هم خپل حق يعني قرض حاصل سوی دی. لهذا اوس له هر طرف څخه معامله صفا ده. نو ځکه عادل کس ته به هم خپل حق يعني قيمت ورکول کيږي: ځکه که دا قيمت له عادل څخه واخيستل سي او راهن ته ورکول سي. نو د راهن په حق کې به مبدل يعني مرهون او بدل يعني د مرهون قيمت دواړه سره جمع سي. حالانکې د يوه کس په ملکيت کې د بدل او مبدل دواړو اجتماع صحيح نه ده.
②... او که دويم صورت وي يعني عادل هغه هلاک سوی مرهون شی مرتهن ته ورکړی وي (او راهن د مرتهن قرض اداء کړي). نو په دې صورت کې به دا قيمت له عادل څخه اخيستل کيږي او راهن ته به ورکول کيږي: ځکه که اصل يعني مرهون شی هلاک سوی نه وي او عادل هغه مرتهن ته ورکړي نه وي. نو په دې صورت کې هم کله چې راهن قرض اداء کړي نو راهن به له هغه (عادل) څخه خپل مرهون شی اخلي. او څرنګه چې قيمت د اصل (مرهون) قائم مقام دی. نو ځکه د قرض اداء کولو په وخت کې به د هغه قيمت هم راهن له عادل څخه اخلي: او څرنګه چې دلته عادل کس مرهون شی مرتهن ته ورکړی دی او د هغه سره هلاک سوی دی چې په دې وجه مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځېدلی دی نو ځکه اوس دا مذکوره قيمت مرتهن ته نه سي ورکول کېدای. کنې د مرتهن په حق کې به بدل يعني قيمت او مبدل يعني قرض دواړه سره جمع سي او د يوه کس په حق کې د بدل او مبدل دواړو اجتماع صحيح نه ده. ها! څرنګه چې راهن د مرتهن قرض اداء کړی دی. نو ځکه دا قيمت به راهن ته ورکول کيږي او د هغه په حق کې د بدل او مبدل اجتماع نه لازميږي. (احسن الهدايه)

د رهن (مرهون) د خرڅولو وکيل جوړول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا وَكَّلَ الرَّاهِنُ الْمُرْتَهِنَ أَوِ الْعَدْلَ أَوْ غَيْرَهُمَا فرمايي: او کله چې راهن وکيل جوړ کړي مرتهن يا عادل کس يا له دوی څخه بغير بل څوک بِبَيْعِ الرَّهْنِ عِنْدَ حُلُوْلِ الدَّيْنِ د مرهون شي د خرڅولو [وکيل يې جوړ کړي] د قرض راتللو په وخت کې [يعني که چيري راهن د ځان له طرفه مرتهن يا عادل کس يا بل څوک د قرض د وخت راتللو پر مهال د مرهون شي د خرڅولو وکيل جوړ کړي] فَالْوَكَالَةُ جَائِزَةٌ نو دا وکالت

جائز دی لِأَنَّهُ تَوْكِيلٌ بِبَيْعِ مَالِهِ ځکه چي دا د خپل مال د خرڅولو وکيل جوړول دي وَإِنْ شُرِطَتْ فِي عَقْدِ الرَّهْنِ او که وکالت په عقد رهن کي شرط کړی سي فَلَيْسَ لِلرَّاهِنِ أَنْ يَعْزِلَ الْوَكِيلَ نو راهن ته دا حق نسته چي وکيل معزوله کړي وَإِنْ عَزَلَهُ او که چيري راهن هغه معزوله کړي لَمْ يَنْعَزِلْ نو [هم] هغه نه معزوله کيږي لِأَنَّهَا لَمَّا شُرِطَتْ فِي ضِمْنِ عَقْدِ الرَّهْنِ ځکه کله چي د عقد رهن په ضمن کي وکالت شرط کړی سو صَارَ وَصْفًا مِنْ أَوْصَافِهِ وَحَقًّا مِنْ حُقُوقِهِ نو هغه د رهن له وصفونو څخه يو وصف او د رهن له حقونو څخه يو حق وګرځېدی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لِزِيَادَةِ الْوَثِيقَةِ آيا ته نه ګوري چي عقد وکالت د مضبوطي د زياتوب لپاره کيږي فَيَلْزَمُ بِلُزُومِ أَصْلِهِ نو ځکه عقد وکالت به د خپل اصل [رهن] په لازمېدلو سره لازميږي وَلِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْمُرْتَهِنِ او ځکه چي د عقد وکالت سره د مرتهن حق متعلق سو وَفِي الْعَزْلِ إِتْوَاءُ حَقِّهِ او په معزوله کولو کي د هغه د حق ضايع کول سته وَصَارَ كَالْوَكِيلِ بِالْخُصُومَةِ بِطَلَبِ الْمُدَّعِي او دا داسي سو لکه د مدعي په طلب [مطالبه] سره د خصومت وکيل جوړول.

اللغات: ﴿وکّل﴾ د تفعيل ماضي ده: (يو څوک) وکيل جوړول. د ځان وکيل کول (د ځان نائب جوړول). ﴿حلول﴾ د ضرب مصدر دی: راتلل، حلول کول. ﴿يعزل﴾ د ضرب مضارع ده: معزوله کو، برطرفه کول، له يو منصبه ليري کول. ﴿وثيقة﴾ مضبوطي (مضبوطتيا). په کوم څه سره چي بل څه مضبوط او ټينګيږي، د کوم څه په ذريعه چي معامله مظبوطه سي او عاقدين يو پر بل اعتماد وکړي، سند او دستاويز. ﴿اتواء﴾ د افعال د باب مصدر دی: بربادول، هلاکول او ضايع کول. ﴿خصومة﴾ دعویٰ (دعوه) کول. (خصومت په اصل کي دې ته وايي چي يو سړی پر بل چا د حق دعویٰ کوي او دا بل څوک له هغه څخه انکار کوي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که راهن د خپل ځان له طرفه مرتهن يا عادل کس د دې وکيل جوړ کړي چي کله زما د قرض وخت پوره سي نو زما مرهون شی خرڅ کړه او قرض په اداء کړه!، نو د راهن له طرفه دا توکيل جائز دی؛ ځکه چي هغه د خپل مال د خرڅولو لپاره وکيل جوړ کړی دی او انسان چي څرنګه خپل مال خپله خرڅولای سي، همداسي د بل چا په واسطه يې هم خرڅولای سي. لېکن

دا په یاد لرئ! چې داسې کول د راهن لپاره واجب او لازم نه دي او نه په دې باره کې پر هغه جبر کېدلای سي، بلکې په دې صورت کې چې راهن هر کله وغواړي، وکيل معزوله کولای سي.

د دې په خلاف که مرتهن په راهن باندې دا شرط ولګوي چې ته به يو شخوک وکيل جوړوې! او راهن دا شرط قبول کړي او وکيل جوړ کړي، نو دا وکالت واجب او لازم دی، اوس که راهن وغواړي. نو وکيل نه سي معزوله کولای؛ ځکه د شرط لګولو په وجه دا وکالت د رهن له حقوقو ځخه يو حق او د هغه له اوصافو ځخه يو وصف وګرځېدی؛ ځکه څرنګه چې رهن د حق او قرض د مضبوطتيا لپاره کيږي، همداسې وکالت هم د دغه مضبوطتيا د مضبوطې او پخېدلو لپاره کيږي، نو په دې اعتبار د وکالت سره د مرتهن حق هم متعلق کيږي، اوس دا ښکاره خبره ده چې که راهن وکالت ردّ کړي نو په دې سره د مرتهن حق باطليږي، حالانکې هيڅ ته هم د بل چا د حق باطلولو اختيار نسته، نو په همدې وجه موږ وايو چې که په عقدِ رهن کې وکالت شرط کړی سي، نو هغه واجب او لازم ګرځي.

وصار كالوكيل بالخصومة إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د يو مثال په ذريعه د دې نور وضاحت کوي، حاصل د مثال دا دی چې که په يو مسئله کې مدعي له مدعیٰ عليه څخه دا مطالبه وکړي چې د قاضي په دربار کې د خصومت او دعوې پېشولو لپاره يو شخوک وکيل جوړ کړه! او مدعیٰ عليه د هغه مطالبه قبوله کړي او يو شخوک د دې لپاره وکيل جوړ کړي، نو اوس دا وکالت هم لازم او مشروط ګرځي. لهذا مدعیٰ عليه ته دا اختيار نه حاصليږي چې د مدعي له رضاء څخه بغير هغه وکيل (وكيل بالخصومة) معزوله کړي؛ ځکه چې په دې کې د مدعي د حق باطلول سته. په دې وجه مدعیٰ عليه ته د دې اختيار نسته، نو همداسې په پورتنۍ مسئله کې هم چې کله وکالت په عقدِ رهن کې شرط کړی سي، نو بيا راهن ته د هغه د ردّ کولو اختيار نسته.

مطلق وکالت مقيّد کول

وَلَوْ وَكَّلَهُ بِالْبَيْعِ مُطْلَقًا او که راهن يو شخوک [يعني مرتهن يا عادل يا غيرهما] د مطلق خرڅولو وکيل جوړ کړي حَتَّى مَلَكَ الْبَيْعَ بِالنَّقْدِ وَالنَّسِيئَةِ تر دې چې هغه [وکيل] په نغدو او قرض دواړو سره د خرڅولو مالک سو ثُمَّ نَهَاهُ عَنِ الْبَيْعِ نَسِيئَةً بيا راهن هغه په قرض له خرڅولو څخه منع کړي لَمْ يَعْمَلْ نَهْيُهُ نو د هغه منع کول کار [او اثر] نه کوي لِأَنَّهُ لَازِمٌ بِأَصْلِهِ ځکه چې عقدِ وکالت د خپل اصل سره لازم وو فَكَذَا بِوَصْفِهِ نو همداسې د خپل وصف سره به هم لازم وي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَكَذَا إِذَا عَزَلَهُ الْمُرْتَهِنُ او همدارنګه کله چې مرتهن

وکيل معزوله کړي لَايَنْعَزِلُ نو هغه نه معزوله کيږي لِأَنَّهُ لَمْ يُوَكِّلْهُ ځکه چي مرتهن خو هغه وکيل نه دی جوړ کړی وَإِنَّمَا وَكَّلَهُ غَيْرُهُ بلکي هغه بل چا [يعني راهن] وکيل جوړ کړی دی.

اللغات: ﴿وَكَّل﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: وکيل جوړول، يو څوک د ځان وکيل او نايب کول. ﴿بالنقد﴾ په نغدو سره، چي ثمن سمدستي ځني واخيستل سي. ﴿بالنسيئة﴾ په تأخير (ځنډ) يعني په قرض سره (په پور).

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي:

①... داولي مسئلې حاصل دا دی چي کله په عقد رهن کي وکالت شرط کړی سي، نو هغه لازم ګرځي او ښکاره خبره ده چي کله اصل وکالت لازم ګرځي، نو د هغه اوصاف وغيره ټول لازم کيږي، او څرنګه چي په اصل کي بدلون ممکن نه دی، همداسي په وصف کي يې هم بدلون ممکن نه دی، نو که چيري راهن يو څوک د مطلق بيع او خرڅولو وکيل جوړ کړي او په هغه کي د نغد او قرض هيڅ قيد نه ولګوي، نو وکيل ته په نغدو او په قرض دواړو سره د خرڅولو حق سته؛ ځکه دلته توکيل بالبيع مطلق دی او په مطلق کي نغد او قرض دواړه شامليږي، اوس که تر دې وروسته راهن دا وکيل له قرض والا بيع (يعني په پور خرڅولو) څخه منع کړي نو دامنع کول بې ځايه دي او وکيل لره د مخکي په څېر په نغدو او په قرض دواړو سره د خرڅولو حق پاتيږي؛ ځکه يو ځل چي کله مطلق توکيل بالبيع لازم سو، نو بيا په هغه کي څه ترميم او تبديلي نه سي کېدلای.

②... دويمه مسئله دا ده چي که د راهن پر ځای مرتهن وکيل معزوله کړي، نو هم هغه نه معزوله کيږي؛ ځکه کله چي خپله د مؤکل يعني د راهن عَزل په دغه وکالت کي مؤثر نه دی، نو مرتهن بيا څوک دی، د هغه په عَزل سره خو به په درجه اولیٰ وکيل نه معزوله کيږي.

د راهن په مرګ سره وکالت نه ختميږي

وَإِنْ مَاتَ الرَّاهِنُ او که راهن مړ سي لَمْ يَنْعَزِلْ نو هم [د هغه] وکيل نه معزوله کيږي لِأَنَّ الرَّهْنَ لَا يَبْطُلُ بِمَوْتِهِ ځکه چي رهن د راهن په مرګ سره نه باطليږي وَلِأَنَّهُ لَوْ بَطَلَ او ځکه چي که وکالت باطلېدلای إِنَّمَا يَبْطُلُ لِحَقِّ الْوَرَثَةِ نو هغه به د وارثانو [ميراث خورو] د حق په وجه باطلېدلای وَحَقُّ الْمُرْتَهِنِ مُقَدَّمٌ او د مرتهن حق [د دوی تر حق] مخکي دی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري راهن مړ سي، نو وکالت نه ختميږي او د هغه وکيل نه معزوله کيږي بلکي وکالت باقي پاتيږي؛ ځکه دا وکالت د مشروط کېدلو په وجه د رهن په حقوقو

کي داخل سوی دی او د راهن په مرګ سره چې کله رهن نه باطليږي نو د هغه حق به څنګه باطل سي ! . او بل دا چې که هغه باطل سي نو صرف د وارثانو د حق په وجه به باطليږي ځکه چې تر مرګ وروسته د سړي ملکيت د هغه وارثانو (ميراث خورو) ته منتقل کيږي. ليکن دلته دا صورت هم ممکن نه دی: ځکه مرتهن قرضخواه دی (چې پر راهن يې قرض باندي دی) نو ښکاره ده چې د هغه حق د وارثانو له حق څخه مخکي دی، او کله چې د مرتهن د حق په وجه رهن نه باطليږي نو د وارثانو د حق په وجه به په درجه اولیٰ نه باطليږي.

د وارثانو په نا موجوديت کي د مرهون شي د خرڅولو حکم

قَالَ: وَلِلْوَكِيلِ أَنْ يَبِيعَهُ بِغَيْرِ مَحْضَرٍ مِنَ الْوَرَثَةِ فرمايي: او وکيل ته دا حق سته چې [د راهن] د وارثانو له حضور څخه بغير مرهون خرڅ کړي كَمَا يَبِيعُهُ فِي حَالِ حَيَاتِهِ بِغَيْرِ مَحْضَرٍ مِنْهُ لکه څرنګه چې وکيل د راهن په ژوند کي د هغه له حضور څخه بغير مرهون خرڅولای سي وَإِنْ مَاتَ الْمُرْتَهِنُ او که چيري مرتهن مړ سي فَالْوَكِيلُ عَلَى وَكَالَتِهِ نو وکيل پر خپل وکالت دی [يعني وکالت باقي پاتيږي] لِأَنَّ الْعَقْدَ لَا يَبْطُلُ بِمَوْتِهِمَا وَلَا بِمَوْتِ أَحَدِهِمَا ځکه چې عقد رهن نه د دوی دواړو په مرګ سره باطليږي او نه د دوی يوه په مرګ سره باطليږي فَيَبْقَى بِحُقُوقِهِ وَأَوْصَافِهِ نو هغه [عقد رهن] به د خپلو حقوقو او اوصافو سره باقي پاتيږي [الحقوق: الحبس والاستيفاء والوكالة. الأوصاف: اللزوم وجبر الوكيل وحق الصرف الدراهم بالدنانير...].

اللغات: ﴿محضر﴾ د نصر د باب مصدر ميمي دی: حضور (حاضر والی)، موجوديت (موجود والی). موجودګي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه د راهن په ژوند کي د هغه په نا موجوديت کي وکيل ته د مرهون شي د خرڅولو حق او اختيار سته. همداسي د راهن له مرګ څخه وروسته د راهن د وارثانو په نا موجوديت کي هم وکيل ته د هغه د خرڅولو حق سته او بيع يې صحيح او جائز ده.

وإن مات إلخ: فرمايي که چيري د راهن پر ځای مرتهن مړ سي. نو د هغه په مرګ سره هم وکالت نه ختميږي بلکي وکيل د مخکي په څېر پر خپل وکالت باقي پاتيږي: ځکه چې دا وکالت په رهن کي مشروط دی. او رهن داسي عقد دی چې هغه نه د راهن او مرتهن په مرګ سره باطليږي او نه په دوی کي د يوه په مرګ سره باطليږي. بلکي د دواړو تر مرګ وروسته هم عقد رهن د خپلو اوصافو او حقوقو سره باقي سلامت پاتيږي.

د وکیل په مرګ سره وکالت ختمیږي

وَإِنْ مَاتَ الْوَكِيْلُ او که چیري وکیل مړ سي اِنْتَقَضَتِ الْوَكَالَةُ نو وکالت ماتیږي وَلَا يَقُوْمُ وَارِثُهُ وَلَا وَصِيُّهُ مَقَامَهُ او نه دریږي د وکیل وارث او نه د وکیل وصي د وکیل پر ځای [یعني نه د وکیل وارث د دې وکیل قائم مقام کیږي او نه د ده وصي...] لِأَنَّ الْوَكَالَةَ لَا يَجْرِيْ فِيْهَا الْإِرْثُ ځکه چي په وکالت کي وراثت نه جاري کیږي وَلِأَنَّ الْمُوَكِّلَ رَضِيَ بِرَأْيِهِ لَا بِرَأْيِ غَيْرِهِ او ځکه چي مؤکل د وکیل په رایه راضي سوی دی، نه له هغه څخه بغیر د بل چا په رایه وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ وَصِيَّ الْوَكِيْلِ يَمْلِكُ بَيْعَهُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي د وکیل وصي د هغه د خرڅولو ملکیت [او اختیار] لري لِأَنَّ الْوَكَالَةَ لَازِمَةٌ ځکه چي وکالت لازم دی فَيَمْلِكُهُ الْوَصِيُّ نو ځکه وصي به د هغه ملکیت لري كَالْمُضَارِبِ إِذَا مَاتَ بَعْدَ مَا صَارَ رَأْسُ الْمَالِ أَعْيَانًا لکه مضارب چي کله مړ سي وروسته تر دې چي رأسُ المال په شیانو سره بدل سي [یعني چي مضاب په رأسُ المال سره شیان رانیسي او بیا مړ سي] يَمْلِكُ وَصِيُّ الْمُضَارِبِ بَيْعَهَا نو د مضارب وصي د هغوی د خرڅولو ملکیت لري لِمَا أَنَّهُ لَازِمٌ بَعْدَ مَا صَارَ أَعْيَانًا ځکه چي عقد مضاربت لازم دی وروسته تر دې چي رأسُ المال په شیانو سره بدل سو قُلْنَا: التَّوْكِيْلُ حَقٌّ لَازِمٌ لٰكِنْ عَلَيْهِ موږ [په جواب کي ورته] وایو: چي توکیل [وکالت] لازم حق دی خو صرف پر وکیل [لازم دی] وَالْإِرْثُ يَجْرِيْ فِيْمَا لَهُ او میراث په هغه څه کي جاري کیږي کوم چي د سړي لپاره وي [نه په هغه څه کي کوم چي پر سړي لازم وي] بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ په خلاف د مضاربت لِأَنَّهَا حَقُّ الْمُضَارِبِ ځکه چي هغه د مضارب حق دی.

اللغات: ﴿انتقضت﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: مات‌بدل. ختم‌بدل.

﴿وصي﴾ چا ته چي مړي وصیت کړی وي (چا ته چي دیو کار وصیت سوی وي). هغه کس چي مړي یو کار ورته سپارلی وي. ﴿إرث﴾ میراث. وراثت. ﴿رأسُ المال﴾ اصل مال (اصل مال مضاربت کوم چي د ربُ المال له طرفه مضارب ته ورکول سوی وي).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که راهن یا مرتهن مړ نه سي بلکي خودي وکیل مړ سي. نو وکالت ختمیږي او د هغه وارث یا وصي په دې هکله د هغه نه قائم مقام کیږي: ځکه د انسان نیابت په

هغه أمورو کي کېدلای سي چي په هغوی کي وراثت جاري کيږي، حال دا چي په وکالت کي وراثت نه جاري کيږي، نو ځکه په هغه کي به نيابت هم نه جاري کيږي، او بل دا چي مؤکل (راهن) دا وکيل په خپله خوښه او په خپله رايه سره وکيل جوړ کړی دی چي په هغه کي يې فهم او قابليت ليدلی دی او د وکيل په وارث يا د هغه په وصي کي به دومره قابليت نه وي، نو په دې وجه به هم په هغه کي نيابت نه جاري کيږي، کنې د وکالت مقصد به فوت سي.

وعن أبي يوسف إلخ: په دې سلسله کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دا نقل سوي دي چي د وکيل وصي د هغه نائب کيږي او د قرض اداء کولو لپاره هغه ته هم د مرهون شيَ د خرڅولو اختيار حاصليږي؛ ځکه چي دا وکالت لازم وو.او د هغه فسخ کېدل متعذّر وه. نو ځکه د وکيل تر مرګ وروسته به خپل وصي د هغه قائم مقام کيږي، لکه څرنګه چي مضارب دی چي که هغه په رأسُ المال (مال مضاربت) سره شيان رانيسي او بيا د هغوی تر خرڅولو مخکي مضارب مړ سي، نو د مضارب وصي د هغه قائم مقام کيږي او د مضارب وصي ته د هغه شيانو د خرڅولو اختيار حاصليږي؛ ځکه کله چي مالِ مضاربت په شيانو سره بدل سي (يعني سامان په رانيول سي) نو مضاربت هم لازم ګرځي، نو همداسي دِ رهن په مسئله کي هم څرنګه چي دا وکالت لازم وو، نو ځکه د رهن په مسئله کي به هم د وکيل وصي د هغه قائم مقام کيږي.

لېکن صاحبِ ذ هدايې د طرفينو له طرفه امام ابو يوسف ته دا جواب ورکړی دی چي وکالت که څه هم لازم خو دی لېکن هغه فقط پر وکيل لازم دی، نه د وکيل لپاره. او قاعده دا ده چي په کومو أمورو کي وجوب وي او منفعت نه وي يا په بله وينا دا چي په کومو أورو کي پر خپل ځان لزوم وي، د ځان لپاره پر بل چا لزوم نه وي، په هغه أمورو کي ميراث نه جاري کيږي او يو له هغه أمورو څخه وکالت دی، نو ځکه په هغه کي به هم ميراث نه جاري کيږي، او پر مضاربت هغه قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چي په مضاربت کي وجوب او لزوم نه وي بلکي منفعت وي چي په داسي أمورو کي ميراث جاري کيږي، لهذا يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

د مرهون شي د خرڅولو حکم

وَلَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَبِيعَهُ إِلَّا بِرِضَا الرَّاهِنِ او مرتهن ته دا حق نسته چي مرهون شی خرڅ کړي مګر د راهن په رضا [او خوښې] سره لِأَنَّهُ مِلْكُهُ ځکه چي هغه د راهن ملکيت دی وَمَا رَضِيَ بِبَيْعِهِ او راهن د هغه په خرڅولو راضي سوی نه دی وَلَيْسَ لِلرَّاهِنِ أَنْ يَبِيعَهُ إِلَّا بِرِضَا الْمُرْتَهِنِ او راهن ته [هم] دا حق نسته چي مرهون شی خرڅ کړي مګر د مرتهن په رضا سره لِأَنَّ الْمُرْتَهِنَ أَحَقُّ بِمَالِيَّتِهِ

مِنَ الرَّاهِنِ ځکه چې مرتهن تر راهن د مرهون شي د مالیت زیات حقدار دی فَلَا يَقْدِرُ الرَّاهِنُ عَلٰى تَسْلِيْمِهِ بِالْبَيْعِ لهذا په خرڅولو سره به راهن د مرهون شي پر وسپارلو قدرت [او اختیار] نه لري.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې نه د راهن له رضا او خوښې څخه بغیر مرتهن مرهون شی خرڅولای سي او نه د مرتهن له رضا څخه بغیر راهن هغه خرڅولای سي: مرتهن خو ځکه هغه نه سي خرڅولای چې مرهون شی د راهن ملکیت دی او د بل چا ملکیت د هغه له رضا څخه بغیر خرڅول جائز نه دي، او راهن ځکه هغه نه سي خرڅولای چې د مرهون شي په مالیت کې د مرتهن حق له راهن څخه زیات دی، لهذا که راهن هغه خرڅ هم کړي، نو هم به د مرهون شي پر وسپارلو قادر نه وي (چې مشتري ته یې ورکړي)، حال دا چې د بیع د انعقاد لپاره د مبیع ورسپارل ضروري دي، یا په بله وینا دا چې د مبیع مقدورُ التسلیم کېدل ضروري دي (لکه په کتابُ البیع کې چې ذکر سوه) او په دې مسئله کې چې کله بائع یعنې راهن د مرهون پر ورسپارلو قادر نه دی، نو ښکاره ده چې بیع یې د هیڅ کار نه ده، نو ځکه راهن ته هم د مرهون شي د بیع حق نسته.

که د قرض وخت راسي او راهن موجود نه وي نو څه به کیږي؟

قَالَ: فَإِنْ حَلَّ الْأَجَلُ فرمایي: که چیري [د قرض اداء کولو] نېټه راسي وَأَبَى الْوَكِيْلُ الَّذِيْ فِيْ يَدِهِ الرَّهْنُ أَنْ يَبِيْعَهُ او هغه وکیل چې په قبضه کې یې رهن [مرهون] دی د هغه له خرڅولو څخه انکار وکړي وَالرَّاهِنُ غَائِبٌ او راهن غائب وي أُجْبِرَ عَلٰى بَيْعِهِ نو وکیل به د هغه په خرڅولو باندې مجبورول کیږي لِمَا ذَكَرْنَا مِنَ الْوَجْهَيْنِ فِيْ لُزُوْمِهِ د هغه دوو دلیلونو په وجه کوم چې موږ د توکیل د لزوم په هکله ذکر کړل وَكَذٰلِكَ الرَّجُلُ يُوَكِّلُ غَيْرَهُ بِالْخُصُوْمَةِ او همدارنګه که سړی بل څوک د خصومت [دعوې پېشولو] وکیل جوړ کړي وَغَابَ الْمُوَكِّلُ او مؤکل [سړی] غائب سي فَأَبٰى أَنْ يُخَاصِمَ بیا وکیل له خصومت کولو څخه انکار وکړي أُجْبِرَ عَلَى الْخُصُوْمَةِ لِلْوَجْهِ الثَّانِيْ نو هغه وکیل به په خصومت باندې مجبورول کیږي د دویم دلیل په وجه وَهُوَ أَنَّ فِيْهِ إِتْوَاءَ الْحَقِّ او هغه [دویم دلیل] دا دی چې په دې کې د حق ضایع کول [او باطلول] سته بِخِلَافِ الْوَكِيْلِ بِالْبَيْعِ په خلاف د خرڅولو د وکیل [کوم چې یو سړي دیو شي د خرڅولو وکیل جوړ کړی وي] لِأَنَّ الْمُوَكِّلَ يَبِيْعُ بِنَفْسِهِ ځکه چې مؤکل خپله خرڅول کولای سي [یعنې خپله هم د شي پر خرڅولو قادر دی] فَلَا يَتْوٰى حَقُّهُ نو د هغه حق به نه ضایع

کیږي أَمَّا الْمُدَّعِیْ لَا یَقْدِرُ عَلَى الدَّعْوٰی او کوم چي مدعي دی نو هغه پر دعوې [پیشولو] قادر نه دی وَالْمُرْتَهِنُ لَا يَمْلِكُ بَيْعَهٗ بِنَفْسِهٖ او مرتهن خپله [په خپل اختیار سره] د خرڅولو ملکیت [او قدرت] نه لري.

اللغات: ﴿حَلّ﴾ د ضرب ماضي ده: (وخت) راتلل. ﴿أجل﴾ نېټه. ټاکل سوی مودت. ﴿أجبر﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: مجبورول. ﴿إتواء﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضایع کول. بربادول. هلاکول. ﴿خصومة﴾ دعویٰ او مقدمه. جنګ او نزاع. (خصومت په اصل کي دې ته وایي چي یو سړی پر بل چا د حق دعویٰ کوي او دا بل څوک له هغه څخه انکار کوي). ﴿لا يتوىٰ﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضایع کېدل. بربادېدل. هلاکېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چیري د قرض د اداء کولو وخت راسي او د کوم وکیل سره چي مرهون شی وي هغه یې له خرڅولو څخه انکار وکړي او راهن هم موجود نه وي. نو په دې صورت کي به وکیل د مرهون شي پر خرڅولو مجبورول کیږي: ځکه مخکي دا خبره تېره سوه چي وکالت که په عقدِ رهن کي مشروط وي نو هغه لازم ګرځي او د لازم حق لپاره جبر کول جائز دي. او د جبر د جواز دویم دلیل دا دی چي د دغه مرهون شي سره د مرتهن حق (قرض) متعلق دی چي د هغه د اداء کولو یوازینی لاره بیع ده. لهذا له بیع څخه منع کېدل او انکار کول د مرتهن حق باطلول دي او له باطلېدلو څخه د ساتلو لپاره جبر کېدلای سي (یعني د دې لپاره جبر کول او مجبوره کول جائز دي چي د یو چا حق له باطلېدلو څخه وساتل سي). نو په دې وجه هم پر وکیل بالبیع به جبر کیږي. صاحب د هدایې په "لما ذکرنا" سره د همدې دوو دلیلونو وطرف ته اشاره کړې ده.

وکذلك إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د مدعي په مطالبه سره مدعیٰ علیه یو څوک وکیل بالخصومت جوړ کړي او مدعیٰ علیه غائب سي. بیا کله چي مدعي له وکیل بالخصومت څخه د خصومت او دعوې پېشولو مطالبه وکړي چي زما سره دعویٰ وڅېړه او عدالت ته را سره ولاړ سه!. نو وکیل انکار وکړي. فرمایي چي په دې صورت کي به هم وکیل پر خصومت مجبورول کیږي: ځکه که هغه مخاصمه پرېږدي نو د مدعي حق باطلیږي. لهذا د دویم دلیل په وجه یعني له باطلېدلو څخه د بل چا (مدعي) د حق ساتلو په خاطر به وکیل پر خصومت مجبورول کیږي.

د دې په خلاف که یو سړی د خپل یو شي د خرڅولو لپاره یو څوک وکیل جوړ کړي او بیا وکیل انکار وکړي چي دا شی نه خرڅوم. نو پر هغه جبر نه سي کېدلای: ځکه په دې کي د جبر علت

يعني د بل چا د حق باطلېدل نسته او بل دا چې خپله مؤکل هم د خپل شي پر خرڅولو قادر دی. نو ځکه په دې صورت کې د جبر اختيار نسته.

لېکن د مؤکل په خلاف مرتهن او مدعي په دې هکله مجبوره دي؛ ځکه چې خپله مرتهن پر خرڅولو قادر نه دی لکه په مخکنۍ مسئله کې چې بيان سوه او مدعي پر دعوې پېشولو قادر نه دی. لهذا د دوی معامله د وکيل په لاس کې ده. نو ځکه د معاملې د حل کولو لپاره پر دغه وکيل جبر کېدلای سي. (احسن الهدايه)

د وکالت نه مشروط کېدلو صورت

فَلَوْلَمْ يَكُنِ التَّوْكِيْلُ مَشْرُوْطًا فِيْ عَقْدِ الرَّهْنِ بيا که چيري توکيل [وکالت] په عقد رهن کې شرط کړی سوی نه وي وَإِنَّمَا شُرِطَ بَعْدَهُ بلکې تر عقد رهن وروسته هغه شرط کړی سوی وي قِيْلَ: لَا يُجْبَرُ اِعْتِبَارًا بِالْوَجْهِ الْأَوَّلِ نو ويل سوي دي: چې وکيل به نه مجبورول کيږي د اول دليل په اعتبار کولو سره [اول دليل دا دی چې د مشروط کېدلو په وجه وکالت د عقد رهن له حقوقو څخه يو حق وګرځېدی] وَقِيْلَ: يُجْبَرُ رُجُوْعًا إِلَى الْوَجْهِ الثَّانِيْ او ويل سوي دي: چې هغه به مجبورول کيږي دويم دليل ته په رجوع کولو سره [دويم دليل دا دی چې په دې کې د حق باطلېدل ستة] وَهٰذَا أَصَحُّ او دا قول زيات صحيح دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ الْجَوَابَ فِي الْفَصْلَيْنِ وَاحِدٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې په دواړو صورتونو کې جواب [حکم] يو دی وَيُؤَيِّدُهُ إِطْلَاقُ الْجَوَابِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ وَفِي الْأَصْلِ او په جامع صغير او اصل [مبسوط] کې د جواب مطلق والی د همدې تائيد کوي.

اللغات: ﴿مشروط﴾ د ضرب د باب مفعول دی: شرط کړی سوی (د کوم څه چې شرط لګول سوی وي).

تشريح: پر وکيل جبر کول (مجبوره کول) هغه وخت صحيح دي کله چې وکالت په عقد رهن کې مشروط وي. لېکن که وکالت د عقد په وخت کې مشرط نه وي او وروسته هغه مشرط کړی سي. نو په دې صورت کې د جبر په هکله دوه قولونه دي:

① ... جبر به نه کيږي؛ ځکه کله چې له ابتداء څخه وکالت په عقد رهن کې مشروط نه وو. نو وکالت د عقد له حقوقو څخه نه سو. لهذا د دغه اول دليل په اعتبار سره به په دې صورت کې جبر نه کيږي.

(۲)... دويم قول دا دی چي جبر به کيږي: ځکه د دويم دليل پر بناء په دې کي د مرتهن د حق باطلېدل سته، نو له ابطال څخه د هغه د حق ساتلو په خاطر به پر وکيل جبر کيږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دلته دويم قول زيات صحيح او معتمد دی.

وعن أبي يوسف إلخ: فرمايي چي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوی دی چي برابره ده وکالت له ابتداء څخه مشروط وي او که وروسته هغه شرط کړی سي، په هر صورت کي د هغه حکم يو دی يعني پر وکيل به جبر کيږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله چي په جامع صغير او مبسوط کي کوم حکم بيان کړی دی، په هغه سره هم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول تائيد کيږي. د بنايه په حواله سره د مبسوط او جامع صغير عبارت داسي دی "إذا أبى الوكيل عن البيع يجبر". څرنګه چي دا قول مطلق دی او په دې کي د وکالت د مشروط کېدلو او نه کېدلو او د شروع او مينځ هيڅ قيد نسته، نو ځکه د جبر حکم به هم مطلق وي او په دواړو صورتونو کي به جبر کيږي.

دري مختلفه مسئلي

وَإِذَا بَاعَ الْعَدْلُ الرَّهْنَ او کله چي عادل رهن [مرهون] خرڅ کړي فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الرَّهْنِ نو هغه [مرهون] له رهن څخه ووتی وَالثَّمَنُ قَائِمٌ مَقَامَهُ او د ثمن د هغه قائم مقام دی [د هغه پر ځای ولاړ دی] فَكَانَ رَهْنًا نو ځکه [اوس] به ثمن رهن وي وَإِنْ لَمْ يُقْبَضْ بَعْدُ که څه هم تر اوسه پر ثمن قبضه نه وي سوې لِقِيَامِهِ مَقَامَ مَا كَانَ مَقْبُوضًا ځکه چي ثمن د هغه شي [مرهون] قائم مقام دی پر کوم چي قبضه سوې ده وَإِذَا تَوِيَ او کله چي ثمن هلاک سي كَانَ مَالَ الْمُرْتَهِنِ نو هغه به د مرتهن مال وي [يا په بله وينا دا چي د ثمن هلاکت د مرتهن د مال هلاکت دی] لِبَقَاءِ عَقْدِ الرَّهْنِ فِي الثَّمَنِ ځکه په ثمن کي عقد رهن باقي دی لِقِيَامِهِ مَقَامَ الْمَبِيعِ الْمَرْهُونِ ځکه چي ثمن د خرڅ کړی سوي مرهون شي قائم مقام دی وَكَذَلِكَ إِذَا قُتِلَ الْعَبْدُ الرَّهْنُ او همدارنګه کله چي مرهون غلام ووژل سي وَغَرِمَ الْقَاتِلُ قِيمَتَهُ او وژونکی کس د هغه د قيمت تاوان [ضمان] ورکړي لِأَنَّ الْمَالِكَ يَسْتَحِقُّهُ مِنْ حَيْثُ الْمَالِيَّةُ ځکه چي مالک [راهن] د ماليّت [مال کېدلو] په اعتبار سره د دې ضمان مستحق دی وَإِنْ كَانَ بَدَلَ الدَّمِ که څه هم دا ضمان دويني بدل دی فَأَخَذَ حُكْمَ ضَمَانِ الْمَالِ فِي حَقِّ الْمُسْتَحِقِّ نو دا ضمان

به د مستحق [راهن] په حق کې د مال د ضمان حکم اخلي فَبَقِيَ عَقْدُ الرَّهْنِ لهذا عقدِ رهن باقي پاتې سو وَكَذٰلِكَ لَوْقَتَلَهُ عَبْدٌ او همدارنګه که يو غلام دا مرهون غلام قتل کړي فَدُفِعَ بِهِ بيا قاتل غلام د هغه [مقتول غلام] په عوض کې ورکول سي لِأَنَّهُ قَائِمٌ مَقَامَ الْأَوَّلِ لَحْمًا وَ دَمًا ځکه چې دا [قاتل] غلام د غوښې او وينې په [هر] اعتبار سره د اول غلام قائم مقام دی.

اللغات: ﴿مقبوض﴾ د ضرب د باب مفعول دی: قبضه کړی سوی، اخيستلی سوی. ﴿توی﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضايع کېدل، بربادېدل، هلاکېدل. ﴿غرم﴾ د سمع د باب ماضي ده: تاوان ورکول، ضمان اداء کول.

تشريح: په دې عبارت کې ټوله درې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که عادل کس مرهون شی خرڅ کړي نو د خرڅولو په وجه هغه له رهن کېدلو څخه خارج سو، خو څرنګه چې د دغه مرهون شي عوض او بدل ثمن دی، نو ځکه اوس ثمن د هغه قائم مقام کيږي او رهن شمېرل کيږي، او که څه هم تر اوسه ثمن د عادل يا مرتهن په قبضه کې نه وي راغلی خو بيا هم هغه به د دې خرڅ کړی سوي مرهون شي پر ځای اېښوول کيږي او د مرهون شي قبضه به د هغه په حق کې هم قبضه شمېرل کيږي، همدا وجه ده که چيري ثمن هلاک سي نو د هغه دا هلاکت د مرتهن له مال څخه شمېرل کيږي او په دې هلاکت سره راهن له قرض څخه بري کيږي؛ ځکه څرنګه چې د مرهون شي په هلاکت سره راهن له قرض څخه بري کېدی، همداسې د مرهون شي د قائم مقام يعني د ثمن په هلاکت سره به هم هغه بري شمېرل کيږي؛ ځکه چې د اصل او نائب حکم يو دی.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چې که مرهون غلام وي او بيا يو څوک هغه قتل کړي چې په دې وجه پر قاتل په ضمان (تاوان) کې قيمت واجب سي، نو دا قيمت به د مقتول غلام پر ځای رهن شمېرل کيږي (يعني لکه مخکې چې غلام مرهون وو، اوس به د هغه دا قيمت مرهون شمېرل کيږي).

دلته دا سوال پيدا کيږي چې په دغه مسئله کې د مقتول غلام قيمت رهن شمېرل نه صحيح کېدل پکار دي؛ ځکه چې مذکوره قيمت د وينې (خون) بدل دی او غلام که څه د مالک په ملکيت کې وو، لېکن د هغه وينه د مالک په ملکيت کې نه ده او وينه په رهن اېښوول صحيح نه دي، لهذا د هغه بدل (يعني قيمت) هم په رهن اېښوول نه صحيح کېدل پکار دي؟.

د دې جواب دا دی چې د مالک ملکيت د غلام پر ذات او د هغه پر وينه او غوښه نه وي، بلکې د هغه ملکيت د غلام پر ماليت او قيمت وي، او په دغه مسئله کې پر قاتل د غلام د ماليت ضمان

واجب سوي دی. او مال په رهن ایښوول صحیح دي. نو ځکه دلته د مقتول غلام قیمت به هم په رهن ایښوول صحیح دوي.

(۳)... دریيمه مسئله دا ده چې که یو غلام بل مرهون غلام قتل کړي او بیا قاتل غلام د مقتول غلام مالک ته وسپارل سي، نو اوس به دا قاتل غلام د مقتولِ غلام پر ځای په رهن ایښوول کیږي: ځکه چې دا غلام د وینې او غوښې په هر اعتبار سره د مقتول غلام قائم مقام دی. ګواکې دا د هغه مثلِ صوري دی. او تاسي ته معلومه ده چې د مثلِ معنوي یعني د قیمت او مالیت رهن هم صحیح دی. نو د مثلِ صوري رهن خو به په درجه اولیٰ صحیح وي.

که تر خرڅولو وروسته په مرهون شي کي د بل چا حق ثابت سي

قَالَ: وَإِنْ بَاعَ الْعَدْلُ الرَّهْنَ فرمايي: او که چیري عادل کس مرهون شی خرڅ کړي فَأَوْفَى الْمُرْتَهِنَ الثَّمَنَ او مرتهن ته ثمن پوره ورکړي ثُمَّ اسْتُحِقَّ الرَّهْنُ بیا مرهون شی مستحق وخيږي فَضَمَّنَهُ الْعَدْلُ او عادل کس د هغه ضامن سي [ضمان او تاوان يې ورکړي] كَانَ بِالْخِيَارِ نو عادل ته اختیار دی إِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الرَّاهِنَ قِيمَتَهُ که وغواړي نو له راهن څخه دي د هغه [مرهون] د قيمت ضمان واخلي وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْمُرْتَهِنَ الثَّمَنَ الَّذِي أَعْطَاهُ او که وغواړي نو له مرتهن څخه دي د هغه د ثمن ضمان واخلي کوم چې يې ورکړی دی وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُضَمِّنَهُ غَيْرَهُ او ضامن ته دا اختیار نسته چې له هغه ثمن څخه بغیر د بل شي ضمان له مرتهن څخه واخلي وَكَشْفُ هٰذَا أَنَّ الْمَرْهُونَ الْمَبِيعَ إِذَا اسْتُحِقَّ او د دې وضاحت دا دی چې خرڅ کړی سوی مرهون شی چې کله مستحق وخيږي إِمَّا أَنْ يَكُونَ هَالِكًا أَوْ قَائِمًا نو هغه به یا هلاک سوی [ضایع سوی] وي یا به موجود وي فَفِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ الْمُسْتَحِقُّ بِالْخِيَارِ نو په اول صورت کي مستحق کس ته اختیار دی إِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الرَّاهِنَ قِيمَتَهُ که وغواړي نو له راهن څخه دي د هغه د قیمت ضمان واخلي لِأَنَّهُ غَاصِبٌ فِي حَقِّهِ ځکه چې راهن د هغه [مستحق کس] په حق کي غاصب دی وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْعَدْلَ او که وغواړي نو له عادل څخه دي ضمان واخلي لِأَنَّهُ مُتَعَدٍّ فِي حَقِّهِ بِالْبَيْعِ وَالتَّسْلِيمِ ځکه چې عادل [د مرهون شي] د خرڅولو او ورسپارلو په وجه د هغه [مستحق کس] په حق کي تعدیٰ کوونکی دی.

اللغات: ﴿أوفی﴾ د افعال د باب ماضي ده: پوره ورکول، اداء کول. ﴿استحق﴾ د استفعال د باب ماضي مجهوله ده: (يو شی د بل چا) مستحق کېدل. مستحق ختل (يعني چې مرهون شی د بل چا مستحق وخېږي او د بل چا سي (د بل چا مملوک وګرځي). ﴿ضمن﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضامن کېدل، ضمان پرې لازمېدل. ﴿متعد﴾ د تفعل د باب فاعل دی: تعدي او تجاوز کونکی. نا حقه تصرف کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله عادل کس مرهون شی خرڅ کړي او د هغه ثمن مرتهن ته پوره ورکړي يا په بله وينا دا چې د هغه په ثمن سره د مرتهن قرض اداء کړي. تر دې وروسته مرهون شی مستحق وخيږي يعني يو بل څوک (مثلاً زيد) په هغه کې د خپل استحقاق دعویٰ وکړي (چې دا خو زما شی دی) او خپله دعویٰ ثابته کړي او له عادل څخه ضمان (تاوان) واخلي. نو په دې صورت کې د عادل کس لپاره دوې لارې دي:

①... عادل دې له راهن څخه د مرهون شي د ټوله قيمت ضمان (تاوان) واخلي.

②... يا عادل چې مرتهن ته کوم ثمن ورکړی دی، هغه دې بيرته له مرتهن څخه واخلي او تر هغه دې زيات نه څنې اخلي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دغه مسئلې نور وضاحت او تشريح دا ده چې تر استحقاق وروسته به مرهون شي ته کتل کيږي چې هغه تر اوسه موجود دی او که معلوم دی. که چيري مرهون شی معلوم او هلاک سوی وي نو مستحق کس (زيد) ته اختيار دی چې که وغواړي نو له راهن څخه دې د هغه د قيمت ضمان واخلي؛ ځکه چې همدې راهن د ده حق غصب کړی دی چې هغه يې عادل ته په رهن اينبی دی ګواکې راهن هغه هلاک کړی دی. او که مستحق کس وغواړي نو له عادل څخه هم ضمان اخيستلای سي؛ ځکه عادل کس هم د هغه حق خرڅ کړی او بل چا ته يې سپارلی دی، خو څرنګه چې عادل کس په دې هکله مجبورِ محض دی، نو ځکه هغه ته دا حق سته چې له راهن څخه ضمان واخلي.

په پورتني هر صورت کې بيع نافذيږي

فَإِنْ ضَمَّنَ الرَّاهِنَ بيا که چيري مستحق کس له راهن څخه ضمان واخلي نَفَذَ الْبَيْعُ وَصَحَّ الِاقْتِضَاءُ نو بيع نافذيږي او د مرتهن اخيستل [پر ثمن قبضه کول] صحيح کيږي [يعني پر ثمن د مرتهن قبضه کول (ثمن اخيستل) صحيح کيږي کوم چې يې د خپل قرض په عوض کې اخيستی دی] لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ځکه چې راهن د ضمان په اداء کولو سره د مرهون شي مالک سو فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ

أَمَرَهُ بِبَيْعِ مِلْكِ نَفْسِهِ نو څرګنده سوه چي راهن عادل ته د خپل ملکیت د خرڅولو حکم کړی دی وَإِنْ ضَمِنَ الْبَائِعَ او که مستحق کس له بائع [عادل] څخه ضمان واخلي يَنْفُذُ الْبَيْعُ أَيْضًا نو هم بیع نافذیږي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ځکه چي هغه هم د ضمان په اداء کولو سره د مرهون شي مالک سو فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ بَاعَ مِلْكَ نَفْسِهِ نو څرګنده سوه چي هغه [عادل] خپل ملکیت خرڅ کړی دی.

اللغات: ﴿ضَمّن﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: بل څوک ضامن ګرځول (ضامن کول)، ضمان (تاوان) څني اخیستل، ﴿نفذ﴾ د نصر ماضي ده: نافذېدل، جاري کېدل او پوره کېدل، ﴿اقتضاء﴾ کله چي د دې باب په صله کي مال، ثمن قرض یا بل حق ذکر سي نو معنیٰ یې ده: اخیستل، قبضه پر کول، ترلاسه کول او حاصلول، ﴿تبيّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: څرګندېدل، ښکاره کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي په مخکنۍ مسئله چي مستحق کس ته کوم دوه اختیاره ورکول سوي دي یعني ① چي که هغه وغواړي نو له راهن څخه دي ضمان واخلي ② او که وغواړي نو له بائع (عادل) څخه دي یې واخلي، د دې هر اختیار په صورت کي بیع نافذیږي یعني مستحق کس چي له کوم یوه څخه هم ضمان واخلي نو د عادل کس بیع نافذیږي (یعني هغه چي مرهون شی خرڅ کړی دی دا بیع یې صحیح او نافذ ګرځي) او د همدې په ضمن کي مرتهن د خپل قرض هم ترلاسه کونکی ګرځي؛ ځکه عادل کس د مرهون شي ثمن مرتهن ته ورکړی دی.

لنډه دا چي که مستحق کس له راهن څخه ضمان واخلي، نو په دې صورت کي د بیع د صحیح کېدلو او نافذېدلو وجه دا ده چي د مرهون شي په ضمان اداء کولو سره راهن د هغه مالک سو، لهذا اوس د راهن له طرفه عادل کس ته د مرهون شي د خرڅولو حکم کول د خپل ملکیت د خرڅولو د حکم کولو او وکیل جوړولو په څېر دي، او دا ښکاره خبره ده چي که څوک بل چا ته د خپل ملکیت د خرڅولو حکم وکړي (چي زما فلانکی شی را خرڅ کړه!) نو دا صحیح دي، نو همدغسي په دې مسئله کي د راهن د خپل ملکیت یعني د مرهون شي د خرڅولو لپاره عادل کس وکیل جوړول هم صحیح دي لهذا که چیري عادل کس هغه خرڅ کړي نو بیع به یې صحیح او نافذ وي.

او که مستحق کس له عادل کس څخه ضمان واخلي، نو ځکه بیع صحیح او نافذ ګرځي، ځکه چي د ضمان اداء کولو په وجه دا عادل کس هم د مرهون شي مالک سو م او انسان ته د خپل ملکیت د خرڅولو پوره حق سته. (احسن الهدايه)

له ضمان ورکولو څخه وروسته به عادل کس پر چا رجوع کوي؟

وَإِذَا ضَمَّنَ الْعَدْلَ او كله چي مستحق كس له عادل څخه ضمان واخلي فَالْعَدْلُ بِالْخِيَارِ نو عادل ته اختيار دى إِنْ شَاءَ رَجَعَ عَلَى الرَّاهِنِ بِالْقِيْمَةِ كه وغواړي نو پر راهن دي په قيمت سره رجوع وكړي [يعني له راهن څخه دي قيمت واخلي] لِأَنَّهُ وَكِيْلٌ مِنْ جِهَتِهِ عَامِلٌ لَهُ ځكه چي عادل د راهن له طرفه وكيل دى او د هغه لپاره كار كونكى دى فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ بِمَا لَحِقَهُ مِنَ الْعُهْدَةِ نو ځكه عادل به پر راهن رجوع كوي په هغه ذمه وارۍ سره كوم چي عادل ته لاحقه سوې وي وَنَفَذَ الْبَيْعُ وَصَحَّ الِاقْتِضَاءُ او بيع نافذيږي او د مرتهن اخيستل [ثمن ترلاسه كول] صحيح كيږي [كوم ثمن چي يې د خپل قرض په عوض كي اخيستى دى] فَلَا يَرْجِعُ الْمُرْتَهِنُ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ مِنْ دَيْنِهِ نو ځكه مرتهن پر راهن د خپل قرض په هيڅ حصه سره رجوع نه سي كولاى [خپل قرض نه سي ځني اخيستلى] وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ عَلَى الْمُرْتَهِنِ بِالثَّمَنِ او كه عادل وغواړي نو پر مرتهن دي په ثمن سره رجوع وكړي [يعني له مرتهن څخه دي ثمن واپس واخلي] لِأَنَّهُ تَبَيَّنَ أَنَّهُ أَخَذَ الثَّمَنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ځكه دا ښكاره سوه چي مرتهن په نا حقه توګه ثمن اخيستى وو لِأَنَّهُ مَلَكَ الْعَبْدَ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ وَنَفَذَ بَيْعُهُ عَلَيْهِ ځكه چي د ضمان اداء كولو په وجه عادل د مرهون شي مالک سو او پر هغه د عادل بيع نافذه سوه فَصَارَ الثَّمَنُ لَهُ لهذا ثمن د عادل سو وَإِنَّمَا أَدَّاهُ إِلَيْهِ عَلَى حِسْبَانِ أَنَّهُ مِلْكُ الرَّاهِنِ او هغه خو مرتهن ته په دې ګومان ثمن وركړى وو چي مرهون د راهن ملكيت دى فَإِذَا تَبَيَّنَ أَنَّهُ مِلْكُهُ ليكن كله چي دا ښكاره سوه چي مرهون د عادل خپل ملكيت دى لَمْ يَكُنْ رَاضِيًا بِهِ نو هغه به په دې راضي نه وي [چي ثمن مرتهن ته وركړي] فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ بِهِ عَلَيْهِ نو ځكه هغه ته دا حق سته چي پر مرتهن رجوع وكړي [يعني ثمن واپس ځني واخلي] وَإِذَا رَجَعَ او كله چي هغه رجوع وكړي [ثمن واپس واخلي] بَطَلَ الِاقْتِضَاءُ نو د مرتهن اخيستل [ثمن ترلاسه كول] باطل سوه [كوم ثمن چي يې د خپل قرض په عوض كي اخيستى وو] فَيَرْجِعُ الْمُرْتَهِنُ عَلَى الرَّاهِنِ بِدَيْنِهِ نو ځكه مرتهن به پر راهن په خپل قرض سره رجوع كوي [قرض به واپس ځني اخلي].

اللغات: ﴿ضَمَن﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ضامن ګرځول. ضمان څخني اخيستل. ﴿عهدة﴾ ذمه واري (ذمه داري)، ضمان. ﴿اقتضاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: (ثمن يا داسي بل حق) اخيستل. ترلاسه کول. د تېر عبارت په لغاتو کي يې هم وضاحت وسو. ﴿حِسْبان﴾ د سمع د باب مصدر دی: ګومان کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي که مستحق کس له عادل څخه د خرڅ کړی سوي او هلاک سوي مرهون شي ضمان واخلي، نو عادل کس دي راهن (د مرهون شي مالک) ته ورسي او له راهن څخه دي هغه تاوان واخلي کوم چي ده مستحق کس ته ورکړی دی؛ ځکه عادل کس د همدې راهن وکيل دی او د هغه لپاره کار کونکی دی. لهذا په دې کار چي کوم نفع او نقصان راسي، هغه به د مؤکل يعني د راهن لپاره وي. لهذا په دې صورت کي چي د ضمان اداء کولو په وجه د عادل کس کوم نقصان سوی دی، هغه به له خپل مؤکل يعني له راهن څخه اخلي. او کله چي يې راهن هغه ته ورکړي. نو د مخکيني بيان سوي تفصيل مطابق راهن د هغه (مرهون) مالک کيږي او بيع صحيح کيږي. او کله چي بيع صحيح سي، نو عادل چي مرتهن د مرهون کوم ثمن ورکړی دی. د هغه په وجه مرتهن د خپل حق (قرض) ترلاسه کونکی هم ګرځي چي تر دې وروسته مرتهن له راهن څخه د خپل قرض په نامه يوه روپۍ هم نه سي اخيستلای.

وإن شاء إلخ: فرمايي عادل کس ته دويم اختيار دا حاصليږي چي که وغواړي نو مرتهن ته دي ولاړ سي او کوم ثمن چي هغه مرتهن ته ورکړی دی، هغه دي څخني واخلي؛ ځکه مرهون شی چي کله مستحق وختی او بيا عادل د هغه ضمان اداء کړی، نو عادل کس د هغه مالک سو. او کله چي دئ د مرهون شي مالک سو، نو ښکاره خبره ده چي د هغه ثمن به هم ده ته حاصليږي. او څرنګه چي عادل کس پر مرهون شي د راهن د ملکيت ګومان کړی وو (چي دا واقعي د راهن شی دی) او پر همدې بناء يې د هغه ثمن مرتهن ته ورکړی وو. ليکن کله چي هغه مستحق وختی، نو معلومه سوه چي د ثمن حقدار مرتهن نه دی بلکي د ضمان اداء کولو په وجه خپله عادل د هغه حق دار دی او مرتهن په ناحقه هغه ثمن اخيستی دی. نو ښکاره خبره ده چي عادل به اوس له مرتهن څخه هغه ثمن واپس اخلي او کله چي مرتهن اخيستل سوی ثمن واپس کړي، نو د هغه خپل حق (قرض) ترلاسه کول هم باطل سوه. لهذا اوس به هغه راهن ته ورځي او له هغه څخه به خپل قرض ترلاسه کوي.

خلاصه د خبري دا چي د دغه معاملې په هر صورت کي به د انجام په اعتبار سره راهن تر ګرېوان نيول کيږي؛ ځکه چي هم هاغه د بل چا مستحق شی په رهن ايښی دی او دا ستونزه يې جوړه کړې ده.

که مبيع مرهون شی د مشتري سره وي نو څه حکم دی؟

وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي وَهُوَ أَنْ يَكُونَ قَائِمًا فِي يَدِ الْمُشْتَرِيْ او په دويم صورت کي (او هغه دا دی چي خرڅ کړی سوی مرهون شی د مشتري په قبضه کي موجود وي) فَلِلْمُسْتَحِقِّ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنْ يَدِهِ نو مستحق کس ته دا اختيار سته چي هغه د مشتري له قبضې څخه واخلي لِأَنَّهُ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ ځکه چي هغه بعينهٖ خپل مال وميندلی ثُمَّ لِلْمُشْتَرِيْ أَنْ يَرْجِعَ عَلَى الْعَدْلِ بِالثَّمَنِ بيا مشتري ته دا حق سته چي پر عادل کس په خپل ثمن سره رجوع وکړي [ثمن ځني واخلي] لِأَنَّهُ الْعَاقِدُ ځکه چي همدا عادل عقد کوونکی دی [چي مرهون شی يې خرڅ کړی دی] فَتَتَعَلَّقُ بِهِ حُقُوْقُ الْعَقْدِ نو د عقد حقوق به د همدې عادل سره متعلق وي وَهٰذَا مِنْ حُقُوْقِهٖ او دا [ثمن اخيستل] هم د عقد له حقوقو څخه دي حَيْثُ وَجَبَ بِالْبَيْعِ ځکه چي [د مرهون شي] د خرڅولو په وجه واجب سوي دي وَإِنَّمَا أَدَّاهُ لِيَسْلَمَ لَهُ الْمَبِيْعُ او مشتري عادل ته په دې وجه ثمن ورکړی دی چي مبيع [مرهون] د هغه لپاره سالم پاته سي وَلَمْ يَسْلَمْ حال دا چي هغه [د مشتري لپاره] سالم پاته نه سو.

اللغات: ﴿لِيَسْلَمَ﴾ د سمع د باب مضارع ده، په شروع کي يې "لام جاره" دی چي تر هغه وروسته "أَنْ ناصبه" مقدر دی: سالم او خوندي پاتېدل.

تشريح: مخکي چي کوم تفصيل او حکم بيان سو، دا د هغه حالت سره متعلق وو کله چي مبيع (خرڅ کړی سوی) مرهون شی د مشتري سره موجود نه وي بلکي مشتري هغه استعمال کړی او هلاک کړی يې وي، ليکن که مبيع مرهون شی د مشتري سره موجود وي نو څه به کيږي؟، په دې عبارت کي د همدې تفصيل بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چي که مبيع مرهون شی د مشتري سره موجود وي، نو بيا مستحق کس ته پکار دي چي له مشتري څخه دا مبيع واخلي او عادل وغيره دي پرېږدي؛ ځکه چي د هغه استحقاق په همدې مرهون شي کي ثابت سوی وو، او اوس هغه ده ته حاصل سو، لهذا د هغه قصه ختمه سوه، اوس د مشتري وار دی، نو د هغه په حق کي د شريعت فيصله دا ده چي مشتري دي له هغه عادل کس (بائع) څخه خپل ثمن واپس واخلي کوم چي پر مشتري دا مرهون شی خرڅ کړی وو؛ ځکه چي دلته همدا عادل کس عاقد او بائع دی او د عقد حقوق د عاقد وطرف ته راجع کيږي او څرنګه چي ثمن هم د عقد له حقوقو څخه يو حق دی، نو ځکه دا به هم د عاقد (عادل) وطرف ته راجع وي او همدا عاقد (عادل) به د هغه جواب ورکوي، او بل دا چي مشتري عادل ته د همدې لپاره

ثمن ورکړي وو چي عادل هغه ته مبيع مرهون وسپاري او هغه د مشتري سره سالم پاته سي. حال دا چي د استحقاق (مستحق ختلو) په وجه د مبيع سلامتي فوت سوه، نو ځکه اوس به مشتري ته پر عادل کس د رجوع بالثمن اختيار وي.

د ثمن تر لاسه کولو لپاره عادل کس ته دوه اختياره دي

ثُمَّ الْعَدْلُ بِالْخِيَارِ بيا عادل ته اختيار دی إِنْ شَاءَ رَجَعَ عَلَى الرَّاهِنِ بِالْقِيمَةِ که وغواړي نو پر راهن دي په قيمت سره رجوع وکړي لِأَنَّهُ هُوَ الَّذِي أَدْخَلَهُ فِي هٰذِهِ الْعُهْدَةِ ځکه چي همدې راهن په دغه ذمه واري کي عادل داخل کړی دی فَيَجِبُ عَلَيْهِ تَخْلِيصُهُ نو ځکه د دغه خلاصول به اهما پر همدې راهن واجب وي وَإِذَا رَجَعَ عَلَيْهِ او کله چي عادل پر راهن رجوع وکړي صَحَّ قَبْضُ الْمُرْتَهِنِ نو [پر ثمن] د مرتهن قبضه صحيح سوه [يعني هغه ثمن کوم چي يې د خپل قرض په عوض کي له عادل څخه اخيستی وو] لِأَنَّ الْمَقْبُوضَ سُلِّمَ لَهُ ځکه چي مقبوض [اخيستل سوی ثمن] د هغه لپاره سالم پاته سو وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ عَلَى الْمُرْتَهِنِ او که عادل وغواړي نو پر مرتهن دي رجوع وکړي لِأَنَّهُ إِذَا انْتَقَضَ الْعَقْدُ ځکه کله چي عقد بيع مات سو [يعني عادل چي (دبل چا) مستحق مرهون شی خرڅ کړی دی. کله چي د عادل دا بيع ختمه سوه] بَطَلَ الثَّمَنُ نو ثمن [قيمت] باطل سو وَقَدْ قَبَضَهُ ثَمَنًا حال دا چي مرتهن د ثمن په توګه پر هغه [قيمت] قبضه کړې وه فَيَجِبُ نَقْضُ قَبْضِهِ ضَرُورَةً نو ضرورتا د مرتهن د قبضې ماتول واجب دي وَإِذَا رَجَعَ عَلَيْهِ وَانْتَقَضَ قَبْضُهُ او کله چي عادل پر مرتهن رجوع وکړه او د مرتهن قبضه ماته سوه عَادَ حَقُّهُ فِي الدَّيْنِ كَمَا كَانَ نو د مرتهن حق په خپل قرض کي راوګرځېدی لکه څرنګه چي [مخکي] وو فَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الرَّاهِنِ نو ځکه مرتهن به په خپل قرض سره پر راهن رجوع کوي.

اللغات: ﴿العهدة﴾ ذمه واري. ضمان. ﴿تخليص﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: خلاصول. له يو شي څخه آزادول، نجات ورکول. ﴿سلم﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ورسپارل. ﴿انتقض﴾ د افتعال د باب ماضي ده: ماتېدل. ختمېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي په مخکنۍ مسئله کي چي کله مشتري خپل ثمن له عادل څخه واپس واخلي، حال دا چي عادل هغه ثمن مرتهن ته ورکړی وي، نو د خپل دغه حق د تر لاسه کولو لپاره عادل کس ته هم دوه اختياره حاصليږي:

(۱)... که چیري هغه وغواړي، نو له راهن څخه دي د مرهون شي قیمت یا کوم مقدار چي هغه د ثمن په توګه ورکړی دی هغه مقدار دي له راهن څخه واخلي ځکه چي همدې راهن عادل کس ته د بل چا (مستحق) شی اینبی دی او هغه یې په دې شخړه مبتلا کړی دی چي بالآخره له عادل څخه تاوان (ضمان) اخیستل سوی دی، نو ځکه له دې شخړي او تاوان څخه د عادل ایستل به هم د راهن پر ذمه وي، چي د هغه آسانه لاره همدا ده چي راهن هغومره ثمن عادل ته ورکړي کوم چي عادل د تاوان (ضمان) په توګه مشتري ته ورکړی دی.نو که راهن عادل ته هغه ثمن ورکړي نو راهن د مرتهن له قرض څخه بري کیږي؛ ځکه چي مرتهن مخکي لا له عادل څخه ثمن اخیستی دی، په همدې وجه په آخر کي فرمایي چي کله عادل په ثمن سره پر راهن رجوع وکړي او راهن هغه ته ثمن ورکړي نو په دې صورت کي د مرتهن قبضه صحیح او تام ګرځي.

وإن شاء إلخ: (۲)... دویم اختیار عادل کس ته دا حاصلیږي چي که هغه وغواړي نو مرتهن دي تر ګرېوان ونیسي او له مرتهن څخه دي هغه ثمن واپس واخلي کوم چي عادل کس له مشتري څخه اخیستی او مرتهن ته یې ته ورکړی وو (یعني چي په هغه سره یې د مرتهن قرض اداء کړی وو)؛ ځکه چي د مبیع مرهون د استحقاق (مستحق ختلو) په وجه مذکوره عقد بیع ختم سو او کله چي عقد ختم سو، نو د ثمن په نامه چي کوم مال ورکول سوی دی، د هغه ثمن کېدل هم باطل سوه حال دا چي مرتهن هغه د ثمن کېدلو په اعتبار سره اخیستی وو، لېکن اوس د هغه ثمنیت ختم سو، نو ځکه پر مرتهن به د هغه واپس کول ضروري وي (چي عادل کس ته به یې واپس ورکوي) او کله چي مرتهن هغه واپس کړي، نو ښکاره خبره ده چي مرتهن ته د خپل قرض په عوض کي هیڅ حاصل نه سوه. نو ځکه په قرض کي د هغه حق بیرته راګرځي چي هغه به خپل قرض له راهن څخه واپس اخلي.

او که مشتري ثمن مرتهن ته ورکړی وي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَنَّ الْمُشْتَرِيَ سَلَّمَ الثَّمَنَ إِلَى الْمُرْتَهِنِ او که چیري مشتري ثمن مرتهن ته ورکړی وي لَمْ يَرْجِعْ عَلَى الْعَدْلِ نو بیا به مشتري پر عادل کس رجوع نه کوي لِأَنَّهُ فِي الْبَيْعِ عَامِلٌ لِلرَّاهِنِ ځکه چي عادل په بیع کي د راهن لپاره کار کونکی دی وَإِنَّمَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ إِذَا قَبَضَ او پر عادل خو هغه وخت رجوع کولای سي کله چي هغه [پر ثمن] قبضه کړې وي وَلَمْ يَقْبِضْ حال دا چي هغه قبضه نه ده کړې فَبَقِيَ الضَّمَانُ عَلَى الْمُوَكِّلِ نو ځکه ضمان پر مؤکل [مرتهن] باقي پاته سو.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي مشتري ته له عادل څخه په هغه صورت کي د ثمن اخیستلو حق سته کله چي مشتري عادل ته ثمن ورکړی وي، لېکن که هغه د عادل پر ځای مرتهن ته ثمن

ورکړی وي او بیا مبیع مرهون مستحق وخېژي، نو په دې صورت کې هغه ته له مرتهن څخه د ثمن اخیستلو حق سته، نه له عادل څخه؛ ځکه چې عادل خو د راهن لپاره کارکونکی دی او له عادل څخه هغه وخت د ثمن اخیستلو حق سته کله چې هغه پر ثمن قبضه کړې وي. حال دا چې په دې صورت کې هغه ثمن لیدلی هم نه دی قبضه خو هلته پرېږده!، نو ځکه د ثمن ضمان به له مؤکل یعني له مرتهن څخه اخیستل کیږي.

یادونه: دلته له مؤکل څخه مرتهن مراد دی، نه راهن؛ ځکه چې بیع د همدې مرتهن د حق لپاره سوې ده. (بنایه، عنایه)

په عقدِ رهن کې د توکیل دِ نه مشروط کېدلو حکم

وَإِن كَانَ التَّوْكِيلُ بَعْدَ عَقْدِ الرَّهْنِ غَيْرَ مَشْرُوطٍ فِي الْعَقْدِ او که چیرې توکیل [وکالت] تر عقدِ رهن وروسته وي [او] په عقد کې مشرط نه وي فَمَا لَحِقَ الْعَدْلَ مِنَ الْعُهْدَةِ نو کومه ذمه واري چې عادل ته لاحقه سوې ده يَرْجِعُ بِهِ عَلَى الرَّاهِنِ د هغه په هکله به عادل پر راهن رجوع کوي قَبَضَ الثَّمَنَ الْمُرْتَهِنُ أَمْ لَا [برابره ده] مرتهن پر ثمن قبضه کړې وي که نه لِأَنَّهُ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهٰذَا التَّوْكِيلِ حَقُّ الْمُرْتَهِنِ ځکه چې د دغه توکیل [وکالت] سره د مرتهن حق متعلق نه سو فَلَا رُجُوعَ نو [پر مرتهن] به رجوع نه کیږي كَمَا فِي الْوَكَالَةِ الْمُفْرَدَةِ عَنِ الرَّهْنِ لکه په هغه وکالت کې کوم چې له رهن څخه خالي وي [یعني له عقدِ رهن څخه بغیر یو شوک د خپل یو شي د خرڅولو لپاره وکیل جوړ کړي او هغه ته حکم وکړي چې د دې شي ثمن فلانکي کس مثلاً حامد ته ورکړه!] إِذَا بَاعَ الْوَكِيلُ وَدَفَعَ الثَّمَنَ إِلَى مَنْ أَمَرَهُ الْمُوَكِّلُ کله چې وکیل سامان خرڅ کړي او ثمن هغه کس [حامد] ته ورکړي چې د هغه په باره کې مؤکل حکم ورته کړی وي ثُمَّ لَحِقَهُ عُهْدَةٌ بیا وکیل ته یوه ذمه واري لاحقه سي لَا يَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْمُقْتَضِي نو وکیل به پر ثمن اخیستونکي کس [حامد] باندې رجوع نه کوي [بلکې پر مؤکل به رجوع کوي] بِخِلَافِ الْوَكَالَةِ الْمَشْرُوطَةِ فِي الْعَقْدِ په خلاف د هغه وکالت کوم چې په عقد کې شرط کړی سوی وي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْمُرْتَهِنِ ځکه چې د هغه سره د مرتهن حق متعلق سو فَيَكُونُ الْبَيْعُ لِحَقِّهِ نو بیع به د مرتهن د حق لپاره وي قَالَ ﷺ: هٰكَذَا ذَكَرَ الْكَرْخِيُّ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي: همداسې امام کرخي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي وَهٰذَا يُؤَيِّدُ قَوْلَ مَنْ لَا يَرَىٰ جَبْرَ هٰذَا الْوَكِيلِ عَلَى الْبَيْعِ او دا [د امام کرخي قول] د هغه حضراتو د قول تائید کوي کوم پر بیع د دغه وکیل مجبورول جائز نه ګڼي [أی الوكيل الذی لم يكن وكالته مشروطة فی العقد].

اللغات: ﴿لَحِق﴾ د سمع د باب ماضي ده: لاحق کېدل، رسېدل، متصل کېدل. ﴿مقتضی﴾ د افتعال د باب فاعل دی، مخکې یې معنیٰ ذکر سوه: (د ثمن) اخیستونکی، ترلاسه کونکی، قبضه کونکی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که وکالت په عقد رهن کې مشروط (شرط کړی سوی) نه وي او عادل کس مرهون شی خرڅ کړي او د هغه ثمن مرتهن ته ورکړي، بیا یو بل څوک په دې مبیع مرهون کې خپل استحقاق ثابت کړي او له عادل څخه د هغه تاوان او جرمانه واخلي، نو په دې صورت کې عادل ته د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره فقط یوه لاره ده چې هغه د راهن دروازه ده، یعني اوس عادل فقط له راهن څخه خپل حق اخیستلای سي او پر مرتهن په دې هکله هیڅ رجوع نه سي کولای؛ ځکه کله چې وکالت په عقد رهن کې مشروط نه وي نو ښکاره ده چې د هغه سره د مرتهن حق متعلق نه سو او کله چې د دې وکالت سره د مرتهن حق متعلق نه سو، نو ځکه په دې سلسله کې به له مرتهن څخه هیڅ مطالبه نه کیږي.

د دې مثال داسې دی لکه یو څوک مثلاً خالد بل څوک مطلق د خپل یو شي د خرڅولو وکیل جوړ کړي او هغه ته ووایې چې ته! دا شی خرڅ کړه او د هغه ثمن فلانکي کس (مثلاً حامد) ته ورکړه!، نو وکیل همداسې وکړي یعني شی خرڅ کړي او د هغه ثمن مطلوب کس (حامد) ته وسپاري، بیا یو بل څوک په هغه سامان کې د خپل استحقاق دعویٰ وکړي او خپله دعویٰ ثابته کړي او له وکیل څخه د هغه تاوان واخلي، نو اوس به وکیل هغه تاوان سیده له خپل مؤکل (خالد) څخه اخلي، نه له هغه کس (حامد) څخه چې وکیل هغه ته ثمن ورکړی وو؛ ځکه دلته خپله مؤکل دا حکم کړی وو چې د مذکوره شي ثمن دغه کس (حامد) ته ورکړه!، نو ځکه اوس به وکیل له خپل مؤکل (خالد) څخه تاوان اخلي.

د دې په خلاف هغه وکالت کوم چې په عقد رهن کې مشروط وي، په هغه کې وکیل له راهن او مرتهن دواړو څخه تاوان اخیستلای سي؛ ځکه څرنګه چې د هغه رهن سره د راهن حق متعلق وي همداسې د مرتهن حق هم ورسره متعلق وي (لکه مخکې چې ذکر سوه) نو هلته بیع د همدې مرتهن د حق (قرض) ورکولو لپاره متعینه وي او خاص د همدې لپاره کیږي، نو ښکاره ده چې په دې صورت کې به وکیل له مرتهن څخه هم تاوان اخیستلای سي.

صاحب د هدایې فرمایي چې امام کرخي رَحِمَهُ الله په خپل مختصر کې همداسې بیان کړي دي او په دې قول سره د هغه حضراتو د قول تائید کیږي کوم چې په عقدِ رهن کې د غیرِ مشروط وکالت پر وکیل د بیع په باره کې جبر کول جائز نه ګڼي. (احسن الهدایه)

د مرهون غلام تر مرګ وروسته د استحقاق ثابتېدلو حکم

قَالَ: وَإِنْ مَاتَ الْعَبْدُ الْمَرْهُوْنُ فِيْ يَدِ الْمُرْتَهِنِ فرمايي: او که مرهون غلام د مرتهن په قبضه کي مړ سي ثُمَّ اسْتَحَقَّهُ رَجُلٌ بيا يو سړی د هغه مستحق وخېږي فَلَهُ الْخِيَارُ نو مستحق کس ته اختيار دی إِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الرَّاهِنَ که وغواړي نو له راهن څخه دي ضمان واخلي وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْمُرْتَهِنَ او که وغواړي نو له مرتهن څخه دي ضمان واخلي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُتَعَدٍّ فِيْ حَقِّهِ ځکه چي له دوی څخه هر يوه د مستحق کس په حق کي تعدی کونکی دی بِالتَّسْلِيْمِ أَوْ بِالْقَبْضِ يا د ورسپارلو په وجه يا د قبضې په وجه [يعني راهن خو په دې وجه متعدي دی چي مرتهن ته يې داسي مرهون شی سپارلی دی، او مرتهن بيا په دې وجه متعدي دی چي پر هغه يې قبضه کړې ده] فَإِنْ ضَمَّنَ الرَّاهِنَ او که مستحق کس له راهن څخه ضمان واخلي فَقَدْ مَاتَ بِالدَّيْنِ نو مرهون [غلام] د قرض په عوض کي مړ سوی دی [لهذا مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی سو او قرض يې اداء سو] لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ځکه چي راهن په ضمان اداء کولو سره د هغه مالک سوی دی فَصَحَّ الْإِيْفَاءُ نو ورکول [او د قرض اداء کول] صحيح سوه [يعني کله چي راهن د غلام مالک سو نو هغه چي مرتهن ته د قرض په عوض کي غلام ورکړی دی دا صحيح سوه او د مرتهن په قبضه کي د غلام د مړ کېدلو په وجه د مرتهن قرض اداء سو] وَإِنْ ضَمَّنَ الْمُرْتَهِنَ او که مستحق کس له مرتهن څخه ضمان واخلي يَرْجِعُ عَلَى الرَّاهِنِ بِمَا ضَمِنَ مِنَ الْقِيْمَةِ وَبِدَيْنِهِ نو مرتهن به پر راهن رجوع کوي په هغه قيمت سره کوم چي يې په ضمان کي اداء کړی دی او په خپل قرض سره [يعني په ضمان کي ورکول سوی قيمت او قرض به له راهن څخه واپس واخلي] أَمَّا بِالْقِيْمَةِ فَلِأَنَّهُ مَغْرُوْرٌ مِنْ جِهَةِ الرَّاهِنِ کوم چي قيمت دی نو ځکه چي مستحق کس د راهن له طرفه دوکه کړی سوی دی وَأَمَّا بِالدَّيْنِ فَلِأَنَّهُ انْتَقَضَ اقْتِضَاؤُهُ او کوم چي قرض دی نو ځکه چي د مرتهن اخيستل [د ثمن ترلاسه کول] مات سوه فَيَعُوْدُ حَقُّهُ كَمَا كَانَ نو ځکه د هغه حق [قرض] به بېرته راګرځي لکه [مخکي] چي وو.

اللغات: ﴿ايفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پوره ورکول، اداء کول. ﴿مغرور﴾ د نصر له بابه د اسم مفعول صيغه ده: دوکه کړی سوی، فريب خورده (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي). ﴿الغرور﴾ دوکه، فريب.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که راهن مرتهن ته غلام په رهن ورکړی، بيا هغه غلام د مرتهن په قبضه کې مړ سو، او تر مرګ وروسته يو بل څوک (مثلاً سعد) د هغه مستحق ثابت سو، نو اوس دغه مستحق کس (سعد) ته له راهن او مرتهن دواړو څخه د ضمان اخيستلو حق سته؛ ځکه دواړو د هغه په حق کي زياتوب او تعدی کړې ده، راهن خو په دې توګه تعدی کړې ده چي راهن د هغه غلام بل چا (مرتهن) ته سپارلی دی او مرتهن په دې توګه تعدي کړې ده چي هغه له څه تحقيق او پلټنې څخه بغير د بل چا پر غلام قبضه کړې ده، نو ځکه دواړه به خطا کاره او تعدی کونکي وي او مستحق (سعد) ته به له دوی هر يوه څخه د ضمان اخيستلو اختيار وي، لېکن د هر صورت حکم جلا دی، که چيري مستحق کس له راهن څخه ضمان واخلي، نو د مرهون غلام مړينه د مرتهن د قرض په عوض کي شمېرل کيږي (يعني ګواکي مرتهن خپل قرض ترلاسه کړی)؛ ځکه چي راهن د ضمان اداء کولو په وجه د دې غلام مالک سو او څرنګه چي د راهن دغه غلام د مرتهن په قبضه کي هلاک سوی دی (يعني د مرتهن سره مړ سوی دی)، نو ځکه د هغه د هلاکت او مړيني په وجه به مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی شمېرل کيږي او راهن به له قرض څخه بري کيږي.

او که چيري مستحق کس (سعد) له مرتهن څخه د غلام د قيمت ضمان واخلي او مرتهن هغه اداء کړي، نو په دې صورت کي به مرتهن له راهن څخه خپل اداء کړی سوی ضمان هم اخلي او خپل قرض به هم ځني اخلي، د ضمان د قيمت اخيستلو حق خو ځکه ورته سته چي راهن د بل چا غلام په رهن ورکړی دی نو دوکه يې ورکړې ده، او قاعده دا ده چي د غرر او دوکې په صورت کي پر دوکه ورکونکي ضمان (تاوان) واجبيږي. او د قرض اخيستلو حق ځکه ورته سته چي کلهٔ راهن د دغه غلام ضمان اداء نه کړی بلکي مرتهن اداء کړی، نو راهن د هغه مالک نه سو او کله چي راهن د غلام مالک نه سو، نو بيا د مرتهن په قبضه کي د غلام په هلاکت او مړيني سره مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی هم نه سو، او د مخکي په څېر پر راهن قرض باقي پاته سو. (احسن الهدايه)

پر مذکوره مسئله يو اعتراض او د هغه جواب

فَإِنْ قِيلَ بيا که وويل سي [اعتراض وسي] لَمَّا كَانَ قَرَارُ الضَّمَانِ عَلَى الرَّاهِنِ بِرُجُوعِ الْمُرْتَهِنِ عَلَيْهِ کله چي پر راهن د مرتهن د رجوع کولو په وجه د ضمان ثبوت پر راهن سو وَالْمِلْكُ فِي الْمَضْمُونِ يَثْبُتُ لِمَنْ عَلَيْهِ قَرَارُ الضَّمَانِ او په مضمون کي ملکيت د هغه کس لپاره ثابتيږي چي پر هغه ضمان ثابت سوی وي فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ رَهَنَ مِلْكَ نَفْسِهِ نو دا څرګنده سوه چي راهن خپل ملکيت په رهن ورکړی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا ضَمَّنَ الْمُسْتَحِقُّ الرَّاهِنَ ابْتِدَاءً نوداسي سولکه مستحق کس چي په شروع

کي له راهن څخه ضمان اخيستی وي قُلْنَا: هٰذَا طَعْنُ أَبِيْ خَازِمِ الْقَاضِيْ نو موږ وايو: چې دا د قاضي ابو خازم اعتراض دی [چې د هغه نوم عبد الحميد بن عبد العزيز دی کوم چې د بغداد قاضي وو] وَالْجَوَابُ عَنْهُ أَنَّهُ يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِسَبَبِ الْغُرُوْرِ او له دې څخه جواب دا دی چې مرتهن پر راهن د دوکې [دوکه کېدلو] په وجه رجوع کوي وَالْغُرُوْرُ بِالتَّسْلِيْمِ او دوکه په ورسپارلو کې ده [چې راهن د بل چا غلام مرتهن ته سپارلی دی] كَمَا ذَكَرْنَاهُ لکه څرنګه چې دا [څه مخکې] موږ ذکر کړه أَوْ بِالْاِنْتِقَالِ مِنَ الْمُرْتَهِنِ إِلَيْهِ يا د مرتهن له طرفه راهن ته د منتقل کېدلو په وجه كَأَنَّهُ وَكِيْلٌ عَنْهُ ګواکې مرتهن د راهن وکيل دی وَالْمِلْكُ بِكُلِّ ذٰلِكَ مُتَأَخِّرٌ عَنْ عَقْدِ الرَّهْنِ او ملکيت په دې هر يوه [يعنې په تسليم او انتقال] سره له عقد رهن څخه وروسته دی بِخِلَافِ الْوَجْهِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّ الْمُسْتَحِقَّ يُضَمِّنُهُ بِاعْتِبَارِ الْقَبْضِ السَّابِقِ عَلَى الرَّهْنِ ځکه چې مستحق کس له مرتهن څخه د هغه قبضې په اعتبار سره ضمان اخلي کوم چې پر رهن مخکې ده فَيَسْتَنِدُ الْمِلْكُ إِلَيْهِ نو ملکيت به د قبضې وطرف ته منسوب کيږي فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ رَهَنَ مِلْكَ نَفْسِهِ نو دا خبره څرګنده شوه چې راهن خپل ملکيت په رهن ورکړی دی وَقَدْ طَوَّلْنَا الْكَلَامَ فِيْ كِفَايَةِ الْمُنْتَهِيْ او [په دې سلسله کې] موږ په كفاية المنتهي کې اوږد کلام کړی دی.

اللغات: ﴿قرار﴾ ثبوت او بقاء. ﴿أبي خازم﴾ د علامه لکنوي رَحِمَهُ الله په حاشيه کې د دې نوم عبد الحميد او په اردو شروحاتو کې عبد المجيد ليکل شوی دی. والله اعلم. ﴿يضمّنه﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: ضامن ګرځول. ضمان ځنې اخيستل. ﴿يستند﴾ د استفعال د باب مضارع ده. اِسْتَنَدَ يَسْتَنِدُ اِسْتِنَادًا: (د يو شي او يو حالت وطرف ته) تکيه کول. منسوب کېدل. استصحاب الحال المتأخر إلى الزمن المتقدم.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې عبارت کې د قاضي عبد الحميد بن عبد العزيز يو اعتراض او د هغه جواب بيان کړی دی. اعتراض دا دی چې څرنګه چې که مستحق کس له راهن څخه ضمان واخلي او راهن هغه ته ضمان ورکړي نو راهن د مرهون (غلام) مالک کيږي او بيا د مرهون هلاکت مضمون بالدين کيږي (يعنې د مرهون غلام مرګ د مرتهن د قرض په عوض کې شمېرل کيږي او مرتهن د خپل قرض تر لاسه کونکي ګرځي). نو همداسې که چيرې مستحق کس له مرتهن څخه ضمان واخلي او بيا مرتهن هغه ضمان له راهن څخه واخلي، نو بنکاره ده چې په دې صورت کې هم د ضمان اداء کولو په وجه راهن د هغه مرهون (غلام) مالک شمېرل پکار دي او په

هغې صورت کې هم د مرهون غلام هلاکت مضمون بالدين کېدل پکار دي. حال دا چې تاسې په دې صورت کې هغه مضمون بالدين نه دی ګڼلی؟.

والجواب عنه الخ: د مذکوره اعتراض د جواب حاصل دا دی چې کله مستحق کس له مرتهن څخه ضمان واخلي او مرتهن هغه اداء کړي نو په دې صورت کې د ضمان تر اداء کولو مخکې د مخکنۍ (سابقه) قبضې په وجه راهن د مرهون مالک شمېرل سوی دی، ځکه قاعده دا ده چې "المضمونات تملك بالضمان السابق" (چې ضمان والا شيان په مخکيني ضمان او قبضه سره په ملکيت کې داخل شمېرل کيږي)، نو ګوا کې په اول صورت کې راهن خپل ملکيت (خپل غلام) مرتهن ته په رهن ورکړی دی او ښکاره خبره ده چې کله راهن خپل ملکيت په رهن ورکړي او مرهون د مرتهن سره هلاک سي، نو هغه مضمون بالدين کيږي.

لېکن په دې صورت کې خو نه تر ضمان او عقد رهن مخکې د راهن ملکيت ثابتېدلای سي او نه تر عقد رهن وروسته؛ ځکه چې د راهن د ملکيت دلته دوه سببه کېدلای سي:

①... د راهن له طرفه مرتهن ته دوکه ورکول کېدل او د دغه دوکې په وجه د مرتهن پر راهن رجوع کول (چې مرتهن له هغه څخه ضمان واخلي)، لېکن دا سبب د راهن د ملکيت سبب نه سي کېدلای؛ ځکه چې په مرهون (غلام) کې د مستحق کس استحقاق وروسته ښکاره سوی دی، نه له مخکې څخه. نو ځکه په هغه کې دوکه او غرور هم تر عقد رهن وروسته ثابت سوی دی، لهذا که هغه د راهن د ملکيت سبب ومنل سي. نو د راهن ملکيت به تر عقد رهن وروسته ثابت سي، او په داسې ملکيت سره د مرهون (غلام) هلاکت نه مضمون بالدَين کيږي.

②... دويم سبب دا کېدلای سي چې کله مستحق کس له مرتهن څخه ضمان واخيستی او مرتهن هغه اداء کړي نو د ضمان تر اداء کولو وروسته مرتهن د مرهون مالک سو. خو څرنګه چې مرتهن د راهن په وجه پر دې مرهون قبضه کړې وه، نو ځکه دا ضمان د راهن و طرف ته متنقل کيږي او راهن چې مرتهن ته ضمان اداء کړي نو هغه د مرهون مالک سو او د هغه ملکيت پر مرهون د مرتهن تر قبضې وروسته شروع سو. او څرنګه چې د مرتهن قبضه له عقد رهن څخه وروسته ده، لهذا دلته به هم د راهن ملکيت له عقد رهن څخه وروسته ثابت سي، نو پر دې به هم د رهن احکام نه جاري کيږي او د مرهون (غلام) هلاکت به نه مضمون بالدَين کيږي.

په همدې وجه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي "والملك بكل ذلك متأخر عن العقد". د دې په خلاف په مخکيني صورت کې د راهن ملکيت د ضمان سابق او مخکنۍ قبضې په وجه ثابت سوی دی، نو ځکه په هغه صورت کې پر مرهون د رهن احکام جاري کيږي او هغه مضمون بالدَين کيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم. (احسن الهدايه)



بَابُ التَّصَرُّفِ فِي الرَّهْنِ وَالْجِنَايَةِ عَلَيْهِ وَجِنَايَتِهِ عَلَى غَيْرِهِ

(دا) باب په رهن (مرهون) کې د تصرّف کولو. پر رهن (دیو چا) د جنایت کولو او پر بل چا د رهن د جنایت کولو (په بیان کې) دی

تشریح: دلته د دې احکام بیانول کیږي چې په مرهون کې تصرف وسي یا یو څوک پر مرهون جنایت وکړي یا خپله مرهون (غلام مثلاً) پر یو چا جنایت وکړي.

څرنګه چې پر یو شي د تصرّف او جنایت احکام د هغه شي تر ثبوت او تحقّق وروسته جاري کیږي، نو ځکه اول د رهن له ثبوت څخه بحث سوی دی او اوس پر رهن د تصرّف او جنایت وغیره احکام او مسئلې بیانول کیږي (د دې لپاره چې ترتیب وضعي د ترتیب طبعي مطابق سي).

د مرتهن له اجازې څخه بغیر مرهون شی خرخول

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمُرْتَهِنِ فرمایي: او کله چې راهن د مرتهن له اجازې بغیر مرهون خرخ کړي فَالْبَيْعُ مَوْقُوفٌ نو مبیع موقوفه ده لِتَعَلُّقِ حَقِّ الْغَيْرِ بِهِ وَهُوَ الْمُرْتَهِنُ ځکه چې د هغه [مرهون] سره د بل چا حق متعلق دی چې هغه مرتهن دی فَيَتَوَقَّفُ عَلَى إِجَازَتِهِ نو ځکه دا بیع به د مرتهن پر اجازه موقوفه کیږي وَإِنْ كَانَ الرَّاهِنُ يَتَصَرَّفُ فِي مِلْكِهِ که څه هم راهن په خپل ملکیت کې تصرف کوي كَمَنْ أَوْصَى بِجَمِيعِ مَالِهِ لکه څوک چې د خپل ټوله مال وصیت وکړي تَقِفُ عَلَى إِجَازَةِ الْوَرَثَةِ فِيمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ نو دا وصیت د وارثانو پر اجازه موقوف کیږي له دریمي حصې څخه په زائد مال کې لِتَعَلُّقِ حَقِّهِمْ بِهِ ځکه چې د هغه [زائد على الثلث] سره د وارثانو حق متعلق دی فَإِنْ أَجَازَ الْمُرْتَهِنُ بیا که چیري مرتهن اجازه ورکړي جَازَ نو بیع جائز کیږي لِأَنَّ التَّوَقُّفَ لِحَقِّهِ ځکه چې د بیع موقوف کېدل د هغه [مرتهن] د حق په وجه وه وَقَدْ رَضِيَ بِسُقُوطِهِ او [اوس] هغه د خپل حق په ساقطېدلو راضي سوی دی وَإِنْ قَضَاهُ الرَّاهِنُ دَيْنَهُ او که چیري راهن د مرتهن قرض اداء کړي جَازَ أَيْضًا نو هم بیع جائز کیږي لِأَنَّهُ زَالَ الْمَانِعُ مِنَ النُّفُوذِ ځکه چې [د بیع] له نافذېدو څخه مانع شی زائل سو وَالْمُقْتَضِي مَوْجُودٌ او [د بیع د نافذېدو] تقاضا کونکی شی موجود دی وَهُوَ التَّصَرُّفُ الصَّادِرُ مِنَ الْأَهْلِ فِي الْمَحَلِّ او دا [مقتضي] هغه تصرف دی کوم چې د اهل کس له طرفه په محل کې صادر سوی دی.

اللغات: ﴿سقوط﴾ د نصر مصدر دی: ساقطېدل، ختمېدل. ﴿الأهل﴾ اهليت او صلاحيت لرونکی، قابل. ﴿المحل﴾ ځای. ﴿النفوذ﴾ د نصر مصدر دی: نافذېدل، جاري کېدل او پوره کېدل. ﴿الصادر﴾ د فاعل صيغه ده، د نصر او ضرب له هر باب څخه راځي: صادرېدونکی، واقع کېدونکی، حاصلېدونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: خو بالکل آسانه دی چي که د مرتهن له اجازې څخه بغير راهن مرهون شی خرڅ کړي، نو دا بيع د مرتهن پر اجازه موقوفه کيږي؛ ځکه چي د مبيع سره د مرتهن حق متعلق دی او مرتهن د هغه حقدار دی، او قاعده دا ده چي د کوم شي سره د بل چا حق متعلق وي، په هغه شي کي هر تصرّف د حقدار کس پر اجازه موقوف پاتيږي، او دلته که څه هم په ښکاره راهن په خپل ملکيت کي تصرّف کوي، لېکن څرنګه چي هغه ملکيت د بل چا يعني د مرتهن په حق سره مشغول دی، نو ځکه د راهن مذکوره تصرّف به د مرتهن پر اجازه موقوف کيږي، که چيري مرتهن اجازه ورنه کړي، نو بيع نه نافذيږي او که اجازه ورکړي، نو بيع نافذيږي؛ ځکه دا بيع د همدې مرتهن د حق په وجه موقوفه ده او د مرتهن په اجازه ورکولو سره د خپل حق په ساقطېدلو راضي سو.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دې يو مثال ذکر کوي چي که يو څوک د خپل ټوله مال د صدقه کولو وصيت وکړي چي زما ټوله مال دي مثلاً په مسجد يا مدرسه کي ولګول سي، نو دا وصيت فقط د مال په درېيمه حصه کي نافذيږي او له درېيمي حصې څخه بغير په نور مال کي د وارثانو پر اجازه موقوف کيږي؛ ځکه چي له درېيمي حصې څخه بغير د نور مال سره د وارثانو حق متعلق دی، نو همداسي په دې پورتنۍ مسئله کي هم د مرهون شي سره د مرتهن حق متعلق دی، نو ځکه د مرهون شي بيع به د هغه پر اجازه موقوفه کيږي.

خو که چيري تر بيع کولو وروسته راهن د مرتهن قرض اداء کړي، نو اوس بيع جائز ګرځي او خپله نافذيږي؛ ځکه کله چي راهن د مرتهن حق اداء کړی، نو اوس د مرهون شي سره د مرتهن هيڅ حق او تعلّق پاته نه سو او کوم څه چي د بيع له نافذېدو څخه مانع وه هغه ختم سوه او راهن په خپل ملکيت او په محل کي دا تصرّف کونکی سو، نو ځکه د هغه دا تصرّف (بيع) به جائز او نافذ وي.

که مرتهن اجازه ورکړي نو حق يې د ثمن وطرف ته منتقل کيږي او د اجاز نه ورکولو حکم

وَإِذَا نَفَذَ الْبَيْعُ بِإِجَازَةِ الْمُرْتَهِنِ او کله چي د مرتهن په اجازه سره بيع نافذه سوه يَنْتَقِلُ حَقُّهُ إِلَى بَدَلِهِ نو د هغه حق د مرهون شي د بدل [ثمن] وطرف ته منتقل کيږي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ حَقَّهُ تَعَلَّقَ بِالْمَالِيَّةِ ځکه چي د مرتهن حق د ماليت سره متعلق دی وَالْبَدَلُ لَهُ حُكْمُ الْمُبْدَلِ او د بدل لپاره د مبدل حکم دی فَصَارَ كَالْعَبْدِ الْمَدْيُوْنِ الْمَأْذُوْنِ إِذَا بِيْعَ بِرِضَا الْغُرَمَاءِ نو داسي سو لکه مأذون

غلام چي کله د قرضخوهانو په رضا سره خرڅ کړی سي يَنْتَقِلُ حَقُّهُمْ إِلَى الْبَدَلِ نو د هغو حق د بدل وطرف ته منتقل کيږي لِأَنَّهُمْ رَضُوْا بِالِانْتِقَالِ دُوْنَ السُّقُوْطِ رَأْسًا ځکه چي هغوی په همدې منتقل کېدلو راضي سوي دي، نه په بالکليه ساقطېدلو فَكَذَا هٰذَا نو همداسي دا [مذکور صورت] هم دی وَإِنْ لَمْ يُجِزِ الْمُرْتَهِنُ الْبَيْعَ وَفَسَخَهُ او که مرتهن د بيع اجازه نه ورکړي او هغه فسخ [ماته] کړي اِنْفَسَخَ فِيْ رِوَايَةٍ نو د يوه روايت مطابق دا بيع فسخ کيږي حَتّٰى لَوْ اِفْتَكَّ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ تر دې چي که راهن رهن [مرهون] راخلاص کړي لَا سَبِيْلَ لِلْمُشْتَرِيْ عَلَيْهِ نو [بيا] پر رهن د مشتري لپاره هيڅ لاره نسته لِأَنَّ الْحَقَّ الثَّابِتَ لِلْمُرْتَهِنِ بِمَنْزِلَةِ الْمِلْكِ ځکه چي د مرتهن لپاره ثابت سوی حق د ملکيت په درجه کي دی فَصَارَ كَالْمَالِكِ نو مرتهن د مالک په څېر سو لَهُ أَنْ يُّجِيْزَ وَلَهُ أَنْ يَّفْسَخَ چي هغه ته دا حق [هم] سته چي [دبيع] اجازه ورکړي او دا حق [هم] ورته سته چي فسخ يې کړي.

اللغات: ﴿نفذ﴾ د نصر ماضي ده: نافذېدل، جاري کېدل او پوره کېدل، لازمېدل. ﴿مبدل﴾ د کوم شي بدل چي ورکول سوی وي، کوم شی چي د بدل (عوض) په مقابله کي وي. (لکه څرنګه چي مبيع ته په همدې وجه مبدل ويل کيږي چي هغه د بدل يعني د ثمن په مقابله کي وي). ﴿غرماء﴾ جمع د "غَرِيْمٌ" ده: د قرض مالک. قرضخواه (له مقروض څخه قرض غوښتونکی)، هغه څوک چي پر بل چا يې قرض (پور) باندي وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله مرتهن راهن ته د بيع اجازه ورکړي او بيع نافذه سي او راهن له مشتري څخه ثمن ترلاسه کړي، نو اوس د مرتهن حق د مبيع (خرڅ کړی سوي) مرهون شي د ثمن سره متعلق کيږي؛ ځکه چي په اصل کي د مرتهن حق د ماليّت سره متعلق دی او څرنګه چي مرهون شی مال دی، همداسي د هغه بدل او ثمن هم مال دی، لهذا د مرتهن هغه حق کوم چي مخکي د مبدل يعني د مرهون سره متعلق وو، اوس د هغه د بدل يعني د ثمن سره متعلق کيږي، د دې مثال داسي دی لکه پر مأذون غلام چي د څو خلکو قرضونه باندي وي، نو د دې خلکو (قرضخواهانو) حق د هغه غلام د ماليت سره متعلق دی، لهذا که د غلام مالک د قرضخواهانو په اجازه سره هغه خرڅ کړي، نو بيا د دوی ټولو حق د هغه ثمن ته منتقل کيږي او د ثمن سره متعلق کيږي؛ ځکه چي د بيع په اجازه ورکولو سره قرضخواهان د خپل حق په منتقل کېدلو خو راضي دي، لېکن د خپل حق په ساقطېدلو راضي نه دي، نو همداسي په دې پورتنۍ مسئله کي هم چي کله مرتهن د بيع اجازه ورکړه، نو هغه هم د خپل حق په انتقال راضي سوی دی، نه د خپل حق په سقوط.

وإن لم يجز إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مرتهن د بیع اجازه نه ورکړي، بلکې نسه لستي بیع فسخ (ماته) کړي، نو د بیع د فسخ کېدلو په هکله دوه روایتونه دي:

اول روایت کوم چي له محمد بن سماعه څخه نقل سوی دی، هغه دا دی چي (د مرتهن په فسخ کولو سره) بیع فسخ کیږي، همدا وجه ده که چیري د مرتهن د بیع تر فسخ کولو وروسته راهن مرهون شی راخلاص کړي یعني راهن د مرتهن قرض اداء کړي او خپل مرهون شی څني واخلي، نو اوس له مرهون څخه د مشتري ملکیت ختمیږي او هغه مبیع نه پاتیږي، لهذا اوس مشتري هغه له راهن څخه نه سي اخیستلای؛ ځکه چي مرتهن له مخکي څخه بیع فسخ کړې ده او د مشتري معامله یې ختمه کړې ده.

د مرتهن په فسخ کولو سره د بیع د فسخ کېدلو دلیل دا دی چي د مرهون شي سره د مرتهن حق متعلق دی گواکي هغه د مرهون شي مالک دی په همدې وجه هغه د راهن تصرّف منع کولای سي، او ښکاره خبره ده چي کله مرتهن د مالک په درجه کي دی نو څرنگه چي هغه ته دا حق سته چي د بیع اجازه ورکړي، نو همداسي هغه ته دا حق او اختیار هم سته چي بیع فسخ کړي.

د صحیح روایت مطابق د مرتهن په اجازه نه ورکولو او فسخ کولو سره بیع نه فسخ کیږي

وَفِي أَصَحِّ الرِّوَايَتَيْنِ لَا يَنْفَسِخُ بِفَسْخِهِ او په زیات صحیح روایت کي له دوو روایتونو څخه د مرتهن په فسخ کولو سره بیع نه فسخ کیږي لِأَنَّهُ لَوْ ثَبَتَ حَقُّ الْفَسْخِ لَهُ ځکه که چیري مرتهن لره د فسخ حق ثابتېدلای إِنَّمَا يَثْبُتُ ضَرُورَةَ صِيَانَةِ حَقِّهِ نو د هغه د حق خوندي کېدلو د ضرورت په خاطر به ورلره ثابتیدلای وَحَقُّهُ فِي الْحَبْسِ او د هغه حق په حبس [د مرهون په راگرځولو] کي دی [چي مرهون شی د ځان سره وگرځوي] لَا يَبْطُلُ بِانْعِقَادِ هٰذَا الْعَقْدِ او دا [د مرتهن د حبس حق] د دغه عقد بیع په منعقد کېدلو سره نه باطلیږي فَبَقِيَ مَوْقُوفًا نو ځکه دا بیع موقوفه پاته سوه فَإِنْ شَاءَ الْمُشْتَرِي صَبَرَ حَتّٰى يَفْتَكَّ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ نو که د مشتري خوښه وي صبر دي وکړي تر دې چي راهن [مرهون شی] راخلاص کړي [او مشتري ته یې وسپاري] إِذِ الْعَجْزُ عَلٰى شَرَفِ الزَّوَالِ ځکه چي [د مرهون شي له ورسپارلو څخه د راهن] عاجزه کېدل د زایلېدلو پر څنډه دي [چي ژر به زائل او ختم سي. نو تر هغه پوري دي صبر وکړي] وَإِنْ شَاءَ رَفَعَ الْأَمْرَ إِلَى الْقَاضِي او که خوښه یې وي نو دا معامله دي قاضي ته پېش کړي وَلِلْقَاضِي أَنْ يَفْسَخَ او قاضي ته دا حق سته چي بیع فسخ کړي لِفَوَاتِ الْقُدْرَةِ عَلَى التَّسْلِيمِ ځکه

چي [د مبيع] پر ورسپارلو قدرت فوت سوی دی [يعني راهن في الحاله د مبيع مرهون پر وسپارلو قادر نه دی] وَوِلَايَةُ الْفَسْخِ إِلَى الْقَاضِيْ لَا إِلَيْهِ او د فسخ کولو ولايت قاضي لره ده، نه مرتهن لره وَصَارَ كَمَا إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ الْمُشْتَرٰى قَبْلَ الْقَبْضِ او دا داسي سوه لکه رانيول سوی غلام چي تر قبضې مخکي وتښتي فَإِنَّهُ يَتَخَيَّرُ الْمُشْتَرِیْ نو [دلته هم] مشتري اختيارمن کيږي [يعني مذکوره دوه اختياره ورته حاصليږي] لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی كَذٰلِكَ هٰذَا نو همداسي دا [د رهن صورت] هم دی.

اللغات: ﴿صِيانة﴾ د نصر مصدر دی: حفاظت او ساتنه، خوندي کول او ساتل، ﴿شرف﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يو څو دا دي: کناره، څنډه (ژی)، بوک، عرب وايي: هُوَ عَلٰی شَرَفِ الْهَلَاكِ، فلانکی د هلاکېدلو پر څنډه دی يعني هلاکېدلو ته ډېر نژدې دی. ﴿أَبَقَ﴾ د ماضي صيغه ده، له ضرب، نصر او سمع ټولو بابونو څخه راتلای سي: د غلام تښتېدل. ﴿رفع﴾ د فتح د باب ماضي معلومه ده: پورته کول، پورته کېدل، کله چي د دغه باب په صله کي "إِلٰی" راسي، نو معنی يې دا ده: قاضي په عدالت او محکمه کي يو مسئله او معامله پېشول. ﴿فوات﴾ د نصر مصدر دی: فوتېدل، ساقطېدل او ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که مرتهن بيع فسخ کړي، نو د محمد بن سماعه د روايت مطابق خو بيع فسخ کيږي (لکه په تېر عبارت کي چي ذکر سوه)، لېکن زيات صحيح روايت دا دی چي مرتهن ته د بيع د فسخ کولو اختيار نسته او د هغه په فسخ کولو سره بيع نه فسخ کيږي؛ ځکه بالفرض که چيري مرتهن ته د بيع د فسخ کولو اختيار ورکول کېدلای، نو فقط د هغه د حق (قرض) د حفاظت لپاره به ورکول کېدلای او د هغه د حق حفاظت د بيع تر منعقد کېدلو وروسته هم کيږي؛ ځکه چي تر بيع وروسته د مرهون شي پر ځای د هغه بدل يعني ثمن راځي او د مرتهن سره محبوس کيږي، نو ځکه هغه ته د فسخ اختيار نه دی ورکول سوی، خو څرنګه چي د مرهون شي سره د مرتهن حق متعلق دی، نو د هغه د حق په خاطر شريعت د هغه پر اجازه بيع موقوف کړې ده. لهذا بيع خو فسخ کيږي نه، لېکن د هغه پر اجازه موقوف پاتيږي.

اوس د مشتري لپاره دوې لاري دي:

① ... اوله او آسانه لاره دا ده چي تر بيع وروسته صبر او انتظار وکړي تر دې چي راهن د مرتهن قرض اداء کړي او له هغه څخه مرهون شی را خلاص کړي؛ ځکه في الحاله خو راهن مشتري ته د

مبیع (مرهون شي) له ورسپارلو څخه عاجزه دی. لېکن دا عاجزي ژر تر ژره ختمېدونکې ده: ځکه کېدلای سي چي مرتهن د ثمن په لالچ کي د بیع اجازه ورکړي. یا راهن خپله د مرتهن پر قرض اداء کولو قدرت پیدا کړي او قرض ورکړي، نو د مشتري د صبر شېبې به ختمي سي.

②... د مشتري لپاره دویمه لاره دا ده چي دا معامله د قاضي مخ ته پېشه کړي او قاضي هغه فسخ کړي: ځکه کله چي بائع (راهن) اوس د مبیع پر ورسپارلو قادر نه دی او مشتري صبر نه کوي. نو بنکاره خبره ده چي دا بیع به فسخ کېږي، او د فسخ حق قاضي لره دی، نه مرتهن لره. نو ځکه د فسخ لپاره به قاضي ته معامله پېشوي، او بل دا چي کله د قاضي له طرفه بیع فسخ سي، نو د بائع او مشتري تر مینځ معامله او جنجال هم پوره ختمېږي او د فتنې او فساد مخه نیول کېږي. نو په دې حواله سره هم د فسخ حق قاضي لره کېدل غوره معلومېږي.

وصار إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د پورتني دویم روایت د تائید لپاره یو مثال پېشوي. فرمایي چي که یو څوک غلام رانیسي لېکن بائع تر اوسه هغه ته غلام ورسپارلی نه وي چي غلام وتښتېږي، نو څرنګه چي اوس بائع د مبیع (غلام) پر ورسپارلو قادر نه دی، نو ځکه اوس د مشتري لپاره دوه اختیاره او دوې لاري دي چي له هغوی څخه دي یوه اختیار کړي، هغه دا چي یا مشتري دي د غلام د نیول کېدلو او واپس راتللو تر وخته پوري صبر وکړي، یا دي دا معامله قاضي ته پېشه کړي او د قاضي په ذریعه دي بیع فسخ کړي، نو همدغسي په پورتنۍ مسئله کي هم مشتري ته له مذکوره دوو اختیاراتو څخه یو اختیار حاصلېږي.

د راهن دویمه بیع هم د مرتهن پر اجازه موقوفه کېږي

وَلَوْ بَاعَهُ الرَّاهِنُ مِنْ رَجُلٍ او که چیري راهن پر یو سړي مرهون خرڅ کړي ثُمَّ بَاعَهُ بَيْعًا ثَانِيًا مِنْ غَيْرِهِ قَبْلَ أَنْ يُجِيزَهُ الْمُرْتَهِنُ بیا یې دویم ځل له هغه سړي څخه بغیر پر بل چا خرڅ کړي مخکي تر دې چي مرتهن اجازه ورکړي [یعني بیا هغه مرهون شی د مرتهن له اجازې څخه مخکي پر بل چا هم خرڅ کړي] فَالثَّانِي مَوْقُوفٌ أَيْضًا عَلَى إِجَازَتِهِ نو دویمه بیع هم د مرتهن پر اجازه موقوفه ده لِأَنَّ الْأَوَّلَ لَمْ يَنْفُذْ ځکه چي اوله بیع نافذه نه سوه وَالْمَوْقُوفُ لَا يَمْنَعُ تَوَقُّفَ الثَّانِي او موقوف شی د دویم شي موقوف کېدل نه منع کوي فَلَوْ أَجَازَ الْمُرْتَهِنُ الْبَيْعَ الثَّانِيَ بیا که چیري مرتهن د دویمې بیع اجازه ورکړي جَازَ الثَّانِي نو دویمه بیع جائز کېږي [نافذېږي] وَلَوْ بَاعَ الرَّاهِنُ او که چیري راهن بیع وکړي [یعني مرهون شی پر یو سړي خرڅ کړي] ثُمَّ آجَرَ أَوْ وَهَبَ أَوْ رَهَنَ مِنْ غَيْرِهِ بیا له هغه [سړي] څخه بغیر بل

چا ته [هغه مرهون شی] په اجاره ورکړي يا يې ورته هبه کړي يا يې په رهن ورکړي وَأَجَازَ الْمُرْتَهِنُ هٰذِهِ الْعُقُوْدَ او مرتهن د دغه عقدونو [اجاره، هبه او رهن] اجازه ورکړي جَازَ الْبَيْعُ الْأَوَّلُ نو اوله بيع جائز کيږي.

اللغات: ﴿يجيز﴾ د افعال د باب مضارع ده: اجازه ورکول، جائز ګرځول، نافذول. ﴿رَهَنَ﴾ د فتح د باب ماضي ده: په رهن (په ګرو) ايښودل، په رهن ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د مرتهن له اجازې څخه بغير که چيرې راهن مرهون شی خرڅ کړي نو بيع موقوف کيږي (لکه مخکې چې ذکر سوه) او بيا که تر اوسه مرتهن اجازه ورکړې نه وه چې راهن بيا هغه مرهون شی پر بل چا خرڅ کړی، نو اوس به څه کيږي؟، فرمايي چې څرنګه اوله بيع موقوفه وه، همداسې دويمه بيع هم موقوفه کيږي، بيا که چيرې مرتهن د اولې بيع اجازه ورکړي، نو اوله بيع نافذيږي او که د دويمې بيع اجازه ورکړي، نو دويمه بيع نافذيږي.

سوال: مصنف رَحِمَهُ الله خو فقط دا خبره ذکر کړې ده چې که د دويمې بيع اجازه ورکړي، نو هغه جائز کيږي؟.

جواب: هو! لېکن کله چې دويمه بيع جائز کيږي، نو که چيرې د اولې اجازه ورکړي، نو هغه خو په درجه اولیٰ جائز کيږي.

سوال: نو بيا ولې مصنف رَحِمَهُ الله دويمه بيع په ذکر سره خاص کړې ده چې فقط هغه يې ذکر کړې ده؟

جواب: د دويمې بيع او نورو عقدونو تر مينځ د فرق کولو لپاره، چې هغوی به په لاندېنۍ عبارت کې ذکر سي.

ولو باع الراهن إلخ: په دې عبارت کې د هغه فرق وضاحت سوی دی، حاصل د عبارت دا دی چې که چيرې راهن تر بيع وروسته بيا بيع وکړي، نو اوس ذکر سوه چې مرتهن د کومې بيع اجازه ورکړي صرف هغه بيع جائز کيږي او نافذيږي. خو که تر بيع وروسته هغه مرهون شی په اجاره ورکړي، يا يو چا ته يې په هبه ورکړي، يا يو چا ته يې په رهن ورکړي او مرتهن د دغه اجارې يا هبې يا رهن اجازه وکړي، نو بيا هم دا درې سره عقدونه نه جائز کيږي بلکې تر دوی مخکې چې کومه بيع سوې ده، صرف هغه جائز کيږي.

سوال: دغه بيع ته اوله بيع ولې ويل سوې ده، حال دا چې دلته دوې بيع نه دي سوي؟.

جواب: دې ته اوله بيع ځکه ويل سوې ده چې دا نورو عقدونو تر هغې وروسته واقع سوي دي او بيع تر دوی مخکې ده، نو په دې اعتبار "البيع الأول" ورته ويل سوې دي.

سوال: د دې څه وجه ده چې د دوو بيع کولو په صورت کې چې مرتهن د کومې بيع اجازه ورکړي، نو هغه جائز کيږي او نافذيږي، خو په دې نورو عقدونو کې د اجازې باوجود هم صرف اوله بيع نافذيږي، د دواړو صورتونو په مينځ کې د فرق وجه او دليل څه دی؟

جواب: په را روان عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د همدې جواب ورکړی دی.

په دواړو صورتونو کې د فرق وجه

وَالْفَرْقُ أَنَّ الْمُرْتَهِنَ ذُوحَظٍّ مِنَ الْبَيْعِ الثَّانِيْ او فرق يې دا دی چې مرتهن له دويمې بيع څخه حصه داره دی لِأَنَّهُ يَتَعَلَّقُ حَقُّهُ بِبَدَلِهِ ځکه چې د مرتهن حق د مرهون د بدل [ثمن] سره متعلق دی فَيَصِحُّ تَعْيِيْنُهُ لِتَعَلُّقِ فَائِدَتِهِ بِهِ نو د دويمې بيع سره د مرتهن د فايدې د متعلق کېدلو په وجه د هغې تعيين [متعين‌ول] صحيح دې أَمَّا لَا حَقَّ لَهُ فِيْ هٰذِهِ الْعُقُوْدِ ليکن په دغه عقدونو [اجاره، هبه او رهن] کې د هغه هيڅ حق نشته لِأَنَّهُ لَا بَدَلَ فِي الْهِبَةِ وَالرَّهْنِ ځکه چې په هبه او رهن کې خو هيڅ بدل نشته وَالَّذِيْ فِي الْإِجَارَةِ بَدَلُ الْمَنْفَعَةِ لَا بَدَلُ الْعَيْنِ او کوم بدل چې په اجاره کې دی هغه د منفعت بدل دی، نه د عين بدل وَحَقُّهُ فِيْ مَالِيَّةِ الْعَيْنِ لَا فِي الْمَنْفَعَةِ او د مرتهن حق د عين په ماليت کې دی، نه په منفعت کې فَكَانَتْ إِجَازَتُهُ إِسْقَاطًا لِحَقِّهِ نو ځکه د مرتهن اجازه د هغه د خپل حق ساقطول سوه فَزَالَ الْمَانِعُ نو مانع زائل سو فَنَفَذَ الْبَيْعُ الْأَوَّلُ نو ځکه اوله بيع به نافذيږي فَوَضَحَ الْفَرْقُ نو [د دواړو ترمينځ] فرق ښکاره سو.

اللغات: ﴿حظ﴾ حصه، برخه، ﴿منفعة﴾ نفع، فايده، ﴿مانع﴾ د فتح د باب فاعل دی: منع کونکی، بنديز.

تشريح: په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د پورتني دواړو صورونو تر مينځ فرق بيان کړی دی، حاصل يې دا دی چې په اول صورت (يعني د دوو بيعو په صورت) کې د مرتهن حق د بيع سره متعلق وي؛ ځکه د مرتهن حق په بدل کې دی چې د بيع په صورت کې به بدل (ثمن) د مرهون پر ځای هغه ته په رهن اينبوول کيږي او کېدلای سي چې د مرتهن فايده او ګټه په دويمه بيع کې وي په دې توګه چې د هغې ثمن زيات وي، نو د خپل منفعت او فايدې په خاطر مرتهن ته د يوې بيع د تعين حق ورکول سوی دی.

او په دويم صورت (يعني د بيع او نورو عقدونو په صورت) کې په دريو سره عقدونو (اجاره، هبه او رهن) کې د مرتهن هيڅ حق نشته؛ ځکه چې په هبه او رهن کې خو يو هم بدل نه دی او په اجاره کې اجرت

بدل دی خو هغه د منفعت بدل دی، د عینِ مالیت بدل نه دی او د مرتهن حق د عینِ مالیت سره متعلق دی، د منفعت سره متعلق نه دی.

خلاصه د خبرو دا چې مرتهن لره په دغه عقدونو کې هیڅ حق نسته، نو په دغه عقدونو کې د هغه اجازه د تعیین کار نه کوي، بلکې د حق د اسقاط کار کوي. یعنې په اجازه ورکولو سره مرتهن له مرهون شي څخه خپل حق پورته کړی، او د راهن له تصرف کولو څخه چې کوم شی مانع وو، هغه مانع ختم سو. اوس به موږ خپله غور کوو چې کوم عقد جائز وګرځوو (عقدِ بیع او که دا نور عقدونه)، نو موږ عقدِ بیع اختیار کړی دی او هغه مو جائز ګرځولی دی؛ ځکه چې بیع تر نورو عقدونو مخکې ده او ځکه چې هغه لازمه ده او ځکه چې په هغه کې د مرتهن نفع ده. لهذا فرق څرګند سو.

د مرهون غلام د آزادولو حکم او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف

قَالَ: وَلَوْأَعْتَقَ الرَّاهِنُ عَبْدَ الرَّهْنِ فرمایي: او که چیري راهن د رهن غلام آزاد کړي نَفَذَعِتْقُهُ نو د هغه عتق [آزادي] نافذیږي وَفِي بَعْضِ أَقْوَالِ الشَّافِعِيِّ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په بعضي اقوالو کې دي [یعني د امام شافعي یو قول دا دی] لَا يَنْفُذُ إِذَا كَانَ الْمُعْتِقُ مُعْسِرًا چې عتق نه نافذیږي که چیري آزادونکی [راهن] تنګلاسی وي لِأَنَّ فِي تَنْفِيذِهِ إِبْطَالَ حَقِّ الْمُرْتَهِنِ ځکه چې د هغه په نافذولو کې د مرتهن د حق باطلول سته فَأَشْبَهَ الْبَيْعَ نو دا د بیع په څېر سوه بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ مُوسِرًا په خلاف د هغه صورت کله چې مُعتق [راهن] مالدار وي حَيْثُ يَنْفُذُ عَلَى بَعْضِ أَقْوَالِهِ نو په دې صورت کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د بعضي اقوالو مطابق عتق نافذیږي لِأَنَّهُ لَا يَبْطُلُ حَقُّهُ مَعْنًى بِالتَّضْمِينِ ځکه چې د ضمان واجبولو په وجه معناً د مرتهن حق نه باطلیږي وَبِخِلَافِ إِعْتَاقِ الْمُسْتَأْجِرِ او په خلاف د هغه غلام د آزادولو کوم چې په اُجرت نیول سوی وي لِأَنَّ الْإِجَارَةَ تَبْقَى مُدَّتَهَا ځکه چې اجاره تر خپل مودته پوري باقي پاتیږي إِذِ الْحُرُّ يَقْبَلُهَا ځکه چې آزاد کس اجاره قبلوي أَمَّا لَا يَقْبَلُ الرَّهْنَ لیکن رهن نه قبلوي فَلَا يَبْقَى نو ځکه رهن به باقي نه پاتیږي وَلَنَا: أَنَّهُ مُخَاطَبٌ او زموږ دلیل دا دی: چې راهن [په شرعي احکامو] مخاطَب دی [عاقل او بالغ دی] أَعْتَقَ مِلْكَ نَفْسِهِ چې هغه خپل ملکیت آزاد کړی دی فَلَا يَلْغُو تَصَرُّفُهُ بِعَدَمِ إِذْنِ الْمُرْتَهِنِ نو د مرتهن د اجازت په نشتوالي سره به د هغه تصرف نه لغو کیږي كَمَا إِذَا أَعْتَقَ الْعَبْدَ الْمُشْتَرَى قَبْلَ الْقَبْضِ لکه کله

چيري رانيول سوی غلام تر قبضې مخکې آزاد کړي أَوْ أَعْتَقَ الْآبِقَ أَوْ الْمَغْصُوبَ يا [لکه] تښتېدلی يا غصب کړی سوی غلام آزاد کړي وَلَا خَفَاءَ فِي قِيَامِ مِلْكِ الرَّقَبَةِ او د رقبې [غلام] د ملکيت په موجود والي کي هيڅ پټوالي نسته لِقِيَامِ الْمُقْتَضِيْ ځکه چي [د هغه] تقاضا کونکی موجود دی وَعَارِضُ الرَّهْنِ لَا يُنْبِئُ عَنْ زَوَالِهِ او د رهن عارض کېدل د ملکيت د زوال خبر نه ورکوي.

اللغات: ﴿مُعتِق﴾ د افعال د باب فاعل دی: آزادونکی، ﴿معسر﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: تنګلاسی، غريب او مفلس، ﴿موسر﴾ مخکني صيغه ده: پراخ لاسی، مالدار (شتمن)، ﴿تنفيذ﴾ د تفعيل مصدر دی: نافذول، جاري کول، معتبر ګرځول، ﴿قِيام﴾ د نصر مصدر دی: قايمېدل، ثابتېدل او موجودېدل (موجود والی)، ثابت پاتېدل، ﴿لا يلغو﴾ د نصر له باب څخه د نفي صيغه ده: لغو او بېکاره کېدل، باطلېدل، ﴿زوال﴾ د نصر مصدر دی: زائلېدل، ليري کېدل او ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري راهن خپل يو غلام مرتهن په رهن ورکړی وي، لېکن بيا د مرتهن له اجازې څخه بغير راهن هغه غلام آزاد کړي، نو په دې صورت کي د احنافو مسلک دا دی چي د راهن اعتاق (آزادول) صحيح دی او دا عتق نافذيږي، برابره ده راهن مالدار وي او که تنګلاسی وي، د دې په خلاف له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په دې هکله درې قولونه نقل سوي دي:

① ... د احنافو په څېر د هغه په نېز هم دا عتق نافذيږي، برابره ده مُعتِق (راهن) مالدار وي او که تنګلاسی وي.

② ... عتق نه نافذيږي.

③ ... که چيرې معتِق يعني راهن تنګلاسی وي نو عتق نه نافذيږي؛ ځکه چي په دې صورت کي د مرتهن د حق باطلول سته او د بل چا حق باطلول صحيح نه دي، نو ځکه په دې صورت کي به عتق نه نافذيږي، خو که چيري راهن کوم چي مُعتِق دی مالدار وي چي ضمان (تاوان) اداء کولای سي، نو په دې صورت کي د شوافعو په نېز هم عتق نافذيږي؛ ځکه چي دلته د معنیٰ په اعتبار سره د مرتهن حق نه باطليږي، نو د هغه دا حق به له عتق څخه مانع نه وي، د دې په خلاف که يو چا (مثلاً عُمر) يو غلام په اُجرت او مزدوري نيولی وي مثلاً د دوو مياشتو لپاره، لېکن بيا د اجارې په مودت (دوو مياشتو) کي دننه مُوجر يعني د غلام مالک دا مُستاجَر غلام آزاد کړي نو د هغه عتق نافذيږي، حال دا چي د دې صورت کي هم د مُستأجِر (عُمر) نقصان دی چي د اجارې له مودت څخه مخکي يې غلام آزاد کړی؟،

دا ګواکي پر شوافعو اعتراض دی او جواب يې دا دی چي په رهن او اجاره کي فرق دی او دواړه يو ګڼل

صحيح نه دي؛ ځکه چي په اجاره کي تر آزادۍ (آزاديدلو) وروسته هم دا غلام اجير (مزدور) پاتيږي او دا اجارې تر مودې (دوو مياشتو) پوري عقد اجاره باقي پاتيږي ځکه چي د اجارې او آزادۍ تر مينځ هيڅ منافات نسته، او بل د مُستأجِر هم نقصان پکښې نسته، نو ځکه د اجارې په صورت کي اعتاق صحيح دى او عتق نافذيږي.

د دې په خلاف د رهن او حُريت تر مينځ منافات شته او آزاد غلام چا ته په رهن ورکول صحيح نه دي، نو ځکه د اعتاق سره سمدستي رهن ختميږي، او ښکاره خبره ده چي په دې کي د مرتهن د حق باطلول شته، نو ځکه د راهن اعتاق به نه نافذول کيږي.

ولنا أنه مخاطب إلخ: زموږ مسلک ذکر سو چي د راهن اعتاق صحيح او نافذ دى، په دې باره کي زموږ دليل دا دى چي راهن عاقل، بالغ او د شريعت په احکامو مکلف او مخاطب دى او د خپل اهليت او قابليت پر بناء په محل يعني په خپل ملکيت کي تصرّف کونکى دى، نو ځکه د هغه تصرّف به نه لغو کيږي بلکي صحيح او نافذ به وي؛ ځکه چي مرهون (غلام) په حقيقت کي د راهن ملکيت دى او که څه هم پر مرهون د هغه قبضه نسته، خو بيا هم د هغه اعتاق صحيح دى؛ ځکه چي د عتق د نافذېدو لپاره د مُعتَق (غلام) مقبوض کېدل ضروري نه دي. مثلاً که يو څوک غلام رانيسي او تر اوسه يې پر هغه قبضه نه وي کړې (يعني له بائع څخه اخيستى نه وي) چي هغه آزاد کړي، نو د هغه عتق نافذيږي که څه هم پر غلام د هغه قبضه نسته، همدارنګه که ديو سړي غلام تښتېدلى وي او په قبضه کي يې نه وي او په همدې حالت کي يې هغه آزاد کړي، نو د هغه عتق هم ثابتيږي او نافذيږي. همدارنګه که يو څوک له يو سړي څخه غلام غصب او په همدې حالت کي مالک خپل غصب کړى سوى غلام آزاد کړي، نو دا غلام هم آزاديږي، حال دا چي پر هغه د مالک قبضه نسته. لهذا څرنګه چي په دې دريو مثالو کي له قبضې څخه بغير محض د ملکيت (مالک والي) پر بناء هم عتق ثابتيږي، نو همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم د راهن له طرفه عتق ثابتيږي؛ ځکه چي مرهون (غلام) د هاغه په ملکيت کي دى او د مرهون (غلام) رهن صحيح کېدل د دې خبري دليل دى چي هغه د راهن ملکيت دى. پاته سوه د رهن په وجه چي پر مرهون (غلام) د مرتهن قبضه ده، نو هغه خو عارضي او ژر ختمېدونکې ده او راهن يې ختمولاى سي، نو ځکه هغه د عتق لپاره مانع نه ګرځي.

د مرهون غلام د آزادولو نتائج

ثُمَّ إِذَا زَالَ مِلْكُهُ فِي الرَّقَبَةِ بِإِعْتَاقِهِ بيا چي کله په رقبه [غلام] کي د راهن ملکيت زائل سو د غلام د آزادولو په وجه يَزُولُ مِلْكُ الْمُرْتَهِنِ فِي الْيَدِ بِنَاءً عَلَيْهِ نو په قبضه کي د مرتهن ملکيت زائليږي پر هغه په بناء کولو سره كَإِعْتَاقِ الْعَبْدِ الْمُشْتَرَكِ لکه د مشترک غلام آزادول بَلْ أَوْلَى بلکي په برجه

اولیٰ [به زائليږي] لِأَنَّ مِلْكَ الرَّقَبَةِ أَقْوٰى مِنْ مِلْكِ الْيَدِ ځکه چي د رقبې ملکيت د قبضې له ملکيت څخه ډېر قوي دی فَلَمَّا لَمْ يَمْنَعِ الْأَعْلٰى نو کله چي [د عتق له نافذېدو څخه] اعلیٰ مانع نه دی لَا يَمْنَعُ الْأَدْنٰى بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلٰى نو ادنیٰ به په طريقه اولیٰ مانع نه وي وَامْتِنَاعُ النَّفَاذِ فِى الْبَيْعِ وَالْهِبَةِ لِانْعِدَامِ الْقُدْرَةِ عَلَى التَّسْلِيْمِ او په بيع او هبه کي د نفاذ ممتنع کېدل پر ورسپارلو د قدرت نه لرلو په وجه دي وَإِعْتَاقُ الْوَارِثِ الْعَبْدَ الْمُوْصٰى بِرَقَبَتِهٖ لَا يَلْغُوْ او د وارث آزادول د داسي غلام [يعني چي وارث داسي غلام آزاد کړي] چي د هغه د رقبې وصيت سوی وي نه لغو کيږي بَلْ يُؤَخَّرُ إِلٰى أَدَاءِ السِّعَايَةِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ بلکي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د آزادول [اعتاق] به د سعايه اداء کولو تر وخته پوري ځنډول کيږي وَإِذَا نَفَذَ الْإِعْتَاقُ او کله چي اعتاق نافذ سي بَطَلَ الرَّهْنُ لِفَوَاتِ مَحَلِّهٖ نو د رهن د محل فوتېدلو په وجه به رهن باطليږي.

اللغات: ﴿رقبة﴾ غاړه، مملوک ذات، مراد غلام دی. ﴿اليد﴾ لاس، قبضه، تصرّف. ﴿ملک الرقبة﴾ د رقبې ملکيت (د غلام يا مينځي مالک کېدل) يعني چي غلام يا مينځه د انسان په ملکيت کي وي، دې ته ملک يمين هم وايي. ﴿السعاية﴾ د سمع مصدر دی: سعی او کوښښ کول، د يو چا د حق اداء کولو لپاره خواري کښل، د ځان آزادولو لپاره کسب او مزدوري کول او مال ګټل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري راهن خپل مرهون غلام (کوم چي يې مرتهن ته په رهن ورکړی وي) آزاد کړي، نو ښکاره خبره ده چي په هغه غلام کي د راهن ملکيت ختم او زائل سو او کله چي د راهن ملکيت ختم سو، نو د مرتهن د "يد استيفاء" ملکيت هم ختميږي يعني مرتهن ته چي په دې مرهون غلام سره د خپل قرض د ترلاسه کولو قبضه او ملکيت حاصل وو، هغه هم ختميږي؛ ځکه چي د مرتهن ملکيت د همدې راهن پر ملکيت مبني وي، لهذا کله چي د اصل ملکيت ختم سو، نو د فرع ملکيت هم ختميږي.

د دې مثال داسي دی لکه يو غلام چي د دوو کسانو تر مينځ مشترک وي او له دوی څخه يو شريک هغه آزاد کړي، نو د دوېم شريک حصه هم آزاديږي او د دوېم شريک ملک رقبه له اعتاق څخه نه مانع کيږي، لهذا کله چي ملک رقبه کوم چي اعلیٰ دی، د اعتاق له صحت او نفاذ څخه مانع نه ده، نو ملک يد کوم چي له ملک رقبه څخه د کمي درجې دی، دا خو به په درجه اولیٰ د راهن له اعتاق څخه مانع نه وي او د غلام عتق به نافذيږي چي د هغه په نتيجه کي د مرتهن "يد استيفاء" هم ختميږي.

سوال: د یوه شي سره د بل چا حق متعلق کېدل د تصرّف له نفاذ څخه مانع وي، لکه د بیع او هبې په مثال کي چي مخکي ذکر سوه، نو بیا عتق ولي نافذیږي؟.

جواب: وامتناع النفاذ إلخ: د جواب حاصل دا دی چي د بیع او هبې نه نافذېدل فقط په دې وجه دي چي راهن لره پر تسلیم قدرت نسته (یعني راهن د مبیع او موهوب غلام پر ورسپارلو قادر نه دی لکه مخکي چي ذکر سوه)، په همدې وجه د تبنتېدلي غلام بیع او د مستاجَر غلام بیع نه نافذیږي او عتق یې نافذیږي.

سوال: که چیري زید خپل وارث (میراث خور) ته وصیت وکړي چي زما په میراث کي فلانکی غلام وخالد ته ورکړه! لېکن وارث خالد ته تر ورکولو مخکي هغه غلام آزاد کړي، نو دا اعتاق نه صحیح کیږي؛ ځکه وارث که څه هم د غلام مالک دی خو د هغه غلام سره د خالد حق متعلق دی، نو همداسي د راهن عتق هم نه صحیح کېدل پکار دي؟.

جواب: ستاسي مسئله موږ نه تسلیموو، بلکي د وارث دغه اعتاق صحیح دی، لېکن دومره خبره سته چي دا غلام به موصیٰ لهٗ (خالد) ته د خپل قیمت لپاره سعی او کټه کوي یعني خپل د قیمت په اندازه مال به ګټي او خالد ته به یې ورکوي نو بیا هغه آزادیږي، خو دا تأخیر هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول مطابق دی، کنې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز فی الحاله آزادیږي.

خلاصه د خبري دا چي د اعتاق تصرّف لغو نه دی، بلکي هغه په هر حال کي نافذیږي. لهذا

- څرنګه چي غلام اوس آزاد سو، او آزاد د رهن محل نه دی، نو ځکه رهن باطلیږي؛ ځکه چي آزاد کس رهن نه قبلوي.

د غلام تر آزدی وروسته که راهن مالدار وي نو له هغه څخه به د قرض مطالبه کیږي

ثُمَّ بَعْدَ ذٰلِكَ إِنْ كَانَ الرَّاهِنُ مُوسِرًا بیا تر دې وروسته که چیري راهن مالدار وي وَالدَّيْنُ حَالًّا او قرض حالي وي [یعني فی الحاله واجبُ الاداء وي] طُوْلِبَ بِأَدَاءِ الدَّيْنِ نو له راهن څخه به د قرض اداء کولو مطالبه کیږي لِأَنَّهُ لَوْ طُوْلِبَ بِأَدَاءِ الْقِيمَةِ ځکه که چیري له راهن څخه د قیمت اداء کولو مطالبه وسي تَقَعُ الْمُقَاصَّةُ بِقَدْرِ الدَّيْنِ نو د قرض په مقدار به مقاصه واقع کیږي فَلَا فَائِدَةَ فِيهِ نو په دې کي څه فایده نسته وَإِنْ كَانَ الدَّيْنُ مُؤَجَّلًا او که قرض نېټه داره [میادي] وي أُخِذَتْ مِنْهُ قِيمَةُ الْعَبْدِ نو له راهن څخه به د غلام قیمت اخیستل کیږي وَجُعِلَتْ رَهْنًا مَكَانَهُ او د غلام پر ځای به دا قیمت په رهن اېښوول کیږي حَتّٰى يَحِلَّ الدَّيْنُ تر دې چي د قرض اداء کولو وخت راسي لِأَنَّ سَبَبَ

الضَّمَانِ مُتَحَقِّقٌ ځکه چې د ضمان سبب موجود دی وَفِي التَّضْمِيْنِ فَائِدَةٌ او په ضمان واجبولو [ضامن ګرځولو] کي فایده شته فَإِذَا حَلَّ الدَّيْنُ لهذا کله چې د قرض اداء کولو وخت راغلی اِقْتَضَاهُ بِحَقِّهِ نو مرتهن دي هغه [ضمان] د خپل حق په عوض کي واخلي إِذَا كَانَ مِنْ جِنْسِ حَقِّهِ کله چې هغه [ضمان] د مرتهن د حق له جنس څخه وي وَرَدَّ الْفَضْلَ او زیاتوب [زائد مقدار] دي واپس کړي.

اللغات: ﴿موسر﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: پراخ لاسی، مالدار (شتمن). ﴿حال﴾ نقد (نغد)، حال (فی الحاله او فوراً اداء کېدونکی. فی الحاله واجبُ الاداء). ﴿طولب﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: مطالبه کول. ﴿المقاصة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: یو شی د بل شي سره مقابله کول. ادل بدل کول (د مثال په توګه که پر زید د خالد لس درهمه قرض باندې وي او بیا د خالد هم پر زید لس درهمه قرض باندې سي. نو دوی خپل قرضونه سره مقابله او ادل بدل کړي، دې ته مقاصه وايي)، تبادله کول، په برابرۍ سره یو شی د بل شي په مقابله کي راتلل. ﴿مؤجل﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: ټاکلې داره، میعادي (میادي). د کوم عوض لپاره چې میاد او موده ټاکل سوې وي (چې دومره وخت وروسته یې درکوم). ﴿الفضل﴾ اضافه (اضافي مقدار). زیاتوب.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چیري راهن خپل مرهون غلام آزاد کړي، نو اوس به دې ته کتل کیږي چې راهن مالدار دی او که تنګلاسی دی، که راهن مالدار وي او قرض فی الحاله واجبُ الاداء وي، نو له راهن څخه به د قرض اداء کولو مطالبه کیږي، او صرف د قرض مطالبه به ځني کیږي. نه د مرهون غلام د قیمت؛ ځکه کله چې د قرض اداء کولو وخت راغلی دی، نو اوس د قیمت د مطالبې کولو هیڅ فایده نسته؛ ځکه که چیري قیمت ځني واخیستل سي او قیمت او قرض دواړه متحدُ الجنس وي، نو د قرض په اندازه به مقاصه کیږي او که قیمت څه زیات وي نو هغه زائد مقدار به بیرته راهن ته واپس کول کیږي، نو له دې کړکېچ او نزاع څخه د بچ کېدلو لپاره به د قیمت مطالبه نه ځني کیږي، بلکي صرف د قرض اداء کولو مطالبه به ځني کیږي.

او که چیري قرض میادي وي (یعني د هغه لپاره معلوم میاد او ټاکل سوې وي). نو په دې صورت کي به له راهن څخه د مرهون غلام قیمت اخیستل کیږي او همدا قیمت به د غلام پر ځای په رهن ایښوول کیږي او تر څو چې قرض اداء نه سي، تر هغه وخته همدا قیمت د غلام پر ځای رهن پاتیږي. او کله چې د قرض اداء کولو وخت راسي. نو که قرض او قیمت دواړه متحدُ الجنس وي. نو مرتهن به له هغه څخه خپله حصه او قرض اخلي. پاته سوه پر راهن د ضمان واجبېدلو مسئله نو ضمان ځکه پر واجب دی چې راهن د مرهون په آزادولو سره د مرتهن حق باطل کړی دی. او ښکاره خبره ده چې د بل چا حق باطلول د ضمان واجبېدلو سبب دي.

دا پورتني تفصیلات هغه وخت دي کله چې راهن مالدار (شتمن) وي.

او که راهن غریب وي نو غلام به په خپل قیمت کي سعی کوي، او د مشترک غلام صورت

وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا او که راهن تنګلاسی [غریب] وي سَعَى الْعَبْدُ فِي قِيمَتِهِ نو غلام به د خپل قیمت لپاره سعی [او کټه] کوي [خپل قیمت به ګټي] وَقَضَى بِهِ الدَّيْنَ او په هغه [ګټه] سره به قرض اداء کوي إِلَّا إِذَا كَانَ بِخِلَافِ جِنْسِ حَقِّهِ مګر دا چي قرض د مرتهن د حق د جنس په خلاف وي لِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ الْوُصُولُ إِلَى عَيْنِ حَقِّهِ مِنْ جِهَةِ الْمُعْتِقِ ځکه کله چي د مُعتِق [راهن] له طرفه [د مرتهن] خپل عینِ حق ته رسېدل مشکل سوه يَرْجِعُ إِلَى مَنْ يَنْتَفِعُ بِعِتْقِهِ وَهُوَ الْعَبْدُ نو مرتهن به پر هغه کس رجوع کوي کوم چي د راهن په عتق [آزادی] سره نفع اخلي او هغه غلام دی لِأَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ ځکه چي نفع په ضمان [تاوان] سره ده [ګټه په تاوان ده] قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَتَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَتِ الْقِيمَةُ أَقَلَّ مِنَ الدَّيْنِ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي: او د دې تأویل دا دی چي کله [د غلام] قیمت له قرض څخه کم وي أَمَّا إِذَا كَانَ الدَّيْنُ أَقَلَّ لیکن که چیري قرض کم وي نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى نو هغه به موږ ان شاء الله تعالیٰ [وروسته] ذکر کړو ثُمَّ يَرْجِعُ بِمَا سَعَى عَلَى مَوْلَاهُ إِذَا أَيْسَرَ بیا به غلام پر خپل مالک [مُعتِق راهن] رجوع کوي په هغه مقدار سره چي سعی یې پکښې کړې ده [ګټلی یې دی] کله چي مالک مالدار سي لِأَنَّهُ قَضَى دَيْنَهُ ځکه چي غلام د مالک [مُعتِق راهن] قرض اداء کړی دی وَهُوَ مُضْطَرٌّ فِيهِ بِحُكْمِ الشَّرْعِ او غلام په دې هکله د شریعت په حکم سره مجبوره دی فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ بِمَا تَحَمَّلَ عَنْهُ نو ځکه غلام به پر همدې مالک [مُعتِق راهن] رجوع کوي په هغه مقدار سره کوم چي یې د مالک له طرفه زغملی دی بِخِلَافِ الْمُسْتَسْعَى فِي الْإِعْتَاقِ په خلاف د هغه غلام چي په هغه سره [د هغه] په آزادولو کي سعی [او ګټه] کړل سوې وي [صورت به یې په تشریح کي ذکر سي] لِأَنَّهُ يُؤَدِّي ضَمَانًا عَلَيْهِ ځکه چي دا غلام هغه ضمان اداء کوي کوم چي پر ده لازم دی لِأَنَّهُ إِنَّمَا يَسْعَى لِتَحْصِيلِ الْعِتْقِ عِنْدَهُ ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز هغه غلام د آزادۍ حاصلولو لپاره سعی کوي وَعِنْدَهُمَا لِتَكْمِيلِهِ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د آزادۍ پوره کولو لپاره سعی کوي وَهُنَا يَسْعَى فِي ضَمَانٍ عَلَى غَيْرِهِ بَعْدَ تَمَامِ إِعْتَاقِهِ او دلته غلام په داسي ضمان [قرض] کي سعی کوي کوم چي له هغه څخه

بغیر پر بل چا [مُعتِق راهن] باندې لازم دی فَصَارَ كَمُعِيْرِ الرَّهْنِ نو هغه [مستسعی غلام] داسې سو لکه د رهن [مرهون شي] عاريتاً ورکونکی.

اللغات: ﴿وصول﴾ د ضرب مصدر دی: رسېدل (خپل حق او مال ته رسېدل. حق ترلاسه کول). ﴿الخراج﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه ځيني دا دي: حاصلات. پيداوار. مراد: نفع او ګټه. ﴿الضمان﴾ تاوان. جرمانه. ﴿الخراج بالضمان﴾ ګټه په تاوان سره ده. دا يو محاوره ده. مطلب يې دا دی چي کوم څوک له يو شي څخه فايده او نفع اخلي د هغه شي خرچ او تاوان هم پر ده لازميږي (لکه پښتو کې چي هم ځيني وخت د دې مقصد لپاره همداسې ويل کيږي چي "ګټه په تاوان ده"). ﴿تحمّل﴾ د تفعّل ماضي ده: پورته کول. زغمل (برداشت کول). ﴿مستسعٰی﴾ د استفعال د باب مفعول دی: هغه غلام چي د سعی کولو او مال ګټلو طلب ځني سوی وي، هغه غلام چي د خپل پاتي حصې د آزادولو لپاره سعی او خواري په کښل کيږي چي مال وګټي او د پاته حصې مالک ته يې ورکړي چي غلام په پوره توګه آزاد سي. ﴿معير﴾ د افعال د باب فاعل دی: عاريتاً ورکونکی (په عاريت ورکونکی). مثلاً که زيد خالد ته خواست وکړي چي فلانکی شی ما ته د يو څو وخت لپاره راکړه! زه به خپل کار ځني واخلم بيرته به يې درکړم او خالد هغه شی ورکړي، نو دې ته عاريتاً ورکول وايي. خالد ته مُعير وايي او زيد ته مُستعير وايي. ﴿الرهن﴾ مراد ځني مرهون شی دی. مُعير الرّهن: د مرهون شي عاريتاً ورکونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري راهن غريب او تنګلاسی وي، نو ښکاره خبره ده چي هغه د مرتهن قرض نه سي اداء کولای، لهذا اوس به د مرتهن حق په هغه آزاد کړی سوي غلام (مُعتَق) سره ورکول کيږي چي غلام به سعی او ګټه کوي، او د هغه په قيمت او قرض کې چي د کوم يوه مقدار کم وي، هغومره مقدار به مرتهن ته ورکوي؛ په غلام سره د سعی کولو وجه دا ده چي د راهن د غريب کېدلو په وجه اوس د راهن له طرفه مرتهن ته حق (قرض) ورکول کېدل مشکل او ستونزمن دي، او څرنګه چي دا ستونزه او مشکل د غلام د آزادولو په وجه پېښ سوی دی او راهن د مرتهن د حق (قرض) ضامن سوی دی، نو ځکه اوس به د هغه تلافي او تدارک هم د غلام په ذريعه کيږي؛ ځکه قاعده دا ده چي "الخراج بالضمان" يعني نفع او ګټه د ضمان (تاوان) سره متعلق ده. او څرنګه چي د آزادی نفع او مزه غلام اخيستې ده، نو ځکه د مرتهن حق به هم په هاغه ورکول کيږي.

قال ﷫: فرمايي چي په دغه مسئله کې چي مورږ دا حکم کړی دی چي غلام به په خپل قيمت کې سعی کوي (سَعٰی العبد فی قیمته)، دا حکم په هغه صورت کې دی کله چي قيمت له قرض څخه کم وي، ليکن که قرض کم وي، نو د هغه حکم به وروسته بيان کړو.

ثم يرجع إلخ: د دې حاصل دا دی چې په دې صورت کې سعی کونکی غلام چې کوم قرض اداء کړی دی، ښکاره خبره ده چې هغه پر غلام واجب او لازم نه وو بلکې هغه خو د غلام د مُعتق مالک (راهن) قرض وو، او د مُعتق (راهن) د قرض اداء کولو لپاره غلام سعی او کټه کړې ده. نو ځکه کله چې مُعتق مالدار وي، نو غلام به هغه مال (کوم چې يې ګټلی دی او مرتهن ته يې ورکړی دی) له خپل مُعتق (راهن) څخه واپس اخلي.

بخلاف المستسعي إلخ: د دې په خلاف هغه غلام کوم چې د دوو کسانو تر مینځ مشترک وي او له دوی څخه يو شريک خپله حصه آزاد کړي او دويم شريک د خپلې حصې د قيمت په اندازه په غلام سعی او ګټه وکړي، نو دا غلام له مُعتق شريک څخه يوه روپۍ هم نه سي اخيستلای، برابره ده مُعتق شريک مالدار وي او که تنګلاسی وي؛ ځکه چې په دې صورت کې غلام کومه ګټه کړې ده، په هغه ګټه سره يې هغه قرض او حق اداء کړی دی کوم چې پر غلام لازم دی، نه هغه قرض کوم چې پر مُعتق شريک لازم دی، نو ځکه دا غلام له خپل مُعتق څخه د هيڅ شي مطالبه هم نه سي کولای، او څرنګه چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په عتق کې تجزي نه سي کېدلای (آزادي جزء جزء او حصه حصه نه سي کېدلای يعني داسې نه سي کېدلای چې د غلام يوه حصه دې آزاده سي او په پاته حصه کې دې غلام توب [رقيت] پاته سي)، نو د يوه شريک تر آزادولو وروسته د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز ګواکي ټوله غلام آزاد سو، لهذا اوس د غلام سعی او ګټه کول د دوی په نيز د آزادۍ د تکميل لپاره کيږي، او څرنګه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز عتق متجزي کيږي، نو ځکه د يوه شريک تر آزادولو وروسته د هغه په نيز د غلام سعی کول د آزادۍ د تحصيل لپاره کيږي؛ ځکه چې د پاتې نيمې حصې آزادي تر اوسه باقي ده.

د دې په خلاف په پورتنۍ مسئله کې چې غلام کومه سعی او ګټه کړې ده، څرنګه چې هغه د بل چا يعني د مُعتق مالک (راهن) د حق لپاره ده، نو ځکه که چيري مالک (راهن) مالدار وي، نو هغه غلام به خپل اداء کړی سوی مال له مالک څخه واپس اخلي، همدا وجه ده چې که مالک د آزادولو په وخت کې مالدار وي، نو پر غلام هيڅ هم واجب نه دي.

د دې مثال داسې دی لکه رهن په عاريت ورکول، مثلاً زيد مجبوره دی او خالد هغه ته خپل يو شی په عاريت ورکړی چې ته دا يو چا ته په رهن ورکړه او له هغه څخه قرض واخله!، او زيد هغه شی مثلاً حامد ته په رهن ورکړی او قرض يې ځني واخيستی، بيا خالد (مُعير) خپل شي ته محتاج سو نو د زيد له طرفه يې حامد (مرتهن) ته قرض اداء کړی او خپل شی يې له هغه څخه واخيستی، نو ښکاره ده چې خالد د زيد (مُستعير) د غربت په وجه مجبوراً د زيد قرض اداء کړی دی، لهذا تر دې وروسته چې کله هم زيد مالدار سي او لاس ته يې مال راسي، نو خالد به د هغه اداء کړی سوي قرض

مقدار له زيد څخه واپس اخلي، نو همداسي په پورتنۍ مسئله کي هم مذکوره غلام د خپل مُعتق (راهن) د غريب والي په وجه د مجبورۍ پر بناء د هغه قرض اداء کړی دی، لهذا کله چي هم د هغه مُعتق مالدار سي، نو غلام به له هغه څخه اداء کړی سوی مقدار واپس اخلي.

د مشترک غلام د يوې حصې د آزادولو په هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه

ثُمَّ أَبُوْحَنِيْفَةَ أَوْجَبَ السِّعَايَةَ فِي الْمُسْتَسْعَى الْمُشْتَرَكِ فِيْ حَالَتَي الْيَسَارِ وَالْإِعْسَارِ بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله په هغه مشترک غلام کي چي سعی په کول کيږي د مالدارۍ او تنګلاسۍ په دواړو حالتونو کي سعايه واجب کړې ده وَفِي الْعَبْدِ الْمَرْهُوْنِ شَرَطَ الْإِعْسَارَ او په مرهون غلام کي يې د تنګلاسۍ شرط لګولی دی لِأَنَّ الثَّابِتَ لِلْمُرْتَهِنِ حَقُّ الْمِلْكِ ځکه چي مرتهن لره د ملکيت حق ثابت دی وَأَنَّهُ أَدْنٰى مِنْ حَقِيْقَتِهِ الثَّابِتَةِ لِلشَّرِيْكِ السَّاكِتِ او دا [د ملکيت حق] له هغه حقيقي ملکيت څخه د کمي درجې دی کوم چي د ساکت [نا آزادونکي] شريک لپاره ثابت دی فَوَجَبَ السِّعَايَةُ هُنَا فِيْ حَالَةٍ وَاحِدَةٍ نو دلته [په رهن کي] صرف په يوه حالت کي سعايه [سعی کول] واجب سوه إِظْهَارًا لِنُقْصَانِ رُتْبَتِهِ د هغه د مرتبې [درجې] د کموالي د ښکاره کولو لپاره بِخِلَافِ الْمُشْتَرٰى قَبْلَ الْقَبْضِ إِذَا أَعْتَقَهُ الْمُشْتَرِيْ په خلاف د هغه رانيول سوي غلام کوم چي تر قبضې مخکي مشتري آزاد کړی وي حَيْثُ لَا يَسْعٰى لِلْبَائِعِ په دې حيثيت سره چي هغه غلام به د بائع لپاره سعی [او کټه] نه کوي إِلَّا رِوَايَةً عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ مګر له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د يوه روايت مطابق وَالْمَرْهُوْنُ يَسْعٰى او مرهون غلام به سعی کوي لِأَنَّ حَقَّ الْبَائِعِ فِي الْحَبْسِ أَضْعَفُ ځکه چي د حبس [مبيع راګرځولو] په هکله د بائع حق ضعيف دی لِأَنَّ الْبَائِعَ لَا يَمْلِكُهُ فِي الْآخِرَةِ ځکه چي بائع په مآل کي د حبس نه مالک کيږي وَلَا يَسْتَوْفِيْ مِنْ عَيْنِهِ او نه بائع د مبيع له عين څخه [خپل ثمن] ترلاسه کولای سي وَكَذٰلِكَ يَبْطُلُ حَقُّهُ فِي الْحَبْسِ بِالْإِعَارَةِ مِنَ الْمُشْتَرِيْ همدارنګه مشتري ته [د مبيع] په عاريتاً ورکولو سره هم د حبس په هکله د بائع حق باطليږي وَالْمُرْتَهِنُ يَنْقَلِبُ حَقُّهُ مِلْكًا او د مرتهن حق په ملکيت سره بدليږي وَلَا يَبْطُلُ حَقُّهُ بِالْإِعَارَةِ مِنَ الرَّاهِنِ او راهن ته په عاريتاً ورکولو سره د مرتهن حق [هم] نه باطليږي حَتّٰى يُمْكِنَهُ الْاِسْتِرْدَادُ تر دې چي هغه ته [له راهن څخه د مرهون] واپس اخيستل ممکن دي [يعني هغه ته دې

قدرت او اختیار سته] فَلَوْ أَوْجَبْنَا السِّعَايَةَ فِيهِمَا نو که چیري موږ په دې دواړو صورتونو کي سعی کول واجب کړو لَسَوَّيْنَا بَيْنَ الْحَقَّيْنِ نو موږ به د دواړو حقونو تر مینځ برابري کونکي سو وَذٰلِكَ لَا يَجُوْزُ او دا جائز نه دي.

اللغات: ﴿مستسعٰی﴾ د تېر عبارت په لغاتو کي یې وضاحت وسو. ﴿يَسَار﴾ پراخ لاسي، مالداري (شتمن والی)، ﴿إِعْسَار﴾ د افعال مصدر دی: تنګلاسي، غربت (غریبوالی)، ﴿ساکت﴾ خاموش، چپ پاتېدونکی، نه آزادونکی (دلته دویم شریک ته ساکت ځکه ویل سوي دي چي هغه خپله حصه نه ده آزاده کړي بلکي له خپلي حصي څخه یې سکوت اختیار کړی دی)، ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: بندول، منع کول، (د ځان سره) راګرځول. ﴿اعارة﴾ د افعال د باب مصدر دی: عاریتاً ورکول. د دې معنیٰ هم په تېرو لغاتو کي د مُعیر د لفظ په وضاحت کي ذکر سوه. ﴿استرداد﴾ د استفعال مصدر دی: واپس اخیستل، ﴿سوّينا﴾ د تفعیل له بابه د جمع متکلم ماضي صیغه ده: برابرول، برابري راوستل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي کوم غلام د دوو کسانو تر مینځ مشترک وي او له دوی څخه یو شریک (مثلاً خالد) خپله حصه آزاد کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دویم شریک (مثلاً حامد) ته په دغه غلام سره د سعی کولو حق په هر حال کي سته، یعني برابره ده مُعتِق شریک (خالد) مالدار وي او که غریب وي، په هر صورت کي ساکت شریک (حامد) د خپلي حصې لپاره په دغه غلام سره سعی او ګټه کولای سي. د دې په خلاف که چیري راهن مرهون غلام آزاد کړي، نو مرتهن ته صرف په هغه صورت کي په مرهون غلام سره د سعی کولو حق سته کله چي راهن غریب او تنګلاسی وي، لېکن که راهن مالدار وي، نو په دې صورت کي به مرتهن له همدې راهن څخه خپل حق (قرض) اخلي او په غلام سعی نه سي کولای، په همدې وجه ویل سوي دي چي "وفی العبد المرهون شرط الإعسار".

د مشترک غلام او مرهون غلام تر مینځ په سعی کي د فرق کولو وجه دا ده چي په دواړو غلامانو کي چي د حقدار کس لپاره کوم ملکیت ثابتیږي، اصلاً په هغه ملکیت کي فرق دی، په دې توګه چي په مرهون غلام کي د مرتهن لپاره صرف د ملکیت حق ثابت دی، نه حقیقي ملکیت، حال دا چي په مشترک غلام کي د ساکت شریک لپاره حقیقي ملکیت ثابت دی، او ښکاره خبره ده چي حقیقي ملکیت له حق ملکیت څخه اعلیٰ او اقویٰ دی، نو ځکه د دې حقیقي ملکیت مطالبه به په دواړو صورتونو کي کیږي او مُعتِق که مالدار وي او که تنګلاسی وي په دواړو صورتونو کي به ساکت شریک ته په غلام سره د سعی کولو حق وي، د دې په خلاف د مرتهن چي کوم ملکیت دی ځرنګه

چې هغه د ساکت شریک له ملکیت څخه اضعف دی، نو ځکه د هغه مطالبه فقط د راهن د غریب والي په حالت کې له غلام څخه کېدلای سي او که چیري راهن مالدار وي، نو مرتهن فقط له راهن څخه مطالبه کولای سي، څرنګه چې د ملکیت په حواله سره مرهون غلام له مشترک غلام څخه د کمي درجې دي، نو ځکه د دغه فرق د څرګندولو لپاره مرهون غلام صرف په یوه حالت کې په سعایه سره مکلف کړی سوی دی.

بخلاف المشتري إلخ: د دې حاصل دا دی چې که زید مثلاً د خالد غلام رانیسي، لېکن د ثمن له اداء کولو او پر غلام له قبضې کولو څخه مخکې زید (مشتري) هغه غلام آزاد کړي، نو عتق خو صحیح دی، لېکن خالد (بائع) ته چې تر اوسه ثمن نه دی ورکول سوی، آیا خالد د خپل ثمن لپاره په دې مبیع غلام سره سعی کولای سي؟.

فرمايي چې نه! خالد د خپل ثمن لپاره اوس په دې غلام سره سعی نه سي کولای، برابره ده مشتري یعني زید مالدار وي او که غریب وي، همدا د جمهورو علماؤ قول دی او همدا ظاهر روایت دی، د دې په خلاف له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چې که مشتري غریب او تنګلاسی وي، نو بائع د خپل ثمن لپاره په هغه سعی کولای سي، بیا چې کله مشتري مالدار سي نو له هغه څخه دي خپل اداء کړی سوی مقدار واخلي، لېکن موږ تاسي ته وویل چې په ظاهر روایت کې بائع ته په غلام سره د سعی کولو حق نسته، برابر ده مشتري مالدار وي او که غریب وي. حال دا چې که راهن مرهون غلام آزاد کړي او هغه غریب وي، نو مرتهن په هغه مرهون غلام سره سعی کولای سي، لکه په پوره تفصیل سره چې دا مسئله اوس تېره سوه.

نو آخر په دې دواړو کې د فرق وجه څه ده؟.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په "لأن حق البائع إلخ" سره همدا فرق بیان کړی دی فرمايي چې ورو ره! دلته هم اصلاً د بائع او مرتهن د حق او ملکیت تر مینځ فرق دی نو ځکه په حکم کې یې هم فرق دی، او هغه فرق په دې توګه دی چې د مرتهن په مقابله کې د بائع حق کمزوری دی او بائع ته صرف د حبس مبیع (مبیع راګرځولو) حق سته، لېکن د انجام او آخر په اعتبار سره بائع د دغه مبیع (غلام) مالک نه دی، همدا وجه ده که چیري دا مبیع (غلام) د بائع په قبضه کې هلاک سي، نو بائع د هغه نه مالک کیږي، ځکه چې مشتري خو له مخکې څخه لا هغه آزاد کړی دی، د دې په خلاف په مرهون غلام کې د مرتهن د حبس حق قوي دی او د نجام په اعتبار سره مرتهن د مرهون مالک کیږي هم، لهذا که چیري مرهون د مرتهن په قبضه کې هلاک سي، نو د مرتهن د قرض حق ساقطیږي او د دې

هلاکت په وجه هغه د خپل قرض ترلاسه کونکی شمېرل کيږي، نو ښکاره خبره ده چي د مرتهن حق له بائع څخه زيات دی.

همدارنګه بائع خپل ثمن په عينِ مبيع سره نه سي ترلاسه کولای (له عينِ مبيع څخه خپل ثمن نه سي اخيستلای)؛ ځکه چي د بائع ثمن خو د مشتري پر ذمه دی. لېکن مرتهن له عينِ مرهون څخه د ضرورت په وخت کي خپل قرض ترلاسه کولای سي، نو په دې حواله سره د بائع په مقابله کي د مرتهن حق قوي دی. همدارنګه که چيري بائع و مشتري ته مبيع په عاريت ورکړي، نو د بائع د حبس حق ختميږي، لېکن که مرتهن و راهن ته مرهون په عاريت ورکړي، نو د مرتهن د حبس حق نه ختميږي بلکي مرتهن چي کله هم وغواړي، مرهون ځني اخيستلای سي، له دې ټولو څخه دا خبره ښکاره سوه چي د مرتهن د حبس حق له بائع څخه اقویٰ دی، نو ځکه د مرتهن او د بائع په مسئله کي موږ فرق کړی دی چي د رهن په مسئله کي د راهن د غريب والي په صورت کي به په غلام سره سعی کول کيږي لېکن د بيع په مسئله کي به مطلقاً سعی نه په کول کيږي برابره ده مشتري مالدار وي او که غريب وي، کنې په دواړو کي به مساوات لازم سي، حال دا چي دلته مساوات جائز نه دی.

د خپل غلام د رهن کېدلو اقرار او د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک

وَلَوْ أَقَرَّ الْمَوْلَى بِرَهْنِ عَبْدِهِ او که چيري مالک د خپل غلام د رهن کېدلو اقرار وکړي بِأَنْ قَالَ لَهُ: رَهَنْتُكَ عِنْدَ فُلَانٍ په دې توګه چي غلام ته ووايي: ما ته! فلانکي ته په رهن ورکړی يې [ما د فلانکي سره ته په رهن ايښی يې!] وَكَذَّبَهُ الْعَبْدُ او غلام د مالک تکذيب وکړي ثُمَّ أَعْتَقَهُ بيا مالک هغه آزاد کړي تَجِبُ السِّعَايَةُ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز سعی کول واجبيږي خِلَافًا لِزُفَرَ ❁ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله وَهُوَ يَعْتَبِرُ بِإِقْرَارِهِ بَعْدَ الْعِتْقِ او امام زفر رَحِمَهُ الله دا د مالک تر عتق وروسته والا اقرار باندې قياسوي وَنَحْنُ نَقُولُ: أَقَرَّ بِتَعَلُّقِ الْحَقِّ فِي حَالٍ يَمْلِكُ التَّعْلِيقَ فِيهِ او موږ [په جواب کي] وايو: چي مالک په داسي حالت کي د حق متعلق کېدلو اقرار کړی دی چي په هغه حالت کي مالک په غلام کي د حق د مُعلق کولو ملکيت [اختيار] لري لِقِيَامِ مِلْكِهِ ځکه چي د هغه ملکيت موجود دی فَيَصِحُّ نو ځکه [د هغه] اقرار به صحيح وي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْعِتْقِ په خلاف تر عتق [آزادۍ] وروسته حالت لِأَنَّهُ حَالُ انْقِطَاعِ الْوِلَايَةِ ځکه چي هغه [له غلام څخه د مالک] د ولايت منقطع کېدلو حالت دی.

❁ القول الراجح: قولنا (قول الجمهور)، حيث أخر دليلنا، وكذا فی التبيين:... [القول الراجح ج:۲، ص:۳۳۰]

اللغات: ﴿أقرّ﴾ د افعال د باب ماضي ده: اقرار کول. منل. ﴿كذّبه﴾ د تفعيل ماضي ده: تکذيب کول. درواغجن گرځول. د يو چا خبره درواغ گڼل. ﴿السعاية﴾ د سمع مصدر دی: سعی او کوښښ کول (خواري کښل)، د ځان آزادولو لپاره کسب او مزدوري کول او مال گټل. ﴿انقطاع﴾ د انفعال د باب مصدر دی: منقطع کېدل (پرېکېدل او شکېدل)، ختمېدل. ﴿الولاية﴾ سرپرستي او مشري، اختيار.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مالک د خپل غلام د رهن کېدلو اقرار وکړي مثلاً داسي ووايي چي ما فلانکي کس (مثلاً حامد) لره ته په رهن ورکړی يې!. لېکن غلام د مالک د قول تکذيب وکړي، تر دې وروسته مالک هغه آزاد کړي. نو زموږ په نېز د مالک مخکينی اقرار صحيح او جائز دی او د مرتهن (حامد) لپاره پر غلام سعی او گټه کول واجب دي. د دې په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د مالک دغه اقرار صحيح نه دی، هغه فرمايي چي څرنگه د رهن تر اقرار مخکي که مالک غلام آزاد کړي او بيا د غلام د رهن کېدلو اقرار وکړي، نو د هغه دا اقرار معتبر نه دی، نو همداسي تر آزادولو مخکي هم که مالک د غلام د رهن کېدلو اقرار وکړي، نو دا اقرار به هم معتبر نه وي، گواکي امام زفر رَحِمَهُ الله قبل العتق والا د رهن اقرار پر بعد العتق والا قرار باندي قياس کړی دی.

ونحن إلخ: زموږ دليل دا دی چي د قبل العتق والا اقرار د معتبر کېدلو وجه دا ده چي دا اقرار په داسي حالت کي سوی دی چي غلام د مالک په ملکيت کي دی او مالک لره هغه په رهن ورکول صحيح دي (يعني مالک لره دا جائز دي چي هغه په رهن ورکړي)، نو ځکه دا اقرار به معتبر وي، د دې په خلاف تر عتق وروسته له غلام څخه د مالک ولايت او ملکيت ختم سوی دی، نو ځکه بعد العتق والا اقرار صحيح او معتبر نه دی، په همدې حواله سره په دواړو کي فرق دی او يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

مرهون غلام مُدبّر او أم ولد جوړول

قَالَ: وَلَوْ دَبَّرَهُ الرَّاهِنُ فرمايي: او که چيري راهن مرهون غلام مدبر جوړ کړي صَحَّ تَدْبِيرُهُ بِالِاتِّفَاقِ نو د هغه مدبر جوړول بالاتفاق صحيح دي أَمَّا عِنْدَنَا فَظَاهِرٌ هر چي زموږ په نېز خو ښکاره ده وَكَذَا عِنْدَهُ او همداسي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز هم [دا حکم ښکاره دی] لِأَنَّ التَّدْبِيرَ لَا يَمْنَعُ الْبَيْعَ عَلَى أَصْلِهِ ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د اصل مطابق مدبر جوړول بيع نه منع کوي وَلَوْ كَانَتْ أَمَةً او که چيري مينځه رهن [مرهونه] وي فَاسْتَوْلَدَهَا الرَّاهِنُ بيا راهن هغه مينځه أم ولد جوړه کړي صَحَّ الِاسْتِيلَادُ بِالِاتِّفَاقِ نو دا أم ولد جوړول بالاتفاق صحيح دي لِأَنَّهُ يَصِحُّ بِأَدْنَى

الْعِتْقَيْنِ ځکه چې استيلاد له دوو حقونو څخه په ادنیٰ يوه سره [هم] صحيح کيږي وَهُوَ مَالِلْأَبِ فِيْ جَارِيَةِ الْاِبْنِ او دا [ادنیٰ] هغه حق دی کوم چې پلار لره د ځوی په مينځه کې دی فَيَصِحُّ بِالْأَعْلٰى نو په اعلیٰ حق سره به [په درجه اولیٰ] صحيح کيږي وَإِذَا صَحَّا او کله چې دا دواړه [تدبير او استيلاد] صحيح سول خَرَجَا مِنَ الرَّهْنِ نو هغوی دواړه [مدبر او ام ولد] له رهن څخه ووتل لِبُطْلَانِ الْمَحَلِّيَّةِ ځکه چې محل والی باطل سو [يعني هغوی د رهن محل پاته نه سول] إِذْ لَا يَصِحُّ اِسْتِيْفَاءُ الدَّيْنِ مِنْهُمَا ځکه چې په دوی دواړو سره قرض ترلاسه کول صحيح نه دي فَإِنْ كَانَ الرَّاهِنُ مُوْسِرًا بيا که راهن مالدار وي ضَمِنَ قِيْمَتَهُمَا نو د هغوی دواړو د قيمت ضامن کيږي عَلَى التَّفْصِيْلِ الَّذِيْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْإِعْتَاقِ د هغه تفصيل مطابق کوم چې موږ د اعتاق په هکله ذکر کړی دی [يعني چې کله راهن مرهون غلام آزاد کړي].

اللغات: ﴿دبّر﴾ د تفعيل ماضي ده: دَبَّرَيُدَبِّرُتَدْبِيْرًا: مدبر جوړول، د غلام آزادي پر خپل مرګ معلقه کول (يعني چې مالک غلام ته ووايي: زما تر مرګ وروسته ته! آزاد يې)، ﴿استولد﴾ د استفعال ماضي ده: اُم ولد جوړول، يعني چې مالک د مينځې سره وطي وکړي او د هغې بچی وسي، ﴿محلية﴾ محل کېدل، (د يو شه لپاره) ځای کېدل، محل والی، ﴿استيفاء الدين﴾ د استفعال مصدر دی: قرض ترلاسه کول (قرض اخيستل او حاصلول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که راهن خپل مرهون غلام مدبر جوړ کړي، نو بالاتفاق دا تدبير (مدبر جوړول) صحيح او جائز دي، زموږ په نيز خو د هغه جواز ښکاره دی؛ ځکه کله چې د مرهون غلام اعتاق (آزادول) صحيح دي، نو تدبير کوم چې له اعتاق څخه ادنیٰ دی، هغه به په درجه اولیٰ صحيح وي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز هم دا تدبير جائز دی که څه هم اعتاق جائز نه دي؛ ځکه د هغه اصل دا دی چې د مدبر بيع جائز ده (يعني مدبّر خرڅول کېدلای سي)، نو ځکه دا تدبير به (د مرتهن) د بيع مانع نه وي.

همدارنګه که چيري راهن يوه مينځه په رهن ورکړي او بيا راهن هغه مينځه اُم ولد جوړه کړي، نو دا هم بالاتفاق صحيح او جائز دي؛ ځکه کله چې پلار د ځوی مينځه هم اُم ولد جوړولای سي حال دا چې په هغه مينځه کې د پلار حق ضعيف دی، نو خپله مينځه خو په درجه اولیٰ اُم ولد جوړولای

سي، ځکه چي دئ د هغې مالک دی او په هغې کي د ده حق اقوی دی، نو څرنګه چي مرهون غلام مدبر جوړول صحيح دي، همداسي مرهونه مينځه اُم ولد جوړول هم صحيح دي. او کله چي استيلاد او تدبير دواړه صحيح دي، نو ښکاره خبره ده چي مرتهن اوس نه په مدبر سره قرض ترلاسه کولای او نه په اُم ولد سره، بلکي اوس دوی دواړه له رهن څخه ووتل. لهذا اوس که راهن مالدار وي، نو هغه د مرتهن لپاره د دوی د قيمت ضامن کيږي (يعني راهن به د دې تدبير او استيلاد په ضمان [تاوان] کي د دوی قيمت مرتهن ته ورکوي)؛ ځکه چي راهن د تدبير او استيلاد په وجه د مرتهن حق فوت کړی دی، نو ځکه د هغه ضمان به هم پر راهن وي.

په پورتني صورت کي که راهن غريب وي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا او که راهن تنګلاسی وي اِسْتَسْعَى الْمُرْتَهِنُ الْمُدَبَّرَ وَأُمَّ الْوَلَدِ فِيْ جَمِيْعِ الدَّيْنِ نو مرتهن به په مدبر او اُم ولد سره په ټوله قرض کي سعی [او ګټه] کوي لِأَنَّ كَسْبَهُمَا مَالُ الْمَوْلٰى ځکه چي د دوی دواړو ګټه د مالک مال دی بِخِلَافِ الْمُعْتَقِ په خلاف د آزاد کړی سوي غلام حَيْثُ يَسْعٰى فِي الْأَقَلِّ مِنَ الدَّيْنِ وَمِنَ الْقِيْمَةِ ځکه چي هغه له قرض او قيمت څخه په ډېر کم يوه کي سعی کوي [يعني له قرض او قيمت څخه چي د کوم يوه مقدار کم او لږ وي د هغه لپاره سعی او ګټه کوي] لِأَنَّ كَسْبَهُ حَقُّهُ ځکه چي د مُعتَق [آزاد کړی سوي غلام] ګټه د هغه خپل حق دی وَالْمُحْتَبَسُ عِنْدَهُ لَيْسَ إِلَّا قَدْرَ الْقِيْمَةِ او کوم چي د مُعتَق سره محبوس دی هغه صرف د قيمت په اندازه دی فَلَا يُزَادُ عَلَيْهِ نو ځکه پر قيمت به اضافه نه کول کيږي وَحَقُّ الْمُرْتَهِنِ بِقَدْرِ الدَّيْنِ او د مرتهن حق د قرض په اندازه دی فَلَا تَلْزَمُهُ الزِّيَادَةُ نو ځکه زياتوب [زائد مقدار] به پر مُعتَق نه لازميږي وَلَا يَرْجِعَانِ بِمَا يُؤَدِّيَانِ عَلَى الْمَوْلٰى بَعْدَ يَسَارِهِ او دا دواړه [مدبر او اُم ولد] په خپل اداء کړی سوي مقدار سره پر مالک رجوع نه سي کولای د مالک تر مالداری وروسته لِأَنَّهُمَا أَدَّيَاهُ مِنْ مَالِ الْمَوْلٰى ځکه چي دوی دواړو هغه قرض د مالک له مال څخه اداء کړی دی وَالْمُعْتَقُ يَرْجِعُ او آزاد کړی سوی غلام رجوع کولای سي لِأَنَّهُ أَدّٰى مِلْكَهُ عَنْهُ ځکه چي هغه خپل ملکيت د مالک له طرفه اداء کړی دی وَهُوَ مُضْطَرٌّ او [په دې هکله] هغه [مُعتَق] مجبوره دی عَلٰى مَا مَرَّ د هغه تفصيل مطابق کوم چي [مخکي] تېر سو.

اللغات: ﴿استسعیٰ﴾ د استفعال ماضي ده: (له غلام وغیره څخه) د سعی او خواری کښلو طلب کول. کسب او مزدوري په کول چې مال وګټي. ﴿کَسْب﴾ ګټه (ګټل سوی مال). ﴿محتبس﴾ د افتعال مفعول دی: بند او محبوس، راګرځول سوی. ﴿مضطر﴾ د افتعال د باب مفعول دی: مجبور (مجبور کړی سوی).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که هغه راهن کوم چې خپل غلام مدبر جوړ کړی وي یا یې خپله مرهونه مینځه اُم ولد جوړه کړې وي (که هغه) غریب او تنګلاسی وي. نو په دې صورت کې به مرتهن د خپل ټوله قرض ترلاسه کولو ترو ختمه پورې په مدبر او اُم ولد سعی او خواري کارې چې د ده لپاره د ټوله قرض په مقدار مال وګټي؛ ځکه چې د مدبر او اُم ولد ګټه د مالک ملکیت ده (یعني د راهن په ملکیت کې داخلیږي، نه د دوی). او د مرتهن قرض پر همدې مالک (راهن) واجب دی. لهذا څرنګه چې مالک یعني راهن که قرض اداء کوي نو ټوله اداء کوي، نو همداسې به مدبر او اُم ولد هم د ټوله قرض لپاره سعی او ګټه کوي، د دې په خلاف که چیرې راهن خپل مرهون غلام مدبر نه، بلکې آزاد یې کړي او راهن غریب وي، نو په دې صورت کې چې له قرض او د غلام له قیمت څخه د کوم یوه مقدار کم (لږ) وي، غلام به د هغومره مقدار لپاره سعی کوي، نه د ټوله قرض لپاره؛ ځکه چې دغه غلام خو آزاد کړی سوی دی، نو د هغه ګټه د هغه خپل ملکیت ده، نه د مالک. او مخکې ضمناً دا ذکر سوه چې مرهون د خپل مالیت او قیمت په اعتبار سره محبوس دی نو د دې مرهون غلام سره چې کوم د مرتهن مالیت محبوس دی هغه صرف د غلام د قیمت په اندازه دی یا په بله وینا دا چې د مرتهن سره د رهن په توګه صرف د غلام قیمت محبوس دی، نو ځکه مرتهن لره دا حق نسته چې د دې آزاد کړی سوي مرهون غلام له قیمت څخه د زیات مقدار لپاره په هغه سعی او ګټه وکړي، او که قیمت زیات وي او قرض کم وي نو څرنګه چې د مرتهن حق صرف د قرض په مقدار کې دی، نو ځکه په دې صورت کې مرتهن لره دا حق نسته چې په دې غلام سره د قرض له مقدار څخه زیات سعی وکړي بلکې غلام به صرف د مرتهن د قرض په اندازه سعی او ګټه کوي او مرتهن ته به یې ورکوي. نور هغه خلاص دی.

ولایرجعان إلخ: څرنګه چې د مدبر او اُم ولد ګټه د مالک ملکیت ده (یعني د مالک په ملکیت کې داخلیږي)، لهذا دوی چې کله په خپل ګټه (ګټل سوي مال) سره د مالک قرض اداء کړي، نو هغه بیا له خپل مالک څخه واپس نه سي اخیستلای، د دې په خلاف د مُعتَق (آزاد کړی سوی غلام) ګټه صرف د هغه ملکیت ده لهذا هغه په خپل مال سره د مالک قرض اداء کونکی دی. نو ځکه هغه ته له خپل مالک څخه د واپس اخیستلو حق سته.

د مرهون مدبر او ام ولد د سعی کولو په هکله بل قول

وَقِيلَ: الدَّيْنُ إِذَا كَانَ مُؤَجَّلًا او ویل سوي دي: چي کله قرض میعادي [میاد والا] وي يَسْعَى الْمُدَبَّرُ فِي قِيمَتِهِ نو مدبر به په خپل قیمت کي سعی [او ګټه] کوي لِأَنَّهُ عِوَضُ الرَّهْنِ ځکه چي قیمت د مرهون عوض دی حَتَّى تُحْبَسَ مَكَانَهُ تر دې چي قیمت د مرهون پر ځای محبوس کیږي فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الْمُعَوَّضِ نو ځکه د معوض په مقدار به اندازه کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ حَالًّا په خلاف د هغه صورت کله چي قرض حالي [فی الحاله واجبُ الاداء] وي لِأَنَّهُ يُقْضَى بِهِ الدَّيْنُ ځکه [په دې صورت کي] په ګټه سره به قرض اداء کول کیږي وَلَوْ أَعْتَقَ الرَّاهِنُ الْمُدَبَّرَ او که چیري راهن مدبر آزاد کړي وَقَدْ قُضِيَ عَلَيْهِ بِالسِّعَايَةِ أَوْ لَمْ يُقْضَ حال دا چي پر هغه مدبر د سعی کولو فیصله سوې وي یا نه وي سوې لَمْ يَسْعَ إِلَّا بِقَدْرِ الْقِيمَةِ نو [هم] به هغه سعی نه کوي مګر د قیمت په اندازه لِأَنَّ كَسْبَهُ بَعْدَ الْعِتْقِ مِلْكُهُ ځکه چي د هغه ګټه تر آزادېدلو وروسته د هغه خپل ملکیت ده وَمَا أَدَّاهُ قَبْلَ الْعِتْقِ او څه قرض چي هغه تر آزادېدلو مخکي اداء کړی دی لَا يَرْجِعُ بِهِ عَلَى مَوْلَاهُ په هغه سره به پر خپل مالک رجوع نه کوي [واپس به یې نه غواړي] لِأَنَّهُ أَدَّاهُ مِنْ مَالِ الْمَوْلَى ځکه چي مُدبر هغه د مالک له مال څخه اداء کړی دی.

اللغات: ﴿عوض﴾ بدل، ﴿مُعَوَّض﴾ د تفعیل اسم مفعول دی: د کوم شي چي عوض ورکول کیږي (هغه څه چي د هغه عوض او بدل اداء کیږي)، کوم شی چي د عوض په مقابله کي وي.

تشریح: مخکي چي کوم دا حکم ذکر سو چي مُدَبر او اُم ولد به د مرتهن د ټوله قرض لپاره سعی کوي، د هغه په هکله د بعضي حضراتو رایه دا ده چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي قرض فی الحاله واجبُ الاداء وي، لېکن که قرض میادي وي (میاد یې پاته وي) او فی الحاله واجبُ الاداء نه وي، نو په دې صورت کي به په مدبر او اُم ولد سره د ټوله قرض لپاره سعی نه کول کیږي، بلکي صرف د دوی د قیمت په اندازه سعی به کوي؛ ځکه چي همدا قیمت د مرهون (مُدبر او اُم ولد) عوض دی، لهذا صرف همدومره عوض به واجب وي څومره چي معوّض (مرهون) دی، نو ځکه په دې صورت کي به صرف د خپل قیمت په اندازه په مدبر سره سعی کول کیږي.

ولو أعتق إلخ: د دې حاصل دا دی چي که یو راهن خپل مرهون غلام مدبر جوړ کړی، بیا هغه آزاد کړي، نو اوس پر هغه د مُعتَق (آزاد کړی سوي غلام) احکام جاري کیږي، برابره ده پر هغه مدبر تر اوسه د

سعی کولو فیصله شوې وي، که نه وي، لهذا اوس به صرف د قیمت په اندازه سعی کوي. ځکه چې آزاد سوی مرهون غلام صرف د خپل قیمت په اندازه سعی او ګټه وي، او نوره ګټه د هغه خپل ملکیت کیږي، او که پر هغه مدبر (د مدبر کېدلو په حالت کې) د سعی فیصله سوې وي او هغه په دې حالت کې څه سعی او ګټه هم کړې او اداء کړې وي، نو وروسته هغه له خپل مالک (راهن) څخه واپس نه سي اخیستلای؛ ځکه چې په هغه حالت کې د ده ګټه صرف د مالک وه.

که راهن مرهون شی هلاک کړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَكَذٰلِكَ لَوِ اسْتَهْلَكَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ فرمایي: او همدارنګه [ضمان واجبیږي پر راهن] که چیرې راهن رهن [مرهون] هلاک کړي لِأَنَّهُ حَقٌّ مُحْتَرَمٌ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ بِالْإِتْلَافِ ځکه چې هغه [د مرتهن] حق محترم دی چې د هغه د تلفولو [هلاکولو] په وجه پر راهن ضمان واجب دی وَالضَّمَانُ رَهْنٌ فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ او ضمان د مرتهن په قبضه کې رهن ګرځي لِقِيَامِهِ مَقَامَ الْعَيْنِ ځکه چې هغه د عین [مرهون] قائم مقام دی.

اللغات: ﴿استهلك﴾ د استفعال ماضي ده: هلاکول، تنول، ختمول. ﴿محترم﴾ د فتعال مفعول دی: د احترام او درناوي ور. ﴿حق محترم﴾ داسي حق چې د هغه خیال ساتل پر انسان لازم وي. ﴿إتلاف﴾ د افعال مصدر دی: تلفول، ضایع کول، هلاکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چیرې راهن مرهون هلاک کړي، نو پر هغه ضمان (تاوان) واجبیږي، لکه څرنګه چې که راهن مرهون آزاد کړي نو پر هغه ضمان واجبیږي (یعني د هلاکولو او آزادولو حکم یو دی)، بیا که چیرې قرض في الحاله واجبُ الاداء وي، نو له راهن څخه به قرض اخیستل کیږي، او که قرض میادي وي او في الحاله واجبُ الاداء نه وي، نو له راهن څخه به د مرهون قیمت اخیستل کیږي او همدا قیمت به د مرهون پر ځای په رهن ایښوول کیږي، ځکه چې رهن د مرتهن حقِ محترم دی چې د هغه هلاکولو په وجه پر راهن ضمان واجبیږي، او قیمت د مرهون شي قائم مقام دی.

که یو پردی (اجنبي) کس مرهون هلاک کړي نو د هغه حکم

فَإِنِ اسْتَهْلَكَهُ أَجْنَبِيٌّ بیا که یو اجنبي کس مرهون هلاک کړي فَالْمُرْتَهِنُ هُوَ الْخَصْمُ فِي تَضْمِينِهِ نو مرتهن د اجنبي کس په ضامن کولو [یعني له هغه څخه په ضمان اخیستلو] کې خصم دی فَيَأْخُذُ الْقِيمَةَ نو ځکه مرتهن به قیمت اخلي وَتَكُونُ رَهْنًا فِي يَدِهِ او هغه قیمت د مرتهن په قبضه کې رهن کیږي

لِأَنَّهُ أَحَقُّ بِعَيْنِ الرَّهْنِ حَالَ قِيَامِهِ ځکه چي همدا مرتهن د مرهون د موجود والي په وخت کي د عين مرهون زيات حقدار وو فَكَذَا فِي اسْتِرْدَادِ مَا قَامَ مَقَامَهُ نو همداسي د مرهون د قائم مقام شي [قيمت] په اخيستلو کي به هم [هغه زيات حقدار] وي وَالْوَاجِبُ عَلَى هٰذَا الْمُسْتَهْلِكِ قِيمَتُهُ يَوْمَ هَلَكَ او پر دغه هلاکونکي [اجنبي کس] د مرهون هغه قيمت واجب دی کوم چي د هلاکېدلو په ورځ د هغه قيمت وي فَإِنْ كَانَتْ قِيمَتُهُ يَوْمَ اسْتَهْلَكَهُ خَمْسَ مِائَةٍ بيا که د هلاکولو په ورځ د مرهون قيمت پنځه سوه وي وَيَوْمَ رَهَنَ أَلْفًا او د رهن اېښوولو په ورځ زر وي غَرِمَ خَمْسَ مِائَةٍ نو هلاکونکی [اجنبي] د پنځو سوو ضامن کيږي [پنځه سوه تاوان به اداء کوي] وَكَانَتْ رَهْنًا او دا پنځه سوه رهن کيږي وَسَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ خَمْسُ مِائَةٍ او له قرض څخه پنځه سوه ساقطيږي فَصَارَ الْحُكْمُ فِي الْخَمْسِ مِائَةِ الزِّيَادَةَ كَأَنَّهَا هَلَكَتْ بِآفَةٍ سَمَاوِيَّةٍ نو په هغه پنځو سوو کي کوم چي اضافه دي [په هغوی کي] حکم داسي گرځي چي هغوی په يو آفت سره هلاک سوي دي وَالْمُعْتَبَرُ فِي ضَمَانِ الرَّهْنِ الْقِيمَةُ يَوْمَ الْقَبْضِ لَا يَوْمَ الْفِكَاكِ او د رهن په ضمان کي د قبضې د ورځي قيمت معتبر دی، نه د رهن راخلاصولو د ورځي لِأَنَّ الْقَبْضَ السَّابِقَ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ ځکه چي پر مرتهن مخکني قبضه مضمونه ده لِأَنَّهُ قَبْضُ اسْتِيفَاءٍ ځکه چي هغه [د مرتهن قبضه] د (حق) ترلاسه کولو قبضه ده إِلَّا أَنَّهُ يَتَقَرَّرُ عِنْدَ الْهَلَاكِ مگر ضمان د هلاکېدلو په وخت کي مضبوطيږي.

اللغات: ﴿اجنبي﴾ پردی کس، (بېگانه)، له عقد څخه وتلی کس (کوم چي عاقد نه وي يا په بله وينا چي راهن يا مرتهن نه وي)، ﴿خصم﴾ مخالف فريق، مدعي او مدعیٰ عليه دواړو ته ويل کيږي (دوی يو د بل خصم دي)، ﴿آفة﴾ آفت، ناڅاپه او قدرتي مصيبت، ﴿غرم﴾ د سمع ماضي ده: تاوان ورکول، ضمان اداء کول، ضامن کېدل، ﴿فکاك﴾ د سمع د باب مصدر دی: رهن راخلاصول، مرهون شی له مرتهن څخه اخيستل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که د راهن پر ځای يو اجنبي کس مرهون هلاک کړي، نو پر هغه اجنبي کس د مرتهن لپاره ضمان (تاوان) واجبيږي (چي هغه د مرهون قيمت دی) نو مرتهن به له هغه څخه ضمان (تاوان) اخلي او د خپل ځان سره به يې په رهن ايږدي؛ ځکه که مرهون موجود وي، نو بنکاره خبره ده چي د هغه زيات حقدار همدا مرتهن وي، او څرنگه چي د مرهون ضمان (کوم چي قيمت

دی) د مرهون قائم مقام دی، نو ځکه د هغه زيات حقدار به هم دا مرتهن وي او مرتهن به مُستهلک (اجنبي کس) تر ګرېوان نيسي او د مرهون تاوان به ځني اخلي.

والجواب إلخ: د دې حاصل دا دی چي پر مُستهلک د هلاکت د ورځي د قيمت ضمان واجبيږي، مثلاً که د مرهون قيمت د رهن په ورځ زر (۱۰۰۰) روپۍ وي او قرض هم زر (۱۰۰۰) روپۍ وي لېکن اجنبي کس چي په کومه ورځ دا مرهون هلاک کړی وي، په هغه ورځ د مرهون قيمت پنځه سوه (۵۰۰) روپۍ وي، نو اوس پر هغه اجنبي کس فقط پنځه سوه (۵۰۰) ضمان سته چي هغه پنځه سوه قيمت به دويم ځل د مرتهن سره په رهن اېښوول کيږي او پاته پنځه سوه (۵۰۰) له قرض څخه ساقطيږي؛ ځکه کله چي د مرهون تجديد وسو (يعني کله چي ديوه مرهون پر ځای مرتهن ته بل مرهون [قيمت] کېښېښول سو)، نو د هغه ماليت صرف پنځه سوه (۵۰۰) وو، نو ځکه اوس به قرض صرف پنځه سوه وي، او داسي به ګڼل کيږي چي پاته پنځه سوه (۵۰۰) قرض د يو آفت په وجه هلاک سوی دی، او مخکي تاسو ته معلومه سوه چي که د مرتهن سره مرهون هلاک سي، هغه که په هره وجه وي، نو د مرهون د قيمت په اندازه قرض قرض ساقطيږي، نو همداسي په دې مسئله کي به هم پنځه سوه (۵۰۰) قرض ساقطيږي، او هغه پنځه سوه کوم چي مرتهن له اجنبي څخه په رهن اخيستي دي صرف د هغه په اندازه به د مرتهن قرض پاتيږي.

والمعتبر إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله يو اجنبي کس مرهون هلاک کړی وي نو پر هغه د هلاکت د ورځي د قيمت ضمان واجبيږي، خو پر مرتهن د قبضې د ورځي د قيمت ضمان واجبيږي، نه د رهن خلاصېدلو د ورځي (يعني په کومه ورځ چي مرتهن له راهن څخه مرهون اخيستی وي او قبضه يې پر هغه کړې وي، د هغه ورځي د قيمت ضمان پرې لازميږي، نه د هغه ورځي په کومه ورځ چي له مرتهن څخه مرهون خلاص سوی وي)؛ ځکه چي مرهون د مرتهن سره د هغه د مخکنۍ (سابقه) قبضې په وجه مضمون وي (يعني د مخکنۍ قبضې په اعتبار سره ضمان پرې لازميږي) ځکه چي د مرتهن قبضه د استيفاء (حق ترلاسه کولو) قبضه وي او په همدې قبضه سره مرهون شی پر هغه مضمون وي، نو ځکه پر مرتهن د قبضې د ورځي د قيمت ضمان واجبيږي.

إلا أنه إلخ: دا د يو مقدّر سوال جواب دی، سوال دا دی چي کله پر مرتهن د قبضې د ورځي د قيمت ضمان واجب دي، نو که مرهون هلاک نه سي بلکي د هغه قيمت کم سي مثلاً له زرو څخه پنځه سوه روپۍ سي او قرض زر روپۍ وي، نو د دې حساب مطابق خو پنځه سوه له قرض څخه ساقطېدل پکار دي او صرف د پنځو سوو په اداء کولو سره راهن ته د مرهون اخيستلو اختيار حاصلېدل پکار دي، حالانکي داسي نه ده؟.

د همدې په جواب کې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې سمه ده ! مرهون د مرتهن سره د هغه د مخکنۍ (سابقه) قبضې په وجه مضمون وي او د مخکنۍ قبضې په اعتبار سره ضمان پرې لازمېږي خو د دغه ضمان ثبات او مضبوطي د مرهون په هلاکېدلو سره کېږي. او دلته مرهون هلاک سوی نه دی بلکې باقي پاته دی فقط د نرخ ټيټېدلو په وجه د هغه قيمت کم سوی دی. لهذا تر اوسه په ضمان کې ثبات او مضبوطي نه ده راغلې، لهذا که چيرې په دې حالت کې راهن دا مرهون راخلاصوي، نو ټوله قرض به اداء کوي. او پاته سو په پورتنې صورت کې د اجنبي سره مرهون هلاک سوی دی چې د هغه په وجه ضمان ثابت او متقرر سو. نو ځکه اوس به د قبضې د ورځې پوره قيمت معتبر وي.

که قرض مؤجل وي او خپله مرتهن مرهون شی هلاک کړي

وَلَوِاسْتَهْلَكَهُ الْمُرْتَهِنُ وَالدَّيْنُ مُؤَجَّلٌ او که چيرې مرتهن مرهون هلاک کړي او قرض ميعادي وي [يعني داسې قرض وي چې د هغه لپاره ميعاد او نېټه ټاکل سوې وي يعني في الحاله واجبُ الاداء نه وي] غَرِمَ الْقِيمَةَ نو مرتهن د قيمت ضامن کېږي لِأَنَّهُ أَتْلَفَ مِلْكَ الْغَيْرِ ځکه چې هغه د بل چا ملکيت تلف کړی دی وَكَانَتْ رَهْنًا فِي يَدِهِ حَتَّى يَحِلَّ الدَّيْنُ او هغه قيمت به د مرتهن سره رهن کېږي تر دې چې د قرض اداء کولو وخت راسي لِأَنَّ الضَّمَانَ بَدَلُ الْعَيْنِ ځکه چې ضمان د عَين بدل دی فَأَخَذَ حُكْمَهُ نو ضمان به د عَين حکم اخلي وَإِذَا حَلَّ الدَّيْنُ وَهُوَ عَلَى صِفَةِ الْقِيمَةِ او کله چې د قرض اداء کولو وخت راسي او قرض د قيمت پر صفت [جنس] وي اِسْتَوْفَى الْمُرْتَهِنُ مِنْهَا قَدْرَ حَقِّهِ نو مرتهن دې له قيمت څخه د خپل حق په اندازه واخلي لِأَنَّهُ جِنْسُ حَقِّهِ ځکه چې دا د هغه د حق جنس دی ثُمَّ إِنْ كَانَ فِيهِ فَضْلٌ بيا که په دې [قيمت] کې زياتوب وي يَرُدُّهُ عَلَى الرَّاهِنِ نو هغه زياتوب [زائد مقدار] به راهن ته واپس کوي لِأَنَّهُ بَدَلُ مِلْكِهِ ځکه چې دا [قيمت] د راهن د حق بدل دی وَقَدْ فَرَغَ عَنْ حَقِّ الْمُرْتَهِنِ او هغه [زياتوب] د مرتهن له حق څخه فارغ سوی دی.

اللغات: ﴿استهلك﴾ د استفعال ماضي ده: هلاکول، تلفول، ختمول. ﴿يحلّ﴾ د ضرب مضارع ده: (وخت) راتلل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که خپله مرتهن مرهون هلاک کړي او قرض ميعادي (ميعاد والا) وي يعني في الحاله واجبُ الاداء نه وي، نو پر مرتهن د مرهون قيمت واجبېږي: ځکه چې هغه د بل چا يعني د راهن مال هلاک کړی او د بل چا مال هلاکول د ضمان موجب دي. نو ځکه پر هغه د

هلاک کړی سوي مرهون قیمت واجبیږي او دا قیمت بیرته د مرتهن سره رهن کیږي (چي د مرهون په توګه به ور سره وي. تر دې چي راهن قرض اداء کړي)؛ ځکه مرتهن چي څرنګه د عینِ مرهون زیات حقداره وو. همداسي د هغه د قیمت به هم زیات حقداره وي، نو ځکه د قرض اداء کولو تر وخته پوري به دا قیمت د مرتهن سره رهن پاتیږي.

بیا چي کله د قرض وخت راسي او قیمت او قرض له یوه جنس څخه وي مثلاً قرض هم روپۍ وي او د هلاک سوي مرهون قیمت هم روپۍ وي، نو مرتهن به له دې قیمت څخه د خپل قرض په اندازه روپۍ واخلي او تر قرض اخیستلو وروسته که څه پاته سي، نو هغه دي راهن ته واپس کړي؛ ځکه چي د مرتهن حق صرف د قرض په مقدار کي دی، لهذا زائد مقدار به د راهن وي؛ ځکه چي هغه د راهن د ملکیت بدل دی، او بل دا چي هغه (زائد مقدار) د مرتهن له حق څخه فارغ سوی (خالي سوی) هم دی، نو ځکه اوس د زائد مقدار حقدار صرف همدا راهن دی. (احسن الهدایه)

د پورتني مسئلي نور وضاحت او تفریع

وَإِنْ نَقَصَتْ عَنِ الدَّيْنِ بِتَرَاجُعِ السِّعْرِ إِلَى خَمْسِ مِائَةٍ او که [د مرهون] قیمت د نرخ اوښتلو [بدلېدلو] په وجه کم سي تر پنځو سوو پوري [راکښته سي] وَقَدْ كَانَتْ قِيمَتُهُ يَوْمَ الرَّهْنِ أَلْفًا حال دا چي د رهن په ورځ د مرهون قیمت زر [۱۰۰۰] وي وَجَبَ بِالِاسْتِهْلَاكِ خَمْسُ مِائَةٍ نو د هلاکولو په وجه پنځه سوه واجبیږي وَسَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ خَمْسُ مِائَةٍ او له قرض څخه پنځه سوه ساقطیږي لِأَنَّ مَا انْتَقَصَ كَالْهَالِكِ ځکه [د قیمت] کوم مقدار چي کم سوی دی هغه د هلاک سوي په څېر دی وَسَقَطَ الدَّيْنُ بِقَدْرِهِ نو د هلاک سوي مقدار په اندازه به قرض ساقطیږي وَتُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ يَوْمَ الْقَبْضِ او [د مرهون] د قبضې د ورځي قیمت معتبر دی وَهُوَ مَضْمُونٌ بِالْقَبْضِ السَّابِقِ لَا بِتَرَاجُعِ السِّعْرِ [ځکه] مرهون د مخکنۍ قبضې په وجه پر مرتهن مضمون دی، نه د نرخ اوښتلو په وجه وَوَجَبَ عَلَيْهِ الْبَاقِي بِالْإِتْلَافِ او پاته مقدار پر هغه د تلفولو [هلاکولو] په واجب دی وَهُوَ قِيمَتُهُ يَوْمَ أُتْلِفَ او هغه د مرهون د تلف کېدلو د ورځي قیمت دی.

اللغات: ﴿نقصت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: کمېدل، لږېدل. ﴿تراجع﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: واپس راتلل، اوښتل، نرخ ټیټېدل (کښته کېدل). ﴿السعر﴾ نرخ، ریټ. ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: تلفول، ضایع کول (له منځه وړل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د بازار د نرخ اوښتلو او بدلېدلو په وجه د مرهون قیمت له قرض څخه کم سي، مثلاً قرض زر (١٠٠٠) روپۍ وي او د مرهون قیمت هم د رهن په ورځ زر (١٠٠٠) روپۍ وي لېکن بیا د نرخ اوښتلو له کبله د هغه قیمت پنځه سوه (٥٠٠) روپۍ کم سي، او په همدې حالت کې مرتهن هغه هلاک کړي، نو په دې صورت کې د قیمت کمېدلو نقصان مرتهن ته راجع کیږي، یعني څومره قیمت چې کم سوی دی چې هغه دلته پنځه سوه روپۍ دي د هغه په عوض کې د مرتهن قرض ساقطیږي، او د مرهون کم سوی قیمت (چې هغه هم پنځه سوه روپۍ دي) پر مرتهن د هغه ضمان واجبیږي، او هغه کم سوی قیمت به داسې ګڼل کیږي لکه چې هغه د یو آفت او مصیبت په وجه هلاک سوي وي، او ښکاره خبره ده چې د آفت په وجه د هلاکېدلو په صورت کې د هلاک سوي مرهون په اندازه قرض هم ساقطیږي، نو ځکه په پورتني صورت کې به د مرتهن له قرض څخه پنځه سوه (٥٠٠)ساقطیږي. او څرنګه چې مرهون پر مرتهن د مخکنۍ (سابقه) قبضې په وجه مضمون کیږي (یعني د مرهون شي ضمان د مخکنۍ قبضې په اعتبار سره پر مرتهن لازمیږي). نو ځکه پر مرتهن به د قبضې د ورځې د قیمت ضمان لازم وي (لکه مخکې چې هم د دې وضاحت وسو). او د قبضې په ورځ د مرهون قیمت زر (١٠٠٠) روپۍ وو، نو ځکه پر مرتهن به د پوره زرو روپو ضمان واجب وي چې له هغوی څخه د پنځو سوو ضمان د قیمت په شکل دی او د پنځو سوو ضمان د قرض ساقطېدلو په شکل دی، او مصنف رَحِمَهُ الله په "ووجب علیه الباقی إلخ" سره همدا د قیمت د ضمان وضاحت کړی دی. (احسن الهدایه)

که مرتهن راهن ته مرهون عاریتاً ورکړي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا أَعَارَ الْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ لِلرَّاهِنِ فرمایي: او کله چې مرتهن راهن ته مرهون [غلام] په عاریت ورکړي لِيَخْدُمَهُ أَوْ لِيَعْمَلَ لَهُ عَمَلًا د دې لپاره چې مرهون [غلام] د راهن خدمت وکړي یا د هغه لپاره یو کار وکړي فَقَبَضَهُ او راهن پر هغه قبضه وکړي خَرَجَ مِنْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ نو هغه د مرتهن له ضمان څخه وځي لِمُنَافَاةٍ بَيْنَ يَدِ الْعَارِيَةِ وَيَدِ الرَّهْنِ ځکه چې د عاریت د قبضې او د رهن د قبضې تر مینځ منافات دی فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِ الرَّاهِنِ بیا که مرهون د راهن په قبضه کې هلاک سي هَلَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو هغه بغیر له څه شي هلاکیږي لِفَوَاتِ الْقَبْضِ الْمَضْمُونِ ځکه چې مضمونه قبضه فوت سوه وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَسْتَرْجِعَهُ إِلَى يَدِهِ او مرتهن ته دا حق سته چې هغه مرهون خپل لاس [قبضې] ته را واپس وکړي [یعني بیرته یې په خپله قبضه کې واخلي] لِأَنَّ عَقْدَ الرَّهْنِ بَاقٍ ځکه چې عقد رهن باقي

پاته دی إِلَّا فِي حُكْمِ الضَّمَانِ فِي الْحَالِ خو د ضمان په حکم کي فی الحاله [باقي پاته نه دی].

اللغات: ﴿أعار﴾ د افعال له باب څخه د ماضي صيغه ده: په عاريت ورکول. عاريتاً ورکول (د "اعارة" معنیٰ ده: "تمليكُ المنافع بلا عوضٍ علیٰ أن تردّ العين". يعني چي سړی يو چا ته يو شی مفت (بلا عوضه) ورکړي او هغه ته ووايي چي ته خپل نفع ځني واخله! او بيرته يې ما ته واپس کړه!. يا په بله وينا دا چي يو څوک يل چا ته خواست وکړي چي تر يو څو وخته پوري ستا فلانکی شی (مثلاً موټر سايکل) راکړه!. او هغه شی ورکړي چي ته خپل کار ځني واخله!. او تر کار اخيستلو وروسته يې بيرته ما ته وسپاره!. نو دې ته عاريتاً ورکول ته وايي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که مرهون غلام د مرتهن سره وي، بيا مرتهن هغه غلام عاريتاً (په عاريت) راهن ته ورکړي د دې لپاره چي هغه د راهن خدمت وکړي، يا د راهن يو بل کار وکړي او راهن قبضه پرې وکړي (يعني مرهون غلام ځني واخلي)، نو په قبضې کولو (اخيستلو) سره سمدستي هغه مرهون غلام د مرتهن له ضمان څخه ووځي؛ ځکه چي د راهن (مستعير) او مرتهن په قبضه کي منافات دی، ځکه چي د مرتهن قبضه د ضمان قبضه ده (يعني که د هغه په قبضه کي مرهون هلاک سي نو پر هغه ضمان لازميږي) او د راهن (مستعير) قبضه د امانت قبضه ده (چي که د دغه راهن سره مرهون هلاک سي نو ضمان نه پرې لازميږي)، او ښکاره خبره ده چي د امانت او ضمانت تر مينځ تضاد او منافات دی. نو ځکه کله چي هم راهن پر دې مرهون (غلام) قبضه وکړي نو هغه د مرتهن له ضمان څخه ووځي، همدا وجه ده که اوس دغه مرهون د راهن په قبضه کي هلاک سي نو پر راهن د هغه هيڅ ضمان نه لازميږي، لهذا د دې مرهون د هلاکېدلو په وجه د مرتهن قرض نه ساقطيږي، بلکي پر خپل حال باقي پاتيږي. او مرتهن چي کله هم وغواړي، له راهن څخه مرهون يا د مرهون د هلاکېدو په صورت کي د هغه بدل (قيمت) اخيستلای سي چي د ځان سره يې په رهن کښېږدي؛ ځکه چي عقد رهن اوس هم باقي پاته دی، خو ترڅو چي مرتهن راهن ته مرهون واپس کړی وو، نو د هغه په وجه فی الحاله پر مرتهن د ضمان حکم نسته يعني د ضمان له حکم څخه په ماسوا کي هم اوس عقد رهن باقي پاته دی. (احسن الهدايه)

د مخکني مذکوره دعوې دليل

أَلَا تَرَىٰ أَنَّهُ لَوْ هَلَكَ الرَّاهِنُ قَبْلَ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ آيا ته نه ګورې! چي که راهن مړ سي مخکي تر دې چي راهن هغه [مرهون] مرتهن ته واپس کړي كَانَ الْمُرْتَهِنُ أَحَقَّ بِهِ مِنْ سَائِرِ الْغُرَمَاءِ نو مرتهن له ټولو قرضخواهانو څخه د هغه [مرهون] زيات حقدار دی وَهٰذَا لِأَنَّ يَدَ الْعَارِيَةِ لَيْسَتْ بِلَازِمَةٍ او دا [حکم] ځکه دی چي د عاريت قبضه لازمه نه ده وَالضَّمَانُ لَيْسَ مِنْ لَوَازِمِ الرَّهْنِ عَلَىٰ كُلِّ حَالٍ او

ضمان په هر حالت کي د رهن د لوازماتو څخه نه دی أَلَا تَرَىٰ أَنَّ حُكْمَ الرَّهْنِ ثَابِتٌ فِي وَلَدِ الرَّهْنِ آیا ته نه گورې! چي د رهن حکم د رهن په بچي کي ثابت دی وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَضْمُونًا بِالْهَلَاكِ که څه هم دا بچی په هلاکېدلو سره نه مضمون کيږي [یعني د رهن حکم خو پکښي ثابت دی لېکن که چيري هغه هلاک سي نو ضمان نه يې لازميږي. لهذا معلومه سوه چي ضمان هر وخت د رهن د لوازماتو څخه نه دی] وَإِذَا بَقِيَ عَقْدُ الرَّهْنِ او کله چي عقد رهن باقي پاته دی فَإِذَا أَخَذَهُ نو کله چي مرتهن مرهون واخلي عَادَ الضَّمَانُ نو ضمان [بيرته] راگرځي لِأَنَّهُ عَادَ الْقَبْضُ فِي عَقْدِ الرَّهْنِ ځکه چي په عقد رهن کي قبضه را وګرځېدله فَيَعُودُ بِصِفَتِهِ نو ځکه دا قبضه به د خپل صفت [ضمان] سره راګرځي.

اللغات: ﴿سائر﴾ دغه لفظ لره دوې معناوي دي: ټوله، باقي (نور).

تشريح: په تېر عبارت کي چي کوم دا دعوىٰ سوې ده چي که مرتهن مرهون (غلام) راهن ته عاريتاً ورکړي نو بيا هم عقد رهن باقي پاتيږي، دلته د همدې دعوې دليل بيان سوی دی چي د هغه حاصل دا دی چي که عاريتاً اخيستل سوی مرهون د راهن په قبضه کي وي او بيا مخکي تر دې چي راهن هغه مرتهن ته واپس کړي د راهن په قبضه کي هلاک سي او پر راهن صرف د مرتهن قرض نه وي بلکي د نورو کسانو هم پر هغه قرضونه باندي وي، نو په هغوی ټولو کسانو کي مرتهن د مرهون زيات حقدار دی. لهذا دا د دې خبري ښکاره دليل دی چي اوس هم عقد رهن باقي پاته دی. همدارنګه مرتهن (مُعير) ته هر وخت دا حق سته چي له راهن څخه مرهون واپس واخلي، نو له دې څخه هم معلوميږي چي عقد رهن باقي پاته دی.

والضمان إلخ: په دې سره د يو سوال جواب ورکول سوی دی، سوال دا دی چي کله ستاسو په قول عقد رهن باقي پاته دی نو بيا د هغه ضمان هم پاتېدل پکار دي، حال دا چي مخکي تاسو وويل "إلا في حكم الضمان" چي هغه د ضمان په حکم کي باقي پاته نه دی.

د همدې په جواب کي صاحب د هدايې فرمايي چي سمه ده! ضمان د عقد رهن وصف خو دی لېکن دا ضروري نه ده چي دغه وصف دي هر ځای د رهن سره لازم وي. بلکي ضمان له عقد رهن څخه جلا کېدلای هم سي، مثلاً که يو سړي بل چا ته غوا په رهن ورکړې وي او هغه د رهن په دوران کي لنګه سي، نو د غوا سره د هغې بچی هم مرهون کيږي لېکن بچی نه مضمون کيږي يعني که د غوا بچی

د مرتهن سره هلاک سي نو پر هغه د بچي ضمان نه واجبیږي، له دې څخه معلومه سوه چي د عقد رهن لپاره ضمان لازم نه دی او هغه له ضمان څخه خالي کېدلای سي.

وإذا بقي إلخ: فرمايي کله چي په مذکوره مسئله کي عقد رهن باقي پاته دی، نو دویم وار چي کله مرتهن (مُعیر) هغه مرهون واپس اخلي، نو د هغه سره ضمان هم راګرځي؛ ځکه کله چي په عقد رهن کي پر مرهون قبضه وسي، نو اوس هغه قبضه د خپل صفت سره راګرځي او د هغې صفت ضمان دی، لهذا د همدې ضمان سره به قبضه راګرځي، ګواکي ضمان د قبضې سره لازم دی، نه د رهن سره، او د دغه توجیه ته په کتلو سره مخکېنی اعتراض لغو او بې بنیاده دی.

اجنبي کس ته مرهون عاريتاً يا په اجاره ورکول (حکم او تفصيل)

وَكَذٰلِكَ لَوْأَعَارَهُ أَحَدُهُمَا أَجْنَبِيًا بِإِذْنِ الْآخَرِ او همدارنګه که چيري له راهن او مرتهن څخه يو د بل په اجازه سره اجنبي کس ته مرهون په عاريت ورکړي سَقَطَ حُكْمُ الضَّمَانِ نو د ضمان حکم ساقطيږي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي مونږ ذکر کړی وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنْ يَرُدَّهُ رَهْنًا كَمَا كَانَ او له راهن او مرتهن څخه هر يوه ته دا اختيار سته چي هغه مرهون رهن ته واپس کړي لکه څرنګه چي [مخکي رهن] وو لِأَنَّ لِكُلِّ وَاحِدٍ حَقًّا مُحْتَرَمًا فِيهِ ځکه چي په مرهون کي د دوی هر يوه لپاره حق محترم سته وَهٰذَا بِخِلَافِ الْإِجَارَةِ وَالْبَيْعِ وَالْهِبَةِ مِنْ أَجْنَبِيٍّ او دا [د اجنبي سره د عاريت مسئله] د اجنبي سره د اجارې، بيع او هبې کولو په خلاف دي إِذَا بَاشَرَهَا أَحَدُهُمَا بِإِذْنِ الْآخَرِ کله چي له راهن او مرتهن څخه يوه د بل په اجازه سره دا عقدونه کړي وي حَيْثُ يَخْرُجُ عَنِ الرَّهْنِ نو مرهون له رهن څخه وځي فَلَا يَعُودُ إِلَّا بِعَقْدٍ مُبْتَدَإٍ بيا رهن نه راګرځي مګر په نوي [جديد] عقد سره وَلَوْ مَاتَ الرَّاهِنُ قَبْلَ الرَّدِّ إِلَى الْمُرْتَهِنِ او که چيري مرتهن ته [د مرهون] له واپس کولو څخه مخکي راهن مړ سي يَكُونُ الْمُرْتَهِنُ أُسْوَةً لِلْغُرَمَاءِ نو مرتهن د قرضخواهانو سره برابر ګرځي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِالرَّهْنِ حَقٌّ لَازِمٌ بِهٰذِهِ التَّصَرُّفَاتِ ځکه چي د دغه تصرّفاتو [عقدونو] په وجه د رهن سره لازم حق متعلق سو فَيَبْطُلُ بِهِ حُكْمُ الرَّهْنِ نو د هغه لازم حق په وجه د رهن حکم باطليږي أَمَّا بِالْعَارِيَةِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ حَقٌّ لَازِمٌ ليکن د عاريت په وجه د رهن سره هيڅ لازم حق متعلق نه سو فَافْتَرَقَا نو ځکه دا دواړه سره جلا سول.

اللغات: ﴿أعار﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: څه مخکې يې وضاحت وسو. ﴿باشر﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: يو کار خپله کول، معامله کول. ﴿مبتدأ﴾ د تفعيل د باب مفعو دی: له نوي سره کېدونکی، له شروع څخه سوی. ﴿أسوة﴾ برابر او مساوي. يو ډول. ﴿افترقا﴾ د افتعال له باب څخه د تثنيه مذکر غائب ماضي صيغه ده: سره جلا کېدل، بېلېدل.

تشريح: په مذکوره عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که چيري راهن يا مرتهن يو د بل په مشوره او اجازه سره يو اجنبي کس ته مرهون په عاريت ورکړي، نو په دې صورت کې هم مرهون د مرتهن له ضمان څخه وځي؛ ځکه چي د اجنبي کس قبضه د امانت قبضه ده او د مرتهن قبضه د ضمان قبضه ده او په دواړو کې تضاد او منافات دی (لکه مخکې چي هم د دې وضاحت وسو) په "لِمَا قُلْنَا" سره همدې ته اشاره سوې ده. او له عاريتاً ورکولو څخه وروسته راهن او مرتهن هر يوه ته دا اختيار سته چي له اجنبي کس دا مرهون واپس واخلي او بيرته يې رهن وګرځوي؛ ځکه د مرهون سره د راهن حق متعلق دی ځکه چي هغه د راهن خپل ملکيت دی او د مرتهن حق هم ور سره متعلق دی ځکه چي مرتهن د هغه په ذريعه خپل قرض ترلاسه کوي؛ نو ځکه راهن او مرتهن هر يوه ته دا اختيار سته چي مرهون له اجنبي څخه واپس واخلي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي که له راهن او مرتهن څخه يو د بل په اجازه سره مرهون اجنبي کس ته په اجاره ورکړي، يا هغه پر اجنبي کس خرڅ کړي، يا يې ورته هبه وکړي، نو په دې صورت کې مرهون له رهن څخه وځي او اوس که څه هم د مرتهن لاس او قبضې ته مرهون واپس راسي، نو صرف په قبضه سره هغه رهن نه ګرځي تر دې چي راهن او مرتهن دواړه د رهن عقد جديد نه وکړي.

ولومات الراهن إلخ: د دې حاصل دا دی چي که چيري تر دې وروسته (يعني اجنبي کس ته په اجاره يا په بيع او هبه سره د مرهون تر ورکولو وروسته که چيري) راهن مړ سي، نو څرنګه چي اوس عقد رهن باطل سو، نو ځکه اوس د مرتهن حق ختميږي او هغه د راهن د عامو قرضخواهانو په فهرس کې داخليږي او د هغوی سره برابر شريک کيږي؛ ځکه چي د اجارې يا بيع يا هبې د تصرّف کولو په وجه د مرهون سره د اجنبي کس لازمي حق متعلق سو، نو د دغه حق په وجه عقد رهن باطل کړی سو. د دې په خلاف په مخکينی صورت کې يعني چي کله مرهون اجنبي کس ته په عاريت ورکول سوی وی نو په هغه صورت کې د مرهون سره د اجنبي کس حق لازم نه متعلق کيږي، نو ځکه په هغه صورت کې رهن هم نه باطليږي، او همدا وجه د فرق او حد فاصل دی د اجارې، بيع او هبې او د عاريت تر مينځ.

که مرتهن له راهن څخه مرهون په عاريت واخلي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا اسْتَعَارَ الْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ مِنَ الرَّاهِنِ او کله چې مرتهن له راهن څخه مرهون په عاريت واخلي لِيَعْمَلَ بِهِ د دې لپاره چې په مرهون سره کار وکړي فَهَلَكَ قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَ فِي الْعَمَلِ بيا مرهون هلاک سي مخکې تر دې چې هغه په کار شروع کړي هَلَكَ عَلَى ضَمَانِ الرَّهْنِ نو هغه د رهن پر ضمان هلاکيږي لِبَقَاءِ يَدِ الرَّهْنِ ځکه چې د رهن قبضه پاته ده وَكَذَا إِذَا هَلَكَ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْعَمَلِ او همدارنګه کله چې مرهون له کار څخه تر فارغېدلو وروسته هلاک سي لِارْتِفَاعِ يَدِ الْعَارِيَةِ ځکه چې د عاريت قبضه پورته سوې [ختمه] ده وَلَوْ هَلَكَ فِي حَالَةِ الْعَمَلِ او که چيرې مرهون د کار په حالت کې هلاک سي هَلَكَ بِغَيْرِ ضَمَانٍ. نو هغه بغير له ضمان څخه هلاکيږي لِثُبُوتِ يَدِ الْعَارِيَةِ بِالِاسْتِعْمَالِ ځکه چې د استعمال په وجه د عاريت قبضه ثابته ده وَهِيَ مُخَالِفَةٌ لِيَدِ الرَّاهِنِ او دا [د عاريت قبضه] د رهن د قبضې مخالفه ده فَانْتَفَى الضَّمَانُ نو ځکه ضمان منتفي سو وَكَذَا إِذَا أَذِنَ الرَّاهِنُ لِلْمُرْتَهِنِ بِالِاسْتِعْمَالِ او همدارنګه کله چې راهن ومرتهن ته د استعمال اجازه ورکړي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿استعار﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په عاريت (عاريتا) اخيستل، په خواست اخيستل. ﴿يأخذ﴾ د نصر له بابه د مضارع صيغه ده. کله چې د دې باب په صله کې "فِيْ" يا يو فعل راسي نو بيا د "شروع کولو" معنیٰ ورکوي. مثلاً: أَخذ فِي الأَمر وَأخذ يَفْعَله. أَي شَرَعَ فِيهِ. ﴿انتفى﴾ د افتعال ماضي ده: نفي کېدل، ختمېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که مرتهن له راهن څخه مرهون (غلام) په عاريت واخلي د دې لپاره چې په هغه سره يو کار وکړي، لېکن د کار تر شروع کولو مخکې مرهون هلاک سي، نو هغه مضمون بالدين کيږي؛ ځکه چې د رهن قبضه باقي ده، همدارنګه که چيرې له کار څخه تر فارغېدلو وروسته مرهون هلاک سي، نو هم هغه مضمون بالدين کيږي؛ ځکه کله چې مرهون له کار څخه فارغه سو، نو د عاريت قبضه ختمه سوه او د رهن قبضه راوګرځېده، او د رهن د قبضې په صورت کې د مرهون هلاکت مضمون کيږي (يعني که په دې صورت کې هغه هلاک سي نو ضمان يې لازميږي چې په ضمان کې د مرتهن قرض ساقطيږي)، نو ځکه په دې صورت کې به د مرهون هلاکت مضمون بالدين کيږي.

د دې په خلاف که چیري د کار کولو په حالت کي مرهون هلاک سي، نو څرنګه چي هغه د عاریت د قبضې په حالت کي هلاک سوی دی، نو ځکه په دې صورت کي د مرهون هلاکت نه مضمون کیږي؛ ځکه چي د استعمال په وجه د عاریت قبضه ثابته ده، او د عاریت د قبضي او د رهن د قبضې تر مینځ منافات دی، نو ځکه په دې صورت کي ضمان هم منتفي دی.

وكذا إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که راهن له عاریت څخه بغیر و مرتهن ته د مرهون د استعمالولو اجازه ورکړي، نو په دې صورت کي هم د کار له شروع کولو څخه مخکي او د کار تر ختمېدلو وروسته د مرهون د هلاکېدلو په صورت هغه مضمون کیږي، او د کار په حالت کي د مرهون د هلاکېدلو په صورت کي هغه نه مضمون کیږي.

په عاریت اخیستل سوی شی په رهن ایښوول (حکم او تفصیل)

وَمَنِ اسْتَعَارَ مِنْ غَيْرِهِ ثَوْبًا لِيَرْهَنَهُ او څوک چي له بل چا څخه یوه کپړه په عاریت واخلي د دې لپاره چي [یو چا ته] هغه په رهن ورکړي فَمَا رَهَنَهُ بِهِ مِنْ قَلِيلٍ أَوْ كَثِيرٍ نو د کوم لږ یا ډېر مقدار په عوض کي چي هغه دا کپړه په رهن ورکړي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ بِإِثْبَاتِ مِلْكِ الْيَدِ ځکه چي هغه [عاریتاً ورکونکی] د ملکِ ید په ثابتولو سره تبرّع کونکی دی فَيُعْتَبَرُ بِالتَّبَرُّعِ بِإِثْبَاتِ مِلْكِ الْعَيْنِ وَالْيَدِ نو دا به قیاسول کیږي د ملکِ عین او ملکِ ید په ثابتولو سره په تبرّع کولو باندي وَهُوَ قَضَاءُ الدَّيْنِ او هغه قرض اداء کول دي وَيَجُوزُ أَنْ يَنْفَصِلَ مِلْكُ الْيَدِ عَنْ مِلْكِ الْعَيْنِ ثُبُوتًا لِلْمُرْتَهِنِ او جائز دي چي ملکِ ید له ملکِ عین څخه جلا سي د مرتهن لپاره د ثابتېدلو په اعتبار سره كَمَا يَنْفَصِلُ زَوَالًا فِي حَقِّ الْبَائِعِ لکه څرنګه چي د بائع په حق کي د زائلېدلو په اعتبار سره جلا کیږي وَالْإِطْلَاقُ وَاجِبُ الِاعْتِبَارِ خُصُوصًا فِي الْإِعَارَةِ او د اطلاق [مطلق والی] اعتبار کول واجب دي په ځانګړې توګه په عاریت کي لِأَنَّ الْجَهَالَةَ فِيهَا لَا تُفْضِي إِلَى الْمُنَازَعَةِ ځکه چي په عاریت کي جهالت نزاع ته رسول نه کوي [یا په بله وینا دا چي په عاریت کي جهالت د نزاع او ختلاف سبب نه ګرځي].

اللغات: ﴿متبرع﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی: تبرّع کونکی، احسان کونکی، غیرِ واجب کار کونکی، بلا عوضه (مفت) ورکونکی یا کار کونکی، ﴿لا تفضي﴾ د افعال له بابه د نفي صیغه ده: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل. ﴿مناعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: جنګ او جګړه. (اختلاف او جنجال).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چې زيد يوه کپړه مثلاً څادر (پټو) له خالد څخه د يو څو ورځو لپاره عارېتاً او په خواست واخيستی، د دې لپاره چې يو چا ته يې په رهن (په ګرو) ورکړي او له هغه څخه قرض واخلي، او مُعير (عارېتاً ورکونکی) يعني خالد دا نه وويل چې د دومره مقدار قرض لپاره دا څادر په رهن ورکړه!. ګواکي خالد خپل څادر مطلقاً په عاريت ورکړی، او بيا زيد هغه څادر يو چا ته مثلاً عُمر ته په رهن ورکړی او قرض يې ځني واخيستی، نو برابره ده زيد لږ روپۍ په قرض ځني اخيستي وي او که ډيري (يا په بله وينا دا چې د لږ قرض په عوض کې يې په رهن ورکړی وي او که د ډېر قرض په عوض کې) په هر صورت کې دا عقد رهن جائز دي، او د دې د جواز دوه دليلونه دي:

(۱)... مُعير يعني خالد عارېتاً د څادر په ورکولو سره د مُستعير يعني د زيد لپاره د تبرع په توګه ملک يد (د قبضې ملکيت) ثابت کړی دی، حال دا چې دا هم جائز ده چې خالد له عارېتاً ورکولو څخه بغير په هغه څادر سره د زيد قرض اداء کړي چې په دې سره د زيد لپاره په هغه څادر کې ملکِ عين او ملک يد دواړه ثابتيږي، نو د يوه ملکيت يعني د ملکِ يد ثبوت خو به په درجه اولیٰ جائز وي، او بل دا چې ملک يد له ملکِ عين څخه جلا کېدلای هم سي لکه بعضې مسئلې چې داسي دي چې ملکِ يد پکښې ثابتيږي لېکن ملکِ عين نه پکښې ثابتيږي، همدارنګه بعضې مسئلې داسي دي چې په هغوی کې ملکِ عين ثابتيږي لېکن ملکِ يد نه پکښې ثابتيږي. لکه څرنګه چې په دې پورتنۍ مسئله کې د مرتهن لپاره ملکِ يد ثابت دی، نه ملکِ عين، او بل مثال دا چې که چيري بائع يو شی خرڅ کړي لېکن مشتري پر هغه قبضه نه وکړي، نو د مشتري لپاره ملکِ عين خو ثابت دی لېکن ملکِ يد تر اوسه ثابت نه دی، نو له دې څخه معلومه سوه چې ملکِ عين له ملکِ يد څخه او ملکِ يد له ملکِ عين څخه جلا کېدلای سي.

(۲)... دويم دليل دا دی چې دلته مُعير (خالد) هغه څادر مطلقاً په عاريت ورکړی دی او مُستعير (زيد) ته يې دا نه دي ويلي چې هغه د دومره مقدار په عوض کې په رهن ورکړه!، نو ځکه د هغه د اطلاق اعتبار به کيږي، خصوصاً په عاريت کې؛ ځکه چې په عاريت کې چې کوم جهالت وي، هغه مفضي الى النزاع نه ګرځي.

که مُعير د قرض مقدار متعيّن کړي نو تر هغه د زيات مقدار په عوض کې په رهن ايښوول

وَلَوْعَيَّنَ قَدْرًا او که چيري مُعير يو مقدار متعيّن کړي لَايَجُوْزُ لِلْمُسْتَعِيْرِ أَنْ يَرْهَنَهُ بِأَكْثَرَ مِنْهُ وَلَا بِأَقَلَّ مِنْهُ نو د مُستعير لپاره جائز نه دي چې تر هغه د زيات مقدار په عوض کې مستعار شی په رهن ورکړي او نه تر هغه د کم مقدار په عوض کې لِأَنَّ التَّقْيِيْدَ مُفِيْدٌ ځکه چې قيد [و شرط] لګول

مفید دي وَهُوَيَنْفِي الزِّيَادَةَ او دا قید لګول [مقدار متعینول] د زیاتوب نفي کوي لِأَنَّ غَرَضَهُ الِاحْتِبَاسُ بِمَا تَيَسَّرَ أَدَاؤُهُ ځکه چیري د مُعیر مقصد د دومره مقدار په عوض کي [د مستعار شي] محبوس کېدل وي چي د هغه اداء کول آسانه وي وَيَنْفِي النُّقْصَانَ أَيْضًا او دا قید لګول د کمی نفي هم کوي لِأَنَّ غَرَضَهُ أَنْ يَصِيرَ مُسْتَوْفِيًا لِلْأَكْثَرِ بِمُقَابَلَتِهِ عِنْدَ الْهَلَاكِ ځکه [په دې صورت کي] د مُعیر مقصد دا وي چي مرتهن [د مستعار مرهون] د هلاکېدلو پر وخت د هغه په مقابله کي د اکثر مقدار ترلاسه کونکی وګرځي لِيَرْجِعَ بِهِ عَلَيْهِ د دې لپاره چي مُعیر پر مُستعیر رجوع وکړي سي.

اللغات: ﴿التقیید﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مقید کول. قید لګول. ﴿اِحتباس﴾ د افتعال د باب مصدر دی: بندي ساتل، محبوس کېدل، راګرځېدل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که په عاریت ورکونکی کس (خالد) یو مقدار متعین نه کړي، نو په دې صورت کي خو په عاریت اخیستونکي (زید) لره د قلیل او کثیر دواړو په عوض کي د رهن ایښوولو اختیار سته. لېکن که مُعیر (خالد) یو مقدار متعین کړي چي مثلاً د پنځه سوه روپو په عوض کي دا څادر په رهن ورکړه!، نو بیا د مُستعیر (زید) لپاره نه له دې څخه د زیات مقدار په عوض کي په رهن ورکول جائز دي او نه د کم مقدار په عوض کي؛ ځکه د مُعیر (خالد) تعیین برابره ده د کم مقدار وي او که د زیات، په هر صورت کي مفید او نافع دی او یو صورت هم له منفعت څخه خالي نه دی؛ ځکه چي د زیاتوب (زائد مقدار) په نفي کولو سره د مُعیر مقصد دا وي چي مُستعیر دي ځکه د دومره مقدار په عوض کي د هغه څادر په رهن ورکړي چي بیا د مُستعیر لپاره د قرض اداء کول آسانه وي او ما ته خپل څادر حاصل سي، ښکاره خبره چي دا یو ښه تدبیر او نېک مقصد دی. نو ځکه د مُستعیر لپاره له دې څخه د زائد مقدار په عوض کي په رهن ورکول جائز نه دي.

همدارنګه د مُعیر دغه تعیین او تقیید په کم مقدار کي هم ځکه د رهن نفي کوي (چي له ټاکل سوي مقدار څخه د کم قیمت په عوض کي یې په رهن مه ورکوه!)، ځکه که د ټاکل سوي مقدار څخه د کم مقدار (مثلاً د ۱۰۰ روپو) قرض په عوض کي په رهن ورکول سي او بیا مرهون (څادر) د مرتهن سره هلاک سي (چي د هغه قیمت مثلاً ۵۰۰ روپۍ دي)، نو پر مرتهن فقط د قرض د مقدار (یعني د ۱۰۰ روپو) ضمان لازمیږي او د مرهون لاپاته قیمت (۴۰۰ روپو) ضمان نه پرې لازمیږي؛ ځکه چي هغه د مرتهن سره امانت دی لهذا د امانت والا مقدار (۴۰۰ روپۍ) راهن ته نه حاصلیږي نو مُعیر ته هم نه حاصلیږي؛ حال دا چي د کم مقدار په نفي کولو سره د مُعیر مقصد دا وي چي رهن دي زما د شي (څادر) سره برابر وي ځکه که دا شی د مرتهن سره هلاک سي نو مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی وګرځي او بیا زه

له مُستعير راهن څخه هغه مقدار حاصل او ترلاسه کړم. او د کم مقدار په صورت کې د ممکنه نه دی ځکه مُستعير لره د مُعير له تاکل سوي قيمت څخه د کم مقدار په عوض کې هم په رهن ورکول جائز نه دي.

مُعِير په عاريت کې نور کوم شرطونه لګولای سي؟

وَكَذٰلِكَ التَّقْيِيْدُ بِالْجِنْسِ وَبِالْمُرْتَهِنِ وَبِالْبَلَدِ او همدارنګه په جنس او په مرتهن او په ښار سره د رهن] مقيد کول [هم معتبر دي] لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ مُفِيْدٌ ځکه چې دا هر يو [تقييد] فايده کونکې دي لِتَيَسُّرِ الْبَعْضِ بِالْإِضَافَةِ إِلَى الْبَعْضِ ځکه چې د بعضي جنسونو په نسبت د بعضو ترلاسه کول آسانه وي [يعني ځيني شيان داسي وي چې د هغوی ترلاسه کول د مُعير او مرتهن لپاره آسانه وي او د ځينو د مشکل وي. نو ځکه د شي د جنس قيد لګول مفيد دي] وَتَفَاوُتِ الْأَشْخَاصِ فِي الْأَمَانَةِ وَالْحِفْظِ او ځکه چې د امانت او حفاظت په هکله خلک متفاوت [او بېلابېل] وي وَإِذَا خَالَفَ او کله چې مُستعير [د مُعير] د حکم مخالفت وکړی كَانَ ضَامِنًا نو ضامن کېږي ثُمَّ إِنْ شَاءَ الْمُعِيْرُ ضَمَّنَ الْمُسْتَعِيْرَ بيا که د مُعير خوښه وي نو له مُستعير [راهن] څخه دي ضمان واخلي وَيَتِمُّ عَقْدُ الرَّهْنِ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُرْتَهِنِ او د راهن [مُستعير] او مرتهن تر مينځ به عقد رهن مکمل سي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ځکه چې راهن [مُستعير] په ضمان اداء کولو سره د مرهون مالک سو فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ رَهَنَ مِلْكَ نَفْسِهِ نو څرګنده سوه چې هغه د خپل ځان ملکيت [شی] په رهن ورکړی دی [نه د مُعير شی] وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْمُرْتَهِنَ او که مُعير وغواړي نو له مرتهن څخه دي ضمان واخلي وَيَرْجِعُ الْمُرْتَهِنُ بِمَا ضَمِنَ وَبِالدَّيْنِ عَلَى الرَّاهِنِ او مرتهن دي په مضمون او قرض سره پر راهن رجوع وکړي [يعني کوم مقدار چې يې مُعير ته په ضمان کې ورکړی دی هغه او خپل قرض دواړه دي له راهن څخه واخلي] وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الْاِسْتِحْقَاقِ او دا موږ په استحقاق کې بيان کړي دي [يعني چې په مرهون شي کې ديو چا استحقاق ثابت سي، د هغه په بيان کې موږ دي يادونه هم کړې ده] وَإِنْ وَافَقَ او که مُستعير د مُعير [د حکم] موافقت وکړي بِأَنْ رَهَنَهُ بِمِقْدَارِ مَا أَمَرَهُ بِهِ په دې توګه چې مُستعير دا [مُستعار شی] د هغه مقدار په عوض کې په رهن ورکړي د کوم په هکله چې مُعير حکم کړی دی إِنْ كَانَتْ قِيمَتُهُ مِثْلَ الدَّيْنِ أَوْ أَكْثَرَ نو که د مستعار مرهون قيمت د قرض په څېر يا تر هغه زيات وي فَهَلَكَ عِنْدَ الْمُرْتَهِنِ بيا هغه [مستعار مرهون] د مرتهن سره هلاک

سي يَبْطُلُ الْمَالُ عَنِ الرَّاهِنِ نو له راهن څخه مال [قرض] ساقطيږي لِتَمَامِ الِاسْتِيْفَاءِ بِالْهَلَاكِ ځکه چي د هلاکېدلو په وجه (د قرض) ترلاسه کول پوره سوه وَوَجَبَ مِثْلُهُ لِرَبِّ الثَّوْبِ عَلَى الرَّاهِنِ او پر راهن د هغه په مثل سره د کپړې والا [مُعیر] لپاره واجبيږي لِأَنَّهُ صَارَ قَاضِيًا دَيْنَهُ بِمَالِهِ بِهٰذَا الْقَدْرِ ځکه چي راهن [مُستعیر] په همدې مقدار د هغه [مُعیر] په مال سره د خپل قرض اداء کونکی ګرځېدلی دی وَهُوَ الْمُوْجِبُ لِلرُّجُوعِ دُوْنَ الْقَبْضِ بِذَاتِهِ او همدا [د هغه په مال سره قرض اداء کول] د رجوع موجب دي، نه نفس قبضه لِأَنَّهُ بِرِضَاهُ ځکه چي قبضه خو د هغه [مُعیر] په رضا سره سوې ده.

اللغات: ﴿جنس﴾ منطقي لفظ دی، مثلاً پسه يو جنس دی، غوا بل جنس دی، غنم يا اُوربشي بل جنس دی، ﴿تفاوت﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو له بل څخه جلا کېدل (مختلف کېدل)، توپير پکښې راتلل، ﴿موجِب﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: واجبونکی، سبب (علت).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي څرنګه د قرض د مقدار متعين کولو په هکله د مُعير قيد او شرط لګول مفيد او معتبر دي، همداسي که د قرض جنس متعيّن کړي چي خاص د غنمو د قرض په عوض کي دا شی (مثلاً څادر) په رهن ورکړه!، يا هغه مرتهن متعيّن کړي چي دغه مستعار شی (څادر) فلانکي کس ته په رهن ورکړه!، يا ښار متعيّن کړي چي په دغه ښار کي يې په رهن ورکړه!، نو دا هر تعيين او تقييد د مُعير له طرفه مفيد او معتبر دی. يا په بله وينا دا چي که مُعير د پسونو تاجر يا شپانه وي او دا شرط ولګوي چي خاص د پسه په عوض کي دا شی په رهن ورکړه! يعني پسه په قرض څني واخله!، يا فلانکي تقوا داره کس ته يې په رهن ورکړه!، يا په هرات کي يې يو چا ته په رهن ورکړه!، نو دا ټوله شرطونه او قيدونه مفيد دي؛ ځکه کېدلای سي چي وروسته راهن له قرض اداء کولو څخه عاجزه سي او خپله مُعير د قرض اداء کولو او د خپل مرهون شي راخلاصولو ته مجبوره سي، نو ښکاره خبره ده چي که قرض له هغه جنس څخه نه وي کوم چي مُعير متعيّن کړی دی (مثلاً په پورتني صورت کي که قرض غنم يا پسه نه وي. بلکي راهن له هغه څخه بغير د بل جنس په عوض کي د مُعير شی په رهن ورکړی وي)، نو د مُعير لپاره به د بل جنس قرض اداء کول مشکل وي، همدارنګه بعضي ښارونو ته تګ راتګ سانه وي او بعضو ته ډېر ګران پرېوځي، لهذا د ښار قيد لګول هم مفيد دي او پر مُستعير لازم دي چي د رهن ورکولو په وخت کي د مُعير د لګول سوي قيد او شرط خيال وساتي او د هغه مطابق کار وکړي، همدا وجه ده که مُستعير د مُعير د حکم مخالفت وکړي، نو معير به له مُستعير څخه ضمان (تاوان) اخلي او که چي مُستعير د مستعار شي ضمان ورکړي، نو بيا د مُستعير (راهن) او

مرتهن تر مینځ عقد رهن تام او مکمل ګرځي: ځکه د ضمان اداء کولو په وجه ګوټکي مستعیر راهن ... د مستعار شي مالک سو او هغه د خپل شي په رهن ورکونکی سو.

وإن شاء ضمن إلخ: مُعیر ته چي څرنګه له مُستعیر ځنځه د ضمان اخیستلو حق او اختیار سته. همداسي له مرتهن ځنځه هم د ضمان اخیستلو حق ورته سته. نو که چیري مُعیر له مرتهن ځنځه ضمان واخلي. نو بیا به مرتهن هم له راهن (مستعیر) ځنځه د ضمان مقدار اخلي او خپل قرض به هم ځني اخلي. لیکن دا په یاد لرئ! چي مرتهن په همغه صورت کي له راهن ځنځه قرض اخیستلای سي کله چي راهن د مُعیر د حکم مخالفت کړی وي او مستعار شی د مرتهن سره موجود وي یعني هلاک سوی نه وي: ځکه چي د هلاکېدلو په صورت کي خو مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی ګرځي.

وإن وافق إلخ: فرمايي که مُستعیر د مُعیر د حکم موافقت وکړي او د هغه مطابق مستعار شی په رهن ورکړي او بیا هغه د مرتهن سره هلاک سي، نو که چیري د مستعار شي قیمت او قرض سره برابر وي یا د هغه قیمت له قرض ځنځه زیات وي، نو په دې دواړو صورتونو کي مرتهن د خپل قرض ترلاسه کونکی شمېرل کیږي او راهن له قرض ځنځه بري کیږي. او بیا به مُعیر پر راهن رجوع کوي چي راهن به د قرض په اندازه مُعیر ته ضمان ورکوي: ځکه چي راهن ـ همدې مُعیر په شي سره خپل قرض اداء کړی دی، لهذا راهن یعني مُستعیر به هاغه مقدار مُعیر ته واپس کوي، ځکه چي قرض اداء کول د ضمان واجبېدلو سبب دي یا په بله وینا د رجوع سبب دي چي دلته په قرض اداء کولو سره پر راهن ضمان واجبیږي او مُعیر به پر هغه رجوع کوي، او پاته سو قبضه د وجوب سبب نه ده یعني نفس د قبضې په وجه پر مُستعیر د مُعیر حق او ضمان نه واجبیږي، ځکه چي قبضه خو د مُعیر په رضا سره وه یعني مُستعیر (راهن) د مُعیر په رضا سره پر مستعار شي قبضه کړې وه، نو ځکه د مُعیر د رجوع حق به د قرض د مقدار سره وي، نه د قبضې سره. لهذا څومره قرض چي مُستعیر (راهن) د مُعیر په مال او شي سره اداء کړی وي، هغومره ضمان پر مُستعیر واجبیږي چي هغه به مُعیر ته ورکوي.

که مستعار (عاریتا اخیستل سوی) مرهون عیبداره سي نو څه حکم دی؟

وَكَذٰلِكَ إِنْ أَصَابَهُ عَيْبٌ او همدارنګه که چیري مرهون ته یو عیب ورسیږي ذَهَبَ مِنَ الدَّيْنِ بِحِسَابِهِ نو د هغه په حساب سره قرض ساقطیږي وَوَجَبَ مِثْلُهُ لِرَبِّ الثَّوْبِ عَلَى الرَّاهِنِ او پر راهن د هغه په مثل سره د کپړې والا [مُعیر] لپاره واجبیږي عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ د هغه تفصیل مطابق کوم چي موږ بیان کړی وَإِنْ كَانَتْ قِيْمَتُهُ أَقَلَّ مِنَ الدَّيْنِ او که د مرهون قیمت له قرض ځنځه کم وي ذَهَبَ بِقَدْرِ الْقِيْمَةِ نو د قیمت په اندازه قرض ختمیږي وَعَلَى الرَّاهِنِ بَقِيَّةُ دَيْنِهِ لِلْمُرْتَهِنِ او پر راهن د

مرتهن پاته قرض لازم پاتیږي لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ الِاسْتِيفَاءُ بِالزِّيَادَةِ عَلَىٰ قِيمَتِهِ ځکه چي له قیمت څخه دزیاتوب [زائد مقدار] ترلاسه کول واقع نه سوه وَعَلَى الرَّاهِنِ لِصَاحِبِ الثَّوْبِ مَا صَارَ بِهِ مُوفِيًا او پر راهن د کپړې والا [مُعِیر] لپاره دومره مقدار واجبیږي په څومره مقدار ه سره چي هغه [د خپل قرض] اداء کونکی ګرځېدلی دی لِمَا بَيَّنَّاهُ دهغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی.

اللغات: ﴿موفی﴾ د افعال د باب فاعل دی: پوره کونکی، اداء کونکی.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که مُستعیر له مُعیر څخه دهغه یو شی مثلاً څادر په عاریت واخلي او هغه د پنځو سوو (۵۰۰) قرض په عوض کي په رهن ورکړي او د څادر قیمت له پنځو سوو (۵۰۰) څخه زیات وي او بیا د مرتهن سره په هغه څادر کي یو عیب پیدا سي مثلاً لږ څیري سي او د هغه عیب په وجه د څادر قیمت کم سي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چي څومره قیمت یې کم سوی وي مثلاً درې سوه (۳۰۰) روپۍ قیمت یې د عیب په وجه کم سي، نو دا درې سوه روپۍ له قرض څخه ساقطیږي او صرف دوه سوه (۲۰۰) روپۍ اوس پر راهن واجب پاتیږي، او څرنګه چي دلته راهن د مُعیر په شي (څادر) سره درې سوه روپۍ قرض اداء کړی دی، نو ځکه راهن به همدا درې سوه روپۍ د کپړې (څادر) مالک یعني مُعیر ته واپس کوي؛ ځکه مخکي ذکر سوه چي د مُعیر په مال سره چي مُستعیر (راهن) څومره قرض اداء کړي، هغومره مقدار پر مُستعیر واجبیږي.

وإن كانت إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د دغه مستعار څادر قیمت له قرض څخه کم وي مثلاً قرض پنځه سوه (۵۰۰) روپۍ وي او د مستعار مرهون څادر قیمت درې سوه (۳۰۰) روپۍ وي او بیا هغه څادر د مرتهن سره هلاک سي، نو ښکاره ده چي همدا درې سوه (۳۰۰) له قرض څخه ساقطیږي او دوه سوه (۲۰۰) قرض پر راهن باقي پاتیږي؛ ځکه چي دلته صرف د څادر قیمت یعني (۳۰۰) مقدار له قرض څخه کم سوی دی چي دهغه په وجه د پاته (۲۰۰) روپو ترلاسه کول نه دي واقع سوي (یعني مرتهن دهغوی ترلاسه کونکی نه دی ګرځېدلی)، لهذا دا (۲۰۰) روپۍ په راهن باندي قرض پاتیږي. او څرنګه چي مُسـ[illegible] ـه څادر سره درې سوه روپۍ قرض اداء کړی دی، نو ځکه هغه به همدا مقدار (۳۰۰) د څادر مالک یعني مُعیر ته واپس کوي.

که د مُستعیر پر ځای خپله مُعیر دا مستعار مرهون شی را خلاص کړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ كَانَتْ قِيمَتُهُ مِثْلَ الدَّيْنِ او که چیري د مرهون قیمت د قرض برابر وي فَأَرَادَ الْمُعِيرُ أَنْ يَفْتَكَّهُ جَبْرًا عَنِ الرَّاهِنِ او د راهن د مجبوری [او تنګلاسی] په وجه مُعیر د مرهون راخلاصول وغواړي [یعني راهن وس نه لري او مُعیر وغواړي چي د هغه قرض زه اداء کړم او خپل مرهون شی له مرتهن څخه واخلم] لَمْ

يَكُنْ لِلْمُرْتَهِنِ إِذَا قَضَى دَيْنَهُ أَنْ يَمْتَنِعَ نو مرتهن ته حق نسته (کله چي مُعير قرض اداء کړي) چي منع سي [يعني کله چي مُعير د مرتهن قرض اداء کړي نو بيا مرتهن ته دا حق نسته چي د مرهون له ورکولو څخه منع سي] لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَبَرِّعٍ ځکه چي مُعير تبرّع کونکى نه دى حَيْثُ يَخْلُصُ مِلْكَهُ ځکه چي هغه خپل ملکيت راخلاصوي وَلِهَذَا يَرْجِعُ عَلَى الرَّاهِنِ بِمَا أَدَّى او په همدې وجه مُعير به په هغه مقدار سره پر راهن رجوع کوي کوم چي مُعير [د مرهون په راخلاصولو کي] اداء کړى دى فَأُجْبِرَ الْمُرْتَهِنُ عَلَى الدَّفْعِ نو ځکه مرتهن به [د مرهون] پر ورکولو مجبورول کيږي بِخِلَافِ الْأَجْنَبِيِّ إِذَا قَضَى الدَّيْنَ په خلاف د اجنبي کس کله چي هغه [د مرتهن] قرض اداء کړي [نو مرتهن ته دا حق سته چي د مرهون له ورکولو څخه منع سي] لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ ځکه چي اجنبي تبرّع کونکى دى إِذْ هُوَ لَا يَسْعَى فِي تَخْلِيصِ مِلْكِهِ ځکه هغه د خپل ملکيت په راخلاصولو کي هڅه نه کوي وَلَا فِي تَفْرِيغِ ذِمَّتِهِ او نه د خپلي ذمي په فارغولو کي [هڅه کوي] فَكَانَ لِلطَّالِبِ أَنْ لَا يَقْبَلَهُ نو ځکه طالب [مرتهن] ته به دا حق وي چي دا [د اجنبي له طرفه د قرض] اداء کېدل قبول نه کړي [او مرهون نه ورکړي].

اللغات: ﴿تفريغ﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: فارغول، خالي کول. تفريغ الذمة: ذمه فارغول يا په بله وينا غاړه خلاصول، له مسؤليته ځان خلاصول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي که مُستعير راهن غريب وي او کوم شى (څادر) چي يې له مُعير څخه اخيستى او مرتهن ته يې ورکړى، دئ د هغه پر خلاصولو قادر نه وي (يعني د دې قدرت نه لري چي د مرتهن قرض اداء کړي او له هغه څخه خپل مستعار شى [څادر] واخلي). بيا خپله مُعير اراده وکړي چي خپل شي (څادر) له مرتهن څخه خلاص کړي او د مرتهن قرض اداء کړي. نو حکم دا دى چي کله هغه د مرتهن قرض اداء کړي (کوم چي راهن ځني اخيستى وو)، نو مرتهن ته پکار دي چي بغير له څه نزاع او ټال متول څخه مُعير ته د هغه شى (څادر) واپس کړي؛ ځکه کله چي مُعير دا شى مُستعير ته ورکړى وو، په هغه وخت کي خو مُعير متبرّع وو. لېکن څرنګه چي اوس هغه دا مرهون شى راخلاصوي. نو ځکه اوس متبرّع نه دى بلکي د خپل حق اخيستونکى دى، او د حق مالک ته په هر صورت کي خپل حق ورکول کيږي. نو ځکه که چيري په دې صورت کي مرتهن ټال متول کوي او د شي له ورکولو څخه انکار کوي، نو هغه به د مرهون شي پر واپس کولو مجبورول کيږي.

د دې په خلاف که د مُعير پر ځاى يو بل اجنبي کس وغواړي چي د مرتهن قرض اداء کړي او له هغه څخه مرهون شى راخلاص کړي او مرتهن له ورکولو څخه انکار کوي، نو مرتهن به پر هغه نه

مجبورول کيږي؛ ځکه اجنبي کس متبرّع دی. ځکه چي هغه نه د خپل ملکيت راخلاصولو سعی کوي او نه خپل غاړه خلاصوي (ځکه چي د هغه پر غاړه او ذمه هيڅ شی نسته)، لهذا هغه په دې باره کي متبرّع دي او د تبرّع په هکله پر مرتهن جبر نه سي کېدلای. (احسن الهدايه)

د راهن سره د مستعار شي د هلاکېدلو حکم

وَلَوْهَلَكَ الثَّوْبُ الْعَارِيَةُ عِنْدَ الرَّاهِنِ او که چيري د عاريت کپړه د راهن سره هلاکه سي قَبْلَ أَنْ يَرْهَنَهُ أَوْ بَعْدَ مَا افْتَكَّهُ مخکي تر دې چي راهن هغه په رهن ورکړي يا وروسته تر دې چي هغه [له مرتهن څخه] راخلاصه کړي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ نو پر هغه ضمان نسته لِأَنَّهُ لَا يَصِيرُ قَاضِيًا بِهٰذَا ځکه چي راهن په دې [کپړه] سره د خپل قرض اداء کونکی نه دی ګرځېدلی وَهُوَ الْمُوْجِبُ حال دا چي همدا [د رجوع او ضمان] موجب دي عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ د هغه تفصيل مطابق کوم چي موږ بيان کړی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که چيري مُستعير څادر په عاريت واخلي، خو په رهن تر ورکولو مخکي هغه د ده سره هلاک سي، يا هغه څادر په رهن ورکړي او بيا قرض اداء کړي او له مرتهن څخه يې راخلاص کړي، خو بيا هغه د ده سره هلاک سي، نو په دې دواړو صورتونو کي پر راهن هيڅ ضمان (تاوان) نه لازميږي يا په بله وينا دا چي مُعير پر هغه هيڅ رجوع نه سي کولای: ځکه چي د رجوع کولو او د ضمان واجبېدلو سبب او شرط دا دی چي مُستعير (راهن) به په دې مستعار شي (څادر) سره خپل قرض اداء کړی وي، حالانکي دلته دا سبب معدوم دی، نو ځکه پر مُستعير به هيڅ ضمان نه واجبيږي. (احسن الهدايه)

د مُعير او مُستعير د اختلاف حکم

وَلَوِاخْتَلَفَا فِيْ ذٰلِكَ او که چيري مُعير او مُستعير دواړه په دې هکله اختلاف وکړي [چي مستعار مرهون شی د رهن په حالت کي هلاک سوی دی او که مخکي...] فَالْقَوْلُ لِلرَّاهِنِ نو قول د راهن [مُستعير] معتبر دی لِأَنَّهُ يُنْكِرُ الْإِيْفَاءَ بِدَعْوَاهُ الْهَلَاكَ فِيْ هَاتَيْنِ الْحَالَتَيْنِ ځکه چي راهن د قرض اداء کولو انکار کوي په دې دوو حالتونو کي [د مستعار مرهون] د هلاکېدلو د دعوې په وجه كَمَا لَوْ* اخْتَلَفَا فِيْ مِقْدَارِ مَا

---

* **يادونه**: دلته د هدايې په نسخو کي "كَمَا" دی. ليکن دا د ناسخينو سهو ده. صحيح لفظ "وَلَوْ" دی. کنې د "كَمَا" په صورت کي مطلب نه صحيح کيږي. ځکه په مسئله کي د مستعير (راهن) قول معتبر سوی دی او دلته د معير قول معتبر سوی دی، نو تشبيه نه صحيح کيږي. (اشرف الهدايه)

أَمَرَهُ بِالرَّهْنِ بِهِ لکه که چیري دوی دواړه اختلاف وکړي د هغه مقدار په هکله چي د هغه په عوض کي مُعیر ومُستعیر ته د رهن حکم کړی وي فَالْقَوْلُ لِلْمُعِيْرِ نو قول د مُعیر معتبر دی لِأَنَّ الْقَوْلَ قَوْلُهُ فِيْ إِنْكَارِ أَصْلِهِ ځکه چي د اصل [عقد] په انکار کي [هم] د مُعیر قول معتبر دی فَكَذَا فِيْ إِنْكَارِ وَصْفِهِ نو همداسي به د هغه [عقد] د وصف په انکار کي [هم د مُعیر قول معتبر وي].

اللغات: ﴿إِيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (حق) پوره کول، اداء کول.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که د مُستعار مرهون شي (څادر) د هلاکېدلو د حالت په هکله مُعیر او مُستعیر اختلاف وکړي، مُعیر ووایي چي دغه مستعار شی د عقد رهن (مرهون کېدلو) په حالت کي هلاک سوی دی لهذا د هغه په ذریعه ستا قرض اداء دی، نو زما لپاره پر تا ضمان (تاوان) واجب دی چي هغه به ما ته راکوې!، لېکن مُستعیر ووایي چي نه! داسي نه ده بلکي مُستعار شی له عقد رهن څخه مخکي یا له عقد رهن څخه وروسته (چي کله ما مستعار مرهون راخلاص کړی) هلاک سوی دی او د مُعیر سره هیڅ گواه نه وي، نو په دې صورت کي د مُستعیر قول معتبر دی؛ ځکه چي مُستعیر د مستعار شي په ذریعه د خپل قرض له اداء کولو او پر خپل ځان د ضمان له واجبېدلو څخه منکر دی، او دا مشهوره قاعده ده چي که د مدعي سره بیّنه نه وي، نو قول د منکر معتبر دی، نو ځکه په دې صورت کي د مُستعیر راهن کوم چي منکر دی د هاغه قول به معتبر وي.

كما لو إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مُعیر او مُستعیر د قرض په مقدار کي اختلاف وکړی، مثلاً مُعیر ووایي چي ما تا ته ویلي وه چي دا زما شی (مثلاً څادر) د پنځو سوو (۵۰۰) روپو په عوض کي په رهن ورکړه! او مُستعیر ووایي چي نه! تا ویلي وه چي د دریو سو (۳۰۰) روپو په عوض کي....، نو په دې صورت کي د مُعیر قول معتبر دی؛ ځکه که چیري مُعیر د اصل یعني د عقد عاریت یا عقد رهن انکار وکړي (یعني چي ما تا ته گردسره دا شی په عاریت درکړی نه دی. یا ما تا ته د دې اجازه درکړې نه ده چي دا شی په رهن ورکړه!) نو هم د مُعیر قول معتبر او مقبول دی، لهذا کله چي مُعیر د مُستعیر راهن د بیان سوي مقدار انکار وکړي، نو هم به د هاغه قول معتبر وي، ځکه چي مقدار خو د عقد رهن یو وصف دی او مورږ وویل چي د اصل په هکله د هغه قول لره اعتبار دی، نو ښکاره خبره ده چي د وصف په هکله به هم د هغه قول لره اعتبار وي.

مُستعار شی د موعود قرض په عوض کي په رهن ور کول (حکم او تفصیل)

وَلَوْ رَهَنَهُ الْمُسْتَعِيْرُ بِدَيْنٍ مَوْعُوْدٍ او که چیري مُستعیر د موعود قرض په عوض کي مُستعار په رهن ورکړي وَهُوَ أَنْ يَرْهَنَهُ بِهِ لِيُقْرِضَهُ كَذَا او هغه دا دی چي مُستعیر هغه [مستعار] د دې لپاره په رهن ورکړي چي مرتهن به [وروسته] دومره قرض ورکړي فَهَلَكَ فِيْ يَدِ الْمُرْتَهِنِ قَبْلَ الْإِقْرَاضِ بیا له قرض ورکولو څخه مخکي د مرتهن په قبضه کي مرهون هلاک سي وَالْمُسَمّٰى وَالْقِيْمَةُ سَوَاءٌ او تاکل سوی [قرض] او قیمت سره برابر وي يَضْمَنُ قَدْرَ الْمَوْعُوْدِ الْمُسَمّٰى نو مرتهن د تاکل سوي موعود [قرض] د مقدار ضامن کیږي [یعني موعود قرض چي څومره وي، مرتهن به هغومره مقدار ضمان (تاوان) ورکوي] لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ كَالْمَوْجُوْدِ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی چي موعود د موجود په څېر دی وَيَرْجِعُ الْمُعِيْرُ عَلَى الرَّاهِنِ بِمِثْلِهِ او مُعیر به پر راهن د هغه په مثل سره رجوع کوي لِأَنَّ سَلَامَةَ مَالِيَّةِ الرَّهْنِ بِاسْتِيْفَائِهِ مِنَ الْمُرْتَهِنِ ځکه چي له مرتهن څخه د راهن د [ضمان] اخیستلو په صورت کي د رهن د مالیت سلامتي داسي ده [یعني چي راهن له مرتهن څخه ضمان واخلي نو د هلاک سوي مرهون مالیت داسي سالم پاتیږي] كَسَلَامَتِهِ بِبَرَاءَةِ ذِمَّتِهِ عَنْهُ لکه د هغه سلامتي له قرض څخه د راهن د ذمې د بري کېدلو په صورت کي [یعني لکه کله چي راهن قرض اداء کړي او مرهون له مرتهن څخه واخلي نو څرنګه چي هغه سالم پاتیږي، همداسي په پورتني صورت کي هم دي].

اللغات: ﴿موعود﴾ د ضرب د باب مفعول دی: وعده کړی سوی، د څه چي وعده سوې وي. ﴿مسمّٰى﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: نومول سوی، ټاکل سوی. ﴿استیفاء﴾ (حق) ترلاسه کول. اخیستل. ﴿براءة﴾ بري کېدل. خلاصېدل. براءة الذمة: له ذمه واري څخه بري کېدل. ذمه او غاړه خلاصېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي زید له خالد څخه د رهن لپاره یو شی مثلاً څادر په عاریت واخیستی (چي زه یې بل چا مثلاً حامد ته په رهن ورکوم چي ما ته قرض راکړي). بیا د زید او حامد تر مینځ خبره وسوه، حامد وویل چي دا څادر ما ته په رهن راکړه! زه به تا ته پنځه سوه (۵۰۰) روپۍ په قرض درکړم. زید په رهن ورکړی (دې ته د موعود قرض په عوض کي رهن وایي). خو حامد تر اوسه پنځه سوه روپۍ لا ورکړي نه وې، صرف هغه وعده یې ور سره کړې وه چي مرهون څادر د حامد سره هلاک سو، نو اوس به دې ته کتل کیږي چي که چیري د مرهون څادر قیمت د موعود قرض یعني د (۵۰۰) سره برابر وي یعني د څادر قیمت هم پنځه سوه (۵۰۰) روپۍ وي، نو مرتهن (حامد) به د پنځو سوو ضمان

راهن (زيد) ته ورکوي؛ ځکه چي د رهن په باب کي موجود د موعود په شان دی او تاسي ته معلومه ده چي که قرض موجود وي يعني حامد زيد ته قرض ورکړي او د زيد مرهون څادر د حامد سره هلاک سي، نو هم په ضمان کي د مرتهن (حامد) قرض ساقطيږي يا په بله وينا پر مرتهن قرض لازميږي او راهن (زيد) بري کيږي، نو همداسي دلته هم پر مرتهن (حامد) د قرض مقدار لازميږي چي راهن (زيد) ته به يې ورکوي او راهن به يې څني اخلي؛ ځکه چي موعود د موجود په درجه کي دی.

بيا خالد (مُعير) به له زيد (راهن) څخه دا پنځه سوه روپۍ اخلي؛ ځکه که چيري تر قرض ورکولو وروسته مرهون څادر د حامد (مرتهن) سره هلاک سوي وای، نو به هم خالد له زيد څخه پنځه سوه روپۍ اخيستلای (ځکه چي څادر د خالد دی او په هغه سره د زيد يعني د راهن قرض اداء سوی دی)، نو همداسي دلته به يې هم اخلي.

خلاصه د خبري دا چي د راهن برائت من الدَين او د استيفاء من المرتهن تر مينځ هيڅ فرق نسته (يا په بله وينا دا چي له قرض څخه د راهن بري کېدل او له مرتهن څخه د راهن قرض اخيستل په دواړو کي هيڅ فرق نسته) بلکي د دواړو حکم يو دی.

مصنف رَحِمَهُ الله د همدې برائت او استيفاء برابر والی په دې عبارت سره بيان کړی دی "لأن سلامة مالية الرهن إلخ" يعني د مرهون څادر ماليت په دواړو صورتونو کي د راهن (زيد) سره صحيح سالم پاتيږي، بس فرق يې صرف دومره دی چي دلته يعني د موعود قرض په صورت کي له مرتهن څخه د اخيستلو په توګه دی او د موجود قرض په صورت کي د راهن د بري کيدلو په توګه دی.

که د عاريت غلام مُعير آزاد کړي، نو څه حکم دی؟

وَلَوْكَانَتِ الْعَارِيَةُ عَبْدًا او که چيري عاريت غلام وي فَأَعْتَقَهُ الْمُعِيْرُ بيا مُعير هغه آزاد کړي جَازَ نو جائز دي لِقِيَامِ مِلْكِ الرَّقَبَةِ ځکه چي [د معير] ملکِ رقبه قائم [او موجود] دی [يعني په همدې د رهن په حالت کي هم دا مرهون غلام د مُعير په ملکيت کي دی او هغه يې مالک دی] ثُمَّ الْمُرْتَهِنُ بِالْخِيَارِ بيا مرتهن ته اختيار دی إِنْ شَاءَ رَجَعَ بِالدَّيْنِ عَلَى الرَّاهِنِ که وغواړي پر راهن دي په قرض سره رجوع وکړي لِأَنَّهُ لَمْ يَسْتَوْفِهِ ځکه چي هغه قرض نه دی ترلاسه کړی وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْمُعِيْرُ قِيْمَتَهُ او که وغواړي نو له مُعير څخه دي د هغه د قيمت ضمان واخلي لِأَنَّ الْحَقَّ قَدْ تَعَلَّقَ بِرَقَبَتِهِ بِرِضَاهُ ځکه چي د مرتهن حق [قرض] د غلام د ذات سره د مُعير په رضا [په خوښه] متعلق سوی دی وَقَدْ أَتْلَفَهُ بِالْإِعْتَاقِ حال دا چي مُعير [د غلام] په آزادولو سره د مرتهن حق ضايع کړی دی وَتَكُوْنُ رَهْنًا عِنْدَهُ

إِلَى أَنْ يَقْبِضَ دَيْنَهُ او قيمت د مرتهن سره رهن کيږي تر دې چي مرتهن پر خپل قرض قبضه وکړي فَيَرُدُّهَا إِلَى الْمُعِيرِ بيا به دا قيمت مُعير ته واپس کوي لِأَنَّ اسْتِرْدَادَ الْقِيمَةِ كَاسْتِرْدَادِ الْعَيْنِ ځکه د قيمت واپس اخيستل د عين شي د واپس اخيستلو په څېر دي.

اللغات: ﴿العارية﴾ عاريت، مراد: عاريتاً (په عاريت) اخيستل سوی شی، ﴿ملک الرقبة﴾ د غلام د ذات ملکيت، د غلام يا د مينځي مالک کېدل، چي دې ته ملک يمين هم وايي، ﴿أتلف﴾ د افعال د باب ماضي ده: ضايع کول، له منځه وړل او ختمول، ﴿استرداد﴾ د استفعال د باب مصدر دی: واپس اخيستل، رجوع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که زيد له خالد څخه غلام عاريتاً اخيستی وي او حامد ته يې په رهن ورکړی وي، بيا مُعير (خالد) هغه آزاد کړي، نو ځرنګه چي مُعير د هغه مالک دی، نو ځکه دا عتق صحيح سو، اوس به مرتهن (حامد) څه کوي؟، نو فرمايي چي هغه ته دوه اختيار دي: ① يو دا چي مرتهن دي له مُستعير راهن (زيد) څخه خپل قرض واخلي؛ ځکه د غلام د آزادېدلو په وجه مرتهن د خپل قرض تر لاسه کونکي نه سو، لهذا د هغه حق (قرض) باقي پاته دی، نو ځکه له راهن څخه به خپل قرض واپس اخلي. ② يا مرتهن دي له مُعير (خالد) څخه د غلام د قيمت ضمان (تاوان) واخلي، يعني په تاوان کي دي د آزاد کړی سوي غلام قيمت ځني واخلي او هغه قيمت دي د ځان سره په رهن کښېږدي، کله چي راهن د مرتهن قرض اداء کړي، نو بيا دي هغه قيمت مُعير ته واپس کړي يا په بله وينا مُعير دي هغه واپس ځني واخلي.

اوس پاته سوه دا خبره چي له مُعير څخه به ضمان ولي اخلي؟، نو د دې جواب دا دی چي د مرتهن حق د غلام د ذات سره د مُعير په رضا (په خوښې) متعلق سوی دی او مُعير د غلام د آزادولو په وجه د مرتهن حق تلف کړی دی، نو په دې وجه مرتهن په ضمان (تاوان) کي له مُعير څخه د غلام قيمت اخيستلای سي.

او پاته سوه دا خبره چي تر قرض اداء کېدلو وروسته به دا قيمت ولي مُعير واپس اخلي؟، نو د دې په جواب کي فرمايي "لأن الاسترداد إلخ" يعني که عين مرهون (غلام) موجود وای، نو د قرض تر اداء کېدلو وروسته به مُعير عين مرهون واپس اخيستلای، نو همداسي قيمت کوم چي د عين قائم مقام دی هغه به هم مُعير واپس اخلي.

كه غلام يا خاروى د رهن لپاره عاريتاً واخلي، بيا خپله هغه استعمال كړي (حكم او تفصيل)

وَلَوِ اسْتَعَارَ عَبْدًا أَوْ دَابَّةً لِيَرْهَنَهُ او كه چيري غلام يا څاروى يې عاريتاً [په عاريت] واخيستى دي لپاره چي په رهن يې وركړي فَاسْتَخْدَمَ الْعَبْدَ أَوْ رَكِبَ الدَّابَّةَ قَبْلَ أَنْ يَرْهَنَهُمَا بيا مُستعير له غلام څخه خدمت واخيستى يا پر څاروي سپور سو مخكي تر دې چي دا دواړه په رهن وركړي ثُمَّ رَهَنَهُمَا بِمَالٍ مِثْلِ قِيمَتِهِمَا بيا يې دوى په رهن وركړه د دوى د قيمت غوندي مال په عوض كي ثُمَّ قَضَى الْمَالَ بيا يې مال [قرض] اداء كړى فَلَمْ يَقْبِضْهُمَا حَتَّى هَلَكَا عِنْدَ الْمُرْتَهِنِ لېكن پر دوى يې قبضه نه وكړه تر دې چي دوى د مرتهن سره هلاك سول فَلَا ضَمَانَ عَلَى الرَّاهِنِ نو پر راهن [مُستعير] ضمان نسته لِأَنَّهُ قَدْ بَرِئَ مِنَ الضَّمَانِ حِينَ رَهَنَهُمَا ځكه چي راهن [مُستعير] له ضمان څخه بري سو كله چي يې دوى په رهن وركړل فَإِنَّهُ كَانَ أَمِينًا خَالَفَ ثُمَّ عَادَ إِلَى الْوِفَاقِ ځكه هغه داسي امين [امانت ساتونكى] دى چي هغه مخالفت كړى دى بيا بيرته موافقت ته راګرځېدلى دى وَكَذَا إِذَا افْتَكَّ الرَّهْنَ او همدارنګه كله چي رهن را خلاص كړي ثُمَّ رَكِبَ الدَّابَّةَ أَوِ اسْتَخْدَمَ الْعَبْدَ بيا پر څاروي سپور سي يا له غلام څخه خدمت اخلي فَلَمْ يَعْطَبْ او هغه [څاروى يا غلام] هلاك نه سي ثُمَّ عَطِبَ بَعْدَ ذَلِكَ مِنْ غَيْرِ صُنْعِهِ بيا تر دې وروسته د مُستعير له فعل څخه بغير هغه هلاك سي لَا يَضْمَنُ نو هم هغه نه ضامن كيږي لِأَنَّهُ بَعْدَ الْفِكَاكِ بِمَنْزِلَةِ الْمُودَعِ ځكه د رهن له را خلاصولو څخه وروسته هغه د مودَع [امين] په درجه كي دى لَا بِمَنْزِلَةِ الْمُسْتَعِيرِ نه د مُستعير په درجه كي لِانْتِهَاءِ حُكْمِ الِاسْتِعَارَةِ بِالْفِكَاكِ ځكه چي د رهن راخلاصولو په وجه د استعارې حكم ختم سو وَقَدْ عَادَ إِلَى الْوِفَاقِ او هغه موافقت ته راوګرځېدى فَيَبْرَأُ عَنِ الضَّمَانِ نو ځكه له ضمان څخه به بري كيږي.

اللغات: ﴿استعار﴾ د استفعال د باب ماضي ده: عاريتاً (په عاريت) اخيستل. ﴿دابـة﴾ څاروى (مراد څني د سپرتيا څاروى دى، لكه آس، خر او داسي نور)، ﴿استخدم﴾ د استفعال د باب ماضـي ده: خدمت څني اخيستل، كارول. ﴿برئ﴾ د سمع د باب ماضي ده: بري كېدل، له ذمه واري څخه وتل (غاړه خلاصېدل). ﴿وفاق﴾ موافقت (موافق كېدل)، مطابقت. ﴿فكاك﴾ د سمع د باب مصدر دى: (مرهونه

راخلاصول. مراد: د مرتهن قرض اداء کول او مرهون واپس څنې اخيستل. ﴿موډَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چې امانت اېښوول سوی (څوک چې امين جوړ کړی سوی وي).

تشريح :صورت د مسئلې: دا دی چې که زيد له خالد څخه د رهن لپاره غلام يا آس عاريتاً اخيستی وي. بيا زيد مخکې تر دې چې غلام په رهن ورکړي له هغه څخه خدمت واخلي يا پر آس سپور سي، بيا يې په رهن ورکړي او بيا د مرتهن قرض اداء کړي. لېکن تر اوسه راهن (زيد) پر غلام يا آس قبضه نه وي کړې چې هغه د مرتهن سره هلاک سي. نو په دې صورت کې پر راهن (زيد) ضمان نه لازميږي؛ ځکه چې په دې صورت کې د مُعير (خالد) په مال يعني د هغه په غلام يا د هغه په آس سره دراهن قرض نه دی اداء سوی.

سوال: سمه ده! د مُعير په مال سره خو د هغه قرض نه دی اداء سوی. لېکن د خدمت اخيستلو او استعمالولو په وجه خو هغه تعدي کړې ده. نو د دغه تعدي په وجه پر راهن (زيد) ضمان واجبېدل پکار دي؛ ځکه چې په امانت کې په تعدي سره ضمان واجبيږي؟.

جواب: کله چې مُستعير راهن (زيد) دا مستعار مال يعني غلام يا آس په رهن ورکړی، نو اوس هغه له ضمان څخه بري سو؛ ځکه اُصول دا دی چې کله امين د مالک مخالفت وکړي او بيا يې موافقت وکړي. نو پر هغه ضمان نه واجبيږي. او دلته همدا صورت پېښ سوی دی. نو ځکه ضمان به نه واجبيږي.

وكذا إذا افتك إلخ: د دې حاصل دا دی چې کله مُستعير راهن (زيد) دا مستعار مرهون مال راخلاص کړي او بيا هغه استعمال کړي او د استعمال په وجه هلاک نه سي، خو وروسته هغه خپله هلاک سي، نو په دې صورت کې هم مُستعير راهن نه ضامن کيږي؛ ځکه کله چې هغه رهن راخلاص کړی، نو اوس هغه مُستعير پاته نه سو. بلکې موډَع او امين وګرځېدی، او د مُوډَع او امين حکم دا دی چې که هغه د مالک (مُودِع) تر مخالفت کولو وروسته د مالک موافقت وکړي او بيا د هغه له تعدي څخه بغير وديعت هلاک سي، نو پر موډَع ضمان نه لازميږي، او په مذکوره مسئله کې چې څرنګه د مال د هلاک کېدلو همدغه کيفيت دی او مستعير موډَع ګرځېدلی دی، نو ځکه په دې صورت کې به هم د مال په هلاکېدلو سره پر هغه ضمان نه واجبيږي.

د رهن والا مُستعير او خالص مستعير حکم سره جلا دی

وَهٰذَا بِخِلَافِ الْمُسْتَعِيْرِ او دا د مُستعير په خلاف دي لِأَنَّ يَدَهٗ يَدُ نَفْسِهٖ ځکه چې د مُستعير قبضه د هغه خپل ذاتي قبضه ده فَلَا بُدَّ مِنَ الْوُصُوْلِ إِلٰى يَدِ الْمَالِكِ نو ځکه د مالک [مُعير] لاس ته [د مستعار شي] رسېدل ضروري دي أَمَّا الْمُسْتَعِيْرُ لِلرَّهْنِ او کوم چې د رهن مُستعير دی فَيَحْصُلُ مَقْصُوْدُ

الآمِر نو هغه د آمر [مُعير] مقصود حاصلوي وَهُوَ الرُّجُوْعُ عَلَيْهِ عِنْدَ الْهَلَاكِ وَتَحَقُّقِ الْاِسْتِيْفَاءِ او د آمر مقصود پر هغه [راهن مستعير] رجوع كول دي [د مرتهن سره د مرهون]. د هلاكېدلو په وخت كي او د [قرض] ترلاسه كېدلو په وخت كي.

اللغات: ﴿تَحَقُّق﴾ د تفعّل د باب مصدر دى: موجودېدل، ثابتېدل

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي مُستعير دوه ډوله دى: ① يو هغه مُستعير دى كوم چي د رهن لپاره شى په عاريت واخلي، ② او بل هغه مُستعير دى كوم چي خالص د خپل كار لپاره شى په عاريت واخلي.

د دواړو حكم سره جلا دى، د رهن والا مُستعير حكم هغه دى كوم چي مخكي ذكر سو چي كه هغه تر مخالفت وروسته موافقت وكړي او تر موافقت وروسته مستعار شى هلاك سي، نو پر هغه ضمان نه لازمېږي؛ ځكه چي هغه د مودَع (امين) په درجه كي دى او مودَع چي كله موافقت وكړي، نو گواكي اوس حكماً پر امانت د مالك (معير) قبضه راغله او كله چي حكماً د مالك قبضه راغله، نو ځكه اوس د هلاكېدلو په وجه پر امين ضمان نه واجبېږي.

او د خالص مُستعير قبضه خپل ذاتي قبضه ده (ځكه چي هغه د خپل ذاتي استعمال لپاره شى په عاريت اخيستى دى) نو هلته حكماً د مالك قبضه نه راغله، بلكي د مالك قبضه به هغه وخت راسي كله چي مُستعير د مالك (مُعير) لاس ته مُستعار شي ورسوي او صحيح سلامت يې ورته وسپاري، او تر دې مخكي مُستعار شى د مُستعير په ضمان كي پاتېږي، لهذا كه چيري هغه هلاك سي نو پر مُستعير د هغه ضمان واجبېږي، چي د هلاكت په صورت كي د هلاك كړى سوي شي ضمان او د تعدى په صورت كي د تعدى ضمان پرې واجبېږي، او د رهن والا پر مُستعير نه واجبېږي.

اوس پاته سوه دا خبره چي د رهن والا مُستعير په صورت كي د آمر (مُعير) قبضه څرنگه حكماً منل سوې ده (او ولې سوي دي چي پر مستعار شي [امانت] حكماً د هغه قبضه راغله)؟.

نو د دې جواب دا دى چي د رهن والا مُستعير چي كوم څه كوي يعني مُستعار شى مرتهن ته په رهن اېښوول، هغه يې د آمر (مُعير) د مقصود حاصلولو لپاره كوي؛ ځكه كله چي مُستعير (راهن) د مرتهن قرض اداء كړي نو مُستعار شى مُعير ته واپس حاصلېږي او كه مُستعار شى د مرتهن سره هلاك سي، نو مُعير ته د هغه قيمت حاصلېږي.

نو په دې وجهو سره د رهن والا او خالص مُستعير تر مېنځ فرق دى او دواړو حكم سره جلا دى.

په مرهون باندي د راهن د جنايت کولو حکم

قَالَ: وَجِنَايَةُ الرَّاهِنِ عَلَى الرَّهْنِ مَضْمُوْنَةٌ فرمايي: او د راهن جنايت پر مرهون ضمان والا دى [يعني پر راهن د هغه ضمان لازميږي] لِأَنَّهُ تَفْوِيْتُ حَقٍّ لَازِمٍ مُحْتَرَمٍ ځکه چي دا [جنايت] د لازم محترم حق ضايع کول دي وَتَعَلُّقُ مِثْلِهِ بِالْمَالِ يَجْعَلُ الْمَالِكَ كَالْأَجْنَبِيِّ فِي حَقِّ الضَّمَانِ او د مال سره د داسي حق متعلق کېدل [د مال] مالک د اجنبي په څېر ګرځوي د ضمان په حق کي كَتَعَلُّقِ حَقِّ الْوَرَثَةِ بِمَالِ الْمَرِيْضِ مَرَضَ الْمَوْتِ يَمْنَعُ نَفَاذَ تَبَرُّعِهِ فِيْمَا وَرَاءَ الثُّلُثِ لکه په مرضُ الموت کي د مريض د مال سره د وارثانو د حق متعلق کېدل له ثلث مال څخه ماسوا په نور مال کي د مريض د تبرّع [وصيت وغيره] نافذېدل منع کوي وَالْعَبْدُ الْمُوْصٰى بِخِدْمَتِهِ إِذَا أَتْلَفَهُ الْوَرَثَةُ او هغه غلام چي د هغه د خدمت کولو وصيت سوى وي کله چي وارثان هغه ضايع کړي ضَمِنُوْا قِيْمَتَهُ لِيُشْتَرٰى بِهَا عَبْدٌ يَقُوْمُ مَقَامَهُ نو وارثان د هغه د قيمت ضامن کيږي د دې لپاره چي په هغه قيمت سره يو [بل] غلام رانيول سي چي د اول غلام قائم مقام سي.

اللغات: ﴿جناية﴾ جرم، د ګناه کار. ﴿مضمونة﴾ د سمع د باب مفعول دى: د کوم شي ضمان (تاوان) چي پر انسان لازم سي، د کوم شي چي ضمان ورکول کيږي. ﴿تفويت﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: فوتول، ضايع کول. ﴿حق محترم﴾ داسي حق چي د هغه خيال ساتل پر انسان لازم وي. ﴿ضمنوا﴾ د سمع له باب د جمع غائب صيغه ده: ضامن کېدل، ضمان (تاوان) پرې لازمېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي که چيري راهن پر مرهون يو جنايت وکړي (مثلاً د مرهون غلام غائب وباسي)، نو راهن به د هغه ضمان (تاوان) اداء کوي؛ ځکه که څه هم مرهون (غلام) د راهن په ملکيت کي دى او راهن يې مالک دى، خو د عقد رهن په وجه د هغه سره د بل چا (يعني د مرتهن) محترم او لازم حق متعلق سوى دى، او قاعده دا ده چي که د مالک د شي سره د بل چا لازم حق متعلق سي، نو مالک د اجنبي په څېر ګرځي (يعني لازم حق مالک د اجنبي په څېر ګرځوي).

د مثال په توګه که چيري يو څوک په مرضُ الموت مبتلا وي او د هغه سره مال وي، نو دا مال که څه هم د هغه په ملکيت کي دى خو د هغه سره د وارثانو حق متعلق سوى دى، نو اوس که دا مريض په خپل مال کي له ثلث څخه د زيات مال وصيت يا تبرّع وکړي (مثلاً تر ثلث زيات مال يو چا ته صدقه کړي يا هبه کړي)، نو له ثلث څخه بغير په نور مال کي هغه وصيت او تبرّع نه نافذيږي؛ ځکه چي له ثلث څخه بغير د نور مال سره د وارثانو حق متعلق سوى دى. همدارنګه که يو څوک وصيت وکړي

چې زما فلانکی غلام به مثلاً د زید خدمت کوي او تر دې وروسته وارثانو هغه غلام تلف کړی (مثلاً خرڅ یې کړي)، نو پر هغو په ضمان (تاوان) کې د غلام قیمت واجبیږي، د دې لپاره چې د هغه په قیمت سره بل غلام رانیول سي او د زید خدمت کوي، حال دا چې هغه د وارثانو په ملکیت کې دی، خو څرنګه چې د هغه سره د مُوصیٰ لهٗ (زید) لازم حق متعلق سوی دی، نو ځکه مالکان (وارثان) د اجنبي په څېر ګرځول سوي دي او ضمان پرې لازم سوی دی، نو همدغسې په مذکوره پورتنی مسئله کې هم راهن که څه هم د خپل مرهون (غلام) مالک دی، لېکن څرنګه چې د هغه سره د مرتهن لازم حق متعلق سوی دی، نو ځکه موږ وایو چې که چیرې راهن پر هغه یو جنایت وکړي، نو په راهن باندې ضمان لازمیږي.

د مرتهن د جنایت حکم

قَالَ: وَجِنَايَةُ الْمُرْتَهِنِ عَلَيْهِ تُسْقِطُ مِنْ دَيْنِهِ بِقَدْرِهَا فرمایي: او پر مرهون د مرتهن جنایت د مرتهن قرض ساقطوي د هغه د جنایت په اندازه وَمَعْنَاهُ أَنْ يَكُونَ الضَّمَانُ عَلٰى صِفَةِ الدَّيْنِ او د دې مطلب دا دی چې ضمان د قرض پر صفت وي [یعني د قرض له جنس څخه وي] وَهٰذَا لِأَنَّ الْعَيْنَ مِلْكُ الْمَالِكِ او دا ځکه چې عینِ مرهون د مالک [راهن] ملکیت دی وَقَدْ تَعَدّٰى عَلَيْهِ الْمُرْتَهِنُ حال دا چې مرتهن پر هغه تعدی [او زیاتوب] کړی دی فَيَضْمَنُهُ لِمَالِكِهِ نو ځکه مرتهن به د عینِ مرهون د مالک لپاره ضامن کیږي [ضمان به ورکوي].

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که چیرې مرتهن پر مرهون یو جنایت وکړي، نو که قرض او مرهون له یوه جنس څخه وي (مثلاً دواړه غلامان وي، داسې نه وي چې مرهون غلام وي او قرض مکیلي یا موزوني شی وي)، نو په ضمان کې د مرتهن له قرض څخه د جنایت په اندازه مقدار ساقطیږي، او که قرض او مرهون متحد الجنس نه وي (مثلاً قرض مکیلي شی [غنم] وي او مرهون غلام وي)، نو په دې صورت کې قرض نه ساقطیږي بلکې له مرتهن څخه به د جنایت په اندازه ضمان اخیستل کیږي او هغه ضمان به هم مرتهن ته د مرهون (غلام) سره په رهن اینښوول کیږي؛ او له مرتهن څخه به دا ضمان ځکه اخیستل کیږي، ځکه چې مرهون د راهن ملکیت دی او مرتهن په جنایت کولو سره په هغه کې تعدی او ناحقه تصرّف کړی دی، نو ځکه مرتهن به راهن (مالک) ته د دغه جنایت ضمان (تاوان) ورکوي.

خپله د مرهون د جنايت حکم

قَالَ: وَجِنَايَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ وَالْمُرْتَهِنِ وَعَلَى مَالِهِمَا هَدَرٌ فرمايي: او د رهن [مرهون غلام] جنايت پر [نفس د] راهن او مرتهن او د دوی پر مال باندي بې ځايه [او باطل] دی [معتبر نه دی] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ❁ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: جِنَايَتُهُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ مُعْتَبَرَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د مرهون جنايت پر [نفس د] مرتهن معتبر دی وَالْمُرَادُ بِالْجِنَايَةِ عَلَى النَّفْسِ مَا يُوْجِبُ الْمَالَ او پر نفس له جنايت څخه مراد هغه جنايت دی کوم چي مال واجبوي أَمَّا الْوِفَاقِيَّةُ کوم چي اتفاقي مسئله ده [چي د مرهون غلام جنايت پر راهن هدر او نا معتبره دی] فَلِأَنَّهَا جِنَايَةُ الْمَمْلُوْكِ عَلَى الْمَالِكِ نو ځکه چي هغه پر مالک د مملوک جنايت دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ مَاتَ آيا ته نه ګوري! چي که چيري مرهون غلام مړ سي كَانَ الْكَفَنُ عَلَيْهِ نو [د هغه] کفن پر راهن دی بِخِلَافِ جِنَايَةِ الْمَغْصُوْبِ عَلَى الْمَغْصُوْبِ مِنْهُ په خلاف پر مغصوب منهٔ [يعني د مغصوب پر مالک] د مغصوب د جنايت لِأَنَّ الْمِلْكَ عِنْدَ أَدَاءِ الضَّمَانِ يَثْبُتُ لِلْغَاصِبِ مُسْتَنِدًا ځکه چي د ضمان اداء کولو په وخت کي غاصب لره ملکيت [د غصب وخت ته] په منسوب کېدلو سره ثابتيږي [يعني چي کله غاصب ضمان (تاوان) اداء کړي، نو بيا هغه د غصب له وخته وخت څخه د مغصوب مالک شمېرل کيږي] حَتَّى يَكُوْنَ الْكَفَنُ عَلَيْهِ همدا وجه ده چي [د مغصوب] کفن پر غاصب دی فَكَانَتْ جِنَايَةً عَلَى غَيْرِ الْمَالِكِ نو دا [پر مغصوب منهٔ د مغصوب جنايت] پر غير مالک جنايت دی فَاعْتُبِرَتْ نو ځکه معتبر به وي.

اللغات: ﴿هدر﴾ د نصر او ضرب له باب څخه اسمِ مصدر دی، هَدَر هم راځي: ضايع، بې ځايه او فضول، باطل، ﴿وفاقية﴾ اتفاقي مسئله (متفقه مسئله).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي که يو مرهون غلام خطاءً راهن يا مرتهن قتل کړي، يا خطاءً د دوی يو اندام پرېکړي، يا د دوی مال ضايع کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا جنايت نامعتبره

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله: وجناية الرهن على المرتهن في ما دون النفس أو في ماله هدرٌ في قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله (ملتقى ج:۴، ص:۳۰۰)، وكذا في كشف الأستار (ج:۲، ص:۲۷۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۳۱]

او معاف دی او په دې سره پر هغه (مرهون غلام) هيڅ ضمان نه واجبيږي، د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي که مرهون پر راهن جنايت وکړي، نو هغه خو معاف دی، لېکن که هغه پر مرتهن جنايت وکړي (يعني د مرتهن پر نفس يا مال) او د نفس جنايت داسي وي چي مال واجبوي، نه قصاص (لکه پورتني جنايتونه، او که قصاص واجبوي نو بيا د مرتهن لپاره قصاص واجبيږي، لېکن که مال واجبوي) نو پر مرهون غلام د مرتهن لپاره د هغه ضمان واجبيږي، لېکن که پر راهن جنايت وکړي، نو د ټولو په اتفاق سره هغه نا معتبره او معاف دی؛ او د دې اتفاقي مسئلې دليل دا دی چي دغه جنايت د مملوک جنايت دی يعني د داسي چا جنايت دی کوم چي د مالک تر ملکيت لاندي دی او پر مالک د مملوک جنايت معتبر نه دی. او پاته سو د دې خبري دليل چي مرهون غلام د راهن تر ملکيت لاندي دی او هغه يې مالک دی (دليل يې) دا دی چي که هغه مرهون غلام مړ سي نو د هغه کفن دفن پر راهن واجبيږي، نو دا د دې خبري دليل دی چي هغه غلام اوس هم د راهن په ملکيت کي دی او همدا راهن يې مالک دی.

بخلاف جناية المغصوب إلخ: که څيري سوال وسي چي که مغصوب پر خپل مالک يعني پر مغصوب منهُ باندي جنايت وکړي، نو پر مغصوب ضمان واجبيږي، حال دا چي هغه د مغصوب منهُ مملوک دی او مغصوب منهُ يې مالک دی؟، نو جواب دا دی چي کله غاصب ضمان اداء کړي، نو بيا غاصب د غصب له وخت څخه د مغصوب مالک شمېرل کيږي (او د مغصوب منهُ ملکيت ختميږي) لهذا کله چي غاصب مالک سو، نو مغصوب منهُ د اجنبي په څېر سو يعني د مغصوب مالک پاته نه سو بلکي د هغه په حق کي اجنبي سو، او کوم جنايت چي پر اجنبي کس واقع سي هغه معتبر وي او د هغه ضمان واجبيږي، نو ځکه پر مغصوب منهُ د جنايت کولو په صورت کي پر مغصوب ضمان واجبيږي.

په مذکوره مسئله کي د صاحبينو او د امام صاحب دليل

وَلَهُمَا فِي الْخِلَافِيَّةِ: أَنَّ الْجِنَايَةَ حَصَلَتْ عَلَى غَيْرِ مَالِكِهِ او په اختلافي مسئله کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي دا جنايت له خپل مالک څخه بغير پر بل چا واقع سوی دی وَفِي الِاعْتِبَارِ فَائِدَةٌ او د جنايت په اعتبار کولو کي فايده ده وَهُوَ دَفْعُ الْعَبْدِ إِلَيْهِ بِالْجِنَايَةِ او هغه [فايده] د جنايت په وجه غلام مرتهن ته ورکول دي فَتُعْتَبَرُ نو ځکه دا جنايت به معتبر وي ثُمَّ إِنْ شَاءَ الرَّاهِنُ وَالْمُرْتَهِنُ بيا که راهن او مرتهن وغواړي أَبْطَلَا الرَّهْنَ وَدَفَعَاهُ بِالْجِنَايَةِ إِلَى الْمُرْتَهِنِ نو رهن دې باطل کړي او د جنايت په وجه دې غلام مرتهن ته ورکړي وَإِنْ قَالَ الْمُرْتَهِنُ: لَا أَطْلُبُ الْجِنَايَةَ او که مرتهن ووايي:

چي زه د جنايت [عوض] طلب نه کوم فَهُوَ رَهْنٌ عَلٰى حَالِهٖ نو هغه [مرهون غلام] پر خپل حال رهن پاتيږي وَلَهُ: أَنَّ هٰذِهِ الْجِنَايَةَ لَوْ اعْتُبِرَتْ لِلْمُرْتَهِنِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي که موږ د مرتهن لپاره د دغه جنايت اعتبار وکړو كَانَ عَلَيْهِ التَّطْهِيْرُ مِنَ الْجِنَايَةِ نو له جنايت څخه [د مرهون غلام] پاکول [او خلاصول] به د همدې مرتهن پر ذمه [واجب] وي لِأَنَّهَا حَصَلَتْ فِي ضَمَانِهٖ ځکه چي جنايت د مرتهن په ضمان کي واقع سوی دی فَلَا يُفِيْدُ وُجُوْبُ الضَّمَانِ لَهٗ مَعَ وُجُوْبِ التَّخْلِيْصِ عَلَيْهِ نو د مرتهن لپاره د ضمان وجوب به پر هغه د خلاصولو د وجوب سره مفيد نه وي وَجِنَايَتُهٗ عَلٰى مَالِ الْمُرْتَهِنِ لَا تُعْتَبَرُ بِالْاِتِّفَاقِ او د مرهون جنايت د مرتهن پر مال بالاتفاق معتبر نه دی إِذَا كَانَتْ قِيْمَتُهٗ وَالدَّيْنُ سَوَاءً کله چي د مرهون قيمت او قرض سره برابر وي لِأَنَّهٗ لَا فَائِدَةَ فِي اعْتِبَارِهَا ځکه چي د دې جنايت په اعتبار کولو کي هيڅ فايده نسته لِأَنَّهٗ لَا يَتَمَلَّكُ الْعَبْدَ ځکه چي مرتهن خو د غلام نه سي مالک کېدلای وَهُوَ الْفَائِدَةُ او همدا فايده ده [يعني فايده په همدې کي ده چي د غلام مالک سي].

اللغات: ﴿خلافية﴾ اختلافي مسئله. ﴿حصلت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده، د دې باب څو معناوي دي: حاصلېدل (ترلاسه کېدل)، ثابتېدل، واقع کېدل، واجبېدل. ﴿تخليص﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: خلاصول، نجات ورکول.

تشريح: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي پر مرتهن د مرهون جنايت ځکه معتبر دی چي دا پر خپل مالک د مرهون جنايت نه دی، ځکه چي مرهون د راهن په ملکيت کي دی، نه د مرتهن، او بل دا چي د دغه جنايت په معتبر کولو کي د مرتهن فايده هم ده؛ ځکه چي د دې جنايت په وجه به مرهون غلام مرتهن ته حاصل سي (ځکه چي د جنايت د معتبر کېدلو په صورت کي غلام مجنى عليه [مرتهن] ته ورکول کيږي)، که څه هم د دې جنايت په وجه د مرتهن قرض خو ساقطيږي، لېکن مقصود حاصليږي، او که چيري مرتهن په دې کي نفع نه ويني نو غلام دي نه اخلي، د همدې اختيار ورکولو په هکله مصنف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي "وإن شاء...إلخ". يعني که چيري د راهن سره مرتهن هم د عقد رهن په باطلولو او ماتولو راضي سي او مرتهن د دې مرهون غلام اخيستل قبول کړي نو بيا خو همدا پورتني

خبره ده چې قرض هم ساقط سو او د جنايت تاوان هم اداء سو، کنې که مرتهن ووايي چې زه د جنايت تاوان نه غواړم، نو بيا غلام د مخکې په څېر پرځپل حال مرهون پاتېږي.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر مرتهن د مرهون جنايت معتبر نه دی، د هغه د دليل حاصل دا دی چې مرهون غلام د مرتهن په ضمان او امان کې جنايت کړی دی او د هغه تر سايه لاندې د دغه جرم مرتکب سوی دی، نو له دغه جنايت او جرم څخه خلاصول که د مرتهن پر ذمه سي، نو له يوه طرفه به د مرتهن لپاره ضمان وي او بل طرف ته به پر مرتهن ضمان وي (يعنې تاوان به هم ورکوي او تاوان به هم څني اخلي) او په دې کې هيڅ فايده نسته، نو ځکه د دې جنايت اعتبار نه دی سوی.

وجنايته على مال إلخ: مخکېنی تفصيل د جنايت في نفس المرتهن سره متعلق وو، خو که چيرې مرهون غلام د مرتهن پر مال جنايت وکړي، نو بيا که قرض او د مرهون غلام قيمت سره برابر وي، نو په دې صورت کې د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نېز دا جنايت معتبر نه دی؛ ځکه چې د دغه جنايت په معتبر کولو کې هم هيڅ فايده نسته؛ ځکه د مرتهن حق صرف د غلام په ماليت کې دی، نه د هغه په ذات کې او د مرتهن دا حق هر وخت پاتېږي، برابره ده موږ دا جنايت معتبر ومنو، که نه، او داسې نه سي کېدلای چې د جنايت په معتبر منلو سره د غلام په ذات کې د مرتهن حق ثابت سي، نو ځکه بلا وجه به هغه ولې معتبر منل کيږي!؟. (احسن الهدايه)

که مرهون په راهن باندې جنايت وکړي او د مرهون قيمت له قرض څخه زيات وي: (حکم او تفصيل)

وَإِنْ كَانَتِ الْقِيمَةُ أَكْثَرَ مِنَ الدَّيْنِ او که [د مرهون] قيمت له قرض څخه زيات وي فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يُعْتَبَرُ بِقَدْرِ الْأَمَانَةِ نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې هغه د امانت په اندازه د جنايت اعتبار کوي لِأَنَّ الْفَضْلَ لَيْسَ فِي ضَمَانِهِ ځکه چې زياتوب [زائد مقدار] د مرتهن په ضمان کې نه دی فَأَشْبَهَ جِنَايَةَ الْعَبْدِ الْوَدِيعَةِ عَلَى الْمُسْتَوْدَعِ نو دا پر مستودع د وديعت والا غلام د جنايت کولو په څېر سوه [يعنې دا داسې سوه لکه د وديعت غلام چې پر مستودع جنايت وکړي] وَعَنْهُ أَنَّهَا لَا تُعْتَبَرُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا دی چې دا جنايت معتبر نه دی لِأَنَّ حُكْمَ الرَّهْنِ وَهُوَ الْحَبْسُ فِيهِ ثَابِتٌ ځکه چې د رهن حکم يعنې حبس [محبوس کېدل] په دې زياتوب کې [هم] ثابت دی [يعنې زائد مقدار هم د مرتهن سره محبوس دی] فَصَارَ كَالْمَضْمُونِ نو هغه [زائد مقدار] د مضمون مقدار په څېر سو وَهَذَا بِخِلَافِ جِنَايَةِ الرَّهْنِ عَلَى ابْنِ الرَّاهِنِ أَوِ ابْنِ الْمُرْتَهِنِ او دا د راهن يا مرتهن پر ځوی د

مرهون د جنايت کولو په خلاف دي لِأَنَّ الْأَمْلَاكَ حَقِيْقَةً مُتَبَايِنَةٌ ځکه چي په حقيقت کي [د ځوی او پلار] ملکيتونه سره جلا دي فَصَارَ كَالْجِنَايَةِ عَلَى الْأَجْنَبِيِّ نو دا پر اجنبي کس د جنايت کولو په څېر سوه.

اللغات: ﴿الفضل﴾ اضافه او زياتوب (اضافي او زائد مقدار)، ﴿الوديعة﴾ امانت، په امانت ايښوول سوی شی، ﴿مستودَع﴾ د استفعال د باب مفعول دی: چا ته چي امانت ايښوول سوی وي، کوم چا ته چي امانتاً (په امانت) يو څه ورکول سوي وي (امانت ساتونکی)، چي هغه ته مُودَع (بفتح الدال) هم وايي، ﴿متبا ينة﴾ د تفاعل له بابه د مؤنث فاعل صيغه ده: يو له بل څخه جلا، سره جلا.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي زيد مثلاً له خالد څخه زر (۱۰۰۰) درهمه په قرض واخيستل او خالد ته يې خپل يو غلام په رهن ورکړی چي د هغه قيمت دوه زره (۲۰۰۰) درهمه دی يعني د مرهون (غلام) قيمت له قرض څخه (نيم) زيات دی يا په بله وينا دا چي قرض له مرهون څخه نصف کم دی، نو په دې صورت کـه دا مرهون غلام چي د هغـه قيمت لـه قـرض څخـه زيات دی د مرتهن (خالد) يو مال ضايع کړي مثلاً د مرتهن پُسه يا غلام هلاک کړي، نو د دې جنايت څه حکم دی؟، په دې باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه قوله نقل سوي دي: (له هغه څخه مخکي تاسي په دې قاعده ځان پوه کړئ! کوم چي مخکي هم څو ځله ضمناً ذکر سوې ده چي د مرهون څومره مقدار چي له قرض څخه زيات [زائد] وي، هغه د مرتهن سره امانت دی [يعني که هغه د مرتهن سره هلاک سي نو پر مرتهن د هغه ضمان نه واجبيږي]، او نور مقدار يعني د قرض په اندازه مقدار مضمون دی [يعني که هغه هلاک سي نو پر مرتهن د هغه ضمان واجبيږي]، اوس د امام صاحب رَحِمَهُ الله دوو قولونو ته ګورئ!).

①... يو قول دا دی چي د مرهون غلام څومره مقدار چي له قرض څخه زيات وي کوم چي امانت دی، په هغه مقدار کي به د دې جنايت اعتبار کيږي، او دلته د دې غلام نصف امانت دی يا په بله وينا دا چي د مرتهن (خالد) سره د غلام نيمه حصه مضمونه ده او پاته زائده نيمه حصه امانت ده (ځکه چي د مرتهن قرض زر درهمه دی او د غلام قيمت دوه زره درهمه دی او مضمون صرف د قرض مقدار وي او زائد مقدار امانت وي).

لهذا دلته به د غلام په زائد نصف کي (کوم چي امانت دی) د دې جنايت اعتبار کيږي يعني دا نصف به د جنايت په عوض کي مرتهن (مجنی عليه) ته ورکول کيږي او کوم نصف چي مضمون دی په هغه سره د مرتهن قرض اداء کيږي، په بله وينا دا چي د جنايت په وجه به دغه جنايتکاره غلام مرتهن ته ورکول کيږي چي د هغه قيمت دوه زره درهمه دي نو د هغه نصف کوم چي زر درهمه قيمت لري هغه د مرتهن د قرض (زر درهمه) په عوض کي راځي نو په هغه سره يې قرض اداء سو او پاته نصف (کوم چي امانت دی) مرتهن ته د جنايت په عوض کي حاصل سو.

او دلته د امانت په مقدار کې ضمان ځکه واجبیږي چې په دې مقدار کې مرتهن د مستودَع په څېر دی (یعني ګواکي راهن هغه ته نصف غلام په ودیعت ورکړی دی). او که د ودیعت غلام د مستودَع په مال کې جنایت وکړي، نو ضمان واجبیږي.

②... د امام صاحب رَحِمَهُ الله دویم قول دا دی چې د امانت په مقدار کې هم جنایت معتبر نه دی: ځکه د امانت مقدار (یا په بله وینا له قرض څخه زائد مقدار) هم د مرتهن سره محبوس دی. نو هغه ته به هم د مضمون درجه ورکول کیږي، او د مضمون مقدار جنایت معتبر نه دی. نو ځکه د امانت د مقدار جنایت به هم معتبر نه وي او ضمان به یې نه واجبیږي.

د دې په خلاف که چیرې مرهون د راهن یا د مرتهن پر ځوی جنایت وکړي، نو دا جنایت معتبر او مضمون دی چې ضمان یې واجبیږي؛ ځکه چې د ځوی او پلار ملکیتونه په حقیقیت کې یو له بل څخه جلا دي که څه هم دوی یو ځای سره اوسیږي، لهذا دا پر اجنبي کس د جنایت کولو په څېر سوه او جنایت علی الاجنبي معتبر دی، نو ځکه دا جنایت به هم معتبر وي چې ضمان (تاوان) به یې واجبیږي.

په رهن د ورکول سوي غلام د قیمت تیټېدلو حکم

قَالَ: وَمَنْ رَهَنَ عَبْدًا يُسَاوِيْ أَلْفًا بِأَلْفٍ إِلٰى أَجَلٍ فرمایي: او چا چې د زرو درهمو مساوي غلام د زرو درهمو په عوض کې تر یو مودې پورې په رهن ورکړی فَنَقَصَ فِي السِّعْرِ بیا په نرخ کې کمي راغله فَرَجَعَتْ قِيْمَتُهُ إِلٰى مِائَةٍ او د غلام قیمت سلو درهمو ته را کښته سو ثُمَّ قَتَلَهُ رَجُلٌ بیا یو سړي دا غلام قتل کړی وَغَرِمَ قِيْمَتَهُ مِائَةً او هغه سړی د دې غلام د قیمت یعني د سلو درهمو تاوان [ضمان] ورکړی ثُمَّ حَلَّ الْأَجَلُ بیا مودت راغلی فَإِنَّ الْمُرْتَهِنَ يَقْبِضُ الْمِائَةَ قَضَاءً عَنْ حَقِّهِ نو مرتهن به د خپل حق [قرض] ترلاسه کولو په توګه پر دې سلو درهمو قبضه کوي وَلَا يَرْجِعُ عَلَى الرَّاهِنِ بِشَيْءٍ او پر راهن به په هیڅ شي سره رجوع نه کوي [یعني له راهن څخه به د خپل قرض هیڅ حصه هم نه اخلي] وَأَصْلُهُ أَنَّ النُّقْصَانَ مِنْ حَيْثُ السِّعْرُ لَا يُوْجِبُ سُقُوْطَ الدَّيْنِ عِنْدَنَا او د دې اصل دا دی چې نقصان [کمېدل] د نرخ په اعتبار سره [یعني د نرخ کمېدل] د قرض ساقطېدل نه واجبوي خِلَافًا لِزُفَرَ ۞ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُوْلُ: إِنَّ الْمَالِيَّةَ قَدِ انْتَقَصَتْ هغه فرمایي: چې [د مرهون] مالیت کم

۞ القول الراجح: قولنا (قول الجمهور)، کما ظهر من داب المصنف رَحِمَهُ الله، انظر للتفصیل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۳۳]

سوی دی فَاَشْبَهَ اِنْتِقَاصَ الْعَيْنِ نو دا د عَين مرهون د کمېدلو په شان سوه وَلَنَا: اَنَّ نُقْصَانَ السِّعْرِ عِبَارَةٌ عَنْ فُتُوْرِ رَغَبَاتِ النَّاسِ او زمونږ دليل دا دی: چې د نرخ کمېدل عبارت دي د خلګو د رغباتو له سړېدلو [کمېدلو] څخه [يعني د نرخونو ټيټوالی او زياتوالی د خلګو پر رغبت منحصر دي] وَذٰلِكَ لَا يُعْتَبَرُ فِي الْبَيْعِ او په بيع کې دا معتبر نه دي حَتّٰى لَا يَثْبُتَ بِهِ الْخِيَارُ همدا وجه ده چې د هغه [نرخ کمېدلو] په وجه خيار نه ثابتيږي وَلَا فِي الْغَصْبِ او نه په غصب کې هغه [د نرخ کمېدل] معتبر دی حَتّٰى لَا يَجِبَ الضَّمَانُ همدا وجه ده چې ضمان نه واجبيږي بِخِلَافِ نُقْصَانِ الْعَيْنِ په خلاف د عَين د کمېدلو لِأَنَّ بِفَوَاتِ جُزْءٍ مِنْهُ يَتَقَرَّرُ الْاِسْتِيْفَاءُ فِيْهِ ځکه چې د عَين د يو جزء په فوتېدلو سره په هغه جزء کې [د مرتهن لپاره] استيفاء ثابتيږي [يعني ګواکې په فوت سوي جزء سره مرتهن خپل څه قرض ترلاسه کړی نو د هغه فوت سوي جزء په اندازه د ده قرض ساقط سو] اِذِ الْيَدُ يَدُ الْاِسْتِيْفَاءِ ځکه چې [د مرتهن] قبضه د استيفاء قبضه ده.

اللغات: ﴿غرم﴾ د سمع د باب ماضي ده: تاوان ورکول، تاوان (ضمان) پر لازمېدل، ضامن کېدل، ﴿السعر﴾ نرخ، ريټ، ﴿فتور﴾ د نصر او ضرب مصدر دی: له تېزي څخه وروسته کرارېدل، سستېدل، کمېدل، ﴿الرغبات﴾ جمع د رغبة ده: خواهش او لېوالتيا، طلب او غوښتنه، مېل. ﴿يتقرر﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ثابتېدل، مضبوطېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که يو سړی د زرو (۱۰۰۰) درهمو په عوض کې خپل غلام په رهن ورکړي او د رهن په ورځ د دې غلام قيمت هم د زرو (۱۰۰۰) درهمو سره مساوي وي (يعني زردرهمه وي)، تر دې وروسته په بازاري نرخونو او قيمتونو کې سخت بدلون راسي او د دې غلام قيمت راکښته سي فقط سل (۱۰۰) درهمه پاته سي، بيا يو څوک دا غلام د مرتهن سره قتل کړي، او د قتل کولو په وجه پر قاتل د قتل د ورځي قيمت يعني سل (۱۰۰) درهمه ضمان (تاوان) واجب سي، نو دا ضمان (۱۰۰ درهمه) د مرتهن سره رهن پاتيږي (يعني د مقتول غلام پر ځای اوس دا سل درهمه ضمان مرهون ګرځي) او کله چې د قرض اداء کولو وخت راسي، نو مرتهن به دا سل (۱۰۰) درهمه اخلي او په همدې به اکتفا کوي او هغه ته له راهن څخه د پاته نهو سوو (۹۰۰) درهمو د مطالبې حق نسته؛ ځکه کله چې غلام د مرتهن په قبضه کې هلاک سو، نو د هغه قرض ساقط سو، برابره ده مرتهن هغه

هلاک کړی وي یا بل چا هلاک کړی وي، نو ځکه اوس مرتهن ته له راهن څخه د قرض په نامه دیوې اتاني هم داخیستلو حق نسته..

دا تفصیل زموږ په نیز دی، د نرخ کمېدلو او زیاتېدلو په هکله اصل دا دی چې که محض د مرهون نرخ ټیټ او کم سي او هغه هلاک نه سي. نو په دې سره زموږ په نیز قرض نه ساقطیږي، بلکي که مرهون (غلام) موجود وي، نو کله چې د قرض اداء کولو وخت راسي. نو مرتهن به له راهن څخه خپل پوره قرض اخلي او مرهون (غلام) به راهن ته واپس کوي. برابره ده د هغه قیمت کم سوي وي او که زیات سوی وي. لیکن که مرهون هلاک سي او له منځه ولاړ سي، نو ښکاره خبره ده چې د مرتهن قرض ساقطیږي، لکه څرنګه چې په دې پورتنی مسئله کي همدا حکم دی.

د دې په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز اصل دا دی چې د نرخ په کمېدلو سره قرض هم کمیږي او ساقطیږي، یا په بله وینا دا چې د نرخ ټیټېدلو اثر پر قرض پرېوځي او د هغه په وجه پر مرتهن ضمان واجبیږي؛ ځکه چې د شي مالیت کمېدل د شي د عین (ذات) د کمېدلو په څېر دي نو ګواکي عینِ مرهون کم سوی دی، او که چیري د عینِ مرهون یو جزء هلاک او کم سي یعني د هغه یو جزء ضایع سي، نو د هغه په اندازه د مرتهن قرض ساقطیږي، لهذا کله چې په قیمت او مالیت کي څه کمي راسي، نو د هغه په اندازه به هم د مرتهن قرض ساقطیږي.

ولنا الخ: په دې سلسله کي زموږ دلیل دا دی چې نرخ خو د مرتهن په وجه نه دی کم سوی، بلکي دا خبره خو د خلکو په رغبت او لیوالتیا پاندي منحصره ده چې په کوم شي کي د خلکو رغبت زیات سي نو خو بخوده د هغه شي نرخ زیاتیږي او له کوم شي څخه چې د خلکو نظر واوړي او هغه نه رانیسي، نو خپله د هغه نرخ کښته کیږي، همدا وجه ده چې فقهاؤ په بیع او غصب کي د دې اعتبار نه دی کړی، مثلاً که څوک په سل (۱۰۰) درهمه یو شی رانیسي او سبا ورځ د هغه نرخ را کم سي او پنځوس (۵۰) درهمه سي، نو مشتري ته دا خیار [اختیار] نه حاصلیږي چې هغه شی بائع ته واپس کړي. همدارنګه که یو سړی د یو چا شی غصب کړي چې د غصب په ورځ د هغه قیمت څلوېښت (۴۰) درهمه وي او په بله ورځ چې غاصب هغه شی ومغصوب منهٗ (د شي مالک ته) واپس کوي نو د هغه قیمت کم سوی وي او شل (۲۰) درهمه وي، نو په دې صورت کي مغصوب منهٗ ته دا حق نسته چې له غاصب څخه نور شل (۲۰) درهمه واخلي، نو همداسي په پورتنی مسئله کي هم د مرهون (غلام) د قیمت کمېدلو او ټیټېدلو لره هیڅ اعتبار نسته او د هغه په وجه به د مرتهن له قرض څخه هیڅ حصه نه ساقطیږي.

بخلاف نقصان إلخ: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د قياس ترديد کوي چې هغه د قيمت نقصان (کمېدل) د عين پر نقصان قياس کړي دي، حاصل د عبارت دا دی چې د عين او قيمت په نقصان کې فرق دی او يو پر بل قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چې پر مرهون د مرتهن قبضه د استيفاء قبضه وي (لکه مخکې چې څو ځله دا خبره سوې ده) او که ټوله مرهون د مرتهن سره هلاک سي نو د هغه ټوله قرض ساقطيږي، همداسي که د مرهون يو جزء د مرتهن سره هلاک سي، نو د هغه هلاک سوي جزء په اندازه قرض ساقطيږي، لېکن د قيمت په کمېدلو يا ختمېدلو سره خو د هغه د قرض يوه اټانۍ هم نه ساقطيږي. (احسن الهدايه)

د پورتني مسئلې نور وضاحت او د هغه مرهون غلام د قتل کېدلو حکم

وَإِذَا لَمْ يَسْقُطْ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ بِنُقْصَانِ السِّعْرِ او کله چې د نرخ کمېدلو په وجه څه قرض ساقط نه سو بَقِيَ مَرْهُونًا بِكُلِّ الدَّيْنِ نو مرهون [غلام] د ټوله قرض په عوض کې مرهون پاتېږي فَإِذَا قَتَلَهُ حُرٌّ يا کله چې يو آزاد کس هغه قتل کړي غَرِمَ قِيمَتَهُ مِائَةً نو هغه د غلام د سلو درهمو د قيمت ضامن کېږي لِأَنَّهُ تُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ يَوْمَ الْإِتْلَافِ فِي ضَمَانِ الْإِتْلَافِ ځکه چې د اتلاف [هلاکولو] په ضمان کې د هغه د اتلاف د ورځې قيمت معتبر کېږي لِأَنَّ الْجَابِرَ بِقَدْرِ الْفَائِتِ ځکه چې د نقصان پوره کونکی شی د فوت سوي [هلاک سوي] په مقدار سره وي [يعني د هلاک سوي جزء په مقدار سره واجبيږي] وَأَخَذَهُ الْمُرْتَهِنُ او دا قيمت به مرتهن اخلي لِأَنَّهُ بَدَلُ الْمَالِيَّةِ فِي حَقِّ الْمُسْتَحِقِّ ځکه چې هغه د مرتهن په حق کې د ماليت بدل دی وَإِنْ كَانَ مُقَابَلًا بِالدَّمِ عَلَى أَصْلِنَا که څه هم زموږ د اصل مطابق هغه [قيمت] د وينې بدل دی حَتَّى لَا يُزَادُ عَلَى دِيَةِ الْحُرِّ همدا وجه ده چې هغه [قيمت] د آزاد کس پر ديت نه زياتيږي لِأَنَّ الْمَوْلَى اسْتَحَقَّهُ بِسَبَبِ الْمَالِيَّةِ ځکه چې مالک د ماليت په وجه د هغه مستحق سوی دی وَحَقُّ الْمُرْتَهِنِ مُتَعَلِّقٌ بِالْمَالِيَّةِ او د مرتهن حق د ماليت سره متعلق دی فَكَذَا فِيمَا قَامَ مَقَامَهُ نو همداسي په هغه څه کې کوم چې د عين قائم مقام دی ثُمَّ لَا يَرْجِعُ عَلَى الرَّاهِنِ بِشَيْءٍ بيا مرتهن به په هيڅ شي سره پر راهن رجوع نه کوي لِأَنَّ يَدَ الرَّهْنِ يَدُ الِاسْتِيفَاءِ مِنَ الِابْتِدَاءِ ځکه چې له شروع څخه د رهن قبضه د استيفاء [حق ترلاسه کولو] قبضه ده وَبِالْهَلَاكِ يَتَقَرَّرُ او [د مرهون] په هلاکېدلو سره استيفاء نوره ثابتيږي وَقِيمَتُهُ كَانَتْ فِي الِابْتِدَاءِ أَلْفًا او د هغه قيمت په شروع کې

زر درهمه وو فَيَصِيرُ مُسْتَوْفِيًا لِلْكُلِّ مِنَ الِابْتِدَاءِ نو مرتهن به له شروع څخه د ټوله [زر درهمو] ترلاسه کونکی وي أَوْ نَقُولُ: لَا يُمْكِنُ أَنْ يُجْعَلَ مُسْتَوْفِيًا الْأَلْفَ بِمِائَةٍ يا موږ به [په جواب کې] وايو: چي دا خو ممکنه نه ده چي هغه د سلو درهمو په بدله کي د زرو درهمو ترلاسه کونکی وګرځول سي لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى الرِّبَا ځکه چي دا د سُود طرف ته رسول کوي [د سُود سبب ګرځي] فَيَصِيرُ مُسْتَوْفِيًا الْمِائَةَ نو مرتهن به د سلو درهمو ترلاسه کونکی وګرځي وَيَبْقَى تِسْعُ مِائَةٍ فِي الْعَيْنِ او نهه سوه درهمه په عينِ مرهون کي پاته سوه فَإِذَا هَلَكَ نو کله چي عينِ مرهون هلاک سو يَصِيرُ مُسْتَوْفِيًا تِسْعَ مِائَةٍ بِالْهَلَاكِ نو د هلاکېدلو په وجه به مرتهن د نهو سوو ترلاسه کونکی وګرځي بِخِلَافِ مَا إِذَا مَاتَ مِنْ غَيْرِ قَتْلِ أَحَدٍ په خلاف د هغه صورت کله چي هغه د يو چا له قتل څخه بغير [خپله] مړ سي لِأَنَّهُ يَصِيرُ مُسْتَوْفِيًا الْكُلَّ بِالْعَبْدِ ځکه چي [په دې صورت کي] مرتهن د غلام په وجه د ټوله قرض [زرو درهمو] ترلاسه کونکی ګرځي لِأَنَّهُ لَا يُؤَدِّي إِلَى الرِّبَا ځکه چي دا د سُود وطرف ته رسول نه کوي.

اللغات: ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضايع کول، بربادول، هلاکول. ﴿جابر﴾ تلافي کونکی (هغه شی چي د تاوان پر ځای ودرېږي)، د تاوان او نقصان خليفه (د تاوان په عوض کي درېدونکی شی). ﴿يؤدي﴾ د تفعيل مضارع ده، ددې باب په صله کي چي "إلى" ذکر سي، نو معنی يې ده: رسول، سبب جوړېدل (سبب ګرځېدل).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي له مخکيني بحث او بيان څخه دا خبره څرګنده سوه چي د مرهون په نرخ کمېدلو سره هيڅ قرض نه ساقطيږي، نو ښکاره ده چي مرهون (غلام) د مخکي په څېر مرهون پاتيږي، او که په همدې حالت کي راهن د مرتهن قرض اداء کړي، نو راهن به خپل مرهون واپس څني اخلي.

لېکن که يو څوک هغه مرهون (غلام) د مرتهن په قبضه کي قتل کړي، نو د قتل په ورځ چي د هغه څومره قيمت وي کوم چي موږ سل (۱۰۰) درهمه فرض کړي دي، نو پر قاتل د هغه سلو (۱۰۰) درهمو ضمان واجبيږي؛ ځکه چي قاتل د همدومره مقدار ماليت هلاک کړی دی، نو د "الجابر بقدر الفائت" پر بناء به د همدومره مقدار ضمان واجبيږي، او دا سل (۱۰۰) درهمه د مرتهن سره مرهون پاتيږي (لکه مخکي چي ذکر سوه) او داغه د ټوله قرض عوض دی؛ ځکه سل درهمه د اصل بدل او نائب

دی، نو څرنګه چې اصل يعني مرهون د ټوله قرض په عوض کې وو، نو همداسې د مرهون نائب يعني سل (۱۰۰) درهمه به هم د ټوله قرض عوض وي او هغه به د مرتهن سره رهن پاتيږي؛ ځکه چې دا د هغه په حق کې د ماليت بدل دي، او که څه هم دا سل (۱۰۰) درهمه د مقتول غلام د وينې (خون) بدل دي، ليکن د مرتهن په حق کې د غلام د ماليت بدل دي.

لکه که چيري يو څوک د يو سړي غلام قتل کړي، نو پر قاتل د غلام قيمت واجبيږي چې هغه به د غلام مالک ته د غلام قيمت ورکوي، حالانکې دا قيمت د غلام د وينې (خون) بدل دی، خو څرنګه چې د مالک حق د غلام د ماليت سره متعلق دی، نو ځکه دا قيمت د غلام د ماليت بدل ګرځول سو دی، په همدې وجه دا قيمت د آزاد کس له ديت څخه نه زياتول کيږي، لهذا څرنګه چې دغه د خالص غلام په مسئله کې ديت د ماليت بدل شمېرل سوی دی، نو همداسې په پورتنۍ مسئله کې به هم د مرهون مقتول غلام ديت د مرهون د ماليت بدل شمېرل کيږي او بيا به مرتهن ته له راهن څخه د هيڅ شي د اخيستلو حق نه وي؛ ځکه پر مرهون (غلام) له شروع څخه د مرتهن قبضه د استيفاء قبضه وه او د مرهون د هلاکېدلو په وجه استيفاء (د قرض ترلاسه کول) نور هم ثابت او مضبوط سوه.

او څرنګه چې مرتهن په شروع کې د مرهون د قيمت او ماليت (زرو درهمو) حاصلونکی ګرځېدلی دی ليکن د زرو درهمو سره هغه ته نور سل درهمه هم حاصل سوي دي او دا خو په ظاهره ربوا (سُود) معلوميږي، نو آخر د دې څه حلّ دی؛ ځکه په دې کې خو د ربوا خبره راغله.

د همدې په جواب کې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا توجيه زياته غوره ده چې د ديت په توګه چې مرتهن ته کوم سل درهمه حاصل سوي دي، هغه دې د يد استيفاء (قرض ترلاسه کولو د تبضي) بدل وشمېرل سي او د مرهون غلام په هلاکېدلو سره چې د قرض ساقطېدلو په شکل مرتهن ته کوم مقدار حاصل سوی دی (يا په بله وينا دا چې د مرهون غلام په هلاکېدلو سره چې د مرتهن کوم قرض ساقط سوی دی) هغه دې نهه سوه (۹۰۰) وګڼل سي، او سل (۱۰۰) او نهه سوه (۹۰۰) ټوله زر درهمه کيږي، او څرنګه چې همدا زر درهمه د هغه قرض وو، او هغه مرتهن ته حاصل سو نو د ربوا شبهه ختمه سوه.

د دې په خلاف که مرهون غلام خپله مړ سي او بل څوک يې قتل نه کړي، نو په دې صورت کې هيڅ نزاع او اختلاف نسته؛ ځکه چې قرض هم زر درهمه دی او د غلام ماليت هم زر درهمه دی، لهذا د غلام په مړ کېدلو سره مرتهن د خپل ټوله قرض ترلاسه کونکی سو او د ربوا وغيره احتمال ختم سو. (احسن الهدايه)

د مرهون غلام په قيمت سره قرض ترلاسه کول

قَالَ: وَإِنْ كَانَ أَمَرَهُ الرَّاهِنُ أَنْ يَبِيعَهُ فرمايي: او که راهن مرتهن ته حکم وکړي چې مرهون خرڅ کړي فَبَاعَهُ بِمِائَةٍ او مرتهن هغه په سل درهمه خرڅ کړي وَقَبَضَ الْمِائَةَ قَضَاءً مِنْ حَقِّهِ او د خپل حق اداء کېدلو [او ترلاسه کولو] لپاره پر هغه قبضه وکړي فَيَرْجِعُ بِتِسْعِ مِائَةٍ نو مرتهن به په نهو سوو [۹۰۰] درهمو سره رجوع کوي [يعني مرتهن به نهه سوه له راهن څخه واپس اخلي] لِأَنَّهُ لَمَّا بَاعَهُ بِإِذْنِ الرَّاهِنِ ځکه کله چې مرتهن د راهن په اجازه سره مرهون خرڅ کړی صَارَ كَأَنَّ الرَّاهِنَ اسْتَرَدَّهُ وَبَاعَهُ بِنَفْسِهِ نو داسې سو لکه راهن چې هغه واپس واخيستی او پر ځان يې خرڅ کړی وَلَوْ كَانَ كَذٰلِكَ او که چيرې داسې سوي وای يَبْطُلُ الرَّهْنُ نو رهن به باطل سوي وای وَيَبْقَى الدَّيْنُ إِلَّا بِقَدْرِ مَا اسْتَوْفَى او قرض به باقي پاته وای مګر د هغه مقدار په اندازه کوم چې مرتهن ترلاسه کړی دی كَذَا هٰذَا نو همداسې به دا هم وي.

تشريح: صورت د مسئلې: خو بالکل ښکاره دی چې که مرتهن د راهن په حکم سره مرهون (غلام) په سل (۱۰۰) درهمه خرڅ کړي او د مرتهن قرض زر (۱۰۰۰) درهمه وي چې د هغه په عوض کې مرتهن دا سل درهمه د ځان سره په رهن کښېږدي، نو مرتهن ته وروسته له راهن څخه د نهو سوو (۹۰۰) درهمو د اخيستلو حق سته؛ ځکه د راهن په حکم او اجازه سره د مرتهن خرڅول داسې دي لکه راهن چې خپله مرهون له مرتهن څخه واپس واخلي او خرڅ يې کړي، او که راهن خپله هغه په سل (۱۰۰) درهمه خرڅ کړي او هغه سل درهمه د مرتهن سره په رهن کښېږدي، نو ښکاره ده چې د هغه پر ذمه د مرتهن نهه سوه (۹۰۰) درهمه باقي پاتيږي، نو همداسې په دې مسئله کې به هم د راهن پر مرتهن نهه سوه درهمه باقي پاته وي او مرتهن ته به له راهن څخه د هغوی د اخيستلو حق او اختيار وي. (احسن الهدايه)

که د مرهون غلام قاتل هم غلام وي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِنْ قَتَلَهُ عَبْدٌ قِيمَتُهُ مِائَةٌ فرمايي: او که يو داسې غلام دا [مرهون غلام] قتل کړي چې د هغه قيمت [هم] سل درهمه وي فَدُفِعَ مَكَانَهُ بيا قاتل غلام د هغه [مقتول غلام] پر ځای ورکول سي افْتَكَّهُ بِجَمِيعِ الدَّيْنِ نو راهن به هغه د ټوله قرض په عوض کې راخلاصوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

وَأَبِي يُوسُفَ او دا [حکم] د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞ : هُوَ بِالْخِيَارِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي راهن ته اختيار دی إِنْ شَاءَ افْتَكَّهُ بِجَمِيعِ الدَّيْنِ كه وغواړي نو هغه [قاتل غلام] دي د ټوله قرض په عوض کي راخلاص کړي وَإِنْ شَاءَ سَلَّمَ الْعَبْدَ الْمَدْفُوعَ إِلَى الْمُرْتَهِنِ بِمَالِهِ او كه وغواړي نو ورکول سوی [قاتل] غلام دي مرتهن ته د هغه د مال [قرض] په عوض کي وسپاري وَقَالَ زُفَرُ: يَصِيرُ رَهْنًا بِمِائَةٍ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه غلام د سلو (۱۰۰) درهمو په عوض کي رهن کيږي لَهُ: أَنَّ يَدَ الرَّهْنِ يَدُ اسْتِيفَاءٍ د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د رهن قبضه د استيفاء [حق ترلاسه كولو] قبضه ده وَقَدْ تَقَرَّرَ بِالْهَلَاكِ او د هلاکېدلو په وجه استيفاء ثابته سوه إِلَّا أَنَّهُ أَخْلَفَ بَدَلًا بِقَدْرِ الْعُشْرِ ليكن مرتهن د لسمي حصې [سلو درهمو] په اندازه ترلاسه کړي دي فَيَبْقَى الدَّيْنُ بِقَدْرِهِ نو ځکه قرض به د لسمي حصې په اندازه باقي پاتیږي وَلِأَصْحَابِنَا عَلَى زُفَرَ أَنَّ الْعَبْدَ الثَّانِيَ قَائِمٌ مَقَامَ الْأَوَّلِ لَحْمًا وَدَمًا او د امام زفر رَحِمَهُ الله په خلاف زموږ د ملګرو دليل دا دی چي دويم غلام د غوښي اوويني دواړو په اعتبار سره د اول غلام قائم مقام دی وَلَوْ كَانَ الْأَوَّلُ قَائِمًا وَانْتَقَصَ السِّعْرُ او كه چيري اول غلام موجود وای او نرخ کم سوي وای لَا يَسْقُطُ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز له قرض څخه به هيڅ هم نه ساقطيدلای لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ کړی دی فَكَذَلِكَ إِذَا قَامَ الْمَدْفُوعُ مَكَانَهُ نو همداسي کله چي ورکول سوی [قاتل] غلام د اول غلام قائم مقام سي.

اللغات: ﴿إِفْتَكَّ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: (مرهون) راخلاصول، يعني قرض ورکول او مرهون څخني اخيستل، ﴿أَخلف﴾ د افعال د باب ماضي ده: شاته پرېښوول، شاته پاته کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي كه يو غلام د مرتهن سره هغه مرهون غلام مړ کړي کوم چي راهن د زرو درهمو قرض په عوض کي په رهن ورکړی وو (چي د نرخ اوښتلو په وجه د هغه قيمت ۱۰۰ درهمو ته را ټيټ سوی وو)، او د قاتل غلام قيمت سل (۱۰۰) درهمه وي او بيا همدا قاتل غلام د مقتول غلام پر ځای په رهن ورکول سي، نو په دې هکله د شیخینو رَحِمَهُمَا الله فتویٰ دا ده چي کله د قرض

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، انظر للتفصيل الكتاب المعروف بالقول الراجح [ج:۲، ص:۳۳۲]

اداء کولو وخت راسي، نو راهن دي د ټوله قرض په عوض کي هغه راخلاص کړي يعني راهن دي د مرتهن ټوله قرض (زر درهمه) اداء کړي او بيا دي قاتل غلام له مرتهن څخه واخلي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي دغه راهن ته له دوو اختياراتو څخه يو اختيار سته:

① ... که چيري د هغه خوښه وي، نو د مرتهن د ټوله قرض په عوض کي دي قاتل غلام راخلاص کړي لکه څرنګه چي شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي.

② ... او که وغواړي نو قاتل غلام (کوم چي د مقتول غلام پر ځای مرهون دي، هغه) دي د مرتهن د قرض په عوض کي د مرتهن سره پرېږدي.

د امام زفر رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي قاتل غلام د مقتول غلام پر ځای مرهون خو دی، لېکن د ټوله قرض يعني د زرو درهمو په عوض کي مرهون نه دی، بلکي دا غلام به د سلو (۱۰۰) درهمو په عوض کي مرهون وي.

د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي پر مرهون د مرتهن قبضه د استيفاء قبضه وي (چي د هغه په ذريعه مرتهن خپل قرض ترلاسه کوي) او کله چي مرهون هلاک سي نو استيفاء پوره کيږي، او څرنګه چي په دې مسئله کي مرهون هلاک سوی دی، نو په اصولي توګه خو د مرتهن ټوله قرض ساقطېدل پکار دي، خو څرنګه چي مرتهن ته د مرهون مقتول غلام په عوض کي د سلو درهمو والا غلام حاصل سوی دی او دا د هغه مقتول غلام پر ځای مرهون دی، نو اوس به د مرتهن له ساقط سوي قرض څخه عُشر يعني د زرو لسمه حصه کوم چي سل درهمه دي واپس راګرځي او قاتل غلام به د همدې سلو درهمو په عوض کي رهن پاتيږي، او راهن به د سلو درهمو په ورکولو سره دا غلام له مرتهن څخه واپس اخلي.

ولأصحابنا إلخ: په دې سره د نورو احنافو له طرفه امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب ورکول سوی دی، حاصل يې دا دی چي زموږ په نېز د مرهون (غلام) په نرخ کمېدلو او ټيټېدلو سره هيڅ قرض نه ساقطيږي (لکه مخکي چي ذکر سوه) او دلته چي د مقتول غلام په قائم مقام (قاتل غلام) کي د قيمت کومه کمي راغلې ده هغه د نرخ کمېدلو او نرخ اوښتلو له قبيل څخه ده او مقتول غلام که چيري موجود وای او نرخ يې کم سوي وای، نو هم به راهن هغه د ټوله قرض په عوض کي له مرتهن څخه اخيستلای، لهذا کوم چي د مقتول غلام قائم مقام دی، هغه به هم راهن د ټوله قرض په عوض کي اخلي او د هغه د قيمت د کمېدلو په وجه به يوه روپۍ هم نه ساقطيږي. (احسن الهدايه)

په پورتني صورت کې د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل

وَلِمُحَمَّدٍ فِي الْخِيَارِ: أَنَّ الْمَرْهُوْنَ تَغَيَّرَ فِيْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ او د اختيار ورکولو په هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې مرهون د مرتهن په ضمان کې متغير سوی دی فَيُخَيَّرُ الرَّاهِنُ نو ځکه راهن ته به اختيار ورکول کيږي كَالْمَبِيْعِ إِذَا قُتِلَ قَبْلَ الْقَبْضِ لکه مبيع [خرڅ کړی سوی غلام] چې کله تر قبضې مخکې قتل کړی سي وَالْمَغْصُوْبِ إِذَا قُتِلَ فِيْ يَدِ الْغَاصِبِ او لکه مغصوب [غصب کړی سوی غلام] چې کله د غاصب په قبضه کې قتل کړی سي يُخَيَّرُ الْمُشْتَرِيْ وَالْمَغْصُوْبُ مِنْهُ نو مشتري او مغصوب منهٗ [يعني د مغصوب مالک] ته اختيار ورکول کيږي كَذَا هٰذَا نو همداسې دا [هم] دي.

تشريح: په مخکينې صورت کې امام محمد رَحِمَهُ الله راهن ته دوه اختياره ورکړي دي، په دې عبارت کې د هغه دليل بيانوي، حاصل د دليل دا دی چې کله راهن و مرتهن ته مرهون (غلام) ورکړی وو په هغه وخت کې د مرهون قيمت زر درهمه وو، لېکن د مرتهن په قبضه او ضمان کې په مرهون کې تغيّر راغلی او د هغه قيمت نهه سوه درهمه کم سو، نو ځکه د دغه تغيّر په وجه به راهن ته د هغه غلام د اخيستلو او نه اخيستلو اختيار وي (چې د هغه خوښه ده غلام اخلي او که يې نه اخلي)، او دا څه نوې خبره نه ده بلکې په شريعت کې د دې نور مثالونه هم سته:

①... که يو سړی غلام رانيسي او د غلام ثمن بائع ته ورکړي او بيا هغه تر اوسه پر غلام قبضه نه وي کړې چې يو څوک دا غلام د بائع سره قتل کړي او قاتل غلام بائع ته ورکول سي. نو دلته هم مشتري ته اختيار حاصليږي چې که خوښه يې نو د ټوله ثمن په عوض کې دې قاتل غلام واخلي. او که وغواړي نو له بائع څخه دې خپل ثمن واپس واخلي او قاتل غلام دې د هغه سره پرېږدي.

②... که يو سړی د بل چا غلام غصب کړي او بيا يو څوک د غاصب سره هغه مغصوب غلام قتل کړي او قاتل غلام د مقتول غلام په عوض کې غاصب ته ورکول سي. نو که غاصب و مغصوب منهٗ (د غلام مالک) ته د هغه غلام واپس کول وغواړي، نو مغصوب منهٗ ته اختيار دی که خوښه يې نو هغه دې د خپل مغصوب غلام په عوض کې واخلي، او که وغواړي نو له غاصب څخه دې د هغه قيمت واخلي. نو څرنګه چې په دغه دوو مثالونو کې شريعت حقدار کس (مشتري او د مغصوب مالک) ته اختيار ورکړی دی، نو همداسې په پورتنۍ مسئله کې به هم حقدار کس (راهن) ته اختيار ورکول کيږي. (احسن الهدايه)

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل

وَلَهُمَا: أَنَّ التَّغَيُّرَ لَمْ يَظْهَرْ فِيْ نَفْسِ الْعَبْدِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي په نفسِ غلام كي تغير نه دى ښكاره سوى لِقِيَامِ الثَّانِيْ مَقَامَ الْأَوَّلِ لَحْمًا وَدَمًا ځكه چي دويم غلام د غوښي اوويني دواړو په اعتبار سره د اول غلام قائم مقام دى كَمَا ذَكَرْنَاهُ مَعَ زُفَرَ لكه څرنگه چي موږ دا د امام زفر رَحِمَهُ الله سره [په اختلاف] كي ذكر كړي دي وَعَيْنُ الرَّهْنِ أَمَانَةٌ عِنْدَنَا او عينِ مرهون زموږ په نيز امانت دى فَلَا يَجُوْزُ تَمْلِيْكُهُ مِنْهُ بِغَيْرِ رِضَاهُ نو دا جائز نه دي چي راهن مرتهن د هغه مالک جوړ كړي د مرتهن له رضاء څخه بغير [يا په بله وينا دا چي راهن په زوره مرتهن د هغه مالک جوړ كړي] وَلِأَنَّ جَعْلَ الرَّهْنِ بِالدَّيْنِ حُكْمٌ جَاهِلِيٌّ او ځكه چي رهن د قرض په عوض كي گرځول د جهاليت د زماني حكم دى وَأَنَّهُ مَنْسُوْخٌ او هغه منسوخ دى بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّ الْخِيَارَ فِيْهِ حُكْمُهُ الْفَسْخُ ځكه چي په بيع كي د خيار حكم د فسخ دى وَهُوَ مَشْرُوْعٌ او دا مشروع دي وَبِخِلَافِ الْغَصْبِ او په خلاف د غصب لِأَنَّ تَمَلُّكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ مَشْرُوْعٌ ځكه چي په ضمان اداء كولو سره د مغصوب مالک جوړېدل مشروع دي وَلَوْ كَانَ الْعَبْدُ تَرَاجَعَ سِعْرُهُ حَتّٰى صَارَ يُسَاوِيْ مِائَةً او كه چيري د غلام نرخ راكښته سي تر دې چي هغه د سلو درهمو سره برابر سي ثُمَّ قَتَلَهُ عَبْدٌ يُسَاوِيْ مِائَةً بيا يو داسي غلام هغه قتل كړي چي هغه [هم] د سلو درهمو سره برابر وي فَدُفِعَ بِهِ بيا قاتل غلام د هغه [مقتول غلام] په عوض كي وركول سي فَهُوَ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ نو هغه هم پر دغه اختلاف دي.

اللغات: ﴿مشروع﴾ د فتح د باب اسم مفعول دى: په شريعت كي نافذ او جاري، په شريعت كي جائز. ﴿تراجع السعر﴾ نرخ او ښتل، نرخ تيټېدل (كښته كېدل).

تشريح: له دې ځايه د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل بيان سوى دى، حاصل يې دا دى چي كله دويم غلام د نفس او ځان او دويني او غوښي په هر اعتبار سره د اول غلام قائم مقام دى، نو بيا په نفس مرهون غلام كي تغير نه دى راغلى. بلكي صرف د هغه په قيمت كي كمي راغلې ده او موږ څو ځله مخكي ويلي دي چي د قيمت په كمېدلو او ټيټېدلو سره د قرض هيڅ حصه نه ساقطيږي، نو ځكه په دې مخكني مسئله كي زموږ فيصله همدا ده چي راهن به د ټوله قرض په عوض كي هغه راخلاصوي يعني د

مرتهن ټوله قرض به اداء کوي بيا به قاتل غلام ځني اخلي. نور له قرض ځخه به يوه روپۍ هم نه ساقطيږي کوم چي د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک دی او نه به راهن ته اختيار حاصليږي کوم چي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي.

د امام زفر رَحِمَهُ الله جواب خو مخکي موږ کړی دی. دلته صرف د امام محمد رَحِمَهُ الله د اختيار ورکولو خبره څېړو. نو د هغه دا خبره هم صحيح نه ده: ځکه چي د کتاب الرهن په شروع کي دا خبره تېره سوه چي عينِ مرهون د مرتهن په قبضه کي امانت دی او د مرتهن حق صرف د مرهون د ماليت سره متعلق دی. اوس که موږ په دې مخکنی مسئله کي راهن ته اختيار ورکړو او راهن هغه قاتل غلام (کوم چي د مقتول پر ځای د مرتهن سره مرهون دی) له مرتهن ځخه واپس نه واخلي او د مرتهن سره يې پرېږدي او په دې سره د مرتهن قرض ساقط سي. نو دا به د جبر او زور تمليک وي چي مرتهن له خپلي خوښۍ او رضا ځخه بغير په زوره د هغه قاتل غلام مالک جوړول کيږي. حال دا چي تمليک په رضا او خوښۍ سره ثابتيږي. نه په جبر او زور سره. او په داسي کولو سره بله خرابي دا هم لازميږي چي رهن (مرهون) به د قرض بدل وګرځول سي. حالانکي دا د جاهليت د زمانې عادت وو چي رهن به يې د قرض بدل ګرځوی او بيا شريعت د جاهليت هر حکم منسوخ کړی (لکه مخکي چي هم د دې وضاحت وسو). نو ځکه دا حکم به هم منسوخ وي او راهن ته به اختيار نه ورکول کيږي.

او امام محمد رَحِمَهُ الله چي دا مسئله د بيع پر مسئلې قياس کړې ده. نو دا هم صحيح نه دي: ځکه په بيع کي چي بائع ته کوم اختيار حاصليږي. هغه د بيع د فسخ کولو لپاره وي (چي که د بائع دا بيع او سودا خوښه نه سي نو هغه فسخ او ماته کړي). حال دا چي په عقد رهن کي اختيار د فسخ کولو لپاره نه وي. بلکي پر مرتهن د عقد رهن د لازمولو لپاره وي. نو ځکه دا قياس مع الفارق دی او صحيح نه دی.

همدارنګه د غصب پر مسئله هم دا مسئله قياسول صحيح نه دي: ځکه چي په غصب کي غاصب د ضمان په اداء کولو سره د مغصوب مالک جوړيږي. حال دا چي د قرض په اداء کولو سره مرتهن د مرهون نه مالک کيږي. نو ځکه دا هم قياس مع الفارق دی او صحيح نه دی.

ولوكان العبد إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د مرهون غلام قيمت د رهن په وخت کي زر درهمه وي لېکن بيا په نرخ کي سخت بدلون راسي او د هغه قيمت سلو درهمو ته راکښته سي. بيا يو داسي غلام هغه قتل کړي چي د هغه قيمت هم سل درهمه وي. نو اوس څه حکم دی؟. فرمايي چي په دې صورت کي هم د شيخينو او د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَاالله هاغه اختلاف دی کوم چي مخکي بيان سوی دی. (احسن الهدايه)

که چيري مرهون غلام يو څوک خطاءً قتل کړي نو ديت پر چا لازم دی؟

وَإِذَا قَتَلَ الْعَبْدُ الرَّهْنُ قَتِيلًا خَطَأً او کله چي مرهون غلام په خطاء سره يو څوک قتل کړي فَضَمَانُ الْجِنَايَةِ عَلَى الْمُرْتَهِنِ نو د جنايت ضمان پر مرتهن دی وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَ او مرتهن ته دا حق نسته چي [په ضمان کي] غلام ورکړي لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ التَّمْلِيكَ ځکه چي مرتهن د مالک جوړولو ملکيت [اختيار] نه لري وَلَوْ فَدَى او که چيري مرتهن فديه اداء کړي طَهُرَ الْمَحَلُّ نو محل پاک سو فَبَقِيَ الدَّيْنُ عَلَى حَالِهِ نو قرض پر خپل حال باقي پاته سو وَلَا يَرْجِعُ عَلَى الرَّاهِنِ بِشَيْءٍ مِنَ الْفِدَاءِ او مرتهن د فديې په هيڅ حصه سره پر راهن رجوع نه سي کولای [يعني د فديې هيڅ حصه واپس نه سي ځني اخيستلای] لِأَنَّ الْجِنَايَةَ حَصَلَتْ فِي ضَمَانِهِ ځکه چي جنايت د مرتهن په ضمان کي حاصل سوی دی فَكَانَ عَلَيْهِ إِصْلَاحُهَا لهذا د جنايت اصلاح کول به پر همدې مرتهن وي.

اللغات: ﴿قتيل﴾ قتل کړی سوی (وژل سوی)، مقتول، ﴿الفداء﴾ فديه، ديت، تاوان او جرمانه، تاکلی مقدار کوم چي (د قاتل غلام) د ځان ژغورني لپاره ورکول کيږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که مرهون غلام د مرتهن په قبضه کي وي او په همدې دوران کي يو څوک خطاءً قتل کړي، نو د هغه ضمان (تاوان) پر مرتهن لازميږي چي د دې جنايت په بدله کي به مرتهن د مقتول وارثانو ته فديه ورکوي، او دلته د ضمان اداء کولو همدا يو صورت دی. لهذا مرتهن ته دا حق او اختيار نسته چي هغه د جنايت په بدله کي قاتل غلام د مقتول وارثانو ته ورکړي، بلکي هغه ته صرف د فديه ورکولو حق سته، او کله چي مرتهن فديه ورکړي. نو اوس مرهون غلام له جنايت څخه پاکيږي او د خپل مخکيني حال په څېر مرهون پاتيږي. او د جنايت له فديې اداء کولو څخه وروسته مرتهن ته دا اختيار نه حاصليږي چي له راهن څخه د فديې په نامه څه واخلي: ځکه چي جنايت صرف د مرتهن په ضمان کي واقع سوی دی، لهذا د هغه وبال او تاوان به هم صرف د مرتهن پر ذمه وي او راهن به له هغه څخه بري وي.

که مرتهن له ديت ورکولو څخه انکار وکړي نو راهن به څه کوي؟

وَلَوْ أَبَى الْمُرْتَهِنُ أَنْ يَفْدِيَ او که چيري مرتهن انکار وکړي چي فديه ورکړي قِيلَ لِلرَّاهِنِ: اِدْفَعِ الْعَبْدَ نو راهن ته به ويل کيږي: چي غلام ورکړه! أَوْ اِفْدِهِ بِالدِّيَةِ يا په ديت سره د هغه فديه ورکړه! لِأَنَّ الْمِلْكَ فِي الرَّقَبَةِ قَائِمٌ لَهُ ځکه چي په رقبه [غلام] کي د راهن ملکيت موجود دی وَإِنَّمَا

إِلَى الْمُرْتَهِنِ الْفِدَاءُ لِقِيَامِ حَقِّهِ او مرتهن لره ځکه د فدیې حکم دی چې د هغه حق موجود دی فَإِذَا امْتَنَعَ عَنِ الْفِدَاءِ لیکن کله چې هغه له فدیه ورکولو څخه منع سو يُطَالَبُ الرَّاهِنُ بِحُكْمِ الْجِنَايَةِ نو له راهن څخه به د جنایت د حکم مطالبه کیږي وَمِنْ حُكْمِهَا التَّخْيِيرُ بَيْنَ الدَّفْعِ وَالْفِدَاءِ او د جنایت حکم اختیار ورکول دي [د غلام] ورکولو او فدیه ورکولو تر مینځ فَإِنِ اخْتَارَ الدَّفْعَ نو که هغه [د غلام] ورکول اختیار کړي سَقَطَ الدَّيْنُ نو [د مرتهن] قرض ساقطیږي لِأَنَّهُ اسْتُحِقَّ لِمَعْنًى فِي ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ ځکه چې مرهون غلام په داسې سبب [قتل] سره مستحق سوی دی کوم چې د مرتهن په ضمان کې حاصل سوی دی فَصَارَ كَالْهَلَاكِ نو دا [استحقاق] د هلاکېدلو په څېر سو وَكَذَلِكَ إِنْ فَدَى او همدارنګه که راهن فدیه ورکړي لِأَنَّ الْعَبْدَ كَالْحَاصِلِ لَهُ بِعِوَضٍ كَانَ عَلَى الْمُرْتَهِنِ ځکه [په دې صورت کې] غلام به راهن ته په داسې عوض سره حاصلېدونکې وي کوم چې پر مرتهن دی وَهُوَ الْفِدَاءُ او هغه عوض فدیه ورکول دي.

اللغات: ﴿أبى﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول. ﴿الدية﴾ دیت، خون بها، هغه مالي بدل چې قاتل یې د مقتول وارثانو ته ورکوي. که چیرې یو سړی په خطاء سره یو څوک قتل کړي چې هغه ته "قتلِ خطاء" وایي، نو په هغه کې د مقتول دیت سل اوښان دي، هغه پر ټوله عاقله وو لازمیږي او پر ټولو به تقسیمول کیږي او په درې کاله کې دننه به اداء کول کیږي. ﴿تخییر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اختیار ورکول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که په مخکیني صورت کې (یعني کله چې مرهون غلام د مرتهن په قبضه یو څوک قتل کړي) مرتهن له فدیې ورکولو څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کې راهن ته دوه اختیاره حاصلیږي:

①... که خوښه یې وي نو همدا قاتل مرهون غلام دې د مقتول وارثانو ته ورکړي. ځکه چې راهن د دې غلام مالک دی یعني اوس (د رهن په حالت کې) هم د راهن ملکیت په دې مرهون غلام کښې موجود او قائم دی، او تاسې ته معلومه ده چې مالک ته په خپل مملوک کې د هر ډول تصرّف کولو اختیار وي، نو ځکه راهن ته به هم د دې پوره اختیار وي چې غلام د مقتول وارثانو ته ورکړي.

②... دویم اختیار راهن ته دا حاصلیږي چې که وغواړي نو قاتل غلام دې د ځان سره راوګرځوي او د هغه په عوض کې دې د هغه د جنایت او جرم فدیه د مقتول وارثانو ته ورکړي.

او په دې دواړو صورتونو کې د مرتهن قرض ساقطيږي: ځکه په اول صورت کې چې هغه غلام ورکړی دی، دا يې د هغه جنايت او جرم پر بناء ورکړی دی کوم چې غلام د مرتهن په قبضه او ضمان کې دننه کړی دی، نو دا د هلاکت په درجه کې سوه (يعني لکه مرهون غلام چې د مرتهن په قبضه کې هلاک سي، نو هلته ښکاره ده چې د مرتهن قرض ساقطيږي فكذا ههنا). او په دويم صورت کې که څه هم غلام د راهن سره دی خو مفت (بلاعوضه) نه دی بلکې دا غلام د هغه عوض (فديه) په بدله کې دی چې د هغه اداء کول د مرتهن پر ذمه وه (ځکه چې غلام د مرتهن په قبضه کې جنايت کړی دی نو د هغه فديه پر مرتهن وه).

خلاصه د کلام دا چې راهن ته دوه اختياره د ملکيت په وجه حاصليږي او مرتهن د مرهون (غلام) مالک نه دی، بلکې په مرهون کې د هغه صرف حق سته، نو ځکه هغه ته صرف د فديه ورکولو اختيار سته، نه د غلام ورکولو.

د مرهون بچی که قتل وکړي يا مال هلاک کړي نو ضمان يې پر چا دی؟

بِخِلَافِ وَلَدِ الرَّهْنِ إِذَا قَتَلَ إِنْسَانًا په خلاف د مرهون د ځوی کله چې يو انسان قتل کړي أَوِ اسْتَهْلَكَ مَالًا يا يو مال هلاک کړي حَيْثُ يُخَاطَبُ الرَّاهِنُ بِالدَّفْعِ أَوِ الْفِدَاءِ فِي الِابْتِدَاءِ نو له ابتداء څخه به راهن [د مرهون د ځوی] په ورکولو يا فديه ورکولو سره مخاطب کيږي لِأَنَّهُ غَيْرُ مَضْمُونٍ عَلَى الْمُرْتَهِنِ ځکه چې هغه [د مرهون ځوی] پر مرتهن مضمون نه دی فَإِنْ دَفَعَ بيا که راهن هغه [د مرهون ځوی] ورکړي خَرَجَ مِنَ الرَّهْنِ نو هغه له رهن څخه وځي وَلَمْ يَسْقُطْ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ او له قرض څخه هيڅ حصه نه ساقطيږي كَمَا لَوْ هَلَكَ فِي الِابْتِدَاءِ لکه که چيري هغه [د مرهون ځوی] په ابتداء کې هلاک سوي وای وَإِنْ فَدَى او که راهن فديه ورکړي فَهُوَ رَهْنٌ مَعَ أُمِّهِ عَلَى حَالِهِمَا نو هغه د خپلې مور سره دواړه پر خپل [مخکني] حالت رهن پاتيږي.

اللغات: ﴿استهلك﴾ د استفعال د باب ماضي ده: هلاکول، ضايع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې راهن مثلاً حامله مينځه په رهن ورکړې وه او د هغې بچی وسو او بيا څو وخت وروسته چې د هغې بچی غټ سو نو يو څوک يې قتل کړي يا د چا مال يې هلاک او ضايع کړی، نو د هغه ضمان (تاوان) پر راهن دی، نه پر مرتهن. نو د ديت او فديې مطالبه به له راهن څخه کيږي: ځکه د مرهون بچی د مرتهن په ضمان کې نه داخليږي، لهذا د هغه د جرم او جنايت ضمان به هم پر مرتهن نه وي، بيا که راهن په ضمان کې هغه قاتل بچی د مقتول وارثانو ته ورکړي. نو هغه بچی د مخکې په څېر د خپلې مور سره رهن پاتيږي. لېکن په دواړو صورتونو کې د مرتهن د

قرض پوره اداني. هم نه ساقطيږي (بلکي مرتهن ته به خپل پوره قرض ورکول کيږي)؛ ځکه چي د مرهون د بچي سره د مرتهن هيڅ تعلق نسته.

که مرهون غلام د خپل ځان د قيمت په اندازه مال هلاک کړي نو څه حکم دی؟

وَلَوِ اسْتَهْلَكَ الْعَبْدُ الْمَرْهُوْنُ مَالًا يَسْتَغْرِقُ رَقَبَتَهُ او که چيري مرهون غلام دومره مال هلاک کړي کوم چي د هغه ټولي رقبې لره محيط وي فَإِنْ أَدَّى الْمُرْتَهِنُ الدَّيْنَ الَّذِيْ لَزِمَ الْعَبْدَ نو که مرتهن هغه قرض اداء کړي کوم چي پر غلام لازم سوی دی فَدَيْنُهُ عَلٰى حَالِهِ نو د مرتهن قرض پر خپل حال باقي پاتيږي كَمَا فِي الْفِدَاءِ لکه د فديه ورکولو په صورت کي وَإِنْ أَبٰى او که مرتهن انکار وکړي قِيْلَ لِلرَّاهِنِ: بِعْهُ فِي الدَّيْنِ نو راهن ته به ويل کيږي: چي دا غلام په قرض کي خرڅ کړه! إِلَّا أَنْ يَخْتَارَ أَنْ يُؤَدِّيَ عَنْهُ مګر دا چي راهن د غلام له طرفه ضمان [فديه] ورکول اختيار کړي فَإِنْ أَدّٰى نو که راهن ضمان اداء کړي بَطَلَ دَيْنُ الْمُرْتَهِنِ نو د مرتهن قرض باطليږي كَمَا ذَكَرْنَا فِي الْفِدَاءِ لکه څرنګه چي په فديه ورکولو کي مو ذکر کړه وَإِنْ لَمْ يُؤَدِّ وَبِيْعَ الْعَبْدُ فِيْهِ او که راهن ضمان اداء نه کړي او په هغه ضمان کي غلام خرڅ کړی سي [يعني د هلاک سوي مال ضمان کوم چي پر غلام قرض دی که چيري راهن هغه اداء نه کړي بلکي د هغه ضمان (قرض) اداء کولو لپاره غلام خرڅ کړي] يَأْخُذُ صَاحِبُ دَيْنِ الْعَبْدِ دَيْنَهُ نو د غلام د قرض مالک [قرضخواه] به خپل قرض اخلي [يعني غلام چي د کوم سړي مال هلاک کړی دی چي هغه پر غلام قرض ګرځېدلي دی. نو تر ټولو مخکي به هغه سړی د غلام ثمن په خپل قرض کي واخلي] لِأَنَّ دَيْنَ الْعَبْدِ مُقَدَّمٌ عَلٰى دَيْنِ الْمُرْتَهِنِ وَحَقِّ وَلِيِّ الْجِنَايَةِ ځکه چي د غلام قرض د مرتهن پر قرض او د جنايت د ولي پر حق مخکي دی لِتَقَدُّمِهِ عَلٰى حَقِّ الْمَوْلٰى ځکه چي د غلام قرض د مالک پر حق لا مخکي دی فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ بيا که څه مقدار اضافه [زائد] پاته سي وَدَيْنُ غَرِيْمِ الْعَبْدِ مِثْلُ دَيْنِ الْمُرْتَهِنِ أَوْ أَكْثَرُ او د غلام د قرضخواه قرض د مرتهن د قرض په څېر وي [يعني دواړه سره برابره وي] يا زيات وي فَالْفَضْلُ لِلرَّاهِنِ نو اضافه [زائد مقدار] د راهن دی وَبَطَلَ دَيْنُ الْمُرْتَهِنِ او د مرتهن قرض باطليږي لِأَنَّ الرَّقَبَةَ اسْتُحِقَّتْ لِمَعْنًى هُوَ فِيْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ ځکه چي رقبه [غلام] د داسي سبب په وجه مستحق ختلی دی چي هغه د مرتهن په ضمان کي دی فَأَشْبَهَ الْهَلَاكَ نو دا د هلاکېدلو سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿فَضَلَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: اضافه کېدل. زیاتېدل. باقي پاتېدل (مصباح منیر).

﴿یستغرق﴾ د استفعال د باب مضارع ده: په پوره توګه نیول. غرقول. په پوره توګه احاطه کول.

﴿رقبة﴾ غاړه. مراد: ذات.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که مرهون غلام د یو چا دومره مال هلاک کړي چې هغه او د غلام قیمت سره برابر وي یا هغه مال د غلام له قیمت څخه زیات وي. نو په دې صورت کې به هم اول مرتهن ته ویل کیږي چې ورو‌ره! غلام دغه جنایت ستا په ضمان کې کړی دی. نو ځکه د هغه ضمان (تاوان) او فدیه به ته اداء کوې!. که چیرې هغه ضمان اداء کړي. نو د مخکې په څېر د مرتهن قرض پر راهن باقي پاتیږي، او که مرتهن له ضمان ورکولو څخه انکار وکړي. نو بیا راهن ته هاغه مخکیني دوه اختیاره حاصلیږي: ① چې که خوښه یې وي نو ضمان (قرض) دې اداء کړي. ② او که وغواړي نو غلام دې خرڅ کړي. او له دې دواړو څخه چې راهن کوم یو هم اختیار کړي. د مرتهن قرض د هغه له غاړې څخه ساقطیږي. اوس که چیرې راهن ضمان اداء کړي، نو ښکاره ده چې هغه د یو داسې جنایت ضمان ورکړی کوم چې پر مرتهن واجب دی، نو ځکه په ضمان اداء کولو سره راهن د مرتهن له قرض څخه بري کیږي او د مرتهن قرض باطلیږي. او که چیرې راهن په دې ضمان (غلام) کې غلام خرڅ کړي، نو د غلام له ثمن څخه به تر ټولو مخکې د صاحبُ الدَین (د قرض د مالک) حق ورکول کیږي (یعني غلام چې د چا مال هلاک کړی دی. تر ټولو مخکې به هغه ته خپل حق ورکول کیږي)؛ او مرتهن ته به څه نه ورکول کیږي، ځکه چې غلام د همدې صاحبُ الدَین د قرض لپاره خرڅ کړی سوی دی، او ځکه چې دا قرض د غلام ذاتي قرض دی او پر مرتهن چې د راهن کوم قرض دی هغه د غلام ذاتي قرض نه دی، نو ځکه د غلام له ثمن څخه به تر ټولو مخکې د غلام ذاتي قرض اداء کول کیږي. همدارنګه که غلام یو بل جنایت هم کړی وي (مثلاً د زید غاښ یې ایستلی وي). نو د هغه دا ذاتي قرض به د جنایت د ولي (زید) له حق څخه هم مخکې کول کیږي په دې توګه چې کله غلام د جنایت ولي (زید) ته وسپارل سي نو هغه ته به حکم کیږي چې دا غلام خرڅ کړه! او تر ټولو مخکې د صاحبُ الدَین قرض اداء کړه!. لنډه دا چې د صاحبُ الدَین حق به د جنایت د ولي تر حق هم مخکې کول کیږي؛ د دې وجه دا ده چې د غلام د مقروض کېدلو په صورت کې د قرض د مالک (صاحبُ الدَین) حق د غلام د مالک له حق څخه هم مخکې دی (یعني اول به د هغه کس حق اداء کول کیږي چې پر غلام یې قرض باندې دی، او بیا د غلام د مالک حق...). لهذا کله چې د صاحبُ الدَین حق د غلام د مالک (راهن) له حق څخه هم مخکې دی، نو د مرتهن او د جنایت د ولي له حق څخه خو به په درجه اولیٰ د صاحبُ

الدَين حق مخکي وي، نو ځکه دلته حکم دا دی چې د غلام له ثمن څخه به تر ټولو مخکې د هغه ذاتي قرض اداء کول کيږي.

فإن فضل شئ إلخ: بيا که د غلام د ذاتي قرض تر اداء کولو وروسته د غلام له ثمن څخه لږ ثمن زائد پاته سي او حالت دا وي چې د صاحبُ الدَين قرض (يا په بله وينا د غلام ذاتي قرض) د مرتهن د قرض سره برابر وي يا تر هغه زيات وي، نو پاته زائد ثمن د راهن حق کيږي. نه د مرتهن. او د مرتهن حق (قرض) باطليږي يعني هغه ته به د خپل قرض په عوض کي هيڅ نه ور کول کيږي: ځکه چې غلام د همدې مرتهن په ضمان کي مقروض سوی دی او د بل چا مستحق ختلی دی (يعني کله چې مرهون غلام د مرتهن په قبضه کي د بل چا مال هلاک کړی، نو هغه مال پر غلام قرض سو او غلام د مال د مالک [صاحبُ الدَين] مُستحَق وختی، يعني په غلام کي د مال د مالک حق ثابت سو). نو دا د مرهون غلام د هلاکېدلو په څېر سوه (ګواکي مرهون غلام هلاک سو). او تاسي ته معلومه ده چې که مرهون غلام د مرتهن سره هلاک سي. نو د هغه قرض ساقطيږي، نو ځکه په دې پورتنۍ مسئله کي به هم د مرتهن قرض ساقطيږي.

که د غلام قرض (هلاک سوی مال) د مرتهن له قرض څخه کم وي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ كَانَ دَيْنُ الْعَبْدِ أَقَلَّ او که د غلام قرض [د مرتهن له قرض څخه] کم وي سَقَطَ مِنْ دَيْنِ الْمُرْتَهِنِ بِقَدْرِ دَيْنِ الْعَبْدِ نو د مرتهن له قرض څخه د غلام د قرض په اندازه ساقطيږي وَمَا فَضَلَ مِنْ دَيْنِ الْعَبْدِ او څه چې د غلام له قرض څخه اضافه [زائد] پاته سي يَبْقَى رَهْنًا كَمَا كَانَ نو هغه رهن پاتيږي لکه څرنګه چې [مخکي] رهن وو ثُمَّ إِنْ كَانَ دَيْنُ الْمُرْتَهِنِ قَدْ حَلَّ بيا که د مرتهن د قرض اداء کېدلو وخت راغلی وي أَخَذَهُ بِهِ نو مرتهن دې هغه واخلي لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِ حَقِّهِ ځکه چې دا د هغه د حق له جنس څخه دي وَإِنْ كَانَ لَمْ يَحِلَّ او که د قرض اداء کېدلو وخت نه وي راغلی أَمْسَكَهُ حَتَّى يَحِلَّ نو مرتهن دې هغه راوګرځوي تر دې چې د قرض اداء کېدلو وخت راسي وَإِنْ كَانَ ثَمَنُ الْعَبْدِ لَا يَفِي بِدَيْنِ الْغَرِيمِ او که د غلام ثمن د قرضخواه [صاحبُ الدَين] قرض نه پوره کوي أَخَذَ الثَّمَنَ نو قرضخواه دې ثمن واخلي وَلَمْ يَرْجِعْ بِمَا بَقِيَ عَلَى أَحَدٍ او څه چې پاته سي په هغه سره دې پر هيچا رجوع نه کوي حَتَّى يُعْتَقَ الْعَبْدُ تر دې چې غلام آزاد سي لِأَنَّ الْحَقَّ فِي دَيْنِ الِاسْتِهْلَاكِ يَتَعَلَّقُ بِرَقَبَتِهِ ځکه په دينِ استهلاک کي حق د غلام د رقبې [ذات] سره متعلق وي وَقَدِ اسْتُوفِيَتْ او رقبه ترلاسه سوې ده [ځکه چې خرڅه کړل سوې ده] فَيَتَأَخَّرُ إِلَى مَا بَعْدَ الْعِتْقِ نو ځکه دا حق به تر آزادۍ

وروسته پورې مؤخر کيږي ثُمَّ إِذَا أَدَّى بَعْدَهُ بيا کله چې تر آزادۍ وروسته غلام (هغه حق) اداء کړي لَا يَرْجِعُ عَلَى أَحَدٍ نو هغه به پر هيچا رجوع نه کوي لِأَنَّهُ وَجَبَ عَلَيْهِ بِفِعْلِهِ ځکه چې دا حق د خپل فعل په وجه پر هغه واجب سوی دی.

اللغات: ﴿فضل﴾ د نصر د باب ماضي ده. د تېر عبارت په لغات کي د دې وضاحت وسو. ﴿أمسكه﴾ د افعال د باب ماضي ده: نيول. راګرځول. ﴿الغريم﴾ دا لفظ له اضدادو څخه دی مقروض او قرضخواه دواړو ته وايي. دلته قرضخواه (د قرض مالک) ځني مراد دی چې په تېر عبارت کي هغه په صاحبُ الدَّين سره نومول سوی دی. ﴿دين الاستهلاک﴾ که يو څوک د بل چا مال هلاک کړي چې د هغه په وجه مال پر هلاکونکي کَس قرض پاته سي، نو داسي قرض ته "دَين الاستهلاك" وايي.

تشريح: مخکي چي کوم حکم او تفصيل ذکر سو، دا هغه وخت دی کله چې د غلام د قرضخواه يعني د صاحبُ الدَّين (صاحبُ المال) قرض او د مرتهن قرض سره برابر وي يا د صاحبُ الدَّين قرض زيات وي، او که پر غلام د صاحبُ الدَّين قرض د مرتهن له قرض څخه کم وي او د مرتهن قرض زيات وي، نو حکم دا دی چې د صاحبُ الدَّين د قرض په اندازه د مرتهن له قرض څخه ساقطيږي، يا په بله وينا دا چې که مرهون غلام د يو چا (مثلاً د خالد) دوه سوه درهمه مال هلاک کړي نو دا دوه سوه درهمه پر دې مرهون غلام قرض سو، او د غلام قيمت زر درهمه دي او د مرتهن قرض هم زر درهمه دي، نو په دې صورت کي د مرتهن له قرض څخه دوه سوه درهمه ساقطيږي چې هغه به صاحبُ الدَّين (خالد) ته ورکول کيږي او باقي اته سوه درهمه د مرتهن سره رهن پاتيږي.

اوس د مرتهن سره چې کوم اته سوه درهمه دي، د هغه حکم دا دی چې که د قرض اداء کېدلو وخت راغلی وي، نو مرتهن دې د خپل قرض په عوض کي هغه (اته سوه درهمه) واخلي: ځکه چې هغه د مرتهن د حق يعني د قرض له جنس څخه دي او که تر اوسه د قرض اداء کېدلو وخت نه وي راغلی، نو هغه (اته سوه درهمه) دې مرتهن د خپل ځان سره د رهن په توګه وساتي. او کله چې وخت راسي نو د خپل قرض په عوض کي دې هغه واخلي.

وإن كان إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د بل چا (مثلاً د خالد) د مال هلاکولو په وجه غلام خرڅ کړی سو لېکن هلاک سوی مال (يعني د صاحبُ الدَّين [خالد] قرض) دوه زره درهمه دي او د غلام ثمن صرف زر درهمه دي او د مرتهن قرض هم زر درهمه دي يعني هغه د صاحبُ الدَّين (خالد) له قرض څخه کم دي، نو اوس حکم دا دی چې د مرتهن قرض ساقط سو، او هغه زر درهمه کوم چې د غلام ثمن دی، هغه دې صاحبُ الدَّين (خالد) ته ورکول سي او هغه ته دې وويل سي چې دا زر درهمه واخله او په

همدې اکتفاء وکړه او له راهن یا مرتهن څخه د نور مال مطالبه مه کوه!. ها! کله چې غلام یو وخت آزادسي، نو هغه به تا ته ستا ما بقي حق هم درکړي: ځکه چې ستا حق د رقبې یعني د غلام سره متعلق دی او غلام خرڅ کړی سوی دی، او څرنګه چې په دې رقبه سره د قرضخواه ټوله مال (قرض) نه دی ترلاسه سوی (بلکي زر درهمه لا پاته یې)، نو ځکه باقي مانده مال به غلام (رقبه) تر آزادېدلو وروسته اداء کوي. او کله چې بعد العتق غلام د قرضخواه باقي مانده مال اداء کړي. نو بیا غلام ته دا حق نسته چې له راهن یا مرتهن څخه د هغه مال مطالبه وکړي: ځکه چې هغه مال (قرض) د غلام د خپل فعل او جنایت (ملاکولو) په وجه پر هغه واجب سوی دی. نو ځکه د هغه اداء کول به هم د غلام پر ذمه وي. (احسن الهدایه)

د مذکوره غلام د قیمت زیاتېدلو صورت

وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الْعَبْدِ أَلْفَيْنِ او که د غلام قیمت دوه زره درهمه وي وَهُوَ رَهْنٌ بِأَلْفٍ او هغه د زرو درهمو په عوض کي رهن وي [یعني د مرتهن قرض زر درهمه وي] وَقَدْ جَنَى الْعَبْدُ او غلام یو جنایت کړی وي يُقَالُ لَهُمَا: اِفْدِيَاهُ نو راهن او مرتهن دواړو ته به ویل کیږي: چې د هغه فدیه اداء کړئ! لِأَنَّ النِّصْفَ مِنْهُ مَضْمُونٌ وَالنِّصْفُ أَمَانَةٌ ځکه چې [دلته] د غلام د نصف ضمان لازم دی او نصف یې امانت دی وَالْفِدَاءُ فِي الْمَضْمُونِ عَلَى الْمُرْتَهِنِ او په مضمون کي [یعني د کوم مقدار چې ضمان لازم وي د هغه] فدیه پر مرتهن ده وَفِي الْأَمَانَةِ عَلَى الرَّاهِنِ او په امانت کي پر راهن ده فَإِنْ أَجْمَعَا عَلَى الدَّفْعِ بیا که دوی دواړه د غلام پر ورکولو اتفاق وکړي دَفَعَاهُ نو دوی دې غلام ورکړي وَبَطَلَ دَيْنُ الْمُرْتَهِنِ او د مرتهن قرض باطلیږي وَالدَّفْعُ لَا يَجُوزُ فِي الْحَقِيقَةِ مِنَ الْمُرْتَهِنِ او غلام ورکول په حقیقت کي د مرتهن له طرفه جائز نه دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَإِنَّمَا مِنْهُ الرِّضَا بِهِ او د هغه له طرفه خو صرف د غلام په ورکولو راضي کېدل دي فَإِنْ تَشَاحَّا بیا که دوی دواړه تنازع وکړي فَالْقَوْلُ لِمَنْ قَالَ: أَنَا أَفْدِي نو قول د هغه یوه معتبر دی کوم چې ووایي: زه فدیه ورکوم رَاهِنًا كَانَ أَوْ مُرْتَهِنًا برابره ده هغه راهن وي او که مرتهن وي أَمَّا الْمُرْتَهِنُ فَلِأَنَّهُ لَيْسَ فِي الْفِدَاءِ إِبْطَالُ حَقِّ الرَّاهِنِ کوم چې مرتهن دی نو ځکه چې په فدیه ورکولو کي د راهن د حق باطلول سته وَفِي الدَّفْعِ الَّذِي يَخْتَارُهُ الرَّاهِنُ إِبْطَالُ حَقِّ الْمُرْتَهِنِ او په هغه ورکړه د غلام کي کوم چې یې راهن اختیار کړي د مرتهن د حق باطلول سته.

اللغات: ﴿جنی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جنایت کول، جرم کول، داسي کار کول چي د هغه په وجه ضمان (تاوان) لازمیږي. ﴿تشاحّا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده. په اصل کي له شُحّ څخه مشتق دی کوم چي بخل او حرص ته وایي، لکه څرنګه چي په عربي کي ویل کیږي: "تَشَاحَ الرَّجُلَانِ عَلَى هٰذَا الأمْرِ" دوو خلکو پر دغه شي حرص وکړی یعني هر یوه دا غوښتل چي زما څخه فوت نه سي "أيْ حَرصَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى أنْ لَا يَفُوْتَهُ هٰذَا الأمْرَ"، دلته ځني مراد تنازع ده یعني جګړه او جنجال کول دي. لکه څرنګه چي په حاشیه کي ذکر سوي دي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي یو غلام د زرو درهمو په عوض کي رهن (مرهون) دی او د هغه قیمت دوه زره رهمه دی او بیا هغه یو جنایت (جرم) وکړی، نو راهن او مرتهن دواړو ته دوه اختیاره حاصلیږي:

①... یا دواړه دي فدیه اداء کړي، ②... یا دي دواړه هغه جنایتکاره غلام ولي د جنایت ته ورکړي.

که چیري دواړه فدیه اختیار کړي، نو پر مرتهن او راهن دواړو نصف، نصف فدیه واجبیږي: ځکه چي د مرتهن قرض د غلام د نصف قیمت په اندازه دی (ځکه د مرتهن قرض زر درهمه دی او د غلام قیمت دوه زره درهمه دی)، نو د مرتهن سره د غلام نصف مضمون دی او د مضمون مقدار فدیه پر مرتهن واجب ده، نو ځکه نصف فدیه به هغه اداء کوي او د پاته نصف فدیه پر راهن واجب ده، نو ځکه نصف فدیه به راهن اداء کوي.

او که چیري دوی دواړه د غلام ورکول اختیار کړي چي ولي د جنایت ته دا جنایتکاره غلام ورکوو، نو دا هم جائز دي، لیکن په دې صورت کي د مرتهن قرض باطلیږي او ساقطیږي، ځکه چي په حقیقت کي د مرتهن له طرفه غلام ورکول نا معتبر او نا جائز دي؛ ځکه چي دا د مالک (راهن) کار دی چي غلام د جنایت ولي ته ورکړي او هغه ته یې وسپاري، حالانکي مرتهن د غلام مالک نه دی (مالک خو یې راهن دی)، نو ځکه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د دې وضاحت کړی دی چي د مرتهن کار د غلام پر ورکولو رضا او خوښي ښکاره کول دي (وإنما منه الرضا إلخ)، او ښکاره خبره ده چي که مرتهن (د خپل حق په ساقطبدلو) راضي سي نو د مرتهن حق ساقطیږي او باطلیږي.

فإن تشاحا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که راهن او مرتهن اختلاف سره وکړي او راهن ووایي چي زه غلام ولي د جنایت ته ورکوم او مرتهن ووایي چي زه فدیه ورکوم. یا د دې برعکس دواړه ووایي. نو په دې صورت کي د هغه یوه قول معتبر دی کوم چي فدیه ورکول اختیار کړي، برابره ده هغه راهن وي او که مرتهن وي؛ ځکه په فدیه ورکولو کي نه د راهن نقصان دی او نه د مرتهن. حال دا چي د غلام په

ورکولو کې د مرتهن نقصان دی چې د هغه حق یعني قرض باطلیږي، او شریعت موږ ته د داسې لارې داختیارولو حکم کړی دی چې په هغه کې د هیچا ضرر او نقصان نه وي، نو ځکه د اختلاف په صورت کې به د فدیه ورکونکي قول معتبر وي.

که د مرهون اولاد جنایت وکړي نو فدیه به څوک ورکوي؟

وَكَذَا فِي جِنَايَةِ وَلَدِ الرَّهْنِ إِذَا قَالَ الْمُرْتَهِنُ: أَنَا أَفْدِي او همدارنګه د مرهون د بچي په جنایت کې چې کله مرتهن ووایي: زه فدیه ورکوم لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې اختیار سته وَإِنْ كَانَ الْمَالِكُ يَخْتَارُ الدَّفْعَ که څه هم مالک [راهن] د بچي ورکول اختیار کړي لِأَنَّهُ إِنْ لَمْ يَكُنْ مَضْمُونًا ځکه بچی که څه هم مضمون نه دی فَهُوَ مَحْبُوسٌ بِدَيْنِهِ خو [بیا هم] هغه د مرتهن د قرض په عوض کې محبوس دی وَلَهُ فِي الْفِدَاءِ غَرَضٌ صَحِيحٌ او په فدیه ورکولو کې د مرتهن صحیح غرض دی وَلَا ضَرَرَ عَلَى الرَّاهِنِ او پر راهن هیڅ ضرر هم نسته فَكَانَ لَهُ أَنْ يَفْدِيَ نو ځکه هغه ته به دا اختیار وي چې[مرتهن ته] فدیه ورکړي وَأَمَّا الرَّاهِنُ فَلِأَنَّهُ لَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ وِلَايَةُ الدَّفْعِ او کوم چې راهن دی نو ځکه چې مرتهن لره د ورکولو ولایت نسته لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی فَكَيْفَ يَخْتَارُهُ نو مرتهن څرنګه هغه [دفع] اختیارولای سي وَيَكُونُ الْمُرْتَهِنُ فِي الْفِدَاءِ مُتَطَوِّعًا فِي حِصَّةِ الْأَمَانَةِ او د امانت والا د حصې په فدیه ورکولو کې به مرتهن متبرّع وي حَتَّى لَا يَرْجِعَ عَلَى الرَّاهِنِ تر دې چې پر راهن رجوع نه سي کولای لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ لَا يَخْتَارَهُ ځکه چې مرتهن لره دا ممکن دي [یعني هغه ته دا اختیار هم سته] چې فدیه ورکول اختیار نه کړي فَيُخَاطَبُ الرَّاهِنُ نو راهن به [په هغه سره] مخاطب وای فَلَمَّا الْتَزَمَهُ وَالْحَالَةُ هٰذِهِ نو کله چې مرتهن د فدیې ورکول پر ځان لازم کړه او حالت دا دی [چې راهن به مخاطب وای] كَانَ مُتَبَرِّعًا نو مرتهن به متبرع وي وَهٰذَا عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَرْجِعُ مَعَ الْحُضُورِ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د نقل سوي یوه روایت مطابق دي چې متبرّع به د راهن د حاضر والي په وخت کې رجوع نه کوي وَسَنُبَيِّنُ الْقَوْلَيْنِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او موږ به دواړه قولونه ان شاء الله تعالیٰ ژر بیان کړو.

اللغات: ﴿محبوس﴾ د ضرب د باب مفعول دی: راګیرځول سوی. بند (بندي). ﴿متطوع﴾ د تفعل د باب فاعل دی: غیرلازم کار کونکی، احسان کونکی، یا په بله وینا بلاعوضه مفت ورکونکی. احساناً (د مرستي په توګه) ورکونکی. متبرّع. داسي کس د رجوع (واپس اخیستلو) حق نه لري.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که د مرهون (مثلاً د مرهونه مینځي) څوی څه جنایت وکړي. نو د هغه فدیه پر مرتهن نه واجبیږي؛ ځکه چي د مرهون څوی د مرتهن سره مضمون نه وي بلکي امانت وي او پر مرتهن صرف د مضمون مقدار فدیه او ضمان واجبیږي. نه د امانت. خو بیا هم که مرتهن د هغه فدیه اداء کول وغواړي. نو هغه ته د دې اختیار سته؛ ځکه چي د مرهون څوی د مرتهن د قرض په عوض کي محبوس دی او په فدیه اداء کولو کي د هغه مقصد هم غوره او نېک غرض دی یعني تبرّع کول دي او د راهن په دې کي هیڅ ضرر نسته. بلکي د هغه پکښي ګټه ده چي: راهن له غاړي څخه یو بار لیري کیږي. نو ځکه که د څوی د جنایت په فدیه ورکولو کي د راهن او مرتهن تر مینځ اختلاف راسي او مرتهن فدیه اداء کړي. نو مرتهن ته د دې اختیار سته: ځکه مرتهن د جنایت په عوض کي د مرهون څوی نه سي ورکولای ځکه چي هغه د مرهون د څوی مالک نه دی. نو ځکه هغه ته به د فدیې ورکولو حق او اختیار وي.

او که صورت د دې په خلاف وي یعني مرتهن وغواړي چي د مرهون څوی ورکړي او راهن وغواړي چي فدیه ورکړي. نو په دې صورت کي د فدیې ورکول یعني د راهن قول معتبر دی: ځکه چي د مرتهن له طرفه د مرهون څوی ورکول ممکن نه دي ځکه چي هغه یې مالک نه دی (لکه مخکي چي هم ذکر سوه). په همدې وجه فرمایي چي که مرتهن فدیه اداء کړي. نو هغه متبرّع کڼل کیږي او هغه ته بیا دا حق نسته چي له راهن څخه د فدیې مال واپس واخلي.

وهذا على ما روي إلخ: فرمایي چي په دې مسئله کي د مرتهن د فدیې ورکولو په صورت کي د هغه د متبرّع کېدلو حکم مطلق دی یعني راهن برابره ده حاضر وي او که غائب وي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د یوه قول مطابق په هر صورت کي مرتهن متبرّع دی. لېکن په بعضې روایتونو کي قول د دې په خلاف ذکر سوی دی چي هغه به وروسته ذکر سي. لکه څرنګه چي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایلي دي:

وسنبيّن القولين إن شاء الله تعالى.

د مرهون غلام د جنایت له فدیې ورکولو څخه د نکار کولو حکم

وَلَوْ أَبَى الْمُرْتَهِنُ أَنْ يَفْدِيَ او که چیري مرتهن انکار وکړي [له دې څخه] چي فدیه ورکړي وَفَدَاهُ الرَّاهِنُ او راهن د هغه فدیه ورکړي فَإِنَّهُ يُحْتَسَبُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ نِصْفُ الْفِدَاءِ مِنْ دَيْنِهِ نو پر مرتهن به د هغه له قرض څخه نیمه فدیه حساب کیږي لِأَنَّ سُقُوطَ الدَّيْنِ أَمْرٌ لَازِمٌ ځکه چي د قرض

ساقطېدل يو لازمي امر دى فَدَىٰ أَوْ دَفَعَ برابره ده راهن فديه وركړي او كه غلام وركړي. فَلَمْ يُجْعَلِ الرَّاهِنُ فِي الْفِدَاءِ مُتَطَوِّعًا نو راهن به په فديه وركولو كي متبرع نه ګرځول كيږي ثُمَّ يُنْظَرُ إِنْ كَانَ نِصْفُ الْفِدَاءِ مِثْلَ الدَّيْنِ أَوْ أَكْثَرَ بيا به كتل كيږي چي كه نصف فديه د قرض په شمېر يا تر هغه زيات وي بَطَلَ الدَّيْنُ نو قرض باطليږي وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ او كه قرض كم وي سَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ بِقَدْرِ نِصْفِ الْفِدَاءِ نو له قرض څخه د نيمي فديې په اندازه ساقطيږي وَكَانَ الْعَبْدُ رَهْنًا بِمَا بَقِيَ او د پاته مقدار په عوض كي دا غلام رهن [مرهون] كيږي لِأَنَّ الْفِدَاءَ فِي نِصْفٍ كَانَ عَلَيْهِ ځكه چي نيمه فديه وركول پر مرتهن لازمه وه فَإِذَا أَدَّاهُ الرَّاهِنُ وَهُوَ لَيْسَ بِمُتَطَوِّعٍ نو كله چي راهن هغه اداء كړه حال دا چي هغه متبرع نه دى كَانَ لَهُ الرُّجُوعُ عَلَيْهِ نو ځكه راهن ته به پر مرتهن د رجوع كولو حق وي فَيَصِيرُ قِصَاصًا بِدَيْنِهِ بيا به هغه د مرتهن د قرض په عوض كي مقاصه كيږي كَأَنَّهُ أَوْفَى نِصْفَهُ ګواكي راهن د مرتهن نيم قرض اداء كړى فَيَبْقَى الْعَبْدُ رَهْنًا بِمَا بَقِيَ نو ځكه غلام به د پاته مقدار په عوض كي رهن [مرهون] پاتيږي.

اللغات: ﴿فداه﴾ د ضرب د باب ماضي ده: فديه وركول. ﴿يحتسب﴾ د افتعال له باب څخه د مضارع مجهولي صيغه ده: حسابېدل، حسابول، شمېرل (شمارل). ﴿فداء﴾ فديه، تاوان او جرمانه. تاكلى مقدار كوم چي (د جنايتكاره غلام) د ځان ژغورني لپاره وركول كيږي. ﴿قصاص﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى چي بل مصدر يې مُقَاصة راځي دواړه يو شى معناوي دي: په بدله كي راګرځول او بدله اخيستل، يو شى د بل شي سره تبادله كول، ادل بدل كول (مثلاً پر زيد د خالد لس درهمه قرض باندي وي، او بيا د خالد هم پر زيد لس درهمه قرض باندي سي، نو دوى خپل قرضونه سره مقابله او ادل بدل كړي، دې ته مقاصه وايي). ﴿أوفى﴾ د افعال د باب ماضي ده: پوره اداء كول.

تشريح: د عبارت تر حل مخكي په دې ځان پوه كړئ! چي دا مسئله د مرهون د جنايت كولو سره متعلق ده، نه د هغه د ځوى د جنايت كولو سره، نو كه چيري مرهون غلام (چي د هغه قيمت دوه زره درهمه دى) يو جنايت وكړي او مرتهن د هغه له فديه وركولو څخه انكار وكړي چي د هغه په وجه تر له فديه راهن اداء كړي، نو څرنګه چي پر مرتهن نصف فديه (يعني د مضمون مقدار فديه) واجب ده. نو ځكه راهن به له مرتهن څخه د نصف فديې مقدار واپس واخلي، يا راهن به هغه مقدار د مرتهن له قرض څخه ساقطوي، ځكه چي راهن د هغه له طرف په فديه وركولو كي متبرع نه دى. لهذا څرنګه چي د

غلام ورکولو په صورت کي د مرتهن قرض باطليږي او ساقطيږي. نو همداسي که راهن د مرتهن د حصې فديه اداء کړي، نو هم د هغه له قرض څخه د نصف فديې په اندازه قرض ساقطيږي.

ثم ينظر إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله د نصف فديې ورکول پر مرتهن لازم دي. نو تر ټولو مخکي به دې ته کتل کيږي چي د مرتهن قرض او د فديې نصف (کوم چي راهن د هغه له طرفه اداء کړی دی) سره برابر دي او که د فديې نصف تر زيات دی. که چيري برابر وي يا تر زيات وي. نو په دې دواړو صورتونو کي ټوله قرض باطليږي او ساقطيږي. او که قرض زيات وي مثلاً قرض زر درهمه وي او نصف فديه پنځه سوه درهمه وي. نو په دې صورت کي له قرض څخه د نصف فديې په اندازه ساقطيږي او غلام د پاته قرض يعني د پنځو سوو درهمو په عوض کي د مرتهن سره رهن (مرهون) پاتيږي: ځکه کله چي د نصف فديې ورکول پر مرتهن واجب دي او هغه اداء نه کړه بلکي د هغه پر ځای راهن اداء کړه او راهن متبرّع هم نه دی. نو ښکاره خبره ده چي هغه ته به دا اختيار وي چي له مرتهن څخه د نصف فديې مقدار واخلي. بيا که مرتهن هغه ورکړي، نو سمه ده، کنې د دې نصف فديې په اندازه د مرتهن قرض ساقطيږي او د راهن او مرتهن تر مينځ به داسي مقاصه کيږي چي ګواکي راهن د مرتهن نصف قرض اداء کړی دی او اوس فقط د پنځو سوو درهمو په عوض کي غلام مرهون دی.

که مرتهن د راهن په موجوديت کي فديه اداء کړي (حکم)

وَلَوْ كَانَ الْمُرْتَهِنُ فَدَى وَالرَّاهِنُ حَاضِرٌ او که مرتهن فديه اداء کړي او راهن حاضر وي فَهُوَ مُتَطَوِّعٌ نو مرتهن متبرّع دی وَإِنْ كَانَ غَائِبًا ليکن که راهن غائب وي لَمْ يَكُنْ مُتَطَوِّعًا نو هغه متبرّع نه دی وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَالْحَسَنُ وَزُفَرُ: او امام ابو يوسف، امام محمد، امام حسن او امام زفر رَحِمَهُمُ الله فرمايي الْمُرْتَهِنُ مُتَطَوِّعٌ فِي الْوَجْهَيْنِ چي مرتهن په دواړو صورتونو کي متبرّع دی لِأَنَّهُ فَدَى مِلْكَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ ځکه مرتهن د بل چا د ملکيت فديه اداء کړې ده د هغه له حکم څخه بغير فَأَشْبَهَ الْأَجْنَبِيَّ نو دا د اجنبي کس په څېر سو. وَلَهُ: أَنَّهُ إِذَا كَانَ الرَّاهِنُ حَاضِرًا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي کله راهن حاضر وي أَمْكَنَهُ مُخَاطَبَتُهُ نو راهن [په فديه سره] مخاطب کول ممکن دي [يا په بله وينا دا چي کله راهن حاضر وي. نو هغه په فديه اداء کولو مکلف کول ممکن دي] فَإِذَا فَدَاهُ الْمُرْتَهِنُ نو کله چي مرتهن فديه اداء کړه فَقَدْ تَبَرَّعَ كَالْأَجْنَبِيِّ نو د اجنبي کس په څېر هغه تبرّع وکړه فَأَمَّا إِذَا كَانَ الرَّاهِنُ غَائِبًا ليکن کله چي راهن

غائب وي تَعَذَّرَ مُخَاطَبَتُهُ نو هغه مخاطب کول [په فديه ادا، کولو مکلف کول] ممکن نه دي وَالْمُرْتَهِنُ يَحْتَاجُ إِلَى إِصْلَاحِ الْمَضْمُونِ او مرتهن د مضمون مقدار و اصلاح ته محتاج دی وَلَا يُمْكِنُهُ ذٰلِكَ إِلَّا بِإِصْلَاحِ الْأَمَانَةِ او مرتهن لره دا [د مضمون اصلاح] ممکنه نه ده مګر د امانت په اصلاح سره [يعني د امانت مقدار له اصلاح شخه بغير مرتهن لره د مضمون مقدار اصلاح ممکنه نه ده] فَلَا يَكُوْنُ مُتَبَرِّعًا نو ځکه هغه به متبرع نه وي.

اللغات: ﴿متطوع﴾ د تفعل د باب فاعل دی: په خپله رضا بلا عوضه اداء کونکی. يا په بله وينا بلاعوضه مفت ورکونکی، احساناً (د مرستي په توګه) ورکونکی، متبرع. داسي کس د رجوع حق نه لري. ﴿تعذّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: مشکل کېدل، ناممکن کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي که مرهون غلام يو جنايت وکړي او د غلام قيمت له قرض شخه زيات وي، نو له هغه شخه د مضمون مقدار (يعني د قرض د مقدار) فديه پر مرتهن واجب ده او د زائد مقدار (کوم چي امانت دی) فديه پر راهن واجب ده. اوس که چيري مرتهن د راهن فديه هم اداء کړي. نو د دې څه حکم دی؟.

فرمايي چي په دې باره کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي که د راهن په موجوديت کي مرتهن د هغه فديه اداء کړې وي، نو هغه متبرّع دی او که د راهن په ناموجوديت کي يې اداء کړې وي، نو متبرّع نه دی، د دې په خلاف د صاحبينو، امام زفر او امام حسن رَحِمَهُمُ الله رايه دا ده چي مرتهن په دواړو صورتونو کي متبرع دی برابره ده هغه د راهن په موجوديت کي د راهن د حصې فديه اداء کړې وي او که د هغه په ناموجوديت کي؛ د دې حضراتو دليل دا دی چي پر مرتهن (د قرض له مقدار شخه) د زائد مقدار (کوم چي د راهن حصه ده او د مرتهن سره امانت ده) فديه ورکول لازم نه دي. او هغه د راهن له حکم شخه بغير د هغه د حصې فديه ادا کړې ده، نو ځکه په دې سلسله کي هغه د اجنبي په څېر دی، او که چيري اجنبي کس د بل چا له حکم شخه بغير د هغه د حصې ضمان اداء کړي. نو هغه متبرّع کيږي، برابره ده هغه بل شوک موجود وي او که غائب وي. نو همداسي به په مذکوره مسئله کي هم په هر صورت کي مرتهن متبرّع وي.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي که راهن موجود وي. نو هغه د فديې په اداء کولو مکلف کول ممکن دي، لهذا د راهن په موجوديت کي چي مرتهن فديه اداء کړي. نو هغه به تبرّع وي او له تبرّع شخه بغير بل څه نه سي کېدلای. لېکن که راهن موجود نه وي، نو هغه په فديه اداء کولو مکلف کول ناممکن دي او د مضمون مقدار (يعني د قرض) د حفاظت او اصلاح لپاره مرتهن د هغه فديه اداء کولو ته محتاج او مجبوره دی. خو څرنګه چي د امانت مقدار (يعنيَ له قرض شخه د زائد مقدار) له

فديې اداء کولو څخه بغير دا ممکن نه دي (چې مرتهن د مضمون مقدار فديه اداء کړي). نو ځکه د امانت مقدار د فديې اداء کولو په باره کې هم مرتهن مجبوره دی. او مجبور متبرع کېدلای نه سي. په همدې وجه مونږ وايو چې که د راهن په ناموجوديت کې مرتهن د هغه د حصې (امانت مقدار) فديه اداء کړي. نو هغه متبرع نه دی او هغه ته دا حق سته چې د راهن د حصې په فديه کې چې څومره مقدار ور کړي. هغه بيرته له راهن څخه واخلي.

که راهن مړ سي او د هغه وصي مرهون خرڅ کړي او قرض په اداء کړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ الرَّاهِنُ فرمايي: او کله چې راهن مړ سي بَاعَ وَصِيُّهُ الرَّهْنَ وَقَضَى الدَّيْنَ نو د هغه وصي دې مرهون خرڅ کړي او قرض دې اداء کړي لِأَنَّ الْوَصِيَّ قَائِمٌ مَقَامَهُ ځکه چې وصي د راهن قائم مقام دی وَلَوْ تَوَلَّى الْمُوصِي حَيًّا بِنَفْسِهِ او که خپله موصي [راهن] د ژوند په حالت کې متولي وای كَانَ لَهُ وِلَايَةُ الْبَيْعِ بِإِذْنِ الْمُرْتَهِنِ نو د مرتهن په اجازه سره به هغه لره د بيع [يعني د مرهون د خرڅولو ولايت وای فَكَذَا الْوَصِيُّ نو همداسي به وصي لره هم [دا ولايت] وي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَصِيٌّ او که د راهن هيڅ وصي نه وي نَصَبَ الْقَاضِي لَهُ وَصِيًّا نو قاضي دې د هغه لپاره يو وصي ودروي [مقرر کړي] وَأَمَرَهُ بِبَيْعِهِ او هغه ته دې د مرهون د خرڅولو حکم وکړي لِأَنَّ الْقَاضِيَ نُصِبَ نَاظِرًا لِحُقُوقِ الْمُسْلِمِينَ إِذَا عَجَزُوا عَنِ النَّظَرِ لِأَنْفُسِهِمْ ځکه چې قاضي د مسلمانانو د حقوقو لپاره د نګران [او محافظ] په توګه درول سوی دی کله چې مسلمانان له خپل مصلحت [او حفاظت] څخه عاجزه سي وَالنَّظَرُ فِي نَصْبِ الْوَصِيِّ لِيُؤَدِّيَ مَا عَلَيْهِ لِغَيْرِهِ او د وصي په درولو [مقرر کولو] کې مصلحت دا دی چې وصي هغه حق اداء کړی کوم چې پر موصي د بل چا لپاره دی [يعني د وصي پر موصي چې د بل چا کوم حق باندې دی. وصي هغه اداء کړي] وَيَسْتَوْفِيَ مَالَهُ مِنْ غَيْرِهِ او چې د موصي مال له بل چا څخه ترلاسه کړي.

اللغات: ﴿وصي﴾ هغه کس چې مړي (راهن) وصيت ورته کړی وي (چا ته چې مړي يو کار سپارلی وي).

﴿نَصَبَ﴾ د ماضي صيغه ده. له ضرب او نصر دواړو څخه راځي همدارنګه د تفعيل له باب څخه هم ويل کېدلای سي يعني نَصَّبَ: درول، مقرّر کول (ټاکل). ﴿ناظر﴾ نګران، ساتونکی او پام کونکی.

مصلحت رعایت کونکی (مصلحت غوښتونکی)، ﴿النظر﴾ مصلحت (ښېګڼه)، ﴿یستوفي﴾ داستفعال دباب مضارع ده: (حق) ترلاسه کول، اخیستل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که راهن مړ سي، نو تر دې وروسته د راهن د وصي ذمه واري دا ده چې مرهون خرڅ کړي او د مرتهن قرض اداء کړي: ځکه وصي د موصي (مړي) قائم مقام دي، او که چیري خپله راهن ژوندی وای، نو ښکاره ده چې هغه به هم دغه کار کولای، لهذا کله چې اصل (راهن) ته د مرتهن په اجازه سره د مرهون د خرڅولو ولایت حاصل دی، نو د هغه نائب او قائم مقام یعني وصي ته به هم دا ولایت حاصل وي.

لېکن که چې د راهن وصي نه وي، نو قاضي دي د هغه له طرفه یو وصي مقرر کړي او هغه ته دي د مرهون د خرڅولو حکم وکړي: ځکه چې قاضي د مسلمانانو د معاملاتو او حقوقو لپاره د مُحافظ او مُنتظِم په توګه ټاکل سوی دی چې د هغوی د حقوقو حفاظت وکړي او د هغو تر مینځ د مصلحت او انصاف فیصلې وکړي، لهذا کله چې یو مسلمان د ځان لپاره له مصلحت اختیارولو څخه محروم سي (لکه دلته چې راهن د مرګ په وجه محروم سوی دی)، نو د قاضي فریضه دا ده چې د هغه په حق کې پر مصلحت او شفقت مبني فیصله وکړي. او په دې پورتني صورت کې د راهن له طرفه د وصي مقرر کولو فایده دا ده چې که پر دغه مړه راهن د یو چا حق باندي وي، نو وصي به هغه ورکړي او که د راهن پر بل چا حق باندې وي، نو هغه به ځني ترلاسه کړي چې د راهن حساب وکتاب بالکل صفا او ختم سي.

د مړي په څو قرضخواهانو کې یوه ته رهن ایښوول (حکم او تفصیل)

وَإِنْ كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ دَيْنٌ او که پر مړي قرض باندي وي فَرَهَنَ الْوَصِيُّ بَعْضَ التَّرِكَةِ عِنْدَ غَرِيمٍ مِنْ غُرَمَائِهِ نو [دمړي] وصي د میراث بعضي حصه [دمړي] له قرضخواهانو څخه یوه قرضخواه ته په رهن ورکړي لَمْ يَجُزْ نو دا جائز نه دي وَلِلْآخَرِينَ أَنْ يَرُدُّوهُ او نورو قرضخواهانو ته دا حق سته چې هغه [مرهونه حصه] را واپس کړي [یعني د میراث بعضي حصه له مرتهن قرضخواه څخه واپس واخلي] لِأَنَّهُ آثَرَ بَعْضَ الْغُرَمَاءِ بِالْإِيفَاءِ الْحُكْمِيِّ ځکه چې وصي په حکمي ایفاء [حکماً قرض اداء کولو] سره بعضي د قرضخواهانو [مرتهن قرضخواه] ته ترجیح ورکړې ده [ځکه قرضخواه ته یو شی په رهن ورکول

حکماً داسي دي لکه قرض ورکول] فَأَشْبَهَ الْإِيْثَارَ بِالْإِيْفَاءِ الْحَقِيْقِيِّ نو دا په حقيقي ايفاء سره د ترجيح ورکولو په شان سوه فَإِنْ قَضٰى دَيْنَهُمْ قَبْلَ أَنْ يَرُدُّوْهُ بيا که وصي د قرضخوهانو قرض اداء کړي مخکي تر دې چي دوی هغه [مرهونه حصه] را واپس کړي جَازَ نو جائز دي لِزَوَالِ الْمَانِعِ بِوُصُوْلِ حَقِّهِمْ إِلَيْهِمْ ځکه دوی ته د خپل حق [قرض] د رسېدلو په وجه مانع زائل سو وَلَوْلَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ غَرِيْمٌ آخَرُ او که چيري د مړي لپاره بل قرضخواه نه وي جَازَ الرَّهْنُ نو رهن جائز دی اِعْتِبَارًا بِالْإِيْفَاءِ الْحَقِيْقِيِّ پر حقيقي ايفاء په قياس کولو سره وَبِيْعَ فِيْ دَيْنِهِ او مرهون [مرهونه حصه] به د هغه په قرض کي خرڅول کيږي لِأَنَّهُ يُبَاعُ فِيْهِ قَبْلَ الرَّهْنِ ځکه چي هغه تر رهن مخکي هم په قرض کي خرڅول کېدلای سي فَكَذَا بَعْدَهُ نو همداسي تر رهن وروسته [به هم خرڅول کېدلای سي].

اللغات: ﴿غرماء﴾ جمع د "غَرِيْمٌ": د قرض مالک. قرضخواه (قرض غوښتونکی). چا چي بل چا ته قرض ورکړی وي. ﴿آثر﴾ د افعال د باب ماضي: ترجيح او فضيلت ورکول. ﴿وصول﴾ د ضرب د باب مصدر دی: رسېدل. ﴿إيفاء﴾ د افعالَ د با مصدر دی: (حق) اداء کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي که يو سړی مړ سي او پر هغه د څو خلګو قرض باندي وي. بيا د مړي وصي په هغه خلګو (قرضخواهانو) کي يوه ته د مړي څه ميراث په رهن ورکړي. نو دا جائز نه دي او نورو قرضخواهانو ته دا حق سته چي هغه مرهون ميراث له مرتهن څخه واپس واخلي؛ ځکه په رهن ورکول حکماً داسي دي لکه قرض اداء کول. او په حکماً قرض اداء کولو سره هم ترجيح بلا مرجح لازميږي. لهذا څرنګه چي دا جائز نه دي چي بعضي قرضخواهانو ته قرض ورکول سي او بعضي پرېښوول سي چي په دې کي ترجيح بلا مرجح لازميږي او چي کوم بعضي پرېښوول سي د هغو حق مانع ګرځي. نو همداسي په حکماً قرض اداء کولو سره هم دا خرابي پېښيږي. نو ځکه دا هم جائز نه دي. ها! که چيري نورو قرضخواهانو تر اوسه هغه مرهون ميراث له مرتهن څخه اخيستی نه وي چي په دې دوران کي وصي د هغو قرض اداء کړي. نو څرنګه چي اوس هغو ته خپل حق ورسېدی او د هغو د حق مانع کېدل زائل سوه. نو ځکه اوس دا رهن جائز او صحيح دی.

ولم لم يكن إلخ: د دې حاصل دا دی چې که پر مړي فقط د يوه کس قرض باندي وي او بيا وصي د مړي څه ميراث هغه ته په رهن ورکړي، نو جائز دي: ځکه چې د هغه يوه کس (قرضخواه) هيڅ مقابل نسته چې د هغه په وجه د ده حق باطل سي، او بل دا چې کله د يوه قرضخواه په حق کي حقيقي ايفاءً (حقيقتاً قرض اداء کول) جائز دي. نو حکمي ايفاء خو به په درجه اولیٰ جائز وي.

ويبيع في دينه إلخ: يعني که د قرض اداء کولو لپاره دا مرهون ميراث خرڅ کړی سي. نو دا هم جائز دي: ځکه کله چې د قرض لپاره تر رهن مخکي د هغه خرڅول جائز دي. نو تر رهن وروسته به هم جائز وي.

که وصي د مړي د قرض په عوض کي رهن (مرهون) واخلي (حکم)

وَإِذَا ارْتَهَنَ الْوَصِيُّ بِدَيْنٍ لِلْمَيِّتِ عَلَى رَجُلٍ او کله چې وصي رهن واخلي د هغه قرض په عوض کي کوم چې د مړي [موصي] پر يو سړي باندي وي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ اِسْتِيفَاءٌ ځکه چې رهن اخيستل [ګواکي قرض] ترلاسه کول دي وَهُوَ يَمْلِكُهُ او وصي د دې ملکيت [او اختيار] لري [چې د مړي قرض ترلاسه کړي] قَالَ ﷺ: وَفِي رَهْنِ الْوَصِيِّ تَفْصِيلَاتٌ نَذْكُرُهَا فِي كِتَابِ الْوَصَايَا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او د وصي په رهن کي نور تفصيلات [او مباحث] سته چې هغه به موږ ان شاء الله تعالیٰ په کتابُ الوصايا کي بيان کړو.

اللغات: ﴿ارتهن﴾ د افتعال د باب ماضي ده: رهن اخيستل (د رهن په توګه يو شی اخيستل).

﴿استيفاء﴾ (حق) ترلاسه کول، اخيستل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که د مړي پر يو کس (مثلاً پر زيد) قرض باندي وي. بيا د مړي وصي د هغه قرض په عوض کي له مقروض (زيد) څخه يو شی د رهن په توګه اخلي؛ نو دا هم جائز دي؛ ځکه چې دا استيفاء ده يعني د دې په ذريعه د مړي قرض ترلاسه کول کيږي. او وصي د استيفاء اختيار لري، نو ځکه دا عمل جائز دی. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د وصي د رهن په هکله نور تفصيلات به موږ ان شاء الله په کتابُ الوصايو کي بيان کړو. فانتظروا إني معكم من المنتظرين.



فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ الْمَسَائِلِ الْمُتَفَرِّقَةِ)

(دا) فصل (د بېلابېلو مسئلو په بيان کي) دى

تشريح: څرنګه چي په داسي فصل کي هغه بېلابېلي مسئلې ذکر کول کيږي کوم چي له مصنف او مؤلف څخه په مخکينيو بابونو او فصلونو کي پاته سوي وي (يعني مسائل متروکة) چي هغوى بايد ذکر کړل سي، نو ځکه دا فصل په آخر کي بيان کړى سوى دى چي د مخکي سره اړوند ټوله مسائل متروکة پکښي بيان کړل سي.

د مرهون شي د بدلېدلو حکم

قَالَ: وَمَنْ رَهَنَ عَصِيْرًا بِعَشَرَةٍ قِيْمَتُهُ عَشَرَةٌ فرمايي: او څوک چي د لسو درهمو په عوض کي د انګورو [دومره] رَس په رهن ورکړي چي د هغه قيمت لس درهمه وي، فَتَخَمَّرَ بيا هغه [رَس] شراب وګرځي ثُمَّ صَارَ خَلًّا يُسَاوِيْ عَشَرَةً بيا سرکه وګرځي چي هغه [هم] د لسو درهمو سره برابره وي فَهُوَ رَهْنٌ بِعَشَرَةٍ نو هغه د لسو درهمو په عوض کي رهن ده لِأَنَّ مَا يَكُوْنُ مَحَلًّا لِلْبَيْعِ ځکه کوم شى چي د بيع محل کېدلاى سي يَكُوْنُ مَحَلًّا لِلرَّهْنِ هغه د رهن [هم] محل کېدلاى سي إِذِ الْمَحَلِّيَّةُ بِالْمَالِيَّةِ فِيْهِمَا ځکه چي په دې دواړو [بيع او رهن] کي محل والى د مال کېدلو په اعتبار سره دى وَالْخَمْرُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَحَلًّا لِلْبَيْعِ ابْتِدَاءً او شراب که څه هم ابتداءً محل د بيع نه دي فَهُوَ مَحَلٌّ لَهُ بَقَاءً ليکن بقاءً [او انتهاءً] هغه محل د بيع دي حَتّٰى أَنَّ مَنِ اشْتَرٰى عَصِيْرًا همدا وجه ده که څوک د انګورو رَس رانيسي فَتَخَمَّرَ قَبْلَ الْقَبْضِ بيا هغه تر قبضې مخکي شراب وګرځي يَبْقَى الْعَقْدُ نو [هم] عقد بيع باقي پاتيږي إِلَّا أَنَّهُ يَتَخَيَّرُ فِي الْبَيْعِ لِتَغَيُّرِ وَصْفِ الْمَبِيْعِ خو د بيع په هکله مشتري اختيارمن کيږي د مبيع د وصف متغيّر کېدلو په وجه بِمَنْزِلَةِ مَا إِذَا تَعَيَّبَ لکه کله چي مبيع عيبجنه سي.

اللغات: ﴿عصير﴾ له انګورو څخه نچوړل سوي اوبه، د انګورو رَس. ﴿تخمّر﴾ د تفعّل ماضي ده: شراب کېدل، شراب ګرځېدل. ﴿تعيّب﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: [illegible] عيبجن کېدل.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دې چې که يو څوک د لس درهمه قرض په عوض کې دانګورو رَسْ په رهن ورکړې او د رَسْ قيمت هم لس درهمه وې، بيا هغه رَسْ شراب وګرځي او بيا سرکه وګرځي او اوس هم د هغه قيمت لس درهمه وې، نو دا سرکه د مخکينې لسو درهمو په عوض کې رهن (مرهونه) کيږي او داسې عقد رهن جائز او صحيح دی، ځکه قاعده دا ده چې کوم شی د بيع محل (يعني مبيع) کېدلای سي، هغه شی د رهن محل (يعني مرهون) هم کېدلای سي. او دانګورو رَسْ او سرکه دواړه مبيع کېدلای سي، نو ځکه هغه دواړه به مرهون کېدلای هم سي، نو ځکه د هغوی رهن جائز دی، او بيا دا چې د مبيع او مرهون محليّت (محل کېدل) په رَسْ او سرکه کې د ماليت (مال کېدلو) سره متعلق دي يا په بله وينا دا چې د بيع او رهن محل کېدل په ماليت سره کيږي (چې کوم شی مال وي هغه مبيع او مرهون کېدلای سي) او دا داړه شيان مال دي، نو په دې حواله سره د هغوی رهن جائز دی.

او شراب که څه هم ابتداءً د بيع محل نه سي کېدلای، لېکن په بقاء (انتهاء) کې هغه د بيع محل کېدلای سي، همدا وجه ده چې که يو کس دانګورو رَسْ رانيسي لېکن تر اوسه يې پر هغه قبضه کړې نه وي چې هغه شراب وګرځي، نو په دې صورت هم عقد بيع باقي پاتيږي؛ ځکه چې شراب هم مال دي که څه هم هغه د مسلمان په حق کې متقوّم (قيمت لرونکي) مال نه دی، او څرنګه چې د بيع او رهن تعلق د ماليت (مال کېدلو) سره دی، نو ځکه په دې صورت کې عقد بيع جائز ده، لهذا کله چې د دې شرابو کوم چې بقاءً متقوّم نه دي بيع جائز ده، نو هغه شراب کوم چې په بقاء (انتهاء) کې سرکه ګرځېدلي دي، د هغه بيع خو به په درجه اولیٰ جائز وي، خو د عقد بيع په مسئله کې مشتري ته د بيع کولو او ماتولو (فسخ کولو) اختيار سته (چې که خوښه يې بيع دې نافذ پرېږدي. کنې بيع دې ماته کړي)؛ ځکه چې د مبيع وصف له رَسْ (عصير) څخه په سرکه بدل سوی دی، نو څرنګه چې د مبيع د معيوب کېدلو په صورت کې مشتري ته اختيار حاصليږي، نو همداسې په دې مسئله کې به هم هغه ته اختيار حاصليږي. (احسن الهدايه)

د مرهون خاروي د مړ کېدلو حکم

وَلَوْ رَهَنَ شَاةً قِيْمَتُهَا عَشَرَةٌ بِعَشَرَةٍ او که چيري څوک داسي بزه په رهن ورکړي چي د هغه قيمت لس درهمه وي، د لسو درهمو په عوض کي [يې په رهن ورکړي] فَمَاتَتْ بيا هغه بزه مړه سي فَدُبِغَ جِلْدُهَا او د هغه څرمن ته دباغت ورکول سي فَصَارَ يُسَاوِيْ دِرْهَمًا نو [د دباغت په وجه] هغه څرمن د يوه درهم برابره وګرځي فَهُوَ رَهْنٌ بِدِرْهَمٍ نو هغه د يوه درهم په عوض کي رهن ده لِأَنَّ الرَّهْنَ يَتَقَرَّرُ

بِالْهَلَاكِ ځکه چي [دمرهون] د هلاکېدلو په وجه رهن نور ثابتيږي فَإِذَا حَيِيَ بَعْضُ الْمَحَلِّ لېکن کله چي د محل [مرهون] بعضي حصه [څرمن] موجوده پاته سوه يَعُوْدُ حُكْمُهُ بِقَدْرِهِ نو د هغه په اندازه به د رهن حکم راګرځي بِخِلَافِ مَا إِذَا مَاتَتِ الشَّاةُ الْمَبِيْعَةُ قَبْلَ الْقَبْضِ په خلاف د هغه صورت کله چي خرڅ کړی سوی پسه تر قبضې مخکي مړ سي فَدُبِغَ جِلْدُهَا او د هغه څرمن ته دباغت ورکول سي حَيْثُ لَا يَعُوْدُ الْبَيْعُ نو بيع نه راګرځي لِأَنَّ الْبَيْعَ يُنْتَقَضُ بِالْهَلَاكِ قَبْلَ الْقَبْضِ ځکه چي تر قبضې مخکي [د مبيع] په هلاکېدلو سره بيع ماتيږي وَالْمُنْتَقَضُ لَا يَعُوْدُ او ماته سوې بيع [سودا] نه راګرځي أَمَّا الرَّهْنُ يَتَقَرَّرُ بِالْهَلَاكِ کوم چي رهن دی نو هغه [د مرهون] په هلاکېدلو سره نور ثابتيږي عَلىٰ مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي [څه مخکي] موږ بيان کړه وَمِنْ مَشَايِخِنَا مَنْ يَمْنَعُ مَسْأَلَةَ الْبَيْعِ او زموږ له مشايخو څخه بعضي د بيع دا مسئله منع کوي وَيَقُوْلُ: يَعُوْدُ الْبَيْعُ او وايي: چي بيع [هم] راګرځي.

اللغات: ﴿شاة﴾ مخکي ذکر سوه چي دا عام اسم دی: پسه، وزکړي، بزه (وزه) ټولو باندي يې اطلاق کيږي. ﴿دُبِغَ﴾ ماضي مجهوله ده. له نصر. فتح او ضرب ټولو څخه راځي. دَبَغَ يَدْبُغُ دِبَاغَةً: دباغت ورکول پوست ته رنګ ورکول. يعني څرمن وچول او پخول (د مسالې. مالګي يا د لمر او داسي نورو شيانو په ذريعه د پوست لونډوالی او بدبويي ورختمول). ﴿جلد﴾ څرمن (څرمنه). پوست.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که زيد مثلاً له خالد څخه لس درهمه په قرض واخلي او هغه ته خپل يو پسه په رهن ورکړي چي د هغه قيمت لس درهمه وي، بيا هغه پسه د مرتهن سره هلاک سي خو مرتهن له هغه څخه څرمن وکاږي او دباغت ورکړي چي په دې سره هغه څرمن د يوه درهم قيمت والا سي، نو حکم دا دی چي د مرتهن له قرض څخه نهه درهمه ساقطيږي او يو درهم پاتيږي چي د هغه په عوض کي دا څرمن رهن (مرهون) پاتيږي؛ ځکه د رهن حکم دا دی چي د مرهون شي په هلاکت سره هغه نور ثابتيږي او مضبوطي پکښي راځي، بيا که چيري د مرتهن قرض د هلاک سوي مرهون شي د قيمت سره برابر وي، نو د هغه ټوله قرض ساقطيږي. خو څرنګه چي په مذکوره مسئله کي پاته مرهون د يوه عُشر يعني د يوه درهم سره برابر دی. نو ځکه د مرتهن قرض هم په همدې مقدار سره باقي پاتيږي او نور ساقطيږي او دا د يوه درهم څرمن د يوه درهم قرض په عوض کي رهن (مرهونه) ګرځي.

بخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی چي د بيع حکم له رهن څخه جلا دی. چي که د بيع په صورت کي تر قبضې مخکي رانيول سوی پسه مړ سي او بيا د هغه څرمن وېستل سي او دباغت ورکول سي. نو که

څه هم هغه څرمن د مبيع د قيمت سره برابره سي. لېکن بيا هم هغه مبيع نه ګرځي (لکه چي د رهن په صورت کي هغه مرهونه ګرځي). ځکه چي د مبيع (پسه) د هلاکېدلو په وجه بيع فسخ سوه (ماته سوه) او فسخ سوی شی عود نه کوي. حال دا چي د مرهون د هلاکېدلو په وجه رهن نه فسخ کيږي بلکي نور ثابتيږي او پوره کيږي. نو ځکه رهن عود کوي او په همدې حواله سره د رهن او بيع تر مينځ فرق دی او دواړه يو ګڼل صحيح نه دي. حال دا چي بعضې مشايخو رهن او بيع دواړه په دې هکله يو ګڼلي دي او ويلي يې دي چي داسي بيع هم عود کوي. لېکن اصح او معتمد قول په دواړو کي د فرق او په بيع کي د عدمِ عود دی.

که مرهون شی وده وکړي او اضافه سي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَنَمَاءُ الرَّهْنِ لِلرَّاهِنِ فرمايي: او د مرهون وده [او اضافه] د راهن ده وَهُوَ مِثْلُ الْوَلَدِ وَالثَّمَرِ وَاللَّبَنِ وَالصُّوفِ او وده [اضافه] مثلاً بچي، مېوه، شيدې، وړی. لِأَنَّهُ مُتَوَلِّدٌ مِنْ مِلْكِهِ ځکه چي نماء [وده] د همدې راهن له ملکيت څخه پيدا کېدونکې ده وَيَكُونُ رَهْنًا مَعَ الْأَصْلِ او نماء د اصل سره رهن کيږي لِأَنَّهُ تَبَعٌ لَهُ ځکه چي نماء د اصل تابع ده وَالرَّهْنُ حَقٌّ لَازِمٌ او رهن يو لازم حق دی فَيَسْرِي إِلَيْهِ نو ځکه هغه به د تابع وطرف ته [هم] سرايت کوي فَإِنْ هَلَكَ بيا که نماء [وده] هلاکه سي يَهْلِكُ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو بغير له څه عوض څخه هلاکيږي لِأَنَّ الْأَتْبَاعَ لَا قِسْطَ لَهَا مِمَّا يُقَابَلُ بِالْأَصْلِ ځکه چي توابعو لره هيڅ حصه نسته له هغه قرض څخه کوم چي د اصل مقابل وي [يعني کوم قرض چي د اصل مرهون په مقابله کي وي. په هغه کي د اتباعو لپاره هيڅ حصه نسته] لِأَنَّهَا لَمْ تَدْخُلْ تَحْتَ الْعَقْدِ مَقْصُودًا ځکه اتباع په قصدي توګه تر عقد لاندي نه داخليږي إِذِ اللَّفْظُ لَا يَتَنَاوَلُهَا ځکه چي [د عقد] لفظ هغوی لره نه شامليږي.

اللغات: ﴿نماء﴾ وده، اضافه وزياتوب. نمو. ﴿صوف﴾ وړی. د پسونو او مېږو وړېښته. ﴿يسري﴾ د ضرب مضارع ده: سرايت کول. ﴿يهلك﴾ د مضارع صيغه ده. له ضرب. فتح او سمع ټولو بابونو څخه راځي: هلاکېدل. فنا کېدل. نيست ونابود کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که مرهون د مرتهن سره وده وکړي او يو ډول اضافه پکښي راسي، نو هغه د راهن کيږي. مثلاً که مرهونه مينځه بچي وزېږوي نو هغه د راهن کيږي. ځکه چي دا اضافه د همدې راهن د ملکيت (يعني د مرهون) پيداوار دی او مرهون د راهن په ملکيت کي دی. نو ځکه د هغه اضافه به هم د راهن په ملکيت کي وي. خو د مرهون سره دا اضافه هم رهن ګرځي (چي د مرتهن

په قبضه کې به دواړه پرېښوول کیږي): ځکه چې دا اضافه (وده) د هغه تابع ده او عقد رهن لازم حق دی. نو ځکه هغه د خپل تابع وطرف ته هم سرایت کوي او د اصل سره تابع هم رهن ګرځوي. خو څرنګه چې د دې تابع (اضافه) په مقابله کې د اصل مرهون او قرض هیڅ حصه نسته، نو ځکه که دا هلاکه سي. نو پر مرتهن نه د هغه څه عوض واجبیږي او نه د هغه په هلاکېدلو سره څه قرض ساقطیږي: ځکه کوم قرض چې د اصل په مقابله کې، په هغه کې تابع لره هیڅ حصه نه وي، او بیا تابع په مقصودي توګه تر عقد لاندې داخلیږي هم نه، او لفظ د عقد صرف اصل لره شاملیږي، نه تابع لره. لهذا کله چې په عقد کې توابعو لره هیڅ شمار او اعتبار نسته، نو ښکاره خبره ده چې څرنګه هغوی مفت (ببلا عوضه) راغلي دي، هغسې به مفت ساقطیږي هم. (احسن الهدایه)

که مرهون شی هلاک سي او اضافه یې پاته سي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ هَلَكَ الْأَصْلُ وَبَقِيَ النَّمَاءُ او که اصل هلاک سي او وده [اضافه] باقي پاته سي اِفْتَكَّهُ الرَّاهِنُ بِحِصَّتِهِ نو راهن به هغه [وده] د هغه د حصې په عوض کې راخلاصوي يُقَسَّمُ الدَّيْنُ عَلَى قِيمَةِ الرَّهْنِ يَوْمَ الْقَبْضِ [یعني] قرض به تقسیمول کیږي د مرهون د قبضې د ورځې پر قیمت وَقِيمَةِ النَّمَاءِ يَوْمَ الْفِكَاكِ او د نماء د راخلاصولو د ورځې پر قیمت لِأَنَّ الرَّهْنَ يَصِيرُ مَضْمُونًا بِالْقَبْضِ ځکه چې رهن [مرهون] په قبضې سره مضمون ګرځي وَالزِّيَادَةُ تَصِيرُ مَقْصُودَةً بِالْفِكَاكِ او زیاتوب [نماء] په راخلاصولو سره مقصود ګرځي إِذَا بَقِيَ إِلَى وَقْتِهِ [په دې شرط] کله چې د راخلاصولو تر وخته پوري باقي پاته وي وَالتَّبَعُ يُقَابِلُهُ شَيْءٌ إِذَا صَارَ مَقْصُودًا او تابع چې کله مقصود وګرځي نو د هغه په مقابله کې هم [د مال] څه حصه راځي كَوَلَدِ الْمَبِيعِ لکه د مبیع بچی فَمَا أَصَابَ الْأَصْلَ نو کوم مقدار چې اصل مرهون ته ورسیږي يَسْقُطُ مِنَ الدَّيْنِ نو هغه له قرض څخه ساقطیږي لِأَنَّهُ يُقَابِلُهُ الْأَصْلُ مَقْصُودًا ځکه هغه مقدار په قصدي توګه د اصل په مقابله کې دی وَمَا أَصَابَ النَّمَاءَ او کوم مقدار چې نماء ته ورسیږي اِفْتَكَّهُ الرَّاهِنُ نو هغه به راهن راخلاصوي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَصُوَرُ الْمَسَائِلِ عَلَى هٰذَا الْأَصْلِ تُخَرَّجُ او پر دغه قاعده کُلیه د مسئلو د ډېرو صورتونو تخریج کیږي وَقَدْ ذَكَرْنَا بَعْضَهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او له هغوی څخه بعضې موږ په کفایة المنتهي کې ذکر کړي دي وَتَمَامُهُ فِي الْجَامِعِ وَالزِّيَادَاتِ او د دې پوره تفصیل په جامع کبیر او زیادات کې دی.

اللغات: ﴿افتکه﴾ دافتعال د باب ماضي ده: (مرهون) راخلاصول. يعني د مرتهن حق (قرض) اداء کول او مرهون ځني اخيستل. ﴿تَبَعٌ﴾ تابع، جمع: أتباع.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که اصل (مرهون شی) هلاک سي او د هغه نماء او اضافه پاته سي، مثلاً مرهونه مينځه مړه سي او د هغې بچی پاته سي، نو په دې صورت کي به اول دې ته کتل کيږي چي قرض څو دی او د اصل (مرهونه مينځي) او نماء (بچي) قيمت څو دی؟. نو د نماء په مقابله کي چي کوم قيمت راسي، راهن به هغه مرتهن ته ورکوي او خپل مرهون يعني نماء به واپس ځني اخلي، او د مرهون د يومُ القبض والا قيمت معتبر دی (په کومه ورځ چي مرتهن له راهن څخه مرهون اخيستی او قبضه کړی وي) او د نماء د يومُ الفکاک والا قيمت معتبر دی (په کومه ورځ چي نماء [بچی] له مرتهن څخه خلاصول کيږي)؛ ځکه چي مرهون په همدې قبضه سره مضمون ګرځي او نماء په خلاصولو (فکاک) سره مقصود ګرځي. نو ځکه على الترتيب به په دوی کي د يومُ القبض او يومُ الفکاک قيمت معتبر وي.

کوله البيع إلخ: دا د پورتني مسئلې لپاره مثال دی. وضاحت يې دا دی چي که زيد له خالد څخه زر درهمه په قرض واخلي او هغه ته خپل يوه مينځه په رهن وکړي چي د هغې قيمت هم زر درهمه وي، بيا هغه مينځه يو بچی (غلام) وزيږوي او د هغه قيمت پنځه سوه درهمه وي، بيا مينځه هلاک سي او د مينځي پر ځای بچی د مرتهن په قبضه کي پاته سي، اوس که چيري راهن (زيد) وغواړي چي له مرتهن (خالد) څخه هغه بچی واخلي، نو د پورتني مسئلې په څېر دلته به هم قرض او د اصل او بچي د قيمت تناسب ته کتل کيږي. څرنګه چي دلته د اصل قيمت د نماء د قيمت دوچنده دی يعني د اصل (مرهونه مينځي) قيمت زر درهمه دی او د نماء (بچي) قيمت پنځه سوه درهمه دی (لهذا د اصل قيمت دوچنده سو). او څرنګه اصل هلاک سوی دی، نو ځکه له قرض څخه به د دوچنده قيمت په اندازه ساقطيږي او د نماء د قيمت په اندازه قرض به باقي پاتيږي. ګواکي دا زر درهمه قرض به ټوله درې حصې کيږي چي له هغه څخه دوې حصې يعني شپږ سوه شپږ شپېته (۶۶۶) درهمه به ساقطيږي او يوه حصه درې سوه درو دېرش (۳۳۳) درهمه به باقي پاتيږي چي هغه به راهن و مرتهن ته ورکوي او د مرهون بچی به ځني خلاصوي، همدا د "فما أصاب الأصل يسقط من الدين" او د "وما أصاب النماء افتکه الراهن" وضاحت دی.

وصور المسائل إلخ: فرمايي چي په دې مسئله کي مورږ داسي قاعدهٔ کُليه ښوولې ده چي پر هغه ډير صورتونه متفرّع کيږي، چي له هغوی څخه بعضي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په کفاية المنتهي کي [illegible] وضاحت په جامع کبير او زيادات کي مذکوره دی.

د مرهونه خاروي شيدې استعمالول

وَلَوْرَهَنَ شَاةً بِعَشَرَةٍ او كه چيرې څوک يوه بزه د لسو درهمو په عوض كې په رهن وركړي وَقِيْمَتُهَا عَشَرَةٌ او د هغې قيمت [هم] لس درهمه وي وَقَالَ الرَّاهِنُ لِلْمُرْتَهِنِ: او راهن مرتهن ته ووايي اِحْلِبِ الشَّاةَ فَمَا حَلَبْتَ فَهُوَلَكَ حَلَالٌ چې بزه لوېشه! او ته چې كوم څه [شيدې] ولوېشې نو هغه ستا لپاره حلال [روا] دي فَحَلَبَ وَشَرِبَ بيا مرتهن شيدې ولوېشي او هغه وچيښي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ ذٰلِكَ نو پر مرتهن له هغه څخه د هيڅ شي ضمان [تاوان] نسته أَمَّا الْإِبَاحَةُ فَيَصِحُّ تَعْلِيْقُهَا بِالشَّرْطِ وَالْخَطَرِ كوم چې اباحت [رواكول] دي نو هغه پر شرط مُعلّق كول صحيح دي لِأَنَّهَا إِطْلَاقٌ وَلَيْسَ بِتَمْلِيْكٍ ځكه چې اباحت خو اطلاق [يعني جائز كول] او تمليك [مالک كول] نه دي [ځكه ښكاره خبره ده چې راهن د مرتهن لپاره صرف شيدې روا كړي دي. او د هغه يې مالک كړی نه دی] فَتَصِحُّ مَعَ الْخَطَرِ نو ځكه هغه [اباحت] په د شرط سره [هم] صحيح وي وَلَا يَسْقُطُ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ او له قرض څخه هيڅ هم نه ساقطيږي لِأَنَّهُ أَتْلَفَهُ بِإِذْنِ الْمَالِكِ ځكه چې مرتهن هغه [شيدې] د مالک په اجازه سره تلف كړي دي.

اللغات: ﴿شاة﴾ څه مخكې د دې وضاحت وسو. ﴿احلب﴾ د نصر له بابه د واحد مذكر امرِ حاضر صيغه ده: لوېشل. ﴿إباحة﴾ د افعال د باب مصدر دی: روا كول. حلال كول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې كه يو څوک د لسو درهمو قرض په عوض كې خپله بزه په رهن وركړي او د بزې قيمت هم لس درهمه وي، بيا راهن مرتهن ته وايي چې تا ته زما له طرفه د دې اجازه ده چې دغه بزه لوېشې او شيدې يې خورې اوهغه ستا لپاره حلالې دي. بيا مرتهن بزه ولوېشي او شيدې يې وخوري. نو اوس پر هغه نه څه ضمان (تاوان) واجبيږي او نه د هغه څه قرض ساقطيږي. ځكه چې د "فما حلبتَ فهولك حلالٌ" په وينا سره راهن د مرتهن لپاره د شيدو لوېشلو او چيښلو حلت او اباحت ثابت كړی دی. او څرنګه چې دا تمليک نه دی بلكې صرف اباحت او د جواز اطلاق دی. نو ځكه د لوېشلو په شرط سره هم صحيح دی. او بيا كله چې خپله راهن په خپل رضا او خوښې سره مرتهن ته د شيدو لوېشلو اجازه وركړې ده. نو ښكاره خبره ده چې د دغه كار په وجه به د مرتهن له قرض څخه يوه اتانې هم نه ساقطيږي.

په پورتني صورت کي د مرهونه خاروي د مړ کېدلو حکم

فَإِنْ لَمْ يَفْتَكِّ الشَّاةَ حَتَّى مَاتَتْ فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ بيا که راهن بزه [له مرتهن څخه] راخلاصه نه کړي تر دې چې هغه د مرتهن په قبضه کي مړه سي قُسِّمَ الدَّيْنُ عَلَى قِيمَةِ اللَّبَنِ الَّذِي شَرِبَ وَعَلَى قِيمَةِ الشَّاةِ نو قرض به د شيدو پر قيمت کوم چي مرتهن چيښلي دي او د بزې پر قيمت تقسيمول کيږي فَمَا أَصَابَ الشَّاةَ نو کوم مقدار چي بزې ته ورسيږي [يعني د قرض کوم مقدار چي د بزې په حصه کي راسي] سَقَطَ هغه ساقطيږي وَمَا أَصَابَ اللَّبَنَ او کوم مقدار چي شيدو ته ورسيږي أَخَذَهُ الْمُرْتَهِنُ مِنَ الرَّاهِنِ نو هغه به مرتهن له راهن څخه اخلي لِأَنَّ اللَّبَنَ تَلِفَ عَلَى مِلْكِ الرَّاهِنِ بِفِعْلِ الْمُرْتَهِنِ ځکه چي شيدې د راهن پر ملکيت د مرتهن په فعل سره تلف سوي دي وَالْفِعْلُ حَصَلَ بِتَسْلِيطٍ مِنْ قِبَلِهِ او [د مرتهن] فعل د راهن له طرفه په قدرت ورکولو سره حاصل سوی دی [ځکه چي همدې راهن هغه ته د شيدو لوېشلو او چيښلو اجازه ورکړې ده] فَصَارَ كَأَنَّ الرَّاهِنَ أَخَذَهُ وَأَتْلَفَهُ نو داسي سو لکه راهن چي خپله هغه اخيستي وي او تلف کړي يې وي فَكَانَ مَضْمُونًا عَلَيْهِ نو ځکه پر راهن به د هغه ضمان [تاوان] لازم وي فَيَكُونُ لَهُ حِصَّتُهُ مِنَ الدَّيْنِ نو د مرتهن لپاره به له قرض څخه د هغه [لبن] حصه وي فَبَقِيَ بِحِصَّتِهِ نو قرض به د هغه [لبن] د حصې په اندازه پاتيږي وَكَذَلِكَ وَلَدُ الشَّاةِ إِذَا أَذِنَ لَهُ الرَّاهِنُ فِي أَكْلِهِ او همدارنګه د بزې بچی کله چي راهن مرتهن ته د هغه د خوړلو اجازه ورکړې وي وَكَذَلِكَ جَمِيعُ النَّمَاءِ الَّذِي يَحْدُثُ عَلَى هَذَا الْقِيَاسِ او همدارنګه هغه ټوله نماوي [ودي] کوم چي [له مرهون] څخه پيدا کيږي پر همدغه قياس دی.

اللغات: ﴿تلف﴾ د سمع ماضي ده: تلف کېدل، ضايع کېدل او ختمېدل. ﴿تسليط﴾ د تفعيل مصدر دی: مسلط کول (ګومارل)، قدرت ورکول، اختيار ورکول. ﴿نماء﴾ وده، اضافه وزياتوب.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که مرتهن د راهن په اجازه سره د مرهونه بزې شيدې وچيښي او بزه تر اوسه د مرتهن سره وي او راهن ځني اخيستې نه وي چي په همدې دوران کي هغه د مرتهن سره هلاکه سي، نو څرنګه چي دلته د بزې سره د نماء يعني د شيدو مسئله هم سته. نو ځکه د شيدو حساب به کيږي او مرتهن چي څومره شيدې چيښلي وي که چيري د هغه قيمت د قرض او د بزې د نصف قيمت سره برابر وي يعني پنځه درهمه وي (ځکه قرض او د بزې قيمت لس درهمه وو). نو په دې

صورت کي هم د مخکنۍ مسئلې په څېر د قرض دوې حصې ساقطيږي او پاتــه يــوه حصه د نماء يعني د شيدو (لَبَن) مقابل کيږي. او څرنګه چي دلته مرتهن خپله د مالک (راهن) په تسليط او حکم سره شيدې استعمال کړي دي، نو ځکه پر مرتهن د هغه نه څه ضمان واجبيږي او نه د هغه په عوض کي يې قرض ساقطيږي، بلکي خپله مرتهن ته د هغه فايده حاصليږي، او داسي به ګڼل کيږي چي دا شيدې راهن څيښلي دي، او که چيري راهن د بزې شيدې وڅيښي، نو ښکاره خبره ده چي پر هغه ضمان واجبيږي، نو ځکه په مذکوره مسئله کي به هم پر راهن ضمان واجبيږي چي له قرض څخه څومره حصه د شيدو په مقابله کي راسي، پر راهن د هغه ضمان واجبيږي کوم چي به مرتهن څني اخلي.

وکذلك إلخ: فرمايي که چيري راهن و مرتهن ته د مرهونه بزې ياد بل مرهون شي د بچي د خوړلو اجازه ورکړي او مرتهن هغه وخوري، نو هم دغه پورتني حکم دی. همدارنګه په هر هغه صورت کي دغه حکم دی چي هلته د راهن په حکم او اجازه سره د مرهون شي پيدا سوې نماء تلف او ضايع کړل سي (لکه څرنګه دلته چي د مرهون بچی تلف کړی سوی دی).

په مرهون او قرض کي د زياتوب کولو حکم

قَالَ: وَتَجُوزُ الزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ وَلَا تَجُوزُ فِي الدَّيْنِ فرمايي: او په رهن کي زياتوب [اضافه کول] جائز دي او په قرض کي جائز نه دي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَلَا يَصِيرُ الرَّهْنُ رَهْنًا بِهَا او مرهون د زياتوب [اضافې] په عوض کي رهن نه ګرځي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ۞: تَجُوزُ الزِّيَادَةُ فِي الدَّيْنِ أَيْضًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په قرض کي هم زياتوب جائز دی وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوزُ فِيهِمَا او امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دې دواړو کي زياتوب جائز نه دی وَالْخِلَافُ مَعَهُمَا فِي الرَّهْنِ وَالثَّمَنِ وَالْمُثَمَّنِ وَالْمَهْرِ وَالْمَنْكُوحَةِ سَوَاءٌ او د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله سره [زموږ] اختلاف په رهن، ثمن، مبيع، مهر او منکوحه [ټولو] کي سره برابر دی وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْبُيُوعِ او دا موږ په کتاب البيوع کي ذکر کړي دي [په باب المرابحة والتولية کي].

اللغات: ﴿ثمن﴾ قيمت، پيسې. ﴿مثمن﴾ کوم څه چي په ثمن رانيول سوي وي (کوم شی چي د ثمن په عوض کي وي) يعني مبيع.

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، انظر للتفصيل الكتاب المعروف بالقول الراجح [ج:٢، ص:٣٣٥]

تشريح : صورت د مسئلې :دا دی چې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په مرهون شي کې اضافه کول خو جائز دي،لیکن په قرض کې اضافه کول جائز نه دي. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز په قرض کې هم اضافه کول جائز دي، لهذا که راهن د سلو درهمو قرض په عوض کې یوه بزه (وزه) په رهن ورکړې وي او بیا راهن پر هغه بزې یوه بله بزه هم اضافه کړي یعني بله بزه هم د هغې سره په رهن ورکړي. نو د ټولو په نیز دا جائز دي. لیکن که مرتهن پر هغه سلو درهمو نور سل درهمه هم اضافه کړي یعني په هغه رهن کې راهن ته سل درهمه نور په قرض ورکړي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز خو جائز نه دي. لیکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دا هم جائز دي.

د دې په خلاف د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نیز نه په رهن کې اضافه جائز ده او نه په قرض کې، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چې زموږ او د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله اختلاف فقط په رهن او قرض کې منحصر نه دی،بلکې دا اختلاف په ثمن، مبیع، مهر او منکوحه ټولو کې جاري دی، نو زموږ په نیز په دغو شیانو کې اضافه او زیاتوب جائز دی، لیکن د دې حضراتو په نیز جائز نه دی، په ثمن او مهر کې اضافه کول خو ښکاره ده او په فهم کې راځي، او په منکوحه کې د اضافه کولو صورت دا دی چې مثلاً یو مالک (مولیٰ) د پنځه سوه درهمو مهر په عوض کې خپله مینځه زید ته په نکاح ورکړي،بیا د همداغه مهر په عوض کې بله مینځه هم هغه ته په نکاح ورکړي، نو دا په منکوحه کې اضافه کول دي چې زموږ په نیز جائز دي او د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نیز جائز نه دي.

په پورتنی مسئله کې د امامانو دلائل

وَلِأَبِي يُوسُفَ فِي الْخِلَافِيَّةِ الْأُخْرَىٰ او په دویمه اختلافي مسئله کې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی أَنَّ الدَّيْنَ فِي بَابِ الرَّهْنِ كَالثَّمَنِ فِي الْبَيْعِ چې قرض د رهن په باب کې داسې دی لکه په بیع کې ثمن وَالرَّهْنُ كَالْمُثَمَّنِ او رهن [مرهون] داسې دی لکه مبیع فَتَجُوزُ الزِّيَادَةُ فِيهِمَا كَمَا فِي الْبَيْعِ نو ځکه په دې دواړو کې به زیاتوب [اضافه کول] جائز وي لکه څرنګه چې په بیع کې جائز دي وَالْجَامِعُ بَيْنَهُمَا الِالْتِحَاقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ او د دې دواړو تر مینځ جامع علت د اصل عقد سره لاحق کېدل دي لِلْحَاجَةِ وَالْإِمْكَانِ د ضرورت او امکان په وجه وَلَهُمَا وَهُوَ الْقِيَاسُ: أَنَّ الزِّيَادَةَ فِي الدَّيْنِ تُوجِبُ الشُّيُوعَ فِي الرَّهْنِ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل (او همدا قیاس دی) دا دی: چې په قرض کې

اضافه کول شيوع واجبوي وَهُوَغَيْرُمَشْرُوْعٍ عِنْدَنَا او هغه زموږ په نيز مشروع نه دي وَالزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ تُوْجِبُ الشُّيُوْعَ فِي الدَّيْنِ او په رهن کښي اضافه کول په قرض کي شيوع واجبوي وَهُوَغَيْرُ مَانِعٍ مِنْ صِحَّةِ الرَّهْنِ او هغه د رهن له صحت [صحيح کېدلو] څخه مانع نه دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْرَهَنَ عَبْدًا بِخَمْسِ مِائَةٍ مِنَ الدَّيْنِ آيا ته نه ګوري! چي که راهن د قرض د پنځو سوو درهمو په عوض کي يو غلام په رهن ورکړي جَازَ وَإِنْ كَانَ الدَّيْنُ أَلْفًا نو جائز دي که څه هم قرض زر درهمه وي وَهٰذَا شُيُوْعٌ فِي الدَّيْنِ او دا په قرض کي شيوع دی وَالِالْتِحَاقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ غَيْرُمُمْكِنٍ فِي طَرَفِ الدَّيْنِ او د قرض په طرف کي د اصل عقد سره [د زياتوب] لاحق کېدل ممکن نه دي لِأَنَّهُ غَيْرُمَعْقُوْدٍ عَلَيْهِ وَلَا مَعْقُوْدٍ بِهٖ ځکه چي قرض نه معقود عليه دی او نه معقود به دی بَلْ وُجُوْبُهُ سَابِقٌ عَلَى الرَّهْنِ بلکي د قرض وجوب پر رهن مخکي دی وَكَذَا يَبْقٰى بَعْدَ انْفِسَاخِهٖ همدارنګه د عقد رهن تر فسخ کېدلو وروسته هم هغه [قرض] پاتيږي وَالِالْتِحَاقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ فِي بَدَلَي الْعَقْدِ او د اصل عقد سره لاحق کېدل د عقد په دواړو بدلونو کي کيږي بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّ الثَّمَنَ بَدَلٌ يَجِبُ بِالْعَقْدِ ځکه چي ثمن داسي بدل دی کوم چي د عقد په وجه واجبيږي.

اللغات: ﴿شيوع﴾ د ضرب مصدر دی: شرکت (نا تقسيم سوی اشتراک. لکه څرنګه چي مشاع هغه مشترک شي ته وايي کوم چي تر اوسه تقسيم سوی او حصه، حصه سوی نه وي. يا په بله وينا دا چي د هر شريک حصه پکښي معلومه سوې نه وي)، ﴿معقود عليه﴾ پر کوم شي چي عقد (معامله) واقع کيږي. مبيع. ﴿معقود به﴾ د کوم شي په ذريعه چي عقد واقع کيږي. ثمن. ﴿التحاق﴾ د افتعال مصدر دی: لاحق کېدل. يو شی د بل شي سره يو ځای کېدل (متصل کېدل، جمع کېدل).

تشريح: په دې عبارت کي د مخکني مسئلې سره اړوند د امامانو دلائل بيان سوي دي. او صاحب د هدايې د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله اختلاف ته ارزښت نه دی ورکړی نو د هغو له دلائلو څخه يې هيڅ بحث نه دی کړی، خو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف قوي دی او د هغه دليل يې بيان کړی دی. د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دا دی چي د رهن په باب کي قرض داسي دی لکه په بيع کي چي ثمن دی او کوم حال چي د مبيع دی، هاغه حال د مرهون هم دی. او په مبيع او مرهون کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هم زياتوب جائز دی، نو ځکه په قرض او رهن کي به هم زياتوب او اضافه

جائز وي او پر بيع د رهن د قياسولو علت دا دی چي ځرنګه کله په مبيع او ثمن کي د زياتوب امکان سته او زياتوب ته ضرورت پېښيږي. همداسي په مرهون او قرض کي هم د هغه امکان او ضرورت سته. نو ځکه د رهن او ثمن په څېر په قرض کي هم زياتوب او اضافه کول جائز دي.

ولهما إلخ: د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي مخکي دا خبره تېره سوه چي د مرهون شيوع د رهن د صحت او جواز لپاره مانع دي، لېکن په قرض کي شيوع د رهن پر صحت هيڅ اثر نه کوي، او ځرنګه چي د قرض په زياتوب سره په مرهون کي شيوع راځي، په دې توګه چي مرتهن په قرض کي کوم زياتوب وکړي، ښکاره ده چي هغه زياتوب به خامخا د مرهون د يوې حصې په مقابله کي وي چي مرهون به د دغه زياتوب په عوض کي هم رهن سي او په هغه کي به شيوع راسي. نو ځرنګه چي دا خبره په قرض کي د زياتوب کولو په وجه لازميږي. نو ځکه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قرض زياتوب ممنوع ګرځول سوی دی، د دې په خلاف کوم زياتوب چي په رهن (مرهون) کي وي. په هغه سره په قرض کي شيوع لازميږي او د قرض شيوع د رهن د صحت او جواز لپاره مضر نه دي، مثلاً که يو سړی د زرو درهمو قرض په عوض کي داسي غلام په رهن ورکړي چي د هغه قيمت پنځه سوه درهمه وي، نو هغه پنځه سوه خو د قرض د پنځو سوو مقابل کيږي او د قرض پاته پنځه سوه له رهن څخه خالي کيږي او دا د قرض شيوع دي، لېکن ځرنګه چي د قرض شيوع د رهن د صحت لپاره مانع نه دي نو ځکه صحيح دی، لهذا دا شيوع چي د کوم څه په سبب راځي يعني اضافه في الرهن (په رهن کي زياتوب کول) هغه هم صحيح دي.

والالتحاق إلخ: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اضافه في الدين د اصل عقد سره لاحق کړې ده او هغه يې جائز ګرځولې ده. له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هغه ترديد کوي فرمايي چي د قرض اضافه او زياتوب د رهن په باب کي د اصل عقد سره نه سي لاحق کېدلای؛ ځکه چي د اصل عقد سره د معقود عليه او معقود بهٖ التحاق کېدلای سي، او قرض خو نه معقود عليه دی او نه معقود بهٖ دی. معقود بهٖ خو ځکه نه دی چي که قرض معقود بهٖ وای، نو قرض به د عقد رهن په وجه واجب کېدلای، حال دا چي د قرض وجوب له عقد رهن څخه مخکي دی، همدارنګه د عقد رهن تر فسخ کېدلو وروسته هم قرض باقي پاتيږي. نو په دې وجه هغه معقود بهٖ نه سي کېدلای. او قرض معقود عليه ځکه نه سي کيدلای چي پر قرض هيڅ عقد نه سي منعقد کېدلای. د دې په خلاف د بيع معامله ده. نو ځرنګه چي په بيع کي ثمن معقود بهٖ وي؛ ځکه چي هغه د عقد په وجه واجبيږي. نو ځکه د اصل عقد سره د ثمن اضافه او التحاق خو صحيح او ممکن دي. لېکن د قرض اضافه او التحاق د اصل عقد سره ممکن نه دي.

د مخکنی مسئلې نور وضاحت

ثُمَّ إِذَا صَحَّتِ الزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ بیا کله چې په مرهون کې اضافه کول صحیح دي وَتُسَمَّى هٰذِهِ زِيَادَةً قَصْدِيَّةً او دا اضافه کول په قصدي اضافه سره نومول کیږي يُقَسَّمُ الدَّيْنُ عَلَى قِيمَةِ الْأَوَّلِ يَوْمَ الْقَبْضِ نو قرض به تقسیمول کیږي داول [اصل] د قبضې د ورځې پر قیمت وَعَلَى قِيمَةِ الزِّيَادَةِ يَوْمَ قُبِضَتْ او د اضافې [زیاتوب] د قبضې د ورځې پر قیمت حَتّٰى لَوْ كَانَتْ قِيمَةُ الزِّيَادَةِ يَوْمَ قَبْضِهَا خَمْسَ مِائَةٍ تر دې چې که د اضافې [زیاتوب] قیمت د قبضې په ورځ پنځه سوه درهمه وي وَقِيمَةُ الْأَوَّلِ يَوْمَ الْقَبْضِ أَلْفًا او د اول [اصل] قیمت زر درهمه وي وَالدَّيْنُ أَلْفًا او قرض [هم] زر درهمه وي يُقَسَّمُ الدَّيْنُ أَثْلَاثًا نو قرض به پر دریو حصو تقسیمول کیږي فِي الزِّيَادَةِ ثُلُثُ الدَّيْنِ وَفِي الْأَصْلِ ثُلُثَا الدَّيْنِ په اضافه کې به د قرض یو ثلث [دریمه حصه] وي او په اصل کې به د قرض دوه ثلثه وي اِعْتِبَارًا بِقِيمَتِهِمَا فِي وَقْتَيِ الِاعْتِبَارِ ددې دواړو د قیمت په اعتبار کولو سره د اعتبار [قبضې کولو] په وخت کې وَهٰذَا لِأَنَّ الضَّمَانَ فِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَثْبُتُ بِالْقَبْضِ او دا ځکه چې ضمان په دوی هر یوه کې په قبضې کولو سره ثابتیږي فَتُعْتَبَرُ قِيمَةُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَقْتَ الْقَبْضِ نو ځکه د دوی هر یوه د قبضې د وخت قیمت به معتبر وي.

اللغات: ﴿تُسمّٰی﴾ د تفعیل له بابه د مضارع مجهولې صیغه ده: نومول (نوم ورکول). ﴿قصدیة﴾ په قصدي توګه. بالاراده.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله په مرهون کې اضافه کول (زیاتوب کول) صحیح او معتبر دي. نو که چیرې اضافه هلاکه سي. نو د اصل او اضافې د قبضې په ورځ چې کوم قیمت وي (یعني په کومه ورځ چې پر اصل او پر اضافې (زیاتوب) قبضه کړل سوې وي. په هغه ورځ چې د دوی کوم قیمت وي) هغه به پر قرض تقسیم کړی سي. نو که د قبضې په ورځ د اضافې (مثلاً د اضافه کړل سوي بزې) قیمت پنځه سوه درهمه وي او د اصل (اولي بزې) قیمت زر درهمه وي او قرض هم زر درهمه وي. بیا اضافه (بزه) هلاکه سي. نو څرنګه چې دلته د اصل قیمت دوچنده دی (یعني د اصل بزې قیمت دومره دی لکه د اضافه بزې قیمت دوه واره). نو ځکه اوس به قرض پر دریو حصو تقسیمول کیږي چې له هغه څخه به یو ثلث یعني (۳۳۳ درهمه) د اضافې په مقابله کې وي چې هغه به د مرتهن سره رهن (مرهون) پاتیږي. او د اصل په مقابله کې به د قرض دوه ثلثه (۶۶۶ درهمه) وي. او د دې دواړو به هاغه قیمت معتبر وي کوم قیمت چې یې د قبضې په ورځ وي: ځکه چې د همدې قبضې په وجه په دوی کې ضمان ثابتیږي نو ځکه ضمان واجبېدلو په هکله به هم د قبضې د ورځې قیمت معتبر وي. (احسن الهدایه)

كه مرهونه مېنځه بچى وزېږوي او راهن د هغه سره يو غلام هم اضافه كړي (حكم او تفصيل)

وَإِذَا وَلَدَتِ الْمَرْهُونَةُ وَلَدًا او كله چې مرهونه [مينځه] بچى وزېږوي ثُمَّ إِنَّ الرَّاهِنَ زَادَ مَعَ الْوَلَدِ عَبْدًا بيا راهن د بچي سره يو ابل؛ غلام اضافه كړي وَقِيْمَةُ كُلِّ وَاحِدٍ أَلْفٌ او د هر يوه قيمت زر درهمه وي فَالْعَبْدُ رَهْنٌ مَعَ الْوَلَدِ خَاصَّةً نو غلام فقط د بچي سره رهن [مرهون] كيږي يُقْسَمُ مَا فِي الْوَلَدِ عَلَيْهِ نو تقسيمول كيږي به د قرض هغه مقدار كوم چې د بچي په حصه كې دى پر بچي وَعَلَى الْعَبْدِ الزِّيَادَةُ او [له هغه څخه] زائد مقدار پر غلام [يعني كله چې غلام فقط د مېنځې د بچي سره رهن (مرهون) دى. نو د بچي په حصه كې چې د قرض كوم مقدار راځي. هغه به پر بچي او پاته مقدار به پر غلام تقسيمول كيږي] لِأَنَّهُ جَعَلَهُ زِيَادَةً مَعَ الْوَلَدِ دُوْنَ الْأُمِّ ځكه چې راهن دا غلام د بچي سره اضافه كړى دى. نه د مور سره وَلَوْكَانَتِ الزِّيَادَةُ مَعَ الْأُمِّ او كه [د غلام] اضافه د مور سره وي يُقْسَمُ الدَّيْنُ عَلَى قِيْمَةِ الْأُمِّ يَوْمَ الْعَقْدِ نو قرض به تقسيمول كيږي د عقد د ورځي والا د مور پر قيمت وَعَلَى قِيْمَةِ الزِّيَادَةِ يَوْمَ الْقَبْضِ او د قبض د ورځې والا د اضافې [غلام] پر قيمت فَمَا أَصَابَ الْأُمَّ نو كوم مقدار چې مور ته ورسيږي قُسِّمَ عَلَيْهَا وَعَلَى وَلَدِهَا نو هغه به پر مور او د هغې پر بچي تقسيمول كيږي لِأَنَّ الزِّيَادَةَ دَخَلَتْ عَلَى الْأُمِّ ځكه چې اضافه پر مور داخله سوې ده [يعني غلام د مور سره اضافه كړى سوى دى].

تشريح : صورت د مسئلې: دا دى چې كه زيد له خالد څخه زر درهمه په قرض واخلي او د هغه په عوض كې خپل يوه مينځه خالد ته په رهن وركړي او د مينځې قيمت هم زر درهمه وي. بيا دا مرهونه مينځه د مرتهن (خالد) سره بچى وزېږوي او له نېكه مرغه د هغې بچى هم زر درهمه قيمت لري. تر دې وروسته راهن (زيد) په رهن كې اضافه وكړي چې د مينځې سره مرتهن (خالد) ته يو غلام هم په رهن وركړي خو دا د غلام اضافه خصوصاً د مينځې د بچي سره وكړي مثلاً داسې ووايي "زِدْتُكَ هٰذَا الْعَبْدَ مَعَ الْوَلَدِ رَهْنًا". نو دلته دويم (اضافه سوي) غلام فقط د بچي سره مرهون كيږي. لهذا زر درهمه قرض به اول به پر مينځه او د هغې پر بچي تقسيمول كيږي چې د هر يوه په عوض كې پنځه سوه (۵۰۰) راځي. تر دې وروسته به د بچي والا پنځه سوه د بچي او اضافه سوي غلام په مينځ كې تقسيمول كيږي چې په دې سره د هر يوه په عوض كې دوه نيم سوه (۲۵۰) راځي. نو له قرض څخه د (۵۰۰) درهمو په عوض كې به مينځ رهن وي. د (۲۵۰) درهمو په عوض كې به بچى رهن وي او د (۲۵۰) درهمو په عوض كې به اضافه سوى غلام رهن وي.

ولو كانت الزيادة إلخ: د دې حاصل دا دی چې که چیرې راهن اضافه سوی غلام د بچي سره خاص نه کړي بلکې د هغې د مور سره یې خاص کړي یعني د غلام اضافه خصوصاً د مور سره وکړي. نو په دې صورت کې به قرض اول د مور او د هغې د بچي په مینځ کې تقسیمول کیږي او بیا د مور په حصه کې چې کوم پنځه سوه راسي، هغه به د مور او د اضافه سوي غلام په مینځ کې تقسیمول کیږي: ځکه دلته راهن اضافه شده غلام د مور سره لاحق کړی دی. نو ځکه هغه اضافه شده غلام به د مور یعني د مرهونه مینځې په حصه کې داخلیږي او هریو به د قرض د (۲۵۰) په عوض کې رهن وي. لکه په مخکنی مسئله کې چې اضافه شده غلام د بچي سره لاحق سوی دی او هر یو د (۲۵۰) درهمو په عوض کې رهن دی.

مرهون بدلول (حکم او تفصیل)

قَالَ: فَإِنْ رَهَنَ عَبْدًا يُسَاوِي أَلْفًا بِأَلْفٍ فرمایي: او که راهن داسي غلام په رهن ورکړي کوم چې د زرو درهمو سره برابر وي، د زرو درهمو په عوض کې ثُمَّ أَعْطَاهُ عَبْدًا آخَرَ قِيمَتُهُ أَلْفٌ رَهْنًا مَكَانَ الْأَوَّلِ بیا راهن د دې اول غلام پر ځای مرتهن ته بل غلام په رهن ورکړي چې د هغه قیمت زر درهمه وي فَالْأَوَّلُ رَهْنٌ حَتَّى يَرُدَّهُ إِلَى الرَّاهِنِ نو اول غلام [تر هغه وخته پوري] رهن [مرهون] پاتیږي تر دې چې مرتهن هغه راهن ته واپس کړي وَالْمُرْتَهِنُ فِي الْآخَرِ أَمِينٌ حَتَّى يَجْعَلَهُ مَكَانَ الْأَوَّلِ او [تر هغه وخته پوري] مرتهن په هغه بل [دویم] غلام کې امین دی تر دې چې هغه د اول غلام پر ځای وګرځوي لِأَنَّ الْأَوَّلَ إِنَّمَا دَخَلَ فِي ضَمَانِهِ بِالْقَبْضِ وَالدَّيْنِ ځکه چې اول غلام د مرتهن په ضمان کې په قبضه او قرض دواړو سره داخل سوی دی وَهُمَا بَاقِيَانِ او دا دواړه شیان باقي پاته دي فَلَا يَخْرُجُ عَنِ الضَّمَانِ إِلَّا بِنَقْضِ الْقَبْضِ مَا دَامَ الدَّيْنُ بَاقِيًا نو هغه [اول غلام] له ضمان څخه نه وځي مګر د قبضې په ماتولو سره تر څو چې قرض باقي پاته وي [یعني تر څو چې قرض پاته وي. تر هغه وخته پوري له قبضې ماتولو څخه بغیر هغه اول د مرتهن له ضمانه نه وځي] وَإِذَا بَقِيَ الْأَوَّلُ فِي ضَمَانِهِ او کله چې اول غلام د مرتهن په ضمان کې باقي پاته دی لَا يَدْخُلُ الثَّانِي فِي ضَمَانِهِ نو دویم غلام د هغه په ضمان کې نه داخلیږي لِأَنَّهُمَا رَضِيَا بِدُخُولِ أَحَدِهِمَا فِيهِ لَا بِدُخُولِهِمَا ځکه چې راهن او مرتهن دواړه له دوی څخه د یوه غلام په داخلېدلو راضي سوي دي په ضمان کې، نه د دواړو غلامانو په داخلېدلو فَإِذَا

رُدَّ الْأَوَّلُ لهذا كله چي اول غلام واپس کړی سي دَخَلَ الثَّانِي فِي ضَمَانِهِ نو بيا دويم غلام د هغه په ضمان کي داخليږي.

اللغات: ﴿ضمان﴾ ضمانت. ذمه واري.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که زيد له خالد څخه زر درهمه په قرض واخلي او د هغه په عوض کي خالد ته خپل يو غلام په رهن ورکړي چي د هغه قيمت هم زر درهمه وي. بيا راهن (زيد) وغواړي چي له مرتهن (خالد) څخه هغه غلام واپس واخلي او يو بل د زرو درهمو والا غلام په رهن ورکړي، نو داسي کول جائز او صحيح دي، خو تر څو چي مرتهن اول غلام راهن ته واپس نه کړي، تر هغه وخته تبادله نه ثابتيږي؛ ځکه چي اول غلام د قرض او قبضې دواړو په جهت سره د مرتهن سره مرهون دی او څرنګه چي قرض تر اوسه پاته دي. نو ځکه د هغه پر ځای د بل غلام د مرهون کېدلو لپاره له هغه څخه د مرتهن قبضه ختمېدل ضروري دي او تر څو چي له اول غلام څخه د مرتهن قبضه ختمه نه سي، تر هغه وخته پوري اول غلام مرهون شمېرل کيږي او دويم غلام امانت پاتيږي، لهذا که چيري اول غلام د مرتهن سره هلاک سي نو د مرتهن قرض ساقطيږي. لېکن که دويم غلام هلاک سي نو له قرض څخه يوه روپۍ هم نه ساقطيږي؛ ځکه دويم غلام امانت دی او مضمون نه دی او د امانت په هلاکېدلو سره ضمان نه لازميږي؛ ځکه چي راهن او مرتهن دواړه همدا يو غلام مرهون مني، نه دواړه غلامان. نو ځکه موږ وايو چي د دويم غلام د مرهون کېدلو لپاره راهن ته د اول غلام واپس کېدل ضروري دي. (احسن الهدايه)

په پورتنۍ مسئلې کي د قبضې نوي کولو شرط

ثُمَّ قِيلَ: يُشْتَرَطُ تَجْدِيدُ الْقَبْضِ بيا ويل سوي دي: چي د قبضې نوي کول شرط دي لِأَنَّ يَدَ الْمُرْتَهِنِ عَلَى الثَّانِي يَدُ أَمَانَةٍ ځکه چي پر دويم غلام د مرتهن قبضه د امانت قبضه ده وَيَدُ الرَّهْنِ يَدُ اسْتِيفَاءٍ وَضَمَانٍ او د رهن قبضه د (حق) ترلاسه کولو او د ضمان قبضه ده فَلَا يَنُوبُ عَنْهُ نو د امانت قبضه به د هغه [ضمان والا قبضې] نه قائم مقام کيږي كَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ جِيَادٌ لکه د يو کس چي پر بل چا کَرَه دراهم باندي وي فَاسْتَوْفَى زُيُوفًا ظَنَّهَا جِيَادًا بيا هغه کس کوټه دراهم د کَرَه دراهمو په ګومان [له هغه مقروض څخه] ترلاسه کړي ثُمَّ عَلِمَ بِالزِّيَافَةِ بيا [د دراهمو] په کوټه والي خبر سي وَطَالَبَهُ بِالْجِيَادِ وَأَخَذَهَا او له هغه [مقروض] څخه د کَرَه دراهمو مطالبه وکړي او هغوی

واخلي فَإِنَّ الْجِيَادَ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ مَا لَمْ يَرُدَّ الزُّيُوفَ وَيُجَدِّدَ الْقَبْضَ نو کره دراهم د هغه په قبضه کي امانت دي تر څو چي هغه کوټه دراهم واپس نه کړي او قبضه نوې نه کړي وَقِيلَ: لَا يَشْتَرِطُ او ويل سوي دي: چي د قبضې نوي کول شرط نه دي لِأَنَّ الرَّهْنَ تَبَرُّعٌ كَالْهِبَةِ ځکه چي رهن هم د هبې په څېر تبرع ده عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ لکه څرنګه چي مخکي موږ دا بيان کړه وَقَبْضُ الْأَمَانَةِ يَنُوبُ عَنْ قَبْضِ الْهِبَةِ او د امانت قبضه د هبې د قبضې قائم مقام کيږي وَلِأَنَّ الرَّهْنَ عَيْنَهُ أَمَانَةٌ او ځکه چي د مرهون عين [ذات] خو امانت دی وَالْقَبْضُ يَرِدُ عَلَى الْعَيْنِ او قبضه پر عين واردېږي فَيَنُوبُ قَبْضُ الْأَمَانَةِ عَنْ قَبْضِ الْعَيْنِ نو د امانت قبضه به د عين د قبضې له طرفه قائم مقام کيږي.

اللغات: ﴿تجديد﴾ د تفعيل مصدر دی: نوی کول. له نوي سره کول. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: (حق) ترلاسه کول. اخيستل. ﴿لا ينوب﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده: نائب کېدل. قائم مقام کېدل. ﴿جِيَاد﴾ جمع د جَيِّدٌ ده: ښه. کره. اصلي. ﴿زيوف﴾ جمع د زَيْفٌ ده: کوټه. ردي. جعلي او ناچله.

تشريح: په مخکنی مسئله کي ذکر سوه چي د اول غلام تر واپس کولو مخکي پر دويم غلام د مرتهن قبضه د امانت قبضه ده. اوس دلته دا ذکر کوي چي آيا د اول غلام تر واپس کولو وروسته دويم غلام خپله مضمون (ضمان والا) ګرځي او که د دې لپاره د قبضې تجديد (نوي کول) شرط دي (چي پر دويم غلام به له نوي سره قبضه کوي)؟. نو فرمايي چي په دې هکله دوه قولونه دي:

(۱)... اول قول دا دی چي د قبضې تجديد شرط او ضروري دی: ځکه کله چي پر دويم غلام د مرتهن قبضه له شروع څخه د امانت قبضه ده. نو ښکاره خبره ده چي د ضمان په قبضې سره د بدلولو لپاره د قبضې تجديد ضروري دی؛ ځکه چي پر مرهون د مرتهن قبضه د استيفاء او ضمان قبضه وي او د ضمان قبضه د امانت له قبضې څخه اقوی وي. او مخکي ضمناً دا خبره ذکر سوې ده چي اقوی د اضعف نائب (قائم مقام) کېدلای سي. لېکن اضعف د اقوی نائب کېدلای نه سي. نو ځکه موږ وايو چي د امانت والا قبضه د ضمان والا قبضې نه قائم مقام کيږي بلکي د قبضې تجديد شرط دی.

د دې مثال داسی دی چي پر زيد مثلاً د خالد کره دراهم باندي دي. بيا خالد له زيد څخه د هغه دراهمو مطالبه وکړه او زيد په چل او دوکه سره خالد ته کوټه دراهم ورکړل او خالد پر هغه اعتماد وکړی او دا يې کره دراهم وګڼل. لېکن وروسته خالد ته معلومه سوه چي دا خو کوټه دراهم دي. نو له زيد څخه يې د کره دراهمو مطالبه وکړه او زيد ور سره ومنل. نو تر څو چي خالد کوټه دراهم زيد ته

واپس نه کړي او پر کړه دراهمو قبضه نه وکړي (يعني تر څو چې له زيد څخه کره دراهم وانه خلي). تر هغه وخته پوري کوټه دراهم د خالد سره امانت پاتېږي. نو همداسې په دې پورتنۍ مسئله کې هم چې تر څو مرتهن د قبضې تجديد نه وکړي يعني له نوي سره پر دويم غلام قبضه نه وکړي، تر هغه وخته پوري دويم غلام د مرتهن سره امانت پاتېږي او هغه د امانت والا قبضه د ضمان والا قبضې نه قائم مقام کيږي.

(۲)... دويم قول دا دی چې په دې مسئله کې د امانت قبضه د ضمان والا قبضې قائم مقام کيږي او د قبضې تجديد لره ضرورت نشته؛ ځکه موږ مخکې هم دا ويلي دي چې د هبې په څېر عقد رهن هم تبرع ده او د امانت قبضه د هبې د قبضې قائم مقام کيږي. لهذا د امانت قبضه به د رهن هم قائم مقام کيږي. مثلاً که يو څوک زيد ته خپل يو شی په امانت ورکړي. بيا هغه شی زيد ته هبه کړي. نو په دې صورت کې اوله قبضه کافي ده او د نوې قبضې ضرورت نشته. لهذا همداسې په دې مذکوره مسئله کې پر دويم غلام د مرتهن قبضه د امانت قبضه ده نو همدا قبضه به هم د ضمان د قبضې قائم مقام کيږي او د قبضې تجديد لره به ضرورت نه وي.

په دې سلسله کې دويم دليل دا دی چې د مرتهن سره د مرهون عين (ذات) امانت وي او دا مسلمه خبره ده. او تاسې ته معلومه ده چې قبضه د مرهون پر عين کيږي. نو په دې حواله سره به هم د امانت قبضه د ضمان د قبضې قائم مقام کيږي؛ ځکه څرنګه چې د امانت قبضه پر عين کيږي. همداسې ضمان والا قبضه هم پر عين واقع کيږي.

که مرتهن د راهن قرض معاف کړي (حکم او تفصيل)

وَلَوْ أَبْرَأَ الْمُرْتَهِنُ الرَّاهِنَ عَنِ الدَّيْنِ او که چيرې مرتهن له قرض څخه راهن برې کړي [قرض معاف کړي] أَوْ وَهَبَهُ مِنْهُ يا راهن ته قرض هبه کړي ثُمَّ هَلَكَ الرَّهْنُ فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ بيا رهن [مرهون] د مرتهن په قبضه کې هلاک سي يَهْلِكُ بِغَيْرِ شَيْءٍ اِسْتِحْسَانًا نو استحساناً هغه بغير له څه عوضه هلاکيږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله لِأَنَّ الرَّهْنَ مَضْمُونٌ بِالدَّيْنِ ځکه چې رهن د قرض په وجه مضمون وي [يعني د رهن (مرهون) ضمان د قرض په سبب لازميږي] أَوْ بِجِهَتِهِ عِنْدَ تَوَهُّمِ الْوُجُودِ يا د قرض د جهت په وجه د قرض د وجود متوهم کېدلو په وخت کې كَمَا فِي الدَّيْنِ الْمَوْعُودِ لکه په موعود قرض کې وَلَمْ يَبْقَ الدَّيْنُ بِالْإِبْرَاءِ أَوِ الْهِبَةِ وَلَا جِهَتُهُ لِسُقُوطِهِ او د برې کولو يا هبه کولو په وجه نه قرض باقي پاته سو او نه د قرض ساقطېدلو په وجه د قرض جهت باقي پاته سو إِلَّا إِذَا أَحْدَثَ مَنْعًا

مګر کله چې مرتهن د منع احداث وکړي [یعني تر بري کولو یا هبه کولو وروسته د مرهون شي له ورکولو څخه انکار او منع وکړي] لِأَنَّهُ يَصِيرُبِهِ غَاصِبًا ځکه د منع [انکار] په وجه مرتهن غاصب ګرځي إِذْ لَمْ تَبْقَ لَهُ وِلَايَةُ الْمَنْعِ ځکه چې د مرتهن لپاره د منع کولو ولایت پاتــه نه سو وَكَذَا إِذَا ارْتَهَنَتِ الْمَرْأَةُ رَهْنًا بِالصَّدَاقِ او همدانګه کله چې ښځه د مهر په عوض کې رهن واخلي [یعني له خاوند څخه یو شی په رهن واخلي] فَأَبْرَأَتْهُ أَوْ وَهَبَتْهُ بیا ښځه خاوند [له مهر څخه] بري کړي یا مهر خاوند ته هبه کړي أَوِ ارْتَدَّتْ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ قَبْلَ الدُّخُولِ یا ښځه تر دخول مخکې (العیاذ بالله) مرتده سي أَوِ اخْتَلَعَتْ مِنْهُ عَلَى صَدَاقِهَا یا ښځه د خپل مهر په عوض کې د خاوند سره خلع وکړي ثُمَّ هَلَكَ الرَّهْنُ فِي يَدِهَا بیا رهن [مرهون شی] د ښځې په قبضه کې هلاک سي يَهْلِكُ بِغَيْرِشَيْءٍ فِي هٰذَا كُلِّهِ نو په دې ټولو صورتونو کې هغه [مرهون شی] بغیر له څه عوضه هلاکیږي وَلَمْ تَضْمَنْ شَيْئًا او ښځه د هیڅ شي نه ضامنه کیږي لِسُقُوطِ الدَّيْنِ د قرض د ساقطېدلو په وجه كَمَا فِي الْإِبْرَاءِ لکه په بري کولو کې [یعني کله چې مرتهن راهن له قرض څخه بري کړي].

اللغات: ﴿أبرأ﴾ د افعال د باب ماضي ده: بري کول، معاف کول. ﴿صداق﴾ مهر (ولور).

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چې که زید مثلاً له خالد څخه زر درهمه په قرض واخلي او خالد ته خپل یو شی په رهن ورکړي، تر دې وروسته مرتهن (خالد) خپل قرض یعني زر درهمه معاف کړي او مقروض راهن (زید) له قرض څخه بري کړي. یا مرتهن خپل قرض راهن ته هبه کړي. بیا مرتهن تر اوسه هغه مرهون شی راهن ته واپس کړی نه وي چې هغه د مرتهن سره هلاک سي. نو زموږ په نیز دا هلاکت نه مضمون کیږي یعني پر مرتهن د دغه مرهون شي هیڅ ضمان (تاوان) نه لازمیږي. همدا استحسان هم دی؛ ځکه چې مرهون خو یا د قرض په وجه مضمون کیږي یا د وجود قرض د موهوم کېدلو په صورت کې د قرض په جهت سره مضمون کیږي لکه څرنګه چې په موعود قرض کې د قرض جهت موجود دی (د موعود قرض مثال دا چې خالد مثلاً زید ته ووایي چې ته! ما ته یو شی په رهن راکړه! زه به څو وخت وروسته قرض درکړم. نو دلته که څه هم د قرض وجود موهوم دی چې خالد به زید ته قرض ورکړي، که نه. خو د قرض د جهت په خاطر هغه مرهون شی مضمون دی [یعني که هلاک سي نو ضمان یې لازمیږي]). او دلته د بري کولو یعني د قرض معافولو یا هبه کولو په وجه ګردسره قرض ساقط سوی دی. لهٰذا نه قرض پاته دی او نه د قرض جهت. نو ځکه د مرهون شي هلاکت به نه مضمون کیږي. او که څه هم د هلاکېدلو په وخت کې پر مرهون شي د مرتهن قبضه ده او د قبضې په وجه هغه مضمون

کېدل پکار دي، خو څرنګه چې د مرهون ضمان د قبضې او د قرض دواړو په وجه سره ثابت سوی وي او دلته د ضمان ثابتېدلو يوه اهمه وجه (يعني قرض) ختم سوی دی. او قاعده دا ده چې "الحکم الثابت بعلة ذات وصفين ينعدم بانعدام أحدهما" (يعني هغه حکم چې په دوو وصفونو والا علت سره ثابت سوی وي، هغه حکم د يوه وصف په ختمېدلو سره ختميږي)، نو د هغه قاعدې ته په کتلو سره به دلته د ضمان حکم ساقطيږي او د مذکوره مرهون شي هلاکت به نه مضمون کيږي. (کفايه)

إلا إذ أحدث إلخ: د دې حاصل دا دی چې که تر بري کولو يا هبه کولو وروسته راهن له مرتهن څخه د مرهون شي مطالبه وکړي او مرتهن له ورکولو څخه انکار وکړي، بيا هغه د مرتهن سره هلاک سي. نو په دې صورت کي د هغه هلاکت مضمون کيږي (يعني پر مرتهن يې ضمان لازميږي)؛ ځکه چې تر بري کولو او هبه کولو وروسته د مرتهن حقِ حبس (د راګرځولو حق) ختم سو (يعني په ابراء يا هبې سره اوس د مرتهن دا حق ختم سو چې مرهون شی له راهن څخه راوګرځوي او د ځان سره يې وساتي). نو په دې وجه اوس د مرتهن انکار غصب شمېرل کيږي، او که چيري د غاصب سره مغصوب شی هلاک سي. نو هغه مضمون کيږي. نو ځکه مرهون شی به هم په دغه صورت کي مضمون کيږي.

وکذا إلخ: فرمايي که چيري زيد مثلاً د زرو درهمو مهر په عوض کي د يوې ښځي سره نکاح وکړي او د مهر په عوض کي ښځي ته خپل يو شی په رهن ورکړي، بيا هغه ښځه مهر معاف کړي. يا خاوند (زيد) ته مهر هبه کړي، يا نعوذ بالله له دخول څخه مخکي ښځه مرتده سي، يا ښځه د مهر په عوض د خاوند سره خلع وکړي، تر دې وروسته مرهون شی د مرتهن يعني د ښځي سره هلاک سي. نو څرنګه چې د بري کولو (ابراء) په صورت کي پر مرتهن ضمان نه واجبيږي، همداسي په دغه صورتونو کي هم پر ښځي هيڅ ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چې د هغې مهر کوم چې د قرض په شکل پر خاوند واجب دی، هغه د مرهون شي د هلاکېدلو په وجه ساقط سو.

له قرض تر لاسه کولو څخه وروسته د مرهون د هلاکېدلو حکم

وَلَوِ اسْتَوْفَى الْمُرْتَهِنُ الدَّيْنَ او که چيري مرتهن قرض ترلاسه کړي بِإِيفَاءِ الرَّاهِنِ أَوْ بِإِيفَاءِ مُتَطَوِّعٍ د راهن په اداء کولو يا د يو متبرع په اداء کولو سره [يعني يا راهن (مقروض) د مرتهن قرض اداء کړي. يا د راهن له طرفه يې بل څوک د تبرع په توګه اداء کړي او مرتهن خپل قرض ترلاسه کړي] ثُمَّ هَلَكَ الرَّهْنُ فِي يَدِهِ بيا رهن [مرهون] د مرتهن په قبضه کي هلاک سي يَهْلِكُ بِالدَّيْنِ نو هغه د قرض په عوض کي هلاکيږي وَيَجِبُ عَلَيْهِ رَدُّ مَا اسْتَوْفَى إِلَى مَا اسْتَوْفَى مِنْهُ او پر مرتهن د هغه مال [قرض] واپس کول

واجب دي کوم چې يې ترلاسه کړی دی و هغه کس ته ... چې ...

ترلاسه کړی دی یعني د قرض په نسبت خیستل سوی ... د هغه کس ته ... چې ...

خیستی دي چې هغه راهن (مقروض) یا متبرع دی وَهُوَ مَنْ عَلَيْهِ أَوْ مُتَبَرِّعٌ و د هغه کس دی چې پر هغه

د مال ورکول لازم دي یا متبرع دی یعني راهن (مقروض) یا متبرع دی ... بِخِلَافِ الْإِبْرَاءِ په

خلاف د بري کولو وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ بِالْإِبْرَاءِ يَسْقُطُ الدَّيْنُ أَصْلًا و وجه د فرق دا ده چې په بري کولو

سره قرض بالکل ساقطیږي كَمَا ذَكَرْنَا لکه مخکې چې موږ ذکر کړه وَبِالِاسْتِيفَاءِ لَا يَسْقُطُ او په

استیفاء (قرض ترلاسه کولو سره) قرض بالکليه نه ساقطیږي یعني چې مرتهن له راهن (مقروض) څخه

قرض ترلاسه کړي نو بالکلیه قرض نه ساقطیږي او اصل حق باقي پاتیږي لِقِيَامِ الْمُوجِبِ د موجب د باقي

پاتېدلو په وجه (وهو العقد الذي لزم الدين به... (حاشيه)) إِلَّا أَنَّهُ يَتَعَذَّرُ الِاسْتِيفَاءُ بَعْدَهُ لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ خو د

فایدې د نشتوالي په وجه استیفاء ناممکنه ده لِأَنَّهُ يُعْقِبُ مُطَالَبَةَ مِثْلِهِ ځکه چې دا استیفاء د

خپل مثل مطالبه شاته راوړي (ایا په بله وینا دا چې دا استیفاء تر ځان وروسته د بلې استیفاء مطالبه ثابتوي

فيفضي الى الدور. یعني په دې صورت کې تر یوې مطالبې او استیفاء وروسته بله مطالبه او استیفاء واقع کیږي. ځکه

چې که قرضخواه (مرتهن) د خپل اصل حق مطالبه کوي نو مقروض (راهن) به د خپل ورکړل سوي مال مطالبه کوي.

وضاحت به یې په تشریح کې وسي) فَأَمَّا هُوَ فِي نَفْسِهِ فَقَائِمٌ او پاته سوه نفس استیفاء نو هغه

موجوده ده فَإِذَا هَلَكَ لهذا کله چې مرهون هلاک سي يَتَقَرَّرُ الِاسْتِيفَاءُ الْأَوَّلُ نو اوله استیفاء نو ره

ثابتیږي فَانْتَقَضَ الِاسْتِيفَاءُ الثَّانِي نو ځکه دویمه استیفاء به ماتیږي وَكَذَا إِذَا اشْتَرَى بِالدَّيْنِ عَيْنًا او

همدارنګه کله چې مرتهن د قرض په عوض کې یو شی رانیسي أَوْ صَالَحَ عَنْهُ عَلَى عَيْنٍ یا له قرض څخه پر

یو شي [د راهن سره] صلح وکړي لِأَنَّهُ اسْتِيفَاءٌ ځکه چې دا (یعني له دې دواړو څخه هر یو) هم استیفاء ده.

اللغات: ﴿إیفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (حق) پوره اداء کول. ورکول. ﴿استیفاء﴾ د استفعال د

باب مصدر دی: (حق) پوره اخیستل. ترلاسه کول. ﴿یتعذر﴾ د تفعل د باب مضارع ده. د دغه باب

دوې معناوې دي: مشکل کېدل. ناممکن کېدل. ﴿یُعقب﴾ د افعال او تفعیل دواړو له باب څخه ویل

کېدلای سي: یو شی تر بل شي وروسته کول. تر شا کول. وروسته راوړل. وروسته ثابتول.

تشریح: مخکي دا حکم ذکر سو چي که مرتهن راهن له قرض څخه بري کړي او بیا مرهون شی د مرتهن سره هلاک سي نو پر مرتهن ضمان نه واجبیږي. لېکن که مرتهن قرض ترلاسه کړي برابره ده راهن قرض ورکړي.یا يې بل څوک د راهن له طرفه د تبرع په توګه ورکړي. بیا مرهون شی د مرتهن سره هلاک سي نو پر هغه ضمان واجبیږي او ضمان دا چي په دې صورت کي هغه مرهون شی د قرض په عوض کي هلاکیږي یعني د هغه د هلاکېدلو په وجه د مرتهن قرض ساقطیږي او مرتهن چي له راهن یا متبرّع څخه د قرض په نامه کومي پیسې اخیستي دي.هغه به واپس ورکوي. د دې په خلاف دابراء(بري کولو) یعني د قرض معافولو په صورت کي که مرهون شی هلاک سي نو پر مرتهن ضمان نه واجبیږي (لکه اوس چي ذکر سوه).

ووجه الفرق إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي دابراء او استیفاء تر مینځ د فرق وجه دا ده چي په ابراء (بري کولو) کولو سره قرض په بشپړه توګه ساقطیږي او کله چي قرض ساقط سو. نو ښکاره ده چي د مرهون شي هلاکېدل به د قرض موجب نه ګرځي، د دې په خلاف داستیفاء (قرض ترلاسه کولو) په صورت قرض بالکلیه نه ساقطیږي.بلکي مرتهن ته د هغه د قرض مثل ترلاسه کیږي (څکه ښکاره خبره ده چي کله مقروض اراهن ایامتبرع د قرضخواه |مرتهن| قرض اداء کوي نو خاص هغه پیسې نه ورکوي کوم چي قرضخواه ورکړي وي بلګي د هغوی مثل ورکوي). لهذا تر استیفاء وروسته هم د مرتهن اصلي حق(اصلي قرض) د راهن پر غاړه باقي پاتیږي، لېکن څرنګه چي مرتهن ته د خپل حق مثل ترلاسه سوی دی. نو څکه اوس مرتهن دوباره هغه (اصلي حق) ترلاسه کولای هم نه سي: څکه کله چي قرضخواه د خپل اصلي حق مطالبه کوي نو ښکاره ده چي مقروض به خپل ورکړل سوي پیسې (د حق مثل) واپس څني اخلي او همداسي به له دواړو طرفونو څخه دا مطالبه کېدونکې وي او په دې مطالبه کي هیڅ فایده نسته، خو څرنګه چي دلته استیفاء فی نفسه موجوده او ثابته ده یعني مرتهن ته د خپل حق (قرض)مثل ترلاسه سوی دی، نو څکه تر دې استیفاء وروسته که مرهون شی د مرتهن سره هلاک سو. نو د مرتهن سره د هغه د هلاکېدلو په وجه به اوله مخکنی استیفاء (مرهون ترلاسه کول) متحققه او ثابته سي (یعني مرتهن چي کوم مخکي پر مرهون شي قبضه کړې ده او له راهن څخه يې ترلاسه کړی دی. هغه متحقق او بشپړ سوه چي ګواکي مرتهن د خپل قرض پر ځای مرهون شی ترلاسه کړی). لهذا کله چي اوله استیفاء ثابته سوه. نو دویمه حقیقي استیفاء(قرض ترلاسه کول) به مات او ختم سي (څکه چي مرتهن د هغه پر ځای مرهون شی ترلاسه کړی). نو څکه مرتهن چي د قرض په نامه کومي پیسې ترلاسه کړي دي. هغه به بیرته راهن ته واپس کوي.

وکذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه په حقیقي استیفاء سره مرتهن د خپل حق ترلاسه کونکی (اخیستونکی) شمېرل کیږي، همداسې که د قرض په بدله کې مرتهن له راهن څخه یو شی رانیسي، یا د قرض په عوض کې د راهن سره پر یو شي صلح وکړي، نو په دې دواړو صورتونو کې هم مرتهن د خپل حق ترلاسه کونکی ګرځي او د مرهون شي هلاکت مضمون کیږي. (احسن الهدایه)

په عقد رهن کې د قرض د حواله کولو بیان

وَكَذَا إِذَا أَحَالَ الرَّاهِنُ الْمُرْتَهِنَ بِالدَّيْنِ عَلَى غَيْرِهِ او همدارنګه کله چې راهن په قرض سره مرتهن پر بل چا حواله کړي ثُمَّ هَلَكَ الرَّهْنُ بیا رهن [مرهون] هلاک سي بَطَلَتِ الْحَوَالَةُ نو حواله باطلیږي وَيَهْلِكُ بِالدَّيْنِ او هغه [مرهون] د قرض په عوض کې هلاکیږي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْبَرَاءَةِ بِطَرِيقِ الْأَدَاءِ ځکه چې حواله د اداء کېدلو پر طریقه دبري کېدلو په معنیٰ سره ده لِأَنَّهُ يَزُولُ بِهِ عَنْ مِلْكِ الْمُحِيلِ مِثْلُ مَا كَانَ لَهُ عَلَى الْمُحْتَالِ عَلَيْهِ ځکه چې د حوالې په وجه د محیل [راهن] له ملکیت څخه د هغه [مال] په مثل سره زایلیږي کوم [مال] چې د محیل پر محتال علیه باندې وي [دا په هغه صورت کې کله چې پر محتال علیه د محیل مال یعني قرض باندې وي] أَوْ مَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِهِ یا [د حوالې په وجه د محیل له ملکیت څخه د هغه مقدار په مثل سره زایلیږي] په کوم مقدار سره چې محتال علیه پر محیل رجوع کوي [یعني کوم مقدار چې هغه له محیل څخه اخلي] إِنْ لَمْ يَكُنْ لِلْمُحِيلِ عَلَى الْمُحْتَالِ عَلَيْهِ دَيْنٌ [دا په هغه صورت کې] که پر محتال علیه د محیل [راهن] قرض باندې نه وي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْوَكِيلِ ځکه چې محتال علیه د وکیل په درجه کې دی وَكَذَا لَوْ تَصَادَقَا عَلَى أَنْ لَا دَيْنَ او همدارنګه که چیرې راهن او مرتهن دواړه یو د بل تصدیق وکړي [اتفاق وکړي] پر دې خبره چې قرض نسته ثُمَّ هَلَكَ الرَّهْنُ بیا مرهون هلاک سي يَهْلِكُ بِالدَّيْنِ نو هغه [مرهون] د قرض په عوض کې هلاکیږي لِتَوَهُّمِ وُجُوبِ الدَّيْنِ بِالتَّصَادُقِ عَلَى قِيَامِهِ ځکه چې [په دې صورت کې] د قرض پر قیام [موجودوالي] باندې یو د بل په تصدیق کولو سره د قرض واجبېدلو وهم سته [یعني په دې صورت کې دا وهم سته چې دوی به وروسته پر دې خبره اتفاق وکړي چې قرض خو سته نو قرض به بیرته واجب سي] فَتَكُونُ الْجِهَةُ بَاقِيَةً نو [په دې صورت کې] د قرض جهت باقي پاته دی بِخِلَافِ الْإِبْرَاءِ په خلاف دبري کولو [یعني چې مرتهن راهن له قرض څخه بري کړي او قرض معاف کړي].

اللغات: ﴿أحال﴾ د افعال د باب ماضي ده: حواله کول. قرض د بل چا پر ذمه کول (خپل قرض د بل چا غاړي ته اړول)، عقد حواله خو به تاسي ته معلوميږي چي که پر زيد مثلاً د خالد قرض باندي وي. بيا زيد(مقروض) دا قرض له خپلي ذمې څخه د بل چا مثلاً د عُمر ذمې ته واړوي يا په بله وينا دا چي قرض پر عُمر حواله کړي او خالد ته ووايي چي ستا قرض به عُمر درکړي او عُمر دا قبوله کړي. نو دغه عقد او تړون ته "حواله" وايي. مقروض (زيد) کوم چي حواله کړې ده هغه ته "مُحِيْل" وايي او عُمر کوم چي حواله قبوله کړې ده هغه ته "مُحْتَـال عَلَيْـه" وايي او خالد کوم چي د قرض مالک دی هغه ته "مُحْتَـال لَـهٗ" وايي. ﴿براءة﴾ د سمع د باب مصدر دی: بري کېدل. له ذمه واري څخه خلاصېدل. ﴿التصادق﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل تصديق کول. پر يو خبره اتفاق کول.

تشريح: د دې عبارت مسئله هم په حقيقت کي د مخکني مسئلې لپاره د مثال په توګه پېښه کړل سوې ده (يعني د مخکني مسئلې لپاره مثال ده)، حاصل د مسئلې دا دی چي که راهن د خپل قرض اداء پر بل چا مثلاً پر عُمر حواله کړي او مرتهن ته ووايي چي ستا قرض به عُمر اداء کړي (درکړي) او عمُر دا قبوله کړي، لېکن د هغه د قرض تر اداء کولو مخکي مرهون شی د مرتهن سره هلاک سي. نو ښکاره ده چي حواله باطليږي او مرهون شی د قرض په عوض کي هلاکيږي يعني د هغه د هلاکېدلو په ضمان(تاوان) کي د مرتهن قرض ساقطيږي، ځکه چي حواله د اداء په طريقه سره د ابراء او برائت (بري کېدلو) په معنیٰ سره ده؛ ځکه که چيري محتال عليه (عُمر) د محيل (راهن) قرض اداء کړي او محتال لهٗ(مرتهن) ته د قرض پيسې ورکړي، نو بيا وروسته محتال عليه له محيل (راهن) څخه هغه پيسې بيرته اخلي کوم چي ده محتال لهٗ (مرتهن) ته ورکړي وي، که چيري پر محتال عليه د محيل قرض باندي نه وي، او که د محيل (راهن) پر محتال عليه قرض باندي وي، نو محتال عليه هغه پيسې د هاغه قرض په عوض کي شمېري (يا په بله وينا دا چي د هغه پيسو په اندازه قرض يې ساقطيږي)؛ ځکه چي محتال عليه د قرض او پيسو په اداء کولو کي د محيل له طرفه وکيل وي. او وکيل چي (په قرض اداء کولو کي) خپلي پيسې مصرف کړي نو هغه ته د واپس اخيستلو اختيار حاصليږي. لېکن څرنګه چي دلته محتال عليه د مرتهن قرض نه دی اداء کړی، نو ځکه حواله باطله ده او د مرهون هلاکېدل مضمون بالدَين دی (يعني د مرهون د هلاکېدلو په ضمان کي د مرتهن دَين [قرض] ساقطيږي).

يادونـه: د عبارت چي کومه تشريح وسوه، همدا د عبارت آسانه مطلب دی، او د هدايې په عربي شروحاتو کي يې همداسي وضاحت سوی دی، په توجه سره يې ولولئ!. کنې د هدايې په نورو شروحو کي دلته څه خلط ملط سوې دی او په ګرانه توګه مذکوره عبارت پېش کړی سوی دی.

وكذا لو تصادقا إلخ: دا دويم مثال دی. حاصل يې دا دی چې که راهن او مرتهن دواړه پر دې خبره اتفاق وکړي چې پر راهن د مرتهن هيڅ قرض نسته او بيا مرهون شی د مرتهن سره هلاک سي. نو دا هلاکت هم مضمون بالدّين کيږي (يعني د مرهون د هلاکېدلو په ضمان کي د مرتهن دين [قرض] ساقطيږي)؛ ځکه که څه هم د دوی په اتفاق سره د قرض صورت ختم سوی دی خو د قرض جهت پاته دی. په دې توګه چې کېدلای سي دوی دواړه څه وخت وروسته د قرض پر پاته کېدو اتفاق (تصادق) وکړي چې پر راهن د مرتهن قرض پاته دی. او د قرض د جهت په بقاء سره هم مرهون مضمون کيږي. نو ځکه په دې صورت کي به هم د مرتهن سره د مرهون هلاکت مضمون کيږي.

د دې په خلاف د ابراء (بري کولو) په مسئله کي چې څرنګه نه قرض باقي پاتيږي او نه د هغه جهت باقي پاتيږي. نو ځکه د ابراء په مسئله کي فقهاؤ د مرتهن سره د مرهون هلاکت استحساناً مضمون بالدين نه دی ګرځولی. خو څرنګه چې په مذکوره مسئله کي د قرض جهت باقي پاتيږي. نو ځکه دلته د راهن او مرتهن دواړو تر تصادق وروسته هم د مرهون هلاکت مضمون بالدين کيږي يعني د هغه د هلاکېدلو په ضمان کي د مرتهن قرض ساقطيږي.

ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم وتب علينا إنك أنت التواب الرحيم

وصلى الله على خير خلقه محمد وأصحابه وأهل بيته

وعترته أجمعين برحمتك يا أرحم الراحمين

احقر حبيب الرحمن مدني

